الدر المنضود
علی
سنن أبي داود
افادات
حضرت مولانا محمد عاقل صاحب
ابو حبیب اسلامک لائبریری
اسلامی اور تاریخی کتابوں کے لئے جوائن کریں
ابوحبیب نواز غفرلہ ولوالدیہ واساتذتہ وجمیع المسلمین
03216659538

الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صيب

صدرمدرّس مظاهرالعلوم سهارنپور(هند)

مترجمين:

[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زير نگرانی

مولاناشاه فیصل فاضل وفاق المدارس

پښتو...............................**اول جلد**

خصوصيات

① دکتاب په اول کښي د اصول حديث مفيده مقدمه
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحي خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احاديث ته اعراب ورکول
④ د هر کتاب په اول کښي هغې سره متعلقه ضروری مباحث
⑤ د هر حديث تخريج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره
⑥ د مشکلو لغاتو حل
⑦ په فقهي مباحثو کښي د مذاهبو بيان
⑧ دفريق مخالف دلائل
⑨ د فريق مخالف ددلائلو ځخه جوابونه
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجيح

خپرونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

د کتاب نوم: الدر المنضود فی حل سنن أبی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمّد عاقل صاحب دامت برکاتہم

زیر نګرانی - مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خوروونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

د ملاويدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه گردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- گودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپروونکې

فیصل کتب خانه

مدینه تاور محله جنګی پیښور قصه خوانۍ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب جلد اول

شمار	مضمون	صفحه

*****

تقريظ

دمخلص دوست صاحب التاليف والتعاليق محترم مولانا الحاج ډاکټر تقی الدين ندوی مظاهری

استاذ حديث جامعة الامارات العربية المتحدة، العين

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين

محمد واله واصحابه اجمعين ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين

زما دپاره د سعادت او خوشحالۍ مقام دی چه د فاضل گرامی محترم مولانا محمد عاقل صاحب په قيمتی کتاب **الدرالمنضود علی سنن ابی داؤد** يعنی په تقرير د ابوداؤد شريف باندې څو کرښې اوليکم. د سنن ابوداؤد چه په صحاح سته کښې کوم مقام دی هغه د اهل علم نه پټ نه دی، په دې وجه زمونږ په لويو دينی مدارسو کښې چرته چه د دوره حديث اهتمام دی سنن ابوداؤد ته په تدريسی لحاظ سره ډير اهميت حاصل دی، د حضرت خليل احمد سهارنپوری رحمه الله په نزد ددې کتاب سخت اهتمام وو، په سنن ابی داؤد باندې د علماء کرامو د ډيرو شرحو او حاشيو باوجود[۱] حضرت سهارنپوری رحمه الله د يو جامع شرح ضرورت محسوس کړو چه ددې ټولو خلاصه وی، او چه کوم مشکل مقامات قابل حل پاتې شوی وی دهغې تشريح اوکړې شی. حضرت سهارنپوری رحمه الله ددې عظيم الشان کار شروع هغه وخت اوفرمائيله چه دعمر شريف اکثر حصه ئې تيره شوې وه، او خپل شاگرد رشيد حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زکريا صاحب رحمه الله ئې په دې کار کښې خپل ځان سره شريک کړو، پس د استاذ او د شاگرده مسلسل لسو کالو اوپنځو مياشتو دسخت محنت نه پس دا شرح په مدينه طيبه على صاحبها الصلوة والسلام کښې تکميل ته اورسيده، کومه چه په هندوستان کښې په پنځو غټوغټو جلدونوکښې شائع شوې ده،اوپه آخرکښې د استاد محترم حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله په خصوصی عنايت سره د قاهرې نه په شلو جلدونو کښې د شيخ الحديث رحمه الله په حواشی سره شائع شوه، نا چيز بنده ته هم تر د دوؤ کالوپورې دهغې دطباعت اودحواشی په ترتيب وغيره کښې د اشتغال سعادت حاصل شو. حقيقت دا دی چه هندوستانی علماؤ خصوصا زمونږ د اکابرينو د طرف نه چه په علم حديث باندې کوم تصنيفات وجود ته راغلی دی په هغې کښې فنی لحاظ سره دې کتاب ته ډير اهميت حاصل دی چه دهغې اعتراف د مصر او شام لوئې لوئې علماء کرامو هم کړی دی. په بذل المجهود کښې په بعض مقاماتو باندې ډير ژور بحثونه او گران مسائل راغلی دی ضرورت وو چه يو داسې فاضل د چا چه د شيخ الحديث رحمه الله د علومو سره پوره مناسبت وی او سنن ابی داؤد ئې ډير کرته لوستلې وی، دهغې د باريکيانو نه خبر وی هغه د بذل المجهود په اردو ژبه کښې په مزيدار او ساده انداز کښې خلاصه تياره کړی چه د طالبانو

---

[۱] په هغې کښې د بعضې شروحو او تعليقاتو تعارف بنده په خپل کتاب محدثين عظام او د هغوی علمی کارنامې کښې او ډير تفصيل په خپل تصنيف الامام ابی داؤد المحدث الفقيه کښې کړی دی، دا عربی تصنيف د دمشق بيروت نه ډير کرته شائع شوی دی منه)

او مدرسينو او د باحثينو او مصنفينو دپاره په هغې مباحثو باندې پوهه آسانه شي.
محترم فاضل محمد عاقل صاحب صدر المدرسين مدرسه مظاهر العلوم کوم چه د شيخ الحديثﷺ په قابلو شاګردانو کښې دې، د حضرت په هغوی باندې د شفقت خصوصي نظر وو په خلافت او اجازت سره ئې هم هغوی سرفراز کړی دی او هغوی خپل تعليمي او تدريسي او تاليفي مراحل د حضرت د نګرانئ او سرپرستئ لاندې تير کړی دی، او د ډيرې مودې نه د حديث پاک او سنن ابو داؤد درس ورکوی، بله دا چه سنن ابوداؤد حضرت هغوی ته په دويم خل په خاص طور لولې وو، ددې خصوصياتو نه علاوه الله پاک هغوی ته د اوږد بحث د مختصر او واضح بيانولو خاص ملکه ورکړې ده.
هم ددې ټولو خصوصياتو د وجې او په کتاب باندې د نظر اچولو نه پس اندازه اوشوه چه دا کتاب دمدرسو طالبانو دپاره نادره دالئ ، او د علماؤ او مدرسينو دپاره په بهترين رهنما ثابت شي، الله پاک دې مولانا ته بهترين جزاء خير ورکړی او د هغوی دا کتاب او نور تاليفات دې قبول کړی او هميشوالې دې ورکړی، آمين، وما ذلک علی الله بعزيز.

ډاکټر تقی الدين ندوی
استاذ الحديث جامعة الامارات العربية المتحدة العين
۵ ربيع الاول ۱۴۱۳ هجری

پيش لفظ

الحمد لله حمدا موافيا لنعمه مکافيا لمزيده والصلوة والسلام علی سيدنا محمد النبی الامی وآله وصحبه وبعد!

په موجوده دور کښې د علم دين نه چه کومه بې رخی کولې شی هغه هر څوک وينی، او چاته چه ددې علم د حاصلولو توفيق هم وی په هغوی کښې اکثر او زيات خلق د عدم رغبت ښکار دی خصوصا د نصاب په روميو کتابونو کښې چه په هغې سره استعداد پيدا کيږی دهغې حالت نور هم زيات قابل د شکايت دی. څه نفوس داسې وی چه د خپل تعليم د ابتدائی درجاتو د عبور کولو نه پس درجه عليا ته رسيدو سره هغوی ته د خپل حالت احساس کيږی، او دې درجې ته رسيدلو سره هغوی څه اندازه کتاب کتلو او د مطالعې طرف ته متوجه شی، اوس ښکاره خبره ده چه د هغه وخت په توجه او محنت سره د حل کتاب استعداد پيدا کيدل خو ډير ګران دی اوس هغوی زيات نه زيات دومره کولې شی چه د استاذانو تقريرونه په درس کښې کيناستلو سره اوليکی. پس د استاذانو د درسی تقريرونو د ضبط کولو سلسله نن صبا قائم ده، د خپل خپل صلاحيت مطابق ليکونکی طلبه ليکل کوی په هغوی کښې بعض با صلاحيت ښه ليکونکی هم وی
د نن نه تقريبا شل کاله مخکښې زمونږ د مدرسې يو متعلم (مولوی ثناء الله هزاری باغی) د بنده د ابوداؤد شريف درسی تقرير ضبط کړې وو، د احقر د نظر نه هغه تير شو نو هغه وخت ماته د متعلم موصوف محنت او کوشش خوښ شو په دې وجه بنده هغه رانقل کړې وو، او د کتاب (ابوداؤد) د مطالعې په وخت مې په هغې باندې بعض ځايونو کښې د

حواشي اضافه هم کوله، دغه شان په هغې کښې کافي مفيد خبرې راجمع شوې، بعض مدرسينو هغه د خپل خان دپاره هم نقل کړو، او بعض احبابو دهغې د طبع کولو مشوره راکړه چه مختصر او مفيد ده، د طباعت کتب سلسله ما سره څه نه څه چليږي خپل يا د حضرت شيخ رحمه الله، په دې وجه ددې کال په شروع کښې بنده د طباعت په نيت په هغې باندې نظر ثاني شروع کړو، په نظر ثاني کښې حذف او اضافه، توضيح او تنقيح د ضرورت مطابق کيږي

زما ددې کار د ابتداء علم په څه طريقه محترم مولانا قاري صديق احمد صاحب باندوي رحمه الله ته هم اوشو، موصوف چه سهارنپور ته تشريف راوړلو نو د بنده نه ئې دهغې د تکميل تقاضه اوفرمائيله او په ډيرو مبارکو کلماتو سره ئې د بنده همت افزائي هم اوفرمائيله د حضرت مولانا علمي ذوق او شوق داسې دې چه هغوی د نورو طلباؤ او فضلاؤ نه هم دا غواړي چه هغوی زيات نه زيات د خپل رغبت او توجهاتو رخ په علمي کارونو کښې اولګوی. اوس الحمد لله د موصوف د دعاء په برکت سره دکال اخيره پورې د يو جلد په اندازه مسوده تياره شوه، د کتابت کار د مخکښې نه شروع دې، ددې تقرير په جلد اول کښې کتاب الطهارة مکمل راغلي دې، د سنن ابوداؤد کتاب الطهارت ډير اوږد دې اندازه دا ده چه په جلد ثاني کښې به کتاب الصلوة والزکوة او څه حصه د کتاب الحج راشي، او انشاء الله دريم جلد به آخر د کتاب پورې شي، وما ذلک على الله بعزيز وهو الميسر لکل عسير.

په دې تقرير کښې چه ترڅو پورې د حل کتاب تعلق دې دهغې زيات تر ماخذ بذل المجهود شريف دې ددې نه علاوه نور مضامين يا خو هغه دی کوم چه احقر د حضرت شيخ د حواشي بذل او د نورو شروح حديث او کتب فقه نه اخذ کړی دی. او يا هغه دی کوم چه ما د حضرت شيخ صاحب رحمه الله او مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله نه په درس کښې اوريدلي دی، په دې وجه چه احقر ته د سنن ابوداؤد ددې دواړو بزرګانو نه خانله خانله د لوستلو دوه ځل موقع ملاؤ شوه د موخر الذکر نه ۱۳۸۰هجری کښې کوم چه د احقر د دوره حديث کال وو، او اول الذکر نه په ۸۷هجری کښې کوم چه د بنده د تدريس سنن ابی داؤد اول کال دې دهغې شکل دا جوړ شو چه د لامع الدراری د تاليف کار چه کله په مذکوره کال کښې پوره شو نو چونکه د حضرت شيخ دا وخت فارغ شوې وو په دې وجه حضرت پخپله احقر ته اوفرمائيل چه زما کتاب (سنن ابوداؤد) باندې چه زما کوم حواشي اوبين السطور دی په هغې زما نه ځان پوهه کړه، احقر عرض اوکړو چه باقاعده کتاب او نه لولم، حضرت ددې تحسين اوفرمائيلو او د لوستلو سلسله هم هلته په دار التصنيف کښې شروع شوه او د کال آخره کښې پوره شو، فالحمد لله على ذلک،در اصل هم په دې احقر هم اوغوښتل چه هر کله حضرت شيخ الحديث رحمه الله دې نالائق او ناکاره ته دومره په شوق سره لوستل اوکړل نو څه چه د حضرت په برکت سره حاصل شو هغه طبع کړې شي چه دهغې نفع عام شي، اميد دې چه ددې تقرير په مطالعې سره به د ډيرو دپاره د بذل المجهود نه استفاده کول هم آسان شي هم په دې وجه خيال وو چه ددې نوم تيسير الوصول الى بذل المجهود کيخودلې شي، خو بيا مې

دا سوچ اوکړو چه هسې نه چه اوريدونکي دا ګمان اوکړي چه دا د بذل المجهود حاشيه ده په دې وجه بيا دا دويم نوم تجويز کړې شو (۱)

ددې رومبي جلد دنظرثاني په وخت دنقل، املاء او دتصحيح او اصل سره دکتلو تعاون عزت مند مولوي عبدالرحمن مظاهري ګلبرګوي (کرناټک) په ښه طريقه پوره کړو. فجزاه الله احسن الجزاء، همدغسې ځوک صاحب چه هم د راتلونکي مسودې په تکميل کښې زمونږ سره مدد کوي هغوی ته دې هم الله تعالی دخپل لوئي شان مطابق جزاء خير ورکړي دعا ده چه الله تعالی دې دا کار په سهولت سره تکميل ته اورسوی، اودا دې دآخرت دپاره ذخيره جوړه کړي، د مور پلار استاذانو او خصوصا دحضرت شيخ نور الله مرقده په حق کښې دې د اجر سبب اوګرځوی او د طالبانو دپاره دې زيات نه زياته فائده منده جوړه کړي آمين

والحمد لله اولا وآخراً

محمد عاقل عفا الله عنه

۲۱ رجب المرجب ۱۴۱۳ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين محمد واله واصحابه اجمعين

اللهم انى احمدک واستعينک(۲)

بحث بداية السبق يوم الاربعاء : (۳)

زمونږ د مشائخو او استاذانو ﷺ معمول وو چه په يوم الاربعاء يعني د چارشنبې په ورځ به ئې د سبقونو د شروع کولو اهتمام او رعايت فرمائيلو اوس د اسلافو ددې اهتمام د دليل واصل د معلومولو ضرورت دی

په دې سلسله کښې د صاحب هدايه شاګرد په تعليم المتعلم کښې د خپل استاذ صاحب هدايه عادت نقل کړې دی ﴿ كان استاذنا الشيخ الامام برهان الدين رحمه الله يوقف بداية السبق على يوم الاربعاء ﴾ زمونږ استاذ يعني صاحب هدايه به د سبق د شروع کولو دپاره د چارشنبې د ورځې انتظار کولو، او په دليل کښې به ئې په خپل سند سره يو حديث بيانولو چه دهغې الفاظ دا دی: ﴿ما من شئ بدئ يوم الأربعاء الا وقد تم ﴾

خو بعض محدثينو په دې حديث باندې کلام کړې دی لکه علامه سخاوی په المقاصد الحسنة کښې ليکلي دی چه ﴿ لم اقف له على اصل ﴾ يعني ماته ددې حديث هيڅ

---

۱) خو په دې تسميه کښې تامل وو ځکه چه دا نوم حضرت شيخ د حضرت ګنګوهي رحمه الله د دابوداؤد تقرير کوم چه مولانا محمد يحيى صاحب رحمه الله جمع کړې وو دهغې دپاره تجويز فرمائيلې وو خو چونکه په مستقبل قريب کښې ددې تقرير د شائع کيدو توقع نشته که شائع شو نو هم هغه نوم به مقيد په عربۍ کړې شي. الدر المنضود على سنن ابي داؤد (عربي)

۲) د بنده عادت دې چه هره ورځ د سبق شروع کولو نه مخکښې دا دعاء لولي ددې ماخذ فعل د سيدنا بلال رضي الله عنه موذن رسول الله ﷺ دې کوم چه د باب الاذان فوق المناره په روايت کښې راروان دی

۳) ذكره مولنا عبدالحي في الفوائد البهية من ترجمة صاحب الهداية

اصل ملاؤ نه شو ، ددې نه پس علامه سخاوی د پورته حدیث معارضه کړې ده، د طبرانی د هغه حدیث سره چه په هغې کښې یوم الاربعاء ته د ﴿یوم نحس مستمر﴾ مصداق وئیلې دې.

ملا علی قاری ددې اشکال دا جواب ورکړې دې چه د علامه سخاوی ﴿ لم اقف له علی اصل ﴾ وئیل د خپل علم په اعتبار سره دی ځکه چه د صاحب هدایه په شان فقیه محدث چه یو حدیث په خپل سند سره مرفوعا بیانوی، او په هغې باندې عمل کوی نو دا د هغه حدیث د ثبوت دپاره کافی ده، اگر که په متداول کتب حدیث کښې دا حدیث ملاؤ نه شی، او د طبرانی د روایت هغوی دا جواب کړې دې چه هغه ضعیف دې، او که هغه صحیح اومنلې شی نو دهغې توجیه به دا وی چه چونکه په دې ورځ په کفارو باندې عذاب نازل شوې وو، په دې وجه دا ورځ د کفارو او د اعداء الاسلام په حق کښې سپیرهٔ ده نو د مسلمانانو په حق کښې یقینا مسعود او مبارک شوه.

د صاحب هدایه او د اکابرینو ددې معمول تائید بعض علماء کرامو په هغه حدیث سره هم فرمائیلې دې کوم چه په صحیح مسلم جلد ثانی کښې واقع دې. ﴿ ان الله خلق النور یوم الاربعاء ﴾ چه الله پاک نور د چهار شنبې په ورځ پیدا کړو او ښکاره ده چه علم هم سراسر نور دې په دې وجه هم د چهارشنبې [۱] په ورځ باندې د سبقونو د شروع کولو مناسبت ښکاره دې، دا ټول بحث مولانا عبدالحی صاحب ذکر فرمائیلې دې، اوس اوس په دې سلسله کښې یو بل حدیث په علم کښې راغلو چه په هغې کښې دا دی چه علم دې د دوشنبې په ورځ باندې طلب کړې شی په دې سره سهولت وی، والله اعلم بصحة الحدیث.

اوس مونږ مقدمة العلم شروع کوو.

مقدمة العلم

د استاذانو او علماء کرامو د همیشه نه معمول پاتې شوې دې چه د کتاب د شروع کولو نه مخکښې چه په کوم فن کښې هغه کتاب دې د هغه فن ابتدائی خبرې او مقدمة العلم ډیر په اهتمام سره بیان فرمائی، او علماؤ د میزان او دمنطق هم ددې خبرې تصریح کړې ده چه د فن د شروع کولو نه مخکښې دهغې مقدمة العلم پیژندل ضروری دی.

(اقسام مقدمه): پوهه شه چه د مقدمې دوه قسمونه دی یو مقدمة العلم او دویم مقدمة الکتاب [۲] په دې دواړو کښې فرق تاسو په مختصر المعانی کښې لوستلې دې دهغې

---

[۱] په دې سلسله کښې تیر کال د رفیق محترم شیخ الحدیث مولانا محمد یونس صاحب نه یو حدیث په اوریدو کښې راغلو چه دهغې په ظاهر تقاضه دا ده چه د سبق ابتداء په یوم الاثنین یعنې د ګل په ورځ اوشی نو ډیره غوره ده په دې په حصول علم کښې اسانتیا راځی دهغې الفاظ دا دی ﴿ اطلبوا العلم یوم الاثنین فانه میسر لصاحبه ﴾ ابونعیم اصفهانی دا په تاریخ اصفهان کښې پسنده د سیدنا انس ﷺ نه روایت کړې دې خو د حدیث د صحت او قوت حال معلوم نه دې.

[۲] د متقدمینو په نزد صرف مقدمة العلم وه. او د مقدمة الکتاب اصطلاح روستنې ایجاد دې، علامه تفتازانی ددې اختراع کړې ده لکه چه د مطول شرح تلخیص نه معلومیږی او منشاء د اختراع هم د هغه خاتې نه معلومیدلې شی.

دلته د بیانولو حاجت نشته خو دا خبره خو بدیهي ده چه د مقدمة العلم تعلق د فن سره وي، او د مقدمة الکتاب تعلق د کتاب سره وي، تاسو ته به دواړه مقدمې بیانولې شي، اول مقدمة العلم [١] واورئ!

په مقدمة العلم کښې بعض حضرات صرف درې امور بیانوي، تعریف، موضوع، غرض او غایت، او بعض حضرات اته امور بیانوي، چه هغې ته رؤس ثمانیه هم وائي، او بعض حضراتو امور عشره لیکلي دي.

اعلم ان مبادی کل فن عشره	الحد والموضوع ثم الثمره
الاسم والاستمداد وحکم الشارع	وفضله ونسبة والواضع
ومسائل والبعض بالبعض اکتفی	ومن دری الجمیع حاز الشرفا

زمونږ شیخ ﷫ به د کتاب په شروع کښې د مقدمة العلم والکتاب لاندې شل امور بیانول.

په مقدمة العلم کښې نهه:

١: تعریف، ٢: موضوع، ٣: غرض وغایت ۴: اسمه،
۵: مدون، ۶: نسبت، ٧: مرتبه ٨: قسمت او تبویب

دا اته امور هغه دي کوم ته چه رؤس ثمانیه وائي، او علماء اسلام په دې باندې د نهم څیز یعنې د حکم شارع اضافه کړې ده، او حضرت شیخ ﷫ به فرمائیل چه په مقدمة الکتاب کښې هم دا څیزونه دي، سوا د تعریف نه چه د کتاب تعریف نه وي [٢] او موضوع د علم او د کتاب د دواړو یوه وي، ددې دواړو نه علاوه په مقدمة الکتاب کښې باقي هم هغه اووه څیزونه دي کوم چه په مقدمة العلم کښې وي، نهه او اووه شپاړس امور شو او ددې نه علاوه څلور څیزونه د متفرقات او اشتات د قبیل نه دي:

١: نُسخ د کتاب، ٢: شروح وحواشي، ٣: سند حدیث، ۴: آداب طالب.

دا ټول شل امور شو، اوس مونږ مقدمة العلم هم د دغه پورته ذکر شوي ترتیب مطابق بیانوو.

(١) تعریف حدیث:

خان پوهه کړئ چه دلته دوه څیزونه دي یو علم حدیث یعنې فنِ حدیث، دویم حدیث یعنې نفس حدیث، لکه چه تاسو ته به معلومه وي چه یو خو دې علم بلاغت وفنِ بلاغت، او یو دې بلاغت کوم چه د فصاحت مقابل دې، هم په دې وجه د دواړو تعریف بیل بیل کولې

[١] ټول صحاح سته د یو فن یعنې د فن حدیث کتابونه دي، لهذا دا مقدمة العلم کومه چه مونږ دلته بیانوو ددې ټولو کتابونو سره به ددې تعلق وي او په ټولو خایونو کښې به دا مقدمه کار ورکوي. په خلاف د مقدمة الکتاب چه هغه د هر کتاب جدا جدا وي په دې لحاظ سره مقدمة العلم عام او مقدمة الکتاب خاص شوه، او په ترتیب کښې په اعتبار د ذکر سره عام په خاص باندې مقدم وي، هم په دې وجه مقدمة العلم مونږ دلته مخکښې ذکر کوو.

[٢] ددې نه مراد د حد منطقي نفي ده گنې تعریف په معنی د تعارف هغه د کتاب هم وي.

شي، د علم بلاغت بېل کوم چه د معاني او بيان د مجموعي نوم دي او د نفس بلاغت خاتله يعني کلام د مقتضى الحال مطابق کيدل، هم دغه شان دلته هم دوه څيزونه دي، حديث او فن حديث يا د فن حديث دوه قسمونه دي، يو علم روايت حديث، دويم علم دراية حديث يا داسې اوايئ چه علم الحديث روايت، علم الحديث دراية، او زمونږ مخې ته چه کوم کتاب دي بلکه د دوره حديث ټول کتابونه هغه د علم درايت حديث سره تعلق لري، او هم ددې تعريف بيانول اصل او مقصود دي. مناسب دا ده چه د فن حديث د تعريف د پيژندلو نه مخکښې د نفس حديث تعريف اوپيژندلې شي.

حديث د رسول الله ﷺ اقوالو، افعالو، احوالو او تقريراتو ته وئيلې شي، د تقرير مطلب دا دې چه يو امتى د رسول الله ﷺ په مخکښې يو کار کړې وى، او رسول الله ﷺ په هغې باندې انکار نه وى کړې نه هغه وخت او نه روستو نو هغې ته د رسول الله ﷺ تقرير وائي او کوم څيز چه داسې ثابت شي دهغې په باره کښې به داسې وئيلې شي چه دا څيز په حديث سره ثابت دې، يعنى د رسول الله ﷺ په تقرير سره، وجه دهغې دا ده (١) چه د نبى د شان نه دا خبره بعيد ده چه د هغوى په مخکښې دې يو ناجائز کار اوکړې شي يا د هغوى په علم کښې راشي، او هغوى په هغې باندې نکير او نه فرمائى ددې نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ چه څنګه افعال او اقوال د امت دپاره حجت دى، هم دغه شان د هغوى سکوت هم حجت دې، بلکه داسې اوايئ چه د نبى هر څيز حجت دې سبحان الله! د انبياء ﷺ څه عجيبه شان دې، د هغوى هر يو څيز حجت دې، پس کوم څيز چه د رسول الله ﷺ د تقرير نه ثابت شى دهغې باره کښې دا وئيلې شى چه دا څيز د حديث نه ثابت دې

تقرير خو بالاتفاق بين المحدثين والاصولين د حديث په تعريف کښې داخل دې، لانه حجة ايضا، او احوال دوه قسمه دى، اختياريه او غير اختياريه (لکه د رسول الله ﷺ حليه مبارکه، قد، مخ مبارک وغيره) يا داسې اوايئ چه خلقيه او خلقيه، د محدثينو په اصطلاح کښې دواړه قسمونه په حديث کښې داخل دى، بلکه هر هغه څيزکوم چه د رسول الله ﷺ طرف ته منسوب وى، هغه حديث دې، ﴿ كل ما نسب الى النبى ﷺ حتى الحركات والسكنات في اليقظة والمنام ﴾ او د اصولينو يعنى د اصول فقه په اصطلاح کښې قسم ثانى يعنى احوال غير اختياريه دا د حديث په تعريف کښې داخل نه دى ځکه چه هغوى خو د هغه حديث نه بحث کوى کوم چه د حجت او دليل د قبيل نه وى، او د اوصاف خلقيه يعنى د احوال غير اختياريه تعلق د يو حکم شرعى سره نشته، لهذا هغه حجت هم نه دى، دا خو تعريف شو د نفس حديث، اوس مونږ (انشاء الله) د علم حديث تعريف بيانوو، اول د علم

(١) ددې مثال د سيدنا موسى ﷺ او خضر ﷺ قصه ده کومه چه مشهوره او معروف ده، او په قرآن کريم کښې ذکر ده، موسى ﷺ سره د معاهدې نه چه هغه به د سيدنا خضر ﷺ په فعل باندې هيڅ نه فرمائى، بلکه خاموش به وى، خو چه کله موسى ﷺ د خضر ﷺ نه د داسې کارونو صدور اوليدو کوم چه به ظاهر کښې د شريعت خلاف وو، نو موسى ﷺ خاموش پاتې نه شو او فورا ئې انکار اوفرمائيلو

حديث رواية، كوم چه دلته مقصود دي، [۱] او دهغې نه روستو د علم الحديث دراية.

تعريف علم الحديث

د دې يو مشهور تعريف خو دا دې: هو علم يعرف به اقوال النبيﷺ وافعاله واحواله، علامه كرماني او عيني هم دا ليكلي دي علامه سيوطي‌رحمه‌الله د دې باره كښې ليكلي دي، هذا غير محرر... يعنې دا تعريف واضح او منقح نه دې، د هغوى دا اشكال صحيح دې، ځكه چه دا تعريف خو د سيرت په هر كتاب باندې صادق راځي، كه هغه په اردو كښې وى يا په عربئ كښې، كه په سند سره وى يا بغير د سند نه، او پخپله علامه سيوطي‌رحمه‌الله د دې يو بل تعريف بيان فرمائيلې دې چه په هغې باندې هيڅ اشكال نشته، او زما په نزد د ټولو نه غوره هم هغه دې، ﴿ هو علم يشتمل على اقوال النبيﷺ وافعاله وروايتها وضبطها وتحرير الفاظها ﴾ يعنې علم روايت حديث هغه فن دې چه په هغې كښې د رسول اللهﷺ اقوال افعال د الفاظو د صحت او د سند د تحقيق سره نقل كړې شي په دې تعريف كښې احوال غالبا د اختصار دوجې حذف كړې شوى دى، او د رسول اللهﷺ تقرير كوم چه د حديث په تعريف كښې داخل دې اگرچه دلته مذكور نه دې خو د رسول اللهﷺ تقريرات په افعالو كښې راتلې شي، ځكه چه تقرير وائي سكوت او ترك نكير ته، او دا هم فعل من الافعال دى.

د علم دراية [۲] حديث تعريف كوم چه نهايت مختصر او جامع دې [۳] حافظ ابن حجر‌رحمه‌الله داسې فرمائيلې دي ﴿ معرفة القواعد المُعرفة بحال الراوى والمروى ﴾ يعنې فن درايت حديث د هغه قواعدو او اصولو پيژندل دى چه دهغې په ذريعه سره د رواياتو او د راويانو احوال پيژندلې او معلومولې شي.

هم دا تعريف علامه سيوطي‌رحمه‌الله په خپله الفيه كښې داسې بيان كړې دې،

علم الحديث ذوقوانين تحد	يدرى بها احوال متن وسند
فذانک الموضوع والمقصود	ان يعرف المقبول والمردود

په دې دوه شعرونو كښې د علم اصول حديث تعريف، موضوع او غرض وغايت

---

[۱] حضرت شيخ‌رحمه‌الله به فرمائيل چه اگر كه دا كتابونه چه كوم زمونږ مخې ته دى د رواية حديث دى خو زمونږ په مدارسو كښې دا دراية لوستلې شي، گويا مونږ خلقو د علم روايت حديث نه علم درايت حديث جوړ كړې دې (انتهى بلفظه)

[۲] چه دهغې بل نوم علم مصطلح الحديث او اصول حديث هم دې، او دې ته علوم الحديث هم ونيلې شي، صاحب منهل ليكلي دى چه علم دراية حديث او علم اصول حديث دواړه يو دى، وهو كما قال كما في مقدمة التدريب صفحه ٥ وكذا يفهم من مطالعة الكتب لا كما يتوهم من مقدمة الاوجز انهما علمان متغائران، فتامل)

[۳] د علم دراية يو مفصل تعريف امام سيوطي‌رحمه‌الله بيان كړې دې، ﴿ هو علم يعرف منه حقيقة الرؤية وشروطها وانواعها واحكامها وحال الرواة وشروطهم واصناف المرويات وما يتعلق بها ﴾ يعنې هغه علم چه دهغې په ذريعه د رواية حديث حقيقت معلوم شي چه روايت څنګه اوكړى شي دهغې معتبر طرق څه دى، شرائط او انواع ئې څه دى، اودهغې احكام چه كوم روايت مقبول وى او كوم مردود، هم دغه شان د راويانو د جرح او تعديل اسباب او طرق، او نور اصطلاحات فن معلوم شي، رواية وائي نقل الحديث بالسند ته)

دري واړه څيزونه راغلي دی، يعنی علم اصول حديث د هغه قوانينو نوم دی چه په هغې سره د حديث د سند او متن احوال معلوم شی، او هم دا دوه څيزونه يعنی متن او سند ددې علم موضوع ده، او غرض ددې فن دا دی چه د مقبول او مردود رواياتو معرفت حاصل شی، چه کوم حديث مقبول دې او قابل استدلال دې، او کوم حديث مردود او غير معتبر دې.

(۲) موضوع علم الحديث:

علامه کرمانی لوئی محدث دې، او د علامه ابن حجر او د عينی وغيره ټولو نه مقدم دې، هغوی په شرح د بخاری کښې د علم حديث د موضوع په باره کښې فرمائيلي دی، ﴿هو ذات الرسول ﷺ﴾ يعنی د علم حديث موضوع د رسول الله ﷺ ذات گرامی دې، په دې باندې علامه سيوطی رحمه الله فرمائی چه زمونږ استاذ علامه کافيجی رحمه الله به هميشه تعجب فرمائيلو چه هغوی ذات رسول ﷺ څنګه د علم حديث موضوع مقرر کړه، حال دا چه دا خو د علم طب موضوع ده، ځکه چه رسول الله ﷺ انسان دې، او د انسان بدن د علم طب موضوع ده، شارحينو د علامه سيوطی رحمه الله د خپل استاذ ددې اشکال د نقل کولو نه پس خپله د هغوی په خاموش پاتې کيدو باندې تعجب کړې دې چه ددې نه خو معلومه شوه چه دا اشکال د سيوطی رحمه الله په نزد هم صحيح دې، حال دا چه دا اشکال غلط دې ځکه چه د رسول الله ﷺ په ذات کښې دوه څيزونه دی، يو وصف انسانيت او دويم وصف رسالت، او د کرمانی مراد دا دې چه ذات رسول د وصف رسالت په اعتبار سره د علم حديث موضوع ده نه د وصف انسانيت او د بدن په اعتبار سره، او ښکاره ده چه وصف رسالت سره د طب د موضوع څه تعلق؟ او انسان او بدن د انسان د علم طب موضوع ده، د صحت او مرض په لحاظ سره پس دا دواړه څيزونه بيل بيل شو.

زمونږ د شيخ رحمه الله رائې په مقدمة د اوجز کښې دا ده چه ذات الرسول ﷺ خو دې د مطلق علم حديث موضوع اومنلي شی، که هغه د حديث هر يو قسم وی، او علم روايت حديث په کوم کښې چه مونږ بحث کوو، چونکه خاص دې د مطلق علم نه، په دې وجه ددې موضوع هم خاص کيدل پکار دی، پس حضرت شيخ رحمه الله اوفرمائيل چه د علم رواية موضوع ﴿الروايات والمرويات من حيث الاتصال والانقطاع﴾ ده، يعنی د رسول الله ﷺ احاديث د سند د اتصال او نقطاع وغيره اوصافو او کيفيات سند په لحاظ سره.

(۳) د علم الحديث غرض و غايت:

غرض وائی ما لاجله الفعل يعنی د کوم څيز د حصول دپاره چه کار اوکړې شی بيا چه کوم کار په هغه څيز باندې مرتب وی هغې ته غايت وائی، پس که هغه مرتب کيدونکې څيز د سړی د مقصود مطابق وی نو هغه غرض هم دې او غايت هم، او که ترتب د مقصود خلاف وی نو هغې ته به نتيجه خو وئيلې شی خو غايت نه، لهذا غرض خاص او غايت عام شو، لکه تاجر چه د حصول نفع دپاره تجارت کوی بيا په دې تجارت باندې کله نفع مرتب شی او کله نقصان، نو دې نقصان ته به غايت وائی خو غرض ورته نه شی وئيلې کيدې.

حضرت شيخ رحمه الله به د صحيح بخاری په درس کښې ددې دري غرضونه بيانول!

(۱) **اول غرض** : د هغه زيرو او بشارتونو مصداق جوړيدل کوم چه د حديث د لوستونکو او دهغې د تعليم کونکو په باره کښې راغلي دي، مثلاً :

۱: د عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ نضر الله امرأ سمع مقالتي فوعاها واداها فرب حامل فقه غير فقيه ورب حامل فقه الي من هو افقه منه... رواه الترمذي ﴾ او په ابوداؤد شريف کښې هم دا مضمون د زيد بن ثابت ﷺ په حديث مرفوع کښې راغلي دي، الله پاک دې تروتازه او خوشحال او هميشه گل گلزار اوساتي هغه سړې چه زما خبره واوري او بيا هغه محفوظ کړي، او نورو ته هغه اورسوي، (الحديث) په دې کښې دواړه احتمالونه دي چه جمله دعائيه وي يا جمله خبريه، وړاندې رسول الله ﷺ نورو ته د روايت د رسولو فائده بيان کړې ده، هغه دا چه ډير کرته داسې کيږي چه ډير خلق کومو ته چه هغه روايت رسولې شي هغه د رسونکي نه زيات فهيم او پوهه وي، او په يو روايت کښې دي، ﴿ فرب مبلغ اوعي له من سامع ﴾ يعني ځاته چه روايت رسولې شي هغه زيات محفوظ ساتونکي وي حديث لره په نسبت د اوريدونکي، ددې حديث نه يو نکته معلومه شوه چه بعض شاګردان په فهم او حفظ وغيره اوصافو کښې د استاذ نه مخکښې وي، لکه چه مشاهده هم ده.

د پورته حديث د لاندې بعض علماء کرامو ليکلي دي چه : ما من رجل يطلب الحديث الا كان على وجهه نضره.... يعني کوم سړې چه په حقيقي معنی کښې طالب حديث وي د هغه په مخ باندې رڼرا او د تازګئ آثار وي، زه وايم چه دا هم داسې ده لکه چه د اهل جنت په باره کښې ارشاد دې ﴿ تعرف في وجوههم نضرة النعيم (الآية) ﴾ او که په يو طالب حديث کښې دا صفت بيا نه موندلې شي نو دا به د طلب په کمي باندې محمول کولې شي، يا دا چه د هغه طلب، طلب صادق نه دي.

۲: هم دغه شان د عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو، ﴿ ان اولى الناس بي يوم القيامة اكثرهم على صلوة، رواه الترمذي وابن حبان في صحيحه ﴾ يعني د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات ماته نزدې هغه خلق وي کوم چه په ما باندې په کثرت سره درود وائي، ابن حبان ﷺ فرمائي چه په دې حديث کښې تصريح ده ددې خبرې چه د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه زيات قرب د رسول الله ﷺ سره د اصحاب الحديث وي، ځکه چه په کثرت صلوة باندې هم دا حضرات موصوف وي، ځکه چه هم دې حضراتو ته د صلوة او سلام دلوستلو او د ليکلو زياته موقع ملاويږي.

۳: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ اللهم ارحم خلفائي ﴾ اې الله زما د خلفاؤ سره د رحم معامله اوکړه، صحابه کرامو ﷺ تپوس اوکړو، يا رسول الله ﷺ من خلفائک؟ يا رسول الله ﷺ ستاسو خلفاء څوک دي؟ نو هغوي اوفرمائيل : ﴿ اللذين يروون احاديثي ويعلموها الناس ﴾ يعني هغه خلق زما خلفاء دي کوم چه زما احاديث روايت کوي او خلقو ته دهغې تعليمورکوي، په دې حديث کښې رسول الله ﷺ د علم حديث سره شوق

او رغبت لرونکو ته خپل نائب او خليفه ونيلي دي، او ددي نه علاوه ئي ورته د رحمت دعاء فرمائيل ده، ددي نه زيات نور څه فضيلت او سعادت كيدي شي. نو خلاصه دا چه دا دعاګاني او بشارتونه كوم چه په احاديثو كښي راغلي دي دهغي د مصداق جوړيدو دپاره مونږ علم حديث لولو

تنبيه: ښان پوه كړه چه طالب حديث لره خپل فضائل اوريدلو سره كوم چه په پورته احاديثو كښي ذكر دي، ډير مغرور او د خپل ځان په باره كښي په خوش فهمئ كښي اخته كيدل نه دي پكار بلكه په خپل ځان كښي د تواضع صفت پيدا كول پكار دي، اوګورئ زمونږ حضرت شيخ چه د خپلي زماني راس المحدثين وو، ټول عمر ئي په اشتغال بالحديث او د كتب حاديث د شروح په تصنيف او تاليف كښي تير شو، خو دهغي باوجود په مقدمه د لامع كښي په مراتبو د اهل حديث باندي كلام كولو سره فرمائي: ﴿نحن لسنا بمحدثين﴾ يعني زمونږ په شان خلق في الواقع محدث نه دي، د محدث بللو مستحق نه دي، صرف د اشتغال بالحديث د وجي نه راته عرفا محدث ونيلي شي، په اصل كښي مونږ خو مبتدئين يو.

(۲) دويم غرض: دا دي چه د دين او شريعت مدار په قرآن كريم باندي دي او په قرآن كريم كښي اصول بيان كړي شوي دي د جزئياتو تفصيل او تشريح په هغي كښي نشته، او حديث د قرآن كريم او دهغي د مجملاتو تشريح ده، لهذا د حديث نه بغير نه په صحيح معني فهم قرآن حاصليدي شي، او نه په هغي باندي صحيح عمل ممكن دي، پس د فهم القرآن او عمل بالقرآن دپاره مونږ احاديث لولو

(۳) دريم غرض: كوم ته چه په حضرت شيخ د جرندي پل فرمائيلو [۱] زمونږ د ټولو مسلمانانو د رسول الله سره مينه ده او هر سړي د ميني دعويدار دي نو رسول الله زمونږ محبوب شو او د محب د خپل محبوب هره ادا او د هغه هره خبره خوښوي، احاديث طيبه هم د هغوى الفاظ او هم د هغوى خبري دي، پس د رسول الله محبت د حديث پاك د لوستلو او بل ته د ښودلو مقتضي دي، او د محبوب د كلام نه لطف اندوز كيدل خپله يو مستقل غرض دي (من احب شيئا اكثر من ذكره) مقوله مشهوره ده [۲]

(۴) څلورم غرض: په زمونږ استاذ محترم مولانا امير احمد صاحب بيانولو چه د علم حديث غرض ﴿معرفة كيفيت الاقتداء بالنبي﴾ يعني د رسول الله اتباع او د هغوى په نقش قدم باندي انسان څنګه لاړ شي ددي طريقه معلوم شي په دي وجه مونږ حديث لولو. او زه وايم (يعني استاذ محترم مولانا محمد عاقل صاحب) چه دا غرض د صاحب مشكوة د

[۱] دا د حضرت يوه خاص اصطلاح ده چه دهغي تشريح دي د بخاري په تقرير كښي اوكتلي شي،
[۲] حضرت شيخ به فرمائيل چه فرض كړئ چه د احاديثو په تعليم او تعلم كښي هيڅ فائده نه وي، هيڅ ثواب ئي هم نه وي، ددي د لوستلو دپاره هم دا يو غرض كافي دي چه حديث پاك د محبوب كلام دي او محب ته د محبوب په كلام كښي لذت حاصليږي.

كلام نه (١) كوم چه د مشكوة په خطبه كښې، دي مستفاد كيږي، او هم دا مضمون صاحب د مفتاح السعادة هم دغه شان ليكلي دي ﴿ التحلي بالآداب النبوية، والتوقي عما يكرهه وينهاه ﴾ يعني د رسول اللهﷺ په اخلاقو او اوصافو سره خان ډولي كول، او كوم څيزونه چه د هغوى نه وو خوښ دهغي نه خان ساتل.

(۵) پنځم غرض: هغه دي كوم چه صاحب منهل ليكلي دي ﴿ الاحتراز عن الخطأ في الانتساب الى النبيﷺ ﴾ يعني د رسول اللهﷺ طرف ته د يو څيز د غلط انتساب نه محفوظ كيدل، ځكه چه دا خبره كول چه دا فلانۍ خبره رسول اللهﷺ كړي دي يا نه، په دې باندې محدثين پوهيدلي شي، حديث وغير حديث، كلام رسول وكلام غير رسول كښې فرق هم هغه حضرات كولي شي كوم چه د فن حديث نه خبر وي.

(۶) شپږم غرض: علماء كرامو بيان كړي دي چه د هر فن يو تاثير وي، لكه چه مثلاً د منطق تاثير بكواس يعني قدرة على الكلام دي، هم دغه شان كه په صحيح معنى كښې په اخلاص او محبت سره په حديث پاك كښې مشغول شي نو په دې سره په طالب العلم كښې شان صحابيت پيدا كيږي ځكه چه صحابه كرامؓ د رسول اللهﷺ په احاديثو، صحبت او په طرز عمل سره صحابه جوړ شوى دى، او طالب حديث هم هر وخت د رسول اللهﷺ د احوالو او اوصافو او دهغې د مطالعې او دهغې په تحقيق كښې لګيدلې وي، بيا به دهغې نه څنګه نه متاثر كيږي، ګويا طالب حديث ته د رسول اللهﷺ صحبت حاصل دي.

او غرض د ټولو علوم دينيه ﴿ الفوز بسعادة الدارين ﴾ بيانولي شي.

فائده: خان پوهه كړئ چه په دې بيان كړې شوى اغراضو كښې هيڅ تضاد او تباين نشته، بلكه واقعه دا ده چه دا ټول څيزونه په حديث پاك كښې د مشغوليدو فوائد او ثمرات دي، كوم چه د انسان د حيثيت او صلاحيت مطابق په هغه كښې پيدا كيږي، د يو څيز ډير فوائد كيدې شي.

(۴) اسمه: يعنى وجه تسميه ددې فن:

اسمه يعنى د فن نوم او دهغې وجه تسميه، نو ددې فن نوم علم حديث دي، اوس دا خبره كول چه حديث ته حديث ولې وائي؟ حافظ ابن حجرؒ دوه اقوال ذكر كړي دي.

وجه تسميه نمبر ۱: د حديث معنى د حادث راځي، الله پاک د خپل ذات او صفات په اعتبار سره قديم دي، په دې وجه د الله پاک كلام (قرآن كريم) هم قديم دي، دهغې بالمقابل د رسول اللهﷺ ذات حادث دي، په دې وجه د هغوى كلام هم حادث دي، په دې وجه د رسول اللهﷺ كلام ته حديث په معنى د حادث وئيلې شي.

---

(١) د خطبه مشكوة الفاظ دا دي: اما بعد فان التمسك بهديه لا يستتب الا بالاقتفاء لما صدر من مشكوته، والاعتصام بحبل الله لا يتم الا ببيان كشفه ﴾ د جمله اولى نه د مولانا امير احمد صاحبؒ بيان كړې شوي غرض مستفاد كيږي، او د دويمې جملې نه د حضرت شيخؒ په كلام كښې چه كوم غرض ثانى راغلى دي، هغه موندلې كيږي، فالحمد لله على ذلك.

وجه تسمیه نمبر ۲: حدیث وائي خبري او کلام ته، او چونکه دا د رسول اللهﷺ خبري دی، په دي وجه دي ته حدیث وئیلي شی، په دي باندي دا اشکال کولي شی چه په حدیث کښي صرف خبري چرته دی، په دي کښي خو د رسول اللهﷺ احوال او افعال هم داخل دی، ددي جواب دا دي چه د رسول اللهﷺ احوالو او افعالو ته تغلیبا احادیث وئیلي شی.

وجه تسمیه نمبر ۳: بعض علماؤ لیکلي دی چه د رسول اللهﷺ د اقوالو او افعالو ته په حدیث سره تعبیر کول خود ساخته اصطلاح نه ده، بلکه خپله د قرآن کریم نه مستنبط ده، هغه داسي چه د رسول اللهﷺ هغه ارشادات کوم ته چه حدیث وئیلي شی هغه سراسر بیان دین دي او په سورة الضحی کښي هم ددي بیان دین نه په تحدیث سره تعبیر کړي شوي دي ﴿ واما بنعمة ربک فحدث ﴾ دلته د نعمت نه مراد دین دي لکه چه په بعض نورو آیتونو کښي دی [1] پس د حدیث تسمیه هم ددي تحدیث نه اخستلي شوي ده، ددي لږ شان وضاحت دا دي چه په اصل کښي ﴿ واما بنعمة ربک فحدث ﴾ مربوط دي د ﴿ ووجدک ضالا فهدی ﴾ سره،[2] او د آیت کریمه د مضمون خلاصه دا ده چه مونږ ته بي خبر بیا مونډلي نو مونږ تا ته علوم او معارف درکړل، بیا وراندي تلو سره فرمائي پس تاسو هغه علوم او معارف (کوم چه ستاسو په احادیث کښي موجود دی) د خلقو مخکښي بیان کړئ، دي بیانولو ته په آیت کریمه په تحدیث سره تعبیر کړي شوي دي، پس هم ددي نه لفظ حدیث اخستلي شوي دي

د حدیث قریب المعنی څو الفاظ او د هغي په خپل مینځ کښي فرق

ځان پوهه کړه چه دلته څو اصطلاحي الفاظ نور دی، حدیث، اثر او سنت دا الفاظ په خپل مینځ کښي مترادف دی او که مختلف؟ کوم چه محدثین هم لیکی، او اصولین هم، لکه چه تاسو په نور الانوار او شرح نخبه وغیره کښي لوستلي دی.

(په حدیث او خبر کښي فرق)

د جمهور محدثینو رائي دا ده چه حدیث او خبر دواړه مترادف دی بیا د حدیث په تعریف کښي اختلاف دي، بعضو د رسول اللهﷺ د اقوالو او احوالو سره مخصوص کړي دي او بعضو د صحابه کرامو﵃ اقوال هم د حدیث په تعریف کښي داخل منلی دی، او بعضو پکښي د تابعینو اقوال هم شامل کړي دی، د بعض محدثینو رائي دا ده چه په حدیث او خبر کښي تباین دي، حدیث، ما جاء عن النبیﷺ او خبر ما جاء عن غیره، او بعضو حدیث ته خاص یعنی ما جاء عن النبیﷺ او خبر ته عام معنی یعنی ما جاء عن النبیﷺ ومن غیره، وئیلي دي.

---

[1] پس ارشاد دي: واذکروا نعمة الله علیکم ومانزل علیکم من الکتاب والحکمة یعظکم به (الایة)...... الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي (الایة)... په دي دواړو آیتونو کښي الله پاک د دین نه په نعمت سره تعبیر کړي دي.

[2] او فأما الیتیم فلا تقهر، الم یجدك یتیما فاوي، سره مربوط دي او وأما السائل فلا تنهر، د ووجدك عائلا فأغني، سره مربوط دي، ګویا لف ونشر غیر مرتب دي.

(په حدیث او سنت کښې فرق)

اوس پاتې شو فرق د سنت او حدیث، په مینځ کښې نو بعضو خو دې ته د یو بل مرادف وئیلې دي او دویم قول دا دې چه د حدیث اطلاق د رسول الله په صرف اقوالو باندې کیږي، او سنت عام دې، ددې اطلاق د رسول الله ﷺ په اقوالو او افعالو او احوالو ټولو باندې کیږي، او د اثر اطلاق خو د محدثینو په نزد په حدیث مرفوع او موقوف دواړو باندې کیږي، لکه امام طحاوي رحمه الله د خپل کتاب نوم شرح معاني الآثار کیخودلې دې او هغوی په دې کښې روایات مرفوعه او موقوفه ټول راوړي دي، او بعض علماء کرامو اثر خاص کړې دې ، د موقوف سره، په مرفوع باندې دهغې اطلاق نه کوي

(۵) مدون (او تدوین حدیث) :

مدون اول:

د تدوین حدیث ابتداء داسې شوې ده چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د کبار تابعینو په نزد خو د تدوین او ترتیب سلسله نه وه، د هغوی سره خو علوم نبویه په سینو کښې محفوظ وو، د تصنیف او تالیف د هغوی په نزد دستور نه وو، ځکه چه د عربو حافظې ډیرې قوی وې، هغوی ته د لیکلو څه ضرورت وو؟ غرض دا چه هغه وخت احادیث عام طور سره د صحابه کرامو او تابعینو په سینو کښې محفوظ وو، چه صحابه کرام او تابعین کله د دنیا نه رخصتیدل شروع شو او نزدې وه چه دنیا د صحابه کرامو د متبرک نفوسو نه خالي شي ځکه چه د رسول الله ﷺ د وفات تقریبا سل کاله شوې وو، په ۹۹هجرۍ کښې عمر بن العزیز رحمه الله چه کله خلیفه شو نو هغوی په دې ویره باندې چه ددې متبرک هستیانو د وفات کیدو سره دا علوم هم کوم چه د هغوی په سینو کښې محفوظ وو، د هغوی سره قبرونو ته لاړ نه شي په دې وجه هغوی په ۹۹ هجرۍ کښې د خپل زیر اثر ممالکو علماء کرامو او حفاظ حدیث په نوم باندې فرامین اولیږل چه د رسول الله ﷺ احادیث دې جمع کړې شي، پس حافظ ابونعیم اصفهاني په تاریخ اصفهان کښې لیکي، کتب عمر بن عبدالعزیز الی الآفاق انظروا حدیث رسول الله ﷺ فاجمعوه... او د بعض روایاتو نه معلومیږي چه هغوی خاص طور قاضي ابوبکر بن حزم رحمه الله ته، کوم چه د هغوی د طرف نه د مدینې منورې قاضي او امیر وو، دا فرمان اولیکلو لکه چه په مؤطا کښې امام محمد په خپل سند سره نقل کړې دی، او امام بخاري رحمه الله په صحیح بخاري باب کیف یقبض العلم کښې تعلیقا ذکر فرمائیلې دی وَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ انْظُرْ مَا كَانَ مِنْ حَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَاكْتُبْهُ فَإِنِّي خِفْتُ دُرُوسَ الْعِلْمِ وَذَهَابَ الْعُلَمَاءِ، یعنې عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د ابوبکر بن حزم رحمه الله په نوم باندې حکم اولیږلو چه د رسول الله ﷺ احادیث اولټوئ، هغه اولیکئ او ماته ئې راولیږئ، ځکه چه ماته د علم د ختمیدو او د علماء کرامو د ختمیدو ویره ده، پس د خلیفه عادل عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په تحریک باندې د هغه وخت محدثین حضراتو احادیث جمع کړل، په ابتداء کښې چه کوم حضراتو احادیث جمع کړی وو، په هغوی کښې دوه نومونه زیات مشهور او منقول دي یو ابن شهاب الزهري رحمه الله چه د هغوی پوره نوم

محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهري رحمه الله دي او دويم ابوبکر بن حزم رحمه الله (ابوبكر بن محمد بن عمرو بن حزم) چونكه دا ۔واړه حضرات معاصر او د يوي زماني دي، د ابن شهاب زهري رحمه الله وفات په ۱۲۵هجری کښي شوي دي او د ابوبکر بن حزم رحمه الله وفات په ۱۳۰ هجری کښي شوي دي په دي وجه په يقين سره دا تعين نه شي کيدي چه اول مدون په دي دواړو کښي څوک دي؟ د اکثر حضراتو ميلان د ابن شهاب الزهري رحمه الله طرف ته دي، هم دا د امام مالک، حافظ ابن حجر او علامه سيوطي رحمهم الله وغيره رائي ده، او د امام بخاري رحمه الله ميلان په ظاهر کښي د ابوبکر بن حزم طرف ته دي. ځکه چه امام بخاري رحمه الله لکه چه مخکښي تير شوي دي هم د هغوی د نوم تصريح کړي ده.

د جمهورو تائيد ددي نه هم کيږي چه ابن عبدالبر په التمهيد کښي د امام مالک رحمه الله نه نقل کړي دی چه د عمر بن عبد العزيز رحمه الله د قاضي ابوبکر بن حزم رحمه الله ځيل جمع کړي احاديث د هغوی په خدمت کښي د رالیږلو نه مخکښي وفات شوي وو، او ددي نه علاوه ابن عبد البر په جامع بيان العلم واهله کښي ليکلي دی چه امام زهري رحمه الله اوفرمائيل چه عمر بن عبد العزيز رحمه الله مونږ ته د سنت د جمع کولو حکم اوفرمائيلو ﴿ فكتبناها دفترا دفترا﴾ نو مونږ د احاديثو دفتري دفتري اوليکلي او هغه مو د خليفه راشد په خدمت کښي اوليږل هغوی د ځيل خلافت ما تحت ملکونو کښي اوليږل ددي نه معلومه شوه چه امام ابن شهاب الزهري رحمه الله احاديث د ابن حزم رحمه الله نه مخکښي ليکلي وو. لهذا د اوليت سهرا د هغوی په سر ده.

په دي سلسله کښي يو دريم نوم د امام شعبي اخستلي شي چه د چا نوم عامر بن شراحيل دي، امام سيوطي رحمه الله په تدريب الراوی کښي د حافظ ابن حجر رحمه الله نه نقل کړي دی چه ﴿ اما جمع حديث الى مثله فقد سبق اليه الشعبي، يعني صرف د يو مضمون د احاديثو راجمع كولو کار د ټولو نه اول امام شعبي رحمه الله کړي دي، او هغوی د طلاقو متعلق احاديث راجمع کړل او وي ليکل، هذا باب من الطلاق جسيم، يعني د احاديث متعلقه بالطلاق دا يو دير لوئي باب دي او قرين قياس هم دا قول معلوميږي چه امام شعبي رحمه الله مدون اول اومنلي شي د تقدم زماني د وجي نه، ځکه چه د شعبي پيدائش په ۱۷ هجری کښي شوي دي، او د زهري ولادت ۵۰ هجری کښي، خو ددي باوجود په مدونين کښي د هغوی نوم مشهور نه دي، وجه دا ده چه د هغوی د تدوين تعلق د يو خاص مضمون د احاديثو سره وو، يعني د کومو تعلق چه د طلاق سره وی، د هر قسم رواياتو هغوی جمع نه ده فرمائيلي.

پس ددي خلاصه او تحقيق والله اعلم دا دي چه صرف د يو نوع او يو مضمون د احاديثو جمع کولو کار د ټولو نه اول د عامر بن شراحيل شعبي رحمه الله کارنامه ده، او مطلقا د جمع احاديث په سلسله کښي دوه اقوال دی، عند الاكثر الزهري وعند البعض ابوبكر بن حزم، ويظهر اليه ميل البخاري.

فائده : د پورته ذکر شوي بيان نه معلومه شوه چه د تدوين حديث دا اهم ترين کار د عمر بن عبد العزيز رحمه الله په تحريک باندي شوي دي، کومه چه يقينا يو تجديدي کارنامه ده،

لکه چه په حدیث کښې راغلی دی(۱) الله پاک به په دې امت کښې هر سل کاله پس یو داسې شخصیت یا جماعت پیدا کوی کوم چه به د احیاء دین په سلسله کښې یو ښکاره خدمت سرته رسوی، علماء کرامو خلیفه عادل عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ته د اولې صدئ مجدد وئیلی دی، او علامه سیوطی رحمه الله په دې باندې د علماء کرامو اتفاق لیکلې دې، پس دا د احادیث شریفه چه کومه مبارکه ذخیره زمونږ مخې ته موجود ده، د موصوف د حسنِ تدبیر او سعی مشکور نتیجه ده. (۲) تقبل الله مساعیه وجزاه الله عنا وعن جمیع المسلمین خیرا.

هسې علماء کرامو په هره زمانه کښې د هرې صدئ د مجدد د خپل خپل تحقیق او معلوماتو مطابق تعیین فرمائیلې دې، او په هغې باندې کتابونه لیکلې شوی دی، د ډیرو ارباب علم او اصحاب بصیرت رائې دا ده چه د مولانا محمد الیاس رحمه الله د دعوت او تبلیغ دا مبارک تحریک د څوارلسمې هجری صدئ په تجدیدی کارنامو کښې یوه کارنامه ده.

طبقات المدونین:

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه د تدوین حدیث مختلف ادوار دی، اول دور خو هغه دې کوم چه مخکښې تیر شو کوم ته چه تدوین علی الاطلاق وئیلې شی، یعنی کیف ما اتفق د هر نوع روایات او احادیث بغیر د څه خاص ترتیب او مضمون د رعایت کولو نه یو ځائې په کتابی شکل کښې راجمع کول. دویم دور تدوین علی الابواب دې، یعنی د احادیث په مخلوط ذخائرو کښې د هر مضمون احادیث بیل بیل کولی او په بیلو بیلو بابونو کښې ترتیب ورکول ددې نه پس بیا دریم دور راځی تدوین علی الصحاح.... چه په هغې کښې حضرات محدثینو دا اهتمام اوکړو چه په موجوده ذخیرو کښې ئې احادیث صحیحه د سقیمه نه ممتاز کړل، او صرف د صحیح احادیثو ئې جدا انتخاب اوکړو، د ټولو نه اول دور د رومبئ صدئ په اختتام باندې بیا موندلې شو، دویم دور د دویم صدئ په مینځ کښې بیا موندلې شو، او دریم دور د دریمې صدئ په اوائلو کښې بیا موندلې شو

د اول دور د حضراتو تعیین په تفصیل سره پورته تیر شو، او د دویم دور په حضراتو کښې دا نومونه زیات مشهور دی، ابن جریج، د دوی نوم عبدالملک بن عبدالعزیز بن جریج دې، هشیم بن بشیر الواسطی، معمر بن راشد الیمنی، امام مالک او عبدالله بن مبارک رحمهم الله وغیره او د دریم دور په حضراتو کښې د ټولو نه رومبې نوم د امام

---

(۱) من حدیث ابي هریرة رضي الله عنه مرفوعا ان الله یبعث لهذه الامة علی راس کل مائة سنة من یجدد لها دینها اخرجه ابوداؤد في کتاب الملاحم وکذا الطبراني في الاوسط والحاکم في المستدرک)

(۲) د هغوی په سوانح او سیرت باندې مستقل کتابونه لیکلې شوې دی، دهغې نه یو هغه دې کوم چه د امام مالک رحمه الله بغیر د واسطې نه شاګرد رشید ابو محمد عبدالله بن عبدالحکم المالکی المصری المتوفی ۲۱۴ هجری تالیف کړې دې، چه په هغې کښې د موصوف د زهد او قناعت، تقوی او طهارت، خوف او خشیت او په زمانه د خلافت کښې د عدل او انصاف او د تواضع قصې ډیرې په ښکلې انداز کښې لیکلې شوې دی، چه دهغې اردو ترجمه اوس اوس د مکتبه خلیلیه نه شائع شوې ده، د کتاب مترجم مولانا محمد یوسف صاحب لدهیانوی رحمه الله دې)

بخاري رحمه الله دي او د هغوی نه پس د امام مسلم رحمه الله
د دې درې واړو ادوارو (طبقات ثلاثه) ذکر علامه سيوطي رحمه الله په خپله الفيه[1] کښې داسې کړې دې!

اول جامع الحديث والاثر ابن شهاب امر له عمر
و اول الجامع للابواب جماعة في العصر ذواقتراب
كابن جريج و هشيم مالک و معمر و ولد المبارک
و اول الجامع باقتصار على الصحيح فقط البخاری

يعني د عمر بن عبدالعزيز په حکم باندې احاديثو لره جمع کونکې د ټولو نه اول هستې د ابن شهاب الزهري رحمه الله ده او خاص د ابوابو په ترتيب باندې د ټول نه مخکښې احاديثو لره راجمع کونکې يو جماعت دې کوم چه تقريبا د يوې زمانې دی لکه ابن جريج، هشيم، امام مالک، معمر بن راشد اليمني او عبدالله بن مبارک رحمه الله، او صرف د صحيح احاديثو راجمع کونکو مقتدا امام بخاري رحمه الله دې.
زمونږ شيخ رحمه الله په مقدمه د اوجز کښې ليکلي دی چه د حافظ ابن حجر رحمه الله د کلام نه طبقات مدونين څلور معلوميږی، هغوی د آخری طبقې نه مخکښې د يوې طبقې اضافه کړې ده، يعني تدوين على المسانيد، مسند په انواع د کتب حديث کښې يو خاص قسم دې، په کوم کښې چه احاديث د صحابه کرامو د نومونو په ترتيب سره ذکر کولې شی، د مضمون حديث لحاظ په هغې کښې نه وی، په دې طبقه کښې حافظ د دوه شخصياتو نومونه پيش کړی دی، عبيدالله بن موسى العبسي او نعيم بن حماد الخزاعي او بيا ددې نه پس خو سلسله قائم شوه، او ډير مسانيد اوليکلې شو، مسند ابوداؤد الطيالسي، مسند حميدی، مسند ابويعلى او د امام احمد بن حنبل رحمه الله مسند خو ډير مشهور دې، کوم چه زما په خيال کښې په دې وخت موجوده کتب حديث کښې د ټولو نه ضخيم او لوئې دې، اوريدلې مو دی چه په هغې کښې د ديرشو زرو احاديثو ذخيره ده، او د ټولو نه لويه خوبی ئې دا ده چه سره ددې کثير تعداد روايتونو دهغې روايتونه قوی دی پس شاه عبدالعزيز صاحب دهلوی رحمه الله دا کتاب په طبقاتو د کتب حديث کښې په دويمه طبقه کښې شمار کړې دې، يعني سنن ثلاثه (ابوداؤد، ترمذی، نسائي) په درجه کښې ئې شمار کړې دې

کتابت حديث :

دا د پنځم نمبر کوم چه د مدون حديث بحث دې دهغې يوه تکمله باقي ده، يعني کتابت حديث، او حاصل ددې دا دې لکه چه حضرت شيخ رحمه الله به په درس بخاري کښې فرمائيل چه فرقه ضاله يعني منکرين حديث دلته دا اشکال کړې دې چه د تدوين حديث سلسله لکه چه د پورته بيان نه معلوميږی د رسول الله ﷺ د وفات نه تقريبا سل کالونه پس شروع شوې ده،

[1] الفيه هم د تصنيف يوه نوع ده، چه په زرو اشعارو کښې په يو فن يو کتاب اوليکلې شی لکه په اصول حديث کښې الفيه سيوطي، او الفيه عراقي مشهور دی.

کوم کلام چه د متکلم د انتقال نه سل کاله پس اوليکلې شي او مرتب کړې شي، هغه څنګه قابل قبول کيدې شي، په دې اوږده موده کښې د سهو او نسيان قوي امکان دې، ځکه چه په موجوده کتابونو کښې د ټولو نه قديم مجموعه مؤطأ امام مالک ده، او ددې وجود دنيا ته په قول د ابوطالب مکی د رسول اللهﷺ د وفات نه تقريبا يو سل او لس يا شپږ شلې کاله پس راغلې دې، ځکه چه مؤطأ په ۱۲۰ يا ۱۳۰ هجری کښې تياره شوه، د منکرين حديث ددې قسم اشکالاتو او تفوهاتو زمونږ علماء کرامو جوابونه ورکړې دی، مستقل کتابونه پرې چهاپ شوی دی [۱] مونږ دلته دا وايو چه د منکرين حديث د طرف نه دا سراسر مغالطه ده هغوی په کتابت حديث او تدوين حديث کښې فرق نه کوی حال دا چه په دواړو کښې فرق دې هغه دا چه د تدوين حديث بيان کوم چه اوس تير شو هغه بيل ځيز دې او نفس کتابت حديث بيل ځيز دې، د تدوين نه مراد باقاعده په کتابی شکل کښې جمع کول دی، دا بيشکه د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په زمانه کښې او د رسول اللهﷺ د وفات نه تقريبا سل کاله پس شروع شو، خو د نفس کتابت سلسله خو خپله د رسول اللهﷺ په ژوند کښې شروع شوې وه، ډير احاديث صحيحه په دې باندې دال دی او اکثر مصنفينو د صحاح ستة د کتاب العلم په عنوان سره مستقل ابواب قائم کړی دی.

امام بخاری رحمه الله په بخاری شريف کښې د ﴿ باب كتابة العلم ﴾ د لاندې درې احاديث ذکر فرمائيلې دی.

د ټولو نه اول ئې د ابوجحيفه رضي الله عنه روايت نقل کړې دې چه شاګرد دې د علی رضي الله عنه هغوی د علی رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه تاسو سره څه کتاب شته؟ (چه په هغې کښې احاديث نبويه يا د اهل بيت متعلق خصوصی احکام ليکلې شوې وی) په دې باندې علی رضي الله عنه په جواب کښې اوفرمائيل: لَا، إِلَّا كِتَابُ اللَّهِ، أَوْ فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. يعنې ما سره ليکلې شوې هيڅ نشته سوا د کتاب الله نه چه هغه ليکلې شوې دې، يا مونږ سره هغه فهم او پوهه ده کومه چه يو مسلمان سړی ته ورکړې شوې وی يا هغه امور دی کوم چه په دې صحيفه کښې ليکلې شوی دی، ابوجحيفه رضي الله عنه تپوس اوکړو ﴿ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ؟ ﴾ په دې صحيفه کښې څه خبرې دی؟ سيدنا علی رضي الله عنه جواب ورکړو، ﴿ الْعَقْلُ وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ ﴾ يعنې بعض ديتونه او قصاصونه او د قيدياتو متعلق احکام دی، او د نسائی په روايت کښې دی ﴿ فاخرج كتابا من قراب سيفه ﴾ يعنې سيدنا علی رضي الله عنه د خپلې توري د تيکی نه څه ليکل راويستل او هغه ئې ورته اوښودل.

د ابوجحيفه ددې سوال مقصود دا وو چه د علی رضي الله عنه په باره کښې ډير خلق وائی چه هغوی سره مخصوص علوم دی، او رسول اللهﷺ هغوی ته څه خاص وصيتونه فرمائيلې دی، لکه چه روافض وائی نو علی رضي الله عنه په خپل جواب کښې دهغې پوره پوره ترديد اوفرمائيلو.

[۱] د مولانا حبيب الرحمن اعظمی رحمه الله تصنيف نصرة الحديث په نوم باندې هم په دې موضوع باندې په اردو کښې يو مستند کتاب دې، اوپه السنة ومكانتها في التشريع الاسلامي عربي دکښې مصطفی حسنی السباعی

۲: د پورته ذکر کړې شوي باب دويم حديث د ابوهريرهﷺ نه روايت دې، چه د فتح مکه په کال باندې يو رجل خزاعي يو رجل ليثي قتل کړې وو نو په دې موقع باندې رسول اللهﷺ د حرم محترم د حرمت او تعظيم په باره کښې خطبه ارشاد اوفرمائيله په دې وخت کښې يو يمني سړي د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه يا رسول اللهﷺ دا خطبه ماته اوليکئ، نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ اکتبوا لابی شاة ﴾ چه دا خطبه دې هغه ته ليکلو سره ورکړې شي.

۳: دريم حديث هم د ابوهريرهﷺ دې هغوې فرمائي ﴿ مَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَحَدٌ أَكْثَرَ حَدِيثًا مِنِّي إِلاَّ مَا كَانَ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، فَإِنَّهُ كَانَ يَكْتُبُ، وَلاَ أَكْتُبُ ﴾ يعنې صحابه کرامﷺ کښې څوک هم زما نه زيات احاديث روايت کونکې نشته، سوا د عبدالله بن عمرو بن العاصﷺ څکه چه هغه به ليکل کول او ما به نه کول.

د بخاري په روايت کښې خو صرف دومره دی، او د سنن ابي داؤد په روايت کښې داسې دي چه سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص خپله فرمائي چه ما به د رسول اللهﷺ هره خبره ليکله، نو زه بعض قريشو ددې نه منع کړم چه رسول اللهﷺ بعض وخت په غصه کښې وی او بعض وخت په خوشحالئ کښې وی، غرض دا چه هره خبره قابل نقل نه وی، په دې باندې عبدالله بن عمرو بن العاصﷺ فرمائي چه ما ددې خبرې ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړو، نو هغوی ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ضرور ئې ليکه که د غصې حالت وی او که د رضا، ﴿ فانی لا اقول فيهما الا حقا ﴾ چه زما د ژبې نه په هر حال کښې حق راوځي.

او عبدالله بن عمرو بن العاصﷺ ددې خپلې مجموعې نوم "صحيفه صادقه" کيخودلې وو، او هغوی به فرمائيل، ﴿ ما يرغبنى فى الحيوة الا الصادقة والوهط ﴾ چه زما په دنيا کښې رغبت صرف د دوه څيزونو د وجې نه دې يو خو دا صحيفه صادقه، او بله هغوی خپله يو زمکه ياده کړه چه په هغې کښې به ئې کرونده وغيره کوله، چه هغې ته به وهط وئيلې شو، چه دهغې ذکر د نسائي په روايت کښې هم راغلې دې، دا صحيفه د عبدالله بن عمروﷺ په وفات باندې د هغوی نمسي شعيب بن محمد بن عبدالله ته ملاؤ شوې وه. او د شعيب نه د هغوی خوئې عمرو روايت کوی، چنانچه د حديث په کتابونو کښې چه څومره احاديث په دې سلسلې سره نقل کړې شوې دی، يعنې عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده، هغه ټول د صحيفه صادقه نه اخستلې شوې دی

خو د بخاري په دې حديث باندې دوه اشکالات راځي:

رومبې اشکال او دهغې جواب

او اشکال دا چه د حديث مقتضي خو دا ده چه د عبدالله بن عمرﷺ مرويات د ابوهريرهﷺ نه زياتيدل پکار دی، حالانکه داسې نه ده بلکه ابوهريرهﷺ په اصحاب الألوف کښې دې!

کن حديث بوهريره راشمار   پنج الف وسه صد وهفتاد وچار

يعنې د ابوهريرهﷺ د روايت کړې احاديثو تعداد پنځه زره درې سوه او شپږ اويا دي او عبدالله بن عمروﷺ په اصحاب مئين کښې دې د هغوی نه صرف اووه سوو ته نزدې

احاديث روايت کړي شوي دي.
حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کښې ددې اشکال ډير جوابونه کړي دي
(رومبی جواب): (۱) دا استثناء منقطع ده او په دې صورت کښې اشکال بيخې ختميږي، ځکه چه په دې صورت کښې به د کلام مطلب دا وي چه په صحابه کرامو کښې چا سره هم زمانه زيات احاديث نه وو، اګرچه دا خبره ضرور ده چه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه به احاديث ليکل او ما به نه ليکل، پس په دې کښې امکان دې ددې خبرې چه د هغوی احاديث زما نه زيات شي (کوم چه زه په يقين سره نه شم وئيلې) خو د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه علاوه د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کښې هغوی يقين سره وائي چه زما احاديث د هغوی نه زيات دي.
(دويم جواب): (۲) او که استثناء متصل اومنلې شي نو بيا په دې صورت کښې بيشکه د ابوهريره رضي الله عنه د کلام مقتضی دا ده چه د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه احاديث زما د احاديث نه زيات دي، خو حقيقت دا دې چه په کتب حديث کښې د هغوی روايات د ابوهريره رضي الله عنه د رواياتو نه ډير کم دي، لکه چه مخکښې تير شو، پس ددې سبب څه دې؟ د هغوی روايات چرته لاړل؟ علماء کرامو د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د قلت احاديث مختلف اسباب بيان کړي دي
(سبب نمبر ۱): يو سبب دا بيان کړي شوي دي چه د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه اشتغال بالعبادة د تعليمي اشتغال نه زيات وو، په دې وجه د هغوی په رواياتو کښې قلت واقع شو
(سبب نمبر ۲): دويم سبب دا بيان کړي شوي دي چه د اسلامي فتوحاتو نه پس د هغوی زيات تر قيام په مصر او طائف کښې وو، او دې دواړو ځايونو ته د علماء کرامو رحلة علمي دومره نه وو څومره چه د مدينې منورې طرف ته وو، او د ابوهريره رضي الله عنه قيام په مدينه منوره کښې وو، هلته به طالبين علم حديث په کثرت سره راتلل، او خپله ابوهريره رضي الله عنه هلته په تحديث روايات کښې مصروف وو او تر د آخري عمره پورې وو، په دې وجه د ابوهريره رضي الله عنه نه د روايت کونکو تعداد په دنيا کښې زيات شو او د هغوی روايات په عالم کښې ښه نشر شو، چنانچه امام بخاري رحمه الله فرمائي چه د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کونکې او د هغوی شاګردان اته سوه تابعين دي، دا خبره بل يو صحابي رضي الله عنه ته نه ده حاصله شوې
(سبب نمبر ۳): او يو سبب دا بيان کړي شوي دي چه د ابوهريره رضي الله عنه په حق کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم دعاء فرمائيلې وه چه د هغوی نه يو روايت هم هير نه شي، په دې وجه د هغوی روايات د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه هم زيات شو.
(سبب نمبر ۴): او يو سبب دا هم بيان کړي شوي دي چه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه ته د شام په فتوحاتو کښې ډير کتابونه او صحائف د اهل کتابو د صحائفو نه په لاس راغلې وو، چه دهغې به هغوی مطالعه کوله او دهغې نه به ئې مضامين هم نقل کول نو د هغوی ددې طرز د وجې نه ډيرو تابعينو د هغوی نه حديث اخستل پريخودلې وو، دا ټول جوابات حافظ په فتح الباري کښې ذکر کړي دي، د کومو صحائفو ذکر چه د حافظ په کلام کښې

راغلي دي دهغې طرف ته اشاره حافظ ابن کثیر رحمه الله هم په خپل تفسیر کښې کړې ده، [1] خاص طور سره د صحیفه یرموکیه ذکر کومه چه عبدالله رضي الله عنه ته د یرموک نه حاصله شوې وه، دهغې ذکر د هغوی په تفسیر کښې ځو ځایونو کښې راغلي دي، او په ابوداؤد کښې هم په باب امارات الساعة کښې دی، ﴿وکان عبدالله یقرء الکتب﴾ [2]

دویم اشکال او دهغې جواب

دویم اشکال دا دې چه د بخاری شریف ددې حدیث نه خو معلومیږی چه ابوهریره رضي الله عنه به احادیث نه لیکل، او د مستدرک حاکم وغیره کتب د روایت نه په ظاهره معلومیږی چه هغوی به لیکل کول، ځکه چه حسن بن عمرو وائی چه زما په موجودګئ کښې یوه ورځ د ابوهریره رضي الله عنه مخې ته یو حدیث اولوستلې شو نو حسن وائی چه په دې باندې ابوهریره رضي الله عنه زما لاس اونیولو او خپل کور ته ئې بوتلم او هلته ئې د ډیرو احادیثو کتابونه او مجموعې مونږ ته اوښودلې او وې فرمائیل اوګورئ دا احادیث ماسره لیکلي موجود دي؟ ددې تعارض ابن عبد البر رحمه الله دا جواب ورکړې دې چه حدیث همام (د بخاری حدیث د کوم راوی چه همام دې) اصح دې، او هغه دویم روایت ضعیف دې، او دویم جواب هغوی دا کړې دې چه په دوارو روایتونو کښې جمع هم ممکن ده داسې چه دا اووئیلې شی چه ابوهریره رضي الله عنه به په عهد نبوی ﷺ کښې لیکل نه کول او روستو ئې لیکل شروع کړل، په دې باندې حافظ په فتح الباری کښې لیکی چه ددې نه زیات قوی جواب دا دې چه د ابوهریره رضي الله عنه سره د حدیث د مکتوب کیدو نه دا نه لازمیږی ﴿ان یکون بخطه﴾ چه د هغوی په لاس دې لیکلې شوې وی، پس چه کله د بخاری د روایت نه دا ثابت ده چه هغوی به لیکل نه کول نو دا خبره تقریبا متعین ده چه هغه احادیث هغوی سره د بل چا د لاس لیکلې وو.

هم دغه شان د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم مکتوبات او لیکل ملاویږی لکه مکتوب سمره د دهغوی د ځامنو په نوم باندې مشهور د دې، په مسند بزار کښې چه دهغې سل روایتونه دی او امام ابوداؤد رحمه الله هم په خپل سنن کښې ددې مکتوب سمره نه شپږ روایات د مختلفو مضامینو په متفرق ابوابو کښې ذکر فرمائیلی دی کوم چه ټول په ټول یو سند سره روایت کړې شوې دی او د هر حدیث په شروع کښې ﴿اما بعد﴾ ذکر دې، [3] هم دغه شان د همام بن

---

[1] ذکره لي الشیخ محمد یونس الجونفوري)

[2] چه عبدالله بن عمرو به د آسمانی کتابونو (تورات او انجیل) مطالعه کوله

[3] سوال پیدا کیږی چه د هر حدیث په شروع کښې اما بعد ولې دې؟ جواب دا دې چه په اصل کښې صورت حال دا دې چه مکتوب سمره د احادیثو یو جزء یعنی رساله ده، ددې رسالې ټول احادیث په یو سند سره روایت کړې شوې دی، ګویا ټول احادیث په سند کښې مشترک دی په دې وجه مرتب کتاب یعنی سمره رضي الله عنه داسې اوکړل چه د رسالې په شروع کښې ئې هغه سند اولیکلو په کوم چه هغه ټول احادیث روایت کړې شوې دی ددې نه پس ئې په رساله کښې مسلسل متون احادیث ذکر اوفرمائیل، او چونکه دا رساله هغوی د خپلو ځامنو دپاره لیکلې وه، یعنی دا احادیث ئې په هغه رساله کښې د هغوی دپاره جمع کړې وو نو ځکه چه د مواعظ وغیره په شروع کښې ←.........

منبه صحيفه عن ابی هريره رضي الله عنه نه معروف او مشهور ده کومه چه څو ورځې مخکښې په حيدر آباد کښې طبع شوې ده. هم دغه شان د رسول الله ﷺ دعوت نامې او خطونه، او بعض احکام صدقات او فرائض وغيره کوم چه ليکلو سره رسول الله ﷺ خپلو عمال وغيره ته عطاء فرمائيل، پس په کتاب الصدقات کوم چه هغوی عمرو بن حزم ته ليکلو سره ورکړې وو چه کله هغوی د نجران د عامل په طور ليږلې کيدلو. معروف او مشهور دې.

(په زمانه د رسالت کښې باقاعده د کتابت حديث نه کيدو وجوهات)

خو باقاعده په کثرت اهتمام سره کتابت حديث د رسول الله ﷺ په زمانه کښې جمهور صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دې کړې، چه دهغې ډيرې وجې دی.

(رومبۍ وجه): ۱ اول دا چه کتابت خپله مقصود بالذات نه دې بلکه دا خو صرف د حفاظت يو ذريعه ده. که د چا حافظه ډيره قوی وی نو هغه ته د کتابت ضرورت نه وی. او د عربو حافظې ډيرې قوی وې، لوئې لوئې قصيدې به ئې ډيرې په آسانئ سره يادولې.

(دويمه وجه): ۲ دويمه وجه دا ده چه اکثر په هغوی کښې د کتابت نه خبر نه وو، ډيرو کمو خلقو له کتابت ورتلو.

(دريمه وجه): ۳ ددې نه علاوه يو وجه دا هم ده چه د بعض رواياتو نه د کتابت حديث ممانعت معلوميږي، لکه په مسلم شريف کښې د ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه مرفوعا روايت دې ﴿لَا تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ﴾ هم په دې وجه باندې په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې د کتابت حديث په باره کښې اختلاف راغلې وو، بعضو ورته جائز او بعضو ورته ناجائز وئيلو، ددې وجوهاتو په بناء صحابه کرامو رضي الله عنهم په کثرت سره روايات نه دی ليکلې

د پورته ذکر شوې تقرير نه معلومه شوه چه د کتابت حديث په باره کښې په رواياتو کښې تعارض پيدا شو، د بعضو نه جواز بلکه امر او د بعضو نه منع ثابتيږي، ددې ډير جوابونه دی.

د مسلم د حديث نه جوابات

(رومبې جواب): ۱ د صحيح مسلم په روايت کښې د محدثينو کلام دې، د امام بخاری رحمه الله رائې دا ده چه د حديث مسلم رفع ثابت نه ده بلکه هغه موقوف دې په صحابي باندې

(دويم جواب): ۲ دويم جواب دا دې چه دا منع عارضي او وقتی وه چه د قرآن کريم سره د احاديثو التباس رانشي

(دريم جواب): ۳ دريم جواب دا دې چه د رسول الله ﷺ د منع کولو مطلب دا دې چه يو ځائې

نـم ...... د خطبې نه پس لفظ د اما بعد وی دغه شان ددې رسالې په شروع کښې هم دې، اوس روستو راتلونکې هر مصنف رحمه الله چه کله ددې رسالې نه يو حديث اخلی نو که د اول نه وی او که د آخر نه، نو د هغه حديث په شروع کښې هغه سند لګوی کوم چه د هغه رسالې په شروع کښې ذکر شوې دې، امام ابوداؤد رحمه الله ددې رسالې نه مختلف قسم شپږ احاديث په خپل پوره کتاب کښې ذکر کړی دی، د ټولو په شروع کښې ئې هغه سند لګولې دې کوم چه د رسالې په شروع کښې دې، په دې وجه ددې شپږو احاديثو په سند کښې اما بعد موندلې شي.

دواړه او نه ليکلي شي او که داسي ليکلي شوي وي نو هغه وران کړئ.

(څلورم جواب): ۴: او ونيلي شوي دي چه نهي مقدم ده، او د اذن روايات روستني دی کوم چه دهغي دپاره ناسخ دي.

بهرحال په سلف صالحينو کښي خو د کتابت حديث د جواز او عدم جواز اختلاف وو، خو روستو د خليفه عادل عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په زمانه کښي په جواز د کتابت بلکه په استحباب د کتابة باندې د ټولو اجماع اوشوه، کما قال الحافظ بلکه حافظ داسي هم ليکلي دی چه داسي هم وئيلي کيدې شي چه په چا باندې تبليغ علم واجب وی او حال دا چه هغه سره د خپل نسيان ويره وی نو د هغه په حق کښي کتابت حديث واجب دې.

(۶) نسبته (١)

ځان پوهه کړه چه د علوم اجناس مقرر دی، اول د علم دوه قسمونه دی، عقليه او نقليه،

بيا د نقليه دوه قسمونه دی (١) شرعيه، ٢: غير شرعيه،

بيا د شرعيه دوه قسمونه دی، ١: اصليه، ٢: فرعيه،

اوس کتل دا دی چه علم حديث د کوم جنس نه دې، نو د علم حديث تعلق د رسول الله ﷺ د اقوالو او افعالو وغيره سره دې کوم چه د منقول د قبيلي نه دې، او زمونږ د دين مدار چونکه په قرآن او حديث باندې دې، او دواړه څيزونه د اصل دين نه دی، لهذا علم حديث د علوم نقليه شرعيه اصليه نه شو، او علم فقه اګرچه د علوم نقليه شرعيه نه دې خو فرعيه دې نه اصليه، او نحو او صرف او معاني اګرچه علوم نقليه دی خو غير شرعيه دی.

مرتبه: حضرت شيخ رحمه الله په فرمائيل: مرتبه په دوه اعتبارو سره وی، يو د تعليم او تعلم، او دويمه د شرافت او فضيلت په لحاظ سره.

د تعليم په لحاظ سره د علم حديث مرتبه دا ده چه دا د علوم عربيه اليه نه پس کيدل پکار دی، ځکه چه زمونږ عجميانو دپاره ددې علوم نه بغير په حديث باندې پوهيدل ګران دی، اصل کښي د علوم عربيه دوه قسمونه دی، آليه او عاليه يا مقصوده او غير مقصوده نحو وصرف، معاني و بيان وغيره د علوم آليه نه دې چه د قرآن او حديث د پوهې دپاره آله ده، او تفسير، حديث او فقه علوم عاليه او مقصوده دی، د تعليم ترتيب داسي دې چه اول دې علوم آليه اولوستلي شی دهغې نه پس علوم عاليه، ځکه چه زمونږ په مدارس عربيه کښي وی چه د نحو او صرف تعليم په شروع کښي ورکولي شی، او دهغې نه پس د حديث او تفسير علم

(١) دويم تعبير ددې جنس يا اجناس دې، لکه څنګه چه د حضرت شيخ رحمه الله په تقرير بخاری کښي دی او صاحب د شرح تهذيب هم د جنس لفظ اختيار کړی دی، حاصل د دواړو تعبيرونو يو دې ځکه چه د نسبت مطلب هم دا دې چه ددې علم د فلانی علم سره څه نسبت دې، او په دواړو کښي څه فرق او تعلق دې، آيا دا علم د هغه بل علم جنس دې، او که دهغې نه علاوه د بل جنس دې.

د علم حديث فضيلت :

او د فضيلت په اعتبار سره مرتبه دا ده چه علم حديث افضل العلوم الشرعيه دې. سفيان ثورى رحمه الله فرمائى ﴿ لا اعلم علما افضل من علم الحديث ﴾ علوم شرعيه پنځه دى. حديث، فقه، تفسير، اصول فقه او علم العقائد. او بعض علماء علم تصوف مستقل علم شمار ګرځولې دى علوم دينيه ئې د پنځو په خاني شپږ شمار کړي دى. د شرح عقائد د مشهور شرح النبراس مصنف هم دغه شان کړى دى. علامه سيوطى رحمه الله په تدريب کښې ددې علم شرافت بيانولو سره فرمائى چه باقي ټول علوم شرعيه دې علم ته محتاج دى. د فقه احتياج خو ښکاره دې (چه زيات تر فقهى مسائل د احاديثو او بيا په دويمه درجه کښې د قياس نه ثابت دى) او د تفسير احتياج دې علم ته داسې دې چه مفسرينو ددې خبرې تصريح کړې ده چه﴿ اولى التفاسير ما جاء عن النبى ﷺ ﴾ چه غوره تفسير هغه دې کوم چه د حديث نه ثابت وى خو عجيبه خبره ده چه علامه سيوطى رحمه الله په الاتقان فى علوم القرآن کښې د علم حديث په ځاني علم تفسير ته افضل العلوم وائى، او په ظاهر کښې صحيح هم دا معلوميږى. ځکه چه د علم د افضليت مدار دهغې په موضوع باندې وى ځومره چه افضله موضوع وى هم هغه هومره به علم افضل وى او د علم حديث موضوع که د رسول الله ﷺ ذات دې نو د علم تفسير موضوع قرآن کريم دې کوم چه کلام الله دې، د الله پاک صفت قديمه دې کوم چه د علم حديث د موضوع نه افضل دې، د ډيرې مودې خبره ده چه ما د مولانا عبدالحى لکهنوى رحمه الله په يو تصنيف کښې کتلې وو، هغوى ليکلې وو چه د يو ځل قصه ده چه د رمضان په مياشت کښې څه خلق ماته راغلل چه د هغوى خپل مينځ کښې په دې باندې اختلاف وو چه د رسول الله ﷺ ذات غوره دې د قرآن کريم نه اوکه قرآن کريم افضل دې؟ مولانا ليکلى دى چه ما ورته اووئيل قرآن کريم افضل دې، او وجه مې ورته هم هغه بيان کړه کومه چه پورته بيان شوه يعنى د حادث او قديم فرق چه قديم افضل وى د حادث نه ددې مضمون يو حديث په المقاصد الحسنة کښې ملاؤ شوې دې چه دهغې الفاظ دا دى ﴿آية من كتاب الله خير من محمد واله﴾(ﷺ) خو علامه سخاوى ددې حديث په باره کښې ليکى چه ماته دا روايت چرته هم ملاؤ نه شو، خو وراندې تلو سره هغوى ډير روايات د فضائل قرآن متعلق داسې جمع کړى دى چه دهغې حاصل دا دې چه د قرآن کريم يو آيت د اسمان اوزمکې اودنيا ومافيها نه افضل دې، خو په دې قسم رواياتو سره مسئله نه حل کيږى.

د بنده په نزد ددې جواب دا دې چه که دا تسليم هم کړې شى چه قرآن کريم افضل دې د رسول الله ﷺ د ذات ګرامى نه، نو بيا به هم دا وئيلې شى چه د علم الحديث موضوع د رسول الله ﷺ ذات دې په حيثيت د وصف رسالت، او د علم تفسير موضوع قرآن کريم دې په اعتبار د بيان معنى او ايضاح مراد، کوم چه د بندګانو صفت دې، نه په اعتبار د صفت بارى کيدو يعنى په علم تفسير کښې د قرآن کريم نه بحث په دې حيثيت سره نه کيږى چه هغه کلام الهى او صفت بارى دې بلکه د ايضاح معنى په لحاظ سره کيږى، لهذا داسې وئيلې کيدې شى چه د علم حديث موضوع افضل ده د تفسير د موضوع نه.

وقد بقي بعض خبايا في الزوايا (١)

(٧) قسمت او تبويب :

څنګه چه د کتاب تقسيم او تبويب کولې شي لکه چه بعض وخت مصنف د کتاب په شروع کښې ليکی چه زما دا کتاب په دومره فصول او ابوابو باندې مشتمل دې، هم دغه شان د علم هم تقسيم او تبويب وی، مثلا مناطقه د علم منطق په باره کښې ليکی چه ددې مباحث په دوؤ حصو کښې تقسيم دی يعنی تصورات او تصديقات يا قول شارح او حجت. صاحب تلخيص د علم معانی په باره کښې ليکلې دی ﴿ الفن الاول في علم المعاني وهو ينحصر في ثمانية ابواب ﴾ چه د علم معانی مضامين په اتو ابوابو کښې منحصر دی هم دغه شان ځان پوهول پکار دی چه د علم الحديث مضامين منحصر دی په ابواب ثمانيه کښې يعنی د حديث په کتابونو کښې اته قسمه مضامين بيانولې شی، کوم حديث چه هم تاسو ګورئ هغه به ددې ابواب ثمانيه نه خارج نه وی، بلکه هم په وې کښې به يو نه يو مضمون په هغې کښې موندلې شی.

او هغه ابواب ثمانيه دا دا دی:

١: عقائد، ٢: احکام، ٣: تفسير، ۴: تاريخ، ۵: رقاق، ٦: مناقب، ٧: آداب، ٨: فتن

حضرات محدثينو په دې ابواب ثمانيه کښې په هر مضمون باندې بيل بيل تصنيفات هم کړې دی، او د حديث پاک کوم کتاب چه په دې ټولو ابواب ثمانيه باندې مشتمل وی هغې ته جامع وائی (علی القول المشهور) (٢)

---

(١) ددې وضاحت دا دې چه هسې خو دا مسئله مختلف فيه ده چه د رسول الله ﷺ ذات افضل دې او که قرآن کريم؟ کوم حضرات چه قرآن کريم ته افضل وائی هغه په دې بناء چه قرآن کريم کلام الهی او صفت باری دې، او ټول صفات باری قديم دی، او رسول الله ﷺ حادث دې، او قديم افضل وی د حادث نه. او د علم تفسير موضوع قرآن کريم دې کوم چه قديم دې، دلته بحث دا دې چه د لفظ قرآن اطلاق په کلام نفسی او لفظی دواړو باندې کيږی. او صفت باری کوم چه قديم دې هغه په معنی د کلام نفسی دې نه قرآن په معنی د کلام لفظی ځکه چه هغه خو حادث مرکب من الحروف دې، او د علم تفسير موضوع قرآن کريم په معنی د کلام لفظی دې نه په معنی د کلام نفسی کما هو ظاهر فتامل.

(٢) چنانچه د احاديث العقائد نوم علم التوحيد کيخودلې شی. په دې کښې د امام بيهقی رحمه الله تصنيف کتاب الاسماء والصفات مشهور او معروف دې او احاديث الاحکام د کوم تعلق چه د کتب فقه د ترتيب مطابق د کتاب الطهارة نه واخله تر د کتاب الفرائض (وصايا) پورې دې، ددې قسم تصنيفات خو بيشميره دی، د احاديثو د داسې کتاب نوم سنن کيخودلې شی، او احاديث التفسير يعنی هغه احاديث چه دهغې تعلق د تفسير قرآن سره وی دهغې نوم علم التفسير کيخودلې شی، په دې موضوع باندې د حديث ډير کتابونه ليکلې شوې دی، لکه تفسير ابن مردويه، تفسير ابن جرير، تفسير ابن ماجه، تفسير ابن کثير، او هم دغه شان د علامه سيوطی رحمه الله الدر المنثور کوم چه په فن حديث کښې د تفسير ډير جامع او مشهور او معروف کتاب دې، او د احاديث التواريخ والسير دوه حصې دی، يو هغه چه دهغې تعلق د آسمان، زمکې، ملائکه، انبياء سابقين او امم سابقه جنات او شياطين او د نورو حيواناتو د تخليق سره وی، د هغه حصې نوم د محدثينو په اصطلاح کښې بدء الخلق دې په صحيح بخاری کښې يو کتاب بدء الخلق په عنوان باندې موجود دې، او دويمه ......

حکم الشارع

په کومه علاقه کښې چه ددې صلاحیت لرونکې صرف یو کس وی هلته به د هغه دپاره ددې علم حاصلول واجب لعینه وی، او چرته چه صلاحیت لرونکی ډیر اشخاص وی هلته به ددې تحصیل واجب علی الکفایة وی. بفضله تعالی وتوفیقه مقدمة العلم پوره شوه.

تنبیه : د مقدمة العلم دا امور تسعه موږ په هغه ترتیب او نهج باندې ذکر کړی دی کوم چه به زموږ شیخ رحمه الله په درس بخاری کښې اختیارولو خو وړاندې په مقدمة الکتاب کښې موږ د حضرت شیخ والا ترتیب قائم او نه ساتلې شو په هغې کښې چه موږ کوم ترتیب زیات اسان اوګڼړلو هغه مو اختیار کړو

مقدمة الکتاب

د مقدمة الکتاب حاصل او خلاصه صرف دوه څیزونه دی. احدهما ما یتعلق بالمصنف (په کسرې د نون سره) والثانی ما یتعلق بالمصنَف (یعنی کتاب) اول ترجمة المصنف یعنی د مصنف رحمه الله حالات او پوره تعارف، دویم د کتاب تعارف، اوس به چه لاندې کوم امور هم بیانولې شي دي ټولو ته به مقدمة الکتاب وئیلې شي، د ټولو نه اول ما یتعلق بالمصنِف رحمه الله واورئ.

له......حصه هغه ده چه دهغې تعلق د رسول الله ﷺ د ابتداء ولادت نه واخله تر وفات پورې، او د هغوی د آل و اصحاب رضی الله عنهم د ذات سره وی دهغې نوم علم السیر دې، بس په دې کښې بیشمیره کتابونه لیکلې شوی دی، لکه زاد المعاد في هدي خير العباد، د حافظ ابن القیم رحمه الله، سیرت ابن اسحاق، سیرت ابن هشام، او د قسطلانی مواهب لدنیه او د شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله مدارج النبوة اود مجدالدین فیروزآبادی صاحب قاموس سفرالسعادة چه ددې شرح شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله لیکلې شوې کوم چه په شرح سفر السعادة سره مشهور دې، او احادیث الرقاق ته علم السلوک والزهد وئیلې شی په دې موضوع باندې د امام احمد او عبدالله بن مبارک رحمه الله کتاب الزهد مشهور دی او په جامع ترمذی کښې هم د زهد د روایاتو ډیر اوږد باب موجود دې، او د احادیث المناقب نوم علم المناقب دې په دې کښې هم ډیر تصانیف دی. لکه مناقب قریش، مناقب الانصار، مناقب العشرة المبشرة او د محب طبری کتاب الرياض النضرة في مناقب العشرة المبشرة مشهور دې او القول الصواب في مناقب عمر بن الخطاب، دغه شان القول الجلي في مناقب امير المومنين علي، او په مناقب علی کښې د امام نسائی رحمه الله رساله چه په هغې باندې د هغوی سخت مخالفت کړې شوې وو چه دهغې واقعه مشهور ده او د احادیث الأداب نوم علم الادب کیخودلې شی، د امام بخاری رحمه الله کتاب الادب المفرد په دې موضوع باندې مشهور دې، د ډیرو مدرسو په نصاب کښې داخل دې، او د احادیث الفتن نوم علم الفتن کیخودلې شی په دې کښې هم ډیر تصنیفات دی، یو طویل او بخوانې تصنیف په دې کښې د نعیم بن حماد دې او اشراط الساعة یعنی د علامات قیامت په موضوع باندې چه کوم کتابونه لیکلې شوې دی ښکاره خبره ده چه هغه به هم په دې علم الفتن کښې شمار کولې شی، لکه الاشاعة لاشراط الساعة دسید شریف محمد البرزنجی او الاذاقة د نواب صدیق حسن خان بهوپالی او د شاه رفیع الدین صاحب کتاب علامات قیامت په نوم باندې په اردو کښې، دا ټول مضمون موږد انتهائی مفید کیدو په وجه د لامع الدراری د مقدمې نه په تلخیص سره اخستلې دې.

د مصنف رحمه الله نوم، نسب او نسبت :

د مصنف رحمه الله اسم گرامي سليمان دي، ابوداؤد ئي كنيت دي، د والد محترم نوم ئي اشعث دي، پوره نسب ئي داسي دي، سليمان بن الاشعث بن اسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الازدي السجستاني، ويقال له السجزي، الازدي : ازد په يمن كښي يو مشهور قبيله ده، السجستاني : نسبت دې د سجستان طرف ته، كوم چه معرب دې د سيستان، دا يو معروف ښهر دې په اطرافو د خراسان كښي د خراسان او كرمان ترمينځه هم په دې وجه مصنف رحمه الله ته خراساني هم وئيلې شي، او په سجزي كښي دوه اقوال دي بعض وائي چه سجستان ته سجز هم وئيلې شي، دويم قول دا دې چه دا تغير په نسبت كښي راتلو سره شوې دې، په نسبت كښي تغير ډير كيږي لكه د نسبت الى الري په وخت رازي وئيلې شي

د سجستاني په باره كښي مورخ ابن خلكان ليكلي دي چه دا نسبت د سجستان يا سجستانه طرف ته دې التي هي قرية من قرى بصرة، يعني كوم چه د بصرې يو قرية ده، شاه عبدالعزيز صاحب رحمه الله په دې باندې رد كړې دې چه د ابن خلكان سره ددې چه په تاريخ داني كښي كمال لرى دهغه نه په دې خبره كښي غلطي شوې ده، او صحيح دا ده چه د اقليم معروف طرف ته ئي نسبت دې، نواب صديق حسن خان رحمه الله فرمائي چه د ابن خلكان د تخطيه حاجت نشته، ځكه چه هغوى دا قول په قيل سره بيان كړې دې

سن ولادت او وفات :

امام ابوداؤد رحمه الله د دريمې صدئ په شروع كښي په ٢٠٣ هجرى كښي په سجستان كښي پيدا شو، (دا هغه زمانه وه چه طاهر بن حسين د مامون الرشيد د طرف نه د خراسان گورنر وو..... من المترجم) د تحصيل علم په سلسله كښي ئي مختلف بلادو مصر، شام، حجاز، عراق او خراسان ته سفرې اوكړې، بغداد ته ئي بار بار تشريف راوړې دې، او بيا ئي هم هلته استوگنه اختيار كړه، او د خپل سنن ئي هم هلته روايت اوكړو

د بغداد قيام او د هغه ځائې نه بصرې ته منتقل كيدل :

امام ابوداؤد رحمه الله په اخير عمر كښي د وفات نه څلور كاله مخكښې په ٢٧١ هجرى كښي د امير بصره په درخواست باندې د بغداد نه بصرې ته منتقل شوې وو، چه په هغې كښې هغوى د امام صاحب نه دري فرمائشونه كړي وو، چه دهغې قصه هغه ده كومه چه د امام صاحب يو خادم ابوبكر بن جابر رحمه الله بيانوى چه د يوې ورځې قصه ده چه امام ابوداؤد رحمه الله د ماښام د مانځه نه پس خپل كور ته تشريف اوړې وو، امير بصره ابو احمد الموفق د هغوى د كور په دروازه باندې حاضر شو او دروازه ئي اوټكوله، د هغوى خادم ابوبكر بن جابر رحمه الله خبر وركړو چه امير بصره تشريف راوړې دې، د دننه راتلو اجازت ورته ملاؤ شو، امام صاحب ترې نه تپوس اوفرمائيلو چه تاسو څنگه تشريف راوړو؟ هغوى ورته اووئيل چه درې حاجتونه دي، اول دا چه تاسو بصرې ته لاړ شئ چه بصره ستاسو په علم باندې آباده شي، ځكه چه هلته به تاسوله د دنيا نه د هر طرف نه خلق د علم د حصول دپاره راځي، دويم حاجت دا دې چه تاسو زما اولاد ته خپل سنن اوښايئ، او دريم دا چه د هغوى دپاره مجلس

روایت (درس) بیل منعقد کړئ، ځکه چه زما اولاد د عوامو سره نه کینی، امام ابوداؤد رحمه الله اول دوه خبرې منظور کړې، او د دریمې د منظورولو نه ئې عذر اوفرمائیلو، او وې فرمائیل ﴿الناس شریفهم ووضیعهم فی العلم سواء﴾ یعنی د تحصیل علم په باره کښې اوچت خاندان او ښکته خاندان ټول برابر دی. د هغوی خادم ابوبکر رحمه الله وائی چه بیا هم دغه شان اوشوه چه ټولو به په یو مجلس کښې درس اوریدلو، خو د امیر بصره د درخواست په رعایت کښې به ئې صرف دومره اوفرمائیل چه د اولاد امیر او د عوامو ترمینځه به یو حجاب حائل کولې شو، باقې د هغوی دپاره بیل مستقل مجلس منعقد نه کړې شو.

امام موصوف رحمه الله د خپل ژوند اخری څلور کلونه په بصره کښې تیر کړل او په ۱۶ شوال ۲۷۵ هجری کښې د جمعې په ورځ باندې وفات شو. هغوی وصیت فرمائیلې وو چه که کیدې شی نو حسن بن مثنی دې ماته غسل راکړی ګینی د سلیمان بن حرب کتاب الغسل ته کتلو سره دې ماته غسل راکړې شی، د جنازې مونځ پرې عباس بن عبدالواحد اوکړو، او د سفیان ثوری رحمه الله د قبر په خوا کښې دفن کړې شو رحمه الله.

شیوخ او تلامذة

امام ابوداؤد د امام بخاری او د امام مسلم د شیوخ رحمهم الله نه احادیث حاصل کړی دی، حافظ ابن حجر رحمه الله د هغوی د شیوخ تعداد تقریبا درې سوه ښودلې دې، په باقی ارباب صحاح سته کښې هغوی د چا شاګرد هم نه دې، د هغوی په شیوخ کښې امام احمد بن حنبل رحمه الله دې امام ابوداؤد رحمه الله د هغوی په ډیرو ممتاز شاګردانو کښې دې، او خپله امام احمد رحمه الله هم د هغوی نه یو حدیث اوریدلې دې، او امام ابوداؤد رحمه الله به په دې باندې فخر کولو. هغه حدیث، حدیث العتیره دې یعنی ﴿ان رسول الله ﷺ سئل عن العتیرة فحسنها﴾ صاحب منهل ته وهم شوې دې، او هغوی د حدیث العتیره نه هغه مشهور حدیث مراد اغستلې دې کوم چه په اکثر صحاح ستة کښې دې، او خپله په ابوداؤد کښې هم دې یعنی ﴿لا فرع ولا عتیرة﴾ خو دا صحیح نه دی، ځکه چه دا حدیث غریب نه دې او امام احمد رحمه الله دې ته غریب وئیلی وو، پس حافظ ابن کثیر رحمه الله په البدایة والنهایة کښې لیکلی دی چه امام ابوداؤد رحمه الله وائی چه زه یوه ورځ دامام احمد رحمه الله په خدمت کښې حاضر شوم، اتفاق سره ابن أبی سمینه هم راغې نو هغوی ته امام احمد اوفرمائیل چه د هغوی (ابوداؤد) سره یو غریب حدیث دې هغه اولیکه، چنانچه هغوی ما ته درخواست اوکړو په دې باندې ما هغوی ته هم هغه حدیث املاء کړو، په دې قصه کښې ددې حدیث د غریب کیدو تصریح ده.

دا زمونږ او ستاسو د سبق (عبرت) حاصلولو مقام دې چه امام احمد بن حنبل رحمه الله سره د بې شمیره احادیثو د معلوم او محفوظ کیدو باوجود خپل یو شاګرد سره حدیث اولیدو نو هغه ئې ډیر په اهتمام سره واوریدلو او هم هغه وخت ئې اولیکلو، بلکه نورو ته ئې دهغې ترغیب ورکړو.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله یو بله واقعه رایاده شوه کومه چه ملا علی قاری رحمه الله په مرقاة کښې لیکلې ده چه یو ځل د امام احمد رحمه الله یو شاګرد د هغوی نه تپوس اوکړو چه ﴿الی

متی العلم؟ فاین العمل ﴾ چه دا د لوستلو او زدکړې کار به آخر ترکومې پورې وی عمل به کله کوو؟ امام احمد بن حنبل رحمه الله ددې خبرې به اوریدو باندې ډیر مناسب جواب ورکړو ﴿ علمنا هذا هو العمل ﴾ چه دا زمونږ د احادیثو یادول اوریدل او اورول پخپله یو عمل دې، اصل کښې دې حضراتو سره صرف الفاظ نه وو بلکه د علم حقیقت او دهغې روح او دهغې نور په دې حضراتو کښې موجود وو، په داسې صورت کښې دا هر څه لیکل او لوستل علمی اشتغال پخپله یو عمل جوړیږی. والله الموفق.

د امام ابوداؤد رحمه الله تلامذه :

هسې خو ښکاره ده چه د امام ابوداؤد به په سوونو څۀ بلکه په زرګونو شاګردان وی، خو په هغوی کښې چه کوم مشهور شخصیات دی او کوم چه د امامت درجې ته رسیدلې دی په هغوی کښې امام ترمذی او امام نسائی دا دواړه حضرات شامل دی، چنانچه په جامع ترمذی کښې یو روایت د کتاب الدعوات کښې په اخر کښې او دویم روایت په کتاب المناقب کښې د مناقب اهل بیت په باره کښې امام ترمذی رحمه الله د امام ابوداؤد نه نقل کړی دی [۱] او ددې دوه روایاتو نه علاوه ئې د بعض راویانو د تحقیق په سلسله کښې په دوه نورو ځایونو کښې هم ذکر کړې دې، او د امام نسائی رحمه الله په باره کښې دا خبره خو محقق ده چه هغه د امام ابوداؤد رحمه الله په شاګردانو کښې دی خو دا خبره چه امام نسائی رحمه الله په خپل سنن کښې د امام ابوداؤد رحمه الله نه څۀ روایت اخستلې دې یا نه؟ دا خبره په یقین سره نه شی کیدلې په اصل کښې صورت حال دا دې چه د امام نسائی رحمه الله د امام ابوداؤد رحمه الله نه علاوه بل یو ابوداود استاذ دې او د هغوی نوم هم سلیمان دې، سلیمان بن سیف الحرانی، امام نسائی په خپل سنن کښې د هغوی نه په کثرت سره روایت کوی چرته ئې صرف کنیت ذکر کوی او په بعض ځایونو کښې د کنیت سره د نوم تصریح هم کوی او فرمائی : ﴿ حدثنا ابوداؤد سلیمان بن سیف الحرانی ﴾ چرته چه صرف کنیت ذکر کوی او وائی حدثنا ابوداؤد په دې کښې د بعض موقعو په باره کښې د حافظ ابن حجر وغیره علماء کرامو رائې دا ده چه ظاهره دا ده چه ددې نه مراد ابوداؤد سجستانی دې باقی ما په پوره کتاب کښې چرته هم د سلیمان بن اشعث او د سجستانی تصریح نه ده موندلې [۲] چونکه د حافظ په نزد په بعض ځایونو کښې د ابوداؤد نه امام ابوداؤد سجستانی مراد دې، هم په دې وجه هغوی په تقریب التهذیب کښې د امام ابوداؤد په نوم پاندې د نسائی رمز هم لیکلې دې، والله اعلم

[۱] د هغه روایت الفاظ دا دی : حدثنا أبو داود سليمان بن الأشعث السجزي.... عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ يسال احدكم ربه حاجاته كلها حتي يسئل شسع نعله اذا انقطع ترمذی ۲/۲۰۰ او دویم حدیث په کتاب المناقب کښې دې او هغه داسې دې: أبو داود سليمان بن الأشعث.... عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم احبوا الله لما يغذوكم من نعمه واحبوني بحب الله واحبوا أهل بيتي لحبي حدثنا ترمذی ۲/۲۲۰)

[۲] په نسائی جلد ثانی صفحه ۲۲۸ کښې په حاشیه ۷ باندې اوګورئ، هلته محشی دا لیکلې دی چه ظاهر دا ده چه دلته په سند کښې امام ابوداؤد السجستانی مراد دې، ځکه چه هغه هم د امام نسائی رحمه الله په شیوخ کښې دې)

بالصواب. او چونکه امام احمد رحمه الله کوم چه د امام ابوداؤد رحمه الله په اوچتو او مشهور استاذانو کښې دې، هغوی هم د امام ابوداؤد رحمه الله نه يو حديث اوريدلې دې، په دې لحاظ سره که امام احمد رحمه الله هم د هغوی د شاګردانو په فهرست کښې ذکر کړې شي نو دا به عبث نه وي، او د امام ابوداؤد رحمه الله دپاره خو دا يقيناً د فخر خبره ده.

اولاد : د امام ابوداؤد رحمه الله يو ځوئې هم دې، ابوبکر عبدالله بن ابي داؤد دا هم ډير لوئې محدث تير شوې دې، د خپل والد صاحب نه ئې حديث حاصل کړل، او د بغداد په اکابر حفاظو کښې به د هغوی شمير کولې شو، ګويا امام بن امام وو، اوس نزدې مې د هغوی يو تاليف هم د نظر نه تير شو، چه دهغې نوم البعث دې، کوم چه د بيروت نه شائع شوې دې، چه په هغې کښې ئې د حشر و نشر او مرګ او قبر پورې متعلق احاديث راجمع کړې دي، مختصر شان د پنځوس شپيتو صفحاتو رساله ده چه په هغې کښې ئې ډير نادر احاديث جمع فرمائيلې دي، هم دغه شان د امام ابوداؤد رحمه الله په ترجمه کښې د هغوی د يو رور ذکر هم ملاويږي، چنانچه حافظ ذهبي رحمه الله په سيرالاعلام النبلاء کښې ليکلې دي چه د امام ابوداؤد رحمه الله رور محمد بن الاشعث په عمر کښې د هغوی نه لږ شان لوئې وو او په علمي سفرونو کښې د امام ابوداؤد رحمه الله ملګرې وو.

د امام ابوداؤد رحمه الله فقهي ذوق :

په امام ابوداؤد رحمه الله باندې فقهي ذوق د نورو مصنفين صحاح ستة په نسبت غالب وو، چنانچه په باقي ارباب صحاح ستة کښې هم دا يو بزرګ دې، چاته چه شيخ ابواسحق شيرازي رحمه الله په خپل کتاب طبقات الفقهاء کښې ځائېورکړې دې. هم ددې فقهي ذوق نتيجه ده چه ممدوح په خپل کتاب کښې احاديث احکام ډير په اهتمام سره راجمع کړې دي، چناچنه د نورو کتب صحاح په شان به تاسو ته په دې کښې د فضائل اعمال او زهد روايتونه نه ملاويږي، اګرچه په دې لحاظ سره دا کتاب د ډيرو ابوابو نه خالي شو، خو د فقهي احاديثو څومره لويه ذخيره چه به تاسو ته په دې کښې ملاويږي دومره به درته په باقي کتب صحاح کښې په يو کښې هم نه ملاويږي. امام غزالي رحمه الله تصريح فرمائيلې ده چه په علم حديث کښې صرف هم دا کتاب د مجتهد دپاره کافي دې، زکريا ساجي رحمه الله فرمائي: كتاب الله عزوجل اصل الاسلام وكتاب السنن عهد الاسلام..... يعني کتاب الله اصل الاسلام دې او سنن ابوداؤد فرمان اسلام دې.

د بئر بضاعة زيارت او تحقيق علمي :

د امام ابوداؤد رحمه الله بيان دې چه زه مدينې منورې ته د حاضرئ په موقع باندې د بير بضاعة د زيارت دپاره لاړم نو ما هغه په خپل څادر باندې ناپ کړو دهغې عرض اووه ذراع وو، کوم باغبان چه دروازه پرانستله او زه ئې کوهي ته اورسولم ما د هغه نه تپوس اوکړو چه آيا د عهد نبوي صلى الله عليه وسلم نه پس ددې کوهي دوباره تعمير شوې دې؟ نو هغه اووئيل نه، فرمائي چه ما دهغې اوبه متغير اللون بيا موندلې، امام ابوداؤد رحمه الله د بئربضاعه قصه په خپل کتاب کښې په احکام المياه کښې د حديث بئر البضاعة د لاندې ذکر فرمائيلې ده، په مخکښې

Scanned with CamScanner

زمانو کښې په سفرِ حج او زيارتِ مدينه طيبه د علومو د تحصيل او د تحقيقات علميه يو لويه ذريعه وه.

كلمات الائمة في وصفه :

ابن منده رحمه الله فرمائي چه کومو حضراتو په احاديثو کښې ډير زيات محنت او تحقيق کړې دې او د احاديثو د لويو لويو ذخائرو نه ئې احاديث صحيحه د غير صحيحه نه بيل او ممتاز کړې دي، په هغوى کښې څلور حضرات ډير مشهور دي. ۱: امام بخاري، ۲: امام مسلم، ۳: امام ابوداؤد، ۴: امام نسائي.

موسى بن هارون رحمه الله يو محدث دې هغوى فرمائي : خُلِقَ ابوداؤد في الدنيا للحديث وفي الاخرة للجنة ما رايت افضل منه... يعني د امام ابوداؤد رحمه الله پيدائش په دنيا کښې د حديث د خدمت دپاره او په آخرت کښې د جنت د دخول دپاره شوې دې، د هغوى نه غوره انسان ما نه دې ليدلې.

د ابراهيم حربي رحمه الله مقوله چه د هغوى په شان کښې مشهوره ده چه کله مصنف رحمه الله د خپل سنن تاليف اوفرمائيلو نو هغوى ددې په ليدلو باندې اوفرمائيل ﴿ الين لابي داؤد الحديث كما الين لداؤد عليه السلام الحديد ﴾ چه د امام ابوداؤد رحمه الله دپاره فن حديث داسې آسان او نرم کړې شوې دې لکه څنګه د سيدنا داؤد عليه السلام دپاره الله پاک اوسپنه نرمه کړې وه، كما قال تعالى : والنا له الحديد الآية.... ابو طاهر السلفي رحمه الله هم دا مضمون منظوم کړې دې!

لان الحديث وعلمه بكماله لامام اهليه ابي داؤد
مثل الذى لان الحديث وسبكه لبنى اهل زمانه داؤد

د بعض ائمونه نقل دى چه امام ابوداؤد رحمه الله په خپل طور طريقه او سيرت کښې د خپل استاذ امام احمد بن حنبل مشابه وو. او هغوى مشابه وو د خپل استاذ وکيع سره، او هغوى مشابه وو د سفيان سره، او سفيان مشابه وو د منصور، او منصور د ابراهيم، او هغه د علقمه او هغه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مشابه وو د رسول الله صلى الله عليه وسلم... رضى الله تعالى عنهم اجمعين.

د سهل بن عبدالله تسترى قصه :

مشهوره ده چه يو ځل سهل بن عبدالله تسترى رحمه الله [۱] چه د خپلې زمانې په اکابر صوفياء او اولياؤ کښې دې، د امام ابوداؤد په خدمت کښې تشريف راوړو او عرض ئې اوکړو ﴿ ان لي اليک حاجة ﴾ چه زما تاسو ته يو غرض دې چه دهغې دپاره زه حاضر شوې يم، امام صاحب اوفرمائيل، وايئ څه دې هغه حاجت؟ هغوى اوفرمائيل چه که تاسو ئې پوره کوئ نو وايم درته، امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل که ممکن وى نو ضرور به ئې پوره کوم، په دې باندې هغوى اوفرمائيل : اخرج الى لسانک الذى تحدث به احاديث رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى اقبله.

---

[۱] تستر معرب شوستر منهم سهل بن عبدالله التستري شيخ الصوفية صحب ذالنون المصري كذا في المعجم)

يعنې تاسو خپله ژبه مبارکه راوباسئ چه په هغې باندې تاسو د رسول اللهﷺ احاديث مبارکه بيانوئ، چه زه دا ښکل کړم، په دې باندې امام ابوداؤد خپله ژبه مبارکه راويستله، نو هغوی هغه ښکل کړه او لاړل.

د امام ابوداؤد فقهي مسلک :

د امام ابوداؤد فقهي مسلک څه وو؟ په دې کښې اختلاف دې، حضرت شاه ولي الله صاحب‌رحمه الله په خپله رساله الانصاف في بيان اسباب الاختلاف کښې ليکلي دی : واما ابوداؤد والترمذي فهما مجتهدان منتسبان الى احمد واسحق..... يعنې امام ابوداؤد په اصول او قواعد کليه کښې خو د امام احمد متبع دې او په فروع کښې د هغوی تابع نه دی، د امام احمدرحمه الله وضع کړې شوې احکام مخې ته ږدلو سره خپله استنباط احکام کوی، که هغه استنباط د امام احمدرحمه الله د مسلک مطابق وی او که نه وی، داسې مجتهد ته مجتهد منتسب وائی، او کوم فقيه چه په اصول او قواعدو کښې هم د يو امام ما تحت نه وی هغه ته مجتهد مطلق وائی. حضرت شاه عبد العزيزرحمه الله په بستان المحدثين کښې ليکلي دی چه بعض هغوی ته شافعي وائی او بعض حنبلي، او حضرت شيخ په مقدمه د لامع کښې ليکلي دی چه تاج الدين سبکي هغوی په طبقات الشافعيه کښې ذکر فرمائيلي دې چه ددې معنی دا شوه چه د سبکي په نزد هغوی شافعي دی، او هم دغه شان نواب صديق حسن خان هم دې شافعي شمير کړې دې، او شيخ ابو اسحق شيرازیرحمه الله هغوی لره په خپل کتاب طبقات الفقهاء کښې په اصحاب احمد کښې شمار کړې دی، او په عرف شذی کښې ليکلي شوي دی، المشهور انه شافعي والحق انه حنبلي کالنسائي، هم دغه شان په فيض الباری کښې هم د ابن تيميه په حوالې سره هغوی حنبلي ليکلي شوي دي د علامه انور شاه صاحب په شان زمونږ د حضرت شيخ هم دا رائې ده چه امام ابوداؤد حنبلي دې، چه دهغې حضرت څه شواهد هم بيان کړې دی کوم چه به وړاندې راشي، مناسب دا ده چه په مصنفين صحاح سته کښې د باقي پنځو محدثينو د فقهي مسلک هم ذکر اوکړې شي

د نورو مصنفين صحاح سته فقهي مسلک :

د امام بخاریرحمه الله په مسلک کښې اختلاف دې مشهور دا ده چه هغه شافعي المسلک دې، چنانچه تاج الدين سبکیرحمه الله هغوی په طبقات الشافعيه کښې ذکر فرمائيلي دی، د علامه انور شاه کشميری او هم دغه شان زمونږ د حضرت شيخرحمه الله رائې دا ده چه امام بخاریرحمه الله مجتهد دې، شاه صاحب فرمائي چه دا چه مشهوره ده چه امام بخاریرحمه الله شافعي المسلک دې نو دهغې وجه ښکاره ده چه په بعض مسائل خلافيه مشهوره کښې هغوی د شوافعو موافق دی، لکه رفع اليدين، جهر بالامين وغيره، ګني د هغوی موافقت د امام ابوحنيفهرحمه الله سره د امام شافعیرحمه الله د موافقت نه کم نه دې، لکه په وضوء من القبلة او وضوء من مس الذکر، مسئلة القلتين او جهر بالبسملة وغيره مسائلو کښې د احنافو موافق دې

د امام مسلمﷺ په باره کښې شاه صاحب فرمائي ﴿ لا اعلم مذهبه بالتحقيق ﴾ او په تراجم او ابواب (کوم چه په حاشيه باندې ليکلې شوې دي) د هغوی خپل مقرر کړې شوې نه دي، بلکه د امام نوویﷺ د طرف نه دي، لکه چه مشهوره ده او د يو مصنفﷺ د مسلک فقهي اندازه د هغه د تراجم او ابوابو نه کيدې شي، او هغه دلته نشته. او نواب صديق حسن خان په الحطة فی ذکر صحاح الستة کښې او په اتحاف النبلاء کښې هغوی ته شافعی المسلک وئيلې دی، او مولانا عبدالرشيد نعمانی په ما تمس اليه الحاجة کښې دا ليکلې دی چه يو قول دا دې چه دې مالکی المسلک دې خکه چه بعض علماء کرامو ﷺ خپل سند مسلسل بالمالکية امام مسلم ته رسولې دې.

د امام نسائیﷺ په باره کښې شيخ الاسلام ابن تيميهﷺ تصريح کړې ده چه هغوی حنبلی دې، او هم دا د انور شاه کشميریﷺ رائې ده، او تاج الدين سبکی دا په طبقات الشافعيه کښې ذکر کړې دې، او هم دا د شاه ولی الله صاحب او د نواب صديق حسن خان رائې ده چه هغوی شافعی المسلک دی.

امام ترمذیﷺ مسلکا شافعی دې، په هيڅ يو مسئله کښې هغوی د امام شافعیﷺ مخالفت صراحتا نه دې کړې، سوا د مسئله ابراد بالظهر نه، امام شافعیﷺ چه د ابراد بالظهر دپاره کوم شرط لګولې دې په دې باندې امام ترمذیﷺ دا اعتراض فرمائيلې دې، چه دا قيود د اطلاق حديث خلاف دې، چه دهغې تصريح خپله امام ترمذیﷺ په جامع ترمذی کښې فرمائيلې ده، او د شاه ولی الله صاحبﷺ رائې دا ده چه امام ترمذیﷺ مجتهد منتسب الی احمد واسحق دې، لکه چه د امام ابوداؤدﷺ د مسلک د لاندې اوس ذکر کړې شو.

د امام ابن ماجهﷺ په باره کښې شاه صاحبﷺ فرمائي چه غالبا هغوی شافعی المسلک دی.

د امام ابوداؤدﷺ د حنبلی کيدو قرائن:

زمونږ شيخﷺ به فرمائيل چه امام ابوداؤد کلک حنبلی دې، او ددې خبرې تائيد د هغوی د تراجم او ابواب نه په ښه طريقې سره کيږی، ﴿ فانه اهتم بذکر ادلة الحنابلة اکثر من غيرهم ﴾ خکه چه امام ابوداؤد په نسبت د نورو ائمه د حنابلو دلائل په کثرت او اهتمام سره بيان کړی دی، مثلا د باب البول قائما ترجمه ئې قائم کړې ده او په روايت سره ئې دهغې جواز ثابت کړې دې لکه چه د حنابلو مذهب دې او دهغې خلاف ئې د جمهور روايات نه دی ذکر کړې، او دغه شان اودس بفضل طهور المراة په سلسله کښې ئې چه کوم صنيع اختيار فرمائيلې دې، دهغې نه هم د مذهب حنابله طرف ته رجحان معلوميږی او هغه داسې چه مصنفﷺ د جواز رواياتو لره اولا او د منع روايات په اخر کښې ذکر فرمائيلې دی لکه چه د حنابلو مذهب دې او د جمهور د مسلک تقاضا دا وه چه د ابوابو ترتيب ددې برعکس وی چه اول د منع روايات ذکر کړې شي او روستو د جواز اوهم دغسې ئې باب الوضوء من لحوم

الابل قائم کړي دي، اودا ئې حديث سره ثابت کړی دی لکه څنګه چه د حنابله مسلک دې او هم دغه شان په ابواب الامامة کښې ئې باب قائم کړې دې : باب الامام يصلي قعود، يعنی که امام د څه عذر په وجه په ناسته باندې مونځ ورکړی نو مقتدی څنګه مونځ اوکړی؟ قائما يا قاعدا د جمهورو مذهب دا دې چه قائما دې اوکړی او د امام احمد رحمه الله مذهب دا دې چه د امام په ابتداء کښې دې قاعدا اوکړی، په دې باب کښې مصنف رحمه الله صرف د حنابلو دليل ذکر فرمائيلي دي، ﴿ واذا صلی جالسا فصلوا جلوسا ﴾ او مصنف رحمه الله په دې مسئله کښې د جمهورو د مسلک مطابق نه باب قائم کړې دې او نه ئې د جمهورو دليل ذکر کړې دې، د جمهورو دليل د مرض الوفات قصه ده چه په هغې کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناسته باندې مونځ ورکړې وو، او صحابه کرامو رضی الله عنهم په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې په ولاړه مونځ کړې وو، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم آخری فعل وو، امام خطابی مشهور شارح د سنن ابی داؤد هم په دې باندې اظهار د تعجب فرمائيلې دې چه مصنف رحمه الله د خپل عادت شريفه خلاف په دې مسئله کښې د جمهورو دليل يعنی د مرض الوفاة قصه نه ده ذکر کړې، د هغوی الفاظ کوم چه حضرت په بذل کښې تحرير فرمائيلي دی دا دی : فلست ادری کيف اغفل بذکر هذه القصة وهي من امهات السنن واليه ذهب اکثر الفقهاء، دا زمونږ د حضرت شيخ رائې او دهغې وضاحت دې خو زه وايم چه مصنف رحمه الله په دې کتاب کښې بعض ابواب د مسلک حنابله په خلاف هم قائم کړی دی، لهذا دا وئيل چه ګلک حنبلی دې، په دې قول کښې نظر دې.

فائده : بعض علماء کرامو ليکلي دی چه په محدثينو کښې بعضو ته چه شافعی او چا ته مالکی وئيلې شی، دهغې مطلب دا نه دې چه هغه د هغوی متبع او مقلد محض دې، بلکه ددې مطلب دا دې چه دا حضرات خپله مجتهدين دی، د چا اجتهاد او استنباط د يو امام موافق شو، او د چا استنباط د بل امام موافق شو.

ائمه متبوعين او غير متبوعين :

دلته دا پيژندل مناسب دی چه د اصحاب مذاهب دوه قسمه دی، يو ائمه متبوعين او بل غير متبوعين، يعنی يو خو هغه امامان دی چه د چا مذاهب رائج او متبوع دی، او د هغوی اقوال په منقح طور د ترجيح الراجح سره منقول او محفوظ دی، ددې قسم مذاهب د اهل سنت والجماعت دې وخت کښې په دنيا کښې صرف څلور دی، يعنی د ائمه اربعه معروفه مسلکونه، او د هغوی اتباع او تقليد ډير اسان دې، ځکه چه ددې حضرات فقه مدون او مرتب ده، امام بخاری رحمه الله وغيره حضرات محدثين په مجتهدينو کښې خو دی خو په ائمه متبوعين کښې نه دی، د سفيان ثوری او امام اوزاعی رحمهما الله وغيره بعض حضراتو مذاهب د څو صدو پورې متبوع او رائج وو. خو بيا ددې سلسله ختم شوه، چنانچه د سفيان ثوری سلسله تر د پنځمې صدئ پور جاری وه، او دهغې نه پس منقطع شوه، هم دغه شان د امام اوزاعی رحمه الله مسلک صرف تر دوؤ صدو پورې اوچليدو دهغې نه پس منقطع شو، دا شرف الله پاک ائمه اربعه ته ورکړې دې، چه د هغوی د اتباع سلسله ئې تر نن ورځې پورې باقی

اوساتله ، او تر آخره پورې به انشاء الله باقي وي، په دې زمانه کښې ددې څلورو ائمو مذاهبو نه د يو د تقليد نه سوا بل يو مسلک ممکن الاتباع نشته

د علامه عبدالوهاب شعراني يو مکاشفه

دا خبره علامه شعراني رحمه الله هم ليکلې ده، او هغوی د مذاهب اربعه اهميت بيانولو سره د ائمه اربعه په سلسله کښې خپله يو مکاشفه ليکلې ده، هغه دا چه هغوی ددې حضراتو منازل او مرتبې په خپل مکاشفه کښې د جنت په نهرِ حيات باندې ليدلې دی، هغوی په خپل معروف او مشهور کتاب الميزان الکبری کښې ددې څلورو ائمه د قبو څلور نقشې جوړې کړې دی، او د ټولو نه اول ئې په شروع کښې هغه قبو ته متصل د رسول الله ﷺ قبه جوړه کړې ده،ګويا کل پنځه قبې شوې يو د رسول الله ﷺ او دهغې په خوا کښې د امام ابوحنيفه، بيا دهغې خوا کښې د امام مالک، او بيا دهغې ته مخامخ د امام شافعي، او دهغې نه وړاندې بيا د امام احمد رحمه الله، هغوی د يو نهر نقشه راښکلو سره دهغې په غاړه باندې پنځه واړه قبې جوړې کړی دی، او دا نهر د جنت هغه نهر دې کوم ته چه نهر حيات وائی، چه دهغې وجود په دنيا کښې په صورت د درياب د شريعت مطهره دې، هغوی فرمائي چه دې څلورو واړو امامانو ته د رسول الله ﷺ خاص نيابت حاصل دې، امت محمديه ته د شريعت محمديه په رهنمائي کولو کښې دې څلورو حضراتو ته د رسول الله ﷺ سره داسې ترون حاصل دې چه دهغې په بناء باندې دا ونيلې کيدې شی چه دا څلور واړه حضرات د رسول الله ﷺ نه نۀ په دنيا کښې جدا دی او نه په آخرت کښې، هغوی دا هم ليکلې دی چه مونږ په دې نقشه کښې د ائمه اربعه قبو سره متصل د رسول الله ﷺ قبه څکه ذکر کړه چه دې حضراتو ته چه کوم مقام عالی حاصل شوې دې، هغه صرف د رسول الله ﷺ د شريعت د اتباع نتيجه ده او په اخر کښې هغوی ليکی چه په دې نقشه کښې چه په کوم ترتيب باندې مونږ قبې جوړې کړی دی هغه عقلي يا قياسی نه دی، بلکه دا شکل د هغه شکل مطابق دې کوم چه ما په خپلو بعض احوالو کښې په جنت کښې ليدلې دې، د قبو دا نقشه چه څوک کتل غواړی نو هغوی دې اصل کتاب الميزان الکبرى ته رجوع اوکړی، يا دې د حضرت شيخ رحمه الله اردو تاليف شريعت و طريقت کا تلازم صفحه ٥١ اوګوری. حضرت د هغه نقشې شکل په دې کتاب کښې جوړ کړې دې

فائده : د مضمون سابق نه معلومه شوه چه په دې حضرات مصنفين صحاح ستنه کښې د چا په باره کښې هم دا نقل نه دی چه هغوی احناف وو، خو دا څيز هم يو ناقابل انکار حقيقت دې کوم چه حضرت شيخ په مقدمه د لامع کښې ليکلې دې، حضرت په مقدمه د لامع کښې د مثال په طور ديرش داسې مشران محدثين شمير کړې دی کوم چه د امام ابوحنيفه رحمه الله د شاګردانو په سلسله کښې يا د مذهب حنفي په اتباع کونکو کښې داخل دی او حال دا دې چه هغه ټول په ټول د امام بخاري يا د نورو مصنفين صحاح د استاذانو او شيوخ يا د شيوخ الشيوخ په فهرست کښې شامل دی.

....

د امام ابوداؤد احادیث منتخبه

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي چا ما د رسول الله ﷺ پنځه لاکهه احادیث لیکلي دی دهغي نه مي د څلور زره او اته سوه احادیثو انتخاب اوکړو او په خپل سنن کښي مي ذکر کړي دي. او بیا په دې څلور زرو احادیثو کښې ما صرف د څلورو احادیثو انتخاب کړي دي، فرمائي : ویکفي الانسان لدینه من ذلک اربعة احادیث..... یعنی په دې څلورو زرو کښې صرف څلورو احادیث داسې دی کوم چه د انسان د دیندار جوړیدو دپاره کافي دی.

۱: ﴿ انما الاعمال بالنیات ﴾.

۲: ﴿ من حسن اسلام المرء ترکه مالا یعنیه ﴾

۳: ﴿ لا یکون المومن مومنا حتی یرضی لاخیه ما یرضی لنفسه ﴾

۴: ﴿ الحلال بین والحرام بین وبینهما امور مشتبهات فمن اتقی الشبهات استبرأ لدینه وعرضه ﴾

حضرت شاه عبدالعزیز صاحب رحمه الله ددې شرح دا لیکلي ده چه اول حدیث د تصحیح عبادت دپاره کافي دې، او دویم د عزیز عمر د اوقاتو د ضائع کولو نه د حفاظت دپاره کافي دې، او دریم د حقوق العباد د ادا کولو دپاره کافي اووافي دې. او څلورم د مشتبه امورو نه د بچ کیدلو دپاره کافي دي.

د امام ابوداؤد رحمه الله ددې احادیث منتخبه ذکر د تراجم رجال په ډیرو کتابونو کښې شوی دی، د مشکاة شریف په آخر کښې د صاحب مشکاة د طرف نه الاکمال په نوم باندې یو رساله ملحق ده، په هغې کښې هم صاحب مشکاة د امام ابوداؤد رحمه الله په ترجمه دا احادیث ذکر فرمائیلي دي.

الله پاک دې، دغې حضراتو ته زمونږ د طرف نه او د ټول امت مسلمه د طرف نه ډیر جزاء خیر ورکړي چه هغوی په حقیقت کښې د امت محمدیه سره د همدردئ او خیر خواهئ حق ادا کړې دې، اوګورئ دا څومره غټ کار دې چه دوی د لکهونو احادیثو په ذخیره کښې صرف د څو زرو احادیثو انتخاب فرمائي، او بیا په څو زرو کښې د یو څو عدد انتخاب، صرف زمونږ او ستاسو د سهولت دپاره چه مونږ ته په دین باندې تلل آسان شي، زمونږ دنیا او آخرت برابر شي دهغې دپاره کوشش فرمائي، ډیر په غور سره دې احادیثو له د خپل ژوند په ټولو شعبو کښې مونږ له مخې ته کیخودل پکار دی، ددې احادیث منتخبه په فوائدو او جامعیت باندې یو سړې تر کوم خائې پورې لیکل کولې شي، د امام ابوداؤد رحمه الله د قول مطابق د لکهونو احادیثو لب لباب دې.

(د امام اعظم رحمه الله احادیث منتخبه)

حضرت شیخ رحمه الله په درس بخاری او هم دغه شان په اوجز المسالک شپږم جلد کښې لیکلي دی (۱) چه د امام ابوداؤد رحمه الله بغینه ددې احادیثو انتخاب د هغوی نه

(۱) په دې باندې ماته د ابو موسی اشعري او د معاذ بن جبل رضي الله عنهما اوردہ قصه رایاده شوه کومه چه د کتاب الحدود په اوائل کښې ذکر ده او غالبا په بخاری شریف کښې هم ده، قصه خو د ۲۶

مخکښې امام ابوحنیفه رحمه الله هم کړې دې. خو هغوی ددې څلورو نه علاوه د یو بل حدیث هم انتخاب فرمائیلې دې، لهذا ټول پنځه شو. او هغه دا دې ﴿ المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده ﴾ حضرت شیخ رحمه الله دا هم فرمائی چه دا پنځم حدیث غالبا امام ابوداؤد رحمه الله په دې وجه وانخستلو چه دهغې مضمون او معنی د حدیث نمبر۳ یعنی ﴿ لا یومن احدکم الخ ﴾ نه مستفاد کیږی.

په اصل کښې دا ﴿ انما الاعمال بالنیات ﴾ والا حدیث ډیر اهم دې هم په دې وجه حضرات محدثین دا د خپلو تصنیفاتو په شروع کښې ذکر کوی. حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه د تصوف حقیقت صرف تصحیح نیت دې، چه انسان هر یو کار کوی تجارت او زراعت، تصنیف وتالیف، درس او تدریس، محنت مزدوری اول دې خپل نیت صحیح کړی، په ښه نیت سره مباحات هم په عباداتو کښې داخلیږی او په یو موقع باندې ئې ارشاد اوفرمائیلو چه زمونږ د سلوک او تصوف ابتداء د ﴿ انما الاعمال بالنیات ﴾ نه ده یعنی تصحیح نیت او دهغې منتهی ﴿ ان تعبد الله کانک تراه ﴾ ده.

تصنیفات امام ابوداؤد رحمه الله:

د امام ابوداؤد رحمه الله په فن حدیث کښې ددې کتاب نه علاوه نور هم تصنیفات شته چه په هغې کښې بعض ملاویږی او بعض پکښې نایاب دی. ۱: مراسیل ابی داؤد چه په دې کښې مصنف صرف روایات مرسله ذکر فرمائیلې دی، دا مختصر شان تالیف دې او د سنن په بعض نسخو کښې په آخره کښې ملحق هم دې. ۲: الرد علی القدریة ۳: الناسخ والمنسوخ ٤: ما تفرد به اهل الامصار..... چه دهغې مطلب په ظاهر کښې دا دې چه هغه احادیث چه دهغې راویان په سند کښې ټول په ټوله د یو خاص ښهر اوسیدونکی وی، مثلا کلهم بصریون کلهم کوفیون... ددې قسم احادیث ئې یو خائې عادت جمع کړی دی، د مصنف رحمه الله عادت په سنن کښې هم دا دې چه د بعض احادیثو د لاندې فرمائی، هذا الحدیث رواته کلهم بصریون. دا څیز په لطائف اسناد کښې شمیرلې کیږی. ۵: فضائل الانصار، ٦: مسند مالک بن انس ۷: المسائل.... دا د رسالې په شکل کښې دې چه په حجاز کښې شائع شوې دی. ۸: د امام ابوداؤد رحمه الله یو بل تصنیف هم معلومیږی چه دهغې نوم کتاب بدء الوحی دې ځکه چه حافظ

له ..... اوریدلو د وجې نه حذف کولې شی خو دهغې د آخر ټکړه دا ده چه دې دواړو صحابه کرامو په خپل مینځ کښې خبرې کولې، د یو بل تپوس ئې کولو، او بله دا چه په عباداتو کښې د هر یو معمول څه دې؟ هر یو خپل معمول بیان کړو، اول ابوموسی اشعری رضی الله عنه معمولات عبادات بیان کړل دهغې د اوریدلو نه پس سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه اوفرمائیل واما انا فارجو في نومتي ما ارجو في قومتي..... یعنی چه زه خو تولمه شپه ویخ نه شم پاتې کیدې زیاتې مجاهدې زما نه نه کیږی، زه خو د شپې اوده کیږم هم او پاسم عبادت هم کوم، او زه په خپلو اوده کیدو کښې د الله پاک نه هم د هغه اجر او ثواب امید لرم کوم چه ترې په ویخیدو سره په عبادت کښې لرم، ددې قصې د نقل کولو نه زما مقصود دا دې چه هر کله د انسان نیت صحیح شی او هغه طالب د آخرت وی په هر څیز کښې آخرت ته نظر کوی نو بیا دې انسان ته په مباحاتو کښې هم هغه ثواب ملاویږی کوم چه په عباداتو کښې کیدل پکار دی.

ابن حجر رحمه الله د تهذيب جلد اول په شروع کښې ددې تذکره کړې ده، خو د هغوی په ټولو تصانيفو کښې د ټولو نه اعلى او افضل او جامع سنن دې

د فائدې يوه بله خبره هم واورئ هغه دا چه د حافظ ابن حجر رحمه الله چه کوم مشهور تصنيف تقريب التهذيب دې په هغې کښې هغوی اصالة خو د صحاح ستة ټول راويان ذکر کړي دی، او بعض راويان د غير صحاح ئې هم ذکر کړي دی او په هغې باندې ئې لفظ تميز ليکلې دې، ددې مطلب دا دې چه دا راوی د صحاح سته په راويانو کښې نه دې د هغوی نه بيل دې او د صحاح ستة طرف ته د اشارې کولو دپاره هغوی رموز مقرر کړي دی، چه په هغې سره اشاره کوی دې خبرې طرف ته چه ددې راوی روايات په صحاح کښې په فلانی فلانی کتاب کښې دی، پس که هغه راوی داسې وی چه د هغه روايات په ټول صحاح سته کښې موجود وی نو په هغه راوی باندې رمز (نښان) د ع لګوی، کوم چه د الجماعة مخفف دې، او د بخاری رمز (نښان)، خ او د مسلم دپاره م او د سنن ابوداؤد دپاره د او د نسائی د پاره س او د ابن ماجه دپاره ق ،ځکه چه هغه قزوينی دې او که هغه راوی د مراسيل ابوداؤد وی نو په هغې باندې د مد رمز لګوی، او که د کتاب الرد على القدرية راوی وی نو په هغې باندې رمز قد ليکی، په ق سره اشاره قدريه طرف ته او په د سره ابوداؤد طرف ته. او که هغه راوی د مصنف رحمه الله تصنيف الناسخ والمنسوخ وی نو دهغې دپاره رمز خد دې او د ما تفرد به اهل الامصار دپاره صد، او د مسند مالک بن انس دپاره کد ، او د المسائل دپاره لام رمز لګوی د حافظ ددې صنيع نه د محدثينو د امام ابوداؤد ددې تصنيفاتو سره اعتناء (تعلق) معلوميږی

ما يتعلق بالمصنَّف

اوس د مقدمة الکتاب دويمه حصه يعنی ما يتعلق بالمصنَّف ای الکتاب بيانولې شی، په دې کښې د ټولو نه اول اسم الکتاب دې

د کتاب نوم او وجه د تسميه

پس ځان پوهه کړه چه زمونږ مخې ته چه کوم کتاب دی دهغې نوم سنن دې، او سنن د حديث هغه کتاب ته وئيلې شی چه په هغې کښې خاص طور سره احاديث الاحکام د ابواب فقهيه په ترتيب باندې جمع کړې شی او په دې کتاب کښې هم دغه شان ده چنانچه ددې شروع د کتاب الطهارة نه ده او دهغې نه پس کتاب الصلوة، کتاب الزکوة دی، کوم چه د فقهاء کرامو ترتيب دې دا خبره مخکښې تيره شوه چه د احاديثو ټول مضامين اته دی او په کوم کتاب کښې چه هغه ټول راجمع شی هغې ته جامع وائی، چونکه په دې کتاب کښې ټول ابواب ثمانيه نشته، اګرچه اکثر مضامين په کښې دی په دې وجه دې ته جامع اونه وئيلې شو، په دې کښې کتاب التفسير دغه شان، تواريخ او مغازی او رقاق يعنی د زهد وغيره ابواب نشته، په خلاف د سنن ترمذی چه په هغې کښې دا دواړه خبرې شته چه په ابواب ثمانيه باندې مشتمل دې، چنانچه د هغه کتاب التفسير او کتاب الزهد ډير اوږد دې، او دهغې ترتيب د ابواب فقهيه د ترتيب مطابق هم دې، په دې وجه په هغې باندې د جامع او

سنن د وارو اطلاق کولی شی
په اصل کښې محدثینو په مختلفو طریقو سره د احادیثو خدمت کړې دې او په مختلفو طرزونو سره ئې قسم قسم د احادیثو کتابونه تصنیف فرمائیلی دی، د هر قسم تصنیف نوم ئې هم جدا کیخودلې دې، څه ته سنن وائی ،نو څه ته جامع ،څه ته معجم، نو څه ته مسند؛ څه ته مستخرج نو څه ته مستدرک وغیره وغیره ډیر زیات قسمونه دی چه دهغې د اصطلاحاتو پیژندل د طالبانو دپاره ډیر ضروری او مفید دی. حضرت شیخ په مقدمه د لامع کښې ډیر په تفصیل سره د حدیث د کتابونو اقسام سره د مثالونو بیان فرمائیلې دی، او احقر هم د الفیض السمائی په مقدمه کښې په ښه طریقې سره بیان کړی دی، تاسو له لږ شان وخت ویستلو سره دغه څیزونو مطالعه ضرور کول پکار دی ځکه چه بغیر د محنت نه هیڅ نه ملاویږی. په مسلم شریف کښې به تاسو اولولئ په یو مقام باندې دی: ﴿ لا يستطاع العلم براحة الجسم ﴾ چه د بدن د راحت سره علم نه حاصلیږی.
ع: من طلب العلى سهر الليالي
حضرت شیخ به د طالبانو مخکښې دا شعر په کثرت سره لوستلو، که موقع وه نو وړاندې تلو سره به انشاء الله مونږ هم بعض انواع د کتب حدیث بیان کړو

غرض د منصنف یعنی وجه د تالیف

حضرت شیخ به فرمائیل چه د امام ابوداؤد غرض په دې کتاب سره مستدلات ائمه راجمع کول دی، یعنی ائمه فقهاؤ په خپلو خپلو مسائلو کښې چه د کوم احادیثو نه استدلال کړې دې چه هغه ټول استدلالات او دلائل به دې کتاب کښې راشی، او د هر مذهب والا امام دلیل به دې کتاب کښې ملاؤ شی او حقیقت هم داسې دې، چنانچه امام غزالی تصریح فرمائیلې ده چه د یو مجتهد دپاره په کتب حدیث کښې صرف دا یو کتاب داسې دې کوم چه د هغه د مقصد دپاره کافی کیدلې شی
علامه ابن القیم دغرض تالیف په سلسله کښې فرمائی چه دهغې حاصل دا دې چه کله د حاسدینو او طاعنینو د طرف نه په ائمه فقهاؤ باندې تنقیدونه او د قلت روایات اعتراضات اوکړې شو نو امام ابوداؤد اوغوښتله چه په نوی طرز باندې یو داسې کتاب اولیکلې شی چه په هغې کښې مستدلات ائمه بالاستیعاب مخې ته راشی، چه دغه ناقدینو خله بنده شی. امام ابوداؤد په هغه خط کښې کوم چه هغوی د اهل مکه په نوم لیکلې دې پخپله لیکلی دی چه زما په دې کتاب کښې د امام مالک، سفیان ثوری او د امام شافعی اصول او دلائل موجود دی، چنانچه ابن الاعرابی فرمائی چه که یو سړی سره د قرآن کریم او د سنن ابی داؤد نه علاوه بل یو کتاب هم نه وی نو لم يحتج الى غيرهما.

زمانه د تالیف:

متعین طور سره دا معلومه نه شوه چه مصنف ددې د تصنیف نه په کوم سنه کښې فارغ شو، خو دا ملاویږی چه کله هغوی ددې د تالیف نه فارغ شو نو هغوی دا د خپل مشهور استاد امام احمد بن حنبل په خدمت کښې پیش کړو نو هغوی دا خوښ کړو، اود امام

احمد رحمه الله سنة وفات ٢٤١ هجري دي. ددي نه معلوميږي چه ددې تاليف د سنة مذکوره نه مخکښې شوي دي والله سبحانه وتعالى اعلم.

د سنن ابوداؤد مرتبه په اعتبار د تعليم:

مرتبه په دوه اعتبارونو سره وي، يو خو د تعليم په اعتبار سره يعنى تعليمي ترتيب څه کيدل پکار دی، دويم مرتبه د صحت او قوت په اعتبار سره، د تعليم په اعتبار سره ترتيب چه کوم موږ د استاذانو نه اوريدلي دي، دا دي چه د مشکوة شريف نه پس ترمذي لوستل پکار دی، ځکه چه طالب العلم ته د ټولو نه اول د مذاهب ائمه معلومولو ضرورت وی، پس دا ټول وظائف د امام ترمذي رحمه الله دي، امام ترمذي رحمه الله خاص طور سره د حديث د ذکر کولو نه پس په مسئله ثابته بالحديث او په هغې کښې اختلاف علماء او په مذاهبو باندې رڼړا اچوی، اوس هر کله چه د علماء کرامو مذاهب معلوم شو نو ضرورت پيش شو د دې خبرې چه د هر يو دليل معلوم شي، پس مستدلات ائمه ذکر کول وظيفه ده د امام ابوداؤد رحمه الله. لهذا د ترمذي نه پس ابوداؤد لوستل پکار دی، د مسئلې او د دليل مسئلې معلوميدو نه پس ضرورت وی ددې خبرې چه طريقه د استخراج معلومه شي يعنی دا خبره چه دا مسئله ددې حديث نه څنګه ثابتيږي، پس په طرق استخراج باندې تنبيه کول وظيفه ده د امام بخاري رحمه الله. هم په دې وجه هغوی يو حديث د لس لس کرتو نه هم زيات ذکر کوی، ځکه چه صرف د يو حديث نه مختلف مسائل ثابتيږي، په دې وجه د سنن ابی داؤد نه پس بخاری شريف لوستل پکار دی، اوس چه هر کله مسئله او دليل د مسئلې او طريق استخراج درې واړه خبرې معلومې شوې، نو بيا د نور استحکام او تائيد دپاره نور دلائل او شواهد حاصلولې شی، او دا ځيز ملاويږی په مسلم شريف کښ، ځکه چه هغوی د يو مضمون ډير احاديث په مختلفو سندونو سره په يو ځائې ذکر کوی، پس څلورمه درجه شوه د مسلم شريف، اوس چه هر کله دا پورته ذکر شوی ځيزونه حاصل شو نو اوس ضرورت د دې خبرې دې چه په دې دلائلو کښې غور کولو سره دا اوکتلې شی چه په دې کښې څه خامی يا علت خفيه خو نشته، پس دا خبره حاصليږی د سنن نسائي نه، په علل حديث باندې تنبيه فرمائيل د هغوی خاص وظيفه ده، دا ترتيب شو د اصول خمسه په اعتبار د تعليم او تعلم، د متقدمينو په نزد امهات کتابونه پنځه دی، چنانچه امام نووی په تقريب کښې هم دا پنځه په کتب صحاح کښې شمار کړی دی، بعض علماء کرامو امهات کتب د پنځو په ځائې شپږ شمار کړي دی کوم چه د صحاح سته په نوم سره مشهور دی، او مشهور دا ده چه هغه شپږم کتاب ابن ماجه دې، لهذا اوس د ټولو نه په آخر کښې د دې د لوستلو نمبر دې، ددې وجه دا جوړيدلې شی چه امام ابن ماجه رحمه الله په دې خپل کتاب کښې ډير نادر احاديث ذکر کړی دی او د نوادر پيژندل روستو خبره ده

خو دا ترتيب د تعليم په اعتبار سره هغه وخت ممکن دې چه کله يو استاد دا ټول کتابونه د يو بل نه پس ښائى، خو که په يو وخت کښې ددې کتابونو لوستونکی ډير استاذان وی کوم چه هر کتاب په خپله خپله ګهنټه کښې لولي، لکه نن صبا چه زمونږ په

مدارسو کښې کيږي نو بيا هلته دا ترتيب ظاهر دې چه نه شي چليدې، حضرت اقدس ګنګوهي رحمه الله به چونکه په يواځې باندې د دوره حديث ټول کتابونه ښودل، په دې وجه دا ترتيب هلته چليدې شو. بهر حال دا چه کومې خبرې بيان کړې شوې د تعليمي ترتيب په سلسله کښې که په هغې باندې د عمل موقع ملاؤ نه شي خو ددې حضرات مصنفينو خپل خپل مخصوص طرز بيان او د هر کتاب يو خصوصيت مخې ته راغلو کوم چه د طالبانو دپاره مفيد او سبب د بصيرت دې

طبقات کتب حديث

دويمه مرتبه کومه چه مونږ په شروع کښې بيان کړې ده د صحت او قوت په اعتبار سره ده، پس خاص د سنن ابوداؤد مرتبه د معلومولو نه مخکښې د مطلق احاديث مراتب معلوميدل پکار دی، ځکه چه د حديث کتابونه خو د سوونو په تعداد کښې دی، او ټول په ټول حجت او قابل استدلال نه دی، د صحت او ضعف په لحاظ سره مختلف دی، په دې سلسله کښې حضرت شاه عبد العزيز صاحب رحمه الله يو ډيره مفيده او مختصر رساله تصنيف فرمائيلې دې، چه دهغې نوم دې، ما يجب حفظه للناظر. په دې کښې شاه صاحب رحمه الله د صحت او قوت په اعتبار سره د کتب حديث طبقات او مراتب بيان فرمائيلې دی، حضرت شيخ رحمه الله په درس بخاري کښې ددې رسالې اهميت بيان فرمائيلو او فرمائيل به ئې چه دا رساله واقعی قابل د حفظ ده. شاه صاحب دهغې نوم ما يجب حفظه للناظر صحيح کيخودلې دې. او بيا حضرت شاه صاحب په دې رساله کښې چه کوم طبقات د کتب بيان فرمائيلې دی، هغه ټول به ئې بيان فرمائيل، دانګ حضرت شيخ ددې رسالې نه دا طبقات کتب د لامع الدراري په مقدمه کښې هم ذکر فرمائيلې دی، حضرت شاه صاحب په دې رساله کښې ليکلې دی چه د حديث طبقات پنځه دی

طبقه اولی : هغه کتابونه دی چه دهغې ټول احاديث حجت او قابل استدلال دی، بلکه د صحة مرتبې ته رسيدلې دی کوم چه د حديث قوی د ټولو نه اعلی درجه ده، په دې طبقه کښې تقريبا هغه ټول کتابونه داخل دی کوم چه په اسم صحيح سره موسوم دی، او بعض ددې نه علاوه دی، په دې طبقه کښې شاه صاحب رحمه الله مؤطا امام مالک، صحيحين، صحيح ابن خزيمه، صحيح ابن حبان، صحيح ابوعوانة، صحيح ابن السکن، المنتقی لابن الجارود او مستدرک حاکم شمير کړې دې

طبقه ثانيه : هغه کتابونه دی چه دهغې احاديث صالح للاخذ او قابل استدلال دی، اګرچه ټول د صحت درجې ته نه وی رسيدلې او د يو حديث د حجت کيدو دپاره دهغې د صحت رتبې ته رسيدل ضروری نه دی، ځکه چه حديث حسن هم حجت او قابل استدلال وی، او په دې طبقه کښې دا کتابونه دی، ابوداؤد، ترمذی، نسائی او مسند احمد. او دا کتابونه په دې طبقه کښې ددې وجې نه دی چه په دې کښې بعض روايات ضعيف دی او هغه حسن ته نژدې دی

طبقه ثالثه : د هغه کتابونو ده چه په هغې کښې هر قسم روايات ملاويږی، قابل

استدلال او غير قابل استدلال لكه ابن ماجه، مسند ابوداؤد الطيالسي، مسند ابويعلى الموصلي، مسند البزار، مصنف عبدالرزاق، مصنف ابوبكر بن ابى شيبة، المعاجم الثلاثة للطبراني، سنن البيهقي، شعب الايمان للبيهقي، سنن دارقطني، الحلية لابى نعيم او د تفسير كتابونه، لكه تفسير ابن مردويه، الدر المنثور فى التفسير بالماثور وغيره هغه تمام كتب حديث كوم چه په تفسير ليكلي شوى دى.

طبقه رابعه : د هغه كتابونه ده چه دهغې په هر حديث باندې به د ضعف حكم لګولې شي، يعنى په دې شرط چه هغه حديث صرف په هغه كتاب كښې وى، او په پورته كتابونو كښې نه وى، لكه د حكيم ترمذى نوادر الاصول، د ديلمى مسند الفردوس، الكامل لابن عدى، كتاب الضعفاء للعقيلي او د تاريخ كتابونه لكه تاريخ الخلفاء، تاريخ ابن عساكر، تاريخ ابن النجار او تاريخ الخطيب البغدادى وغيره.

طبقه خامسه : د كتب موضوعات ده، چه په هغې كښې صرف احاديث موضوعه ذكر شوى دى، علماء محدثينو او ناقدينو ډير كتابونو داسې ليكلى دى چه په هغې كښې هغوى صرف احاديث موضوعه لټولو سره راوړې دى چه عام اهل علم دهغې نه باخبر شى او په دهوكه كښې د واقع كيدو نه بچ شى، چنانچه الموضوعات الكبرى د ابن الجوزى په دې سلسله كښې مشهور كتاب دې، نور هم ډير كتابونه دى، اللآلى المصنوعة فى الاحاديث الموضوعة د امام سيوطى، الموضوعات الكبرى، المصنوع فى معرفة الموضوع دواړه د ملا على قارى رحمه الله دى، تذكرة الموضوعات د شيخ محمد طاهر پټنى، تنزيه الشريعة عن الاخبار الشنيعة، د ابن عراق او الفوائد المجموعة د امام شوكانى او موضوعات المصابيح د قزوينى.

د پورته بيان نه معلومه شوه چه د صحاح سته نه صحيحين او مؤطا مالك په طبقه اولى كښې داخل دى، او سنن ابن ماجه په طبقه ثالثه كښې دې، او سنن ثلاثه (ابوداؤد، ترمذى، نسائى) په طبقه ثانيه كښې دى او په صحاح سته كښې يو كتاب هم په طبقه رابعه كښې نشته.

تنبيه : ځان پوهه كړه چه شاه عبدالعزيز رحمه الله په خپله رساله عجاله نافعه كښې طبقات كتب حديث څلور ذكر كړى دى او په فيما يجب حفظه للناظر كښې ئې پنځه طبقې شميرلى دى، لكه چه اوس بيان كړې شوې نو ددې جواب دا وركړې شوې دې چه په عجاله كښې چه كوم تقسيم كړې شوې دې هغه د صحت او شهرت دواړو په اعتبار سره دې او په فيما يجب حفظه كښې صرف د صحت او د ضعف په اعتبار سره دې، په دې وجه په دې كښې يو قسم زيات شو.

تنبيه ثانى : شاه ولى الله صاحب رحمه الله چه كوم د طبقات كتب مراتب ګرځولى دى په هغې كښې د د حديث د صحت او قوت مدار ګويا په كتابونو باندې كيخودلې دې، چنانچه شاه صاحب رحمه الله د صحيحين احاديث په غير صحيحين باندې مقدم ګڼړى، او ګويا د يو حديث په بخارى او مسلم كښې كيدل د ترجيح دپاره كافى دى، هم دا مسلك د ابن الصلاح محدث دې، خو شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله د صحت حديث مدار په

كتابونو باندې نه دي كيخودلي [١] بلكه د صحت حديث مدار ئې په رجال سند او اصول نقد باندې كيخودلى دى، او هم دا مسلک د محقق ابن همام دی.

د صحاح ستة ترمينځه فرق مراتب:

اوس د صحاح ستة ترمينځه تفصيلا فرق مراتب واورئ، پس خان پوهه كړئ چه اصح السنة خو گويا بالاتفاق بلكه داسې اوايئ چه عند الجمهور صحيح بخاري دې، چنانچه مشهور على الالسنة دي، انه اصح الكتب بعد كتاب الله تعالى.

خو د امام شافعي رحمه الله نه منقول دى ﴿ لا اعلم كتابا اصح من المؤطا ﴾ ددې جواب دا دې چه دا مقوله د هغه وخت ده چه صحيحين لا په وجود كښې هم نه وو راغلى، د امام شافعي رحمه الله وفات په ٢٠٤ هجري كښې دې او د امام بخاري رحمه الله پيدائش د ١٩٤ هجري دې، ددې نه معلومه شوه چه د امام شافعي رحمه الله د وفات په وخت د امام بخاري رحمه الله عمر صرف لس كاله وو، هم دغه شان ابوعلى نيشاپوري رحمه الله (دا د حاكم صاحب مستدرک استاد دې) نه چه مروى دى چه ما تحت اديم السماء كتاب اصح من مسلم، ددې هم علماء كرامو مختلف توجيهات فرمائيلى دى، مشهور جواب دا دې چه په صحت كښې د مسلم ترجيح مقصود نه ده بلكه په حسن ترتيب او د جودت نظم په اعتبار سره ترجيح مقصود ده، او دا صحيح ده ځكه چه په ترتيب او حسن سياق او په دقائق اسناد كښې مسلم شريف واقعى د ټولو نه اوچت دې، هغوى د يو مضمون روايات په ټولو طرقو باندې په يو ځائې ډير په ښه طريقه او عمده انداز كښې بيانوى، امام نووى رحمه الله هم د شرح مسلم په شروع كښې په اسانيد باندې كلام كولو سره ددې خيز ډير په شد او مد سره اظهار فرمائيلى دې او د امام مسلم رحمه الله د طرز بيان ئې مدح فرمائيلى ده.

بهر حال د صحيح بخاري مرتبه په صحت او قوت كښې د مسلم نه زياته ده، او ددې خبرې تائيد ددې نه هم كيږى چه د بخاري روايات متكلم فيها د مسلم د متكلم فيها نه كم دى، اگرچه جواب د ټولو وركړى شوى دې، پس د صحيح بخاري د روايات متكلم فيها كوم چه صرف په بخاري كښې دى، دهغې تعداد اته اويا دې، او د صحيح مسلم هغه روايات كوم چه متكلم فيها دى، پوره سل دى، او داسې روايات چه دهغې تخريج دواړو كړې دې، يعنى هغه روايات متفق عليه او متكلم فيها دى، دهغې تعداد دوه ديرش دې، لهذا د مسلم متكلم فيها روايات د بخاري نه ٢٢ زيات دى، ددې روايات متكلم فيها تعداد په حساب د ابجد بعض علماء كرامو نظم كړى دې.

---

[١] مولانا عبدالحليم چشتى د عجاله نافعه مصنفه شاه عبدالعزيز دهلوى اردو شرح فوائد جامعه كښې د شيخ عبدالحق محدث دهلوى په ترجمه كښې په دې موضوع باندې ډير په تفصيل سره بحث كړى دې، دا عبدالحليم چشتى د مولانا عبدالرشيد نعمانى صاحب التصانيف رور دې، هغوى د عجاله نافعه ډير په عمده او محققانه انداز كښې په اردو ژبه كښې شرح ليكلى ده د فوائد جامعه په نوم باندې د پاكستان نه ډيره موده مخكښې شائع شوې وه.

فدعد لجعفي وقاف لمسلم وبل لهما فاحفظ وقيت من الردى

٧٨ ١٠٠ ٣٢

يو دليل دا دي چه امام بخاري﵀ د خپل صحيح انتخاب د شپږو لاکهو احاديثو نه فرمائيلې دې، او امام مسلم﵀ صرف د درې لاکو نه انتخاب فرمائيلي دي
د صحيح بخاري نه پس مرتبه ده د صحيح مسلم، بيا ددې نه پس عند الجمهور مرتبه د ابوداؤد ده، خو د ابن سيد الناس﵀ رائې دا ده چه سنن ابوداؤد او مسلم دواړه په يو درجه کښې دی، خو دا د جمهورو د قول خلاف دی، ددې نه پس بيا مشهور دا ده چه د ترمذی شريف مرتبه ده، خو د ډيرو حضراتو تحقيق دا دې چه د نسائی شريف درجه د ترمذی نه پورته ده، هم دا زمونږ د حضرت شيخ﵀ رائې هم ده او قرين قياس هم دا ده، ځکه چه د ترمذی داسې روايات متکلم فيها په کوم باندې چه ابن الجوزی د وضع حکم لګولې دې ډيرش دی، او په نسائی شريف کښې صرف لس احاديث دی چه په هغې باندې ابن الجوزی د وضع حکم لګولې دې، او بعض مغاربه خو تردې پورې وئيلې دی لکه علامه سخاوی﵀ په فتح المغيث کښې نقل کړی دی چه د نسائی شريف درجه د بخاری نه هم اوچته ده، دويمه وجه هغه ده کومه چه ددې واقعې نه هم معلوميږی چه امام نسائی﵀ چه کله سنن کبری تاليف اوفرمائيلو چه په هغې کښې هر قسم روايتونه وو قوی او ضعيف نو امير د وخت دهغوی نه تپوس اوکړو اکله صحيح؟ فقال لافقال الاميرفاکتب منه الصحيح مجردا فلخص منها الصغری وسماه المجتبی (بالباء او النون) يعنې آيا ددې ټولو احاديث صحيح دی؟ امام نسائی﵀ اوفرمائيل نه... نو په دې امير اووئيل چه په دې کښې صرف صحيح روايات بيل کړئ، په دې باندې امام نسائی د سنن کبری تلخيص کولو سره دهغې نه صرف احاديث صحيحه واخستل، او ددې سنن صغری نوم ئې المجتنی کيخودلو په ياء سره يا المجتبی په نون سره دواړه اقوال دی، په اول صورت کښې به اخستلې شی د اجتباء (بالياء نه)، چه دهغې معنی ده انتخاب او د خوښولو او په دويم صورت کښې به ماخوذ وی د اجتناء (بالنون) نه چه دهغې معنی ده د ميوې وغيره د راټولولو، حاصل معنی د دواړو يوه ده.
د علامه انور شاه کشميری﵀ رائې دا ده چه د نسائی شريف درجه د ابوداؤد نه هم اوچته ده، او په دليل کښې دا فرمائی چه امام نسائی﵀ خپله ارشاد فرمائيلې دې: ما اخرجت فی الصغری فصحيح... يعنی ما چه په سنن صغری کښې څومره روايات ذکر کړی دی هغه ټول صحيح دی. او امام ابوداؤد﵀ د سنن ابوداؤد په باره کښې فرمائی ﴿ ما لم اذکر فيه شيئا فهو صالح ﴾ يعنی چه په کوم روايت باندې څه کلام اونکړم (او داسې روايات په سنن ابوداؤد کښې ډير زيات دی)، نو هغه صالح دی او صالح عام دې، صحيح او حسن دواړو ته شامل دې نو ددې نه معلومه شوه چه سنن صغری افضل دې د سنن ابوداؤد نه

په سنن ابن ماجة او سادس ستة کښې د علماء کرامو اختلاف :

اوس د ټول نه په اخر کښې د سنن ابن ماجه مرتبه ده بالاتفاق ځکه چه په دې کښې ډير ضعيف روايات دی، د حافظ ذهبی رائې دا ده چه په دې کښې داسې روايات کوم چه حجت

او قابل استدلال نه دی، هغه تقریبا زر دی او داسې روایات چه بالکل مطروح او ساقط الاعتبار دی هغه دیرشو ته نژدې دی، او ابن الجوزیؒ خو هغه په موضوعات کښې داخل کړې دی او حافظ مزیؒ قاعده کلیه فرمائیلې ده، کل ما انفرد به ابن ماجة فهو ضعیف، چه کوم روایات داسې وی چه صرف په ابن ماجه کښې وی او په صحاح ستة کښې په بل یو کتاب کښې نه وی نو هغه ضعیف دی، خو حافظ ابن حجرؒ دا قاعده کلیه نه ده تسلیم کړې، او فرمائیلي ئې دی چه علی الاطلاق داسې نه ده، اگرچه دا صحیح ده چه په هغې کښې ډیر احادیث ضعیف او منکر دی.

حضرت شیخؒ په مقدمه د لامع کښې لیکی چه متقدمینو سنن ابن ماجه لره په اصول او امهات کتب کښې نه دې شمار کړې، چنانچه امام نوویؒ په تقریب کښې امهات کتب صرف پنځه گرځولی دی یعنی د هغوی په نزد د صحاح ستة په ځائې صحاح خمسه دی، یعنی صحیح بخاری، صحیح مسلم، جامع ترمذی، سنن ابوداؤد او سنن نسائی، ابن ماجه هغوی نه دې ذکر کړې، وئیلې شی ﴿ اول من ضمه الی الاصول ابن طاهر المقدسی ﴾ یعنی ابن ماجه لره اول په کتب صحاح کښې ابن طاهر المقدسی داخل کړې دې، دا ابن طاهر المقدسی هم هغه دې د چا چه دوه کتابونه شروط الائمة الستة او اطراف الکتب الستة [۱] ډیر مشهور دی، په دې دوؤ کتابونو کښې هغوی د صحاح د پنځو کتابونو سره شپږم ابن ماجه هم اخستلې دې، او بعض حضراتو د ابن ماجه په ځائې مؤطا مالک سادس ستة منلې دې، پس رزین بن معاویه العبدری هم په هغوی کښې دې بلکه اصل هم هغه دې، هغوی په خپل کتاب تجرید الصحاح کښې کتب خمسه او په ځائې د ابن ماجه د مؤطا احادیث اخستلې دی، هم دغه شان ابن الاثیر الجزری په جامع الاصول لاحادیث الرسول کښې د صحاح ستة احادیث راجمع کړی دی، او د ابن ماجة په ځائې موطاء اخستلې دې، او ابوسعید علائی ددې په ځائې سنن دارمی ته سادس ستة وئیلې دې، او ابوالحسن سندهی فرمائی چه د طحاوی شرح معانی الآثار احق دې چه هغه صحاح ستة کښې شمار کړې شی، فانه عدیم النظیر فی بابه.

د صحاح سته بعض خصوصیات

د هر کتاب څه خصوصیات وی، په صحاح ستة کښې هم هر یو کتاب بیل بیل خصوصیت لری، چنانچه په بخاری شریف کښې لونئ خصوصیت او اهمیت تراجم ته حاصل دې، چنانچه مشهور ده چه فقه البخاری فی تراجمه... حضرت شیخ الهندؒ په تراجم بخاری کښې لیکلی دی چه د امام بخاری ټوله سرمایه د هغوی په تراجم کښې ده، په تراجم بخاری کښې لطیف اشارات او ژور طرق د استنباط موندلې شی، چه په هغې سره د امام بخاریؒ باریک بینی او د بالغ نظرئ پته لگی، بعض وخت په ترجمة الباب او حدیث الباب کښې په ظاهره هیڅ مناسبت نه ښکاری، او بعض تراجم پکښې مکرر هم معلومیږی،

[۱] اطراف حدیث د یو خاص قسم کتاب اصطلاحی نوم دې، چه د هغې تعارف به انشاء الله روستو راشی

حال دا چه هلته غرض مختلف وي هم دا وجه ده چه شراحو د بخارئ ددې تراجمو د حل کولو دپاره مستقل اصول او ضوابط جوړ کړل. حضرت شیخ رحمه الله په مقدمه د لامع کښې اولاً د شاه ولي الله صاحب رحمه الله ليکلي شوي شل اصول او دهغې نه پس د شيخ الهند ليکلي شوي پنځلس اصول نقل فرمائيلي دي، بيا دهغې نه روستو په مختلف شروح د بخارئ يا تراجم کښې غور کولو او د شروح د مطالعې کولو نه پس چه کوم اصول خپله د حضرت شيخ په ذهن کښې راغلل هغه ئې ذکر فرمائيلي دي، غرض دا چه ټول راجمع کړې شي نو اويا اوصول جوړيږي چه هغه ئې ډير په وضاحت او د مثالونو د ذکر کولو سره د لامع الدراري په مقدمه کښې ذکر فرمائيلي دي، دا حقيقت دي چه حضرت شيخ رحمه الله حتى الاستطاعة د تراجم بخارئ د حل کولو حق ادا اوفرمائيلو. اګرچه مشهوره ده چه د تراجم بخارئ د شرح قرض د امت په ذمه باندې تر اوسه پورې باقي دي

دصحيح مسلم بعضې خصوصيات

او د صحيح مسلم يو ښکاره خصوصيت او وصف امتيازي دا دې چه هغوى د يو مضمون ټول احاديث ډير په ښکلی انداز يعني په حسن ترتيب سره يو ځائې بيانوى، د يو حديث ډير سندونه ډير په عمده انداز کښې ذکر کوى، چه په هغې باندې محدثين حضرات ښه پوهيدلې شي، زمونږ او ستاسو په شان طالبان هغه باريکيانو ته چرته رسيدلې شي، پس امام نووى رحمه الله د شرح مسلم په شروع کښې ځائې په ځائې د امام مسلم رحمه الله د هغه حسن ترتيب او د جودة وضع ذکر فرمائيلي دي، په دې کتاب کښې اګرچه صورة تراجم الابواب مفقود دي خو في الواقع د مضامينو په اعتبار سره اصل کتاب مبوب او مرتب دې، هر باصلاحيت انسان ددې کتاب په احاديثو باندې ابواب او تراجم قائمولې شي، پس موجوده تراجم کوم چه په حاشيه کښې درج دي هغه د امام نووى رحمه الله شارح مسلم د طرف نه دي، بعض خلق وائي چه د امام نووى رحمه الله تراجم د صحيح مسلم شايان شان نه دي، او په دې سره د کتاب حق نه ادا کيږي، زه وايم که ستاسو نه کيدې شي نو تاسو ئې حق ادا کړئ دا هسې فضول خبرې دي، خلقوته په تنقيد کولو او راټې قائمولو کښې هسې خوند ملاويږي، د امام نووى رحمه الله په دې شرح کښې ډير خير او برکت دې، د مسلم شريف ئې ډيره نفيس او جامع شرح ليکلې ده. فجزاه الله عنا أحسن الجزاء.

د سنن ترمذي بعضې خصوصيات

او د ترمذي شريف د ټولو نه اهم قابل اعتناء څيز کوم چه ډير محنت طلب دې او په دې زمانه کښې په دې باندې هيڅ مستقل کتاب نشته، هغه د هغوى قول وفي الباب عن فلان وفلان، يعني د هغه رواياتو تخريج د کومو چه هغوى حواله ورکوى، هغه چرته او په کوم کتاب کښې دي.[1]

[1] دا تقرير د ١٣٩٠ هجري دې او دا نفې د هم هغه وخت په اعتبار سره ده، ګنې اوس په نزدې وخت کښې په دې موضوع باندې مستقل يو کتاب د کراچۍ نه شائع شوې دې، چه دهغې نوم ٩٦

د سنن نسائي بعضې خصوصيات:

او د نسائي شريف يو خاص څيز دا دې چه هغوی په بعض احاديثو باندې داسې کلام فرمائي: قال أبوعبدالرحمن هذا حديث خطأ... نو دلته تحقيق طلب څيز دا وی چه په کوم څيز باندې مصنف رحمه الله نقد فرمائي هغه څه دی؟ او بل دا چه دهغې چه کوم المقابل صواب دې هغه څه دی؟ هسې خود نسائي شريف تراجم او ابواب ته هم خاص اهميت حاصل دې، خو چونکه په دې خصوصيت کښې بخاري د هغه نه فائق دې په دې وجه هغه نظر انداز کولې شي، او زما اندازه دا ده چه د نسائي شريف کتاب الطهارة دقيق او مشکل دې، او دهغې ابواب خاص طور سره قابل اعتناء دی

د سنن ابن ماجه بعضې خصوصيات:

او د ابن ماجه خصوصيت دا دې چه په هغې کښې ډير نادر او غريب احاديث دی، دا رنګ چونکه په هغې کښې ضعيف احاديث په کثرت سره دی او بعض روايات پکښې موضوع هم دی، په دې وجه دا ضروری ده چه ډير په احتياط سره ئې تعليم او تعلم اوکړې شی، يعنی دا چه د هغه احاديث موضوعه او مطروحه معلومات اوکړې شی او هغه په ګوته کړې شی.

د شرح معاني الآثار بعضې خصوصيات:

او د طحاوی شريف په خصوصياتو کښې يو ممتاز څيز د هغوی انظار دی، امام طحاوی رحمه الله اول د مذهب حنفي ترجيح په طريق د روايت سره ثابتوی، دهغې نه چه فارغ شي نو دليل عقلي طرف ته متوجه شي، او د مذهب حنفي ترجيح په طريقې د درايت او نظر او عقل بيانوی.

خصائص د سنن ابوداؤد:

اوس مونږ د سنن ابوداؤد بعض خصوصيات ذکر کوو او بعض عادتونه د مصنف رحمه الله ذکر کوو

۱: په سنن ابوداؤد کښې د ټولو خصوصياتو نه يو اهم څيز قال أبوداؤد دې. ددې په غرض باندې پوهيدل ډير اهم دی، چنانچه کله خو هغوی په دې سره اختلاف رواة في الإسناد ذکر کوی، او کله اختلاف رواة في الفاظ الحديث بيانوی، او کله صرف تعدد د طرق وغيره طرف ته اشاره کوی، اوس په هر مقام باندې د قال أبوداؤد په مطلب باندې پوهيدل او په هغه اختلافات او فرقونو باندې ځان پوهول کوم لره چه هغوی بيانول غواړی يو اهم کار دې، ددې اقاويل ابوداؤد څومره صحيح تشريح او توضيح چه صاحب بذل المجهود کړې ده داسې يو شارح هم زمونږ د علم په اعتبار سره نه ده کړې

۲: يو عادت د مصنف رحمه الله دا دې چه هغوی کله کله د يو حديث سند بيانوی نو هغوی هم ددغې سند سره د هغه حديث دويم سند هم ذکر کول شروع کړی، او بيا د هر سند چه کوم

له..... دې کشف النقاب عما يقوله الترمذي وفي الباب، او پخوانو شراحو چه په دې سلسله کښې کوم کتابونه ليکلې دی لکه ابن سيد الناس، حافظ عراقي او حافظ ابن حجر وغيره، هغه اوس ناياب دی،

الفاظ روايت شوي وي هغه بيل بيل او ممتاز كړي، داسې اګرچه نور حضرات مصنفين هم كوي خو ډير كم، په سنن ابوداؤد رحمه الله كښې دا خيز ډير په كثرت سره موندلې شي، غالبا هم په دې وجه باندې دا دې كتاب په خصائص كښې ذكر كولې شي.
۳: د مصنف رحمه الله يو عادت دا دې چه ډير كرته د ترجمة الباب په ذريعه باندې جمع بين الروايات او دفع تعارض طرف ته اشاره كوي چه دهغې د كتاب د مطالعې نه اندازه لګولې كيدې شي.
۴: ددې خصوصياتو نه يو دا هم دې چه دهغې تصريح مصنف رحمه الله پخپله كړې ده په هغه خط كښې كوم چه هغوی اهل مكه ته ليكلې وو، چه امام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن كښې د يو داسې راوی حديث نه دې راوړې كوم چه د هغوی په نزد متروک وي
۵: هم دغه شان مصنف رحمه الله د خپل سنن په باره كښې دا هم فرمائيلې دي: إنه يقدم رواية الأقدم علي الأحفظ، يعني كه د يو حديث دوه سندونه دي چه په هغوی كښې يو راوی أقدم دې (يعني سند عالي او د كمو واسطو والا) او د دويم سند راوی أحفظ دې نو هغوی اول الذكر لره اختياروی، يعني سند عالي اختياروی اګر كه دهغې رواة أحفظ نه وي.
۶: د مصنف رحمه الله يو عادت دا هم دې كوم چه د هغوی هم د دغه رساله مذكوره نه مستفاد دې چه د هغوی اصل منشاء دا ده چه د ترجمة الباب د ثابتولو دپاره دهغې نه لاندې صرف يو روايت راوړی په دې شرط چه دهغې نه پوره ترجمة الباب ثابتيږی، او كه هغوی په يو باب كښې د يو نه زيات أحاديث راوړی نو هغه د څۀ خاص فائدې د پاره وی، مثلا دا چه په هغه دويم حديث كښې د څۀ لفظ زيادت وی كوم چه په اول حديث كښې نه وی يا د څۀ خاص فائدې د وجې نه ددې خصوصيت حاصل دا دې چه د مصنف رحمه الله مقصود جمع روايات او تكثير روايات نه دې بلكه ترجمة الباب لره ثابتول دی، چه دهغې دپاره يو يا دوه احاديث كافي دي، په خلاف د امام نسائی او امام مسلم رحمه الله چه هغوی د يو حديث ډير طرق ذكر كوی د هغوی مخې ته تكثير طرق دې، ډير كرته هغوی يو حديث په خپل كتاب كښې د لس دولسو نه هم په زياتو طرقو سره ذكر كوی.
۷: دا رنګ مصنف رحمه الله په هغه رساله كښې خپل يو عادت دا هم بيان فرمائيلې دې چه هغوی ډير كرته د اوږد حديث اختصار كوی، او د هغه حديث صرف هغه حصه ذكر كوی كومه چه د ترجمة الباب سره مناسب او دهغې سره متعلق وی، ځكه چه د پوره حديث ذكر كولو په صورت كښې د هغه حديث چه كوم جز، مقصود دې هغه د بعض خلقو په حق كښې مخفي پاتې كيدې شی، يعني په دې پته لګيدو كښې ورته مشكل پيدا كيدې شی چه ددې اوږد حديث كومه حصه مقصودی ده.
۸: دا رنګ يو خصوصيت ددې د مصنف رحمه الله د تصريح مطابق دا هم دې چه هغوی په دې كتاب داحاديثو كوم چه صرف څلور زره او اته سوه دی دهغې انتخاب د پنځو لاكهو احاديثو نه كړې دې، او د مسلم په باره كښې مشهوره ده چه د هغوی انتخاب د درې لاكهو احاديثو نه دې.

۹. ددې کتاب يو خصوصيت دا دې چه دا اول السنن دې. يعنی ددې طرز دا اول کتاب دې. او ددې نه مخکښې د حديث تصانيف د جوامع او مسانيد د قبيل نه وو
۱۰. دا رنګ يو خصوصيت ئې دا هم دې چه په احاديث احکام باندې دومره جامع کتاب ددې نه مخکښې نه دې ليکلې شوې. د فقهی احاديثو څومره لويه ذخيره چه په دې کتاب کښې موندلې شې هغه په بل کتاب کښې نشته. پس بعض علماء کرامو لکه ابن العربی رحمه الله او امام غزالی رحمه الله تصريح فرمائيلې ده چه په کتب حديث کښې هم دا يو کتاب د مجتهد دپاره کافی دې

ددې کتاب په باره کښې يو خبره دا کړې شوې ده چه رسول الله ﷺ په خوب کښې اوفرمائيل: من أراد أن يتمسک بسنتي فليقرأ سنن أبي داؤد... څوک چه زما په سنت تمسک يعنی دهغې اتباع کول غواړی نو هغه له ره سنن ابوداؤد لوستل پکار دی، او وئيلې شوی دی چه خوب ليدونکی ابو العلاء الوادری رحمه الله دې

د ماسکت عنه ابوداؤد بحث:

دا بحث هم د خصائص ابوداؤد نه دې. او د علماء کرامو ترمينځه اختلافی دې، ددې بحث حاصل دا دې چه امام ابوداؤد د رواياتو د تخريج په ضمن کښې اختلاف رواة فی الاسناد له ره بيان فرمائی. او بيا د کوم راوی متابعت چه د هغه په علم کښې وی هغه هم ذکر فرمائی چه دهغې نه د يو روايت راجع کيدل او د بل مرجوح کيدل پخپله مستفاد او واضحه کيږی. غرض دا چه داسې صنيع اختيار فرمائی چه په هغې سره د فن حديث سره مناسبت لرونکی باخبر حضرات اندازه لګولې شی چه دا روايت د کومې درجې دې، او بعض وخت مصنف رحمه الله پخپله د يو طريق د راجح کيدلو تصريح يا کم از کم اشاره فرمائی. خو بعض ځايونو کښې داسې وی چه د روايت د ذکر کولو نه پس بالکل خاموش پاتې شی، په روايت کښې اختلاف يا څه قسم اضطراب هيڅ هم نه بيانوی، اوس دلته سوال واردیږی چه په کوم روايت باندې مصنف رحمه الله سکوت فرمائی هغه د کومې درجې دې؟ نو ددې قسم رواياتو په باره کښې مصنف رحمه الله په هغه رساله کښې کومه چه ئې د اهل مکه په نوم ده،[۱] ليکلی: ما لم أذكر فيه شيئا فهو صالح... يعنی په کوم حديث باندې چه زه څه کلام اونکړم نو هغه صالح يعنی قابل احتجاج ګڼړل پکار دی، اوس مصنف رحمه الله خو دا اوفرمائيل چه دا قسم روايت زما په نزد معتبر او قابل استدلال وی، خو د حضرات محدثينو په هغې کښې اختلاف دې، او په هغې کښې درې اقوال مشهور دی،

(ومبی قول): (۱) يو قول هغه دې چه کوم ابن منده او ابن السکن اختيار کړې دې، هغه دا دې چه ما سکت عليه أبوداؤد بغير د تردد نه حجت او صحيح دې

(دويم قول): (۲) دويم قول هغه دې کوم چه امام نووی رحمه الله او ابن صلاح اختيار کړې دې هغه

---

[۱] دامام ابوداؤد دا رساله د ابوداؤد د بعضو نسخو په اول يا آخر کښې مطبوع ده، د مطالعې قابله ده او د علامه زاهد الکوثری په تحقيق سره دمصر نه شائع شوی ده.

دا چه که د خارج نه دهغې ضعف ثابت نه شي نو هغه به د حسن په درجه کښې وي حجت او قابل استدلال به وي،

(دريم قول): (٣) دريم قول هغه دې کوم چه حافظ ابن حجر اختيار کړې دې هغه دا چه په کوم روايت باندې مصنف سکوت اختيار اوفرمائي دهغې شاهد او موئد لټول پکار دي، که د هغه روايت شاهد ملاؤ شي نو بيا خو به حجت وي ګڼلې هغه روايت قابل توقف دې، او حافظ دخپل قول وجه دا بيان کړې ده چه مصنف په خپله رساله کښې دا هم ليکلي دي چه ﴿ وما فيه وهن شديد بينته ﴾ يعني په کوم روايت کښې چه سخت ضعف وي نو هغه زه بيانوم، حافظ فرمائي چه د مصنف ددې کلام نه معلوميږي چه چرته وهن غير شديد وي هغه نه بيانوي بلکه سکوت پرې کوي، چه کله صورت حال دا دې نو ما سکت عليه ابواؤد مطلقا څنګه حجت اومنلې شي، دارنګ هغوي دا هم فرمائي چه مونږ ګورو چه په بعض ځايونو کښې داسې کيږي چه د يو روايت په سند کښې ضعيف راوي وي، خو دهغې باوجود مصنف هلته سکوت فرمائي. لکه عبدالله بن لهيعه او صالح مولى التوامه وغيره او بعض وخت داسې کيږي چه هغوي د يو ضعيف راوي په وجه يو ځائې کښې په يو روايت باندې کلام اوفرمائي، بيا چه په بل ځائې کښې هغه راوي په يو روايت کښې راشي نو هغوي په ما سبق باندې اعتماد کولو سره په هغې کلام نه فرمائي، خو کتونکې دا اوګڼړي چه مصنف پرې سکوت فرمائيلې دې، غرض دا چه ددې ټولو وجوهاتو مقتضى حافظ دا راويستله چه د ما سکت عليه ابوداؤد حکم توقف دې، چه تر څو پورې دهغې شاهد او موئد ملاؤ نه شي هغې ته دې حجت او نه وئيلې شي،

(څلورم قول): (٤) يو څلورم قول دلته هغه دې کوم چه مونږ د خپلو استاذانو نه اوريدلې دې هغه دا چه په ما سکت عليه أبوداؤد کښې حافظ منذرى ته کتل پکار دي، که هغوي هم سکوت اوکړي نو بيا خو ما سکت عليه ابوداؤد حجت دې ګڼلې نه دې، چنانچه بعض مقامات داسې دي چرته چه مصنف خو سکوت فرمائيلې دې خو حافظ منذرى هلته کلام فرمائيلې دې، دا منذرى هم هغه حافظ ذکى الدين منذرى دې کوم چه د الترغيب والترهيب د حديثونو دمشهور کتاب مصنف دې، په لويو مبصرينو او ناقدين حديث کښې دې، هغوي د سنن ابوداؤد اختصار کړې دې او دهغې شرح ئې فرمائيلې ده

په سنن ابوداؤد کښې حديث ثلاثى شته که نه؟

يو بحث دلته دا دې چه په دې سنن کښې چرته حديث ثلاثى شته او که نه، علامه سخاوى په فتح المغيث کښې ليکلي دى چه په سنن ابوداؤد کښې يو حديث ثلاثى دې، او دا هغه حديث دې کوم چه د حوض کوثر په بيان کښې دې چه دهغې راوى ابوبرزه الاسلمى دې، مضمون دهغې دا دې چه يو ځل عبيدالله بن زياد امير کوفه هغه صحابى په خپل مجلس کښې طلب کړو، پس هغوي تشريف يورو، امير عرض اوکړو چه ما تاسو دې دپاره راغوښتلې يئ چه ستاسو نه معلومه کړم چه تاسو د رسول الله نه د حوض کوثر په باره کښې څه اوريدلې دى او که نه؟ ددې حديث تخريج امام ابوداؤد د کتاب

په اواخر يعنى شرح السنة كښې كړې دې په باب فى الحوض كښې، ددې په باره كښې علامه سخاوي رحمه الله ليكلي دى چه دا حديث د سند په اعتبار سره ثلاثى دې، خو دا د هغوى تسامح ده، په سند حديث باندې نظر اچولو سره په اول ځل بيشكه دا معلوميږى چه دا ثلاثى دې، خو د غور كولو نه پس معلوميږى چه ثلاثى نه دې بلكه رباعى دې، خو دې حديث ته رباعى فى حكم الثلاثى وئيلې كيدې شى، ځكه چه دې حديث لږه د صحابى رضي الله عنه نه روايت كونكې تابعى دې او د تابعى شاګرد هم تابعى دې، لهذا د اتحاد طبقه د وجې نه دوه راويان د يو په حكم كښې كيدې شى، پس په دې لحاظ سره دې ته ثلاثى وئيلې كيدې شى.

دې حديث ته بعض حضراتو په حديث الدحداح سره تعبير كړې دې، چه دهغې وجه دا ده چه ابوبرزه الاسلمى رضي الله عنه صحابى راوى حديث دحداح يعنى د قد نه وروكې او پيړ بدن والا وو، او عبيدالله بن زياد د هغوى په ليدو باندې د طنز او مسخرې په طور دحداح وئيلې وو چه دهغې په اوريدلو باندې ابوبرزه رضي الله عنه د خفګان اظهار فرمائيلې وو.

په كتب صحاح كښې د ثلاثيات وجود :

د دې نه پس پيژندل پكار دى چه د ثلاثى مطلب دا دې چه د مصنف كتاب او د رسول الله ﷺ ترمنيځه صرف د درې راويانو واسطه وى كه صرف دوه وى نو هغه حديث ته به ثنائى وئيلې شى، په صحاح سته كښې په يو كتاب كښې هم حديث ثنائى نشته، خو په مؤطا د امام مالک رحمه الله كښې بعض روايات ثنائى شته، او ثلاثيات په صحاح سته كښې په بعضو كښې شته او په بعضو كښې نه، په ترمذى شريف كښې صرف يو حديث ثلاثى دې، كوم چه په كتاب الفتن كښې دې د كوم راوى چه انس بن مالک رضي الله عنه دې چه دهغې مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : يأتى على الناس زمان الصابر فيهم على دينه كالقابض على الجمر،، يعنى په خلقو باندې داسې زمانه راروان ده چه په هغې كښې به په دين باندې قائم پاتې كيدل داسې ګران وى لكه سكروټه په لاس كښې نيول، او په ابن ماجه كښې پنځه ثلاثيات دى، او د ټولو نه زيات په بخارى شريف كښې دى په هغې كښې دوه ويشت (٢٢) احاديث ثلاثى دى، او په نسائى او مسلم كښې يو حديث هم ثلاثى نشته، په دې دوارو كښې زيات نه زيات علوِ سند په شكل د رباعى ده، او په ټولو صحاح ستة كښې رباعى په كثرت سره ملاويږى.

(سند عالى او سند نازل): د وسائط (يعنى رجال سند) كميدلو ته د محدثينو په اصطلاح كښې علو سند وئيلې شى. او د كوم سند راويان چه كم وى هغې ته عالى سند وائى. او ددې مقابل سند سافل يا نازل دى، په صحاح ستة كښې چه كوم زيات نه زيات نزول دې هغه عشارى دې، پس په ترمذى او نسائى كښې يو يو حديث عشارى دې. يعنى هغه حديث چه په هغې كښې د صاحب كتاب او د رسول الله ﷺ ترمينځه د لسو راويانو واسطه وى.

الروايات المنتقدة لابن الجوزى رحمه الله :

د ابن جوزى رحمه الله د تشدد فى الروايات د وجې نه علماء كرامو په هغوى باندې نقد كړې دې، په دې سلسله كښې مستقل تصانيف دى، پس حافظ ابن حجر رحمه الله القول المسدد فى الذب

عن مسند احمد ليكلي دي، چه په هغې كښې هغوى د مسند احمد داسي څليريشت (۲۴) احاديث مستثنى كړي دى. په كوم باندې چه امام ابن الجوزى رحمه الله د وضع حكم لګولي دي، حافظ فرماتى چه په دې څليريشت رواياتو كښې عجب دا ده چه يو روايت د مسلم شريف هم دې هذه غفلة شديدة منه... او علامه سيوطى رحمه الله يو رساله ليكلي ده چه دهغې نوم القول الحسن فى الذب عن السنن دې په هغې كښې هغوى د شپږ شلو احاديثو نه د زياتو استثناء كړې چه دهغې يو روايت د بخاري د نسخه حماد بن شاكر دې او يو روايت د مسلم دې يو بل كتاب د علامه سيوطى رحمه الله التعقبات على الموضوعات دې چه په هغې كښې هغوى لكه څنګه حضرت شيخ په مقدمه د لامع كښې ليكلي دى، دري سوه احاديث مستثنى كړي دى، چه په هغې كښې يو روايت د مسلم او بل د بخاري دې، او اته ديرش روايات پكښې د مسند احمد دى او نهه احاديث پكښې د سنن ابوداؤد دى، او لس پكښې د نسائى شريف دى او ديرش پكښې د ترمذى شريف دى او هم دومره د ابن ماجه دى، او شپيته پكښې د مستدرك حاكم دى او ددې ټولو احاديثو په باره كښې هغوى دا ثابته كړې ده چه دا موضوع نه دى، د سنن ابو داؤد په كومو نهه رواياتو باندې چه ابن الجوزى رحمه الله د وضع [1] حكم لګولي دې هغه دا دى:

۱: حديث صلوة التسبيح.
۲: حديث ابى ابن عماره فى عدم توقيت المسح.
۳: حديث معاذ بن جبل فى جمع التقديم فى السفر.
٤: حديث للسائل حق وإن جاء على فرس.
٥: حديث لا تمنع يد لا مس أخرجه المصنف فى كتاب النكاح.
٦: حديث من سئل عن علم فكتمه، ألجم بلجام من نار.
۷: حديث لا تقطعوا اللحم بالسكين.
۸: حديث القدرية مجوس هذه الأمة.
۹: حديث المؤمن غر كريم والمنافق خب لئيم.

علامه سيوطى رحمه الله په دې كښې د بعض ځو په القول الحسن فى الذب عن السنن كښې جواب وركړي دې او د بعض په التعقبات على الموضوعات كښ، يعنى دا ئې ثابته كړې ده چه دا موضوع نه دى، بلكه واقعه دا ده چه په صحاح ستة كښې په يو كتاب كښې هم

[1] د سنن ابوداؤد دغه رواياتو ته د موضوع ونيلو دا مطلب نه دې چه هغوى دتصريح سره دا فرمائيلي وى چه فلان فلان حديث كوم چه په سنن ابو داؤد او ترمذى كښې دى هغه موضوع دې بلكه هغوى خو صرف په احاديث موضوعه باندې يو غټ كتاب ليكلي دې په دې كښې هغوى صرف هغه روايات كوم چه د هغوى په تحقيق كښې موضوع وو جمع كړي دى. اوس چونكه د هغوى تشدد د علماء كرامو ترمينځه مشهور وو، په دې وجه علماء كرامو د هغوى ددې كتاب په دې نيت سره جائزه واخستله چه په دې احاديثو كښې چرته داسي حديث خو نشته چه د صحاح نه په يو كتاب كښې موجود وى، ددې تحقيق نه معلومه شوه چه په سنن ابوداؤد كښې داسې روايات نهه ملاويږي.

سنو د ابن ماجه نه ان شاء الله هيڅ موضوع حديث نشته. مونږ دا خبره د الفيض السمائي په مقدمه کښي هم ليکلي ده.

د امام ابوداؤد رحمه الله شرط تخريج:

دهغه ټولو امورو نه چه دهغې پيژندل د طالب حديث دپاره اهم او مفيد دي هغه شروط د أئمه حديث دي، تاسو به په شروح او حواشي کښي په کثرت سره اولولئ او أوبه وينئ چه دا فلاني حديث چونکه د امام بخاري رحمه الله د شرط مطابق نه وو يا د فلاني مصنف رحمه الله د شرط مطابق نه وو، په دې وجه دا هغوى په خپل کتاب کښي نه دې اخستلې. ددې نه معلومه شوه چه د محدثين او مؤلفين صحاح ستة د تخريج احاديث دپاره خپل خپل خاص شرطونه لرى کوم روايت چه د هغوى په نزد د هغوى په اختيار کړې شوي شرطونو او معيار باندې پوره وى هم هغې ته په خپل کتاب کښي ځائې ورکوى. حضرت شيخ په مقدمه د لامع کښي ليکلي دى چه د محدثينو د شرطونو په سلسله کښي ډير کتابونه او رسالې تصنيف کړې شوې دى، پس د حازمي شروط الأئمة الخمسة مشهور او معروف دې چه په هغې باندې د علامه زاهد الکوثرى تعليق هم دې. هم دغه شان د ابن طاهر المقدسي شروط الائمة الستة هم په دې موضوع باندې مستقل کتاب دې، او ددې نه مخکښې بلکه داسې اوايئ چه د ټولو نه مخکښې امام ابوعبدالله بن منده رحمه الله کوم چه د څلورمې صدئ امام دې، په دې موضوع باندې کتاب ليکلې دې، بهر حال ضرورت دا دې چه دا اوپيژندلې شي چه د امام ابوداؤد رحمه الله په دې کتاب کښي څه شرطونه دى، چه دهغې لحاظ ساتلو سره هغوى په سنن کښي روايات اخلى.

په دې سلسله کښي ماته يو ډيره مختصر او جامع خبره په معارف السنن کښي ملاؤ شوه، کومه چه هغوى د علامه انور شاه کشميري رحمه الله نه نقل کړې ده، په هغې کښي ئې په مختصر انداز کښي د اکثر صحاح ستة د مصنفينو شرائط بيان کړى دى، هغه مونږ بيانوو چه په هغې سره به د امام ابوداؤد رحمه الله د شرط علم هم اوشى، خو ددې شرطونو د پيژندلو نه مخکښې په دې خبره هم ځان پوهه کول پکار دى چه بعض علماء کرامو ددې خبرې تصريح کړې ده چه دې حضرات مصنفين صحاح ستة په يو مقام باندې هم دا تصريح نه ده کړې چه زمونږ په دې تصنيف کښي فلانې فلانې شرط دې، بلکه صورت حال دا دې چه حضرات محدثينو دصحاح ستة مطالعه کولو سره ددې دمصنفينو طرز عمل اوليدلو چه د هغوى په خپل کتاب کښي د رواياتو د اخستلو ترتيب څه دې او د کومې درجې روايات اخلى دې خيزونو ته په غور سره کتلو نه پس ئې دا خبره بيان کړې ده چه د فلانى مصنف رحمه الله شرط د تخريج دا دې او د فلانى دا دې، اوس واورئ هغه شرطونه کوم چه مولانا يوسف بنوري رحمه الله د علامه انور شاه کشميري په حوالې سره په معارف السنن کښي بيان کړى دى، شاه صاحب فرمائى:

د امام بخاري رحمه الله شرط الاتقان وکثرة ملازمة الراوى للشيخ دې. يعنى امام بخاري رحمه الله د داسې راوى روايت اخلى چه په هغې کښي دوه صفتونه وى، اول اتقان چه دهغې حاصل دا

دي چه په راوی کښې د قوت حفظ سره سره د اهتمام حفظ شان موجود وی، دویم صفت ملازمة الشیخ دي، یعنی د خپل شیخ په خدمت کښې حاضر اوسیدل او د هغه سره د ډیرې زمانې پورې پاتې کیدل

د امام مسلم رحمه الله شرط صرف اتقان دې، کثرت ملازمت ئې شرط نه دي بلکه د هغوی په نزد خو صرف امکان لقاء او معاصرت بین الراوی والمروی عنه کافي دي

د امام ابوداؤد رحمه الله او امام نسائی رحمه الله شرط صرف کثرت ملازمت دې نه چه اتقان

د امام ترمذي رحمه الله په نزد د دواړو موجودیدل ضروري نه دي [۱]

صاحب منهل د ابن منده رحمه الله نه نقل کړې دی چه د امام ابوداؤد رحمه الله شرط د داسې راویانو داحادیثو تخریج کول دی چه د هغوی په ترک باندې اجماع نه وی (یعنی بالاجماع متروک نه وی) اودې سره سره په سند کښې انقطاع او ارسال نه وی بلکه حدیث متصل السند وی

د علامه انور شاه کشمیری د خبرې وضاحت په نورو الفاظو کښې:

راویان د حدیث په پنځه قسمه دی:

۱: تام الضبط و کثیر الملازمة... وی... یعنی قوت حافظه ئې برابر ده او د استاد سره ئې ډیر وخت تیر کړې وی. ددې فائده دا وی چه کوم شاګرد د استاذ سره ډیر پاتې شی نو د هغه په خبره باندې ښه پوهیږی او کله چه ئې ورسره موده کمه تیره کړې نو د هغه په خبره باندې صحیح نه پوهیږی.

۲: تام الضبط وقلیل الملازمة.... وی..... یعنی اول صفت خو پکښې شته خو ملازمت ئې د استاد سره کم دې.

۳: کثیر الملازمة وخفیف الضبط دی... یعنی استاد سره خو ډیر پاتې شوې دې خو قوة حافظه ئې برابره نه وی او په بعض روایاتونو کښې خطاء کیږی.

۴: چه خفیف الضبط و قلیل الملازمة...وی... یعنی د قسم اول بالکل برعکس

۵: المجاهیل والضعفاء.... وی، یعنی مجهول او ضعیف راویان.

چه هر کله تاسو دا پنځه قسمه راویان اوپیژندل نو اوس دا هم زده کړه چه د امام بخاری رحمه الله عادت دا دی چه البخاری یاتی بالنوع الاول مستوعبا او یستوعب من النوع الاول. یعنی د تام الضبط او کثیر الملازمة راویانو نه نقل کوی لکه امام زهری او د هغوی شاګردان رحمهم الله ویختار من النوع الثانی... یعنی په دویم قسم نوع کښې تحقیق کوی او دهغې نه پس ترې انتخاب کوی. نو په دې وجه د امام بخاری رحمه الله شرط ډیر زیات اعلی شو په سند کښې ډیره علو پیدا شوه.

او هر چه امام مسلم رحمه الله دې نو هغوی د رومبو دواړو نوعو نه استیعاب کوی او په دویم نوع کښې د قلت ملازمت پرواه نه کوی او نوع ثالث نه انتخاب کوی یعنی پس د تحقیق نه ترې روایت اخلی نو د هغوی د روایت درجه د صحیح بخاری نه کمه شوه.

---

[۱] کذافي معارف السنن (۲۰/۱)

او هر چه امام نسائيؒ دي نو هغوی د اول دريي وارو نه استيعاب کوي او د څلورم نوع نه انتخاب کوي.

او ابوداؤدؒ د څلورو وارو نوعو نه استيعاب کوي او د پنځمي نوع نه انتخاب کوي نو په دې وجه په ابوداؤد کښې د نسائي په نسبت روايات ډير کمزوري دي.

او ترمذيؒ په دې لحاظ په پنځمه درجه کښې دي چه هغوی ددې ټولو نه استيعاب کوي، يعني هر قسم راويان پکښې شته.

او ابن ماجه کښې ورسره بيا دوه ويشت (۲۲) احاديث موضوعه هم جمع شوي دي اګر که بعض روايتونه د بخاري هم پکښې شته خو ورسره دغه شان روايات ئې هم راوړي دي نو دهغې مرتبه د ټولو نه ښکته ده...... من المترجم)

د سنن ابوداؤد نسخې او د تعدد نسخ منشاء :

ځان پوهه کړه چه ددې کتب صحاح نسخې مختلف دی د سنن ابوداؤدؒ نسخې نوري هم مختلف او متعدد دی دلته دا سوال وارديږي چه د تعدد نسخ منشاء او مقصد څه دې؟ نو ځان پوهه کړه چه زمونږ په زمانه کښې د تحصيل حديث طريقه او صورت دا وی چه طالب علم د حديث کتاب مخې ته کيږدی او د استاد نه په هغې باندې ځان پوهه کړي او هغه اولولي، اود کومې زمانې چه دا تصانيف دی صحاح ستة وغيره، په هغه زمانه کښې مطابع نه وو، په دې طريقه باندې د کتب حديث نسخې مطبوعه نه ملاويدې ځکه چه په دې زمانه کښې ملاويږي، بلکه په هغه زمانه کښې به د حديث تحصيل داسې کيدو چه يو طالب حديث به د يو محدث په خدمت کښې حاضر شو او د هغوی په خدمت کښې حاضريدو سره به ئې عرض اوکړو چه زه ستاسو نه ستاسو ددې رواياتو سماع کول غوارم او هغه معلومول غوارم، په دې پاندې به هغه محدث د خپل اصل کتاب نه يا د خپلې حافظې نه خپلو شاګردانو ته د هغه احاديثو املاء کوله. هلته به د طالب العلم مقصود د لوستلو نه د متون احاديث او دهغې د اسانيدو حاصلول وو. کوم چه به د مخکښې نه د هغوی په علم کښې نه وو او يا به ورسره په يو کتاب ليکلې موجود نه وو. ګويا د اصل رواياتو حاصلول به ئې مقصود وو او په دې زمانه کښې دا صورت حال نه دې. بلکه اوس خو داسې ده چه کوم احاديثو لره د استاد نه لوستل غواړي نو ځکه چه هغه احاديث د استاد سره په مطبوعه کتاب کښې موجود دی هم دغه شان هغه احاديث خپله د شاګرد سره د مخکښې نه موجود او محفوظ دی. اوس چه هر کله دا خبره ده چه په هغه زمانه کښې به شاګردانو د خپل استاد نه احاديث اوريدلو سره ليکل او جمع کول، ظاهره ده چه ليکونکي شاګرادان مختلف وی، بعض شاګردانو ترې نه په دې کال لوستل اوکړل او بعضو تير کال، او بعضو په اوږم کال، د هم دغې محدث نه احاديث اوريدلو سره اوليکل نو په کوم کال باندې چه دې محدث خپلو څومره شاګردانو ته د څومره رواياتو املاء اوکړه هغوی سره هغه هومره محفوظ شو، اوس د استاذ په املاء کولو سره په مختلف کالونو کښې د رواياتو کمې زياتې کيدو، لکه په دې زمانه کښې چه تاسو د استاذانو تقرير ضبط کوئ نو دا ضروری نه ده چه څومره تقرير استاذ دې کال کړې دې هم دومره تقرير دې تير کال هم

کړي وي، بلکه د کلام په کمی او زیادت کښې یقینا فرق وی هم دغه شان په هغه زمانه کښې به هم د نفس روایاتو په تعداد کښې کمې زیاتې راتلو، پس هم دا وجه ده د اختلاف نسخ او د تعدد نسخ، اوس موږ دا بیانوو چه ددې کتاب څومره نسخې دی، نو ددې ډیرې نسخې دی چه په هغې کښې زیات مشهور د امام ابوداؤد د څلورو شاګردانو څلور نسخې دی، چه هغه سهارنپوری رحمه الله د بذل المجهود په مقدمه کښې لیکلې دی.

۱- **نسخه لؤلؤی:** یو نسخه د ابوعلی لؤلؤی ده چه دهغې پوره نوم محمد بن احمد عمرو البصری دې، المتوفی ۳۳۳ هجری واللولوی منسوب الی بیع اللؤلؤ، یعنی لؤلوی د ملغلرو د اخستلو او خرڅولو طرف ته منسوب دې، غالبا د هغوی به د ملغرو او موتیانو وغیره تجارت وو، زمونږ په دور (په بلاد مشرق کښې) هم دا نسخه رائج ده. هغوی دا په ۲۷۵ هجری کښې د امام ابوداؤد رحمه الله نه روایت کړه او دا آخری املاء ده کومه چه ورته هغوی په مذکوره کال املاء کړې ده. هم دا کال د مصنف رحمه الله د وفات کال دې، هم په دې وجه دا نسخه اصح النسخ ګنړلې شی.

۲- **نسخه ابن داسه:** دویمه نسخه د ابن داسه ده چه د هغوی پوره نوم ابوبکر محمد بن بکر بن داسه التمار البصری دې، په بلاد مغرب کښې هم دا نسخه مشهوره ده، امام ابوسلیمان الخطابی کوم چه د حدیث په مشهور شارحینو کښې دې، او د سنن ابوداؤد شارح هم دې هغوی سنن ابوداؤد براه راست د ابن داسه نه اخذ کړې دې، هغوی فرمائی - قرأته بالبصرة علی أبی بکر بن داسه... او بیا ئې د اخذ کولو نه پس هم په هغه نسخه باندې شرح هم لیکلې ده، کومه چه د معالم السنن په نوم باندې مشهوره ده د ابن داسه او لؤلؤی په نسخو کښې فرق صرف د تقدیم او تاخیر دې د کمی او زیاتی نشته.

۳- **نسخه ابوعلی الرملی:** دریمه نسخه د ابوعیسی الرملی ده، د هغوی پوره نوم ابوعیسی اسحق بن موسی الرملی دې، د وراق ابوداؤد په لقب سره مشهور دې، د وراق معنی په ظاهر کښې د کتب خانې د محافظ ده، وهذه النسخة تقارب نسخة ابن داسه.

۴- **نسخه ابن الاعرابی:** څلورمه نسخه د ابن الاعرابی ده، د هغوی نوم ابوسعید احمد بن محمد دې، المتوفی ۳۰۴ هجری... د ابن الاعرابی په کنیت سره مشهور دې [1] دا نسخه ناقص ده په دې کښې کتاب الفتن، کتاب الملاحم، کتاب الحروف او هم دغه شان نیم کتاب اللباس نشته.

۵- **نسخه ابوالحسن عبدی:** پنځمه نسخه د ابوالحسن عبدی ده، په دې نسخه کښې د بعض راویانو په سندونو باندې داسې کلام دې کوم چه په نورو نسخو کښې نشته... نبه علیه الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالی.

---

[1]) ابن الاعرابي هذا غير ابن الاعرابي اللغوي المشهور هو محمد بن زياد المتوفي ۲۳۱ هجری وهذا الثاني اقدم من صاحب النسخة افاده مولانا سعید بالنبوری)

الشروح والحواشي :

حضرت شيخ رحمه الله په مقدمه د بذل کښي (چه تر اوسه پوري غير مطبوع ده) ددي کتاب د شلو نه زيات شروحات شمير کړي دی، ددي پنځه شروح خو مشهور او کامل دی، اکثر په هغي کښي مطبوع هم دی.

۱. **معالم السنن** : دا شرح د امام ابوسليمان احمد بن ابراهيم الخطابي المتوفى ۳۸۸ هجری تاليف دي، دهغوی دا شرح په نسخه ابن داسه باندي ده لکه چه ددي نه مخکښي مونږ بيان کړل، او دا شرح کامل، جامع او مختصر ده، د بنده خيال وو چه دا غالبا اقدام الشروح ده، ددي نه پس ددي خبري تصريح ماته په فيض الباري کښي ملاؤ شوه چه دا ددي کتاب د ټولو نه اولنئ شرح ده.

۲. **شرح ابن رسلان**: يو شرح شهاب بن رسلان هم ليکلي ده کوم چه د حافظ ابن حجر رحمه الله شاګرد دي د هغوی دا شرح د شرح ابن رسلان په نوم سره مشهوره ده، اوريدلي مي دی چه دا شرح کافي مبسوط په اتو جلدونو کښي ده، خو دهغي کامل نسخه موجوده نه ده، ددي متفرق جلدونه د بعض حضراتو سره محفوظ دی، ددي دوه جزونه حضرت سهارنپوری رحمه الله د حجاز مقدس نه په خپل اهتمام سره نقل کړی وو او دلته ئي راوړي وي، کوم چه د مظاهر العلوم په کتب خانه کښي محفوظ وی، حضرت شيخ رحمه الله به ددي شرح ډير تعريفونه فرمائيل، او حضرت ددي د موجوده اجزاء نه په خپلو تاليفاتو کښي کافي استفاده فرمائيلي ده.

۳. **مرقاة الصعود الى سنن أبي داؤد**: دا د علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله المتوفى ۹۱۱ هجری تصنيف دي، علی بن سليمان الدمنتي ددي شرح تلخيص کړي دي، او ددي تخليص نوم دي درجاة مرقاة الصعود، حضرت سهارنپوری چه په بذل المجهود کښي فرمائي : كذا فى الشرح... نو دهغي نه هم دا شرح مراد وی.

۴. **المختصر للمنذری** : ددي نوم مصنف رحمه الله المجتبى کيخودلي دي، حافظ ذکی الدين منذری او د هغوی د شرح ذکر زمونږ په کلام کښي راغلي دي.

۵. **تهذيب السنن**: دا د علامه ابن القيم رحمه الله تصنيف دي، په دي کښي په هر حديث باندي کلام نشته، بلکه په بعض بعض ابوابو باندي کلام کړي دي، او په بعض ځايونو کښي ئي ښه په تفصيل سره ليکلي دی هيڅ کمي ئي نه دي پريخودلي.

دا پنځه خو قديم او مشهور شرحي دی، او دري شرحي دهغي نه روستو دی، چه هغي نه شروح جديده وئيل مناسب دی.

۱. **عون المعبود شرح سنن ابوداؤد** : دا د يو اهل حديث عالم شرح ده چه د هغه نوم محمد اشرف عظيم آبادی دي دا شرح مکمل ده، او په څلور غټو جلدونو کښي طبع شوي ده، په دي شرح کښي فوائد حديثيه کافي دی، خو د شارح نه د کتاب په حل کولو اود قال ابوداؤد په بيان مراد کښي په ډيرو ځايونو کښي تسامح شوي دي چه دهغي زمونږ حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښي په ډيرو مقاماتو باندي تنبيه فرمائيلي ده، او

چونکه اهل حديث او غير مقلد دي په دې وجه ئي په مقلدينو خصوصا په احنافو باندې استطالة لسان (ژبه اوږده) کړې ده، چه دغې په وجه باندې زمونږ حضرت سهارنپوری رحمه الله د هغوی نه خفه وو، چه دغې ذکر خپله حضرت په مقدمه د بذل کښې فرمائيلې دې، او دا ئي هم ليکلې دی چه زه ددې شرح نه يو مضمون په خپله شرح کښې د هغه وخته پورې نه نقل کوم چه ترڅو پورې چه زه دهغه مضمون په اصل کتاب يعنی منقول عنه کښې او نه ګورم

۲ **بذل المجهود في حل أبي داؤد:** کومه چه زمونږ او ستاسو دپاره د تعارف محتاج نه ده يا کم از کم نه دی کيدل پکار، دا شرح ممزوج په پنځو ضخيم جلدونو کښې ده، د کتاب په حل او قال ابوداؤد په بيان مراد کښې ددې نه غوره هيڅ شرح نشته، حضرت شيخ رحمه الله د خپل ژوند په آخره زمانه کښې دا د خپلو حواشي د اضافې سره د بيروت نه په مصری طرز باندې طبع کړې وه، کومه چه په ځليريشت جلدونو کښې ده. (وقد رأيت كتابا في المكتبة الشاملة ألف في تعاقب بعض مسائل الشيخ السهارنپوری اسمه فتح المعبود في بيان الهفوات في كتاب بذل المجهود تأليف : محمد بن عبدالرحمن الخميس... من المترجم)

د دې شرح په تاليف کښې د حضرت سهانپوری رحمه الله تقريبا لس کاله لګيدلې دی، په دې تاليف کښې حضرت شيخ رحمه الله د حضرت سهارنپوری رحمه الله ښې لاس وو، او حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه حضرت سهارنپوری په مقدمه د بذل المجهود کښې ددې تعاون ذکر کولو سره زما په باره کښې ليکلې وو وهو جدير بان ينسب اليه هذا الشرح، دا عبارت ما په خپل لاس وران کړو، کله چه د حضرت سهارنپوری رحمه الله په دې باندې نظر پريوتلو نو تپوس ئي اوکړو چه دا دې څه اوکړل؟ ما عرض اوکړو چه حضرت په دې کښې د بذل اهانت دې حضرت خاموش شو، حضرت سهارنپوری رحمه الله په مقدمه د بذل کښې د حضرت شيخ رحمه الله په دې تاليف کښې د اعانت تذکره په دې الفاظو سره کړې ده :

وأعانني عليه بعض أحبائي خصوصا منهم عزيزى وقرة عينى وفلى الحاج الحافظ المولوى محمد زكريا بن مولانا الحاج الحافظ المولوى محمد يحيى الكاندهلوى رحمه الله تعالى.

په بذل المجهود باندې د حضرت شيخ رحمه الله ډير قيمتي حواشي دی، په هغې کښې ډير حواشي د بذل المجهود مصری سره په حاشيه کښې طبع شوې دی، احقر د بذل المجهود نه د استفادې سره سره د هغه حواشي نه هم استفاده کړې ده.

په دې تقرير کښې به لوستونکې د بذل المجهود او د حضرت شيخ رحمه الله د هغه حواشي په کثرت سره حواله بيا مومي، اميد دې چه دا تقرير به د بذل المجهود شريف د مضامين عاليه طرف ته د رسيدو يو غوره او اسانه ذريعه وی

۳ **المنهل العذب المورود في شرح سنن أبي داؤد:** دا د محمود بن محمد خطاب سبکی تصنيف دې، کوم چه په علماء ازهر کښې يو ډير جيد عالم دې او مالکی المسلک دې د هغوی دا شرح پوره نه ده، عمر ورسره وفا اونکړه چه دغې په وجه د شرح تکميل او نه شو، دا شرح په ممالک عربيه کښې مطبوع او ملاويږی د هغوی طرز د علامه عينی رحمه الله د هغه طرز سره ملاويږی کوم چه هغوی په شرح د بخاری کښې اختيار کړې دې، او دهغې

دوه درې حواشي مشهور او معروف دي

۱: **فتح الودود**: دا د ابوالحسن محمد بن عبد الهادی السندهی المتوفی ۱۱۳۹هجری حاشیه ده، موصوف مسلکا حنفي وو د علامه سیوطی په شان د هغوی هم په ټولو صحاح ستة باندې حواشي دي.

۲: **التعليق المحمودة**: دا د مولانا فخر الحسن الکنکوهی حاشیه ده، کوم چه د حضرت رشید احمد ګنګوهی په شاګردانو کښې وو.

۳: **أنوار المحمود على سنن أبي داؤد**: دا په اصل کښې د شیخ الهند، مولانا خلیل احمد سهارنپوری، مولانا انور شاه کشمیری او د مولانا شبیر احمد عثمانی ﷫ د هغه درسی تقاریرو مجموعه ده، کوم چه یو صاحب جمع کړی دی.

د دې نه علاوه نورو هم ډيرو حضراتو ددې کتاب شرح لیکل شروع کړل خو تکمیل ته او نه رسیدل، پسټ امام نووی﷫ هم شروع کړه علامه عینی هم شروع کړه چه دهغې هغوی په عمدة القاري شرح بخاری کښې حواله هم ورکړې ده، هم دغه شان حافظ عراقی﷫ تر د باب السجود السهو پورې شرح په اووه جلدونو کښې اولیکله، وئیلې شوې دی چه که دا شرح د پوره کتاب هم په داسې تفصیل سره لیکلې کیدله نو په څلویښتو جلدونو کښې به پوره کیده.

اداب د طالب الحديث:

د حضرت شیخ﷫ معمول زمونږ د طالب علمۍ د زمانې نه مخکښې د ابوداؤد شریف په سبق کښې او دهغې نه پس زمونږ د طالب علمۍ په دور کښې د بخاری شریف په سبق کښې د طالب حدیث دپاره د لسو آدابو د بیانولو دستور وو زه هم عام طور په سبقونو کښې هم هغه لس آداب ذکر کوم کله لږ په تفصیل او کله په اختصار سره، دې وخت کښې ئې هم مختصرا واورئ!

۱: **اخلاص نیت**. ۲: **اهتمام الحضور فی الدرس**: یعنی د سبق پابندی، ما د خپلې طالب علمۍ په زمانه کښې الحمد لله ښه پابندی کړې ده، ماته یاد نه دی چه ما چرته د شرح جامی په سبق کښې هم په پوره کال کښې یو غیر حاضری کړې وی پاتې له د حدیث په سبق کښې، صرف دا نه چه غیر حاضری مې نه ده کړې بلکه رخصت مې هم نه دې اخستلې. ځکه چه کوم سبق د استاذ د لوستلو نه پاتې شو بس پوهه شه چه هغه حقیقتا پاتې شو، په غیر حاضرئ کښې د تعلیم ډیر لوئې نقصان دې او دا د بې برکتئ باعث دې.

۳: **الاصطفاف**: یعنی صف جوړول، طالبان دې په سبق کښې صف جوړولو سره د قاعدې مطابق کینې دا نه چه درسګاه ته ناوخته راځي، او راتلو سره پټ شان د دروازې په اړخ کښې غلې کینې

۴: **د هیئت جلوس اصلاح**: یعنی مؤدب او خومره چه کیدې شی د التحیات په شکل باندې دې کینې، غرض دا چه پرلت وهلو سره دې نه کینې.

۵: **عدم النوم فی أثناء الدرس**: د سبق دوران کښې دې نه اوده کیږی او سبق دې په ذوق او

شوق سره او په بيدارئ باندې اورى، کهنته (پيريډ) ترې نه په غفلت کښې تيره نه شي.

۶: **عدم الاعتماد على الكتاب**: يعني په کتاب باندې دې تکيه نه لګوى په هغې باندې دې ستګل وغيره ږدلو سره بوج نه راولى.

۷: **عدم الضحك فى بعض الفاظ الحدود**: يعني په کتاب الحدود وغيره کښې چه کوم فحش او نامناسب الفاظ راشي نو ضرورة که دهغې ترجمه په اردو، پښتو کښې اوکړې شي نو هغه ډير په سنجيدګئ سره اورېدل چه خندا پرې بالکل رانشي، زمونږ د حضرت شيخ عادت شريفه دا وو چه د کتاب الحدود په يو حديث کښې چه به کله څه فحش يا نامناسب لفظ راغلو نو د هغه لفظ ترجمه به ئې په اردو کښې صفا صفا کوله، او دا به ئې فرمائيل چه دا د عربئ کنځل دى چه هر کله ضرورة او مصلحة ئې رسول الله ﷺ د خپلې ژبې مبارکې نه راويستلې شي نو زمونږ څه حيثيت دې، پس حضرت شيخ چه به کله په کتاب الحدود کښې دا لفظ ﴿ انكتها ﴾ يا په بخاري کښې ۳۷۸/۱ کښې د صلح حديبيه والا حديث کښې د صديق اکبر ﷺ په کلام کښې دا لفظ راتلو: (امصص بظر اللات) نو ددې الفاظو به ئې په اردو کښې ترجمه صريح کوله.

۸: **الأدب بائمة الفقه**: يعني د فقهاء کرامو سره ډيره د ادب معامله کول، داسې دې نه وي چه يو حديث په ائمه کښې د يو امام خلاف راشي، نو د هغه امام په باره کښې د بې ادبئ خبره په ذهن کښې راشي په دې سلسله کښې به حضرت شيخ د حضرت ګنګوهي واقعه اورولـه کومه چه حضرت په خپل تصانيف آپ بيتي وغيره کښې څو ځايه ليکلې ده هغه دا چه حضرت ګنګوهي په خپل درس حديث کښې د يو داسې حديث چه په ظاهر کښې د احناقو خلاف وو ډيره ښه توجيه او تاويل اوفرمائيلو، په شاګردانو کښې يو عرض اوکړو چه که امام شافعي دا توجيه اوريدلې وې نو هغوى به د خپل قول نه رجوع کړې وې؟ په دې باندې حضرت اوفرمائيل: توبه توبه استغفرالله... که امام شافعي موجود وې نو زما دا تقرير به يو شبه وې، او حضرت مجتهد به ددې جواب کړې وې، اوس خو چونکه ائمه مجتهدين زمونږ مخکښې نشته صرف د هغوى اقوال زمونږ مخکښې دى، په هغه اقوالو کښې مونږ د امام ابوحنيفه قول أقرب الى القرآن والحديث بيا مومو، په دې وجه دهغې تائيد کوو ګينې که (بالفرض) په ائمه مجتهدين کښې په دې زمانه کښې څوک موجود وې نو د هغوى د اتباع او د تقليد نه بغير به ګزاره نه وه.

۹: **احترام د علم او د علماء کرامو**: يعني د استاذانو ادب نه صرف ظاهرا بلکه د زړه نه، ګينې د استاذ بې ادبى د علم نه د محروميا قوى سبب دى، صرف استاذ نه بلکه د تکرار کونکو او د درس د ملګرو او د کتاب او درسګاه کښې د کيخودلې شور تختو وغيره چه په هغې باندې کتاب ږدلو سره لوستلې شي د هغه ټولو د احترام لحاظ ساتل.

۱۰: **د هيئت اصلاح کول**: يعني د خپل هيئت وضع قطع او جامې د شريعت او سنت مطابق ساتلو اهتمام او هغه لباس کوم چه د حديث نه ثابت او منقول وى دهغې رعايت ساتل او د کوم قسم لباس چه په حديث کښې ذکر نه وى په هغې کښې د هغه زمانې د نيکانو اتباع

کول، څکه چه په قرآن کریم کښې دی ﴿ واتبع سبيل من اناب إلى ﴾ الاية.

انواع كتب الحديث

الحمد لله مقدمة الكتاب پوره شوه، صرف د سند بيان باقي دې، تاسو ته به ياد وی چه مونږ کوم خائې کښې د ابوداؤد د تسميه بحث اجمالا ذکر کړې وو، هلته مونږ وئيلې وو چه د بيا دپاره که موقع ملاؤ شوه نو بعض قسمونه د كتب حديث او دهغې تعريف او مصاديق به سره د مثالونو بيانوو، اوس هغه واورئ!

حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه کله ما مشکوه شريف درس کړو نو هغه وخت ماته په تتبع او تلاش سره صرف لس دولس اقسام د كتب حديث معلوم شو، دهغې نه پس چه مې څومره اشتغال بالحديث او د کتب حديث مطالعه زياتيدله نو بيا ډير انواع مخې ته راتلل، پس د لامع د مقدمې د تاليف پورې راته پنځويشت نه زيات انواع معلومه شوې وو، دا خبره حضرت شيخ په درس بخاري کښې بيان فرمائيلې وه، اوس تاسو واورئ چه حضرت شيخ په مقدمة د لامع کښې په تفصيل سره اويشت انواع د کتب حديث او دهغې مثالونه ليکلې دی، حضرت سهارنپوری رحمه الله هم د بذل المجهود په مقدمه کښې ډير په اختصار سره لس قسمونه د كتب حديث بيان کړی دی، او بنده مقدمه د بذل او مقدمه د لامع دواړه مخې ته ږدللو سره د الفيض السمائی په مقدمه کښې پنځويشتو ته نژدې انواع د کتب حديث دهغې تعريفونه او دهغې مصداقات او مثالونه په تفصيل سره بيان کړې دی، لږ شان وخت اوباسئ او هغه اوګورئ د کومو کتابونو په تصنيف او تاليف کښې چه حضرات محدثينو خپل عمرونه اولږول، چه مونږ کم از کم د هغه کتابونو د نومونو نه خو خبر شو، او دا اوګورو چه دې حضراتو په کوم کوم طرز سره د حديث نبوی خدمت فرمائيلې دې، که الله پاک مونږ هم د خادمين حديث په ډله کښې شامل کړی نو څومره د سعادت خبره ده، بهر حال څو انواع حديث مونږ دلته بيانوو

۱ **جامع**: ۲ **سنن**: دا دواړه مستقل قسمونه دی چه دهغې تعريف د تسميه کتاب په ضمن کښې راغله

۳ **مسند**: دا د حديثو هغه کتاب دې چه په هغې کښې احاديث په ترتيب د اسماء الصحابه ذکرشوې وی،او د مضامينو ترتيب پکښې ملحوظ نه وی، پس د داسې کتابونو په سرخئ کښې د صحابی نوم ليکلې شی، مثلا مسند انس بن مالک او بيا صرف هم هغه روايات ذکر کړې شی کوم چه د انس رضی الله عنه نه روايت کړې شوې وی اګر که مضمون ئې هر څه وی.

بيا بعض محدثينو په دې کښې د حروف تهجی د ترتيب اعتبار کړې دې، لهذا د کوم صحابی د نوم په شروع کښې چه الف وی اول به د هغوی د رواياتو ذکر کولې شی، لکه انس بن مالک او ابی بن کعب رضی الله عنهما وغيره، او بيا د هغه صحابی روايات چه د هغه نوم په باء سره شروع وی، لکه براء بن عازب او بلال بن الحارث رضی الله عنهما وغيره، او بعضو د مراتب صحابه رضی الله عنهم اعتبار کړې دې، په دې صورت کښې به د خلفاء راشدينو روايات مقدم کولې شی، حال دا چه د هغوی د نوم په شروع کښې عين دې، مسند احمد او مسند ابوداؤد

الطيالسي کوم چه د حديث د کتب متداوله نه دي دا دواړه د مراتب صحابه په اعتبار سره دي، او بعضې په دې کښې د قبائلو د ترتيب لحاظ ساتي، په دې صورت کښې د ټولو نه مخکښې د بنو هاشم روايات اخلي، ثم الأقرب فالأقرب.

او کله په مسند کښې صرف د يو صحابي د رواياتو په جمع کولو باندې اکتفاء کولې شي، مثلاً مسند ابي بکر يا د صحابه کرامو د يو جماعت روايات ذکر کړې شي مثلاً مسند الاربعة چه په هغې کښې صرف د خلفاء اربعه رضي الله عنهم روايات راجمع کړې شي او مسند العشرة چه په هغې کښې د عشره مبشره روايات ذکر کړې شي.

۴: **مشيخة**: د احاديثو هغه کتاب ته وائي چه په هغې کښې روايات په ترتيب د شيوخ بيان کړې شي، يعنې مصنف چه کوم احاديث د خپل يو شيخ نه اوريدلي وي هغه يو ځائې راجمع کړي، مثلاً اسماعيلي أحاديث الاعمش رحمه الله جمع کړي دي، او امام نسائي رحمه الله د فضيل بن عياض رحمه الله احاديث راجمع کړې دي، دا مشيخة د لفظ شيخ جمع ده.

۵: **المعجم**: بعض ددې تعريف داسې کړې دې "ما يذکر فيه الأحاديث على ترتيب الشيوخ" خو حضرت شيخ رحمه الله په مقدمه د لامع کښې ليکلي دي چه دا تعريف خو د مشيخة دې، او معجم وائي د حديث هغه کتاب ته چه "ما يذکر فيه الأحاديث على ترتيب الهجاء" يعنې په کوم کتاب کښې چه احاديث د حروف تهجي په اعتبار سره ذکر کړې شي، بيا دهغې ترتيب که د صحابه کرامو رضي الله عنهم په اعتبار سره وي او که د شيوخ په اعتبار سره وي، لهذا معجم پورته دواړو قسمونو يعنې مسانيد او مشيخة ته شامل شو، پس طبراني د معجم کبير ترتيب د اسماء صحابه په اعتبار سره دې، او د معجم اوسط وصغير ترتيب ئې د شيوخ په اعتبار سره دې او دواړو ته معجم وئيلې شي.

۶: **الترتيب**: په معاجم او مسانيد کښې چونکه د مضامينو لحاظ نه شي ساتلې، په دې وجه په هغې کښې يو مضمون راوپستل آسان کار نه دې، په دې وجه محدثين حضراتو ضرورت اوګڼرلو ددې خبرې چه يو قسم د کتب حديث داسې پکار دي چه په هغې کښې د مسانيد او معاجم هغه روايات د مضمون په اعتبار سره ترتيب کړې شي لهذا اوس الترتيب د انواع کتب حديث نه يو مستقل نوع شوه، او روستو علماء کرامو د حديث دا خدمت کړې هم دې، پس مسند احمد ته هم ترتيب ورکړې شوې دې، حضرت شيخ رحمه الله په مقدمه د لامع کښې ددې هم ډير مثالونه ليکلي دي، زما والد صاحب رحمه الله هم د معجم صغير د احاديثو د مضامينو فهرست مرتب فرمائيلې وو.

۷: **الأطراف**: د احاديثو هغه کتاب دې چه په هغې کښې د حديث صرف سر يعنې د شروع حصه ذکر کولو سره د پوره حديث طرف ته اشاره کولې شي، او بيا هغه حديث چه په کومو کومو کتابونو کښې په کوم سند سره روايت وي هغه أسانيد بالاستيعاب ذکر کړې شي يا په کومو کتابونو کښې چه هغه احاديث ذکر دي دهغې حواله ورکړې شي، د ابن طاهر مقدسي تصنيف اطراف الکتب الستة کښې هم دغه شان کړې شوې دي، يعنې هغه احاديث چه د صحاح سته نه په کوم کتاب کښې دي، صرف دهغې حواله ورکړې شوې ده، او د

حافظ جمال الدين المزي كتاب تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف د قسم اول د قبيل نه دي، دا ډير د فائدې او د كار څيز دې، چه په مختصر شان وخت كښې معلوميږي چه دا حديث په كوم كوم كتاب كښې دې، او په كوم سند سره دې، دا ټول څيزونه په يو وخت معلوميږي، كه په خپله ئې لټون ته ناسته اوكړې شي نو معلومه نه ده چه څومره وخت به پرې خرچ شي.

۸ **المستدرك** : دا د حديث هغه كتاب ته وائي كوم چه يو بل كتاب مخكې ته ږدلو سره اوليكلې شي او په هغې كښې هغه احاديث ذكر كړې شي كوم چه په اصلي كتاب كښې ذكر كول پكار وو، ځكه چه هغه د مصنف په اصل شرط باندې پوره څيزې، خو د څه وجې نه په هغه كتاب كښې نشته، مثلا كه يو سړې په بخاري باندې استدراك كول غواړي نو په هغې كښې به دا وى چه يو داسې كتاب اوليكلې شي چه په هغې كښې هغه ټول احاديث واخستلې شي كوم چه په بخاري كښې كيدل پكار وو په دې وجه چه هغه د بخاري د شرطونو مطابق دى خو په بخاري كښې هغه د څه وجې نه رانغلل نو دا كتاب كوم چه روستو اوليكلې شو دې ته به مستدرك على البخاري وئيلې شي، پس حاكم هم دغه شان يو كتاب په صحيحين باندې ليكلې دې كوم ته چه مستدرك على الصحيحين وائي.

د مستدرك د پورته ذكر شوى تعريف نه معلومه شوه چه په دې كښې صرف هغه روايات كيدل پكار دى كوم چه په اصل كتاب كښې نشته، خو د حاكم نه يو تساهل دا شوې دې چه بعض روايات هغوى په مستدرك كښې داسې ذكر كړې دى كوم چه په اصل يعنى صحيحين كښې موجود دى، او دويم تساهل كوم چه د هغوى مشهور دې چه هغوى په مستدرك كښې بعض متكلم فيه روايات هم واخستل كوم چه د اصل د شرط مطابق نه وو، هم په دې وجه علماء كرامو (لكه امام ذهبي رحمه الله) د هغوى تعقب كړې دې.

۹ **المستخرج** : دا د حديث هغه كتاب دې چه په هغې كښې د يو بل كتاب د احاديثو تخريج اوكړې شي، او هغه داسې چه صاحب مستخرج د اصل كتاب هر هر حديث د اصل د ترتيب مطابق په خپل سند سره په بيل كتاب كښې ذكر كړى، داسې چه د هغه د سند ترمينځه مصنف رحمه الله د اصل واقع نه شي بلكه د صاحب مستخرج سند د اصل د مصنف د شيخ يا د شيخ الشيخ سره وراندې يو ځائې شي، او ددې فائده تقويت حديث ده، اوس د هر كتاب دوه سندونه شو، يو د اصل كتاب سند او دويم د مستخرج، لكه مستخرج اسماعيلي كوم چه په بخاري باندې دې او په صحيح مسلم باندې د ابوعوانة مستخرج مشهور دې، او مستخرج د ابونعيم اصفهاني كوم چه په صحيحين باندې دې.

محدثينو د مستخرج دپاره يو شرط دا هم لګولې دې چه صاحب مستخرج د داسې سند نه عدول اونكړى كوم چه مصنف داصل ته نژدې وى مثلا كه هغه سره داسې سند وى كوم چه مصنف د اصل سره ملاويږى نو بيا دې داسې سند نه راوړى كوم چه مصنف داصل سره په شيخ الشيخ كښې ملاويږى، خو كه د عدول څه غرض صحيح وى مثلا علو سند وغيره نو بيا امر آخر دې.

۱۰ **الافراد والغرائب** : دا د حديث هغه كتاب ته وائي چه په هغې كښې د يو شيخ

تفردات ذکر کړي شي، هغه روايات چه ددغه شيخ د نورو اصحاب (شاګردانو) سره نه وي، اوس ښکاره ده چه په هغې کښې چه څومره احاديث وي ټول به غريب وي، لکه د دارقطني کتاب الأفراد کوم چه ډير مشهور او جامع دي، د امام مسلم رحمه الله په تصانيفو کښې هم يو کتاب ددې قسم دي.

۱۱: **غريب الحديث**: دا هغه کتابونه دي چه په هغې کښې د حديث د الفاظ غريبه معنی او دهغې تشريح کولې شي، په نورو الفاظو کښې داسې ونيلې شي چه د حديث لغات بيانولې شي، ځکه چه د حديث معنی بيانول آسانه خبره نه ده د ذمه دارئ څيز دي، پس ليکلې شوي دي چه د امام احمد رحمه الله نه د يو حديث معنی اوتپوسلې شوه نو هغوی اوفرمائيل: سلوا أصحاب الغريب... يعنی کوم خلق چه د لغات حديث امامان دي او دهغې ماهرين دي د هغوی نه ددې لفظ معنی اوتپوسئ، زه د حديث شرح او بيان مراد د خپل ګمان نه نۀ شم کولې، هم دغه شان اصمعی کوم چه د لغت ډير لوئې امام دي د هغوی نه يو خل د ﴿ الجار أحق بسقبه ﴾ معنی اوتپوسلې شوه چه د سقب څه معنی ده؟ نو وې فرمائيل أنا لا أفسر حديث رسول الله ﷺ ولكن العرب تزعم أن السقب اللزيق. يعنې زه د خپل طرف نه د حديث معنی نه شم بيانولې خو دومره پوهيږم چه عرب وايي چه د سقب معنی د متصل او د ګاونډي ده،

د غريب الحديث په موضوع باندې يو څو مشهور تصانيف:

بهر حال په دې موضوع باندې د څو مشهور کتابونو نومونه دا دي،

۱: کتاب الغريب د ابوعبيد قاسم بن سلام، ۲: الفائق د زمخشری، ۳: کتاب الغريبين د ابوعبيد هروی، او دې وخت کښې ددې قسم ډير جامع دوه کتابونه عام طور سره متداول دي، يو النهايه د ابن الاثير الجزری کوم چه په پنځو جلدونو کښې دي، او دويم کتاب مجمع البحار د شيخ محمد طاهر پټنی (ګجراتی)، دا په پنځو جلدونو کښې دي، او د النهاية نه زيات ضخيم (غټ) کتاب دي

۱۲: **العلل**: د حديث هغه کتاب ته وائی چه په هغې کښې د سندونو علل بيان کړي شي، علل جمع ده د علت، علت د محدثينو په اصطلاح کښې د سند پټ عيب او نقص ته وائی، يعنی د يو حديث سند په ظاهر کښې برابر او رشتينې دي، خو په حقيقت کښې په هغې کښې څه باريک او ژور نقص دي، چه په هغې باندې ماهرين او ناقدين حديث ښه پوهيږی، پس علل د حديثو هغه کتاب شو چه په هغې کښې د اسانيدو په دقيق او پټو نقائصو باندې تنبيه اوکړي شي.

د علل په موضوع باندې يو څو مشهور تصانيف

په دې نوم باندې ډير کتابونه ليکلې شوي دي لکه کتاب العلل د امام بخاری رحمه الله، کتاب العلل د امام دارقطنی رحمه الله، او د امام ترمذی رحمه الله په دې کښې دوه کتابونه دي، يو العلل الصغير کوم چه د ترمذی په آخره کښې ملحق دي، او يو العلل الکبير، او هم دغه شان العلل الکبير د ابن ابی حاتم، او العلل المتناهية فی الاحاديث الواهية د ابن الجوزی رحمه الله

۱۳ **كتاب الأربعين يا أربعينه** : كوم ته چه زمونږ په عرف كښې چهل حديث وائي ددې تصنيف سلسله قائم شوي ده د يو حديث په بناء باندې كوم چه په ديبهقي په شعب الإيمان كښې دې، د حديث راوي ابوالدرداء ﷺ دي هغوى فرمائي چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړې شو چه د علم هغه كوم مقدار دې چه دهغې د حصول نه پس انسان فقيه شي نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : من حفظ على أمتي أربعين حديثا في أمر دينها بعثه الله فقيها وكنت له يوم القيامة شافعا وشهيدا، دا حديث د ټول طرقو په اعتبار سره اگرچه ضعيف دې، خو اكثر حضرات محدثينو په دې مختصر شان عمل باندې د دومره لوئې ثواب او فضيلت د حاصلولو په لالچ او حرص كښې اربعينات تصنيف كړې دى، حضرت شاه ولى الله صاحب ﷺ د څلويښتو احاديثو يو كتاب ليكلې دې، كوم چه ډير مختصر دې حضرت شيخ ﷺ فرمائي چه زما والد صاحب به د مفيد الطالبين په ځائې هغه درس كولو، د امام نووي ﷺ هم كتاب الاربعين دې چه دهغې ډير شروح ليكلې شوي دى، ابن رجب حنبلي، ملا على قاري، او شيخ ابن حجر مكى ﷺ دې ټول حضراتو دهغې شروح ليكلى دى، حافظ ابن حجر ﷺ هم يو كتاب د څلويښتو حديثو ليكلې دې، په هغې كښې هغوى يو جدت دا پيدا كړې دې چه ټول احاديث ئې د صحيحين نه داسې اخستلې دى چه په هغې كښې د امام مسلم ﷺ سند د امام بخاري ﷺ د سند نه عالي دې، حضرت شيخ ﷺ په مقدمه د لامع كښې ليكلى دى چه زه په مدينه طيبه كښې د هغه چهل حديث په زيارت باندې مشرف شوي يم.

۱۴ : تعاليق : د حديث هغه كتاب دې چه په هغې كښې صرف د حديث متن بيان كړې شي، او اسانيد حذف كړې شي، لكه مصابيح السنة او مشكوة المصابيح كښې چه دى، په دې دوارو كتابونو كښې صرف په متون احاديث باندې اكتفاء كړې شوې ده، خو صاحب مشكاة د صحابي د نوم اضافه كړې ده، او د حديث د ذكر كولو نه پس په كتب مشهور كښې په كومو كښې چه هغه احاديث موندلې شي، د هغې حواله وركړې شوې ده، او تعاليق ډير زيات دى، لكه جمع بين الصحيحين د حميدى، تجريد الصحاح، د رزين بن معاويه العبدرى، جامع الأصول د ابن الاثير الجزرى، او مجمع الزوائد د هيثمى، چه په هغې كښې هغوى د صحاح ستة زوائد د شپږو كتابونو يعنى مسانيد ثلاثه، مسند احمد، مسند البزار، مسند ابويعلى او د طبرانى معاجم ثلاثه نه جمع كړى دى، يعنى ددې شپږو كتابونو صرف هغه احاديث ئې جمع كړى دى كوم چه په صحاح ستة كښې نشته، او ددې كتابونو هغه احاديث كوم چه په صحاح ستة كښې موجود دى هغه ئې نه دى اخستلې، هم دغه شان جمع الجوامع د علامه سيوطي ﷺ چه په هغې كښې هغوى دټولو احاديثو بالاستيعاب اخستلو قصد كړې وو چه څومره احاديث په دنيا كښې موجود دى هغه ټول په هغې كښې راشي خو ظاهره ده چه دا كار ډير گران وو، خو مصنف ﷺ وفات شو، اودا كار پوره نه شو، دا كتاب هغوى په دوه قسمونو كښې تقسيم كړو، داسې چه احاديث قوليه ئې مرتبا على الحروف او احاديث فعليه ئې د اسماء صحابه ﷺ په ترتيب باندې ذكر كړل، د

سيوطي جامع الصغير کوم چه مشهور کتاب دي او د کوم احاديث چه مرتب علي الحروف دی، هم هم ددې جمع الجوامع نه اخستلې دی، او کنز العمال کوم چه د حديث مشهور او معروف کتاب دې، دا هم د سيوطي د جمع الجوامع ترتيب دې کوم چه شيخ علي متقي مشهور صوفي او محدث مرتب کړې دې.

۱۵: **المسلسلات**: د حديث هغه کتاب دې چه په هغې کښې صرف احاديث مسلسله ذکر کړې شي او الحديث المسلسل هغه حديث دې چه دهغې په سند کښې ټول راويان د اول نه آخره پورې يا د سند اکثر راويان په يو خاص وصف کښې مشترک او متفق وی، لکه الحديث المسلسل بالاولية يعني هغه حديث کوم چه هر شاګرد د خپل استاد نه د ټولو احاديثو نه مخکښې اوريدلې وی خو محدثينو ليکلې دی چه په دې کښې تسلسل د اول نه تر آخره پورې نه دې موندلې شوی، بلکه د سند په بعض حصه کښې موندلې شوې دې، هم دغه شان الحديث المسلسل بالمصافحة يعني هغه حديث کوم چه هر شاګرد د خپل استاد نه د مصافحې سره اوريدلې وی، هم دغه شان الحديث المسلسل بقراءة سورة الصف يعني هر شاګرد چه کله د استاد نه دا حديث واوريدلو نو استاد په وخت د تحديث کښې د سورة صف تلاوت اوکړو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په احاديث مسلسله کښې د ټولو نه زيات صحيح مسلسل بقراءة سورة الصف دې، د شاه ولي الله صاحب رحمه الله کتاب المسلسلات چه دهغې پوره نوم الفضل المبين في المسلسل من حديث النبي الأمين مشهور دې، په مدرسو کښې لوستلې شي، حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه دا کتاب د ټولو نه اول خليل احمد سهارنپوری رحمه الله په ۱۳۳۰ھ طبع کړې وو.

۱۶: **شرح الآثار**: دا هم په انواع دکتب حديث کښې يو خاص قسم دې، او دې ته علم تاويل الحديث او مختلف الحديث هم وائي، چه دهغې موضوع دا ده چه کوم احاديث چه په ظاهر کښې متضاد دی په هغې کښې مطابقت پيدا کړې شي يا د بعضو په بعضو باندې ترجيح ثابت کړې شي، او دا کار هم هغه حضرات مصنفين کولې شي کوم چه په علم حديث وفقه او اصول درې وارو کښې مهارت لرې، پس ددې قسم بعض تاليفات دا دی: ۱: د امام شافعي رحمه الله اختلاف الحديث، او د ابن قتيبه الدينوری تاويل مختلف الحديث او د امام طحاوی رحمه الله شرح معاني الاثار او مشکل الآثار ډير جامع کتابونه دی.

۱۷: **الکتب المولفة في الأدعية المأثورة**: په انواع دکتب حديث کښې بعض کتابونه داسې دی چه په هغې کښې صرف د دعاګانو او اذکار شرعيه احاديث جمع کولې شي او په دې موضوع باندې ډير کتابونه ليکلې شوې دی لکه عمل اليوم والليلة د امام نسائي، عمل اليوم والليلة د ابن سني، کتاب الأذکار د امام نووی، الحصن الحصين د محمد بن محمد جزری شافعي، او الحزب الأعظم د ملا علي قاري، حضرت شيخ رحمه الله په مقدمة د لامع کښې ليکلې دی چه زمونږ مشائخ او اکابر د الحزب الاعظم ورد ته ترجيح ورکوی د محمد بن

سليمان الجزولي السملالي په دلائل الخيرات باندې ځکه چه په هغې کښې ډير روايات ضعيف دي.

دا مختصر او مشهور انواع د کتب حديث موږ بيان کړل د تفصيل دپاره دې مقدمه د لامع او د الفيض السمائي مقدمه اوکتلې شي.

بحمد الله تعالى وتوفيقه، ترديې ځائې پورې تمهيدي مضامين د مقدمة العلم والکتاب پوره شو، اوس صرف د سند ذکر کول باقي دي، دهغې نه پس به کتاب شروع شي، د سند د بيانولو نه مخکښې يو بل مفيد مضمون کوم چه مې په ذهن کښې دې او کله کله ئې په سبق کښې هم بيانوم چونکه دهغې تعلق هم د سند سره دې لهذا اول هغه واورئ!

په هندوستان کښې علم حديث :

زموږ سندونه بلکه داسې اووايه چه د محدثينِ هند ټول سندونه په شاه ولي الله رحمه الله باندې يو ځائې کيږي، اصل کښې صورت حال داديې کوم چه د تاريخ حديث نه خبر اهل علمو ليکلې دي چه په هند کښې اګرچه د علم حديث سلسله څه نه څه د هميشه نه وه، خو د بلاد عربيه په مقابله کښې ډير کمه او هسې په نوم وه، نو په شروع کښې به صرف د صنعاني په مشارق الانور زده کولو او نبودلو باندې اکتفاء کولې شوه، ددې نه پس په هغې کښې د مشکوة شريف اضافه اوشوه او بس.

د لسمې صدئ په مينځ کښې په بلاد عربيه کښې د علم حديث انحطاط شروع شو، او هم ددې سره سره الله پاک ددې په مقابله کښې د هندوستان اوسيدونکي د حديث دتحصيل او دهغې د خدمت طرف ته متوجه کړل، پس په لسمه صدئ کښې حضرت شيخ علي متقي برهانپوري صاحب د کنزل العمال چه د هغوی وفات ۹۸۵ هجری کښې شوې دې، الله پاک پيدا کړو او د خدمت حديث دپاره ئې منتخب کړو، پس هغوی علم حديث د علماء حجاز نه حاصل کړو او هندوستان ته راتلو سره ئې هغې ته شهرت ورکړو، د هغوی نه پس د هغوی د شاګردانو نه دا سلسله شروع شوه لکه شيخ عبدالوهاب برهانپوري رحمه الله المتوفى ۱۰۰۱ هجرى او شيخ محمد طاهر پتني المتوفى ۹۷٦ هجرى چه د هغوی تصنيفات په علم حديث کښې ډير مشهور دي لکه مجمع البحار کوم ته چه د تمامو صحاح ستة شرح وئيلې کيدې شي، هم دغه شان تذکرة الموضوعات وغيره.

د دې نه پس بيا په يولسمه صدئ کښې دور راغلو د شيخ عبدالحق محدث البخاري ثم الدهلوي المتوفى ۱۰۵۲ هجرى، هغوی د حجاز مقدس نه فنِ حديث حاصل کړو، او په هندوستان کښې ئې دهلي دهغې مرکزِ اشاعت جوړ کړو، او په شروح حديث کښې ئې بعض اوچت کتابونه اوليکل، پس موصوف د مشکاة دوه شرحې اوليکلې، يو په عربئ کښې يعنى لمعات التقيح او يو په فارسئ کښې يعنى اشعة اللمعات بيا د هغوی په

اولاد او روستو خاندان کښې محدثين پيدا شو چا چه د حديثو شروحات اوليکل.

د دې نه پس په دولسمه صدئ کښې د شيخ المشائخ حضرت شاه ولی الله احمد بن عبدالرحيم دهلوي‌رحمه‌الله المتوفی ۱۱۷۶ هجری مبارک دور راغلو شاه صاحب حجاز ته تشريف يورو او د هغه ځائې د مشائخو خصوصا د شيخ ابوطاهر مدني‌رحمه‌الله نه ئې علم حديث حاصل کړو، او بيا ئې هندوستان ته د واپسئ نه پس په ديني خدماتو خصوصا د علم حديث په خدمت کښې مشغول شو، او هم د هغوی د زماني نه په هندوستان کښې د صحاح ستة د درس او تدريس سلسله شروع شوه.

او بيا په ديارلسمه هجرئ کښې د حضرت شاه صاحب نه پس د هغوی د اصحاب او اولادو سلسله روانه شوه، چه په هغوی کښې شاه عبدالعزيز صاحب‌رحمه‌الله المتوفی ۱۲۳۹هجری د هغوی د نيابت حق ادا کړو، او د هغوی نه پس د هغوی په شاګردانو کښې د هغوی نمسئ شاه محمد اسحاق صاحب مهاجر مکي‌رحمه‌الله المتوفی ۱۲۶۲هجری او بيا د هغوی په شاګردانو کښې شاه عبدالغني مجددی مهاجر مدني المتوفی ۱۲۹۶هجری چه د هغوی د درس حديث نه د هندوستان او حجاز د محدثينو يو جماعت تيار شو، پس د هغوی په شاګردانو کښې حجة الاسلام قاسم العلوم مولانا قاسم صاحب نانوتوی المتوفی ۱۲۹۷ هجری دې

او بيا په اخير کښې يعني په څوارلسمه صدئ کښې قطب الارشاد رأس الفقهاء والمحدثين حضرت مولانا رشيد احمد صاحب ګنګوهي المتوفی ۱۳۲۳ هجری دې چا د ډيرو کلونو پورې ټوله دوره په يواځې درس کوله، او دهغې نه پس د هغوی په شاګردانو کښې علماء دارالعلوم ومظاهر العلوم کوم چه ټول پيژنې، چه د هغوی نه خاص طور مونږ د مولانا محمد يحي صاحب کاندهلوی‌m ذکر کوو، ځکه چه هغوی زمونږ په سند کښې راځی، او دويم په دې وجه هم چه د حضرت ګنګوهي خدمات حديث او افادات درسيه د موصوف په وجه باندې د تاليفاتو په شکل کښې زمونږ ټولو وړاندې راغلی دی، او ددې نه پس بيا د هغوی ځوئ حضرت مولانا محمد زکريا الکاندهلوی ثم المهاجر المدني‌m دې، او هم د هغوی د شاګردانو په سلسله کښې مونږ هم داخل يو، الله پاک دې په حقيقت کښې هم زمونږ ددغه محدثين عظام په سلسله کښې شمول اوفرمائي، ځکه چه مو صورة په دې سند حديث کښې ددې حضراتو سره شمول اوشو نو د هغه د غير محدود رحمت نه څه بعيد دی.

اسناد ددې امت خصوصيت دې

علماء کرامو ليکلي دی چه اسناد يعنی باقاعده په حوالې سره نقل در نقل من أوله الی آخره په دې طور چه په هره زمانه کښې هر حديث لره په خپل سند سره صاحب حديث ته اورسوی، دا ددې امت محمديه د خصوصياتو نه ده، تيرو امتونو ته دا نعمت حاصل نه وو، علامه سيوطي‌رحمه‌الله ليکی د ارسال او اعضال سره د سند سلسله په ډيرو يهودو کښې

موندلې شي، خو هغوی خپل سند تر آخره پورې يعنې موسیٰ ﷺ ته او نه رسولې شو، بلکه د هغوی او د موسیٰ ﷺ ترمينځه ډيرې واسطې باقي پاتې کيږي کومې چه هغوی پوره نه کړې شوې، هغوی ليکي بل يقفون بحيث يکون بينهم وبين موسى اکثر من ثلاثين عصرا وانما يبلغون الى شمعون ونحوه. هم دغه شان د نصارىٰ په باره کښې ئې ليکلې دی چه هغوی هم په خپل سند کښې د شمعون او بولص نه وړاندې نه شی تلې، پس دا خصوصيت الله پاک صرف امت محمديه ته ورکړې دې چه هغوی د خپل نبی هر قول او فعل بلکه پوره حرکات و سکنات پوره په احتياط او سند متصل سره نقل کړې دی، امام مسلم ﷫ په مقدمه د مسلم کښې د عبدالله بن المبارک ﷫ دا ارشاد نقل کوی ﴿ الاسناد من الدين لولا الاسناد لقال من شاء ما شاء ﴾، او د حضرات محدثينو په نزد د سند ذکر کولو اهتمام نه صرف د احاديث نبويه او آثار صحابه ﷺ سره خاص دې، بلکه هغوی اقوال د ائمه هم په سند سره ذکر کوی، په جامع ترمذی کښې دا څيز په کثرت سره موندلې شی چه ډير کرته د اماماتو د اقوالو د ذکر کولو نه پس دهغې سند هم بيانوی.

سند بيانولو ته حاجت دې

دا يو ښکاره خبره ده چه يو حديث که هغه مرفوع وی او که موقوف وی بغير د سند نه ثابت او معتبر نه شی کيدې، د يو کس، دعالم او محدث اوچت شان هغه د سند د بيان نه نۀ شی مستغنی کولې، د بعض صحابه کرامو خو دا حال وو چه که هغوی ته به يو صحابی د رسول الله ﷺ حديث بيانولو کوم چه به هغه د نبی عليه السلام نه اوريدلې وو نو د هغه نه به ئې په سماع حديث باندې استخلاف کولو (چه اول تاسو په دې باندې قسم اوخورئ چه دا حديث ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دې) لکه چه د علیٰ ﷺ په باره کښې مشهوره ده، په دې بې مثال ضبط و احتياط اتقان او اهتمام سره د احاديثو دا ذخيره او زمونږ مضبوط دين نقل کړې شوې دې، بعض اکابرين فقهاء او صوفياؤ په خپلو تصانيفو کښې په استدلال او استشهاد کښې احاديث بغير د سند نه بيان کړی دی نو په هغې باندې روستنو علماء کرامو د اسانيدو د ذکر کولو دپاره مستقل کتابونه اوليکل. لکه نصب الرايه فی تخريج احاديث الهداية، التخليص الحبير او تخريج عراقی وغيره

تر کومې پورې چه په دنيا کښې د نشرو اشاعت اود طباعت سلسله نه وه قائمه شوې بلکه محدثين حضراتو به روايت حديث دخپل حفظ يا دخپل خاص کتاب نه چه دهغې نه د محدثينو په اصطلاح کښې په اصل سره تعبير کولې شی، بيانولو، تر هغه وخته پورې هرکس ددې خبرې مکلف وو چه حديث د سند سره واورې او محفوظ ئې کړی، او بيا په وخت د روايت دا حديث د خپل پوره سند سره طالبانو ته بيان کړی، خو نن صبا کتب حديث، متون حديث سره د سندونو طبع شوی او په ټوله دنيا کښې خوارۀ شوی دی، او

اوس هغه دور پاتې نه شو چه يو محدث طالبانو ته احاديث د خپل حفظ نه يا د خپل مخصوص مجموعې او ليک نه بيان کړي بلکه هم ددې کتابونو نه د سماع حديث او اسماع حديث سلسله قائم شوه، او ددې تصنيفاتو او کتابونو انتساب د هغوی د مصنفينو پورې نه صرف حد د شهرت ته بلکه حد د تواتر ته رسيدلی دی، نو اوس د هر طالب حديث يا محدث دپاره خپل سند هغې مصنفينو پورې بيانول يا هغې لره محفوظ ساتل د ثبوت حديث دپاره ضروري پاتې نه شوه، او بيا د سند وړاندې حصه يعنې د مصنفينو نه د رسول اللهﷺ پورې خپله په دې کتابونو کښې موجود ده.

غرض دا چه په دې زمانه کښې د ثبوت حديث يا د صحت استدلال بالحديث دپاره دا کافی ده چه په مروجه او مشتهره کتب حديث کښې د يو کتاب حواله پيش کړې شی خو په دې کښې هيڅ شک نشته چه خپل پوره سند بيانول او هغه محفوظ ساتل باعث د برکت او د فخر سرمايه ده. هم په دې وجه زمونږ د استاذانو عادت دې چه هغوی د کال په شروع کښې د کتاب د شروع کولو نه مخکښې خپل سند بيانوی، هم د هغوی په اتباع کښې مونږ هم خپل سند بيانوو.

د دې نه پس مونږ خپل اصل مقصود يعنې سند حديث بيانوو، دا خبره مخکښې ذکر شوه چه زمونږ بلکه د محدثين هند ټول سندونه ټول په ټوله د شاه ولی الله صاحبؒ سره يوځائې کيږي، زمونږ د حديث استاذان خصوصا د حضرت شيخؒ معمول په سند بيانولو کښې دا وو چه هغوی به خپل سند تر د شاه ولی الله صاحبؒ پورې بيانولو، او بيا د هغوی نه د وړاندې سند په باره کښې به هغوی فرمائيل چه شاه صاحب خپل سندونه ليکلی او شائع کړی دی، کوم چه مطبوع دی او ملاويږی، لکه الإرشاد إلى مهمات الإسناد. او ما د مثال په طور د شاه صاحب يو سند په مقدمه د اوجز کښې د خپل سند سره بيان کړې دې، که څوک غواړي نو هلته دې اوګوری، لهذا اوس د سند ګويا درې حصې شوې، يو زمونږ نه واخله تر شاه ولی الله صاحبؒ پورې، او دويمه حصه د شاه ولی الله صاحبؒ نه تر د صاحب کتاب پورې، او دريمه حصه د صاحب کتاب نه تر د رسول اللهﷺ پورې، دريمه حصه خو خپله په کتاب کښې موجود ده، دلته مونږ صرف اول حصه بيانوو.

زما د ابوداوٌد سند

اوس ددې کتاب يعنې زما د ابوداوٌد سند واورئ، ما ابوداوٌد شريف دوه کرته د دوؤ استاذانو نه لوستلې دې. په اول ځل ۱۳۸۰ هجری کښې کوم چه زما د دوره حديث کال وو، په دې کښې ما ابوداوٌد شريف د سابق ناظم حضرت مولانا محمد اسعد الله صاحبؒ نه لوستلې وو، ددې نه پس په ۱۳۸۸ هجری کښې چه کله احقر په اول ځل په مظاهر العلوم

کښې ابوداؤد درس کولو. هغه وخت ما دوباره ابوداؤد شریف د حضرت شیخ ﷫ نه اولوستلو .[۱]

بهر حال د بنده اول سند داسې دې. بنده دا کتاب روایت کوي د مولانا اسعد الله صاحب نه. هغوی روایت کوي د مولانا محمد یحیی صاحب کاندهلوی﷫ نه. هغوی روایة کوي د حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی﷫ نه. هغوی روایت کوي د شاه عبدالغني مجددي﷫ نه. هغوی روایت کوي د خپل والد ماجد ابوسعید مجددي﷫ نه. او هغوی روایت کوي د شاه عبدالعزیز﷫ نه.

د بنده دویم سند حدیث د حضرت شیخ﷫ نه دې. او د حضرت شیخ﷫ درې سندونه دي. دوه سندونه قراءة او یو سند اجازة. حضرت شیخ﷫ په ۱۳۳۴ هجری کښې د دورې اکثر کتابونه د خپل والد صاحب مولانا محمد یحیی کاندهلوي صاحب﷫ نه اولوستل. او دهغې نه پس ئې د ۳۵ هجری نه مسلسل تر څو کلونو پورې د دورې اکثر کتابونه د حضرت سهارنپوري﷫ نه اولوستل. په دې وجه د حضرت شیخ دوه سندونه خو قراءة شو. او دریم سند ئې اجازة دې.

د حضرت شیخ اول سند خو داسې دې. حضرت روایت کوي د مولانا محمد یحیی صاحب نه. هغوی د مولانا رشید احمد گنگوهي نه. هغوی د شاه عبدالغني مجددي نه. هغوی د شاه ابوسعید مجددي نه. او هغوی د شاه عبدالعزیز صاحب نه.

---

[۱] ددې صورت داسې وو چه د لامع الدراري املاء به حضرت شیخ په ما باندې کوله او په دې کښې به دحضرت روزانه کافي وخت لږیدلو. ددې دآخري جلد املاء هم به دغه کال پوره شوه. او دا هغه کال وو په کوم کال چه سنن ابي داؤد په رومبي خل ماته د لوستلو دپاره راکړې شوې وو او ددې سبق خول ماته حواله شوی وواو غرض داچه د املاء پوره کیدلو نه پس دحضرت شیخ کافي وخت فارغ شو. په دې باندې حضرت شیخ ماته اوفرمائيل چه زما د ابوداؤد نسخه په کوم کښې چه به ما سبق خودلو په هغې باندې زما حواشي او نکات دي. زما زړه غواړي چه زه خپل نکات او حواشي چه په هغې کښې ډیر د اشاراتو په شکل کښې اومجمل دی تا پرې پوهه کړم. په دې باندې ما عرض اوکړو چه په خانې ددې چه زه دستاسو صرف حواشي وغیره باندې خان پوهه کړم. باقاعده کتاب ستاسو نه اووایم. حضرت صاحب زما دا درخواست قبول کړو. بیا به حضرت صاحب ماته روزانه لږ لږ خومره چه به ما په مدرسه کښې ښودلو. هغومره به حضرت صاحب ماته ښودلو. اود کال آخره پورې بحمدلله کتاب پوره شو. دکال په آخر کښې به آخري ورځ د سبق کافي مقدار باقي پاتې وو. پوره کتاب الادب پاتې وو. د یخنۍ شپه وه په کومه ورځ چه د سحر کتاب ختمیدلو دهغې نه په مخکښې شپه کښې پوره کتاب الادب دحضرت شیخ صاحب نه د شپې دماسخوتن نه پس د شپې ۱۲ بجو پورې اووئیلو اوختم شو. د دورې د نورو مدرسینو ټول سبقونه پوره شوي وو. غالبا د رجب ۲۹ یا ۳۰ تاریخ وو. ما دسحر په رومبۍ گهنټه کښې دکتاب آخري سبق شروع کړو د خلورمې گهنټې تر آخره پورې مې ښودلو سره کتاب ختم کړو. دکتاب ختمولو نه پس زه دحضرت شیخ صاحب په خدمت کښې حاضر شوم. حضرت صاحب د شاباش او جزاک الله وغیره دعاگانې اوکړې. دغه وخت حضرت صاحب دسترخوان ته رارسیدلې وو نود حضرت صاحب سره په روټۍ کښې شریک شوم. هغوی سره یوځائې د روټۍ خوړلو د مخکښې نه معمول وو. داسې معلومیده چه په دې پوره وخت کښې دحضرت توجه زما د سبق ښودلو طرف ته وه نوّرالله مرقده وجعل الجنة مثواه وحشرنا معه.

د حضرت شیخ دویم سند داسې دې، حضرت شیخ روایت کوی د مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری نه، هغوی د مولانا محمد مظهر نانوتوی نه، هغوی د مولانا مملوک علی نانوتوی نه، هغوی د مولانا رشید الدین دهلوی نه او هغوی د شاه عبدالعزیز صاحب رحمه الله نه

د حضرت شیخ دریم سند کوم چه اجازة دې، هغه داسې دې، حضرت شیخ روایت کوی د مولانا عنایت الهی صاحب (د مدرسې مهتمم اول نه) هغوی روایت کوی د مولانا احمد علی محدث سهارنپوری نه، هغوی د شاه محمد اسحق صاحب نه، او هغوی د شاه عبدالعزیز صاحب نه رحمهم الله

د حضرت شیخ صاحب رحمه الله په اسانید ثلاثه کښې دریم سند کوم چه اجازة دې، دا که تاسو په غور سره اوګورئ نو معلومه به شي چه د شاه صاحب پورې یو واسطه کمه ده، په دې وجه هغه سند عالي شو، دا درې سندونه شو زمونږ د حضرت شیخ رحمه الله په دې کښې د حضرت خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله صرف یو سند راغلې دې.

خان پوهه کړئ چه د حضرت سهارنپوری رحمه الله هم درې سندونه دی یو خو هم هغه کوم چه ذکر شو

دویم دا چه حضرت سهارنپوری رحمه الله ته اجازتِ حدیث حاصل دې، د شاه عبدالغني مجددی نه، او د شاه صاحب سند پورته ذکر شو.

درېم سند داسې دې چه حضرت سهارنپوری رحمه الله ابوداؤد شریف د رمضان په میاشت کښې د مولانا عبدالقیوم صاحب بډهانوی رحمه الله نبیره شاه صاحب عبدالعزیز صاحب رحمه الله او دشاه محمد اسحاق دخوی نه اولوستلو، او مولانا عبدالقیوم صاحب بډهالوی رحمه الله شاګرد دې د شاه محمد اسحاق صاحب، د چا سند چه پورته ذکر شو

د دې نه علاوه دوه سندونه د حضرت سهارنپوری رحمه الله په سلاسل حجازیه کښې دی، کوم وخت چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په حجاز مقدس کښې تشریف فرما وو نو د بعض علماء حجاز نه هغوی اجازت حدیث حاصل کړې وو، عن الشیخ احمد دحلان، او عن السید احمد البرزنجي، دغه شان د حضرت سهارنپوری رحمه الله ټول پنځه سندونه شو چه په هغې کښې دوه سندونه قراءة دی، او باقي درې اجازة

په دې سلسله د اسانیدو کښې اوس تاسو هم شاملیږئ، دعاء اوکړئ چه الله پاک ددې ښلسلې د برکتونو نه مونږ ته هم راکړی او مونږ ته توفیق راکړی چه ددې خیال اوساتو، او ددې اکابر او مشائخو د اتباع توفیق دې رانصیب کړی آمین

قد تمت المبادی من مقدمة العلم والکتاب، والله ولی التوفیق والسداد وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العلمین، وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا ومولانا محمد واله وصحبه اجمعین.

بسم الله الرحمن الرحيم

ابتداء بالبسملة وترک حمدلة

مصنف رحمه الله خپل سنن په بسم الله باندې اكتفاء كولو سره شروع فرمائيلي دي او حمدله ئې نه ده ذكر كړې. ددې څه وجه ده؟ جواب دا دې چه د قرآن كريم د اتباع كولو د وجې نه قال تعالى ﴿ اقرأ باسم ربک الذى خلق ﴾ معلومه شوه چه د بسم الله نه ابتداء پكار ده، دغه شان په حديث كښې دى ﴿ كل أمر ذى بال لم يبدأ فيه ببسم الله فهو أبتر ﴾ هم دغه شان نورو حضرات مصنفينو متقدمينو هم په خپلو تصنيفاتو كښې كړې دى، لكه امام مالک رحمه الله په مؤطا كښې، امام احمد بن حنبل رحمه الله په مسند كښې او دغه شان په صحاح ستة كښې تولو

سوا د امام مسلم رحمه الله نه په بسم باندې اکتفاء کړې ده، حمدله ئې نه ده ذکر فرمائيلې.

اوس پاتې شو دا اشکال چه په يو روايت کښې راغلې کوم چه مصنف رحمه الله هم په سنن کښې راوړې دې او په هغې کښې د حمد ذکر دې ﴿ کل أمر ذی بال لا يبدأ فيه بحمد الله فهو اقطع ﴾ ګويا مصنف رحمه الله په خپل بيان کړی روايت باندې عمل اونکړو؟

علماء کرامو ددې ډير جوابونه کړی دی.

۱: په دې مقام باندې د ابوداؤد نسخې مختلف دی، په بعضو نسخو کښې د بسم الله نه پس حمد هم ذکر دې، په بذل المجهود کښې د هغه نسخې عبارت ليکلې شوې دې

۲: په دې روايت کښې د کتابت قيد نشته، بلکه صرف ابتداء بالحمد ذکر ده، کيدې شی چه مصنف رحمه الله د بسم الله د کتابت نه پس حمد په خپلې ژبې سره ادا کړې دی، لکه چه د امام احمد رحمه الله په باره کښې نقل دی چه هغوی به د روايت حديث په وخت صلی الله عليه وسلم په ژبه باندې وئيلو ليکلو به ئې نه

۳: هغه روايت په کوم کښې چه حمد ذکر شوې دې سندا ضعيف دې. دهغې په سند کښې مصنف رحمه الله کلام کړې دې په کتاب الأدب کښې هغه روايت ذکر دې

۴: ابتداء بالحمد مخصوص ده[۱]، په خطاب (يعنی بيان او تقرير) پورې کتاب او خطوط په دې کښې داخل نه دی، دليل په دې باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم طرز عمل دې هغه دا چه هغوی به هميشه خطبه په حمد سره شروع فرمائيله، الحمد لله نحمده الخ... او د خطبې په شروع کښې به ئې بسم الله نه لوستله، ددې بالمقابل د خطوط ابتداء به ئې صرف په بسم الله سره فرمائيله، مثلاً : بسم الله الرحمن الرحيم من محمد رسول الله الی هرقل الخ او په صلح نامه د حديبيه کښې دی بسم الله الرحمن الرحيم هذا ما قاضی عليه محمد رسول الله، وغيره وغيره

۵: حمد نه مقصود نفس ذکر دې نه مخصوص لفظ د حمد، لکه چه د مسند احمد په روايت کښې تصريح ده کل أمر ذی بال لم يبدأ بذکر الله فهو اقطع وابتر، او نفس ذکر په بسم الله سره حاصل شو

۶: حمد وائی د صفات کماليه اظهار ته او دا معنی يقينا په الرحمن الرحيم کښې حاصل شوه، دا جواب د حضرت شيخ رحمه الله د والد مولانا محمد يحيی صاحب رحمه الله خوښ وو

فائده : علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی چه دا چه کوم حضرات مصنفين د ابتداء بالبسمله او حمدله په رواياتو کښې تطبيق ورکوی چه يو ځائې کښې ابتداء حقيقی ده او يو ځائې کښې ابتداء اضافی ده، دا صحيح نه ده، ځکه چه حديث د بسم الله او حديث د حمد دواړه بيل بيل احاديث نه دی چه په دواړو کښې تعارض منلو سره دا جواب ورکړې شی بلکه يو روايت دې چه په هغې کښې اضطراب دې بعض راويان بسم الله او بعض حمد ذکر کوی.

---

[۱] ذکره مولانا شبير احمد عثماني نقلاعن الزرقاني، قلت قال الحافظ الذهبي إن من برکة العلم أن ينسب إلي قائله)

كتاب الطهارة

مصنف رحمه الله د ټولو نه مخکښې كتاب الطهارة ذکر کړو چه دهغې وجه ددې کتاب د نوم نه ښکاره ده هغه دا چه دا کتاب د سنن د قبیل نه دې او سنن په أنواع د کتب حدیث کښې هغه نوع ته وائی چه دهغې ترتیب د ابواب فقهیه په ترتیب باندې وی، او چونکه حضرات فقهاء کرام کتب فقه د کتاب الطهارة نه شروع کوی، په دې وجه امام ابوداؤد رحمه الله هم خپل سنن د کتاب الطهارة نه شروع اوفرمائیلو.

اوس دا سوال پاتې کیږی چه فقهاء د کتاب الطهارة نه ولې شروع کوی، نو ددې وجه دا ده چه د انسان تخلیق د عبادت دپاره شوې دې، د الله پاک ارشاد دې ﴿ وما خلقت الجن والإنس إلا ليعبدون ﴾ او أم العبادات او جامع العبادات صلوة دې، هم دغه شان د رسول الله ﷺ ارشاد دې ﴿ بني الاسلام على خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وإقام الصلوة الخ ﴾ په دې کښې رسول الله ﷺ په ټولو ارکانو باندې مونځ مقدم کړې دې او د مانځه دپاره څه شرطونه دی چه په هغې کښې اقوی شرط طهارت دې او دا ښکاره ده چه شرط همیشه په مشروط باندې مقدم وی د وجې د موقوف علیه کیدو نه، په دې وجه حضرات فقهاء او اصحاب السنن په خپلو کتابونو کښې كتاب الطهارة اول ذکر کوی.

د کتاب او باب اصطلاح : (١)

بعض علماء کرامو فرمائیلې دی چه که د مسائلو اعتبار بجنسها اوکړې شی یعنی جنس مسائل بیانول وی نو دهغې نه په کتاب سره تعبیر کولې شی ځکه چه جنس متعدد انواع ته جامع (شامل) وی او د کتاب معنی هم لغة جمع ده، او که د مسائلو اعتبار بنوعها اوکړې شی یعنی صرف یو نوع مسائل بیانول مقصود وی نو دهغې نه په باب سره تعبیر کولې شی، ځکه چه د باب معنی هم په لغت کښې نوع راخې او که بعض جزئیاتو لره د ما قبل نه ممتاز کولو سره بیانول مقصود وی نو دهغې نه په فصل سره تعبیر کولې شی، ځکه چه هغه د ماقبل نه مفصول او جدا دی، ددې دریو واړو ترمینځه په نسبت باندې تاسو ځان داسې پوهه کړئ لکه څنګه چه د مناطقه په نزد د جنس، نوع او صنف ترمینځه نسبت دې، یعنی جنس عام لکه الحیوان، نوع خاص لکه الانسان، او صنف أخص لکه الإنسان الرومی، دغه شان کتاب عام، باب خاص او فصل اخص دې. (٢)

د طهارة معنی او اقسام :

طهارة مصدر دې د طهر یطهر، د نصر او کرم نه (٣) ددې معنی لغوی ده ﴿ النظافة والتنزه عن

---

(١) د کتاب او د باب د اصطلاح استعمال د تابعینو د زمانې نه دې ځکه چه دا خبره صاحب منهل بیان کړې دې.

(٢) صنف وائی هغه نوع ته کوم چه مقید وی د یو قید سره، لکه الانسان الرومی.

(٣) د ابوداؤد شرح غاية المقصود کښې دا د باب نصر او ضرب نه لیکلې شوې دې په ظاهر کښې دا د کتابت غلطی ده صحیح لفظ ضرب نه دې بلکه قرب دې، حضرت په بذل کښې په دې باندې تنبیه فرمائیلې ده.

الاقذار والادناس ﴾ يعنې د ګندګئ او خيرو نه پاک او صفا كيدل، او شرعا طهارة وائي : د بې اودسئ يا خباثت د لرې كولو دپاره د قاعدې شرعيې مطابق أحد المطهرين يعنې اوبه يا خاوره استعمالول. نو د طهارت دوه قسمونه شو:

۱: إزله حدث. ۲: ازاله خبث.

بيا د اول دوه قسمونه دي، ۱: عن الحدث الأصغر كوم ته چه اودس وائي، ۲: عن الحدث الأكبر كوم ته چه غسل وائي، دلته مطلق او جنس طهارت مراد دې څکه چه د مصنفﷺ مقصود دواړو لره ذکر کول دي پس د قسم اول نه فارغيدو نه پس به قسم ثاني بيانوي.

د صوفياؤ په نزد د طهارة څو قسمونه دي، امام غزاليﷺ فرمائي ددې څلور قسمونه دي، ۱: تطهير الظاهر عن الحديث والخبث، ۲: تطهير الجوارح عن الحرام، ۳: تطهير القلب عن الرذائل، ٤: تطهير السر عما سوى الله تعالى، يعنې زړه د غير الله د تعلق نه پاكول، ع : پاک کن قلب مرا تو از خيال غير خويش، وقال ابو الطيب !

عذل العواذل حول قلبي التائه :: وهوى الأحبة منه في سودائه

بَابُ التَّخَلِّي عِنْدَ قَضَاءِ الْحَاجَةِ

باب دې په بيان د خاتله والي كې په وخت د قضاء حاجت كې

دلته دا سوال واردېږي چه مصنفﷺ د طهارة ابتداء په آدابو د استنجاء سره ولې اوفرمائيله؟ جواب دا دې چه حضرات فقهاء كرامو ﷺ ليكلي دي چه د اودس او غسل نه مخکښې د قضاء حاجت نه فارغيدل اولي او مستحب دي، پس هرکله چه دا خبره ده نو مناسب شوه چه د طهارة ابتداء د آدابو د استنجاء نه اوكړي شي چه ترتيب ذكرى د ترتيب خارجي مطابق شي، موږ د پوره كتاب د كتلو نه هم دا اندازه لګولې ده چه مصنفﷺ د ابوابو په ترتيب قائمولو كښې د وجود خارجي ترتيب لره ملحوظ ساتي كوم چه ډيره مناسبه طريقه ده، دويمه خبره دا ده چه د طهارة وجوب د انسان سره هغه وخت متعلق كيږي چه كله د مخكښې نه ناقض طهارة موجود وي ګيني بغير ددې نه تحصيل حاصل دې، او په نواقض الوضوء كښې كثير الوقوع څيز خارج من السبيلين يعنې بول و براز دى، نو دغه اودس واجبونكي طرف ته اشاره كولو دپاره دا ابواب مخكښې راوړلي شو

مصنفﷺ د آداب خلاء بيانولو دپاره تقريبا پنځويشت بابونه منعقد فرمائيلي دي او په هغه ټولو كښې ئې اداب د استنجاء بيان كړي دي، ابن العربي په عارضة الاحوذى شرح ترمذى كښې د استنجاء ديرش آداب ذكر فرمائيلي دي سبحان الله زموږ شريعت محمديه څومره جامع شريعت دې چه په دې كښې د استنجاء په شان د معمولي څيز دپاره دومره آداب دي. اللهم اجعلنا متادبين باداب الشريعة على صاحبها افضل الصلاة والتحية.

دلته چه مصنفﷺ اول كوم ادب بيان كړي دې هغه تخلي دې يعنې د استنجاء دپاره خلوت او يواځې والې اختيارول، د جاهليت په زمانه كښې به داسې كيدل چه خلقو به بغير د تكلف نه د يو بل مخې ته كيناستلو سره قضاء حاجت كولو او خپل مينځ كښې به ئې خبرې هم كولې، لكه چه دا مضمون پنځه شپږ بابونه پس به يو حديث كښې راځي،

اسلامي تعليماتو دا طريقه ختم کړه.

او په دې هم خان پوهه کړه چه هم ددې سلسلې يو بل باب په کتاب کښې راروان دې. باب الاستتار في الخلاء، دا دواړه ادبونه خانله خانله مستقل آداب دي، تخلي مستقل ادب دې او تستر مستقل ادب دې، تخلي به حاصليږي په انتقال مکاني کولو او خلقو نه لرې کيدو سره چه د آبادئ نه لرې لاړ شي، او د استتار دپاره ابعاد ضروري نه دې بلکه دهغې تعلق د آبادئ سره هم دې، پس که د استنجاء دپاره د آباد ځائې نه علاوه څه خالي مکان نه وي نو هم په هغه ځائې باندې به دا قائم کولې شي، هم په دې وجه مونږ اوونيل چه دا دواړه آداب بيل بيل او مستقل دي.

[۱]( )حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ بْنِ قَعْنَبٍ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو،عَنْ أَبِي سَلَمَةَ،عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ،"أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا ذَهَبَ الْمَذْهَبَ أَبْعَدَ".

ترجمه: حديث بيان کړې دې مونږ ته عبد الله بن مسلمه بن قعنب القعنبي، هغه وائي حديث بيان کړې دې مونږ ته عبد العزيز يعني ابن محمد، هغه روايت کوي د محمد نه يعني ابن عمرو نه، هغه روايت کوي د ابو سلمة نه، هغه روايت کوي د مغيرة بن شعبة نه، يقيناً نبي ﷺ به چه کله د اودس ماتي له تلو نو لرې به تلو.

تشريح: قوله:﴿ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ ﴾ په دې باب کښې مصنف رحمه الله دوه احاديث بيان کړې دي يو د مغيره بن شعبه رضي الله عنه او دويم د جابر بن عبد الله رضي الله عنه، د دواړو مضمون يو دې، خو په دويم حديث کښې لږ شان زيادت دې کوم چه به معلوم شي.

قوله : ﴿ كَانَ إِذَا ذَهَبَ الْمَذْهَبَ ﴾ يعنې رسول الله ﷺ چه به د قضاء حاجت دپاره تلو نو لرې والې به ئې اختيارولو يعنې د خلقو او د آبادئ نه، اوس دا چه څومره لرې به تلو، دا په دې حديث کښې ذکر نه دی، په راروان حديث کښې د بُعد مقدار بيان کړې شوې دې او په هغې کښې دي چه ﴿ حتى لا يراه احد ﴾، يعنې دومره لرې به تلل چه د خلقو د نظر نه غائب شي، او د استنجاء په وخت پرې د چا نظر پرينوځي. په معارف السنن کښې د جمع الفوائد په حوالې سره ليکلي شوي دی چه د طبراني په يو روايت کښې ددې بعد مقدار په دوه ميلو سره بيان کړې شوې دې يعنې دوه ميلو ته نژدې.

حکمت ابعاد: اوس دا خبره چه ددې ابعاد حکمت څه دې، علماء کرامو ليکلي دی چه اګرچه خان پټول يعنې د خلقو نه پرده او يواځې والې خو په آبادئ کښې هم حاصليدې شي، خو په لرې تلو کښې دا فائده ده چه په اطمينان سره به فارغ شي، که خلقو ته نژدې وي نو په اخراج ريح کښې به تامل کوی او حياء به ورځي، او د آبادئ والو هم په دې کښې مصلحت دې، ګندګي به د هغوی نه لرې وي، اګرچه د رسول الله ﷺ فضلات د رائحه کريهه نه محفوظ وو بلکه د هغوی په خصائصو کښې دا خبره منقول ده چه د هغوی فضلة به زمکه باندې نه ده

[1]: سنن الترمذي/الطهارة ١٦ (٢٠)، سنن النسائي/الطهارة ١٦ (١٧)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٢ (٣٣١)، (تحفة الأشراف: ١١٥٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٤/٤)، سنن الدارمي/الطهارة ٤ (٦٨٦) (حسن صحيح)

ليدلي شوي، زمکي به هغه تيروله.

(د لفظ ابعد تحقيق): قوله : ﴿ أَبْعَدَ ﴾ دا فعل متعدي دي کوم ته چه د مفعول احتياج دي کوم چه دلته نه دي ذکر کړي شوي تقدير د عبارت دا کيدي شي ﴿ ابعد نفسه عن الناس ﴾ او بعض شارحينو ليکلي دي چه ﴿ ابعد ﴾ دلته د فعل لازم په ځائي استعمال شوي دي، اى بعد عن الناس... او فعل متعدى د لازمى په ځائي بعض وخت مبالغه استعمالولي شي، لکه ﴿ زيد يعطي ﴾ يعني زيد ښه ورکړه کوي، او هم دغه شان دلته مبالغة مقصود ده او ترجمه به دا وى چه (ښه) لري به تلو.

(د لفظ المذهب تحقيق): قوله ﴿ الْمَذْهَبَ ﴾ په دي کښي دوه احتمالات دی يا مصدر ميمی دي يا ظرف مکان دي، او الف لام بهر حال عهد خارجي دي، يعني چه کله به تلو نو په مخصوص تللو باندي به تلو او د مخصوص تلو نه مراد د قضاء حاجت دپاره تلل دی، او په دويم صورت کښي به ئي ترجمه دا وی چه کله به رسول اللهﷺ تلو د تلو ځائي ته چه دهغي نه مراد بيت الخلاء ده. شارحينو ليکلي دی چه لفظ مذهب عرفا د بيت الخلاء په معنی کښي استعماليږي او هم دغه شان لفظ خلاء، مرفق، مرحاض او کنيف د دي ټولو يوه معنی راځي.

د دي حديث نه مصنفﷺ ترجمة الباب يعني تخلي ثابت کړي ده، په دي حديث کښي اګرچه لفظ د تخلي موجود نه دي خو دا معنی مصنفﷺ د ابعد نه راويستلي ده چه د لري والي نه مقصود د رسول اللهﷺ خلوت اختيارول وو، د حديث مطابقت د ترجمة الباب سره کله خو صريح يعني لفظا او معنی وی او کله صرف معنوی وی يعني په طريقه د استنباط، نو دلته هم دغه شان ده او که مصنفﷺ دلته په ځائي د تخلي باب الابعاد يا باب التباعد عند الحاجة قائم کړي وي، ځکه چه بعض مصنفينو امام نسائی او امام ابن ماجه کړي دی نو مطابقت به لفظا او معنی هر قسمه وي، خو په دي صورت کښي به په ترجمة الباب کښي څه مشکل او باريکی وي، اوس د استنباط يو شان پيدا شوي دي، امام ترمذیﷺ په دي حديث باندي دا ترجمه قائم کړي ده : باب ما جاء ان النبيﷺ کان اذا ذهب المذهب ابعد.... دا ترجمة بلفظ الحديث ده، او ښکاره ده چه په دي کښي هيڅ باريکی نشته، سادګی ده پکښي، په صحاح ستة کښي د ټولو نه زياتي آساني او ساده تراجم د ترمذی دی.

د صحاح سته د تراجم خپل مينځ کښي فرق او مرتبه :

مولانا انور شاه کشميریﷺ په عرف الشذی فرمائی چه په صحاح ستة کښي د ټولو نه اعلی تراجم خو د صحيح بخاری کښي دی هغه په دي معامله کښي سباق الغايات دی، او د بخاری بعض تراجم دومره باريک او ژور دی چه عقلونه ئي حيران کړی دی، د بخاری شارحينو د بخاری د تراجم حل کولو دپاره مستقل اصول مرتب کړل چنانچه حضرت شيخﷺ په مقدمه د لامع کښي تقريبا اويا اصول بيان فرمائيلي دی، غرض دا چه د بخاری تراجم د ټولو نه اعلی دی، او د هغه خور يعني صحيح مسلم، دهغي حال دا دي چه تراجم ندارد نه داسي او نه داسي، اګر که کتاب فی الواقع د مضمون په لحاظ سره مبوب او مرتب دي، خو عناوين او تراجم هغوی پخپله نه دی قائم کړی، روستو شارحينو قائم کړل،

او دهغې نه روستو درجه ده د نسائی د تراجم. دهغې تراجم کافي دقيق او وزنې دی کله خو د هغه ترجمه د بخاري د تراجمو سره بالکل يو شان شي. غرض دا چه دهغې حل کول هم کافي محنت غواړي. دهغې نه پس بيا درجه ده د ابوداؤد د تراجم. او دهغې نه پس بيا درجه ده د ترمذي د تراجم. په عرف الشذي کښې بس هم دومره ليکلي شوی دی زه وايم چه د سنن ابن ماجه تراجم هم صفا او واضح دي

[۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ حَتَّى لَا يَرَاهُ أَحَدٌ".

ترجمه: د جابر بن عبد الله نه روايت دي. يقيناً نبي ﷺ به چه کله اراده اوکړه دقضاء حاجت نو (دومره لرې تلو)تلو به تردې چه هيچا به نه ليدلو.

تشريح:قوله:﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ ﴾ براز د باء په فتحې او کسرې دواړو سره راځي. ددې معنی د وسيع او فراخه ميدان ده. ابن الاثير الجزری فرمائي چه اصل معنی خو ددې هم دا ده. خو بيا روستو د قضاء حاجت نه کنايه شوه. ځکه چه خلقو به په داسې ميدان کښې قضاء حاجت کولو. ځنګه چه خلاء په اصل کښې خالی کور ته وائي. او بيا دا مجازا د قضاء حاجت ځائې دپاره استعمال شو. دا چه مونږ اووئيل چه په براز کښې فتحه او کسره دواړه جائز دی دا د جوهري او صاحب قاموس رائې ده. خو خطابي مشهور شارح حديث دلته د کسرې نه انکار کړې دي او وئيلي ئي دی چه براز بالکسر خو د باب مفاعلت مصدر دی چه دهغې معنی مبارزت يعنی جنګ کښې د مقابلې ده خو دا صحيح نه ده جوهري ليکلي دی چه د براز بالکسر دواړه معنې راځي. مبارزت او مقابله او غائط يعنی د انسان د بدن نه چه کومه فضله وځي لهذا براز مشترک شو په دواړو معنو کښ

دفع التعارض بين الروايات الواردة في الباب

په حديث الباب کښې چه د رسول الله ﷺ کوم عادت شريفه بيان کړې شوې دې په هغې باندې دا اشکال پيدا کيږي چه د ابن عمر ﷺ د بيت حفصه والا روايت کوم چه په باب الرخصة في استقبال القبلة کښې راځي هغه ددې خلاف دې د هغې نه د رسول الله ﷺ په کور کښې قضاء حاجت کول ثابتيږي. حضرت په بذل کښې ددې دوه توجيهات ليکلي دی يا خو دې دا اووئيلي شي چه د رسول الله ﷺ عادت د لرې تلو د بناء الکنف في البيوت نه مخکښې دې يعنی چه کله په کوروڼو کښې بيت الخلاء نه وې بيا چه کله روستو په کوروڼو کښې بيت الخلاء جوړيدل شروع شو نو رسول الله ﷺ دا ابعاد ترک کړو. او يا دې دا اووئيلي شي چه د دې عادت شريفه کوم چه په دې حديث کښې ذکر دې. ددې تعلق د سفر سره دې. يعنی په سفر کښې چه به چرته منزل او پړاؤ وو هغه وخت به ئې نزدې استنجاء نه فرمائيله بلکه په فاصله باندې تلو سره به ئې استنجاء فرمائيله. په حضر کښې ئې دا عادت نه وو.

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۲ (۳۳۵)، (تحفة الأشراف: ۲۶۵۹)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/المقدمة ٤ (۱۷) (صحيح)

دلته يو سوال بل دي هغه دا چه د مصنف رحمه الله غرض جمع روايات او تكثير روايات نه دي، بلكه هغوى د ترجمة الباب د ثبوت دپاره يو حديث ذكر كول كافي گڼړي، لكه چه هغوى ددي خپل عادت تصريح په هغه رساله كښي كړي ده كوم چه د اهل مكه په نوم ده، چه دهغي ذكر په مقدمة الكتاب كښي راغلي دي په هغي كښي هغوى ليكلي دى چه كه زه په يو باب كښي د يو نه زيات احاديث راوړم نو د يوي كلمي او كلام د زيادت د وجي نه به وى، پس دلته په حديث ثانى كښي يو زيادت دي، يعنى مقدار ابعاد كوم چه په حديث اول كښي نه وو، په دي وجه ئي دويم حديث راوړلو.

(سوال): خو دلته سوال دا پاتي كيږى چه كه مصنف رحمه الله په يو باب كښي بغير د ضرورت او فائدي نه د يو حديث نه زيات راوړل نه غوښتل نو دهغي يو شكل دا وو چه صرف حديث ثانى به ئي ذكر فرمائيلي وي چه په هغي كښي د زيادت فائده ده.

(جواب): ددي جواب دا كيدي شي چه په اصل كښي حديث ثانى د حديث اول په اعتبار سره ضعيف دي په دي وجه مصنف رحمه الله دا مناسب او نه گڼړله چه قوى پريخودلو سره دي په ضعيف باندي اكتفاء اوكړي شي، په دي وجه ئي خو اصالة د قوت په وجه باندي حديث اول ذكر كړو، او په حديث ثانى كښي چه كوم ضعف وو هغه ئي د تائيد او د شاهد په درجه كښي راوړلو او په شواهدو كښي ضعيف احاديث هم چليږى، د ضعف وجه به وړاندي معلومه شي.

د سند متعلق بعض امور او اصطلاحات:

(حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ) : ځان پوهه كړئ چه تير كال تاسو په مشكاة شريف كښي صرف متون احاديث لوستلي دى، مشكاة شريف د اسانيدو نه خالى دي، هغوى صرف متون حديث اخستلي دى، اسانيد ئي حذف كړي دى هم په دي وجه د مشكاة شمار په تعاليق كښي كولي شى، او تاسو ته معلومه ده چه كتب الحديث مختلف الانواع دى، د هري نوع نوم بيل بيل دي، بهر حال دلته د دوري په كتابونو كښي متون حديث لره د اسانيدو سره بيانولي شى نو دلته يو مستقل كار بل زيات شو يعنى په سندونو باندي ځان پوهه كول او دهغي اصطلاحات وغيره پيژندل او دا چه ددي د لوستلو طريقه څه ده؟ وغيره وغيره

پس دلته د (حدثنا) قائل امام ابوداؤد رحمه الله دي، او ددي ناقل د امام ابوداؤد رحمه الله شاگرد ابو على لؤلؤى دي او عبدالله بن مسلمه د مصنف رحمه الله استاذ دي، د سند په ابتداء كښي حدثنا او او أخبرنا پوره ليكلي كيږى، او د سند په دوران كښي د اختصار دپاره حدثنا په ځائي ثنا يا، نا ليكلي شى، او اخبرنا لره انا ليكلي شى، بله دا چه په مينځ كښي د نا نه مخكښي قال هم محذوف وى، كوم چه په ليكلو كښي نه راځي، خو لوستل ئي ضرورى دى، لهذا دا سند به داسي لولو (حدثنا عبدالله بن مسلمة قال حدثنا عبدالعزيز) او بله دا چه هر سند دي د وبه قال نه شروع كړي شى كوم چه مخفف دي د (وبالسند المتصل منا الى المصنف)، ددي د اضافي ضرورت په دي وجه دي چه د هر حديث سند ممكل شى څكه چه په كتاب كښي خو سند صرف د مصنف رحمه الله نه شروع كيږى، اوس د سند د شروع حصه يعنى زمونږ نه د

مصنفﷺ پوري د راوړلو ضرورت دي نو په دي عبارت سره ددي سند غير مذكوره حصي طرف ته اشاره كيږي او هر استاذ او مدرس خپل سند د شروع نه واخله تر د كتاب د مصنفﷺ پوري په اوله ورځ باندي بيانوي او زمونږ او ستاسو سند په هر حديث د كتاب كښي د مصنف پوري يو دي، په دي وجه د هر حديث په شروع كښي د مصنفﷺ د سند نه مخكښي ﴿ وبه قال ﴾ لوستل د تكميل سند دپاره كافي دي، او كه څوك د سند په شروع كښي دا جمله او نه لولي نو كم از كم په ذهن كښي خو ئي دا خبره كيدل پكار دي

د لفظ ابن د لوستلو او ليكلو قواعد:

ځان پوهه كړه چه لفظ ابن د خپل ماقبل صفت او مابعد ته مضاف وي او چونكه د موصوف او صفت اعراب يو وي نو كوم اعراب چه د ابن نه د مخكښي اسم وي هم هغه اعراب به د لفظ ابن وي، لكه عبدالله بن مسلمة كښي ابن د عبدالله صفت دي، او عبدالله د فاعل كيدو په وجه باندي مرفوع دي هم دغه شان ابن هم مرفوع شو، او مسلمه د ابن مضاف اليه دي او په ټولو خايونو كښي دابن ما بعد مضاف اليه وي، لهذا په دي باندي به د مضاف اليه والا اعراب لوستلي كيږي.

بله قاعده د ابن دا ده چه كه دا د علمين متناسلين ترمينځه واقع شي او دهغي نه مخكښي اسم منون وي نو دهغي تنوين به ساقطيږي لكه: ﴿ مسددُ بن مسرهد ﴾ كښي مسدد منون وو خو د ابن د وجي نه به تنوين ساقطيږي. دا به مُسَددُ بْنُ مُسَرْهَدٍ لوستلي شي، او هم دغه شان به د ابن الف د كتابت نه حذف كولي شي، مګر دا چه د كرښي په شروع كښي واقع شي او كه د علمين متناسلين ترمينځه واقع نه وي نو هلته د ابن الف ليكلي شي او د ابن نه ماقبل چه كوم تنوين ساقطيږي هغه به هم باقي وي بلكه لوستلي به شي لكه حدثنا عبدالله بن مالكٍ ابنُ بحينة، دلته دويم ابن د علمين متناسلين ترمينځه نه واقع كيږي ځكه چه مالك د عبدالله پلار دي او بحينة د عبدالله مور ده، يعني دمالك زوجة نو مالك او بحينة خپل مينځ كښي متناسلين نه دي بلكه زوجين دي، او په ابن بحينة كښي لفظ ابن د ما قبل يعني د مالك دپاره صفت نه دي بلكه ددي نه چه كوم مخكښي اسم دي يعني د عبدالله صفت دي، ګويا د عبدالله دوه صفتونه شو يو دا چه هغه ابن مالك دي، دويم دا چه هغه ابن بحينة دي، دلته به د مالك نه پس د ابن الف ليكلي شي اګرچه لوستلي به نه شي، بله دا چه د مالك نه به تنوين هم نه ساقطيږي، دا د لفظ ابن د ليكلو او لوستلو قواعد دي چه ددي پيژندل د يو طالب حديث دپاره ضروري دي ګني هميشه به په ليكلو او لوستلو كښي خطاء كيږي، لهذا ښه ځان پوهول پكار دي د حديث د عبارت صحيح لوستل انتهائي ضروري دي، د ﴿ من كذب عليّ متعمدا فليتبوأ مقعده من النار ﴾ د لاندي اصمعيﷺ ليكي چه ماته ددي حديث په بناء د هغه طالب علم د طرف نه ډيره خطره او ويره وي كوم چه عبارت د حديث د قواعدو خلاف لولي ځكه چه رسول اللهﷺ خو به د قواعدو مطابق تلفظ فرمائيلو او دا ئي ددي حديث خلاف لوستلو سره د هغوي طرف ته منسوب كړي.

....

تحدیث او اخبار وغیره الفاظ کښې د فرق بحث:

اوس ددې ځائې نه د سند حديث يو خاص اصطلاح پيژندل ضروري دي هغه دا چه په (حدثنا) او (اخبرنا) کښې څه فرق دې؟ ځکه چه کله دا راځي او کله هغه، جواب دا دې چه د اخبار او تحديث ترمينځه خو لغةً هيڅ فرق نشته. خو د محدثينو په اصطلاح کښې څه فرق شته او که نه؟ نو په دې کښې د محدثينو دوه جماعتونه دي، متقدمين او متاخرين، متقدمين او اکثر علماء په دې کښې د فرق قائل نه دي، بلکه داسې اوايئ چه دا دواړه الفاظ په يو مفهوم باندې دلالت کوي، بعض اصحاب درس د ائمه اربعه هم دا مسلک ليکلې دې يعنې عدم الفرق او متاخرين ددې دواړو مفهوم جدا جدا بيانوي هغوي وائي چه (حدثنا) په هغه وخت وئيلې شي چه کله استاذ لوستلې وي او شاګرد اوريدلې وي او که ددې برعکس وي چه شاګرد ئې اولولي او استاذ ئې په غور سره واوري د نو دهغې دپاره لفظ د اخبرنا استعماليږي نو د متاخرينو په نزد د دواړو مفهوم مختلف شو.

د امام بخاري رحمه الله ضمير هم په متقدمينو کښې دې، هم دغه شان امام زهري او امام مالک، امام بخاري رحمه الله خو هم ددې مقصد دپاره په کتاب العلم کښې يو باب قائم کړې دې او دا ئې ثابت کړي دي چه په دواړو کښې هيڅ فرق نشته، او هغه باب دې باب قول المحدث حدثنا واخبرنا وانبانا، او متاخرين کوم چه په دې الفاظو کښې فرق کوي په هغوي کښې امام مسلم او امام نسائي رحمه الله خاص طور سره قابل ذکر دی لکه چه دلته شارحينو ليکلې دي او زه وايم چه هم دغه حال زمونږ د امام ابوداؤد رحمه الله دې هغوي هم په اخبار او تحديث کښې د فرق د وجې نه بعض وخت حاء تحويل راوړي.

او دريم قول دلته هغه دې کوم چه بعضو اختيار کړې دې چه سماع من لفظ الشيخ کښې خو مطلقا اخبرنا او حدثنا استعمالول پکار دی او که تلميذ قرائت اوکړي نو هغه وخت اخبرنا قراءةً عليه او حدثنا قراءةً عليه لوستل پکار دي، حاصل دا چه مطلق اخبار او تحديث خو د سماع من لفظ الشيخ دپاره استعماليږي او که شاګرد په استاذ باندې قراءت اوکړي نو هلته اخبرنا او حدثنا سره د قراءة عليه اضافه کول پکار دي.

يو قول دلته دادې چه بعضې محدثين (قيل ومنهم الامام النسائي) اخبار وي يا تحديث، د روايت په وخت ددې استعمال هغه وخت صحيح دې کله چه شيخ د اسماع قصد هم کړې وي لهذا که څوک طالب د يو محدث په مجلس کښې تبعاً شريک شي، او دغه شيخ ددې طالب د اسماع قصد نه وی کړي، نوبيا په داسې صورت کښې دې طالب ته د حدثنا يا أخبرنا وئيلو حق نشته. كما فعل أبوداؤد قرئ على الحارث بن مسكين وأنا شاهد وكذا الامام النسائي والبسط في الفيض السمائي).

يو اختلاف دلته دا دې چه په سماع لفظ الشيخ کوم ته چه متاخرين تحديث وائي او قراءة على الشيخ کوم ته چه اخبار وائي، په دواړو کښې د مرتبې په اعتبار سره افضل کوم يو دې؟ پس د اکثرو محدثينو رائې دا ده چه تحديث د اخبار نه افضل دې او د امام ابوحنيفه رحمه الله وغيره د بعض فقهاء کرامو رحمهم الله مذهب ددې خلاف دې يعنې اخبار اولى دې د

تحديث نه، او دريم قول دلته دا دي چه دا دواړه په مرتبې کښې مساوی دی، او هم دا قول د امام بخاری رحمه الله بيانولې شی.

د تحمل حديث طرق :

ځان پوهه کړه چه د حدثنا اخبرنا او انبانا نه علاوه نور هم الفاظ راځی، ددې ټولو د پیژندلو دپاره ددې ضرورت دې چه دا معلومه شی چه د تحمل حديث څومره طرق دی ځکه چه د هر طريق تحمل دپاره طريق تعبير بيل دې[۱] پس د دوئ بيان اوشو،

۱: سماع من لفظ الشيخ، ۲: قراءة علی الشيخ...

۳: او دريم طريق دې الاجازة من الشيخ مشافهة يعنی باقاعده لوستل خو د چا د طرف نه هم اونشی نه د استاد د طرف نه او نه د شاګرد د طرف نه، بس يو شيخ يو طالب حديث ته بالمشافهة د روايت حديث اجازت ورکړی د دې دپاره په وخت د روايت انبانا استعماليږی

۴: څلورم طريق المناولة ده چه دهغې مطلب دا دې چه شيخ يو طالب لره خپل اصل سماع يعنی هغه کتاب نه چه په هغې کښې د هغه مسموعات (روايات ليکلې شوې دی) بعينه هغه يا دهغې نقل ورکړی د روايت د اجازت سره چه زما د طرف نه تاته ددې د روايت کولو اجازت دې يا بغير د اجازت نه او دې صورت کښې به په وخت د روايت وئيلې شی حدثنی فلان مناولة يا ناولنی فلان.

۵: پنځم طريق د تحمل الکتابة والمکاتبة دې[۲] يعنی شيخ يو طالب ته يو حديث خپله اوليکی يا ئې په چا باندې اوليکی چاته چه ورکولې شی برابره خبره ده که هغه حاضر وی هغه ته ئې حواله کړی يا غائب وی خو ليکلو سره ئې هغه ته اوليږی، ددې بيا دوه قسمونه دی يو کتابت مجرده او دويم مقرونة بالاجازة

۶: شپږم طريق د تحمل هغه دې چه هغې ته په اصطلاح کښې الوجادة وائی، د وجاده مطلب دا دې چه يو طالب حديث ته د يو محدث يو کتاب چه په هغې کښې احاديث ليکلې شوې وی په څۀ طريقه حاصل شی دهغې دپاره طريق د تعبير ﴿ وجدت فی کتاب فلان يا فی اصل فلان ﴾ دې

فائده : دا معلومه شوې ده چه دا د تعبيراتو فرق د متاخرينو په نزد دې او د متقدمينو په نزد طريق تحمل خو هم هغه دی د کوم بيان چه پورته راغلې دې خو د هغوی په نزد طريق تعبير د هر يو جدا او مختلف نه دې

شرح السند :

قوله : ﴿ حدثنا عبدالعزيز يعنی ابن محمد ﴾ دا په عبد العزيز بن محمد الدراوردی سره مشهور

---

[۱] يعنی د روايت په وخت ځکه چه روايت حديث د تحمل حديث نه پس کيږی اود تحمل طرق چونکه مختلف دی په دې وجه ددې په لحاظ سره په روايت کښې الفاظ راوړلې شی کله حدثنا او کله اخبرنا وغيره.

[۲] په دې باندې دويم باب کښې نور کلام راروان دې

دي دراورد په خراسان کښې يو کلئ دي، دا راوی متکلم فيه او سئ الحفظ دي، د بخاری په راويانو کښې دي خو امام بخاری رحمه الله د هغوی روايت منفردا نه دې اخستلې بلکه مقرونا بغيره ئې اخستلې دې.

دلته په دې باندې ځان پوهول غواړی چه د يعنی اضافه ولې کړې شوې ده؟ جواب دا دې چه دا د حضرات محدثينو سخت احتياط کول دی چه راوی د خپل استاذ نه څومره لفظ اوريدلې وو د هغه د طرف نه زه هغه هومره نقل کوم او کوم څيز چه د هغه په نزد وضاحت ته محتاج وو، د خپل طرف نه ئې هغه وضاحت لره جدا کولو سره بيان کړو چه د شاګرد او د استاذ الفاظ مخلوط نه شی، حاصل دا چه عبدالله بن مسلمه د خپل استاذ عبدالعزيز نوم بغير د نسب نه بيان کړې وو، د هغوی ولديت ئې نه وو بيان کړې نو اوس مصنف رحمه الله د خپل طرف نه دا وضاحت فرمائی چه زما د استاذ عبدالله بن مسلمه مراد د عبدالعزيز نه عبدالعزيز بن محمد دې د يعنی لغوی معنی يريد ده په دې کښې چه کوم ضمير فاعل دې هغه عبدالله بن مسمله ته راجع دې او د دې يعنی قائل مصنف رحمه الله دې، مصنف رحمه الله فرمائی عبدالله بن مسلمه مراد اخلی د عبدالعزيز نه عبدالعزيز بن محمد.

قوله : ﴿ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ ﴾ دا ابوسلمة بن عبدالرحمن بن عوف دې د چا شمار چه په فقهاء سبعه[1] کښې کيږی د هغوی په نوم کښې اختلاف دې. بعضو وئيلې دی چه هم دا ابوسلمه نوم ئې دې، بعض وخت کنيت نوم وی او وئيلې شوې دی چه د هغوی نوم عبدالله دې وقيل اسماعيل. حضرت شيخ رحمه الله ليکلې دی چه شيخ سراج احمد سرهندی شارح ترمذی ته وهم راغلې دې، د هغوی نه ددې راوی په تعين کښې غلطی شوې ده، هغوی ليکلې دی چه ددې نه مراد منصور بن سلمه دې دا غلطه ده ځکه چه منصور بن سلمه په طبقه عاشره کښې دې د هغوی د صحابی سره خو څه چه د تابعی سره هم ملاقات نه دې شوې. نو بيا دلته د صحابی نه څنګه روايت کوی، دويم دا چه دا منصور بن سلمه د سنن ابوداؤد په راويانو کښې نه دې.

قوله : مسدد بن مسرهد، دا د اوچتې درجې محدث دې، امام ابوداؤد رحمه الله د هغوی نه په دې سنن کښې په کثرت سره روايت کوی د هغوی په باره کښې ليکلې شوې دی چه په بصره کښې چه د ټولو نه مخکښې مسند کوم چه د حديث يو خاص نوع کتاب دې، هم هغوی تصنيف فرمائيلې وو، د هغوی د نسب سلسله هم ډيره عجيب اوغريب ده کومه چه په بذل کښې ذکر شوې ده او د هغه نومونو يو خاصيت ئې هم ليکلې دې چه که هغه نومونه په يو کاغذ باندې اوليکلې شی او د تعويذ په طور د محموم يعنی تبې وهلی انسان په غاړه کښې واچولې شی نو غوره عمل دې، تبه به ترې لاره شی، زمونږ استاذ محترم ناظم صاحب

[1] يعنی سعيد بن المسيب، قاسم بن محمد بن ابی بکر، عروة بن الزبير، خارجة بن زيد بن ثابت، ابوسلمة بن عبدالرحمن بن عوف، عبيدالله بن عبدالله بن عتبه ابن مسعود، سليمان بن يسار (تدريب ص ۲۴۰ ج ۲) وقيل سالم بن عبدالله بن عمر بدل ابی سلمة بن عبدالرحمن. (معارف السنن ج ۱ ص ۱۳۵)

(مولانا اسعد الله ﷫ ډير اديب او نظيف الطبع وو. هغوى به په سبق كښې فرمائيل مسدد كاسمه مسدد، چه مسدد د خپل نوم په شان په حقيقت كښې هم مسدد دې اصل كښې د مسدد معنى مصلح او اصلاح كړې شوې دې په دې وجه ئې داسې اوفرمائيل.

قوله : ﴿ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ ﴾ د هغوى نوم محمد بن مسلم بن تدرس المكى دې، د هغوى شمير په مدلسينو كښې دې او دلته هغوى په طور د عنعنه روايت كوى په دې وجه په دې روايت كښې ضعف دې، د ضعف يو بله وجه هم ده چه په دې سند كښې اسماعيل بن مالک راوى كثير الوهم دې هم په دې وجه دا حديث د حديث اول نه سندا كمزورې دې، امام ابوداؤد﷫ اگرچه په دې روايت باندې سكوت فرمائيلې دې خو حافظ منذرى﷫ د اسماعيل بن عبدالمالک په وجه په دې كلام فرمائيلې دې، او د ما سكت عليه ابوداؤد مستقل علمى بحث دې كوم چه په مقدمه كښې تير شو

الحمد لله په باب اول باندې كلام پوره شو، په دې باب كښې ډير اهم مفيد او ضرورى اصطلاحات او ابتدائى بحثونه راغلى دى، دا ټول ځيزونه د حفظ قابل دى

بَابُ الرَّجُلِ يَتَبَوَّأُ لِبَوْلِهِ

باب دې په بيان د سړي كښې چې اودس ماتې لپاره ځائ كورى

(ماقبل سره ربط او مناسبت): ا د آداب استنجاء د سلسلې دويم باب دې چه ددې تعلق د بول سره دې او ددې نه مخكښې باب د براز متعلق وو لكه څنگه چه د تقابل تقاضه ده، بلكه غوره دا ده چه داسې اووئيلې شى چه په اول باب كښې چه كوم ادب ذكر كړې شوې دې يعنى تخلى هغه عام او مشترک دې دهغې تعلق د بول او براز دواړو سره دې او په دې باب سره مقصود يو بل ادب بيانول دى، يعنى نرمه زمكه اختيارول ددې تعلق خاص د بول سره دې، اول ادب مشترک دې او دويم ادب مختص دې د بول سره ﴿ يَتَبَوَّأُ ﴾ په معنى د ځائې حاصلولو، هم ددې نه دې مباءة چه دهغې معنى د منزل ده، مطلب دا شو چه د تشو متيازو دپاره انسان لره مناسب ځائې اختيارول پكار دى چنانچه د حديث الباب نه معلومه شوه چه متيازې په مكان دمث يعنى نرمه زمكه كښې كول پكار دى چه د متيازو د څاڅكو نه حفاظت راشى

اوس دلته د يوې مسئلې خبره پيدا شوه دا چه درشاش البول حكم څه دې؟ چنانچه ابن رسلان شارح ابوداؤد ليكلى دى چه د امام شافعى﷫ مذهب عدم العفو دې كه بدن وى او كه جامه وى خو امام نووى﷫ عفو ته زيات صحيح وئيلى دى د حرج د وجې نه، او زمونږ مذهب په درمختار كښې ليكلې شوې دې چه رشاش البول كه په بدن يا كپړا باندې پريوځى نو معاف دى، خو كه په اوبو كښې ګډ شى نو معاف نه دى، لږې اوبه به پرې ناپاكه كيږى، هغوى وائى لان طهارة الماء اوكد، يعنى د اوبو د طهارت مسئله ډيره اهم ده چه دهغې وجه ښكاره ده چه د اوبو نجاست دهغې د سيال كيدو د وجې نه متعدى دې په خلاف د ثوب او د بدن.

[۳]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو التَّيَّاحِ، قَالَ: حَدَّثَنِي شَيْخٌ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ الْبَصْرَةَ فَكَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي مُوسَى، فَكَتَبَ عَبْدُ اللهِ إِلَى أَبِي مُوسَى يَسْأَلُهُ عَنْ أَشْيَاءَ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ أَبُو مُوسَى إِنِّي كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ، فَأَرَادَ أَنْ يَبُولَ، فَأَتَى دَمِثًا فِي أَصْلِ جِدَارٍ فَبَالَ، ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَبُولَ فَلْيَرْتَدْ لِبَوْلِهِ مَوْضِعًا".

ترجمه: حديث بيان کړی دی موږ ته موسى بن اسماعيل، هغه وائی حديث بيان کړی دی موږ ته حماد، هغه وائی خبر راکړی دی موږ ته ابو التياح، هغه وائي: حديث بيان کړی دی شيخ، هغه وائی هر کله چه راغی عبد الله بن عباس بصري ته، نو احاديث به ئې بيانول د ابو موسى نه، نو اوليکل عبد الله ابو موسى ته چه پوښتنه ئې ترینه کوله د څه شيانو، نو اوليکل هغه ته ابو موسى، زه اوم د رسول الله ﷺ سره يوه ورځ، نو اراده ئې اوکړه چه تشې متيازې اوکړي، نو راغی يو نرم ځائي ته چه د ديوال دبيخ په خوا کښې وو نو بول ئې اوکړل، بيا رسول الله ﷺ اووئيل کله چه اراده اوکړي يو ستاسو نه چه بول اوکړي نو طلب دې کړي خپلو متيازو لپاره (نرم) ځای.

د حديث الباب تشريح

حديث الباب چه دهغې مضمون اوس پورته تير شو، راوی ابو موسى اشعری ﷺ دي او دا حديث هغوی د عبد الله بن عباس ﷺ په خدمت کښې د هغوی په تپوسلو باندې بصري ته اوليږلو چرته چه ابن عباس ﷺ مقيم وو، د تپوس کولو صورت حال دا جوړ شو چه ابن عباس ﷺ بصري ته د علي ﷺ د طرف نه والی ليږلي شوي وو هغوی هلته د رسيدلو نه پس د اهل بصره نه هغه احاديث واوريدل کوم چه اهل بصره د ابوموسى اشعری ﷺ نه روايت کول نو ابن عباس ﷺ د بعض هغه احاديثو په باره کښې کوم چه هغوی د اهل بصره نه اوريدلي وو د ابوموسى ﷺ طرف ته مراجعت اوکړو پس دهغې په جواب کښې ابوموسى ﷺ د ابن عباس ﷺ طرف ته حديث الباب ليکلو سره اوليږلو.

د نور وضاحت دپاره دا خبره پوهول پکار دی چه د عبد الله بن عباس ﷺ نه مخکښې په بصره کښې خپله د ابوموسى اشعری ﷺ قيام وو، هغه وخت هغوی د سيدنا عمر ﷺ د طرف نه د هغه ځائي عامل وو، اهل بصره چه د ابوموسى ﷺ نه کوم احاديث اوريدلي وو هغه په ظاهر کښې هم ددې زمانې د قيام وو.

دا خو شو د حديث الباب صحيح صحيح مفهوم، صحيح موږ ځکه اووئيل ځکه چه د بعض شارحينو نه دلته خطائی شوې ده، هغه دا چه هغوی ﴿فَكَانَ يُحَدِّثُ﴾ ئې په ځائي د مجهول په صيغې د معروف سره اولوستلو، چه په هغې سره مضمون کښې تغير واقع شو، يو خبره دلته پاتې شوه چه د روايت چه کوم الفاظ دی ﴿يَسْأَلُهُ عَنْ أَشْيَاءَ﴾ ددې نه خو معلوميږی چه د ابن عباس ﷺ د تپوس د څو احاديث متعلق وو او دلته په جواب کښې

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۱۵۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۹۶/٤، ۳۹۹، ٤١٤) (ضعيف)

صرف یو حدیث ذکر دې، اوس په دې کښې دوه احتمالات دی، یا خو د ابوموسیٰ ﷺ د طرف نه په جواب کښې یو حدیث لیکلې راغلو او یا دا چه دلته په روایت کولو کښې راوی اختصار کړې دې والله اعلم بالصواب.

﴿ قوله فَأَتَى دَمِثًا ﴾ دمث په کسرې د میم او سکون د میم دواړو سره دې په لغت کښې رخوه یعنی نرمې زمکې ته وائی چه په هغې کښې اوبه په تیزئ سره جذب کیږی، دا ئې د متیازو دپاره هم په دې وجه اختیار اوفرمائیلو، بلکه دا چه د دمث اطلاق مجازا په هغه سړی باندې هم کیږی کوم چه د نرم خوئی والا وی، پس د رسول الله ﷺ په صفتونو کښې راځی ﴿ د مث لیس بالجافی ای کان لین الخلق ﴾....... ﴿ فَلْيَرْتَدْ ﴾ ددې مصدر ارتیاد دې، ارتاد یرتاد ارتیادا، او په مجرد کښې، راد یرود رودا وریادا راځی چه دهغې معنی د طلب کولو ده.

دلته یو اشکال دې چه په متیازو کښې تیزی اوشوریت وی چه په هغې سره د دیوال بنیاد ته نقصان رسیږی نو رسول الله ﷺ د بل د دیوال په ویخ کښې ولې بول اوکړل، ظاهره ده چه د هغوی د شان نه دا بعیده ده چه د هغوی نه چاته نقصان اورسیږی، ددې ډیر جوابونه کړې شوې دی.

۱: دیوال عادی وو یعنی د چا په ملک کښې نه وو نو بیا څه باک دې

۲: کیدې شی چه رسول الله ﷺ د دیوال نه لرې ناست وی چه د هغه ځائې نه بول د دیوال ویخ ته نه رسیدل خو راوی د قرب د وجې نه دهغې نه مجازا په فی اصل جدار سره تعبیر اوکړو.

۳: کیدې شی چه رسول الله ﷺ ته د مالک رضا حاصله وی، د مالک د اذن نه پس هیڅ اشکال نه پاتې کیږی

۴: هغه د راپریوتلې کور نړیدلې دیوال وو کوم ته چه کهندر وائی، بیا څه نقصان دې.

الرواية بالكتابة

ددې حدیث د اصول حدیث یو مسئله هم معلومیږی هغه دا چه روایة بالکتابة جائز دې دا خبره مخکښې تیره شوه چه د تحمل حدیث د طرقو نه یو طریق کتابت هم دې اصولینو لیکلې دی چه د روایت بالکتابة دوه قسمونه دی، یو مجرده یعنی صرف حدیث لیکلو سره ورکړې شی، او دویم مقرونة بالاجازة یعنی شیخ یو طالب ته حدیث لیکلو سره ورکړی او ورسره د روایة اجازت هم ورکړی مثلا داسې اوائی ﴿ اجزتک ما کتبت لک ﴾ د جمهورو په نزد د کتابت دواړه قسمونه معتبر دی که مجرده وی او که مقرونة، بعض علماء لکه قاضی ابوالحسن ماوردی شافعی ﷺ کتابت مجرده لره معتبر نه ګنړی، د جمهورو په نزد دواړه صورتونه معتبر دی خو شرط دا دې چه مکتوب الیه د کاتب خط پیژنی، او بعضو د بینة شرط هم لګولې دې خو دا ضعیف دې

شرح السند

﴿ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ ﴾ دا حماد بن سلمه دې، په سندونو کښې دوه حماد زیات مشهور دی، یو حماد بن سلمه او دویم حماد بن زید، موسی بن اسماعیل اکثر د حماد بن سلمه نه روایت

کوي، (۱) د حماد بن زيد نه د هغوی روايات کم دي، علامه سيوطي رحمه الله ليکلي دي چه موسی بن اسماعيل چه کله مطلق حماد وائي نو د هغوی مراد دهغي نه حماد بن سلمه وی، ﴿ أبو التَّيَّاح ﴾ دا کنيت دي نوم ئې يزيد بن حميد الضبعي دي، شيخ مشر سړي يا استاد دواړه مراد کيدي شي، دا راوی مجهول دي، د مسند احمد په روايت کښې د لفظ شيخ په ځائې رجل اسود طويل واقع دي، ﴿ عَنْ أَبِي مُوسَى ﴾ د هغوی نوم عبدالله بن قيس رضي الله عنه دي

د راوی مجهول د روايت حکم

دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چه د راوی مجهول روايت معتبر دي او که نه؟ جواب دا دي چه په دې کښې تفصيل دي،

د مجهول دوه قسمونه دی، ۱: مجهول العين، ۲: مجهول الحال.

(مجهول العين): مجهول العين وائي ﴿ من لم يرو عنه الا واحد ﴾، يعني هغه راوی چه د چا نه روايت کونکي صرف يو کس وی، د مجهول العين د رواياتو په باره کښې دري اقوال دی ۱: مطلقا مقبول، ۲: مطلقا غير مقبول، ۳: دريم دا چه ددې مجهول العين نه راويت کونکي راوی که داسې وی چه د هغه عادت صرف د ثقه نه د روايت کولو وی نو بيا خو د داسې مجهول روايت معتبر دې ګڼلي غير معتبر، ځکه چه د بعض راويانو عادت وی چه هغوی صرف د ثقة نه روايت اخلي، لکه عبدالرحمن بن المهدی او يحيی بن سعيد الانصاری،

دويم قسم مجهول د مجهول الحال دي،

(مجهول الحال): د مجهول الحال بيا دوه قسمونه دی، ۱: مجهول الحال ظاهرا و باطنا، ۲: مجهول الحال باطنا لا ظاهرا، يعني د چا ظاهر حال خو بهتر وی خو د باطن د حال علم ئې نه وی، هم دې ته مستور هم وائي د جمهورو په نزد د قسم اول روايات مردود دي او د دويم يعني د مستور معتبر دي، او د احنافو په نزد د مستور د روايت معتبر کيدو دپاره شرط دا دي چه هغه د قرون ثلاثه نه وی ګينې معتبر نه دي

فائده: او په يو بله خبره هم ځان پوهول پکار دی چه دا ټول تفاصيل او اقسام د هغه مجهول په باره کښې دی کوم چه غير صحابی وی او که په سند کښې يو صحابی مبهم او مجهول مذکور وی نو په هغي سره څه فرق نه راځي، ځکه چه ﴿ الصحابة کلهم عدول ﴾ د جمهورو مسلک دې هم په دې وجه په کتب رجال کښې به د يو صحابی په باره کښې هم تاسو دا او نه وينئ چه د هغه په باره کښې ليکلي شوي وی چه ثقة دي حجة دي او مقبول دي ځکه چه صحابه کرام رضي الله عنهم توثيق ته محتاج نه دی او د جرح خو سوال نه پيدا کيږي

---

(۱) د موسی بن اسماعيل د حماد بن زيد نه روايت که تاسو کتل غواړئ نو ابواب المواقيت کښې باب من نام عن صلوة ونسيها دريم حديث اوګورئ په هغې کښې دی (حدثنا موسی بن اسماعيل نا حماد عن ثابت) دا روايت په نسائي او ترمذی کښې هم موجود دې هلته د حماد بن زيد تصريح ده)

بَاب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ

باب دي په بيان د هغې کې چې وايې سړی کله چې داودس ماتی خالي ته داخل شي

[۴]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَعَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ، قَالَ: عَنْ حَمَّادٍ، قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِ الْوَارِثِ، قَالَ: أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ".

ترجمه: د انس بن مالک ﷜ نه روايت دي، هغه وائی، وو رسول الله ﷺ کله چه به بيت الخلاء ته داخل شو نو وئيل به يې، د حماد نه روايت دي وايي «اللهم اني اعوذ بک» او د عبد الوارث نه روايت دي هغه وائی «اعوذ بالله من الخبث و الخبائث» اي الله زه پناه غواړم تا پورې د نارينو او د زنانو شيطانانو نه ابو داود وايي: روايت کړی دی شعبه د عبد العزيز نه «اللهم اني اعوذ بک» او کله ئې وئيلی دي «اعوذ بالله» او وئيلی دي وهيب «فليتعوذ بالله».

[۵]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَمْرٍو يَعْنِي السَّدُوسِيَّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ هُوَ ابْنُ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ، وَقَالَ شُعْبَةُ: وَقَالَ مَرَّةً: أَعُوذُ بِاللهِ، وَقَالَ وُهَيْبٌ: عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ، فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ.

ترجمه: روايت دي د انس ﷜ نه ددې حديث، هغه وائی: «اللهم اني اعوذ بک» او وئيلی دي شعبه: چه کله هغه وئيلی دي «اعوذ بالله» او وهيب چه د عبدالعزيز بن صهيب نه کوم روايت کړی دی په هغې کښې «فليتعوذ بالله» "پکار ده چه د الله پناه اوغواړی " الفاظ دي.

تشريح: د آداب خلاء نه يو ادب دا هم دې چه کله انسان بيت الخلاء ته د داخليدو اراده اوکړی نو هغه دعاء دې اووائی کومه چه ماثور او منقول ده ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ﴾ لکه چه په حديث الباب کښې دی او د سنن سعيد بن منصور په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ به ﴿ بسم الله أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ﴾ لوستلو، په دې روايت کښې د لفظ بسم الله زيادت دې، حافظ فرمائی چه دا زيادت په شرط د مسلم دې.

د جمهورو په نزد دا دعاء د دننه داخليدو نه مخکښې لوستل پکار دی، په دې کښې د بعض مالکيانو، ابراهيم نخعی، ابن سيرين او عبدالله بن عمرو بن العاص ﷜ اختلاف دې، د هغوی په نزد د داخليدو نه پس هم لوستلې شی، په منهل کښې يوه واقعه ليکلې شوې ده عزرمی ﷫ فرمائی چه زه شعبی ﷫ ته لاړم او ورته مې اووئيل چه که ماله په بيت الخلاء کښې اينکې راشی نو زه الحمد لله اولولم او که نه؟ هغوی اوفرمائيل نه چه

---

[1]: صحيح مسلم/الحيض ۳۲ (۳۷۵)، سنن الترمذي/الطهارة ٤ (٦)، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۲، ۱۰٤۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ۹ (۱٤۲)، الدعوات ۱۵ (٦۳۲۲)، سنن النسائي/الطهارة ۱۸ (۱۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۹ (۲۹٦)، مسند احمد (۱۰۱/۳، ۲۸۲)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۰ (٦۹٦) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الوضوء ۹ (۱٤۲)، الدعوات ۱۵ (٦۳۲۲)، سنن الترمذي/الطهارة ٤ (۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۲/۳) (شاذ)

ترڅو بهر نه ئې راغلې. هغوی وائي بيا زه ابراهيم نخعي ته لاړم ما د هغوی نه هم دا تپوس اوکړو، هغوی اوفرمائيل «إحْمَدِ الله فان الحمدَ يصعد ولا يهبط» آو هيڅ باک نشته، په بيت الخلاء کښې الحمد لله وايه ځکه چه الحمد لله د الله پاک ذکر او عمل صالح دې، هغه په پورته د آسمان طرف ته اوخيژي، لاندې طرف ته به نه راځي، په خلاف د نجاست چه هغه لاندې غورځيږي، دا اشاره ده د الله پاک د قول طرف ته ﴿ اليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح ﴾، بهر حال ددې واقعې نه د ابراهيم نخعي رحمه الله مسلک معلوم شو.

په حديث الباب کښې اګرچه د ﴿ إذَا دَخَلَ الْخَلاءَ ﴾ لفظ دې چه دهغې نه په ظاهر کښې دا معلوميږي چه دا دعاء دې بيت الخلاء ته د داخليدو نه روستو اولوستلې شي، خو د الادب المفرد په روايت کښې ﴿ اذا اراد ان يدخل الخلاء ﴾ واقع شوې دې چه په هغې سره ده خبره صفا شوه.

﴿ قوله مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ﴾ خبث د باء په ضمې او سکون دواړو سره لوستلې شي، د ضمې په صورت کښې د خبيث جمع ده، او د سکون په صورت کښې دوه احتمالونه دی يا خو دې داسې اووئيلې شي چه مفرد دې د مکروه او شر په معنی دې، او يا دې داسې اووئيلې شي چه دا هم جمع ده، باء تخفيفا ساکن کړې شوه، هسې قاعده هم دا ده چه په هر ذی ضمتين کښې ثاني تخفيفا ساکن لوستلې شي،

(دخبث او خبائث نه مراد): د خبث او خبائث په تفسير کښې درې اقوال دی

۱: د خبث نه مراد شيطانان سړی او د خبائث نه مراد زنانه شيطانانې دی

۲: دويم قول دا دې چه د خبث نه مراد قبائح او شرونه دی او د خبائث نه مراد معاصي دی

۳: او دريم قول دا دې چه د خبث نه مراد شياطين او د خبائث نه مراد نجاسات دی،[1]

او ددې دريم قول تشريح بعض ظرفاؤ دا کړې ده چه هر کله ﴿ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ﴾ وئيلو سره د شيطانانو نه پناه اوغوښتلې شوه نو اوس به هغه شياطين چه په بيت الخلاء کښې جمع دی د هغه ځائي نه منتقل او منتشر شی، اوس ددې انتقال او انتشار د وجې نه احتمال وو چه نجاست ورسره اولګی په دې وجه اووئيلې شو ﴿ والخبائث ﴾ يعني د نجاساتو نه هم پناه غواړم.

شرح السند :

﴿ قوله قال عن حماد الخ ﴾ دلته د مصنف رحمه الله استاذ الاستاذ دوه دی، حماد بن زيد او عبدالوارث، د دواړو الفاظ مختلف دی، په دې وجه مصنف رحمه الله هغوی ممتاز کوی چه مسدد د حماد نه چه کوم نقل کوی په هغې کښې دی ﴿ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ ﴾ او مسدد چه د عبدالوارث نه دا نقل کړې دې په هغې کښې په ځائي د ﴿ اللهم ﴾ لفظ د ﴿ اعوذ بالله ﴾ دې.

[1] او وئيلې شوی دی د خبث نه مراد خباثت يعني فسق اوفجور او د خبائث نه مراد افعال ذميمه او خصال رديه.

ددي تشريح نه معلومه شوه چه د قال ضمير د مسدد طرف ته راجع دي، وراندي حديث راروان دي د شعبة، ځنگه چه حماد او عبدالوارث دواړه دا حديث د عبدالعزيز نه روايت کوي، دغه شان شعبه هم دا حديث دعبدالعزيز نه روايت کوي د شعبه د روايت نه معلومه شوه چه دا د ﴿ اللهم ﴾ او د ﴿ اعوذبک ﴾ اختلاف خپله د عبدالعزيز د طرف نه دي، هغوی کله داسې وائي او کله هغه شان، لهذا دا نه شي وئيلي کيدي چه په تير روايت کښي چه د حماد او عبدالوارث کوم اختلاف بيان کړي شوي وو دهغي تعلق د هر يو تن ياد او حفظ سره وو، يو ته دغه شان ياد پاتي شو او بل ته هغه شان، بلکه دا په فهم کښي راغله چه خپله د استاذ نه دواړو طريقو سره نقل دي.

﴿ قوله وَقَالَ وُهَيْبٌ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ ﴾، د حديث الباب دا څلورم طريق دي، او وهيب د عبدالعزيز شاگرد دي، هغوی حديث اولنه کړو، مخکښې دري راويانو حديث، حديث فعلي گرځولي وو، يعني د رسول الله ﷺ عمل ئي نقل کړو چه هغوی به داسې کول او دوی حديث، حديث قولي جوړ کړو، يعني د رسول الله ﷺ ارشاد چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا دعاء لوستل پکار دی، د وهيب روايت په ظاهر کښي تعليقا دي ځکه چه ددي سند ابتدائي حصه مصنف رحمه الله نه ده ذکر کړي او دا هم احتمال دي چه د مصنف رحمه الله مراد دا وی چه ﴿ وقال وهيب اى بالسند المذکور ﴾ نو په دي صورت کښي به دا تعليق نه وی بلکه حديث موصول به وی

[۴]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ، فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ".

ترجمه: د زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دي، چه رسول الله ﷺ وئيلي دی: يقينًا دا بيت الخلاء د شيطانانو د حاضريدو ځايونه دی، چه کله يو کس ستاسو نه داخل شي خلاء ته نو اودي وائي «أعوذ بالله من الخبث والخبائث» زه د الله پناه غواړم د ناپاکه جناتو سرو او دناپاکه جناتو ښځونه".

تشريح: ﴿ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ ﴾ دا د دي باب دويم حديث دي، په دي کښي د دعاء مذکور نه علاوه علت استعاذه بيان کړي شوي دي، او هغه دا چه بيوت الخلاء د شيطانانو د حاضريدلو محل دي، لهذا هغي ته د داخليدو په وخت دالله تعالى نه استعاذه کول پکار دی، او بيوت الخلاء محتضر يعني محل د حضور شياطين ځکه دي چه هغه د ذکر الله نه خالي وی، چرته چه ذکر او د الله پاک نوم نه شي اخستلي هلته شيطانان ځان رارسوی، ددي نه معلومه شوه چه ذکر الله د شيطانانو نه د بچ کيدو ذريعه ده په کوم ځای کښي چه د الله پاک ذکر تنوخي هلته د شياطينو تصرف زيات نه وی، د ترمذی د روايت نه معلوميږی کوم

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۹ (۲۹۶)، سنن النسائي/اليوم والليلة (۷۵، ۷۶)، (تحفة الأشراف: ۳۶۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۶۹، ۳۷۳) (صحيح)

چه هغوی په كتاب الامثال كښې ذكر كړي دي چه د ذكر مثال د يو محفوظ او مضبوط قلعه په شان دي څنګه چه انسان د دشمنانو او ډاكوانو د تعاقب نه د يو مضبوطې قلعه په ذريعه په سهولت سره بچ كيدې شي هم دغه شان د شياطينو د اثراتو نه د ذكر په ذريعه بچ كيدې شي ګينې دوی څوك هم نه پرېږدی

﴿ قوله إنَّ هٰذِهِ الْحُشُوشَ ﴾ دا د حُش په ضمې د حاء سره جمع ده او بعضو دا مثلث يعني په حاء باندې درې واړه حركتونه لوستلي دی، دا وئيلې شي د كهجورو هغه ګنړو اونو ته چه په يو ځائې باندې ولاړې وی، چونكه عام طور سره انسان چه كله په ځنګل كښې وی نو د اونو شاته كيناستلو سره استنجاء كوی په دې وجه حشوش وئيلو سره مجازاً د قضاء حاجت ځائې مراد كولې شي.

دلته يو طالب علمانه اشكال كيدې شي. هغه دا چه ددې حديث نه معلوميږی چه د اونو لاندې ناسته كولو سره استنجاء كيدلې شي نو بيا به دا حديث د ﴿ اتقوا اللاعنين ﴾ حديث خلاف شي. كوم چه په روستو باب كښې راروان دې، چه په هغې كښې د خلقو د سورو په ځايونو كښې د استنجاء كولو نه ممانعت دې؟ ددې جواب به د هغه مقام تقرير كتلو سره حل شي. دلته صرف تنبيه اوكړې شوه.

خان پوهه كړئ چه د زيد بن ارقم رضي الله عنه په دې حديث كښې اضطراب دې كوم چه امام ترمذي رحمه الله په خپل كتاب كښې په تفصيل سره بيان كړي دی. په دې اضطراب سره دا خبره هم معلومه شوه چه بعض راويانو دا حديث د انس رضي الله عنه طرف ته منسوب كړي دي او اكثر حضراتو زيد بن ارقم رضي الله عنه ته منسوب كړي دي او صحيح هم دا ده چه ددې راوی زيد بن ارقم دې، د انس رضي الله عنه طرف ته ددې نسبت وهم دې.

بَابُ كَرَاهِيَةِ اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ عِنْدَ قَضَاءِ الْحَاجَةِ

باب دې په بيان د كراهيت د مخ كولو قبلې ته په وخت د قضاء حاجت كې

د خلاء د آدابو نه يو ادب دا دې كوم چه دلته ذكر كولې شي چه قضاء حاجت يعنې د بول او براز په وخت نه قبلې ته مخ كول پكار دی او نه شا كول په دې سلسله كښې مصنف رحمه الله دوه ابواب قائم كړی دی، په اول باب كښې ئې مطلقا د ممانعت روايات ذكر فرمائيلي دی، او ددې نه روستو په بل باب كښې ئې د جواز استقبال روايات بيان كړی دی. چونكه په ظاهره كښې په رواياتو كښې اختلاف دې په دې وجه په علماء كرامو هم اختلاف پيدا شو پس په دې كښې اته مذاهب مشهور دی

مذاهب الائمة فی مسئلة الباب

۱: المنع مطلقا ددې قائل احناف، ابن حزم ظاهری رحمه الله او بعض مالكيان دی لكه ابن العربی.

۲: الجواز مطلقا ددې قائل عروة بن الزبير رضي الله عنه، ربيعة الرأی، د امام مالك رحمه الله استاذ او داؤد ظاهری دی

۳: الفرق بين الصحراء والبنيان يعنې صحراء كښې كراهت او په آبادو كښې دننه جواز بلكه په

صحراء كښې هم كه يو ځيز په مينځ كښې حائل شي نو جائز دي، دا د ائمه ثلاثه او اسحق بن راهويه مذهب دي

۴ الفرق بين الاستقبال والاستدبار، يعنى استقبال مطلقا ناجائز او استدبار مطلقا جائز دي كه صحراء وي او كه آبادي، دا د امام ابوحنيفه رحمه الله او د امام احمد رحمه الله يو روايت دي

۵ النهي للتنزيه، په استقبال او استدبار دواړو كښې كراهت تنزيهى دي، دا هم د امام ابوحنيفه رحمه الله او د امام احمد رحمه الله نه يو روايت دي

۶ (صرف استدبار صرف بنيان) صرف استدبار صرف په آبادئ كښې جائز دي، باقي درې صورتونه يعنى استقبال فى البنيان، استقبال فى الصحراء، استدبار فى الصحراء دا درې واړه ناجائز دى، دا د امام ابويوسف رحمه الله يو روايت دي.

۷ النهي يشمل القبلتين، يعنى قبله منسوخه بيت المقدس او غير منسوخه بيت الله شريف دواړو ته استقبال او استدبار ممنوع دي، دا د ابراهيم نخعي او ابن سيرين نه منقول دى.

۸ النهي يختص بأهل المدينة ومن على سمتهم : چه د استقبال او استدبار ممانعت صرف د اهل مدينه او د هغه خلقو دپاره دي چه د چا قبله هم هغه طرف ته ده كوم طرف ته چه د اهل مدينة ده او د اهل مدينه قبله د جنوب په طرف ده، دا قول نقل دي د ابوعوانه رحمه الله نه كوم چه د مزني شاګرد دي

دويم اختلاف دلته دا دي چه د منع علت څه دي؟ د جمهورو په نزد علت د منع احترام قبله دي چه د قضاء حاجت په وخت استقبال او استدبار كښې د قبلې بې حرمتى ده، او د شعبي په نزد احترام مصلين دي، يعنى په صحراء كښې چه كوم ملائک او پيريان مونځ كوي د هغوى د رعايت او احترام د وجې نه ممانعت دي، يو بل اختلاف دا دي چه په دې استقبال او استدبار كښې بې حرمتي د څه وجې نه ده؟ بعضو وئيلي دى د خروج نجاست د وجې نه، او بعض وائي چه د كشف عورت الى القبلة د وجې نه دي. لهذا په كومو ځيزونو كښې چه خروج نجس يا كشف عورة موندلې شي نو د هغه كارونو په وخت به هم استقبال او استدبار ممنوع وي، پس په فصد او حجامة كښې خروج نجاست دي او وطى، ختان او استحداد كښې كشف عورة دي، لهذا ددې ټولو كارونو په وخت به هم استقبال مكروه وي او هسې خو زمونږ په نزد وطى مستقبل القبلة مكروه تنزيهى او تغوط مكروه تحريمى دي

[۷]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قِيلَ لَهُ: لَقَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ، قَالَ: أَجَلْ، لَقَدْ "نَهَانَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ، وَأَنْ لَا نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ، وَأَنْ لَا يَسْتَنْجِيَ أَحَدُنَا بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، أَوْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ عَظْمٍ".

(): صحيح مسلم/الطهارة ۱۷ (۲۶۲)، سنن الترمذي/الطهارة ۱۲ (۱۶)، سنن النسائي/الطهارة ۳۷ (٤۱)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۶ (۳۱۶)، (تحفة الأشراف: ٤۵۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/٤۳۷، ٤۳۸، ٤۳۹) (صحيح)

ترجمه: روایت دی د سلمان ﷺ نه هغه وائي، اوونیل شو هغه ته. یقیناً ښودلي دي تاسو ته ستاسو نبي هر یو شی تر قضاء حاجت د طریقې پورې، هغه اوونیل آو، یقیناً موږ منع کړي یو رسول الله ﷺ د مخ کولو نه قبلي ته په وخت د ډک اودس ماتي کښې او تش اودس ماتي کښې. او دا چه موږ به استنجاء نه کوو په ښي لاس. او استنجاء به نه کوي یو کس زموږ نه په کم د دریو کاڼړو نه. او یا موږ استنجاء اوکړو په خوشایانو او یا په هډوکي باندي

تشریح: قوله ﴿عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قِيلَ لَهُ ﴾ د حدیث مضمون دا دي چه سلمان ﷺ ته بعض خلقو اعتراضا اووئیل، او داسي ویونکی مشرکان وو، لکه چه د مسلم شریف او د ابن ماجه په روایت کښي دی ﴿ لَقَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ ﴾ چه ستاسو نبي ﷺ عجیبه سړي دي چه تاسو ته د وړو وړو خبرو تعلیم درکوي تردي چه د قضاء حاجت طریقه درته هم ښائي، (آیا دا خبري د انبیاء (ﷺ د بیانولو دی، د انبیاء کرامو تعلیمات خو ډیر اوچت کیدل پکار دی)

قوله :﴿ الْخِرَاءَةَ ﴾ د خاء په کسرې او فتحې دواړو سره جائز دي ددې معنی د قضاء حاجت ده، او په غائط یعنی فضله باندې هم ددې اطلاق کیږی بعضو په دې کښې د فتحې او د کسرې فرق کړې دې، په یو صورت کښې یو معنی او په بل صورت کښې بله معنی، بعضو وئیلي دی چه دواړه معنو کښې مشترک دی

قوله :﴿ قَالَ أَجَلْ ﴾ سیدنا سلمان ﷺ ددې اعتراض کونکې جواب ډیر په موثر انداز کښې ورکړو، یعنی جواب په طریقه د حکیم ئې اختیار کړو او دا ئې اوفرمائیل چه او .. بیشکه هم دغه شان ده لکه څنګه چه ته وائې، زموږ نبي ﷺ موږ ته واقعی د هر وړوکی او لوئې څیز تعلیم راکړی دې او د هر یو څیز آداب ئې راته ښودلي دی. مطلب دا چه دا خو د صفت خبره ده نه د اعتراض. د جواب علی اسلوب الحکیم مطلب دا وی چه د سائل د حال او موقع محل مطابق جواب ورکړې شی که هغه په سوال باندې منطبق کیږی او که نه لکه ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ الآية ﴾ او ددې نه زموږ د شریعت محمدیه مطهره جامعیت هم معلومیږی چه ددې تعلیمات څومره کامل او مکمل دی. او ولې به نه وی چه د الله پاک ارشاد دی ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي ﴾ الآية... الحمد لله الذی هدانا للإسلام.

﴿ قوله وَأَنْ لَا نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ ﴾ دا لاء زائده ده لکه چه ښکاره ده. استنجاء بالیمین د شوافعو او حنابله په نزد مکروه تنزیهي ده او د اهل ظواهر په نزد حرام ده او د احنافو په نزد مکروه تحریمي ده.

په استنجاء کښې مباحث اربعه :

﴿ قوله : وَأَنْ لاَ يَسْتَنْجِيَ أَحَدُنَا بِأَقَلَّ مِنْ ثَلاثَةِ أَحْجَارٍ ﴾ خان پوهه کړه چه په استنجاء کښې څلور بحثونه دي. ۱: تحقيقه لغة، ۲: حکمه شرعا، ۳: عدد الأحجار، ٤: الاستنجاء بشئ نجس.

پس خان پوهه کړه چه استنجاء ماخوذ ده د نحو نه د نجو معنى د غائط ده پس د استنجاء معنى شوه غسل مواضع النجو ومسحه چه مقعد لره وينځل يا په کاڼړي لوټي سره صفا کول

دويم بحث د استنجاء حکم شرعي دي، پس دا مسئله مختلف فيه ده، د ائمه ثلاثه او داؤد ظاهري په نزد مطلقا واجب دي. او د احنافو په نزد سنت ده، هم دا يو روايت د امام مالک رحمه الله نه دي او دا هغه وخت دي چه نجاسة د مخرج نه متجاوز نه وو کينې بيا زمونږ په نزد هم واجب ده [۱]

دريم بحث هم اختلافي دي د احنافو او مالکيانو په نزد په استنجاء کښې ايتار بالثلاث ضروري نه دي، بلکه مقصود انقاء د محل ده د انقاء محل دپاره چه هر څومره احجار کافي شي دهغې استعمال ضروري دي، ابتداء هيڅ عدد متعين نه دي، د داؤد ظاهري رحمه الله هم دا مذهب دي سره ددې چه هغه ظاهري دي، او ددې بالمقابل د امام شافعي او احمد رحمهما الله په نزد ايتار بالثلاث واجب دي په سبيلين کښې د هر يو دپاره درې درې لوټي ضروري دي، او که يو کاڼړي د طرفونو والا وي يعني دهغې ډيرې کنارې وي نو بيا د هغوی په نزد هر طرف قائم مقام د يو کاڼړي دي، پس که په يوه لوټه کښې درې ارخونه وي نو هغه د هغوی په نزد د دريو لوټو قائم مقام دي، په دلائلو باندې کلام به انشاء الله په باب الاستنجاء بالأحجار کښې راشي.

څلورمه مسئله هم مختلف فيه ده، د امام شافعي، احمد او اهل ظواهر په نزد په شئ نجس سره استنجاء ناجائز ده، او د احنافو په نزد په شئ نجس سره د استنجاء تحقق کيدې شي، په دې شرط چه د مقام إنقاء اوشي، او د مالکيانو مذهب هم تقريبا هم دا دي، لهذا په روث او رجيع سره به استنجاء د شوافعو او حنابله په نزد جائز نه وي او د احنافو او د مالکيانو په نزد به جائز وي خو مع الکراهة، خو دلته يو بل اختلاف دې هغه دا چه د امام مالک رحمه الله په نزد د ماکول اللحم ځناور روث او رجيع پاک دي، صرف د غير ماکول ګندګي د هغوی په نزد ناپاکه ده نو د هغوی په نزد د ماکول اللحم ځناور په رجيع سره استنجاء کول جائز مع الکراهة دي، او د غير ماکول رجيع اګر که کافي کيدې شي خو سره د حرمت نه ددې مسئلې دلائل په راتلونکي باب، باب ما ينهي عنه ان يستنجي به کښې به ذکر کړې شي په دې حديث کښې د استنجاء ډير آداب او مسائل راغلل خو د مصنف رحمه الله غرض صرف د

---

[۱] اصل کښې د مخرج نه په زياتي کيدو کښې تفصيل دي، که مقدار متجاوز د درهم نه کم وي نو دهغې ازاله مستحب ده او بغير د ازالې نه مونځ مکروه تنزيهي دي، او که مقدار متجاوز بقدر الدرهم وي نو دهغې ازاله واجب ده او بغير د ازالې نه به مونځ مکروه تحريمي وي او که مقدار متجاوز د يو درهم نه زيات وي نو دهغې ازاله فرض ده بغير دهغې نه به مونځ صحيح نه وي)

یو جز، ﴿لَقَدْ نَهَانَا –صلى الله عليه وسلم– أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ﴾ سره متعلق دي.

توزيح السند: ﴿أَبُو مُعَاوِيَةَ﴾ د هغوی نوم محمد بن حازم دي ﴿الأَعْمَش﴾ دا سليمان بن مهران دي، ﴿عَنْ سَلْمَانَ﴾ دا په معمرين صحابه كرامو رضي الله عنهم كښي دي د هغوی د عمر په باره كښي دوه اقوال مشهور دی، ۳۵۰ كلونه او وئيلي شوي دی ۲۵۰ كلونه، خو حافظ په تهذيب التهذيب كښي د امام ذهبي رحمه الله قول نقل كړي دي چه ما د هغوی دعمر په باره كښي د خپل تير قول نه رجوع اوكړه او اوس زما رائي دا ده چه د هغوی عمر د اتيا كالو نه زيات نه وو، حافظ فرمائي چه هغوی سبب د رجوع نه دي بيان كړي.

[۸]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ، أُعَلِّمُكُمْ، فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ، فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا يَسْتَدْبِرْهَا وَلَا يَسْتَطِبْ بِيَمِينِهِ، وَكَانَ يَأْمُرُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، وَيَنْهَى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي، هغه وائي چه وئيلي دي رسول الله ﷺ، يقيناً زه ستاسو لپاره په شان د پلار يم زه تاسو ته ښايم هر شئ، كله چه يو كس ستاسو نه راشي ذک اودس ماتي ته نو قبلي ته دې مخ نه كوي، او نه دې ورته شا كوي، او نه دې استنجاء كوي په ښي لاس باندي، او وو چه امر به ئي كولو په دري كاڼړو، او منع به ئي كوله د خوشايانو نه او د هډوكي نه.

تشريح: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، قوله إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ﴾ دا كلام په طور د تمهيد رسول الله ﷺ اوفرمائيلو ځكه چه وړاندي په كومو امورو باندي تنبيه فرمائي هغه هم دا قسم امور دی په كومو باندي چه بعض مشركينو اعتراض كړي وو چه دومره وړي وړي خبري بيانوی كومي چه په ماشومتوب كښي مور پلار ښائي، پس هم په دې وجه رسول الله ﷺ دلته د مخكښي نه بيان كړه چه زه ستاسو دپاره په منزله د پلار يم
په دې حديث كښي ﴿بمنزلة الوالد﴾ اوفرمائيلي شو ځكه چه په حقيقت كښي هغوی د امت پلار نه دي، هم په دې وجه په قرآن كريم كښي فرمائيلي شوي دی ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ﴾ او د رجال قيد په آيت كريمه كښي په دې وجه دې چه هغوی د خپلو لوڼړو والد وو اګرچه د هغوی مذكر اولاد هم پيدا شوي وو خو هغوی ټول په ماشومتوب كښي وفات شو، د رجوليت حد ته نه وو رسيدلي، په دې وجه هغوی د رجال والد نه دی، بهر حال په آيت كريمه كښي د ابوة حقيقي او نسبي نفی ده او دلته په منزلة الوالد وئيلي شوي دي، لهذا په آيت كريمه او حديث شريف كښي هيڅ تعارض نشته، آو اشكال په يو طريقه كيدي شي هغه دا چه په سورة احزاب كښي چرته چه ﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾

(): سنن النسائي/الطهارة ۳٦ (٤٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٦ (٣١٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٧، ٢٥٠) (حسن)

الاية ﴾ راغلي دي هلته په بعض قراءتونو کښې ﴿وهو اب لهم ﴾ راو هغه خپله يعنې رسول الله ﷺ د مومنانو پلار دې، هم راغلي دي لکه چه په تفسير ابن کثير کښې ددې ذکر دې، نو په دې دوه آيتونو کښې به په ظاهره تعارض راشي، جواب ښکاره دې چه چرته د ابوة اثبات دې دهغې نه روحانی ابوة او تربيت مراد دې، او په دې کښې څه شک دې چه هغوی د امت روحانی پلار دې او په کوم آيت کريمه کښې چه نفی ده دهغې تعلق د حقيقی او نسبی ابوة سره دې

قوله:﴿وَكَانَ يَأْمُرُ﴾ دلته راوی د کلام سياق او طرز تعبير بدل کړو لکه چه محسوسيږی هم، بعض وخت داسې کيږی چه چرته راوی ته د استاذ الفاظ په ښه طريقه ياد نه وی نو هلته د عبارت سياق بدلولو سره په خپلو الفاظو سره دهغې نه تعبير کوی

قوله:﴿ عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ ﴾ رمة يا خو جمع ده د رميم، زړو هډوکو ته رميم وائی، او ونيلې شوې دی چه دا مفرد دې د رميم په معنې، د استنجاء بالرميم ممانعت يا خو په دې وجه دې چه په دې کښې ملاست، يعنې غوړوالي وی چه په هغې سره د مقام انقاء په ښه طريقه نه کيږی، يا د زخمی کيدو د ويرې نه چه هغه څائې خوږ نه کړی، او يا د نجاست د وجې نه که عظم ميتة مراد کړې شی، څکه چه عظم ميتة د شوافعو په نزد ناپاک دې اکر که د احنافو په نزد پاک دې

[۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رِوَايَةً قَالَ: "إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ وَلَا بَوْلٍ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا، فَقَدِمْنَا الشَّامَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ قَدْ بُنِيَتْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ، فَكُنَّا نَنْحَرِفُ عَنْهَا وَنَسْتَغْفِرُ اللَّهَ".

ترجمه: د ابو ايوب رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی کله چه راشئ تاسو ډک اودس ماتې ته نو مخ مه کوئ قبلې ته په غائطو سره او نه په بولو سره، ليکن مشرق ته مخ کړئ او يا مغرب ته، نو مونږ راغلو شام ته پس بياموندلې مونږ تشې چه جوړې شوې وې په طرف د قبلې، نو وو مونږ چه منحرف کيدلو به دهغې نه او استغفار به مو غوښتلو

تشريح: قوله:﴿ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رِوَايَةً إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ الخ ﴾ د روايةً نه مراد دې مرفوعا، تقدير د عبارت داسې دې رواية عن النبي ﷺ، دا د رفع حکمی د الفاظو نه دی هم دغه شان يرفع الحديث، يبلغ به، دا هم د رفع حکمی الفاظ دی يعنې دغه شان چه کوم حديث بيانولې شی هغه ته به حکما مرفوع وئيلې شی، اګر که راوی د رسو ل الله ﷺ تصريح نه کوی، ﴿ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ ﴾ د هغوی نوم خالد بن زيد الانصاری دې، ﴿ أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ ﴾ ددې غائط نه مراد محل د قضاء حاجت دې او وړاندې لفظ ﴿ بالغائط ﴾ راروان دې دهغې نه مراد نجاست او فضله ده،

(): صحيح البخاري/الوضوء ١١ (١٤٤)، الصلاة ٢٩ (٣٩٤)، صحيح مسلم/الطهارة ١٧ (٢٦٤)، سنن الترمذي/الطهارة ٦ (٨)، سنن النسائي/الطهارة ٢٠ (٢١)، ٢١ (٢٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٧ (٣١٨)، (تحفة الأشراف: ٣٤٧٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القبلة ١ (١)، مسند احمد (٥/٤١٦، ٤١٧، ٤٢١)، سنن الدارمي/الطهارة ٦ (٦٩٢) (صحيح)

﴿ مَرَاحِيضُ ﴾ دا د مرحاض جمع ده، د رحض نه اخستلې شوې دې چه دهغې معنی د غسل يعنی وينځلو ده، ددې اطلاق په بيت الخلاء باندې کيږي، مرحاض، کنيف، خلاء، مذهب او حشوش کوم الفاظ چه په حديث کښې راځي دا ټول يوه معنی لري

مضمون د حديث

د حديث مفهوم دا دې چه ابوايوب انصاري رضي الله عنه فرمائي چه موږ ملک شام فتح کولو سره هغې ته داخل شو نو هلته موږ ډير بيوت الخلاء داسې اوليدل چه د قبلې طرف ته جوړ کړې شوې وو ځکه چه هغه د نصارى او د مشرکينو جوړې کړې شوې وې کوم چه په شام کښې د مخکښې نه آباد وو، نو بعض وخت به داسې کيدل چه موږ به په تنديٰ کښې په غلطۍ سره هغه بيوت الخلاء ته د قضاء حاجت دپاره لاړو. او بيا چه به هلته رسيدو سره پوهه شو نو زر به مو خپل رخ بدل کړو، يعنې هم په دې بيوت الخلاء کښې به مو رخ بل طرف ته واړولو. او دا هم احتمال دې چه دا مراد وی چه موږ به دې بيوت الخلاء ته د تلو نه پس د ياديدو نه پس د هغه ځائې نه راواپس کيدلو، په اول صورت کښې به ﴿ عنها ﴾ کښې ضمير د قبلې طرف ته راجع وی او په دويم صورت کښې به د مراحيض طرف ته راجع وی

دا حديث په کوم کښې چه ﴿ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا ﴾ ذکر دې، د ابوعوانه رحمه الله مستدل دې، د ابوعوانه رحمه الله مذهب مخکښې ذکر شو، جمهور دا وائي چه دا طريقه يعنی تشريق او تغريب، رسول الله صلى الله عليه وسلم د اهل مدينه په لحاظ فرمائيلې وو، ددې هم هغه حضرات مخاطب دی، په مدينه طيبه کښې د استقبال او استدبار نه د بچ کيدلو شکل هم دا دې چه د مشرق يا مغرب طرف ته مخ کړې شي او که د جنوب طرف ته مخ کړی نو هلته استقبال قبلة راځي او د شمال طرف ته کولو سره استدبار قبله راځي، او زمونږ يعنې اهل هند په تغريب سره استقبال قبلة او تشريق سره استدبار قبله لازميږي، موږ دپاره ددې دواړو څيزونو نه بچ کيدل ضروري دی، زمونږ په حق کښې که دا کلام وې نو داسې به فرمائيلې ولکن جنوا او شملوا، جنوب او شمال طرف ته استنجاء کوئ

د ابوايوب انصاري رضي الله عنه دا حديث د صحاح ستة روايت دې، د سند په اعتبار سره بالکل صحيح دې،هيڅ کلام پرې نشته.اودامطلقا د استقبال او استدبار په ممانعت باندې دلالت کوی، د صحرا او آبادئ په دې کښې هيڅ فرق نشته، لکه ځنګه چه د احنافو مذهب دې

په دوو متعارض احاديثو کښې تطبيق

﴿ قوله فقدمنا الشام ﴾ مشهور روايت هم داسې دې او په صحيحين کښې هم دغه شان دی خو د نسائي او موطاء په روايت کښې د شام په ځائې مصر دی، اوس يا خو دې داسې اووئيلې شي چه کومه خبره دلته ده هغه ارجع ده يا دی د تعدد واقعه قول اختيار کړی شي چه په دواړو ځايونو کښې هم دا خبره پيښه شوې وه لکه ځنګه چه حافظ عراقي رحمه الله فرمائيلې دی او په دې کښې هيڅ استبعاد نشته ځکه چه د ابوايوب انصاري رضي الله عنه په باره کښې دا راغلی دی چه ﴿ انه لزم الجهاد بعد رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس په مدينه کښې د قيام په ځائې دهغوی اکثر زمانه په جهاد او فتوحاتو کښې تيره شوه، تردې چه د هغوی

وفات هم په قسطنطنیه کښې د جهاد په سفر کښې اوشو. حال دا چه د هغوی کور د مسجد نبوی ﷺ سره بالکل متصل وو، او په ۹۳ هجری کښې چه کله موږ حج ته تلی وو نو هلته مسجد نبوی ﷺ سره متصل یو کور باندې یو تختئ لګیدلې وه چه په هغې باندې ئې لیکلی وو بیت ابی ایوب الأنصاری ﷺ، ما ددې خبرې نه ډیر عبرت واخستلو تاسو هم په دې سوچ اوکړئ چه هغوی د رسول الله ﷺ ګاونډ پریخودلو او د دین په نشر واشاعت کښې مشغول شو او د وطن مالوف مدینه منوره په ځائې په قسطنطنیه کښې وفات کیږی

[۱۰]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى، عَنْ أَبِي زَيْدٍ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ أَبِي مَعْقِلٍ الْأَسَدِيِّ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَتَيْنِ بِبَوْلٍ أَوْ غَائِطٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَبُو زَيْدٍ هُوَ مَوْلَى بَنِي ثَعْلَبَةَ.

ترجمه: د معقل بن ابي معقل الاسدي نه روایت دې هغه وائي: منع کړې ده رسول الله ﷺ ددې نه چه موږ مخ کړو دواړو قبلو ته په ذکر اودس ماتي او یا تش اودس ماتي کښې، ابو داؤد وایې: ابو زید مولی د بنو ثعلبه دې

تشریح: قوله:﴿ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ أَبِي مَعْقِلٍ الْأَسَدِيِّ الخ ﴾ دا صحابی ابن الصحابی ﷺ دې، او هغوی ته معقل بن ابی الهیثم هم وائي

قوله:﴿ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَتَيْنِ ﴾ دا حدیث په مذاهب ثمانیه کښې د اووم مذهب دلیل دې چه دهغې ابراهیم نخعی او ابن سیرین ﷺ قائل دی.

(د جمهورو د طرفه جوابونه):

جمهور ددې قائل نه دی ددې ډیر جوابونه کیدې شی، اول دا چه دا روایت ضعیف دې، د ابوزید راوی په باره کښې وئیلی شوي دی چه هغه مجهول دې، دویم جواب دا دې چه دا د هغه وخت خبره ده چه کله بیت المقدس قبله وه، روستو هغه منسوخ شوه او بیت الله قبله شوه نو راوی د روایت په وخت دوه حکمونو لره کوم چه په مختلفو اوقاتو کښې ورکړې شوې وو جمع کړل، او دریم جواب دا دې چه د بیت المقدس د استقبال ممانعت په دې وجه دې چه په مدینه منوره کښې استقبال بیت المقدس سره استدبار کعبه لازمیږی، او امام احمد ﷺ نه نقل دی چه هغوی اوفرمائیل چه دا روایت په حدیث بیت حفصه ﷺ د ابن عمر ﷺ باندې منسوخ دې، کوم چه په وړاندې باب کښې راروان دې

[۱۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ ذَكْوَانَ، عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، ثُمَّ جَلَسَ يَبُولُ إِلَيْهَا، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هَذَا؟ قَالَ: بَلَى، "إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ فِي الْفَضَاءِ، فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ، فَلَا بَأْسَ".

ترجمه: د مروان بن الاصفر نه روایت دې هغه وائي: چه ما اولیدلو ابن عمر چه خپله اوښه ئې چو کړې وه مخامخ قبلې ته بیا کیناستلو متیازې ئې کولې هغې ته، نو ما اووئیل: اې

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۷ (۳۱۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۲۱۰) (منكر)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۴۵۱) (حسن)

ابو عبد الرحمن! آيا د دېنه نه منع نه ده شوې؟ نو هغه اووئيل او، يقيناً د دېنه منع شوې ده په صحراء کښې، خو کله چه ستا او د قبلې په مينځ کښې څه شئ وي چه تا پناه کوي دهغې نه نو بيا پروا نه کوي

تشريح: قوله ﴿ عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ ﴾ يعني يو خل ابن عمر رضي الله عنه خپله سورلئ د قبلې په طرف کينوله، او بيا دهغې نه روستو داسې کيناستلو چه هغه سورلئ باندې ئې ځان پټ کړو او بول ئې اوکړل، مروان الاصفر د هغوی نه تپوس اوکړو چه آيا ددې نه منع نه ده راغلې؟ ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائيل بيشکه منع راغلې ده، خو په فضاء او ښکاره ميدان کښې چه کله يو څيز حائل نه وي، او که د استنجاء کونکی او قبلې ترمينځه يو څيز حائل وي نو بيا هيڅ باک نشته، او دلته ساتر موجود دې يعني سورلئ، غالبا هغوی به سورلئ هم په دې وجه کينولې وی او دا هم احتمال دې چه کينولې ئې خو په دې غرض نه وه بلکه ځکه ئې کينولې وه چه هغوی هم هلته کوزېدل، خو ددې نه پس چه ئې کله متيازو کولو ته حاجت شو نو دا کار ئې ترې نه واخستلو

د احنافو د طرف نه د حديث جوابات:

ځان پوهه کړه چه دا حديث د باب د ټولو رواياتو او هم دغه شان د احنافو د مذهب خلاف دې ځکه چه په تيرو ټولو روايتونو کښې نهي مطلقا ذکر کړې شوې ده او دلته ئې صحابي ابن عمر رضي الله عنه مقيد فرمائي، اوس په دې تقييد کښې دوه احتمالونه دي يا خو هغوی د رسول الله ﷺ نه معلوم ولو سره دا خبره کړې ده، په دې صورت کښې خو ښکاره ده چه د هغوی دا خبره به حجت وی خو دويم احتمال دا دې چه دا خبره به هغوی په طريق د استنباط فرمائيلې وی او د استنباط ماخذ به ئې د بيت حفصه رضي الله عنها روايت وی کوم چه وړاندې راروان دې، واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال او د بيت حفصه والا روايت جوابات به موږ هم هلته ورکوو

او يوه خبره بله هم ده کوم چه حضرت په بذل کښې په تحقيق سره بيان فرمائيلې ده چه په دې حديث باندې اګرچه امام ابوداؤد رحمه الله بلکه منذری رحمه الله هم سکوت فرمائيلې دې خو ددې حديث په سند کښې يو راوی حسن بن ذکوان دې هغه ضعيف دې، اکثر محدثينو د هغه تضعيف کړې دې، پس امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي ﴿ احاديثه اباطيل ﴾ چه د هغوی روايات غير معتبر دی، چونکه دا حديث د ائمه ثلاثه موافق دې په دې وجه هغوی د حسن بن ذکوان د تضعيف دا جواب ورکوی چه حسن بن ذکوان خو د صحيح بخاری په راويانو کښې دې، زموږ د طرف نه جواب دا دې چه دا د بخاری په هغه راويانو کښې دې په چا باندې چه کلام کړې شوې دې، هم په دې وجه حافظ رحمه الله په مقدمه د فتح الباری کښې د هغه راويانو په فهرست کښې ذکر کړې دې په چا باندې چه کلام کړې شوې دې، دويمه خبره دا ده چه په بخاری کښې ددې راوی صرف يو روايت دې او هغه هم داسې د کوم چه شواهد موجود دی او هم ددې وجې نه امام مسلم او امام نسائی د هغه روايات نه اخلی، حاصل دا چه په دې باب کښې تر اوسه پورې چه څومره احاديث مرفوعه راغلی دی، په ټولو کښې ممانعت علی الاطلاق ذکر کړې شوې دې، او د باب په آخری صرف يو روايت کښې کوم چه

مرفوعا نه دي بلکه موقوفا دي په دي کښي ممانعت مقيدا دي مطلقا نه دي، که دا روايت سندا قوي هم وي نو بيا به هم د هغه روايات صحيحه مرفوعه په مقابله کښي معتبر نه وو. او اوس په داسي حال کښي چه دا سندا ضعيف هم دي نو څنګه معتبر کيدي شي

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب دي په بيان د رخصت کښي په دغې کښي

په دي باب کښي د جواز استقبال روايات ذکر کول مقصود دی او دا هم وئيلي شي چه په ترجمي سره دي طرف ته هم اشاره فرمائي چه د منع روايات په عزيمت باندي محمول دي، او د ثبوت روايات په رخصت يا عذر وغيره باندي محمول دي. ګويا د جمع بين الروايات طرف ته اشاره اوشوه. ﴿ ذلک ﴾ کښي اشاره ترجمه سابقه طرف ته ده او په ترجمه سابقه کښي استقبال مذکور دي خو دلته په حديث الباب استقبال القبلة ذکر نه دي بلکه استدبار کعبه دي په دي وجه وئيلي به شي چه د ترجمي اثبات د حديث الباب نه په طريقه د قياس دي يعني مصنف رحمه الله استقبال په استدبار باندي قياس کوي چه هر کله استدبار جائز دي نو استقبال هم جائز دي، او دا هم وئيلي شي چه په ترجمه سابقه کښي اګرچه صراحة صرف استقبال ذکر وو، خو هلته استقبال او دهغي مقابل استدبار هم مراد وو از قبيل، ﴿ سرابيل تقيکم الحر ﴾ په دي صورت کښي د قياس ضرورت نشته.

[۳]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "لَقَدِ ارْتَقَيْتُ عَلَى ظَهْرِ الْبَيْتِ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ".

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي، هغه وائي يقينا زه اوختلم په چت د کور، نو ما رسول الله ﷺ اوليدلو په دوه خښتو باندي چه مخ کونکي وو بيت المقدس ته د خپل حاجت د وجي نه

تشريح: ﴿ قوله: عَلَى ظَهْرِ الْبَيْتِ ﴾ او په بعض رواياتو کښي ﴿ بيتنا ﴾ او په بعض کښي ﴿ بيت حفصة ﴾ ذکر دي، دا څه خاص اختلاف نه دي، حفصه رضي الله عنها د هغوی خور وه، د خور د کور نسبت ئي خپل طرف ته مجازا اوکړو، او خصوصا په دي وجه هم چه د خپلي خور دي يواځي وارث وو، او د حفصه رضي الله عنها طرف ته هم د کور نسبت د سکنی د وجي نه دي ګيني کور خو اصل کښي د رسول الله ملک وو

د حديث حاصل دا دي چه عبد الله بن عمر فرمائي چه يو ځل زه د خپلي خور حفصه کور ته لاړم، او هلته د څه ضرورت د وجي په چهت اوختلم نو اومي کتل چه رسول الله په دوه کچه ښختو باندي ناست دي او قضاء حاجت فرمائي، او هغه وخت د هغوی رخ د بيت

(): صحيح البخاري/الوضوء ۱۲ (۱۴۵)، ۱۴ (۱۴۹)، صحيح مسلم/الطهارة ۱۷ (۲۶۶)، سنن الترمذي/الطهارة ۷ (۱۱)، سنن النسائي/الطهارة ۲۲ (۲۳)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۸ (۳۲۲)، (تحفة الأشراف: ۸۵۵۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القبلة ۲ (۳)، مسند احمد (۲/۱۲، ۱۳)، سنن الدارمي/الطهارة ۸ (۶۹۴) (صحيح)

المقدس طرف ته وو، او په مدينه طيبه کښې د بيت المقدس په استقبال سره د کعبې استدبار راځي، لهذا په دې حديث سره استدبار قبله په وخت د قضاء الحاجة ثابت شو

دلته په حديث کښې يو سوال دې، چه دهغې طرف ته اوس مخکښې مونږ اشاره اوکړه، هغه دا چه ابن عمر ﷜ پورته تلو سره رسول الله ﷺ په داسې حالت کښې ولې اوليدو؟ جواب پورته راغلو چه هغوی قصدا د ليدلو دپاره نه وو ختلي، بلکه د خپل څه ضرورت د وجې نه ختلي وو، د علامه کرماني ﷫ رائې دا ده چه کيدې شي هغوی قصدا او ارادة کتلي وی خو صرف د بدن پورته حصه به ئې ليدلې وی، او بيا ئې دهغې نه اندازه لګولې وی چه هغوی څنګه ناست دې او په دې حالت کښې قصدا کتل ګويا د علمي او د شرعي مصلحت د وجې نه وو، خو اکثر شارحينو ليکلي دی چه دا وجه بعيد ده

﴿ قوله عَلَى لَبِنَتَيْنِ ﴾ ددې نه يو ادب دا معلوم شو چه استنجاء په هواره زمکه باندې ناسته کولو سره نه دی کول پکار، ګينې د مقعد د تلوث ويره ده، پس هم ددې وجې نه امام بخاري ﷫ په دې حديث باندې باب ترلي دې باب من تبرز على لبنتين.

د احنافو د طرف نه د حديث الباب جوابونه

خان پوهه کړه چه چونکه واقعه د آبادئ ده، په دې وجه حضرات ائمه ثلاثه ددې نه په خپل مسلک باندې استدلال کړي دې چه د قضاء حاجت په وخت استقبال او استدبار في البنيان جائز دې، صرف په صحراء کښې منع دې، زمونږ د طرف نه ددې ډير جوابونه کړي شوي دی

۱: عموم الدعوى وخصوص الدليل : يعنې د جمهورو دعوی عام ده چه استقبال او استدبار دواړه په آبادئ کښې جائز دی، او د حديث الباب نه صرف جواز د استدبار معلوميږي، لهذا دعوی عام او دليل خاص شو

۲: توقف الاستدلال على تقدم المنع : يعنې ددې حديث نه د استدلال صحيح کيدل په دې باندې موقوف دی چه دا ثابت شي چه د منع روايات ددې نه مقدم دی، او دا نه شي ثابتيدلې، بلکه کيدې شي چه د منع روايات ددې نه روستو وی

۳: ترجيح المحرم على المبيح : يعنې هر کله چه په حرام او مباح کښې تعارض راشي نو حرام ته به ترجيح ورکولې شي، دلته تعارض دې، د بابِ اول روايات مطلقا په منع باندې دال دی، لهذا هم هغې ته به ترجيح حاصله وی

۴: ترجيح المحرم على الفعل : يعنې دا روايت فعلي دې اود منع روايت قولي دې قول ته په فعل باندې ترجيح وی

۵: الفرق بين عين القبلة والجهة : يعنې اصل ممانعت د عين قبله د استقبال څخه دې، د جهت قبله نه نۀ دې او دلته دا کيدې شي چه رسول الله ﷺ د جهت قبلې طرف ته خو وو خو د عين قبلې نه منحرف وو

۶: المعتبر الاستقبال بالفرج دون الصدر، يعنې دلته استقبال بالفرج معتبر دې نه استقبال بالوجه نو کيدې شي چه د رسول الله ﷺ سينه او مخ خو دې د قبلې طرف ته وی خو د فرج رخ بل طرف ته وی

٧: النظر لفجائي لا يعتد به : يعني د ابن عمر ﷺ دا نظر فجائي وو، لهذا په داسي نظر باندې مسئله شرعي نه شي بنا كيدې

هسې يو جواب دا هم كيدې شي چه د رسول اللهﷺ فضلات د اكثرو علماء كرامو په نزد پاک وو، نو په دې صورت كښې علت د منع نه دې موجود، حاصل دا چه دا د رسول اللهﷺ خصوصيت دې، احقر د رسول اللهﷺ د فضلات د طهارت په سلسله كښې د حضرت شيخ په حكم باندې ځه مواد اودمذاهب اربعه عبارات فقيهيه جمع كړي وو، ودرساله شيم الحبيب په اخير كښې دا مضمون په طور د ضميمه ملحق دې چه څوک كتل غواړي اودې گورى

[٣]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ، يُحَدِّثُ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "نَهَى نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِبَوْلٍ، فَرَأَيْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْبَضَ بِعَامٍ يَسْتَقْبِلُهَا".

ترجمه: د جابر بن عبد الله ﷺ روايت دې، هغه وائي: منع كړي ده د الله نبي ﷺ د دينه چه مونږ مخ كړو قبلې ته په بولو سره، نو ما اوليدلو مخكښې د وفات كيدو نه يو كال چه مخ ئي ورته كړي وو.

تشريح: ﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ﴾ سيدنا جابر ﷺ فرمائي چه رسول اللهﷺ د استنجاء په وخت د استقبال قبله نه منع فرمائيلي وه، خو ما هغوى د وفات نه يو كال مخكښې اوليدل چه هغوى مستقبل قبله بول كول.

د دې حديث جواب دا دې چه ډير علماء كرامو مثلا ابن عبدالبر ددې حديث تضعيف كړي دې حافظ ابن القيم په تهذيب السنن كښې ډير په تفصيل سره په دې باندې كلام كړي دې او ددې ضعف ئې ثابت كړي دې، او هغوى اوفرمائيل چه په دې كښې محمد بن اسحاق راوى دې، لا يحتج به في الاحكام، او هغوى دا هم فرمائي چه دا د حكاية فعل لا عموم لها د قبيل نه دې، په خلاف د احاديث منع چه ډير صريح او صحيح دى، بيا دا حديث دهغې معارضه څنګه كولې شي، خو امام ترمذي ددې حديث تحسين كړي دې او امام نووي په دې كښې توقف فرمائيلې دې

اصل كښې د محمد بن اسحق په تعديل او تجريح كښې ډير اختلاف دې، په دې كښې خو هيڅ شک نشته چه هغه امام المغازي دې، د فن تاريخ او سير امام دې، خو په حديث كښې هم معتبر دې يا نه، په دې كښې اختلاف دې، شعبه وائي ﴿هو امير المومنين في الحديث﴾ او امام مالک په هغوى باندې سخته جرح كړي ده، تر دې ئې فرمائيلې دى چه ﴿دجال من الدجاجله﴾ يعنى دهوكه باز دې، علامه عينى د هغوى د ثقاهت قائل دى، او هغوى د اكثرو علماء كرامو نه هم دا نقل كړى دى او هم دغه شان شيخ ابن الهمام هم فرمائي ﴿ثقة ثقة﴾. والله اعلم

(): سنن الترمذي/الطهارة ٧ (٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٨ (٣٢٥)، (تحفة الأشراف: ٢٥٧٤) (حسن)

د مسلک احناف وجه الترجیح:

د منع روایات کوم چه په اول باب کښې تیر شوی دی، کوم چه د احنافو مستدل دی هغه ټول په ټوله قولی دی او په دی باب کښې مصنفﷺ صرف دوه روایات ذکر کړی دی، او هغه دواړه فعلی دی، د ائمه ثلاثه سره یو روایت قولی هم دې، کوم چه په مسند احمد او ابن ماجه کښې دې چه دهغې سند داسې دې. ﴿عن خالد بن ابی الصلت عن عراک بن مالک عن عائشة﴾ مضمون دهغې داسې دې چه عائشهؓ فرمائی چه د رسول اللهﷺ مخکښې د داسې خلقو ذکر اوکړې شو څوک چه د قضاء حاجت په وخت کښې استقبال مکروه ګڼړې نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿استقبلوا بمقعدتی القبلة﴾ چه کله داسې وی نو بیا زما د قضاء حاجت د محل رخ دې د قبلې طرف ته کړې شی، دا حدیث په بیهقی او دارقطنی کښې دې، امام نوویؒ په شرح د مسلم کښې ددې تحسین کړې دې، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه خالد بن ابی الصلت مجهول او ضعیف دې لکه چه په کتب رجال کښې دی. بلکه دا چه د خالد سماع د عراک نه ثابته نه ده هم دغه شان د عراک سماع د عائشېؓ نه ثابت نه ده، کما قال البخاری واحمد، لهذا دا د هغه احادیث صحیحه په کومو کښې چه مطلقا ممانعت دې دهغې مقابله څنګه کولې شی.

بَابُ كَيْفَ التَّكَشُّفُ عِنْدَ الْحَاجَةِ

باب دې په بیان دکیفیت د ځان ښکاره کولو کې په وخت د قضاء حاجت کې

[۳]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ رَجُلٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ حَاجَةً لَا يَرْفَعُ ثَوْبَهُ حَتَّى يَدْنُوَ مِنَ الْأَرْضِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَهُوَ ضَعِيفٌ، قَالَ أَبُو عِيسَى الرَّمْلِيُّ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بِهِ.

ترجمه: د ابن عمرؓ نه روایت دې، یقیناً نبيﷺ وو چه کله به ئې اراده اوکړه د قضاء حاجت نو نه به ئې اوچتوله خپله جامه تردې چه زمکې ته به نزدې شو

تشریح: په دې ترجمة الباب او حدیث الباب کښې یو نهایت لطیف ادب بیان کړې شوې دې. او دا ادب په یو قاعده باندې متفرع دې، هغه دا چه ﴿الضروری یتقدر بقدر الضرورة﴾، چه کوم کار د مجبورئ او ضرورت د وجې نه اختیار کړې شی هغه په قدر د ضرورت اختیارول پکار دی، هم دا ډیره احوط طریقه ده نو هم ددې سلسله دا باب دې چه انسان بیت الخلاء ته تلو سره د قضاء حاجت دپاره د بدن نه کپړه لرې کړی او عورت ښکاره کړی نو دا کپړه لرې کول او کشف عورة په تدریج سره د ضرورت مطابق کول پکار دی، تاڅاپه

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۸۹۲، ۸۵۹۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ۱۰ (۱٤)، سنن الدارمي/الطهارة (۶۹۳/۷) (صحیح)

پوره کېږه نه دی لرې کول پکار. پس په حديث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ به چه کله د قضاء حاجت اراده فرمائيله نو خپله کپړه به ئې نه اوچتوله تر څو چه به زمکې ته نژدې شوې نه وو.

فقهاء کرامو ليکلي دی چه بغير د ضرورت نه تعری او کشف عورت په يواځې والی (خلوت) کښې هم جائز نه دي. لکه چه امام نووی او علامه شامي ددې تصريح کړې ده.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ ﴾ ددې حديث د سند مدار په اعمش باندې دې، د اعمش دلته دوه شاګردان دی، وکيع او عبدالسلام، د مصنف رحمه الله مقصود د تلامذه اعمش اختلاف بيانول دی، اختلاف دلته په دوو طريقو سره دې، اول دا چه د وکيع په روايت کښې اعمش او د صحابی ترمينځه د يو رجل مبهم واسطه ده، په خلاف د عبدالسلام د روايت چه هلته د صحابی او د اعمش ترمينځه واسطه نشته. دويم اختلاف دا دی چه وکيع ددې حديث راوی صحابی ابن عمر رضي الله عنه ګرځولې دې، او عبد السلام انس رضي الله عنه، او ددې نه پس مصنف رحمه الله د حديث ثانی په باره کښې فرمائي وهو ضعيف.

د ضعف ظاهري وجه دا ده چه د اعمش سماع د انس رضي الله عنه نه ثابت نه ده، لهذا په دې سند کښې انقطاع ده، او په اول سند کښې واسطه موجود ده، خو واسطه د رجل مبهم ده په دې وجه هغې کښې هم ضعف راتلل پکار دی؟ دهغې جواب دا دې چه کيدې شی چه د مصنف رحمه الله په نزد به د رجل مبهم مصداق يو قوی راوی وی هم په دې وجه هغه د خپل ذاتی علم په بناء باندې هغه ته ضعيف نه دې وئيلې، اوس دا چه هغه رجل مبهم څوک دی؟ جواب د بيهقي د روايت نه معلوميږی چه هغه قاسم بن محمد دې، د حافظ ابن حجر او علامه سيوطی رحمه الله دواړو رائې هم دا ده، او د ابن قيم رائې دا ده چه ددې نه مراد غياث بن ابراهيم دې، خو دا په دې وجه صحيح نه ده چه هغه ضعيف دې که دهغې مصداق د مصنف رحمه الله په نزد غياث بن ابراهيم وې نو په حديث اول باندې به ئې هم د ضعف حکم لګولې وې.

دا چه پورته راغلل چه د اعمش سماع د انس رضي الله عنه نه ثابته نه ده، د جمهورو رائې هم دا ده چه د اعمش سماع نه د انس رضي الله عنه نه ثابت ده نه د بل يو صحابی رضي الله عنه نه، خو په دې کښې د ابونعيم اصفهانی اختلاف دې لکه چه منذری ليکلي دی، د هغوی رائې دا ده چه اعمش انس بن مالک او عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنهما ليدلي دی، او ددې دواړو نه ئې اوريدل هم ثابت دی، منذری وائي دا خلاف مشهور خبره ده.

فائده : خان پوهه کړه چه دا حديث هم په دې دوو سندونو سره په ترمذی شريف کښې هم دې، خو امام ترمذی رحمه الله په دواړو احاديثو باندې د مرسل يعنی منقطع کيدو حکم لګولې دې چه دهغې وجه دا ده چه د ترمذی په روايت کښې وکيع او د عبدالسلام د دواړو په سند کښې انقطاع ده، په دواړو ځايونو کښې د اعمش او د صحابی ترمينځه واسطه ذکر نه ده نو په دې صورت کښې د امام ترمذی رحمه الله په دواړو باندې کلام کول صحيح شو، د ترمذی د سند تقاضه هم دا ده چه دواړه دې ضعيف شی.

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْكَلَامِ عِنْدَ الْحَاجَةِ

باب دې په بيان د كراهيت د خبرو كې په وخت د قضاء حاجت كې

د قضاء حاجت په وخت بغير د ضرورت او مجبورئ نه خبرې كول خلاف أدب دي، مكروه تنزيهي دي، خو كه ورسره بل څه قباحت هم شامل شي مثلاً، كشف عورت د بل ځا په مخكښې لكه څه په حديث الباب كښې دى نو په دې صورت كښې به يقيناً كراهت تحريمي وى

[۱۵](حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عِيَاضٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يَخْرُجِ الرَّجُلَانِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ، فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَمْقُتُ عَلَى ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا لَمْ يُسْنِدْهُ إِلَّا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ.

ترجمه: روايت دى د ابو سعيد نه، هغه وائي ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه هغه به ويل نه اوځي دوه سړي چه كوي ډک اودس ماتي چه ښكاره كونكي وي د عورت خپل او خبرې كوي، يقيناً الله تعالى غصه كيږي په دې باندې

تشريح: ﴿ حَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ الخ ﴾. ﴿ قوله لَا يَخْرُجِ الرَّجُلَانِ ﴾ ظاهره دا ده چه دا د نهى صيغه ده، لهذا دادې د جيم په كسرې سره اولوستلې شي، اوكه مضارع منفي ورته اووئيلې شي نو بيا به مرفوع وى، ﴿ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ ﴾ ضرب الغائط كنايه وى د قضاء حاجت نه

د حديث الباب مضمون دا دې چه نه دې يكار دوه كسانو له چه هغوى دې يو ځائې د قضاء حاجت دپاره لاړ شي، او بيا د قضاء حاجت په وخت يو بل ته عورت ښكاره كړى، او خبرې هم كوى، ځكه چه الله پاک په داسې كار باندې سخت ناراضه كيږى، د ابن ماجه په روايت كښې په دې حديث كښې د ﴿ ينظر احدهما الى عورة صاحبه ﴾ زيادت دې

په دې حديث كښې مقت يعنى شدت بغض وغضب په مجموعه فعلين يعنى تحدث عند قضاء الحاجة او كشف عورت عند الآخر باندې مرتب كولې شى، په دې كښې زيات سخت خيز كوم ته چه حرام وئيل يكار دى هغه كشف عورة عند الآخر دې، او باقې شوه مسئله د خبرو كولو نو دا مكروه تنزيهى ده، خو علامه شوكانى ددې حديث د لاندې ليكى چه ددې حديث مقتضى دا ده چه د قضاء حاجت په وخت كلام كول حرام وى، ځكه چه مقت يعنى د شدت بغض وغضب ترتب صرف په مكروه خيز باندې نه شى كيدې، خو د هغوى دا استنباط صحيح نه دې لكه چه مونږ بيان كړه يعنى كوم حكم چه په دوه بيلو بيلو كارونو باندې مرتب كيږى هغه بيل بيل په هر يو باندې ځكه مرتب وئيلې كيدې شى، دا خبره حضرت په بذل كښې ليكلې ده

قوله ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُد هَذَا لَمْ يُسْنِدْهُ إِلَّا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ ﴾ ددې ځائې نه مصنف رحمه الله ددې حديث په سند كښې چه كوم علت غامضه خفيه دې هغه ظاهروى، علماء كرامو ليكلې دى چه په

ﷺ: سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٤ (٣٤٢)، (تحفة الأشراف: ٤٣٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦/٣) (صحيح لغيره) (الصحيحه: ٣١٢٠، وتراجع الألباني: ٧)؟

معرفت علل یعنی په اسانید کښې چه کوم باریک او پټ نقائص وی د هغې معلومول د علم حدیث د انواع نه یو نوع دې، د معرفت علل مطلب دا دې چه د یو حدیث سند په ظاهر کښې برابر او رشتینې دې په ظاهره په هغې کښې هیڅ قابل اشکال خبره نشته خو فی الواقع په هغه سند کښې یو باطنی بیماری ده په کوم باندې چه ددې فن لوئې امامان پوهیږی، لکه دراقطنی، امام ابوحاتم رازی، امام بخاری، امام نسائی وامثالهم. نو باطنی بیماری په دې سند کښې کوم چه مصنف رحمه الله بیانول غواړی، دا ده چه دا حدیث د یحیی بن ابی کثیر نه د عکرمه نه علاه بل چا مسندا نه دې روایت کړې، پس د یحیی بن ابی کثیر دویم شاګرد امام اوزاعی رحمه الله دې هغه دا حدیث په خاتې د مسند مرسلا روایت کوی، د هغوی روایت په بیهقی کښې داسې دې، ﴿ عن الاوزاعی عن یحی بن أبي کثیر، قال قال رسول الله ﷺ ﴾ اوګورئ دا حدیث په دې طریق سره مرسل دې ځکه چه صحابی دلته نه دې ذکر شوې نو حاصل دا شو چه بعض راویان دې حدیث لره مسندا او بعض مرسلا نقل کوی، او دا هغه اضطراب دې چه دهغې په وجه باندې په حدیث کښې ضعف راغلو، او په دې اضطراب باندې اطلاع ښکاره ده چه په تتبع د طرقو سره اوشوه، د مصنف رحمه الله په ذهن کښې چونکه نور طرق وو په دې وجه ئې دا مسئله معلومه کړه او تنبیه ئې اوفرمائیله

بَابُ أَيَرُدُّ السَّلَامَ وَهُوَ يَبُولُ

باب دې په بیان د دې کې چې آیا جواب د سلام ورکولې شی په حالات د بولو کولو کې؟

دا ترجمه زمونږ په نسخه کښې هم دغه شان ده، لهذا دلته به حرف استفهام محذوف منل پکار وی او په بعض نسخو کښې حرف استفهام مذکور دې داسې. ایرد السلام وهو یبول، یعنی که یو سړې متیازې کوی او بل هغه ته سلام اوکړی نو په دې حالت کښې به د سلام جواب ورکوی او که نه؟ د حدیث الباب نه معلومه شوه چه په داسې حالت کښې جواب نه دې ورکول پکار، او وجه ددې ښکاره ده چه دا حالت د کشف عورت حالت دې، او د کشف عورت په حالت کښې مطلق خبرې کول هم مکروه دی، لا پاتې خو سلام او ذکر الله. که روستو جواب ورکړی نو دا د هغه تبرع او احسان دې واجب نه دې.

ځنګه چه جواب د سلام په دې حالت کښې مکروه دې خیله سلام کول هم مکروه دی اوس دلته مناسب دی چه دا معلومه شی چه په کومو حالاتو کښې سلام کول مکروه دی. پس حضرت به بذل کښې دا مضمون د در مختار نه نقل کړې دې، کوم چه په نظم کښې دې پس هغه دې اوکتلې شی [1]

---

[1] د لوستونکو د سهولت دپاره هغه اشعار دلته نقل کولې شی

سَلَامُكَ مَكْرُوهٌ عَلَى مَنْ سَتَسْمَعُ ::: وَمَنْ بَعْدَ مَا أَبْدِي يُسَنُّ وَيُشْرَعُ
مُصَلٍّ وَتَالٍ ذَاكِرٍ وَمُحَدِّثٌ ::: خَطِيبٌ وَمَنْ يُصْغِي إِلَيْهِمْ وَيَسْمَعُ
مُكَرِّرُ فِقْهٍ جَالِسٌ لِقَضَائِهِ ::: وَمَنْ بَحَثُوا فِي الْفِقْهِ دَعْهُمْ لِيَنْفَعُوا
مُؤَذِّنُ أَيْضًا أَوْ مُقِيمٌ مُدَرِّسٌ ::: كَذَا الْأَجْنَبِيَّاتُ الْفَتِيَّاتُ امْنَعْ
وَلُعَّابُ شِطْرَنْجٍ وَشِبْهٌ بِخُلْقِهِمْ ::: وَمَنْ هُوَ مَعَ أَهْلٍ لَهُ يَتَمَتَّعُ
وَدَعْ كَافِرًا أَيْضًا وَمَكْشُوفَ عَوْرَةٍ ::: وَمَنْ هُوَ فِي حَالِ التَّغَوُّطِ أَشْنَعُ

[۲](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ، وَأَبُوبَكْرٍ ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عُمَرُبْنُ سَعْدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "مَرَّرَجُلٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَيَبُولُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَغَيْرِهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَيَمَّمَ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روایت دې، هغه وائي: تیر شو یو سړی په نبي ﷺ باندې او هغه متیازې کولې، نو سلام ئې واچولو په هغه باندې نو جواب ئې ورنه کړو.

تشریح: قوله: ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ وَأَبُو بَكْرٍ مَرَّ رَجُلٌ الخ ﴾ د وړاندې حدیث نه معلومیږي چه مهاجرین قنفذ سلام کړې وو نو کیدې شي چه دا رجل مبهم هم هغه وي او کیدې شي چه ابوالجهیم بن الحارث وي لکه چه د مشکوة په روایت کښې د هغوی د نوم تصریح ده، او د ابوالجهیم روایت په ابوداؤد کښې هم په ابواب التیمم کښې راروان دې او کیدې شي چه بل څوک وي قطعي طور سره تعیین نه شي کیدلې چه دا څوک دې؟ خو د هغوی په تعیین نه کیدو باندې په روایت باندې هیڅ اثر نه پریوځي.

حاصل دا چه دا صحابي ﷺ په رسول الله ﷺ باندې ورتیر شو په داسې حال کښې چه هغوی اودس ماتي کولو هغوی رسول الله ﷺ ته سلام اوکړو نو هغوی د سلام جواب ورنکړو ددې روایت نه خو هم دا معلومیږي چه رسول الله ﷺ د سلام جواب ورنکړو، په بل روایت کښې دی ﴿ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ ﴾ که دواړه بیل بیل واقعات وي نو هیڅ اشکال پکښې نشته او که یوه واقعه وي لکه چه د حضرت سهارنپوري رجحان دې طرف ته دې نو په دې صورت کښې به د ﴿ فلم یرد ﴾ معنی دا وي چه فورا ئې جواب ورنکړو، بلکه بعد التیمم ئې جواب ورکړو.

یوه مسئله دلته دا ده چه استنجاء بالحجر کونکي ته سلام اوکړې شي نو هغه جواب ورکولې شي او که نه، نو په دې کښې اختلاف دې په عرف شذی کښې دا لیکلې دی چه د حضرت ګنګوهي ﷺ رائې دا ده چه جواب ورکول جائز دی، او د مولانا مظهر نانوتوی رائې دا ده چه جائز نه دی.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَغَيْرِهِ ﴾ خان پوهه کړه چه په دې باب کښې چه مصنف ﷺ کوم روایت موصولا ذکر فرمائیلې دې هغه هم د ابن عمر دې، اوس دلته چه د ابن عمر ﷺ روایت تعلیقا ذکر کوی هغه وړاندې په ابواب التیمم کښې راروان دې او د مصنف ﷺ په کلام کښې په غیره سره د ابوالجهیم روایت طرف ته اشاره ده او دا روایت هم په ابواب التیمم کښې راروان دې، خو په بذل کښې حضرت د عنده مصداق ابن عباس ﷺ لره لیکلې دې، خو واضحه دې وي چه وړاندې په ابواب التیمم کښې د ابن عمر ﷺ د روایت نه علاوه چه بل کوم روایت راروان دې، هغه د ابوالجهیم دې، د ابن عباس ﷺ نه دی.

اوس پاتې شوه دا خبره چه د مصنف ﷺ غرض په دې کلام سره څه دې، نو په دې

(١): صحیح مسلم للحیض ٢٨ (٣٧٠)، سنن الترمذي للطهارة ٦٧ (٩٠)، الاستئذان ٢٧ (٢٧٢٠)، سنن النسائي للطهارة ٣٣ (٣٧)، سنن ابن ماجه للطهارة ٢٧ (٣٥٣)، (تحفة الأشراف: ٧٦٩٦) (حسن)

کښې دوه احتمالونه دي، يو دا چه مصنفﷺ دا وئيل غواړي چه په دې روايت کښې اختصار واقع شوې دې، نور روايات کوم چه مفصل دي، په هغې کښې دا دي چه رسول اللهﷺ د تيمم نه پس جواب ورکړو .دويم احتمال په غرض دمصنف کښې دادې چه ددې روايت نه خو دا معلوميږي چه رسول اللهﷺ د سلام جواب ورنکړو، خو په يوه بله موقع باندې چه کله هم دا خبره راپيښه شوه نو رسول اللهﷺ د سلام جواب د تيمم کولو نه پس ورکړو، ګويا قصې متعدد دي

د عبادات فائتة لا الى خلف دپاره د تيمم جواز

﴿ قوله : تَيَمَّمَ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ ﴾ د متيازو نه د فارغيدو نه پس د سلام جواب ورکول جائز دی، خو چونکه په سلام کښې د الله پاک ذکر دې او ذکر الله په طهارت سره افضل دې په دې وجه رسول اللهﷺ فوراً تيمم کولو سره د سلام جواب ورکړو

د دې نه امام طحاويﷺ استدلال کړې دې چه کوم عبادات فائتة د لا الى خلف د قبيلې نه وی، يعنی د کومو عباداتو د فوت کيدو نه پس چه قضاء نشته. مثلاً صلوة الجنازة، صلوة العيدين، دهغې اودس کولو سره د ادا کولو په صورت کښې که د فوت کيدو ويره وی نو د اوبو په موجودګئ کښې فوراً تيمم کولو سره هغه عبادات ادا کولی شی، دا د احنافو مسلک دې، ائمه ثلاثه ددې قائل نه دی، هم په دې وجه امام نوویﷺ ددې حديث توجيه داسې کړې ده چه د رسول اللهﷺ دا تيمم کول د اوبو دنشتوالی د وجې نه وو خو دا خبره د ظاهر خلاف ده ځکه چه دا د مدينې واقعه ده، او په آبادئ کښې خو اوبه وی .

[١٧]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ حُضَيْنِ بْنِ الْمُنْذِرِ أَبِي سَاسَانَ، عَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى تَوَضَّأَ، ثُمَّ اعْتَذَرَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: "إِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا عَلَى طُهْرٍ، أَوْقَالَ: عَلَى طَهَارَةٍ".

ترجمه: د مهاجر بن قنفذ نه روايت دې، دغه راغی نبیﷺ ته او هغه متيازې کولې نو سلام ئې اوکړو هغه ته، نو جواب ئې ورته ورنکړو ترڅو چه اودس ئې اوکړو، بيا ئې اعتذار پيش کړو هغه ته، نو وئې وئيل يقيناً ما بد ګڼړل چه د الله تعالى ذکر اوکړم مګر په پاکی باندې، او يائې اووئيل (د طهر په ځائې باندې طهارة).

تشريح: قوله:﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى..... وَهُوَ يَبُولُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ﴾ روايات په دې باره کښې مختلف دی، چه رسول اللهﷺ ته په کوم حالت کښې سلام کړې شوې دې، ددې حديث نه معلوميږی چه د عين بول کولو په وخت کړې شوې دې، د نسائی په روايت کښې هم دغه شان دی، ﴿ وهو يبول ﴾ او د مسند احمد په روايت کښې، ﴿ كان يبول او قد بال ﴾ په شک د راوی سره دې، خو په ابن ماجه کښې دی، ﴿ وهو يتوضا ﴾ يعنی د اودس کولو په وخت ئې

(): سنن النسائي/الطهارة ٣٤ (٣٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٧ (٣٥٠)، (تحفة الأشراف: ١١٥٨٠)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٨٠/٥)، سنن الدارمي/الاستئذان ١٣ (٢٧٨٣) (صحيح)

سلام کړي دي، اوس يا خو به دا د ابن ماجه روايت مرجوح اوګرځولي شي چه د اکثرو رواياتو خلاف دي، يا دي هغه توجيه اوکړي شي کومه چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښي د شيخ شاه عبدالغني صاحب رحمه الله نه نقل فرمائيلي ده، هغه دا چه راوي د دلته د استعارې نه کار اخستلي دي چه مسبب ونيلو سره ئي سبب مراد کړي دي يعني سبب الوضوء وهو البول.

﴿ قوله : إِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ عَلَى طُهْرٍ ﴾ رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي چه ما بغير د طهارة نه د الله پاک نوم اخستل غوره او نه ګڼړل، ځکه چه سلام د الله پاک په نومونو کښي يو نوم دي، په قرآن کريم کښي دی ﴿ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الاية ﴾ او په الادب المفرد کښي د انس رضي الله عنه حديث دي مرفوعا، ﴿ السلام اسم من اسماء الله تعالى ﴾.

دلته يو اشکال دا واردېږي چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد د هغه حديث عائشه رضي الله عنها خلاف دي کوم چه وړاندې په بل باب کښي راروان دي ﴿ كان يذكر الله على كل احيانه ﴾ په ظاهر کښي تعارض معلومېږي؟ ددې ځو جوابونه کيدې شي. ۱: حديث الباب په اولويت باندې محمول دي، او د عائشې رضي الله عنها حديث په جواز باندې. ۲: د عائشې رضي الله عنها په حديث کښي د ذکر نه مراد ذکر قلبي دې او دلته ذکر لساني فلا منافاة. ۳: على كل احيانه. کښي احيانه ضمير رسول الله ﷺ ته راجع نه دې، بلکه د ذکر طرف ته راجع دې او معنى به دا وی، كان يذكر الله عزوجل فى احيان الذكر، يعنى هغه ټول اوقات چه په هغي کښي ذکر مناسب دې، په هغي کښي به رسول الله ﷺ ذکر فرمائيلو په دې صورت کښي هيڅ اشکال پاتې نه شو، دا جواب علامه سندهي کړي دې.

دلته يو بل اشکال دا دې چه د بيت الخلاء نه د وتلو په وخت د رسول الله ﷺ نه بعض دعاګاني منقول دی، او ظاهره ده چه هغه دعاګاني به بغير د طهارت نه لوستلي شي، او د حديث الباب نه په حالت غير طهارت کښي د ذکر الله کراهت معلومېږي؟ ددې جواب دا دې چه د اذکارو دوه قسمونه دی، يو اذکار مطلقه چه په هغې کښي د څه خاص وخت تعيين نشته، دويم اذکار مخصوصه موقتة چه په هغې کښي د يو خاص وخت تعين ملحوظ وی، پس د اذکار مخصوصه موقتة دپاره ضروری ده چه په هغه اوقاتو کښي اولوستلي شي که طهارت وی او که نه وی، او کوم اذکار چه مطلقا دی د هغې دپاره به البته اولي دا وی چه په طهارت سره وی.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَذْكُرُ اللَّهَ تَعَالَى عَلَى غَيْرِ طُهْرٍ

باب دي په بيان د سړي کې چې د الله ذکر کوي بغير د پاکئ نه

[۱۸]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَالِدِ بْنِ سَلَمَةَ يَعْنِي الْفَأْفَاءَ، عَنِ الْبَهِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، هغې وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چه د الله ذکر به ئې کولو په ټولو حالاتو کښې.

تشريح: د مصنف رحمه الله عادت دا دې چه هغوی کله کله داسې هم کوی چه د باب په اخير کښې که يو داسې روايت راشي چه دهغې خلاف بل روايت وی نو مصنف رحمه الله دا مخالف باب فورا په بل روايت کښې ذکر کوی چه هغه روايت لره ملحوظ ساتلو سره دهغې جواب باندې سوچ اوکړې شي. پس دلته د تير باب په اخير کښې د رسول الله ﷺ ارشاد نقل شو ﴿انى كرهت ان اذكر الله ﴾ حال دا چه د عائشې رضي الله عنها روايت دهغې خلاف دې، په دې وجه مصنف رحمه الله دا باب قائم کړو او د عائشې رضي الله عنها حديث ئې ذکر کړو، ګينې ظاهره ده چه ددې ترجمة الباب تعلق د سياق او سباق چه کوم ابواب شروع دی يعنی ابواب الاستنجاء سره نشته، په دې باب کښې مصنف رحمه الله چه کوم حديث ذکر فرمائيلې دې په دې باندې کلام په تيرو ابوابو کښې تير شوې دې.

بَابُ الْخَاتَمِ يَكُونُ فِيهِ ذِكْرُ اللَّهِ يَدْخُلُ بِهِ الْخَلَاءَ

باب دې په بيان د ګوتمې کې چې په هغې کې د الله ذکر وي چې ننويستلى شي بيت الخلاء ته

[۱۹]( )حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِي عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ وَضَعَ خَاتَمَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، وَإِنَّمَا يُعْرَفُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ ثُمَّ أَلْقَاهُ وَالْوَهْمُ فِيهِ مِنْ هَمَّامٍ، وَلَمْ يَرْوِهِ إِلَّا هَمَّامٌ.

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وائي: وو نبي ﷺ چه کله به داخل شو بيت الخلاء ته نو کيخودله به ئې ګوتمه خپله.

تشريح: د اداب استنجاء بيان شروع دې، مصنف رحمه الله فرمائي چه ددې ټولو ادابو نه يو ادب دا دې چه که چا ګوتمه اچولې وی چه په هغې کښې د الله پاک يا د رسول الله ﷺ نوم وی نو هغه دې بيت الخلاء ته د تلو نه مخکښې بهر کيخودلې شي.

پس په حديث الباب کښې سيدنا انس رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ به کله هم بيت

( ): صحيح البخاري/الأذان ١٩ (٦٣٣) تعليقاً، صحيح مسلم/الحيض ٣٠ (٣٧٣)، سنن الترمذي/الدعوات ٩ (٣٣٨٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١ (٣٠٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٧٠، ١٥٣) (صحيح)

( ): سنن الترمذي/ اللباس ١٦ (١٧٤٦)، الشمائل ١١ (٨٨)، سنن النسائي/الزينة ٥١ (٥٢١٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١ (٣٠٣)، (تحفة الأشراف: ١٥١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٩٩، ١٠١، ٢٨٢) (منكر)

الخلاء ته د داخليدو اراده فرمائيله نو خپل خاتم به ئې بهر کيخودلو او دا په دې وجه چه د هغوی په ګوتمه کښې محمد رسول الله ليکلې شوې وو، په دې کښې د ګوتمې هيڅ تخصيص نشته، بلکه هر هغه څيز يا کاغذ چه په هغې کښې د الله پاک نوم ليکلې شوې وو، مثلاً دراهم او دنانير سره به هم دا معامله کولې شی بلکه که د ذکر الله نه علاوه مطلق حروف هم په هغې کښې ليکلې شوې وی که هغه هر څنګه وی نو بيا به هم داسې کولې شی، ځکه چه حروف د الله پاک د کلام او داسماؤ ماده ده په دې حيثيت سره مطلق حروف هم قابل احترام دی، لکه چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ليکلې دی.

دلته يو طالبعلمانه سوال پيدا کيږی هغه دا چه مصنف رحمه الله فرمائی: ﴿ باب الخاتم يكون فيه ذكر الله ﴾ په خاتم کښې ذکر الله کوم دې، ذکر خو د ذاکر صفت دې او د هغه سره قائم دې؟ ددې جواب دا دې چه دلته د ذکر نه مراد هغه الفاظ دی کوم چه په ذکر باندې دال دی، په دې باندې هم هغه اشکال واردیږی چه الفاظ خو د لافظ په ژبه کښې دی، نه په خاتم يا کاغذ کښ؟ بيا به هم دا وئيلې شی چه د الفاظو نه مراد زمونږ هغه نقوش او د حروفو شکلونه دی کوم چه په الفاظو باندې دال دی، خان پوهه کړه چه نقوش په الفاظو باندې دلالت کوی او الفاظ په معانی باندې نو ګويا درې څيزونه شو، نقش، لفظ، معنی، حاصل د کلام دا چه د ذکر الله نه مراد ما يدل على الذكر دې او ما يدل على الذكر دوه دی، يو بغير د واسطې نه لکه الفاظ او يو بالواسطه لکه نقوش او هم دا دلته مراد دی.

د رسول الله ﷺ خاتم مبارک د ډول ډپاره نه وو بلکه هغه د هغوی مهر وو په هغې باندې د هغوی نوم مبارک ليکلې شوې وو، او د مهر په طريقه باندې به هغه په خطونو باندې لګولې شو، ځکه چه کله رسول الله ﷺ غير مسلم بادشاهانو ته د دعوت الى الاسلام د خطونو ليږلو اراده اوفرمائيله نو هغوی ته عرض اوکړې شو چه د بادشاهانو دستور دې چه هغوی غير مختوم ليک نه قبلوی، چه کله د باقاعده مهر سره هغوی ته لفافه يا خط اورسيږی هغه اخلی نو ددې ضرورت د لاندې رسول الله ﷺ په دې موقع باندې دا خاتم جوړ کړې وو.

دلته دا پيژندل هم ضروری دی ځکه چه ددې به روستو ضرورت راځی چه رسول الله ﷺ په شروع کښې د سرو زرو ګوتمه جوړه کړې وه، صحابه کرامو رضي الله عنهم هم د رسول الله ﷺ په اتباع کښې د سرو زرو ګوتمه جوړه کړه، خو بيا رسول الله ﷺ دا د سرو زرو ګوتمه ناخوښه کړه او ګزار ئې کړه، او دوباره رسول الله ﷺ د سپينو زرو خاتم جوړ کړو او هم هغه ئې بيا تر مرګه پورې استعمالوله، د رسول الله ﷺ د وفات نه پس خليفه اول او د هغوی نه پس خليفه ثانی او د هغوی نه پس خليفه ثالث ته هغه راورسيده، بيا د خليفه ثالث د لاس نه وتلو سره هغه په څه طريقه بئر اريس کښې چه د مدينې طيبې مشهور کوهې دې هغې ته غورځيدو سره ورکه شوه، سره د ډير لټون نه ورته ملاؤ نه شوه، د علماء کرامو وينا ده چه د سيدنا عثمان رضي الله عنه په خلافت کښې چه کوم اختلافات واقع شو کوم چه د تاريخ په کتابونو کښې معروف او مشهور دی، ددې مبارکې ګوتمې د ورکيدو نه پس هغه هر څه اوشو، معلومه نه ده چه په دې ګوتمه کښې څه راز وو او څومره برکتی وه.

دلته يوه خبره دا هم اوپيژنئ چه ددې صحيح صورت حال هغه دې کوم چه پورته ذکر شو، خو په ابواب الخاتم کښې يو روايت راغلې دې چه دهغې په سند کښې راوی امام زهری رحمه الله دې، د هغوی په روايت کښې دا هم دی چه رسول الله ﷺ د سپينو زرو خاتم جوړ کړو، خو په ابواب الخاتم کښې يو روايت راغلې دې چه دهغې په سند کښې راوی امام زهری رحمه الله دې، د هغوی په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ خاتم فضة جوړه کړه او بيا ئې هغه ناخوښه کولو سره اوغورځوله، د جمهور شراح او محدثينو رائې دا ده چه دا د زهری وهم دې، رسول الله ﷺ د سپينو زرو نه بلکه د سرو زرو خاتم غورځولې وو، لکه په شروع کښې تفصيلا تير شوې دی، او بعض علماء کرامو د زهری د روايات يو توجيه هم کړې ده کومه چه به په خپل مقام باندې راشی، دلته تول څيزونه تبعا راغلل.

د حديث الباب په باره د محدثينو اختلاف رائې:

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ ﴾ دا قال ابوداؤد ډير اهم دې او ډير تفصيل هم غواړی، او مصنف رحمه الله چه کومه دعوی کړې ده هغه مختلف فيه ده، د ټولو حضراتو دهغې سره اتفاق نشته، حضرت په بذل کښې په دې باندې تفصيل سره کلام کړې دې، د امام نسائی رحمه الله رائې دا ده چه دا حديث غير محفوظ دې، او د امام دارقطنی رحمه الله د کلام نه معلوميږی چه دا شاذ دې، ځکه چه په دې کښې هغوی د اختلاف رواة ذکر کړې دې ددې بالمقابل امام ترمذی رحمه الله ددې حديث تحسين فرمائيلې دې او ورسره ئې ورته غريب هم وئيلې دې، اوس گويا امام ابوداؤد رحمه الله يو طرف ته شو، بل طرف ته امام ترمذی رحمه الله، د دواړو رائې مختلف دی، حافظ منذری رحمه الله په دې مسئله کښې د امام ترمذی رحمه الله سره دې، د مصنف رحمه الله ملګرې نه دې هغوی وائی چه ددې راويان ثقات او اثبات دی، او زمونږ د حضرت سهارنپوری رحمه الله ميلان هم د امام ترمذی رحمه الله د رائې طرف ته دې، د حضرت د مصنف رحمه الله ددې رائې سره اتفاق نشته چه دا حديث منکر دې.

د مصنف رحمه الله د دعوې ثبوت او په هغې نقد:

﴿ وَإِنَّمَا يُعْرَفُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ ﴾ په دې سره مصنف رحمه الله په خپله دعوی باندې دليل قائموی، يعنی د نکارت وجه بيان فرمائی، خان پوهه کړه چه د حديث منکر مقابل ته معروف وئيلې شی، هم په دې وجه مصنف رحمه الله دلته منکر کوم چه مقابل د معروف دې دا په خپل قول ﴿وانما يعرف ﴾ سره بيانول غواړی، د مصنف رحمه الله د دليل حاصل دا دې چه ددې حديث په سند کښې د همام راوی نه دوه وهمونه شوې دی، د يو تعلق د سند سره دې او د بل د متن سره، په سند کښې هغوی دا کړې دی چه د ابن جريج او د زهری ترمينځه چه کومه واسطه وه يعنی زياد بن سعد هغه ئې پريخودلې دې، او دويم وهم د متن سره متعلق دې هغه دا چه اصل متن ددې سند هغه نه وو کوم چه همام ذکر کړو بلکه هغه دې کوم چه د ابن جريج نه د

همام نه علاوه نور راویان نقل کوي،(۱) چه دهغې الفاظ دا دي ﴿ ان النبي ﷺ اتخذ خاتما من ورق ثم القاه ﴾ نو ګویا د همام نه دوه وهمونه شوي دي، یو ترک واسطه او یو تبدیل متن چه په ځائې د هغه متن ئې بله خبره ذکر کړه او وې وئیل ﴿ کان النبي ﷺ اذا دخل الخلاء وضع خاتمه ﴾ دا خو هغه خبره ده کومه چه مصنف ﷫ کړې ده.

او دویمه ډله کومه چه دې حدیث ته صحیح وائي لکه امام ترمذي ﷫، حافظ منذري ﷫ او حضرت سهارنپوري ﷫، هغوی داسې فرمائي چه په دې حدیث باندې د منکر تعریف صادق نه راځي، منکر وئیل ورته غلط دي، ځکه چه د حدیث منکر په تعریف کښې دوه اقوال دي، او دواړه تعریفونه دلته نه صادقیږي، ځکه چه حدیث منکر هغه حدیث دي چه دهغې په سند کښې یو راوی شدید الضعف وی مثلا متهم بالکذب وی او هغه د ثقه راوی مخالفت کوی، او دویم قول د منکر په تعریف کښې دا دې چه په کوم روایت کښې راوی شدید الضعف وی دا بحث پکښې نشته چه د ثقه مخالفت کوی یا نه غرض دا چه د هر دواړو اقوالو په بناء باندې د حدیث منکر دپاره ضروری ده چه په هغې کښې یو راوی شدید الضعف وی او همام داسې راوی نه دې بلکه ثقه او د صحیحین په راویانو کښې دې د هغوی طرف ته د وهم نسبت کول صحیح نه دی، دویمه خبره دا ده چه هغه متفرد نه دی بلکه په بیهقی کښې یحیی بن المتوکل او د دارقطني په کتاب العلل کښې یحیی بن الضریس د هغوی متابعت کړې دې، لهذا دا حدیث منکر نه شو بلکه مونږ وایو چه صحیح دې، د ترک واسطه او د تبدیل متن دواړه اعتراضات بې بنیاده دي دا مستقل دوه متنونه دي کوم چه په دوؤ سندونو سره روایت کړې شوي دي لکه چه د حافظ ابن حبان رائې ده، هغوی هم داسې فرمائي چه دا دواړه بیل بیل حدیثونه دي د یو متن داسې دې ﴿ اذا دخل الخلاء وضع خاتمه ﴾ او د دویم متن داسې دې ﴿ اتخذ خاتما من ورق ثم القاه ﴾ د هر یو سند بیل بیل دې، په اول کښې د زیاد بن سعد واسطه نشته، په دویم کښې شته، وراندې تلو سره حضرت سهارنپوري ﷫ فرمائي چه دې حدیث ته مدلس وئیلې کیدې شي ځکه چه په دې کښې ابن جریج راوی مدلس دی

اوس خان پوهه کړه چه په مصنف ﷫ باندې دا اشکال واردیږي چه هغوی حدیث ثاني ته معروف ځنګه اووئیلو حال دا چه مشهور عند المحدثین دا ده چه په دې کښې زهری ته وهم شوي دې چه رسول الله ﷺ د سپینو زرو خاتم غورځولې وو، او دا خبره نقل کړې شوه کما تقدم تفصیله.

توجیه لطیف از حضرت ګنګوهی:

دلته حضرت سهارنپوري ﷫ په بذل کښې د حضرت ګنګوهي ﷫ د تقریر نه یوه ډیره لطیفه خبره نقل کړې ده، هغه دا چه د همام طرف ته د وهم نسبت صحیح نه دې، ځکه چه هغه ثقه

(۱) او هغه راویان دا دي : عبدالله بن الحارث المخزومي، ابوعاصم، هشام بن سلیمان، موسی بن طارق، لکه چه د شروح نه معلومیږي.

دي، باقي دا چه بيا هغوی دا حديث داسې ځنګه نقل کړو کوم چه د مصنف رحمه الله په قول خلاف معروف دي، دې باره کښې حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي غالبا شوې داسې ده چه د زهري هغه روايت په کوم کښې چه د خاتم فضة د القاء ذکر دې د جمهورو په نزد غلط دې او غلطي منسوب کيږي د زهري طرف ته نو همام دا سوچ اوکړو چه په څه طريقه د زهري نه دا اعتراض لرې کړې شي ځکه چه دا صحيح ده چه رسول الله ﷺ د سپينوزرو ګوتمه نه وه غورځولې، نو همام د زهري د بيان کړې روايت توجيه او اصلاح دا اوکړه چه د خاتم فضة د غورځولو نه مراد دا دې چه رسول الله ﷺ به بيت الخلاء ته د تلو نه مخکښې دا کيخودله او دا چه د القاء متبادر معنی مراد نه ده، په دې صورت کښې به څوک د زهري روايت ته غلط اووائي، ددې توجيه په بنياد د زهري نه اعتراض ختميږي، والله تعالى اعلم بالصواب.

د کلام مصنف رحمه الله توجيه :

دا ټولې خبرې خو تقريبا هم هغه دي کومې چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې ليکلې دي، د عبد ضعيف رائې دا ده چه د مصنف رحمه الله د کلام دې داسې توجيه اوکړې شي چه دهغې په وجه د مصنف رحمه الله نه اعتراض لرې شي هغه دا چه د حديث منکر تعريف کښې د متقدمينو رائې جدا ده او د متاخرينو جدا، حضرت سهارنپوري رحمه الله چه د تعريف منکر په سلسله کښې څه ليکلي دی او بيا ئې چه په مصنف رحمه الله باندې کوم اعتراض کړې دې هغه د متاخرينو د رائې مطابق دی او د متقدمينو په نزد د حديث منکر اطلاق په ما تفرد به الراوی باندې هم کيږي (۱) کوم ته چه حديث شاذ وائي، که هغه راوي ثقه وي او که غير ثقه، پس د مصنف رحمه الله مراد هم دلته د منکر نه شاذ دې على اصطلاح القدماء او په قدماء محدثين کښې امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دې او امام ابوداؤد رحمه الله د هغوی خاص شاګرد رشيد دې، کيدې شي چه هغوی دلته منکر په معنی د شاذ اخستلې وی، فثبت ما ادعاه المصنف رحمه الله والله اعلم بالصواب.

بَابُ الِاسْتِبْرَاءِ مِنَ الْبَوْلِ

باب دې په بيان د ځان ساتلو کښې د بولو نه

د ترجمة الباب تشريح او غرض :

ځان پوهه کړه چه استبراء او استنجاء دوه بيل بيل څيزونه دی، فقهاء کرام استنجاء ته سنت وائي او استبراء ئې لازم ليکلې ده، د استنجاء مباحث او مسائل تير شوی دی، د استبراء تعريف دا دې : طلب البراءة عن بقية البول.... چه د بولو نه پس چه په مثانه يا د متيازو په

---

(۱) قال الحافظ في مقدمة الفتح في ترجمة بريد بن عبدالله احمد وغيره يطلقون المناكير على الافراد المطلقة وفي قواعد علوم الحديث ۲۵۸ فرق بين قول المتقدمين هذا حديث منکر وبين قول المتاخرين ذلك... الى آخر ما فيه) ددې نه پس په سن ۱۸ هـ کښې د زيات غور کولوسره ښکاره شوه چه دا توجيه هغه وخت چليدې شوه کله چه مصنف په دې باندې صرف د منکر اطلاق کړې وې، خو داسې نه ده بلکه مصنف ددې حديث مقابل هم ذکر کړې دې چه هغه ئې معروف ګرځولې دې او دا حديث ئې د همام وهم ګرځولې دې، نو د کلام سياق ددې تقاضه کوی چه دا حديث دمصنف په نزد غير محفوظ دې، کماهو رأي النسائي، والله أعلم، دا جدا خبره ده چه دچا دمصنف ددې رائې سره اتفاق نه وی فقط.

ناڵن کښې چه کومه قطره پاتې شي دهغې د اثر نه په ښهٔ طريقه باندې براءت او اطمينان حاصلول، دا خو استبراء ده(۱) کوم ته چه فقهاء کرام لازم وائي، او ترڅو چه دا حاصل شوي نه وي اودس شروع کول صحيح نه دي، خو ظاهره دا ده چه د مصنف رحمه الله مراد دلته د استبراء نه عام معنی ده يعنی په متيازو کښې احتياط کول حتی الامکان دهغې د ځان ساتلو کوشش کول، چه چرته دهغې په باره کښې بې احتياطی او نه شي که په بدن کښې وي او که په کپړه کښې وي، د روايات الباب مقتضی هم دا ده، ګينې د احاديثو مطابقت به د ترجمې سره مشکل شي کما لا يخفی علی المتامل، او هم ددې غرض په عموم کښې به دا هم راشي چه بول جالسا پکار دی نه قائما، ځکه چه کوم احتياط او حفاظت چه په بول جالسا کښې دې هغه په قائما کښې هرګز نشته، هم په دې وجه وړاندې تلو سره مصنف رحمه الله دويم باب باب البول قائما منعقد فرمائيلي دې، اوس په دواړو بابونو کښې مناسبت په ښهٔ طريقه واضح شو.

تنبيه : ځان پوهه کړه چه د څو صفحاتو نه پس يو باب الاستبراء بل راروان دې په دواړو کښې په ظاهره تکرار دې، په دفع تکرار باندې به کلام هم هلته کولې شي.

[۲۰](۲)حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَهَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، قَالَ: سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يُحَدِّثُ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ، فَقَالَ: "إِنَّهُمَا يُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، أَمَّا هَذَا فَكَانَ لَا يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ، وَأَمَّا هَذَا فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ، ثُمَّ دَعَا بِعَسِيبٍ رَطْبٍ، فَشَقَّهُ بِاثْنَيْنِ، ثُمَّ غَرَسَ عَلَى هَذَا وَاحِدًا وَعَلَى هَذَا وَاحِدًا، وَقَالَ: لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا". قَالَ هَنَّادٌ: يَسْتَتِرُ مَكَانَ يَسْتَنْزِهُ.

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې، هغه وائي: تير شو رسول الله صلی الله عليه وسلم په دوؤ قبرونو باندې، نو وئې وئيل: دې دواړو ته عذاب ورکول کيږي، او عذاب ورته نه ورکول کيږي په يو لوی شي باندې، هر چه دا دی نو وو چه ځان ئې نه ساتلو د بولو نه، او هر چه دادی نو چغلي به ئې کوله، بيا ئې راوغوښتله يوه لښته د ټجورې لمده نو دوه ځائې ئې کړه، بيا ئې ناله کړه په دې باندې يوه، او په دې باندې يوه، او وئې وئيل: کيدی شي چه سپک شي د دې دواړو نه تر کومې چه اوچې شوې نه وي، وئيلی دې هناد يستتر په ځائې د يستنزه.

تشريح: قوله :﴿ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- عَلَى قَبْرَيْنِ ﴾ دلته بحث دا دې چه دا دواړه قبرونو والا مسلمانان وو که کافر، په دې کښې دواړه اقوال دی، پس د ابوموسی المدينی رائې بالجزم دا ده چه دا غير مسلم وو او ددې تائيد د هغه روايت نه کيږی چه په هغې کښې

(۱) د استبراء او استنجاء بيان خو پورته راغلو، دلته يو دريم لفظ دې، چه دهغې معنی دا ده ﴿طلب النقاوة بان يدلك المقعد بالاحجار والاصبع عند الاستنجاء بالماء﴾ يعنی صفائی طلب کول، په داسې طريقه چه استنجاء بالحجر کوی نو حجر په مقعد کښې ښه راکاږی او که اوبه وی نو په لاس سره هم مقعد اومږی.

(۲) صحيح البخاري/الوضوء ۵۵ (۲۱۶)، ۵۶ (۲۱۸)، الجنائز ۸۱ (۱۳۶۱)، ۸۸ (۱۳۷۸)، الأدب ٤٦ (۶۰۵۲)، ٤٩ (۶۰۵۵)، صحيح مسلم/الطهارة ۳٤ (۲۹۲)، سنن الترمذي/الطهارة ۵۳ (۷۰)، سنن النسائي/الطهارة ۲۷ (۳۱)، الجنائز ۱۱۶ (۲۰۶۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۶ (۳٤۷)، (تحفة الأشراف: ۵۷٤۷)، مسند احمد (۲۲۵/۱)، سنن الدارمي/الطهارة ۶۱ (۷۶۶) (صحيح)

راغلي دى ﴿ هلكا في الجاهلية ﴾ خو دا روايت ضعيف دي، ځکه چه په دي کښي ابن لهيعه راوي دي، او د ابن العطار رائي دا ده چه دا قبر والا مسلمانان وو، او د بعض رواياتو نه هم ددي تائيد کيږي، حافظ ابن حجر رحمه الله هم دي رائي ته ترجيح ورکړي ده پس د ابن ماجه په روايت کښي دى ﴿ مر على قبرين جديدين ﴾ او د مسند احمد په روايت کښي دى ﴿ مر بالبقيع﴾ بل دا چه رسول الله ﷺ تپوس اوفرمائيلو ﴿ من دفنتم اليوم ﴾ ددي ټولو رواياتو تقاضه دا ده چه دا د مسلمانانو قبرونه وو.

علامه قرطبي رحمه الله د بعض اهل علم نه نقل کړي دي چه په دوى کښي يو سعد بن معاذ رضي الله عنه وو، خو امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا قول صرف د رد کولو دپاره ذکر کيدلې شي د معتبر کيدو په حيثيت سره نه، حاصل دا چه دا قول صحيح نه دي، د سعد بن معاذ رضي الله عنه واقعه په حديث کښي بل شان راځي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ددي دواړو صاحبانو نومونه معلوم نه شو، په يو روايت کښي هم د نوم تصريح ملاؤ نه شوه، غالبا راويانو د مسلمان د پردي ساتلو د وجي نه قصدا داسي اوکړل.

د يو بل حديث نه اشکال او دفع تعارض :

﴿ قوله إِنَّهُمَا يُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ ﴾ دلته يو اشکال کولي شي هغه دا چه په دي حديث کښي خو د کبير کيدو نفي کړي شوي ده او يو بل روايت کوم چه په الادب المفرد کښي دي په هغي کښي داسي دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ بلى انه كبير ﴾ اوس په ظاهر کښي په دواړو روايتونو کښي تعارض شو؟ جواب دا دي چه د کبير دوه معني دي، نفي د يو معني په اعتبار سره ده او اثبات د دويمي معني په اعتبار سره دي، کبير په معنى د امر شاق او ګران لکه د الله پاک په قول کښي چه دي ﴿ وانها لكبيرة الا على الخاشعين ﴾ مونږ ته کبيره وئيلې شوي دي، ددي معنى په اعتبار سره خو نفي کولي شي او مطلب دا دي چه د کوم امر د وجي نه چه هغوى ته عذاب ورکولي شي هغه يو داسي کار نه وو چه دهغي نه بچ کيدل ګران وو او کوم کبير چه ثابتولي شي دهغي نه مراد ګناه کبيره ده يا به داسي اووئيلي شي چه په دواړو ځايونو کښي يو معنى مراد ده يعني ګناه کبيره خو د کوم چه نفي کولي شي دهغي نه مراد اکبر الکبائر دي مطلق کبيره نه، او د کوم چه اثبات کولي شي دهغي نه مراد مطلق ګناه کبيره ده، په دي صورت کښي به مطلب دا وى د حديث چه د کوم کار د وجي نه چه هغوى ته عذاب ورکولي شي هغه ځه ډيره لويه ګناه نه وه، اګرچه في نفسه لويه وه، يا دي داسي اووئيلي شي چه نفي ددي دواړو کسانو د اعتقاد په اعتبار سره ده يعني د هغوى په نزد دا کبيره نه وه او په واقع کښي د الله پاک په نزد هغه کار ګناه کبيره وه، وغير ذلک من الاجوبة والاحتمالات.

وراندي د حديث مضمون دا دي چه په دي دواړو کښي د هغه د عذاب سبب د هغه د بولو په باره کښي ترک احتياط دي او د دويم سبب نمامي او چغلخوري ده، د ترجمة الباب نه ثابته شوه چه استبراء من البول ضروري ده ګيني په عذاب قبر کښي د اخته کيدو ويره ده، د نميمة تعريف مشهور دي ﴿ نقل كلام الغير على وجه الافساد والاضرار ﴾ چه خپل

مینځ کښې د تعلقاتو خرابولو په نیت باندې د یو سړی خبره بل ته نقل کول.

﴿ قوله ثُمَّ دَعَا بِعَسِيبٍ رَطْبٍ ﴾ د عذاب حل رسول اللهﷺ دا اوفرمائیلو چه تروتازه څانګه ئې راوغوښتله او د طبرانی په روایت کښې دی چه صدیق اکبرؓ څانګه راوړله هغه رسول اللهﷺ په اوږدوالی کښې ماته کړه او په دواړو قبرونو باندې ئې ښخې کړې.

﴿ قوله لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا ﴾ (۱) رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو امید دې چه ددې دواړو سړو نه په عذاب کښې تخفیف اوکړې شی ترڅو چه دا څانګې اوچې شوې نه وی.

د دې نه معلومه شوه چه د څانګو د شین والی په تخفیف عذاب کښې دخل دې، اوس په دې کښې د علماء کرامو دوه اقوال دی بعض خو وائی چه بالکل هم داسې ده، شین والی لره په دې کښې دخل دې ځکه چه په څانګه کښې چه ترڅو پورې شین والې باقی وی هغه د الله پاک تسبیح کوی نو د ذکر او تسبیح په برکت سره به په عذاب کښې تخفیف وی ﴿ قال الله تعالی وان من شئ الا يسبح بحمده ﴾ بعض حضراتو لیکلی دی چه دلته د څيز نه مراد هغه څیز مراد دې چه د حیات خاوند وی او د اونې او د څانګې حیات دهغې شین والې دې پس ترڅو چه هغه شنه وی ذکر به کوی دهغې په برکت سره به په عذاب کښې تخفیف وی، دویم قول دا دې چه د شین والی او اوچ والی په دې کښې هیڅ دخل نشته بلکه کیدې شی چه رسول اللهﷺ د تخفیف عذاب په باره کښې چه د الله پاک نه کومه دعاء او سفارش کړې وی هغه هم دې قید سره وی یعنی دا چه یا الله کم از کم ترڅو چه دا څانګې اوچې شوې نه وی تر هغه وخته پورې د هغوی نه په عذاب کښې تخفیف اوکړه یا دا چه رسول اللهﷺ ورته د مطلق تخفیف دعاء کړې وی خو د هلته نه جواب ملاؤ شو چه تر څو پورې تری (تازګی) باقی وی په عذاب کښې به تخفیف کولې شی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

ډیر فوائد کوم چه د حدیث الباب نه حاصلیږی :

د دې حدیث نه څو امور معلوم شو، ۱: د عذاب قبر حق کیدل کوم چه د اهل سنت والجماعت مذهب دې او محققین معتزله ددې قائل دی، خو بعض نور معتزله ددې نه انکار کوی او په دلائل عقلیه سره ئې رد کوی چه مړې جماد دې هغه ته به د عذاب قبر څنګه احساس کیږی او هسې هم د مشاهدې خلاف ده، د اهل سنت مذهب دا دې چه دا عذاب بدن ته وی او د روح د را واپس کیدو سره اوس که د روح اعاده پوره بدن ته شوې وی یا بعض ته کوم چه الله پاک ته ښه معلومه ده قاله العینی، او علماء کرامو دا هم لیکلی دی چه ماشومانو ته په قبر کښې فهم او حس ورکولې شی چه هغوی د الله پاک د نعمت مشاهده اوکړی.

۲: د بول مطلب مطلق ناپاک کیدل که د ماکول اللحم وی او که د غیر ماکول اللحم وی، ځکه چه په حدیث کښې ﴿ لا يستنزه من البول ﴾ مطلقا دې که څپل متیازې وی او که د

(۱) که دا په صیغه د مجهول سره وی نو ضمیر به راجع وی د عذاب طرف ته، او که معروف وی نو د لعله د ضمیر مرجع یا خو الله تعالی دې یا عسیب رطب دې.

څاروی وی او ﴿ المطلق يجرى على اطلاقه ﴾ مشهوره قاعده ده يعنی د شوافعو او د احنافو مسلک دی، د مالکيانو او د حنابله رائې دا ده چه بول د ماکول اللحم طاهر دی هم دا د امام محمدؒ رائې ده.

امام خطابیؒ شارح حديث ددې حديث نه استدلال کړې دې چه ټول ابوال مطلقا ناپاک دی که هغه د ماکول اللحم وی او که د غير ماکول اللحم وی، خو ابن بطال مالکیؒ فرمائی چه دا استدلال صحيح نه دې ځکه چه که دلته ﴿ لا يستنزه من البول ﴾ راغلې دې نو په بل ځائې کښې هم په دې روايت کښې ﴿ بوله ﴾ راغلې دې او مراد ترې نه بول انسان دې، او د انسان بول د ټولو په نزد ناپاک دی.

د دې حديث نه دا هم مستفاد شوه چه وضع الجريده على القبر يعنی د قبر سر ته يو اونه يا بوټې يا دهغې څانګه ښخول مشروع بلکه مفيد دی، پس امام بخاریؒ په کتاب الجنائز کښې ترجمه قائم کړې ده، باب وضع الجريد على القبر او بيا ئې په دې باب کښې مرور على القبرين والا حديث لره ذکر فرمائيلې دې هم دغه شان هغوی په دې باب کښې د سيدنا بريده بن الحصيبؓ وصيت روايت کړې دې کوم چه هغوی د خپل وفات په وخت کړې وو چه زما په قبر باندې دې دوه څانګې ښخې کړې شي، زمونږ په فقهاء کرامو کښې علامه شامی هم ددې د جواز تصريح کړې ده، حافظ ابن حجرؒ هم ددې سره متفق دې او په بذل المجهود کښې د سهارنپوریؒ ميلان هم دې طرف ته دې خو علامه خطابیؒ دا نه تسليموی، هغوی په دې کښې ډير احتمالات پيدا کړی دی او دا مسئله ئې ختمه کړې ده، د هغوی احتمالات بس هم دغه شان دی، حافظ هغه رد کړې دی، خو ددې مسئلې نه دې په قبرونو باندې ګلونه او څادرې وغيره اچول قياس نه کړې شی ځکه چه دا قياس باطل دې ځکه چه دهغې چرته ثبوت نشته، په وضع الجريده کښې خپله مرې ته فائده رسول مقصود وی، مثلا دا چه هغه د عذاب او تکليف نه محفوظ وی، د عقيدت په طور نه او ګلونه او څادرې د عقيدت په طور وی او د خپلو اغراض فاسدؤ حصول پکښې مقصود وی. فاين هذا من ذاک.

﴿ قَالَ هَنَّادٌ « يَسْتَتِرُ ». مَكَانَ « يَسْتَنْزِهُ »﴾ مونږ مخکښې وئيلې وو چه د مصنفؒ عادت دا دې چه ډير کرته د دوؤ استاذانو دوه سندونه يو ځائې بيانوی او د دواړو په الفاظو کښې چه کوم اختلاف وی هغه وراندې تلو سره بيل کړی، پس دلته د مصنفؒ دوه استاذان دی زهير او هناد، د دواړو په الفاظو کښې چه کوم تفاوت دې هغه بيانوی، د زهير په روايت کښې لفظ ﴿ يَسْتَنْزِهُ ﴾ واقع شوې دې او د هناد په روايت کښې ﴿ يستر ﴾ دې د استتار نه مراد يا خو استتار بينه وبين البول دې نو بيا خو به دا مرادف وی د يَسْتَنْزِهُ يا به ددې نه مراد بينه وبين الناس وی نو په دې صورت کښې به ددې معنی وی بې پردګی او کشف عورت.

[۲۱] () حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ: كَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ. وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ: يَسْتَنْزِهُ.

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنهما روايت كوي د نبي ﷺ نه په معنى دهغې سره، هغه وئيلى دى: وو چه خان به ئې نه پنا كولو د بولو نه. او وئيلى دي ابو معاويه نه به لرې كيدلو د بولو نه

تشريح: ۲- ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ ﴾ ددې سند مدار په مجاهد باندې دې، د مجاهد دوه شاګردان دى، په اول روايت كښې اعمش دې او په دې روايت كښې منصور دې د دواړو په روايتونه كښې فرق دا دې چه د اعمش په روايت كښې د مجاهد او ابن عباس رضی الله عنهما ترمينځه د طاؤس واسطه موجود ده او د منصور روايت بلا واسطه ده، اوس دا سوال دې چه كوم طريق صحيح دې بالواسطه او كه بلا واسطه د ابن حبان رحمه الله رائې دا ده چه دواړه طريق صحيح دى، او په ظاهر كښې د مصنف رحمه الله رائې هم دا معلوميږى، ددې صورت به دا وى چه مجاهد ته به په واسطه د طاؤس سره روايت رارسيدلې وى روستو به علو سند حاصل شوې وى چه براه راست ئې د ابن عباس رضی الله عنهما نه واوريدلو يا ددې برعكس
هم دغه شان امام بخارى رحمه الله هم ددې حديث په دواړو طريقو سره تخريج كړې دې، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى كښې ليكلې دى چه ددې نه معلومه شوه چه د امام بخارى رحمه الله په نزد دواړه سندونه په واسطې او بغير د واسطې نه صحيح دى زه وايم چه په ظاهر كښې خو هم دغه شان ده خه چه حافظ رحمه الله فرمائى خو امام ترمذى رحمه الله په كتاب العلل كښې د امام بخارى رحمه الله رائې دا نقل كړې ده چه رواية الاعمش اصح. او خپله د امام ترمذى رحمه الله رائې هم دا ده څنګه چه هغوى په جامع ترمذى كښې واضح كړې ده. والله أعلم بالصواب
﴿ قَالَ « كَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ »﴾ ظاهره دا ده چه د قال ضمير راجع دې د منصور طرف ته. څكه چه د منصور روايت د اعمش په مقابله كښې بياتولې شى او هم دا صاحب منهل هم ليكلې دى، خو په بذل كښې حضرت د ضمير مرجع جرير منلې دې، د اعمش په روايت كښې من البول مطلقا دې عام ددې نه كه د انسان بول وى او كه د حيوان بول وى، ماكول اللحم وى او كه غير ماكول اللحم وى ټولو ته شامل دې، او د منصور په دې روايت كښې د من بوله د اضافت د وجې نه خاص د انسان بول مراد دى
﴿ وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ « يَسْتَنْزِهُ »﴾ په ظاهر كښې دا معلوميږى چه ابومعاويه د منصور نه روايت كوى څكه مصنف رحمه الله د منصور د سند نه لاندې دا بيان كړې دې، خو داسې نه ده بلكه ددې تعلق د روايت اعمش سره دې لكه څنګه چه حضرت په بذل كښې ليكلې دى څكه چه د بخارى وغيره كتب صحاح نه هم دا معلوميږى لهذا د مصنف رحمه الله دپاره انسب دا وه چه د ابومعاويه رحمه الله الفاظ ئې د اعمش د روايت نه لاندې بيان كړې وې.

() صحيح البخاري/الطهارة ٥٥(٢١٦)، الادب ٤٩(٦٠٥٥)، سنن النسائي/الجنائز ١١٦(٢٠٧٠)، (تحفة الأشراف: ٦٤٢٤) (صحيح)

[۲۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ابْنِ حَسَنَةَ، قَالَ: انْطَلَقْتُ أَنَا وَعَمْرُو بْنُ الْعَاصِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَخَرَجَ وَمَعَهُ دَرَقَةٌ ثُمَّ اسْتَتَرَ بِهَا ثُمَّ بَالَ، فَقُلْنَا: انْظُرُوا إِلَيْهِ، يَبُولُ كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ، فَسَمِعَ ذَلِكَ، فَقَالَ: "أَلَمْ تَعْلَمُوا مَا لَقِيَ صَاحِبُ بَنِي إِسْرَائِيلَ؟ كَانُوا إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَوْلُ قَطَعُوا مَا أَصَابَهُ الْبَوْلُ مِنْهُمْ، فَنَهَاهُمْ، فَعُذِّبَ فِي قَبْرِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مَنْصُورٌ: عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: جِلْدِ أَحَدِهِمْ. وَقَالَ عَاصِمٌ: عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: جَسَدِ أَحَدِهِمْ.

ترجمه: عبد الرحمن بن حسنة وايي: چه لاړم زه او عمرو بن العاص پيغمبر ﷺ ته نو هغه راووتلو او د هغه سره ډال وو بيا ئي خان پناه کړو په هغې، بيا ئي بولي اوکړي، نو مونږ اوونيل اوګورئ متيازري کوي لکه ځنګه چه ښځه متيازې کوي، نو واوريدل هغه دا، نو وئي وئيل: ايا تاسو ته علم نشته د هغه څه چه د بني اسرائيلو صاحب ورسره مخ شوې وو، وو کله چه به ورسيدلې هغوی ته متيازې نو هغوی به پرې کړو هغه ځائې چه بولې به ورته رسيدلې وې، نو ده هغوی منع کړل نو عذاب ورته ورکړی شو په قبر کښې. ابوداؤد وائي: منصور د ابو وائل نه، هغوی دابو موسى نه، اموسى د رسول الله ﷺ نه په دې حديث کښې په متيازو لګيدو سره دخپلې څرمن کټ کولو روايت کړې دې، اوعاصم د ابووائل نه، هغوی د ابوموسى نه او ابو موسى د رسول الله ﷺ نه دخپل جسم کټ کولو ذکرکړې دې.

تشريح: قوله :﴿عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ابنِ حَسَنَةَ ﴾ حضرت عبدالرحمن بن حسنه ؓ فرمائي چه زه او عمرو بن العاص ؓ د رسول الله ﷺ خدمت ته لاړو نو مونږ اوکتل چه هغوی تشريف راوړی ﴿ وَمَعَهُ دَرَقَةٌ ﴾ او هغوی سره يو ډهال وو [۲] رسول الله ﷺ د بول کولو دپاره هغه خپلې مخې ته پرده کړو چه د چا نظر پرې پرينوځي ﴿ ثم بال ﴾ او بيا رسول الله ﷺ قضاء حاجت اوکړو لکه چه د مسند احمد په روايت کښې دی چه دوی دواړو رسول الله ﷺ هم دغه شان په بولو کولو باندې اوليدلو نو وې وئيل ﴿ انظُرُوا إِلَيْهِ يَبُولُ كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ ﴾ اوګورئ رسول الله ﷺ ته، ځنګه بول کوی لکه ځنګه چه زنانه کوی.

په دې تشبيه کښې دوه احتمالونه دی يا د پردې په قائمولو کښې تشبيه ده او يا په ناسته باندې متيازې کولو کښې ځکه چه د جاهليت په زمانه کښې صرف د زنانو عادت په ناسته د متيازو کولو وو، سړو به په ولاړه متيازې کولې، پس د ابن ماجه په يو روايت کښې دی ﴿ وكان شان العرب البول قائما ﴾ او په ناسته باندې متيازې کول به ئې د سړی توب خلاف ګڼړلې. او دا هم احتمال دې چه تشبيه په دواړو خبرو کښې وی ددې حديث نه دوه خبرې معلومې شوې اول دا چه د قضاء حاجت نه مخکښې د پردې انتظام کول او دويم دا چه متيازې په ناسته کول

[۱]: سنن النسائي/الطهارة ۲۶ (۳۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۶ (۳۴۶)، (تحفة الأشراف: ۹۶۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۶۷۴) (صحيح)

[۲]، کوم چه د دشمن د حملې نه د بچ کيدو دپاره د څرمنې يوه ټکړه وی،

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت :

د ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت خو ظاهر دي د مصنفﷺ غرض په ترجمة الباب سره لکه چه مخکښې تیر شو په متیازې کولو کښې احتیاط ثابتول دی، او ښکاره خبره ده چه هغه په ناسته متیازو کولو کښې دې نه په قائما کښې

خان پوهه کړه چه دې دواړو صحابه کرامو ﷺ چه کومه واقعه د متیازو نقل کړې ده په دې کښې ظاهره دا ده چه دې حضراتو دې وخته پورې اسلام قبول کړې وو، او دا هم احتمال دې چه د اسلام نه مخکښې واقعه وی اوس وراندې د دوی دا وئیل چه ﴿ انظروا الیه﴾ په دې کښې هم دوه احتمالات دی چه دا وینا به د هغوی تنقیدا او اعتراضا وی او یا تعجبا، که دا واقعه د اسلام قبلولو نه روسته وی نو بیا خو دا وینا د تعجب د وجې نه ده، او که قبل الاسلام وی نو اعتراضا هم کیدې شی

د حدیث الباب ترجمه او تشریح:

﴿ قوله أَلَمْ تَعْلَمُوا مَا لَقِيَ الخ ﴾ رسول اللهﷺ ددې دواړو کسانو خبره واوریدله اګرچه هغوی د اورولو دپاره نه وه کړې، بهر حال رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه تاسو ته معلومه نه ده چه په بنی اسرائیل کښې حکم شرعی دا وو چه کوم څیز په متیازو سره ناپاک شی دهغې د وینځلو په ځائې پرې کول ضروری دی، صرف په وینځلو سره به نه پاکیدلو، خو یو اسرائیلی سړی خلق په دې حکم شرعی باندې د عمل کولو نه منع کړل او وې وئیل چه هیڅ ضرورت نشته ددې تکلف، او هغه د خپل شریعت په حکم کښې بې پرواهی اوکړه نو په دې باندې رسول اللهﷺ فرمائی چه په دې مذکوره سړی باندې چه څه تیر شو هغه تاسو ته معلومه نه ده؟ وراندې دهغې بیان دې ﴿ فَعُذِّبَ فِي قَبْرِهِ ﴾ یعنی هغه سړې په عذاب قبر باندې اخته شو، حاصل ددې خبرې دا دې چه ستاسو دواړو زما په دې فعل باندې اظهار تعجب کول یا تنقید کول برابر دی ددې عمل نه د منع کولو سره، حال دا چه حکم شرعی هم دا دې چه متیازې دې په ناسته او په احتیاط سره اوکړې شی نو اوس چه تاسو ما ددې حکم شرعی نه منع کوئ نو تاسو خپله سوچ اوکړئ چه ستاسو انجام به څه وی

خان پوهه کړه چه پورته په حدیث کښې چه کوم لفظ د صاحب راغلې دې ددې نه مراد هم هغه دې دې کومه چه اوس موږ بیان کړو یعنی په بنو اسرائیل کښې یو سړې او په دې صورت کښې دعبارت مطلب واضح دې خو علامه عینیﷺ د صاحب بنی اسرائیل مصداق موسیﷺ ګرځولې دې ځکه چه هر نبی د خپل قوم صاحب وی نو ظاهره ده چه د بنی اسرائیلو صاحب موسیﷺ شو اوس که ددې نه مراد موسیﷺ وی لکه چه د عینی رائې ده نو د عبارت صحیح مطلب به په تکلف سره راویستلې شی، لهذا د ﴿ فنهاهم ﴾ ضمیر کوم چه صاحب طرف ته راجع دې دهغې تقدیر د عبارت به داسې وی ﴿ فنهاهم عن التهاون فی امر البول ﴾ یعنی موسیﷺ بنی اسرائیل د متیازو په باره کښې د بې احتیاطئ نه منع کړل په دې باندې د هغوی خبره بعضو اومنله او بعض او نه منله ﴿ فعذب فی قبره ای من لم ینته ﴾ څوک چه د خپل حرکت نه منع نه شو هغه ته عذاب قبر ورکړې شو نو د عذب نائب فاعل به

مقدر منل غواړی، او په اول صورت کښې د عذب نائب فاعل صاحب بنی اسرائیل وو، والله تعالی اعلم. حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائي چه د عینی قول بې ځایه تکلف دې.

د ما اصابه البول مصداق کښې د علماء کرامو اختلاف:

﴿ قوله: قَطَعُوا مَا أَصَابَهُ الْبَوْلُ ﴾ دلته یو بحث دا دې چه د ﴿ قَطَعُوا مَا أَصَابَهُ الْبَوْلُ ﴾ نه څه مراد دې؟ ددې نه صرف کپړه وغیره مراد ده او که بدن هم شامل دې، په دې کښې د علماء کرامو دواړه اقوال دی، یو جماعت وائی چه ددې نه مراد صرف کپړه وغیره ده او بدن په دې کښې داخل نه دې ځکه چه هغه تکلیف ما لا یطاق دې او ﴿ لا یکلف الله نفسا الا وسعها الآیة ﴾ او یو جماعت وائي چه ددې نه مراد عام دې د بدن څرمن هم په دې کښې داخل ده او دا حکم د اصرواغلال یعنی د احکام شاقه د قبیل نه دې، کوم چه په شریعت موسوی کښې وو او بنی اسرائیل دهغې مکلف وو چه دهغې طرف ته په دې آیت کریمه کښې ﴿ ویضع عنهم اصرهم والاغلال التی کانت علیهم ﴾ کښې اشاره ده او بحمد الله په شریعت محمدیه کښې دا اصرو اغلال او احکام شاقه نشته دې.

د روایاتو الفاظ په دې سلسله کښې مختلف دی، په بعض کښې ثوب وارد دې، او په بعض کښې جلد احدهم دې، او په بعض کښې جسد احدهم دې او په بعض کښې مبهم د ما اصابه البول په لفظ سره دې، هره یوه ډله د خپل خپل مسلک پیش نظر توجیه او تاویل کوی، که د ثوب لفظ دې نو بیا خو د چا هم اختلاف نشته هم دغه شان که مبهم ﴿ ما اصابه البول ﴾ راغلې دې خو په کوم روایت کښې چه ﴿ جلد احدهم ﴾ دې هغه د یو فریق خلاف دې او هغوی ددې تاویل دا کوی چه د جلد نه مراد د بدن څرمن نه ده بلکه د ځناور څرمن مراد ده کوم چه اغوستلې شی یعنی پوستین، خو په دې تاویل باندې به اشکال دا کولې شی چه په یو روایت کښې صفا د ﴿ جسد احدهم ﴾ لفظ وارد دې، هغوی ددې جواب دا ورکړې دې چه دا به روایت بالمعنی وی راوی د جلد نه جلد انسان ګڼړلې دې او بیا ئې د خپل فهم په اعتبار سره په لفظ جسد سره هغه نقل کړو. والله تعالی اعلم.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَالَ مَنْصُورٌ الخ ﴾ ددې ځائې نه مصنف رحمه الله بعض روایات تعلیقا ذکر فرمائی او مقصود په دې سره الفاظ مختلفه لره بیانول دی او ددې تعلیقاتو ذکر کولو نه دا خبره هم معلومه شوه چه دا روایت چه څنګه د عبد الرحمن بن حسنه رضي الله عنه نه روایت کړې شوې دې هم دغه شان د ابوموسی اشعری رضي الله عنه نه هم روایت دې بیا په دې کښې د راویانو اختلاف دې، بعض د ابوموسی اشعری رضي الله عنه نه مرفوعا نقل کړې دې او بعضو موقوفا. ددې اختلاف رواة نور وضاحت داسې کیدې شی چه پورته حدیث د ابوموسی اشعری رضي الله عنه نه هم مروی دې چه دهغې راوی ابووائل دې، بیا د ابووائل په شاګردانو کښې اختلاف دې منصور دا روایت موقوفا نقل کړې دې او عاصم دا مرفوعا نقل کړې دې.

چرته چه تعلیقات راځی هلته یو سوال دا کیږی چه دا روایات به موصولا چرته ملاویږی؟ پس حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه د منصور روایت موصولا په مسلم کښې موجود

دي، او د عاصم د روايت په باره كښې ئې ليكلي دي چه هغه موصولا په يو كتاب كښې هم ملاؤ نه شو. والله اعلم.... په ابوداؤد كښې تعليقات په كثرت سره دي هم دغه شان په صحيح بخاري كښې هم، په صحيح مسلم كښې كم دي او په نسائي شريف كښې ډير كم دي.

بَابُ الْبَوْلِ قَائِمًا

باب دې په بيان د بولو كې په ولاړه

د مخكښې باب د لاندې موټر دا خبره بيان كړه چه په دې باب كښې مصنف‌ﷺ د متيازو نه خان ساتل او په متيازو كښې احتياط كول ثابتولو سره هم دهغې په ضمن كښې بول جالسا هم ثابت كړل، پس ﴿ انْظُرُوا إِلَيْهِ يَبُولُ كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ ﴾ ددې صفا دليل دې چه هر كله بول جالسا ثابت شو او داهم ثابته شوه چه د رسول الله ﷺ عادت مستمره د بول جالسا وونو اوس ددې خائې نه مصنف‌ﷺ باب البول قائما منعقد كولو سره دا بيانول غواړي چه د رسول الله ﷺ نه كله كله بول قائما هم ثابت دی لكه چه ددې حديث نه ثابتيږي دا خو ده د احقر رائې، او زمونږ حضرت شيخ‌ﷺ به فرمائيل چه مصنف‌ﷺ حنبلي دې، د حنابله مسلک او دلائل ډير په اهتمام سره بيانوى ترڅو چه په بعض ځايونو كښې ئې داسې اوكړل چه د جمهور مسلک او د هغوى دليل ئې بالكل هم نه دې بيان كړې بلكه صرف د حنابله مذهب ئې ثابت كړې دې، پس ددې په مثال كښې به حضرت شيخ‌ﷺ دا باب هم پيش كولو چه اوګورئ مصنف‌ﷺ صرف د مذهب حنابله په حمايت كښې د بول قائما باب قائمولو سره د هغوى دليل ذكر كړې دې، والله أعلم.

بول قائما كښې مذاهب ائمه

خان پوهه كړه چه مسئلة الباب اختلافي ده، د احنافو او د شوافعو په نزد بول قائما مطلقا مكروه دی، او د حنابله او مالكيانو په نزد د يو قيد سره بغير د كراهت نه جائز دی هغه دا چه د رشاش البول وغيره نه په امن وی، پس د فقه حنبلي په مشهور كتاب نيل المآرب كښې ددې قيد تصريح ده يعنى په دې شرط چه د رشاش البول او د كشف عورة ويره نه وی او په مغنى كښې ليكلي شوې دی چه د حنابله په نزد بول قائما خلاف مستحب دی، بعض حضراتو د امام احمد‌ﷺ مذهب د مطلقا جواز ليكلې دې هغه صحيح نه ده، البته د بعض تابعينو لكه سعيد بن المسيب او عروة بن الزبير‌ﷺ په نزد بول قائما مطلقا بغير د كراهت نه جائز دی.

اوس دا خبره چه دا كراهت تنزيهى دې او كه تحريمي؟ جواب دا دې چه دا كراهت تنزيهي دې او د ادب خلاف ده حرام نه دی، بعض حضراتو دا ليكلي دی چه چونكه دا د نصارئ طريقه ده او په دې كښې د هغوى سره تشبه لازميږى نو كه دې ته كراهت تحريمي اووئيلې شي نو دا به صحيح وی.

[۲۳]( ) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، وَهَذَا لَفْظُ حَفْصٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: "أَتَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبَاطَةَ قَوْمٍ، فَبَالَ قَائِمًا، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ: فَذَهَبْتُ أَتَبَاعَدُ، فَدَعَانِي حَتَّى كُنْتُ عِنْدَ عَقِبِهِ.

ترجمه: د حذيفة ﷺ نه روايت دي هغه وائي: راغی رسول الله ﷺ ديران د يو قوم ته، نو بول ئي اوكړل په ولاړه بيائي راوغوښتلي اوبه نو مسح ئي اوكړه په خپلو دواړو موزو باندي.

تشريح: ۱ ﴿ عَنْ حُذَيْفَةَ رضی الله تعالى عنه ﴾ په دي باب كښي مصنف رحمه الله صرف يو حديث د حذيفه رضي الله عنه بيان فرمائيلي دي، چه په هغې كښي د بول قائما تصريح ده، او چونكه دا د جمهورو د مسلك خلاف دي په دي وجه د جواب حاجت دي، د جمهورو د طرف نه كلي طور ددي دري جوابونه كړي شوي دي

۱: دا چه بول قائما منسوخ دی دا قول منقول دي د ابن شاهين رحمه الله او ابوعوانه رحمه الله نه.

۲: لبيان الجواز، ۳: لاجل العذر...

بيا ددي عذر په تفصيل كښي مختلف اقوال دي

۱: لوجع كان في ما بضه كما في رواية ابي هريرة عند البيهقي، يعني د رسول الله ﷺ په كونډن كښي درد وو، چه دهغي د وجي نه ناسته گرانه وه.

۲: للاستشفاء عن وجع الصلب دا د امام شافعي رحمه الله نه منقول دی چه ددي مطلب دا دي چه د عربو عادت وو چه هغوی به په وجع الصلب (د ملا په درد) كښي بول قائما مفيد گڼل

۳: للامن من خروج الريح : ددي تشريح دا ده چه د رسول الله ﷺ عادت شريفه د قضاء حاجت په وخت د تباعد وو، خو په دي موقعه باندي د څه مجبوري د وجي نه رسول الله ﷺ تباعد اونكړي شو بلكه خلقو ته نزدي ئي په آبادئ كښي استنجاء اوكړه، اوس كه په ناسته باندي متيازي اوكړي شي نو هغه مظنه ده د خروج ريح په خلاف د قيام چه په دي كښي خروج نادر دي، دا توجيه د ابوعبد الله المازري رحمه الله او قاضي عياض رحمه الله نه منقول ده، هر دواړه د شراح مسلم نه دی،

۴: لعدم وجدان مكان طاهر للقعود يعني په كوم ځائي كښي چه رسول الله ﷺ متيازي كولي هغه ځائي ددي قابل نه وو چه په هغې كښي ناسته اوكړي شی، قاله ابن حبان...

۵: لخشية انحدار البول دا توجيه د امام طحاوي رحمه الله نه منقول ده يعني هغه ځائي داسي وو چه كه هلته په ناسته متيازي كړي شوي وي نو د متيازو خپل طرف ته د راواپس كيدو خطره وه، په دي وجه رسول الله ﷺ په ولاړه متيازي اوفرمائيلي چه بل طرف ته لاړي شی

( ): صحيح البخاري/الوضوء ٦٠ (٢٢٤)، ٦١ (٢٢٥)، ٦٢ (٢٢٦)، المظالم ٢٧ (٢٤٧١)، صحيح مسلم/الطهارة ٢٢ (٢٧٣)، سنن الترمذي/الطهارة ٩ (١٣)، سنن النسائي/الطهارة ١٧ (١٨)، ٢٤، (٢٦)، ٢٧، ٢٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣ (٣٠٥)، (تحفة الأشراف: ٣٣٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٩٤)، سنن الدارمي/الطهارة (٩/٦٩٥) (صحيح)

(قوله قَالَ فَذَهَبْتُ أَتَبَاعَدُ) يعني حذيفه ﷺ رسول الله ﷺ ته نژدي د استنجاء اوبه کيخودلو سره لري تلو چه هغوی ځانله ځاي کښي متيازي اوکړي خو چونکه هلته د پردي ضرورت وو په دي وجه رسول الله ﷺ هغوی د تلو نه منع کړو او خپل ځان سره ئي د نژدي اودريدلو حکم اوفرمائيلو چه د خلقو نه پرده راشي.

بول قائما په باره کښي د احاديثو تعارض او د هغي توجيه:

ځان پوهه کړه چه د بول قائما په سلسله کښي روايات مختلف دي لکه چه د ترمذي او نسائي نه معلوميږي او امام نسائي ﷫ د دفع تعارض دپاره متعدد ابواب هم قائم فرمائيلي دي، ترمذي او نسائي په دي مقام کښي کتل پکار دي دهغي نه به مسئله واضحه شي ځکه چه امام ابوداؤد ﷫ په دي مسئله کښي اختلافات روايات ته تعرض نه دي کړي، بهر حال د خلاصي په طور موټر دلته ذکر کوو چه په ترمذي وغيره کښي د عائشي ﷺ روايت دي: ﴿ من حدثکم ان رسول الله ﷺ بال قائما فلا تصدقوه ﴾ يعني عائشه ﷺ د رسول الله ﷺ د بول قائما نفي فرمائي او ترديد فرمائي چه که يو سړي داسي بيان اوکړي نو د هغه تصديق دي اونکړي شي، حال دا چه د روايت الباب يعني حديث حذيفه ﷺ نه د هغوی بول قائما ثابتيږي، ددي تعارض ډير جوابونه ورکړي شوي دي،

يو دا چه د عائشي ﷺ غرض مطلقا نفي نه ده بلکه د هغوی مراد نفي د عادت ده لهذا يو ځل په ولاړه متيازي کول ددي منافي نه دي،

دويم جواب دا ورکړي شوي دي چه د هغوی مراد نفي د بيت او منزل په اعتبار سره ده او د حذيفه ﷺ حديث د خارج البيت سره متعلق دي.

دريم جواب دا دي چه عائشه ﷺ د خپل علم په اعتبار سره نفي فرمائي.

په دي حديث باندي يو اشکال دا دي چه د رسول الله ﷺ عادت شريفه د قضاء حاجت په وخت د ابعاد وو، او د لته هغوی داسي نه دي فرمائيلي؟

ددي جواب دا دي چه قاضي عياض ﷫ فرمائي چه ممکنه ده چه په امور مسلمين کښي د اشتغال په وجه باندي د رسول الله ﷺ مجلس ډير اوږد شوي وی او د متيازو تقاضه ئي پيدا شوي وی نو ددي مجبورئ په بناء باندي رسول الله ﷺ لري تشريف نه وی اوړلي هم په دي وجه امام نسائي ﷫ په دي حديث باندي باب تړلي دي الرخصة في ترک الابعاد عند الحاجة.

د حاء تحويل تشريح:

(قوله ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ) په سنن ابوداؤد کښي دا حاء د تحويل په اول ځل راغلي ده، په دي وجه ددي د وضاحت ضرورت دي، دا د محدثينو يو خاص اصطلاح ده چه کله د يو حديث دوه يا د دوو نه زيات سندونه وی کوم چه په شروع کښي مختلف وی او وړاندي تلو سره يو شی نو هلته حضرات مصنفين د اختصار دپاره داسي کوی چه د اول سند کومه حصه چه غير مشترک ده صرف هم هغه ليکي او دهغي نه پس حاء د تحويل ليکلو سره دويم سند شروع کولو سره هغه تر اخيره پوري ليکي چه په هغي کښي د دواړو سندونو مشترکه حصه هم راځی داسي اختصار په دي صورت کښي پيدا شو چه کومه حصه

مشترک وه هغه صرف يو ځل ذکر شوه، هر يو سند که پوره ليکلي شوي وي نو ښکاره ده چه په هغي کښي به تکرار او طوالت راغلي وي نو اوس دلته دا کتل وی چه په سند ثاني کښي د سند مشترک حصه د کوم راوی نه شروع کيږی په دي کښي بعض وخت غلطي هم کيږی او دي راوی ته ملتقى السندين وائي

د دي ضروري وضاحت نه پس خان پوهول پکار دی چه په دي کښي اختلاف دي چه دا لفظ حاء مهمله دي او که خاء معجمه، په دي کښي دواړه اقوال دی، که خاء معجمه وی نو بيا په دي کښي دوه اقوال دی، اول دا چه دا مخفف دي د الى آخره يعنى الى آخر السند دويم قول دا دي چه دا مخفف دي د وبسند آخر . او که حاء مهمله وی نو دا د څه مخفف دي په دي کښي څلور اقوال دی. ۱: مخفف دي د صح نه، ۲: مخفف دي د الحديث نه، ۳: مخفف دي د الحائل نه، ۴: مخفف دي د التحويل نه، بيا يو بل اختلاف دلته دا دي چه دا لفظ به څنګه لوستلي شي؟ جواب دا دي چه مغاربه چه کله دلته راورسي نو دا التحويل لولي او مشارقه چه موږ هم پکښي داخل يو دا حاء د حروف تهجي په شان لولي

دلته دواړه سندونه په سليمان باندي يو ځائي کيږی، يعني شعبه او ابوعوانه دواړه دا حديث د سليمان نه روايت کوی، د سليمان نه د سند مشترک حصه شروع کيږی نو سليمان ملتقى السندين شو، ﴿ سليمان ﴾ دا سليمان بن مهران دي، مشهور دي په اعمش سره، ﴿ ابوعوانة ﴾ دا کنيت دي نوم د هغوی وضاح بن عبدالله دي ﴿ ابو وائل ﴾ د هغوی نوم شقيق بن سلمه دي

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَبُولُ بِاللَّيْلِ فِي الإِنَاءِ ثُمَّ يَضَعُهُ عِنْدَهُ

باب دي په بيان د سړي کښي چي متيازي کوي دشپي په لوښي کښي بيا ئي دي د ځان سره

د ترجمة الباب غرض :

د استنجاء آداب شروع دی په دي سلسله کښي يو ادب دا تير شوي دي چه د رسول الله ﷺ عادت شريفه د بول و براز په وخت د تباعد اختيارولو وو خو ددي ځائي نه مصنف رحمه الله دا بيانوی چه د عذر د وجي نه کله کله د رسول الله ﷺ نه ددي خلاف هم ثابت دی يا دي داسي اووئيلي شي چه د مصنف رحمه الله غرض ددي باب نه بول فى الاناء لره ثابتول دی، ممکنه ده چه چاته دا شبهه پيدا شي چه په لوښى کښي متيازي کول صحيح نه دی، خو د ضرورت او د عذر احکام چونکه جدا وی، لهذا ضرورة او شرعا دا جائز کړي شو امام نسائی رحمه الله هم په دي باندي ترجمه قائم کړي ده بلکه دوه ابواب ئي منعقد کړي دی يو البول فى الاناء او دويم البول فى الطست.... په دي کښي په ظاهره تکرار معلوميږی ددي توجيه مونږ په الفيض السمائي کښي کړي ده.

د حديث الباب نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د لرګی يوه پياله وه چه په هغي کښي به رسول الله ﷺ کله کله د حاجت او ضرورت په وخت د شپي متيازي کولي او هغه به ئي د خپل کټ د لاندي کيخودله او سحر به ئي بيا د خپل خادم په ذريعه باندي تويولي

[۲۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ حُكَيْمَةَ بِنْتِ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ، عَنْ أُمِّهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: "كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ مِنْ عَيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيرِهِ يَبُولُ فِيهِ بِاللَّيْلِ".

ترجمه: حکیمه بنت امیمه لور د رقیقه. هغه روایت کوي د خپلې مور نه. هغې وئیلي دي: وه د نبي ﷺ لپاره یوه پیاله د لرګي نه لاندې د کټ د هغه نه. چه متیازې به ئې کولې په هغې کښې د شپې

تشریح: ﴿ قَدَحٌ مِنْ عَيْدَانٍ الخ ﴾ دا لفظ عیدان بفتح العین وبکسر العین دواړو طریقو سره راځي، که بالفتح وي نو جمع ده د عیدانة او عیدانه وائي د کهجورې تنې ته، او مطلب به دا وي چه دا تنه خالي کولو سره پیاله جوړه کړې شوې وه، او که بالکسر وي نو بیا جمع ده د عود په معنی د لرګي نو مطلب به دا وي چه رسول اللهﷺ سره د لرګي پیاله وه، مشهور بالکسر دي، علامه سندی رحمه الله فرمائي چه بالکسر اګرچه مشهور دې خو معنی غلط دي، ځکه چه کله د څو لرګو نه پیاله جوړه شي نو په هغې کښې به رقیق څیز نه ایسارېږي، لګه اوبه او متیازې وغیره، بعضو د جمع دا توجیه کړې ده چه د عیدان جمع راوړلې شوې ده دهغې د اجزاء په اعتبار سره، دا مطلب نه دې چه د څو لرګو په یو ځائې کولو سره جوړ کړې شوې وو په دې صورت کښې به د علامه سندهي رحمه الله اشکال نه واردیږي

﴿ قوله: يَبُولُ فِيهِ بِاللَّيْلِ ﴾ دلته بعض شارحینو لیکلي دي چه د بالليل نه معلومه شوه چه د ورځې داسې کول مناسب نه دي الا لضرورة، او دا ئې هم لیکلي دي چه ظاهره دا ده چه داسې به رسول اللهﷺ د یخنۍ په زمانه کښې کول، دویمه خبره حافظ عراقي رحمه الله دا لیکلي ده چه دا د هغه زمانې خبره ده په کومه زمانه کښې چه د بیوت الخلاء انتظام نه وو، هغه وخت به رسول اللهﷺ داسې کول ځکه چه د شپې په تباعد اختیارولو کښې د مشقت راتلل ښکاره دي، او که بیت الخلاء په کور کښې موجود وي نو بیا دهغې حاجت نشته خو ظاهره دا ده چه د بیت الخلاء د موجودیدو باوجود هم په هغې کښې دننه ګنجائش کیدل بکار دی ځکه چه شپه مطلقا محل مشقت دي (قاله صاحب المنهل)

د رسول اللهﷺ د فضلات د طهارت مسئله

حدیث الباب ابوداؤد او نسائي کښې خو صرف هم دومره خبره ده خو په بعض نورو کتب حدیث لکه بیهقي دارقطني مستدرک حاکم وغیره کښې په دې حدیث کښې یو بل زیادت وارد دې چه یو ځل رسول اللهﷺ خپلې خادمې ام ایمن رضي الله عنها ته اوفرمائیل چه په دې پیاله کښې چه څه دي هغه توئې کړه، هغې عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ هغه خو ما اوڅکلې، نو په دې باندې رسول اللهﷺ هیڅ نکیر او نه فرمائیلو بلکه دا ئې اوفرمائیل چه ﴿ لن تشتكى بطنك ﴾ اوس به ته کله هم د خیټې په بیمارۍ کښې اخته نه شې، ددې حدیث نه بعض علماء کرامو د رسول اللهﷺ د فضلات (بول وبراز) په طهارت باندې استدلال کړې دي

(): سنن النسائي/الطهارة ۲۸ (۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۸۲) (حسن صحيح)

کومه چه یو اختلافي مسئله ده. احقر د حضرت شیخ رحمه الله په ارشاد باندې ددې مسئلې تحقیق کړې دې او یو مضمون مې لیکلې دې چه په هغې کښې د مذاهب أربعه عبارتونه لیکلې شوي دی. تقریبا په ټولو مذاهب أربعه کښې ماته ددې د طهارت قول ملاؤ شو. دا مضمون طبع کیدو سره د شیم الحبیب په اخیر کښې شامل کړې شوې دې. بعض اهل حدیث په دې باندې غصه کیږي چه دا څه د واهیاتو نه ډکه خبرې دی؟ بول وبراز هم پاک وی؟ خو د چا په غصه کیږي باندې څه کیږي چه هر کله منقول دی

احقر عرض کوي چه که د رسول الله ﷺ د فضلات طهارت تسلیم کړې شي نو بیا خو په دې کښې د رسول الله ﷺ عظمت او علو شان ښکاره دې. خو که غیر طاهر ورته اوونیلې شي نو بیا په بل طریق باندې د هغوی علو شان ثابتیږي هغه داسې چه د نورو انسانانو په شان د هغوی د بول وبراز د ناپاک کیدو باوجود رسول الله ﷺ ته دومره ترقي ورکړې شوه چه د ټولو اسمانونو نه پورته لاړو سبحان الله څه عجیب شان دې «د رسول الله ﷺ» او بله دا چه په دې کښې د الله پاک قدرت او وسعت عطاء ښکاره ده

د حدیث الباب د بعض احادیثو سره تعارض او د هغې جواب

دلته شارحینو دوه اشکالونه کړې دی

اول دا چه حدیث الباب معارض دې د هغه حدیث چه په هغې کښې راځي ﴿ الملائكة لا تدخل بیتا فیه بول ﴾ کوم چه د مصنف ابن ابی شیبة روایت دې من حدیث ابن عمر رضی الله عنه. بل دا چه د طبراني په روایت کښې دی کوم چه حضرت په بذل کښې لیکلې دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې ﴿ لا ینقع بول فی طست فی البیت ﴾ چه په یو لوښی کښې دې متیازې کولو سره په کور کښې کینخودلې شي؟ جواب دا دې چه په حدیث اول کښې مراد کثرت نجاست في البیت دې یعنې کور لره د نجاست او ګندګۍ نه پاک ساتل پکار دی. او په دویم حدیث مراد طول مکث دې چه په لوښی کښې متیازې جمع کولو سره هم هلته پریخودلې شي. او که د شپې متیازې کولو سره د سحر په وخت توئې کړې شي نو دا په ممانعت کښې داخل نه ده. دویم جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه که داسې اوونیلې شي چه بول في الاناء والا روایت کوم چه په دې باب کښې ذکر دې کیدې شي چه دا د ابتدائي زمانې واقعه وی. د رسول الله ﷺ عادت مستمره نه وی. او دا د ممانعت والا روایات روستنی وی. لهذا هیڅ تعارض به پاتې نه شي خو په دې جواب باندې به دا اشکال راشي چه د شمائل په روایت کښې دی. ﴿ دعا بطست لیبول فیه ﴾ یعنې رسول الله ﷺ په خپل مرض الوفات کښې د متیازو دپاره لوښي طلب کړو. خو ددې جواب دا کیدې شي چه دا د یو خاص عذر د حالت واقعه ده عام حال نه دې. والله تعالی اعلم

دویم اشکال شراحو په دې مقام باندې دا کړې دې چه ﴿ قدح من عیدان ﴾ والا روایت دهغه حدیث خلاف دې چه په هغې کښې راغلې دی ﴿ اکرموا عمتکم النخلة فانها خلقت من فضلة طینة ابیکم آدم علیه السلام ﴾ یعنې په دې حدیث کښې د کهجورې اونې ته د انسان ترور ونیلې شوې ده او دا چه انسان له پکار دی چه د خپلې ترور یعنې کهجورې احترام

اوکړی او ورانديږ د عمه کيدو وجه په حديث کښې دا بيان کړې شوه چه د کومې خاورې نه د ادم عليه السلام بدن جوړ کړې شوې وو هم د هغه خاورې او باقي پاتې مادې نه د نخلة تخليق اوشو لهذا دا زمونږ د پلار (ادم عليه السلام) خور شوه؟ ددې تعارض جواب دا دې چه دا د عمه والا روايت بالاتفاق ضعيف دې بلکه ابن الجوزی رحمه الله دا په موضوعاتو کښې شمار کړې دې او که د حديث صحت تسليم کړې شی نو بيا به دا وئيلې شی چه نخلة لره د پيالې جوړولو نه پس به په هغې باندې د نخلة اطلاق نه کيږی د هيئت کذائيه د بدليدو د وجې نه. لهذا د حديث خلاف رانغلو

باب الْمَوَاضِعِ الَّتِي نَهَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَنِ الْبَوْلِ فِيهَا

باب دې په بيان د هغه ځايونو کښې چې رسول الله صلی الله عليه منع کړې ده د متيازو کولو نه په هغې کښې

د کتاب په شروع کښې يو باب تير شوې دې باب الرجل يتبوأ لبوله چه د متيازو ديارہ مناسب ځائې لټول پکار دی دا باب د هغې مقابل دې، د حديث الباب نه معلوميږی چه په داسې ځائې کښې چه هلته سورې وی او خلق کينې پاسی هلته استنجاء کول ممنوع دی. او هم دغه شان په روانه لار باندې په کومې چه خلق ځی راځی

[۲۵]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اتَّقُوا اللَّاعِنَيْنِ"، قَالُوا: وَمَا اللَّاعِنَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ ظِلِّهِمْ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې. يقيناً رسول الله صلی الله عليه وسلم وئيلې دی. ځان اوساتئ د دوه هغه شيانو نه چه سبب د لعنت ګرځی، نو هغوی اووئيل لاعنان څه شی دی اې د الله رسوله! هغه اووئيل هغه کس چه قضاء حاجت کوی په لار د خلکو کښې اويا په سورې د هغوی کښې

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت

په حديث کښې لفظ تخلی راغلې دې چه د هغې تفسير حضرت په بذل کښې او هم دغه شان امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې په تغوط سره کړې دې يعنی لوئې بول (دکې متيازې) نو بيا د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت څنګه دې په ترجمة الباب کښې خو د بول ذکر دې؟ جواب دا دې چه د ترجمې اثبات په طريقه د قياس دې يعنی مصنف رحمه الله بول لره په تخلی او تغوط باندې قياس کوی، ددې نه غوره جواب دا دې چه داسې اووئيلې شی چه تخلی د خپل مفهوم په اعتبار سره عام ده تغوط او بول دواړو ته شامل ده. او مصنف رحمه الله په خپل ترجمه کښې د بول تخصيص هم دې عموم ته د اشارې کولو ديارہ کړې دې چه بول هم د حديث په مفهوم کښې داخل دی فلا حاجة الی القياس. ګويا د مصنف رحمه الله رائې د عموم شوه په خلاف د امام نووی چه هغوی د تخلی تفسير صرف په تغوط سره کړې دې لکه چه په منهل کښې دی.

(): صحيح مسلم/الطهارة ۲۰ (۲۶۹)، (تحفة الأشراف: ۱۳۹۷۸)، وقد أخرجه: حم (۲/۳۷۲) (صحيح)

﴿ قوله: اتَّقُوا اللاَّعِنَيْنِ ﴾ په لاعن کښې دوه احتمالونه دی، یا دا اسم فاعل په خپله معنی کښې دې یا په معنی د ملعون دې، ځکه چه ډیر کرته فاعل د مفعول په معنی کښې راځی لکه چه وئیلې شی کاتم یعنی مکتوم هم دغه شان دلته لاعن په معنی د ملعون دې، او بهر حال مضاف مقدر دې یعنی اتقوا فعل اللاعنین... ځکه چه د ذات لاعن نه بچ کیدل مقصود نه دی بلکه د هغه فعل نه بچ کیدل دی او مطلب دا دې چه اې خلقو! د هغه دوؤ کارونو نه بچ شئ د کومو کونکی چه ملعون دی، خلق په هغوی باندې لعنت کوی او خیرې ورته کوی، او که لاعن په خپله معنی واخستلې شی نو هغه په دې لحاظ سره چه دا دوه کسان چونکه په خپل اختیار سره داسې کار کوی چه په هغې باندې لعنت مرتب کیږی نو ګویا هغوی خپله په خپل ځان باندې لعنت کوی.

وړاندې د لاعنین بیان دې ﴿ الَّذِی یَتَخَلَّی فِی طَرِیقِ النَّاسِ أَوْ ظِلِّهِمْ ﴾ یعنی صحابه کرامو ﷺ تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ! لاعنین څوک دی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل یو هغه سړې چه د خلقو په لاره کښې بول و براز کوی، او دویم هغه سړې چه د خلقو د ناستې په ځائې یعنی) سورو کښې بول وبراز کوی، د طریق او د ظل اضافت د ناس طرف ته ددې بیان دپاره شوې دې چه د لارې نه مراد داسې لاره ده چه د خلقو پرې تګ راتګ جاری وی، او که یو سړک او لاره غیر آباد وی د هغه ځائې نه د خلقو تلل راتلل منقطع شوې وی نو هغه ددې حکم نه خارج دی، په هغې کښې علت د ممانعت یعنی د خلقو اذیت نه شی موندلې، علی هذا القیاس د سورې حکم دې چه د کوم سورې نه خلق انتفاع اخلی هغه مراد دې مطلق سورې نه دې مراد ځکه چه په دې کښې هیڅ تاذی نشته، او شارحینو لیکلې دی چه د اشتراک علت د وجې نه هم ددې ظل په حکم کښې د نمر لګیدو ځائې (پیتاوې) هم داخل دې، یعنې هغه ځائې چرته چه نمر لګی او خلق هلته د یخنۍ نه د بچ کیدو دپاره کینی

[۲۶]() حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُوَيْدٍ الرَّمْلِيُّ، وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَبُو حَفْصٍ، وَحَدِيثُهُ أَتَمُّ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ حَدَّثَهُمْ، أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْحِمْيَرِيَّ حَدَّثَهُ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ: الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَالظِّلِّ".

ترجمه: د معاذ بن جبل ﷛ نه روایت دې هغه وئیلی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی: ځان بچ کړئ د ملاعن ثلاثونه. متیازې کول په ګودرونو کښې. او په عامه لار کښې، او په سورې کښې

تشریح: ﴿ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ الخ اتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاث ﴾ ملاعن جمع د ملعن ده یا د ملعنة، او په دواړو صورتونو کښې یا مصدر میمی دی یا ظرف مکان دې په معنی د مواضع اللعن، بله دا چه ملعنة د سبب لعن په معنی کښې هم راځی، په یو صورت کښې به مطلب دا وی چه د لعنتونو نه بچ شئ، او په بل صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه د مواضع لعن نه بچ شئ، او په یو صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه د اسباب لعن نه بچ شئ چه درې دی، ۱: البزار فی الْمَوَارِدِ ۲: و البزار فی قَارِعَةِ الطَّرِیقِ ۳: والبزار فی الظّلّ

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۱ (۳۲۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۷۰) (حسن)

په موارد كښې درې احتمالونه دى. ١ يا ددې نه مراد مناهل الماء دى يعنى د اوبو د چينو گودرونه، يا ددې نه مراد طرق الماء دى يعنى هغه لارې چه په يو چينه تيرې شوې وى، يا ددې نه مراد مطلق د خلقو د مجالسو او د ناسې ولاړې او د تلو راتلو ځايونه مراد دى. د قارعة الطريق نه مراد وسط الطريق دې يعنى په موارد كښې بول وبراز كول، د لارې په مينځ كښې،ياپه سورى كښې، دلته فعل خو يو دې بول و براز خو د مختلفو ځايونو په اعتبار سره دې ته درې وئيلې شوې دى، گويا د درې ځايونو په اعتبار سره درې فعلونه شو.

په دې باب كښې مصنف رحمه الله دوه احاديث ذكر كړى دى. اول حديث د ابوهريره رضي الله عنه دې چه دهغې تخريج امام مسلم رحمه الله هم فرمائيلې دې او دا حديث د سند په اعتبار سره قوى دې، غالبا هم په دې وجه مصنف رحمه الله دا مقدم فرمائيلې دې او حديث ثانى د معاذ بن جبل رضي الله عنه دې دا د ابوداؤد نه علاوه په ابن ماجه كښې دې او سندا ضعيف دې ځكه چه ددې په سند كښې يو راوى دې ابوسعيد الحميرى. وئيلې شوې دى چه هغه مجهول دې. بله دا چه د هغه سماع د معاذ بن جبل رضي الله عنه نه ثابت نه ده په دې وجه منقطع شو.

فائده : اوس مونږ بيان اوكړو چه حديث اول سندا قوى دې عام طور سره د مصنفينو رحمهم الله طرز هم دا دې چه هغوى حديث قوى اول ذكر كوى او ضعيف روستو راوړى، خو د امام ترمذى رحمه الله طرز ددې برعكس دې هغوى عام طور سره غريب او ضعيف اول ذكر كړى او قوى روستو راوړى بلكه ډير كرته احاديث قويه پرېږدى او په غريب او ضعيف باندې اكتفاء كوى، په ظاهر كښې ددې وجه دا ده چه په حديث قوى باندې خو كلام كولو ته حاجت نشته هغه خو مفروغ عنه دې، او حديث ضعيف چونكه تنبيه ته محتاج دې په دې وجه هغوى ددې ذكر لره زيات اهم گڼړى خلقو لره دهغې د ضعف نه د خبرولو دپاره. والله تعالى أعلم.

بَابٌ فِي الْبَوْلِ فِي الْمُسْتَحَمِّ

باب دې په د بولو كولو كې په غسل خانه (حمام) كې

مستحم د حميم نه اخستلې شوې دې چه دهغې معنى گرامې اوبه دى پس د مستحم معنى د ماء حميم د استعمال د ځائې شوه ددې نه پس ددې اطلاق په غسل خانه باندې شروع شو كه په هغې كښې د ماء حميم استعمال وى يا د ماء بارد. او بعض علماء كرامو فرمائيلې دى چه لفظ حميم د اضداد د قبيل نه دې، ددې اطلاق په ماء حار او بارد دواړو باندې كيږى، مستحم، مغتسل، حمام درې واړه يو معنى لرى. وړاندې په ابواب المساجد كښې يو حديث راروان دې چه په هغې كښې لفظ حمام ذكر شوې دې «الارض كلها مسجد الا الحمام والمقبرة» او نن صبا په حجاز كښې لفظ حمام زيات رائج او مستعمل دې.

[٢٧]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ أَحْمَدُ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ،

[١]: سنن الترمذي/الطهارة ١٧ (٢١)، سنن النسائي/الطهارة ٣٢ (٣٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢ (٣٠٤)، (تحفة الأشراف: ٩٦٤٨)، وقد أخرجه: حم (٥/٥٦) (صحيح)

أَخْبَرَنَا أَشْعَثُ، وَقَالَ الْحَسَنُ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي مُسْتَحَمِّهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ"، قَالَ أَحْمَدُ: ثُمَّ يَتَوَضَّأُ فِيهِ، فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ.

ترجمه: د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دي هغه وائی، وئیلی دي رسول الله ﷺ: متیازي دي نه کوي یو ستاسو نه په غسل خانه کښې چه بیا غسل کوي په هغې کښې، وئیلی دي احمد چه بیا اودس کوي په هغې کښې ځکه چه عامه وسوسه ددي نه ده.

په لفظ یغتسل کښې وجوه اعراب:

۱ ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ الخ قوله ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ ﴾ دلته ﴿ ثم ﴾ د استبعاد دپاره دي يعنی دا خبره د عقل مند نه بعيد ده چه چرته غسل اوکړی هم هلته متیازي اوکړی. د يغتسل په اعراب کښې دوه احتمالونه دی. ۱: رفع: په دې وجه چه دا خبر دی د مبتداء محذوف يعني ثم هو يغتسل فيه... ۲ نصب: په تقدير د ان سره، خو علامه قرطبي رحمه الله ددې نه انکار کړې دې هغوی فرمائی چه د ثم نه پس ان مقدر نه وی خو ابن مالک رحمه الله فرمائی چه ثم کله د واؤ په معنی واخستلې شی نو ان مقدر کیدې شی په دې باندې امام نووی رحمه الله فرمائی که ثم د واؤ په معنی کښې واخلو نو مطلب به دا وی چه ممانعت د دوارو د جمع کولو د وجې نه دې هر یو کار بیل بیل کیدلې شی حال دا چه صرف متیازې کول هم په غسل خانه کښې منع دی که د غسل نه مخکښې ئې اوکړی او که روستو. د امام نووی رحمه الله ددې اعتراض جواب ابن هشام رحمه الله دا ورکړې دې چه د ابن مالک رحمه الله مراد دا دې چه ثم ته به د واؤ حکم ورکړو په تقدير د ان کښ، دا مطلب نه دې چه دا به دهغې په معنی اخلو چه هغه اعتراض وارد شی کوم چه نووی کړې دې. او ابن دقيق العيد رحمه الله یو بله خبره فرمائیلې ده چه دا وئیل هم صحیح دی چه په حدیث کښې د جمع کولو نه منع کړې شوې ده، اوس پاتې شوه دا خبره چه صرف د متیازو کولو نه هم منع ده ددې جواب دا دې چه دا ضروری خو نه ده چه ټولې خبرې دې د یو حدیث نه معلومې شی د جمع بین الغسل والبول حکم ددې حدیث نه معلومیږی او د بول منفردا حکم د بل حدیث نه معلومیږی لکه چه هم په دې باب کښې وړاندې راروان دی

خان پوهه کړه چه د شارحینو او فقهاء کرامو په دې کښې اختلاف دې چه په کومه غسل خانه کښې متیازې کول ممنوع دی پس د جمهورو رائې دا ده چه ددې نه مراد رخوه زمکه مراد ده یعنی هغه غسل خانه چه دهغې زمکه کچه وی ځکه چه په هغې کښې به ناپاکه او ګنده اوبه جمع کیږی او که په غسل خانه کښې ئې پوخ فرش وی یا ئې کاڼړې کیخودلې وی نو بیا هیڅ باک نشته، او د امام نووی رحمه الله رائې ددې برعکس ده هغوی فرمائی چه ممانعت په هغه وخت کښې دې چه کله په غسل خانه کښې پوخ فرش وی او که نرمه زمکه وی نو هیڅ باک نشته ځکه چه نرمه زمکه به متیازې او اوبه جذب کړی هغه به دننه ځی. په خلاف د کاڼړی او پوخ فرش چه په هغې باندې اوبه اولویږی نو دهغې نه به داڅې وهی چه په هغې سره به وسوسې پیدا کیږی. والله تعالی أعلم.

احقر واني ددې دواړو قولونو په مينځ کښې د جمع (تطبيق) کولو صورت دا دې چه په يو غسل خانه کښې دې هم متيازې اونکړې شي چه په دواړو اقوالو باندې عمل اوشي او د ظاهر الفاظ حديث د رعايت تقاضا هم دا ده خو دا څيز د آدابو د قبيلې نه دې، لهذا په غسل خانه کښې متيازو کولو ته مطلقا ناجائز او حرام وئيل به غلو وي کومه چه مذموم ده، حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې په صاحب عون باندې رد کولو سره هم ددې ترديد فرمائيلې دې او د عبدالله بن المبارک رحمه الله قول کوم چه په ترمذی کښې منقول دې ﴿ قال ابن المبارک قد وسع في البول في المغتسل اذا جرى فيه الماء ﴾ حضرت ددې تائيد فرمائيلې دې

﴿ قوله: فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ ﴾ په مصنف ابن ابی شيبه کښې د انس رضي الله عنه نه روايت دې ﴿ انما نهى عن البول في المغتسل مخافة اللمم ﴾ چه د بول في المغتسل ممانعت د ليونتوب د ويرې نه دې او په حديث الباب کښې ددې وجه وساوس وئيلې شوې ده؟ جواب دا دې چه په دواړو کښې هيڅ تعارض نشته وسوسه هم يو قسم جنون دې، والجنون فنون.

تشريح سند: ﴿ قوله احمد الخ ﴾ په دې سند کښې د مصنف رحمه الله دوه استاذان دی يو احمد او يو حسن بن علی، د دواړو په بيان کړې شوې سند کښې لږ فرق دې، دلته مصنف رحمه الله هغه فرق بيانوی چه چا څنګه سند بيان کړو، پس فرمائي چه د عبد الرزاق نه چه کوم مخکښې سند دې هغه امام احمد رحمه الله داسې بيان کړې دې قَالَ أَحْمَدُ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ أَخْبَرَنِي أَشْعَثُ او د مصنف رحمه الله دويم استاد يعنی حسن بن علی داسې اوفرمائيل عَنْ أَشْعَثَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ..... اوس په دې کښې دوه فرقونه شو يو دا چه د احمد په روايت کښې د اخبار تصريح ده او حسن روايت په طريق د عنعنه بيان کړې دې په ځائې د اخبرنی ئې عن اشعث اوويلو دويم فرق دا چه د احمد په کلام کښې اشعث غير منسوب واقع شوې دې او د حسن په کلام کښې د نسبت سره پس هغوی اووئيل اشعث بن عبدالله، په بذل کښې حضرت صرف هم دا دوه فرقونه بيان کړې دی، دلته يو دريم فرق هم راوتلې شی چه دهغې طرف نه زمونږ حضرت شيخ رحمه الله د بذل په حاشيه کښې اشاره کړې ده هغه دا چه د احمد په روايت کښې د عبدالرزاق او اشعث ترمينځه د معمر واسطه ده په خلاف د حسن بن علی د روايت چه هغوی د معمر واسطه نه ده ذکر کړې په ظاهر کښې خو هم دغه شان ده باقی په يقين سره هيڅ نه شی وئيلې چه د حسن په روايت کښې د معمر واسطه شته او که نه، په دې وجه د کتب حديث طرف ته مراجعت او د طرق حديث د تتبع حاجت دې بغير دهغې نه فيصله ممکن نه ده، والله تعالى اعلم بالصواب.

[۲۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ حُمَيْدٍ الْحِمْيَرِيِّ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: لَقِيتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا صَحِبَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَمْتَشِطَ أَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ أَوْ يَبُولَ فِي مُغْتَسَلِهِ".

() سنن النسائي بالطهارة ۱۴۷ (۲۳۹)، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۵۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۱۰، ۱۱۱، ۵/۳۶۹) (صحيح)

ترجمه: حمید بن عبدا لحمیري نه روایت دي چه هغه ابن عبد الرحمن دی، وایي: زما ملاقات اوشو د یو سړي سره چه د رسول الله ﷺ صحبت ئې کړي وو لکه څرنګه چه ورسره ابوهریره صحبت کړي وو، هغه اووئیل چه منع کړي ده رسول الله ﷺ چه سرګمنز کړي یو کس زمونږ نه هره ورځ، او یا متیازې اوکړي په ځائې د غسل کښې.

تشریح: قوله: ﴿ لَقِيتُ رَجُلاً الخ ﴾ دا رجل مبهم صحابي ﷺ دي او د صحابي په مجهول کیدو سره په روایت باندې هیڅ اثر نه پریوځي ځکه چه ټول صحابه کرام ﷺ عدول دی، ددې رجل مبهم په تعین کښې شارحینو درې احتمالات لیکلي دي

۱: عبدالله بن سرجس ﷺ، ۲: حکم بن عمرو الغفاري ﷺ ۳: عبدالله بن مغفل ﷺ، د سند دا الفاظ هم دغه شان وړاندې د باب الوضوء بفضل طهور المراة نه په وړاندې باب کښې راروان دی هلته یو زیادت دي ﴿ لقیت رجلا صحب النبي ﷺ اربع سنین کما صحبه ابوهریره ﷺ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه تشبیه د صحبت په موده کښې ده.

د باب په دې دویم حدیث کښې دوه ادبونه ذکر شوي دی یو دا چه په مغتسل کښې دې متیازې اونکړې شی، دویم دا چه هره ورځ دې امتشاط یعنې ګومنځ اونکړې شی، علماء کرامو لیکلي دی چه په دې سره ویښته اوخې حال دا چه د ګیرې د غنهولو حکم دي دویمه دا چه دا د باب زینت نه دي کوم چه د شهامت رجال خلاف دي، زینت خو د زنانو شان دي، قال الله تعالی: أَوَمَن يُنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ الآية.

ابن العربي د امتشاط په باره کښې درې خبرې لیکلي دی هغوی فرمائی چه ﴿مولاته تصنع وترکه تدلیس واغبابه سنة ﴾ یعنی په کثرت سره ګومنځ کول دا سراسر تصنع ده او دا مطلق ترک کول خلقو ته دهوکه ورکول دی چه مونږ ډیر زاهدان او د خپل نفس نه بې خبر یو، او په مینځ کښې یوه ورځ پریخودلو سره ګومنځول سنت دی، پس په یو روایت کښې دی ﴿ نهی عن الترجل الا غبا ﴾ دا روایت به په ابوداؤد کښې وړاندې راشي. بل دا چه په اغباب کښې یو قسم سادګی ده چه دهغې تعلق د ایمان سره دي ﴿ البذاذة من الایمان ﴾.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْبَوْلِ فِي الْجُحْرِ

باب دي په بیان د منع کې د متیازو نه په سوره کې

[۲۹]() حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُبَالَ فِي الْجُحْرِ"، قَالَ: قَالُوا لِقَتَادَةَ: مَا يُكْرَهُ مِنَ الْبَوْلِ فِي الْجُحْرِ؟ قَالَ: كَانَ يُقَالُ: إِنَّهَا مَسَاكِنُ الْجِنِّ.

ترجمه: د عبد الله بن سرجس نه روایت دي، چه یقینا رسول الله ﷺ منع کړي ده د متیازو کولو نه په سوره کښې، هلکو اووئیل قتاده ته، په سوره کښې متیازې ولې مکروه دي؟

(): سنن النسائي/الطهارة ۳۰ (۳٤)، (تحفة الأشراف: ۵۳۲۲)، مسند احمد (۸۲/۵) (ضعیف) (ضعیف أبي داود: ۸ والإرواء: ۵۵، وتراجع الألباني: ۱۳۱)

هغه اووئيل وو چه دا به وئيل کيدل چه هغه د پيريانو د اوسيدو ځايونه دي.

تشريح: د دې آدابو نه دا ده چه په يو سوري کښې متيازې اونکړې شي لفظ جحر بضم الجيم وسکون الحاء، چه دهغې معنی د ثقب او د سوري ده. پس په حديث الباب کښې د عبدالله بن سرجس ﷜ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمائيلې ده چه په سوره کښې متيازې اوکړې شي

﴿ قوله قَالَ قَالُوا لِقَتَادَةَ رضی الله تعالی عنه ﴾ د قال ضمير راجع دې د قتاده شاګرد طرف ته کوم چه په دې سند کښې هشام دې، هشام وائي چه د قتاده﷜ شاګردانو د هغوی نه تپوس اوکړو چه په سوره کښې د متيازو کولو نه ممانعت ولې دې؟ هغوی جواب ورکړو چه ددې وجه دا بيانولې شي چه دا سوري چه کومې وی دا مساکن الجن دی د جن نه مراد عام دی، هر هغه څيز چه د نظر نه پټ وی که هغه جنات وی او که څه ضرری څيز لکه مار لړم وغيره حشرات الارض، ځکه چه جن ماخوذ دې د اجتنان نه چه دهغې معنی د پټيدو ده، اوس په سوره کښې په متيازې کولو کښې دوه احتمالات دی يو خپل ذات ته د ضرر رسولو يا هغه څيز ته د ضرر رسيدو کوم چه په سوره کښې وی، غرض دا چه د ضرر نه خالی نه دې

نحوی تحقيق: ﴿ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْبَوْلِ ﴾ کښې دوه احتمالونه دی رومبی احتمال يا خو ما موصوله ده او يکره دهغې صله ده او د ﴿ من البول ﴾ بيان دې موصول سره د صله نه مبتدا او ماذا سببه ددې خبر محذوف دې اوس به ترجمه دا وی چه هغه څيز مکروه دې يعنی په سوره کښې متيازې کول ددې سبب څه دې،

دويم احتمال دا دې چه ما استفهاميه وی د ﴿ لم ﴾ په معنی کښې په دې صورت کښې به من زائده وی او بول به د يکره نائب فاعل وی، يعنی لم يکره البول فی الجحر.. په سوره کښې متيازې کول ولې مکروه دی؟ په دې صورت کښې به په عبارت کښې هيڅ هم محذوف منلو ته ضرورت نه وی او ﴿ انها مساکن الجن ﴾ کښې ضمير مونث يا خو جحر ته راجع دې په تاويل د فرجه او يا دې داسې اووئيلې شی چه د جحر نه اجحار مفهوم کيږی دهغې طرف ته راجع دې ځکه چه مفرد په جمع باندې او جمع په مفرد باندې دلالت کوی.

دلته شارحينو ددې حديث په تائيد کښې يو واقعه ليکلې ده هغه دا چه سعد بن عبادة الخزرجی﷜ يو ځل په سوره کښې متيازې اوکړې پس ناڅاپه بيهوشه کيدو سره راپريوتلو او وفات شو. غيبی آواز راغلو کوم چه اوريدونکو واوريدلو ع

نحن قتلنا سيد الخزرج سعد بن عبادة فرميناه بسهم فلم يخطی فؤاده

د رسول الله ﷺ دا تعليمات چه يو طرف ته زمونږ د شريعت په جامعيت باندې دلالت کوی نو بل طرف ته د رسول الله ﷺ په غايت شفقت او محبت او امت سره د همدردئ خبر ورکوی. صلی الله عليه وسلم شرف وکرم.

باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ

باب دې په بيان د هغې کې چې سړی يې وايې کله چې راوځي د بيت الخلاء نه

د بيت الخلاء نه د بهر راتلو د دعاء بيان، د داخليدو په د وخت د دعاء لوستلو باب ډير مخکښې تير شوي دي، مصنف رحمه الله په دې دوه ابوابو کښې فصل ولې اوکړو، متصلا ئې د يو بل نه پس ولې ذکر نه کړل لکه څنګه چه د قياس تقاضه ده، دلته يو سوال پيدا کيږي، دا خبره يو شارح هم نه ده کړې، زما په خيال دې کښې حکمت دا کيدې شي چه په دې کښې د تذکير او د يادداشت فائده ده يعنې تيره شوې خبره کومه چه څو ورځې مخکښې لوستلې شوې وه دهغې په دې باب کښې دوباره تکرار اوکړې شي چه په هغې سره په سابق علم کښې تازګی پيدا شي کوم چه په حفظ کښې معين دي او ښکاره ده چه په يو ځائې کښې ذکر کولو سره دا فائده نه حاصليږي

> [۳۰]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ النَّاقِدُ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْغَائِطِ، قَالَ: غُفْرَانَكَ".

ترجمه: ابو برده وائي چه ماته عائشې رضي الله عنها حديث بيان کړې دې چه يقينا نبي ﷺ وو چه کله به وتلو د بيت الخلاء نه نو وئيل به ئې (غفرانک) اې الله زه بخښنه غوارم تاته

تشريح: قوله: ﴿ حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ ﴾ په دې باب کښې مصنف رحمه الله يو حديث بيان فرمائيلي دي هغه دا چه رسول الله ﷺ به چه کله د بيت الخلاء نه بهر تشريف راوړلو نو ﴿ غفرانک ﴾ به ئې لوستلو. په بل حديث کښې ددې نه علاوه نورې دعاګانې هم راغلې دي، پس په يو روايت کښې دي: ﴿ الحمد لله الذي اذهب عنى الاذى وعافاني ﴾ او په يو روايت کښې دي ﴿ الحمد لله الذي اذهب عنى ما يوذيني وابقالي ما ينفعني ﴾ غوره دا ده چه درواړه دعاګانې يو ځائې اولوستلې شي

(په غفرانک کښې وجه د نصب): په ﴿ غفرانک ﴾ کښې دوه احتمالونه دي يو د مفعول مطلق کيدو او د مفعول به کيدو تقدير د عبارت به داسې وي ﴿ اغفر غفرانک يا اسئلک غفرانک ﴾ اي الله زه ستا بخښنه غوارم

د دعاء ماثور ددې مقام سره مناسبت کښې توجيهات:

دلته يو مشهور سوال دې چه ددې دعاء دې مقام سره څه مناسبت دې؟ حضرات علماء کرامو ددې مختلف توجيهات بيان فرمائيلي دي.

۱ يو دا چه رسول الله ﷺ به هر وخت په ذکر کښې مشغول وو لکه چه په تير باب کښې تير شو خو په بيت الخلاء کښې چونکه ذکر کول جائز نه دي په دې وجه به ئې مجبورا ذکر کښې

(): سنن الترمذي/الطهارة ۵ (۷)، سنن النسائي/الكبرى (۹۹۰۷)، اليوم والليلة (۷۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۰ (۳۰۰)، (تحفة الأشراف: ۱۷٦۹٤)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة (۷۰۷/۱۷) (صحيح)

انقطاع راتله نو دا انقطاع به ئې تقصير ګڼړلو او استغفار به ئې فرمائيلو
۲- دويم قول دا دې چه اګر که رسول اللهﷺ به په دې حالت کښې ذکر لساني ترک کولو خو ذکر قلبي به ترې نه په دې وخت کښې هم بې اختياره صادر کيدلو کوم چه به رسول اللهﷺ د کمال ادب خلاف ګڼړلو سره به ئې روستو استغفار کولو
۳- يو دريمه توجيه دا کړې شوې ده چه د قضاء حاجت نه د فراغت په وخت د نعمت غذا د تکميل وخت دې، اول الله پاک د خوراک څکاک نعمت عطاء اوفرمائيلو بيا ئې هغه په سهولت سره د حلق نه تير کړو ګيني ډير کرته تالو هم بند شي بيا د معدې هغه خوراک لره قبلول او دهغې هضم کيدل، او د هضم کيدو نه پس د کار څيز په بدن کښې پاتې کيدل او د ټولو نه په اخير کښې فضله په عافيت سره د بدن نه بهر راتلل کومه چه آخرې مرحله ده، غرض دا چه دا د نعمت غذا د تکميل وخت دې چه دهغې حق او شکر زمونږ نه نه شي ادا کيدلې په دې تقصير باندې رسول اللهﷺ امت ته د استغفار تعليم اوفرمائيلو يو توجيه دا هم کړې شوې ده چه د بدن چه کله کومه فضله اوځي هغه نجاست حسيه دې په دې سره د رسول اللهﷺ ذهن نجاست معنويه يعنې د معاصي طرف ته منتقل شو په دې باندې به هغوی استغفار فرمائيلو ، ونيلي شي الشئ بالشئ يذكروا الكلام الى الكلام ينجر.
په بعض شروحو کښې ددې دعاء د اصل په سلسله کښې يو بله خبره ليکلې ده هغه دا چه سيدنا ادم عليه السلام چه کله د آسمان نه زمکې ته راکوز کړې شو نو هغوی ته د قضاء حاجت ضرورت راپيښ شو، او هغوی ته رائحه کريهه محسوس شوه نو د هغوی خيال راغلو چه دا زما د تقصير اکل شجره اثر دې، په دې باندې هغوی فورا ﴿ غفرانک ﴾ اولوستل، نو د هغه وخت نه دا د بابا ادم عليه السلام سنت راروان دې

بَابُ كَرَاهِيَةِ مَسِّ الذَّكَرِ بِالْيَمِينِ فِي الِاسْتِبْرَاءِ

باب دې په بيان د مکروه والي د ښي لاس د ذکر سره په وخت د ځان پاکولو کښې

د دې ټولو آدابو نه يو ادب دا هم دې چه د استنجاء په وخت مس ذکر باليمين نه دې کيدل پکار، په حديث الباب کښې دوه آداب ذکر شوې دی يو د استنجاء باليمين ممانعت او دويم د مس ذکر باليمين ممانعت، يعنې په ښي لاس دې نه استنجاء اوکړې شي او نه دې په هغې سره مس ذکر اوکړې شي، د استنجاء باليمين حکم خو په تيرو ابوابو کښې راغلې دې، دلته مقصود مس ذکر باليمين دې په حديث الباب کښې د مس ذکر باليمين ممانعت مطلقا دې، په ترجمة الباب کښې مصنف رحمه الله دا د استنجاء سره مقيد کړې دې يعنې د استنجاء قيد ئې ذکر کړې دې نه کوې، د امام بخاري رحمه الله رائې هم دا ده هغوی هم په ترجمة الباب کښې د استنجاء قيد ذکر فرمائيلې دې او د علامه عيني او نووي رائې دا ده چه ممانعت مطلقا دې د استنجاء په وخت هم او بغير دهغې نه هم په دې باب کښې مصنف رحمه الله درې احاديث ذکر کړې دی

[۳۱]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ، فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا أَتَى الْخَلَاءَ، فَلَا يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ، فَلَا يَشْرَبْ نَفَسًا وَاحِدًا"

ترجمه: عبد الله بن ابي قتادة نه روايت دې، هغه روايت کوي د خپل پلار نه، هغه وئيلي دي، چه وئيلي دي رسول الله ﷺ کله چه متيازې کوي يو کس ستاسو نه نو نه دې مسه کوي خپل ذکر په ښي لاس. او کله چه راشي بيت الخلاء ته نو استنجاء دې نه کوي په ښي لاس. او کله چه څکل کوي نو څکل دې نه کوي په يوې ساه باندې

تشريح: ۱ ﴿قوله عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ : إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَمَسَّ الخ ﴾ په دې مقام باندې شارحينو ته يو اشکال راغلي دې کوم چه په بذل کښې حضرت په تفصيل سره نقل فرمائيلي دې. هغه دا چه په دې حديث کښې د مس ذکر باليمين او د استنجاء باليمين دواړو ممانعت کړې شوې دې چه دهغې مطلب دا دې چه د استنجاء په وخت ښي لاس مطلقا نه دې استعمالول پکار. حال دا چه د استنجاء بالحجر په وخت د دواړو لاسونو استعمال ضروري دې چه په يو لاس کښې لوټه اخستلو سره استنجاء اوکړې شي او په دويم لاس کښې امساک ذکر وي يعنې ذکر لره نيولو سره په لوټه باندې بار بار کيخودلې شي تر دې چه هغه مقام خشک شي. اوس که استنجاء باليسار کوي يعنې په ګس لاس کښې لوټه نيسي نو مس ذکر باليمن به کوي کوم چه ممنوع دې. او که د مس ذکر باليمن نه بچ کيدو سره امساک ذکر په ښي لاس کوي نو په ښي لاس کښې به لوټه نيسي په دې سره به استنجاء باليمن لازميږي. غرض دا چه د احد المحذورين ارتکاب به ضرور لازميږي د دواړو نه بچ کيدل ګران دي نو په حديث باندې د عمل څه شکل دې

د استنجاء بالحجر بعد البول په کيفيت کښې د فقهاء کرامو اختلاف

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه علامه خطابي رحمه الله ددې يو عجيبه حال بيان کړې دې هغه دا چه استنجاء کونکې سړې به يو ديوال يا يو غټ کاڼې ته نژدې تللو سره به ګس لاس باندې ذکر نيولو سره مسلسل لګوي تر دې چه اوچ شي نو په دې صورت کښې به مس ذکر باليمين نه محفوظ وي. حافظ رحمه الله فرمائي چه دا هيئت هيئت منکره دې او هر ځائي او هره موقعه باندې به ديوال او لوئي کاڼې د کوم ځائي نه راوړي. لهذا دا هيڅ حل نه شو. علامه طيبي رحمه الله يو دويم حل راويستلو چه د استنجاء باليمين ممانعت بعد الغائط دې نه بعد البول. لهذا استنجاء بعد البول په ښي لاس سره جائز دې په حديث کښې ددې ممانعت نشته. ددې صورت به دا وي چه د استنجاء دپاره لوټه په ښي لاس کښې اونيسي او په ګس لاس باندې ذکر نيولو سره به هغې باندې کيږدي. حافظ رحمه الله دا جواب هم رد کړې دې چه د

(): صحيح البخاري/الوضوء ۱۸ (۱۵۳)، ۱۹ (۱۵٤)، الأشربة ۲۵ (۵٦۳۰)، صحيح مسلم/الطهارة ۱۸ (۲٦۷)، سنن الترمذي/الطهارة ۱۱ (۱۵)، سنن النسائي/الطهارة ۲۳ (۲٤، ۲۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۵ (۳۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹٦/۵، ۳۰۰، ۳۱۰)، سنن الدارمي/الطهارة (۷۰۰/۱۳) (صحيح)

طيبي رحمه الله دا قول چه د استنجاء باليمين ممانعت بعد الغائط دي نه بعد البول دا صحيح نه دي (١) بلکه د جمهورو په نزد دا ممانعت عام دي بيا حافظ رحمه الله خپله ددې حل بيان فرمائيلي دې او دا ئي ليکلي دی چه د استنجاء بالحجر صحيح طريقه هغه ده کومه چه امام الحرمين او امام غزالي وغيره ليکلي ده هغه دا چه په ښي لاس سره لوټه اونيسي او په گس لاس باندي دې ذکر اونيسي او بار بار دې په لوټه باندې وړدي تردې چه مقام خشک شي او د استنجاء باليمين نه هم محفوظ وی ځکه چه صرف په ښي لاس کښې لوټه اخستل بغير د حرکت نه استنجاء باليمين نه شي وئيلي کيدې، دا خو هم داسې ده لکه چه د استنجاء بالماء په وخت په ښي لاس سره په ذکر باندې اوبه اچولي شي، هغه وخت په ښي لاس کښې اوبه وی او دلته په ښي لاس کښې کانړې (لوټه) ده. خو دا ده که ښي لاس ته حرکت هم ورکړی نو بيا به دې ته استنجاء باليمين وئيلي شي، امام نووي رحمه الله هم په شرح د مسلم کښې هم دا صورت ليکلي دې، زمونږ بعض فقهاء کرامو هم د استنجاء بالحجر هم دا شکل ليکلي دي

خو حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې دې تولو ځيزونو ته تکلف محض وئيلي دي او فرمائي چه دا نظريه چه په استنجاء بالحجر کښې دواړه لاسونه استعماليږی صحيح نه ده، بلکه په يو لاس سره استنجاء کيدې شي، لهذا په گس لاس کښې لوټه اخستلو سره بغير د استعانة باليمين دې استنجاء اوکړې شی لکه چه نن صبا عام طور رواج دې، اصل کښې دا حضرات امام الحرمين او امام غزالي رحمهما الله وغيره د دواړو لاسونو استعمال په دې وجه ضروری گنړی چه راس ذکر ملوث نه شی او هلته متيازې خورې نه شی، که په يو لاس باندې استنجاء اوکړې شی نو ددې شکل به دا وی چه په يو لاس کښې لوټه اخستلو سره هغه په يو ځل د راس ذکر سره مس کړې شی چه په هغې سره به متيازې خورېږی حال دا چه مقصود تطهير دې تلويث نه دې، اوس بغير د تلويث نه د مقصود د حصول اصل شکل دا دي چه په يو لاس کښې دې لوټه واخستلي شی او په بل لاس سره دې ذکر اونيولي شی او لږ لږ دې په کانړې پورې اولګولي شی په دې کښې به تلويث نه لازميږی کوم چه عين مقصود دې خو حضرت سهارنپوري رحمه الله وړاندې تلو سره ددې جواب ورکړې دې چه د تلويث ذکر احتمال په حجر کښې دې، کلوخ يعنی کچه لوټه کښې د دې احتمال نشته ځکه چه هغه فورا متيازې جذب کوی، او ا خو که کچه لوټه ملاؤ نه شی بلکه کانړې وی نو د تلويث نه د بچ کيدو شکل دا کيدې شی چه د يو په خانې دې دوه درې کانړې په احتياط سره استعمال کړی تردې چه مقام اوچ شی، په دې صورت کښې به هم تلويث نه لازميږی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

(١) خو سياق حديث هم دې لره مشعر دې کومه خبره چه امام طيبي رحمه الله کړې ده، ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ اذا بال احدکم فلا يمس ذکره ﴾ دا خو وړه استنجاء شوه، په دې کښې د مس ذکر باليمين نه منع فرمائی او وړاندې فرمائی ﴿ اذا اتی الخلاء فلا يتمسح بيمينه ﴾ دا لويه استنجاء ده او په دې کښې د استنجاء باليمين ممانعت کولې شی. فتامل)

اوس کتل دا دي چه زمونږ په شریعت کښې څومره باریکیاني دی، سبحان الله چه هر کله په مسائل جزئیه کښې د تحقیق او تدقیق دا حال دې نو د احکاماتو او عقائدو اصول به ئې څومره پاخه او مضبوط وی الحمد لله الذی هدانا للاسلام وما کنا لنهتدی لولا ان هدانا الله.

﴿ قوله وَإِذَا شَرِبَ فَلاَ يَشْرَبْ نَفَسًا وَاحِدًا ﴾ (¹) په دې کښې په یو ساه د اوبو څکلو نه منع کړې شوې ده ځکه چه مسلسل په یو ساه باندی څکل د معدې دپاره د بوجهه سبب دې او په بنه طریقې سره مرخ هم نه حاصلیږی، بله دا چه په یو ساه څکل د بې صبرئ او د حرص علامت دې، په دې حدیث کښې خو د اوبو څکلو صرف هم دا یو ادب بیان کړې شو بدې، او ددې حدیث په بعض طرقو کښې یو بل ادب هم ذکر شوې دې هغه دا چه ﴿ واذا شرب احدکم فلا یتنفس فی الاناء ﴾ پس حاصل دا شو چه اوبه دې په یو ساه او نه څکلې شی بلکه په دوه یا درې ساګانو دې اوڅکلې شی، او دویم ادب دا دې چه په مینځ کښې د ساه اخستلو په وخت دې خوله د لوښی نه جدا کړې شی په لوښی کښې دې ساه وانخستلې شی،

دلته یو سوال دا کیدې شی چه د حدیث په دوارو جملو کښې ﴿ اذا بال احدکم الخ ﴾ او ﴿ اذا شرب الخ ﴾ کښې څه مناسبت دې؟ جواب دا دې کوم چه غالبًا د حضرت ګنګهوی په تقریر بخاری یعنی لامع الدراری کښې ذکر شوې دې چه په یو جمله کښې د ادخال ماء ادب بیان کړې شوې دې او په یو کښې د اخراج ماء ادب، حضرت به مناسبت بیان کړې دې

[۳۲](²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ آدَمَ بْنِ سُلَيْمَانَ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو أَيُّوبَ يَعْنِي الْإِفْرِيقِيَّ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، وَمَعْبَدٍ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْعَلُ يَمِينَهُ لِطَعَامِهِ وَشَرَابِهِ وَثِيَابِهِ، وَيَجْعَلُ شِمَالَهُ لِمَا سِوَى ذَلِكَ".

ترجمه: حدیث بیان کړی دی حفصې د رسول الله ﷺ بی بی، یقینًا نبی ﷺ وو چه خاص کړی ئې وو ښې لاس د خوراک او څکاک او د جامو دپاره، او چپ لاس ئې خاص کړی وو د نورو کارونو دپاره

تشریح: ۲. ﴿ حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ الخ كَانَ يَجْعَلُ يَمِينَهُ ﴾ رسول الله ﷺ به ښې لاس استعمالولو د خوراک څکاک دپاره ﴿ وثيابه ﴾ یعنی رسول الله ﷺ چه به جامه کیږې ورکولې نو په ښی لاس سره به ئې ورکولې. یا مطلب دا دې چه کله به ئې کیږې اغوستلې نو ابتداء بالیمین به ئې فرمائیله او د ویستلو په وخت به ئې ابتداء بالیسار فرمائیله، امام نووی رحمه الله فرمائی چه قاعده کلیه دا ده چه کوم څیز د باب زینت او تشریف نه وی په هغې کښې دې ښي لاس استعمال کړې شی او کوم امور چه ددې خلاف وی هلته دې ګس لاس استعمال کړې شی

---

¹) واورد الشيخ في البذل علي المصنف بأنه غير سياق الحديث، والحديث مخرج في الصحيحين وغيرهما بلفظ واذا شرب فلا يتنفس في الاناء قلت قال المنذري اخرجه الستة مطولا ومختصرا وهذا يزيل الاعتراض المذكور والله تعالي اعلم)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۹٤)، مسند احمد (۲۸۸/٦) (صحيح)

﴿قوله أبو أيوب – يَعْنِي الإفريقيَّ﴾ د دوی په تعين کښې اختلاف دې، صاحب د غاية المقصود ليکلې دی چه دا عبدالرحمن بن زياد بن الغم الافريقي دې په ظاهر کښې دوی ددې تعين په دې وجه اوکړو چه په الافريقي سره زيات مشهور هم هغه دې خو حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې ددې ترديد فرمائيلې دې او ليکلې ئې دی چه دا عبدالله بن علي افريقي دې، حضرت شيخ رحمه الله په هامش بذل کښې فرمائي چه د ابن رسلان په شرحه کښې هم دوی ته عبدالله بن علي وئيلې شوي دي، لهذا هم دا د حضرت سهارنپوري رحمه الله تحقيق صحيح دې

[۳۳]() حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنِي عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيُمْنَى لِطُهُورِهِ وَطَعَامِهِ، وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرَى لِخَلَائِهِ، وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې وئيلې دی: وو لاس د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښي د صفايي او د طعام دپاره، او وو چپ لاس د هغه د بيت الخلاء دپاره، او د نورو هغه دپاره په کومو کښې چې کندګی وی

[۳۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، هغه روايت کوي د نبي صلى الله عليه وسلم نه په معنى ددې سره

تشريح: ۴ ﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ قوله: بِمَعْنَاهُ﴾ يعني مضمون هم هغه دې کوم چه د اول حديث دې خو سند بدل شو، اوس چه هر کله مضمون يو دی نو دا حديث ئې ولې راوړې دې؟ جواب دا دې چه د اول حديث د تائيد دپاره، او د يوې بلې فائدې دپاره هم هغه دا چه ددې سند نه معلومه شوه چه په اول سند کښې د ابراهيم او عائشې رضي الله عنها ترمينځه د ترک واسطې د وجې نه انقطاع ده او په دې سند کښې هغه واسطه موجود ده نو په دې دويم سند سره د هغه اول سند انقطاع معلومه شوه

د ترجمة الباب د دويم حديث راويان ﴿المصيصى﴾ دا نسبت دې د مصيصه طرف ته کوم چه په شام کښې يو ښار دې، ﴿ابن ابى زائدة﴾ يحيى بن زكريا بن ابى زائدة دا نسبت الي الجد دې، په دريم حديث کښې دا دی، ﴿ابو توبة﴾ نوم ئې ربيع بن نافع ﴿ابن ابى عروبة﴾ اسمه سعيد، ﴿ابى معشر﴾ هو زياد بن كليب.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۱۷)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ۳۱ (۱۶۸)، الصلاة ۴۷ (۴۲۶)، الجنائز ۱۰ (۱۲۵۵)، الأطعمة ۵ (۵۳۸۰)، اللباس ۳۸ (۵۸۵۴)، اللباس ۷۷ (۵۹۲۶)، صحيح مسلم/الطهارة ۱۹ (۲۶۸)، سنن الترمذي/الجمعة ۷۵ (۶۰۸)، سنن النسائي/الطهارة ۹۰ (۱۱۲)، وفي الزينة برقم: (۵۰۶۲)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۴۲ (۴۰۱)، مسند احمد (۶/۱۷۰، ۲۶۵) (صحيح) (وأبو معشر هو زياد بن كليب)

[۲]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۹۴۳)، مسند احمد (۶/۲۶۵) (صحيح)

بَابُ الِاسْتِتَارِ فِي الْخَلَاءِ

باب دې په بيان د ځان پټولو کښې په بيت الخلاء کښې

د اداب استنجاء د تولو نه اول باب ﴿ باب التخلي عند قضاء الحاجة ﴾ مخکښې تير شوي دي، ددې باب او د مخکښې باب په غرض کښې څه فرق دې، جواب دا دې چه د تخلي په معنى کښې يواځې والي اختباروول د پردې نظم کول د هغه دپاره لازم نه دى په دې باب کښې دا بيانول غواړى چه سره د تخلي او يواځې والى اختيارولو د تستر خيال ساتل هم ضرورى دى. ځکه چه تخلي بغير د تستر نه او تستر بغير د تخلي نه ممکن دې، او که يو سړې په کور کښې دننه پرده اچولو سره قضاء حاجت اوکړى نو تستر خو اوشو خو تخلي او تباعد عن الناس اونشو. او که يو سړې د يواځې والى اختيارولو دپاره ځنګل ته لاړ شي او قضاء حاجت کوى او هلته رسيدو سره بغير د څه پردې نه قضاء حاجت کوى نو هلته تخلي خو بيا موندلې شوه خو تستر اونشو پس که څوک په داسې حالت کښې هلته اورسيدو نو يقينا بې پردګى به وى.

[٣٥]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنِ الْحُصَيْنِ الْحُبْرَانِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ، وَمَا لَاكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ إِلَّا أَنْ يَجْمَعَ كَثِيبًا مِنْ رَمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِي آدَمَ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ ثَوْرٍ، قَالَ حُصَيْنٌ الْحِمْيَرِيُّ: وَرَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ الصَّبَّاحِ، عَنْ ثَوْرٍ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخَيْرُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أَبُو سَعِيدٍ الْخَيْرُ هُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې، هغه د نبي ﷺ نه روايت کوي، هغه ونيلى دى: څوک چه رانجه لګوي نو وتر دې ولګوي، چا چه داسې اوکړو نو يقينا هغه ښه اوکړه، او چاچې داسې اونه کړه نو په هغه څه حرج نشته، او چا چه استنجا کوله نو طاق دې اوکړي، چاچې داسې اوکړه نو ښه ئې اوکړه، او چا چه داسې اونه کړه نو په هغه حرج نشته، او چاچې خوراک کولو نو هغه چه د غاښونو په مينځ کښې پاتې شي نو هغه دې وغورځوي، او هغه چه راؤباسي په ژبه نو هغه دې تير کړي، چاچې داسې اوکړه نو ښه ئې اوکړه او چا چه داسې اونه کړه نو څه حرج نشته، او څوک چه راغې ډک اودس ماتي ته نو ځان دې پټ کړي، که څه ئې نه موندل مګر دا چه راجمع کړي يوه توږنې د شګو نو هغې ته دې شاه واړوي، يقينا شيطان لوبې کوي په مقعدونو د انسانانو باندې، چا چه اوکړو نو ښه ئې اوکړو او چاچې اونه کړه نو څه حرج نشته ابوداؤد وائي: دا ابو عاصم د ثور نه روايت کړې دې، په هغې

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٣ (٣٣٨)، الطب ٦ (٣٤٩٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٣٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضو ٢٦ (١٦٢)، صحيح مسلم/الطهارة ٨ (٢٣٧) سنن النسائي/الطهارة ٧٢ (٨٨)، موطا امام مالك/الطهارة ١(٢)، مسند احمد (٢٣٦/٢، ٢٣٧، ٣٠٨، ٤٠١، ٣٧١)، سنن الدارمي/الطهارة ٥ (٦٨٩) (ضعيف)

كښې (دحصين حيراني په ځاني) حصين حميري دي، او عبدالملک بن صباح هم دا د ثور نه روايت کړي دي په هغې کښې (د ابوسعيد په ځاني) د ابوسعيد الخير ذکردي، ابوداؤد وائي ابوسعيد الخير د نبي کريم ﷺ د اصحابو څخه دي
تشريح: قوله :﴿ مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ الخ ﴾ په اکتحال کښې د ايتار دوه صورتونه کيدې شي، يو دا چه د وتر رعايت د هرې سترګې په اعتبار سره وي په هره يوه سترګه کښې دې درې درې سلائياني اولګوی او هم دا قول زيات اصح دې، د شمائل ترمذي په روايت کښې ددې تصريح ده،
او دويم صورت دا چه د دواړو د مجموعې په لحاظ سره وتر وی مثلا په ښۍ سترګه کښې درې کرته او په ګسه کښې دوه کرته نو مجموعه به وتر شي. حضرت په بذل کښې هم دا دوه صورتونه ليکلي دي
او حضرت شيخ رحمه الله په حاشيه د بذل کښې د شراح حديث حافظ ابن حجر، ملا علي قاري او علامه مناوی رحمه الله نه د اکتحال دريم صورت هم ليکلي دې چه اول دې په هر سترګه کښې دوه دوه او يو سلائي په دواړو کښې مشترک رابنکلي شی، رواه ابن عدی فی الکامل عن انس مرفوعا ابن سيرين رحمه الله هم دا صورت خوښ کړي دې
قوله :﴿ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ الخ ﴾ د استنجاء دوه تفسيرونه کړې شوي دی يو استنجاء بالجمار يعني بالاحجار دويم تبخر يعني جامو ته رنګ ورکول، منقول دی چه د امام مالک رحمه الله رائې اول دا وه چه په حديث کښې د استجمار نه مراد تبخر دې، خو روستو ئې رائي بدله شوه چه ددې نه مراد استنجاء بالحجر ده، شارح ابن رسلان رحمه الله ددې تفسير په بخور الميت سره کړې ده او هغوی د استنجاء بالحجر مراد کولو نفي هم کړې دې

حديث الباب په عدد احجار کښې د احنافو دليل او په دې باندې بحث

﴿ وَمَنْ لاَ فَلاَ حَرَجَ ﴾ په تيرو بابونو کښې چه يو طرف ته د استنجاء احکام بيان کړې شوي وو نو يو بحث د عدد احجار هم تير شوې وو چه د شوافعو په نزد د عدد ثلاثه کيدل ضروري دی، په خلاف د احنافو، دا حديث د احنافو دليل دې چه ايتار بالثلاث غير ضروري دې
ابن رسلان ددې جواب دا ورکړې دې چه د استجمار نه مراد تبخر دې، او امام بيهقي رحمه الله په معرفة السنن والآثار کښې د شوافعو د طرف نه ددې دوه جوابونه کړې دی، ۱: دا حديث ضعيف دې ددې حديث راوی حصين الحبراني ضعيف دې، ۲: د ايتار نه مراد ما فوق الثلاث دې يعنی د نفي حرج تعلق د ما فوق الثلاث سره دې کښې ايتار بالثلاث خو لکه چه څنګه په نورو احاديثو کښې معلوميږي ضروري دې، زمونږ د طرف نه علامه زيلعي رحمه الله د امام بيهقي رحمه الله جواب اول داسې رد کړې دې چه ددې حديث ابن حبان په خپل صحيح کښې داسې تخريج کړې دې، او صحيح ابن حبان د صحت په اعتبار سره اوچت کتاب دې، په طبقه اولی کښې ددی شمير دې، لهذا دا حديث کم از کم حسن منل پکار دی او د جواب ثاني په باره کښې هغوی فرمائي چه اول خو دا تحکم دې، او دويمه دا چه دا خپله د

شوافعو د مسلک خلاف دي ځکه چه د شوافعو مسلک دا دې چه که په دريو سره د مقام انقاء اوشي نو د څلورو او پنځو استعمال نه واجب دې او نه مستحب، او که په دريو سره د مقام انقاء نه کيږي نو بيا دهغې نه د زائد استعمال نه صرف مستحب بلکه واجب دې او د بيهقي ددې توجيه تقاضا دا ده چه په تثليث باندې دې زيادت مطلقا مستحب وي حال دا چه داسې نه ده

بله دا چه ددې حديث نه يوه مسئله اصوليه مستفاد کيږي هغه دا چه امر د مطلق وجوب دپاره راځي ځکه چه که د وجوب دپاره نه وې بلکه د استحباب دپاره وې نو بيا د ﴿مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَ فَلاَ حَرَجَ ﴾ د ذکر کولو حاجت نه وو

﴿ قوله وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ الخ ﴾ دا څيز د آداب اکل نه دې چه انسان کله د خوراک نه فارغ شي نو د خوراک کوم ذرات چه ئې په ژبې سره ويستلي وي هغه تيرول پکار دي بهر غورزول نه دي پکار په دې کښې د خوراک ناقدري ده او کومې د خوراک ذرې چه ئې د غاښونو د مينځ نه د خلال په ذريعه راويستلي وي نو هغه تيرول نه دي پکار ځکه چه په دې کښې د وينې د ګډون خطره ده. ﴿ وَمَنْ لاَ فَلاَ حَرَجَ ﴾ دا په دې صورت کښې ده چه کله ددې ذره طعام په وينې کښې د ملوث کيدو ظن غالب نه وي او که دهغې د تلويث ظن غالب وي نو په دې صورت کښې د حرج نفي مراد نه ده بلکه په دې صورت کښې په تيرولو کښې يقينا حرج دې

﴿ قوله وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ الخ ﴾ د ترجمة الباب مطابقت هم ددې جزء سره دې او هم دا مقصود بالذکر دې، باقي حديث تبعا ذکر کړې شوې دې، او ددې جملې مطلب دا دې چه کوم سړې د قضاء حاجت دپاره لاړ شي نو هغه له پکار دي چه پرده اوکړي ﴿ بِمَقَاعِدِ بَنِي آدَمَ ﴾ دا مقاعد جمع ده د مقعد او د مقعدة، او ددې په مطلب کښې دوه احتمالونه دي يا ددې نه مراد اسفل بدن يعنې شرمګاه ده يا دا په معنی د محل قعود دې، که مراد ترې نه اسفل بدن دی نو باء به د پاره د الصاق وي او که دويمه معنی مراد وي نو دا باء به په معنی د في وي، په يو صورت کښې به مطلب دا وي چه د قضاء حاجت په وخت کښې که تستر اونکړې نو شيطانان د خلقو د شرمګاهونو سره لوبې کوي او مسخرې کوي ځکه چه د مسخرو عادت وي، او په دويم صورت کښې به ئې مطلب دا وي چه شياطين د قضاء حاجت په ځائې کښې لوبې کوي

﴿ وَمَنْ لاَ فَلاَ حَرَجَ ﴾ دا نفي د حرج مطلقا نه ده بلکه په هغه صورت کښې ده چه کله هغه ته څوک ګوري نه او بې پردګي نه وي او که بغير د استتار نه بې پردګي وي نو بيا ددې دوه صورتونه دي، يو دا چه ترک استتار د څه مجبورئ د وجې نه وي نو په دې صورت کښې به ګناه د کتونکو وي، او که ترک استتار د خپل اختيار نه بغير د څه مجبورئ د وجې نه وي نو په دې صورت کښې به د بې پردګئ وبال په هغه باندې وي. هکذا قالوا.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ عَنْ ثَوْرٍ الخ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله ددې ځائې نه د ثور د شاګردانو اختلاف بيانوي، هغه دا چه د عيسى په روايت کښې ﴿ عن الحصين الحرانی ﴾

واقع شوي دي او د ابو عاصم په روايت كښي په ځائي د الحبراني الحميري دي، خو دا اختلاف صرف لفظي دي ځكه چه حمير لويه قبيله ده او حبران دهغې يو ښاخ دي ﴿ورواه عبدالملك بن الصباح عن ثور﴾ دا د ثور بن يزيد دريم شاګرد دي د دوی په الفاظو كښي يو دريم تغير دي هغه دا چه په سند كښي د سيدنا ابوهريرهﷺ نه مخكښي چه كوم راوی ذكر شوي دي هغه ته ئي په ځائي د ابوسعيد هغوی ابوسعيد الخير وئيلي دي حال دا چه دا دوه راويان بيل بيل دی ځكه چه په اول سند كښي چه كوم ابوسعيد راغلي دي هغه ابوسعيد الحبراني دي هغه ته الخير نه شي وئيلي، او دا دويم ابوسعيد كوم ته چه ابوسعيد الخير وئيلي شی دا حبراني نه دي بلكه انماري دي، دا اختلاف حقيقي دي اول صرف لفظي وو.

د راوی په تعين كښي د حافظ ابن حجرؒ او د علامه عينيؒ د رائي اختلاف

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ أَبُو سَعِيدِ الْخَيْرُ الخ﴾ مصنفؒ فرمائي چه په اول سند كښي چه كوم ابوسعيد راغلي دي په هغوی كښي او په ابوسعيد الخير كښي ډير لوئي فرق دي، هغه بيل دي او هغه تابعي وو دا صحابي دي خو مصنفؒ دا فيصله نه ده فرمائيلي چه صحيح خبره څه ده دلته څه كيدل پكار دی؟ ابوسعيد يا ابوسعيد الخير پس په دي كښي حضرت سهارنپوریؒ په بذل كښي د حافظ ابن حجرؒ تحقيق دا نقل فرمائيلي دي چه دلته ابوسعيد الحبراني دي كوم چه قطعا تابعي دي او چا چه د هغوی صفت الخير ذكر كړي دي د هغه نه غلطي شوي ده، ابوسعيد الخير دويم راوی دي هغه دلته مراد نه دي خو دا دي واضحه وی چه حضرت سهارنپوریؒ په بذل كښي ددي راوی په باره كښي چه څه تحقيق فرمائيلي دي او دا چه دلته صحيح ابوسعيد الحبراني دي نه ابوسعيد الخير دا صرف د حافظ ابن حجرؒ رائي ده، علامه عينيؒ ددي سره متفق نه دي، پس حضرت شيخ په حاشيه د بذل كښي ليكلي دی چه علامه عينيؒ د ډيرو رواياتو په بناء چه په هغې كښي د الخير تصريح راغلي ده دا رائي قائم كړي ده چه صحيح په دي سند كښي ابوالخير دي لكه چه عبدالملك بن الصباح په خپل روايت كښي وئيلي دی

يو څيز قابل تنبيه دلته دا هم دي چه دا ابوسعيد الخير صحابي دي د دوی د نوم په ضبط كښي اختلاف دي، بعضو دا په ابوسعيد ياء سره ليكلي دي او بعضو ابوسعد بغير د ياء نه.

بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ أَنْ يُسْتَنْجَى بِهِ

باب دي په بيان د هغې كې چې منع ترينه شوې ده چې په هغې استنجاء وكړی شي

يعني د هغه څيزونو بيان چه په هغې سره استنجاء كول منع دی، د دي څيزونو بيان اګرچه په تيرو ابوابو كښي راغلي دي خو هلته قصدا نه وو بلكه د نورو ابوابو په ضمن كښي وو، اوس دلته مستقل باب راوړی، په دي باب كښي مصنفؒ روايات هم متعدد ذكر كړی دی او په هغې باندي كلام هم اوږد او تفصيل طلب دي

[۳۶]() حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ يَعْنِي ابْنَ فَضَالَةَ الْمِصْرِيَّ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيِّ، أَنَّ شِيَيْمَ بْنَ بَيْتَانَ أَخْبَرَهُ، عَنْ شَيْبَانَ الْقِتْبَانِيِّ، قَالَ: إِنَّ مَسْلَمَةَ بْنَ مُخَلَّدٍ اسْتَعْمَلَ رُوَيْفِعَ بْنَ ثَابِتٍ عَلَى أَسْفَلِ الْأَرْضِ، قَالَ شَيْبَانُ: فَسِرْنَا مَعَهُ مِنْ كُومِ شَرِيكٍ إِلَى عَلْقَمَاءَ، أَوْ مِنْ عَلْقَمَاءَ إِلَى كُومِ شَرِيكٍ يُرِيدُ عَلْقَامَ فَقَالَ رُوَيْفِعٌ: إِنْ كَانَ أَحَدُنَا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَيَأْخُذُ نِضْوَ أَخِيهِ عَلَى أَنَّ لَهُ النِّصْفَ مِمَّا يَغْنَمُ وَلَنَا النِّصْفُ. وَإِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَطِيرُ، لَهُ النَّصْلُ وَالرِّيشُ وَلِلْآخَرِ الْقِدْحُ، ثُمَّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا رُوَيْفِعُ، لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُولُ بِكَ بَعْدِي، فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّهُ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ أَوْ تَقَلَّدَ وَتَرًا أَوِ اسْتَنْجَى بِرَجِيعِ دَابَّةٍ أَوْ عَظْمٍ، فَإِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ بَرِيءٌ".[1]

ترجمه: شيبان قتباني وئيلي دي يقينا مسلمه بن مخلد عامل مقرر كړو رويفع بن ثابت په لاندي حصه د ځمكې، وئيلي دي شيبان موږ روان شو د هغه سره د ځائي د شريک نه علقماء ته، او يا د علقماء نه ځائي د شريک ته، مراديې علقمام وو، نو اووئيل رويفع يقينا وو زموږ نه په زمانه رسول الله ﷺ كښې چه اخستو ئې اوښه د ورور خپل په دې شرط چه د هغه به نيمه وي د فائدې نه. او نيمه به زموږ وي، اگر رسيده به يو زموږ ته لاستې د تورې او وړې (وژغني) او بل ته غشې. بيا وفرمايل رسول الله ﷺ اې رويفعه! كيدې شي چه ستا ژوند اوږد شي زما نه وروسته، نو خلكو ته خبر وركړه يقينا چاچې گيره غوټه كړه، او يايې غوټه كړو تار په څټ د څاروي كښې، او يايې استنجاء اوكړه په غوشايانو ډيره، او يا په هډوكي سره، بيشكه محمد ﷺ د هغه نه بري دى.

تشريح: په دې باب كښې مصنف رحمه الله چه كوم حديث راوړې دې په هغې كښې يو څيز راوى د اصل حديث بيانولو نه مخكښې تمهيدا بيان كړې دې چه په هغې سره روايت اوږد شوې دې، د مصنف رحمه الله په نزد چه كوم روايت مقصود بالبيان دې هغه په اخر كښې راروان دې ﴿فاخبر الناس ان من عقد الخ﴾ راوى د روايت حديث نه مخكښې چه كوم مضمون په طور د تمهيد بيان كړې دې، تاسو اول دهغې په مطلب باندې ځان پوهه كړئ.

مضمون روايت

شيبان راوى د رويفع بن ثابت رضي الله عنه نه روايت كوى. دا رويفع رضي الله عنه هم هغه دې كوم چه د مصر والي مسلمه بن مخلد د اسفل ارض مصر عامل جوړ كړې وو، شيبان وائي چه د يو ځل واقعه ده چه موږ د رويفع رضي الله عنه سره په سفر كښې وو، د سفر ابتداء د كوم شريک نه اوشوه او علقمه ته لا رسيدو كښې وو، او روان وو علقام ته يا د علقماء[2] نه روان وو او كوم شريک ته رسيدو كښې وو او تلل مو بهر حال علقام ته وو، غرض دا چه ددې سفر ترمينځه رويفع رضي الله عنه ماته د اسلام د ابتداء د زمانې حال بيانول شروع كړل، او شيبان ته ئې خطاب كولو سره اووئيل چه زموږ د رسول الله ﷺ سره د شروع زمانه د معاش په تنگسيا كښې داسې تيره شوې ده چه كه په موږ كښې به يو تن په سفر جهاد ته تلو نو خپل ځان سره :

---

[1]: سنن النسائي/الزينة ١٢ (٥٠٧٠)، (تحفة الأشراف: ٨٦٥١، ٣٦١٦)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٤/١٠٨، ١٠٩) (صحيح)

[2] دا شک د راوی دې.

سورلئ نه کيدو په سبب به ئې بل ديتې رور نه سورلي په کرايه باندې اخستله، او سورلئ به څنګه وه؟ کمزورې اوښ او معامله به هم د سورلي کونکې سره داسې اوشوه چه څه مال غنيمت حاصل شي په هغې کښې به نيم زموږ وي او نيم ستا او بيا به ئې وړاندې تلو سره وئيل چه ډير کرته به داسې کيدل چه په مال غنيمت کښې به زموږ په حصه کښې ډير معمولي شان څيز حاصليدو. يعني صرف يو غشي چه په هغې کښې به درې اجزاء وو، نصل، ريش او قدح يو ته به نصل او ريش ورکړې شو او دويم ته به قدح ورکړې شو

﴿ قوله ليطيرله ﴾ ددې معنى ده په حصه کښې راتلل. وئيلې شي ﴿ طار لفلان النصف ولفلان الثلث اى حصل له في القسمة ﴾ يعنى د فلانى په حصه کښې نيم راغلو او د فلانى په حصه کښې ثلث. ﴿ النصل والريش ﴾ نصل وائى د غشي څوکې ته څنګه چه د چړې پلکې وى هم دغه شان د غشي دپاره څوکه وى چه هغې ته په عربئ کښې نصل وائى. او ريش وئيلې شي د غشي وزر ته، او د هر غشي دوه وزرې وى. ﴿ وللاخر القدح ﴾ دا په کسر د قاف او سکون دال سره دې د غشي شاته حصه چه په هغې کښې د غشي څوکه او وزرې لګيږى، او دا د لرګى وى لکه په چاقو کښې چه شاته د لرګى لاسکې وى. او ددې لفظ ترجمه داسې هم کولې شي بې څوکې او بې وزرې غشي.

شيبان وائى چه ددې تمهيدى مضمون نه پس بيا رويفعؓ ماته هغه اصل حديث بيان کړو کوم چه بيانول مقصود وو، هغوى فرمائى چه ماته رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو اې رويفع! کيدې شي چه ته به زما نه پس ډيرې مودې پورې ژوندې ئې، که زما نه روستو د ژوندى پاتې کيدو نوبت دې راغلو ﴿ فاخبر الناس الخ ﴾ دلته هغه اصل حديث شروع کيږى چه دهغې حاصل به روستو بيانولې شي.

رويفع بن ثابت د حديث د بيانولو نه مخکښې دا تمهيد ولې کيخودلو؟ په دې سره د هغوى څه غرض دې معلوميدل پکار دى، هغه دا چه په دې سره خپل قديم الاسلام کيدل ثابتوى چه زه الحمد لله قديم الاسلام صحابى يم د اسلام ابتدائى دور زما د سترګو وړاندې تير شوې دې، داسې خبره راوى څکه ذکر کوى چه بيا سامع په غور سره د هغه خبره واورى او د هغوى په خبره باندې اعتماد اوکړى، د استاذ او شاګرد ترمينځه اعتقاد او اعتماد ضرورى دې ګينې فائده ترې نه نه حاصليږى دا هم داسې ده لکه چه تاسو په مشکوة کښې لوستلې دى، سيدنا معاذ بن جبلؓ د اصل حديث د بيانولو نه مخکښې فرمائى ﴿كنت ردف النبى ﷺ ﴾ ددې هم دا فائده ده چه د رسول اللهﷺ سره خپل خصوصيت بيانول او قرب ثابتول او ښکاره ده چه راوى چه څومره رسول اللهﷺ ته نزدې وى هم هغه هومره به ئې حديث ښه اوريدلې وى

د اجاره فاسده مذکوره فى الحديث توجيه او په دې کښې اختلاف علماء

په دې تمهيدى مضمون کښې يو فقهى مسئله راغله هغه دا چه که يو سړې سورلئ په جهاد کښې خان سره په دې طريقه کرايه باندې واخلى چه ماته څه په مال غنيمت کښې حاصل شو هغه به نيم زما او نيم ستا وى نو آيا دا صورت د اجارې جائز دې؟ د جمهورو په نزد جائز نه

دي څکه چه اول خو دا هم معلومه نه ده چه مال غنیمت به حاصلیږي او که نه او بیا که حاصل شي نو دا معلومه نه ده چه څومره به حاصلیږي، غرض دا چه په دې اجاره کښې اجرت مجهول دې، د جهالت اجرت د وجې نه به اجاره فاسده شي د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه مسلک هم دا دې، خو د امام احمد او امام اوزاعي وغیره بعض علماء کرامو په نزد دا اجاره صحیح ده، پس امام ابوداؤد حنبلي دا مسئله د اجارې په کتاب الجهاد کښې مستقل ترجمة الباب قائمولو سره بیان کړې ده خو هلته ئې دا حدیث نه دې ذکر کړې، بل یو حدیث ئې ذکر فرمائیلې دې، چه کله تاسو هلته اورسیږئ نو انشاء الله معلوم به شي درته، د جمهورو د طرف نه ددې دوه جوابونه ورکړې شوي دی، علامه انور شاه صاحب فرمائي چه په داسې اجاره کښې د قمار معنی موندلې شي کوم چه په شروع کښې جائز وه او روستو منسوخ شوه، لهذا د اجارې دا نوع به هم منسوخ وی د حضرت گنگوهي په تقریر ابوداؤد کښې داسې دی چه فی الواقع دا معامله اجاره نه وه، بلکه د مجازاة الحسنة بالحسنة د قبیل نه وه ﴿هل جزاء الاحسان الا الاحسان﴾ یعنې ورکونکي خو به سورلی مفت ورکوله، خو د ورکونکي په ذهن کښې به دا وه چه مونږ ته په غنیمت کښې څه حاصل شي په هغې کښې به د سورلئ د مالک هم څه حصه راوباسو، خو دې صحابي دا ذهني تصور او اراده په وخت د حکایت داسې بیان کړو چه دهغې نه معلومیږي چه دا په ظاهر کښې د اجارې شکل وو.

﴿قوله لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُولُ بِكَ بَعْدِي الخ﴾ لعل ترجي یعنې توقع او امید او تحقیق دواړو دپاره کیدې شي، که د تحقیق دپاره وی نو دا جمله د اخبار بالمغیب د قبیلې نه ده، بهر حال هم دغه شان اوشوه څنګه چه رسول الله ﷺ فرمائیلي وو، پس سیدنا رویفع د رسول الله ﷺ نه پس تر ډیرې مودې پورې ژوندې وو، د امیر معاویه ﷺ زمانه ئې بیا موندله او په ۵۲ یا ۵۳ کښې ئې په افریقه کښې وفات اوشو او دا آخرې صحابی دې کوم چه هلته وفات شوې دې

﴿مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ الخ﴾ یعنې کوم سړې چه ګیرې له غوټې ورکوی، د غوټو ورکولو ډیرې معنی بیان کړې شوې دی، یو دا چه ګیره تاوهل او هغه ګلګوټې ګلګوټې کول (یعنی ګیره د زني لاندې کول چه وره ښکاری)، رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمائیلې ده چه دا د سنت خلاف ده مسنون طریقه تسریح لحیه ده یعنې د ګیرې ویښته نیغ ساتل او بعضو وئیلي دی چه په زمانه د جاهلیت کښې به متکبرین کفار چه کله جنګ له تلل نو ګیرو له به ئې غوټې ورکولې ددې نه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله چه په دې کښې تشبه بالنساء ده، او بعضو وئیلي دی چه دا د عجمیانو عادت وو، او چونکه په دې کښې تغیر خلقت دې په دې وجه ددې نه منع فرمائیلې شوې ده او بعضو وئیلي دی چه د کفار عرب عادت دا وو چه د چا به یو ښځه وه هغه به په خپله ګیره کښې یوه غوټه کوله، او که دوه به وې نو دوه غوټې به ئې ورکولې

﴿قوله تَقَلَّدَ وَتَرًا﴾ وتر وائی هغه نیغ لرګی ته، کوم چه په لینده او غشی کښې ترلې

شی، اهل جاهلیت به د خپلو ماشومانو او اسونو په غاړه کښې د بد نظر نه د بچ کولو دپاره او د دفع کولو د آفتونو دپاره په دغه لړکی کښې تعویذونه وغیره اچول، ددې عقیدې سره که داسې مو اونګړل نو بیا هغه محفوظ نه پاتې کیږی ګویا هغه ئې موثر بالذات ګڼل، او بعضو وئیلي دی چه دا په تعلیق اجرا په دی باندې محمول دي، یعنی په تانت وغیره کښې ګهونګرو او تلئ وغیره د ځارو په غاړه کښې اچول او د جرس نه په حدیث کښې منع راغلې ده، دې ته مزمار الشیطان وئیلي شوی دي.

﴿ قوله اسْتَنْجَى بِرَجِيعِ دَابَّةٍ الخ ﴾ د مصنف رحمه الله غرض د حدیث صرف دا حصه بیانول دی ﴿ فَإِنَّ مُحَمَّدًا –صلى الله عليه وسلم– مِنْهُ بَرِيءٌ ﴾ چه څوک داسې کوی رسول الله ﷺ د هغه نه براءت او د بیزارئ اعلان فرمائی، په حدیث کښې دا مبالغه فی الوعید د زجر او توبیخ دپاره ده حقیقت مراد نه دي ځکه چه د براءت په ظاهر کښې مطلب دا دي چه زما ددې سره هیڅ تعلق نشته، او دا ډیر سخت وعید دي.

په مسئله مترجم بها کښې مذاهب ائمة :

په ترجمة الباب کښې چې کومه مسئله ذکر شوې ده په دې کښې چه کوم اختلاف دي هغه په تیرو ابوابو کښې بیان شوې دې چه دهغې خلاصه دا ده چه د شوافعو او حنابله په نزد د ما یستنجی به طاهر کیدل ضروری دی، د احنافو او مالکیانو په نزد طاهر کیدل ضروری نه دی، او د اهل ظواهرو په نزد احجار متعین دی او یو مذهب دلته د ابن جریر طبری رحمه الله دي چه شاذ دي د هغوی په نزد استنجاء په هر طاهر او نجس څیزباندې بغیرد کراهت نه جائز ده.

شوافعو او حنابله په حدیث الباب سره استدلال کړي دي چه استنجاء بشئ نجس صحیح نه ده غیر معتبر او کالعدم دي احناف وائي چه نهی په فساد د منهی عنه باندې دلالت نه کوی، لهذا ددې حدیث مقتضی دا نه ده چه په شئ نجس سره د استنجاء تحقق نه کیږی بلکه نهی صرف په ممانعت او کراهت باندې دلالت کوی،[۱] شوافعو د دارقطنی یو روایت پیش کړي دې چه په هغې کښې دی ﴿ انهما لا يطهران ﴾ ربه عظم او رجیع دواړو سره طهارت نه حاصلیږی) دارقطنی وائی ﴿ اسناده صحیح ﴾ علامه زیلعی رحمه الله ددې جواب په نصب الرایه کښې دا ورکړې دې چه ددې په سند کښې سلمة بن رجاء الکوفی راوی دې کوم چه متکلم فیه او ضعیف دې، احقر وائی چه د ﴿ لا يطهران ﴾ مطلب دا هم کیدې شی چه ددې څیزونو نه طهارت بغیر د تکلف نه نه شی حاصلیدې، بلکه ډیر په احتیاط سره که په دې سره استنجاء اوکړې شی نو بیا د مقام انقاء کیدې شی خو چونکه ددې څیزونو په ذریعه د مقام انقاء چه مقصودی ده په سهولت سره نه شی حاصلیدې په دې وجه وئیلي شوي دی چه ﴿ انهما لا يطهران ﴾...

---

[۱] مسئله اصولیه مشهوره ده. النهي عن الأفعال الشرعية يقتضي تقريرها، لکه صوم د یوم النحر چه په دې باندې نهی وارد شوې ده اوحرام دی، که ددې باوجو څوک په دې ورځ روژه اونیسی نو شرعا به د روژې تحقق کیږی.

د استنجاء بالحجر مطهر محل كيدو كښي د علماء كرامو اختلاف :

حضرت سهارنپوري رحمه الله دلته يو تحقيق بيان فرمائيلي دي چه دهغي خلاصه دا ده چه په اصل كښي د استنجاء په حقيقت كښي اختلاف دي چه هغه مطهر محل ده او كه صرف مخفف نجاست، شوافع وائي چه هغه مطهر محل او مزيل نجاست ده مگر هله چه د عدد ثلاث تحقق وي لكه چه په حديث كښي ددي عدد تصريح ده، او رجيع او عظم چونكه خپله ناپاک دی په دې وجه كه په هغې باندې استنجاء اوكړې شي نو مقام نه پاكيږي، لكه چه د دارقطني په روايت كښي تير شو ﴿ انهما لا يطهران ﴾، ددې د تقابل نه معلوميږي چه په حجر سره طهارت حاصليږي، او احناف وائي چه استنجاء بالحجر صرف مقلل نجاست ده مطهر محل نه ده، خو الله پاک زمونږ د ضعف رعايت كولو سره سره ددې چه مقام نه دې پاک شوې دې ته د طهارت حكم وركړې دي، اگرچه في الواقع پاک شوې نه دې هم دا وجه ده كه يو سړى صرف په استنجاء بالحجر باندې اكتفاء كړې وي او داسې سړې په ماء قليل كښې داخل نه شي نو د ددې مقام د نجاست واپس كيدو سره به هغه اوبه نجس شي، بهر حال زمونږ په نزد استنجاء كه بالحجر وي او كه بالروث والرجيع وي دواړه مطهر محل نه دي، صرف د طهارت محل حكم وركولې شي، لهذا د دارقطني روايت زمونږ مخالف پاتې نه شو، انتهى ما في البذل.

خو احقر عرض كوي چه امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم كښي ددې خبرې تصريح كړې ده چه د هغوي په نزد هم په استنجاء بالحجر سره مقام نه پاكيږي، بلكه صرف د عفو او د عدم مواخذه درجه ده، خو د حنابله په نزد دواړه روايتونه دي، طهارت محل او عدم طهارت څنګه چې چه په مغني كښي دي، كيدې شي چه د شوافعو په نزد هم دواړه اقوال وي.

[۳۷]() حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُفَضَّلٌ، عَنْ عَيَّاشٍ، أَنَّ شِيَيْمَ بْنَ بَيْتَانَ أَخْبَرَهُ بِهَذَا الْحَدِيثِ أَيْضًا، عَنْ أَبِي سَالِمٍ الْجَيْشَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، يَذْكُرُ ذَلِكَ وَهُوَ مَعَهُ مُرَابِطٌ بِحِصْنِ بَابِ أَلْيُونَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: حِصْنُ أَلْيُونَ بِالْفُسْطَاطِ عَلَى جَبَلٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ شَيْبَانُ بْنُ أُمَيَّةَ يُكْنَى أَبَا حُذَيْفَةَ.

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روايت دې، ذكريې كړو دا حديث، كله چه هغه دهغه سره په باب اليون كښي مرابط وو (دهغې محاصره ئې كړې وه) وئيلي دي ابوداود: قلعه د اليون په فسطاط كښي ده په غره باندې، وئيلي دي ابوداود او هغه شيبان أمية دی كنيه ئې اباحذيفه دی

تشريح: ۲ ﴿ حدثنا يزيد بن خالد الخ ﴾ د مصنف رحمه الله غرض په دې سره د هغه حديث سابق طريق ثاني بيانول دی، پس په اول سند كښې شييم روايت كولو د شيبان نه، او شيبان د رويفع نه، او په دې سند كښې شييم روايت كوی په خانې د شيبان د ابوسالم الجيشاني نه، او ابوسالم جيشاني روايت كوی د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه. د ﴿ ايضا ﴾ مطلب هم دا دې چه څنګه شييم دا روايت كوی د شيبان نه، هم دغه شان روايت كوی د ابوسالم

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٦٥١، ٣٦١٦) (صحيح)

جيشانی نه، نو ګویا دا حدیث د دوه صحابه کرامو نه روایت شوي دي، یو د سیدنا رویفع ﷜ نه، او بل د سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاص﷜. ﴿ يذكر ذلك وهو معه ﴾ يعنى بيانولو به عبدالله بن عمر بن العاص دا حدیث په داسې حالت کښې چه ابو سالم هغوی سره حصن باب الیون کښې څوکئ ورکوله. ﴿ اليون ﴾ د مصر قدیم نوم دي. او مسلمانانو ددی د فتح کولو نه پس ددي نوم فسطاط شو، او نن صبا د مصر سره مشهور دي

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ حِصْنُ أَلْيُونَ عَلَى جَبَلٍ بِالْفُسْطَاطِ ﴾ امام ابوداؤد﷫ فرمائي چه حصن اليون کوم ځائي کښې چه به ولاړه باندې څوکئ ورکولې کيده ، خان پوهه کړه چه اليون به ياء سره دي، او البون باء موحده سره هم راځي هغه یو دویم ښار دي په یمن کښ، هغه دلته مراد نه دي.

[۳۸](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ: "نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَمَسَّحَ بِعَظْمٍ أَوْ بَعْرٍ".

ترجمه: جابر بن عبد الله وايي موږ منع کړي يو رسول الله صلى الله ﷺ د دينه چه استنجاء اوکړو او په هډوکي او يا په پچه

[۳۹](۲) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا مُحَمَّدُ، انْهَ أُمَّتَكَ أَنْ يَسْتَنْجُوا بِعَظْمٍ أَوْ رَوْثَةٍ أَوْ حُمَمَةٍ، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى جَعَلَ لَنَا فِيهَا رِزْقًا، قَالَ: فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ".

ترجمه: روايت دی د عبد الله بن مسعود ﷜ نه، هغه وائي راغي وفد (ټولګی) د پيريانو رسول الله ﷺ ته نو هغوی اووئيل اي محمدا منع کړه ته خپل امت د استنجاء کولو نه په هډوکي او په غوشايانو او په سکرو باندي، يقينا الله تعالى ګرځولی دی زمونږ لپاره په دي کښې رزق، نو منع اوکړه رسول الله ﷺ د دينه

تشريح: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ الخ ﴾ د ديلمي نوم فيروز دي، لهذا دا عبدالله بن فيروز الديلمي شو تابعي دي وقيل له صحبة دا د ضحاک بن فيروز الديلمي رور دي، ﴿ قدم وفد الجن ﴾ يعنى يو خل د جناتو وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو او هغوی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه تاسو خپل امت ددي خبري نه منع کړئ چه هغوی په هډوکی يا سپياکو يا کوئلې سره استنجاء اوکړی ځکه چه الله پاک به دي څيزونو کښې زمونږ روزی کيخودلي ده، پس رسول الله ﷺ ددي نه منع اوفرمائيله. وفد جمع د ه د وافد، وفد وئيلي شي د هغه منتخب خلقو ته کوم چه د يو ښار نه بل ښار ته په څه مسئله باندي د خبرو اترو دپاره د اميرانو سره ملاويږي.

(۱): صحيح مسلم/الطهارة ۱۷ (۲۶۳)، (تحفة الأشراف: ۲۷۰۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۴۳، ۳۸۴) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۳۴۹) (صحيح)

شارحينو ليکلي دي دا د نصيبين جنات وو، نصيبين يو ښار دې کوم چه موصل ته نژدې منبع فرات باندې واقع دې، دلته جنات په کثرت سره دي، او ددې ځائې جنات سادات الجن بللې شي، او په قرآن کريم کښې چه دا راغلى دى چه ﴿ واذا صرفنا اليک نفرا من الجن ﴾ نو په دې آيت کريمه کښې هم جن نه جن نصيبين مراد دى، بعض وائي دا اووۀ وو، او بعض وائي دا نهه وو، دا راتلل د وفد مکې مکرمې ته د هجرت نه مخکښې شوې وو لکه چه په بذل کښې دى.

په حديث الباب کښې اختصار:

په يو روايت کښې دى رسول الله ﷺ اوفرمائيل اتانى داعى الجن فذهبت معه... يعنې يو ځل د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د جناتو وفد حاضر شو، رسول الله ﷺ ددې وفد سره هغوى ته تشريف يوړو او د هغوى خپل مينځ کښې جنګونه او اختلافات ئې فيصله کړل په آخره کښې جناتو هغوى نه د زاد درخواست هم اوکړو، پس په حديث کښې راځي ﴿ فسالوه الزاد فقال لکم کل عظم الحديث ﴾ يعنې رسول الله ﷺ د هغوى په درخواست باندې توښه ورکړه او وې فرمائيل چه په کوم هډوکى باندې هم تاسو تير شئ نو په هغې باندې به دهغې نه زياته غوښه وينئ کومه چه په هغې باندې مخکښې وه، په دې باندې هغوى رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه ښه هر کله دا خبره ده نو تاسو خپل امت په هډوکى وغيره باندې د استنجاء کولو نه منع کړئ، پس رسول الله ﷺ منع اوفرمائيله، لکه چه په حديث الباب کښې دى، ددې نه معلومه شوه چه حديث الباب مختصر دې، پوره واقعه هغه شان ده کومه چه پورته ذکر شوه.

خان پوهه کړه چه د جناتو وفدونه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې څو کرته راغلل مشهوره ده چه د ليلة الجن واقعه شپږ کرته پيښه شوى، درې کرته قبل الهجرت او درې کرته بعد الهجرت ددې بيان به په باب الوضوء بالنبيذ کښې راشي ﴿ قوله جعل الله لنا فيها رزقا الخ ﴾ د رزق نه مراد صرف طعام او خوراک نه دې بلکه قابل انتفاع څيز، اوس انتفاع چه هر څنګه وى لهذا د کوټلې نه به اشکال ختم شى، ځکه چه ضرورى نه ده چه کوټله اوخورى بلکه مقصود انتفاع ده هر څنګه چه وى، هم دغه شان به د روث په باره کښې وئيلې شي، او بعضو وئيلې دى چه عظم د جناتو دپاره او روثة (خاشنره) د هغوى د حيواناتو دپاره رزق دې، کيدې شي چه الله پاک څنګه په هډوکى باندې دوباره غوښه پيدا فرمائي هم دغه شان روث به هم په خپل اصلى شکل يعنې ګيا داتې طرف ته واپس کوى چه د جناتو د څارور دپاره رزق شى لکه چه شارحينو ليکلي دى. والله اعلم بالصواب.

د جناتو دپاره د عظم رزق کيدل او په دې کښې اختلاف روايات:

خان پوهه کړه چه په حديث الباب کښې د هډوکى طعام الجن کيدل مطلقا ذکر شوې دى خو روايات په دې کښې مختلف دى د مسلم شريف په روايت کښې دى ﴿ لکم کل عظم ذکر اسم الله عليه ﴾ او په ترمذى کښې ددې خلاف دى ﴿ لکم کل عظم لم يذکر اسم الله عليه ﴾ يعنې په يو روايت کښې دى چه ستاسو دپاره هغه هډوکې توښه ده چه په هغې د الله پاک نوم

اخستلې شوې وی، او په يو روايت کښې دی چه په هغې باندې د الله پاک نوم نه وی اخستلې شوې، بعض شارحينو دفع د تعارض داسې کړې ده چه د مسلم په روايت کښې چه په هغې کښې ذکر د اسم راغلې دې هغه د مسلمين جن دپاره دې، او د ترمذی په روايت کښې چه په هغې کښې ﴿ لم يذکر ﴾ وارد دې هغه د کفار جناتو دپاره دې، خو حضرت ګنګوهي دا جواب نه دې خوښ کړې، حضرت فرمائی چه د رسول اللهﷺ نه صرف مسلمين جناتو سوال کړې وو کفار جنات هغوی سره کوم خائې وو، نو د رسول اللهﷺ د هغوی دپاره د بيانولو ضرورت څه دې؟ خپله د حضرت ګنګوهي رائې لکه څنګه چه په کوکب کښې ذکر ده، دا ده چه د دواړو روايتونو محل بيل بيل دې، د مسلم په روايت کښې د ذکر نه مراد ذکر عند الذبح دې، او د ترمذی په روايت کښې د لم يذکر نه مراد عند الاکل دې، او مطلب دا دې چه په کوم عظم باندې د خوړلو په وخت بسم الله او نه لوستلې شوه هغه به د ډيرې غوښې والا شی، څکه چه د ترک بسم الله د وجې نه هغه خوراک کونکی دهغې برکت حاصل نه کړو په خلاف د هغه چا چه بسم الله لوستلې وی دهغې برکت خوراک کونکی خپله حاصل کړو هغه به د جناتو دپاره ډيرې غوښې والا نه وی، سبحان الله..... څه غوره توجيه ده! دا خبرې په شروحو کښې چرته وی..... نو اوس د دواړو احاديثو يو خائې کولو سره مطلب دا راوتلو چه هغه هډوکې چه په کوم باندې د ذبح په وخت بسم الله لوستلې شوې وی او خوراک کونکی پرې د خوراک په وخت بسم الله نه وی لوستلې نو هغه به جنات د غوښې ډک بيا مومی، باقی دا خبره به څنګه معلوميږی چه په کوم حيوان باندې د ذبح په وخت بسم الله لوستلې شوې ده او په کوم باندې نه؟ نو ددې جواب دا دې چه ددې به رسول اللهﷺ هغوی ته څه علامت بيان کړې وی، يا داسې اووايه چه په کوم خاروی باندې عند الذبح بسم الله نه وی لوستلې شوې د هغه خاروی په هډوکی باندې به الله پاک بالکل غوښه نه پيدا کوی

بَابُ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْحِجَارَةِ

باب دې په بيان د استنجا، کڼې په کاڼی باندې

د ترجمة الباب په غرض کښې دوه احتماله دی، ممکنه ده چه د استنجاء بالحجر ثبوت او جواز بيانول وی، او کيدې شی چه بيان عدد مقصود وی څنګه چې چه د لفظ جمع نه فهم کيږی نو خان پوهه کړه چه د استنجاء بالحجر په ثبوت او جواز کښې خو هيڅ تردد او کلام نشته د بيشميره احاديثو نه ددې ثبوت دی، هم په دې وجه ټول اهل سنت ددې د جواز قائل دی، خو شيعه ګان د استنجاء بالحجر انکار کوی، هم دغه شان يو روايت د ابن حبيب مالکیﷺ دې هغه دا چه استنجاء بالحجر صرف د عادم الماء دپاره ده د واجد الماء دپاره جائز نه ده. او دويم قسم د استنجاء استنجاء بالماء ده چه دهغې باب وړاندې مستقل راروان دې، په هغې باندې به کلام هم هلته راشی، هم دغه شان جمع بين الحجر والماء کوم چه د استنجاء دريم قسم دې هغه به هم هلته بيان کړې شی.

دويم احتمال په غرض د ترجمه کښې بيان د عدد وو، پس دا مسئله د ائمه ترمينځه

اختلافی ده، کومه چه مخکښې خو کرته تیره شوې دی، د شوافعو او حنابله په نزد دلته د عدد ثلاث کیدل ضروری دی، د احنافو او مالکیانو په نزد دلته مقصود انقاء ده د عدد ثلاث کیدل ضروری نه دی، مخکښې اګرچه اختلاف تیر شوې دې خو په دلائلو باندې کلام نه وو راغلې، دلته به موږ ددې مسئلې دلیل بیانوو، پس د عائشې رضي الله عنها حدیث الباب په کوم کښې چه دی چه ﴿ فانها تجزئ عنه ﴾ یعنی درې کاڼرې دې یوسی ځکه هغه کافی کیږي.

[۴۰](۱) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ قُرْطٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ، فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ يَسْتَطِيبُ بِهِنَّ، فَإِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې چه بیشکه رسول الله ﷺ وښیلی دی: کله چه لاړ شي یو کس ستاسو نه ډک اودس ماتي ته، نو وي دې سي ځان سره درې کاڼرې چه استنجاء اوکړي په هغې سره، نو دغه کافی کیږي د ده نه

[۴۱](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ خُزَيْمَةَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ، عَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِاسْتِطَابَةِ، فَقَالَ: "بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ لَيْسَ فِيهَا رَجِيعٌ" قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا رَوَاهُ أَبُو أُسَامَةَ، وَابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ هِشَامٍ يَعْنِي ابْنَ عُرْوَةَ.

ترجمه: د خزیمة بن ثابت نه روایت دې، هغه وائی چه سوال اوکړی شو د رسول الله ﷺ نه د استنجاء په باره کښې، نو هغه اوفرمائیل استنجا په درې کاڼرو باندې کوئی چه هغې کښې غوشایان نه وي وښیلی دي ابوداود: هم داسې روایت کړی دی ابو اسامه، او ابن نمیر د هشام نه یعنی ابن عروة.

حدیث الباب د احنافو دلیل دې

سیاق کلام او لفظ حدیث نه معلومیګی چه د درېو قید احترازی نه دی، بلکه په دې وجه دې چه عام طور سره درې کافی کیږي، او هم دا خبره احناف کوی لهذا دا حدیث د احنافو دلیل شو، دارقطنی وائی چه ددې حدیث سند حسن دې

خوابن رسلان رحمه الله چه شافعی دې، ددې حدیث په خپل مسلک باندې دوه طریقو سره استدلال کوی، یو دا چه ﴿ فلیذهب معه ﴾ دا د امر صیغه ده، دویم دا چه لفظ یجزئ د وجوب په معنی کښې استعمالیږي، موږ وایو چه امر که د وجوب دپاره وی خو د درېو د قید نه احترازی نه دې، بلکه عادی دې چه عادة درې کافی دی، او دویمه خبره چه کومه هغوی ذکر کړې ده چه د اجزاء د وجوب په معنی کښې مستعمل کیږي، ددې جواب دا دې چه د طحاوی د روایت الفاظ په دې حدیث کښې ﴿ فانها ستکفیه ﴾ راغلې دي..... فثبت ما قلناه.

(۱): سنن النسائي/الطهارة ۴۰ (۴۴)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۰۸، ۱۳۳)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۱ (۶۹۷) (حسن)

(۲): سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۶ (۳۱۵)، (تحفة الأشراف: ۳۵۲۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲۱۳، ۲۱۴) (صحیح)

د حديث بخاري نه وجوب وعدم وجوب ايتار په سلسله کښې د فريقينو استدلال

د دې نه علاوه په دې مسئله کښې د عبدالله بن مسعود ﷺ د حديث نه استدلال کولې شي کوم چه په صحيح بخاري کښې موجود دې، چه په هغې کښې دي چه رسول الله ﷺ قضاء حاجت ته د تلو په وخت عبدالله بن مسعود ﷺ ته اوفرمائيل چه ﴿ التنى بثلثة احجار ﴾ په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه ما اولټول خو صرف دوه کاڼړی ملاؤ شو، دريم ملاؤ نه شو نو دهغې په ځائې ما روثة اوچته کړه، نو رسول الله ﷺ هغه دوه کاڼړی خو واخستل او روثه ئې اوغورځوله، او وې فرمائيل ﴿ هذا ركس ﴾ خان پوهه کړه چه ددې حديث نه فريقين استدلال کوی. شوافع خو د عدد ثلاث په قيد سره چه رسول الله ﷺ فرمائيلې وو چه درې کاڼړی راوړه، او احناف په دې طريقه چه په دې موقعه باندې رسول الله ﷺ په ظاهر کښې په حجرين باندې اکتفاء اوفرمائيله. شوافع داسې وائی چه په دې حديث کښې داسې نشته چه په حجرين باندې ئې اکتفاء اوفرمائيله. بلکه کيدې شي چه يو حجر رسول الله ﷺ ته دهغې په ځوا کښې ملاؤ شوې وی، مونږ وايو چه که رسول الله ﷺ سره کاڼړې وې نو رسول الله ﷺ په شروع کښې د دريو قيد ولې لګولو، پس ظاهره ده چه په دې موقع باندې رسول الله ﷺ په دوه کاڼړو باندې اکتفاء اوفرمائيله بله دا چه که د حجر ثالث کيدل ضروري وې نو رسول الله ﷺ به دوباره طلب فرمائيلې وې، دا خبره امام طحاوي ﷫ فرمائيلې ده.

په دې باندې علامه سندهي دا اشکال کړې دې، اګرچه هغه حنفي دې چه چونکه د امر سابق لا تراوسه پورې تعميل نه وو شوې، په دې وجه د امر جديد حاجت نه وو، لهذا ددې وخته پورې د رسول الله ﷺ سابق طلب باقي وو، دا خبره د هغوی په ځائې ده خو سوال دا دې چه د ايتاء ثالث تحقق خو کيدل پکار دی که طلب سابق باقي وی او که نه، او حافظ ابن حجر ﷫ د شوافعو د طرف نه ددې دويم جواب کړې دې هغوی فرمائی ﴿ وغفل الطحاوی رحمه الله عما اخرجه احمد فى مسنده ﴾ او بيا هغوی د عبدالله بن مسعود ﷺ هم دا حديث ذکر کړې دې چه په هغې کښې دا زيادت دې ﴿ التنى بحجر ﴾ يعنې رسول الله ﷺ دوه کاڼړی اخستلو سره اوفرمائيل چه يو کاڼړې بل راوړه نو ګويا حافظ په امام طحاوي ﷫ باندې الزام اولګولو چه هغوی د مسند احمد په روايت باندې نه دی خبر شوی، حال دا چه په هغې کښې د حجر ثالث طلب موجود دې، زمونږ د طرف نه علامه زيلعي ﷫ په نصب الرايه کښې د مسند احمد په دې حديث باندې بحث کولو سره فرمائيلې دی چه دا زيادت منقطع دې، ځکه چه دا حديث ابواسحق د علقمه نه روايت کوی، حال دا چه د ابواسحاق سماع د علقمه نه ثابت نه ده چه دهغې اقرار خپله امام بيهقي ﷫ ته دې، خو هغوی دلته سکوت کړې دې په بل ځائې کښې هغوی په دې اقرار کړې دې، او زه دا هم وايم چه په دې حديث عبدالله بن مسعود ﷺ باندې امام ترمذي او امام نسائي ﷭ باب الاستنجاء بالحجرين ترجمه قائم کړې ده، چه دهغې صفا مطلب دا دې چه ددې دواړو حضراتو په دې حديث کښې استنجاء بالحجرين ذکر کړې شوې دې او هغه زيادت کوم چه حافظ ﷫ بيان فرمائيلې دې

هغه دي دوارو حضراتو هم نه دي تسليم کړي، آيا حافظ صاحبﷺ به دلته هم وائي چه غفل الامام الترمذی والامام النسائی.

قوله ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ كَذَا رَوَاهُ أَبُو أُسَامَةَ الخ ﴾ د مصنفﷺ په غرض کښې دوه اقوال دي، حضرت په بذل کښې دا ليکلي دی چه ددې حديث په سند کښې اختلاف دې، بعضو هشام بن عروه او عمرو بن خزيمة ترمينځه د يو راوی واسطه ذکر کړې ده چه د هغه نوم عبدالرحمن بن سعد ښکاره چه چه د بيهقي په روايت کښې دی نو اوس مصنفﷺ دا فرمائي چه اکثر راويانو دا سند هم دغه شان بيان کړې ده کوم چه پورته ذکر شوې دې، يعنی بغير د واسطې د عبدالرحمن نه او صاحب منهل يو بل غرض ليکلې دې چه دا حديث سفيان بن عيينة هم د هشام نه روايت کړې دې خو هغوی شيخ هشام ابووجزه مقرر کړې دې، په ځائي د عمرو بن خزيمه، نو مصنفﷺ فرمائي چه ابومعاويه دا حديث د هشام نه نقل کړې دې هم دغه شان ابواسامه او ابن نمير هم دا روايت کړې دې يعنی د هشام بن عروه استاذ عمرو بن خزيمة ته وئيلې دې نه ابووجزه لره لکه چه سفيان بن عيينهﷺ کړې دی، لهذا د سفيان روايت وهم دې. ([1])

شرح السند : ﴿ عَنْ أَبِي حَازِمٍ ﴾ د دوی نوم سلمه بن دينار دې ﴿ مُسْلِمِ بْنِ قُرْطٍ ﴾ دا راوی ضعيف دې ﴿ ابومعاوية ﴾ د دوی نوم محمد بن حازم دې ﴿ عمارة بن خزيمة ﴾ صاحب منهل عمارة په کسرې د عين سره ليکلې دې خو دا وهم دې صحيح بضم العين دې، په ظاهر کښې هغوی ته وهم د يو بل نوم نه شوې دې هغه دا چه هغه صحابی دې ﴿ ابی بن عمارة ﴾ دا عمارة البتة بکسر العين دې والله اعلم.

قوله ﴿ خزيمة بن ثابت ﴾ دا مشهور صحابی دې، ذو الشهادتين د دوی لقب دې کوم چه د يو خاص واقعې د وجې نه دی ([2]) دا واقعه به د ابوداؤد په کتاب القضاء کښې راشي چه د هغې په اخر کښې دی ﴿ من شهد له خزيمة فهو حسبه ﴾

---

[1] صاحب منهل چه کوم غرض بيان کړې دې، هغه احقر ته اقرب الی کلام المصنفﷺ معلوميږی، چه د هغې تقرير زيات واضح دې، هغه دا چه مصنفﷺ د هشام د شاګردانو اختلاف بيانوی او هغه دلته په کتاب کښې درې دی، ابومعاويه، ابواسامه، ابن نمير دا درې واړه دا روايت د هشام نه په يو طريقه روايت کوی، او د هشام څلورم شاګرد سفيان بن عيينة دې هغه ئې بل شان روايت کوی، په دې تقرير کښې تقابل غوره دې.

[2] دا واقعه د شراء فرس سره متعلق ده کوم چه رسول اللهﷺ د يو اعرابی نه اخستلې وو خو د معاملې د طې کيدو نه پس هغه د بيع نه انکار اوکړو او د هغه نه ئې د شاهد مطالبه اوکړه، په دې باندې خزيمهﷺ کوم چه په اصل واقعه کښې موجود هم نه وو، د رسول اللهﷺ تصديق ئې اوکړو رسول اللهﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه ته تصديق څنګه کوې هغوی عرض اوکړو ستاسو د ارشاد د وجې نه په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه د هميشه دپاره د هغه يواځې شهادت کول به کافي وی.

بَابٌ فِي الِاسْتِبْرَاءِ

باب دې په بيان د ځان پاکولو کې (استنجاء)

د يو ې سلسله متعدد تراجم ابواب او د هغې خپل مينځ کښې فرق :

صاحب غاية المقصود دا ترجمه په استنجاء بالحجر باندې محمول کړې ده خو په دې باندې به دا اشکال واردیږی چه د استنجاء بالحجر باب خو اوس تیر شوې دې او حضرت سهارنپوری رحمه الله دا په استنجاء بالماء باندې محمول فرمائيلې دې، په دې باندې به هم اشکال وی چه ددې نه وړاندې باب د استنجاء بالماء راروان دې او ددې نه علاوه يو اشکال دا دې چه باب الاستبراء په شروع کښې تير شوې دې، نو دلته په دې باب کښې څه مقصود دې؟ او په دې استبراء او تير باب د استبراء کښې څه فرق دې؟ په يو طريقه هم دا خبره نه جوړيږی، خو الحمد لله حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ددې ټولو ابوابو د مقاصدو او اغراضو داسې توضيح کړې ده چه ټول اختلافات ختميږی هغه دا چه په ماقبل کښې چه کومه استبراء من البول راغلې دې دهغې نه مراد مطلق توقی عن البول دې، يعنې متيازې په احتياط سره کول که دهغې تعلق د بدن د څه حصې سره وی او که د کپړې سره وی، او که د خپلو متيازو سره وی او که د بل، او دلته د استبراء نه مراد استنجاء بالماء ده، خو مقصود دا دې چه استنجاء بالماء لازم نه ده ځنګه چه د حديث الباب نه ثابتيږی، اوس چه هر کله دا خبره ثابته شوه چه استنجاء بالماء غير لازم ده نو په دې سره شبه کيدې شوه چه کيدې شي مسنون هم نه وی او دا چه ددې هيڅ اهميت نشته نو دهغې د دفع کولو دپاره ئې بل باب قائم کړو، باب فی الاستنجاء بالماء او دهغې نه ئې استنجاء بالماء ثابت کړه، په باب فی الاستبراء کښې د استنجاء بالماء د لزوم نفی ده او په راروان باب سره د استنجاء بالماء ثبوت دې اوس د ټولو تراجمو غرض واضح شو، او د تکرار اشکال هم ختم شو

> [۴۲](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَخَلَفُ بْنُ هِشَامٍ الْمُقْرِءُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَحْيَى التَّوْأَمُ ح وحَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو يَعْقُوبَ التَّوْأَمُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: بَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهُ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ، فَقَالَ: مَا هَذَا يَا عُمَرُ؟ فَقَالَ: هَذَا مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِهِ، قَالَ: "مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ أَنْ أَتَوَضَّأَ، وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَتْ سُنَّةً".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، هغې وائی متيازې اوکړې رسول الله ﷺ، نو ودريدو عمر ورروسته د هغه نه په يوه لوټه (کوزه) د اوبو، نو اوونيل هغه دا څه شی دی ای عمره! نو هغه اوونيل دا اوبه دې چه اودس اوکړې ته په دې، نو هغه اوونيل ماته امر نه دی شوی چه هرکله زه متيازې کوم نو اودس اوکړم، او که چيرې مې اوکړو نو دا به واجبه طريقه شي

تشريح: قوله :﴿ فقال ما هذا يا عمر ﴾ دا خبره مونږ بيان کړه چه په دې باب سره د مصنف رحمه الله غرض استنجاء بالماء بيانول دی، يعنې دا چه هغه ضروری نه ده

(۱): سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۰ (۳۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۵/۶) (ضعيف)

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت :

خو په حديث الباب کښې خو د استنجاء ذکر نشته. جواب دا دې چه د ﴿ تتوضاء به ﴾ په تفسير کښې د شارحينو دوه اقوال دی، د حافظ عراقي رحمه الله رائې دا ده چه ددې نه وضوء شرعي مراد دې، او د بعض حضراتو رائې دا ده چه په هغې کښې امام ابوداؤد او امام ابن ماجه رحمه الله هم دي، چه دلته د طهارت نه مراد استنجاء بالماء مراد ده نو مطلب دا شو چه عمر رضي الله عنه چه کومې اوبه رسول الله ﷺ ته راوړې وې نو هغه ئې د استنجاء دپاره راوړې وې نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زه ددې خبرې مامور نه يم چه هميشه دې د متيازو نه پس استنجاء بالماء اوکړم.

سره د اتحاد سند د حاء تحويل راوړلو مقصد :

د دې حديث په سند کښې حاء د تحويل واقع شوې ده، په اول سند کښې د مصنف رحمه الله استاذ قتيبه وغيره دې، او په دويم کښې عمرو بن عون، او بيا ددې دواړو استاذ په دواړو سندونو کښې يو دې يعني ابويعقوب چه د هغوی نوم عبدالله بن يحيی دې، لهذا په دواړو سندونو کښې د مشائخ او راويانو په اعتبار هيڅ فرق نشته دواړه سندونه د رجالو په اعتبار سره بالکل يو دی، لهذا د تحويل هيڅ موقع نشته. خو چونکه د دواړو په سند کښې د تعبير فرق موجود دې، صرف ددې فرق د وجې نه ئې حاء د تحويل راوړې ده او هغه د تعبير فرق دا دې چه په اول سند کښې قتيبه وغيره د خپل استاذ نوم عبدالله بن يحيی ذکر کړې دې، او عمرو بن عون په ځائې د نوم کنيت ابويعقوب ذکر کړې دې، دويم فرق دا دې چه په اول سند کښې حدثنا عبدالله دې او دلته اخبرنا پس هم ددې فرق د ښکاره کولو دپاره مصنف رحمه الله حاء د تحويل راوړې ده، دا د غاية اهتمام او احتياط خبره ده.

بَابٌ فِي الاِسْتِنْجَاءِ بِالْمَاءِ

باب دې په بيان د استنجاء کولو کښې په اوبو باندې

د استنجاء اقسام او د هغې ثبوت او حکم شرعي :

غرض الباب: په دې باب باندې څه کلام په مخکښې باب کښې راغلې دې، ددې باب د منعقد کولو او د استنجاء بالماء ثابتولو يو غرض دا دې چه بعض علماء کرامو استنجاء بالماء ګنړلې ده، لکه چه د ابن حبيب مالکي رحمه الله نه منقول دی، هغوی وائي چه اوبه د څکلو څيز دې څنګه چه تاسو په دوړئ سره استنجاء نه شې کولې کوم چه د خوراک څيز دې نو په اوبه سره ولې کوئ هغه د څکلو څيز دې، جواب دا دې چه دا قياس مع الفارق دې، د اوبو په باره کښې تصريح ده چه هغه مطهر دی، نو څنګه چه هغه د څکلو څيز دې، تطهير هم ددې په تخليق سره مقصود دې، د الله پاک ارشاد دې ﴿ وانزلنا من السمآء ماءا طهورا ﴾ الاية لهذا اوبو لره په خبز باندې قياس کول صحيح نه دی، بلکه دا چه د بعض صحابه کرامو نه روايت دې لکه عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبير رضي الله عنهم چه هغوی به استنجاء بالماء نه کوله، او په مصنف ابن ابي شيبة کښې دی چه سيدنا حذيفه رضي الله عنه هم ددې قائل نه وو، پس هغوی اوفرمائيل ﴿ اذا لا يزال النتن بيدی ﴾ چه که زه بعد الغائط استنجاء بالماء اوکړم نو زما د

لاس نه به بدبو نه زائله کیږی نو د داسې اقوال رد کولو دپاره مصنف رحمه الله باب الاستنجاء بالماء ترلې دې، او د حدیث الباب نه ئې ثابته کړه چه د رسول الله ﷺ نه استنجاء بالماء ثابت ده. بلکه دا چه ابن التین د امام مالک رحمه الله نه نقل کړی دی چه د رسول الله ﷺ نه استنجاء بالماء ثابت نه ده پس په موطاء کښې دی چه ﴿ قال یحیی سئل مالک عن غسل الفرج من البول والغائط هل جاء فیه اثر فقال بلغنی ان بعض من مضی کانوا یتوضؤون من الغائط ﴾ خو دا خبره صحیح نه ده، د صحیحین د روایت نه د رسول الله ﷺ استنجاء بالماء ثابت ده مونږ د باب الاستنجاء بالاحجار په شروع کښې دا خبره بیان کړې وه چه د استنجاء بالحجر ثبوت د روایاتو کثیره نه دې او هم دې ته نږدې نږدې د استنجاء بالمآء ثبوت هم دې.

دریم قسم د استنجاء دې استنجاء بالحجر والماء یعنی حجر او ماء دواړه جمع کول، ددې ثبوت د روایاتو نه زیات مشهور نه دې، چه کوم روایات صحیح دی په هغې کښې صراحت نشته او کوم چه صریح دی هغه زیات صحیح نه دی بلکه ضعیف دی، په مجمع الزوائد وغیره کښې دی ځکه چه په معارف السنن کښې لیکلې شوی دی، د مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله رائې دا ده چه جمع بین الحجر والماء پس د غائط نه د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت ده، او بعد البول نه ده ثابت خو د عمر رضی الله عنه په باره کښې منقول دی، لکه د طبرانی په یو روایت کښې دی چه هغوی به جمع بین الحجر والماء بعد البول فرمائیله (ذکره مولانا عبدالحی فی مقدمة الهدایة)

[۴۳](۱) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ يَعْنِي الْوَاسِطِيَّ، عَنْ خَالِدٍ يَعْنِي الْحَذَّاءَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ حَائِطًا وَمَعَهُ غُلَامٌ مَعَهُ مِيضَأَةٌ وَهُوَ أَصْغَرُنَا، فَوَضَعَهَا عِنْدَ السِّدْرَةِ، فَقَضَى حَاجَتَهُ، فَخَرَجَ عَلَيْنَا وَقَدِ اسْتَنْجَى بِالْمَاءِ".

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې، چه بیشکه رسول الله ﷺ داخل شو یو باغ ته، او د هغه سره یو غلام چه د هغه سره د اودس کولو لوښې وو، او هغه ورکوټې وو په مونږ کښې نو هغه ئې کېښودله د سدرې (د بیرې د اونې) په څوا کښې، نو رسول الله ﷺ خپل حاجت پوره کړو، نو راووتلو مونږ ته او هغه استنجاء کړې وه په اوبو باندې

تشریح: قوله :﴿ وَمَعَهُ غُلَامٌ مَعَهُ مِيضَأَةٌ الخ ﴾ د غلام اطلاق د فطام نه واخله تر د اووه کالو پورې کیږی، دویم قول دا دې چه د پیدائش نه واخله تر بلوغ پورې، علامه زمخشری رحمه الله فرمائی حد التحاء یعنی د ګیرې د راوتلو پورې

(**غلام څوک وو؟**): په بعضو روایاتو کښې دی ﴿ غلامنا ﴾ او په بعض کښې دی ﴿ غلام من الانصار ﴾ ددې غلام په تعیین کښې اختلاف دې، د امام بخاری رحمه الله سیاق دې ته اشاره کړی چه دا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دې، خو وړاندې په روایت کښې راځی چه ﴿ وهو

(۱): صحيح البخاري/الوضوء ۱۵ (۱۵۰)، ۱۶ (۱۵۱)، ۱۷ (۱۵۲)، ۵۶ (۲۱۷)، الصلاة ۹۳ (۵۰۰)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۱ (۲۷۰، ۲۷۱)، سنن النسائي/الطهارة ۴۱ (۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۷۱) (صحيح)

اصغرنا﴾، په دې صورت کښې عبدالله بن مسعود ﷺ مراد اخستل مشکل دی هغه په کبار صحابه کرامو کښې دې، سیدنا انس ﷺ کوم چه د حدیث راوی دې د هغوی نه مشر دې، او وئیلې شوې دی چه ددې نه مراد جابر بن عبدالله دې ځنګه چه د مسلم د روایت نه معلومیږی او دا هم وئیلې شوی دی چه کیدې شی حضرت ابوهریره ﷺ وی. بهرحال دا ټول دحضور ﷺ خادمان دی. او دا هم احتمال دې چه د دوی نه علاوه بل څوک انصاری صحابی وی ﴿ میضاة ﴾ یعنی د اودس لوښې چه په هغې کښې د اودس په اندازه اوبه راشې. ﴿ قوله وقد استجی بالماء ﴾ دا لفظ استنجاء بالماء کښې صریح دې او هم ددې سره د ترجمة الباب مطابقت دی.

[۴۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي أَهْلِ قُبَاءٍ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا سورة التوبة آية ۱۰۸ قَالَ: كَانُوا يَسْتَنْجُونَ بِالْمَاءِ، فَنَزَلَتْ فِيهِمْ هَذِهِ الْآيَةُ".

ترجمه: د ابوهریره ﷺ نه روایت دې، هغه روایت کوي د رسول الله ﷺ نه، هغوی ﷺ فرمائیلی دی: نازل شوی دی دا ایت په اهل قباء کښې رپه دې کښې څه سړي دي چه خوښوي چه ښه پاک شي، هغه اووئیل: وو هغوی چه استنجاء ئې کوله په اوبو، نو نازل شو د هغوی په باره کښې دا آیت.

تشریح: قوله :﴿ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ الخ ﴾ قباء مدینې ته نزدې یو مشهوره آبادی ده، اول هغه د مدینې په اطرافو کښې وه خو اوس د مدینې ابادی هلته رسیدلې ده قباء منصرف او غیر منصرف دواړو طریقو سره لوستلې شوې دې، که په تاویل د بقعاء کیخودلې شی نو د علمیت او تانیث د وجې نه به غیر منصرف وی، او که په تاویل د مکان واخستلې شی نو بیا به منصرف وی، آیت کریمه ﴿ فیه رجال ﴾ کښې ضمیر مسجد قباء ته راجع دې، په مدینه منوره کښې د ټولو نه اول دا مسجد جوړ کړې شوې وو، او ددې نه پس مسجد نبوی ﷺ، ددې مسجد ډیر فضائل په احادیثو کښې راغلی دی، رسول الله ﷺ به د هر پیر په ورځ هلته تشریف اوړلو او په هغې کښې به ئې دوه رکعته کول په یو روایت کښې دی چه په مسجد قباء کښې د دوه رکعتو د لوستلو ثواب د یوې عمرې کولو دې، په صحیحین وغیره کتب صحاح کښې ددې مسجد د فضائلو په باره کښې ابواب موجود دی.

قوله :﴿ كَانُوا يَسْتَنْجُونَ بِالْمَاءِ ﴾ معلومه شوه چه په آیت کریمه کښې د طهارت نه استنجاء بالماء مراد ده، په یو روایت کښې دی چه کله دا آیت کریمه نازل شو نو رسول الله ﷺ قباء ته تشریف یوړو او د هغوی نه ئې تپوس اوفرمائیلو چه هغه څه خیز دې چه دهغې په وجه باندې الله پاک د طهارت په باره کښې ستاسو تعریف کړې دې نو هغه خلقو اووئیل چه موږ اهل کتاب اولیدل چه هغوی د استنجاء نه پس خپل مقعد وینځی، نو د هغوی په اتباع کښې موږ هم داسې اوکړل.

(): سنن الترمذي/التفسير ۱۰ (۳۱۰۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۸ (۳۵۷)، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۰۹) (صحیح)

په استنجاء کښې د جمع بين الحجر والماء ثبوت :

او په مسند بزار (۱) کښې دی څنګه چه تفسير جلالين کښې دی: ﴿ انا نتبع الحجارة الماء ﴾ چه مونږ د استنجاء بالحجر نه پس استنجاء بالماء کوو، په دې باندې رسول الله ﷺ ﴿ وهو ذلک فعليکموه ﴾ يعنی او ! هم په دې باندې ستاسو تعريف کړې شوې دې لهذا دا لازم اونيسئ، حضرت سهارنپوری ؒ په بذل کښې ليکلي دی چه ظاهره دا ده چه هغوی به استنجاء بالحجر والماء دواړه کول، او د حضرت تائيد د پورته روايت نه کيږي، خو امام نووی ؒ ددې انکار کړې دې هغوی فرمائی چه ددې خلقو جمع بين الحجر والماء ثابت نه ده، اوس نزدې په جمع بين الحجر والماء کښې دا کلام تير شو.

بَابُ الرَّجُلِ يُدَلِّكُ يَدَهُ بِالْأَرْضِ إِذَا اسْتَنْجَى

باب دې په بيان د سړي کې چې مږي خپل لاس په ځمکه کله چې استنجاء وکړي

يعنی د استنجاء نه پس لاس په زمکه باندې مږل چه رائحه کريهه او آثار نجاست بالکل زائل شی، په عوامو کښې مشهوره ده چه په خاورو کښې لاس وهل د غريبئ سبب دې، ددې حديث نه ددې خبرې ترديد کيږي چه دا بې اصله خبره ده پس په حديث الباب کښې دی ﴿ ثم مسح يده على الارض ﴾

[۳۵](۲) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ وَهَذَا لَفْظُهُ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي الْمُخَرِّمِيَّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ، أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِي تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ، فَاسْتَنْجَى"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ: ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ، فَتَوَضَّأَ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَحَدِيثُ الْأَسْوَدِ بْنِ عَامِرٍ أَتَمُّ.

ترجمه: د ابو هريره ؓ نه روايت دې، هغه وائی: وو نبي ﷺ کله چه به راتلو بيت الخلاء ته نو راوړولې به ما هغه ته اوبه په يو لوښي کښې (چې جوړ وو د زيړو نه او يا د کاڼي نه) او په يو لوښي کښې (چې هغه جوړ وو د لرګي نه) نو استنجاء ئې اوکړه. وئيلي دی ابو داود: په حديث د وکيع کښې، بيا ئې مسح کړو خپل لاس په ځمکه باندې بيا راتلل اوکړه ما هغه ته په يو لوښي بل باندې نو اودس ئې اوکړو. وئيلي دي ابوداود: او حديث د اسود بن عامر هغه ډير اتم دی.

تشريح: قوله : ﴿ عن ابی هريرة رضی الله عنه الخ ﴾ سيدنا ابوهريره ؓ فرمائی چه کله به رسول الله ﷺ بيت الخلاء ته تشريف يوړلو نو ما به هغوی ته په يو لوښي کښې اوبه راوړلې، په هغې سره به ئې استنجاء کوله او بيا به ئې لاس په زمکه باندې مږلو بيا به ما په بل لوښي کښې اوبه راوړلې په هغې باندې به رسول الله ﷺ اودس فرمائيلو ﴿ تور ﴾ وئيلې شی هغه

(۱) او مولانا عبدالحئ صاحب په حاشيه د موطاء کښې د صحيح ابن خزيمه حوالې سره په دې باندې اضافه فرمائيلې ده.

(۲): سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۹ (۳۵۸)، ۶۱ (۴۷۳)، (تحفة الأشراف: ۱۴۸۸۶)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة (۷۰۳/۱۵)، مسند احمد (۳۱۱/۲، ۴۵۴) (حسن)

لوښی ته کوم چه د پیتلو یا د کاڼړي وی، او ﴿زکوة﴾ وائی هغه وړوکی لوښی ته کوم چه د خرمني وی، ددې حدیث نه دې دا شبه اونکړې شي چه د استنجاء نه په پاتې شوې اوبو باندې اودس کول مکروه دی یا خلاف اولی دی، بلکه په بل لوښی کښې به اوبه په دې وجه راوړلې شوې چه باقی اوبه د دواړو کارونو دپاره کافی نه وی، ګینې د رسول اللهﷺ نه د یو لوښی نه استنجاء او اودس کول او غسل کول ثابت دی، لکه چه حضرت په بذل کښې لیکلی دی

ایا د استنجاء نه پس د لاس نه رائحه کریهه لرې کول د طهارت دپاره ضروری دی؟

قوله :﴿ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ﴾ حضرت سهارنپوری په بذل کښې د حضرت ګنګوهی د تقریر نه په دې مقام باندې د یوې مسئلې تحقیق کړې دې هغه دا چه په لاس سره د ازاله نجاست نه پس په دې کښې چه کومه رائحة کریهه باقی پاتې شی، دهغې زائل کول ضروری دی یا غیر ضروری، بله دا چه ددې رائحې حقیقت څه دې په دې کښې حضرت دوه اقواله لیکلې دی، د یو جماعت فقهاؤ رائې دا ده چه ددې ازاله ضروری ده الا ما شق زواله... او دویم جماعت دا وائی چه په لاس سره یا بدن سره د عین نجاست په زوال سره ازاله ضروری ده الا ماشق زواله، او دویم جماعت دا وائی چه په لاس سره یا بدن سره د عین نجاست په زوال سره لاس او بدن پاکیږی، د طهارت تحقق د رائحه کریهه په زوال باندې موقوف نه دې، اوس په دې کښې د هرې یوې رائې یو مقصد دې، کوم خلق چه وائی، ازاله ضروری ده هغوی وائی چه ددې رائحه کریهه حقیقت په اصل کښې د نجاست هغه اجزاء صغار نه دې کوم چه پټ او غیر مرئی دې په دې وجه ددې ازاله ضروری ده، بل جماعت دا وائی چه دا اجزاء د نجاست نه دی بلکه د مصاحبت بالنجاست اثر دې څکه چه لږ ساعت دپاره نجاست په لاس باندې لګیدلې دې، چه په دې سره لاس متاثره شو نو دا ددې ملګرتیا اثر دې، عین نجاست نه دې، لهذا ددې ازاله ضروری نه ده..... والله سبحانه وتعالی اعلم.

شرح السند : قوله : ﴿وَهَذَا لَفْظُهُ﴾ ضمیر د شریک طرف ته راجع نه دې، بلکه د اسود طرف ته راجع دې، دلته دوه سندونه دی،د یو ابتداء په ابراهیم سره ده،د دویم د محمد بن عبدالله سره، دا دواړه د مصنفؒ استاذان دی، بیا په اول سند کښې شیخ الشیخ اسود دې، او په دویم کښې وکیع، بیا دا دواړه یعنی اسود او وکیع روایت کوی د شریک نه، لهذا شریک ملتقی السندین شو نو مطلب دا شو چه دا الفاظ د اسود دی د وکیع نه دی، دلته شریک کوم چه ملتقی السندین دې په دواړو ځایونو کښې ذکر شوې دې، په اول سند کښې هم او په دویم کښې هم، ملتقی السندین لره کله صرف په دویم سند کښې بیانوی، او کله په دواړو کښې نو دلته په اول سند کښې شریک لره حذف کول هم صحیح دی، څکه چه په دویم سند کښې خو هغه هسې هم راروان دې ښه ځان پوهه کړه.

قوله :﴿المعنى﴾ تقدیر د عبارت دې ﴿معنى حديثهما واحد﴾ یعنی اسود او وکیع دواړه ددې حدیث راویان دی، مضمون دواړو یو بیان کړو، خو په الفاظو کښې لږ فرق دې ﴿قوله عن المغيرة﴾ د حضرت سهارنپوریؒ تحقیق په بذل کښې دا دې چه په لفظ المغیرة باندې

دلته سند نه دی کیدل پکار. پس د حضرت مولانا احمد علی محدث سهارنپوری رحمه الله په قلمی نسخه کښې نشته. او هم دغه شان دا روایت په نسائی او ابن ماجه کښې هم دې په دې دواړو کتابونو کښې دا نوم نشته. ددې نه علاوه طبرانی تصریح کړې ده چه دا حدیث د ابوزرعه نه د ابراهیم بن جریر نه علاوه بل چا نه دې روایت کړې. لهذا په دې سند کښې د ابراهیم نه پس صرف عن ابی زرعة کیدل پکار دی. په مینځ کښې ﴿عن المغيرة﴾ غلط دې. او په دې هم ځان پوهه کړه چه ابراهیم د ابوزرعه تره دې نو ګویا تره د وراره نه روایت کوی. لهذا دا روایت روایة الاکابر عن الاصاغر د قبیل نه دې.

بَابُ السِّوَاكِ

باب دې په بیان د مسواک کې

د ابوابو مناسبت او ترتیب:

د آداب استنجاء ابواب چه تقریبا دویشت (۲۲) شو دهغې د بیان د فراغت نه پس اوس مصنف رحمه الله اصل مقصد یعنی اودس بیانوی. ګویا د اودس ابتداء په باب السواک سره کوی. او د فرضیت وضوء باب باب فرض الوضوء وړاندې راوړان دې. چه په هغې کښې مصنف رحمه الله ﴿لا تقبل صلوة بغير طهور﴾ حدیث راوړې دې. اوس سوال دا دې چه د وضوء د باب قائمولو نه مخکښې ئې د سواک باب ولې قائم کړو؟ پس کیدې شی چه په دې سره دې خبرې ته اشاره وی چه مسواک په اجزاء د اودس کښې نه دې. پس د امام ابوحنیفه رحمه الله نه منقول دی ﴿انه من سنن الدين﴾ یا دې خبرې طرف ته اشاره ده چه مسواک په اودس باندې مقدم کول پکار دی. اصل کښې په دې کښې اختلاف دې چه د مسواک ابتداء د اودس شروع کولو نه مخکښې پکار ده. چه تسمية على الوضوء په پاکې ځلې سره اوکړې شی یا دا د اودس شروع کولو نه پس د مضمضې په وخت کښې اوکړې شی. دواړه اقوال دی

د مسواک د مباحث اربعه تفصیلی بیان:

دلته څلور بحثونه دی:

۱: د سواک معنی لغوی او عرفی او ماخذ اشتقاق.

۲: ددې حکم من حيث الوجوب والسنية.

۳: مسواک صرف د اودس په سنتو کښې دې یا که سنن صلوة او وضو دواړه دې.

۴: د مسواک فضائل او خواص

بحث اول: د سواک لغوی معنی او تحقیق:

سواک په کسرې د سین سره ما يدلک به الاسنان یعنی هغه لرګې وغیره چه په هغې باندې غاښونه وغیره اومرلې شی. ساک یسوک سوکا..... نه ماخوذ دې. چه دهغې معنی په سواک سره د مرلو ده. او د لفظ سواک استعمال په معنی مصدری او آله یعنی مسواک په دواړو کښې وی. چه کله آله مراد وی نو دهغې جمع په سوک راځی. لکه د کتاب جمع چه کتب راځی چه سواک ماخوذ دې ﴿تساوكت الابل﴾ نه. او دا هغه وخت وئیلې شی چه کله اوښ د

ضعف د وجې نه ډير رو او په نرم چال باندې روان وي، پس په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه مسواک په نرمۍ سره کول پکار دي.

(اصطلاحي معنی):

او په اصطلاح د فقهاء کرامو کښې د سواک معنی ده لرګې يا يو پيره کپړه وغيره په غاښونو کښې استعمالول چه د غاښونو ګندګی او زيروالی ختم شي غوره دا ده چه مسواک د ترخې اونې وي، او ليکلې شوي دي چه غوره د اراک يعنې د کيکر دې، ددې نه پس درجه د زيتون ده، او فقهاء کرامو ليکلي دي چه د زنانو دپاره علک يعنې دنداسه د مسواک قائم مقام ده.

بحث ثاني : دمسواک حکم واجب يا مسنون:

خان پوهه کړه چه مسواک د شوافعو او حنابله په نزد په سنن وضوء او سنن صلوة دواړو کښې دې مستقلاً، او د احنافو په نزد د مشهور قول په بناء صرف په سنن وضو کښې دې نه په سنن صلوة کښې، خو يو قول زمونږ په نزد دا دې چه د مانځه په وخت هم مستحب دې، لکه چه شيخ ابن الهمام ليکلي دي چه په پنځو وختونو کښې مستحب دې:

۱: عند اصفرار الاسنان، ۲: عند تغير الرائحة يعنې چه کله په خوله کښې څه قسم بوئي پيدا شي، ۳: عند القيام من النوم، ۴: عند القيام الى الصلوة، ۵: عند الوضوء.

پس ددې قول په بناء باندې به زمونږ او د شوافعو ترمينځه فرق دا شي چه زمونږ په نزد موکد يعنې سنت دې د اودس په وخت او غير موکد يعنې مستحب دې د مانځه په وخت، او د شوافعو په نزد د مانځه په وخت هم موکد دې، او د کتب مالکيه نه معلوميږي چه د هغوی په نزد هم د سنن وضوء نه دې، خو د هغوی په نزد لږ تفصيل دې هغه دا چه که د اودس او مانځه په مينځ کښې زيات فصل شوې وي نو بيا په دې صورت کښې عند الصلوة هم سنت دې، زه وايم چه مونږ او تاسو له هم دغه شان کول پکار دي چه که د يو سړي اودس د مخکښې نه شته، او د هغه د تجديد وضوء اراده نشته نو د مانځه نه مخکښې دې صرف مسواک اوکړي، ځکه چه زمونږ په نزد هم يو قول د استحباب عند الصلوة دې، او د مالکيانو په نزد خو ددې تصريح شته هم

په بحث ثالث کښې د علماء کرامو مقصد او مستدل:

په فتح الملهم شرح مسلم کښې په دې سلسله کښې يو نفيس تحقيق فرمائيلې دې، هغه دا چه په دې کښې د اختلاف او بحث مستدل دحديث الفاظ دي کوم چه په هغې کښې وارد دي، پس په دې سلسله کښې څلور قسمه روايتونه دي:

۱: عند کل وضوء ۲: مع کل وضوء ۳: عند کل صلوة ۴: مع کل صلوة.... [1]

---

[1] پس د ابوهريره رضي الله عنه هغه حديث کوم چه په دې باب کښې ذکر شوې دې، او دا روايت په مسلم کښې هم دې، په دې کښې دي ﴿عند کل صلوة﴾ او ﴿عند کل وضوء﴾ يا ﴿مع کل وضوء﴾ دا الفاظ په نسائي، مسند احمد، بيهقي، طحاوي او طبراني کښې موجود دي، هم دغه شان د صحيح......٣٦

حاصل دا چه د صلوة او اودس دواړو سره په احاديثو کښې د سواک ذکر راغلې دې او بيا دواړه کښې صورتونه دي، په لفظ د عند او په لفظ د مع سره، پس خان پوهه کړه چه د لفظ مع مدلول اتصال او معيت دې په خلاف د عند چه هغه په اتصال او قرب دواړو باندې صادق راځي، د اتصال دپاره ضروري نه ده، څنګه چه د شيخ الرضي د کلام نه فهميږي، ددې نه پس تاسو خان پوهه کړئ چه د صلوة سره مشهور رواياتو کښې لفظ عند راغلې دې، او په اودس کښې لفظ عند او لفظ مع دواړه په کثرت سره راغلي دي. لهذا کوم مسواک چه د اودس په وخت کيږي په دې باندې د عند کل وضوء او مع کل وضوء دواړه روايتونه صادقيږي، هم دغه شان ﴿ عند کل صلوة ﴾ هم هلته صادقيږي، ځکه چه د عند مقتضي صرف مقارنت او اتصال نه دې بلکه قرب باندې هم صادقيږي، خو ﴿ مع کل صلوة ﴾ هلته نه صادقيږي، ددې جواب دا دې چه دا لفظ اګرچه د بخاري په يو روايت کښې وارد دې خو خلاف مشهور دې، پس حافظ ددې شاذ د کيدو طرف ته اشاره کړې ده حاصل دا چه کوم لفظ زمونږ خلاف کيدې شي هم هغه شاذ دې، دهغې نه علاوه باقي درې واړه روايات زمونږ د مسلک موافق دي، د پورته تقرير نه دا هم واضحه شوه چه ﴿ عند کل صلوة ﴾ والا روايت کښې احنافو ته د مضاف محذوف منلو ضرورت نشته لکه چه بعض ئې کوي، اوس په دې تقرير سره ټول روايات مجتمع او متفق کيږي.

بحث رابع د مسواک فضائل او خواص :

د دې د فضيلت دپاره دا حديث کافي دې چه ﴿ السواک مطهرة للفم ومرضاة للرب ﴾ چه په مسواک سره د خولې پاکوالې او نظافت او د الله پاک رضا حاصليږي، دا روايت خو د نسائي شريف دې، وذکره البخاري تعليقا... او بل روايت کوم چه په مسند احمد وغيره کښې دې، په هغې کښې دی ﴿ صلوة بسواک افضل من سبعين صلوة بغير سواک ﴾ يعني هغه يو مونځ چه په مسواک کولو سره اولوستلې شي د هغه اويا مونځونو نه غوره دې کوم چه بغير مسواک نه لوستلې شوې وي، ابن قيمؒ ددې غير معمولي فضيلت ډير په ښه طريقه توجيه فرمائيلې ده هغوی ليکي چه مسواک کولو سره مونځ کول په اهتمام باندې دلالت کوي، او د الله پاک د بنده نه اهتمام في العبادة مطلوب دې، کثرت عمل مطلوب نه دې، پس د الله پاک ارشاد دې ﴿ الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا الاية ﴾ هغوی فرمائي چه ﴿ احسن عملا ﴾ فرمائيلې شوې دې، اکثر عملا ئې نه دې فرمائيلې پس هغه دوه رکعته چه په مسواک سره دي هغه احسن دي، اګرچه اکثر نه دي، او هغه اويا مونځونه چه بغير د مسواک نه کړې شوي دي، اګرچه اکثر دي خو احسن نه دي.

---

[1] ..... بخاري په کتاب الصوم کښې تعليقا ﴿ عند کل وضوء ﴾ لفظ راغلي دي، خو د بخاري په کتاب الجمعة کښې ﴿ مع کل صلوة ﴾ راغلي دي چه دهغې شاذ کيدو ته حافظؒ اشاره کړې ده، او د ابن حبان په يو روايت کښې راغلې دی ﴿ مع الوضوء عند کل صلوة ﴾ او دا لفظ د احنافو د توجيه عين مطابق دې ځکه چه ددې نه معلوميږي چه مسواک به د اودس سره وي هلته عند کل صلوة هم دې.

دويمه خبره يعنى خواص. پس ملا على قاري رحمه الله د بعض علماء كرامو نه د مسواک اويا فوائد نقل كړى دى، او وراندې ليكى ﴿ ادناها تذكر الشهادتين عند الموت بخلاف الافيون ﴾ يعنى ادنى فائده د مسواک د مرګ په وخت د كلمه شهادت ياد راتلل دى په خلاف د افيون چه په هغې كښې اويا ضررونه دى، ادنى مضرت ئې هيريدل د كلمې دى په وخت د مرګ، حضرت شيخ رحمه الله فرمائي چه دا خبره علامه شامي رحمه الله هم ليكلې ده، خو هغوى په ځائې د ادناها اعلاها تذكر الشهادتين ليكلې دي. بلـه دا چه هغوى ددې په مقابله كښې د افيون ذكر نه دې كړې

[۳۶]( )حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَرْفَعُهُ، قَالَ: "لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ، وَبِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. كه چيرې نه وى دا خبره چه زه به سختي اوكړم په مومنانو نو خامخا ما به حكم كړى وى په تاخير د ماسخوتن مونځ، او په مسواک استعمالو د هر مونځ دپاره.

د حديث شرح :

قوله ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْفَعُهُ قَالَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴾ يعنى كه ما د مسلمانانو په حق كښې مشقت نه محسوس كولې، او زما په مشقت كښې د اچولو ويره نه وې، نو ما به د دوى دپاره مسواک د هر مانځه دپاره ضروري كړې وې خو چونكه د مشقت ويره وه په دې وجه مې حكم ايجابي ورنكړو، او هم دغه شان به مې دوى ته حكم كړې وې د تاخير عشاء، خو چونكه په دې كښې هم ويره د مشقت وه په دې وجه مې ددې حكم هم ورنكړو.

دلته په عبارت كښې لفظ ﴿ مخافة ﴾ مقدر دې ځنګه چه د پورته ذكر شوې ترجمې نه معلوميږي يعنى ﴿ لولا مخافة ان اشق على المومنين ﴾ ګينې اشكال به لازم شي. لولا دلالت كوى په انتفاء د ثاني باندې په سبب د وجود د اول ﴿ لولا على لهلک عمر ﴾ نو اشكال دا دې چه دلته ثاني يعنى د امر بالسواک انتفاء خو ده، خو وجود اول يعنى مشقت چرته دې؟ خو چه كله مو مضاف محذوف اومنلو نو معلومه شوه چه امر اول دلته مشقت نه دې بلكه مخافة مشقت دې پس هغه موجود دې فانتفى الاشكال.

د عشاء په مستحب وخت كښې اختلاف :

﴿ قوله وبتاخير العشاء ﴾ ددې نه معلومه شوه چه تاخير عشاء اولى دې، د فقهاء كرامو په نزد دا څيز مختلف فيه دې بعض تعجيل غوره ګڼړي او بعض تاخير، د شوافعو او مالكيانو نه د افضليت تعجيل او افضليت تاخير دواړه روايتونه دى خو د شوافعو ظاهر مذهب د افضليت تعجيل دې لكه چه ابن دقيق العيد فرمائيلې دى، او د احنافو په نزد د مشهور

( ): صحيح مسلم/الطهارة ۱۵ (۲۵۲)، سنن النسائي/الطهارة ۷ (۷)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۷ (۲۸۷)، موطا امام مالك/الطهارة ۳۲ (۱۱۴)، (تحفة الأشراف: ۱۳۶۷۳)، وقد أخرجه: خ/الجمعة ۸ (۸۸۷)، التمني ۹ (۷۲۴۰)، سنن الترمذي/الطهارة ۱۸ (۲۲)، حم (۲/۲۴۵، ۲۵۰، ۳۹۹، ۴۰۰، ۴۶۰، ۵۱۷، ۵۳۱)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۸ (۷۱۰) (صحيح)

قول په بناء باندې مطلقا تاخير مستحب دې، لکه چه په نور الايضاح کښې هم دی، په دې باندې امام طحاوی رحمه الله ليکی چه وئيلې شوې دی چه استحباب تاخير د يخنۍ په زمانه کښې دې، او د ګرمۍ په زمانه کښې تعجيل افضل دې په ګرمۍ کښې د شپې د ورې کيدو د وجې نه د تاخير په صورت کښې د قلت جماعت ويره ده. ددې د مزيد تحقيق محل ابواب المواقيت دې.

د دې حديث نه دوه اصولې مسئلې مستفاد کيږی يو دا چه امر د مطلق ايجاب دپاره دې څنګه چه احناف وائی، ځکه چه که د استحباب دپاره وې نو دهغې نفی دلته کوم ده، امر استحبابی خو اوس هم دې.

د رسول الله ﷺ په حق کښې جواز اجتهاد:

دويمه مسئله دا چه د رسول الله ﷺ دپاره اجتهاد فی الاحکام جائز وو اوکه نه، په دې کښې څلور اقوال دی، ۱- جواز مطلقا ۲- عدم جواز مطلقا، ۳- جواز په جنګونو کښې او په دنياوی امور کښې رائې ورکول، يعنی غزواتو او جنګی امورو او نورد مشورو په خبرو کښې هغوی ته حق د اجتهاد وو، د حلال او حرام په مسائلو کښې ورته د اجتهاد حق نه وو. ۴- التوقف، يعنی ددې په باره کښې هيڅ فيصله نه شی کيدې. اصح قول اول دې يعنی مطلقا جواز احکام او غير احکام ټولو کښې ذکره شيخنا فی هامش البذل عن ابن رسلان.

[۴۷]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي، لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ"، قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَرَأَيْتُ زَيْدًا يَجْلِسُ فِي الْمَسْجِدِ وَإِنَّ السِّوَاكَ مِنْ أُذُنِهِ مَوْضِعَ الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ، فَكُلَّمَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ اسْتَاكَ.

ترجمه: د زيد بن خالد الجهنی نه روايت دې، هغه وائی: ما اوريدلې دې د رسول الله ﷺ نه چه وئيل ئې: که چيرې نه وی دا چه زه به سختې اوکړم په خپل امت باندې، نو خامخا ما به امر کړی وی په مسواک باندې د هر مانځه په وخت کښې، وئيلې دې ابو سلمة نو ما اوليدلو زيد چه ناست وو په مسجد کښې دمونځ دپاره، او مسواک دهغه په غوږ کښې وو په ځائې د قلم باندې په غوږ د کاتب کښې، نو هرکله چه به پاځيدلو مانځه ته نو مسواک به ئې استعمالولو بيا به ئې د غوږ په ځائې باندې ايښودو

تشريح: ﴿ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ فَرَأَيْتُ زَيْدًا يَجْلِسُ فِي الْمَسْجِدِ الخ ﴾ ابوسلمه رحمه الله فرمائی چه ما زيد بن خالد جهنی رضی الله عنه اوليدو چه کوم وخت هغوی د مانځه په انتظار کښې ناست وو نو مسواک به د هغوی په غوږ کښې داسې پروت وو لکه د ليکونکی په غوږ کښې چه قلم کيخودلې شی، لکه چه تاسو به ليدلې وی بعض مستريان او ترکاڼان وغيره کوم چه په غوږ کښې شاته پنسل ږدی چه چرته ئې ضرورت پيښ شی په هغې خط راکاږی او بيا ئې هم هلته کيږدی، نو دغه شان چه به زيد بن خالد جهنی رضی الله عنه مانځه ته اودريدلو نو د غوږ نه به ئې

() سنن الترمذي/الطهارة ١٨ (٢٣)، (تحفة الأشراف: ٣٧٦٦)، مسند احمد (١١٦٧٤) (صحيح)

مسواک راوا خستلو او مسواک به ئې اوکړو.
د دې حديث نه د شوافعو وغيره د مسلک تائيد کيږي، پس ددې جواب ښکاره دې چه د سياق کلام او الفاظ حديث نه معلوميږي چه دا طرز صرف هم ددې صحابي وو، څکه چه که ټولو صحابه کرامو داسې کړي وې نو په رواياتو کښې به ددې ذکر وې، ددې نه علاوه ابوسلمه به دا ولې وئيل چه ﴿ فرايت زيدا ﴾ بلکه داسې به ئې وئيل ﴿ فرايت الصحابة ﴾.

[۴۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قُلْتُ: أَرَأَيْتَ تَوَضُّؤَ ابْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا وَغَيْرَ طَاهِرٍ، عَمَّ ذَاكَ؟ فَقَالَ: حَدَّثَتْنِيهِ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي عَامِرٍ حَدَّثَهَا، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرَ بِالْوُضُوءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا وَغَيْرَ طَاهِرٍ، فَلَمَّا شَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ، أُمِرَ بِالسِّوَاكِ لِكُلِّ صَلَاةٍ"، فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَرَى أَنَّ بِهِ قُوَّةً، فَكَانَ لَا يَدَعُ الْوُضُوءَ لِكُلِّ صَلَاةٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ رَوَاهُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ.

ترجمه: د عبدالله بن عبد الله بن عمر نه روايت دې، هغه وئيلي دي. ايا ته خبر په اودس د ابن عمر د هر مانځه لپاره چه هغه به طاهر وو، او که غير طاهر به وو، عم ئې کړو دغه، نو وئې وئيل بيان کړې دی ماته دهغې اسماء بنت زيد بن الخطاب، بيشکه عبد الله بن حنظلة بن ابي عامر ورته بيان کړې دی، بيشکه رسول الله ﷺ امر کړې دی د هر مانځه دپاره، که پاک وي او که پاک نه وي، هرکله چه سخته شوه دغه په ده باندې، نو امريې اوکړو په مسواک د هر مانځه دپاره، نو وو ابن عمر چه دا خيال ئې وو چه په دې سره قوت دی، نو وو چه نه ئې پريخودلو اودس د هر مانځه دپاره.

تشريح: قوله ﴿ عن عبدالله بن عبدالله بن عمر ﷺ قال الخ ﴾ د قال ضمير عبد الله ته راجع نه دې بلکه د هغوی شاګرد محمد بن يحيى طرف ته راجع دې.

مضمون حديث : مطلب دا دې چه محمد بن يحيى وائي چه ما تپوس اوکړو د خپل استاذ عبدالله بن عمر ﷺ د خوئي نه چه د هغه نوم هم عبدالله دې چه دا راته بيان کړئ چه ستاسو والد محترم عبدالله بن عمر ﷺ به د هر مانځه دپاره اودس ولې کولو؟ که اول ئې اودس وی او که نه وی، نو هغوی ددې جواب دا ورکړو، چه دهغې حاصل دا دې چه په يو حديث کښې دی چه دهغې راوی عبدالله بن حنظله ﷺ دي چه رسول الله ﷺ په شروع کښې په هرحال کښې د وضو لکل صلوة مامور وو، که د اول نه په اودس کښې وی او که نه وی، چونکه ددې حکم په تعميل کښې رسول الله ﷺ ته مشقت وو، نو الله پاک د هغوی په رعايت کولو کښې دا حکم منسوخ اوفرمائيلو، او په ځائې د ﴿ وضوء لکل صلوة ﴾ ئې د ﴿ سواک لکل صلوة ﴾ حکم اوفرمائيلو. غرض دا چه ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ دپاره اصل حکم د ﴿ وضوء لکل صلوة ﴾ وو نو عبدالله بن عمر ﷺ دا سوچ اوکړو چه حکم اصلی دا دې، او زما دپاره په دې عمل باندې هيڅ مشکل نشته نو په دې وجه به

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٢٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٥/٥)، سنن الدارمي /الطهارة ٣ (٦٨٤) (حسن)

هغوی د هر مانځه په وخت اودس کولودا خبره د عبدالله بن عمر ﷺ خوئي عبدالله بن عبدالله بن عمر په خپل استنباط او ګمان باندي اوکړه چه کیدي شي زما د والد صاحب دا طرز عمل په دې وجه باندې وي.

خو زه وایم چه د عبدالله بن عمر ﷺ ددې طرز عمل وجه او مقصد هغه دي کوم چه خپله د هغوی نه نقل کړې شوې دي کوم چه په باب الرجل يجدد الوضوء من غير حدث کښي راروان دي چه په هغي کښې دا دی چه ابن عمر ﷺ یو ځل د یو سړي مخکښې تجدید وضو اوفرمائيلو په دې باندې هغه سړي د هغوی نه تپوس اوکړو چه تاسو د هر مانځه دپاره اودس ولې کوئ؟ نو په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي هغوی به فرمائيل چه ﴿من توضاء على طهر كتب له عشر حسنات﴾ یعنی کوم انسان چه سره د اودسه بیا اودس کوی نو د هغه دپاره لسو نیکو بلکه د لسو اودسونو ثواب لیکلی شي

قوله ﴿ قال ابوداؤد ابراهيم بن سعيد الخ ﴾ ددې ځائې نه مصنف ﷺ د محمد بن اسحاق د شاګردانو اختلاف بیانوی په مخکښې سند کښې د محمد بن اسحق شاګرد احمد بن خالد وو. بل شاګرد د هغوی مصنف ﷺ فرمائي چه ابراهيم بن سعد دی، هغوی هم دا حدیث د محمد بن اسحاق نه روایت کړې دې، د دواړو په سند کښې فرق دا دې چه د احمد بن خالد د روایت نه معلومیږی چه د محمد بن یحیی نه دا تپوس د عبدالله بن عمر ﷺ هغه خوئي کړې وو چه د هغه نوم عبدالله دې، او د ابراهيم بن سعد د روایت نه معلومیږی چه د عبدالله بن عمر ﷺ د بل خوئي عبيدالله نه ئې کړې وو، حضرت په بذل کښې لیکلي دی ﴿ ويمكن ان يكون الرواية عنهما ويحتمل ان يكون ذكر احدهما وهما ﴾ یعنی کیدې شي چه دا سوال سائل د دواړو نه کړې وی چه په دوی کښې ئې د یو نه کړې وو، خو راویانو ته صحیح یاد نه دې، یو د یو نوم ذکر کړې دې او بل د بل.

بَابُ كَيْفَ يَسْتَاكُ

باب دې په بیان د کیفیت د استعمال د مسواک کې

یعنی د مسواک طریقه او ددې کیفیت څه کیدل پکار دی، په کتب فقه کښې ددې ځیزونو تفصیل موجود دې، او دا تفصیلات هم د هغوی د لیکلو دی. لهذا تفصیل خو دې هلته اوکتلي شي مختصرا داسې ده لکه څنګه چه د حدیث الباب نه معلومه شوه چه د مسواک تعلق صرف د اسنان سره نه دې بلکه په ژبه باندې هم کول پکار دی، بله دا چه د مسواک په لاس کښې د نیولو طریقه هم مخصوص ده کومه چه فقهاء کرامو بیان کړې ده، او دا چه مسواک په طول کښې یو لیشت اوپه پلن والي کښې د ګوتې د پیروالي برابر وی ثلاثا بثلاث وی یعنی درې کرته په درې خله اوبو باندې بیل بیل اوکړې شي وغیره امور چه په هغې باندې مستقل کتابونه لیکلې شوې دی. پس علامه طحاوی ﷺ هم د مسواک په باره کښې یو تصنیف فرمائيلې دې

[۴۹] () حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ مُسَدَّدٌ، قَالَ: "أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ، فَرَأَيْتُهُ يَسْتَاكُ عَلَى لِسَانِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ سُلَيْمَانُ: قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسْتَاكُ، وَقَدْ وَضَعَ السِّوَاكَ عَلَى طَرَفِ لِسَانِهِ وَهُوَ يَقُولُ: آهْ آهْ يَعْنِي يَتَهَوَّعُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مُسَدَّدٌ: فَكَانَ حَدِيثًا طَوِيلًا، وَلَكِنِّي اخْتَصَرْتُهُ.

ترجمه: وئيلي دي ابو موسى موږ راغلو رسول الله ﷺ ته طلب د سورلئ كولو موږ د هغه نه نو ما اوليدلو چه مسواك ئي استعمالولو په خپله ژبه وئيلي دي ابوداود: دسليمان په روايت كښي دي چه: زه داخل شوم په پيغمبر ﷺ باندې او هغه مسواك وهلو، او يقيناً هغه ايخودلې وو مسواك په غاړې د ژبې، او هغه وئيله آه، آه، يعني قيئ ئي كوله وئيلي دي ابوداود: وئيلي دي مسدد: دا اوږد حديث وو خو ما مختصر كړو.

تشريح: قوله: ﴿ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مُسَدَّدٌ قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَسْتَحْمِلُهُ الخ ﴾ ددې حديث راوي ابوبرده رضي الله عنه دي كوم چه د خپل پلار يعنې ابوموسى اشعرى رضي الله عنه نه روايت كوي، هغوى فرمائي چه موږ يو ځل د رسول الله ﷺ په خدمت كښي د استحمال يعنې سورلئ طلب كولو دپاره راغلو نو په دې موقع باندې ما اوكتل چه هغوى په خپله ژبه مباركه باندې مسواك فرمائيلو.

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ سُلَيْمَانُ الخ ﴾ په دې سند كښي د مصنف رحمه الله دوه استاذان دي، مسدد او سليمان، مخكښې الفاظ د مسدد وو، او س ددې ځائې نه د مسدد الفاظ بيانوي، ددې دواړو په روايت كښي چه كوم ښكاره فرق دې هغه دا دې چه د مسدد په روايت كښي استحمال يعنې د سورلئ د طلب كولو ذكر دې، او د سليمان روايت ددې زيادت نه خالي دې، بل دا چه په دې روايت كښي يو بل زيادت دې هغه دا چه د مسواك په وخت به د رسول الله ﷺ د خولې مباركې نه يو آواز راتلو هغه ئي نقل كړې دې، هغه دا چه أه أه وو د (تَهَوُّعْ) معنى د يتقيئ ده يعنې څنګه چه د قى كولو په وخت آواز راوځي هم دغه شان آواز ښكاره كيدلو، او د بخارى په يو روايت كښي لفظ اع اع دې، او د نسائى په روايت كښي دى ﴿وهو يقول عاعا ﴾ مقصود د ټولو حكايت صوت دې، او څرنګه دا څومره الفاظ چه په رواياتو كښي راغلي دي متقارب المخرج دى په دې وجه دا هيڅ تعارض نه دې

د ابوداوٗد په روايت كښي وهم او د هغې صحيح تحقيق:

د دې نه پس ځان پوهه كړه چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په دې مقام باندې دلته يو تحقيق فرمائيلې دې چه دهغې حاصل دا دې چه د ابوداوٗد په دې روايت كښي وهم او خلط واقع شوې دې لكه چه د حديث په نورو كتابونو كښي د كتلو نه معلوميږى هغه دا چه حديث الباب په بخارى، مسلم او نسائى كښي هم موجود دې خو په هغې كښي د ذكر سواك سره استحمال يعنې د سورلئ طلب نه دې ذكر شوې، خو د صحيحين او دغه شان د نسائى په

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ۷۳ (۲٤٤)، صحيح مسلم/الطهارة ۱۵ (۲۵٤)، سنن النسائي/الطهارة ۳ (۳)، (تحفة الأشراف ۹۱۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۱۷) (صحيح)

يو بل روايت دي كوم چه د نسائي په شروع كښې دي چه په هغې كښې د مسواك سره استعمال يعنى د طلب عمل ذكر دي، د چه دهغې مضمون دا دي چه سيدنا ابوموسى اشعرى ﷺ فرمائي چه يو خل زه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې روان اوم نو ما سره د قبيله اشعر دوه سرى نور شو. كوم چه ما سره د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، چه كله مونږ هلته اورسيدو نو او مو كتل چه رسول الله ﷺ مسواك فرمائي، نو كوم سرى چه ماسره تلي وو هغوى د رسول الله ﷺ نه د عمل فرمائش اوكړو، يعنى ددې چه هغوى دې د څه عامل جوړولو سره هغوى ته سركارى ملازمت وركړې شي، دا روايت د نسائي شريف بالكل په شروع كښې دي او هغه روايت په كوم كښې چه استحمال ذكر كړې شوې دي په هغې كښې د مسواك ذكر نشته، د استحمال والا روايت دا دي كوم چه په صحيحينو كښې موجود دي چه رسول الله ﷺ د غزوه تبوك په سفر كښې چه كله تشريف اوړلو نو په لاره كښې څه خلق د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او هغوى د سورلئ د ضرورت اظهار اوكړو چه مونږ ته د سورلئ ضرورت دي، خو هغه وخت رسول الله ﷺ د هغوى مطالبه كول بده اوګنړله، او رسول الله ﷺ خفه شو او وئې فرمائيل والله لا أحملكم، چه په خدائې قسم زه تاسو ته سورلى نه دركوم.

راوى وائى چه بيا روستو رسول الله ﷺ هغوى راطلب كړل او سورلى ئې ورته وركړه، چه په هغې باندې هغوى عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ تاسو خو قسم خوړلې وو، مطلب دا چه زمونږ په رعايت كښې تاسو حانث نه شئ، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل (وما انا حملتكم ولكن الله حملكم) سورلى دركونكې زه نه يم بلكه الله پاك دي، په دې قصه كښې چرته هم د مسواك ذكر نشته، زمونږ د حضرت سهارنپورى رحمه الله اشكال هم دا دي چه د استحمال والا روايت كښې په نورو كتابونو كښې دمسواك ذكر نشته لهذا د ابوداؤد په روايت كښې د سواك سره د استحمال ذكر خلط بين الروايتين دي باقى زما په نزد دا وهم د مصنف رحمه الله نه دي، بلكه كه وى نو د مسدد دي، څكه چه مصنف رحمه الله تصريح كړې ده چه د مسدد د روايت الفاظ دا دى، د سليمان د روايت الفاظ دا دى چه دهغې نه معلوميږى چه مصنف رحمه الله ته خو هر څه په ښه طريقه محفوظ وو چه د كوم استاذ نه هغوى ته څنګه روايت رارسيدلې وو هغوى هم هغه شان نقل كړو فالعهدة في هذا الوهم على مسدد لا على المصنف.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَسْتَاكُ بِسِوَاكِ غَيْرِهِ

باب دې په بيان د سړي كښې چه استعمالوي د بل چا مسواك

مصنف رحمه الله د مسواك بعض آداب او احكام بيانوى، دلته دا بيانوى چه د بل چا مسواك استعمالولې شي او كه نه؟ د حديث الباب نه معلوميږى چه كولې شي، باقى اصولى خبره دا ده چه د ملك غير استعمال د هغه په اجازت سره كيدې شي كه هغه اجازت دلالةً وى او كه صراحةً وى، غرض دا چه د جمهورو په نزد هيڅ كراهت شرعى نشته، حكيم ترمذى رحمه الله به دا مكروه ګنړله، په بعض كتب فتاوى كښې ليكلې شوې دى چه دا خبره چه مشهوره بين العوام ده چه په درې څيزونو كښې شركت نشته ۱: مشط (ګومنځ)، ۲ ميل (يعنى د رانجو

سلاني، ۳ مسواک. نو دا صحیح نه ده، خو که طبعي کراهت وي نو هغه بیله خبره ده نو په دې ترجمې سره د حکیم ترمذيﷺ د رائې رد کولې شي هم دغه شان د ابراهیم نخعيﷺ نه نجاست بزاق مروی دې یعنی د انسان لاړې د بهر راتلو نه پس نجس دی نو په دې سره دا وهم هم کیږي چه کیدې شی چه د بل مسواک هم جائز نه وی. په دې وجه ئې په دې ترجمې سره دا خبره هم رد کړه

[۵۰]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَنْ بَسَّةُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ، أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ، فَأُوْحِيَ إِلَيْهِ فِي فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا". قَالَ أَحْمَدُ هُوَ ابْنُ حَزْمٍ: قَالَ لَنَا أَبُو سَعِيدٍ هُوَ ابْنُ الْأَعْرَابِيِّ، هَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْمَدِينَةِ.

ترجمه: د عائشيﷺ نه روایت دې، هغې وئیلي دي. وو رسول اللهﷺ چه مسواک ئې وهلو او د هغه سره دوه کسان وو، یو د بل نه مشر وو، نو وحی اوکړه ورته الله په فضیلت د مسواک کښې، چه ورکړه مسواک غټ ددې دواړو ته

مضمون حدیث: ﴿ عن عائشة قالت الخ ﴾ سیده عائشهﷺ فرمائي چه د یو ځل واقعه ده رسول اللهﷺ مسواک فرمائیلو، او هغوی سره دوه کسان حاضر وو چه په هغوی کښې یو په عمر کښې وړوکې وو او دویم غټ وو، پس رسول اللهﷺ د مسواک نه د فارغ کیدو نه پس د خپل مسواک په هغه دواړو کښې چه کوم وړوکې وو هغه ته د ورکولو اراده اوفرمائیله، راوي وائي چه هم په دې وخت کښې په رسول اللهﷺ باندې د مسواک د فضیلت په باره کښې وحی راغله چه ابتداء بالاکبر اوکړئ. یعني په دوی کښې چه کوم لوئې دې اول ئې هغه ته ورکړئ، په ظاهر کښې د رسول اللهﷺ مسواک ورکول بل ته ددې دپاره وو چه هغه هم دا استعمال کړی لهذا په ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت معلوم شو

اوس دا چه رسول اللهﷺ اصغر ته د ورکړې اراده ولې اوفرمائیله پس ددې به ظاهري څه وجه وی مثلا دا چه هم هغه به رسول اللهﷺ ته اقرب وو یا بله څه وجه وی مثلا د رسول اللهﷺ ښي طرف ته به وو د ابتداء بالاکبر کومه وحی چه رسول اللهﷺ ته راغله دهغې نه راوي دا استنباط اوکړو چه ددې وحی غرض د مسواک فضیلت بیانول دی هم په دې وجه هغه اووئیل ﴿ فاوحی الیه فی فضل السواک ﴾ دا د راوی الفاظ دی

د تقسیم په وخت ضابطه الیمین فالایمن ده یا الاکبر فالاکبر؟

اوس دلته یو سوال واردیږی هغه دا چه ددې حدیث نه خو مستفاد کیږی چه په تقسیم کښې ابتداء بالاکبر کیدل پکار دی، الاکبر فالاکبر حال دا چه په کتاب الاشربة کښې د روایت نه معلومیږی چه ابتداء بالایمن کیدل پکار دی، الأيمن فالأيمن چه دهغې واقعه دا ده چه یو ځل رسول اللهﷺ پئ اوڅکل، سیدنا ابن عباسﷺ فرمائي چه زه د هغوی ګس طرف ته اوم او خالد بن الولیدﷺ د هغوی ښي طرف ته وو نو رسول اللهﷺ د پیو څکلو نه پس ماته

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۳۲) (صحيح)): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۳۲) (صحيح)

اوفرمائيل چه حق خو دا ستا دي خو كه ته اجازت راكړي نو زه به دا خالد ته وركړم په دي باندي ما عرض اوكړو چه زه ستاسو جوټه مباركه په چا باندي نه شم قربانولي. ددي نه علماء كرامو د تقسيم ضابطه الايمن فالايمن راويستلي ده بلكه د بخاري په يو روايت كښي خپله د رسول الله ﷺ نه د الايمن فالايمن تصريح ثابت ده ددي جواب شارح ابن رسلان دا وركوي چه د الايمن فالايمن ضابطه هغه وخت چليږي چه كله حاضرين مرتب في الجلوس وي. په بعضو باندي ايمن صادقيږي او په بعضو باندي ايسر. او كه غير مرتب في الجلوس وي مثلاً تول په يو طرف كښي وي نو هلته به هغه قاعده چليږي كومه چه ددي حديث نه مستفاد كيږي الاكبر فالاكبر ماشاء الله ښه توجيه ده ګويا ددي توجيه حاصل دا شو چه هغوي دواړه مرتب في الجلوس نه وو. خو ددي يو جواب دا هم كيدي شي چه ممكنه ده دلته هم هغوي مرتب في الجلوس وي يميناً ويساراً. او رسول الله ﷺ به هم ددي ضابطي په بناء اصغر ته د وركولو اراده فرمائيلي وي چه هغه ايمن وو خو دلته يو خصوصيت مقام او عارض په وجه باندي رسول الله ﷺ ته دهغي خلاف د تقسيم كولو حكم اوفرمائيلي شو. يعني د ابتداء بالاكبر. او عارض هم هغه دي چه دهغي طرف ته راوي اشاره كوي يعني د مسواك په فضيلت باندي تنبيه كول. د عوارضو د وجي نه په احكامو كښي تغير پيدا كيږي. نو اصل قاعده هم دا شوه ﴿الايمن فالايمن﴾ خو په دي خاص واقعه كښي ددي قاعدي مخالفت په يو عارض باندي مبني دي

د ابوداؤد او مسلم په روايت كښي د تعارض دفع كول

دلته په بذل كښي يو اشكال او جواب سره تعرض كړي شوي دي هغه دا چه بالكل هم ددي قسم واقعه د ابن عمر ﷺ د حديث نه په مسلم شريف كښي هم ده چه دهغي الفاظ دي ﴿ اراني في المنام ﴾ رسول الله ﷺ فرمائي چه ما رسول الله ﷺ په خوب كښي اوليدو او بيا ئي بعينه هم دا واقعه ذكر اوفرمائيله كومه چه د عائشي ﷺ په حديث الباب كښي ده. د ابن عمر ﷺ د حديث نه معلوميږي چه دا واقعه په خوب كښي پيښه شوي وه او هم په دي وجه امام مسلم ﷺ په ابواب الرؤيا كښي ذكر كړي وه او د حديث عائشي ﷺ نه په ظاهر كښي معلوميږي چه دا واقعه په بيدارئ كښي راپيښه شوي وه. ددي دوه جوابونه كيدي شي يو دا چه كيدي شي دواړو ځايونو كښي راپيښه شوي وي، په بيدارئ كښي هم او په خوب كښي هم صورت حال به دا راغلي وي چه اول رسول الله ﷺ ته دا واقعه په خوب كښي راپيښه شوه، خو رسول الله ﷺ چاته ذكر نه كړه او بيا هم دا واقعه په بيدارئ كښي راپيښه شوه، په دي باندي رسول الله ﷺ ته خپل هغه خوب راياد شو نو رسول الله ﷺ ددي خوب تذكره اوفرمائيله، سيده عائشه ﷺ روايت كوي د بيدارئ والا واقعه او ابن عمر ﷺ روايت فرمائي د خوب والا واقعه لهذا هيڅ تعارض نشته، خو په دي جواب كښي به د تكرار وحي اشكال وي چه په يو معامله كښي دوه كرته وحي ولي اوشوه، په دي وجه غوره دويم جواب دي هغه دا چه د ابن عمر ﷺ په حديث كښي خو د خوب تصريح ده او په دي حديث د عائشي ﷺ كښي د بيدارئ هيڅ تصريح نشته نو موږ دا حديث عائشه ﷺ هم د

خوب په قصه باندې ولې محمول نه کړو يعنې دا چه هغه هم د خوب واقعه بيان فرمائي، او قرينه په دې باندې د ابن عمر رضي الله عنهما روايت وي چه په هغې کښې د خوب تصريح ده. والله اعلم بالصواب

[٥١]( ) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟ قَالَتْ: "بِالسِّوَاكِ". [1]

ترجمه: مقدام بن بن شريح روايت کوي د خپل پلار نه، هغه وائي، ما اوونيله عائشې ته په کوم شي به رسول الله ﷺ شروع کوله کله چه به کورته داخل شو؟ هغې وونيل: په مسواک سره

بَابُ غَسْلِ السِّوَاكِ

باب دې په بيان د وينځلو د مسواک

د ترجمة الباب غرض:

په دې باب کښې دوه احتماله دي يا خو دا د ماقبل سره متعلق او دهغې تکمله ده نو بيا خو به ددې مطلب دا وي چه انسان له پکار دی چه کله د بل مسواک کوی نو اول دې هغه اووينځي، دويم احتمال دادې چه دا باب مستقل دې ماقبل سره متعلق نه دې نو په دې صورت کښې به د ترجمې مطلب داوی چه کله مسواک شروع کوی نو اول دې هغه اووينځي، هم دغه شان دې په مينځ کښې هم وينځی بلکه چه کله په آخر کښې فارغ شي نو هم د اينځلو نه پس دې مسواک ږدي

[٥٢]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيدٍ الْكُوفِيُّ الْحَاسِبُ، حَدَّثَتْنِي كَثِيرٌ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ فَيُعْطِينِي السِّوَاكَ لِأَغْسِلَهُ، فَأَبْدَأُ بِهِ فَأَسْتَاكُ، ثُمَّ أَغْسِلُهُ وَأَدْفَعُهُ إِلَيْهِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دي، هغې وئيلې دی: وو نبي ﷺ يتساک چه مسواک ئې وهلو، نو راکولو به ئې ماته مسواک دې لپاره چه زه ئې اووينځم، نو مابه شروع اوکړه په هغې به مې مسواک کولو، بيا به مې وينځلو او وربه مې کړو هغه ته

مضمون حديث:

قوله ﴿ عن عائشة ﴾ سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ به کله مسواک کولو نو په مينځ کښې يا د فراغت نه پس به ئې ماته مسواک راکولو چه زه هغه اووينځم او د وينځلو نه پس ئې رسول الله ﷺ ته ورکړم يا د فارغ کيدو په وجه ئې اوچت کيږدم. نو هغه فرمائي چه ما ددې مسواک د وينځلو نه مخکښې خپله هغه استعمالولو يعنې د رسول الله ﷺ د لعاب

( ): صحيح مسلم/الطهارة ١٥ (٢٥٣)، سنن النسائي/الطهارة ٨ (٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧ (٢٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٦١٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢/٦، ١١٠، ١٨٢، ١٨٨) (صحيح)

[1] دا حديث مبارک د بيروت په نسخه کښې دلته موجود دې خکه دلته اوليکلې شو، او زمونږ د پاکستان او هندوستان په نسخو کښې ددې نمبر د حديث نمبر ۵۸ نه پس دې هلته به هم ذکرشي (م)

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٥٧٠) (حسن)

مبارک نه د محظوظ کيدلو (خوند اخستلو) دپاره، دهغې نه پس به مې هغه اووينځلو او بيا به مې رسول الله ﷺ ته ورکولو يعني فورا که دا د مسواک ورکول په مينځ کښې وو يا په بل وخت کښې که دا ورکول پس د فراغت نه وو، د حديث مطابقت د ترجمة الباب سره ښکاره دې، ادب هم دا دې چه مسواک د وينځلو نه پس شروع کړې شي.

ايا د زوجې په ذمه خدمت زوج واجب دې؟:

﴿قوله لاغسله﴾ د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې د ابن رسلان رحمه الله نه نقل کوې چه ددې حديث نه معلومه شوه چه د ښځې په ذمه د زوج خدمت دې هغوى فرمائي خو د امام شافعي رحمه الله مذهب دا دې چه د زنانه په ذمه د خاوند خدمت واجب نه دې ځکه چه د عقد تعلق د استمتاع بالوطي سره دې نه د خدمت سره، او د احنافو مذهب دا دې چه په زنانه باندې د زوج خدمت قضاءً خو واجب نه دې خو ديانةً واجب دې پس که هغه خدمت نه کوې نو په داسې صورت کښې زمونږ په نزد په خاوند باندې دهغې دپاره صرف سپوره ډوډئ بغير د ترکارئ نه واجب ده، ترکارې ورکول واجب نه دى، په شامي کښې ددې تصريح ده (چه څنګه کوې هغه شان به ريبي) او هم دا مذهب بعينه د حنابله دې چه په مغني کښې دى، خو د مالکيانو مذهب دا دې چه معمولي او سپک شان خدمت خو واجب دې لکه عجن او کنس اوږة اغږل، او جارو وهل وغيره، دون الغزل والطحن يعني سخت خدمت لکه جولاګرى او ميچن تاوهل پرې واجب نه دى، او بعض مالکيانو دا تفصيل بيان کړې دې چه زوجې په درې قسمه دى، ډيرې اعلى د اوچت خاندان والا په درى باندې هيڅ قسم خدمت واجب نه دې او متوسطه په دى باندې معمولي خدمات واجب دى لکه ډوډئ مخې ته ږدل، اوبه ورکول، بستره خوږول خو د تطبخ او تکنس په شان کارونه پرې واجب نه دې، کومه زنانه چه د ادنى او کمې درجې وى په هغې باندې تطبخ او تکنس په شان خدمات خو واجب دى خو په کوم کښې چه زيات مشقت وى لکه عزل او طحن هغه په دى باندې هم واجب نه دى.

بَابُ السِّوَاكِ مِنَ الْفِطْرَةِ

باب دې په بيان ددې کښې چې مسواک د فطرت نه دى

[۵۳]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ، عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَالِاسْتِنْشَاقُ بِالْمَاءِ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ بِالْمَاءِ". قَالَ زَكَرِيَّا: قَالَ مُصْعَبٌ: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ، إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، هغې وئيلى دي، چه رسول الله ﷺ وئيلى دى: چه لس شيان دي د فطرت نه، لنډول د بريتو، او پريخودل د ګيرې، او مسواک، او استنشاق په اوبو، او کټ کول د نوکانو، او وينځل د هغه ځايونو د بندونو نه چه خيرې په کښې جمع

(): صحيح مسلم/الطهارة ١٦ (٢٦١)، سنن الترمذي/الأدب ١٤ (٢٧٥٧)، سنن النسائي/الزينة ١ (٥٠٤٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٦١٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٧/٦) (صحيح)

کېږي، ويښتل د ويښتانو د تخرګونو، او خرول د زير ناف ويښتان، او استنجاء کول په اوبو باندې، وائي زکريا ونيلي دي مصعب ما هېر کړې دې لسمه مګر دا چه هغه به مضمضه وي.

تشريح: دې ترجمې باندې خان پوهه کړئ چه بلفظ الحديث ده، د ترجمة الباب په غرض کښې يا خو داسې بيان کړئ چه د مسواک اهميت او فضيلت بيانول مقصود دی يا دا چه حکم شرعي بيانول مقصود دی يعنې سنت دې واجب يا فرض نه دې.

١. ﴿ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم : عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ الخ ﴾ عشر په ترکيب کښې يا خو د موصوف محذوف صفت دې يعنې حصال عشر من الفطرة، د دې مضاف اليه محذوف دې، عشر خصال.

د فطرة په تفسير کښې د شارحينو اقوال :

د فطرة په تفسير کښې اختلاف دې، يا ددې نه مراد دين دې چه په قرآن کريم کښې دی ﴿فطرة الله التي فطر الناس عليها الاية ﴾ په دې آيت کريمه کښې د فطرة نه مراد دين دې د امام صاحبﷺ نه هم داسې نقل دی، چه مسواک من سنة الدين دې. د اودس يا مانځه سره خاص نه دې چه مخکښې تير شوې دی، يا د فطرة نه مراد فطرة سليمة او طبع سليم دې يعنې لس خيزونه د صاحب فطرة سليمه خصلتونه دي. کوم خلق چه سليم الطبع وی د هغوی د عادتونو او خصلتونو نه دا خيره ده او د اصحاب فطرة سليمه اولين مصداق خو حضرات انبياء ﷺ دی چه د هغوی د مزاج او طبيعت سلامتی او اعتدال د اعلی درجې وی د هغوی په دې کښې هيڅ څوک برابر نه شي کيدې ثم الاقرب فالاقرب او يو قول دا دې چه ددې نه مراد سنت ابراهيمي دې پس د ابن عباسﷺ نه روايت دې چه آيت کريمه ﴿وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ کښې د کلمات نه مراد هم دا خصال فطرت دی کوم چه په حديث کښې ذکر شوې دی.

زه وايم په دې سره ددې خصال فطرت د فضيلت او اهميت اندازه لګولې کيدې شي چه الله پاک سيدنا ابراهيمﷺ ته د نبوت مقدره د ورکولو نه مخکښې ددې خصالو مکلف کړو او چه کله د هغوی د طرف نه تعميل او تکميل اوشو نو بيا هغوی ته نبوت ورکړې شو، او د علم نه مقصود عمل دې، لهذا مونږ ټولو له هم په خپل پوره ژوند کښې ددې خصال فطرت اهتمام کول پکار دی.

د خصال فطرت حکم :

د دې نه پس خان پوهه کړه چه امام نوویﷺ فرمائي چه په دې خصلتونو کښې اکثر داسې دی کوم چه د علماء کرامو په نزد واجب نه دی او بعض داسې دی چه دهغې په وجوب او سنيت کښې اختلاف دې لکه ختان. ابن العربي په شرح د موطاء کښې ليکلي دی چه زما په نزد دا خصال خمسه کوم چه د ابوهريرهﷺ په حديث کښې ذکر شوې دی (کوم چه زمونږ په نزد مخکښې راروان دی) ټول په ټوله واجب دی، څکه چه که يو سړې دا اختيار نه کړي نو دهغې شکل او صورت د انسانانو په شان باقي نه پاتې کيږي، خو په دې باندې

ابو شامه رحمه الله د هغوی تعقب کړی دی چه په کومو څیزونو سره مقصود اصلاح هیئت او نظافت وی هلته د امر ایجابی حاجت نه وی، بلکه صرف د شارع علیه السلام د طرف نه هغې طرف ته توجه ورکول کافی ده.

حدیث عائشة عشر من الفطرة سره د جامعیت نه امام بخاری رحمه الله دا ولې وانخستلو؟

دا حدیث هم دغه شان یعنی بلفظ ﴿ عشر من الفطرة ﴾ په مسلم کښې هم راغلې دې خو امام بخاری رحمه الله دا حدیث نه دې اخستلې، امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې د ابوهریره رضی الله عنه حدیث اخستلې دې ﴿ الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الْإِبِطِ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ ﴾ خو ظاهره دا ده چه ددې روایت عائشه رضی الله عنها فائده زیاته ده چه په دې کښې په خائې د پنځو خصلتونو لس خصلتونه ذکر کړې شوی دی، نو بیا څه وجه ده چه امام بخاری رحمه الله دا نه دې اخستلې؟ علامه زیلعی رحمه الله ددې وجه دا بیان فرمائیلې ده چه په دې حدیث کښې دوه علتونه دی یو دا چه په دې سند کښې مصعب بن شیبه راوی دې کوم چه متکلم فیه دې، دویم علت دا چه په دې سند کښې اضطراب دې ځکه چه دا حدیث مصعب د طلق بن حبیب نه مسندا نقل کوی، او سلیمان تیمی دا طلق بن حبیب نه مرسلا نقل کړې دې، هم ددې دوه علتونو د وجې نه امام بخاری رحمه الله ددې تخریج نه دې فرمائیلې د طلق دا حدیث مرسل په نسائی شریف کښې دې، هغوی دا حدیث په دواړو طریقو سره ذکر کړې دې مسندا او مرسلا، هم دغه شان امام ابوداؤد وړاندې تلو سره د طلق دا حدیث مرسل تعلیقا ذکر فرمائیلې دې چه وړاندې ددې باب په آخر کښې راځی.

د خصال فطرة په تعداد کښې د روایاتو اختلاف او د هغې توجیه.

دلته یو سوال دا پیدا شو چه د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دی ﴿ خمس من الفطرة ﴾ او د عائشې رضی الله عنها په روایت کښې دی ﴿ عشر من الفطرة ﴾ او په بعض روایاتو کښې د دریو ذکر دی، پس د بخاری په یو روایت کښې صرف درې ذکر دی ﴿ حَلْقُ الْعَانَةِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ ﴾ اول جواب دا دې چه ذکر القلیل لا ینافی الکثیر او په نورو الفاظو کښې داسې بیان کړه مفهوم العدد لیس بحجة... یعنی چرته چه لسو نه کم بیان کړې شوی دی بلکه خپله په لسو کښې هم انحصار مقصود نه دې او مطلب دا دې چه بعض د خصال فطرة نه دومره دی، هر خائې کښې بعض مراد دی که دهغې سره د لسو عدد ذکر شوې وی او که نه وی یا د پنځو یا د دریو، د لفظ الفطرة نه چه مخکښې کوم من دې هغه هم دې طرف ته مشیر دې، خو که هر خائې کښې حصر مقصود وې نو بیا به یقینا تعارض وې، باقی رسول الله صلی الله علیه وسلم د موقعې او حاجت مطابق دا خصلتونه بیان کړی دی چرته چه ئې د دریو خصلتونو ذکر کول مناسب اوګڼل هلته به ئې درې او چرته چه ددې نه زیات بیانول مناسب وو هلته ئې دهغې نه زیات بیان اوفرمائیل، د فصحاو او بلغاو په کلام کښې ددې ټولو څیزونو رعایت وی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه به زیات فصیح او بلیغ څوک وی، دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه مقصود اګرچه حصر دې خو په شروع کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دریو علم ورکړې شو نو هغوی درې بیان کړل بیا ورته د نورو (۲)دوو علم ورکړې شو نو پنځه ئې بیان کړل او بیا د

هغوی په علم کښې نوره اضافه اوشوه نو لس ئې بيان اوفرمائيل دريم جواب دا ورکړې شوي دي چه د دريو او پنځو حصر حقيقي نه دي بلکه حصر ادعائي دي د مبالغې دپاره چه په دي حديث کښې دی ﴿ الدين النصيحة، الحج عرفة ﴾ نو چرته ئې چه د کومو خصلتونو د بيان زائد ضرورت اوګنړلو رسول اللهﷺ هلته هم هغه په حصر سره بيان کړل په دي خان پوهه کړئ چه بس حصال فطرة هم دا دي.

حافظ‌رحمه الله فرمائي چه ابن العربي ذکر کړي دی چه مختلف رواياتو لره جمع کولو سره خصال فطرت(۳۰) دير شو ته رسيږي، په دي باندي حافظ اشکال کړي دي چه که د دوی مراد دا وی چه خاص د لفظ فطرة اطلاق سره (۳۰) دير شو خصال راغلی دی نو بيا خو داسي نه ده او که مراد مطلق خصال وی نو بيا په ديرشو کښې هم انحصار نشته بلکه ددی نه به دير زيات شي.

قص الشارب کښې د روايات مختلفه توجيه او مذاهب ائمة :

﴿ قوله قص الشارب ﴾ د شارب په باره کښې پوځو الفاظ راغلي دی لفظ قص، لفظ جز او لفظ احفاء او د نسائي په يو روايت کښې په لفظ د حلق هم راغلي دي، د ټولو نه کمه درجه د قص ده چه دهغې معنی ده غټ غټ پرې کول.دا په اصل کښې د مقص ځخه دي چه ددې معنی مقراض يعنی قينچی ده لکه چه په قاموس کښې دی يعنی په قينچئ سره غټ غټ پريکول ددې نه زياته درجه د احفاء ده يعنی مبالغه في القص باريک پرې کول، ددې نه هم زياته درجه د حلق ده، په چاړهٔ باندې بالکل ختمول، د تطبيق يو شکل خو دا شو چه مختلف درجات بيان کړي شو ادنی دا ده، اوسط دا ده او اعلی دا ده، بعضو تطبيق بين الروايات داسې اوکړو چه په قص کښې دتنه لره شان مبالغه اوکړئ هم هغه به احفاء شي او هم دې احفاء لره چا مبالغه کولو سره په حلق باندې تعبير کړو، دا خو جواب دې د الفاظو د روايات د اختلاف، پاتې شوه دا خبره چه فقهاء کرام څه فرمائي.

پس خلاصه ددې اختلاف دا ده چه راجح زمونږ او د امام احمدرحمه الله په نزد احفاء يعنی مبالغه في القص ده، لکه چه په طحاوي وغيره کښې دی او په درمختار کښې دی چه حلق شارب بدعت دې، او ونيلې شوي دی چه سنت دې، پس امام طحاوي‌رحمه الله فرمائي ﴿القص حسن والحلق سنة وهو احسن من القص ﴾ او هغوی بيا دا زمونږ د ائمه ثلاثه يعنی امام صاحب او صاحبين درې وارو طرف ته منسوب کړي ده او اثرم‌رحمه الله فرمائي چه ما امام احمدرحمه الله اوليدو چه هغوی به احفاء شديد کوله او فرمائيل به ئې ﴿ انه اولی من القص ﴾ د امام شافعي‌رحمه الله او امام مالک‌رحمه الله په نزد راجح قص دي پس ابن حجر مکی شافعي‌رحمه الله فرمائي چه دومره دې پرې کړي شي چه د پورته شونډې سور والې ښکاره شي او بالکل د ويخ نه دي ويښته نه اوباسی، امام نووي‌رحمه الله هم د احفاء نه منع کړ بده هم دغه شان د امام مالک‌رحمه الله نه منقول دی چه احفاء زما په نزد مثله ده بله دا چه څوک د بريتو احفاء کوی هغه دي اوهلې شي د حلق په باره کښې هغوی فرمائيلې دی چه دا بدعت دي.

﴿ قوله اعفاء اللحية ﴾ ارسال لحية يعنی ګيره پريخودل او اوږدول، اتخاذ لحية په

مذاهب اربعه کښې واجب ده او په دې کښې د مشرکینو او مجوسو مخالفت دې چه په بعض روایاتو کښې ددې تصریح ده ددې نه معلومه شوه چه د رسول اللهﷺ ګیره ساتل تشریعا وو صرف عادة نه وو چه بعض ګمراهان وائی او په حدیث کښې خو تصریح ده چه اعفاء لحیة د فطرت نه ده.

او د فطرت معنی مخکښې تیره شوې ده د ټولو انبیاء سابقین سنت یا د ابراهیمؑ سنت او رسول اللهﷺ ته ددې انبیاؤ د سیرت د اتباع حکم کړې شوې دې د الله پاک ارشاد دې : ﴿ فبهداهم اقتده الاية ﴾ او ګیره خرول په ټولو مذاهب اربعه کښې حرام دی، صاحب منهل کوم چه د علماء ازهر نه دې هغوی په منهل کښې د ټولو مذاهبو د معتبر کتابونو عبارتونه نقل کړې کوم چه د حلق لحیة په حرام کیدو باندې دلالت کوی او اوګورئ! هغوی دا مسئله په جامعه اظهر کښې لیکله چه د هغه ځائې ډیر علماء کرام په دې کښې غیر محتاط دی، فجزاه الله احسن الجزاء.

د اعفاء لحیة او مقدار لحیة حد شرعی :

دلته یو مسئله دا ده چه د ګیرې شرعی مقدار څه دې، جواب دا دې چه د جمهورو په نزد چه په هغوی کښې ائمه ثلاثه هم دی ددې مقدار د قبضې په اندازه دې چه دهغې ماخذ فعل ابن عمرﷺ دې، هغوی به د قبضې نه زیاته وهله چه امام بخاریؒ دا په کتاب اللباس کښې تعلیقا ذکر کړې دې او امام محمدؒ په موطاء محمد کښې دا ذکر کولو سره فرمائیلې دی ﴿به ناخذ﴾ اوس دا چه د ما زاد علی القبضة حکم څۀ دې؟ پس ځان پوهه کړه چه د جمهور علماء کرامو او ائمة ثلاثو یو روایت دا دی چه ما زاد علی القبضة دې پرې کړې شی، او دا پرې کول زمونږ په نزد د یو قول په بناء صرف جائز او مشروع دی او د یو قول په بناء واجب دی شوافع د مطلقا اعفاء قائل دی، د اخذ ما زاد قائل نه دی چه ابن رسلان د شوافعو مذهب بیان کړې دې، بلکه دا چه هغوی وئیلې دی چه عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده والا حدیث انه علیه السلام کان یاخذ من اطراف لحیته ضعیف دې او په فروعو د حنابله او مالکیه کښې لیکلې شوې دی چه زیادت فی الطول یعنی د ګیرې طول فاحش د تشوية الخلقة یعنی د صورت د خراب والی باعث دې او لیکلې ئې دی چه په حدیث کښې د اعفاء نه مقصود مطلق اعفاء نه ده بلکه د مجوسو او هنودو په شان د پرې کولو نه منع کول مقصود دی.

قوله:﴿ السواک ﴾ ددې پوره حدیث په ذکر کولو سره هم دا جزء مقصود بالذات دې په صحیح بخاری کښې چه په کوم باب کښې اوږد حدیث راشی نو کله چه په حدیث هغه لفظ راشی کوم چه مقصود بالذکر وی نو هلته به د کتاب غاړې ته تاسو د حاشیه لیکونکو لیکل اووینئ فیه الترجمة نو دغه شان مونږ هم په دې لفظ السواک باندې وئیلې شو چه فیه الترجمة.

مضمضه او استنشاق په حکم کښې اختلاف ائمة :

﴿ قوله الاستنشاق بالماء ﴾ ددې مقابل یعنی مضمضه وراندې راځی د مضمضه او استنشاق په حکم کښې اختلاف دې د شوافعو او مالکیانو په نزد دواړه په غسل او اودس کښې

سنت دی او د حنابله په نزد دواړه واجب دی او یو قول دا دې چه مضمضه سنت او استنشاق واجب دې پس په ترمذی کښې دی امام احمدﷺ فرمائی ﴿ الاستنشاق اوکد من المضمضة ﴾ غالبا ددې وجه دا ده چه په ابوداؤد کښې د لقیط بن صبرةﷺ حدیث مرفوع دې ﴿ وبالغ فی الاستنشاق الا ان تکونه صائما ﴾ او د احنافو په نزد فرق دې په اودس کښې دواړه سنت دی او په غسل کښې دواړه واجب دی، او په دې کښې د فرق وجه دې په شرح وقایه کښې اوکتلې شی، ظاهری وجه دا ده چه په قرآن کریم کښې په آیت وضوء کښې صرف د غسل وجه حکم ذکر شوې دې، مضمضه او استنشاق د دې نه خارج دی ځکه چه وجه وائی ﴿ ما تقع به المواجهة ﴾ یعنی د خبرو او د خطاب په وخت چه کوم ځیز مخې ته وی او د داخل فم او انف حال دا نه دې، په خلاف د غسل چه په دې کښې د مبالغة فی التطهیر حکم دې پس ارشاد دې ﴿ فان کنتم جنبا فاطهروا الآیة ﴾ یعنی که تاسو جنب ئې نو حتی الامکان د ټول بدن طهارت حاصل کړئ، او د داخل انف او فم تطهیر په حد امکان کښې داخل دې، لهذا ددې وینځل په هم ضروری وی

قوله: ﴿ قص الاظفار ﴾ او په بعض روایاتو کښې د ﴿ تقلیم الاظفار ﴾ لفظ دې، علماء کرامو لیکلې دی، چه تقلیم اظفار چه هر ځنګه اوکړې شی اصل سنت به ادا شی، په دې کښې څه خاص ترتیب نشته، خو بعض فقهاء کرامو ددې یو خاص ترتیب لیکلې دې هغه دا چه ابتداء دې د ښی لاس په مسبحه باندې اوکړې شی بیا وسطی بیا بنصر او خنصر او بیا ابهام، ددې نه پس دې د ګس لاس شروع د خنصر نه اوکړې شی مسلسل تر ابهام پورې، او د بعض رائې دا ده چه د ښی لاس د مسبحه نه دې شروع اوکړې شی تر د خنصر پورې او ابهام دې پریخودلې شی، بیا دې د ګس لاس د خنصر نه تر ابهام یسری پورې او بیا په آخره کښې د ښی لاس ابهام چه شروع هم د ښی نه اوشی او اختتام هم په ښی اوشی، او په رجلین کښې ترتیب دا دې چه د تقلیم ابتداء دې د ښې خپې د خنصر نه اوکړې شی او مسلسل کولو سره دې د ګسې خپې د خنصر پورې نوکونه واخلی

بعض محدثین لکه حافظ ابن حجرﷺ او ابن دقیق العید وغیره د تقلیم اظفار ددې کیفیت مخصوصه د استحباب انکار کړې دې ځکه چه ددې ثبوت په روایاتو کښې نشته او هغوی دا هم وائی چه ددې د اولویت او افضلیت اعتقاد هم غلط دې، ځکه چه استحباب هم یو حکم شرعی دې کوم چه دلیل ته محتاج دې

د حضرت شیخﷺ په حاشیه د بذل کښې دی چه په طحاوی کښې لیکلې شوې دی چه د جمعې د مانځه نه مخکښې تقلیم الاظفار مستحب دې، بلکه دا چه د بیهقی په یو روایت کښې دی ﴿ کان علیه الصلوة والسلام یقلم اظفاره ویقص شاربه قبل الجمعة ﴾ (جمع الوسائل) احقر وائی چه د علامه سیوطیﷺ یو رساله ده نور اللمعة فی خصائص الجمعة چه په دوی کښې هغوی د جمعې د ورځې سل خصوصیات ذکر کړې دی په هغې کښې په یو روایت کښې دی چه د جمعې په ورځ په نوکونو اخستلو کښې شفاء ده.

قوله: ﴿ غسل البراجم ﴾ براجم د برجمة جمع ده په معنی د عقود الاصابع یعنی د ګوتو جوړونه

او غوږي او ددې خصوصيت په دې وجه دې چه دلته د رو کيدو د وجې نه خيرې اينخلي، لهذا د دې تعاهد او خبر اخستل پکار دی، علماء کرامو ليکلې دی چه د بدن هغه ټول ځايونه چرته چه خوله او خيرې جمع کيږی هغه ټول په دې حکم کښې داخل دی لکه اصول فخذين او ابطين، د غوږونو دننه حصه او سوری وغيره، بله دا چه دا يو مستقل سنت دې د اودس سره خاص نه دې

قوله:﴿ نتف الابط ﴾ يعنى د ترخونو ويښته ويستل، ددې نه معلومه شوه چه اصل په ابط کښې نتف دې حلق اګرچه جائز دې ځکه چه مقصود ازاله شعر دې هغه په دې سره هم حاصليږی، خو اولا هغه دې کوم چه په حديث کښې راغلې دې، که څوک د شروع نه ددې عادت واخلی نو بيا ورته په ويستو کښې تکليف نه وی، خو يو کرته دوه د استعمال حديد د وجې نه د جررو د مضبوط والی د وجې نه په نتف کښې تکليف وی

د امام شافعی رحمه الله واقعه

نقل دی چه يو ځل يونس بن عبدالاعلى د امام شافعی رحمه الله په خدمت کښې حاضر شو، هغه وخت هغوی سره حلاق ناست وو چه حلق ابط ئې کولو نو امام شافعی رحمه الله د هغوی په ليدو باندې اوفرمائيل ﴿ علمت ان السنة النتف ولكن لا اقوى على الوجع ﴾ چه ماته معلومه ده چه سنت نتف دې خو په هغې کښې چه کوم تکليف وی زه هغه نه شم برداشت کولې، ګويا د هغوی د طرف نه د نتف نه اختيارولو معذرت وو، معلومه شوه چه علماء کرامو له د مستحباتو هم رعايت کول پکار دی ځکه چه هغوی د عوامو دپاره مقتدی وی، بغير د څه عذر او خاص وجې نه ترک د مستحب هم نه دی کيدل پکار. والله الموفق

﴿قوله حلق العانة﴾ د نامې نه لاندې ويښته صفا کول، د عانة په تفسير کښې درې اقوال دی

۱: د نامه نه لاندې ويښته،

۲: هغه حصه چه په هغې باندې ويښته راوځی کوم ته چه سپګز(پيرو) وائی،

۳: د ابو العباس بن سريج نه نقل دی چه د عانة نه مراد هغه ويښته دی کوم چه د دبر (د ډک اودس ماتی ځای) د حلقې نه ګير چاپيره وی خو دا قول شاذ دې پس حکم هم دا دې چه دا ويښته هم صفا کول پکار دی، او بعض فقهاء کرامو ليکلې دی چه د زنانو دپاره د حلق په ځائې نتف العانة غوره دې

قوله:﴿ انتقاص الماء يعني الاستنجاء ﴾ د انتقاص الماء چه کوم تفسير دلته ذکر شوې دې يعنى استنجاء بالماء دا د وکيع راوی د سند د طرف نه دې لکه چه د مسلم په روايت کښې دی، د استنجاء بالماء د انتقاض بالماء نه د تعبير کولو وجه ئې دا ليکلې ده چه په اوبو کښې د قطع بول تاثير دی چه هغه قطرات د بول منقطع کوی په دې وجه دې ته انتقاص الماء وائی ګويا د اوبو نه مراد بول او د انتقاص نه مراد ازاله ده، د انتقاص الماء په تفسير کښې دويم قول دا دې چه ددې نه مراد انتضاح ده، پس په يو روايت کښې په ځائې د انتقاص الماء انتضاح الماء راغلې دې، د انتضاح الماء مشهوره معنى ده رش الماء بالفرج بعد الوضوء... چه د اودس نه فارغ کيدو سره د قطع وساوس دپاره شرمګاه ته مخامخ کپړه باندې اوبه

چرکاؤ کول. او بعضو د انتضاح معنی هم د استنجاء بالماء بیان کړي ده. د انتضاح مستقل باب راروان دي.

﴿ قوله الا ان تکون المضمضة ﴾ راوی وائي چه ماته لسم خیز یاد پاتې نه شو کیدې شي چه هغه مضمضه وی دردي وجې نه چه د استنشاق سره عام طور باندې مضمضه ذکر کولې شي او دلته د استنشاق ذکر خو راغلي دې خو تر اوسه پورې د مضمضې ذکر نه دې راغلې. او بعض شارحینو وئیلي دی چه کیدې شي لسم خیز ختان وی لکه چه په بل روایت کښې دی

[٥٣]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَدَاوُدُ بْنُ شَبِيبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ دَاوُدُ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ مِنَ الْفِطْرَةِ الْمَضْمَضَةَ وَالِاسْتِنْشَاقَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ وَزَادَ وَالْخِتَانَ، قَالَ: وَالِانْتِضَاحَ، وَلَمْ يَذْكُرِ انْتِقَاصَ الْمَاءِ يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ.
قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ نَحْوُهُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَالَ: خَمْسٌ كُلُّهَا فِي الرَّأْسِ، وَذَكَرَ فِيهَا الْفَرْقَ وَلَمْ يَذْكُرْ إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ.
قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ نَحْوُ حَدِيثِ حَمَّادٍ، عَنْ طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ، وَمُجَاهِدٍ، وَعَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ، قَوْلُهُمْ وَلَمْ يَذْكُرُوا إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ. وَفِي حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ نَحْوُهُ، وَذَكَرَ إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ وَالْخِتَانَ.

ترجمه: د عمار بن یاسر ﷺ نه روایت دې، بیشکه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی: بیشکه د فطرت نه مضمضه ده، او استنشاق دې، نو ذکر ئې کړو دهغې حدیث پشان او ذکر ئې نه کړو د ګیرې پریخودل، او زیات ئې کړو سنتې کول، اووئیل هغه: اوبه شیندل په لنګ (پرتوګ) کښې، او ذکر ئې نه کړو انتقاص الماء یعني استنجاء کول په اوبو سره.

وئیلي دي ابوداؤد: روایت کړې شوی دی ددې پشان دهغې د ابن عباس نه، او وئې وئیل پنځه شیان دي ټول په سرکښې دی، او ذکر ئې کړو په هغې کښې الفرق (یعنی ویښتان په مینځ دوه خائې کول)، او ذکر ئې نه کړو إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ (د ګیرې پریخودل).

او روایت شوی دی په مثل د حدیث د حماد د طلق بن حبیب نه، او د مجاهد نه، او د بکر بن عبد الله المزني نه اقوال د دوی، او ذکر نه کړو دوی إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ (ږیره ساتل) او په حدیث د محمد بن عبد الله بن ابي مریم کښې عن ابي سلمة عن ابي هریرة عن النبي ﷺ په سند سره د إِعْفَاءَ اللِّحْيَةِ (ګیره ساتل) ذکر دی او روایت دې د ابراهیم نخعي نه په مثل د هغې، او ذکر کړي ئې دي (اعفاء اللحية و الختان) (یعنی ګیره ساتل او ختنه کول).

تشریح: ۲. ﴿عن عمار بن یاسر الخ﴾ دا ددې باب دویم حدیث دې، مصنف ﷫ په دې باب کښې باقاعده صرف د دوه احادیثو تخریج فرمائیلي دې، او باقي ډیر روایات ئې تعلیقا ذکر کړي دی، اول حدیث د عائشې ﷞ دویم حدیث د عمار بن یاسر ﷺ، په دواړو احادیثو کښې د خصال فطرت په تعین کښې لږ شان فرق دي، هغه دا چه په حدیث ثانی کښې اعفاء

(): حديث محمد بن عبدالله ابن مريم تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠٠٣، ١٠٣٥٠)، وحديث موسى بن إسماعيل قد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٤)، مسند احمد (٢٦٤/٤) (حسن)

لحية نه ده ذکر شوي بلکه دهغې په ځاې ختان ذکر دې، بل دا چه په حديث ثاني کښې انتقاص الماء مذکور نه دې ددې په ځاې الانتضاح ذکر دې، اوس د دواړو احاديثو په يو ځاې کولو باندې به خصال فطرت د لسو په ځاې يولس شي، او د انتضاح په تفسير کښې چونکه اختلاف دې پس که هغه او انتقاض الماء يو اومنلې شي نو بيا خو به يولس وي، ګينې دولس به شي، بله دا چه وړاندې د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښې د يو بل خصلت ذکر را روان دې، يعنې الفرق (په ويښتو کښې لاړ ويستل) نو اوس مجموعه خصال فطرة دولس يا دياړلس شو.

د ختان په حکم کښې اختلاف :

د ختان په حکم کښې اختلاف دې، د شوافعو او حنابله په نزد د رجال او نساء دواړو په حق کښې واجب دې، د احنافو په نزد په يو قول کښې واجب دې او په بل کښې سنت دې، خو داسې سنت دې چه د شعائر اسلام نه دې، او د امام مالک رحمه الله مشهور قول دا دې چه د ذکورو په حق کښې سنت او د اناثو په حق کښې مندوب دې، پس د مسند احمد په روايت کښې دي ﴿ الختان سنة للرجال ومكرمة للنساء ﴾.

قوله :﴿ قال موسى عن ابيه وقال داؤد عن عمار بن ياسر ﴾ ددې جملې وضاحت دا دې چه ددې حديث په سند کښې د مصنف رحمه الله دوه استاذان دي موسى او داؤد، د دواړو سند سلمة بن محمد پورې خو برابر دې خو ددې نه وړاندې سند ځنګه دې په دې کښې اختلاف شو هغه دا چه د موسى په روايت کښې ددې نه پس صرف ﴿ عن ابيه ﴾ دې ددې نه پس ذکر د صحابي نشته دې ،لهذا روايت به مرسل وي،او د داؤد په روايت کښې د سلمه بن محمد نه پس عن أبيه نشته بلکه صرف عمار بن ياسر دې په دې صورت کښې به دا روايت خو مرسل نه وي ځکه چه صحابي ذکر کړې شوې دې خو منقطيع به شي ځکه چه د سلمه سماع د عمار نه ثابت نه ده، حاصل دا دې چه د موسى روايت مرسل دې او د داؤد روايت منقطع دې.

په تشريح د سند کښې دوه اقوال :

حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې ددې مقام داسې تشريح کړې ده، خو حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې ليکلي دي چه ابن رسلان د شارح ابوداؤد رائې دا ده چه د عمار ذکر خو د دواړو په سند کښې دې، خو ﴿ عن ابيه ﴾ اضافه صرف د موسى په روايت کښې ده د داؤد په روايت کښې نشته دې، د موسى سند داسې دې ﴿ عن سلمة بن محمد عن ابيه عمار ﴾ او د داؤد سند داسې دې ﴿ عن سلمة بن محمد عن عمار ﴾ ددې تشريح مطابق به د موسى په روايت کښې هيڅ اشکال نه وي، هغه به مرفوع متصل وي مرسل به نه وي، او د داؤد په روايت کښې به البته د مخکښې په شان منقطع وي، احقر عرض کوي چه حضرت په بذل کښې د سلمه بن محمد په ترجمه کښې چه کوم د تهذيب التهذيب عبارت نقل کړې دې نو هغه د ابن رسلان د تشريح زيات موافق دې، بنه ځان پوهه کړه

د قال ابوداؤد تشريح :

﴿ قال ابوداؤد : روى نحوه عن ابن عباس ﴾ اوس ددې ځاې نه مصنف رحمه الله بعض روايات

تعليقاً بيانوي، او مقصود ددې تعليقاتوبه ذكر كولو سره د خصال فطرة په تعين كښې چه د رواياتو كوم اختلاف دې چه هغه بخپو ه راشي، په دې تعليقاتو كښې د ټولو نه مخكښې د ابن عباس حديث موقوف دې چه دهغې پوره الفاظ مصنف دلته نه دې ذكر فرمائيلي، پوره الفاظ دهغه په تفسير ابن كثير كښې په حواله د مصنف عبدالرزاق داسې دى ﴿وقال خَمْسٌ فِي الرَّأْسِ ، وَخَمْسٌ فِي الْجَسَدِ ، فِي الرَّأْسِ : السِّوَاكُ ، وَالِاسْتِنْشَاقُ ، وَالْمَضْمَضَةُ ، وَقَصُّ الشَّارِبِ ، وَفَرْقُ الرَّأْسِ ، وَفِي الْجَسَدِ خَمْسَةٌ : تَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ ، وَالْخِتَانُ ، وَالِاسْتِنْجَاءُ مِنَ الْغَائِطِ ، وَالْبَوْلِ ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ ﴾ (كذا فى نسخة الشاملة من المترجم) يعني په لسو خيزونو كښې د پنځو تعلق د سر سره دې او هغه پنځه هم هغه دى كوم چه پورته ذكر شوي او د باقي پنځو تعلق د سر نه علاوه د باقي بدن سره دې خو ابن عباس د اعفاء لحية په ځائي د فرق ذكر كړي دى، فرق مقابل دې د سدل چه دهغې مطلب دا دې چه د سر د ويښتو دوه حصې كول او بيا پكښې لاره ويستل، ددې تفصيل به په كتاب اللباس كښې راځي.

﴿ قال ابوداؤد و روى نحو حديث حماد الخ ﴾ دلته د حماد نه هغه حماد مراد دې كوم چه د حديث عمار په سند كښې دې كوم چه پورته ذكر شوې دې دا درې تعليقات دى يو د طلق بن حبيب، دويم د مجاهد، دريم د بكر بن عبدالله المزنى. ﴿قولهم ﴾ يعنى ددې خلقو روايات ئې مرفوعا نه دى ذكر كړى بلكه موقوفا ئې بيان كړې دى، ﴿ولم يذكر اعفاء اللحية ﴾ او په دې درې وارو رواياتو كښې د اعفاء اللحية ذكر نشته څنګه چه د ابن عباس په روايت كښې نه وو، وړاندې فرمائي چه بيشكه د ابوهريره په حديث مرفوع كښې اعفاء لحية ذكر دې

﴿ قوله وعن ابراهيم النخعي نحوه ﴾ دا څلورم اثر دې، مصنف فرمائي چه په دې كښې هم اعفاء لحية مذكور ده

د روايات الباب تعين او د هغې خلاصه :

پس حاصل دا شو چه مصنف اولا په دې باب كښې حديث د عائشې او عمار ذكر كړې دې، ددې نه پس ئې د ابن عباس حديث موقوف تعليقا راوړې دې بيا ئې ددې نه پس حديث د ابوهريره مرفوعا تعليقا ذكر فرمائيلې دې او بيا ئې ددې نه پس اثر د نخعي راوړې دې، اوس په دې مجموعه كښې درې احاديث خو مرفوع شو او يو حديث موقوف يعني د ابن عباس او څلور آثار د تابعينو، ټول اته روايتونه شو، چه په هغې كښې په څلورو كښې اعفاء لحية ذكر ده او په باقي څلورو كښې نه ده ذكر، او په دې ټولو روايتونو كښې د خصال فطرة مجموعي تعداد په يو صورت كښې دولس او په يو صورت كښې ديارلس شو لكه چه مخكښې هم تير شو

فائده : ځان پوهه كړه چه مصنف د طلق روايت د باب په شروع كښې مسندا ذكر فرمائيلې دې چه دهغې راوى مصعب بن شيبة دې، هغه روايت خو دې مرفوع، او دويم روايت د طلق دې كوم چه دلته تعليقا ذكر كړې شوې دې، او دا موقوف دې، مصنف د روايت طلق د اختلاف ذكر خو اوفرمائيلو خو په هغې كښې ئې د يو ترجيح نه هم تعرض اونكړو بلكه سكوت ئې اوفرمائيلو

د امام نسائي او امام ابوداؤد رحمه الله په رائې کښې اختلاف :

خو امام نسائي رحمه الله د طلق د روايت مرفوعه چه دهغې راوي مصعب دې د ذکر کولو نه پس د طلق روايت موقوفه[۱] ته چه دهغې راوي سليمان تيمي دې، هغې ته ترجيح ورکړې ده او فرمائي ﴿ و مصعب منكر الحديث ﴾ نو ګويا د امام نسائي او امام ابوداؤد په تحقيق کښې اختلاف شو، د مصنف رحمه الله په نزد په ظاهر کښې دواړه صحيح نه دي او د امام نسائي رحمه الله په نزد صرف روايت موقوفه خو په دې کښې امام مسلم رحمه الله د امام ابوداؤد رحمه الله سره دې ځکه چه امام مسلم رحمه الله د طلق د روايت مرفوعه په خپل صحيح مسلم کښې تخريج فرمائيلې دې، چه دهغې وجه دا ده چه مصعب د امام مسلم رحمه الله په نزد ثقة دې لکه چه د علامه زيلعي رحمه الله د کلام نه ددې باب په شروع کښې تير شوې دی په بذل کښې هم د حضرت د کلام خلاصه هم دا ده.

بَابُ السِّوَاكِ لِمَنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ

باب دې په بيان د مسواک کې د هغه چا لپاره چې پاڅيږي د شپې

[٥٥]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَحُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ، يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ".

ترجمه: د حذيفه نه روايت دې، يقيناً رسول الله ﷺ وو چه کله به پاڅيدلو د شپې مرله به ئې خوله خپله په مسواک باندې

تشريح: ۱ ﴿ عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ ﴾ يشوص بمعنى يدلک يعنى خپله خوله مبارکه به ئې په مسواک باندې مرله، يا په معنى د يغسل دې او دريم تفسير ددې يُنَقِّي (بالتشديد) د تنقيه نه، په معنى د صفا کولو يعنى رسول الله ﷺ چه به کله د شپې پاسيدلو نو د مسواک په ذريعه به ئې خپله خوله مبارکه پاکوله. دا روايت مطلق دې د مسلم په روايت کښې دی ﴿ اذا قام ليتهجد ﴾ يعنى رسول الله ﷺ چه بله کله تهجدو دپاره پاسيدو، مصنف رحمه الله چونکه ترجمه هم مطلق کيخودلې ده په دې وجه دهغې د مناسبت د وجې نه ئې حديث هم مطلق راوړې دې د اطلاق تقاضا دا ده چه دا دې عام او شاملې شي يعنى کوم سړې چه د شپې بيدار شي او پاسي که د هغه د مانځه اراده وي او که نه ده دپاره مسواک مستحب دې پس مخکښې ذکر شوي دی چه فقهاء کرامو هم عند القيام من النوم مسواک لره مستحب ليکلې دې

---

[۱] بلکه مقطوع ځکه چه طلق تابعى دې هغوى دا حديث د خپل طرفه ذکر کړې دې د يو صحابي طرف ته ئې نه دې منسوب کړې ففي النسائي ص ۲۷۲ ج ۲ عن المعتمر بن سليمان عن ابيه قال سمعت طلقا يذکر عشرة من الفطرة السواک وقص الشارب الخ.

[۲] صحيح البخاري/الوضوء ۷۳ (۲٤۵)، الجمعة ۸ (۸۸۹)، التهجد ۹ (۱۱۳٦)، صحيح مسلم/الطهارة ۱۵ (۲۵۵)، سنن نسائي/الطهارة ۲ (۲)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷ (۲۸٦)، (تحفة الأشراف: ۳۳۳٦)، مسند احمد (۵/۳۸۲، ۳۹۰، ۳۹۷)، سنن الدارمي/الطهارة ۲۰ (۷۱۲) (صحيح)

[۵۶] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوضَعُ لَهُ وَضُوءُهُ وَسِوَاكُهُ، فَإِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ تَخَلَّى ثُمَّ اسْتَاكَ".

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روايت دي بيشکه نبي ﷺ وو چه کېخودلې به شوې هغه ته اوبه د اودس او مسواک، چه کله به د شپې پاڅېدلو نو قضاء حاجت به ئې اوکړو بيابه ئې مسواک استعمال کړو.

[۵۷] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أُمِّ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلَا نَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ، إِلَّا تَسَوَّكَ قَبْلَ أَنْ يَتَوَضَّأَ".

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روايت دي، يقيناً نبي ﷺ وو چه نه به اوده کېدو د ورځې او نه د شپې، چه رابيدار به شو مگر مسواک به ئې استعمالولو مخکښې د دې نه چه اودس اوکړي.

تشريح: ۳ ﴿ عن علي بن زيد عن ام محمد الخ ﴾ علي بن زيد د ام محمد ربيب دي، هغه د خپلې ميرنۍ مور ام محمد نه روايت کوي.

[۵۸] (۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بِتُّ لَيْلَةً عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ مِنْ مَنَامِهِ، أَتَى طَهُورَهُ، فَأَخَذَ سِوَاكَهُ فَاسْتَاكَ، ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَاتِ: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ سورة آل عمران آية ،، حَتَّى قَارَبَ أَنْ يَخْتِمَ السُّورَةَ أَوْ خَتَمَهَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ فَأَتَى مُصَلَّاهُ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ مَا شَاءَ اللهُ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَفَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَفَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَفَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، كُلُّ ذَلِكَ يَسْتَاكُ وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، قَالَ: فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُولُ: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ سورة آل عمران آية ،، حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ.

ترجمه: د عبد الله بن عباس نه روايت دي هغه وائي: ما شپه تېره کړه د نبي ﷺ سره، هر کله چه رابيدار شو د خوب خپل نه، نو راغې خپلو اوبو د اودس ته نو خپل مسواک ئې واخستلو هغه ئې اووهلو، بيا ئې ولوستل دا ايتونه ﴿ان في خلق السماوات والارض و اختلاف الليل و النهار لآيات لأولي الالباب﴾ تر دې چه نژدې شو چه سورت ختم کړي، او يائې ختم کړو، بيا ئې اودس اوکړو نو راغې خپل ځائې د مانځه ته نو دوه رکعته مونځ ئې اوکړو، بيا لاړلو خپلې بسترې ته نو اوده شو څومره چه د الله خوښه وه، بيا راپاڅېدلو، نو

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦١١١)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ١٨ (٧٤٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٦٢ (١٣١٦)، قيام الليل ٢ (١٦٠٢)، ١٧ (١٦٤٢)، ١٨ (١٦٥٢)، ٤٢ (١٧١٩)، ٤٣ (١٧٢١، ١٧٢٥)، سنن ابن ماجه/الإقامة ١٢٣ (١١٩٠)، مسند احمد (٦/٤٤) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨١٩)، مسند احمد (٦/١٢١، ١٦٠) (حسن) دون قوله: «ولا نهار»

(۳): صحيح البخاري/العلم ٤١ (١١٧)، الأذان ٥٧ (٦٩٧)، ٥٩ (٦٩٩)، ٧٩ (٧٢٨)، اللباس ٧١ (٥٩١٩)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٣)، سنن النسائي/الإمامة ٢١ (٨٠٣)، ٢٢ (٨٠٥)، الغسل ٢٩ (٤٤١)، سنن ابن ماجه/الإقامة ٤٤ (٩٧٣)، (تحفة الأشراف: ٦٢٨٧)، وراجع حديث رقم: (١٣٥٣، ١٣٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢١٥، ٢٥٢، ٢٨٥، ٢٨٧، ٣٤١، ٣٤٧، ٣٥٤، ٣٥٧، ٣٦٠، ٣٦٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٣ (٦٨٤) (صحيح)

ونې کړو په شان د هغې، بیا واپس شو خپلې بسترې ته، بیا راپاڅیدلو نو ونې کړو په مثل د هغې، بیا خپلې بسترې ته واپس شو نو اوده شو، بیا رابیدار شو نو ونې کړه په شان د هغې، د ټولو لپاره به ئې مسواک وهلو او مونځ به ئې کولو دوه رکعته، بیا ئې وتر اوکړل وئیلی دي ابوداود روایت کړی دی فضیل عن حصین، هغه وائی چه مسواک ئې استعمال کړو او اودس ئې اوکړو، او هغه وئیل: ﴿ان في خلق السماوات و الارض﴾ تردې چه ختم ئې کړو سورت.

تشریح: ۴ ﴿ عن جده عبدالله بن عباس قال بت لیلة الخ ﴾ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه ما یوه شپه د رسول الله ﷺ سره تیره کړه، دا د هغې شپې قصه ده چه کله رسول الله ﷺ د ابن عباس رضي الله عنهما د خاله حضرت میمونه رضي الله عنها کره وو. پس په روایاتو کښې راځی ﴿ بت عند خالتي میمونة ﴾ سیده میمونه رضي الله عنها د ابن عباس رضي الله عنهما خاله داسې ده چه د ابن عباس رضي الله عنهما مور ام الفضل بن الحارث رضي الله عنها د میمونه بنت الحارث رضي الله عنها خور ده.

سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ سره یوځائي شپه ولې تیره کړې وه؟ هغه په دې وجه چه هغوی اوغوښتل چه څنګه د رسول الله ﷺ د ورځې اعمال او عبادات مونږ ته معلوم دی چه دغه شان د هغوی د شپې معمولات استراحت او عبادت هم معلوم شي په دې وجه هغوی پوره شپه د رسول الله ﷺ سره په بیدارئ باندې تیره کړه، د غور مقام دې! د ابن عباس رضي الله عنهما دې وخت کښې عمر څه وو ډیر کم عمره وو، ځکه چه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت د هغوی عمر تقریباً دولس کاله وو، او د هغوی د کم عمرئ باوجود د طلب علم او د تحصیل علم د شوق دا حال وو!

من طلب العلی سهرا اللیالی

﴿ قوله ثم اوتر ﴾ یعنې اوتر بثلث لکه چه په ابواب قیام اللیل کښې ددې تصریح ده، دا حدیث خو په اصل کښې د تهجدو روایت دې په دې وجه به مصنف رحمه الله دا د تهجدو په ابوابو کښې راوړی خو چونکه په دې روایت کښې د مسواک عند الوضوء ذکر وو په دې وجه مصنف رحمه الله دلته د مسواک د مناسبت د وجې نه راوړي دي.

مبیت ابن عباس رضي الله عنهما والا روایت کښې تخلل نوم بین الرکعات

په دې روایت کښې د تهجد مع وتر ټول نهه رکعتونه ذکر شوي دی، بلکه دا چه په دې روایت کښې یو نوی شان خبره تخلل نوم بین الرکعات ذکر شوې ده یعنې دا چه رسول الله ﷺ په دې شپه کښې د تهجدو مونځ مسلسل نه دې ادا کړې بلکه د هر دوه رکعتونو نه پس به ئې خوب کولو او هر ځل به ئې اودس او مسواک کولو دغه شان ئې په ډیرو وقفو سره تهجد پوره کړل، د ابن عباس رضي الله عنهما دا حدیث په بخاری کښې د لسو ځایونو نه زیات راغلې دې او د بخاری د یو روایت نه هم نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د هر دوه رکعتونو نه پس آرام فرمائیلې وی او بار بار ئې اودس فرمائیلې وی. لهذا دې روایت ته به د مشهورو روایاتو د خلاف کیدو د وجې نه شاذ وئیلې شی د ابوداؤد دا روایت په دې طریق او سند سره مسلم کښې هم دې هلته هم دغه شان تخلل نوم واقع شوې دې، هم په دې وجه امام نووی رحمه الله او

قاضي عياض رحمه الله دواړو په دې روايت باندې كلام كړې دې، امام نووي رحمه الله فرمائيلي دي چه په دې روايت كښې دوه خبرې خلاف مشهور دی، يو تخلل نوم، دويم تعداد ركعات، ځكه چه د مبيت ابن عباس والا روايت كښې مشهور يوولس يا ديارلس ركعتونه دي، او دلته صرف نهه ركعتونه دی، هم دغه شان دارقطني رحمه الله چه د مسلم په كوم روايت باندې كلام كړې دې دا روايت هم په هغې كښې شامل دې او په فتح الباري كښې د حافظ د كلام نه هم دا معلوميږي، خو په بذل كښې حضرت سهارنپوري رحمه الله د امام نووي رحمه الله وغيره دا اعتراض نه دې تسليم كړې، زما په خيال كښې د شارحينو دا اشكال او نقد صحيح دې، او دا اختلاف روايت لره په تعدد واقعه باندې محمول كول په دې وجه ګران دی چه دا ټوله خبره د مبيت ابن عباس رضي الله عنه والا حديث(۱) كښې كيږي په مطلق صلوة الليل كښې نه كيږي، او ظاهره دا ده چه د مبيت ابن عباس رضي الله عنه په قصه كښې تعدد نشته، هغه صرف يو ځل پيښه شوې ده، كما قال الحافظ رحمه الله.

حديث نه د احنافو تائيد: ځان پوهه كړه چه په دې واقعه كښې بار بار د اودس او مسواک تذكره ده خو مسواک د اودس سره ذكر دې عين قيام الى الصلوة په وخت نه دې مذكور فتامل.

﴿ قال ابوداؤد رواه ابن فضيل عن حصين الخ ﴾ حصين پورته په سند كښې راغلې دې هلته د هغوى شاګرد هشيم وو، اوس مصنف رحمه الله فرمائي چه په دې روايت كښې د حصين نه چه څنګه هشيم روايت كوي هم دغه شان محمد بن فضيل هم روايت كوي او د دواړو په روايت كښې فرق دا دې چه د هشيم په روايت كښې په شک سره راغلې وو ﴿ حتى قارب ان يختم السورة او ختمها ﴾ دلته د ابن فضيل په روايت كښې بغير د شک نه دې، ﴿ حتى ختم السورة ﴾

[۵۱](۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟ قَالَتْ: "بِالسِّوَاكِ". (۲)

ترجمه: مقدام بن شريح روايت كوي د خپل پلار نه، هغه وائي، ما اووئيله عائشې ته په

---

(۱) ددې حديث او قصې نه علاوه نسائي صفحه ۲۴۲ باندې په يو روايت كښې د يعلى بن مملک په حديث كښې د ام سلمه نه او هم دغه شان د حميد بن عبدالرحمن بن عوف روايت د صحابي مبهم نه دې، په دې دواړو كښې تخلل نوم بين الركعات موجود دې لهذا اوس به داسې وئيلې شي چه في نفسه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تخلل نوم بين ركعات التهجد احيانا ثابت دې، خو د مبيت ابن عباس رضي الله عنه په روايت كښې صحيح عدم تخلل نوم دې، د مبيت ابن عباس رضي الله عنه والا كوم روايات چه په سنن ابي داؤد كښې په روستو راتلونكو ابواب صلوة الليل كښې راځي، په بعضو كښې تخلل نوم دې او په بعضو كښې نشته، خو په كومو كښې چه نشته هغې ته به ترجيح په دې وجه وي چه هغه روايات د بخاري د رواياتو مطابق دي.

(۲): صحيح مسلم/الطهارة ۱۵ (۲۵۳)، سنن النسائي/الطهارة ۸ (۸)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷ (۲۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۴۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۲/۶، ۱۱۰، ۱۸۲، ۱۸۸) (صحيح)

(۳) دا حديث مبارک د بيروت په نسخه كښې په حديث نمبر ۵۱ كښې موجود دې ځكه هلته ليكلې شوې دې، او زمونږ د پاكستان او هندوستان په نسخو كښې ددې نمبر دلته دې په دې وجه دلته هم ذكر كړې شو (م)

کوم شي به رسول الله ﷺ شروع کوله کله چه به کورته داخل شو؟ هغې ووئيل: په مسواک سره.

قوله :﴿ عن المقدام بن شريح عن ابيه قال قلت لعائشة ﴾ د سيده عائشه ﷞ نه تپوس اوکړې شو چه رسول الله ﷺ به خپلې حجرې ته تشريف راوړلو نو د ټولو نه اول به ئې څه کار کولو نو هغې اوفرمائيل چه د ټولو نه اول به ئې مسواک کولو.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت :

دا حديث په ظاهر کښې د ترجمة الباب سره هيڅ مطابقت نه لرى، ځکه چه ترجمه ده ﴿ سواک لمن قام بالليل ﴾ او په دې حديث کښې د قيام ليل هيڅ ذکر نشته، بذل کښې ئې دا جواب ليکلې دې چه قلمى او مصرى نسخو کښې دا حديث دلته نشته، لهذا دا حديث دلته ذکر کول د ناسخين تصرف دې، دا حديث دلته نه دې کيدل پکار، او که دا دې دلته کيدل تسليم کړې شى چه زمونږ په نسخه کښې دى نو وئيلې کيدې شى چه مطابقت په طريق العموم دې يعنى د رسول الله ﷺ کور ته داخليدل عام دې چه که د ورځې وى يا د شپې وى، لهذا کيدې شى چه رسول الله ﷺ د شپې بيداريدو سره کور ته داخل شوې وى نو هغه وخت چه ئې کوم مسواک کړې وى نو په دې باندې به سواک لمن قام بالليل صادق راځى د بخارى په تراجمو کښې په بعضو موقعو باندې مطابقت په دې طريقه ثابتولې شى يعنى مطابقت بالعموم وبکل المحتمل، خو دا دې توجيه صحت موقوف دې په دې خبره باندې چه د رسول الله ﷺ حالت حضر کښې د کور نه بهر شپه تيرول ثابت وى، يو دريم جواب دا هم کيدې شى چه دا مطابقت بالاولوية وى هغه په داسې طريقه چه دا د رسول الله ﷺ شان وو چه که به هم کور ته داخليدو نو مسواک به ئې کولو که مونځ ئې کولو يا نه نو اوس ظاهره ده چه کله د شپې بيداريږى او د مانځه اراده فرمائى نو هغه وخت به مسواک په طريقه اولى فرمائى دا جواب صاحب د غاية المقصود ليکلې دې

بَابُ فَرْضِ الْوُضُوْءِ

باب دې په بيان د فرضيت د اودس کښې

د دې نه مخکښې په باب السواک کښې دا باب حواله او تذکره راغلې ده، د وضوء په غسل باندې د مقدم کولو وجه ښکاره ده چه وضوء په نسبت د غسل کثير الوقوع دې، په ترجمة الباب يعنى ﴿ فرض الوضوء ﴾ کښې د لفظونو په اعتبار سره دوه مطلبونه کيدې شى، اول د اودس د فرضيت اثبات او هم دا مقصود دې، دويم مطلب دا کيدې شى فرض الوضوء بمعنى فرائض الوضوء يعنى په اودس کښې دننه څومره څيزونه فرض دى، خو دلته دا معنى مراد نه ده.

دلته درې بحثونه دى د فرض لغوى معنى تقدير او تعين ده يعنى د يو څيز مقدار وغيره متعين کول، په اصطلاح د فقهاؤ کښې فرض هغه حکم ته وائى چه دهغې لزوم د دليل قطعى نه ثابت وى، دا نه چه دهغې نفس ثبوت په دليل قطعى سره وى ځکه چه ډير مستحب بلکه مباح څيزونه داسې دى چه دهغې نفس ثبوت په دليل قطعى سره دې لکه ﴿واذا حللتم فاصطادوا ﴾ وغيره وغيره.

دلته دري بحثونه دي:

١: د اودس ماخذ اشتقاق، ٢: ابتداء مشروعيت ٣: سبب وجوب.

بحث اول: وضوء مشتق دي د وضاءة نه، د وضاءت معنى حسن او نظافت ده، او شرعي معنى ددې معلومه ده بيان ته محتاج نه ده.

بحث ثاني: د اودس فرضيت كله راغلي دي؟ د جمهورو رائې دا ده چه د اودس فرضيت د مانځه سره شوې دې، او د رسول اللهﷺ نه كله هم او هيڅ مونځ هم بغير د اودس نه كول ثابت نه دي، نه په مكه مكرمه كښې او نه په مدينه طيبه كښې. البته ابن الجهم يو عالم دې هغه فرمائي چه په ابتداء د اسلام كښې د اودس درجه سنت وه، فرضيت ئې روستو راغلو، چه كله د اودس فرضيت د جمهورو په نزد د فرضيت صلوة سره اوشو نو اشكال به كيګي چه د اودس آيت خو مدني دي، او د مانځه فرضيت په مكه كښې قبل الهجرة شوې وو، ددې جواب به دا وركولې شي چه د اودس فرضيت خو هم هغه وخت شوې وو، باقي د آيت وضوء نزول روستو صرف د تاكيد دپاره شوې دی. فلا اشكال.

يو بحث دلته دا دې چه د اودس سبب وجوب څه دې؟ جواب دا دې چه د شوافعو او احنافو په نزد د راجح قول په بناء باندې ددې سبب وجوب قيام الى الصلوة بشرط الحدث دې او د أهل ظواهرو په نزد سبب وجوب مطلق قيام الى الصلوة دې هم په دې وجه د هغوى په نزد د هر مانځه دپاره اودس كول ضروري دى كه د اول نه حدث وي او كه نه وي، د جمهورو دليل ددې باب حديث ثاني دې چه دهغې نه معلوميږي چه د اودس حكم د حدث په وخت دې مطلقا نه دي.

> [٥٩](١)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَقْبَلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَدَقَةً مِنْ غُلُولٍ، وَلَا صَلَاةً بِغَيْرِ طُهُورٍ".

ترجمه: ابو المليح دخپل پلار نه روايت كوى، هغه روايت كوي د نبي ﷺ نه، چه رسول اللهﷺ فرمائيلى دى: نه قبلوي الله عز و جل صدقه د (غلا) دمال نه، او نه مونځ بغير د اودس نه.

تشريح: (راوي د حديث): ﴿ عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ: لاَ يَقْبَلُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴾ ابو المليح د خپل پلار نه روايت كوى د ابو المليح نوم عامر يا زيد دې د دوى د پلار نوم اسامه دې لهذا ددې حديث راوى اسامه شو، په دې حديث كښې دوه اجزاء دی، د جزء اول تعلق د صدقې سره دې، د جزء ثاني تعلق د مانځه او طهارت سره دې، د مصنفؒ مقصود جزء ثاني دي.

قوله: ﴿ غلول ﴾ بضم الغين دې چه دهغې مشهوره معنى په مال غنيمت كښې خيانت كول دى، او يو قول دا دې چه ددې استعمال په مطلق خيانت كښې هم كيږي، د قول اول په بناء باندې

(١): سنن النسائي/الطهارة ١٠٤ (١٣٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٢ (٢٧١)، (تحفة الأشراف: ١٣٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الطهارة ٢ (٢٢٤)، مسند احمد (٥/٧٤، ٧٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٢١ (٧١٣) (صحيح)

په دا سوال پیدا کیږی چه د مال غنیمت د خیانت د تخصیص وجه څه ده؟ ددې دوه جوابونه کیدې شی،

یو خو دا چه د غنیمت قید رسول الله ﷺ د مقام د مناسبت د وجې نه لګولې دې یعنې په کومه موقع باندې چې رسول الله ﷺ دا حدیث ارشاد اوفرمائیلو دهغې تقاضه هم دا وی چه د مال غنیمت حکم دې بیان کړې شی،

یا دویمه وجه دا کیدې شی، چه دا بیانول غواړی چه هر کله په مال غنیمت کښې خیانت کول حرام دی، چه په هغې کښې د انسان خپله حصه هم وی نو د بل په مال کښې خیانت کول په طریق اولی حرام دی، ګویا دا قید احترازی نه دې بلکه اثبات الحکم بطریق الاولویة دپاره دې.

د صحة صلوة دپاره د طهارت شرط کیدل:

﴿قوله ولا صلوة بغير طهور الخ﴾ صلوة نکره تحت النفی ده یعنې هریو مونځ که فرض وی او که نفل وی هغه بغیر د طهارت نه نۀ قبلیږی، په دې کښې اختلاف دې چه د صلوة په عموم کښې صلوة جنازة او سجده د تلاوت هم داخله ده یا نه، د جمهور علماء کرامو په نزد د ائمه اربعه په نزد دواړه داخل دی، د شعبی او محمد بن جریر طبری په نزد دواړه پکښې داخل دی، او د امام بخاری رحمه الله په نزد صلوة جنازه داخل ده، سجده تلاوت داخل نه ده.

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د صحت صلوة دپاره طهارت شرط دې او د طهارت دوه قسمونه دی، طهارة عن الحدث او طهارت عن الخبث، لهذا د دواړه قسم طهارت حاصلیدل په ضروری وی، په طهارة عن الحدث کښې خو د چا هم اختلاف نشته، خو په طهارت عن الخبث کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف مشهور دې، د هغوی په نزد ثوب مصلی یا بدن مصلی د نجاست نه پاکیدل په یو قول کښې سنت او په یو قول کښې واجب دی شرط د صحت نه دې، پس دا حدیث په دې معامله کښې د جمهورو حجت کیدې شی او د مالکیانو خلاف ولم ار من نبه علی ذلک.

د قبول معنی تحقیق او احادیث کښې د دې په مختلفو معنو کښې استعمال:

دلته یو خیز تحقیق طلب دا دې چه د لفظ قبول معنی حقیقی څه ده؟ او دلته ترې نه څه مراد دې، ځکه چه په یو حدیث کښې دا هم راځی چه د شارب خمر مونځ نه قبلیږی، حال دا چه د هغه مونځ د ټولو په نزد صحیح وی، او په یو بل روایت کښې دی ﴿لا يقبل الله صلوة حائض الا بخمار﴾ یعنی د بالغې زنانه مونځ بغیر د ستر راس نه نۀ قبلیږی دلته مسئله دا ده چه د زنانه مونځ بغیر د ستر راس نه بالاتفاق صحیح نه دې او حال دا چه د شارب خمر مونځ بالاتفاق صحیح دې حال دا چه عدم قبول په دواړو احادیثو کښې ذکر شوې دې، جواب دا دې چه د قبول استعمال په دوه معنو کښې کیږی.

(د لفظ قبول دوه معانی)

۱: كون الشئ بحيث يترتب عليه الرضاء والثواب... د یو فعل داسې کیدل چه په هغې باندې رضا او ثواب مرتب شی.

۲: كون الشئ مستجمعا للشرائط والاركان د يو عمل ټولو اركانو او شرطونو لره جامع كيدل.
اصحاب درس قبول بالمعنى الاول ته په قبول اثابة او قبول بالمعنى الثاني ته قبول اجابت سره تعبير كوي [۱] د حافظ ابن حجرؒ د كلام نه معلوميږي چه اول معنى د قبول حقيقي ده او ثاني معنى مجازي، د قبول اثابة حاصل دا دې چه د ثواب او انعام مستحق كيدل، او د قبول اجابت حاصل دې صحت، لهذا د قبول اثابت د نفي حاصل به دا وي چه دا عمل قابل ثواب و انعام نه دې اگر كه صحيح شي، او د قبول اجابت د نفي مطلب به دا وي چه دا عمل بالكل صحيح نه دې پاتې له دا چه قابل انعام وي، په دې حديث كښې ښكاره ده چه د قبول نه قبول اثابت مراد نه دې [۲] بلكه قبول اجابت مراد دې خكه چه د ټولو علماء كرامو په دې خبره باندې اجماع ده چه مونځ بغير د طهارت نه صحيح نه دې، اگرچه د قبول دا معنى مجازي ده خو اجماع ددې قرينة ده او په شارب خمر والا حديث كښې د قبول نه قبول اثابت مراد دې چه د شارب خمر مونځ تر څلويښتو ورځو پورې نه قبليږي اگر كه صحيح كيږي، او د خمار والا حديث كښې قبول اجابت مراد دې، غرض دا چه قبول خو په دواړو معنو كښې مستعمل وي خو د يوې معنې تعين به قرائنو باندې موقوف وي چه د كومې معنې قرينه وي هم هغه به اختيارولې شي.

مسئلة فاقد الطهورين:

دلته يو مسئله بله بيانولې شي چه دهغې نوم دې مسئله فاقد الطهورين يعنى كه د يو سړي سره پاكې اوبه او پاكه خاوره دواړه نه وي نو هغه به څه كوي؟ په دې حالت كښې مونځ اوكړي او كه نه، مسئله ډيره مشهوره ده امام مالكؒ فرمائي چه د عدم اهليت د وجې نه به د داسې سړي نه مونځ ساقط شي، او هر كله چه ادا ساقط شي نو د قضاء هيڅ سوال نه پيدا كيږي خكه چه وجوب قضاء خو فرع ده د وجوب ادا او د امام شافعيؒ مشهور قول دا دې چه په داسې سړي باندې فى الحال بغير د طهارت نه مونځ كول واجب دي خكه چه هغه هم په دې باندې قادر دې او په حديث كښې دي ﴿اذا امرتكم بشئ فافعلوا منه ما استطعتم﴾ چه كله زه تاسو ته د يو څيز د كولو حكم اوكړم نو د خپل طاقت مناسب هغه پوره كوئ او دلته په دې سړي كښې بغير د طهارت نه د مونځ كښې استطاعت دې لهذا فى الحال دې بغير د طهارت نه مونځ ادا كړي او روستو دې د قاعدې مطابق د طهارت سره دهغې قضاء.

---

[۱] قلت وهكذا اختاره في البذل وعكسه في درس ترمذي لكنه كتب قبول الاصابة بالصاد لا الثاء.

[۲] په دې وجه چې قبول بالمعنى الاول يعني قبول اثابة په اعتبارد د مفهوم خاص دې او قبول بالمعنى الثاني يعنى نفي قبول اجابت عام دې، او د خاص نفي د عام نفي لره مستلزم نه وي، خو ددې برعكس ده نفي د عام نفي د خاص لره مستلزم وي پس كه په حديث كښې اول معنى مراد كړي شي نو ددې نه به بغير د طهارت نه عدم صحة صلوة نه مستفاد كيږي، كوم چه د اجماع خلاف دې لهذا به حديث كښې دويمه معنى متعين ده كومه چه عام ده نو چونكه د عام نفي مستلزم وي د خاص نفي لره نو په دې وجه ددې نه مستفاد كيږي چه بغير د طهارت نه مونځ نه صحيح كيږي او نه موجب ثواب دې، په دې صورت كښې به د هر دوو د قبول نفي راشي، او هم دا مقصود هم دې.

اوکړي او امام احمد رحمه الله فرمائي چه هم په دې حالت کښې دې مونځ اوکړي د کوم چه په هغه کښې استطاعت دې، يعنې في الحال ددې نه په زائد باندې د نه قادر کيدو د وجې نه به د هغه مونځ معتبر وي، او روستو ورله د قضاء راوړلو حاجت نشته په شوافعو کښې مزنی دا قول اختيار کړې دې او هم دې قول ته امام نووی رحمه الله د دليل په لحاظ قوی وئيلې دې. د احنافو په نزد ددې برعکس ده يعنې في الحال دې د عدم اهليت د وجې نه نه لولي او د حصول طهارت نه پس چه کله اهليت پيدا شي نو قضاء دې راوړي

پس حاصل دا شو چه د امام مالک رحمه الله په نزد نه ادا شته او نه قضاء. او د امام شافعي رحمه الله په نزد ادا او قضاء دواړه واجب دي. د امام احمد رحمه الله په نزد صرف ادا نه قضاء. او د احنافو په نزد قضاء دون الاداء، دې مذاهب اربعه لره زمونږ استاذ محترم مولانا اسعد الله خان صاحب رحمه الله نظم فرمائيلې دې ؛

مالک بهی شافعی بهی هیں احمد بهی اور هم

لا لا ، نعم نعم ، و نعم لا ، و لا نعم

په دې شعر کښې د حرف اول تعلق د ادا سره دې او د ثاني تعلق د قضاء سره دې، اوس د لا لا معنی دا شوه چه لا اداء ولا قضاء، او د نعم نعم مطلب شو عليه الاداء والقضاء.

بغير د طهارت نه د مونځ کولو حکم :

خان پوهه کړئ چه امام نووی رحمه الله فرمائي چه د امت په دې باندې اجماع ده چه قصدا بغير د طهارت نه مونځ کول حرام دی د فرض او نفل هيڅ فرق نشته، که يو سړې قصدا بغير د طهارت نه مونځ اوکړي نو هغوی وائي چه د جمهورو په نزد به لوستونکې ګنهګار وی خو د هغه تکفير به نه شي کولې او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه هغه به کافر شي، خو زه وايم چه زمونږ په نزد د تکفير مسئله مطلقا نه ده بلکه په دې صورت کښې ده چه کله په طور د استخفاف داسې کوی يعنې مونځ سپک ګڼړی يا حکم شرعی سپک ګڼړلو سره داسې اوکړي او که د سستت والي يا د شرم او حياء د وجې نه لکه بعض وخت په سفر وغيره کښې غسل جنابت کښې ددې ضرورت راځي نو په دې صورت کښې کفر نه لازميږي

خان پوهه کړئ چه زمونږ پورته کوم مذهب تير شوې دې هغه د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دې د امام ابويوسف رحمه الله رائې دا ده چه تشبه بالمصلين دې اختيار کړی نور تفصيل دې د کتب فقه نه معلوم کړې شي دا د شامي يا د درمختار سبق نه دې

حديث الباب او يو جزئيه فقهيه کښې د تعارض جواب :

د حديث جزء اول ﴿ لا يقبل الله صدقة من غلول ﴾ د لاندې حضرت په بذل کښې يو فقهي مسئله جزئيه بيان فرمائيلې ده ځکه چه دا حديث په ظاهر کښې ددې خلاف دې، مسئله فقهيه دا ده چه که د يو سړي سره د بل چا مال په ناجائز طريقه اخستلې موجود وی او هغه مال مالک يا د هغه وارثانو ته رسول ممکن نه وی نو فقهاء کرامو ليکلې دی چه د داسې مال تصدق واجب دې نه دې خپله استعمالوی او نه دې ضائع کوی بلکه هغه دې صدقه کړی او حديث دا وائي چه د مال حرام صدقه د الله پاک په نزد قبول نه ده لهذا دهغې نه بچ

کیدل پکار دی ددې یو جواب دا کیدې شي چه په حدیث کښې د داسې حرام مال ذکر نشته کوم چه د هغه مالک ته رسول ممکن نه وی، دا یو نادر شان صورت دې نوادر مستثنی وی فلا اشکال یا دې داسې اووئیلې شی چه په حدیث کښې ممانعت د خپل طرف نه د صدقې کولو دی او د فقهاء کرامو غرض دا نه دې چه دا سړې دې د خپل طرف نه د تحصیل اجروثواب دپاره صدقه اوکړی بلکه مراد دا دې چه د مالک د طرف نه دې صدقه اوکړې شي بغیر د حصول اجر او ثواب د نیت نه

[۶۰](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ".

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې، هغه وئیلی دي، وئیلی دي رسول الله ﷺ نه قبلوي الله مونځ د یو کس ستاسو نه کله چه بې اودسه شي تردې چه اودس اوکړي.

تشریح: ۲. ﴿ عن ابی هریرة.... اذا احدث حتی یتوضاء ﴾ یعني د انسان مونځ نه صحیح کیږی چه کله هغه ته حدث لاحق شي تر څو چه ئې اودس نه وی کړې، ددې حدیث په عموم کښې دوه صورتونه داخل دی، یو دا چه د مونځ شروع کولو نه مخکښې حالت حدث وی دویم دا چه د مانځه ترمینځه ورته حدث لاحق شي په هر دواړو صورتونو کښې یو شان حکم دې چه اودس اوکړې شي بل دا چه د خپل عموم په بناء باندې ابتداء او بناء دواړه شامل دی او مسئلة البناء مختلف فیه ده، جمهور علماء کرام ددی قائل نه دی احناف ئې قائل دی، بله دا چه ددې حدیث نه معلومیږی چه وضوء لکل صلوة واجب نه دي کما هو مسلک الجمهور.

حضرت په بذل کښې لیکلي دی چه دا حدیث د آیت کریمه ﴿ اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا وجوهکم الاية ﴾ تفسیر دې، یعنی په آیت کښې اگرچه د حدث ذکر نشته بلکه عند القیام الی الصلوة د وضوء ذکر دې، خو دا حدیث د آیت کریمه مراد بیانوی چه د قیام الی الصلوة په وخت د وضوء حکم د حدث په وخت دې هسې نه دې، احقر وائی دا حدیث په دې معنی کښې صریح دې هم چه حضرت تحریر فرمائیلې دی، باقی د باب اول حدیث ﴿ لا یقبل الله صلوة بغیر طهور ﴾ نه هم دا خبره مستفاد کیدې شي څکه چه د تحصیل طهارة حکم مشعر دې وجود حدث لره څو که د مخکښې نه حدث نه وی نو هغه وخت طهارت حاصلول تحصیل حاصل دې.

[۶۱](²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ ابْنِ عَقِيلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ، وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ، وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ".

---

¹: صحيح البخاري /الوضوء ۲(۱۳۵)، الحیل ۲ (٦۹٥٤)، صحيح مسلم /الطهارة ۲ (۲۲٥)، سنن الترمذي /الطهارة ٥٦ (۷٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۱۸) (صحيح)

²: سنن الترمذي /الطهارة ۳ (۳)، سنن ابن ماجه /الطهارة ۳ (۲۷٥)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۲۳)، سنن الدارمي /الطهارة ۲۲ (۷۱٤) (حسن صحيح)

ترجمه: د علي ﷺ نه روايت دې، هغه وائي، وئيلي دي رسول الله ﷺ چابي د مونځ هغه پاکوالي دی، او حرام ونکی دهغې تکبير دی، او حلالونکی دهغې سلام دی.

تشريح: ۳. ﴿ عن علی قال قال مفتاح الصلوة الطهور ﴾ په دې حديث کښې درې جملې دی په اول کښې د طهارة ذکر دې په دويم کښې د تکبير تحريمه، په دريم کښې د تسليم صلوة. خو مقصود د مصنف رحمه الله اول جزء دې، په دې جمله کښې تشبيه او استعاره استعمال کړې شوې ده، هغه داسې چه حدث لره د قفل سره تشبيه ورکړې شوې ده او دهغې ضد يعنی طهارت ته مفتاح سره ګويا حدث د انسان دپاره د دخول فی الصلوة دپاره داسې مانع دې لکه څنګه چه مکان ته د داخليدو دپاره قفل (تاله) مانع وی، او څنګه چه مقفل مکان کښې بغير د مفتاح نه داخليدل ممکن نه دی، هم دغه شان په مانځه کښې بغير د طهارت نه داخليدل صحيح نه دی.

مسئلة نيت فی الوضوء :

بله دا چه ددې حديث نه علماء احناف په يوه بله اختلافی مسئله باندې استدلال کړې دې هغه دا چه جمهور ائمه ثلاثه ﴿ انما الاعمال بالنيات ﴾ د وجې نه نيت لره په اودس کښې فرض مني او احناف دې سره متفق نه دی. احناف وائي چه په اودس کښې دوه حيثيتونه دی، يو د عبادت کيدو او يو د جواز صلوة د آله او مفتاح کيدو په حيثيت سره، په قاعدې د ﴿ انما الاعمال بالنيات ﴾ نيت ضروری دې، او مفتاح الصلوة کيدل په نيت باندې موقوف نه دی، لهذا بغير د نيت نه چه کوم اودس کولې شی هغه خو به مفتاح الصلوة وی خو موجب ثواب او عبادت به نه وی، لهذا د احنافو عمل په هر دواړو احاديثو باندې شو، د حديث اهمال لازم نه شو.

د حديث توضيح او تشريح :

﴿ قوله وتحريمها التکبير ﴾ [۱]، ضمير راجع دې د صلوة طرف ته او د تحريم اضافت د صلوة طرف ته د ادنی ملابست د وجې نه دې، ګيني په اصل کښې د تحريم تعلق د صلوة سره نه دې بلکه د هغه افعالو سره دې کوم چه خارج صلوة کښې مباح دی او په مانځه کښې داخليدو سره حرام شي نو مطلب دا شو چه کوم امور د مانځه په حالت کښې حرام دی دهغې د تحريم سبب تکبير دې، اصل خو دهغې د تحريم سبب خپله مونځ دې خو چونکه د مانځه تحقق په تکبير سره کيږی په دې وجه د تحريم اضافت د تکبير طرف ته اوکړې شو، مراد د متکلم دا دې ﴿ سبب تحريم ما حرم فی الصلوة التکبير ﴾ يعنی کوم افعال چه په مانځه کښې دننه حرام دی دهغې د حرمت سبب تکبير دې، ځکه چه په تکبير سره انسان په مانځه

[۱] تحريمها التکبير، کوم افعال چه فی حال الصلوة حرام دی دهغې د تحريم سبب دخول فی الصلوة دې ليکن چونکه دخول فی الصلوة موقوف دې په تکبير باندې، په دې وجه د تحريم نسبت تکبير طرف ته اوکړې شو. وهکذا قوله وتحليلها التسليم، نو ګويا په حديث کښې تحريم (چه مسبب دې) اووئيلې شو او سبب يعنی دخول فی الصلوة مراد واخستلې شو.

کښې داخليږي نو ترڅو چه تکبير بيا نه موندلې شي د صلوة تحقق به هم نه وي، لهذا تحريم افعال به هم نه شي موندلې، اصل کښې په دې حديث کښې د مسبب د سبب دپاره استعاره کړې شوې ده، مسبب وئيلو سره کوم چه تحريم دې سبب يعنې دخول في الصلوة مراد کړې شوې دې، مطلب دا شو چه د دخول في الصلوة ذريعه يا طريقه صرف تکبير دې، بغير د تکبير نه انسان په مانځه کښې نه شي داخليدلې،

دويم قول ددې جملې په تشريح کښې دا دې چه تحريم په معنی د احرام. او د احرام معنی دخول في حرمة الصلوة، په دې صورت کښې په عبارت کښې مجاز يا استعارې منلو ته ضرورت نشته او مطلب بالکل واضح دې يعنې د مانځه په حرمت کښې د دخول طريقه تکبير دې د تکبير په ذريعه انسان په حرمت الصلوة کښې داخليدې شي، دا جمله په اصل کښې د جوامع الکلم نه ده رسول اللهﷺ ته چه د فصاحت او بلاغت کومه اعلی مرتبه حاصله وه دا دهغې يوه مونه ده، ﴿علی هذا القياس﴾ وروستې جمله ﴿وتحليلها التسليم﴾ ددې تشريح ده، دلته هم استعاره د مسبب د سبب دپاره کړې شوې ده، خروج من الصلوة سبب تحليل دې او تحليل دهغې مسبب دې، پس دلته هم مسبب يعنې تحليل وئيلو سره سبب يعنې خروج عن الصلوة مراد کړې شوې دې، پس مطلب دا شو چه د مانځه نه د بهر راتلو طريقه صرف تسليم ده.

په تحريمه کښې دوه مسئلې اختلافي:

﴿تحريمها التكبير﴾ کښې دوه مسئلې دی، يو د تحريمه حکم، دويم هل يجوز الافتتاح بغير التكبير؟ يعنې د الله اکبر نه علاوه د بل ذکر په ذريعه هم مونځ شروع کولې شي يا نه؟

پس په دې باندې خان پوهه کړه چه د ائمه اربعه اتفاق دې چه تحريمه فرض دې، خو بيا په دې کښې اختلاف دې چه د رکن درجه ئې ده که د شرط، د ائمه ثلاثه په نزد خو رکن دې، د امام طحاوي‌رحمه‌الله ميلان هم دې طرف ته دې، او د احنافو په نزدې تحريمه شرط دې، د رکن او شرط فرق ظاهر دې چه رکن داخلي څيز وی او شرط خارجي، د احنافو دليل آيت کريمه ﴿وذكر اسم ربه فصلى﴾ دې طريق استدلال تاسو په هدايه وغيره کښې لوستلې دې چه فاء د تعقيب دپاره ده، او آيت کريمه کښې د ذکر اسم رب نه مراد تحريمه دې چه د ذکر اسم رب نه معلومه شوه چه د ذکر اسم رب يعنې تحريمه نه پس مونځ شروع کيږي، لهذا تحريمه د مانځه نه خارج څيز دې، او دريم قول په دې مسئله کښې دا دې چه تکبير تحريمه صرف سنت دې، لهذا دخول في الصلوة بغير د تکبير نه صرف په نيت سره هم کيدې شی، ددې قائل امام زهري اوزاعي، ابن عليه او ابوبکر اصمﷺ دی.

دويمه مسئله دا وه چه افتتاح صلوة بغير د تکبير نه صحيح ده او که نه پس په دې کښې اختلاف دې چه د ائمه ثلاثه او امام ابويوسف‌رحمه‌الله په نزد د تحريمه تحقق بغير د تکبير نه نه کيږي او د طرفين په نزد د هر داسې لفظ او ذکر سره مونځ شروع کول جائز دی، کوم چه خالص د الله پاک په تعظيم باندې دلالت کوی د دعاء معنی به هغې کښې نه شی موندلې، لهذا، الله اجل، الله اعظم، يا الرحمن اجل يا لا اله الا الله، سبحان الله وغيره الفاظ

سره مونځ شروع کول جائز دي، دليل اوس پورته ذکر شوي دي ﴿ وذکر اسم ربه فصلی ﴾ معلومه شوه چه مطلق ذکر ددې دپاره کافي دي، بله دا چه د تکبير معنی د تعظيم راځی لکه ﴿ وربک فکبير الاية فلما رأينه اکبرنه الاية ای عظمنه ﴾ پس مطلق ذکر اسم رب خو فرض شو، او خاص تکبير يعنی الله اکبر وئيل دا د رسول اللهﷺ د مواظبت او د پورته حديث په رڼرا کښې چه کوم اخبار نه احاد دی واجب دي، او په غير تکبير تحريمی سره شروع کول مکروه تحريمی دی پس د کوم څيز ثبوت چه په دليل قطعی سره دي يعنی مطلق ذکر صرف هم هغې ته دې فرض اووئيلې شی، او د کوم څيز ثبوت چه د اخبار احاد نه دې يعنی تکبير هغې ته دې واجب اووئيلې شی.

د ائمه ثلاثه بيا په دې کښې خپل مينځ کښې اختلاف دې چه د تکبير مصداق کوم کوم الفاظ دی.د امام مالک‌رحمه‌الله او امام احمد په نزد د تکبير مصداق صرف الله اکبر دې، د امام شافعی‌رحمه‌الله په نزد الله اکبر او الله الاکبر يعنی معرف باللام او غير معرف باللام دواړه دی، د امام ابويوسف‌رحمه‌الله په نزد ددې مصداق څلور الفاظ دی الله اکبر، الله الاکبر، الله کبير، الله الکبير، هغوی داسې فرمائی چه د الله پاک اسماؤ او صفاتو کښې د افعل او فعيل فرق نشته بلکه هلته افعل هم د فعيل په معنی کښې دی.

تسليم کښې دوه اختلافات دی:

دويمه مسئله ﴿ تحليلها التسليم ﴾ هغه دا چه د تسليم حکم څه دې؟ ائمه ثلاثه فرمائی چه څنګه تکبير تحريمه فرض دې هم دغه شان تسليم هم فرض دې، بغير ددې نه به مونځ نه صحيح کيږی، احناف وائی چه د تسليم د واجب درجه ده، فرض نه دې جمهور په دليل کښې دا فرمائی چه ﴿ تعريف الحاشيتين يفيد الحصر ﴾ چه مسند مسند اليه چه کله دواړه معرفه وی نو د حصر فائده ورکوی، په ﴿ تحليلها التسليم ﴾ کښې هم مسند او مسند اليه معرفه دی، لهذا مطلب دا شو چه د مانځه نه د بهر راتلو طريقه په تسليم کښې منحصر ده يعنی بغير ددې نه د مانځه نه بهر راتلل صحيح نه دی، بلکه دا چه هغوی وائی چه څنګه د ﴿ تحريمها التکبير ﴾ نه د تکبير فرضيت ثابتيږی هم دغه شان د ﴿ تحليلها التسليم ﴾ نه د تسليم فرضيت نه منو زمونږ د طرف نه اصولی جواب دا دې چه د خبر واحد نه فرضيت نه شی ثابتيدلې باقی پاتې شوه مسئله د تحريمه نو ددې فرضيت مونږ د حديث نه نۀ ثابتوو بلکه د آيت کريمه نه لکه څنګه چه مخکښې تير شو.

بله دا چه يو خبره دا هم ده چه دا حديث د خبر واحد کيدو نه علاوه د ابن عقيل راوی د وجې نه ضعيف دې، چه د هغه په باره کښې کلام مشهور دی، او دويمه خبره دا ده چه خپله د راوی حديث علی‌رضي‌الله‌عنه مذهب دا نه دې، هغوی هم تسليم لره غير فرض منی لکه چه امام طحاوی‌رحمه‌الله فرمائيلې دی د سيدنا علی‌رضي‌الله‌عنه نه روايت دې ﴿ اذا رفع راسه من اخر السجدة فقد تمت صلوته ﴾ زمونږ يو مشهور دليل هغه دې کوم چه عبدالله بن مسعودرضي‌الله‌عنه مرفوعا نقل فرمائی ﴿ اذا قلت هذا او فعلت هذا فقد قضيت ما عليک اخرجه احمد في مسنده ﴾ ددې حديث نه د احنافو طريق استدلال ظاهر دې کوم چه تاسو په هدايه وغيره کښې

لوستلي دي هغوی په دې باندې دا اشکال کوي چه هغوی په ﴿ اذا قلت هذا ﴾ حديث کښې زيادت د ابن مسعود ﷺ د طرف نه مدرج دې د دې جواب دا دې چه ادراج خلاف اصل دې او که تسليم هم کړې شي نو په امر غير مدرک بالرائی کښې د صحابی قول د مرفوع په حکم کښې وی

بيا د جمهورو په دې مسئله کښې اختلاف دې چه تسليمتين فرض دی که تسليمه واحده، د امام شافعي ﷺ په نزد تسليمه اولی فرض دې او ثانيه سنت دې، او مشهوره د امام احمد ﷺ نه دا ده چه دواړه فرض دی، او زمونږ په نزد دوه اقوال دی يو دا چه دواړه واجب دی وقيل الاول واجب والثاني سنة امام مالک ﷺ بالکل د تسليم قائل هم نه دې صرف د تسليمه واحده قائل دې. ددوی مسلک دا دې چه د امام او منفرد په حق کښې صرف يو سلام تلقاء وجهه مائلا الی اليمين فرض دې خو د مقتدی په باره کښې د هغوی په نزد په يو صورت کښې دوه او په يو صورت کښې درې سلامونه دی، اول سلام ښی طرفه،ته دويم تلقاء وجهه، او دريم سلام ګس طرف ته که ګس طرف ته څوک مصلی وی او که نه وی.

دلته د تکبير تحريمه او تسليم بحث قبل از وقت راغلي دې، ددې تعلق کتاب الصلوة سره دې خو چونکه دا مسئله په حديث کښې موجود په دې وجه بيان کړې شوه، اوس چه کله اصل مقام راشي نو بيانولو ته به ضرورت نه راځي.

قوله:﴿ عن سفيان ﴾ د سهارنپوری ﷺ تحقيق دا دې چه دا سفيان ثوری دې او صاحب د غاية المقصود په دې کښې تردد ظاهر کړې دې چه ثوری دې يا ابن عيينة ﴿ ابن عقيل ﴾ دا عبدالله بن محمد بن عقيل بن ابی طالب دې، د دوی په باره کښې کلام مشهور دی لکه څرنګه چه امام ترمذی ﷺ هم په خپل کتاب کښې بيان فرمائيلي دی ﴿ محمد بن الحنفية ﴾ دا محمد بن علي دی او حنفيه د هغوی مور ده چه دهغي نوم خوله دې د قبيله بنو حنيفه نه ده، بنو حنيفه د يمامه يو قبيله ده، سيدنا صديق اکبر ﷺ د فتنه ارتداد د وجې نه چه د اهل يمامه سره کوم قتال اوکړو او بيا ئې يمامه فتح کړه، په هغي کښې دا حنفيه يعنی د قبيله بنو حنيفه يو زنانه قيد کيدو سره راغلي وه، صديق اکبر ﷺ دا علي ﷺ ته هبه کړې وه، بيا د هغوی نه د هغوی خونې محمد بن الحنفية پيدا شوه، علي ﷺ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه که ستا نه روستو زما خوئې پيدا شو نو زه به د هغه نوم ستاسو په نوم او د هغه کنيت ستاسو په کنيت باندې ږدم، په دې باندې رسول الله ﷺ هغوی ته اجازت ورکړې وه، پس د هغوی نوم محمد دې لکه چه په سند کښې تصريح ده او کنيت ئې ابوالقاسم دې، رحمة الله تعالى عليه...

بَابُ الرَّجُلِ يُجَدِّدُ الْوُضُوءَ مِنْ غَيْرِ حَدَثٍ

باب دې په بيان د سړي کښې چې نوې اودس کوي بغير د حدث نه

مسئلة مترجم بها کښې مذاهب ائمة :

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر ده، هغه ظاهره ده يعني تجديد وضوء، هرمونځ په تازه اودس سره کول، ددې باب مقابل وراندې تلو سره په لړه فاصله باندې ابواب المسح

على الخفين نه پس متصلا راوړي دي چه دهغې الفاظ دی ﴿ باب الرجل يصلى الصلوات بوضوء واحد ﴾ د بعض علماء كرامو په نزد خو تجديد وضوء يعنى د هر مانځه دپاره مستقلا اودس كول فرض دى لكه څرنګه چه هلته به راشى د جمهور علماء ا ائمه اربعه په نزد تجديد وضوء صرف مستحب دي.

خو استحباب په كوم صورت كښې دې او كله دې په دې كښې څه تفصيل دې، امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم كښې فرمايي چه د شوافعو په نزد استحباب تجديد كښې څلور اقوال دى، يو دا چه تجديد دهغه سړي په حق كښې مستحب دې چا چه په اول اودس سره يو مونځ كړې وى فرض يا نفل، دويم قول دا دې چه فرض مونځ ئې پرې كړې وى، دريم دا دې چه وضوء اول باندې ئې يو داسې عمل كړې وى كوم چه بغير د طهارت نه جائز نه دى لكه مس مصحف او سجده تلاوت وغيره، څلورم قول دادې چه تخلل بالزمان وى يعنى د اول اودس او دويم اودس ترمينځه زمانه حائل وى څه فصل پكښې راغلې وى. يو اودس نه پس فورا دويم اودس كول بيكار دى، بله دا چه هغوى ليكلي دى چه د غسل تجديد مستحب نه دې او په تيمم كښې ئې دواړه روايتونه ليكلي دى، اصح دا دى چه ددې تجديد مستحب نه دې، او د احنافو په نزد تجديد د استحباب په صورت كښې دې چه يا خو اختلاف مجلس وى يا توسط العبادت بين الوضوئين وې، يعنى اول اودس سره ئې څه عبادت كړې وى، د حديث الباب مضمون د باب السواک په ضمن كښې راغلې دې، دوباره د كلام حاجت نشته.

فائده: د صحيح مسلم په يو روايت كښې په كتاب الطهارت كښې د عثمانى غنى رضي الله عنه په باره كښې راغلي دي چه هغوى به هره ورځ په مختصر شان اوبو باندې غسل فرمائيلو

[۶۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِءُ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَأَنَا لِحَدِيثِ ابْنِ يَحْيَى أَتْقَنُ، عَنْ غُطَيْفٍ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ، عَنْ أَبِي غُطَيْفٍ الْهُذَلِيِّ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، فَلَمَّا نُودِيَ بِالظُّهْرِ تَوَضَّأَ فَصَلَّى، فَلَمَّا نُودِيَ بِالْعَصْرِ تَوَضَّأَ، فَقُلْتُ لَهُ: فَقَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ كَتَبَ اللهُ لَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثُ مُسَدَّدٍ، وَهُوَ أَتَمُّ.

ترجمه: ابوداود وئيلى دي چه زه حديث ابن يحيى ته ډير يقين كوم د غطيف نه، او وئيلى دي محمد: چه روايت كوي د ابو غطيف الهذلي نه. هغه وئيلى دى: ووم زه د عبد الله بن عمر سره، هركله چه اذان اوشو د ماسپخين مانځه لپاره نو اودس ئې اوكړو او مونځ ئې اوكړو. هركله چه اذان اوشو د مازيګر مانځه لپاره نو اودس ئې اوكړو. نو ما اووئيله هغه ته. اوس دنوى اودس كولو څه ضرورت دى نو هغه اووئيله وو رسول الله صلى الله عليه وسلم چه ويله به يې چاچې اودس اوكړو دپاسه د پاكوالي نه نو وبه ليكي الله د هغه لپاره لس نيكى.

(): سنن الترمذي/الطهارة ٤٤ (٥٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٣ (٥١٢)، (تحفة الأشراف: ٨٥٩٠) (ضعيف)

توضیح السند :

﴿ قوله ح وحدثنا مسدد الخ ﴾ د مصنفﷺ دوه استاذان دی، په اول سند کښې محمد بن یحیی، په دویم کښې مسدد. او په اول سند کښې شیخ الشیخ عبدالله بن یزید، او دویم کښې عیسی بن یونس، بیا دواړه یعنی عبدالله بن یزید او عیسی بن یونس روایت کوی د عبدالرحمن بن زیاد نه، لهذا عبدالرحمن ملتقی السندین شو دواړه سندونه په دې باندې راتلو سره یو ځائې شو ﴿ عن غطیف ﴾ بعضو په ځائې د غطیف ابوغطیف وئیلې دې دا راوی مجهول دې، لهذا په حدیث کښې ددې راوی د وجې نه ضعف راغلو.

بَابُ مَا يُنَجِّسُ الْمَاءَ

باب دې په بیان د هغه څه کښې چې اوبه پلیتوې

طهارة ماء ونجاست ماء کښې د ائمة مذاهب

اوس دلته ستیشن راغلو، ددې ځائې نه احکام المیاه شروع کیږی. د نجاست او طهارت ماء مسائل یعنی اوبه کله نجس کیږی او کله نه؟ کومې وی او کومې نه وی؟ د ماقبل سره ددې ربط ښکاره دې چه مصنفﷺ په شروع کښې فرضیت وضو بیان کړو چه کله دا خبره معلومه شوه چه اودس فرض دې نو اوس د اودس دپاره اوبه پکار دی، اوس ددې ځائې نه د پاک او ناپاک فرق بیانوی، چه معلومه شی چه په کومو اوبو باندې اودس کیدې شی، او په کومو اوبو باندې نه

دا مسئله د معرکة الآرا مسائلو نه ده، په دې کښې ډیر اوږده اوږده بحثونه کولې شی مولانا عبدالحئیﷺ د طهارة ماء او د نجاسة ماء په مسئله کښې پنځلس اقوال لیکلې دی، خو مشهور په دې کښې څلور مذاهب دی کوم چه مونږ بیانوو .

(رومبې مذهب): اول مذهب د اهل ظواهرو دې هغوی وائی چه اوبه قلیل وی او که کثیر وی وقوع نجاست سره تر هغه وخته پورې نه ناپاکی کیږی تر څو چه اجزاء د نجاست په اجزاء ماء باندې غالب نه شی، د ظاهریه مسلک مولانا عبدالحئی او علامه عینیﷺ لیکلې دې او په حاشیه د کوکب کښې هم دی.

(دویم مذهب): دویم مذهب په دې کښې د مالکیانو دې کوم چه د ظاهریه مسلک ته زیات نژدې دې هغه دا چه ماء قلیل یا کثیر وقوع نجاست سره تر هغه وخته پورې نه ناپاک کیږی، تر څو چه د اوبو د اوصاف ثلاثه نه یو وصف متغیر نه شی، د اوبو اوصاف ثلاثه مشهور دی طعم، ریح، لون، د جمهورو او باقی ائمه ثلاثه دفرق بین القلیل والکثیر قائل دی چه قلیل په وقوع نجاست سره فورا ناپاک کیږی خو کثیر تر هغه وخته پورې نهٔ ناپاک کیږی تر څو چه یو وصف نه وی بدل شوې، بیا په ائمه ثلاثه کښې چه احناف هم پکښې دی، د دوی ترمینځه په دې خبره کښې اختلاف دې چه د قلت او کثرت معیار څه دې؟ په دې کښې شوافع او حنابله یو طرف ته دی او احناف بل طرف ته

(دریم مذهب): د شوافعو په نزد په قلتین باندې مدار دې کومې اوبه چه په مقدار د قلتین وی یا ددې نه زائد وی نو دا به کثیر وی او چه د قلتین نه کم وی نو هغه قلیل دی، په دې

باندې شوافع او حنابله متفق دي.

(ثلوړم مذهب): د احنافو په نزد د قلت او کثرت په معيار کښې درې اقوال دي:

(۱) اول تحريک (۲) ثاني مساحة (۳) ثالث ظن مبتلى به.

(۱) د اول قول مطلب دا دې چه کوم حوض دومره لوئې وي چه که دهغې د يو طرف اوبو له حرکت ورکړې شي نو جانب اخر فورا حرکت اوکړي نو قليل دی او که فورا متحرک نه شي نو هغه کثير دی، بيا په دې کښې اختلاف دې چه د حرکت نه مراد حرکت بالوضوء دې يا حرکت بالغسل دواړه اقوال دی.

(۲) قول ثاني يعنى د مساحة مطلب دا دې چه په دې کښې د پيمائش اعتبار دې، چه کوم حوض يا داسې اوړايه چه اوبه په خپل خوريدو کښې عشر فى عشر يعنى ده در ده، وى هغه کثير دی، او کوم چه ددې نه کم وی هغه قليل دی، مساحة والا قول کښې زمونږ په نزد نور اقوال هم شته.

(۳) قول ثالث دا دې چه په دې کښې مبتلى به رائې معتبر ده، که د مبتلى به گمان ددې حوض په باره کښې دا دې چه ددې يو طرف ته د نجاست غورځيدو سره دويم طرف ته رسيږى نو بيا خو هغه قليل دې، او که د هغه ظن غالب وی چه د بلې غاړې پورې دهغې اثر نه رسيږی نو هغه کثير دې.

(مزې ابواب او مزې مسلکونه): اوس خان پوهه کړه چه دلته مصنف ﷫ پرلپسې دوه ابواب قائم کړی دی، په اول باب کښې ئې حديث القلتين او په دويم باب کښې ئې حديث بئر بضاعه ذکر فرمائيلې دې، اول باب گويا د شوافعو او حنابله مستدل دې، او وړاندې د يو باب نه پس چه کوم دريم باب راځى دهغې په باره کښې وئيلې شی چه دهغې نه د مسلک حنفيه تائيد کيږی، د مصنف ﷫ غرض اگر که د مسلک حنفيه تائيد نه وی خو فى الواقع هغه د احنافو په حق کښې دې لکه چه هلته به معلوم شي

[۶۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَغَيْرُهُمْ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْعَلَاءِ، وَقَالَ عُثْمَانُ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ الصَّوَابُ.

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷠ نه روايت دې، هغه وئيلى دی: چه سوال اوشو د رسول الله ﷺ نه دهغه اوبو باره کښې چه راځي ورته ځاروي او درنده گان، نو اووئيل نبي ﷺ: کله چه وې اوبه دوه قلې نو نه باروي پليتي (يعنى نجاست سره نه پليتيږى). او وئيلى دي ابوداود: دا لفظ د ابن العلاء دی، او وئيلى دي عثمان او حسن بن علي (عن محمد بن عباد

(): سنن النسائي/الطهارة ۴۳ (۵۲)، (تحفة الأشراف: ۷۲۷۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ۵۰ (۳۶۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۵ (۵۱۷، ۵۱۸)، سنن الدارمي/الطهارة ۵۵ (۷۵۸) (صحيح)

بن جعفر؛ په ځائې د محمد بن جعفر، ونيلى دي ابوداود: او هم دغه صحيح دى.

تشريح: قوله ﴿عن عبيدالله بن عبدالله بن عمر عن ابيه قال سئل الخ﴾ سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ نه د هغه اوبو په باره کښې تپوس اوکړې شو چه په هغې باندې وخت په وخت پرلپسې درندګان وغيره د اوبو څکلو دپاره راځى دديې نه مراد هغه اوبه دي چه د فلاة يعنى ځنګلو کښې په غارونو کښې دننه راجمع کيږى پس په يو روايت کښې د ﴿في الفلاة﴾ تصريح ده، دا اوبه د دواب د څکلو د وجې نه سؤر سباع شو نو ګويا سوال د سؤر سباع په باره کښې دى چه هغه پاک دي يا ناپاک هغه استعمالولي شي يا نه؟ صحابه کرام رضي الله عنهم زيات تر د جهاد په سفرونو کښې وو، نو هغوى به داسې اوبه موندلې، په دې وجه دا سوال اوکړې شو، په دې باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ﴿اذا كان الماء قلتين لم يحمل الخبث﴾ يعنى د کومو اوبو په باره کښې چه تاسو سؤال کوئ هغه دې اوکتلې شي چه د قلتين په اندازه دى او که نه. که د قلتين نه کم وى نو بيا خو پوهه شئ چه هغه ناپاکې دى، او که هغه قلتين وى نو پاکې دې ګويا مطلب دا شو چه قلتين دې نو کثير دې ناپاکې نه دې اوکه ددې نه کم دې نو قليل دې ناپاکې شوې لکه چه د شوافعو او حنابله مذهب دې، حديث القلتين د احنافو او مالکيانو خلاف دې لهذا ددې جوابات واورئ.

په حديث القلتين کښې سندا ومتنا اضطراب:

د دې حديث په سند او متن دارو کښې اضطراب دې اول اضطراب فى السند باندې ځان پوهه کړئ دا حديث مصنف رحمه الله په درې طرقو سره بيان کړې دې، او په هر طريق کښې اضطراب دې.

طريق اول د وليد بن کثير دې، په دې کښې د اضطراب تشريح دا ده چه اول خو د راويانو په دې کښې اختلاف دې چه د وليد شيخ څوک دې بعضو وئيلې دى چه محمد بن جعفر بن الزبير او بعضو محمد بن عباد بن جعفر بيان کړې دې هم دغه شان د وليد شيخ الشيخ کښې اضطراب دې، بعضو عبيدالله بن عبدالله ذکر کړې دې، او بعض عبدالله بن عبدالله خو مصنف رحمه الله د وليد د شيخ الشيخ اضطراب نه دې بيان کړې دا د طريق اول اضطراب شو.

اوس پاتې شو دا سوال چه هغوى د اضطراب څه جواب ورکوى نو په دې کښې دوه جماعتونه دى، يو جماعت د دفع تعارض دپاره طريق ترجيح اختيار کړې دې، هم په دوى کښې امام ابوداؤد رحمه الله او ابوحاتم رازى دې، پس خپله په کتاب کښې دى مصنف رحمه الله فرمائي چه محمد بن عباد بن جعفر صحيح دى يعنى محمد بن جعفر بن الزبير غير صحيح دې او يو جماعت د دفع تعارض دپاره طريق جمع اختيار کړې ده، په هغوى کښې دارقطنى او بيهقى دى او هم د هغوى اتباع حافظ ابن حجر کړې ده، دا حضرات وائي چه دا روايت د دواړو نه دې، محمد بن جعفر بن الزبير نه هم او محمد بن عباد ابن جعفر نه هم. بيا وراندې د وليد شيخ الشيخ په باره کښې حافظ رحمه الله فرمائي چه ابن الزبير خو روايت کوى د عبيدالله بن عبدالله نه، او محمد بن عباد روايت کوى د عبدالله بن عبدالله نه. يعنى د دواړو نه

روایت کول ثابت او محفوظ دی، او چه کله دا اختلاف ثابت او محفوظ دي نو ظاهره ده چه اضطراب نشته. د اضطراب مطلب خو دا دي چه روایت فی الواقع د یو نه روایت کړي شوي وی، خو بعض راویان یو څه وائی او بعض بل څه، او چه کله فی الواقع د دواړو نه روایت اومنلي شو، نو دواړو طریقو سره ثابت او محفوظ شو بیا اضطراب چرته پاتي شو

زمونږ د طرف نه به جواب الجواب دا وی چه په تاسو کښې خو په دفع اضطراب کښې اضطراب واقع شو، بعض طریق جمع اختیاروی او بعض طریق ترجیح، اوس د چا خبره تسلیم کړي شی، لهذا تشفی اونشوه او د سند اضطراب په خپل حال باندي باقی پاتي شو، بله دا چه حافظ علیه الرحمه دا هم ونیلي دی چه محمد بن جعفر بن الزبیر او محمد بن عباد بن جعفر دواړه ثقه دی، پس دا انتقال د ثقة نه دي د ثقة طرف ته کوم چه ضرر نه ورکوی، زمونږ وینا دا ده چه ددي دواړو ثقه کیدل بیله خبره ده زمونږ مقصود خو د راویانو اختلاف بیانول دی چه بعض راویان یو شان وائی او بعض بل شان، او دا صورت حال په عدم ضبط باندي دلالت کوی، هم په دي سره په سند کښې ضعف پیدا کیږی

په دي حدیث کښې طریق ثانی د محمد بن اسحاق ده، دوی دا حدیث د محمد بن جعفر نه روایت کوی، په دي کښې اضطراب داسي دی چه دلته خو سند هم هغه شان دي کوم چه ذکر دي، او مصنف رحمه الله په دي طریق کښې هیڅ اختلاف سند نه دي بیان کړي خو مونږ ته معلومه ده چه په دي کښې هم اختلاف او اضطراب دي پس د دارقطنی په روایت کښې داسي دی ﴿ عن محمد بن اسحق عن الزهری عن عبیدالله عن ابی هریرة ﴾ او په یو طریق کښې دی ﴿ عن محمد بن اسحق عن الزهری عن سالم عن ابیه ﴾ اوګورئ اختلاف او اضطراب فی السند موندلي کیږی. بله دا چه محمد بن اسحق راوی متکلم فیه دي

د دي حدیث طریق ثالث د عاصم بن المنذر دي لکه چه په کتاب کښې موجود دي، د عاصم نه روایت کونکی دوه دی، حماد بن سلمه او حماد بن زید، حماد بن سلمه دا مرفوعا نقل کړي دي او حماد بن زید دا موقوفا نقل کوی، د دارقطنی رائي دا ده چه د روایت مرفوعه په مقابله کښې روایت موقوفه صحیح دي، اوس د سند په دري واړو طریقو کښې اضطراب معلوم شو

اضطراب فی المتن

دویم اضطراب په دي حدیث کښې په اعتبار د متن دي، هغه داسي چه په حدیث الباب کښې خو دی ﴿ قلتین ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿ قلر قلتین او ثلاث ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿ اذا بلغ الماء قلة ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿ أربعین قلة ﴾ دا اضطراب فی المتن شو، چه هر کله دا صورت حال شو نو استدلال څنګه صحیح کیدي شی

د حدیث القلتین جوابات

د حدیث القلتین زمونږ د طرف نه ډیر جوابونه کړي شوي دی

۱: **مسلك الاضطراب:** (۱) يو جواب هم دا دې چه په دې كښې سندا او متنا اضطراب دې لكه چه اوس د تفصيل نه معلومه شوه.

۲: **مسلك التضعيف:** پس يو لوئې جماعت ددې تضعيف كړې دې لكه ابن عبدالبر، ابن العربى، على بن المدينى، امام غزالى، او هم دغه شان ابن دقيق العيد او ابن تيميه، علامه زيلعى ليكلې دى چه ابن دقيق العيد په كتاب الامام كښې په دې حديث باندې تفصيلى كلام دې، او ددې تمام طرق ئې جمع كړې دى د هر يو ئې بيل بيل وضاحت كړې دې چه دهغې حاصل دا راوځى چه دا ضعيف دې، هسې دا حديث په صحاح سته كښې په سنن اربعه كښې دې، ددې نه علاوه په صحيح ابن خزيمه، او صحيح ابن حبان او مسند احمد كښې هم دى، امام ترمذى‌رحمه الله خلاف عادت په دې حديث باندې حكم د صحت يا حسن نه دې لګولې.

۳: **مسلك الإجمال:** يعنى په دې حديث كښې اجمال دې او حديث مجمل نه استدلال صحيح نه دې، دا جواب د امام طحاوى‌رحمه الله دې هغوى وائى چه قلة په څو معنو كښې استعماليږى، ددې معنى قامة رجل، رأس جبل، هر اوچت ځيز او د اوښ د قب په معنى كښې هم راځى، بله دا چه قلة د جره يعنى د منګى په معنى هم راځى، او بيا په منګى كښې هم څو قسمونه وى څه غټ وى او څه لوئې، هغوى وائى چه دلته قلة د جره په معنى كښې ده او ددې نه مراد جره كبيره ده چه دهغې مقدار دلته دوه نيم سوه او د يو قول په بناء درې سوه رطل دې او د قلتين مجموعى مقدار پنځه سوه يا شپږ سوه رطل دې، مونږ وايو چه قلة خو هر څنګه وى وړه هم او لويه هم، هغوى وائى چه د مقام هجر قلة مراد ده كومه چه په عرب كښې مشهوره ده، پس په يو روايت كښې د قلال هجر تصريح ده لكه چه د ابن عدى په كتاب الكامل كښې دى، علامه زيلعى‌رحمه الله جواب وركړو چه ددې په سند كښې مغيره بن سقلاب دې كوم چه منكر الحديث دې.

۴: **مسلك التاويل:** يعنى حديث مؤول دې د حديث معنى هغه نه ده كومه چه تاسو كوئ چه اوبه نۀ ناپاكيږى، بلكه د ﴿ لم يحمل الخبث ﴾ معنى ده چه ماء قليل اګر كه د دوه قلو برابر ولې نه وى هغه د نجاست متحمل نه وى، هغه نه برداشت كوى او نجس كيږى او په دې كښې د قلتين هيڅ تخصيص نشته بلكه مراد ترې نه هر قليل اوبه دى، دا جواب صاحب هدايه اختيار كړې دې هغوى وائى چه صاحب هدايه خو حنفى دې، مونږ وايو علامه طيبى‌رحمه الله چه شافعى دې او مشهور شارح د مشكوة دې هغوى هم ددې معنى احتمال ليكلې دې.

۵: **مسلك المعارضة بالروايات الصحيحة:** يعنى مونږ ددې حديث په مقابله كښې صحيح او

---

(۱) زمونږ استاذ محترم مولانا امير احمد صاحب‌رحمه الله په درس ترمذى كښې په حديث قلتين باندې كلام كولو سره فرمائيلى وو چه مونږ چه ددې حديث كوم جوابونه وركوو په هغې كښې به د هر جواب نه په مسلك سره تعبير كوو. مثلا مسلك الاضطراب. مسلك الاجمال وغيره پس د هغوى په اتباع كښې مونږ هم دا طرز اختيار كړو، يغفر الله لنا ولهم.

قوی روایات ددې په خلاف کښې پيش کوو، چه دهغې په صحت کښې هيڅ کلام نشته. ۱: يو حديث المستقيظ من النوم چه دهغې مضمون دا دې چه کله انسان د اودهٔ کيدو نه پس پاسيږي نو د اوبو په لوښی کښې دې لاس بغير د وينځلو نه نه داخلوي په دې کښې د لاس وينځلو ممانعت مطلقا کړې شوې دې که د هغه اوبو مقدار قلتين وي يا کم په ډيرو کورونو کښې په لوښو کښې قلتين بلکه دهغې نه هم زياتې اوبه په دې زمانه کښې جمع وې ددې باوجود دا حکم ورکولې شي، د قلتين او ما دون القلتين هيڅ تفريق نشته. ۲: بله دا چه په يو صحيح روايت کښې دی کوم چه په ابوداؤد کښې په دريم باب کښې راروان دې چه ﴿لا يبولن احدكم في الماء الدائم﴾ دا حديث د صحيحين بلکه د ټولو صحاح ستة دې، په دې حديث کښې په ماء راکد کښې که هغه قلتين وي او که زائد وی مطلقا د متيازو کولو نه منع کړې شوې ده، که د قلتين حکم د مادون القلتين نه مختلف وې نو دهغې طرف ته ضرور اشاره کيدل پکار وو چه خلق په تنګسيا کښې اخته نه شي.

۲: **مسلک الإلزام بإهمال بعض الحديث**: دا حديث په اصل کښې د سؤر سباع په باره کښې راغلې دې، لکه چه د باب په شروع کښې مونږ بيان کړې دی او د حديث مقتضی دا ده چه سور سباع دې ناپاک وی حال دا چه شوافع دهغې د ناپاکئ قائل نه دی، لهذا د حديث په جزئين کښې د يو إعمال او د بل إهمال لازم شو.

۷: **مسلک مخالفة الإجماع**: يعني دا حديث په يو لحاظ سره د اجماع خلاف دې وضاحت ددې دا دې لکه چه په طحاوی کښې دی چه يو حبشی په بئر زمزم کښې غورځيدلو سره مړ شوې وو نو هغه وخت سيدنا عبدالله بن زبير ﷺ او ابن عباس ﷺ دا فيصله فرمائيلې وه چه ددې پوره اوبه دې راويستلې شی په دې وخت کښې هلته نور صحابه کرامو هم موجود وو، چا هم په دې باندې انکار او نه فرمائيلو، او ښکاره ده چه د بئر زم زم اوبه به د قلتين نه زياتې وی بيا هم ناپاکې شوې معلومه شوه چه قلتين هم قليل دې، کثير نه دې.

د شوافعو د طرف نه چا دا جواب ورکړې دې چه کيدې شی چه د نزح بئر حکم د خروج دم د وجې نه ورکړې شوې وی يعنی ددې حبشی د بدن نه به وينه بهيدلې وی، مونږ وايو هم دا خبره صحيح ده خو چه کله هغه قلتين وې نو ولې ناپاکې شوې هغوی ددې نه علاوه نور هم جوابات ورکوی، بيهقی وغيره ددې قصې په روايت باندې سندا کلام کړې دې چه منقطع دې او بعضو وئيلي دی چه خپله اهل مکه ددې واقعې نه خبر نه دی دا قصه د هغوی په نزد مشهور نه ده، اهل کوفه ته ددې خبره څنګه اوشو او حال دا چه ددې واقعې تعلق د مکې سره دې تفصيل دې په اماني الاحبار کښې اوکتلې شي.

حافظ ابن القيم رحمه الله د ابوداؤد په شرح تهذيب السنن کښې په حديث القلتين باندې ډير تفصيلی کلام کړې دې او په شروع کښې ئې ليکلې دی چه ددې حديث نه استدلال کول پنځلس مقامات او منازلو لره عبور کولو باندې موقوف دی کوم چه تر اوسه پورې نه دی عبور شوې، پس هغوی ليکلې دی چه د اوبو په مسئله کښې عموم بلوی يعنی ابتلاء عام ده ټولو ته ددې حاجت دې او حديث القلتين لره روايت کونکی د عبدالله بن عمر ﷺ نه

علاوه څوک هم نه دی. په مشهورو روایتونو کښې صرف هم هغه ددې راوی دې، بله دا چه دا حدیث د عبدالله بن عمر ﷺ په شاګردانو کښې سوا د عبدالله او عبیدالله نه بل څوک نه روایت کوی، فأين سالم وابن نافع، یعنې سالم او نافع کوم چه د هغوی نه په کثرت سره روایت کونکی دی هغوی چرته لاړل. هغوی ولې دا حدیث د هغوی نه نه روایت کوی وغیره وغیره ډیر سوالونه جوابونه ئې کړی دی.

د حدیث القلتین په سلسله کښې د حضرت ګنګوهی رائې:

زمونږ حضرت ګنګوهي رحمه الله د حدیث القلتین په باره کښې یو خانله مسلک اختیار فرمائیلې دې، هغوی فرمائی چه په نجاست ما، کښې اصل د مبتلی به د رائې اعتبار دې، مولانا یحیی صاحب رحمه الله په کوکب کښې تحریر فرمائی چه کله په ترمذی شریف کښې حدیث القلتین راغلو نو حضرت په خپلو شاګردانو باندې یو مختصر شان حوض اوکنستلو کوم چه طولا او عرضا تقریبا شپږ لیشتې وو او د کنستلو نه پس قلتین اوبه په هغې کښې واچولې شوې بیا دهغې د یو طرف تحریک اوکړې شو چه په هغې سره جانب آخر متحرک نه شو نو په دې باندې حضرت اوفرمائیل چه حدیث القلتین زمونږ خلاف نه دې په دې وجه د هیڅ جواب کولو حاجت نشته. د حضرت ګنګوهی طبیعت د حدیث د توجیهاتو طرف ته ښه چلیدو په نسبت د تضعیف روایت یا د رواة طرف ته د وهم منسوب کولو، او حضرت ته د احادیثو په توجیه کښې ډیره ملکه حاصله وه. بهر حال د حضرت ګنګوهی دا جواب دې او حضرت په دې باندې نور هم تفصیلی کلام فرمائیلې دې په کوکب کښې دې اوکتلې شی خو زمونږ د حضرت شیخ رحمه الله میلان دې طرف ته نه وو لکه چه د حاشیه کوکب د کتلو نه معلومیږی

[۶۴]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ ح وحَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ أَبُو كَامِلٍ ابْنُ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: عبید الله بن عبد الله بن عمر د خپل پلار نه روایت کوي، یقینا رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوشوه په باره د اوبو کښې په دښتو کښې نو ذکر ئې کړه معنی د هغې

[۶۵]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ الْمُنْذِرِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ فَإِنَّهُ لَا يَنْجُسُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ وَقَفَهُ عَنْ عَاصِمٍ.

ترجمه: عبید الله بن عبد الله بن عمر وایي حدیث بیان کړی دی ماته زما پلار، بیشکه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه وي اوبه دوه قلې نو دغه نه نجس کیږي. وئیلی دي ابوداود حماد بن زید موقوف روایت کړی ئې دی د عاصم نه.

(): سنن الترمذي/الطهارة ۵۰ (۶۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۵ (۵۱۷، ۵۱۸)، (تحفة الأشراف: ۷۳۰۵) (حسن صحيح)
(): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ۷۳۰۵) (صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي بِئْرِ بُضَاعَةَ

باب دې په بيان د کوهي د بضاعه کې

د أحكام المياه په سلسله کښې دا هغه باب ثاني دې چه په هغې کښې مصنف رحمه الله د مالکيانو مستدل ذکر فرمائيلې دې په اول باب کښې د شوافع او حنابله مستدل تير شو

[۶۶] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ، وَهِيَ بِئْرٌ يُطْرَحُ فِيهَا الْحِيَضُ وَلَحْمُ الْكِلَابِ وَالنَّتْنُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَاءُ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ رَافِعٍ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دې، يقيناً شان دادی چه اووئيل شو رسول الله ﷺ ته، ايا مونږ اودس اوکړو د کوهي د بضاعه نه. او دا يو کوهی دی چه غورځولی شي په هغې کښې کپړې د حيض او غوښې د سپو او بدبويه شيان؟ نو اووئيل رسول الله ﷺ اوبه پاکې دې هيڅ شی ئې نه نجس کوی. وئيلی دي ابوداود وئيلی دي بعضو دعبدالله بن رافع په ځائې عبد الرحمن بن رافع

تشريح: ۱: ﴿ عن أبي سعيد الخدرى أنه قيل لرسول الله ﷺ الخ ﴾ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړې شو چه آيا د بئر بضاعه د اوبو نه اودس کول پکار دی يا نه، حال دا چه هغه يو داسې کوهی دې چه په هغې کښې ګندګئ، د حيض ګنده جامې، او دغه شان مردار ځناور سپی او نور ګنده خيزونه په هغې کښې اچولې شي نو په دې باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه اوبه طاهر او مطهر دی هيڅ څيز هغې لره نه نجس کوی

قوله: ﴿ انتوضاء ﴾ دا صيغه د جمع متکلم او واحد مذکر حاضر دواړو سره روايت کړې شوې دې، خو اصح صيغه د متکلم ده، او صيغه د واحد حاضر خلاف اولي او طريقې د سوال نه خلاف ده د مشرانو نه داسې سوال کول مناسب نه دی ﴿ بضاعة ﴾ د باء په ضمې او کسرې سره دواړو طريقو سره منقول دې، مشهور ضمه ده دا د مدينې طيبې په کوهيانو کښې يو مشهور کوهې دې بعض وائي چه بضاعة صاحب بئر د کوهي د مالک نوم دې، او بعضو وئيلې دی چه د هغه ځائې نوم دې چرته چه دا کوهې وو، نقل دی چه رسول الله ﷺ د خپل اودس غسالة او لاړې په هغې کښې اچولې وې او رسول الله ﷺ به ددې کوهي اوبو لره مريض ته د صحت په نيت باندې د څکلو دپاره فرمائيل. ﴿ يطرح ﴾ يعنې غورځولې شی خو ددې مطلب دا نه دې چه قصداً په کښې اچولې شی او خلق داسې کوی بلکه دا دې چه ددې کوهي محل وقوع په داسې ښکته زمکه کښې وه چه د هوا او سيلاب په ذريعه به ګندګئ هغې ته غورځيدلې. ځکه چه د اوبو د خرابولو دپاره هيڅ پوهه انسان نه تيارېږي، غير مسلم هم داسې نه شی کولې پاتې لا مسلمان. شارحينو داسې ليکلې دی، حيض جمع ده د

(): سنن الترمذي/الطهارة ۴۹ (۶۶)، سنن النسائي/المياه ۱ (۳۲۷، ۳۲۸)، (تحفة الأشراف: ۴۱۴۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۵،۱۶،۳۱،۸۶) (صحيح)

حیضة بالکسر چه دهغې معنی ده د حیض (په وینه ګنده) کیږي.

د حدیث بئر بضاعة نه د مالکیانو استدلال او د نورو ائمة ددې نه اعتذار:

﴿ قوله الماء طهور ولا ینجسه شئ ﴾ د اوبو په مسئله کښې د ائمه اربعه نه د ټولو نه زیات توسع د مالکیانو په نزد دې، ددې حدیث نه هغه حضرات استدلال کوی چه په حدیث کښې د ماء قلیل او کثیر هیڅ تفریق نشته، د ټولو اوبو په باره کښې داسې وئیلې شوې دی چه هغه ناپاک کیږی نه خو په دې کښې اشکال دې چه د تغیر وصف نه پس خو د هغوی په نزد هم نجس کیږی په دې وجه هغوی اووئیل چه د تغیر وصف والا شکل مستثنی دې ځکه چه په دې حدیث کښې د دارقطنی په یو روایت کښې ﴿إلا ما غلب علی ریحه أو طعمه ﴾ زیادت موجود دې او اوس مطلب دا دې چه ماء قلیل وی یا کثیر ناپاک کیږی نه مګر دا چه ددې یو وصف بدل شی، دویم فریق دا وائی چه ددې حدیث نه ستاسو استدلال د دارقطنی نه د استثناء والا روایت نه بغیر ممکن نه دې او د دارقطنی راویت ضعیف دې هغه قابل استدلال نه دې.

شوافعو او حنابله د خپل مسلک د وجې نه اووئیل چه په دې حدیث کښې د اوبو نه مراد مطلق اوبه نه دی بلکه هغه اوبه مراد دی کوم چه مسئول عنه دی یعنی ماء بئر بضاعة، لهذا مطلب دا شو چه د بئر بضاعة اوبه پاکې دی ﴿ لا ینجسه شئ ﴾ او دهغې وجه دا بیانوی چه بئر بضاعه لوئې قسم کوهې وو، ددې اوبه په هیڅ حال کښې هم د قلتین نه کمې نه وې، پس هم په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ څیز دا نه ناپاکوی، خو د تغیر الوصف نه پس خو بالاجماع ناپاکه کیږی په دې وجه هغه صورت خارج دې.

احناف په دې حدیث کښې د خپل مسلک په رنړا کښې اووئیل چه خبره خو هم دغه شان ده ځنګه چه شوافع وائی چه په دې حدیث کښې د اوبو نه د بئر بضاعة اوبه مراد دی، خو په حدیث کښې چه په دې باندې کوم د عدم تنجس حکم لګیدلې دې هغه په دې وجه نه دې چه د بئر بضاعة اوبه قلتین دی بلکه ددې وجې نه دې چه د هغه کوهې اوبه په وجه د کثرت استعمال په منزله د جاری وې او جاری اوبه په وقوع د نجاست سره پلیتیږی نه، پس شارحینو لیکلې دی چه ډیر باغونه د بئر ساعده به ددې کوهې په ذریعه خړوب کولې شو، وائی چه هغه پنځه باغونه وو، د اوبو د جاری کیدو مطلب دې دا او نه ګنړلې شی چه هغه د نهر په شان جاری وو بلکه مطلب هغه دې کوم چه پورته اولیکلې شو، ددې کوهې د اوبو جریان امام طحاوی رحمه الله د واقدی نه نقل کړې دې، هغوی دا وائی چه د واقدی قول حجت نه دې، موږ وایو چه د واقدی قول کم از کم په تاریخ کښې حجت دې، په احکام شرعیه کښې دې نه وی او دا خبره یعنی ددې کوهې د اوبو جاری کیدل د تاریخ یعنی د تاریخ بئر بضاعة سره متعلق دی.

حدیث بئر بضاعة په باره کښې د امام طحاوی رحمه الله رائې:

یو خبره دلته ډیره اهم ده چه دهغې طرف ته امام طحاوی رحمه الله اشاره فرمائیلې ده، هغه دا چه د مالکیانو استدلال ددې حدیث نه هغه وخت صحیح دې چه کله په حدیث کښې دا مراد

وی چه مذکوره نجاست په دې کښې فی الحال موجود دی ځکه چه د هغوی مسلک هم دا دې چه اوبه که قلیل وی او که کثیر وی د وقوع نجاست نه پس د نجاست په هغې کښې د کیدو سره تر هغه وخته پورې په اوبو کښې تغیر نه وی پیدا شوې نه نجس کیږی او دلته داسې نشته ځکه چه دا خبره عند العقل محال ده چه په یو کوهي کښې دې دومره ډیر نجاسات واقع شی او بیا دې دهغې اوبه متغیر نه شی بلکه تغیر ضروری دې، او د تغیر نه پس اوبه د ټولو په نزد نجس کیږی، لهٰذا د حدیث معنی دا متعین ده چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم مراد دا دې چه یا رسول الله ﷺ بئر بضاعه داسې کوهي دې چه په هغې کښې داسې قسم نجاستونه پریوځی، او بیا د کثرت استعمال د وجې نه هغه ټول اوخې نو اوس ددغې نجاستونو په وتلو باندې آیا موثرِ هغه پاکې اوګنړو یا ناپاکې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل نه بلکه پاکې دې اوګنړلې شی، لهٰذا د ﴿الماء طهور لا ینجسه شئ﴾ معنی دا شوه چه د کوهي د ناپاکه کیدلو نه پس هغه د همیشه همیشه دپاره ناپاک نه وی بلکه د إخراج نجاست نه پس پاک کیدې شی لکه چه په یو بل حدیث کښې ئې ارشاد فرمائیلې دې : ﴿المؤمن لا ینجس﴾ ددې دا معنی نه ده چه مومن نه ناپاک کیږی بلکه مراد دا دې ﴿لا یبقی نجسا أی بعد التطهیر﴾ علی هذا القیاس د کوهي اوبه، دا مطلب نه دې چه ناپاک کیږی نه بلکه ناپاک باقی نه پاتې کیږی، لهٰذا د مالکیانو استدلال ددې حدیث نه بې محل دې هذا ما قاله الطحاوی زه وایم هم دغه شان د شافعیه چه ددې حدیث کوم عذر د خپل مسلک مطابق بیان کړې وو چه د بئر بضاعة اوبه قلتین وې په دې وجه نجس نجس نه شوې، د امام طحاوی رحمه الله د پورته تقریر نه پس دا اعتذار هم هباء منثورا شو.

(اشکال): اوس به د امام طحاوی رحمه الله په دې تقریر باندې دا اشکال وی چه که مراد دا دې چه د اخراج نجاست نه پس صحابه کرام رضی الله عنهم دا سوال کوی چه اوبه پاکې دی او که ناپاکې نو اوس د سوال څه خبره پاتې شوه، چه کله هرکله ترې نه نجاست ویستلې شو نو پاک شو؟

(جواب): جواب دا دې چه د اخراج نجاسات نه پس هم دا مقام محل د سوال دې ځکه چه د عقل او قیاس تقاضه دا ده چه کوهي که هر یو وی د یو ځل ناپاکه کیدو نه پس سره د اخراج نجاست د بیا دپاره هغه کله هم پاک نه شی ځکه چه په کوهي کښې دننه چه کومه خټه او خاوره ده او د کوهي څلورو وارو طرفونو ته چه کوم دیوالونه دی هغه یو ځل ناپاک شوی دی، د اخراج نجاست او نزح ماء باوجود هغه دیوالونه او خاوره څنګه پاک کیدې شی لهٰذا یو ځل کوهي ناپاک کیدو سره د همیشه دپاره ناپاک کیدل پکار دی، نو ددې خیال رسول الله ﷺ تردید اوفرمائیلو چه د قیاس تضاضا که هر څه وی خو حکم شرعی او مسئله دا ده چه که کوهي د نجاست په غورځیدلو باندې ناپاک شی نو اخراج نجاست او نزح ماء نه پس د دې کوهي د اوبو د پاکوالی حکم کولې شی

د حدیث د پورته ذکر شوې تشریح او تقریر نه پس حدیث بئر بضاعة د احناقو د مستدل بللو مستحق دې پس علامه عینی رحمه الله یو ځائې کښې لیکلې دی وعلیه عمل الحنفیة ای بعد تعین المراد، والله اعلم.

يوه خبره دا هم معلومه شوه چه دحديث الباب نه په خپل عموم باندې په اتمو کښې دچا په نزد هم استدلال نه دې کړې، بلکه هر يو امام په دې کښې دخپل مسلک مطابق قيد لګولې او استدلال يا اعتذار ئې کړې دې

[٦٧] ( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيَّانِ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَلِيطِ بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيِّ ثُمَّ الْعَدَوِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُقَالُ لَهُ: إِنَّهُ يُسْتَقَى لَكَ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ، وَهِيَ بِئْرٌ يُلْقَى فِيهَا لُحُومُ الْكِلَابِ وَالْمَحَايِضُ وَعَذِرُ النَّاسِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ" قَالَ أَبُو دَاوُد: وسَمِعْت قُتَيْبَةَ بْنَ سَعِيدٍ، قَالَ: سَأَلْتُ قَيِّمَ بِئْرِ بُضَاعَةَ عَنْ عُمْقِهَا. قَالَ: أَكْثَرُ مَا يَكُونُ فِيهَا الْمَاءُ إِلَى الْعَانَةِ، قُلْتُ: فَإِذَا نَقَصَ؟ قَالَ: دُونَ الْعَوْرَةِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدَّرْتُ أَنَا بِئْرَ بُضَاعَةَ بِرِدَائِي مَدَدْتُهُ عَلَيْهَا، ثُمَّ ذَرَعْتُهُ فَإِذَا عَرْضُهَا سِتَّةُ أَذْرُعٍ، وَسَأَلْتُ الَّذِي فَتَحَ لِي بَابَ الْبُسْتَانِ، فَأَدْخَلَنِي إِلَيْهِ، هَلْ غُيِّرَ بِنَاؤُهَا عَمَّا كَانَتْ عَلَيْهِ؟ قَالَ: لَا. وَرَأَيْتُ فِيهَا مَاءً مُتَغَيِّرَ اللَّوْنِ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري نه روايت دې، هغه وئيلې دي: ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه او هغه ته وئيل کيده، شان دادی چه راؤرلې شي اوبه ستا لپاره د کوهي د بضاعه نه، او هغه يو کوهې دې چه غورځولې شي په هغې کښې غوښې د سپو، او کپړې د حيض، او پليټې د خلقو، نو اووئيله رسول الله ﷺ بيشکه اوبه پاکې دي نشي پليتولې هغې لره هيڅ څيز. وئيلې دي ابوداود: ما اوريدلي دي د قتيبة بن سعيدنه، هغه وئيلې دي: ما پوښتنه اوکړه د څوکيدار دکوهي د بضاعه نه د ژوروالي د هغې، نو هغه اووئيل اکثر اوبه چه په هغې کښې دې تر نامه نه لاندې پورې وي، نو ما اووئيل نو کله چه اوبه کمې شي، نو هغه ووئيل لاندې د عورت نه. وئيلې دي ابوداود: او ما اندازه ولګوله د بئر بضاعه په خپل څادر نو خور مې کړو په هغې باندې، بيا ما په ګزونو کړو نو دهغې سورې شپږ ګزه (لاسه) وو، او ما پوښتنه اوکړه د هغه کس نه چه ماته ئې د باغ دروازه کولاو کړه او زه ئې ورته ورننه کړم، آيا ددې بناء بدله شوه دهغې نه چه دا وړباندې جوړ شوې وو؟ نو هغه اووئيل نه، او ما په هغې کښې اوبه اوليدلې چه رنګ ئې بدل شوې وو.

تشريح: (راوي بحديث): **قوله:** ﴿ عن عبيدالله بن عبدالله ﴾ ددې حديث په سند کښې دا راوی دې د هغه په باره کښې وئيلې شوي دی چه مجهول دې، بعضو وئيلي دی چه مستور دې، او د هغوی په نوم کښې اختلاف دې، بعضو وئيلي دی عبيدالله، او بعض وائی عبدالله، بيا د پلار په باره کښې هم دوه اقوال دی يو عبدالله او بل عبدالرحمن، دغه شان څلور اقوال شو، ١: عبيدالله بن عبدالله، ٢: عبيدالله بن عبدالرحمن، ٣: عبدالله بن عبدالله، ٤: عبدالله بن عبدالرحمن او پنځم قول دا دې چه د هغه نوم عبد الرحمن بن رافع دې

حديث بئر بضاعة د صحت او سقم په اعتبار سره:

دا حديث بئر بضاعة د سنن اربعه روايت دې په صحيحين کښې نشته امام ترمذي رحمه الله دې نه

( ): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤١٤٤) (صحيح)

حسن وئيلي دي او امام احمدﷺ ددي تصحيح كړي ده، خو ابن القطان د مذكوره راوى د وجي نه دي حديث ته معلل وئيلي دي، او دا مخكښې بيان شوي ده چه په دي حديث كښې د دارقطني په يو روايت كښې ﴿ إلا ما غلب على ريحه أو طعمه أو لونه ﴾ زيادت دي او دا هم ذكر شو چه دا زيادت ضعيف دي، ځكه چه په دي كښې رشدين بن سعد دي كوم چه متروك دي.

قوله:﴿ قال أبوداؤد وسمعت قتيبة ﴾ قتيبهﷺ چه د مصنفﷺ شيخ دي فرماني چه ما د بئر بضاعة د نګران نه ددي كوهي د ژور والى په باره كښې تپوس اوكړو چه په دي كښې زيات نه زيات څومره اوبه وى نو هغه اووئيل ﴿ الى العانة ﴾ يعنى د نامه پورې او وې وئيل چه كله كمې شي نو تقريبا د كونډو پورې باقي وى.

د دې نه پس بيا امام ابوداؤدﷺ فرمائي چه كله زما مديني طيبي ته حاضرى اوشوه نو زه هم ددې كوهي د كتلو دپاره لاړم، امام ابوداؤدﷺ دا اهتمام اوفرمائيلو چه د خپل څادر په ذريعه ئې دهغې عرض ناپ كړو، د ناپ كولو شكل دا بيانوى چه اول ما خپل څادر ددې كوهي په خلې باندې خور كړو، بيا چه څومره حصه په كوهي باندې وه هغه مې ناپ كړه چه په هغې سره عرض معلوم شو، كوم چه شپږ ذراع وو، او فرمائي چه ما ددې باغبان نه چا چه زه دې كوهي ته رسولې ووم سوال اوكړو چه په دې كوهي كښې څه تعميرى تغير شوې دې يا كه هم په هغه بناء باندې قائم دې كوم چه په عهد نبوى كښې وو؟ نو هغه اووئيل چه دا هم په هغه حال باندې دې، امام ابوداؤدﷺ فرمائي چه ما هغې ته په ورښكاره كيدو سره اوكتل نو دهغې اوبه مې متغير اللون بيا موندلې، په باغونو كښې چه كوم كوهيان وى په هغې كښې چونكه د اونو پاڼې غورځيږى په دې وجه د اوبو په رنګ كښې ضرور تغير راځي، په ظاهر كښې دا هم دهغې اثر وو.

دلته يو مسئله ده هغه دا چه ما، مخلوط بشئ طاهر سره طهارت جائز دې او كه نه؟ ائمه ثلاثه وائي چه كه اوبو سره يو پاك څيز ملاؤ شي چه په هغې سره د اوبو وصف متغير شي لكه صابون يا د خطمي اوبه نو په دې سره طهارت وضوء او غسل جائز نه دې، د احنافو په نزد جائز دې، او هم دا يو روايت د امام احمدﷺ نه دې پس په دې كتاب كښې په ابواب الغسل كښې يو مستقل باب ددې سلسلې راروان دې، باب في الجنب يغسل رأسه بالخطمي.

امام ابوداؤدﷺ او د هغوى شيخ قتيبه دواړو چه ددې كوهي د تحقيق حال كوم اهتمام فرمائيلې دې هغه په دې وجه چه دا د رسول اللهﷺ د زمانې يو مبارك كوهې وو، د مديني طيبي په مشهورو كوهيانو كښې دې او د طهارت ما، او نجاست ما، يو مسئله شرعيه ددې سره تړلې وه، لهذا ددې شايان شان ددې سره معامله اوكړې شوه.

او دا هم بيانول غواړى چه هغه يو لونې كوهې وو چه په هغې كښې اوبه ډيرې وې، په ظاهر كښې دا وئيل غواړى چه د قلتين نه كمې نه وې هم په دې وجه رسول اللهﷺ دهغې د عدم نجاست حكم اوفرمائيلو، موږ وايو چه د هغه كوهي د اوبو د كثرت نه موږ انكار نه كوو سره د كثرت نه خيره هم هغه ده كومه چه احناف كوى ماءه كان جاريا في البساتين... او په اصل كښې د هغه كوهي د عدم تنجس هم دا وجه ده

بَابُ الْمَاءِ لَا يَجْنُبُ

باب دې په بيان د دې کې چې اوبه نه نجس کيږي

د ترجمة الباب تشريح او د هغې غرض :

دا ترجمة بلفظ الحديث ده، وړاندې په حديث کښې هم دا الفاظ راروان دي، د احقر رائې دا ده چه چونکه د نجاست دوه قسمونه دی، حسيه او معنويه، نو په تيرو دوؤ ابوابو کښې د هغه اوبو ذکر وو کومې چه د نجاست حسيه نه متاثر شوی وی او دلته د هغه اوبو حکم بيانوی کوم چه د نجاست معنويه نه متاثر شوې وی، د نجاست معنويه نه مراد حدث او جنابت دې يعنی هغه اوبه چه دهغې په ذريعه حدث اصغر يا د حدث اکبر ازاله کړې شوې وی هغه اوبه ناپاکې دی که پاکې، او تاسو ته معلومه ده چه داسې اوبو ته په اصطلاح د فقهاء کرامو کښې ماء مستعمل وئيلې شی نو ګويا د مصنف رحمه الله غرض په دې باب کښې د ماء مستعمل حکم بيانول دی

په ماء مستعمل کښې مذاهب ائمة :

د ماء مستعمل مسئله اختلافی ده، د امام مالک رحمه الله مشهور قول دا دې چه طاهر او مطهر دی، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله راجح قول دا دې چه طاهر دی مطهر نه دی، او د احنافو په نزد درې روايتونه دی مشهور او راجح هم دا دې چه طاهر دی او مطهر نه دی دا د امام صاحب او امام محمد رحمه الله روايت دې، او بل روايت د امام صاحب د کوم راوی چه امام ابويوسف رحمه الله او حسن بن زياد رحمه الله دي هغه دا دې چه نجس دی، خو د حسن بن زياد نه نجاست غليظه او د ابويوسف رحمه الله نه نجاست خفيفه منقول دی

[۶۸](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ، فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَتَوَضَّأَ مِنْهَا أَوْ يَغْتَسِلَ، فَقَالَتْ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ".

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې هغه وائی چه غسل اوکړو بعضو بيبيانو د نبي ﷺ په يوه لويه کاسه کښې، نو نبي ﷺ راغی چه اودس اوکړي دهغې نه او يا غسل اوکړي، نو هغې ورته اووئيل اې د الله رسوله! زه جنابت کښې وم، نو اووئيل رسول الله ﷺ: بيشکه اوبه نه جنب کيږي

تشريح: **قوله**: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي جَفْنَةٍ ﴾ د بعضو نه مراد د ابن عباس رضی الله عنه ترور سيده ميمونه رضی الله عنها ده لکه چه د دارقطني وغيره په روايت کښې دی، او چونکه دې دهغې محرم وو په دې وجه د کور خبره نقل کوی چه دهغې حاصل دا دې چه يو ځل سيده ميمونه رضی الله عنها په يو لوښی کښې په اوبو سره غسل اوفرمائيلو.

(١): سنن الترمذي/الطهارة ٤٨ (٦٥)، سنن النسائي/المياه (٣٢٦) بلفظ: «لا ينجسه شيء»، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٣ (٣٧٠، ٣٧١)، (تحفة الأشراف: ٦١٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٥، ٢٤٨، ٣٠٨، ٣٣٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٥٧ (٧٦١) (صحيح)

دهغې نه پس هم په دې اوبو سره د غسل يا اودس دپاره رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، په دې باندې ميمونې ﷺ عرض اوکړو چه دا زما د غسل نه بچ شوې اوبه دی او ما په دې غسل د جنابت کړې دې.

مطلب ئې دا وو چه تاسو دا مه استعمالوئ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ ان الماء لا يجنب ﴾ يعنې که جنب اوبه استعمال کړی نو کومې اوبه چه باقی پاتې شوې دی هغې ته به جنبی نه شی وئيلې هغه خو په خپل حال يعنې طهارت باندې قائمې دی.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت:

اوس سوال دا دې چه د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت څنګه دې، ځکه چه په ترجمې سره خو د ماء مستعمل حکم بيانول دی نو آيا دا باقی اوبه مستعمل وې؟ جواب دا دې چه دا اوبه خو واقعی مستعمل نه وې خو رسول الله ﷺ چه کوم الفاظ ارشاد اوفرمائيل ﴿ الماء لا يجنب ﴾ ددې نه دا مفهوم راوځی، ځکه چه د اوبو د نه جنب کيدو څه مطلب؟ هم دا مطلب دې چه د جنابت په اثر او په جنابت کښې استعمالولو سره اوبه نه متاثر کيږی، ګويا ترجمة الباب د حديث نه مترشح کيږی، او دا هم وئيلې شی چه کله محدث يا جنبی د اوبو په لوښی کښې لاس اوهی نو په دې لحاظ سره به هغه اوبه مستعمل شی، ځکه چه لاس وهونکی جنبی دې او دلته به هم په ظاهر کښې هم دغه شان شوې وی^(۱) چه ميمونې ﷺ به د غسل په شروع کښې خپل لاس په هغې کښې اچولې وی او په لاسونو کښې ښکاره ده چه د جنابت اثر وو لهذا دا اوبه مستعمل شوې، غرض دا چه د اثبات ترجمه دپاره صريح مطابقت ضروری نه دې بلکه د ترجمې طرف ته په حديث کښې اشاره کيدل کافی دی.

قوله : ﴿ فی جفنة ﴾ حضرت په بذل کښې ددې توجيه داسې فرمائيلې ده ﴿ أی مدخلة يدها فی جفنة ﴾ يعنې په لوښی کښې لاس داخلولو سره ئې اوبه اخستلې او د دارقطنی په روايت کښې د ﴿ فی ﴾ په ځائې لفظ د ﴿ من ﴾ دې. هغه خو بالکل صفا دې تاويل ته محتاج نه دې، حضرت چه کوم تاويل فرمائيلې دې دهغې وجه دا ده چه دلته ظرفيت حقيقی مستبعد دې ځکه چه دا خبره په فهم کښې راتلونکې نه ده چه ميمونې ﷺ دې په خانک کښې دننه په ناسته غسل کړې وی او بيا دې هم رسول الله ﷺ دهغې نه د اودس يا غسل اراده فرمائی دا د نظافت بالکل خلاف ده. ﴿ لا يجنب ﴾ دا باب إفعال نه هم کيدې شی په دې صورت کښې به بضم اليا، وی، او د مجرد نه هم کيدې شی، مجرد کښې ددې مصدر د باب فتح او سمع او کرم درې واړو نه راځی.

---

(۱) خو ويونکې وئيلې شی چه ظاهر دا ده چه ميمونې ﷺ به دې لوښی کښې لاس د وينځلو نه پس ننويستلې وی د وينځلو نه مخکښې لوښی ته لاس دننه کول د هغوی د شان نه بعيد دی خو د رسول الله ﷺ الفاظ ﴿ إن الماء لا يجنب ﴾ په واقعه باندې په ښه طريقې سره هغه وخت منطبق کيږی چه کله هغوی لاس په لوښی کښې د غسل نه مخکښې داخل کړې وی او د الفاظ نبوی د وجې نه ترجمة الباب ثابتيږی.

بَابُ الْبَوْلِ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ

باب دې په بيان د متيازو کې په ولاړو اوبو کې

[۶۹]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ فِي حَدِيثِ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ مِنْهُ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې، چه رسول الله ﷺ وئيلي دي: متيازې دې نه کوي يو ستاسو نه په اوبو ولاړو کښې چه بيا غسل کوي د هغې نه.

حديث الباب د احنافو واضح دليل:

دا هغه دريم باب دې چه دهغې په باره کښې مخکښې ذکر شوې وو چه په دې سره د احنافو د مسلک تائيد کيږي په حديث الباب کښې په ماء دائم کښې د متيازو کولو نه منع کړې شوې ده او دا چه متيازې کولو سره دې هغه ناپاکې نه کړې شي، اوس مونږ وايو چه اوګورئ رسول الله ﷺ مطلقا په ماء دائم کښې د متيازو کولو نه منع اوفرمائيله اوس هغه ماء دائم قلتين هم کيدې شي او دهغې نه کمې او زياتې هم د رسول الله ﷺ نه په دې کښې هيڅ تخصيص نه دې کړې شوې ابن دقيق العيد فرمائي چه دا حديث د احنافو مستدل دې، او هغوی دا هم ليکي!

امام شافعي رحمه الله دا په مادون القلتين باندې محمول کوی، امام مالک رحمه الله چونکه د ﴿ الماء طهور لا ينجسه شئ ﴾ والا روايت نه استدلال کوی او ګويا هغه د هغوی موافق دې، او ښکاره ده چه حديث الباب دهغې خلاف دې څکه چه ددې نه معلوميږی چه اوبه نجس کيږی. په دې وجه مالکيانو ددې حديث حل دا راويستلو چه دا صرف په کراهت باندې محمول کړې شی يعنی اګرچه ناپاکې به نه شي خو کول ئې نه دی پکار، مکروه دی، شوافعو د خپل مسلک مطابق دا تاويل اوکړو چه دا حديث په هغه اوبو باندې محمول دې کومې چه ما دون القلتين وی، د قياس تقاضه خو دا وه چه د شوافعو او حنابله دوارو جواب يو وو څکه چه دواړه د قلتين قائل دی، خو امام احمد رحمه الله دا نه دی فرمائيلې، بلکه هغوی يوه بله خبره فرمائيلې ده هغه دا چه مقدار د قلتين اګرچه په وقوع د نجاست سره نه نجس کيږی تر څو چه پکښې تغير نه وی واقع شوې، خو د انسان متيازې ددې نه مستثنی دی، يعنی د انسان د بول په وقوع سره قلتين هم ناپاکه کيږی، خو ددې نه علاوه د نورو نجاستونو حکم هم هغه دې کوم چه امام شافعي رحمه الله فرمائي چه قلتين به ناپاک نه وی او دهغې نه کم به ناپاک وی. غرض دا چه دا حديث د جمهورو په نزد مؤول او مقيد دې په خلاف د احنافو چه د هغوی خو دليل دې

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤٥۲۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٦۸ (۲۳۹)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۸ (۲۸۱، ۲۸۲)، سنن الترمذي/الطهارة ٥۱ (٦۸)، سنن النسائي/الطهارة ٤٦ (٥۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۲٥ (۳٤۳)، مسند احمد (۲/۲٦۷، ۳٤٦، ۳٦۲، ٤٦٤)، سنن الدارمي/الطهارة ٥٤ (۷٥۷) (صحيح)

د طهارة الماء په مسئله کښې د احنافو دلائل :

بله دا چه د احنافو د مسلک تائید د حدیث المستقیظ من النوم نه هم کیږی ځکه چه دهغې حاصل هم دا دې کوم چه د حدیث الباب دې چه په لوښی کښې چه کومې اوبه پرتې دی کومې چه ولاړې اوبه دی په هغې کښې دې لاس بغیر د وینځلو نه داخل نه کړې شی، دلته هم د قلتین او د مادون القلتین هیڅ فرق نه دې بیان شوې، او هم دغه شان د ولوغ الکلب روایات هم مطلق دی، او دا درې واړه احادیث کوم چه د احنافو مستدل او ماخذ دې د صحت او قوة په اعتبار سره د حدیث القلتین په مقابله کښې ډیر اوچت دی متفق علیه دی ددې په صحت کښې هیڅ کلام نشته

قوله:﴿ لا یبولن احدکم ﴾ د جمهورو په نزد د بول تخصیص نشته، د غائط حکم هم دا دې بلکه نور هم زیات سخت دې، هم دغه شان فی الماء الدائم کښې تول صورتونه داخل دی که براه راست په ماء دائم کښې متیازې اوکړی او که هغې ته نزدې اوکړی چه بهیدلو سره هغې ته راشی یا په یو لوښی کښې متیازې اوکړی او دهغې لوښی نه په هغې کښې واچوی او دا ټول څیزونه عقلی بدیهی او ښکاره دی بل څه دلیل ته محتاج نه دی، خو دلته ظاهریه خیل ظاهریت ښه ښودلې دې او هغوی وئیلی دی چه دا حکم د بول سره خاص دې غائط په دې کښې داخل نه دی هم دغه شان براه راست په ماء دائم کښې متیازې کول ممنوع دی په لوښی وغیره کښې که اوکړی اوبیا ئې په دې کښې واچوی نو هیڅ باک نشته، ددې وجه صرف جمود علی الظاهر دې

د باب د دواړو احادیثو په مفهوم او مقتضی کښې فرق :

قوله: ﴿ لم یغتسل فیه ﴾ ددې حدیث نه معلومه شوه چه ممانعت د جمع بین الغسل والبول دې یعنی اول په ماء دائم کښې متیازې اوکړی او بیا دهغې نه غسل اوکړی، منفردا د هر یو ممانعت نه دې، پس په ماء دائم سره غسل کولو کښې باک نشته او دویم حدیث کوم چه وړاندې راروان دې په هغې کښې په ځائې د ثم واؤ دې او د منه په ځائې فیه دې ﴿ ولا یغتسل فیه ﴾ په دې دویم حدیث کښې د نهی تعلق د بول فی الماء الدائم او اغتسال فی الماء الدائم هر یو سره دې، یعنی په ماء دائم کښې دې نه متیازې کوی او نه دې په هغې کښې داخلیدو سره غسل کوی په دواړو صورتونو کښې به اوبه ګنده کیږی

شرح السند : ﴿ قوله فی حدیث هشام ﴾ دا په دې سند کښې یو نوې لفظ راغلې دې کوم چه عام طور نه وی ددې په مطلب کښې دوه اقوال دی، د حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دی ﴿ ای فی حدیث هشام الطویل والمذکور ههنا جزء منه ﴾ یعنی احمد بن یونس وائی چه زائده ماته د هشام یو طویل حدیث بیان کړې دې چه دهغې یوه حصه هغه ده کومه چه دلته ذکر کړې شوه، دویم مطلب ددې هغه دې کوم چه حضرت په بذل کښې لیکلې دې ﴿ فی حدیث هشام ای من حدیثه لامن حدیث غیره ﴾ مطلب دا دې چه د زائده په دې حدیث کښې ډیر شیوخ دی د ځا نه چه زائده ته دا حدیث رسیدلې دې، دهغوی نه یو هشام هم دې او زائده وائی چه زه چه دلته کوم حدیث بیانوم، هغه د خپل شیخ هشام نه نقل کوم. اګرچه دا حدیث د نورو

شيوخو نه هم ماته رارسيدلې دي

[۰۰]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَلَا يَغْتَسِلْ فِيهِ مِنَ الْجَنَابَةِ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلې دي چه رسول الله ﷺ وئيلې دی: متيازې دې نه کوي يو ستاسو نه په اوبو ولاړو کښې، او غسل دې نه کوي په هغې کښې د جنابت نه

بَابُ الْوُضُوءِ بِسُؤْرِ الْكَلْبِ

باب دې په بيان داودس کې په جوټې د سپي

سؤر سباع کښې مذاهب ائمة:

کلب د سباع بهائم نه دې نو ګويا ددې خائې نه مصنف رحمه الله د سؤر سباع مسئله بيانول غواړي او خاص طور سره د کلب او هرة جوټه لکه چه په بل باب کښې به راشي.

د سؤر سباع په باره کښې د ائمه اربعه اختلاف دې، امام مالک رحمه الله د ټولو حيواناتو جوټې ته پاک وائي، خو د سؤر خنزير په باره کښې د هغوی دوه اقوال دی، طاهر او غير طاهر، د امام شافعي رحمه الله په نزد هم سؤر سباع پاک دې خو هغوی صرف د دوو څيزونو استثناء ذکر کړي ده خنزير او سپې، د احنافو په نزد سؤر سباع مطلقا ناپاک دې صرف هرة دهغې نه د يو خاص وجې نه مستثنى ده چه دهغې باب وړاندې راروان دې د حنابله په نزد په سور سباع کښې دواړه اقوال دی د طهارت هم او د عدم طهارت هم.

په حديث الباب کښې درې اختلافی مسائل:

د دې تمهيد نه پس خان پوهه کړه چه په دې ترجمة الباب کښې درې مسئلې دی، اول دا چه سؤر کلب پاک دې يا ناپاک، دويمه دا چه په دې سره اودس جائز دې او که نه، دريم دا چه ولوغ کلب نه پس د لوښی د پاکولو طريقه څه ده؟

پس خان پوهه کړه چه د سپي جوټه د جمهورو علماء کرامو اود ائمه ثلاثه ؤ په نزد ناپاک ده، د مالکيانو په دې کښې اختلاف دې، مشهور قول دا دې چه سؤر کلب او خنزير بلکه د ټولو سباع جوټه ناپاکه ده، په فيض الباری کښې دی چه ګويا د مالکيانو په نزد د سؤر سباع باب د سره شته دې نه.

هسې خو په دې کښې د مالکيانو درې اقوال دی، ۱: مطلقا ناپاک د جمهورو په مثل، ۲: مطلقا پاک دې، ۳: د کلب ماذون الاتخاذ (چه دهغې پالل جائز وی) جوټه پاکه ده او د غير ماذون جوټه ناپاک ده، څلورم قول هغه دې کوم چه ابن الماجشون المالکی ته منسوب دې، هغوی په کلب بدوی او حضری يعنی په کلی وال او ښارتي سپی کښې فرق کوی د کلب بدوی جوټه طاهر او د حضری غير طاهر دي

مسئله ثانيه يعنی جواز الوضوء بسؤر الکلب، دا په اول مسئله باندې متفرع ده، جمهور

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۲۵ (۳٤٤)، (تحفة الأشراف: ۱٤۱۳۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤۳۳/۲) (حسن صحيح)

علماء ائمه ثلاثه د چا په نزد چه د سپي جوټه ناپاکه ده د هغوی په نزد په دې سره اودس هم جائز نه دې،

او د امام مالک رحمه الله په نزد (۱) د يو قول په بناء باندې په دې سره اودس جائز دې، دلته دوه اقوال نور دی، امام زهري رحمه الله فرمائي: يجوز ان لم يكن غيره... چه كه د سؤر كلب نه علاوه نورې اوبه وى نو بيا جائز دى،

(۲) دويم قول د سفيان ثوري رحمه الله دې هغوى فرمائي: هذا ماء وفي النفس من شئ يتوضا به وتيمم يعنى هغوى فرمائي چه سؤر كلب اوبه دى خو د نفس د طرف نه په دې كښې شک دې، لهذا په دې باندې دې اودس هم اوکړی او ورسره دې تيمم هم اوکړی.

په مسئله ثالثه کښې دا اختلاف دې چه د احنافو په نزد خو ددې لوښي د پاکولو هم هغه طريقه ده کومه چه د نورو نجاستونو د پاکولو ده، او جمهور علماء ائمه ثلاثه ددې باب د رواياتو په بناء باندې دا فرمائي چه په دې کښې تسبيع کيدل پکاردی يعنې اووۀ کرته وينځل، او چونکه په يو روايت کښې کوم چه راروان دې په هغې کښې تثمين ذکر دې په دې وجه د حنابله په نزد د اووۀ کرتو په ځائې اته کرته وينځل ضروري دي، بيا چونکه د مالکيانو په نزد د سپي جوټه پاکه ده په دې وجه د هغوی په نزد د غسل إناء حکم استحبابي دې وجوبي نه دې، د باقي ائمه په نزد وجوبي دې بله دا چه شوافع او حنابله د تتريب يعنې يو ځل خاوره باندې د مږلو قائل دی او مالکيان ددې قائل نه دی، حاصل دا چه حضرات ائمه ثلاثه کوم چه په روايات الباب باندې د عمل قائل دی او هغه منسوخ وغيره نه مني هغوی داحاديثو د اختلاف د وجې نه خپل مينځ کښې مختلف دی ددې ټولو عمل په دې ټولو رواياتو باندې نه دې، خو حنابله د حديث په ټولو اجزاء باندې عمل کړې دې پس هغوی صرف تسبيع نه بلکه د تثمين قائل دی، هم دغه شان د تتريب هم قائل دی، دا خو شو مسائل او د ائمه اختلافات، اوس پاتې شوه خبره د دليل

[۷۱] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، فِي حَدِيثِ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "طُهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ أَنْ يُغْسَلَ سَبْعَ مِرَارٍ، أُولَاهُنَّ بِتُرَابٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ قَالَ أَيُّوبُ، وَحَبِيبُ بْنُ الشَّهِيدِ، عَنْ مُحَمَّدٍ.

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې، چه نبي صلى الله عليه وسلم اووئيل پاکوالی د لوښي د يو کس ستاسو کله چه سپی خوله ووهي په هغې کښې چه اووينځلی شي اوه ځلې اول ځل په خاورو باندې ونيلی دې ابوداود: هم دارنګه ونيلی دې ايوب او حبيب بن الشهيد عن محمد.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤٥٢۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ۳۳ (۱۷۲)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۷ (۲۷۹)، سنن الترمذي/الطهارة ٦۸ (۹۱)، سنن النسائي/الطهارة ٥۱ (٦۳)، المياه ٦ (۳۳٤)، ۷ (۳۳۸)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۳۱ (۳٦۳، ۳٦٤)، موطا امام مالك/الطهارة ٦، (۳٥)، مسند احمد (۲/۲٤٥، ۲٦٥، ۲۷۱، ۳۱٤، ۳٦۰، ٤۲٤، ٤۲۷، ٤٤۰، ٤۸۰، ٤۸۲، ٥۰۸) (صحيح)

د احنافو د طرف نه د احادیث الباب توجیهات

جمهور د احادیث الباب نه استدلال کوی ځکه چه دا احادیث د هغوی په موافقت کښې دی زمونږ د طرف نه ددې ډیر جوابونه کړې شوې دی،

۱ اول دا چه په دې روایاتو کښې اضطراب دې په بعض کښې تسبیع او په بعض کښې تثمین، او دا دواړه قسم روایتونه په صحاح کښې موجود دی او د دارقطنی په یو روایت کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه مرفوعا روایت کړې شوې دې په هغې کښې تخییر مذکور دې داسې ﴿ یغسل ثلاثا أو خمسا أو سبعا ﴾ بلکه دا چه بعض راویانو ترتیب ذکر کړې دې او بعضو نه، په بعض روایاتو کښې دی ﴿ أولهن بالتراب ﴾ او په بعض کښې دی ﴿ أخراهن بالتراب ﴾ او په بعض کښې دی ﴿ إحداهن ﴾ غرض دا چه په دې روایاتو کښې اضطراب په مختلف اعتباراتو سره موندلې شی،

۲ دویم جواب دا دې چه دا روایات دې په استحباب باندې محمول کړې شی زمونږ په نزد هم یو قول د استحباب تسبیع دې، او مشهور جواب دا دې چه دا احادیث زمونږ په نزد منسوخ دی، دا روایات د هغه زمانې دی چه کله په امر کلاب کښې تشدید وو ترديج چه د قتل کلاب حکم ورکړې شوې وو او روستو دا تشدید او د قتل حکم منسوخ شو، لهذا دا دویم تشدید یعنی اووۀ کرته د وینځلو حکم هم منسوخ شو او قرینه د نسخ دا ده چه په دارقطنی کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه موقوفا روایت کړې شوې دی چه د ولوغ کلاب نه پس به ئې لوښې درې کرته وینځلو پس د راوی عمل د خپل بیان کړی روایت خلاف علامت وی د منسوخ کیدو، دا د نسخ والا جواب امام طحاوی رحمه الله په وضاحت سره بیان کړې دې

خو په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله اعتراض کړې دې او د طحاوی جوابات ئې فردا فردا رد کړی دی، بیا علامه عینی رحمه الله د حافظ ایرادات بیل بیل رد فرمائیلي دی، یو د مناظرې شان شکل دې کوم چه حضرت په بذل کښې ذکر فرمائیلی دی

د حافظ اصل اشکال په نسخ باندې دې چه د قتل کلاب حکم د هجرت په ابتداء کښې وو، اوډ تسبیع وغیره روایات روستنی دی، ځکه چه دهغوی راویان سیدنا ابوهریره رضی الله عنه متاخر الاسلام دی، په اوومه هجرئ کښې ئې اسلام قبول کړو حاصل دا چه د قتل کلاب حکم په ابتداء د هجرت کښې وو، بیا څه ورځې پس منسوخ شوې وو، او دا د تسبیع والا روایات د روستو زمانې دی لهذا دهغې د منسوخ کیدو څه مطلب؟

زمونږ د طرف نه جواب ورکړې شوې دې چه اولا خو تاخر اسلام نه په تاخر روایت باندې استدلال صحیح نه دې، دویم دا چه د ابوهریره رضی الله عنه عادت لکه چه مشهور بین المحدثین دې د ارسال وو، یعنی هغه د یو قدیم الاسلام صحابی نه حدیث اوریدلو سره بغیر د واسطې نه هغه نقل کولو، او دغه شان روایت ته مرسل صحابی وائی نو دلته هم دا احتمال دې چه هغوی دا روایات د یو قدیم الاسلام صحابی نه اوریدلو سره بیان کړی وی، او فی الواقع دا روایات هم دهجرت د ابتدائی زمانې وی، او ددې تائید ددې نه هم کیږی چه د ابوداؤد هم ددې باب په آخر کښې د عبدالله بن مغفل رضی الله عنه روایت راوړې دې چه په

هغې کښې هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ د قتل کلاب حکم فرمائیلې وو ﴿ ثم قال مالهم ولها الخ ﴾ وئیل دا دی چه ستاسو په قول د قتل کلاب حکم په ابتداء د هجرت کښې وو، حال دا چه عبدالله بن مغفل رضی الله عنه متاخر الاسلام صحابی دې نو بیا هغوی دا څنګه نقل کوی، ظاهره دا ده چه دلته به هم دا وئیلې شی چه دا مرسل صحابی دې، د یو قدیم الاسلام صحابی نه ئې اوریدلو سره نقل کوی.

نظر طحاوی او په دې باندې اشکال او جواب:

امام طحاوی رحمه الله په طریقه د نظر فرمائیلې دی چه اوګورئ سپې که په یو لوښی کښې بول وبراز اوکړی نو هلته تسبیع د چا په نزد هم نشته نو آیا د ولوغ کلب حکم ددې دوارو نه زیات سخت دې، چه هلته اووه کرته وینځل ضروری نه دی نو دلته هم نه دی کیدل پکار، په دې باندې حافظ صاحب اووئیل چه دا قیاس دې په مقابله د نص کښې، علامه عینی رحمه الله ددې جواب ورکړو چه دا قیاس نه دې بلکه استدلال بدلالة النص دې.

قوله: ﴿ قال أبوداؤد وكذلك قال ايوب الخ ﴾ ددې حدیث مدار په محمد بن سیرین باندې دې، بیا د هغوی شاګردان مختلف دی، په شروع کښې هشام راغلې وو، ددې نه پس مصنف رحمه الله دوه نور ذکر فرمائیلې دی ایوب او حبیب چه څنګه هشام اووئیل هم دغه شان دې دوارو هم اووئیل اوس سوال دا دې چه تشبیه په کومه خبره کښې ده، څکه چه دلته د راویانو دوه اختلافات دی، یو دحدیث د موقوف اومرفوع کیدو، دویم د ﴿ اولهن بالتراب ﴾ څکه چه بعضو وئیلې دی چه: ﴿ السابعة بالتراب ﴾ لکه څرنګه چه د قتاده په روایت کښې راروان دی، زما په نزد تشبیه په دې دویم اختلاف کښې دې.

مطلب دا شو چه د محمد بن سیرین په شاګردانو کښې چه څنګه هشام ﴿ اولهن بالتراب ﴾ نقل کړې دې هم دغه شان ایوب او حبیب هم ﴿ اولهن بالتراب ﴾ نقل کړې دې.

[۷۳]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، جَمِيعًا عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، بِمَعْنَاهُ وَلَمْ يَرْفَعَاهُ، وَزَادَ: وَإِذَا وَلَغَ الْهِرُّ غُسِلَ مَرَّةً.

ترجمه: روایت دی د ابوهریره نه په معنی ددې سره، او دې دوارو نه دی مرفوع کړی، او زیات کړی ئې دی: کله چه څله اووهي پیشو په لوښي کښې نو وینځلی به شي یو ځل.

تشریح د سند: قوله: ﴿ قوله ح وحدثنا محمد بن عبید ﴾ دلته دوه سندونه دی اول سند کښې د مصنف رحمه الله شیخ الشیخ معتمر دې او په دویم سند کښې حماد بن زید او بیا دا دواړه روایت کوی د ایوب سختیانی رحمه الله نه لهذا ایوب مجتمع السندین شو ﴿ ولم یرفعاه ﴾ دا دې هغه دویم اختلاف یعنی معتمر او حماد د ایوب سختیانی نه دا حدیث په ځائې د مرفوعاً موقوفاً نقل کړې دې او دا ایوب د محمد بن سیرین دریم شاګرد دې ګویا ایوب او هشام په

( ): حديث محمد بن عبيد تفرد به أبو داود، تحفة الأشراف (١٤٤٢٦)، وحديث مسدد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٦٨ (٩١)، تحفة الأشراف (١٤٤٣٦، ١٤٤٥١)، وقد أخرجه: حم (٢/٤٨٩) (صحيح)

دې خبره باندې خو متفق دی چه هغوی په حدیث کښې ﴿ اولهن بالتراب ﴾ ذکر کړې دې خو په هشام او ایوب کښې په اعتبار د رفع او وقف اختلاف دې. هشام دا روایت مرفوعا او ایوب موقوفا ذکر کړې دې

[۷۳]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ سِيرِينَ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْإِنَاءِ فَاغْسِلُوهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ، السَّابِعَةُ بِالتُّرَابِ" قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَمَّا أَبُو صَالِحٍ، وَأَبُو رَزِينٍ، وَالْأَعْرَجُ، وَثَابِتٌ الْأَحْنَفُ، وَهَمَّامُ بْنُ مُنَبِّهٍ، وَأَبُو السُّدِّيِّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، رَوَوْهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا التُّرَابَ.

ترجمه: د ابو هريره ﷛ نه روايت دې، يقيناً نبي د الله ﷺ وئيلي دی کله چه څله اووهي سپی په لوښي کښې نو هغه ووينځئ اوه څله، اوم ځل په خاورو.

تشريح: قوله ﴿ حدثنا موسی بن اسماعیل الخ ﴾ د ابن سیرین په شاګردانو کښې دا د قتادة رحمه الله روایت دې د مخکښې تیر شوو شاګردانو په روایت کښې ﴿ اولهن بالتراب ﴾ او د قتادة په روایت کښې ﴿ السابعة بالتراب ﴾ دې.

﴿ قال ابوداؤد واما ابو صالح الخ ﴾ ددې ځائې نه ئې هغه راویان بیان کړی دی چه د هغوی په روایت کښې تراب مطلقا ذکر شوې نه دې ﴿ وابو السدی ﴾ ددې نه مراد والد د سدی دې چه د هغوی نوم عبدالرحمن دې او خپله د سدی نوم اسماعیل دې.

[۷٤]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو التَّيَّاحِ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ ابْنِ مُغَفَّلٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ، ثُمَّ قَالَ مَا لَهُمْ وَلَهَا، فَرَخَّصَ فِي كَلْبِ الصَّيْدِ، وَفِي كَلْبِ الْغَنَمِ، وَقَالَ: إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْإِنَاءِ، فَاغْسِلُوهُ سَبْعَ مِرَارٍ، وَالثَّامِنَةُ عَفِّرُوهُ بِالتُّرَابِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَكَذَا قَالَ ابْنُ مُغَفَّلٍ.

ترجمه: د ابن مغفل نه روايت دې، چه بيشکه رسول الله ﷺ امر کړی دی په وژلو د سپو باندې، بيا ئې اووئيل څه دې دوی لره او دهغې دپاره، نو رخصت ئې ورکړو په سپي د ښکار کښې، او په سپي د ګډو کښې، او وئيلي دی کله چه څله اووهي سپی په لوښي کښې نو هغه اووينځئ اوه څلي، او اتم ځل هغه اومږئ په خاورو سره.

تشريح: قوله ﴿ قال ابوداؤد وهكذا قال ابن مغفل ﴾ په ظاهر کښې مطلب دا دې چه عبدالله بن مغفل کوم چه ددې حديث راوی دې په کوم کښې چه تثمين ذکر دې هغه خپله هم ددې قائل دې يعني د هغوی عمل په دې باندې دې چه اته کرته دې پاک کړې شي. په خلاف د ابوهريره ﷛ چه هغه د تسبيع راوی دې خو د هغوی عمل په دې باندې نه دې لکه چه په بحث کښې تير شوې دی په بذل کښې ددې خبرې هم دا مطلب ليکلې شوې دې

( ): سنن النسائي/المياه ٧ (٣٣٨) (تحفة الأشراف: ١٤٤٩٥) (صحيح) لكن قوله: "السابعة بالتراب" شاذ

( ): صحيح مسلم/الطهارة ٢٧ (٢٨٠)، سنن النسائي/الطهارة ٥٣ (٦٧) المياه ٧ (٣٣٧، ٣٣٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣١ (٣٦٥) الصيد (٣٢٠٠، ٣٢٠١)، (تحفة الأشراف: ٩٦٦٥)، وقد أخرجه: حم (٨٦/٤، ٥/٥٦)، سنن الدارمي/الصيد ٢ (٢٠٤٩) (صحيح)

حضرت ناظم صاحب (مولانا اسعد الله صاحب) احتمالا يو بل مطلب بيان کړي دي هغه دا چه د قال فاعل ابن مغفل نه دې بلکه د قال ضمير راجع دې د راوي طرف ته، مطلب دا چه په دې سند کښې راوي په وخت د روايت ابن مغفل اوونيلو يعنی ابن المغفل معرف باللام ئې نه دې وئيلې، ځکه چه دا نوم په دواړو طريقو چليږي، عبدالله بن مغفل او عبدالله بن المغفل، حضرت ناظم صاحب ډير اديب وو په دې وجه د هغوی ذهن دې مطلب يعنی د الفاظو دې باريکيانو ته لاړو. والله اعلم

بَابُ سُؤْرِ الْهِرَّةِ

باب دې په بيان د جوټې د پيشو کې

کلب او هرة (سپي او پيشو) اگرچه دواړه په سباع کښې دی خو د دواړو د سؤر په حکم کښې ډير فرق دې يو پاک او بل ناپاک، د قياس تقاضه خو دا وه چه سؤر هرة دې هم ناپاک وې، خو د يو علت په وجه باندې د نجاست حکم او نه لګولې شو، هغه علت لکه ځنګه چه په حديث کښې موجود دې کثرت طواف او دوران دې، يعنی دهغې کورونو ته بار بار راتلل چه دهغې د وجې نه صون اوانی ګران وو، په داسې صورت کښې د نجاست حکم حرج له مستلزم وو، ولا حرج في الدين.

په سؤر هرة کښې مذاهب ائمة :

په سؤر هرة کښې اختلاف دا دې چه د ائمه ثلاثه او امام ابويوسف په نزد طاهر بلا کراهت دې، او د طرفين په نزد طاهر مع الکراهت دې د راجح قول په بناء کراهت تنزيهی دې، دريم مسلک د بعض تابعينو لکه عطاء، طاؤس او مجاهد دې چه دا نجس دې، امام طحاوی په شرح معانی الآثار کښې امام محمد د امام ابويوسف سره شمار کړې دې او په مشکل الآثار کښې ئې دامام صاحب سره شمار کړې دې او هم دا صحيح ده مشکل الآثار روستنې تاليف دې، دهغې نقل زيات صحيح دې.

[٥٥] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ حُمَيْدَةَ بِنْتِ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَتْ تَحْتَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ، فَسَكَبْتُ لَهُ وَضُوءًا، فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَشَرِبَتْ مِنْهُ فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ، قَالَتْ كَبْشَةُ: فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ، إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ".

ترجمه: روايت دی د کبشه بنت کعب بن مالک نه، او وه هغه په نکاح د ابن ابي قتادة کښې، بيشکه ابو قتادة داخل شو نو هغې ورله د اودس اوبه واچولې، نو راغله پيشو، نو څکل ئې اوکړه دهغې نه، نو ورکوږ ئې کړو هغې ته لوښی تردې چه څکل ئې اوکړه، اووئيل

(¹): سنن الترمذي/الطهارة ٦٩ (٩٢)، سنن النسائي/الطهارة ٥٤ (٦٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٢ (٣٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٢١٤١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ٣ (١٣)، مسند احمد (٢٩٦/٥، ٣٠٣، ٣٠٩)، سنن الدارمي/الطهارة ٥٨ (٧٦٣) (حسن صحيح)

کبشې نو زه ئې ولیدم چه ورته کتل مې، نو وئې وئیل: ایا ته تعجب کوې اې دربرې؟ نو ما اووئیل: آو، نو وئې وئیل: بیشکه رسول الله ﷺ وئیلی دی: بیشکه دغه نه ده نجس، بیشکه دغه د طواف کونکو نه ده په تاسو باندې

مضمون حدیث:

قوله: ﴿حدثنا عبدالله بن مسلمة الخ﴾ د حدیث الباب مضمون دا دې چه کبشه بنت کعب کومه چه د عبدالله بن ابی قتادة په نکاح کښې وه، هغوی وائی چه یو ځل زما د خاوند پلار ابوقتادة ﷺ ماته راغلو ما د هغوی د اودس دپاره اوبه ورکړې هغوی په ما باندې اوبه اچولې نو ناڅاپه یو پیشو هلته راغله او هغې اوبه څکل غوښتل نو ابوقتاده ﷺ د اوبو لوښې د پیشو طرف ته ښکته کړو تر دې چه هغې په سهولت سره اوبه اوڅکلې ما هغوی ته کتل نو هغوی پوهه شو او وې فرمائیل چه آیا تعجب کوې؟ ما عرض اوکړو آو جی! په دې باندې هغوی اوفرمائیل چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې ﴿ إنها لیست بنجس ﴾ چه پیشو ناپاکه نه ده ځکه چه هغه کورونو ته په کثرت سره ځي راځي نو ګویا په کثرت سره د تلو راتلو د وجې نه چونکه د هغې نه بچ کیدل مشکل دی په دې وجه د هغې جوټه معاف کړې شوه.

قوله: ﴿ إنها من الطوافين علیکم والطوافات ﴾ د طوافین او طوافات نه مراد هغه خدمت ګزار بالغ هلکان او جینکۍ دی چه د هغوی د خدمت دپاره په کور کښې کثرت سره تلل راتلل وی نو ګویا په دې حدیث کښې د هرة دې خادمانو سره تشبیه ورکړې شوه چه ځنګه د کثرت تلو راتلو په وجه ددوی نه کور کښې د داخلیدو په وخت استیذان ساقط دې دغه شان دلته په هرة کښې د کثرت طواف د وجې نه ددې د جوټې حکم ساقط کړې شو ، د کثرت طواف په وجه هغه ځائې د استیذان سقوط اوشو ، دلته د نجاست

د حدیث الباب د امام طحاوی رحمه الله د طرف نه توجیه:

دا حدیث د جمهورو مستدل دې امام طحاوی رحمه الله ددې جواب دا کړې دې چه د کوم ځیز نه چه تاسو استدلال کوئ یعنی إصغاء الإناء دا دصحابی ابوقتادة ﷺ فعل دې او حجت د رسول الله ﷺ قول یا فعل وی [1] او د رسول الله ﷺ ارشاد کوم چه دلته دې ﴿ إنها لیست بنجس إنها من الخ ﴾ نو کیدې شي چه ددې تعلق د سؤر سره نه وی بلکه د مماسة ثیاب وفراش سره وی یعنی په کورونو کښې چه کومې پیشوګانې اوسیږی هغه د انسانانو په بسترو کښې راشی او کینی، نو په دې کښې ددې ګنجائش ورکړې شوې دې د سؤر سره ددې تعلق نشته، او بیا وړاندې امام طحاوی رحمه الله بیان کړې دې چه ولوغ هرة والا روایت چه په هغې کښې دی چه د ولوغ هرة نه دې لوښې یو ځل یا دوه ځل وینځلې شی هغه حدیث مرفوع او متصل الاسناد دې لهذا په هغې باندې به حمل کولې شي.

---

[1] علامه زیلعی رحمه الله فرمائی چه اګرچه اصغاء الاناء د عائشې رضی الله عنها په یوحدیث کښې د رسول الله ﷺ د فعل نه هم ثابت دی لکه چه د دارقطنی په روایت کښې دی خو هغه ضعیف دې ځکه چه په یو طریق کښې عبدالله بن سعید المقبری دې او په دویم کښې واقدی او دا دواړه ضعیف دی

او د احنافو په دلائلو کښې د ابوهريرهؓ حديث الهرة سبع ذکر کولې شي کوم چه په مستدرک د حاکم او مسند احمد وغيره کښې دې، خو ددې په سند کښې عيسى بن المسيب دې کوم چه ضعيف دې، بله دا چه دا حديث موقوفا او مرفوعا نقل کړې شوې دې، ابن ابی حاتم وائی چه ددې موقوف کيدل اصح دی.

د حضرت سهارنپوریؒ تحقيق:

حضرت سهارنپوریؒ په بذل کښې په دلائل حنفيه باندې کلام کولو سره فرمائيلې دی چه دهغې حاصل دا دې چه بعض روايات (مثلا روايت کبشه) دلالت کوی په طهارت د سؤر هرة باندې او بعض نور داسې روايات دی کوم چه دلالت کوی دهغې په نجاست باندې لکه چه دبعض تابعينو عطاء او طاؤس وغيره مسلک دې خو چونکه روايات د طهارت أقوى وو د هغه رواياتو نه کوم چه ددې په نجاست باندې دلالت کوی ﴿فنزلنا من القول بنجاستها الى القول بالکراهة﴾ يعنې د جانبين رعايت کولو سره مونږ نه خو د مطلق طهارت قائل شو او نه د مطلق نجاست بلکه درمياني قول يعنې طهارت مع الکراهت مو اختيار کړو [۱]

تحقيق السند:

﴿عن حميدة﴾ دا د اسحق بن عبدالله مذکوره راوی زوجة ده ﴿عن کبشة﴾ دا د حميده ترور او صحابيه ده، او دا حديث د سنن اربعه روايت دې او ددې نه علاوه په صحيح ابن خزيمة او صحيح ابن حبان کښې هم موجود دې، بهر حال په صحيحينو کښې په يو کښې هم دا نشته امام ترمذیؒ دې ته حسن صحيح وئيلې دې، امام بخاریؒ او دارقطنیؒ وغيره ددې تصحيح کړې ده، خو ابن مندهؒ دې حديث ته معلل وئيلې دی هغوی وائی چه ددې په سند کښې حميده او کبشه دواړه مجهول دی خو کبشه که صحابيه ده نو دهغې جهالت ضرر نه ورکوی

[٧٦] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ التَّمَّارِ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَوَجَدَتْهَا تُصَلِّي، فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيهَا، فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنْهَا، فَلَمَّا انْصَرَفَتْ أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ، فَقَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ، إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ" وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا.

ترجمه: د داود بن صالح بن دينار التمار نه روايت دې هغه روايت کوي د خپلې مور نه، بيشکه مولاګۍ دهغې هغې اوليږله په شيره باندې عائشېؓ ته، نو هغه ئې بيامونده چه مونځ ئې کولو، نو اشاره ئې أوکړه ماته چه کيږده، نو راغله پيشو خوراک ئې اوکړو

[۱] په دې باندې اشکال دې چه کله تاسو خپله ددې خبرې قائل او معترف يئ چه روايات داله على الطهارة اقوى دی نو بيا هم دې ته کتلو سره فيصله ولې نه کوئ، او سور هره لره مکروه ولې نه منئ؟ ددې جواب دا دې چه که داسې اوکړو نو دا به خلاف احتياط وی، لهذا طريق احوط اختيار کړې شوه د جانبين رعايت به هله وی.

[۲] تفرد به أبو داود، تحفة الأشراف (١٧٩٧٩) وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٢ (٣٦٧) (صحيح)

دهغې نه، هر کله چه د مانځه نه فارغه شوه نو خوراک ئې اوکړو دهغه ځائې نه دکوم ځائي نه چه پيشو خوراک کړې وو، او وئې وئيل بيشکه رسول الله ﷺ وئيلي دی: بيشکه دا نه دې نجس، يقيناً دا د طواف کونکو نه دې په تاسو باندې، او ما ليدلې وو رسول الله ﷺ چه اودس به ئې کولو پاتې اوبو دهغې باندې.

تشريح: قوله ﴿ ارسلتها بهريسة الى عائشة ﴾ دا د باب دويم حديث دې چه دهغې حاصل دا دې چه ام داؤد وائي چه زما سيده زما په ذريعه د عائشې ﷺ په خدمت کښې هريسه يعنی دليا وغيره د خوړلو څيز اوليږلو، چه کله زه هلته اورسيدم نو ما هغوی په مانځه بيا موندل، هغوی په اشارې سره دهغې د کيخودلو حکم اوفرمائيلو. ددې نه پس ناڅاپه يو پيشو راغله او دهغې نه ئې خوراک اوکړو، سيده عائشه ﷺ چه کله د مانځه نه فارغه شوه نو د کوم ځائې نه چه پيشو خوراک کړې وو هغوی هم د هغه ځائې نه خوراک اوکړو او دا ئې اوفرمائيل چه ما رسول الله ﷺ ددې د جوټې نه اودس کونکې ليدلې دې.

دا حديث هم د جمهورو مستدل دې خو ضعيف دې ځکه چه أم داؤد مجهوله ده، دويم جواب دا کيدې شي چه ممکن ده چه د بيان جواز دپاره رسول الله ﷺ داسې کړې وی، يو بل جواب دا دې کوم چه د صاحب بحر د کلام نه مستفاد کيږی هغه دا چه د سؤر هرة نه رسول الله ﷺ اودس اوفرمائيلو کيدې شي چه رسول الله ﷺ دا پيشو ددې نه مخکښې په اوبو څکلو باندې ليدلې وی، او د داسې پيشو جوټه زمونږ په نزد هم پاکه ده ځکه چه د سؤر هرة کراهت د يو قول په بناء د عدم توقی عن النجاست د وجې نه دې يعنی دا چه هغه ګنده څيز خوری په دې وجه دهغې خُله د خارجی نجاست د وجې نه ناپاک شی، او دلته علت مرتفع دې دهغې د خُله د اوبو څکلو د وجې نه پاک کيدل معلوم دی او اګرچه دا صرف يو احتمال دې، خو د احتمال وجود مانع عن الاستدلال وی.

بَابُ الْوُضُوءِ بِفَضْلِ وَضُوءِ الْمَرْأَةِ

باب دې په بيان د اودس کې په پاتې اوبو د ښځې

د ترجمة الباب والا مسئله اختلافی ده، يعنی کومې اوبه چه زنانه په اودس يا غسل وغيره کښې استمال کړې وی دهغې د استعمال نه پس په لوښی کښې چه کومې اوبه باقی وی دهغې نه د سړی دپاره اودس جائز دې يا نه؟

د فضل طهور صورتونه :

د مطلق فضل طهور درې صورتونه کيدې شی يو دا چه سړې او ښځه دواړه د يو لوښی نه اوبه واخلی يو ځائې اودس يا غسل اوکړی ‹په دې کښې هم هر يو دپاره د بل د فضل استعمال لازميږی› دويم شکل دا دې چه د سړی د پاکوالی نه پس باقی اوبه ښځه استعمال کړی، دريم شکل ددې عکس دې او هم دا په ترجمة الباب کښې ذکر شوې دې يعنی د زنانه د استعمال نه پس باقی اوبه سړې استعمال کړی، امام نووی ﷺ ليکلې دی چه اول دوه شکلونه بالاجماع جائز دی په دې کښې اختلاف نشته، اختلاف صرف په دې دريم شکل کښې دې، د امام احمد او داؤد ظاهری په نزد ناجائز دې، د جمهور علماء ائمه ثلاثه په نزد

جائز دی، حافظ ابن حجر رحمه الله د امام نووی رحمه الله په اجماع نقل کولو باندې اشکال کړې دې او هغوی د امام طحاوی رحمه الله په حوالې سره اول دوه صورتونو کښې هم اختلاف نقل کړې دې او دا چه په اول دوه صورتونو کښې اختلاف د ابوهریره رضی الله عنه او امام احمد رحمه الله طرف ته منسوب دې، يو قول دلته د امام شعبی او اوزاعی دې هغوی وائی چه صرف دحائض اود جنب فضل طهور د سرې دپاره ناجائز دې، د غير حائض د فضل دا حکم نه دې

[۷۷] () حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَنَحْنُ جُنُبَانِ".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روايت دې، هغه وائی ومره چه غسل کولو ما او رسول الله صلی الله علیه وسلم د يو لوښي نه او مونږ جنب وو

تشریح: قوله ﴿ عن عائشة قالت كنت أغتسل الخ ﴾ مونږ په شروع کښې وئيلی دی چه په دې مسئله کښې دري صورتونه دیٌ، په ترجمة الباب کښې صرف اختلافی شکل ذکر شوی دې يعنی اول زنانه استعمال کړی دهغې نه پس سړې، خو په دې حديث کښې په ظاهره داسې نه ده بلکه د حديث معنی يو ځائې د غسل کولو ده

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت :

خو د ترجمة الباب سره د حديث د مطابقت پيدا کولو دپاره تاويل داسې کيدې شی چه دلته په وقت واحد او زمان واحد کښې د غسل کولو تصريح نشته، کيدې شی چه پرلپسې غسل کول مراد وی، ځکه چه وحدت أناء وحدت زمان لره مستلزم نه دې، اوس پاتې شوه دا خبره چه په حديث کښې خو غسل ذکر شوی دې او په ترجمة الباب کښې اودس؟ پس ددې جواب ظاهر دې چه غسل خو خپله اودس لره متضمن دې

[۷۸] () حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ خَرَّبُوذَ، عَنْ أُمِّ صُبَيَّةَ الْجُهَنِيَّةِ، قَالَتْ: "اخْتَلَفَتْ يَدِي وَيَدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْوُضُوءِ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ".

ترجمه: ام صبية الجهنيه نه روايت دې، هغې وئيلی دی گډوډ به ورتلل لاس زما او لاس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اودس کښې د يو لوښي نه

تشریح: قوله ﴿ عَنْ أُمِّ صُبَيَّةَ الْجُهَنِيَّةِ قَالَتْ الخ ﴾ ام صبيه فرمائی چه زما او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس مبارک د يو لوښي نه اودس کولو سره به هغه لوښی کښې لګيدلی وو، د اختلاف معنی د تلو راتلو ده، يعنی کله به زما لاس هغې کښې راتلو او کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حديث کښې په ظاهره يو اشکال دا کولې شی چه ام صبيه سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محرميت څه تعلق نه وو . بيا په يو وخت يو ځائې د اودس کولو نوبت څنګه راغلو؟ بعضو جواب ورکړې دې چه کيدې شی دا واقعه دقبل الحجاب وی خو حضرت سهارنپوری

---

[1]: صحيح البخاري/الحيض ٦ (٢٩٩)، سنن النسائي/الغسل ٩ (٤١١)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٨٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٥ (٣٧٦)، مسند احمد (١٧١/٦، ٢٦٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٨ (٧٧٦) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٦ (٣٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٦/٦، ٣٦٧) (حسن صحيح)

ﷺ ته دا جواب خوښ نه دي ځکه چه د حجاب نه مخکښې د زنانه دپاره د سرې مخکښې صرف د مخ ښکاره کول جائز کيدې شي، باقي بدن کوم چه په اودس کښې ښکاره شي دهغې ښکاره کول د نورو مخکښې جائز نه وو، لهذا غوره دا ده چه داسې اووئيلې شي چه اګر که دا واقعه د نزول حجاب نه پس وي خو د رسول اللهﷺ او د ام صبيه ترمينځه کيدې شي چه حجاب حائل وي اګرچه اودس ئې د يو لوښي نه کولو يا حجاب هم حائل نه وي صرف مخ ئې ترې نه اوختلې وي مخامخ نه وي ناست يا داسې اووئيلې شي چه د يو لوښي نه اودس کول او اختلاف ايدي په يو وخت کښې نه وو بلکه په بيل بيل وخت کښې دو اول يو اودس اوکړو د هغه د فارغيدو نه پس بل، ځکه چه وحدت اناء وحدت زمانه لره مستلزم نه دي، په داسې اوبو باندې هم دا خبره صادق راتلې شي چه په هغې باندې اختلاف أيدي (لاسونو) شوې دي، دا مطلب د اختلاف أيدي خلاف نه دي

[٧٩]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، ح وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: «كَانَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ يَتَوَضَّئُونَ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»، قَالَ مُسَدَّدٌ: «مِنَ الْإِنَاءِ الْوَاحِدِ جَمِيعًا»

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو سړي او ښځې چه اودس به ئې کولو په زمانه د رسول اللهﷺ کښې، وئيلي دي مسدد: د يو لوښي نه ټولو

تشريح: قوله ﴿عن ابن عمر قال كان الرجال والنساء الخ﴾ په دې کښې هغه زنانه مراد دي کومې چه د سړو محرم او نزدې رشته دارې وي او يا دې دا اووئيلې شي چه دا واقعه د نزول حجاب نه مخکښې ده يا دا دې په معاقبت باندې محمول کړې شي يعنې د يو بل نه پس او وړاندې روستو، خو وړاندې لفظ جميعا راروان دې نو دهغې توجيه دا کيدې شي چه ددې اجتماع نه اجتماع في الوقت نه بلکه اجتماع في الاناء مراد ده. ﴿قوله قال مسدد من الاناء الواحد﴾ د مصنفرحمه الله په دې حديث کښې دوه استاذان دي، عبدالله بن ابي سلمة او مسدد، د عبدالله بن سلمة الفاظ دي، ﴿كان الرجال والنساء يتوضئون في زمان رسول اللهﷺ جميعا﴾ او د مسدد په روايت کښې د ﴿من الاناء الواحد﴾ اضافه ده، پس د لفظ جميعا تعلق د دواړو روايتونو سره دې او ﴿من الاناء الواحد﴾ صرف د مسدد په روايت کښې دې، د عبدالله بن مسلمه په روايت کښې نشته، خو داسې نه ده، ګينې د حديث په معنى کښې به خلل واقع شي غور دې اوکړې شي، نبه علينا شيخنا في حاشية البذل.

تحقيق السند

﴿عن ابن خربوذ﴾ د هغوى نوم سالم دې يعنې سالم بن خربوذ، خربوذ کيجاوې يا کتې ته وئيلې شي هم په دې وجه دوى ته سالم بن السرج هم وئيلې شي، ﴿أُمّ صُبَيَّةَ﴾ ددې نوم خولة

---

[1]: حديث مسدد تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٥٨١)، وحديث عبدالله بن مسلمة، آخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٤٣ (١٩٣)، وليس فيه: «من الإناء الواحد»، سنن النسائي/الطهارة ٥٧ (٧١) المياه ١٠ (٣٤١، ٣٤٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٦ (٣٨١)، موطا امام مالك/الطهارة ٣ (١٥)، مسند احمد (٢/٤، ١٠٣)، تحفة الأشراف (٨٣٥٠) (صحيح)

بنت سعد دي ﴿ قوله ح وحدثنا مسدد ﴾ دلته دوه سندونه دی اول سند په مالک باندی ختم شو او دويم سند په ايوب باندي، او مالک او ايوب دواړه روايت کوی د نافع نه. لهذا نافع ملتقى السندين شو، ملتقى السندين لره صرف په سند ثانى کښې ذکر کولى شى او کله ئې په دواړو ځايونو کښې ذکر کوی. لکه چه دلته دی د عبدالله بن مسلمه والا سند عالى دي او دويم سند د مسدد والا سافل دي، په دې کښې يو واسطه زائد ده

[۸۰] () حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كُنَّا نَتَوَضَّأُ نَحْنُ وَالنِّسَاءُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ نُدْلِي فِيهِ أَيْدِيَنَا".

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلى دی چه اودس کولو سړو او ښځو په زمانه د رسول الله ﷺ د يو لوښي نه، چه موږ به خکته کول په هغې کښې لاسونه خپل

بَابُ النَّهْيِ عَنْ ذَلِكَ

باب دې په بيان د منع کيدو د دغې نه (د ښځو او د ماشوما نو د پاتې شوو اوبو نه)

په اول باب کښې مصنف رحمه الله د جواز روايات ذکر کړی دی لکه چه د جمهور مسلک دې. په دې باب کښې ئې د منع روايات ذکر فرمائيلي دی لکه چه د ظاهريه او حنابله مذهب دې. حضرت شيخ رحمه الله فرمائی چه دا د مصنف رحمه الله د حنبلى کيدو علامت دې چه په اخر کښې د منع روايت ذکر کوی، ګينې د جمهورو د مسلک مطابق خو ددې برعکس کيدل پکار وو

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دوه احاديث ذکر کړې دی چه په هغې کښې په اول حديث کښې د سړی او ښځې د هر يو دفضل نه بل منع کړې شوې دې او په دويم حديث کښې صرف يو شق ذکر دې او دا هم هغه دې چه په کوم ئې ترجمة قائم کړې دہ، بهر حال په دې رواياتو کښې ممانعت ذکر شوې دې

اوس په رواياتو کښې تعارض پيدا شو، د جواز او عدم جواز دواړه قسم روايتونه جمع شو. د تطبيق درې صورتونه دی ترجيح، جمع بين الروايات او نسخ.

جمهور وائی چه د جواز روايات زيات صحيح دی، کوم چه د عائشه، ميمونه او ام سلمه رضى الله عنهن نه روايت کړې شوې دی په صحيح مسلم وغيره کښې موجود دی، او د جواز د رواياتو د صحت ډيرو محدثينو تصريح کړې ده لکه امام بخاري، بيهقي او ابن العربي رحمه الله وغيره، او د منع روايت يعنى د حکم بن عمرو روايت کوم ته چه امام بخاري او بيهقي ضعيف وئيلي دي، لهذا د جواز روايات راجح او د منع روايات مرجوح او ضعيف شو.

دويم جواب يعنى جمع ده چه د ممانعت روايات په نهى تنزيه باندې محمول دی او د اثبات روايات په جواز باندې يعنى نه کول ئې اولى دی او کول ئې جائزدی. يا دې داسې اووئيلي شی چه د فضل نه مراد ﴿ الماء المتساقط من الأعضاء ﴾ دې يعنى د زنانه مستعمل اوبه (۲)

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۲۱۱) (صحيح)

(۲) دا اګرچه يوه مشهوره توجيه ده ليکن په دې کښې زما دا اشکال دې چه که ماء مستعمل مراد دی نو بيا دښځې په دې کښې څه تخصيص. ماء مستعمل د سړی او ښځې دواړو برابر دی

اوبه هغې سره د جمهورو په نزد اودس صحيح نه دې، يو جواب دا کړي شوي دي چه دا محمول دې په اجنبيه باندې د خوف فتنې د وجې نه.
او آخري جواب دې د نسخې چه د منع روايات منسوخ دی او د نسخ علامت دلته موجود دې هغه دا چه رسول الله ﷺ چه په کوم وخت کښې د ميمونې ﷺ په فضل غسل باندې د اودس اراده فرمائيلې وه، نو په دې باندې ميمونې ﷺ عرض اوکړو، يا رسول الله ﷺ! دا زما نه پاتې شوې اوبه دی چه په په هغې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ ان الماء لا يجنب﴾ نو د ميمونې ﷺ دا عرض کول چه دا زما د مستعمل اوبو باقي حصه ده، دا علامت دې ددې خبرې چه هغوی سره به ددې ممانعت څه دليل وی ځکه خو هغوی رسول الله ﷺ منع کړو نو اوس حاصل دا شو چه د منع روايات مقدم شو او د جواز موخر او موخر د مقدم دپاره ناسخ وی.
د دې مقام مناسب يو بله مسئله ده چه دهغې تعلق د شرب سره دې، هغه دا چه فقهاء کرامو ليکلي دی چه د پردئ زنانه جوټه د سړي دپاره مکروه ده او ددې عکس يعنې د سړي جوټه د زنانه دپاره مکروه نه ده، په دې شرط چه د فتنې ويره نه وی ګينې بيا به کراهت د دواړو په حق کښې شي او ددې وجه فقهاء کرامو دا ليکلې ده چه زنانه بجميع اجزائها مستور يعنې قابل حجاب ده او د زنانه په جوټه کښې به دهغې لاړې مخلوط وی مقدار يسير دې ولې نه وی، نو په دې سره به د زنانه د جزء مستور استعمال لازم شي.

[۸۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ حُمَيْدٍ الْحِمْيَرِيِّ، قَالَ: لَقِيتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ سِنِينَ كَمَا صَحِبَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ، أَوْ يَغْتَسِلَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ" زَادَ مُسَدَّدٌ: وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيعًا.

ترجمه: د حميد الحميري نه روايت دې هغه وائي: زه مخامخ شوم د يو سړي سره چه د رسول الله ﷺ سره ئې صحبت شوی وو څلور کاله. لکه څنګه چه ورسره د ابو هريره صحبت شوی وو، هغه اوونيل: منع کړي ده رسول الله ﷺ د دېنه چه غسل اوکړي ښځه په پاتې اوبو د سړي، او يا غسل اوکړي سړی په پاتې اوبو د ښځې. زيادت کړی دی مسدد ددې چې دواړه دې يوځائې لپې اخلي.

[۸۲]() حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ يَعْنِي الطَّيَالِسِيَّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي حَاجِبٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو وَهُوَ الْأَقْرَعُ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طَهُورِ الْمَرْأَةِ".

ترجمه: حکم بن عمرو نه روايت دې چه اقرع دی، بيشکه نبي ﷺ منع کړي ده چه اودس اوکړي سړی په پاتې اوبو د ښځې.

---

[1]: سنن النسائي/الطهارة ١٤٧ (٢٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٥٤، ١٥٥٥٥) (صحيح)
[2]: سنن الترمذي/الطهارة ٤٧ (٦٤)، سنن النسائي/المياه ١١ (٣٤٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٤ (٣٧٣)، (٣٧٤) ولفظه: «عبدالله بن سرجس»، (تحفة الأشراف: ٣٤٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٣/٤، ٦٦٧٥) (صحيح)

تشریح: قوله :﴿ لقیت رجلا صحب الخ ﴾ دغه شان سند باب البول فی المستحم کښې تیر شوي دي او هلته مونږ د رجل مصادیق ثلاثه بیان کړی دی، لهذا دلته دوباره د بیانولو حاجت نشته. ددې روایت نه معلومه شوه چه ﴿ کما صحبه أبوهریرة ﴾ کښې تشبیه د صحبت په موده کښې ده کومه چه څلور کاله ده، د باب د دویم حدیث په سند کښې دی ﴿ عن الحکم بن عمر وهو الأقرع ﴾ دلته دا ضمیر راوی دحدیث حکم بن عمرو طرف ته راجع نه دي بلکه خلاف معمول د عمرو طرف ته راجع دي ځکه چه اقرع د عمرو لقب دي نه د حکم

بَابُ الْوُضُوءِ بِمَاءِ الْبَحْرِ

باب دې په بیان د اودس کې په اوبو د دریاب

د بحر اطلاق زیات تر په بحر مالح باندې کیږی یعنی سمندر د کوم اوبه چه مالګینې وی او د نهر اطلاق زیات تر په خوږو اوبو باندې کیږی

د ترجمة الباب غرض

د دې باب د منعقد کولو ضرورت څه دې؟ ځکه چه د سمندر او د نهر په اوبو سره جواز وضوء خو هر چا ته معلوم دې پس ددې وجه دا کیدې شی چه ددې په جواز کښې یو شبه کیدې شوه هغه دا چه په نهرونو او سمندرونو کښې دننه لوټي لوټي نجاستونه غورځیږی خصوصا په ساحلونو باندې، نو په دې سره د عدم جواز شبه کیدې شوه،یا ځکه چه په نهرونو او سمندرونو کښې بشمیره ځناور پیدا کیږی او هم په هغې کښې مری نو په دې سره هم شبه کیدې شی. ددې نه علاوه دا خبره هم ده چه وضوء بماء البحر کښې د بعض سلفو اختلاف راغلې دې، لکه عبدالله بن عمر رضي الله عنه او عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه، دا حضرات ماء البحر باندې اودس ته مکروه وائي لکه چه امام ترمذی رحمه الله بیان کړی دی او ددې یوه وجه هم د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه منقول ده چه وړاندې به راشی، خو په دې مسئله کښې اوس هیڅ اختلاف باقی نه دې پاتې شوې بلکه د امت ددې په جواز باندې اتفاق دې اختلاف کونکی وفات شوی دی

[۸۳](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ سَلَمَةَ مِنْ آلِ ابْنِ الْأَزْرَقِ، أَنَّ الْمُغِيرَةَ بْنَ أَبِي بُرْدَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا، أَفَنَتَوَضَّأُ بِمَاءِ الْبَحْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ".

ترجمه: مغیره بن ابي برده د ابو هریره رضي الله عنه نه اوریدلي دي چه هغه ویل پوښتنه اوکړه یو سړي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه. یقینا مونږ سفرکوو دریاب کښې، اومونږ اخلو خان سره لږې اوبه، که چیرې مونږ اودس کوو په هغې نو تږي کیږو، آیا مونږ اودس اوکړو په اوبو د دریاب؟ نو

(١): سنن الترمذي/الطهارة ٥٢ (٦٩)، سنن النسائي/الطهارة ٤٧ (٥٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٨ (٣٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٦١٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ٣ (١٢)، مسند احمد (٢/٢٣٧، ٣٦١، ٣٧٨)، سنن الدارمي/الطهارة ٥٣ (٧٥٥) (صحيح)

رسول الله ﷺ اووئيل پاکې دي اوبه دهغې او حلال ده ميته د هغې

تشريح: ﴿ عن سعيد بن سلمة ﴾ ددې راوی په نوم کښې اختلاف دې. بعضو ددې عکس يعنی سلمة بن سعيد وئيلې دې، او وئيلې شوې دی چه د هغوی نوم عبدالله بن سعيد دې. ﴿ ان المغيرة بن ابی بردة ﴾ د هغوی په نوم کښې هم اختلاف دې بعض وائی مغيره بن عبدالله بن أبی بردة، او وئيلې شوې دی چه عبدالله بن مغيره بن ابی بردة

قوله :﴿ سال رجل الخ ﴾ ددې رجل سائل په نوم کښې اختلاف دې. وئيلې شوې دی چه عبدالله، عبد، عبيد، حميد بن صخر او سمعانی امام لغت والحديث ليکلې دی چه د هغوی نوم العرکی دې،خوپه دې کښې اشکال دې هغه دا چه عرکی خو ملاح ته وائی دا نوم څنګه شو دا خو لقب او وصف دې؟ مضمون دحديث دا دې چه يو سائل د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه يا رسول الله ﷺ! مونږ بحری سفر کوو، او په يو روايت کښې دی ﴿ للصيد ﴾ يعنی د ښکار دپاره چه دهغې نه معلومه شوه چه د ښکار دپاره بحری سفر کول جائز دی په دې کښې يو حديث د منع راغلې دې چه دهغې ذکر به وړاندې راشی. غرض دا چه سائل اووئيل چه مونږ خپل ځان سره په بحری سفر کښې خوږې اوبه په قليل مقدار کښې ږدو. که مونږ ددې نه اودس اوکړو نو تږې به پاتې شو. نو آيا مونږ د سمندر د اوبو نه اودس اوکړو؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ وهو الطهور ماؤه ﴾ يعنی د سمندر اوبه پاکې دی

د شرح حديث متعلق بعض ضروری توضيحات

﴿ هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ ﴾ دلته دوه سوالونه دی، يو دا چه ﴿ هو الطهور ماؤه ﴾ د پوره جملې استعمالولو څه ضرورت وو؟ په جواب کښې که صرف نعم وئيلې شوې وې نو کافی وه، په دې طوالت کښې څه مصلحت دې د رسول الله ﷺ ارشادات خوجوامع الکلم وی؟ جواب دا دې چه که دلته صرف په نعم سره جواب باندې اکتفاء کړې شوې وه نو ددې تعلق به صرف دهغه صورت سره وې کوم چه په سوال کښې ذکر شوې دې، او بيا به تړې دا معلوميدلې چه په ماء البحر سره اودس هغه وخت کيدې شی چه کله خوږې اوبه قليل وی کينې نه حال دا چه داسې نه ده بلکه په ماء البحر سره اودس هر حال کښې جائز دې، په دې وجه رسول الله ﷺ په جواب کښې دا اسلوب اختيار اوفرمائيلو

دويم سوال دا دې چه رسول الله ﷺ په جواب کښې په سوال باندې اضافه ولې اوفرمائيله؟ سوال خو صرف د اوبو سره متعلق وو نه د طعام سره. رسول الله ﷺ د شراب سره د طعام يعنی ميتة البحر حکم هم بيان اوفرمائيلو؟

جواب دا دې چه په دې سره د ماقبل مضمون تائيد مقصود دې. يعنی د ماء البحر د طاهر کيدو دليل دې. هغه داسې چه د ماء البحر په پاکيدو کښې دا کلام کيدې شی چه په دې کښې دننه خو په کثرت سره ځناور مرۀ کيږی بيا دهغې اوبه طاهر او مطهر څنګه شوې؟ نو ددې شبهې ازاله رسول الله ﷺ اوفرمائيله چه ميتة البحر پاک دې په دې صورت کښې به الحل په معنی د طاهر وی. او که په معنی د حلال وی نو دې ته جواب علی اسلوب الحکيم وئيلې شی يعنی سائل اګرچه د سمندر د اوبو په باره کښې تپوس کړې وو چه که خوږې

اوبه نه وی نو د سمندر په اوبو باندې اودس کیدې شي یا نه؟ نو رسول الله ﷺ ته په دې سوال باندې دا خیال پیدا شو چه څنګه دې خلقو ته د اوبو ضرورت پیښیدې شي هم دغه شان ورته د توښې او طعام په ختمیدلو باندې په بحري سفر کښې د خوراک حاجت هم پیښیدې شي نو رسول الله ﷺ د مخکښې د هغوی د سوال نه مخکښې د طعام په باره کښې هم جواب ارشاد اوفرمائیلو چه میتة البحر حلال دې، د توښې په نه پاتې کیدو باندې دهغې نه خوراک جوړولې شي، په جواب علي اسلوب الحکیم کښې د سوال مطابقت زیات تر ملحوظ نه وی بلکه د مخاطب حاجت او د مقام رعایت ملحوظ وی

ځان پوهه کړه چه ﴿هو الطهور ماؤه﴾ کښې مسند او مسند الیه دواړه معرفه دی، او تعریف الحاشیتین مفید د حصر وی، بیا حصر کله خو د مسند په مسند الیه کښې وی او کله ددې برعکس، دلته د مسند الیه حصر په مسند کښې دې .یعنی ماء البحر منحصر دې په طهوریت کښې، ماء البحر طهور دې غیر طهور نه دې او ددې عکس نه دې مراد . ګینې لازم به شي چه د ماء البحر نه علاوه هیڅ اوبه مطهر نه وی طهوریت به منحصر شي په ماء البحر کښې

د دې حدیث نه دوه مسئلې معلومیږی یو مسئله مترجم بها یعنی د ماء البحر حکم دا مسئله تقریبا اجماعی ده لکه چه مخکښې تیر شوې دی

مسئلة میتة البحر کښې د احنافو او جمهورو اختلاف او د هرې ډلې دلیل

دویمه مسئله د میتة البحر مستفاد کیږی چه هغه حلال دې، دا مسئله مختلف فیه ده د احنافو په نزد میتة البحر په کوم باندې چه د حلت حکم لګولې شي ددې مصداق صرف سمک دې لحدیث ﴿ احلت لنا المیتتان السمک والجراد ﴾ او د جمهورو په نزد تقریباً ټول بحري حیوانات مراد دی پس د مالکیانو په نزد ټول قسمونه حلال دی سوا د خنزیر نه. په دې کښې د هغوی درې اقوال دی ۱ حلت ۲ حرمت ۳ توقف

او د حنابله په نزد هم سوا د دریو نه ټول حلال دی او هغه درې دا دی ۱: تمساح، ۲: ضفدع، ۳: کوسج او د شوافعو په نزد لکه چه امام نووی لیکلې دی درې اقوال دی، اصح قول دا دې چه سوا د ضفدع نه ټول میتة البحر حلال دی، او دویم قول په شان د احنافو دې چه سوا د سمک نه ټول حرام دی او دریم قول دا دې چه د کوم میتة البحر مثال ماکول فی البر شته هغه حلال او د کوم نظیر چه غیر ماکول فی البر دې هغه حرام دی څکه چه څومره انواع د حیواناتو په بر کښې دی هم هغه هومره په بحر کښې هم دی لهذا د هغوی په نزد د نظیر اعتبار دې چه کوم قسم ځناور په خشکۍ کښې حلال دی لکه غوا ، میښه، ګډه بیزه وغیره هم دغه شان هم دا قسم میتة البحر هم حلال دی او کوم قسم ځناور چه په خشکۍ کښې حرام دی لکه کلب ذئب اسد وغیره نو هغه قسم میتة البحر هم حرام دې

جمهور په دې مسئله کښې د حدیث الباب نه استدلال کوی چه په دې کښې مطلقا میتة البحر حلال کړې شوې دې مونږ اووئیل چه دا حدیث په خپل عموم باندې خو ستاسو په نزد هم نه دې، هر یو امام څه نه څه استثناء کړې ده لهذا دا حدیث عام مخصوص منه البعض شو نو څنګه چه تاسو حضراتو تخصیص کړې دې زمونږ په نزد هم په دې کښې تخصیص دې

بلکه دا چه جمهورو په دې مسئله کښې آيت کريمه ﴿ احل لکم صيد البحر ﴾ نه هم استدلال کړې دې په دې آيت کريمه کښې هم مطلق د صيد البحر حلت ذکر دې. جواب دا دې چه ستاسو استدلال ددې آيت کريمه نه مبنی دې په دې خبره باندې چه په آيت کريمه کښې د صيد نه مراد مصيد وی موږ وايو داسې نه ده بلکه په آيت کريمه کښې صيد معنی مصدری يعنی د اصطياد په معنی کښې مستعمل دې، مصيد ددې معنی مجازی ده کومه چه تاسو اختيار کړې ده، او مقصود په آيت کريمه کښې د محرم په حق کښې صيد البر او صيد البحر کښې فرق له بيانول دی يعنی حالت احرام کښې اصطياد فی البحر (دريابی ښکار) جائز دې او اصطياد فی البر ناجائز، په دې آيت سره مقصود حلت لحم له بيانول نه دی ځنګه چه ستاسو خيال دې، د آيت کريمه د سياق او سباق نه د احنافو تائيد کيږی.

خان پوهه کړه چه مسئلة الوضوء بماء البحر کښې بعض سلفو لکه عبدالله بن عمرو ﷺ نه چه کوم کراهت منقول دې لکه چه په شروع باب کښې موږ بيان کړی دی غالبا ددې منشاء هغه حديث مرفوع دې چه دهغې راوی خپله سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص دې کوم چه په ابوداؤد کتاب الجهاد کښې دی ﴿ لا يركب البحر إلاحاج أو معتمر أو غاز في سبيل الله فإن تحت البحر نارًا أو تحت النار بحرا ﴾ پس امام ترمذی رحمه الله په جامع ترمذی کښې ليکلې دی چه عبدالله بن عمرو بن العاص د ماء البحر نه اودس مکروه ګڼړلو او دا يې نې فرمائيل چه ﴿ إنه نار ﴾ د امام ترمذی رحمه الله اشاره هم دې روايت طرف ته ده چونکه رسول الله ﷺ ماء البحر ته نار فرمائيلې دې په ظاهر کښې عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ ددې نه متاثر کيدو سره د عدم جواز الوضوء بماء البحر قائل شو.

اوس پاتې شوه دا خبره چه د ﴿ان تحت البحر نارا ﴾ څه مطلب دې؟ د بعضو رائې دا ده چه دا کلام په تشبيه باندې محمول دې مقصود ترې نه صرف د دريابی سفر خطرناکوالې بيانول دی لکه چه وئيلې شوې دی!

بدريا در منافع بيشمار است :: اگر خواهي سلامت برکنارست

او بعض وائی چه دا حديث په خپل حقيقت باندې محمول کيدې شی ځکه چه جهنم د آخرې زمکې د لاندې دې او د سمندر تخصيص په ظاهر کښې په دې وجه کړې شوې دې چه په آخرت کښې به د سمندر په اوبو کښې اور لګولو سره هغه خپله جزء جهنم يعنی د جهنم خشاک جوړ کړې شی کما قال الله تعالی : واذا البحار سجرت الآية.

د ابوداؤد ددې حديث نه معلوميږی چه دريابی سفر سوا د حج او عمرې او جهاد نه جائز نه دې حال دا چه په حديث الباب کښې چه ﴿ انا نركب البحر ﴾ دی په دې کښې بعض رواياتو کښې د﴿للصيد﴾ زيادت دې چه دهغې نه معلوميږی چه د ښکار دپاره هم دريابی سفر جائزدې؟ ددې تعارض جواب دا دې چه د ابوداؤد دا روايت ضعيف دې بلکه ابن الجوزی رحمه الله دا په موضوعات کښې شمار کړې دې، لهذا د ښکار وغيره دپاره دريابی سفر کول جائز دی.

د حديث البحر درجه د قوت او ضعف په اعتبار سره :

حديث الباب يعني حديث البحر د سنن اربعه صحيح ابن خزيمة او د صحيح ابن حبان روايت دې په موطاء امام مالک کښې هم دی، بهر حال په صحيحين کښې نشته امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله ددې حديث تخريج په دې وجه اونکړو چه په دې کښې دوه راويان داسې دی چه د هغې په نوم کښې اختلاف دې، يو سعيد بن سلمه دويم مغيره بن ابى بردة، هسې اکثرو محدثينو ددې تصحيح او تلقى بالقبول کړې دې،[1] هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله هم ددې تصحيح کړې ده کما قال الترمذي، خو په دې باندې ابن عبدالبر اشکال اوکړو چه ﴿ لوکان صحيحا عنده لأخرجه في صحيحه ﴾ حافظ فرمائي چه د ابن عبد البر دا اشکال غلط دې ځکه چه د امام بخاري رحمه الله په نزد د يو حديث د صحيح کيدو نه دا نه لازميږي چه هغوى دې هغې لره په خپل صحيح کښې هم راوړي ځکه چه هغوى د استيعاب قصد نه دې کړې چه کوم حديث هم د هغوى په نزد صحيح وى هغوى دې په خپل صحيح کښې ذکر کړي.

بيا خان پوهه کړه چه د حديث الباب امام شافعي رحمه الله ډير اهميت بيان کړې دې او فرمائي چه ﴿ انه نصف علم الطهارة ﴾ چه دهغې وجه ښکاره ده چه دنيا په دوؤ حصو کښې تقسيم ده. بر او بحر په دې حديث کښې د بحر د پاکوالي او ناپاکوالي ټول مسائل راغلل

بَابُ الْوُضُوءِ بِالنَّبِيذِ

باب دې په بيان داودس کولو په نبيذ باندې

د دې باب سره متعلق پنځه بحثونه

دلته څو خبرې دی

۱: د نبيذ تعريف په لغت او عرف کښې، ۲: ددې اقسام،

۳: ددې اقسامو احکام، ۴: د نبيذ مختلف فيه تعين،

۵: د حديث الوضوء بالنبيذ ثبوت

بحث اول : د نبيذ لغوي او عرفي تعريف

نبيذ د نبذ نه دې چه دهغې معنى ده اچول. د فعيل صيغه ده د مفعول په معنى کښې يعنى منبوذ. دا يو قسم شربت دې کوم چه د مختلفو ځيزونو . تمر، زبيب، عسل، حنطه او شعير وغيره نه جوړيږي، خو زيات تر نبيذ د تمر وى، هم دې لره به رسول الله ﷺ څکلو. ددې طريقه دا ده چه د کوم ځيز نبيذ جوړول وى مثلاً کهجور يا اوسکې هغه د ماښام په وخت په اوبو کښې خوشتې کړې شى او سحر کښې چه کله په هغې کښې خوږوالې پيدا شى نو اوڅکلې شى يا سحر په اوبو کښې کيخودلې شى او ماښام اوڅکلې شى

بحث ثاني و ثالث : د نبيذ اقسام او احکام

---

[1] البته ابن دقيق العيد (رح) په دې حديث باندې کلام کړې دې او دانې معلل ګرځولې دې

د احکاماتو په اعتبار سره ددې درې قسمونه دي:
(۱) اول دا چه کهجورې د لږ ساعت دپاره په اوبو کښې خوشتې کړې شي، او بيا راويستلې شي چه د خوږ والي اثر لا په اوبو کښې نه وي راغلې،
(۲) دويم قسم دا دې چه دومره ساعت په اوبو کښې کيخودلې شي چه په دې اوبو کښې تغير راشي حدت او تيزي، زګ او نشه پيدا شي،
(۳) او دريم صورت دا دې چه دومره ساعت په اوبو کښې خوشتې کړې شي چه په اوبو کښې صرف خوږ والې پيدا شي او هيڅ قسم تغير تيزي يا زګ پکښې پيدا نه شي،
په قسم اول باندې اودس بالاتفاق جائز دې ځکه چه في الواقع عرفا هغه نبيذ نه دې صرف لغة نبيذ دې، او قسم ثاني په کوم کښې چه نشه پيدا شي په دې سره اودس بالاتفاق ناجائز دې، او قسم ثالث کوم چه درميانه دې په هغې کښې اختلاف دې، د ائمه ثلاثه او امام ابويوسفؒ په نزد په هغې سره اودس کول جائز نه دي او د امام صاحب قول دې چه په دې سره اودس جائز دې، د امام محمدؒ مسلک دا دې چه په داسې نبيذ سره دې اودس هم اوکړې شي او تيمم دې هم اوکړې شي.

بحث رابع: د نبيذ مختلف فيه تعين:

بيا خان پوهه کړه چه نبيذ د مختلفو څيزونو نه جوړولې شي لکه چه مخکښې تير شو، خو د علماء کرامو اختلاف صرف په نبيذ تمر کښې دې، د تمر نه علاوه چه د نورو څيزونو نه کوم نبيذ جوړولې شي دهغې نه اودس بالاتفاق جائز نه دې، ځکه چه د وضوء بالنبيذ جواز د امام صاحب په نزد خلاف قياس د حديث په بناء دې، او کوم حکم چه خلاف قياس د حديث نه ثابت شي هغه په خپل مورد باندې منحصر وي، بل څيز په هغې باندې قياس کول صحيح نه دي، بلکه دا چه امام صاحبؒ کوم چه د وضوء بالنبيذ د جواز قائل دې هغه په هغه وخت کښې دي چه کله ماء مطلق نه وي اود ماء مطلق د وجود په وخت هغه هم د جواز قائل نه دې، خو د امام اوزاعيؒ په نزد سره د ماء مطلق د موجودګۍ په نبيذ سره اودس کول جائز دي.

دا دې هم واضحه وي چه امام صاحبؒ په ابتداء کښې د نبيذ نه په اودس کولو قائل وو، بيا روستو د جمهور د مسلک طرف ته د هغوی رجوع هم ثابته ده، لهذا اوس فتوی په دې قول اخير باندې ده هم دا امام طحاوي هم اختيار فرمائيلې دې.

بحث خامس: دحديث الوضوء بالنبيذ ثبوت:

اوس پاتې شوه مسئله د دلائلو پس خان پوهه کړه چه د امام صاحبؒ استدلال د حديث الباب يعني دعبدالله بن مسعودؓ د حديث نه دې کوم چه په ليلة الجن کښې راپيښ شوې وو، چه په هغې کښې دی چه رسول اللهﷺ د نبيذ په باره کښې اوفرمائيل (تمرة طيبة وماء طهور) او بيا ئې په هغې باندې اودس اوفرمائيلو.

[۸۴]() حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي فَزَارَةَ، عَنْ أَبِي زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ: "مَا فِي إِدَاوَتِكَ؟" قَالَ: نَبِيذٌ. قَالَ: "تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُورٌ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ: عَنْ أَبِي زَيْدٍ أَوْ زَيْدٍ كَذَا، قَالَ شَرِيكٌ: وَلَمْ يَذْكُرْ هَنَّادٌ لَيْلَةَ الْجِنِّ.

ترجمه: د عبد الله مسعود رضی الله عنه نه روايت دي بيشكه نبي ﷺ اووئيل هغه ته په شپه د جن، ستا په دي لوښي کښي څه دي؟ نو هغه اووئيل نبيذ، هغه اووئيل قجوره ښه ده او اوبه پاکي دي

تشريح: جمهور علماء كرام ددي حديث په تضعيف پسي لګيدلي دي، احناف د امام صاحب رحمه الله د طرف نه د جمهورو د اعتراضاتو په جواب پسي دی او په دي سره بحث اوږديږي، خو چونکه د امام صاحب رحمه الله رجوع په دي مسئله کښي ثابت ده او بيا د جمهورو سره کيدل ئي منقول دی نو بيا په دلائلو باندي کلام او بحث کولو ته حاجت نشته، صاحب د بحر الرائق هم ليکلي دی. خو چونکه دا خبره يقيني ده چه شروع کښي امام صاحب په دي باندي د اودس د جواز قائل وو نو سوال واردیږی چه آخر د کوم دليل په بناء قائل وو او په کومه درجه کښي ددي دليل ثبوت دي دا معلوميدل پکار دی. په دي وجه دا بحث بيانول ته حاجت وی پس په دلائلو باندي حضرت په بدل کښي کلام فرمائيلي دي او حديث الباب کوم چه د امام صاحب رحمه الله مستدل وو دا ئي ثابت منلي دي او په دي باندي ئي د جمهور محدثينو د طرف نه چه کوم اعتراضات کولي شی دهغي جوابات ئي ورکړي دی لهذا موږ هم په دي باندي څه کلام کوو

پس خان پوهه کړه چه حديث الوضوء بالنبيذ کوم چه مصنف رحمه الله په دي باب کښي ذکر کړي دي دا د سنن ثلاثه ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه روايت دي هم دغه شان طحاوی او مسند احمد کښي هم موجود دي، شيخين او امام نسائی ددي تخريج نه دي فرمائيلي جمهور محدثينو په دي باندي دريو طريقو سره کلام کړي دي

اشکال ۱ ددي حديث په سند کښي ابوزيد راوی دي کوم چه په اتفاق د محدثينو مجهول دي، پس ابن عبد البر رحمه الله د هغوی په مجهول کيدو باندي اتفاق نقل کړي دي امام ترمذی رحمه الله هم دغه شان نقل فرمائيلي دی چه دا مجهول دي. د حديث نبيذ نه علاوه بل يو حديث هم د هغه نه نه دي روايت کړي شوي؟

جواب علامه عيني رحمه الله ددي اعتراض جواب دا ورکړي دي چه ابن العربي رحمه الله فرمائی چه دا حديث د ابوزيد نه راوی مذکور فی السند ابوفزاره نه علاوه ابو روق هم روايت کوی. علامه عيني وائي چه هر کله د ابوزيد نه روايت کونکي دوه شو نو بيا ابوزيد د حد جهالت نه خارج شو ،ځکه چه مجهول العين هغه ته وائي من لم يرو عنه "لا واحد) بيا علامه عيني رحمه الله فرمائی چه دا حديث د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کونکي صرف ابوزيد نه دي بلکه

() سنن الترمذي/الطهارة ٦٥ (٨٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٧ (٣٨٤)، (تحفة الأشراف: ٩٦٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٢/١) (ضعيف)

د ابوزید نه علاوه یو جماعت هم دا د هغوی نه روایت کوی او عینی اربعة عشر رجلا یعنی څوارلس راویان سره د کتب حدیث د حوالې داسې شمار کړی دی کوم چه دا حدیث د عبدالله بن مسعود ﷜ نه روایت کوی. د هغه څوارلسو راویانو بیان په بذل المجهود کښې موجود دی هلته کتلې شی. دا د اول اشکال جواب شو

اشکال ۲ دویم اشکال ددې حضراتو په دې حدیث باندې دا دې چه دا حدیث د اخبار احاد نه دې کوم چه د کتاب الله د اطلاق خلاف دې ځکه چه کتاب الله کښې خو دا دی چه که ماء مطلق بیا نه مومئ نو تیمم اوکړئ او ظاهره ده چه نبیذ ماء مطلق نه دی بلکه ماء مقید دی لهذا تیمم کول پکار دی. د اودس دپاره ماء مطلق ضروری دی؟

جواب: ددې اشکال جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه چونکه د وضوء بالنبیذ بعض اکابر صحابه کرام﷡ قائل وو لکه علی، ابن مسعود، ابن عمر او ابن عباس﷡ لهذا دې حدیث ته د عمل صحابه او تلقی بالقبول د وجې نه د حدیث مشهور درجه ورکړې کیدې شی، او په داسې قسم حدیث سره اطلاق د کتاب الله کښې ترمیم او تخصیص جائز دې

اشکال ۳ دریم اشکال په دې حدیث باندې د جمهورو د طرف نه دادې چه په صحیح مسلم او خپله په سنن ابوداؤد کښې په یو روایت کښې دا دی چه علقمه د خپل استاذ عبدالله بن مسعود ﷜ نه تپوس اوکړو چه په لیلة الجن کښې ستاسو نه یو تن د رسول الله ﷺ سره وو نو هغوی جواب ورکړو (ما کان معه منا احد) امام نووی﷫ په شرح د مسلم کښې فرمائی چه دا حدیث صریح دلیل دې ددې خبرې چه د وضوء بالنبیذ هغه حدیث کوم چه په سنن ابوداؤد وغیره کښې موجود دې هغه باطل دې او دهغې هیڅ اصل نشته؟

جواب: زمونږ د طرف نه ددې دا جواب کړې شوې دې نتیجه د لیلة الجن واقعه لکه چه مشهوره ده څو کرته راپیښه شوې ده. د جناتو وفدونه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې په مختلفو زمانو کښې شپږ کرته حاضر شوې دی لکه چه په آکام المرجان فی احکام الجان کښې لیکلې شوې دی. اول ځل خاص په مکه کښې. هغه وخت عبدالله بن مسعود ﷜ د رسول الله ﷺ سره نه وو. دویم ځل هم په مکه کښې په مقام جحون باندې چه یو غونډئ ده. په دریم ځل د مکې په یو بل مقام کښې. څلورم ځل په مدینه منوره بقیع الغرقد کښې. په دې درې واړو کرتو کښې عبدالله بن مسعود ﷜ د رسول الله ﷺ سره وو. او پنځم ځل د مدینې طیبې نه بهر. دې ځل د رسول الله ﷺ سره زبیر بن العوام﷜ وو او شپږم ځل په بعض سفرونو کښې. دې وخت کښې د رسول الله ﷺ سره بلال بن الحارث﷜ وو (دا هغه بلال نه دې کوم چه د رسول الله ﷺ موذن دې هغه خو بلال بن رباح ﷜ دې)

د دې دریم اشکال نور هم جوابونه کړې شوی دی مثلا دا چه (ما کان معه منا احد ای غیری) یعنی زما نه علاوه څوک هم د رسول الله ﷺ سره نه وو یا مراد دا دې چه خاص په مقام د تعلیم کښې چرته چه رسول الله ﷺ د جناتو مقدمې فیصله کړې وې هلته د رسول الله ﷺ سره څوک هم نه وو ځکه چه منقول دی چه رسول الله ﷺ جناتو ته د ورتللو نه مخکښې عبدالله بن مسعود ﷜ په لاره کښې یو ځائې کښې اودرولو سره کینولې وو چه ته

هم دلته اوسيږه ورانديږ مه راځه او په دې خائي کښې رسول الله ﷺ د هغوی د حفاظت په غرض باندې حصار جوړ کړې وو پس دوی هم هلته ناست وو او رسول الله ﷺ سحر ته نژدې نژدې د جناتو نه واپس تشريف راوړلو، هغه وخت چونکه د مانځه وخت شوې وو په دې وجه رسول الله ﷺ د هغوی نه تپوس اوفرمائيلو چه په حديث الباب کښې دی ﴿ ما فی اداوتک؟ ﴾ دا د مشهور ايراداتو جوابات دی حاصل دا چه حديث ثابت دې لهذا وضوء بالنبيذ جائز دې ...

په وضوء بالنبيذ کښې د امام محمد رحمه الله رائې :

په دې مسئله کښې د امام محمد رحمه الله رائې دا ده چه جمع بين الوضوء والتيمم دې اوکړی هغوی فرمائی چه آيت تيمم خو متعين دې چه مدنی دې او د ليلة الجن واقعه په مکه کښې هم پيښه شوې وه او په مدينه کښې هم، د ليلة الجن واقعه که مکی وې نو دغه آيت کريمه به ناسخ منلې شوې وې ځکه چه آيت کريمه روستنې دې مدنی دې خو چونکه ليلة الجن ځيله په مدينه کښې هم پيښه شوې ده، په دې وجه په يقين سره نه شی وئيلې چه د آيت کريمه نزول موخر دې په دې وجه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دحديث په منسوخ کيدو کښې تردد راغلو په دې وجه د احتياط تقاضه داده چه وضوء بالنبيذ او تيمم دواړه دې اوکړې شي.

[۸۵]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ دَاوُدَ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ: "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْجِنِّ؟ فَقَالَ: مَا كَانَ مَعَهُ مِنَّا أَحَدٌ".

ترجمه: د علقمه نه روايت دې هغه وائی ما عبد الله بن مسعود ته اووئيل په تاسو کښې څوک وو د رسول الله ﷺ سره په شپه د جن کښې؟ نو هغه اووئيل نه وو د هغه سره زمونږ نه هيڅ څوک.

تشريح: ۲ ﴿ ما کان معه منا احد ﴾ د مصنف رحمه الله د طرز عمل نه معلوميږی چه اگرچه هغوی د وضوء بالنبيذ باب ترلې دې خو هغوی ددې قائل نه دی او نه هغوی حديث الوضوء بالنبيذ لره ثابت منی، غالبا هم په دې وجه هغوی مسلسل څو ځيزونه داسې ذکر کړې دی کوم چه دهغې خلاف دی مثلا يو خو هم دا حديث دې ﴿ ما کان معه منا احد ﴾ او بيا ورانديږ تلو سره ئې د عطاء بن ابی رباح رحمه الله مسلک ذکر کړې دې. ﴿ انه کره الوضوء باللبن والنبيذ ﴾ ددې نه پس ئې اثر د ابو العاليه ذکر کړو دا ابو العاليه په کبار تابعينو کښې دې بلکه محضرم دې زمانه د جاهليت ئې او د اسلام دواړه ئې موندلې دی، د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو ئې اسلام قبول کړو هغوی نه چا د اغتسال بالنبيذ مسئله اوتپوسله چه که د يو سړی سره ماء مطلق نه وی نو هغه په نبيذ سره غسل کولې شی او که نه؟ نو هغوی جواب ورکړو چه نه شی کولې

(): صحيح مسلم/الصلاة ۳۳ (۴۵۰)، سنن الترمذي/تفسير القرآن ۴۶ (۳۲۵۸)، (تحفة الأشراف: ۹۴۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۴۳۶) (صحيح)

[۸۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، "أَنَّهُ كَرِهَ الْوُضُوءَ بِاللَّبَنِ وَالنَّبِيذِ، وَقَالَ: إِنَّ التَّيَمُّمَ أَعْجَبُ إِلَيَّ مِنْهُ".

ترجمه: د عطاء نه روايت دي چه هغه مکروه ګڼړلی دی اودس کول په شودو او په نبيذ، او وئيلی دی: چه تيمم ډير خوښ دی ماته دهغې نه

[۸۷]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا أَبُو خَلْدَةَ، قَالَ: "سَأَلْتُ أَبَا الْعَالِيَةِ عَنْ رَجُلٍ أَصَابَتْهُ جَنَابَةٌ وَلَيْسَ عِنْدَهُ مَاءٌ وَعِنْدَهُ نَبِيذٌ، أَيَغْتَسِلُ بِهِ؟ قَالَ: لَا".

ترجمه: ابو خلده وايي: چه ما تپوس اوکړو د ابو العاليه نه، د يو سړي په باره کښې چه جنابت ورته رسيدلی وي او د هغه سره اوبه نه وي، او د هغه سره نبيذ وی آيا په هغې به غسل کوي؟ نو هغه اووئيل نه

د اغتسال بالنبيذ حکم :

خو خان پوهه کړه چه مسئله د اغتسال بالنبيذ ځيله زمونږ د مشائخو ترمينځه مختلف فيه ده، د امام صاحب رحمه الله نه خو په دې مسئله کښې هيڅ تصريح نه ده روايت کړې شوې د امام صاحب رحمه الله د طرف نه بعضو مشائخو جواز او بعض عدم جواز نقل فرمائيلې دې، دويمه خبره دا ده چه امام ابوداؤد رحمه الله اثر د ابوالعاليه دلته پوره نه دې ذکر کړې، د هغوی پوره روايت په دارقطنی کښې موجود دې کوم چه حضرت په بذل کښې نقل فرمائيلې دې او په هغې کښې دا زيادت دې چه کله ابوالعاليه د غسل بالنبيذ انکار اوکړو نو سائل هغوی ته د ليلة الجن واقعه ورياده کړه ځکه چه دهغې نه جواز معلوميږی نو په دې باندې ابوالعاليه اوفرمائيل : ﴿ انبذتكم هذه الخبيثة انما كان ذلك زبيبا وماء ﴾ ددې نه د ابوالعاليه صحيح مسلک معلوم شو هغه دا چه هغوی چه کوم د غسل بالنبيذ انکار فرمائيلې وو ددې نه هغه نبيذ مراد وو کوم چه نجس او خبيث يعنی مسکر وی د داسې قسم نبيذ نه د جواز هيڅ څوک هم قائل نه دی

بَابُ أَيُصَلِّي الرَّجُلُ وَهُوَ حَاقِنٌ

باب دې په بيان ددې کښې چې ايا سړی به مونځ کوي چې اودس ماتی ورغلی وي

د دې کتاب ابواب او مضامين ډير مرتب دی، په ترمذی شريف کښې خو ډير ابواب بې محل راشی، خو په ابوداؤد کښې دا باب هم بې محل شان دې، يا خو دې دا په مکروهات صلوة کښې وې او لا تر اوسه پورې مکروهات صلوة نه دی شروع شوې، يا په ابواب الاستنجاء کښې کيدل پکار وو کوم چه مخکښې تير شوی دی

د مسئلة مترجم بها حکم او اختلاف ائمة :

حاقن وئيلې شی حابس البول ته يعنی چاته چه د متيازو تقاضا وی خو هغه منع کړې وی او

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٠٦٢) (صحيح)
(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٦٤٠) (صحيح)

ددې بالمقابل لفظ د حاقب دې يعنی حابس الغائط چاته چه د لوئي استنجاء حاجت وی او هغه منع کړې وی دا هم هغه مسئله ده د کومې نه چه فقهاء کرامو په صلوة عند مدافعة الاخبثين سره تعبير فرمائيلي دې، په دې صورت کښې مونځ شروع کول بالاتفاق مکروه تحريمی دی، بلکه د مالکيانو په نزد خو بعض صورتونو کښې د مونځ اعاده واجبيږی، د هغوی په نزد په دې مسئله کښې څه تفصيل دې کوم چه صاحب منهل ذکر کړې دې، په اوجز کښې د ابن عبدالبر رحمه الله نه نقل کړې شوې دی چه که يو سړې په دې حالت کښې مونځ اوکړی نو د امام مالک رحمه الله يو روايت دې چه ﴿ يعيد في الوقت ﴾ يعنی په وخت کښې دننه دننه ئې اعاده ضروری ده او که وخت تير شو نو بيا خير دې مونځ ئې کيږی.

دويم صورت دا دې چه د مونځ شروع کولو په وخت خو مدافعت يعنی د استنجاء تقاضه نه وه خو د مونځ شروع کولو نه پس تقاضا پيدا شوه ددې صورت هم دا حکم دې چه هغه لره مونځ قطع کول پکار دی خو که قطع ئې نه کړو نو مونځ به ئې صحيح شی، د امام ترمذی رحمه الله د کلام نه معلوميږی چه د بعض علماء کرامو په نزد په دې دواړو صورتونو کښې لږ شان فرق دې هغه دا چه د مدافعت اخبثين په وخت شروع خو دې مطلقا نه کوی، خو د شروع کولو نه پس که مدافعت وی نو په مونځ قطع کولو کښې دې تندی نه کوی تر څو پورې چه ددې حالت زياته تقاضا نه وی.

د دې نه پس خان پوهول پکار دی چه په دې حالت کښې د مونځ نه د منع کولو د ممانعت علت څه دې؟ په دې کښې اختلاف دې کوم چه ابن العربی رحمه الله په شرح د ترمذی کښې بيان کړې دې، هغوی ليکی د بعضو په نزد علت منع شغل بال دې يعنی د زړه توجه او خيال به ئې ټول د استنجاء طرف ته وی په دې وجه کراهت دې او د امام احمد رحمه الله نه نقل دی هغوی فرمائی چه علت د منع انتقال حدث دې يعنی د متيازو د خپل مستقر او معدن نه منتقل کيدل دی، اګرچه خروج ئې نه وی شوې خو د خپل ځائې نه ئې انتقال شوې دې ګويا دا مذکوره سړې د نجاست بارونکې شو او حمل نجاست مفسد صلوة دې، لکه چه يو سړې په شيشه کښې متيازې واخلی او د مانځه په وخت ئې په جيب کښې کيږدی او کوم نجاست چه په خپل معدن او مستقر کښې وی نو اګرچه هغه په مانځه کښې د مونځ ګزار سره دې خو هغه معاف دې (د دې علت تقاضه دا ده چه د مانځه اعاده واجب کيدل پکار دی، پس د امام احمد رحمه الله په نزد د منئ د خپل محل نه منتقل کيدل سبب د غسل دې اګرچه په خارج کښې ددې ظهور نه وی شوې) او مالکيان وائی کوم چه په بعض صورتونو کښې د مونځ د اعادې کولو قائل دی لکه چه په بيان د مذاهبو کښې تير شوې دی چه د سختې تقاضې په وخت به ئې سړې په سختئ سره بندوی او دا به مفضی شی د عمل کثير طرف ته، او عمل کثير مفسد د صلوة دې.

[۸۸] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَرْقَمِ، أَنَّهُ خَرَجَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا وَمَعَهُ النَّاسُ وَهُوَ يَؤُمُّهُمْ، فَلَمَّا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَقَامَ الصَّلَاةَ صَلَاةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ قَالَ: لِيَتَقَدَّمْ أَحَدُكُمْ وَذَهَبَ إِلَى الْخَلَاءِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَذْهَبَ الْخَلَاءَ وَقَامَتِ الصَّلَاةُ، فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى وُهَيْبُ بْنُ خَالِدٍ، وَشُعَيْبُ بْنُ إِسْحَاقَ، وَأَبُو ضَمْرَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلٍ حَدَّثَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَرْقَمَ، وَالْأَكْثَرُ الَّذِينَ رَوَوْهُ عَنْ هِشَامٍ، قَالُوا كَمَا قَالَ زُهَيْرٌ.

ترجمه: د عبد الله بن الارقم نه روايت دي. بيشکه هغه راووتلو د حج په نيت، او يا د عمري په نيت او د هغه سره خلق وو. او هغه ورته امامت کولو. هر کله چه يوه ورځ شوه نو مونځ ئي اودرولو. د سحر مونځ. بيا ئي اووئيل: يو کس دي ستاسو نه مخکښې شي او خپله لاړو بيت الخلاء ته. بيشکه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه هغه به ويل: کله چه اراده اوکړي يو ستاسو نه چه لاړ شي بيت الخلاء ته او مونځ اودريږي، نو شروع دي اوکړي په بيت الخلاء. ابوداؤد وائي: وهيب بن خالد، شعيب بن اسحاق او ابو ضمره هم دا حديث دهشام بن عروه نه روايت کړي دي، هشام دخپل پلار عروه نه، او عروه د يو مبهم (نامعلوم) سړي نه، اوهغه د عبدالله بن ارقم رضي الله عنه نه بيان کړي دي. ليکن د هشام نه د روايت کونکو اکثريت دهغه نه همدغسې روايت کړي دي څرنګه چه زبير روايت کړي دي (يعني د عن رجل اضافه ئي نه ده کړي)

مضمون حديث :

د حديث الباب حاصل د ادې چه عروه رحمه الله فرمائي عبدالله بن ارقم رضي الله عنه صحابي يو ځل سفر حج يا عمرې ته روان وو، هغوی سره ډير ملګري په دې سفر کښې شريک شو، په لاره کښې به د مانځه امامت هم هغوی فرمائيلو، عروة رحمه الله فرمائي چه د يوې ورځې خبره ده چه د سحر د مانځه وخت وو هغوی د مانځه دپاره تکبير شروع کړو او د اقامت د شروع کولو نه پس ئي اوفرمائيل چه په حاضرينو کښې دې څوک وړاندې راتلو سره امامت اوکړي، او خپله ئي د استنجاء دپاره تشريف يوړو، وړاندې په روايت کښې دي ﴿ فانی سمعت الخ ﴾ په دې کښې دوه احتمالات دي يا خو هغوی هم په دې وخت د تلو نه مخکښې دا حديث واورلو او دا هم احتمال دې چه د واپس راتلو نه پس به ئي اورولي وي، د حديث مضمون دا دې چه د کوم سړي اراده د استنجاء دپاره د تلو وي او بل طرف ته مونځ اودريږي نو هغه له پکار دی چه استنجاء مقدم کړی

د اختلاف فی السند تشريح او توجيه

﴿ قال ابوداؤد روی وهيب بن خالد الخ ﴾ د مصنف رحمه الله غرض د هشام د شاګردانو اختلاف بيانول دی هغه اختلاف دا دې چه عروه دا واقعه د عبدالله بن ارقم رضي الله عنه نه براه راست بيانوی

---

(۱): سنن الترمذي/الطهارة ۱۰۸ (۱٤۲)، سنن النسائي/الإمامة ٥۱ (۸٥۱)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۱٤ (٦۱٦)، (تحفة الأشراف: ٥۱٤۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة السفر ۱۷ (٤۹)، مسند احمد (٤/۳٥)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۳۷ (۱٤٦۷) (صحيح)

او که په مینځ کښې ئې څه واسطه شته؟ پس د زهیر روایت کوم چه په شروع کښې راغلو هغه بغیر د واسطې نه دې، او په کومو روایتونو کښې چه مصنفﷺ حواله ورکوی یعنې وهیب، شعیب او ابوضمره ددې درې وارو په روایت کښې د عروه او صحابي ترمینځه د یو رجل مبهم واسطه ده، ددې اختلاف د ذکر کولو نه پس منصفﷺ فرمائي چه د هشام اکثر شاګردانو هم دغه شان روایت کړې دې ځنګه چه زهیر یعنې بغیر د واسطې نه لهذا هم هغه راجح دې

حضرت سهارنپوریﷺ په بذل کښې لیکلې دی چه هم دا رائي د امام ترمذیﷺ ده هغوی هم د عدم واسطې روایت ته ترجیح ورکړې ده او حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې د تهذیب په حوالې سره لیکلې دی چه امام ترمذیﷺ په العلل المفرد کښې لیکلې دی چه امام بخاریﷺ د واسطې روایت لره ترجیح ورکړې ده.

اوس که دواړه روایتونه صحیح وی نو د تطبیق شکل به څه وی؟ نو په دې صورت کښې حضرت په بذل کښې دا لیکلې دی چه کیدې شی چه په دې سفر کښې عروه د عبدالله بن ارقمﷺ سره نه وو او ددې واقعې روایت هغوی ته بالواسطه رسیدلې وی او ددې نه پس د عروهﷺ ملاقات د عبدالله بن ارقمﷺ سره شوې وی او د هغوی نه ئې براه راست هم واقعه اوریدلې وی خو حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې د اوجز په حوالې سره لیکلې دی چه د مصنف عبدالرزاق د روایت نه د عروه په دې سفر کښې یو ځائي کیدل معلومیږی لهذا دا توجیه دې اوکړې شی چه عروه ورسره اګرچه په سفر کښې ملګرې وو خو خاص په دې موقع باندې موجود نه وو په دې وجه ئې اول بالواسطه واوریدل او په دویم ځل ئې بغیر د واسطې نه

[۸۹]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى الْمَعْنَى، قَالُوا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي حَزْرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ ابْنُ عِيسَى فِي حَدِيثِهِ: ابْنُ أَبِي بَكْرٍ، ثُمَّ اتَّفَقُوا أَخُو الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ عَائِشَةَ فَجِيءَ بِطَعَامِهَا، فَقَامَ الْقَاسِمُ يُصَلِّي، فَقَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يُصَلَّى بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا وَهُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ".

ترجمه: بیان کړی دی عبد الله بن محمد، هغه وئیلی دي وو موږ د عائشې سره نو راوړلی شو طعام د هغې. نو پاڅیدلو قاسم چه مونځ ئې کولو، نو هغې ورته اووئیل چه ما اوریدلي دي د رسول اللهﷺ نه چه وئیل یې مونځ به نه شي کیدې کله چه ډوډئ موجود وی. او نه په داسې حال کښې چه هغه لره دوه ناخوښه خیزونو (ډک او تش اودس ماتي) زور ورکړې وی

د سند وضاحت

قوله ﴿ قال ابن عیسی فی حدیثه ابن ابی بکر الخ ﴾ په دې حدیث کښې د مصنفﷺ درې استاذان دی چه په هغوی کښې یو استاذ یعنې ابن عیسی د عبدالله بن محمد کوم چه په

() صحیح مسلم/المساجد ۱۶ (۵۶۰)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۶۹، ۱۶۲۸۸)، مسند احمد (۶/۴۳، ۵۴) (صحیح)

سند کښې ذکر شوې دې د هغوی صفت ابن ابی بکر بیان کړو په خلاف د دوه استاذانو احمد بن حنبل او مسدد چه هغوی ورته صرف عبدالله بن محمد اووئیل، خو د عبدالله بن محمد بل صفت اخو القاسم بن محمد ټولو بیان کړې دې

خان پوهه کړه چه عبدالله بن محمد دوه دی یو عبدالله بن ابی بکر او دویم عبدالله بن محمد بن عبدالرحمن بن ابی بکر قاسم به دې دواړو کښې د رومبی حقیقی رور دې د دواړو د نسب سلسله دې د نقشې نه فهم کړې شي!

اوس چه کوم راوی صرف عبدالله بن محمد وئیلی دې په دې کښې دوه احتمالونه وو، یا خو به نقشه کښې ذکر شوې بنی طرف والا عبدالله وی یا گس طرف والا، یو د ابوبکر نمسې او بل کړوسې دې، اوس چه کوم راوی د ابن ابوبکر د صفت اضافه اوکړه نو هغه گویا د بنی طرف والا تعیین اوکړو او وړاندې تلو سره د مصنف ﷫ ټولو استاذانو بل صفت یعنی اخو القاسم بیان کړې دې ددې صفت هم تقاضا دا ده چه دا عبدالله بن محمد بن ابی بکر وی.

خو د صحیح مسلم د روایت نه معلومیږی چه عبدالله بن محمد گس طرف والا دی یعنی عبدالله بن محمد بن عبدالرحمن بن ابی بکر او حافظ به تهذیب کښې لیکلې دی چه محفوظ هم هغه دې کوم چه د مسلم په سند کښې دې، اوس که دا خبره وی نو بیا به هغوی ته اخو القاسم بن محمد وئیل مجازا وی ځکه چه دا عبدالله د قاسم حقیقی رور نه دې بلکه ترهٔ خوئې نې دې یعنی د ترهٔ د خوی خوئې

مضمون حدیث

وړاندې د حدیث مضمون دا دې چه عبدالله بن محمد وائی زه او قاسم دواړه خپلې ترور عائشې ﷞ کره وو، لږ ساعت پس دوډئ راغله نو په ځائې ددې چه قاسم د خوراک طرف ته متوجه شوې وې فوراً اودریدلو او د مونځ نیت ئې اوتړلو گویا د خوراک نه ئې اعراض اوکړو په دې باندې عائشې ﷞ هغوی ته تنبیها اوفرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه هغوی فرمائیل چه کله خوراک کیخودلې شی نو مونځ نه دی شروع کول

پکار. او نه د مدافعة الاخبثين په وخت کښې کول پکار دی. په دې حدیث کښې دوه اجزاء دی. د عائشې رضي الله عنها مقصود جزء اول دې یعنی ﴿ لا یصلی بحضرة الطعام ﴾ او د مصنف رحمه الله مقصود جزء ثاني دې لکه چه ظاهره ده.

دلته دا سوال پیدا کیږی چه حضرت قاسم رحمه الله داسې ولې اوکړل؟ جواب: دا دې چه د ابوداؤد په دې روایت کښې خو اختصار دی. صحیح صورت حال د مسلم شریف د روایت نه معلومیږی چه دهغې خلاصه دا ده چه د عائشې رضي الله عنها وراره عبدالله خو فصیح اللسان وو. صفا خبرې به ئې کولې، او دا قاسم غیر فصیح وو. د هغوی خبرې صفا او مزیداري نه وې، پس د مسلم په روایت کښې دی ﴿ وکان القاسم رجلا لحانة ﴾ یعنی د هغوی په کلام کښې لحن ډیر موندلې شو. لحانة بروزن علامة. تآء په دې کښې د تآنیث نه ده بلکه د مبالغې دپاره ده لکه د علامة په شان. سیده عائشه رضي الله عنها خپله هم ډیره فصیح اللسان وه نو هغوی قاسم ته تنبیه اوکړه چه ﴿ ما لک لا تتحدث کما یتحدث ابن اخی هذا ﴾ یعنی په تا باندې څه چل دې ته داسې صفا خبرې ولې نه کوې لکه زما دا بل وراره چه ئې کوی او ددې دپاسه ئې قاسم ته د هغه په مور باندې پیغور ورکړو ځکه چه هغه په اصل کښې ام ولد وه. په دې باندې هغه خفه شو او د عائشې رضي الله عنها په دوډئ لیدلو باندې ئې د مانځه نیت اوتړلو چه هر کله ته مونږ سره داسې معامله کوې نو مونږ به هم ستا دوډئ نه خورو. په دې باندې عائشې رضي الله عنها هغه حدیث واورولو کوم چه دلته په کتاب کښې مذکور دی

لا یصلی بحضرة الطعام شرح او فقهی مسئله

د دې حدیث جزء اول یعنی د طعام دحاضریدو په وخت مونځ نه کول. دا مشهور حدیث دې کوم چه په مختلفو الفاظو سره روایت کړې شوې دې، په بعض روایتونو کښې داسې دی ﴿اذا حضر العشاء والعشاء فابدؤا بالعشاء ﴾ په دې باندې فقهی حیثیت سره کلام دا دې چه که یو سړې د خوراک د حاضریدلو باوجود اول مونځ اوکړی نو د جمهور علماء کرامو او د ائمه اربعه په نزد به د هغه مونځ صحیح وی. او د اهل ظواهر په نزد به صحیح نه وی. علامه شوکانی رحمه الله د امام احمد مذهب هم داسې لیکلې دې چه مونځ به ئې صحیح نه وی، خو حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه ﴿ النقل عن احمد لیس بصحیح ﴾ بلکه هغوی په دې مسئله کښې د جمهورو ملګرې دی لکه چه په مغنی وغیره کښې تصریح ده. د جمهور علماء کرامو په نزد په دې حدیث کښې نهی د تنزیه دپاره ده او د ظاهریه په نزد د تحریم دپاره ده. بله دا چه د جمهور په نزد د تقدیم طعام حکم هغه وخت دې چه کله د مانځه په وخت کښې ګنجائش وی او که وخت تنګ وی نو بیا د مانځه تقدیم واجب دې. پس د ابوداؤد په کتاب الاطعمة کښې حدیث د جابر رضي الله عنه راروان دې ﴿ لا تؤخر الصلوة لطعام ولا لغیره﴾ دا حدیث هم په دې صورت باندې محمول دې، یعنی چه کله وخت تنګ وی، زمونږ په دې تقریر سره د دواړو احادیثو تعارض هم ختمیږی، یو بل جواب هم شته هغه دا چه حدیث د جابر رضي الله عنه ضعیف دې او د تقدیم طعام والا روایت صحیح او متفق علیه دې بله دا چه علامه شوکانی رحمه الله په دې حدیث باندې لیکی چه ظاهر ددې حدیث نه

اطلاق معلومیږی خو امام غزالي رحمه الله د فساد طعام د ویرې قید لګولی دې یعنی که د طعام په تاخیر کښې د طعام د خرابوالي ویره وی نو بیا خو د تقدیم حکم دې کیښې نه دې، او شوافعو په دې کښې د احتیاج قید لګولی دې، یعنی که سخته لوږه ده نو بیا خو د تقدیم حکم دې کیښې نه دې. او امام مالک رحمه الله دا د طعام قلیل سره مقید کړې دې یعنی که څوک صرف دوه څلور نمرئ خوری د هغه دپاره تقدیم عشاء دې زه وایم شوکانی د مالکیانو مذهب هم دا لیکلې دې. خو حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلی دی چه الشرح الکبیر او دسوقی (کوم چه د مالکیانو د کتابونو نه دی) کښې لیکلی دی چه امام مالک رحمه الله د تقدیم عشاء حدیث بالکل اختیار کړې نه دې د عمل اهل مدینه د وجې نه، پس هغوی د تقدیم عشاء قائل نه دی خو په الشرح الکبیر کښې لیکلې شوې دی چه د صائم دپاره مستحب ده چه هغه د غروب نه پس د صلوة مغرب نه مخکښې په څو کهجورو سره روژه ماته کړی او بیا دې باقاعده تعشي د ماښام د مانځه نه پس اوکړی بلکه دا چه علامه دسوقی لیکی چه بعض مالکیانو د تقدیم عشاء والا حدیث په اکل خفیف (لکه د څو کهجورو دانې یا اوسکو) باندې محمول کړې دې او احنافو دا په شغل بال سره مقید کړې دې. لکه چه د امام طحاوی رحمه الله په مشکل الاثار کښې دی یعنی که د تقدیم صلوة په صورت کښې ویره وی چه توجه او خیال به په خوراک کښې وی نو بیا دا حکم دې ځکه چه انسان به ظاهر کښې په خوراک کښې مشغول وی او زړه ئې به مانځه کښې مشغول وی دا غوره ده ددې نه چه په ظاهره په مانځه کښې ولاړ وی او زړه ئې د خوراک طرف ته متوجه وی، د امام صاحب رحمه الله نه منقول دی ﴿ لان یکون طعامي کلها صلوة احب الي من ان تکون صلوتي کلها طعاما ﴾ او ابن العربي دا حدیث په صائم باندې محمول کړې دې چه صرف د هغه دپاره د تقدیم عشاء حکم دې

[۰]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ أَبِي حَيٍّ الْمُؤَذِّنِ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثٌ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَفْعَلَهُنَّ: لَا يَؤُمُّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصُّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ دُونَهُمْ فَإِنْ فَعَلَ فَقَدْ خَانَهُمْ، وَلَا يَنْظُرُ فِي قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ أَنْ يَسْتَأْذِنَ فَإِنْ فَعَلَ فَقَدْ دَخَلَ، وَلَا يُصَلِّي وَهُوَ حَقِنٌ حَتَّى يَتَخَفَّفَ".

ترجمه: د ثوبان نه روایت دې هغه وائی چه وئیلی دې رسول الله ﷺ دري کارونه دي چه د هیچا لپاره جائز نه دي چه هغه اوکړي امامت دې نه کوي سړی یو قوم ته چه خاص کوي خپل نفس په دعاء کښې بغیر د هغوی نه. که چیرې داسې ئې اوکړه نو خیانت ئې ورسره اوکړو. او نه دې ګوري دننه د کور ته مخکښې د اجازت نه. که چیرې داسې ئې اوکړه نو هغه ورته داخل شو. او مونځ دې نه کوي په داسې حالت کښې چه متیازو تینګ کړی وي تر دې چه ځان سپک کړي

[۱]: سنن الترمذي/الصلاة ۱٤۸ (۳۵۷)، سنن ابن ماجه/الإقامة ۳۱ (۹۲۳)، (تحفة الأشراف: ۲۰۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۰/۵) (ضعيف)

تشریح قوله ﴿ عن ثوبان ﴾ په دې حديث کښې درې خبرې اوکړې شوې خو دلته د حديث صرف دريم جزء ﴿ ولا يصلى وهو حقن ﴾ مقصود بالذات دې. په دې دريم جزء باندې خو کلام راغلې دې

د ابن القيم رحمه الله په دې حديث باندې نقد او د هغې جواب

په دې حديث کښې دوه اجزاء دی ﴿ لَا يَؤُمُّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصُّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ دُونَهُمْ ﴾ يعنى که يو سړې خلقو ته مونځ ورکوی نو هغه امام له پکار دی چه دعاء دې د ځيل خان دپاره نه خاص کوی بلکه مقتديان دې هم په دعاء کښې شامل کړی ګينې دا به خيانت وی ابن قيم رحمه الله دې حديث ته وهم وئيلې دې او ددې وجه دا بيانوی چه د رسول الله ﷺ نه چه کومې دعاګانې منقول دی هغه اکثر په صيغه د افراد دی او په افراد کښې په ظاهره تخصيص دې او په دې حديث کښې هغې ته خيانت وئيلې شوې دې. بله دا چه هغوی وړاندې تلو سره دا وئيلې دی چه که دا حديث صحيح اومنلې شي نو صرف په دعاء قنوت باندې به محمول وی ځکه چه په دې کښې د جمع صيغې راغلې دی ﴿ اللهم اهدنا فيمن هديت الخ ﴾ د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقرير کښې دا ليکلې شوی دی چه په دې حديث کښې د تخصيص نه مراد دا دې چه د دې دعاء د نورو نه نفی اوکړی لکه چه يو اعرابی دعاء کړې وه ﴿ اللهم ارحمنى ومحمدا ولا ترحم معنا أحدا ﴾ پس په دې صورت کښې به د روايت د تغليط صورت نه پيښيږی پس لفظ دونهم کوم چه په حديث کښې ذکر شوې دې ددې نه دهغې تائيد کيږی چه دون د نفی دپاره راغې دويم جزء په حديث کښې دا دې ﴿ وَلَا يَنْظُرُ فِي قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ أَنْ يَسْتَأْذِنَ ﴾ يعنى د ځا د کور د دروازې ته رسيدلو سره دې د استيذان نه مخکښې د کور دننه حال نه ګوری يعنى بهر اودريدلو سره دننه کتل نه دی پکار، او که ځا داسې اوکړل نو يقينا هغه هم داسې اوکړل لکه چه څوک بغير د اجازت نه د ځا کور ته داخل شی، ددې سلسلې بعض نور روايات به په کتاب الادب باب الاستيذان کښې راشی، په بعض رواياتو کښې تصريح ده چه که څوک د ځا د کور نه بهر اودريدلو سره د هغه په کور کښې دننه اوګوری او د کور مالک د هغه سترګه رنده کړی نو د هغه دا جنايت معاف دې. پس د امام شافعی او احمد په نزد به په دې صورت کښې ضمان واجب نه وی او د احنافو او د مالکيانو په نزد به واجب وی خو غالبا ددې حديث په بناء باندې به ګناه نه وی

[۹] ( ) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ السُّلَمِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا ثَوْرٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ أَبِي حَيٍّ الْمُؤَذِّنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُصَلِّيَ وَهُوَ حَقِنٌ حَتَّى يَتَخَفَّفَ، ثُمَّ سَاقَ نَحْوَهُ عَلَى هَذَا اللَّفْظِ، قَالَ: وَلَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَؤُمَّ قَوْمًا إِلَّا بِإِذْنِهِمْ، وَلَا يَخْتَصَّ نَفْسَهُ بِدَعْوَةٍ دُونَهُمْ، فَإِنْ فَعَلَ فَقَدْ خَانَهُمْ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا مِنْ سُنَنِ أَهْلِ الشَّامِ لَمْ يُشْرِكْهُمْ فِيهَا أَحَدٌ.

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤۸۷۹) (صحيح)

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې، چه نبي ﷺ فرمائيلي دی، نه دي جائز د سړي لپاره چه ايمان لري په الله او په ورځ د آخرت باندې چه امامت اوکړي د يو قوم په داسې حالت کښې چه ډکي يا تشي متيازې زور ورکړي وی ترڅو پورې چه هغه (خان فارغ کولو سره) سپک شوې نه وی. بيا راوی دغسې په دې الفاظو سره وريسې حديث بيان کړې دې، په هغې کښې دی چه نه دي جائز د سړي لپاره چه ايمان لري په الله او په ورځ د آخرت باندې چه امامت اوکړي د يو قوم دهغوی دا جازت نه بغير، او جائز نه دی چه خاص کړی ځان خپل په دعاء سره بغير د هغوی نه. که چرې دا کارېې اوکړو نو خيانت ئې اوکړه د هغوی سره وئيلی دي ابوداود: دا د طريقو د اهل الشام نه دی د هغوی سره په دې کښې هيڅوک شريک نه دی.

تشريح: قوله ﴿ قال أبوداؤد: هَذَا مِنْ سُنَنِ أَهْلِ الشَّامِ ﴾ دلته مصنف رحمه الله د حديث الباب په سند کښې چه کومه لطيفه ده هغه بيانوی هغه دا چه حديث ثوبان او حديث ابوهريره ﷺ ددې دواړو د سندونو ټول راويان ټول په ټول شاميان دی، غير شامی په کښې څوک هم نشته. حضرت په بذل کښې ليکلي دی چه آو هم دغه شان ده، خو په حديث ثانی کښې به ابوهريره ﷺ مستثنی کول غواړی ځکه چه هغه شامی نه دي.

بَابُ مَا يُجْزِءُ مِنَ الْمَاءِ فِي الْوُضُوءِ

باب دې په بيان د هغه مقدار کې چې کافيږي د اوبو نه په اودس کې

د تيرو ابوابو نه دا خو معلومه شوه چه په کومو اوبو سره اودس کيدلي شي او په کومو باندې نه کيږی اوس ددې ځائې نه دا بيانول غواړی چه په څومره اوبو باندې اودس کول پکار دی، د اکثرو احاديثو نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ به تقريبا په يو صاع اوبو سره غسل او يو مد اوبو سره اودس فرمائيلو، په يو روايت کښې ﴿ ثلثی مد ﴾ يعنې يو ثلث کم يو مد هم راغلي دې او په يو روايت کښې نصف مد هم راغلي دې خو هغه روايت ضعيف دې کما فی البذل.

د جمهورو په نزد د اودس يا غسل دپاره ختمی طور د اوبو مقدار متعين نه دې چه په دې کښې دې کمې زياتې جائز نه وی بلکه ددې بنياد اصل کښې په دې باندې چه څومره اوبه د ټول بدن د لوندولو دپاره او په اودس کښې د اودس د اندامونو د لوندلو دپاره کافی شي بس هم هغه مقدار ضروری دې ابتداء ددې هيڅ مقدار متعين نه دې، په اودس کښې دوه ارکان دی غسل او مسح، د غسل حقيقت اسالة الماء دې يعنې دومره اوبه بهيول چه په هغې سره تقاطر راشي. ددې حقيقت غسل مونډلې کيدل ضروری دی او هم دا ددې معيار دې خو ددې سره سره غوره دا ده چه د رسول الله ﷺ نه کوم مقدار منقول دې دهغې متابعت اوکړې شي فقهاء کرامو کلي طور سره دا خبره ليکلې ده چه څومره اوبه بغير د اسراف او تقتير نه کافی شي هم هغه دې استعمال کړې شي اسراف او تقتير دواړه مکروه دی، غرض دا چه مسئله تقريبا اجماعی ده، خو د ابن شعبان مالکی رحمه الله خلاف په دې کښې مشهور دې هغوی داسې وائي چه کوم مقدار په حديث کښې راغلي دې دهغې نه کم جائز نه دې، حضرت شيخ په اوجز کښې ليکلي دی چه ابن قدامه حنبلی رحمه الله چه په مغنی کښې په دې مسئله کښې د

احنافو کوم اختلاف لیکلې دې هغه صحیح نه دې بلکه د احنافو مسلک به دې کښې هم هغه دې کوم چه د جمهور علماء کرامو دی، پس علامه شامی لیکلی دی چه کوم زمونږ په نزد ظاهر الروایة دې هغه دا دې چه د غسل دپاره ادنی مقدار یو صاع او د اودس دپاره یو مد دې ددې مطلب دا دې چه دا مقدار د مسنون اقل درجه ده، مقدار جائز مراد نه دې.

د صاع او مد د مقدار بحث او په دې کښې اختلاف د علماؤ او دلائل د فریقینو:

دلته د صاع او د مد د مقدار په سلسله کښې یو مشهور بحث دې کوم چه د حدیث شارحین او فقهاء ټول بیانوی صاع او مد دا دواړه مشهورې پیمانې دی، په دې خو د ټولو اتفاق دې چه یو صاع د څلورو مد برابر وی خو من حیث الوزن په مقدار د مُد کښې اختلاف دې، د ائمه ثلاثه او امام ابویوسف رحمه الله په نزد یو مد د رطل او ثلث رطل وی، لهذا یو صاع پنځه رطل اود دریمې حصې د رطل برابر شو، اود طرفینو په نزد د یو مد مقدار دوه رطل دې لهذا صاع اته رطله شو، د جمهورو صاع صاع حجازی او زمونږ صاع ته صاع عراقی وائی او صاع عراقی ته صاع حجاجی هم وائی ځکه چه نقل دی چه کله صاع عمر مفقود شو نو حجاج بن یوسف دهغې معلومات اوکړو، هغه به ددې خبرې په اهل عراق باندې احسان هم ضباتلو او په خپله خطبه کښې به ئې وئیل ﴿یا أهل العراق یا اهل الشقاق والنفاق ومساوی الاخلاق الم اخرج لکم صاع عمر﴾ او دا ظاهره ده چه صاع د عمر رضی الله عنه به د رسول الله ﷺ د صاع موافق وی

زمونږ علماء کرام فرمائی چه صاع عراقی کوم چه اته رطله دې د رسول الله ﷺ د صاع مطابق دې، د جمهورو دعوی دا ده چه صاع حجازی د رسول الله ﷺ د صاع موافق دې اوس د فریقینو دلائل واورئ! جمهورو په خپل مسلک باندې څو دلائل قائم کړی دی.

دلیل اول : دا دې چه د صحیحین د روایت نه معلومیږی چه یو فرق (کوم چه د یوې لوئې پیمانې نوم دې) مساوی وی د درې صاع،(۱) او دا خبره د مخکښې نه مشهوره ده چه یو فرق د شپاړسو رطل وی لهذا شپاړس چه په درېو تقسیم کړې شی نو پنځه او یو ثلث به وی، پس معلومه شوه چه صاع پنځه رطله او ثلث رطل وی

زمونږ د طرف نه جواب دا دې چه دا خبره یقینی نه ده چه یو فرق د شپاړسو رطل برابر وی او نه د یو حدیث نه ثابت دی، او که هغوی اووائی چه دا د بعض اهل لغت د قول نه ثابت دی نو مونږ به وایو چه د اهل لغت قول په ثمه احناف باندې حجت نه دې ﴿لأنهم قدوة فی اللغة ایضا﴾ هم دغه شان مونږ دا هم نه منو چه یو فرق مساوی دې د درې صاع، بلکه زمونږ په نزد دا خبره محل نظر ده. ظاهره دا ده چه دا د راوی استنباط دې چونکه د راوی په ذهن کښې دا خبره وه چه درې صاع د یو فرق برابر وی نو هغه روایت بالمعنی کولو سره د

---

(۱) ځکه چه په حدیث فدیه کښې راغلی دی چه په شپږو مسکینانو باندې دې دوه‌ئ اوخوړلې شی، هر مسکین ته نصف صاع لهذا ټول درې صاع شو، او په بل روایت کښې دی چه په شپږو مسکینانو دې یو فرق تقسیم کړې شی د دواړو احادیثو دیوځائې کولو نه نتیجه راوځی چه یو فرق مساوی دې د درې صاع

صاع په خاني لفظ فرق ذکر کړي دي.

دليل ثاني : جمهور علماء کرامو د امام ابويوسف رحمه الله د رجوع دقصې نه استدلال کړي دي چه امام ابويوسف رحمه الله يو خل د حج دپاره تشريف يوړو نو مديني طيبې ته حاضر شو او د اهل مدينه نه ئې د مقدار صاع تحقيق اوفرمائيلو او د ددې په باره کښې ئې د هغوى نه تپوس اوکړو نو هغوى اووئيل چه ﴿ صاعنا صاع النبي ﷺ ﴾ يعنى مونږ سره چه کوم صاع دي هم دا د رسول الله ﷺ صاع دي، امام ابويوسف رحمه الله ترې نه تپوس اوکړو چه ﴿ ما حجتکم فيه﴾ دې باره کښې ستاسو څه دليل دې؟ نو هغوى ورته اووئيل چه ﴿ نأتيک بالحجة غدا ﴾ يعنى دليل به درته مونږ صبا له پيش کړو پس په بله ورځ د هغوى په خدمت کښې د مهاجرينو د اولاد نه پنځوس شيوخ هر يو د هغوى نه خان سره صاع راوړو او حاضر شو، ﴿وهو يخبر عن أبيه أو عن أمه أن هذا صاع النبي ﷺ ﴾ يعنى په هغوى کښې هر يو دا خبر ورکولو، چا د خپل پلار په حوالې سره، چا د خپل ترۀ په حوالې سره چا د خپلې مور په حوالې سره چه هم دا صاع وو د رسول الله ﷺ، پس امام ابويوسف رحمه الله هغه ناپ کړو نو هغه پنځه رطله او ثلث رطل وو په دې باندې امام ابويوسف رحمه الله د امام صاحب قول ترک کړو ﴿أخرجه البيهقي بسنده ﴾ دا هم وئيلې شوې دی چه په دې موقع باندې امام مالک رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله سره مناظره اوکړه هم دهغې صيعان په بناء باندې کوم چه دې حضراتو يعنى اهل مدينه راوړي وو.

د دې جواب اولا خو دا دې چه د قواعد محدثين په رڼرا کښې ددې قصې نه استدلال کول صحيح نه دی ځکه چه دا په مجاهيل باندې مشتمل ده، خمسون شيخا من ابناء المهاجرين والانصار څوک دی؟ دا ټول مجهول دی، دويمه دا چه دا واقعه که هم په دې هيئة کذائيه سره کومه چه بيان کړې شوه ثابت وې نو په عوامو او خواصو کښې به مشهوره وه، حال دا چه امام محمد رحمه الله نه خو ددې قصې ذکر کړې دې چه په هغې کښې د امام ابويوسف رحمه الله رجوع ذکر کيږي او نه هغوى په دې مسئله کښې د امام ابويوسف رحمه الله اختلاف بيان کړې دې چه دهغې نه معلوميږي چه امام ابويوسف رحمه الله په دې مسئله کښې د طرفين ملګرې دې، يو جواب دا کړې شوې دې چه دا اختلاف صرف لفظي دې ځکه چه امام ابويوسف رحمه الله هغه صاع لره کوم چه ابناء مهاجرين راوړې وو په کوم رطل سره وزن کړو نو هغه رطل مدنې وو. او د اهل مدينه رطل د اهل بغداد وعراق د رطل نه زيات وی ځکه چه رطل مدني ديرش استار وی او رطل بغدادی شل استار وی په دې حساب [۱] او لحاظ سره پنځه رطله او ثلث رطل او اته رطله د دواړو مقدار برابريږي، د دلائلو دا ټول تفصيلي بحث حضرت په بذل المجهود کښې کتاب الغسل ته رسيدو سره ډير په تفصيل سره کړې دې.

---

[۱] يعنى يو صاع اته رطله وى په دې طريقه چه هر رطل د شلو استار وى او پنځه رطله او ثلث رطل وى په دې طريقه چه هر رطل ديرش استاره وى اتو له که په شلو کښې ضرب ورکړې شي نو هم هغه عدد به راوځي کوم چه پنځو او ثلث لره په ديرشو کښې ضرب ورکولو سره راوځي يعنى يو سل او شپيته استار)

مونږ دا په طور د خلاصې هم د هغه ځائې نه اخستلې دي، د امام ابويوسف رحمه الله د مسلک او د هغوی د رجوع په باره کښې چه څه وئيلې شوي دی هغه ټول د ابن الهمام رحمه الله نه منقول دی، د هغوی په نزد راجح او اصل هم دا ده چه امام ابويوسف رحمه الله په دې مسئله کښې د جمهورو سره نه دې بلکه د امام صاحب سره دې والله تعالى أعلم بالصواب.

دليل ثالث: امام طحاوی رحمه الله د جمهورو د طرف نه دا دليل پيش کړې دې چه عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ما او رسول الله ﷺ به د يو لوښی کوم ته چه فرق وائی، دهغې نه به مو غسل کولو او د مخکښې نه معلومه ده چه فرق د درې صاع برابر وی نو ددې نه ثابته شوه چه د رسول الله ﷺ او د عائشې رضي الله عنها د هر يو د غسل د اوبو مقدار يو صاع او نصف صاع دې، او په دويم روايت کښې دا ثابت دی چه رسول الله ﷺ به په اته رطله باندې غسل فرمائيلو. نو ددې دواړو احاديثو د يو ځائې کولو نه نتيجه راوتله چه يو نيم صاع برابر وی د اتو رطلو، چه دهغې نه معلومه شوه چه د يو صاع مقدار پنځه رطله او ثلث رطل دې.

زمونږ د طرف نه جواب دا دې چه د فرق د درې صاع برابر کيدل څه تحقيقی خبره نه ده، دويم جواب هغه دې کوم چه امام طحاوی رحمه الله ورکړې دې چه عائشې رضي الله عنها خو دا فرمائيلې دی چه مونږ دواړو به د داسې لوښی نه غسل فرمائيلو کوم چه په اندازه د فرق وو خو هغوی دا نه ده بيان کړې چه هغه لوښې کوم ته چه فرق وائی ډک به وو يا به دهغې نه کم وو کيدې شی چه هغه ډک نه وو مثلا پاؤ (څلورمه حصه) کم وی او يا برابر وی د دوؤ صاع نو اوس دا حديث د هغه احاديثو موافق شو چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ به په يو صاع اوبو باندې غسل فرمائيلو.

د احنافو تفسير په اتو سره واقع دې: د احنافو استدلال د هغه روايتونو نه دې په کوم کښې چه د هغوی د مسلک تصريح ده يعنی د مد تفسير په رطلين سره او د صاع تفسير په اتو رطلو سره واقع دې. پس امام طحاوی رحمه الله د عائشې رضي الله عنها نه په سند جيد سره نقل فرمائيلې دی (قالت كان النبي ﷺ يغتسل بمثل هذا) او د يو لوښی طرف ته ئې اشاره اوفرمائيله. مجاهد رحمه الله وائی چه ما د هغه لوښی اندازه اولګوله نو هغه اته رطله وو يا نهه يا لس، غرض دا چه اته رطله خو يقينا وو په چاکښې هغه هيڅ تردد نه فرمائی.

او په نسائی کښې د موسى الجهنی نه روايت دې، هغوی فرمائی چه مجاهد رحمه الله ته يو پياله راوړلې شوه هغوی وائی چه ما دهغې اندازه اولګوله نو هغه اته رطله وه مجاهد اووئيل چه ماته عائشې رضي الله عنها بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ به په دې سره غسل فرمائيلو په دې کښې زمونږ د مذهب تصريح ده.

بله دا چه دارقطنی په دوؤ طريقو سره د انس رضي الله عنه دا حديث نقل فرمائيلې دې چه (كان رسول الله ﷺ يتوضأ برطلين ويغتسل بالصاع ثمانية أرطال) دې روايت ته اګرچه دراقطنی ضعيف وئيلې دې خو په تعدد طرق سره ددې د ضعف انجبار کيږی.

فائده اولی: د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقرير کښې دی چه چونکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې صاع عراقی هم رائج وو (کوم چه د صاع حجازی نه لوئې وی) په دې وجه په صدقة

الفطر کښې احوط دا ده چه د صاع عراقی لحاظ اوکړې شی په عرف الشذی کښې هم لیکلې شوې دی چه صاع عراقی او حجازی دواړه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې موندلې کیدل، روایات صحیحه په دې باندې دال دی.

فائده ثانیه : د صاع اود مد بحث او تحقیق په اهتمام سره حضرات فقهاء او محدثین په دې وجه کوی چه دا دواړه معیار شرعی یعنی شرعی پیمانې دی، ډیر احکام شرعیه دې سره تړلې دی لکه صدقة الفطر او فدیه او کفارات هم دغه شان د اودس او د غسل د اوبو مقدار کما لا یخفی.

[۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ وَيَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ سَمِعْتُ صَفِيَّةَ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې، بیشکه نبي ﷺ وو چه غسل به ئې کولو په یوه صاع (پیمانه) باندې او اودس به ئې کولو په مد (څلورمه حصه د پیمانې).

شرح السند :

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ أَبَانُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ صَفِيَّةَ ﴾ یعنی د قتادة نه روایت کونکې دوه دی، یو همام کوم چه پورته په سند کښې ذکر شو او دویم ابان، د دواړو په الفاظو کښې فرق دې، د همام روایت کښې قتادة عن صفية او د ابان په روایت کښې په ځائې د عن صفية ﴿سمعت صفية ﴾ دې، په دې اختلاف باندې د تنبیه یو وجه دا هم کیدې شی چه د قتادة شمار په مدلسینو کښې دې او پورته چه کوم روایت راغلې دې هغه په ﴿ عن ﴾ سره دې او د مدلس عنعنه معتبر نه وی، په دویم طریق کښې چونکه د سماع تصریح ده په دې وجه مصنفﷺ دویم طریق ذکر کولو سره دا کمې ختم کړې دې، اوس په دې کښې د انقطاع شک پاتې نه شو.

[۳]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ وَيَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ".

ترجمه: د جابر رضي الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دی: وو رسول الله ﷺ چه غسل به ئې کولو په یوه پیمانه (صاع) او اودس به ئې کولو په څلورمه حصه د پیمانې (مد).

[۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبَّادَ بْنَ تَمِيمٍ، عَنْ جَدَّتِهِ وَهِيَ أُمُّ عُمَارَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَأُتِيَ بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَدْرُ ثُلُثَيِ الْمُدِّ".

(): سنن النسائي/المياه ١٣ (٣٤٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١ (٢٦٨)، تحفة الأشراف(١٧٨٥٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٤٨ (٢٠١)، صحيح مسلم/الحيض ١٠ (٣٢٦)، سنن الترمذي/الطهارة ٤٢ (٥٦)، مسند احمد (١٢١/٦) (صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٢٤٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الغسل ٣ (٢٥٢)، سنن النسائي/الطهارة ١٤٤ (٢٣١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١ (٢٦٩)، مسند احمد (٢٧٠/٣) (صحيح)

(): سنن النسائي/الطهارة ٥٩ (٧٤) (تحفة الأشراف: ١٨٣٣٦) (صحيح)

ترجمه: د ام عمارة نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ اودس اوكړو نو راوړې شو ورته يو لوښې د اوبو په اندازه د دوؤ ثلثو د مد.

تشريح: قوله :﴿ عَبَّادَ بْنَ تَمِيمٍ عَنْ جَدَّتِهِ ﴾ دلته دويمه نسخه ﴿ عن جدتي ﴾ ده او په دې صورت كښې به د جدة نه جدة حبيب مراد وى، ځكه چه متكلم هم هغه خپله دې او زمونږ نسخه چه په هغې كښې ﴿ عن جدته ﴾ دې د هغې ضمير د عباد طرف ته راجع دې په دې صورت كښې به جدة عباد مراد وى، حضرت په بذل كښې په دويمه نسخه باندې كلام كولو سره دا ليكلي دى چه زه په دې خبره كښې تحقيق ته او نه رسيدم چه آيا دا واقعي د حبيب نيا ده، والله تعالى اعلم، دا ام عماره ده لكه چه په كتاب كښې ذكر شوي دى د هغوى په نوم كښې هم اختلاف دې، وئيلي شوي دى چه د هغې نوم نسيبه دې (بالتصغير) او وئيلي شوي دى چه نسيبه ده په وزن د سفينة، او دريم قول دا دې چه د هغې نو لسينة بضم اللام دې په خاني د نون

[۹۵] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِإِنَاءٍ يَسَعُ رَطْلَيْنِ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ شَرِيكٍ، قَالَ: عَنْ ابْنِ جَبْرِ بْنِ عَتِيكٍ، قَالَ: وَرَوَاهُ سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، حَدَّثَنِي جَبْرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ، سَمِعْتُ أَنَسًا، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: يَتَوَضَّأُ بِمَكُّوكٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ رَطْلَيْنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وسَمِعْت أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: الصَّاعُ خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَهُوَ صَاعُ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، وَهُوَ صَاعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د انس رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دى: وو نبي ﷺ چه اودس به ئې كولو په يو لوښي چه خايدې په هغې كښې دوه رطله، او غسل به ئې كولو په پيمانه وئيلي دي ابوداود: روايت كړې دى ددې يحيى بن آدم د شريک نه، هغه وائي: روايت كړې دې د ابن جبر بن عتيک، هغه وائي: روايت كړې دى سفيان د عبد الله بن عيسى نه، حديث بيان كړې دى ماته جبر بن عبد الله. وئيلي دي ابوداود: او روايت كړې دى شعبه، هغه وائي: حديث بيان كړې دې ماته عبد الله بن عبد الله بن جبر، ما اوريدلي دي د انس نه مګر فرق دا دې چه هغه وئيلي دي: اودس به ئې كولو په يو مكوک باندې، او ذكر د رطلينو ئې نه دى كړې. وئيلي دي ابوداود: ما اوريدلي دي د احمد بن حنبل نه، چه هغه وئيل: چه صاع پنځه رطله دى، او هغه صاع د ابن ابي ذئب دى، او هم دا صاع د نبي ﷺ دى

تشريح: قوله :﴿ يَتَوَضَّأُ بِإِنَاءٍ يَسَعُ رَطْلَيْنِ ﴾ ددې نه په ظاهر كښې د احنافو تائيد كيږي ځكه چه د انس رضی الله عنه په دويم روايت كښې دى چه رسول الله ﷺ به په مد سره اودس كولو او په دې كښې دى چه په رطلين سره به ئې اودس فرمائيلو

قوله :﴿ قوله يَتَوَضَّأُ بِمَكُّوكٍ ﴾ مكوک صاع او نصف صاع يعني يونيم صاع ته وائي خو شارحينو ليكلي دى چه دلته د مكوک نه مراد مد دې

(١): تفرد بهذا اللفظ أبوداود و سنن الترمذي/للصلاة ٦٠٩ ولفظه : يجزيء في الوضوء رطلان من ماء (تحفة الأشراف ٩٦٢) (ضعيف)

قوله :﴿ قَالَ وَرَوَاهُ سُفْيَانُ.... حَدَّثَنِي جَبْرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ﴾ د سفيان دا روايت د شعبه اود شريک د روايت نه خلاف دي، د هغوی دواړو په روايتونو کښې عبدالله بن جبر وو، سفيان په ځائې ددې جبر بن عبدالله اووئيل، د دوی دواړو په روايت کښې ﴿ عبدالله بن جبر ﴾ وو، په اصل کښې دا راوی عبدالله بن عبدالله بن جبر دې، بعضو د نسبت الی الجد په اعتبار سره عبدالله بن جبر اووئيلو، او بعضو راويانو په ځائې د جبر جابر وئيلي دی لکه چه د مسلم شريف په بعض رواياتو کښې دی، امام نووی رحمه الله ليکی چه دا دواړه صحيح دی، جابر او جبر دواړه وئيلي شي.

قوله :﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ الخ ﴾ دلته ئې د صاع مقدار پنځه رطله بيان کړې دې او د امام احمد رحمه الله هم دا مقوله په أبواب الغسل کښې په باب فی مقدار الماء الذی يجزی به الغسل کښې راروانه ده، هلته د پنځه رطله سره ثلث رطل هم مذکور دې، دلته مصنف رحمه الله کسر حذف کړې دې

بَابُ الْإِسْرَافِ فِي الْوَضُوءِ

باب دې په بيان د اسراف کښې په اوبو کښې

د اسراف فی الوضوء دوه صورتونه کيدې شی يا د تکثير ماء د وجې نه چه زياتې اوبه بغير د ضرورت نه اوبهيولې شی يا په تثليث باندې زيادت يعنی اعضاء د درې کرتو نه زيات وينځلې شی، بهر حال چه هر صورت وی اسراف بالاتفاق مکروه دې اگر که يو سړې په حوض يا جاری نهر باندې اودس کوی بيا هم دا اسراف دې پس په ابن ماجه کښې يو روايت دې چه دهغې تخريج امام احمد رحمه الله هم کړې دې چه يو ځل رسول الله ﷺ په سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه باندې ورتير شو او هغوی په اودس کښې اوبه زياتې استعمالولې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ ما هذا السرف يا سعد ﴾ اې سعد دا اسراف ولې کوې؟ هغوی عرض اوکړو ﴿ افی الوضوء سرف يا رسول الله ﴾ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ نعم وان کنت علی نهر جار ﴾...

[٩٦] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ أَبِي نَعَامَةَ، أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مُغَفَّلٍ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُولُ: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَمِينِ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلْتُهَا، فَقَالَ: أَيْ بُنَيَّ، سَلِ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطَّهُورِ وَالدُّعَاءِ".

ترجمه: د ابو نعامه نه روايت دې، چه يقيناً عبد الله بن مغفل اوريدلې دې د خپل ځوی نه وئيل يې اې الله زه سوال کوم ستانه د سپينې ماڼۍ ښې طرف د جنت نه کله چه ورته داخل شم، نو وئې وئيل اې ځويه! سوال کوه د الله نه د جنت، او پناه غواړه د هغه پورې د اور نه. يقيناً ما اوريدلې دې د رسول الله ﷺ نه هغه ويل شان دادی چه وی به په دې امت کښې يو قوم چه زياتی به کوی پاکوالي او دعاء کښې

(١): سنن ابن ماجه/الدعاء ١٢ (٣٨٦٤)، (تحفة الأشراف: ٩٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٧٤) (صحيح)

تشریح: د حدیث الباب مضمون دا دې چه یو ځل عبدالله بن مغفل ﷺ د خپل ځوئی نه واوریدل د چا نوم چه یزید دې لکه چه په بعض روایاتو کښې ددې تصریح ده چه هغوی داسې دعاء کوله ﴿اللهم إني أسألک القصر الأبیض الخ﴾ چه اې الله چه کله زه جنت ته لاړ شم نو د سپین رنګ محل کوم چه د جنت په ښی طرف کښې وی ستا نه دهغې سوال کوم، نو په دې باندې د هغوی پلار اوفرمائیل : اې ځویه ! الله پاک نه دمطلق جنت سوال کوه، اود مطلق جهنم نه پناه غواړه، یعنی دا قیدونه مه لګوه، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دی چه په دې امت کښې به داسې خلق پیدا کیږی ﴿يَعْتَدُونَ فِي الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ﴾ کوم چه به په دعاء او اودس کښې د حد نه تجاوز کوی

په دې حدیث کښې دوه اجزاء دی، اول اعتداء في الطهور، ثاني اعتداء في الدعاء، د صحابي ﷺ غرض جزء ثاني دې او د مصنف ﷺ غرض جزء اول لره بیانول دی، بهر حال په دې حدیث کښې د اعتداء في الطهور نه منع کړې شوې ده چه دهغې نه مصنف ﷺ د اسراف في الوضوء کراهت مستنبط کړې دې لکه چه ظاهره ده

د اعتداء في الدعاء په تفسیر کښې اقوال:

اوس دا چه د اعتداء في الدعاء نه څه مراد دې؟ یعنی په دعا کښې تجاوز عن الحد څه څیز دې؟ جواب دا دې چه علماء کرامو ددې ډیر صورتونه لیکلي دی یو دا چه په اعتبار د جهر بلیغ یعنی زیات په زور سره دعا کول او چغې وهل یا په اعتبار د قیود زائده چه د الله پاک نه د خپلو حاجتونو د سوال کولو په وخت په هغې کښې قسم قسم شرطونه لګول ځکه چه دا د حاجت مند سائل د شان خلاف ده، او دریم شکل دا دې چه د دعاء په الفاظو او کلماتو کښې د سجع رعایت اوکړې شی په مسجع الفاظو سره دعا اوکړې شی، ظاهره ده چه دا څیز د خشوع منافی دې او یو قول دا دې چه ددې نه مراد غیر ماثور دعاګانې دی

په دې باندې به دا اشکال وی چه د رسول الله ﷺ اکثر دعاګانې مسجع دی؟ ددې جواب دا دې چه د رسول الله ﷺ په کلام کښې د سجع موندلې کیدل بالقصد نه وو، بلکه کمال فصاحت وبلاغت کوم چه رسول الله ﷺ ته فطری طور ورکړې شوې وو دهغې په وجه باندې مسجع الفاظ او عبارتونه بغیر د تکلف نه په ژبه مبارکه باندې راتلل، او د ممانعت تعلق د تصنع او تکلف سره دې نه ددې سره

د دې نه پس خان پوهه کړه چه د شارحینو په دې کښې اختلاف دې چه د صحابي دې ځوئی به څپله دعاء کښې څه زیادت کړې وو چه په هغې باندې د هغه پلار هغه لره اوبښکلو ځوک څه لیکی او ځوک څه، لکه چه په بذل کښې موجود دی خو د حضرت سهارنپوری ﷺ رائې دا ده چه د موجوده دعاء په مضمون کښې هیڅ تجاوز عن الحد نشته خو د هغه په طرز دعاء باندې د هغه صحابي ویره پیدا شوه چه هغه چرته په دې کښې تجاوز عن الحد اونکړی، په دې وجه د مخکښې نه ئې د بندولو دپاره هغه ته تنبیه ورکړه، حضرت لیکلي دی چه د قصر ابیض عن یمین الجنة په سوال کښې داسې څه د اشکال خبره کوم نه چه تجاوز عن الحد اوونیلې شی نشته، د حدیث په جزء اول یعنی اعتداء في

الطهور په سلسله کښې حضرت الاستاذ مولانا محمد اسعد الله صاحب رحمه الله د خپل بذل په حاشيه کښې ليکلي دي چه اسراف في الوضوء که په ماء مباح يا مملوک کښې وي نو مکروه تحريمي دي او که په مال وقف کښې وي لکه د مدارسو د حمام وغيره اوبه نو هغه حرام دي، عام طور سره طالبان چونکه د مدرسې د انتظام د لاندې ورکړې شوې اوبو کښې بې احتياطي کوي، په دې وجه ناظم صاحب رحمه الله د طالبانو مخکښې خاص طور سره دا خبره اوفرمائيله.

بَابٌ فِي إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ

باب دې په بيان د مکمل کولو د اودس کښې

د اسباغ معنی د اکمال ده د الله پاک ارشاد دې ﴿ واسبغ عليكم نعمه ظاهرة وباطنة ﴾ او اکمال وضوء دا دې چه اودس د خپلو آدابو او مستحباتو د رعايت سره اوکړې شي، په صحيح بخاري کښې د ابن عمر رضي الله عنه نه د اسباغ تفسير په إنقاء سره مروی دې يعنی اعضاء لره په ښه طريقه باندې مږل او وينځل.

د اسباغ وضوء انواع ثلاثه او اطالة الغرة والتحجيل تشريح او تحقيق :

مولانا شاه محمد اسحق نه په بعض حواشي کښې منقول دی چه د اسباغ وضوء درې قسمونه اودرجې دی په درجاتو کښې اوله درجه فرض، دويمه سنت او دريمه مستحب ده.

۱: ټول اندامونه د اودس يو ځل بالاستيعاب وينځل اسباغ په دې معنی فرض ده.

۲: تثليث غسل يعنی هر اندام لره درې کرته وينځل او يو ځل د پوره سر بالاستيعاب مسح کول، دا سنت ده.

۳: د تثليث غسل سره اطالة الغرة والتحجيل کول لکه چه ابوهريره رضي الله عنه به کول. د اسباغ دا نوع مستحب دې.

ځان پوهه کړه چه غرة وائی هغه سپين والی ته کوم چه د اس په تندی کښې وی او دلته د اطالة الغرة نه مراد دا دی چه د مخ وينځلو په وخت د تندی سره د مقدم راس څه حصه هم شامل کړې شی، او د اطالة التحجيل مطلب دا دې چه د يدين او رجلين د وينځلو په وخت حد مفروض يعنی د مرفقين او کعبين نه تجاوز اوکړې شی او پورته حصه هم لږه وينځلې شی، اصل کښې دا اخستلې شوې دې د فرس محجل نه، محجل هغه اس ته وائی د کوم چه دواړه لاسونه او دواړه خپې د کونډو پورې سپينې وی، او په اودس کښې د مقدار مفروض نه تجاوز کولو ته اطالة الغرة والتحجيل نه تعبير کول په ظاهر کښې ددې نکتې په بناء دی چه د قيامت په ورځ باندې به دا د اودس اندامونه روښانه او چمکدار وی، په غرة او تحجيل کښې هم د رڼا معنی ده، ډير ښکلې تعبير دې.

ځان پوهه کړه چه اسباغ بالمعنى الثالث يعنی اطالة الغرة والتحجيل مختلف فيه دې جمهور علماء ائمه ثلاثه خو ددې د استحباب قائل دی، پس علامه شامي رحمه الله او طحطاوي دا په مندوبات وضوء کښې شمار کړې دې، هم دغه شان امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کښې د ابوهريره رضي الله عنه دحديث ﴿ من استطاع منكم ان يطيل غرته فليفعل ﴾ د لاندې دا

اطالة مستحب ليکلي ده او د حنابله په نزد ددې د استحباب تصريح په نيل المارب کښې موجود ده خلاصه دا چه د ائمه ثلاثه په نزد مستحب ده خو مالکيان ددې قائل نه دی هغوی دې ته مکروه وائي، هغوی وائي چه ددې اطالة نه مراد ادامة او تجديد وضوء دې يعنی هميشه باوضو اوسيدل او تازه اودس کول دی.

امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې ليکلي دی چه د حديث په شارحينو کښې ابن بطال مالکی او قاضی عياض مالکی رحمهما الله چه دا دعوی کړي ده چه د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه فوق المرفق والکعب وينځل مستحب نه دی، دا دعوی د هغوی باطل ده زه وايم چه هم دغه شان د طحاوی په شرح معانی أمانی الاحبار کښې د علامه مناوی رحمه الله نه نقل کړی دی چه ائمه ثلاثه يعنی احناف مالکيان او حنابله د اطالة الغرة والتحجيل د استحباب قائل نه دی، د علامه مناوی رحمه الله دا خبره خلاف تحقيق ده ځکه چه موږ اوس د کتابونو په حوالې سره د احناقو او د حنابله او هم دغه شان د شوافعو په نزد ددې استحباب نقل کړې دی

د امام نووی رحمه الله رائې دا ده چه په اودس کښې اطالة الغرة والتحجيل د رسول الله ﷺ او د ابوهريره رضي الله عنه نه ثابت دې، خو ابن القيم رحمه الله ليکلي دی چه د رسول الله ﷺ نه زيادة علی محل الفرض عملا ثابت نه دې، البته ابوهريره رضي الله عنه به داسې کول [1]

[۹۷]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى قَوْمًا وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ، فَقَالَ: "وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ، أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ".

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ اوليدلو يو قوم او پوندو د هغوی چمک ئې کولو، نو وئې وئيل: تباهي ده د پوندو لپاره د اور نه، مکمل کړئ اودس

تشريح: قوله :﴿ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو الخ ﴾ په دې باب کښې مصنف رحمه الله صرف يو حديث ذکر کړې دې د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه، چه رسول الله ﷺ بعض صحابه کرام رضي الله عنهم اوليدل

---

[1] خان پوهه کړه چه اطالة الغرة والتحجيل کوم چه په حديث کښې راغلي دې کوم چه صاحب مشکوة د ابوهريره رضي الله عنه نه مرفوعا نقل کړې دې دهغې الفاظ دا دی ﴿ إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ ﴾ (متفق عليه) او دهغې په حاشيه کښې ئې ليکلي دی چه ددې حديث آخری جمله يعنې ﴿ فمن استطاع الخ ﴾ د ابوهريره رضي الله عنه د طرف نه مدرج ده، د اکثر حفاظ حديث رائې هم دا ده اګرچه بعضو ددې په مرفوع او موقوف کيدو کښې هم تردد ښکاره کړې دې، حاصل دا چه دلته دوه څيزونه دی يو ددې امت د اودس په برکت باندې د قيامت په ورځ اغر او محجل کيدل، دويم د اودس په مينځ کښې اطالة الغرة والتحجيل کول، پس امراول د رسول الله ﷺ د کلام نه ثابت دې، او امر ثانی د رسول الله ﷺ نه مختلف فيه دې، بعض ددې قائل دی او بعض منکر، او د ابوهريره رضي الله عنه په باره کښې دا ثابت او مشهور دی چه هغوی به داسې کول.

( ) صحيح مسلم/الطهارة ۹ (۲٤۱)، سنن النسائي/الطهارة ۸۹ (۱۱۱)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۵ (٤۵۰)، مسند احمد (۱۹۳/۲، ۲۰۱، ۲۰۵، ۲۱۱، ۲۲۶)، (تحفة الأشراف: ۸۹۳۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العلم ۳ (۶۰)، ۳۰ (۹۶)، بدون: "أسبغوا..." (صحيح)

چا چه هم هغه وخت اودس کړي وو چه د هغوی د پوندو څه حصه د اوچیدو د وجې نه پرقیدله یعني محسوس کیدله نو رسول الله ﷺ هغوی ته دا وعید واورلو، ﴿ویل للاعقاب من النار﴾ یعني تباهی ده ددې پوندو دپاره د اور نه. او بیا ئې اوفرمائیل چه اودس کامل او مکمل کوئ.

مضمون حدیث :

په دې حدیث کښې اصل کښې اختصار دې روایت مفصله په مسلم وغیره کښې دې چه رسول الله ﷺ په یو سفر کښې وو. په تلو تلو چه کله منزل ته نژدې اورسیدلو نو په قافله کښې څه صحابه کرامؓ نژدې چینې ته په تندئ باندې وړاندې لاړل. او هلته تلو سره ئې خپل ضرورتونه پوره کړل. او په هغه چینه باندې هغوی زر زر اودس اوکړو چه په هغوی کښې د بعضو د پوندو څه حصه اوچه پاتې شوه او هغه خلق په خپل خیال کښې د اودس نه فارغیدو سره لګه چه تیار شو لږ ساعت پس باقي قافله چه په کښې رسول الله ﷺ هم وو هغه چینې ته راورسیدله نو هغه وخت رسول الله ﷺ ددې خلقو په باره کښې دا اوفرمائیل کوم چه په حدیث الباب کښې ذکر شوې دی.

د حدیث مطابقت د ترجمة الباب سره ښکاره دې او د کوم اسباغ ذکر چه په حدیث کښې دې هغه د اسباغ په اقسام ثلاثه کښې هغه قسم دې کوم چه فرض دې څکه چه دې خلقو رجلین یو خل هم بالاستیعاب وینخلي نه وې حال دا چه یو خل بالاستیعاب وینځل فرض دی.

قوله :﴿ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ ﴾ په دې کښې دوه اقوال دی یو دا چه د اعقاب نه مراد اصحاب الاعقاب دی، دویم دا چه اعقاب مراد دی چه دهغې مطلب دا شو چه تکلیف به صرف پوندو ته رسولې شی، چه دهغې په وجه هغه ده کومه چه په بل حدیث کښې راغلې ده چه د اودس اندامونه به اور نه مسح کوی او چونکه دې اندامونو ته د اودس اوبه نه دی ور رسیدلې په دې وجه به دا اور مسح کوی.

قوله :﴿ وَيْلٌ ﴾ ددې په تفسیر کښې څو اقوال دی وئیلې شوی دی چه ددې معنی د رسوائئ ده او وئیلې شوې دی چه د هلاکت ده. او یو قول دا دې چه ددې معنی د خسران یعنی خسارې ده. او صحیح ابن حبان کښې یو مرفوع روایت دې چه په هغې کښې دی ﴿ویل واد فی جهنم﴾ یعني وَيْلٌ په جهنم کښې د یوې طبقې نوم دې.چونکه دا حدیث دې په دې وجه هم دې ته به اصح تفسیر وئیلې شی.

او په دې سره یو بل اشکال هم ختم شو هغه دا چه دلته ویل په ترکیب کښې مبتداء واقع کیږی حال دا چه نکره ده. اشکال په دې وجه رفع شو چه د روایت مرفوعه نه معلومه شو، چه دا خو په جهنم کښې د یو خاص طبقې نوم دې لهذا د علمیت په بناء باندې معرفه شو، اوبعضو داجواب کړې دې چه په جمله دعائیه کښې واقع کیدونکې مبتداء نکره کیدې شی.

بَابُ الْوُضُوءِ فِي آنِيَةِ الصُّفْرِ

باب دې په بيان داودس کې په لوښو د زيړو (پيتل) کې

خان پوهه کړه چه دې ترجمې لره ليدو سره په ذهن کښې دا خبره راغله چه د اتباع رسول او د حب رسول ﷺ مقتضي دا ده چه د محبوب هر ادا ته دې اوکتلي شي، چه رسول الله ﷺ به اودس څنګه کولو، اودس به ئې په څومره اوبو باندې کولو، په څنګه لوښي باندې به ئې کولو، د حضرات محدثين د حب رسول ﷺ نه څوک انکار کولي شي، دويمه خبره دا ده چه د احکام شرعيه مدار په نقل باندې دې، د هر حکم ثبوت که هغه اهم وي او که معمولي وي محتاج د نقل دې او د ټولو نقولو منبع و ماخذ د رسول الله ﷺ ذات ګرامي دې، د محدثينو دا تراجم ابواب هم ددې حقيقت مظهر دی امام بخاري رحمه الله هم په 'اوانئ وضوء' يعنی د کومو لوښو نه چه اودس کول ثابت دی په دې باندې يو باب دوه منعقد کړی دی، خو په بخاري کښې په آنية الصفر باندې څه مستقل باب نشته اګرچه د بخاري شريف په حديث کښې دا لفظ ذکر کړې شوې دې، خو امام ابن ماجه رحمه الله د امام ابوداؤد په شان په آنية الصفر باندې باب تړلې دې دهغې په حاشيه کښې شاه عبدالغني صاحب مجددي رحمه الله فرمائي چه بعض فقهاء کرامو نه چه د تانبې او پيتلو په لوښي کښې د اودس کولو کراهت منقول دې، کيدې شي د هغوی مراد کراهت تنزيهي وی ځکه چه د خاورې د لوښي استعمال اقرب الی التواضع دې، او حديث په بيان جواز باندې محمول دې، بيا وراندې شاه صاحب ليکی، چه ماته په يو روايت کښې هم ددې تصريح نه ده ملاؤ شوې چه رسول الله ﷺ به د خاورو په لوښي باندې اودس فرمائيلو، صرف امام غزالي رحمه الله په احياء کښې ليکلي دی چه د رسول الله ﷺ د خاورې يو لوټه وه چه په هغې باندې به ئې اودس فرمائيلو خو حافظ عراقی د احياء العلوم په تخريج کښې ليکلي دی چه ماته ددې اصل نه دې ملاؤ شوې

د صفر او شبه لغوی تحقيق او د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت:

د صفر په ترجمه کښې اختلاف دې، د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی چه د حضرت ګنګوهی نه تپوس اوکړې شو چه د صفر ترجمه په غياث اللغات کښې په سيلور سره کړې شوې ده، او په غاية الاوطار ترجمه در مختار کښې ددې ترجمه په پيتل سره کړې شوې ده نو حضرت ددې جواب دا فرمائيلې دې لکه چه په فتاوی رشيديه کښې دی چه د صاحب غاية الاوطار قول صحيح دې

[۹۸] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنِي صَاحِبٌ لِي، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَوْرٍ مِنْ شَبَهٍ".

ترجمه: عائشې رضي الله عنها وئيلي دی وم چه غسل کولو ما او رسول الله ﷺ په لوښي کښې د تامبې نه

تشريح: اوس دا خبره چه په آنية الصفر کښې اودس کول څنګه دی نو د باب په دويم حديث

(١) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٣٤٤) (ضعيف)

کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ په آنیة الصفر کښې اودس فرمائیلې دې، او د باب په اول حدیث کښې ﴿ فی تور من شبه ﴾ لفظ دې شبه پیتل ته وائی نو ګویا د اول حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت من حیث المعنی دې او د حدیث ثانی د ترجمې سره مطابقت لفظا او معنی دواړو طریقو سره دې.

بهر حال د صحاح ددې احادیثو نه چه په هغې کښې بعض په بخاری کښې راغلی دی، په آنیة الصفر کښې اودس کول د رسول الله ﷺ نه ثابت شو خو د غیر صحاح په بعض روایتونو کښې د اودس فی آنیة الصفر کراهت معلومیږی، لکه چه په مصنف ابن ابی شیبة کښې دی. بله دا چه د ابن عمر ﷺ نه منقول دی چه هغوی به په آنیة الصفر اوبه نه څکلې او نه به ئې پرې اودس کولو، هم دغه شان ابن رسلان د امام غزالی ﷺ نه ددې کراهت نقل کړې دې، د مصنف ابن ابی شیبة په روایت کښې دی چه ﴿ انه علیه السلام کرهه ﴾ چه رسول الله ﷺ به د پیتلو لوښی استعمال بد ګڼړلو.

خو د جواز روایات د صحاح دی او اصح او ارجح دی، کیدې شی چه د مصنف ﷺ غرض په دې باب سره هم هغه روایاتو طرف ته اشاره ده او په هغې باندې رد وی او د جمع بین الروایات شکل دا دې چه د کراهت روایات په زهد او په ترک د تنعّم (عیش اوراحت) پریښودلو باندې محمول کړې شی، اوبعضو وئیلی دی چه کراهت په دې وجه دې چه داسې قیمتی لوښو استعمالولو کښې د فقیرانو او غریبانانو خلقو زړه ماتیږی بعضو دا وجه بیان کړې ده چه د تانبې پیتلو په لوښی کښې اوبه که ډیر ساعته پورې پاتې شی نو په هغې کښې تغیر راځی، او دا هم وئیلې شوې دی چه پیتل چونکه په رنګ کښې د ذهب سره مشابه دې په دې وجه کراهت دې هسې مسئله هم هغه ده کومه چه ابن قدامه ﷺ په مغنی کښې لیکلې ده چه د سرو سپینو زرو نه علاوه، د تانبې پیتل وغیره او هم دغه شان یاقوت او نور قیمتی کانړو نه جوړ شوی لوښی استعمالول جائز دی، خو د امام شافعی ﷺ یو قول دا دې چه کوم لوښی چه د ډیر قیمتی جواهراتو نه جوړ کړې شوې وی دهغې استعمال ناجائز دې.

او په دې هم پوهه شئ چه د سرو او سپینو زرو د لوښو استعمال صرف د سړو دپاره ناجائز نه دې بلکه دښځو دپاره هم ناجائز دې، دښځو دپاره صرف د کالو استعمال جائز دې.

شرح السند

قوله :﴿ اخبرنی صاحب لی ﴾ او ددې نه په وړاندې سند کښې دی ﴿ عن رجل ﴾ غرض دا چه دواړه ځایونو کښې په سند کښې راوی مبهم دې ددې نه مراد شعبه دې لکه چه حافظ په تهذیب کښې لیکلې دی او حضرت دا خبره په بذل کښې اخستلې ده، بله دا چه په اول او دویم سند کښې یو فرق دا دې چه په اول سند کښې هشام براه راست د عائشې ﷺ نه روایت کوی، او په دویم سند کښې د هشام او عائشې ﷺ ترمینځه عروه ﷺ دې، اول سند منقطع شو ځکه چه هشام د عائشې ﷺ زمانه نه ده موندلې.

[۹۹]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَنَّ إِسْحَاقَ بْنَ مَنْصُورٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِهِ.

ترجمه: عائشه رضي الله عنها روايت کوي د رسول الله ﷺ نه په مثل د هغې.

[۱۰۰]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، وَسَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: "جَاءَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْرَجْنَا لَهُ مَاءً فِي تَوْرٍ مِنْ صُفْرٍ فَتَوَضَّأَ".

ترجمه: د عبد الله بن زيد نه روايت دي، هغه وائي: راغي مونږ ته رسول الله ﷺ مونږ هغه ته اوبه راويستې په يو لوښي د زيړو کښې نو اودس ئې اوکړو

بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلَى الْوُضُوءِ

باب دې په بيان د بسم الله کې په اودس باندې

ادعيه او اذکار وضوء دوه قسمه دی، يو هغه چه په ابتداء د اودس کښې لوستلې شي، او دويم هغه چه بعد الفراغ عن الوضوء دی، چه دهغې باب به روستو راشي، او څه دعاګانې هغه دی کومې چه د اودس په وخت کښې په هر هر اندام باندې لوستلې شی ددې ټولو بيان به انشاء الله هم هلته په وړاندې باب کښې راشي.

مسئلة الباب کښې د ائمه اربعه د مذاهبو تحقيق

د تسمية عند الوضوء په حکم کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد سنت يا مستحب دواړه اقوال دی اکثرو سنت ليکلي دي او صاحب هدايه استحباب ليکلي دي، علامه عيني رحمه الله يو روايت د امام صاحب رحمه الله نه د عدم استحباب هم نقل کړی دي خو علامه شامي رحمه الله وغيره فقهاء کرامو دا خيره نه ده ذکر کړي، په احنافو کښې ابن الهمام رحمه الله د وجوب تسمية قائل دي خو دا د هغوی خپل تحقيق دي چه دهغې اعتبار نشته، پس د هغوی معروف شاګرد قاسم بن قطلوبغا فرمائي ﴿ ابحاث شيخنا إذا خالفت المنقول لا تعتبر ﴾ او د شوافعو په نزد تسمية عند الوضوء سنت ده ([۳])، لکه چه د هغوی په کتابونو کښې تصريح کړې شوې

---

[۱]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۳٤٤) (ضعيف)

[۲]: صحيح البخاري/الوضوء ٤٥ (۱۹۷)، صحيح مسلم/الطهارة ۷ (۲۳۵)، سنن الترمذي/الطهارة ۲٤ (۳۲)، سنن النسائي/الطهارة ۸۰ (۹۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦۱ (٤۷۱)، (تحفة الأشراف: ۵۳۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۳۸، ۳۹) (صحيح)

[۳]: ابن العربي فرمائي چه امام شافعي رحمه الله سره د استحباب تسميه هيڅ دليل نشته، بلکه دا چه هغوی د امام احمد رحمه الله نه نقل کړی دی چه په دې سلسله کښې هيڅ حديث صحيح نشته، هم دغه شان حافظ منذري رحمه الله هم ليکلي دی چه د احاديث تسميه سندونه مستقيم نه دی، او په معارف السنن کښې د شاه ولی الله رحمه الله په حوالې سره ليکلي شوي دی چه په کتب حديث کښې د رسول الله ﷺ نه چه کوم احاديث فعليه راغلي دی چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د اودس تفصيلات بيان کړې شوي دی، او صحابه کرامو خلقو ته دهغې تعليم ورکولو په هغې کښې چرته هم د تسميه ذکر نشته، پس اوس حاصل دا شو چه د اودس په سلسله کښې په احاديث کثيره صحيحه فعليه کښې خو د تسميه ذکر نشته خو په احاديث قوليه کښې ددې ذکر دی خو هغه ضعيف دی، غالباً هم دا وجه ده چه د امام صاحب رحمه الله نه هم په يو روايت کښې په دې سلسله کښې عدم استحباب منقول دې،

ده، د مالکیانو په نزد مشهور او تحقیقي قول لکه چه علامه دسوقي لیکلي دی چه تسمیة علی الوضوء د فضائل یعني مستحباتو نه ده، د غیر مشروع او مکروه کیدو هغوی تردید کړي دي، لهذا ابن العربي چه په شرح د ترمذي کښې د امام مالک رحمه الله طرف د تسمیه عدم استحباب منسوب کړي دي هغه خلاف تحقیق یا کم از کم قول مرجوع دې. د امام احمد رحمه الله په نزد لکه چه په کتب حنابله نیل المآرب وغیره کښې ددې تصریح ده چه تسمیة علی الوضوء واجب عند التذکر ده یعني نسیانا معاف ده هم دا مذهب د اسحق بن راهویه دي لهذا که څوک عمدا ترک د تسمیه کوی نو اودس به ئې صحیح نه وی، او د ظاهریه په نزد د تذکر قید نشته مطلقا فرض ده، د حنابله مذهب مشهور په نزد د شارحینو هم دا دې کوم چه د اسحق بن راهویه دې، خو په مغني کښې د تسمیة سنت کیدل اظهر الروایتین عن احمد لیکلي دي، بله دا چه د امام احمد رحمه الله په نزد په اودس، غسل او تیمم درې وارو کښې تسمیه واجب ده، خلاصه دا چه په دې کښې پنځه اقوال دی:

۱: د احنافو په نزد سنت یا مستحب ۲: د شوافعو په نزد سنت

۳: د مالکیانو په نزد مستحب د راجح او د مشهور قول په بناء.

۴: د حنابله په نزد واجب عند التذکر بغیر ددې نه اودس صحیح نه دي.

۵: د ظاهریه په نزد مطلقا واجب

[۱۰۱]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا وُضُوءَ لَهُ، وَلَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ".

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې هغه وائي، وئیلی دي رسول الله صلی الله علیه وسلم: نشته مونځ د هغه چا چه اودس ئې نه وي، او نشته دې اودس د هغه چا چه د الله نوم په هغې یاد نه کړي

[۱۰۲]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ الدَّرَاوَرْدِيِّ، قَالَ: وَذَكَرَ رَبِيعَةُ، أَنَّ تَفْسِيرَ حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ"، أَنَّهُ الَّذِي يَتَوَضَّأُ وَيَغْتَسِلُ، وَلَا يَنْوِي وُضُوءًا لِلصَّلَاةِ، وَلَا غُسْلًا لِلْجَنَابَةِ.

ترجمه: ذکر کړی دی ربیعه چه تفسیر د حدیث د نبي صلی الله علیه وسلم (لا وضوء لمن لم یذکر اسم الله علیه) دا هغه کس دی چه اودس کوي او غسل کوي، او نیت نه کوي د اودس لپاره د مونځ او نه د غسل د جنابت

تشریح: اوس دا چه د تسمیة علی الوضوء الفاظ څه دی؟ شیخ ابن الهمام لیکلي دی چه ددې الفاظ چه د سلفو نه منقول دی او بعضو وئیلي دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه منقول دی هغه ﴿ بسم الله العظیم والحمد لله علی دین الاسلام ﴾ دی او علامه عیني رحمه الله د طبراني په حواله مرفوعا ﴿ بسم الله والحمد لله ﴾ لیکلي دی

[1]: سنن ابن ماجه/الطهارة ٤١ (٣٩٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٧٦)، ت الطهارة ٢٠ (٢٥)، سنن النسائي/الطهارة ٦٢ (٧٨)، مسند احمد (٢/٤١٨) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٦٣٥) (صحيح)

د جمهورو د طرف نه د حدیث الباب جواب:

حدیث الباب د تسمیه په وجوب باندې دلالت کوی لکه چه د ظاهریه او حنابله او ابن الهمام مسلک دې، د جمهورو د طرف نه ددې ډیر جوابونه کړې شوې دی یو کلی جواب هغه دې کوم چه ابن العربی د امام احمد رحمه الله نه نقل کړې دې ﴿ لم یصح فی هذا الباب شئ ﴾ پس په حدیث الباب کښې یعقوب بن سلمة غیر قوی دې هغوی د خپل پلار نه روایت کوی د هغوی د خپل پلار نه سماع ثابت نه ده، او هم دغه شان د هغوی د پلار سماع د ابوهریره رضی الله عنه نه ثابته نه ده، لهذا دا حدیث ضعیف او منقطع شو. دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه په دې احادیثو کښې د کمال نفی ده او د کمال نفی په دې وجه مراد کوو چه د دلائلو خپل مینځ کښې تعارض رانشی، بلکه دا چه ابن سید الناس رحمه الله په شرح د ترمذی کښې لیکلې دی چه په بعض روایاتو کښې د نفی کمال تصریح ده یعنی ﴿ لا وضوء کاملا ﴾ راغلې دې، دریم جواب دا ورکړې شوې دې لکه چه امام ابوداؤد رحمه الله هم په دې باب کښې د ربیعة الرائی نه نقل کړې دی چه د تسمیة نه مراد نیت دې او د جمهورو په نزد نیت ضروری دې. څلورم جواب قاضی ابوبکر باقلانی کړې دې چه دا قسم الفاظ یعنی ﴿ لا وضوء ﴾ او ﴿ لا صلوة ﴾ مجمل دی، ځکه چه دا کله د نفی د ذات او صحت دپاره راځی او کله د نفی کمال دپاره، واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

په دې مسئله کښې د جمهورو دلائل:

جمهور علماء کرامو په عدم وجوب تسمیة عند الوضوء باندې دهغه حدیث نه استدلال کړې دې کوم چه په دارقطنی او بیهقی وغیره کښې د ډیرو صحابه کرامو، ابن عمر، ابن مسعود او ابوهریره رضی الله عنهم نه مرفوعا روایت کړې شوې دې ﴿ من توضا وذکر اسم الله علیه کان طهورا لجمیع بدنه ومن توضا ولم یذکر اسم الله کان طهورا لأعضاء وضوئه ﴾ یعنی څوک چه بسم الله وئیلو سره اودس اوکړی په دې سره د ټول بدن طهارت حاصلیږی، او څوک چه ئې بغیر د بسم الله نه لوستلو نه اوکړی نو په دې سره صرف د اودس اندامونه پاکیږی. دلته د طهارت نه مراد طهارت عن الذنوب دې، طهارت عن الحدث نه دې ځکه چه حدث متجزی کیږی نه. ددې حدیث نه معلومه شوه چه بغیر د تسمیه نه اودس خو کیږی خو ثواب کم دې. دا روایات اگرچه ضعیف دی په هر یو کښې یو نه یو راوی ضعیف دې، خو رومبئ خبره خو دا ده چه احادیث کوم چه دال دی په وجوب باندې هغه کوم قوی دی لهذا د دواړو طرفونو احادیث ضعیف شو، دویمه خبره دا ده چه دا روایات اگرچه بانفرادها ضعیف وی، خو د کثرت طرق په وجه اعتضاد اوتقویت راځی، لهذا داسې به وئیلې شی چه دا احادیث قرینه ده په دې خبره باندې چه په کومو روایاتو کښې چه بغیر د تسمیه نه د اودس نفی ده هغه نفی په نفی د کمال باندې محمول ده.

امام بیهقی رحمه الله د جمهورو د طرف نه دهغه حدیث نه استدلال کړې دې چه په هغې کښې دی ﴿ لا تتم صلوة أحدکم حتی یسبغ الوضوء کما أمره الله ﴾ یعنی د سړی مونځ تر هغه وخته پورې نه مکمل کیږی چه ترڅو هغه داسې اودس او نه کړی څنګه چه الله پاک حکم

کړي دي، او د ﴿أمره الله﴾ نه د اودس آيت طرف ته اشاره ده او په آيت وضوء کښې چرته هم تسميه نه ده ذکر شوې.

امام طحاوي رحمه الله په عدم وجوب باندې د رد السلام بالتيمم حديث نه استدلال کړې دې چه دهغې مضمون ﴿باب في الرجل يرد السلام وهو يبول﴾ د لاندې تير شوي دې چه رسول الله ﷺ د سلام جواب بغير د اودس نه په دې وجه ورنکړو چه سلام ذکر دې، او ذکر رسول الله ﷺ بغير د اودس نه مکروه اوګڼړلو لهذا دا به منلې کيږي چه کم از کم رسول الله ﷺ چه په دې موقع باندې کوم اودس فرمائيلې وو هغه بغير د تسميه نه وو، لهذا تسمية عند الوضوء ضروري نه ده.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ قَبْلَ أَنْ يَغْسِلَهَا

باب دې په بيان د سړي کښې چې لاس د ننه کوي په لوښي کښې مخکښې د وينځلو نه

[۱۰۳]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې هغه وائي، وئيلي دي رسول الله ﷺ: کله چه پاڅيږي يو کس ستاسو نه دشپې، نو نه دې منډي لاس خپل په لوښي کښې تردې چه وينځي هغه درې ځله. ځکه چه دا نه پوهيږي چه د ده لاس شپه چېرته تيره کړې ده.

تشريح: قوله ﴿عن أبي هريرة الخ﴾ رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي چه کله يو سړي د شپې پاڅيږي نو ترڅو چه خپل لاسونه درې کرته او نه وينځي نو هغه دې په اوبو کښې نه غوپه کوي (فإنه لا يدرى اين باتت يده) ځکه چه هغه ته پته نشته چه د هغه لاس چرته شپه تيره کړه، پاک ځائي يا ناپاک ځائي کښې.

دلته يو طالب علمانه اشکال دې، هغه دا چه ﴿أين باتت يده﴾ جمله استفهاميه ده، کوم چه صدارت د کلام غواړي او دلته داسې نه ده بلکه په ترکيب کښې مفعول واقع شوې دې؟

جواب دا دې چه دلته لفظ ﴿اين﴾ د مطلق ظرف په معنى کښې مجردا عن معنى الاستفهام استعماليږي، او ترجمه دا ده چه اوده کيدونکې نه پوهيږي د بدن په هغه حصه او ځائي چه چرته د هغه لاس شپه تيره کړې ده ګويا ﴿أين﴾ د ﴿موضع﴾ په معنى کښې دی يا دا اووئيلې شي چه دا جمله په طور د سوال نه ده بلکه حکايت عن السوال دې چه که د خوب نه پاسيدونکې نه تپوس اوکړې شي چه د هغه لاس چرته لګيدلې دې، نو هغه به ددې جواب ورنکړې شي، او تقدير د عبارت دا دې ﴿فإنه لا يدرى جواب أين باتت يده﴾.

(): صحيح مسلم/الطهارة ٢٦ (٢٧٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٠٩، ١٢٥١٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٢٦ (١٦٢)، سنن الترمذي/الطهارة ١٩ (٢٤)، سنن النسائي/الطهارة ١ (١)، الغسل ٢٩ (٤٤٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٠ (٣٩٣)، موطا امام مالك/الطهارة ٢ (٩)، مسند احمد (٢/٢٤١، ٢٥٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٧٨ (٧٩٣) (صحيح)

حديث نه متعلق مباحث اربعه :

په دې حديث کښې څو بحثونه دي:

۱: اول دا چه دا نهي د تنزيه دپاره ده يا د تحريم دپاره،

۲: دويم بحث دا دي چه که يو سړي قبل الغسل لاسونه په اوبو کښې داخل کړي نو ددې اوبو څه حکم دې طاهر دي که نجس؟

۳: دريم بحث دا دې چه علت نهي او سبب حديث څه څيز دې؟

۴: څلورم بحث دا دې چه په دې حديث کښې چه ابتداء د غسل اليدين حکم دې، آيا دا د احکام المياه د قبيل نه دې يا د سنن الوضوء د قبيل نه؟

بحث اول : نهي تنزيهي ده که تحريمي؟

د جمهورو اود ائمه ثلاثه په نزد دا نهي د تنزيه دپاره ده که استيقاظ د ورځې وي يا د شپې، اود امام احمد رحمه الله او داؤد ظاهري رحمه الله په نزد په نوم الليل کښې د تحريم دپاره ده، او نوم النهار کښې د تنزيه دپاره دې، حسن بصري رحمه الله فرمائي چه مطلق د تحريم دپاره ده که د ورځې وي يا د شپې، د امام احمد رحمه الله استناد د باب د حديث اول نه دې چه په هغې کښې د ﴿ من الليل ﴾ قيد موجود دې او د حسن بصري رحمه الله استناد دهغه روايت نه دې چه په هغې کښې مطلق استيقاظ من النوم مذکور دې د ليل قيد نشته لکه چه د باب حديث ثالث کښې دی.

بحث ثاني : ددغه لاس وهلو اوبو حکم:

دجمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه په نزد اوبه ناپاک دی مطلقا . او اسحق بن راهويه، حسن بصري او محمد بن جرير طبري رحمه الله په نزد نوم الليل کښې نجس کيږي، او هم دا يو روايت د امام احمد دې، پس ابن قدامة د امام احمد رحمه الله نه نقل کړی دی هغوی فرمائي ﴿أعجب إلي أن يهريقه ﴾

د اسحاق بن راهويه رحمه الله وغيره استدلال د هغه روايت نه دې په کوم کښې چه د اراقة ماء حکم دې، کوم چه ابن عدی روايت کړې دې خو هغوی خپله دا وائي چه دا روايت منکر او غير محفوظ دې، او جمهور دا وائي چه کوم حکم په احتمال باندې بناء وی هغه د وجوب دپاره نه شی کيدې لهذا د غسل يدين حکم ته وجوبی نه شی وئيلې کيدې او دويمه خبره دا ده چه قاعده ده ﴿ اليقين لا يزول إلا بمثله ﴾ او دلته د اوبو طهارت د مخکښې نه يقيني وو، او د يدين نجاست صرف محتمل او مشکوک دې، لهذا په شک سره به يقيني څيز نه زائل کيږی.

بحث ثالث : د نهي علت او سبب

د جمهورو په نزد سبب د نهي احتمال نجاست دې د امام شافعي رحمه الله نه روايت دې چه د اهل حجاز عادت استنجاء بالحجر باندې د اکتفاء کولو وو، او ددې خلقو مزاج او ملک حار وی، د اوده کيدو نه پس پرې خوله راتلې، او دهغې په وجه محل د استنجاء لوند شی چه په هغې سره د نجاست د واپس کيدو احتمال دې، او کيدې شی چه د اوده کيدونکی لاس په حالت نوم کښې مقام استنجاء ته رسيدلې وی، بله دا چه چونکه د جمهورو په نزد

دا حکم د احتمال نجاست په بناء دې په دې وجه حکم به هم په دې علت باندې دائر وی، لهذا کله هم چه په لاسونو باندې د نجاست احتمال وی اگر که اودهٔ کیدو سره پاسیدلې وی یا نه بیا به هم دا حکم وی چه بغیر د وینځلو نه دې لاس په لوښی کښې او نه وهلې شی، او د بعض علماء کرامو په نزد چه په هغوی کښې قاضی ابوالولید باجی هم دې دا نهی د تنظیف دپاره ده ځکه چه د اودهٔ کیدونکو لاس داسې خایونو ته رسیږی کوم چه د خیری او د خولو ځایونه دی مثلا په پوزه کښې دننه او ترخ وغیره، لهذا په داسې صورت کښې د وینځلو نه مخکښې دا لاسونه په اوبو کښې وهل د نظافت خلاف دی دریم قول په دې کښې دا دې چه دا حکم تعبدی دې، ددې قول نسبت د امام مالک رحمه الله طرف ته کولې شی، بلکه دا چه د ابن القیم رحمه الله او ابن دقیق العید نه هم دغه شان منقول دی، خو دا صحیح نه ده، ځکه چه په حدیث کښې ددې حکم تعلیل ذکر شوې دې لهذا دا حکم معلل شو نه تعبدی

په دې اختلاف باندې به ثمره دا مرتب کیږی چه کوم حضرات وائی چه دا حکم تعبدی دې، د هغوی په نزد به د غسل یدین حکم په هر حال کښې وی، او د چا په نزد چه حکم معلل دې د احتمال نجاست سره لکه چه د جمهورو رائې ده، نو دهغې تقاضه دا ده چه د عدم احتمال نجاست په شکل کښې د غسل یدین حکم نه وی، مثلا څوک د اودهٔ کیدو نه مخکښې په خپلو لاسونو باندې کپړه واچوی یا دستانې واچوی او بیا اودهٔ شی نو چونکه په دې صورت کښې احتمال نجاست نشته، په دې وجه به د غسل الیدین حکم هم نه مرتب کیږی اگرچه اولی په دې وخت کښې هم دا ده چه اول وینځلې شی.

بحث رابع : د اودس په شروع کښې د غسل یدین بحث

په دې حدیث کښې چه د ادخال یدین فی الاناء نه مخکښې د غسل یدین حکم ورکړې شوې دې، آیا دا هم هغه غسل یدین دې کوم چه په ابتداء وضوء کښې دې کوم چه فقهاء کرام په سنن وضوء کښې شمار کوی، یا که دهغې نه علاوه دې؟ جواب دا دې چه په دې کښې دواړه اقوال دی، د فقهاء کرامو د طرز نه معلومیږی چه دا هم هغه غسل یدین دې کوم چه د اودس په ابتداء کښې مسنون دې خو علامه سندی په دې محمل باندې اشکال کړې دې، هغوی وائی چه ددې تعلق د سنن وضوء سره نه دې بلکه د احکام المیاه سره دې، یعنی مقصد دا دې چه په کورونو کښې چه په لوښو کښې کومې اوبه ډکې کړې شوې پرتې وی کومې چه په اودس، غسل او نورو ضروریاتو کښې استعمالیږی، دهغې د پاک ساتلو اهتمام پکار دې، مثلا د خوب نه چه پاسې نو بغیر د وینځلو نه دې لاس په هغې کښې نه دننه کوی چه د استعمال دپاره اوبه پاکې ملاؤ شی، او هم دا رائې ده د ابن رشد رحمه الله، هغوی هم په بدایة المجتهد کښې په دې حدیث باندې بحث فرمائیلې دې، احقر وائی چه ددې تائید ددې نه هم کیږی چه د اودس په ابتداء کښې غسل یدین خو په هر حال کښې مستحب دې، د اودهٔ کیدو نه پس پاسیدو سره مقید نه دې او په دې حدیث کښې د ستیقاظ من النوم قید دې

حاصل دا چه سیاق دحدیث ددې خبره متقاضی دې چه ددې حکم تعلق د مطلق اوبو سره لومنلې شی د اودس سره دې دا خاص نه کړې شی خو د مصنف رحمه الله د طرز عمل نه

معلومیږی چه هغوی دا حدیث د سنن وضوء سره متعلق کړې دې په دې وجه ئې د ابواب وضوء په مینځ کښې راوړې دې احکام المیاه او د هغې ابواب مخکښې تیر شوي دي.

یو خاص اشکال او د هغې جواب :

دلته یو سوال دا دې چه حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه زما استاد حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری رحمه الله د خپل استاذ محترم مولانا شاه عبدالغنی صاحب رحمه الله نه دا سوال اوفرمائیلو چه په حدیث کښې د اوده کیدو نه پس پاسیدو سره د غسل یدین حکم ورکړې شوې دې صرف د احتمال نجاست په وجه باندې چه معلومه نه ده چه لاس به کومو کومو ځایونو کښې لګیدلي وي، کیدې شي چه شرمګاه او محل استنجاء ته رسیدلي وي، چه هر کله دا خبره ده نو بیا د پاجامې او لنګ هغه حصه کومه چه د شرمګاه سره متصل وي، د اوده کیدو نه پس د هغې د وینځلو حکم په طریقه اولی پکار دې حال دا چه په حدیث کښې د هغې د وینځلو حکم نه دې راغلې؟

ددې جواب حضرت شیخ صاحب رحمه الله دا فرمائیلي دي چه په ظاهر ددې وجه دا ده چه د اوبو نجاست متعدی دې، او که اوبه ناپاک یا مشکوک وی نو کوم څیز باندې چه هم اولګیږی هغه ټول څیزونه به مشکوک او ناپاک شي په خلاف د کپړې چه د هغې د نجاست اثر بل څیز ته نه منتقل کیږی، هم په دې وجه فقهاء کرامو فرمائیلي دی چه ﴿طهارة الماء أوكد﴾ یعنی د اوبو د پاکوالی مسئله زیاته اهم ده، یو فرق بل هم دې چه په غسل یدین کښې هیڅ ګران والي (حرج) نشته، او د پاجامې ښختګ بار بار وینځلو کښې حرج دې، او حرج په شریعت کښې مدفوع دې.

[۱۰۴]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَعْنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا رَزِينٍ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې مرفوعاً یعنې دا حدیث، هغه وائی دوه ځله او یا درې ځله، او ابو رزین ئې نه دې ذکر کړې.

تشریح: قوله :﴿ قَالَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ﴾ مصنف رحمه الله د اعمش د شاګردانو اختلاف بیانوی په اول روایت کښې شاګرد ابومعاویه وو، په دې کښې عیسی بن یونس دې، په اول روایت کښې ثلاث مرات دې بغیر د شک نه، په دویم روایت کښې مرتين أو قال ثلاثا په شک سره دې ظاهر هم دا ده چه دا ﴿ او ﴾ د شک دپاره نه دې، بلکه د متکلم یعنی د نبی علیه السلام په کلام کښې دې، لهذا دا به هم دغه شان لوستلې شی ﴿ مرتين او قال ثلاثا ﴾ او دویم احتمال دا دې چه ﴿ او ﴾ د راوی شک نه وی بلکه متکلم یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کلام کښې وی، په دې صورت کښې به د ﴿ او ﴾ نه پس ﴿ قال ﴾ نه شی لوستلې، د ﴿ أو ﴾ نه پس قال هلته لوستلې شي چرته چه شک د راوی وی

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۴۵۳)، مسند احمد (۲/۲۵۳) (صحيح)

[۱۰۵] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يُدْخِلْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ، أَوْ أَيْنَ كَانَتْ تَطُوفُ يَدُهُ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې هغه وائي: ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه هغه به ويل: كله چه بيدار شي يو كس ستاسو نه د خوب خپل نه، نو نه دې ننباسي لاس خپل په لوښي كښې تردې چه وينځي هغه درې ځل، بيشكه يو ستاسو نه نه پوهيږي چه چېرته شپه تېره كړې ده لاس د هغه، او يا كوم ځائي كښې ګرځيدو راګرځيدو لاس د هغه.

تشريح: قوله :﴿ اذا استيقظ احدكم الخ ﴾ په دې روايت كښې د نوم اضافه ده، سوال دا واردېږي چه د استيقاظ نه پس ددې قيد څه ضرورت وو، بيداري خو وي د خوب نه؟

جواب دا دې چه د استيقاظ استعمال او اطلاق كله كله په افاقة من الغشي باندې هم كيږي، دويم سوال دا دې چه ﴿ نومه ﴾ كښې د ضمير د اضافت څه ضرورت وو ﴿ من النوم ﴾ به ئې وئيلې وې، ځكه چه هر سړې د خپل خوب نه بيداريږي؟

جواب دا دې چه په دې كښې اشاره ده دې خبرې ته چه متكلم په دې حكم كښې داخل نه دې مخاطب مراد دې، او هم په دې وجه ئې احدكم هم ذكر كړې دې چه ددې حكم نه د متكلم خارجيدل معلوم شي.

باب صِفَةِ وُضُوءِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

باب دې په بيان د طريقې د اودس د نبي ﷺ كې

د دې باب نه د مصنف رحمه الله غرض د اودس تفصيلي كيفيت بيانول دی او دا چه د رسول الله ﷺ نه څنګه څنګه اودس كول ثابت دی، دا باب غالبًا د كتاب الطهارة د ټولو نه اوږد باب دې، په دې كښې مصنف رحمه الله د نهه صحابه كرامو رضی الله عنهم روايات ذكر فرمائيلي دی چه دهغې نه معلوميږي چه مصنف رحمه الله د بيان وضوء سخت اهتمام كوي. او دا خبره ده هم د اهتمام لائقه، د رواياتو كتلو نه معلوميږي چه صحابه كرامو رضی الله عنهم ته خپل مينځ كښې د تعليم وضوء ډير اهتمام وو.

[۱۰۶] (²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ حُمْرَانَ بْنِ أَبَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: رَأَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ تَوَضَّأَ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ ثَلَاثًا فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَغَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا ثُمَّ الْيُسْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ، ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا ثُمَّ الْيُسْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٥٨) (صحيح)

(²): صحيح البخاري/الوضوء ٢٤ (١٥٩)، ٢٨ (١٦٤)، الصوم ٢٧ (١٩٣٤)، صحيح مسلم/الطهارة ٣ (٢٢٦)، سنن النسائي/الطهارة ٦٨ (٨٤)، موطا امام مالك/الطهارة ٦ (٢٩)، (تحفة الأشراف: ٩٧٩٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٦ (٢٨٥)، مسند احمد (١/٧٢)، سنن الدارمي/الطهارة ٢٧ (٧٢٠) (صحيح)

تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ قَالَ: "مَنْ تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِي هَذَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".

ترجمه: حمران وائي چه ما اوليدلو عثمان بن عفان چه اودس ني اوكړو نو اوبه ني واړولي په دوارو لاسونو باندي دري خله نو وني وينځل دواړه، بيا ني مضمضه اوكړه او پوزه ني سونړ كړه، بيا ني مخ اووينځلو دري خله، او ونې وينځلو ښي لاس تر څنګل پورې دري خله، بيا چپ لاس دهغي پشان، بيا ني مسح د رأس اوكړه، بيا ني وينځله ښي ښپه دري خله، بيا ګسه ښپه دري خله پشان د هغي، بيا اوونيله رسول الله ﷺ اودس اوكړه پشان د اودس زما چه دادي، بيا ني اوونيل چا چه اودس اوكړو پشان د اودس زما چه دادي، بيا ني مونځ اوكړو دوه ركعاته چه د ځان سره ني په هغي كښي خبري نه وي كړي، نو الله به ورته مخكني ګناهونه اوبخښي

مسانيد عثمان رضي الله عنه

﴿ عَنْ حُمْرَانَ بْنِ أَبَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ رَأَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ الخ ﴾ د ټولو نه اول مصنف رحمه الله په دي سلسله كښي مسانيد عثمان رضي الله عنه بيان كړي دی ددي نه پس مسانيد علي رضي الله عنه، ددي دواړو روايتونه مصنف رحمه الله مفصلا ذكر كړي دی د اودس اكثر مسائل او اختلافات ائمه هم په دي دوؤ روايتونو كښي راغلي دی، ﴿ قوله فافرغ علی يديه ثلاثا ﴾ د ظاهر لفظ نه معلوميږي چه دواړه لاسونه ني يوځاني وينځل، او په ډيرو روايتونو كښي داسي راغلي دی چه ﴿ افرغ بيده اليمنى على اليسرى ﴾ چه دهغي مطلب په ظاهر كښي تقديم اليمنى على اليسرى دي [1] يعني اول ني ښي لاس وينځلو او بيا ني په هغي سره په ګس لاس باندي اوبه واچولي، په دي صورت كښي به غسل يدين على التعاقب وی ابن دقيق العيد ليكي چه په دي دواړو صورتونو كښي كوم صورت افضل دي د فقهاء كرامو په دي كښي اختلاف دي.

په ابتداء د اودس كښي غسل يدين د جمهورو په نزد سنت دی، او اهل ظاهر ددي د وجوب قائل دی، د اودس په ابتداء كښي د غسل يدين ذكر په احاديث مرفوعه فعليه كښي خو په كثرت سره راغلي دي، لكه چه په احاديث الباب كښي به تاسو اوګورئ. په دي سلسله

[1] خكه چه په ګس لاس باندي د اوبو اچولو دپاره چه كله ښي لاس په اوبو كښي داخل كړي شو نو ښكاره ده چه په دي صورت كښي ښي لاس مخكښي وينځلي شو، او كه دلته د ادخال يد في الاناء په ځاني اصغاء اناء والی صورت واخستلي شي نو بيا تقديم اليسرى على اليمنى لازميږي چه دهغي څوك هم قائل نه دی، ددي نه هم معلومه شوه چه په اودس كښي د اوبو د استعمال دوه طريقي دی، ادخال يد في الاناء، او اصغاء اناء، اول صورت په حوض يا لوښي لوښي كښي چليږي او دويم په دروكي لوښي كښي، ددي نه علاوه ابن رسلان شارح د ابوداؤد ليكلي دی چه اول صورت كښي اوبه د متوضي نه ښي طرف ته كيدل پكار دی، او په دويم صورت كښي ګس طرف ته، سبحان الله! زمونږ شريعت څومره جامع دي چه په دي كښي د هر څيز طريقه او تفصيل موجود دي، لكه چه په يو حديث كښي دی ﴿ ليلها ونهارها سواء ﴾

کښې حدیث قولي شته یا نه؟
علامه انور شاه کشمیري رحمه الله لیکلي دي چه ماته په دې مسئله کښې هیڅ قولي حدیث یاد نه دې، او حدیث الاستیقاظ من النوم د غسل یدین په سلسله کښې اګرچه قولي حدیث دې، خو دا حدیث د سنن وضوء نه منلو کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه دهغې بحث ددې نه په مخکښې باب کښې تیر شوې دې.
قوله :﴿ ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ﴾ د مضمضه لغوي معنی ده ﴿ تحریک الماء فی الفم ﴾ یا مطلق تحریک، پس وئیلې شي ﴿ مضمض النعاس فی عینیه ای تحرک ﴾ یعنی د فلاني سړي په سترګو کښې خوب تاویږي، او د جمهور فقهاء کرامو په نزد ددې حقیقت ﴿ ادخال الماء فی الفم ﴾ دې، بیا د فقهاء کرامو په دې کښې اختلاف دې چه د مضمضې دپاره په خُله کښې د اوبو د اخستلو نه پس إدارة الماء هم شرط دې یا نه، جمهور علماء کرام ددې قائل نه دی، بعض قائل دی، هم دغه شان په خُله کښې د اوبو اچولو نه پس دهغې مج یعنی بهر تویول هم د جمهورو په نزد ضروري نه دی، بلکه که دا تیرې کړي نو د مضمضه تحقق به راشي، خو بعض فقهاء کرام ددې د وجوب قائل دی.
د ترتیب تقاضا دا ده چه د مضمضه نه پس د استنشاق ذکر وې، پس په بعض نسخو کښې د ﴿ استنثر ﴾ په ځائې ﴿ استنشق ﴾ دې لکه چه په حاشیه باندې د نسخې علامت جوړولو سره لیکلې شوې دی، او دلته مراد دا دې ﴿ استنثر ای بعد الاستنشاق ﴾ ځکه چه ذکر استنثار مستلزم دې استنشاق لره د جمهورو رائې دا ده چه په دواړو کښې فرق دې، استنشاق وائی ادخال الماء فی الانف ته او استنثار ددې ضد دې خو په دې کښې د ابن العربي او ابن قتیبه اختلاف دې هغوی وائی چه د استنثار معنی هم د استنشاق ده، امام نووي رحمه الله فرمائی چه صحیح د جمهورو قول دې، خو احقر وائی چه په مُغرب او المصباح المنیر دواړو کښې د استنثار تفسیر په استنشاق سره کړې شوې دې.

د مضمضه او استنشاق په حکم کښې اختلاف د علماؤ:

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د مضمضه او استنشاق په حکم کښې اختلاف دې، د امام مالک او امام شافعي په نزد په اودس او غسل دواړو کښې سنت ده او هم دا مذهب دې د حسن بصري او دامام زهري رحمه الله، او د امام احمد رحمه الله د مشهور قول په بناء دا دواړه په دواړو کښې فرض دی او د داؤد ظاهري په نزد استنشاق په اودس او غسل دواړو کښې واجب دې، او مضمضه په دواړو کښې سنت ده، او هم دا یو روایت د امام احمد رحمه الله دې، او دریم روایت د امام احمد رحمه الله په مثل د جمهور دې، او د احنافو په نزد په اودس او غسل کښې فرق دې، په اودس کښې دواړه سنت او غسل جنابت کښې دواړه واجب دی، د مضمضه او استنشاق دا اختلافات سره د دلائلو نه په باب السواک من الفطرة کښې تیر شوي دي.

د مضمضه او استنشاق په کیفیت کښې د ائمه وُ مذاهب:

ځان پوهه کړه چه دلته یو اختلاف بل دې یعنی د مضمضه او استنشاق طریقه او کیفیت، پس امام ترمذي رحمه الله په دې سلسله کښې دوه ابواب قائم کړي دی یو د مضمضه او

استنشاق د حکم د بيان دپاره او دويم باب مستقلا د بيان کيفيت دپاره، اختلاف په دې کښې دا دې چه په مضمضه او استنشاق کښې وصل اولي دې يا که فصل؟ [1] بله دا چه دواړه دې په يو اوبو سره اوکړې شي او که د دواړو دپاره بيلې بيلې اوبه واخستلې شي.

امام نووي رحمه الله فرمائي چه زمونږ په نزد په دې مسئله کښې پنځه اقوال دي چه هغه په خپلو الفاظو کښې د حفظ د سهولت دپاره داسې تعبير کوم

اول قول: الوصل بثلاث غرفات: يعني په يو لپه کښې اوبه اخستلو سره دهغې په بعض حصې سره مضمضه او بعض سره استنشاق اوکړې شي، بيا دې هم دغه شان په دويم او دريم ځل اوکړې شي،

دويم قول: الوصل بغرفة واحدة: يعني په يو لپه کښې اوبه اخستلو سره اول مضمضه او بيا هم په هغه اوبو سره استنشاق، او هم دغه شان دې په دې پاتې شوې اوبو باندې دويم او دريم ځل اوکړې شي، ګويا د وصل دوه طريقې شوې، په درې لپو باندې، او په يو لپه باندې، بيا د فصل درې صورتونه دي.

۱: فصل په يوه لپه: چه دهغې مطلب دا دې چه په يوې لپې سره اول درې کرته مسلسل مضمضه اوکړې شي او بيا په باقي اوبو سره درې کرته مسلسل استنشاق اوکړې شي.

۲: فصل په دوه لپو باندې: يعني د يوې لپې اوبو نه دې اول درې کرته مضمضه اوکړې شي، بيا دې په دويمې لپې سره درې کرته استنشاق اوکړې شي،

۳: فصل په شپږو لپو باندې: يعني درې لپې دې اول د مضمضه دپاره، او بيا درې لپې درې کرته د استنشاق دپاره، څنګه چه زمونږ علاقو کښې کيږي او مونږ او تاسو ئې کوو، خو د شوافعو په نزد په دې پنځو صورتونو کښې اول صورت يعني الوصل بثلاث غرفات زيات اولي دې كما قال النووي.

ځان پوهه کړه چه د احنافو په نزد د وصل هغه صورت خو جائز دې چه په هغې کښې د ماء مستعمل استعمال نه لازميږي، او په کوم صورت کښې چه د ماء مستعمل استعمال لازميږي هغه صورت ناجائز دې مثلا که يو سړې په يوې غرفې سره مخکښې مضمضه او بيا هم په دې باقي اوبو سره استنشاق اوکړي نو دا به جائز وي خو که په يو لپه کښې اوبه واخلي نو په هغې باندې د استنشاق کولو نه پس به هم په هغه اوبو باندې دوباره استنشاق يا مضمضه کول صحيح نه وي، ځکه چه يو ځل استنشاق کولو نه پس په لپه کښې باقي پاتې اوبه مستعمل ګرځي، لکه چه ظاهره ده.

قوله: ﴿ وَغَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى إِلَى الْمِرْفَقِ ﴾ دا غايت د جمهورو علماء کرامو چه په هغوی کښې ائمه اربعه دي، په نزد په مغيا کښې داخل دې په دې کښې د امام زفر او داؤد ظاهري

---

[1] د فصل مطلب دا دې چه د مضمضه د فراغت نه پس استنشاق اوکړې شي او د وصل مطلب دا دې چه دواړه يو ځائې اوکړې شي دا مسئله امام ابوداؤد رحمه الله وړاندې په يو مستقل باب کښې ذکر کړې ده، باب الفرق بين المضمضة والاستنشاق)

اختلاف مشهور دي، هغوی وائي غايت د مغيا نه خارج دي، او بعضو د امام مالکؒ نه هم په دې کښې اختلاف نقل کړې دې، خو دا صحيح نه ده.

د غايت دوه قسمونه دي غايت اسقاط او غايت امتداد :

غايت کله په مغيا کښې داخل وی او کله خارج، په باب الصوم يعنى آيت کريمه ﴿ ثم أتموا الصيام الى الليل ﴾ کښې خارج دي او په باب الوضوء کښې داخل دې، قاعده دديې دا ليکلې ده چه د غايت دوه قسمونه دی، غايت الاسقاط او غايت الامتداد، په اول کښې غاية په مغيا کښې داخل وی، او په ثاني کښې خارج، غايت الاسقاط هغې ته وائي چه غايت د مغيا د جنس نه وی کما في الوضوء، ځکه چه د يد اطلاق د ګوتو نه واخله تر ترخونو پورې کيږي، او دلته يعنى ﴿ فاغسلوا وجوهکم وايديکم الى المرافق ﴾ کښې ذکر غايت مافوق المرفق ته د حکم غسل نه د ساقط کولو دپاره دې، که غايت نه ذکر کيدو نو غسل يد به تر إبط پورې ضروري وې هم په دې وجه دديې غايت نوم غايت الاسقاط کيخودلې شو چه د ما بعد الغائط د ساقطولو دپاره دې هم دې لره صاحب هداية فرمائي ﴿ اذ لولاها لاستوعبت الوظيفة الکل ﴾ او غايت الامتدادهغې ته وائي کوم چه د حکم د اوږدولو او خورولو دپاره ذکر کړې شي او دا هلته وی کوم ځائې چه غايت د مغيا د جنس نه نه وی لکه ﴿ ثم أتموا الصيام إلى الليل ﴾ کښې، ځکه چه د روژې د ابتداء د اول نهار نه کيږي، او د صوم لغوی معنى د مطلق امساک ده که هغه د يو ساعت دپاره ولې نه وی، پس هلته چه د الى الليل، کوم غايت ذکر کړې شوې دې هغه د امتداد دپاره دې چه د امساک حکم د ورځې د آخر پورې اوشی، دلته که غايت نه وو ذکر شوې نو دا به لازميدل چه د صوم تحقق امساک ساعة سره هم حاصل شی، حال دا چه داسې نه ده.

د دې نه پس خان پوهه کړه چه په اودس کښې دا اختلاف په مرفقين او کعبين دواړو کښې دې، او په دې کښې هم اختلاف دې چه په اودس کښې د کعب نه څه مراد دې؟ د جمهور علماء او د ائمه اربعه په نزد کعب نوم دی د ﴿ العظمان الناتيان بين الساق والقدم ﴾ او په هر رجل کښې دوه کعب وی، په دې مسئله کښې د روافض اختلاف دې هغوی وائي چه هر رجل کښې يو کعب وی عند معقد الشراک (يعنى دخپې شاته حصه کښې دتسمې د تړلو ځائې) هغوی په اودس کښې هم دديې قائل دی چه خپې دې تر معقد الشراک پورې وينځلې شی.

دلته د حافظ ابن حجرؒ نه يو وهم اوشو هغه دا چه هغوی د امام محمدؒ طرف دا قول منسوب کړې دې، حال دا چه دا صحيح نه ده، علامه عينیؒ دا رد کړې ده، غالبا حافظ ته مغالطه د باب الحج د يوې مسئلې نه شوې دې هغه دا چه په حديث کښې دی ﴿ اذا لم يجد النعلين فليلبس الخفين وليقطعهما أسفل من الکعبين ﴾، امام محمدؒ په دې مسئله کښې فرمائي چه دلته د کعب نه مراد معقد الشراک دی نه باب وضوء کښې.

په مسح رأس کښې مباحث اربعه :

﴿ قوله ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ ﴾ خان پوهه کړه چه په مسح د سر کښې څلور بحثونه دی، اول مقدار مفروض، ثاني تثليث مسح، ثالث د مسح رأس دپاره د ماء جديد اخستل، رابع کيفيت

مسح يعني د مسح طريقه څه ده

بحث اول مقدار مفروض:

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه د فقهاء كرامو په دې كښې ديارلس اقوال دي، مشهور په هغې كښې دري دي.

۱: د احنافو په نزد څلورمه حصه د سر يا مقدار د دريو ګوتو د لاس د ګوتو نه.

۲: د شوافعو په نزد په دې كښې دوه اقوال دي، يو ادنى ما يطلق عليه اسم المسح يعني كم از كم هغه مقدار چه په هغې باندې د مسح اطلاق كيدې شي، اګرچه يو ويښته ولې نه وي، دويم قول دا دې چه كم از كم ثلاث شعرات.

۳: د امام مالک او احمد رحمهما الله په نزد د مشهور قول په بناء استيعاب د سر واجب دې، او د امام احمد رحمه الله دويم قول دا دې چه د بعض سر مسح كافي ده او دا دوه اقوال د هغوى په نزد د سړو په حق كښې دي، او د زنانو دپاره د مقدم رأس مسح كول كافي دي، هم دغه شان د مالكيانو په نزد نور هم اقوال دي، پس د بعض مالكيانو په نزد مسح الثلثين ده او د بعض په نزد مسح الثلث ده.

د احنافو دليل د مغيره بن شعبه رضي الله عنه حديث دې كوم چه په مسلم او ابوداؤد وغيره كښې دي چه په هغې كښې دي ﴿ ومسح على ناصيته ﴾ بله دا چه د انس رضي الله عنه په حديث كوم چه په ابوداؤد كښې دې چه په هغې كښې د ﴿ مسح مقدم رأسه ﴾ لفظ دې ابن الهمام رحمه الله فرمائي چه مقدم راس او ناصيه او ربع راس دا ټول يو دي، بله دا چه په ﴿ وامسحوا برؤسكم ﴾ كښې باء د تبعيض دپاره ده، شوافع فرمائي چه په آيت وضوء كښې مسح راس مطلقا مذكور دې، ﴿ والمطلق يجرى على اطلاقه ﴾ ددې جواب اصولينو دا وركړې دې چه آيت وضوء د مسح راس په باره كښې مطلق نه دې بلكه مجمل دې، او په مجمل باندې د عمل دپاره د مجمل يعني د متكلم د طرف نه بيان ضروري دې، بغير د بيان نه په هغې باندې عمل ممكن نه دې، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم عمل يعني مسح على الناصية ددې مجمل بيان دې، لهذا مسح على الناصية به فرض وي، پاتې شوه دا خبره چه دې ته مطلق ولې نه شو وئيلې ددې جواب دا دې چه د مطلق علامت دا دې چه د هغې په افرادو كښې چه كوم فرد هم چه مكلف اختيار كړي نو مامور به دې ادا كونكې او ګڼړي، او دلته داسې نه ده، ځكه چه د مطلق مسح راس څو افراد دي، مسح على الكل، مسح على الثلثين، مسح على النصف، مسح على الثلث، مسح على الربع، مسح على الخمس، مسح على السدس وغيره وغيره نو ګورئ كه يو سړې د مطلق په دې افرادو كښې د شروع څلور اختيار كړي نو صرف د مامور به ادا كونكې نه ستاسو په نزد دې او نه زمونږ په نزد بلكه هغه په دې صورتونو كښې مامور به مع شئ زائد لره ادا كونكې دې ﴿ فلم توجد علامة المطلق فثبت ما قلناه ﴾

د موالكو او حنابله دليل: مالكيان او حنابله فرمائي چه په قرآن كريم كښې د مسح راس حكم دې ﴿ واسم الراس حقيقة في العضو كله ﴾ يعني راس نوم دې د پوره اندام، بله دا چه هغوى وائي چه په ﴿ وامسحوا برؤسكم ﴾ كښې باء د تبعيض دپاره نه ده بلكه زائده ده، ابن

القيم الحنبلي رحمه الله فرمائي چه د رسول الله ﷺ نه يو خل هم دا ثابت نه دى چه هغوى د بعضي سر په مسح باندې اكتفاء كړې وى، او داسې خو شوې ده چه صرف په ناصيه باندې مسح كولو سره ئې د باقى مسح تكميل په مسح على العمامة باندې فرمائيلې ده.

بحث ثاني تثليث مسح :

د جمهور علماء ائمه ثلاثه په نزد په مسح راس كښې توحيد دې، تثليث مستحب نه دې، د امام شافعي رحمه الله او عطاء رحمه الله په نزد تثليث مستحب دې، او ابن العربى د ابن سيرين مذهب دا نقل كړې دې چه د هغوى په نزد مسح د سر دوه كرته ده، يو خل فرض او يو خل سنت.

د شوافعو دلائل: د شوافعو استدلال د هغه رواياتو منجمله نه دې چه په هغې كښې راغې (توضاء ثلاثا ثلاثا) هغوى وائي چه د دې رواياتو نه په ظاهره معلوميږى چه ټول اعضاء په دې كښې داخل دى، بل د عثمان او على رضي الله عنهما بعض روايات كوم چه په ابوداؤد كښې وړاندې راروان دى په هغې كښې د تثليث مسح تصريح ده، بله دا چه هغوى قياس كوى راس لره په باقي اندامونو باندې،

د جمهورو دلائل: د جمهورو استدلال د روايت مفصله نه دې، جمهور وائي چه روايات مفصله قاضي دى په روايات مجمله باندې او د روايات مفصله صحيحه نه توحيد د مسح معلوميږى او په كومو رواياتو مفصلو كښې چه په مسح د سر كښې تثليث ذكر شوې دې هغه متكلم فيه او ضعيف دى، پس امام ابوداؤد رحمه الله وړاندې تلو سره فرمائي چه د عثمان رضي الله عنه احاديث صحيحه په دې خبره باندې دال دى چه مسح د سر صرف يو خل ده، معلومه شوه چه د عثمان رضي الله عنه په كومو دوه روايتونو كښې چه تثليث مسح ذكر شوې ده هغه ضعيف دى، ځكه چه په هغې كښې د يو په سند كښې عبدالرحمن بن وردان دې، او د دويم په سند كښې عامر بن شقيق دې وهما ضعيفان كما حققه شيخ شيخنا في البذل، علامه شوكاني رحمه الله فرمائي د انصاف خبره دا ده چه د تثليث مسح احاديث درجې د اعتبار ته نه دى رسيدلى، هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله هم د تثليث مسح په رواياتو باندې كلام كړې دې هغوى فرمائي (ولو صح فمحمول على الاستيعاب لانها مسحات مستقلات) يعني اول خو د تثليث روايات صحيح نه دى او كه صحيح اومنلې شي نو هغه موؤل دى، يعني هلته د تثليث نه مراد درې كرته مستقلا مسح كل نه دى بلكه مقصود استيعاب راس دې، په يو مشهور حديث كښې دا دى چه يو خل رسول الله ﷺ اودس اوفرمائيلو چه په هغې كښې يو خل مسح راس ذكر ده، د اودس پوره كولو نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل (من زاد على هذا فقد اساء وظلم) حافظ وائي چه دا روايت په توحيد مسح باندې قوى دليل دې، د احنافو د طرف نه دويم تاويل دا دې چه محمول دى په مسح بماء واحد باندې، او تثليث المسح بماء واحد يو روايت كښې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه هم منقول دى په خلاف د امام شافعي رحمه الله چه هغوى د تثليث مسح بثلاثة مياه قائل دى، بله دا چه د شوافعو مسح د سر قياس كول په باقي اندامونو باندې قياس كول دى مع الفارق، ځكه چه د مسح بناء په تخفيف باندې ده په خلاف د غسل، بيا ځنګه يو په بل باندې قياس كيدې شي.

بحث ثالث تجدید ماء :

د مسح راس دپاره نوې اوبه اخستل د احنافو په نزد سنت دی او د شوافعو او حنابله په نزد نوې اوبه اخستل واجب دی، په دې باندې به مونږ کلام وړاندې تلو سره د عبدالله بن زيد بن عاصم رضی الله عنه د روايت د لاندې کوو

بحث رابع کيفيت مسح :

د جمهورو علماء اربعه ؒ په نزد به مسح راس ابتداء د مقدم راس نه کيږي او وکيع بن الجراح رحمه الله فرمائی لکه چه په ترمذی کښې دی چه ددې ابتداء به د موخر راس نه کيږی، په دې باندې ابن عربی په شرح د ترمذی کښې فرمائی ﴿ لا نعلم احدا قال به غيره ﴾ چه د وکيع بن الجراح نه علاوه بل چا دا قول اختيار کړې وی زمونږ په علم کښې نشته، حضرت شيخ په حاشيه د کوکب کښې فرمائی چه د علامه عينی رحمه الله دا قول د حسن بن صالح [۱] نه هم منقول دې، او دريم قول هغه دې کوم چه د حسن بصری رحمه الله نه منقول دې، البداية من الهامة يعنی د مسح راس ابتداء به د وسط راس نه کيږی په داسې طريقه چه په وسط راس [۲] باندې لاس کيخودلو سره هغه د مقدم راس طرف ته راوړی او بيا دې واپس کولو سره د ښټ طرف ته بوځی. ددې مسئلې دلائل به د عبدالله بن زيد بن عاصم په حديث کښې راشي.

فائده : خان پوهه کړه چه صاحب منية او صاحب محيط د مسح راس يو خاص طريقه ليکلې ده هغه دا چه د مسح راس په وخت دې سباحتين او ابهامين د سر نه جدا کيخودلې شی چه په سباحتين سره د باطن اذنين او په ابهامين سره په ظاهر اذنين باندې مسح اوکړې شي. بله دا چه د مسح په ابتداء چه کله دواړه لاسونه د مخکښې حصې نه شاته حصې ته بوځی نو په دې وخت کښې دې کفين هم د سر نه جدا اوساتی، صرف د دواړه لاسونو دې درې ګوتې يو خائې کړی او په هغې سره دې د سر په پورته حصه باندې مسح اوکړې شی، او بيا چه کله د استيعاب راس په قصد سره دواړه لاسونه د شانه مخې ته راولی نو هغه وخت دې کفين په مسح کښې استعمال کړی، چه د سر د پورته حصې مسح په ګوتو سره او د جانبين مسح په کفين سره اوشی دا خاص ترکيب دې حضراتو په دې وجه بيان کړو چه کله دواړه لاسونه په سر باندې کيږدی او د وړاندې نه ئې روستو او د روستو نه وړاندې طرف ته راولی نو په دې کښې به د لاسونو د لوند والی دوباره استعمال اوشی ګويا د ماء مستعمل استعمال به لازم شی، خو محقق ابن الهمام رحمه الله د مسح ددې خاص شکل ترديد کړې دې چه ددې ثبوت په هيڅ روايت کښې نشته، بلا وجه تکلف دې، ځکه چه په لاسونو باندې چه کوم لوندوالی دې دهغې په تکرار استعمال کښې هيڅ قباحت نشته، اوبه تر هغه وخته پورې مستعمل کيږی نه ترڅو چه د اندام نه منفصل نه شی.

---

[۱] دوی ته حسن بن حی هم وائی دا نسبت الی الجد دې، اصل کښې دا نوم داسې دې حسن بن صالح بن صالح بن حی.

[۲] غالبا ددې ماخذ هغه روايت دې کوم چه وړاندې د ربيع بنت معوذ بن عفراء په حديث کښې راروان دې چه دهغې الفاظ داسې دی نمسح الراس کله من قرن الشعر کل ناحية لمنصب الشعر الحديث)

قوله :﴿ ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَهُ الْيُمْنى ﴾ په وظيفه رجلين كښې اختلاف دې. جمهور علماء كرام ائمه اربعه د غسل قائل دی، او بعض خلق د مسح رجلين قائل دی، ددې دپاره مصنف رحمه الله وراندې تلو سره مستقل ترجمه (باب غسل الرجل) قائم كړې دې، تفصيل به هلته راشي.

قوله :﴿ لاَ يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَه ﴾ يعنى كوم سړې چه په پورته ذكر كړې شوې طريقه باندې اودس كولو نه پس دوه ركعته داسې اوكړى چه په هغې كښې د خپل نفس سره خبرې نه كوى نو د هغه تير ټول ګناهونه به معاف شي.

په دې حديث كښې د وسوسو نفي ده، دلته يو اختلاف خو دا دې چه د كومو وسوسو نفي مراد ده د وساوس اختياريه يا كه د مطلق وساوس، ځكه چه وساوس په دوه قسمه باندې وى اختيارى او غير اختيارى اكثر شارحين چه په هغوى كښې امام نووى رحمه الله او قاضى عياض رحمه الله هم دى، فرمائى چه د وساوس اختياريه نفي مراد ده ځكه چه وساوس غير اختياريه كومو ته چه خطرات وئيلې شى هغه دې امت ته معاف دى (ان الله تجاوز عن امتى ما وسوست به صدروها مالم تعمل او تكلم به ﴾ بله دا چه د مطلق وسوسو راتلل د انسان په اختيار كښې نه دى، په دې باندې انسان قادر هم نه دې، ﴿ لا يكلف الله نفسا الا وسعها ﴾، دويم قول په دې كښې هغه دې كوم چه قاضى عياض رحمه الله د بعض علماء كرامو نه نقل كړې دې، هغه دا چه په دې حديث كښې د مطلق وساوس نفي مراد ده، پاتې شوه دا خبره چه دا څيز غير اختيارى دې، نو ددې جواب دا دې چه دا حديث د باب تكليف او وعيد نه نۀ دې باب وعد او ترتب ثواب مخصوص نه دې، يعنى هغه فضيلت كوم چه په حديث كښې مذكور دې، په دې دوه ركعتونو باندې به هغه وخت مرتب وى چه كله مطلقا وساوس رانشى، د خصوصى انعام او ثواب دپاره په دې قسم قيد لګولو كښې هيڅ اشكال نشته

(دلته دكومو خيالاتو نفي مراده؟)

او بل اختلاف دلته دا دې چه كوم خيالات مراد دى، صرف ما يتعلق بالدنيا كه مطلقا، په دې كښې قول راجح كوم چه امام نووى او قاضى عياض رحمه الله اختيار كړې دې دا دې چه مطلق وساوس مراد دى، كه هغه د دنيا د امورو سره متعلق وى يا د امور آخرت سره سوا د مانځه نه، او دويم قول دا دې چه ما يتعلق بامور الدنيا مراد دى، او هغه خيالات كوم چه د آخرت د امورو يا د څه دينى كار سره متعلق وى هغه په دې كښې داخل نه دى ځكه چه د حكيم ترمذى په يو روايت كښې د ﴿ بشئ من امور الدنيا ﴾ قيد راغلې دې بله دا چه د عمر رضي الله عنه نه روايت دې ﴿ انى لاجهز جيشى وانا فى الصلوة ﴾ چه عمر رضي الله عنه په مانځه كښې د مشغوليدو د تجهيز جيش كوم چه د امور دين نه دى دهغې به هغوى ته په مانځه كښې خيال راتلو.[1]

[1] خو د عمر رضي الله عنه ددې مقولې دويم مطلب بعض علماء كرامو دا اخستلې دې چه زه په تجهيز جيش كښې مصروف يم، خو د مانځه وخت چونكه نژدې وى په دې وجه خيال او ذهن په مانځه كښې وى، دا مطلب نه دې چه په مونځ كولو كښې ئې د تجهيز جيش خيال راځى.

[۱۰۷]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ وَرْدَانَ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنِي حُمْرَانُ، قَالَ: رَأَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ تَوَضَّأَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرِ الْمَضْمَضَةَ وَالِاسْتِنْشَاقَ، وَقَالَ فِيهِ: وَمَسَحَ رَأْسَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ هَكَذَا، وَقَالَ: مَنْ تَوَضَّأَ دُونَ هَذَا كَفَاهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَمْرَ الصَّلَاةِ.

ترجمه: حمران وائي چه ما عثمان بن عفان اوليدلو چه اودس ئې اوکړو، نو ذکر ئې کړو دهغې پشان، او ذکر ئې نه کړه مضمضه او استنشاق، او وئيلي دي په دغې کې: او مسح د سر ئې اوکړه درې خله، بيا ئې خپې وينځلې درې خلې، بيا ئې اووئيل: ما ليدلي دی رسول الله ﷺ چه اودس ئې اوکړو دارنګه، او وئې وئيله: چاچې اودس اوکړو کم د دينه نو د هغه لپاره بس دی، او ذکر ئې نه کړو مونځ.

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى الخ ﴾ دا د عثمان رضي الله عنه د پورته ذکر شوې حديث طريق ثاني ده، په اول سند کښې د حمران نه روايت کونکې عطاء وو، او په دې طريق کښې د هغوی نه روايت کونکې ابو سلمة بن عبدالرحمن دې ﴿ قوله فذكر نحوه ﴾ د ذكر ضمير ابو سلمه ته راجع دې، کوم چه د طريق ثاني راوی دې، او د نحوه ضمير د عطاء طرف ته راجع دې کوم چه په طريق اول کښې ذکر دې، د مصنف رحمه الله غرض ابوسلمة او عطاء د دواړو روايتونو په الفاظو کښې چه کوم کمې او زيادت دې هغه بيانول دی، پس په دې روايت کښې مضمضه او استنشاق مذکور نه دې، په اول روايت کښې مذکور وو، د ابوسلمه په روايت کښې ﴿ مسح ثلاثا ﴾ دې د عطاء په روايت کښې ﴿ مسح راسه ﴾ مطلقا دې دريم فرق دا دې چه د ابوسلمه په روايت کښې غسل رجلين مجملا ذکر کړې دې، او د عطاء په روايت کښې دواړه بيل بيل ذکر کړې شوې دی، او څلورم فرق دا دې چه د عطاء په روايت کښې په ځاني د ﴿ من توضاء دون هذا كفاه ﴾ دې او پنځم فرق دا دې چه په اول روايت کښې ﴿ لم صلى ركعتين الخ ﴾ مذکور وو په دې دويم روايت کښې دا نشته، دا هغه پنځه فرقونه دی کوم چه مصنف رحمه الله خپله ددې دوه روايتونو ترمينځه بيان فرمائيلي دی.

[۱۰۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ زِيَادٍ الْمُؤَذِّنُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ التَّيْمِيِّ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْوُضُوءِ، فَقَالَ: رَأَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ سُئِلَ عَنِ الْوُضُوءِ، "فَدَعَا بِمَاءٍ، فَأُتِيَ بِمِيضَأَةٍ فَأَصْغَى عَلَى يَدِهِ الْيُمْنَى، ثُمَّ أَدْخَلَهَا فِي الْمَاءِ، فَتَمَضْمَضَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا وَغَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرَى ثَلَاثًا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَأَخَذَ مَاءً فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ فَغَسَلَ بُطُونَهُمَا وَظُهُورَهُمَا مَرَّةً وَاحِدَةً ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: أَيْنَ السَّائِلُونَ عَنِ الْوُضُوءِ؟ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أَحَادِيثُ عُثْمَانَ رضي الله عنه الصِّحَاحُ كُلُّهَا تَدُلُّ عَلَى مَسْحِ الرَّأْسِ أَنَّهُ مَرَّةً فَإِنَّهُمْ ذَكَرُوا الْوُضُوءَ ثَلَاثًا وَقَالُوا فِيهَا: وَمَسَحَ رَأْسَهُ، وَلَمْ يَذْكُرُوا عَدَدًا كَمَا ذَكَرُوا فِي غَيْرِهِ.

ترجمه: د عثمان بن عبد الرحمن بن التيمي نه روايت دې هغه وائي، چه سوال اوکړی شو د

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۷۹۹) (حسن صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۸۲۰) (حسن صحيح)

ابن ابي مليكه نه د اودس په باره كښې، نو هغه اووئيل: ما ليدلي دی عثمان بن عفان چه سوال ترېنه شوی وو د اودس باره كښې، نو راويې غوښتلې اوبه، نو راوړی شوه ورته د اودس لوښی نو راكوږېې كړو په خپل ښي لاس كښې اوهغې سره ئې خپل لاس اووينځلو بيا ئې داخل كړو په اوبو كښې، نو مضمضه ئې اوكړه او پوزه ئې سونړ كړه درې ځله، او مخ ئې وينځلو درې ځله، بيا ئې ښي لاس وينځلو درې ځله، او وئې وينځلو ګس لاس خپل درې ځله، بيا ئې لاس داخل كړو نو اوبه ئې راواخستې نو مسح د سر او د غوږونو ئې اوكړه، نو وئې وينځل باطن او ظاهر د دواړو يو ځل، بيا ئې خپې وينځلې، بيا ئې اووئيل: چېرته دي تپوس كونكي د اودس؟ دارنګه ما ليدلي وو رسول الله ﷺ چه اودس ئې كولو. وئيلي دي ابوداود: د عثمان صحيح احاديث ټول دليل دی چه مسح د سر يو ځل ده، ځكه هغوی اودس درې ځل ذكر كړی دی، اومسح د سر ئې مطلق ذكر كړه او دهغې عدد ئې نه دی ذكر كړې ځنګه چه نورو خلقو ذكر كړی دی په نورو څيزونو كښې

تشريح: قوله: ﴿ فَأَتَى بِمِيضَأَةٍ الخ ﴾ دا د حديث عثمان رضي الله عنه دريم طريق دې، په دې كښې د عثمان رضي الله عنه شاګرد بدل شو په اول روايت كښې حمران وو، په دې كښې د هغوی په ځائې ابن ابی مليكة دې، چه د هغوی نو عبدالله بن عبيدالله بن أبي مليكة دې، دا نسبت الى الجد دې، ميضاة يعني هغه لوښې چه په هغې كښې د اودس په اندازه اوبه وی.

قوله: ﴿ فَأَصْغَاهَا عَلَى يَدِهِ الْيُمْنَى ﴾ يعني په ګس لاس باندې ئې دا لوښی ښكته كړو او په ښي لاس باندې ئې ترې اوبه واچولې، ددې مقتضی دا ده چه د ماء وضوء لوښې د متوضی ګس طرف كيدل پكار دی، ابن رسلان رحمه الله ليكي چه كه د اودس لوښې ورو كې وی كوم چه په لاس باندې ښكته كيدې شی نو لوښې دې په ګس طرف باندې كيخودلې شی چه په غسل يدين كښې ابتداء باليمين راشی او كه اوبه په لوښي څيز كښې وی كوم چه په لاس باندې نه شی ښكته كيدې نو بيا متوضی لره ښی طرف ته كيدل پكار دی چه ښی لاس لره اول په هغې كښې دننه وينځلو سره په ښی لاس سره په ګس لاس باندې اوبه واچولې شی. ﴿ فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ ﴾ په دې حديث كښې مسح اذنين ذكر شوې دې په اول حديث كښې نه وو ذكر شوې. غالبا هغه به د راوي اختصار وی، حديث خو دواړه د عثمان رضي الله عنه دی، خو ددې طرق مختلف دی، يو حديث په متعدد طرق سره په دې وجه هم ذكر كولې شی كه چرته په مضمون يا الفاظو كښې كه د راويانو اختلاف وی نو چه هغه مخامخ راشي

په مسح د غوږونو كښې مسائل اختلافيه

په مسح اذنين كښې څلور بحثونه اختلافی دی، اول وظيفه اذنين څه ده، مسح كه غسل، دويم دا چه واجب ده كه فرض، دريم دا چه د غوږونو د مسح دپاره تجديد د اوبو ضروری دی كه نه، څلورم مستقل اندام دی كه د سر جزء دی

بحث اول: د ائمه أربعه په نزد وظيفه اذنين مسح ده، او د داؤد ظاهری او امام زهری رحمه الله په نزد ددې وظيفه غسل دې، او د امام شعبي او امام حسن بن صالح رحمه الله په نزد ددې وظيفه مسح او غسل دواړه ده، ما اقبل من الاذنين يعني د غوږونو هغه حصه كومه چه د مخ طرف

نه ده (کوم ته چه باطن اذنين هم وائي) ددې غسل به په غسل د وجه سره وي، او د ما ادبر من الاذنين مسح به وي په مسح اذنين سره، او څلورم قول په دې کښې د اسحق بن راهويه دې هغوی فرمائی چه د اذنين حکم دې خو مسح، خو د ما اقبل من الاذنين مسح په غسل وجه سره او د ما ادبر من الاذنين مسح به په مسح راس سره وی

بحث ثانی : د جمهور علماء ائمه ثلاثه په نزد مسح اذنين سنت ده، او د امام احمد رحمه الله په نزد واجب ده

بحث ثالث : د امام شافعي ([1])، امام مالک او امام احمد رحمهم الله درې واړو په نزد د مسح اذنين دپاره تجديد ماء مسنون دې، او د احنافو په نزد مسنون دا ده چه مسح اذنين دې بماء الراس وی، پس حافظ ابن القيم رحمه الله فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د مسح اذنين دپاره تجديد ماء ثابت نه دې ([2])، هم دغه شان ددې باب آخری حديث الاذنان من الراس زمونږ دليل دې، او هغه حضرات ددې حديث جواب دا ورکوی چه ددې حديث مرفوع کيدل ثابت نه دی لکه چه ددې تفصيل به د هغه حديث د لاندې په آخر باب کښې راشی، او بعضو ددې جواب دا ورکړې دې چه د ﴿ الاذنان من الراس ﴾ مطلب دا دې چه ﴿ انهما ممسوحان مغسولان ﴾ يعنی د سر په شان غوږ هم په اعضاء ممسوحه کښې دې او دا مطلب نه دې چه دا د سر جزء دې لهذا د تجديد ماء ضرورت نشته، (قاله ابن عبدالبر في الکافي) او حديث د تکفير الوضوء هم د احنافو دليل دې، امام نسائی په دې باندې قائم کړې دې: باب مسح الأذنين مع الرأس وما يستدل به على انهما من الرأس.

سوال دا دې چه د احنافو په نزد تجديد د ماء مستحب هم دې که نه دې؟ په دې کښې زمونږ د فقهاء کرامو اختلاف دې، په مراقی الفلاح کښې خو ئې مستحب ليکلې دې ([3])او په فتح القدير کښې ئې ﴿ لا يستحب ﴾ ليکلې دې او هم دا د علامه شامی رحمه الله تحقيق هم دې او هم

---

[1] د امام شافعي رحمه الله دا مسلک په متن د ابو شجاع او دهغې په شرح او په انوار ساطعه صفحه ۱۰۵ کښې هم دغه شان ليکلې دې، او د امام مالک رحمه الله دا مسلک په انوار ساطعه صفحه ۱۸۰، په ارشاد السالک او کتاب الکافی صفحه ۱۴۱ د ابن عبدالبر رحمه الله کښې ليکلې دې او د امام احمد رحمه الله دا مذهب په الروض المربع او انوار ساطعه صفحه ۲۴۲ کښې ليکلې شوی دې

[2] خو د متن ابوشجاع په حاشيه کښې په حواله د حاکم يو حديث نقل کړې دې چه په هغې کښې تصريح ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسح اذنين دپاره نوې اوبه واخستلې، ونصه هکذا روي الحاکم من حديث عبدالله بن زيد في صفة وضوئه صلی الله علیه وسلم انه توضاء ومسح اذنيه بماء غير الماء الذي مسح به الراس قال الحافظ الذهبي صحيح)

[3]) خان پوهه کړه چه څنګه صاحب د مراقی الفلاح د مسح اذنين دپاره تجديد د اوبو لره مستحب ليکلې دې هم دغه شان صاحب د در مختار د کلام نه هم استحباب مفهوم کيږی خو علامه شامی رحمه الله په دې باندې تفصيلی بحث کړې دې خلاصه ددې خبره دا ده چه په متون احناف کښې مسح اذنين بماء الراس د سنت کيدو تصريح ده او هم دا هغوی د صاحب هدايه او صاحب البدائع نه هم نقل کړې ده او بيا وړاندې تلو سره ليکی چه کله دا ثابته شوه چه سنت عدم تجديد دې نو بيا تجديد ماء نه مستحب څنګه ونيلی کيدې شی. خلاف سنت کار مستحب څنګه کيدې شی زه وايم چه هم دا وجه ده چه زمونږ حضرت ګنګوهی رحمه الله دې نه صرف مباح ونيلې دی.

دا رائي د حضرت ګنګوهي رحمه الله ده، پس په کوکب کښې ددې په باره کښې ﴿ لا باس به ﴾ ليکلي شوي دي

بحث رابع : آيا غوږونه د سر په حکم کښې داخل دی؟

د ائمه ثلاثه په نزد ﴿ الاذنان من الراس ﴾ او د امام شافعي رحمه الله په نزد ﴿ عضوان مستقلان ﴾ او د داؤد ظاهري رحمه الله اود امام زهري رحمه الله په نزد ﴿ الاذنان من الوجه ﴾ يعنې اذنين د مخ جزء دي.
امام شافعي رحمه الله په دليل کښې دا فرمائي چه رسول الله ﷺ د اذنين دپاره نوي اوبه اخستلي دی، لهذا هغه مستقل اندام شو او حديث ﴿ الاذنان من الراس ﴾ مرفوعا ثابت نه دی. وائي چه دا موقوف دي، لکه چه ددې تفصيل به د باب په آخری حديث کښې راشي، او امام مالک او امام احمد فرمائي چه اګر که هغه د راس جزء دي، خو تجديد ماء د مسح اذنين دپاره په دې وجه دی چه د رسول الله ﷺ نه ثابت دی، او داؤد ظاهري او امام زهري رحمه الله په دليل کښې دا پيش کوی چه د رسول الله ﷺ نه په سجده کښې دا دعاء ثابت ده ﴿ سجد وجهي للذی خلقه وشق سمعه وبصره ﴾ په دې حديث کښې د سمع او د بصر اضافت د مخ طرف ته کړي شوي دي، لهذا سمع او بصر د مخ اجزاء شو (هكذا في المنهل)
قوله: ﴿ فَغَسَلَ بُطُونَهُمَا وَظُهُورَهُمَا مَرَّةً ﴾ دلته د غسل نه مراد مسح ده، ځکه چه دا جمله تفسير دي د ﴿ فمسح براسه واذنيه ﴾ او د غسل اطلاق په مسح باندې ثابت دي، لهذا داؤد ظاهري او امام زهري رحمه الله په دې لفظ سره په خپل مسلک باندې استدلال نه شي کولي، او دويمه وجه دا هم ده چه ددې دواړو په نزد غسل اذنين خو په مخ سره وی نه چه د مسح رأس په وخت، او دلته ذکر شروع دې د مسح راس.

تثليث مسح سره متعلق د امام ابوداؤد رحمه الله رائي :

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ أَحَادِيثُ عُثْمَانَ – رضی الله عنه – الصِّحَاحُ كُلُّهَا تَدُلُّ عَلَى مَسْحِ الرَّأْسِ أَنَّهُ مَرَّةً فَإِنَّهُمْ ذَكَرُوا الْوُضُوءَ ثَلَاثًا وَقَالُوا فِيهَا وَمَسَحَ رَأْسَهُ ﴾ چونکه په ماقبل کښې د حديث عثمان په يو طريق کښې ﴿ ومسح راسه ثلاثا ﴾ راغلي وو، دلته مصنف رحمه الله په هغې باندې تنبيه فرمائي هغه دا چه د عثمان رضی الله عنه نه چه څومره صحيح احاديث د اودس په باره کښې روايت کړي شوي دي، هغه ټول په دې خبره باندې دلالت کوی چه مسح د راس يو ځل ده لهذا د عثمان رضی الله عنه په کومو رواياتو کښې چه ددې خلاف وی هغه به غير صحيح وی.
قوله :﴿ فَإِنَّهُمْ ذَكَرُوا الْوُضُوءَ الخ ﴾ ددې ځاني نه مصنف رحمه الله خپله دعوی ثابتوی، د مصنف رحمه الله دعوی دا ده چه د عثمان رضی الله عنه ټول احاديث صحيحه په مسح باندې دال دی، اوس دلته سوال پيدا کيږی چه دا څنګه؟ حال دا چه د هغوی اکثر احاديث د سر د مسح په باره کښې مطلق دی، د مرة قيد پکښې نشته جواب، دا په دې وجه چه کله راوی د باقی اندامونو سره بالتفصيل ﴿ ثلاثا ثلاثا ﴾ وائي او چه کله هغه مسح راس ته راورسيږی نو صرف ﴿ مسح راسه ﴾ وائي پس که مسح راس هم درې کرته وی نو دلته به ئې هم ثلاثا ونيلي ﴿ السکوت في محل البيان يفيد الحصر ﴾ ددې نه معلومه شوه چه مسح راس يو ځل ده.

تنبيه: د عثمان رضي الله عنه يو تير شوي روايت او په يو راتلونکي روايت کښې ﴿ مسح راسه ثلاثا ﴾ تصريح ده، په دې بناء باندې بعض شراح حديث نه د مصنف رحمه الله په دعوې باندې قوي اشکال دي، بيا ددې اشکال هغوى خپله جواب ورکړې دې چه د مصنف رحمه الله مراد په ﴿ کلها ﴾ سره ﴿ اکثرها ﴾ دې وللاکثر حکم الکل... حافظ رحمه الله يو بل جواب دا ورکړې دې چه مراد د ټولو احاديثو نه ددې دوه طريق نه علاوه دي، دا دواړه طريق مستثنى دي، حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې ليکلي دي چه د مصنف رحمه الله په دعوى باندې دا اشکال به هغه وخت صحيح وو چه کله دا دواړه طريق صحيح وې حال دا چه داسې نه ده بلکه په هر طريق کښې يو راوى ضعيف موجود دې، په يو کښې عبدالرحمن بن وردان او په دويم کښې عامر بن شقيق، فلا اشکال غرض دا چه دا اشکال هغه وخت صحيح وو چه کله د مصنف رحمه الله دعوى عام وې د صحاح قيد پکښې نه وې يا دواړه روايتونه في نفسه صحيح وې

[۱۰۹]()[1] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللهِ يَعْنِي ابْنَ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، أَنَّ عُثْمَانَ، دَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ، فَأَفْرَغَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى، ثُمَّ غَسَلَهُمَا إِلَى الْكُوعَيْنِ، قَالَ: ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا، وَذَكَرَ الْوُضُوءَ ثَلَاثًا، قَالَ: وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ، وَقَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مِثْلَ مَا رَأَيْتُمُونِي تَوَضَّأْتُ. ثُمَّ سَاقَ نَحْوَ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ وَأَتَمَّ.

ترجمه: يقيناً عثمان اوبه راؤغوښتلې او اودس ئې اوکړو، نو راواړولې په ښي لاس باندې په ګس لاس، بيا ئې دواړه لاسونه اووينځل د مړوندونو پورې، بيا ئې مضمضه او استنشاق اوکړو درې ځله، او ذکر ئې کړو اودس درې ځله، هغه اووئيل مسح ئې اوکړه په خپل سر باندې، بيا ئې خپې وينځلې، او وئې وئيل ما ليدلى دى رسول الله ﷺ چه اودس ئې اوکړو په مثل دهغې چه تاسو زه وليدم او اودس مې اوکړو، بيا سوق ئې د حديث اوکړو پشان د حديث د زهري او دهغه حديث نه ئې مکمل بيان اوکړو

[۱۱۰]()[2] حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ عَامِرِ بْنِ شَقِيقِ بْنِ جَمْرَةَ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ، "غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَمَسَحَ رَأْسَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ هَذَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، قَالَ: تَوَضَّأَ ثَلَاثًا فَقَطْ.

ترجمه: شقيق بن سلمة وائي چه ما عثمان بن عفان اوليدلو چه وئې وينځلې خپلې څنګلې درې ځله، او مسح د سر ئې اوکړه درې ځله، بيا ئې اووئيله ما ليدلې وو رسول الله ﷺ چه کړې دی دا. وائي ابوداود روايت کړى دى وکيع د اسرائيل نه، هغه وئيلى دى: په هغې کښې صرف توضا ثلاثا دي

تشريح: قوله: ﴿ وَمَسَحَ رَأْسَهُ ثَلَاثًا ﴾ په دې باندې کلام اوس تير شوي دې، ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ وَكِيعٌ عَنْ إِسْرَائِيلَ قَالَ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا فَقَطْ ﴾ د مصنف رحمه الله غرض ددې لفظ مذکور يعنى ﴿ وَمَسَحَ

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۸۴۷) (حسن صحيح)
[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۸۱۰) (منكر)

رأسه ثلاثا ﴾ تضعيف دې، او هغه داسې لفظ مذکور لره د اسرائيل نه نقل کونکې په دې سند کښې يحيى بن ادم دې، مصنف رحمه الله فرمائی چه دا حديث وکيع د اسرائيل نه د يحيى بن ادم خلاف نقل کړو، د وکيع په روايت کښې لفظ مذکور نشته بلکه هغه روايت مجمل دې، په دې کښې صرف ﴿ توضاء ثلاثا ﴾ دې او د وکيع روايت د يحيى د روايت نه راجح دې ځکه چه وکيع د يحيى نه اقوى دې، او دويم په دې وجه هم چه د يحيى روايت د عثمان رضي الله عنه د احاديث صحيحه خلاف دې، لکه چه مصنف رحمه الله مخکښې دا خبره بيان کړې ده، زمونږ ددې تشريح نه دا هم معلومه شوه چه دا لفظ په متن کښې قط په سکون د طاء سره دې په معنى د فقط، او په تشديد د طاء سره نه دې، لکه څنګه چه په کتاب کښې ليکلې شوې دې دا د کاتب غلطي ده.

[۱۱]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ، قَالَ: أَتَانَا عَلِيٌّ رضي الله عنه وَقَدْ صَلَّى، فَدَعَا بِطَهُورٍ، فَقُلْنَا: مَا يَصْنَعُ بِالطَّهُورِ، وَقَدْ صَلَّى؟ مَا يُرِيدُ إِلَّا لِيُعَلِّمَنَا، فَأُتِيَ بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ وَطَسْتٍ فَأَفْرَغَ مِنَ الْإِنَاءِ عَلَى يَمِينِهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا، فَمَضْمَضَ وَنَثَرَ مِنَ الْكَفِّ الَّذِي يَأْخُذُ فِيهِ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا وَغَسَلَ يَدَهُ الشِّمَالَ ثَلَاثًا، ثُمَّ جَعَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا وَرِجْلَهُ الشِّمَالَ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَعْلَمَ وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ هَذَا".

ترجمه: عبد خير وائي چه علي رضي الله عنه مونږ ته راغي او مونځ ئې کړې وو، نو د اودس لوښې ئې راوغوښتلو، نو مونږ اووئيل چه په لوښې څه کوي او هغه خو مونځ کړې دی، کيدې شي د هغه اراده نه وه مګر دا چه تعليم راکړي مونږ ته، نو راوړې شو ورته يو لوښې چه اوبه پکښې وې، او د زيرو يو لوښې، نو اوبه ئې راواړولې د لوښې نه په ښي لاس، نو لاسونه ئې درې ځل وينځل، بيا ئې مضمضه اوکړه او استنثار ئې اوکړو درې ځله، نو مضمضه ئې اوکړه د هغه ورغوي نه چه اوبه ئې اخستې په هغې کښې، بيا ئې مخ وينځلو درې ځله، بيا ئې وينځلو خپل ښي لاس درې ځل، او چپ لاس ئې درې ځل وينځلو، بيا ئې لاس ځکته کړو په لوښې کښې نو مسح ئې اوکړه د سر يو ځل، بيا ئې ښي خپه وينځله درې ځله او چپه خپه درې ځله، بيا ئې اووئيل: د چا چه خوښه وي چه زده کړي اودس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نو هغه دا دې

مسانيد علي رضي الله عنه:

قوله :﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ ﴾ اوسه پورې د عثمان رضي الله عنه روايات بيانيدل، اوس ددې ځائې نه د سيدنا علي رضي الله عنه د رواياتو سلسله شروع کيږي، مصنف رحمه الله د حديث عثمان په شان حديث علي هم په ډيرو طرقو سره ذکر کړي دي، دا مونږ هم په شروع کښې وئيلي دی چه په دې باب کښې مصنف رحمه الله د نهو صحابه کرامو د رواياتو تخريج کړې دې، او هغه دا دی، سيدنا عثمان، سيدنا علي، عبد الله بن زيد بن عاصم، مقدام بن معديکرب، معاويه بن ابی

(): سنن النسائي/الطهارة ۷۴ (۹۱)، ۷۵ (۹۲)، ۷۶ (۹۳)، ۷۷ (۹۴)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ۳۷ (۴۸)، مسند احمد (۱/۱۲۲)، سنن الدارمي/الطهارة ۳۱ (۷۲۸) (صحيح)

سفيان، ربيع بنت معوذ بن عفراء، جد طلحه، عبدالله بن عباس، ابوامامه رضي الله عنهم، چونکه د اودس اکثر مسائل سره د اختلافاتو او دلائلو ټول تير شو، په دې وجه اوس وړاندې د مصنف رحمه الله طرز عمل دا دې چه د کومو صحابه کرامو روايات اخستل دي په هغوى کښې ئې هر يو پوره ذکر نه کړو بلکه په کوم کښې چه کومه نوې خبره راغلې خاص طور سره ئې هم هغه واخستله، لهذا اوس به موږ هم په راتلونکو رواياتو کښې چه کوم خبره قابل کلام وي هم هغه به اخلو

قوله :((عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ)) دا په مخضرمينو کښې دې چا چه د جاهليت اود اسلام دواړو زمانه موندلې ده، خو اسلام ئې د رسول الله ﷺ د وفات نه پس قبول کړې دې، هم داسې انسان ته مخضرم وائي، د علي رضي الله عنه په شاګردانو کښې دې، دوى کافي عمر موندلې دې، په بذل کښې ليکلې شوې دي چه يو سړي د هغوى نه تپوس اوکړو چه ((کم اتى عليک؟)) ستاسو څو کاله عمر دې؟ نو هغوى اوفرمائيل ((عشرون ومائة سنة)) يعنې شپږ شلې کاله، امام ترمذي رحمه الله د علي رضي الله عنه حديث د عبد خير او ابوحيه دواړو طريقو سره ذکر کړې دې، او امام ابوداؤد رحمه الله دا حديث د عبد خير، ابوحيه، زر بن حبيش، عبدالرحمن بن ابى ليلى او ابن عباس رضي الله عنهما په پنځو طرقو سره ذکر کړې دې

قوله :((وَقَدْ صَلَّى)) دا مونځ د سحر مونځ وو لکه چه په وړاندې روايت کښې راځي، دا واقعه د مقام رحبه ده، کومه چه په کوفه کښې د يوې محلې نوم دې، د سيدنا علي رضي الله عنه دارالخلافه کوفه وه، د هم هغه ځائې دا واقعه ده.

په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې د تعليم وضوء اهتمام :

د روايت مفهوم دا دې چه عبد خير رحمه الله فرمائي چه يو ځل سيدنا علي رضي الله عنه د سحر د مانځه نه چه فارغ شو نو موږ ته يعنې زموږ محلې ته ئې تشريف راوړلو او په موږ باندې ئې د اودس دپاره اوبه راوغوښتلې، موږ په زړه کښې سوچ اوکړو چه دوى به اوبو څه کوى مونځ خو ئې ادا کړې دې، ((مَا يُرِيدُ إِلاَّ أَنْ يُعَلِّمَنَا)) يعنې معلوميږي چه مقصود اودس کول نه دې بلکه د اودس د طريقې تعليم کول دي، پس په يو لوښي کښې د اودس اوبه راوړلې شوې، او دهغې نه علاوه د اودس د غساله دپاره يو طشت راوړلې شو، بيا وړاندې د علي رضي الله عنه د اودس کولو تفصيل ذکر شوې دې

د دې نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په ژوند کښې د اودس د تعليم او خلقو ته د طريقې د ښودلو يو خاص اهتمام وو، موږ خلق دا معمولي خيز ګنړو، زموږ د ډيرو طالبانو حال دا دې چه هغوى د فقهې غټ کتابونه تر دې چه مشکوة او دوره حديث هم څه اولولې دهغې باوجود هغوى ته د اودس صحيح او مسنون طريقه نه ورځي، طالبانو لره د خپلو استاذانو نه د اودس طريقه زده کول پکار دي، ابوداؤد باب غسل الجنابة کښې به يو روايت راشي چه په هغې کښې دا دي چه د ابن عباس رضي الله عنهما عادت شريفه دا وو چه کله به ئې غسل جنابت کولو نو غسل يدين به ئې اووۀ کرته کولو، د هغوى شاګرد شعبه بن دينار فرمائي چه يو ځل هغوى لاسونه وينځل زه هم ورته مخامخ ناست اوم د وينځلو تعداد ترې

نه هیر شو، ما نه ئې تپوس اوکړو چه ما څو کرته لاسونه وینځل، ما اووئیل ﴿ لا ادری ﴾ هغوی اوفرمائیل ﴿ لا ام لک وما منعک ان تدری ﴾ یعنی هلاک شې ولې درته نه ده معلومه، د ابن عباس رضی الله عنهما مقصد دا وو چه شاګرد کوم چه د خپل استاذ په خدمت کښې اوسیږی هغه هم ددې دپاره چه د هغوی نه د مسائلو خبرې زده کړی، دین حاصل کړی، صرف خدمت خو مقصود نه دې، دې وخت کښې زه هم دا وایم چه کښرانو لره د مشرانو نه، شاګردانو لره د استاذانو نه دا ټول څیزونه زده کول پکار دی، هر کار په زده کولو سره راځی.

قوله: ﴿ فَمَضْمَضَ وَنَثَرَ مِنَ الْكَفِّ الَّذِي يَأْخُذُ فِيهِ ﴾ ددې روایت نه معلومیږی چه مضمضه او استنثار ئې په یو لاس باندې اوکړل، حال دا چه مضمضه په ښی لاس سره او استنشاق په ګس لاس سره وی، جواب دا دې چه دلته د ﴿ نثر ﴾ نه مراد استنشاق دې، ددې دوه قرینې دی، یو دا چه د مضمضمه نه پس استنشاق وی نه استنثار، دویمه قرینه دا ده چه دلته ﴿ من الكف ﴾ دې اود کف نه استنشاق کیږی نه استنثار، استنثار په اطراف اصابع سره کیږی، بله دا چه مخکښې تیرشو چه د ابن قتیبه وغیره په نزد استنثار د استنشاق په معنی کښې دې.

[۳]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَلْقَمَةَ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ، قَالَ: صَلَّى عَلِيٌّ رضی الله عنه الْغَدَاةَ ثُمَّ دَخَلَ الرَّحْبَةَ فَدَعَا بِمَاءٍ فَأَتَاهُ الْغُلَامُ بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ وَطَسْتٍ، قَالَ: فَأَخَذَ الْإِنَاءَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى فَأَفْرَغَ عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى وَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى فِي الْإِنَاءِ فَمَضْمَضَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا، ثُمَّ سَاقَ قَرِيبًا مِنْ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ، قَالَ: ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ مُقَدَّمَهُ وَمُؤَخَّرَهُ مَرَّةً، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ نَحْوَهُ.

ترجمه: د عبد خیر نه روایت دې هغه وائی: چه مونځ اوکړو علي رضی الله عنه د سحر، بیا داخل شو رحبې ته نو راوې غوښتلې اوبه نو غلام ورته راوړو یو لوښې چه اوبه پکښې وې او یو لوښې د زیرو، هغه وائی: نو راواخستې اوبه په خپل ښي لاس نو راتوی کړې په خپل چپ لاس، او دواړه ورغوې ئې اووینځل درې ځل، بیا ئې ښې لاس داخل کړو په لوښې کښې نو مضمضه ئې اوکړه درې ځله او استنشاق ئې اوکړو درې ځله، بیا ئې سوق د حدیث اوکړو نزدې حدیث د ابوعوانه ته، هغه وائی: بیا ئې مسح اوکړه مخکښې او وروسته حصه د سر یو ځل، بیا ئې سوق د حدیث اوکړو پشان د هغې.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ قوله ثُمَّ سَاقَ قَرِيبًا مِنْ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ ﴾ د ساق ضمیر د زائده طرف ته راجع دې په اصل کښې ددې حدیث بنیاد په خالد بن علقمه باندې دې، بیا د علقمه متعدد شاګردان دی، اول ابوعوانة راغلې وو، او دلته د هغوی شاګرد زائده دې مصنف رحمه الله فرمائی زائده راوی حدیث داسې بیان کړو چه څنګه ابوعوانة کړې وو.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰۳) (صحیح)

[۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ مَالِكَ بْنَ عُرْفُطَةَ، سَمِعْتُ عَبْدَ خَيْرٍ، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا رضي الله عنه أُتِيَ بِكُرْسِيٍّ فَقَعَدَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أُتِيَ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ مَعَ الِاسْتِنْشَاقِ بِمَاءٍ وَاحِدٍ، وَذَكَرَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: عبد خير وائي چه ما اوليدلو علي رضي الله عنه، چه راوړې شوه هغه ته يوه کرسي نو کيناستلو په هغې. بيا راوړې شوه ورته يوه کوزه د اوبو نو لاسونه ئي درې ځل اووينځل، بيا ئي مضمضه اوکړه سره د استنشاق نه په يوځل اوبو. او ذکر ئي کړو حديث

سند حديث کښې وهم د شعبه

قوله : (حَدَّثَنِي شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ مَالِكَ بْنَ عُرْفُطَةَ) شعبه د خالد دريم شاګرد دې، خو د هغوی نه غلطي دا اوشو [۲] چه هغوی د خپل استاذ د نوم خالد بن علقمه په ځائې مالک بن عرفطه بيان کړې دې، د شعبه دا روايت په نسائی کښې هم دغه شان دې، امام نسائی رحمه الله د خپل عادت مستمره مطابق فرمائی (قال ابو عبدالرحمن هذا خطاء والصواب خالد بن علقمة)، او امام ترمذی رحمه الله هم په جامع ترمذی کښې په دې باندې تنبيه فرمائيلې ده او هغوی هم ليکلي دی چه ابوعوانة کوم چه د خالد بل شاګرد دې، د هغوی نه دا لفظ په دواړو طريقو سره روايت دې (عن خالد عن علقمة) هم او (عن مالک بن عرفطة) هم، حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ليکلي دی چه ابوعوانة به په شروع کښې د خپل استاذ نوم صحيح ذکر کړې وو، يعنی خالد بن علقمة، بيا چه کله هغوی ته چا داسې اووئيل چه شعبه خو په ځائې د مالک بن عرفطه وائي نو هغوی د شعبه په اتباع کښې مالک بن عرفطه وئيل شروع کړل، او دا ئي اووئيل (شعبة اعلم منی). د ابوداؤد په دې روايت کښې ابوعوانة د خپل استاذ نوم صحيح ذکر کړو، چه د هغې نه معلوميږي چه هغوی د خپلې رجوع نه رجوع اوکړه [۳].

قوله : (قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا – رضی الله عنه – أُتِيَ بِكُرْسِيٍّ فَقَعَدَ عَلَيْهِ) د دې حديث نه معلومه شوه چه د کرسئ رواج د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمانې نه وو، بلکه د مسلم شريف په روايت کښې کوم چه په کتاب الجمعه کښې دې په دې کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په کرسئ باندې د کيناستلو تصريح ده (فاتی بکرسی، حسبت قوائمه حديدا، فقعد عليه رسول الله صلی الله عليه وسلم) يعنی د رسول الله صلی الله عليه وسلم دپاره يو کرسئ راوړلې شوه پس رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغې کيناستلو، راوی وائی

---

[۱]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰۳) (صحيح)

[۲]) دلته شيخ احمد محمد شاکر په حاشيه د ترمذی کښې يو قوی اشکال کړې دې هغه دا چه دا څنګه کيدې شی چه يو انسان ته دې د خپل استاذ نوم هم صحيح ياد نه وی دا خو سخت قسم غفلت دې، کوم چه د شعبه په شان راوی حديث او امام حديث نه مستبعد دې لهذا کيدې شی چه دا مالک بن عرفطه بل څوک راوی وی د چا نه چه شعبه روايت کوی، احقر وائی چه د هغوی دا اشکال خو په خپل ځائې صحيح دې خو تول محدثين په وهم د شعبه باندې متفق دی، بله دا چه د مالک بن عرفطه په نوم يو راوی هم په کتب د اسماء الرجال کښې نه ملاويږی والله اعلم بالصواب)

[۳]) قال الحافظ في التقريب في ترجمة خالد بن علقمة وكان شعبة يهم في اسمه واسم ابيه فيقول مالك بن عرفطة ورجع ابوعوانة اليه لم رجع عنه اهـ)

زه ګمان کوم چه دهغې ښې د اوسپنې وي، او په هغې باندې هم تفريع کيدلې شي چه: کرسئ استعمال د زهد خلاف نه دي، او بيا د کرسئ ثبوت خپله په قرآن کريم کښې هم دي ﴿وسع كرسيه السموات والارض﴾ (الاية)

قوله: ﴿ثُمَّ تَمَضْمَضَ مَعَ الاِسْتِنْشَاقِ بِمَاءٍ وَاحِدٍ﴾ په دې روايت کښې د مضمضه او استنشاق ترمينځه وصل فهم کيږي، د شوافعو په نزد خو هم دا اولى ده، د احنافو د طرف نه ددې جواب دا دې چه دا د علي ﷺ هم هغه حديث دې کوم چه د پورته نه راروان دې، په اول طرق کښې په يو طريق کښې هم داسې نه دي راغلي، صرف د شعبه په طريق کښې داسې دي، او اوس معلومه شوه چه د شعبه نه دلته يوه بله خطاء هم شوې ده، پس ددې ثبوت هم دغه شان دې، اکثر راويانو چه څنګه نقل کړې دې هغې له به په دې باندې ترجيح وي، لهذا دا لفظ شاذ او مرجوع شو، او که صحيح اومنلې شي نو په بيان جواز باندې محمول کيدې شي.

[۱۳۰]( ) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا رَبِيعَةُ الْكِنَانِيُّ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلِيًّا ﷺ وَسُئِلَ عَنْ وُضُوءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، وَقَالَ: وَمَسَحَ عَلَى رَأْسِهِ حَتَّى لَمَّا يَقْطُرْ وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا كَانَ وُضُوءُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: زر حبيش د علي ﷺ نه اوريدلي دي، چله کله پوښتنه ترينه اوشوه د اودس د رسول الله ﷺ، نو ذکريې کړو حديث، وئې وئيل او مسح ئې اوکړه په خپل سر چه لا اوبه ترينه اونه بهيدې، او وئې وينځلې دواړه ښپې درې خله، بيا ئې اووئيل دارنګه وو اودس د رسول الله ﷺ.

د لفظ حديث "حتى لما يقطر" تشريح

﴿حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قوله وَمَسَحَ عَلَى رَأْسِهِ حَتَّى لَمَّا يَقْطُرْ﴾ يعني رسول الله ﷺ په د خپل سر مسح (بار بار) کوله تر دې چه (نزدې وه چه اوبه اوسسيږي) خو او نه سسيدې، ددې عبارت چه موثر کومه ترجمه اوکړه اول خو په دې وجه چه حتى د غايت دپاره راځي او غايت هلته ذکر کولې شي چرته چه امتداد وي، دويم په دې وجه چه د ﴿لما﴾ استعمال د داسې څيز په نفى کښې کولې شي کوم چه متوقع الحصول وي، دا مطلب خو هغه دې کوم چه د ظاهر الفاظو مطابق او متبادر الى الذهن دې

خو چونکه د احاديث صحيحه نه توحيد مسح ثابتيږي نه تثليث، په دې وجه ددې عبارت تاويل به کولې شي چه ﴿حتى﴾ په معنى د ﴿فاء﴾ او ﴿لما﴾ په معنى د ﴿لم﴾ دې اى مسح راسه فلم يقطر او نفى د تقاطر به په دې باندې دال وى چه مسح ئې په خفيف طريقې سره اوکړه، ځکه چه د اوبو هيڅ قطره نه ده سسيدلې، او که مسح د مبالغې او د تکرار سره اوکړې شي، خصوصا مياه جديدة چه دهغې شوافع قائل دى نو په دې صورت کښې د تقاطر قوى امکان دې ﴿افاده استاذنا مولانا محمد اسعد الله﴾

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۹٤) (صحيح)

[۱۱۵]() حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الطُّوسِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا فِطْرٌ، عَنْ أَبِي فَرْوَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَاحِدَةً، ثُمَّ قَالَ: "هَكَذَا تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: عبد الرحمن بن ابي ليلى وائي چه ما علي رضي الله عنه اوليدلو چه اودس ئې اوكړو نو وئې وينځلو مخ خپل درې ځله. او وئې وينځل دواړه څنګلې درې ځله. او مسح د سر ئې اوكړه يو ځل، بيا ئې اوونيل دارنګه اودس كړې وو رسول الله صلى الله عليه وسلم

[۱۱۶]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو تَوْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ. ح وحَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي حَيَّةَ، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَوَضَّأَ، فَذَكَرَ وُضُوءَهُ كُلَّهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، قَالَ: ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّمَا أَحْبَبْتُ أَنْ أُرِيَكُمْ طُهُورَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: ابو حية وائي چه ما ليدلي دي علي رضي الله عنه چه اودس ئې اوكړو نو د هغه ټول او س ئې ذكركړو درې درې ځله، هغه اوونيل بيائې مسح دسر اوكړه، بيا ئې خپې اووينځلې تر ګيټو پورې، بيا ئې اوونيل بيشكه ما خوښوله دا چه وښايم تاسو ته اودس د رسول الله صلى الله عليه وسلم

[۱۱۷]() حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ طَلْحَةَ بْنِ يَزِيدَ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ الْخَوْلَانِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: دَخَلَ عَلَيَّ عَلِيٌّ يَعْنِي ابْنَ أَبِي طَالِبٍ وَقَدْ أَهْرَاقَ الْمَاءَ، فَدَعَا بِوَضُوءٍ فَأَتَيْنَاهُ بِتَوْرٍ فِيهِ مَاءٌ حَتَّى وَضَعْنَاهُ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَقَالَ: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، أَلَا أُرِيكَ كَيْفَ كَانَ يَتَوَضَّأُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: "فَأَصْغَى الْإِنَاءَ عَلَى يَدِهِ فَغَسَلَهَا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى فَأَفْرَغَ بِهَا عَلَى الْأُخْرَى، ثُمَّ غَسَلَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَيْهِ فِي الْإِنَاءِ جَمِيعًا فَأَخَذَ بِهِمَا حَفْنَةً مِنْ مَاءٍ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ أَلْقَمَ إِبْهَامَيْهِ مَا أَقْبَلَ مِنْ أُذُنَيْهِ، ثُمَّ الثَّانِيَةَ ثُمَّ الثَّالِثَةَ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ أَخَذَ بِكَفِّهِ الْيُمْنَى قَبْضَةً مِنْ مَاءٍ فَصَبَّهَا عَلَى نَاصِيَتِهِ فَتَرَكَهَا تَسْتَنُّ عَلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ وَظُهُورَ أُذُنَيْهِ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَيْهِ جَمِيعًا فَأَخَذَ حَفْنَةً مِنْ مَاءٍ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى رِجْلِهِ وَفِيهَا النَّعْلُ فَفَتَلَهَا بِهَا، ثُمَّ الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، قَالَ: قُلْتُ: وَفِي النَّعْلَيْنِ؟ قَالَ: وَفِي النَّعْلَيْنِ، قَالَ: قُلْتُ: وَفِي النَّعْلَيْنِ؟ قَالَ: وَفِي النَّعْلَيْنِ، قَالَ: قُلْتُ: وَفِي النَّعْلَيْنِ؟ قَالَ: وَفِي النَّعْلَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ شَيْبَةَ، يُشْبِهُ حَدِيثَ عَلِيٍّ لِأَنَّهُ قَالَ فِيهِ حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ جُرَيْجٍ: وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً، وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ فِيهِ: عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ ثَلَاثًا.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي هغه وائي چه علي رضي الله عنه ماته راغې، يعني ابن ابي طالب، او هغه اودس مات كړې وو، نو راوبې غوښتلې اوبه د اودس، نو راوړو ورته مونږ يو لوښى چه اوبه پكښې وې، مونږ د هغه په مخكښې كيخودلو. نو وئې وئيل اې ابن عباس! ايا زه تاته اونه ښايم چه څنګه اودس كولو رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ ما ورته اووئيل ولې نه،

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۲۲) (صحيح)

(): سنن الترمذي/الطهارة ۳۷ (۴۸)، سنن النسائي/الطهارة ۷۹ (۹۶)، ۹۳ (۱۱۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۲۰، ۱۲۵، ۱۲۷، ۱۴۲، ۱۴۸) (صحيح)

(): تفرد به أبو داود، تحفة الأشراف (۱۰۱۹۸)، وحديث ابن جريج عن شيبة أخرجه: سنن النسائي/الطهارة ۷۸ (۹۵)، تحفة الأشراف (۱۰۰۷۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۸۲) (ضعيف)

هغه وائي: لوښي ئې راکوړ کړو په خپل لاس نو هغه ئې اووینځلو، بیا ئې ننویستلو ښې لاس خپل (په لوښی کښې) نو وائې رولې په هغې په بل لاس، بیا ئې ورغوي وینځل، بیا ئې مضمضه اوکړه او استنثار ئې اوکړو، بیا ئې داخل کړل دواړه لاسونه په لوښي کښې، راوايې خستلې په دواړو یوه لپه د اوبو نو مخ ته ئې واچولې، بیا ئې ننویستلې غټې ګوتې مخامخ د دواړو غوږونو ته، بیا دویم ځل بیا دریم ځل په شان د هغې، بیا ئې راواخستې په خپل ښي ورغوي کښې یو موټی اوبه نو واړولې په تندي نو پرې ئې خودلې چه روانې وي د هغه په مخ، بیا ئې دواړه لاسونه وینځل ترڅنګلو پورې درې درې ځله، بیا ئې مسح اوکړه د سر او د ظاهر د غوږونو، بیا ئې دواړه لاسونه دننه کړل نو راوایې خستې یو چونګ اوبه نو وائې چولې په خپه باندې، او په هغې کښې پیزار وو نو دا خپه ئې تاو راتاو کړه په دې اوبو، بیا بله دهغې پشان، هغه وائی: چه ما اووئیله: په پیزار کښې؟ هغه اووئیل: په پیزار کښې. هغه وائی: چه ما اووئیله: په پیزار کښې؟ هغه اووئیل: په پیزار کښې. هغه وائی: چه ما اووئیل: په پیزار کښې؟ هغه اووئیل: په پیزار کښې وئیلی دي ابوداود: حدیث د ابن جریج د شیبه نه مشابه دی حدیث د علي سره، ځکه چه په هغې کښې حجاج بن محمد بن جریج وئیلی دی: مسح ئې اوکړه په سر باندې یو ځل، او وئیلی دي ابن وهب په هغې کښې د ابن جریج نه، او مسح ئې اوکړه په سر خپل باندې درې ځله

مضمون حدیث او په هغې کښې بعض اشکال او جواب:

﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ الخ قوله وَقَدْ أَهْرَاقَ الْمَاءَ ﴾ یعنی ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه یو ځل علی رضي الله عنه ماته تشریف راوړلو او هم په دې وخت کښې د متیازو نه فارغ شوې وو، او د راتلو نه پس ئې اوبه طلب کړې، پس مونږ په یو لوښی کښې هغوی ته اوبه راوړې، سیدنا علی رضي الله عنه سیدنا ابن عباس رضي الله عنه ته اوفرمائیل چه زه تاته د رسول الله ﷺ د اودس په شان اودس اونکړم، هغوی عرض اوکړو ضرور.

دلته دوه اشکالات دی، یو خو دا چه په دې حدیث کښې په متیازو د اوبو اطلاق کړې شوې دې، حال دا چه د طبرانی په یو روایت کښې دی، ﴿ لا يقول احدكم اهرقت الماء ولكن يقول ابول ﴾ یعنی یو سړې دې د متیازو دپاره ﴿ اهرقت الماء ﴾ لفظ نه استعمالوی بلکه صفا دې وائی ﴿ ابول ﴾ ددې اشکال جواب دا دې چه حدیث الباب صحیح دې او د طبرانی پورته ذکر شوې حدیث ضعیف دې، بلکه شارحینو خو دا لیکلي دی چه دا کنایه ده د بول نه، پس ددې نه دا خبره معلومه شوه چه متیازو وغیره لره په طریقه د کنایه ذکر کول اولی دی، ﴿ قلت وهذا كما يقال ما خرج من السبيلين ﴾.

دویم اشکال دلته دا دی چه د علی رضي الله عنه ابن عباس رضي الله عنه ته دا فرمائیل چه آیا زه تاته د رسول الله ﷺ د اودس په شان اودس او نه ښائم، او بیا د ابن عباس رضي الله عنه دا فرمائیل چه او ضرور اوښایئ، آیا ابن عباس رضي الله عنه به براه راست رسول الله ﷺ په اودس کولو باندې نه وی لیدلې، ښکاره ده چه ډیر کرته به ئې لیدلې وی، او صرف اودس څه چه هغوی یو ځل توله شپه د رسول الله ﷺ سره تیره کړې ده او د هغوی د عبادت معمولات ئې توله شپه اوکتل،

جواب دا دي چه د علی ﷺ مراد دا وو چه زه تاته د رسول الله ﷺ اودس په داسې طريقه او نه ښائم چه په نوې طريقه وی او تا به چرته نه وی ليدلې، په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه بالکل! اوښايئ، پس وراندې چه علی ﷺ د اودس کومه طريقه بيان کړه هغه ډيره نااشنا وه، په هغې کښې ډيرې خبرې د مشهورو رواياتو خلاف دی.

قوله: ﴿ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى وَجْهِهِ ﴾ يعنې سيدنا علی ﷺ په دواړو لاسونو کښې اوبه واخستلې او مخ باندې ئې راګزار کړې، چه هغې ته لپه راګزارل وائی، په دې کښې د اشکال خبره دا ده چه په اودس کښې مخ ته په زور سره اوبه راويشتل څه ته چه لطم وائی د ادب خلاف دی لکه چه فقهاء کرامو ليکلې دی، پس ددې جواب څه دې؟ او حد خو دا دې چه د ابن حبان په شان محدث په دې حديث باندې هم ددې لفظ د وجې نه ترجمه قايم کړې ده ﴿ باب استحباب صک الوجه بالماء ﴾ اوس مونږ بيان کړه چه په دې حديث کښې به ډير څيزونه داسې راځی چه هغه نوې دی دا هم دهغې نه ده، اوس ددې دوه جوابونه کيدې شی يا خو دې دا اووئيلې شی چه ضرب الماء کناية ده د صب الماء نه. او د ضرب متبادر معنی مراد نه ده، يا دې داسې اووئيلې شی چه دا لفظ شاذ دې، د معروف او مشهور رواياتو خلاف دې لهذا قابل عمل نه دې يا بيا آخری جواب دا هم کيدې شی چه رسول الله ﷺ د بيان جواز دپاره کله کله داسې هم کړې وی، صرف د ادب خلاف ده حرام نه ده.

په مسح د اذنين کښې د اسحق بن راهويه مستدل او په هغې باندې کلام

﴿ قوله ثُمَّ أَلْقَمَ إِبْهَامَيْهِ مَا أَقْبَلَ مِنْ أُذُنَيْهِ ﴾ يو بله نوې خبره دا راغله چه علی ﷺ د غسل وجه سره خپلې دواړه (کټې يا غټې) ګوتې د غوږونو لقمه کړه يعنې څنګه چه لقمه په غوږونو کښې داخلولې شی هم دغه شان ئې ابهامين په اذنين کښې داخل کړل، ددې مطلب دا شو چه علی ﷺ د ما اقبل من الاذنين مسح په غسل وجه سره اوفرمائيله. لکه چه د اسحق بن راهويه مذهب دې د جمهورو د طرف نه به ددې جواب هم دا وی چه رسول الله ﷺ کله کله د بيان جواز دپاره داسې کړی دی، ګينې مسنون طريقه هم هغه ده کومه چه په روايات کثيره شهيره کښې راځی.

علامه شوکانی ﷫ ليکلې دی چه دا حديث د مسح اذنين په باره کښې د حسن بن صالح او د شعبی د مسلک دليل دې، د هغوی مسلک دا دې چه د ما اقبل من الاذنين وظيفه غسل ده دا به د مخ سره وينځلې شی، حضرت سهارنپوری ﷫ په بذل کښې ددې ترديد کړې دې چه صرف لوندې ګوتې په غوږونو کښې داخلولو سره غسل اذنين نه ثابتيږی، بلکه مسح ثابتيږی لهذا دا حديث د اسحق بن راهويه دليل نه شو د شعبی او حسن بن صالح دپاره، د مسح اذنين اختلافات نزدې تير شو

قوله: ﴿ ثُمَّ أَخَذَ بِكَفِّهِ الْيُمْنَى قَبْضَةً مِنْ مَاءٍ فَصَبَّهَا عَلَى نَاصِيَتِهِ ﴾ دا په دې حديث کښې يو دريمه نوې خبره ده چه سيدنا علی ﷺ درې کرته د غسل وجه فرمائيلو نه پس څلورم خل په لپه کښې اوبه واخستلې او هغه ئې په تندی باندې راپريخودلې کومې چه د هغوی په مخ مبارک باندې راروانې شوې. اشکال ښکاره دې چه دا په تثليث غسل باندې زيادت دې چه

دهغې څوک هم قائل نه دی

د امام بخاري رحمه الله په دې حديث باندې کلام او په دې باندې د حضرت اشکال :

د دې او د راتلونکو د ټولو اشکالاتو يو مشترک جواب دا دې چه امام بخاري رحمه الله ددې حديث تضعيف کړې دې، پس منذري وائي ﴿ وفيه مقال ﴾ امام ترمذي رحمه الله د امام بخاري رحمه الله نه ددې حديث په باره کښې سوال اوکړو نو په دې باندې هغوی ددې حديث تضعيف اوکړو.(۱)

دويم جواب ددې اشکال دا کيدې شي چه رسول الله ﷺ په خپل تندی مبارک باندې کومې اوبه واچولې نو دا د تکميل اودس دپاره نه وو بلکه دا تبريدا وو. يعنې صرف مخ نه د يخ والي دپاره، او امام نووي رحمه الله ددې جواب دا کړې دې چه کيدې شي چه د تندی پورته حصه درې کرته وينځلو سره پوره نه وی لونده شوې په دې وجه دهغې د تکميل دپاره ئې داسې اوکړل. او بعضو وئيلې دی چه دا په څلورم ځل رسول الله ﷺ په مقدم راس باندې اوبه اچولې وې دا اصل دې، د فقهاء کرامو ددې قول چه سرې له پکار دی چه د مخ د وينځلو په وخت د مقدم راس هم څه حصه اووينځی د استيعاب وجه په قصد سره

د حديث نه په مسح رجلين باندې استدلال او د هغې جوابات :

قوله :﴿ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى رِجْلِهِ وَفِيهَا النَّعْلُ ﴾ يعنې علي رضي الله عنه بغير د پيزار د ويستلو نه خپې داسې اووينځلې چه يو لپه اوبه ئې په خپو باندې واچولې او بيا ئې خپې په لاس باندې وينځلې، بيا ئې يو لپه اوبو باندې واچوله او بيا ئې خپه په لاس باندې اومږله، بيا ئې يو لپه اوبه په بله خپله باندې واچولې او هم دغه شان ئې اوکړل، دلته يو اشکال دا دې چه هره يوه خپه صرف په يوه لپه باندې وينځی سره ددې چه خپې په پيزار کښې دننه دی، د پيزار نه بهر نه دی نو په دې صورت کښې د غسل قدمين تحقق څنګه کيدې شي سره ددې چه د اوبو مقدار هم قليل دې. هم په دې وجه بعضو ددې نه په مسح د قدمينو باندې استدلال کړې دې، ددې اشکال ډير جوابونه ورکړې شوې دی، يو جواب اوس نزدې تير شو چه دا حديث ضعيف دې، دويم جواب دا دې چه د غسل رجلين په باره کښې د ابن عباس رضي الله عنه او علي رضي الله عنه روايات مختلف دی، د بعضو نه غسل ثابتيږي او د بعض نه مسح، او حال دا دې چه دا د روايات صحيحه کثيره کوم کښې چه غسل رجلين ثابت دی، لهذا ددې روايت نه استدلال صحيح نه دې، بعض د نسخ جواب ورکړې دې چه احاديث غسل راتلو سره

---

(۱) حضرت په بذل کښې ددې حديث په تضعيف باندې اشکال کړې دې چه کله ددې حديث د سند ټول راويان ثقات دی، نو بيا ضعيف ولې دې، حضرت په بذل کښې د تضعيف والا جواب نه دې اختيار فرمائيلې بلکه د تاويل ارخ ئې اختيار کړې دې، خو احقر عرض کوی چه اهل اصولو ددې خبرې تصريح کړې ده چه ثقاهت راوة صحت حديث لره مستلزم نه دې، د صحت حديث دپاره نور هم شرطونه دی چه دهغې د مفقود کيدو باوجود د رجالو د ثقه کيدو حديث ضعيف کيدې شي، په دې حديث کښې ديرې خبرې خلاف معهود او شاذ دی، په دې بناء باندې به دې ته ضعيف وئيل صحيح وی هسې هم حضرت امام بخاري رحمه الله ناقدين فن کښې دی)

احاديث مسح منسوخ كړل، بعض جواب كړي دي چه بيشكه ددي حديث نه مسح ثابت ده خو مسح په قدمين باندې نه وه بلكه په جوربين باندې وه، اګر كه دلته جوربين نه دي ذكر شوي خو ددي نفي هم پكښې نشته

قوله :﴿ قَالَ قُلْتُ وَفِي النَّعْلَيْنِ الخ ﴾ په دې كښې د شارحينو اختلاف راغي چه دا سوال او جواب د كومو دوه كسانو په باره كښې دې، په دې كښې دوه احتمالات دي يو دا چه دا سوال د ابن عباس رضی الله عنه او د هغوی د شاګرد عبيدالله خولاني ترمينځه دي عبيدالله د خپل استاذ ابن عباس رضی الله عنه نه په طور د تعجب تپوس كوي چه آيا هغوی سره د نعلينو غسل قدمين اوكړو، هغوی اوفرمائيل او، هم دغه شان ئې اوكړل، او هم دا سوال او جواب بار بار كيدو، غالبا منشاء د تعجب ده چه ددې نه د مسح رجلين شبه كيږي دويم احتمال دا دې چه دا سوال او جواب د سيدنا علي رضی الله عنه او د ابن عباس رضی الله عنه ترمينځه دي، خو په دې صورت كښې به اشكال دا وي چه يو حديث باب في الوضوء مرتين كښې راروان دي چه دهغې راوي خپله ابن عباس رضی الله عنه دي او په دې كښې غسل قدمين في النعلين موجود دي نو بيا چه كوم مضمون هغه خپله روايت كوي په هغې باندې تعجب ولې كولې شي، ددې اشكال نه د بچ كيدو دوه صورتونه دي يو دا چه احتمال اول دې اختيار كړې شي او يا دې دا اووئيلې شي چه ابن عباس رضی الله عنه ته دې وخت كښې ددې مضمون روايت نه ذهول شوي وو.

قول ابوداؤد تشريح :

قوله :﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ شَيْبَةَ الخ ﴾ زما په نزد دا قال ابوداؤد خصوصيت لرى، مشكل او مغلق دې، توضيح ته محتاج دې، ددې حاصل دا دې (١) چه مصنف رحمه الله تر اوسه پورې د چه د علي رضی الله عنه نه چه څومره روايات ذكر كړي دی په هغې كښې يو طريق كښې ﴿ مسح رأسه ثلاثا ﴾ مذكور نه دې، اوس ددې خاتې نه مصنف رحمه الله دا فرمائي چه د حديث علي رضی الله عنه يو طريق بل دې كوم چه تر اوسه پورې په كتاب كښې نه دې راغلې يعنې طريق ابن جريج دا دلته تعليقا ذكر فرمائي او دې فرمائي چه د ابن جريج چه كوم طريق دې هغه مختلف فيه دی، د ابن جريج بعض شاګردانو د هغوی نه ﴿ مسح برأسه مرة ﴾ ذكر كړې دي، او دا شاګرد حجاج بن محمد دې، او د هغوی بعض شاګردانو د هغوی نه مسح براسه ثلاثا

(١) مصنف رحمه الله د علي رضی الله عنه د حديث مختلف طرق او اسانيد سره په ما قبل كښې ذكر فرمائيلي دي، خو په دې كښې د ابن جريج په طريق سره هيڅ روايت نه دې راغلې. نسائي او بيهقي ددې تخريج كړې دې، مصنف رحمه الله تعليقا دا روايت دلته ذكر كړې دي خو په طرق ابن جريج كښې د هغوی د شاګردانو اختلاف دې هغه دا چه حجاج بن محمد ددې نه مسح راس مرة ذكر كړې دې، او ابن وهب د هغوی نه مسح راس ثلاثا ذكر كړې دې، مصنف رحمه الله فرمائي چونكه اوسه پورې څومره احاديث چه د علي رضی الله عنه بيان شو په هغې كښې مسح د سر يو ځل ده، په دې وجه د حجاج روايت ته به ترجيح وركولې شي، د ابن وهب په روايت باندې، لهذا حديث علي كښې صحيح او راجح مسح راس مرة شو نه ثلاثا. لكه څنګه چه په حديث د عثمان كښې هم داسې دی چه صحيح مسح راس هم مرة دی، كما تقدم التصريح بذلك عن المصنف رحمه الله، ددې حاشيه نه مقصود صرف مزيد توضيح مقام دې.

ذکر کړي ده او دا شاګرد د هغوی ابن وهب دي، اوس مصنف رحمه الله دلته دا وائي چه د ابن جريج په دې دوه طريقو کښې چه د حجاج بن محمد چه کوم طريق دې چه په هغې کښې (مسح براسه مرة) مذکور دې دا د علي رضي الله عنه د تيرو رواياتو مطابق دې، ځکه چه تر اوسه پورې چه د علي رضي الله عنه څومره روايات راغلی دی په هغې کښې هم توحيد مسح ذکر شوې ده، لهذا د حجاج بن محمد روايت به راجع وی د ابن وهب د روايت نه

خان پوهه کړه چه د حجاج بن محمد په طريق کښې د ابن جريج استاذ نور دی او د ابن وهب په طريق کښې د ابن جريج استاذ بل دې د حجاج بن محمد سند داسې دې (عن حجاج بن محمد عن ابن جريج عن شيبة عن ابي جعفر عن ابيه عن جده عن علي) او د ابن وهب په شان (عن ابن وهب عن ابن جريج عن محمد بن علي بن حسين عن ابيه عن جده عن علي) د حجاج د روايت امام نسائي رحمه الله تخريج کړې دې او د ابن وهب د روايت بيهقي کړې دې لکه چه حضرت په بذل کښې ليکلې دی، او د ابوداؤد د سيدنا علي رضي الله عنه تير شوي رواياتونه په توحيد مسح کښې حديث د ابن جريج عن شيبة مشابه دی او دا حديث ابن جريج عن محمد بن علي مخالف دی ځکه چه حديث ابن جريج عن محمد بن علي کښې تثليث مسح مذکور دې

زمونږ ددې تقرير نه معلومه شوه چه د مصنف رحمه الله په دې کلام کښې حديث ابن جريج عن شيبة چه دهغې راوی حجاج بن محمد دې هغه مشبه دې، او تير رواياتونه د علي مشبه به او وجه د تشبيه توحيد مسح دې، او دا وجه شبه حديث ابن جريج عن محمد علي کښې کوم چه مصنف رحمه الله ذکر کړي دې، نه موندلې کيږي په دې وجه هغه مرجوح دې.

[۱۱۸] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ وَهُوَ جَدُّ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ: هَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُرِيَنِي كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدٍ: نَعَمْ، "فَدَعَا بِوَضُوءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ".

ترجمه: عمرو بن يحيى المازني د خپل پلار نه روايت کوي، هغه اوونيله عبد الله بن زيد بن عاصم ته او هغه نيکه عمرو بن يحيى المازني دی: ايا ته کولی شي چه وښاي مونږ ته څرنګه وو رسول الله صلى الله عليه وسلم چه اودس ئې کولو؟ نو اوونيل عبد الله بن زيد: هو، نو راوېې غوښتلې اوبه د اودس نو توی کړې په دواړو لاسونو نو وئې وينځل، بيا ئې مضمضه او استنثار اوکړل، بيامې مخ درې ځله وينځلو، بيا ئې لاسونه وينځل دوه دوه ځل ترڅنګلو پورې، بيا ئې مسح اوکړه د سر په خپلو لاسونو، مخکښې او وروسته ئې بوتله شروع ئې اوکړه د مخکښې حصې د سر نه دواړه ئې بوتلل تر څټ پورې، بيا ئې دواړه واپس کړل

(١): صحيح البخاري/الوضوء ٣٨ (١٨٥)، ٣٩ (١٨٦)، ٤١ (١٩١)، ٤٢ (١٩٢)، ٤٥ (١٩٧)، صحيح مسلم/الطهارة ٧ (٢٣٥)، سنن الترمذي/الطهارة ٢٢ (٢٨)، ٢٤ (٣٢)، ٣٦ (٤٧)، سنن النسائي/الطهارة ٨٠ (٩٧)، ٨١ (٩٨)، ٨٢ (٩٩)، (تحفة الأشراف ٥٣٠٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ١ (١)، مسند احمد (٣٨/٤، ٣٩)، سنن الدارمي/الطهارة ٢٨ (٧٢١) (صحيح)

تردي چه هغه ځائي ته ئي واپس كړل د كوم نه چه ئي شروع كړي وه، بيا ئي خپې وينځلي

۳ : مسانيد عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه :

قوله :﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ ﴾ ددې ځائي نه د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه د مسانيدو شروع كيږي.

عبدالله بن زيد نه د سوال كونكي سړي د تعين په باره كښې اختلافات روايات :

قوله :﴿ أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ – وَهُوَ جَدُّ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ ﴾ يعني عمرو بن يحيى روايت كوي د خپل پلار يحيى نه چه يحيى د عبدالله بن زيد نه سوال كړي دې، سوال وړاندې دا ذكر دې ﴿ هل تستطيع ان تريني الخ ﴾ آيا تاسو ماته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اودس طريقه ښودلې شئ

د ابوداؤد ددې روايت نه معلوميږي چه د عبدالله بن زيد نه د اودس طريقه معلومولو والا يحيي دې په دې سلسله كښې روايات مختلف دي په دې حديث كښې يو مشهور بحث خو دا دې چه سائل څوک دې؟ او دويم بحث دا دې چه ﴿ وهو جد عمرو بن يحى ﴾ كښې ضمير كوم طرف ته راجع دې او د عمر بن يحيى نيكهٔ چاته وئيلې كيدې شي؟

اول جواب دا دې چه د ابوداؤد ددې روايت نه معلوميږي چه سائل يحيى دې، اود مؤطا د امام محمد رحمه الله د روايت نه معلوميږي چه دا سائل د يحيى نيكهٔ يعني ابوالحسن دې، او د بخاري د روايت نه معلوميږي چه سائل د يحيى تره عمرو بن ابي الحسن دې، بلكه دا چه د بخاري په يو روايت كښې دى ﴿ ان رجلا قال لعبدالله ﴾ دې يعني سائل رجل مبهم دې ددې تعين نشته، په دې باندې د پوهيدلو دپاره د عمرو بن يحيى سلسله نسب معلوميدل ضروري دى او هغه داسې ده :

حافظ ابن حجر رحمه الله چونكه د بخاري شارح دې، په دې وجه هغوى ددې مختلفو روايتونو ترمينځه جمع كولو سره د بخاري روايت ته اصل وئيلې دې، هغوى فرمائي چه ددې روايات مختلفه توجيه دا كيدې شي چه يو مجلس چه په هغې كښې ابوالحسن او عمرو بن ابي الحسن او يحيى درې واړه موجود وو، په دې مجلس كښې عمر د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه نه تپوس اوكړو، لهذا د عمرو د طرف ته د سوال نسبت خو حقيقي دې، او د ابوالحسن طرف ته په دې حيثيت سره دې چه هغوى په مجلس كښې مشر وو، او د يحيى طرف ته نسبت په دې وجه كړې شوې دې چه هغوى د سوال په وخت په مجلس كښې موجود وو.

د ابوداؤد په روایت کښې یو وهم او دهغې تحقیق او تصحیح :

د دویم بحث تحقیق دا دې چه د ابوداؤد ددې روایت نه معلومیږی چه ﴿ هو ﴾ ضمیر د عبدالله بن زید طرف ته راجع دې چه دهغې مطلب دا شو چه عبدالله بن زید بن عاصم د عمرو بن یحیی نیکه دې حال دا چه دا د حقیقت بالکل خلاف ده د هغوی نیکه خو عماره دی لکه څنګه چه په نقشه کښې ذکر شوې دې. دا هم معلومیدل پکار دی چه د موطا، امام مالک‌ؒ د روایت الفاظ بعینه دغه شان دی لهذا دا اشکال به هلته هم وی، تحقیق په دې مسئله کښې دا دې چه اصل کښې په دې روایت کښې د یو راوی نه وهم واقع شوې دې، [۱] د اصل روایت الفاظ هغه دی کوم چه په بخاری شریف کښې دی ﴿ان رجلا قال لعبدالله بن زید وهو جد عمرو بن یحیی ﴾ په دې روایت سره اشکال ختمیږی، هغه داسې چه دلته په دې روایت کښې د عبدالله بن زید صحابی د چا سره رشته نه شی بیان کیدلې بلکه په سند کښې چه کوم رجل مبهم ذکر کړې شوی دې یعنی سائل د هغه تعین مقصود دې چه هغه رجل سائل د عمرو بن یحیی نیکه دې، او د سائل تحقیق زمونږ په نزد دلته د حافظ د کلام نه مخکښې تیر شوی دی چه هغه عمرو بن ابی الحسن دی، او عمرو بن ابی الحسن د عمرو بن یحیی اګرچه نیکه نه دې خو د نیکه رور خو ئې دې لکه چه د نقشې نه ښکاره کیږی، فالحمد لله د بخاری ددې روایت نه صحیح صورت حال معلوم شو، د سند پورته ذکر کړې شوې تحقیق حضرت په بذل کښې هم دغه شان لیکلې دې او هم دغه شان په الفیض السمائی کښې هم ذکر کړې شوې دې.

قوله :﴿ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ ﴾ یعنی په دواړو لاسونو سره ئې د سر مسح اوکړه، او د مسح په وخت ئې د لاسونو ادبار او اقبال اوکړو، د اقبال معنی ده توجه الی القبل یعنی د شانه مخې طرف ته لاس راوړل، او د ادبار معنی ده توجه الی الدبر یعنی د وړاندې نه شا طرف ته راوستل، او ﴿ بهما ﴾ کښې باء د تعدیه دپاره ده لهذا ترجمه به دا وی چه دواړه لاسونه ئې مخې طرف ته راوستل او دواړه لاسونه ئې یوړل شاته طرف ته، په وړاندې جمله کښې هم د داسې إقبال او إدبار ترتیب موجود دې.

په کیفیت مسح راس کښې دلیل جمهور :

قوله :﴿ بداء بمقدم راسه ﴾ یعنی د مسح راس شروع ئې د سر د وړاندې حصې نه اوکړه، د سر په وړاندې حصه باندې ئې دواړه لاسونه کیخودلو سره هغه شاته طرف ته یوړل دا خو ادبار شو ﴿ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ ﴾ دا اقبال شو، په دې حدیث کښې ددې

[۱] د شراح موطا، دا خیال دې چه دا وهم خپله د امام مالک‌ؒ نه شوې دې، امام مالک‌ؒ ددې سند راوی دې هغوی چه کله هم دا روایت نقل کړی دې هم دغه شان ئې نقل کړی دی، پس د ابوداؤد ددې روایت په سند کښې هم امام مالک‌ؒ دې او بعض اکابر محدثین علماء رجال کښې په دې روایت باندې اعتماد کولو سره په غلطئ کښې اخته شو، پس هغوی د هو ضمیر عبدالله بن زید‌ؓ ته راجع کړو او دا ئې اووئیل چه عبدالله بن زید د عمرو بن یحیی نیکه دې حال دا چه فی الواقع نه ئې د پلار پلار دې او نه د مور پلار.

خبري تصريح ده چه د مسح راس ابتداء به د مقدم راس نه وي لکه چه د جمهورو مسلک دي، بله دا چه د تفسير راوي نه معلومه شوه چه لفظ ﴿ اقبل بهما ﴾ اګرچه په ذکر کښې مقدم دې، خو په وجود کښې هغه موخر دې، او ادبر اګرچه لفظا موخر دې خو وجودا مقدم دې، او په دې کښې من حيث العربية هيڅ اشکال نشته. ځکه چه واؤ د ترتيب دپاره نه راځي، او دلته اقبال او ادبار په واؤ سره ذکر کړې شوې دې، مونږ په شروع کښې بيان کړې وو چه په مسح د سر کښې څلور بحثونه دی او په هغې کښې يو بحث د کيفيت مسح وو.
امام ترمذي رحمه الله د مسح راس د کيفيت په سلسله کښې دوه ابواب قائم کړی دی يو باب د مسلک جمهور يعنی بداية بمقدم الراس ئې بيان اوفرمائيلو، او په دويم باب کښې ئې مستقلا بداية بموخر الراس بيان کړو، او په دې دويم باب کښې هغوی ربيع بنت معوذ بنت عفراء رضي الله عنها والا روايت ذکر فرمائيلې دې کوم چه وړاندې په ابوداؤد کښې راروان دې چه دهغې الفاظ دادي ﴿ مسح براسه مرتين يبداء بموخر راسه ﴾ دا حديث د ربيع د وکيع بن الجراح رحمه الله د مسلک دليل دې، او د جمهورو دليل د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه دا حديث دې، امام ترمذي رحمه الله فرمائي حديث عبدالله بن زيد بن عاصم اصح، لهذا حديث د ربيع کوم چه د جمهورو خلاف دې هغه مرجوح او ضعيف دې، په ظاهر کښې هغه روايت په غلط فهمئ باندې بناء دې، د روايت اصل الفاظ ﴿ فاقبل بهما وادبر ﴾ وو، اقبال چونکه اول ذکر شوې دې او ادبار روستو په دې وجه يو راوی به دا ګڼرلې وی چه څنګه اقبال لفظا مقدم دې کيدې شی چه وجودا به هم مقدم وی، ددې غلط فهمئ د وجې نه دا روايت دغه شان نقل کړو، ﴿ يبداء بموخر راسه ﴾ که دا روايت صحيح اومنلې شی نو داسې به ونيلې شی چه ممکنه ده رسول الله ﷺ څه وخت د مسح ابتداء په موخر الراس سره فرمائيلې وی د بيان جواز دپاره.
بله دا چه په دې حديث د ربيع کښې يو ځيز بل قابل اشکال دې يعنی مسح براسه مرتين دا هم په ظاهر کښې هم هغه غلط فهمی ده چه راوی اقبال او ادبار دواړه مستقل شمير کولو سره مرتين اووئيل، حال دا چه په اقبال او ادبار سره مقصود تکرار نه دې بلکه استيعاب راس مقصود دې لهذا په دې حديث کښې دوه وهمونه پيدا شو.

[۳]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ، يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثًا، ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَهُ.

ترجمه: ترجمه عبدالله بن زيد بن عاصم روايت کړې دې ددې حديث. هغه وائي نو مضمضه ئې اوکړه او استنشاق ئې اوکړو د يو ورغوي نه. کول به ئې دا درې ځل، بيا ئې ذکر کړو پشان دهغې

تشريح: قوله ﴿ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ ﴾ په دې کښې دوه احتمالات دی، يا خو دا

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۳۰۸) (صحيح)

چه په دې سره مقصود تخصيص د كف دې، يعني په كوم لاس سره ني چه مضمضه كړې وه هم په هغې سره ني استنشاق اوكړو يعني كف يعني په خلاف د استنثار چه هغه په كس لاس سره وي، دويم احتمال دا دې چه وحدت ماء لره بيانول دي چه په يو لپه كښې ني اوبه واخستلې او هم په هغې باندې ني مضمضه او استنشاق دواړه اوكړل يعني وصل بين المضمضة والاستنشاق ني اوكړو. او دا زمونږ په نزد هم جائز دي اګر كه خلاف اولي دي، په دې باندې تفصيلي كلام د باب د اول حديث د لاندې تير شوې دي.

[٣٠]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّ حَبَّانَ بْنَ وَاسِعٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللهِ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْمَازِنِيَّ يَذْكُرُ: "أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ وُضُوءَهُ، وَقَالَ: وَمَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ، وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ حَتَّى أَنْقَاهُمَا".

ترجمه: عبد الله بن زيد بن عاصم المازني ذكر كوي، چه بيشكه ده ليدلى دى رسول الله ﷺ نو د هغه اودس ني بيان كړو، وني وئيل چه رسول الله ﷺ مسح اوكړه په سر په اوبو چه د لاس نه نه وې پاتې شوې (يعني تازه اوبو سره) او خپې ني وينځلې تردې چه پاكې ني كړې

د مسح راس دپاره د تجديد ماء بحث

قوله :﴿ وَمَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ ﴾ يعني مسح د سر ني په ماء جديد سره اوكړه، په لاس باندې بچ شوې لوندوالى سره نه. د مسح راس دپاره تجديد ماء ضروري دې يا نه؟ د باب په حديث اول كښې اختلاف تير شو د شوافعو او حنابله په نزد تجديد ماء ضروري دې، د احنافو په نزد ضروري نه دې صرف سنت دې روايات حديثيه دواړه قسمه دي، د بعض نه تجديد ماء ثابت دې او د بعض نه نه، د احنافو مسلك سره خو په دې كښې يو هم خلاف نه دې زمونږ په نزد خو دواړه جائز دي، خو په دې كښې يو قسم روايات يعني په كوم كښې چه تجديد ماء نشته هغه د شوافعو خلاف دې، امام نووي رحمه الله فرمائي چه دهغې حاصل دا دې چه ددې چه تجديد ماء والا روايت نه په دې خبره باندې استدلال كول صحيح نه دی چه په باقي لوندوالى باندې مسح د سر جائز نه ده، ځكه چه په دې حديث سره د مسح سر دپاره د تجديد ماء صرف ثبوت ملاويږي او ددې ضروري او شرط كيدل نه معلوميږي نفس فعل په لزوم باندې دلالت نه كوي، د امام نووي رحمه الله دا خبره د قاعدې او انصاف ده د هغوى د وينا مطلب دا دې چه د تجديد ماء والا روايات د احنافو خلاف نه دي

خان پوهه كړه چه دحديث الباب يعني دعبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه د حديث راوي حبان بن واسع دې او بيا د هغوى نه روايت كونكي يو خو عمرو بن الحارث دي لكه څنګه چه دلته په كتاب كښې دى، او دويم ابن لهيعه دې امام ترمذي رحمه الله دواړه طرق ذكر كړي دي، او ددې دواړو د روايتونو الفاظ مختلف دى د عمرو بن الحارث د روايت الفاظ خو ستاسو مخې ته دي يعني ﴿ بماء غير فضل يديه ﴾ او د ابن لهيعه د روايت الفاظ داسې دي ﴿ بماء غبر فضل يديه ﴾ غبرپه معنى د بقى دماضي صيغه ده، او ﴿ فضل يديه ﴾ د ﴿ ما غبر ﴾ نه بدل واقع

(): ٣صحيح مسلم/الطهارة ٧(٢٣٦)، سنن الترمذي/الطهارة ٢٧ (٣٥) مختصراً (تحفة الأشراف: ٥٣٠٧) (صحيح)

شوي دي ددې روايت مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ د سر مسح د باقي پاتې کيدونکې ترې نه اوکړه، صرف د يوې نقطې په فرق سره مضمون برعکس شو ، اوس د احنافو دپاره خو په دې کښې د اشکال هيڅ خبره نشته ځکه چه زمونږ په نزد دواړو طريقو سره جائز ده خو دا د ابن لهيعه والا روايت د شوافعو خلاف دې، امام ترمذي رحمه الله ددې جواب دا اوکړو چه د عمرو بن الحارث روايت اصح دې او ابن لهيعه ضعيف دې، خو ځان پوهه کړه چه د ابن لهيعه د روايت هم معنى يو بل حديث په ابوداؤد کښې وړاندې راروان دې يعنې حديث ربيع بنت معوذ رضي الله عنها چه دهغې الفاظ دا دي ﴿مسح براسه من فضل ماء كان في يده﴾ کوم چه د احنافو صريح دليل دې، او په کوم روايت کښې چه تجديد د ماء ذکر دې اول خو هغه زمونږ خلاف نه دې موثر په خپله د سنيت تجديد ماء قائل يو ، او بعض احنافو ددې په باره کښې فرمائيلي دي چه د تجديد والا روايت په هغه صورت باندې محمول دې چه کله په لاس باندې تروالي باقي نه وي پاتې شوې، اوددې بالمقابل د شوافعو د طرف نه امام بيهقي رحمه الله د فضل ماء والا روايت توجيه دا کړې ده چه رسول الله ﷺ د سر د مسح دپاره په لاس کښې اوبه واخستلې، او بيا ئې هغه پريخودلې، د پريخودلو نه پس چه کوم لوندوالي په لاسونو باقي پاتې شو په هغې باندې ئې د سر مسح اوفرمائيله، سبحان الله ډير مناسب جواب دې

غسل رجلين کښې د تثليث قيد شته که نه؟

قوله :﴿وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ حَتَّى أَنْقَاهُمَا﴾ اوسه پورې په رواياتو کښې د غسل رجلين په باره کښې د ثلاثا لفظ راتلو ، او دلته ددې په ځائې د ﴿حتى انقاهما﴾ لفظ راغلې دې، يعنې دواړه خپې ئې وينځلې تردې چه هغه ئې بالکل صفا کړې، ددې نه په ظاهر کښې معلوميږي چه په غسل رجلين کښې د تثليث قيد نشته، بلکه هلته مقصود انقاء ده هر څومره خله کښې چه حاصله شي، پس د مالکيانو په نزد يو قول هم دا دې، او ددې لفظ نه په ظاهر کښې د هغوی تائيد کيږي خو چونکه په اکثر رواياتو کښې ثلاثا راغلې دې په دې وجه جمهورو هم دا اختيار فرمائيلې دې، دويم قول د مالکيانو په نزد هم د جمهورو په شان دې

[۳۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا حَرِيزٌ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَيْسَرَةَ الْحَضْرَمِيُّ، سَمِعْتُ الْمِقْدَامَ بْنَ مَعْدِي كَرِبَ الْكِنْدِيَّ، قَالَ: "أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ، فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا، وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ ظَاهِرِهِمَا وَبَاطِنِهِمَا".

ترجمه: مقدام بن معديکرب الکندي وايي: چه راوړې شوې رسول الله ﷺ ته اوبه د اودس نو اودس ئې اوکړو نو ونې وينځل دواړه ورغوي درې ځل، بيا ئې مضمضه او استنشاق اوکړو درې ځل، او مخ ئې وينځلو درې ځله، بيا ئې وينځل دواړه متې درې درې ځل، بيا ئې مسح اوکړه په سر باندې او په دواړو غوږونو ظاهر د دواړو او باطن د دواړو

() تفرد به أبو داود:(تحفة الأشراف: ۱۱۵۷۳)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۲ (۴۴۲)(صحيح)

مسانيد د مقدام بن معديكرب :

قوله :﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ ﴾ اوس ددې ځائې نه مصنفﷺ د مقدام بن معديكرب مسانيد بيانوي كوم چه ددې باب د رواياتو په اعتبار سره څلورم صحابي دې.

قوله :﴿ قوله ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ﴾ په دې حديث كښې مضمضه او استنشاق د غسل وجه او يدين نه پس راغلي دې كوم چه د ترتيب مسنون خلاف دې خو دلته د ابوداؤد نسخې مختلف دي، په بعض نسخو كښې داحديث د ترتيب مسنون مطابق دې (كما في نسخة مكتبة الشاملة) لكه څنګه چه حضرت په بذل كښې ليكلي دي، بهر حال كه مونږ د خپلې نسخې د ترتيب اعتبار اوكړو نو دا به اوونيلې شي چه دا روايت شاذ دې او د رواياتِ صحيحه شهيره خلاف دې. لهذا هغه روايات به راجح او دا به مرجوح وي او عمل په راجح باندې وي نه په مرجوح باندې، يا به هغه په بيان جواز باندې محمول كولې شي كيدې شي چه رسول اللهﷺ كله كله د بيان جواز دپاره د ترتيب مسنون خلاف كړې وي، په دې وجه چه په اعضاء وضوء كښې ترتيب د احنافو او مالكيانو په نزد واجب نه دې، خو د شوافعو او حنابله په نزد واجب دې، هغه حضرات دا د مذهب د خلاف كيدو په وجه باندې په جواز باندې نه شي محمول كولې، د هغوى په نزد ددې حديث مرجوح او شاذ كيدل متعين دي.

ترتيب في الوضوء كښې مذاهب ائمة او د هغوى دلائل :

شوافع او حنابله د وجوب ترتيب په باره كښې فرمائي چه رسول اللهﷺ هميشه اودس هم په هغه ترتيب سره كړې دې كوم چه په احاديثو كښې مذكور دې كله ئې هم دهغې خلاف نه دې كړې، كه چرته دا ترتيب واجب نه وې نو كله خو به ئې د بيان جواز دپاره ترک كړې وې، لكه څنګه چه تثليث صرف سنت دې، رسول اللهﷺ د بيان جواز دپاره تثليث كله كله پريخودلې دې

بله دا چه د رسول اللهﷺ ارشاد دې ﴿ ابداء بما بداء الله به ﴾ اګرچه دا حديث د كتاب الحج دې خو حكم خو به عام وي، لهذا كوم ترتيب چه په قرآن كريم كښې مذكور دې هم دهغې اختيارول به ضروري وي.

بله دا چه په آيت وضوء كښې د اعضاء مغسوله په مينځ كښې عضوء ممسوح ذكر كړې شوې دې، داسې ئې اونكړل چه اعضاء مغسوله ئې ټول يو طرف ته ذكر كړې وې او عضو ممسوح بيل، نو د متجانسين ترمينځه خلاف جنس لره ذكر كول دا يو خاص نكتې او فائدې لره متقاضي دي، كيني بغير د فائدې او نكتې نه عرب خلق د متجانسين ترمينځه تفريق نه كوي ﴿ تفريق المتاجسين لا يرتكبه العرب الا لفائدة..... او نكته دلته وجوب طرف ته اشاره كول دي

زمونږ د طرف نه ددې جواب دا وركړې شوې دې چه دا صحيح ده چه رسول اللهﷺ اودس هميشه مرتبًا فرمائيلې دې، د ترتيب خلاف ئې كله هم نه دې كړې، خو مجرد فعل په وجوب باندې دلالت نه كوي، او دا احاديث په كومو كښې چه د اعضاء وضوء ترمينځه چه كوم لفظ ثم مذكور دې (كوم چه په ترتيب باندې دال دې) هغه د راوي لفظ دې د رسول اللهﷺ په كلام كښې نشته، چه ددې نه په ترتيب باندې استدلال اوكړې شي، پس زيات نه

زیات دومره ونیلي شو چه رسول اللهﷺ اودس مرتبا فرمائیلي دي او مجرد فعل وجوب لره مقتضي نه دي، اول خو دا وئیل صحیح نه دی چه رسول اللهﷺ همیشه په یو ترتیب سره اودس کړي دي، دا زیر بحث حدیث ددي دپاره شاهد عدل دي

بله دا چه په آیت کریمه کښې اعضاء وضوء اګرچه په یو خاص ترتیب سره ذکر کړي دی، خو هلته په تعبیر کښې حرف واؤ دي په اعضاء وضوء کښې د یو په بل باندي عطف کړي شوي دي هغه د واؤ په ذریعه سره دي چه د مطلق جمع دپاره راځي، خو فاء د آیت وضوء په شروع کښې راوړلي شوي ده ﴿ اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا الاية ﴾ چه دهغي تعلق مجموع وضوء سره دي، یعني دا چه د وضوء تحقق اراده قیام الی الصلوة نه پس کیدل پکار دی نو په دي فاء سره قیام الی الصلوة او د اودس ترمینځه ترتیب مستفاد کیږي، په خپل مینځ کښې د اودس د اعضاء د ترتیب سره ددي هیڅ تعلق نشته

پاتي شوه خبره د تفریق المتجانسین نو دا ضروری نه ده چه ددي نکته دي هم هغه وي کومه چه تاسو بیانوئ بلکه ددي نکته زمونږ په نزد هغه ده کومه چه علامه زمخشری ذکر کړي ده هغه دا چه مسح راس لره په غسل رجلین باندي مقدم کولو کښې اشاره او تنبیه ده ددي خبري طرف ته چه په غسل رجلین کښې دي اوبه کمي استعمال کړي شي، ځکه چه د عامو خلقو عادت دي چه هغوی په خپو باندي زیاتي اوبه بهیوی، خومره چه په لوښی کښې بچ کیږي، ټولي بغیر د ضرورت نه په خپو باندي اوبهیوی، لهذا په آیت کریمه کښې د غسل رجلین د ذکر کولو نه مخکښې مسح د سر ذکر کړي شوه ګویا د تقلیل ماء طرف ته اشاره اوکړي شوه، په مسح کښې ظاهره دا چه اوبه ډیري کمي خرچ کیږي، الحمد لله ددي خائي پوري د باب په دري خلورو احادیثو کښې تقریبا ټول مسائل وضوء اختلافي وغیر اختلافي راغلل، یو مسئلي دوه نوري زمونږ په ذهن کښې داسي راځي چه دهغي مونږ دلته ذکر مناسب ګڼړو

۱: نیت د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد په طهارت صغری او کبری دواړو کښې ضروری او شرط دي او د احنافو په نزد صرف سنت یا مستحب دي د احنافو دلیل په دي سلسله کښې د ﴿ مفتاح الصلوة الطهور ﴾ د لاندي تیر شو

۲: ﴿ موالاة في الوضوء ﴾ اوس رایاد شو چه په دي سلسله کښې خو په کتاب کښې مستقل باب راروان دي چه دهغي عنوان دي باب في تفريق الوضوء، لهذا په دي باندي کلام به هم هلته اوکړي شي

دلک في الوضوء کښې د مسلک مالکیه تحقیق

۳: دلک: د مالکیانو په نزد په اودس او غسل دواړو کښې دلک یعني امرار اليد على الاعضاء واجب دي علامه دسوقی مالکیرحمه الله د الشرح الکبیر په حاشیه کښې لیکی چه د غسل تحقق بغیر د دلک یعنی امرار اليد نه کیدي نه شی، د هغوی د کلام نه معلومیږی چه : وه خیزونه بیل بیل دی اوبه بهیول او غسل، بغیر د امرار اليد نه غسل نه شي وئیلي کیدي بلکه هغه افاضة الماء دي او مامور به په اودس کښې غسل دي نه افاضة الماء، پس که د

هغوی په نزد چا په نهر یا حوض کښې اولامبل او دلک ئې اونکړو نو طهارت به ورته نه حاصلیږي، په خلاف د ائمه ثلاثه چه د هغوی په نزد به حاصل شی.

ابن عبد البر رحمه الله په کتاب الکافی کښې هم دا قول د امام مالک رحمه الله مشهور مذهب لیکلې دې، او بل قول هغوی د امام مالک رحمه الله دا لیکلې دې چه که یو سړې په اوبو کښې اولامبی او تر ډیر وخته پورې په هغې کښې ولاړ وی نو دا به هم کافی شی اگرچه امرار الید علی الجسد بیا نه موندلې شی.

د ائمة اربعه په نزد د فرائض وضوء تعداد:

صاوی په حاشیة د جلالین کښې د آیت وضوء د لاندې لیکلې دی چه فرائض د اودس د احنافو په نزد صرف څلور دی کوم چه په آیت وضوء کښې ذکر شوې دی یعنی غسل اعضاء ثلاثه او مسح راس، او د شوافعو په نزد فرائض د اودس شپږ دی، څلور خو هم هغه فرائض قرآنیه (یعنی کوم چه آیت وضوء کښې ذکر شوې دی) او دوه د هغې نه علاوه نیت او ترتیب، او د مالکیانو په نزد د اودس فرائض اووهٔ دی، څلور قرآنی، نیت، مولاة او دلک (صاوی) زه وائم چه د حنابله په نزد هم اووهٔ فرض دی د مالکیانو په شان، فرق دا دې چه د مالکیانو په نزد اووم څیز دلک دې، د حنابله په نزد ددې په ځائې ترتیب دې (کما فی زاد المستقنع للحنابلة)

[۱۲۲]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، وَيَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْطَاكِيُّ، لَفْظُهُ قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ حَرِيزِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ، فَلَمَّا بَلَغَ مَسْحَ رَأْسِهِ وَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى مُقَدَّمِ رَأْسِهِ فَأَمَرَّهُمَا حَتَّى بَلَغَ الْقَفَا ثُمَّ رَدَّهُمَا إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ"، قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ: أَخْبَرَنِي حَرِيزٌ.

ترجمه: مقدام بن معدیکرب وایې: ما رسول الله ﷺ ولیده چه اودس ئې اوکړو، هر کله چه د سر مسح کولو ته اورسیدو نو کېخودل ئې دواړه ورغوي په مخکښې حصه د سر، نو دواړه ئې راکش کړل پرې تردې چه څټ ته ورسیدو، بیا ئې واپس کړل هغې ځائې ته د کوم ځائې نه چه ئې شروع کړې وه، وئیلی دي محمود: هغه ویل: خبر راکړی دی ماته حریز.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ قوله فَلَمَّا بَلَغَ مَسْحَ رَأْسِهِ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ چه کله په اودس کولو کښې د سر مسح کولو ته اورسیدلو نو مسح ئې داسې اوکړه کومه چه وړاندې ذکر شوې ده، دلته لفظ مسح مصدر دې فعل ماضی نه دې او منصوب دې بناء بر مفعولیت، په دې جمله کښې د بنده په نزد دوه احتمالات دی، اول دا چه دا د صحابی راوی حدیث الفاظ دی، په دې صورت کښې به دا اصل روایت وی بغیر د اختصار نه، کوم چه مصنف رحمه الله پوره پوره ذکر کړو، دویم احتمال دا دې چه ددې جملې قائل مصنف رحمه الله دې یعنی مصنف رحمه الله فرمائی چه مقدام بن معدیکرب رضی الله عنه چه کله روایت بیانولو سره مسح راس ته اورسیدلو نو داسې ئې ذکر کړو ﴿وضع کفیه علی مقدم راسه﴾ ددې مطلب مقتضی دا ده چه مصنف رحمه الله د روایت په ذکر کولو کښې اختصار کړې دې، او د حدیث د شروع حصه ئې

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۲ (۴۴۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۷۲) (صحیح)

ترک کړه ځکه چه په دې کښې هیڅ نوې خبره نشته، او مصنف رحمه الله په دې روایاتو کښې صرف هم دا زیادات بیانول غواړی کوم چه د شروع په روایات مفصله کښې نشته، باقی احتمال اول راجح دې د مراجعت الی الکتب نه هم دا معلومیږی.

قوله: ﴿ وَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى مُقَدَّمِ رَأْسِهِ فَأَمَرَّهُمَا حَتَّى بَلَغَ الْقَفَا ﴾ هم دغه شان لفظ وړاندې تلو سره د جد طلحه په روایت کښې هم راروان دې، چه دهغې الفاظ داسې دی ﴿ یمسح رأسه مرة واحدة حتى بلغ القذال وهو اول القفاء ﴾

مسح رقبة کښې اختلاف ائمة:

په دې لفظ سره بعض علماء کرامو په مسح الرقبة باندې استدلال کړې دې کوم چه مختلف فیه مسئله ده، پس ابن قدامة په مغنی کښې هم ددې حدیث نه استدلال کولو سره مسح رقبه لره مستحب لیکلې دې کوم چه د امام احمد رحمه الله روایت دې او د احنافو په کتابونو کښې مسح رقبة لره په مستحباتو او اداب وضوء کښې شمار کړې دې، او د امام شافعی رحمه الله قول قدیم هم دا دې خو امام نووی رحمه الله لیکلې دی چه مسح رقبه بدعت دې لم یثبت عن الشافعی، نورو علماء کرامو د امام نووی رحمه الله تعاقب کولو سره وئیلې دی چه د هغوی دا خبره صحیح نه ده، ځکه چه بغوی او رویانی کوم چه د ائمه شافعیه نه دې، هغوی ددې د استحباب قائل دی، البته ﴿ مسح الرقبة امان من الغل یوم القیامة ﴾ حدیث ضعیف دې او امام نووی رحمه الله دې ته موضوعی وئیلې دې، په دې مسئله باندې د مولانا عبدالحی رحمه الله لکهنوی یو مستقل رسالة تحفة الطلبة فی مسح الرقبة په نوم باندې ده، خو د مسح الحلقوم څوک هم قائل نه دې حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی لکه څنګه چه په منهل کښې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په مسح د عنق کښې قطعا څه حدیث نه دې ثابت.

[۳۳]( ) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، وَهِشَامُ بْنُ خَالِدٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ، قَالَ: وَمَسَحَ بِأُذُنَيْهِ ظَاهِرِهِمَا وَبَاطِنِهِمَا، زَادَ هِشَامٌ: وَأَدْخَلَ أَصَابِعَهُ فِي صِمَاخِ أُذُنَيْهِ.

ترجمه: بیان کړی دی ولید په دې سند سره، هغه وائی: مسح ئې کړل دواړه غوږونه ظاهر او باطن د دواړو. زیادت کړی دی هشام: داخل ئې کړې ګوتې خپلې په سورو د غوږونو کښې.

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا محمود بن خالد ﴾ دا د مقدام بن معدیکرب د حدیث یو بل طریق دې، دا مصنف رحمه الله په دې وجه راوړې دې چه په دې کښې یو نوې څیز دا دې ﴿ وَأَدْخَلَ أَصَابِعَهُ فِي صِمَاخِ أُذُنَيْهِ ﴾ اصابع لفظ اګرچه جمع ده خو ددې نه مافوق الواحد مراد دې، پس د ربیع بنت معوذ په روایت کښې وړاندې راروان دی ﴿ فادخل اصابعه فی جحری اذنیه ﴾ او د اصبعین نه مراد سباحتین دی لکه چه باب الوضوء ثلاثا ثلاثا کښې راځی، حاصل دا چه د ظاهر اذنین مسح په ابهامین سره او د باطن اذنین مسح په سباحتین سره کیدل پکار دی دلته یو څیز بل دې کوم چه فهقاء کرام بیل ذکر کوی هغه دا چه یو خو باطن اذنین دې،

( ): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۷۲) (صحیح)

دويم صماخ اذنين، د شروح حديث نه خو په دې دوارو کښې هيڅ فرق نشته، پس د ربيع رضي الله عنها په روايت کښې د ﴿ فادخل اصبعيه في جحرى اذنيه ﴾ شرح حضرت په بذل کښې د اصبعين تفسير سباحتين او د جحرين تفسير صماخين سره فرمائيلې ده. او د بعض فقهاء کرامو د کلام نه معلوميږي چه د باطن اذنين مسح سباحتين سره، او صماخ اذنين کښې دې خنصر داخل کړې شي.

[۱۲۴]() حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَزْهَرِ الْمُغِيرَةُ بْنُ فَرْوَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ أَبِي مَالِكٍ، "أَنَّ مُعَاوِيَةَ تَوَضَّأَ لِلنَّاسِ كَمَا رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ، فَلَمَّا بَلَغَ رَأْسَهُ، غَرَفَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَتَلَقَّاهَا بِشِمَالِهِ حَتَّى وَضَعَهَا عَلَى وَسَطِ رَأْسِهِ حَتَّى قَطَرَ الْمَاءُ أَوْ كَادَ يَقْطُرُ، ثُمَّ مَسَحَ مِنْ مُقَدَّمِهِ إِلَى مُؤَخَّرِهِ وَمِنْ مُؤَخَّرِهِ إِلَى مُقَدَّمِهِ".

ترجمه: يقيناً معاويه اودس اوکړو خلقو ته لکه څرنګه ئې چه رسول الله ﷺ ليدلی وو اودس ئې کولو، هرکله چه سر ته ورسيدو نو يوه لپه ئې واخسته د اوبو، نو ملګرې کړو ورسره چپ لاس، تردې چه کېخودلې په مينځ د سر، تردې چه اوبه اوبهيدې، او يا نزدې وې چه اوبهيږي، بيا ئې مسح اوکړه د مخې نه وروسته ته، او د وروسته نه مخې ته.

۵: مسانيد معاوية:

﴿ حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الخ قوله فَلَمَّا بَلَغَ رَأْسَهُ غَرَفَ غَرْفَةً ﴾ دا ددې باب د پنځم صحابى سيدنا معاويه رضي الله عنه حديث دې، يعنې معاويه رضي الله عنه چه به کله اودس کولو سره د سر مسح کولو ته اورسيدلو نو هغوى داسې اوکړل چه په ښى لاس کښې ئې يو لپه اوبه واخستلې او بيا ئې هغه اوبه په ښى لاس کښې واخستلې او بيا ئې هغه اوبه د سر په مينځ باندې واچولې، تر دې چه يو څاڅکې دوه څاڅکې اوبه ترې نه سېيدلو ته نزدې شو، بيا ئې په دې اوبو سره د ټول سر بالاستيعاب مسح اوکړه، ظاهره دا ده چه دا په دې حديث کښې يو نوې خبره راغله، په لپه کښې اوب اخستل د غسل دپاره وې نه د مسح دپاره.

د حديث تشريح او مسئله اجزاء الغسل عن المسح باندې کلام:

حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل کښې ليکې چه په دې سلسله کښې شارحينو هيڅ نه دى ليکلې خو د حضرت ګنګوهى په تقرير کښې دا خبره ملاويږي چه غالبا رسول الله ﷺ کله کله داسې په دې وجه کړې دى چه معلومه شى چه غسل د مسح قائم مقام کيدې شى که به څانې د مسح غسل اوکړې شى نو هغه جائز دې او ددې عکس يعنى مسح د غسل قائم مقام نه شى کيدې، پس فقهاء کرامو هم ليکلې دى چه که د چا په سر باندې د باران اوبه پريوځى نو د سر د مسح دپاره کافى دى که روستو په سر باندې لاس راکاږى او که نه، حضرت شيخ رحمه الله په حاشيه د بذل کښې د ابن قدامه حنبلى رحمه الله نه نقل کړې دى چه د حنابله په نزد په دې مسئله يعنى اجزاء الغسل عن المسح کښې دواړه روايتونه دى جواز او عدم جواز خو د

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٤٤٢) (صحيح)

عدم جواز روایت په دې صورت کښې دې چه کله امرار الید او نه موندلې شي، او که امرار الید اوموندلې شو نو بیا غسل کافي دې او ابن رسلان د امام الحرمین نه د شوافعو مسلک دا نقل کړې دې چه د هغوی په نزد د مسح په ځائې غسل معتبر دې ﴿لان الغسل فوق المسح﴾ خو د هغوی په نزد د کراهت او عدم کراهت دواړه روایتونه دی خو اصح عدم کراهت دې

یو ناآشنا تحقیق

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه په دې حدیث کښې دی ﴿فتلقاها بشماله﴾ یعنې په ښي لاس کښې ئې چه کومې اوبه اخستې وې هغه ئې بیا په ګس لاس کښې واخستلې ددې په باره کښې په بذل کښې هیڅ نه دی لیکلې شوي، خو د حضرت ګنګوهي ﷫ په تقریر کښې دی ﴿لئلا یذهب الماء﴾ د حضرت ددې توجیه حاصل دا دې چه اوبو لره په ګس لاس باندې اولېه کول مراد نه دی بلکه مطلب دا دې چه په ښي لاس کښې اوبه اخستلو سره هغه په سر باندې اچولو دپاره ئې ګس لاس هم شامل کړو چه اوبه ضائع نه شي، دا هر څه چه لیکلې شوي دی دا د شارحینو رائې ده زما په فهم کښې دا راځي چه دلته د غسل راس تحقق نشته لکه چه دا ټول حضرات فرمائي ځکه د رسول الله ﷺ عادت شریفه د اتخاذ شعر وو هغوی ذوجمه وو بله دا چه رسول الله ﷺ به په خپل سر مبارک کښې تیل هم په کثرت سره استعمالول، نو اوس ښکاره ده چه د غوړو وېښتو په یو لپه اوبو سره څنګه غسل کیدې شي. بلکه زما په نزد یوه لپه اوبه هم پوره نه وې ځکه چه د ښي لاس نه ئې چه کله اوبه ګس لاس ته منتقل کړې نو ظاهره ده چه په دې انتقال کښې به هغه اوبه د یو لپې په مقدار هم نه وی پاتې شوې بلکه کیدې شي چه دا تقلیب الماء د تقلیل الماء دپاره وی، ځکه چه د سر وېنځل خو مقصود نه وو په دې وجه د اوبو د کمولو دپاره اوبه د ښي لاس نه ګس لاس ته منتقل کړې شوې. هذا ما عندی.

[۱۳۵]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، بِهَذَا الإِسْنَادِ، قَالَ: فَتَوَضَّأَ ثَلاَثًا ثَلاَثًا، وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ بِغَيْرِ عَدَدٍ.

ترجمه: ولید وائي اودس ئې اوکړو درې درې ځله او ونې وېنځلې دواړه خپې په غیر د عدد نه

تشریح: قوله: ﴿وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ بِغَيْرِ عَدَدٍ﴾ دلته جار مجرور یعنې ﴿بغیر عدد﴾ د غسل سره متعلق نه دې ګڼلې بیا خو به مطلب دا وی چه خپې ئې وېنځلې بیشماره ځله، حال دا چه دا خبره مراد نه ده، بلکه دا جار مجرور د قال سره متعلق دې یعنې راوی ﴿غسل رجلیه﴾ مطلقا ونیلې دی بغیر د ذکر د عدد نه. د غسل رجلین نه پس ئې عدد ذکر نه کړو، په خلاف د نورو اندامونو چه په دې کښې ئې ثلاثا ثلاثا اووې، نو دا مطلب شو ددې جملې، باقي په دې مسئله کښې اختلاف مخکښې ذکر شوې دې چه د مالکیه په نزد یو روایت غسل رجلین کښې د تثلیث قید نشته، دا د هغوی دلیل کیدې شي

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۴۳) (صحیح)

[۱۲۶]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينَا، فَحَدَّثَتْنَا أَنَّهُ قَالَ: اسْكُبِي لِي وَضُوءًا، فَذَكَرَتْ وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ فِيهِ: "فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا، وَوَضَّأَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مَرَّةً، وَوَضَّأَ يَدَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّتَيْنِ بِمُؤَخَّرِ رَأْسِهِ ثُمَّ بِمُقَدَّمِهِ وَبِأُذُنَيْهِ كِلْتَيْهِمَا ظُهُورِهِمَا وَبُطُونِهِمَا، وَوَضَّأَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا مَعْنَى حَدِيثِ مُسَدَّدٍ.

ترجمه: د ربيع نه روايت دې هغه وائي: وو رسول الله ﷺ چه موږ ته به راتلو، نو بيان اوکړو تا موږ ته بېشکه هغه به ويل: واچوه زما لپاره اوبه د اودس، نو ذکر ئې کړو اودس د رسول الله ﷺ وئې وئيل په هغې کښې چه: اوئې وينځل دواړه لاسونه درې ځل، او وئې وينځه مخ درې ځل، او مضمضه او استنشاق ئې اوکړو يو ځل، او لاسونه ئې وينځل درې درې ځل، او مسح ئې اوکړه په سر باندې دوه ځل په وروستي حصه د سر، بيا په مخکني حصه د سر بيا ئې مسح اوکړه د دواړو غوږونو په ظاهر او باطن باندې، او وئې وينځلې خپې درې درې ځله. وئيلي دي ابوداود: او دا معنی د حديث د مسدد ده.

مسانيد رُبَيِّع بِنْت مُعَوِّذ ابْنِ عَفْرَاء رضي الله عنها:

﴿ حدثنا مسدد الخ قوله — عَنْ رُبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ ﴾ ددې ځائې نه مصنف رحمه الله د ربيع بنت معوذ بن عفراء رضي الله عنها روايات بيانوی.

د ربيع رضي الله عنها د نيا عفراء بعض حالات :

ځان پوهه کړه چه د ربيع رضي الله عنها والد ماجد معوذ رضي الله عنه هم صحابي دې او عفراء رضي الله عنها د معوذ د مور نوم دې دا نسبت الى الام دې دا هم صحابيه ده او د معوذ د پلار نوم حارث بن رفاعه دې، معوذ رضي الله عنه مشهور صحابي دې په قاتلين ابوجهل کښې د دوی شمار کيږي، په جنګ بدر کښې شهيد شو د هغوی بل رور د چا نوم چه معاذ رضي الله عنه دې هغوی هم په قتل ابوجهل کښې د خپل رور سره شريک وو، دا عفراء رضي الله عنها ډيره مبارکه زنانه ده، په بذل کښې ليکلي شوي دي چه دا اول د حارث بن رفاعه په نکاح کښې وه، د حارث نه دهغې درې ځامن پيدا شو، معاذ، معوذ او عوف، بيا د حارث نه پس هغې د بکير بن ياليل سره واده اوکړو نو څلور هلکان ئې د هغه نه پيدا شو، اياس، عاقل، خالد، عامر ټول اووه ځامن شو ليکلي ئې دی چه دا اووه واړه په جنګ بدر کښې شريک شوي دی، دا خصوصيت بل يو صحابي يا صحابيه ته هم نه دې حاصل شوې د معوذ او عفراء رضي الله عنهما متعلق دا ټولې خبرې او حالات ضمنا راغلل، په دې حديث کښې ددې دواړو هيڅ دخل نشته، دې حديث لره روايت کونکې خو ربيع صحابيه رضي الله عنها ده.

زما والد صاحب رحمه الله به فرمائيل چه يو ځل حضرت جي مولانا محمد الياس رحمه الله زما نوم عاقل اوريدلو سره فرمائيلي وو چه عاقل خه وی، عقيل کيدل پکار دی، په ظاهر د

(): سنن الترمذي/الطهارة ٣٣ (٤٣) (بقوله في الباب)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٩ (٣٩٠)، ٥٢ (٤٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٦٠) (حسن)

حضرت منشاء دا وه چه عقيل خو د صحابي نوم دي كوم چه د سيدنا على ﷺ رور وو، نو د صحابي په نوم باندې نوم كيخودل پكار دى، كيدې شي چه د حضرت په ذهن كښې نه وه چه عاقل هم د يو صحابي نوم دې، عاقل بن بكير بن ياليل ﷺ او كه نسبت الى الام اوكړې شي نو عاقل بن عفراء ﷺ.

د ربيع ﷺ په حديث كښې دوه خبرې خلاف معهود دى، پس د مضمضه او استنشاق ذكر د غسل وجه نه پس دې ﴿ مسح براسه مرتين ﴾ بله دا چه د سر مسح د شاته طرف نه ذكر شوې ده، په دې باندې موږ كلام د عبدالله بن زيد بن عاصم ﷺ په روايت كښې كړې دې دلته دهغې د اعادې ضرورت نشته

[۲۷]() حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ عَقِيلٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، يُغَيِّرُ بَعْضَ مَعَانِي بِشْرٍ، قَالَ فِيهِ: وَتَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا.

ترجمه: ابن عقيل دا حديث روايت كړې دى، چه تغير ئې وركړې دې بعضې معانيو دحديث د بشر ته، په هغې كښې دى چه مضمضه ئې اوكړه او استنثار ئې اوكړو درې خله

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الخ – يُغَيِّرُ بَعْضَ مَعَانِي بِشْرٍ ﴾ د ﴿ يغير ﴾ ضمير د سفيان طرف ته راجع دې، يعنى سفيان د حديث په مضمون كښې لږ شان تغير پيدا كړو، بعينه هم هغه مضمون ئې ذكر نه كړو كوم چه بشر ذكر كړې وو، حديث د ربيع ﷺ مصنف ﷺ په متعدد طرق سره ذكر كړې دې او د ټولو مدار په عبدالله بن محمد بن عقيل باندې دې، پس په اول سند كښې د هغوى شاګرد بشر بن المفضل وو، او په دې دويم سند كښې سفيان دې، او وړاندې په دريم سند كښې ئې شاګرد ابن عجلان راخى، د مصنف ﷺ غرض د ابن عقيل د شاګردانو په رواياتو كښې چه كوم فرق دې هغه بيانول دى

[۲۸]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ عِنْدَهَا، فَمَسَحَ الرَّأْسَ كُلَّهُ مِنْ قَرْنِ الشَّعْرِ كُلِّ نَاحِيَةٍ لِمُنْصَبِّ الشَّعْرِ لَا يُحَرِّكُ الشَّعْرَ عَنْ هَيْئَتِهِ".

ترجمه: د ربيع نه روايت دې، بيشكه رسول الله ﷺ اودس اوكړو دهغې سره نو مسح ئې كړو سر ټول، د بره سر نه د هر طرف نه، د لاندې د سر پورې، چه نه به ئې خوزول ويخته د خپل هيئت نه

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الخ – قوله فَمَسَحَ الرَّأْسَ كُلَّهُ مِنْ قَرْنِ الشَّعْرِ ﴾ دا په حديث د ربيع كښې د ابن عجلان طريق دې په دې كښې د مسح راس يو نوې شكل ذكر شوې دې، د سيدنا عثمان ﷺ د حديث د لاندې د مسح راس مباحث اربعه په ضمن كښې موږ ددې حديث حواله وركړې ده.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۳۷) (شاذ)
[2]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۸٤۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۹/٦، ۳٦۰) (حسن)

د الفاظ متن شرح او د هغې حل:

دلته نسخې مختلف دي، زمونږ په نسخه کښې دي ﴿ من قرن الشعر ﴾ او په يو نسخه کښې دي ﴿ من فرق الشعر ﴾ او په يو کښې دي ﴿ من فوق الشعر ﴾ په دې کښې زياته صحيح د قرن او فرق نسخه معلوميږي، او مطلب دا دې چه د مسح راس ابتداء د سر د مينځ نه لکه چه د باب په شروع کښې تير شوې دي چه دا د حسن بصري رحمه الله مذهب دې چه د مسح راس ابتدا، دې د وسط راس نه اوکړې شي ﴿ لمنصب الشعر ﴾ کښې لام د الى په معنى دې ﴿ اى الى منصب الشعر ﴾ او منصب په معنى د محل انصاب، د انصاب معنى ښکته کيدل يعنى د سر د کومې حصې د ويښتو رخ چه کوم طرف ته وو په هم هغه طرف ئې د هغه حصې مسح اوکړه، چه د سر د مسح په وجه باندې وران او منتشر نه شي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه يو سړي تپوس اوکړو چه زنانه او هغه سړې د چا چه ويښته اوږدهٔ وى هغه به مسح څنګه کوى؟ نو هغوى اوفرمائيل چه که غواړى نو دغه شان دې کوى څنګه چه د ربيع بنت معوذ رضي الله عنها په روايت کښې راغلى دى، بهر حال د مسح طريقه دا طريقه جائز ده، او په ظاهر کښې د بيان جواز دپاره رسول الله ﷺ داسې کړې دى، اصل کښې زمونږ په دين او شريعت کښې ډير سهولتونه دى، خو هم هغه سهولتونه اختيار کيدلې شى کوم چه منقول او ثابت دى د خپل طرف نه نهٔ.

[۲۹]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ يَعْنِي ابْنَ مُضَرَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، أَنَّ رُبَيِّعَ بِنْتَ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ أَخْبَرَتْهُ، قَالَتْ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ، قَالَتْ: فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَمَسَحَ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَاحِدَةً".

ترجمه: ربيع بنت عفراء وايي: ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه اودس ئې کولو، هغې اووئيل مسح ئې اوکړه د سر او مسح ئې اوکړه د مخکښنې حصې او د وروستنى حصې، او د څنړو او د غوږونو يو ځل

تشريح: قوله ﴿ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ﴾ د صدغ دوه تفسيرونه کړې شوې دى. يو ﴿ مابين الاذنين والعين﴾ څه ته چه د غوږونو پوستکئ وائى، او دويم تفسير ددې ﴿ ما بين الاذن والناصية ﴾ يعنى د سر هغه حصه کومه چه د غوږ او تندى ترمينځه ده، د معنى اول په اعتبار سره صدغ په حد د وجه کښې داخله ده، او د معنى ثانى په اعتبار سره د حد وجه نه خارج او حد راس کښې داخل ده، بلکه دا چه د صدغ اطلاق په هغه ويښتو باندې هم کيږى کوم چه په هغه ځائې باندې راشى يعنى زلفې، د صدغين مسح رسول الله ﷺ د تکميل راس او د راس د استيعاب دپاره اوفرمائيله

(): سنن الترمذي/الطهارة ٢٦ (٣٤) (تحفة الأشراف: ١٥٨٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٥٩) (حسن)

[۳۰]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ بِرَأْسِهِ مِنْ فَضْلِ مَاءٍ كَانَ فِي يَدِهِ".

ترجمه: د ربيع نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ مسح اوكړه په سر باندې د زياتي هغې اوبو نه چه د ده په لاس كښې وې

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ – قوله مَسَحَ بِرَأْسِهِ مِنْ فَضْلِ مَاءٍ كَانَ فِي يَدِهِ ﴾ په دې باندې بحث د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه په حديث كښې تير شوې دې، چرته چه دا راغلي وو ﴿ ومسح راسه بماء غير فضل يديه ﴾

[۳۱]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ، فَأَدْخَلَ إِصْبَعَيْهِ فِي جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ".

ترجمه: د ربيع نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ اودس اوكړو، نو دواړه ګوتې ئې په سوړو د غوږونو كښې داخل كړې.

[۳۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ رَأْسَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً حَتَّى بَلَغَ الْقَذَالَ وَهُوَ أَوَّلُ الْقَفَا"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: مَسَحَ رَأْسَهُ مِنْ مُقَدَّمِهِ إِلَى مُؤَخَّرِهِ حَتَّى أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ أُذُنَيْهِ، قَالَ مُسَدَّدٌ: فَحَدَّثْتُ بِهِ يَحْيَى فَأَنْكَرَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ يَقُولُ: إِنَّ ابْنَ عُيَيْنَةَ زَعَمُوا أَنَّهُ كَانَ يُنْكِرُهُ وَيَقُولُ: إِيشْ هَذَا طَلْحَةُ؟ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ.

ترجمه: نيكه د طلحه وايي: چه ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه مسح ئې كړو سر يو ځل تردې چه د څټ اول سر ته ورسيدو او وئيلي دي مسدد: مسح ئې كړو سره د مخې نه تر اخير پورې تر دې چه لاسونه ئې د غوږونو د لاندې حصې نه ويستل. وئيلي دي مسدد: ما بيان اوكړو ددې يحيى ته نو هغه انكار اوكړو. وئيلي دي ابوداود: ما اوريدلي دي د احمد نه چه هغه ويل بيشكه دوى ګمان كړى دى چه ابن عيينه ناشنا به ئې ګڼرلو، او وئيل به ئې څه شي؟ طلحه عن ابيه عند جده

مسند جد طلحه

قوله ﴿ عَنْ جَدِّهٖ ﴾ دا د اووم صحابي جد طلحه رضي الله عنه حديث شروع كيږي. دا روايت سندا ضعيف دې ځكه چه ليث بن ابى سليم ضعيف دې، د طلحه بن مصرف پلار د چا نه چه هغه روايت كوى وئيلې شوې دى چه هغه مجهول دې په ﴿ عن جده ﴾ كښې ضمير د طلحه طرف ته راجع دې، د جد طلحه په نوم كښې اختلاف دې، وئيلې شوې دى كعب بن عمرو وقيل

(): انظر حديث رقم (١٢٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٤١) (حسن)

(): انظر حديث رقم (١٢٦) وراجع: سنن الترمذي/ الطهارة ٥٢ (٣٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٥٢ (٤٤١)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٣٩) (حسن)

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١١١٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٨١/٣) (ضعيف)

عمرو بن کعب او بعض علماء کرام د هغوی په صحابی کیدو کښي کلام کوی.

قوله :﴿ حَتَّى بَلَغَ الْقَذَالَ - وَهُوَ أَوَّلُ الْقَفَا ﴾ ددي نه بعض علماء کرامو د مسح رقبه په استحباب باندي استدلال کړي دي لکه څنګه چه په دي باندي تفصیلی کلام د مقدام بن معدیکرب په حدیث ۴ کښي تیر شوي دي

قوله :﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ يَقُولُ الخ ﴾ په دي حدیث باندي چه کوم کلام دي هغه مصنف رحمه الله بیان فرمائی. دلته چه کومه جمله ده په هغي کښي د ترکیب نحوی په اعتبار سره اغلاق دي، یا دا اووایه چه په دي کښي تعقید لفظی دي چه دهغي وجه دا ده چه په کلام کښي تقدم او تاخر دي، اصل عبارت داسي کیدل پکار دی ﴿ قَالَ أَحْمَدُ زَعَمُوا أَنَّ ابْنَ عُيَيْنَةَ كَانَ يُنْكِرُهُ ﴾ امام احمد رحمه الله فرمائی چه علماء کرام داسي وائی چه سفیان بن عیینه رحمه الله به ددي حدیث انکار کولو ﴿ وَيَقُولُ أَيْشٍ هَذَا ﴾ دا لفظ د ای شئ مخفف دي، سفیان بن عیینه رحمه الله چه په دي حدیث باندي کوم کلام کړي دي دا دهغي بیان دي ﴿ أَيْشٍ هَذَا ﴾ په هذا کښي اشاره ده د سند دهغي تکړي طرف ته کومه چه څېله په عبارت کښي ذکر شوي ده ﴿طلحة بن مصرف عن ابیه عن جده ﴾ ګویا د ابن عیینه رحمه الله اشکال په دي سند باندي دي، اوس چه کوم حدیث هم په دي سند باندي روایت کړي شي په هغي باندي به اشکال وی، د اشکال سبب په دي سند کښي څه دي؟ په شرح کښي لیکلي دی چه هغه د طلحه د پلار مجهول کیدل دی لکه چه مونږ مخکښي دا خبره کړي ده چه د طلحه پلار مجهول دي، او یو وجه دا هم کیدي شي چه سفیان بن عیینه ته د جد طلحه په صحابی کیدو کښي تردد دي، ددي نه پس مصنف رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث ذکر کړي دي چه په هغي کښي څه نوی خبره نشته

[۳۳](1) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ كُلَّهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، قَالَ: وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ مَسْحَةً وَاحِدَةً".

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي، هغه ولیده رسول الله صلی الله علیه وسلم چه اودس ئي کولو، نو پوره حدیث ئي ذکر کړو، ټول دري دري ځله، هغه وائي مسح ئي اوکړه د سر او د غوږونو یو ځل

[۳۴](2) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَقُتَيْبَةُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سِنَانِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَذَكَرَ وُضُوءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ، قَالَ: وَقَالَ: الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ"، قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ: يَقُولُهَا أَبُو أُمَامَةَ، قَالَ

---

(1): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۵۵۷۹)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ۲۸ (۳۶)، ۳۲ (۴۲)، سنن النسائي/الطهارة ۸۴ (۱۰۱)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۴۳ (۴۰۴)، ۵۲ (۴۳۹) (ضعیف جدا)

(2): سنن الترمذي/الطهارة ۲۹ (۳۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۳ (۴۴۴)، (تحفة الأشراف: ۴۸۸۷)، وقد أخرجه: حم (۵/۲۵۸، ۲۶۴) (ضعیف)

قُتَيْبَةُ: قَالَ حَمَّادٌ: لَا أَدْرِي هُوَمِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْمِنْ أَبِي أُمَامَةَ يَعْنِي قِصَّةَ الْأُذُنَيْنِ. قَالَ قُتَيْبَةُ: عَنْ سِنَانٍ أَبِي رَبِيعَةَ، قَالَ أَبُودَاوُد: وَهُوَابْنُ رَبِيعَةَ كُنْيَتُهُ أَبُورَبِيعَةَ.

ترجمه: د ابو امامه نه روايت دې، هغه ذکر کړو اودس د نبي ﷺ، هغه اوونيل: وو رسول الله ﷺ چه مسح کول به ئې د سترګو ګوټونه، هغه وائي: چه وئيلی دی رسول الله ﷺ: غوږونه د سر نه دي. وئيلی دي سليمان بن حرب: وئيل به هم دا ابو امامه، وئيلی دي قتيبة وئيلی دي حماد، زه نه پوهيږم چه هغه د قول د نبي ﷺ دی او که د ابو امامة دی، يعني خبره د اذنينو، وئيلی دي قتيبة د سنان ابي ربيعة نه، وئيلی دي ابوداود: او هغه ابن ربيعه دی او کنيه ئې ابو ربيعه ده.

مسند ابو امامة:

قوله :﴿ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﴾ دا ددې باب آخری حديث دې چه دهغې راوی ابو امامه ﷺ دې په دې کښې اختلاف دې چه دا ابوأمامه کوم يو دې؟ ځکه چه ابو امامه دوه دی يو خو ابو امامه الباهلی د چا نوم چه صدی بن عجلان دې کوم چه بالاتفاق صحابی دې بل ابوامامه الانصاری د چا نوم چه سعد بن حنيف دې، د دوی صحابی کيدل مختلف فيه دی، بعض ورته تابعی وائی او بعض صحابی، دا حديث په مشکوة شريف کښې هم دې، او د مشکوة په آخر کښې د الاکمال په نوم باندې يو رساله ملحق ده کوم چه د صاحب مشکوة تصنيف دې، په هغې کښې هغوی په مشکوة کښې چه څومره راويان راغلی دی د ټولو مختصر حال ئې ذکر کړې دې، غرض دا چه صاحب مشکوة هغوی ته ابوامامة الانصاری وئيلي دي يعني سعد بن حنيف ملا علی قاری ﷺ د صاحب مشکوة د رائې ليکلو نه پس ليکلي دی چه کيدې شی ابوامامة الباهلی مراد وی، حضرت سهارنپوری ﷺ په بذل کښې ليکلي دی چه د امام احمد ﷺ په نزد دا ابوامامة الباهلی دې ځکه چه دا حديث هغوی په مسند احمد کښې د ابوامامة الباهلی په مسانيدو کښې ذکر فرمائيلي دی، حضرت دا هم ليکلي دی چه د تهذيب التهذيب او الاصابة د کتلو نه معلوميږی چه د حافظ ميلان هم دې طرفته دې کومه چه د امام احمد ﷺ رائې ده.

قوله ﴿ يَمْسَحُ الْمَأْقَيْنِ ﴾ دا په دې حديث کښې يوه نوې خبره راغله کومه چه تراوسه پورې په يو حديث کښې هم نه وه راغلي او د مسند احمد په روايت کښې دی ﴿يتعاهد الماقين﴾ ماق وئيلی شی د سترګې غاړې ته چه په هغې کښې اکثر خيرې جمع کيږی، هم په دې وجه رسول الله ﷺ به د مخ مبارک د وينځلو په وخت د سترګو ددې حصې تعاهد يعنې خبر هم اخستلو، هسې نه چه هلته اوبه او نه رسيږی، لهذا متوضی له پکار دی چه د مخ د وينځلو په وخت ددې خيال ساتی، سترګې دې په ښه طريقه اومږی.

هم ددې مشابه يو لفظ بل راځی يعنی ﴿ موق ﴾ پس په ﴿ باب المسح علی الخفين ﴾ کښې يو حديث راروان دې چه دهغې الفاظ دا دی ﴿ ويمسح علی عمامته وموقيه ﴾ دلته د موقين نه مراد خفين دی، موقين د خفين د يو نوع نوم دې.

دا حديث د احنافو مستدل دې او د شوافع خلاف دې :

﴿ قوله قَالَ وَقَالَ « الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ » ﴾ په دې کښې اختلاف دې چه ﴿ الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ ﴾ د چا قول دې د رسول الله ﷺ او که د صحابی ؓ؟ بعض علماء کرامو د قال اول د ضمير مرجع شهر بن حوشب ګرځولې ده او د قال ثانی مرجع ئې ابو امامه ؓ، په دې صورت کښې به دا مقوله وی د صحابی، او بعض علماء کرامو د قال اول مرجع ابو امامه ؓ او د قال ثانی مرجع رسول الله ﷺ منلې ده، په دې صورت کښې به دا جمله مرفوع وی، حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ليکلې دی چه د سنن ابن ماجه د روايت نه صفا معلوميږی چه دا د رسول الله ﷺ قول دې، زه وايم چه په دې کښې هيڅ شک نشته چه دا لفظ مرفوعا او موقوفا دواړو طريقو سره روايت شوې دې، او بعضې راويانو په وخت د روايت د تردد اظهار کړې دې لکه چه د ابوداؤد په روايت کښې دی، اوس به ترجيح چاته ورکولې شی په دې کښې علماء کرام مختلف دی، علامه عينی رحمه الله فرمائی د قاعدې خبره دا ده چه کله رفع او وقف کښې د راويانو اختلاف وی نو رفع ته ترجيح ورکول پکار دی ځکه چه د رافع سره زيادت د علم دې او هم دا رائې د ابن دقيق العيد او د حافظ منذری رحمه الله معلوميږی، خو د حافظ تحقيق دا دې چه دا لفظ مدرج دې پس هغوی په التلخيص الحبير کښې ليکی : وقد بينت انه مدرج... او هم دا رائې د امام دارقطنی او ابن العربی رحمه الله ده. لکه چه په حاشيه د بذل کښې دی، ځان پوهه کړه چه ددې حديث په بناء باندې احناف د مسح اذنين دپاره د تجديد ماء قائل نه دی او چونکه امام شافعی رحمه الله اذنين عضوين مستقلين منی او دهغې دپاره د تجديد ماء قائل دی هغوی ددې حديث دا جواب ورکوی چه دا جمله په دې حديث کښې مدرج ده مرفوعا ثابت نه ده، د هغوی د طرف نه ددې يو بله توجيه د مسح اذنين په مباحثو کښې مخکښې تيره شوې ده.

﴿ قوله قَالَ قُتَيْبَةُ عَنْ سِنَانٍ أَبِي رَبِيعَةَ ﴾ سنان په ترکيب کښې مبدل منه او ابی ربيعه د هغه نه بدل واقع دې، سنان د راوی نوم دې او ابو ربيعه کنيت دې، لهذا د سنان او ابو ربيعه دواړو مصداق يو سړې شو، بلکه دا چه د سنان د پلار نوم ربيعه دې لهذا هغوی ته سنان بن ربيعه وئيلې کيدې شی، د مصنف رحمه الله په دې سند کښې دوه استاذان دی، سليمان بن حرب او قتيبه بن سعيد، مصنف رحمه الله فرمائی چه زما استاذ سليمان په وخت د روايت (عن سنان بن ربيعه) اووئيلو، او قتيبه (عن سنان بن ربيعه) اووئيلو، په يو صورت کښې راوی سره د هغه د پلار نوم ذکر شو او په بل صورت کښې د پلار د نوم په ځائې د هغه خپل نوم او کنيت ذکر شو، لهذا په دواړو الفاظو کښې هيڅ تعارض نشته

باب صفة الوضوء...... پوره شو چه په هغې کښې تقريبا ټول مسائل د اودس سره د اختلافاتو راغلل، فالحمد لله علی ذلک.

بَابُ الْوُضُوءِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا

باب دې په بيان د اودس کښې درې درې ځل

مصنف رحمه الله دلته مسلسل درې بابونه قائم کړي دی اول باب ﴿ الوضوء ثلثا ﴾ دويم باب ﴿ الوضوء مرتين ﴾ او دريم باب ﴿ الوضوء مرة مرة ﴾ هم دغه شان درې بابونه امام ترمذي رحمه الله هم قائم کړي دی خو هغوی يو څلورم باب هم قائم کړې دې ﴿ باب في الوضوء مرة ومرتين وثلثا ﴾ يعنی درې واړه صورتونه ئې په يو ترجمه کښې جمع کړل، په دې باندې اشکال پيدا شو چه ددې څلورم باب نه کومه نوې خبره معلومه شوه، دا خو د اول دريو مجموعه شوه، ددې جواب دا دې چه د امام ترمذي رحمه الله غرض دا دې چه د خانله خانله مختلفو رواياتو نه په درې قسمه اودس ثابت دې، او په څلورم باب سره ئې دا ثابته کړه چه بعض روايات داسې هم دی چه په هغې کښې په يو وخت درې واړه صورتونه د يو حديث نه ثابت دی، پس ددې څلورم باب په ضمن کښې امام ترمذي رحمه الله هم دا قسم حديث راوړې دې، بيا يو پنځم باب هم هغوی قائم کړې دې باب في من توضاء بعض وضوئه مرتين وبعضه ثلثا يعنی په يو اودس کښې بعض اندامونه دوه کرته او بعض درې کرته وينځل ثابت دی.

[۱۳۵]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ الطُّهُورُ؟ "فَدَعَا بِمَاءٍ فِي إِنَاءٍ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ فَأَدْخَلَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّاحَتَيْنِ فِي أُذُنَيْهِ، وَمَسَحَ بِإِبْهَامَيْهِ عَلَى ظَاهِرِ أُذُنَيْهِ، وَبِالسَّبَّاحَتَيْنِ بَاطِنَ أُذُنَيْهِ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا الْوُضُوءُ، فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا أَوْ نَقَصَ، فَقَدْ أَسَاءَ وَظَلَمَ، أَوْ ظَلَمَ وَأَسَاءَ".

ترجمه: عمرو بن شعيب د خپل پلار نه روايت کوي او پلار ئې د خپل پلار نه کوي، چه بيشکه يو سړی راغلی نبي صلی الله عليه وسلم ته، وئې وئيل: اې د الله رسوله! د پاکۍ (اودس) طريقه څه ده؟ نو راوې غوښتلې اوبه په يو لوښي کښې نو دواړه ورغوي ئې وينځل درې ځله، بيا ئې مخ وينځلو درې ځل، بيا ئې دواړه څنګلې وينځلې درې ځل، بيا ئې مسح اوکړه په سر باندې، داخل ئې کړې دواړه سبابې ګوتې په غوږونو کښې، او مسح ئې اوکړه په غټو ګوتو ظاهر طرف د غوږونو، او په سبابو ګوتو باندې باطن د غوږونو، بيا ئې دواړه خپې درې درې ځل وينځلې، بيا ئې اووئيل: دارنګه دی اودس، چاچې زيات کړو په دې او يائې کم کړو نو بديې اوکړل او ظلم ئې اوکړو، او يائې ظلم اوکړو او بدئې اوکړه.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ - قوله عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ﴾ دا يو مشهور سند دې او په دې باندې چه کوم کلام دې هغه هم مشهور دې، سلسله د نسب داسې ده عمرو بن شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه، دا خو متعين ده چه د ﴿ ابيه ﴾ ضمير د

(): سنن النسائي/الطهارة ۱۰۵ (۱۴۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۴۸ (۴۲۲)، (تحفة الأشراف: ۸۸۰۹)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۲/۱۸۰) (حسن صحيح) (لكن قوله: "أو نقص" جملة شاذة).

عمرو طرف ته راجع دي. خو په ﴿ عن جده ﴾ كښې اختلاف دې چه ددې ضمير هم د عمرو طرف ته راجع دې يا كه د شعيب طرف ته؟ د جد عمرو نوم محمد دې او د جد شعيب نوم عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه دې محمد تابعي دې او عبدالله بن عمرو بن العاص مشهور صحابي دې. كه ضمير د عمرو طرف ته راجع اومنلې شي نو په دې صورت كښې به روايت مسند وى د صحابي د ذكر كيدو د وجې نه او مطلب به دا وى چه شعيب روايت كوى د خپل نيكهٔ عبدالله بن عمرو بن العاص نه بعض محدثين لكه ابن حبان او ابن عدى [۱] وغيره ته په دې سند باندې اشكال دې هغوى وائي چه دا سند په يو صورت كښې مرسل او په يو صورت كښې منقطع دې، منقطع په دې وجه چه د هغوى په نزد د شعيب سماع د خپل نيكهٔ نه ثابت نه دهٔ، خو اكثر محدثين لكه امام احمد بن حنبل رحمه الله، على بن مدينى رحمه الله، اسحق بن راهويه، امام بخارى رحمه الله او امام نووى رحمه الله دا سند حجت منى، او فرمائي چه د جده ضمير د شعيب طرف ته راجع دې، او د شعيب سماع د خپل نيكهٔ عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه ثابت ده، لهذا سند منقطع نه دې

د امام ترمذى رحمه الله په جامع ترمذى كښې د ثبوت سماع تصريح كړې ده [۲]، پس هغوى فرمائي ﴿ وشعيب قد سمع من جده عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ﴾ او امام ترمذى رحمه الله دا هم فرمائي ﴿ومن ضعفه فانما ضعفه من قبل انه يحدث من صحيفة جده ﴾ كومو خلقو چه د عمرو بن شعيب تضعيف كړې دې هغه په دې وجه نه چه هغه فى نفسه ضعيف دې بلكه تضعيف كونكى تضعيف په دې وجه كوى چه هغوى چه كوم حديث په دې سند سره بيانوى، يعنى ﴿ عن ابيه عن جده ﴾ هغه د قبيل وجاده نه دې يعنى هغوى د خپل نيكهٔ د صحيفې نه روايت كوى بغير د ثبوت سماع نه، خو جمهور دا وائي چه د هغوى د خپل نيكهٔ نه سماع ثابت ده، لهذا د صحيفې نه په نقل كولو كښې هيڅ اشكال نشته، اصل كښې خبره دا ده چه د وجاده په باره كښې مشهوره ده چه هغه از قبيل مرسل يعنى منقطع دې، خو چه كله ائمه فن د سماع د ثبوت تصريح كوى ﴿ فاين الانقطاع ﴾، دريم قول دلته د امام دارقطنى رحمه الله دې هغه دا چه كه په سند كښې د جده مصداق عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه صراحة مذكور وى لكه چه په بعض ځايونو كښې ذكر دى نو بيا خو دا سند معتبر دې كينې معتبر نه دې. لهذا ددې سند په باره كښې درې اقوال شو، يو قول د ابن عدى او ابن حبان او يحيى بن القطان وغيره چه حجت نه دې، او دويم قول د جمهور علماء كرامو چه په هغې كښې امام بخارى رحمه الله او د هغوى مشائخ دى چه مطلقا حجت دې، دريم قول د دارقطنى دې چه په يو صورت كښې حجت دې او په بل صورت كښې نه دې

[۱] هم دغه شان امام ترمذى رحمه الله د يحيى بن القطان نه نقل كړى دى چه هغوى هم دا سند حجت نه منى، او يحيى بن معين هم په دې دله كښې شامل دې، خو هغوى دا وائي چه عمرو بن شعيب خو فى نفسه ثقه دې، خو اشكال ددې سند په نقل كولو كښې دې

[۲] ترمذى ۸۲/۱ باب ما جاء فى زكوة مال اليتيم

د ابوداؤد په دې روايت باندې يو اشكال او د هغې جوابات:

﴿ قوله فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا أَوْ نَقَصَ الخ ﴾ په دې حديث باندې يو مشهور اشكال دې هغه دا چه نقص عن الثلاث په ډيرو احاديثو كښې د رسول الله ﷺ نه ثابت دې، خو دا چه زيادة على الثلث ثابت نه دې، نو كوم څيز چه د رسول الله ﷺ نه ثابت دې هغې ته اساءة او ظلم ولې وئيلې شوې دې

بله دا چه ددې حديث په بناء باندې ابوحامد اسفرائني رحمه الله د بعض علماء كرامو نه نقل كړې دى چه د هغوى په نزد نقص عن الثلاث ناجائز دې، او هم دغه شان دارمي د بعض علماء كرامو نه نقل كړى دى چه د هغوى په نزد اودس كښې دننه زيادة على الثلاث مبطل د اودس دې لكه چه زيادة فى الصلوة مفسد صلوة دې علامه زرقاني رحمه الله دا اختلاف په غرائب كښې شمار كړې دې

جواب اول: بهر حال ددې اشكال جواب دا دې چه په دې حديث كښې لفظ ﴿ نقص ﴾ ثابت نه دې وهم د راوى دې، پس دا حديث نسائي، ابن ماجه او مسند احمد كښې دې، په دې ټولو كتابونو كښې په دې حديث كښې لفظ د نقص نه دې ذكر شوې صرف لفظ زاد دې، اصل جواب خو دا دې

خو كه دا لفظ ثابت اومنلې شي نو ددې تاويل به دا كولې شي چه د نقص نه مراد نقص عن مرة واحدة دې، يعنې يو ځل ټې هم اندامونه په ښه طريقه باندې او نه وينځل په دې صورت كښې د نقص اساءة او ظلم كيدل ظاهر دى، دويم تاويل دا كيدې شى چه دلته د شرط په جانب كښې دوه څيزونه ذكر شوې دى زاد او نقص هم دغه شان د جزاء په طرف كښې دوه څيزونه ذكر شوې دى، اساءة او ظلم دَ اساءة تعلق د نقص سره دې او د ظلم تعلق د زاد سره دې په دې صورت كښې به اشكال نه واقع كيږى ځكه چه نقصان ته اسات او زيادت ته ظلم وئيلې شوې دې، يا داسې اووايه چه مجموعه په مجموعه باندې مرتب كيږى، هر يو ته بيل بيل ظلم نه دې وئيلې شوې، يو جواب دا دې چه ظلم كلى مشكك دې، د حرام نه واخله تر خلاف اولى پورې په ټولو باندې صادق راځي

بَابُ الْوُضُوءِ مَرَّتَيْنِ

باب دې په بيان د اودس كښې دوه ځل

[١٣٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا زَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَوْبَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْفَضْلِ الْهَاشِمِيُّ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ اودس اوكړو دوه دوه ځل

(): سنن الترمذي/الطهارة ٣٣ (٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٣٩٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٨٨، ٣٦٤) (حسن صحيح)

[۱۳۷]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا زَيْدٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: قَالَ لَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ: أَتُحِبُّونَ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ؟ "فَدَعَا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ، فَاغْتَرَفَ غَرْفَةً بِيَدِهِ الْيُمْنَى فَتَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ أَخَذَ أُخْرَى فَجَمَعَ بِهَا يَدَيْهِ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ، ثُمَّ أَخَذَ أُخْرَى فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُمْنَى ثُمَّ أَخَذَ أُخْرَى فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُسْرَى، ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنَ الْمَاءِ ثُمَّ نَفَضَ يَدَهُ ثُمَّ مَسَحَ بِهَا رَأْسَهُ وَأُذُنَيْهِ، ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً أُخْرَى مِنَ الْمَاءِ فَرَشَّ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنَى وَفِيهَا النَّعْلُ ثُمَّ مَسَحَهَا بِيَدَيْهِ يَدٍ فَوْقَ الْقَدَمِ وَيَدٍ تَحْتَ النَّعْلِ ثُمَّ صَنَعَ بِالْيُسْرَى مِثْلَ ذَلِكَ".

ترجمه: عطاء بن يسار نه روايت دي، اوونيل ماته ابن عباس ﷺ، ايا تاسو خوښوئ چه وښايم تاسو ته چه څنګه وو رسول الله ﷺ چه اودس ئي کولو؟ نو راوبي غوښتلو لوښي چه اوبه پکښي وي نو يوه لپه ئي راواخسته په ښي لاس باندي نو مضمضه ئي اوکړه او استنشاق ئي اوکړو، بيا ئي بله راواخسته نو دواړه لاسونه ئي يو ځائي کړل، بيا ئي يوه مخ لپه وينځلو، بيا ئي بله راواخسته نو وئي وينځلو په هغي ښي لاس، بيا ئي بله راواخسته نو وئي وينځلو په هغي ګس لاس، بيا ئي لپه راواخستو بل چونګ د اوبو، بيا ئي لاس وخنډلو، بيا ئي په هغي ښي سر او غوږونه مسح کړل، بيا ئي بل چونګ د اوبو راواخستو واچولي په ښي خپه باندي، او په هغي کښي پيزار وو بيا ئي مسح کړه په دواړو لاسونو يو لاس د خپي دپاسه او بل لاندي د پيزار نه، بيا ئي اوکړل په ګسه خپه باندي دهغي پشان

تشريح: ﴿حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الخ – قوله فَرَشَّ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنَى وَفِيهَا النَّعْلُ ثُمَّ مَسَحَهَا بِيَدَيْهِ يَدٍ فَوْقَ الْقَدَمِ وَيَدٍ تَحْتَ النَّعْلِ الخ﴾ يعنى ابن عباس ﷺ پيزار اغوستلي يو لپه اوبه په خپو باندي واچولي او د اوبو د اچولو نه پس ئي په لاسونو باندي خپي داسي اومږلي چه يو لاس ئي خو د خپي دپاسه وو او دويم لاس ئي د پيزار د لاندي وو، ددي قسم مضمون په باب صفة الوضوء کښي د سيدنا على ﷺ په حديث کښي تير شوي دي. او ددي توجيه هم هلته ذکر شوي ده

د حديث شرح او بيان مراد کښي اختلاف د اراء :

خو دلته يو نوي څيز کوم چه قابل اشکال راغلو هغه دا دي چه راوي وائي ﴿ يد فوق القدم ويد تحت النعل ﴾ چه يو لاس ئي د خپي دپاسه وو او دويم لاس ئي د پيزار د لاندي، دويم لاس که د خپي د لاندي وو نو بيا خو بالکل اشکال نه وو چه يو لپه اوبه ئي په خپه باندي واچولي او زر ئي خپه په دواړو لاسونو باندي لاندي باندي اومږله. خو چه کله دويم لاس د خپي په ځائي د پيزار د لاندي شي نو د خپي لاندي حصه به څنګه لونديږي؟

():صحيح البخاري/الوضوء ۷ (۱٤۰)، سنن الترمذي/الطهارة ۳۲ (٤۲)، سنن النسائي/الطهارة ٦٤ (۸۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٤۳ (٤۰۳)، ٤٥ (٤۱۱)، مسند احمد (۱/۲۳۳، ۲۳۲، ۲۳٦) سنن الدارمي/الطهارة ۲۹ (۷۲۳)، (تحفة الأشراف ۵۹۷۸) (حسن)

د دې اشکال شارحینو ډير جوابونه کړي دي،

(۱) **جواب**: د علامه شوکاني رحمه الله رائې دا ده چه په تحت النعل کښې د نعل نه مراد قدم دې، لهذا يو لاس په قدم دپاسه او دويم لاس د قدم نه ښکته وو.

(۲) **جواب**: علامه سيوطي رحمه الله دويم جواب اختيار کړو هغه دا چه په دې صورت کښې چه کوم روايت کښې مذکور دې د غسل قدم تحقق خو به نه وي، لهذا هغوی دا حديث په مسح على الخف باندې محمول کړې دې، يعنې اګرچه په دې حديث کښې د خف ذکر نشته خو نفي هم نشته.

(۳) **دريم جواب**: هغه دې کوم چه حضرت سهارنپوري اختيار فرمائيلي دې، هغه دا چه نه خو نعل کنايه ده د قدم نه لکه چه شوکاني وئيلي دي او نه مراد دلته مسح على الخف ده لکه چه سيوطي رحمه الله وئيلي دي، بلکه په حديث کښې غسل رجل مذکور دې، پاتې شوه دا خبره چه هر کله دويم لاس د خپې د لاندې نه دې بلکه د څپلې نه لاندې دې نو ددې به څه کيږي؟ حضرت فرمائي چه دويم لاس کوم چه د پيزار د لاندې وو هغه د حمل قدم او امساک قدم دپاره وو، يعنې ښې لاس د قدم دپاسه وو، او ګس لاس کوم چه د پيزار د لاندې وو دهغې په ذريعه ئې خپه سنبال کړې وه او هم هغه لاس کوم چه په شروع کښې په خپې دپاسه وو هم په هغه لاس باندې ئې پوره قدم د پورته نه لاندې اومږلو، د مږلو نه پس ښکاره ده چه د غسل تحقق به اوشي، يد فوق القدم مطلب دا نه دې چه هغه يو لاس بس په قدم دپاسه پاتې شو بلکه په شروع کښې پورته وو د خپې د پورته حصې نه چه فارغ شو نو بيا ئې ښکته طرف ته لاس راوړلو

خلاصه دا شوه چه يو لپه اوبه ئې په خپې باندې واچولې، او زر زر ئې په ښې لاس باندې خپه لاندې باندې اومږله په داسې طريقه چه په بل لاس باندې ئې خپه سره د پيزاره سنبال کړې وه، الحمد لله د حديث توجيه او وضاحت ښه اوشو ګينې په حقيقت کښې دا مقام من مزال الاقدام دې، بله دا چه حضرت دا هم ليکلي دي چه د نعل باوجود په غسل قدم کښې هيڅ اشکال نشته څکه چه دا نعل نعل عربي دې کوم چه د چپل په شکل کښې وي لاندې تلې او پورته پرې صرف دوه تسمې داسې اوګرځئ لکه نن صبا چه هوائي چپل وي، غرض دا چه بند پيزار مراد نه دې چه هغې سره د خپې وينځل تقريبا ناممکن دي، والله سبحانه وتعالى اعلم

بَابُ الْوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً

باب دې په بيان د اودس کښې يو يو خل وينځل

[۳۸] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِوُضُوءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَتَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً".

¹: صحيح البخاري/الوضوء ۲۲ (۱۵۷)، سنن الترمذي/الطهارة ۳۲ (۴۲)، سنن النسائي/الطهارة ۶۴ (۸۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۴۵ (۴۱۱) (تحفة الأشراف: ۵۹۷۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۳۳، ۳۳۲، ۳۳۶) (صحيح)

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې، هغه اوونیل: ایا زه خبر نه درکوم تاسو ته د اودس د رسول الله ﷺ؟، هغه اودس اوکړو یو یو ځل

بَابٌ فِي الْفَرْقِ بَيْنَ الْمَضْمَضَةِ وَالِاسْتِنْشَاقِ

باب دې په بیان د فرق کې په مابین د مضمضه او استنشاق کې

په دې مسئله کښې اختلاف او کلام په ﴿باب صفة الوضوء﴾ کښې تیر شوي دې، د مصنف رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د احنافو او حنابله تائید کیږی، په حدیث الباب کښې د فصل بین المضمضة والاستنشاق تصریح موجود ده.

[۱۳۹](۱) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، قَالَ: سَمِعْتُ لَيْثًا يَذْكُرُ، عَنْ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "دَخَلْتُ يَعْنِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ وَالْمَاءُ يَسِيلُ مِنْ وَجْهِهِ وَلِحْيَتِهِ عَلَى صَدْرِهِ، فَرَأَيْتُهُ يَفْصِلُ بَيْنَ الْمَضْمَضَةِ وَالِاسْتِنْشَاقِ".

ترجمه: د طلحه نه روایت دې ، هغه وائی: زه داخل شوم (یعني) په پیغمبر ﷺ او هغه اودس کولو ، او اوبه رواني وې د هغه د مخ نه او د هغه د ږیرې نه په سینه د هغه، نو ما اولیدلو چه جدا والی ئې کولو په مینځ د مضمضه او استنشاق کښې

بَابٌ فِي الِاسْتِنْثَارِ

باب دې په بیان د استنثار کې

[۱۴۰](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ، فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً ثُمَّ لِيَنْثُرْ".

ترجمه: د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دې، بیشکه رسول الله ﷺ وئیلی دی: کله چه اودس کوي یو ستاسو نه نو په پوزه کښې دې اوبه واچوي بیا دې سونړ کړي

تشریح: ۱ ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الخ – قوله فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً لَمْ لِيَنْثُرْ ﴾ استنثار د امام احمد او اسحق بن راهویه په نزد واجب دې، د جمهورو په نزد مستحب دې، د استنشاق او استنثار ترمینځه فرق او اختلافات وغیره په صفة الوضوء کښې تیر شو.

[۱۴۱](۳) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ قَارِظٍ، عَنْ أَبِي غَطَفَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْتَنْثِرُوا مَرَّتَيْنِ بَالِغَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا".

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی هغه وائی، چه وئیلی دي رسول الله ﷺ: پوزه سونړ کوئ دوه ځل پوره کوشش سره او یا درې ځله

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۲۸) (ضعيف)

(۲): صحيح البخاري/الوضوء ۲٦ (۱٦۲)، صحيح مسلم/الطهارة ۸ (۲۳۷)، سنن النسائي/الطهارة ۷۰ (۸٦)، موطا امام مالك/الطهارة ۱(۲)، (تحفة الأشراف: ۱۳۸۲۰)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٤ (٤۰٦)، مسند احمد (۲٤۲/۲، ۲۷۸)، سنن الدارمي/الطهارة ۳۲ (۷۳۰) (صحيح)

(۳): سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٤ (٤۰۸)، (تحفة الأشراف: ٦٥٦۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۸/۱) (صحيح)

[۳۰]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، عَنْ أَبِيهِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، قَالَ: كُنْتُ وَافِدَ بَنِي الْمُنْتَفِقِ أَوْ فِي وَفْدِ بَنِي الْمُنْتَفِقِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نُصَادِفْهُ فِي مَنْزِلِهِ وَصَادَفْنَا عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَ: فَأَمَرَتْ لَنَا بِخَزِيرَةٍ فَصُنِعَتْ لَنَا، قَالَ: وَأُتِينَا بِقِنَاعٍ وَلَمْ يَقُلْ قُتَيْبَةُ الْقِنَاعَ، وَالْقِنَاعُ الطَّبَقُ فِيهِ تَمْرٌ، ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "هَلْ أَصَبْتُمْ شَيْئًا أَوْ أُمِرَ لَكُمْ بِشَيْءٍ؟" قَالَ: قُلْنَا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: فَبَيْنَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُلُوسٌ، إِذْ دَفَعَ الرَّاعِي غَنَمَهُ إِلَى الْمُرَاحِ وَمَعَهُ سَخْلَةٌ تَيْعَرُ، فَقَالَ: مَا وَلَّدْتَ يَا فُلَانُ؟ قَالَ: بَهْمَةً، قَالَ: فَاذْبَحْ لَنَا مَكَانَهَا شَاةً، ثُمَّ قَالَ: لَا تَحْسِبَنَّ، وَلَمْ يَقُلْ لَا تَحْسَبَنَّ أَنَّا مِنْ أَجْلِكَ ذَبَحْنَاهَا لَنَا غَنَمٌ مِائَةٌ لَا نُرِيدُ أَنْ تَزِيدَ، فَإِذَا وَلَّدَ الرَّاعِي بَهْمَةً ذَبَحْنَا مَكَانَهَا شَاةً، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ فِي لِسَانِهَا شَيْئًا يَعْنِي الْبَذَاءَ، قَالَ: فَطَلِّقْهَا إِذًا، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ لَهَا صُحْبَةً وَلِي مِنْهَا وَلَدٌ، قَالَ: فَمُرْهَا يَقُولُ: عِظْهَا، فَإِنْ يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَفْعَلْ، وَلَا تَضْرِبْ ظَعِينَتَكَ كَضَرْبِكَ أُمَيَّتَكَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ، قَالَ: أَسْبِغِ الْوُضُوءَ وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ وَبَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ، إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا".

ترجمه: د لقيط بن صبره نه روايت دې، هغه وائي: زه وم راتلونکى بني المنتفق سره رسول الله ﷺ ته، هغه اووئيل: هركله چه مونږ راغلو رسول الله ﷺ ته، مونږ د هغه سره د هغه په كور كښې مخامخ نه شو، مونږ مخامخ شو د عائشې ام المؤمنين سره، هغه وائي: نو امر ئې اوكړو زمونږ لپاره په حلوا، باندې نو تياره ئې كړه زمونږ دپاره، هغه وائي: راوړى شو مونږ ته قناع، او اونه ويله قتيبه قناع، او قناع د قجورى نه جوړ كړى شوى يو لوښى دى يو لوښى دى چه په هغې كښې قجورې وې، بيا راغى رسول الله ﷺ نو وئې وئيل: ايا تاسو څه شي ته ورسيدئ، او يا امر شوى دى ستاسو لپاره په څه شي؟ هغه وائي: مونږ اووئيل: هو، او آې د الله رسوله! هغه وائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، چه شپونكي راعي خپلې ګډې د شپې خانې ته، او د هغه سره چيلى بچى وو چه اوازونه ئې كول، نو وئې وئيل: څه شى ئې زيږولى دى اې فلانى؟ هغه اووئيل: ښځه بچى ئې راوړې دى، نو اووئيل هغه: حلال كړه زمونږ لپاره ددې په ځاى شاة، بيا ئې اووئيل: نه ګمان مه كوه (په كسرې د سين) او په فتحې د سين ئې اونه ويله، چه مونږ ستا د وجې نه ذبح كړه، زمونږ سل ګډې دي مونږ نه غواړو چه هغه زياتې شي كله چه راوړي بچى نو دهغې په ځاى شاة حلال كړو، هغه وائي: ما اووئيل: اې د الله رسوله! بيشكه زما ښځه ده ژبان درازه ده څه څه اوكړم نو وئې وئيل: نو طلاقه ئې كړه، هغه وائي، ما اووئيل: اې د الله رسوله دهغې ډيره موده ماسره اوشوه، او زما دهغې نه بچى دي، هغه اووئيل: چه نصيحت ورته اوكړه، كه چرې په هغې كښې خير وي نو هغه به ستا اطاعت كوى، او مه وهه ښځه خپله پشان د امې خپلې، نو ما اووئيله: اې د الله رسوله! خبر راكړه ماته د اودس، هغه اووئيل: پوره كوه اودس او خلال كوه د ګوتو د مينځونو، او مبالغه كوه په استنشاق كښې مګر دا چه ته روژه يې.

(): سنن الترمذي/الطهارة ٣٠ (٣٨)، الصوصحيح مسلم/ ٦٩ (٧٨٨)، سنن النسائي/الطهارة ٧١ (٨٧)، ٩٢ (١١٤)، سنن ابن ماجه/ ٤٤ (٤٠٧)، ٥٤ (٤٤٨)، (تحفة الأشراف: ١١١٧٢)، ويأتي عند المؤلف برقم (٢٣٦٦) و (٣٩٧٣)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٣٣/٤)، سنن الدارمي/الطهارة ٣٤ (٧٣٢) (صحيح)

تشريح: ۲: ﴿حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الخ - عَنْ أَبِيهِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ كُنْتُ وَافِدَ بَنِي الْمُنْتَفِقِ - أَوْ فِي وَفْدِ بَنِي الْمُنْتَفِقِ الخ ﴾ وفد جمع د وافد ده، دلته شک د راوي دې چه په روايت کښې د وافد لفظ دې او که د وفد، که د وافد لفظ دې نو ددې تقاضا خو ښکاره دا ده چه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راتلونکې خالله دا صحابي وو، او که په روايت کښې لفظ وفد دې نو ددې تقاضه دا ده چه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راتلونکې يو جماعت وو، چه په هغې کښې دا صحابي يعنى لقيط بن صبرهؓ هم شامل وو.

مضمون حديث:

د حديث مضمون دا دې چه لقيط بن صبرهؓ فرمائي چه يو ځل د قبيله بني المنتفق وفد چه په هغې کښې زه هم شامل اوم، د رسول اللهﷺ په خدمت کښې مدينې منورې ته حاضر شو. مونږ د رسول اللهﷺ کور ته اورسيدو، د عائشهؓ په کور کښې هغه وخت رسول اللهﷺ نه وو، سيده عائشهؓ زمونږ ميلمستيا اوکړه څنګه چې د ميلمه کيدې شي لږ وخت پس رسول اللهﷺ تشريف راوړلو، هغوى د رارسيدلو سره د ميلمنو نه تپوس اوکړو چه ستاسو څۀ ميلمستيا هم کړې شوې ده که نه؟ مونږ عرض اوکړو جي يا رسول اللهﷺ (کړې شوې ده) وړاندې صحابي بيان کوى چه مونږ د رسول اللهﷺ په مجلس کښې ناست وو چه د رسول اللهﷺ شپونکى د هغوى ګډې بيزې واپس راوستلې، بلهٔ دا چه د شپونکى سره د چيلئ يو بچې هم وو چه نوې پيدا شوې وو چه مې مې ئې کول (يعنى چغې ئې وهلې)

﴿فَقَالَ مَا وَلَّدْتَ يَا فُلَانُ قَالَ بَهْمَةً﴾ رسول اللهﷺ د شپونکى نه تپوس اوکړو چه تا په بيزه باندې څه راوړې دى؟ شپونکى اووئيل ﴿بهمة﴾ بهمة وئيلې شى د بيزې بچى ته که نر وى که ښځه. خو دلته د ظاهرى الفاظو په اعتباره سره ښځه مراد ده، ځکه چه که مطلق بچې مراد کړې شى نو ترجمة به دا وى چه بيزې بچې راوړې دې او دا کلام به ظاهر کښې بې فائدې دې په دې وجه مراد هم دا دې چه بيزې چه کوم بچې راوړې دې هغه ښځه يعنى انثى ده. خو د علامه سيوطىؒ رائې دا ده چه د رسول اللهﷺ سوال عن العدد دې نه عن الذکر والانثى، يعنى د رسول اللهﷺ مقصد دا وو چه بيزې يو بچې راوړې دې که دوه، شپونکى جواب ورکړو يو بچې، او هم دا خبره زياته صحيح معلوميږى کومه چه سيوطىؒ کړې ده، د کلام د سياق نه ددې معنى تائيد کيږى.

غرض دا چه رسول اللهﷺ ددې سوال او جواب نه پس شپونکى ته اوفرمائيل چه ﴿فَاذْبَحْ لَنَا مَكَانَهَا شَاةً﴾ يعنى د بيزې ددې بچى په بدل کښې يو بيزه ذبح کړه، او بيا ددى نه پس رسول اللهﷺ ميلمنو ته خطاب کولو سره اوفرمائيل چه تاسو دا مه ګنړئ چه دا اهتمام مونږ ستاسو دپاره کړو بلکه اصل خبره دا ده چه نن صبا زمونږ په دې کندک کښې سل بيزې

دی، موبز نه غواړو چه په دې باندې د سلو نه اضافه اوشی (١) پس که يوه بيزه لنګه شی نو که هغه يو بچی راوړی نو موږ يوه بيزه ذبح کوو او که دوه بچی راوړی نو دوه بيزی ذبح کوو، غرض دا چه غواړو چه د ګډو بيزو په سلو باندې زيادت نه وی، پس دې وخت کښې دا ګډه بيزه ذبح کول هم په دې بناء باندې دی.

﴿ قوله إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ فِي لِسَانِهَا شَيْئًا ﴾ دې صحابی د رسول الله ﷺ سره د مانوس کيدو نه پس د خپل کور مسائل تپوس کول شروع کړل او يو خبره ئې دا اوتپوسله چه زما د ښځې د ردو بدو (بد اخلاقئ) عادت دې هر وخت بدې ردې وائی هغې سره څه اوکړم؟ رسول الله ﷺ ورته سمدست اوفرمائيل ﴿ فَطَلِّقْهَا إِذًا ﴾ چه هغې ته طلاق ورکړه، په دې اوريدلو باندې هغوی عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! زما هغې سره ډير وخت شوې دې او ماته الله پاک دهغې نه اولاد هم راکړې دې، طلاق ورکولو ته مې زړه نه کيږی! په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ فمرها ﴾ دا د امر يامر نه د امر صيغه ده، او ددې تفسير هم وړاندې راوی خپله بيان کړې دې ﴿ يقول عظها ﴾ يعنی رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که طلاق ورکول نه غواړې نو کم از کم نصيحت ورته اوکړه، که په هغې کښې څه خير وی نو يقينا ستا نصيحت به قبول کړی، په دې باندې هغه صحابی خاموش شو ګويا دا مشوره ئې خوښه کړه.

په حديث باندې يو سوال او د هغې جواب

دلته يو سوال دې هغه دا چه رسول الله ﷺ د طلاق مشوره دومره زر ولې ورکړه هغه خو بغض المباحات دې، جواب دا دې چه دا د طلاق مشوره امتحانا او تنبيها وه که ښځه دې خوښه نه وی او دهغې نه درته شکايت دې نو طلاق ورکړه، په دې باندې هغه اوريدلو او معذرت ئې اوکړو، رسول الله ﷺ دا کله غوښتله چه هغوی طلاق ورکړی، رسول الله ﷺ خو صرف تنبيها فرمائيلې وو، پس د رسول الله ﷺ په خبردارې باندې هغه بيدار شو ددې نه پس رسول الله ﷺ اصل او صحيح مشوره ورکړه کومه چه مقصودی وه، خيره دا ده چه د نعمت قدر هغه وخت وی کله چه هغه د لاس نه څی، سبحان الله! د رسول الله ﷺ څه د حکمت نه ډک تعليمات دی.

قوله﴿ وَلَا تَضْرِبْ ظَعِينَتَكَ كَضَرْبِكَ أُمَيَّتَكَ ﴾ ﴿ ظعينة ﴾ هودج اغوستلو والا زنانه نه وائی کومه چه عام طور سره حره وی، خو ددې اطلاق په مطلق زنانه باندې هم کيږی که هودج کښې وی او که نه وی امية د امة تصغير دې، ددې جملې مطلب دا شو چه خپله آزاده ښځه داسې مه وهې څنګه چه وينځه وهلې شی، شارحينو ليکلې دی چه دا تشبيه د تقبيح دپاره ده، يعنی خپله آزاده ښځه هم څوک وهی، وهلې کيږی خو وينځه نه ښځه

(١) وړاندې د ابوداؤد په کتاب الاضحية کښې يو حديث راروان دې ﴿ الفرع حق ﴾ چه دهغې په تفسير کښې اختلاف دې، يو معنی د هغه حديث دا بيان کړې شوې ده چه د ګډو بيزو عدد چه کله سل شی نو دهغې نه پس چه کوم بچی پيدا کيږی هغه دې ذبح کړې شی، دلته چه په حديث کښې کوم صورت موجود دې هغه دې معنی ته نزدې دې فرق دادې چه فرع دا شوه چه بچی دې ذبح کړې شی او دلته غټه چيلئ مراد ده

د تخلیل اصابع حکم او په دې کښې اختلاف:

﴿ قوله وَخَلِّلْ بَيْنَ الأَصَابِعِ ﴾ د تخلیل اصابع مسئله مختلف فیه ده، د مالکیانو په نزد د اصابع یدین تخلیل واجب دې او د اصابع رجلین مستحب دې، او د احنافو او شوافعو په نزد د اصابع رجلین او یدین دواړو تخلیل مستحب دې الا اذا کانت الاصابع منضمة فحینئذ یجب التخلیل..... او د امام احمد رحمه الله په دې کښې دوه اقوال دی یو د جمهورو په شان او هم دا د هغوی اصح قو ل دې ځنګه چې چه په مغنی کښې لیکلې شوې دی، او دویم روایت د امام احمد رحمه الله نه دا دې چه تخلیل اصابع مطلقا که د یدین وی او که د رجلین دواړه واجب دی

﴿ وَبَالِغْ فِي الاِسْتِنْشَاقِ ﴾ دا د مسلک ظاهریه او د امام احمد رحمه الله د یو روایت دلیل دې چه مضمضه او استنشاق واجب دی.

دلته یو سوال دې چه د حدیث د ترجمة الباب سره څه مطابقت دې؟ په ترجمه کښې خو د استنثار ذکر دې او په حدیث کښې د استنشاق، جواب دا دې چه اول خو په دې کښې اختلاف دې بعض وائی چه استنثار او استنشاق دواړه یو معنی لری لکه چه په باب صفة الوضوء کښې په تفصیل سره تیر شو، او که دواړه مختلف اومنلې شی نو داسې به اووئیلې شی چه د ترجمة الباب اثبات په طریقه د قیاس دې، دریم جواب دا هم کیدې شی چه په دې حدیث کښې لفظ ﴿ اسبغ الوضوء ﴾ ذکر شوې دې، د اسباغ په عموم کښې ټول آداب او مستحبات راځی چه په هغې کښې استنثار هم داخل دې.

[۱۴۳] (ا) حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ وَافِدِ بَنِي الْمُنْتَفِقِ، أَنَّهُ أَتَى عَائِشَةَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ: فَلَمْ يَنْشَبْ أَنْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَلَّعُ يَتَكَفَّأُ، وَقَالَ عَصِيدَةٌ: مَكَانَ خَزِيرَةٍ.

ترجمه: صبره چه دا وافد وو د بني المنتفق، دا راغی عائشې ته، نو ذکر ئې کړه معنی د هغه حدیث، هغه وائی: وخت تیر نه شو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی ګلک ګلک قدمونه ئې اخستل او ښې او ګس اړخ ته مائل کیدو، اووائی وئیلو عصیدة په ځائې د خزیرة باندې.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الخ - فَلَمْ يَنْشَبْ أَنْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَتَقَلَّعُ يَتَكَفَّأُ ﴾ دا د لقیط بن صبرة د حدیث دویم طریق دې، په اول طریق کښې د اسماعیل بن کثیر نه روایت کونکې یحیی بن سلیم وو، او دلته د هغوی نه روایت کونکې ابن جریج دې دا زیادت د ابن جریج په طریق کښې دې، په طریق سابق کښې نه دې، یعنی راوی وائی چه لږ ساعت نه وو تیر شوې زمونږ کور ته په رسیدو کښې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لږ ساعت پس تشریف راوړلو ﴿ يَتَقَلَّعُ يَتَكَفَّأُ ﴾ په دې کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رفتار کیفیت بیان کړې شوې دې هغه دا چه هغوی ډیر په قوت سره قدم اوچتولو او وړاندې تیت روان وو، د رسول

(ا): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١١٧٢) (صحيح)

الله ﷺ د رفتار په باره کښې هم دا راځي چه د هغوی چال تيز وو د زمکې نه به ئې خپې په قوت سره اوچتولې، او تواضعا به وراندې ښکته کيدو سره روان وو﴿ كانما ينحط في صبب﴾ څنګه چې چه څوک د اوچت ځائې نه ښکته راکوزيږي
وراندې دويم فرق په دې روايت کښې دا دې چه د اول روايت الفاظ دا وو ﴿ فامرت لنا بخزيرة ﴾ او په دې کښې په ځائې د خزيرة ﴿ عصيدة ﴾ دې د په ترجمه تاسو داسې پوهه شئ چه غوښې والا دليه او حريره، او که بغير د غوښې نه وي نو هغې ته عصيدة وائي.

[۱۴۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: إِذَا تَوَضَّأْتَ فَمَضْمِضْ.

ترجمه: ابن جريج ددې حديث بيان کړې دے، هغه وئيلى دي په دې کې: کله چه ته اودس کوې نو مضمضه کوه.

بَابُ تَخْلِيلِ اللِّحْيَةِ
باب دې د خلال کولو د ګيږې

[۱۴۵]() حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ يَعْنِي الرَّبِيعَ بْنَ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمَلِيحِ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ زَوْرَانَ، عَنْ أَنَسٍ يَعْنِي ابْنَ مَالِكٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ، وَقَالَ: هَكَذَا أَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ" قَالَ أَبُو دَاوُد، وَالْوَلِيدُ بْنُ زَوْرَانَ: رَوَى عَنْهُ حَجَّاجُ بْنُ حَجَّاجٍ، وَأَبُو الْمَلِيحِ الرَّقِّيُّ.

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ وو چه کله به ئې اودس کولو، نو يو ورغوى اوبه به ئې راواخستې نو داخل به ئې کړې لاندې د زنې نه نو خلال به ئې کړه په هغې باندې ګيږه، او وئې وئيل: دارنګه امر کړى دى ماته رب زما. وئيلى دي ابوداود: د وليد بن زوران نه حجاج بن حجاج او ابو المليح الرقي روايت کړى دى

تشريح: دلته دوه څيزونه دى يو خو وظيفه لحية يعنى په اودس کښې د ګيږې څه حکم دې، غسل يا مسح. دويمه مسئله هغه ده کومه چه مصنف رحمه الله ذکر فرمائي يعنى تخليل اللحية. حضرت شيخ ليکلى دى چه بعض شارحين ددې دوه مسئلو په بيان کښې خلط کوى په دې وجه په هره يوه باندې بيل بيل ځان پوهه کول پکار دى

په تخليل لحية کښې مذاهب ائمة

په تخليل لحية کښې خو اختلاف دا دې چه د ائمة ثلاثه امام ابوحنيفه، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله په نزد په اودس کښې سنت او په غسل جنابت کښې واجب ده او د امام مالک رحمه الله نه په دې سلسله کښې ډير روايتونه دى مشهور دا دې چه تخليل لحية په اودس کښې مستحب نه دې، او په غسل کښې د هغوى نه دوه روايتونه دى، يو وجوب، دويم سنيت، او ابوثور او حسن بن صالح او د ظاهريه په نزد اودس او غسل دواړو کښې واجب دې

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۷۲) (صحيح)
(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۶۴۹)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۰ (۴۳۱) (صحيح)

زمونږ په نزد يو قول دا دې چه د تخليل لحية په اودس کښې سنت کيدل د امام ابويوسف رحمه الله او د جمهورو مسلک دې، او د طرفين په نزد سنت نه دې مستحب دې، بلکه تردې وتيلې شوې دی چه صرف جائز دې يعنې بدعت نه دې، او وجه ددې قول دا ده چه د تخليل لحية په سلسله کښې روايات ضعيف دی پس امام احمد او ابوحاتم رازی رحمه الله فرمائی ﴿ ليس فيه شئ صحيح ﴾ يعنې په دې سلسله کښې څه صحيح حديث ثابت نه دی، خو زه وايم چه امام ترمذی رحمه الله د تخليل لحية په سلسله کښې د سيدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه حديث ذکر فرمائيلې دې ﴿ ان النبی ﷺ کان يخلل لحيته ﴾ او هغوی ددې په باره کښې فرمائيلی ﴿ هذا حديث حسن صحيح ﴾ بله دا چه دا حديث په صحيح ابن حبان او صحيح ابن خزيمة او مستدرک حاکم کښې هم موجود دې، لهذا د امام احمد او ابوحاتم رازی رحمهما الله قول محل د نظر دې، بله دا چه علامه زيلعی رحمه الله په نصب الرايه کښې د څوارلسو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د تخليل لحية روايات ذکر فرمائيلې دی، او امام ترمذی رحمه الله هم د وفی الباب لاندې د ډيرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نومونه ذکر کړی دی.

خاں پوهه کړه چه د تخليل لحية طريقه دا ده چه د زنې لاندې دې په ګيره کښې دننه ګوتې داخلې کړی د مسح په وخت تقاطر الماء من الاصابع شرط نه دې

وظيفه لحية يعنې د ګيرې حکم او په هغې کښې اختلاف :

دويمه مسئله وظيفه لحيه ده يعنې د ګيرې حکم څه دې غسل يا مسح؟ جواب دا دې چه د لحية دوه قسمونه دی، خفيفه او کثه، لحيه خفيفه هغه ده چه په هغې کښې د مخ څرمن ښکاره کيږی دهغې حکم دا دې چه ﴿ يجب غسل ما تحتها ﴾ يعنې په داسې صورت کښې د مخ څرمن لوندول ضروری دی صرف د ګيرې لوندول کافی نه دی او که لحية کثه (ګڼړه ګيره) وی نو په دې کښې زمونږ په نزد اتۀ اقوال دی، اصح قول ﴿ غسل جميع اللحية فرض ﴾ يعنې د مخ په ځائې ټولې ګيرې لره وينځل فرض دی، خو ددې نه مراد هغه ګيره مراد ده کومه چه په مخ وی او د زنی لاندې وی، زوړنده حصه په دې کښې داخل نه ده دهغې وينځل نه ضروری دی او نه ئې مسح، په معارف السنن کښې په حواله د امام نووی رحمه الله د جمهور ائمه ثلاثه مذهب هم دا نقل کړې شوې دې.

په ګڼړه ګيره کښې د اقوال ثمانيه نه زمونږ په نزد اصح قول هم دغه دې کوم چه مونږ پورته بيان کړو، باقی اووۀ اقوال مرجوح دی،هغه دادې

(۱) مسح الکل، (۲) مسح الثلث، (۳) مسح الربع، (۴) مسح ما يلاقی البشرة، (۵) غسل الثلث، (۶)غسل الرابع (۷) عدم الغسل والمسح.

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْعِمَامَةِ

باب دې په بيان د مسح کې په پټکې

د مسح علی العمامة مسئله مشهوره او مختلف فيه بين الائمة ده، د ظاهريه او حنابله او ابوثور په نزد د مسح راس په ځائې مسح علی العمامة جائز ده او کافی کيږی

څنګه چه مسح علی الخفین د غسل رجلین قائم مقام کیږي، د جمهور علماء ائمة ثلاثا په نزد صرف مسح علی العمامة کافي نه ده په دې سره د مسح فرض نه ادا کیږي

خو دویمه مسئله دلته دا ده چه دا مسح علی العمامة نه سنت استیعاب هم حاصلیدې شي او که نه؟ یعني په اندازه د فرض مسح په سر باندې اوکړې شي او د سنت استیعاب حاصلولو دپاره دې باقي مسح په عمامه باندې اوکړې شي پس د شوافعو په نزد په مسح علی العمامة سره سنت استیعاب حاصلیدې شي او هم دا حکم د هغوی په نزد د ټوپئ هم دې، پس امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کښې تصریح کړې ده چه مسح علی العمامة او مسح علی القلنسوة سره استیعاب حاصلیږي، که لبس علی الطهارة وي یا نه وي، ددې مسئلې تصریح په کتب احناف کښې موجود نه ده خو د حضرت ګنګوهي کلام په الکوکب الدري کښې ددې د جواز طرف ته مشیر دې، یعني د سنت استیعاب د تحصیل دپاره مسح علی العمامة جائز ده، مالکیان فرمائي چه مسح علی العمامة بغیر د عذر نه جائز نه ده او نه په دې فرض ادا کیږي نه سنت استیعاب، خو که د څه عذر د وجې نه وي مثلاً په سر کښې زخم دې یا بل څه بیماري ده زکام وغیره چه دهغې د وجې نه سر ښکاره کول او عمامه لرې کول ګران وي نو په دې صورت کښې د هغوی په نزد مسح په عمامة باندې جائز ده لکه چه مسح کولې شي په پټئ باندې

د قائلین مسح علی العمامة په نزد د دې شرطونه :

دویمه خبره دا ده چه کوم خلق د مسح علی العمامة د جواز قائل دي، لکه حنابله د هغوی په نزد ددې دپاره څه شرطونه هم دي چه بغیر دهغې نه مسح علی العمامة صحیح نه ده، اول دا چه لبس اعلی طهارة وي یعني د اودس او طهارت نه پس ئې عمامه وهلې وي، دویم شرط دا دې چه عمامه ساتر لجمیع الراس وي، دریم شرط دا دې چه په صفت د عمائم المسلمین وي یعني څنګه چه مسلمانان عمامه تړي هم دغه شان تړلې شوې وي چه دهغې تفسیر دا دې چه عمامه محنک یا شملې والا وي، څلورم شرط توقیت دې یعني څنګه مسح علی الخفین موقت ده په موده کښې دننه دننه ئې کولې شي دهغې نه پس نه، هم دغه شان مسح علی العمامة هم

د حدیث مسح علی العمامة توجیهات :

اوس پاتې شوه مسئله د دلائلو چه د مسح علی العمامة احادیث په صحاح ستة کښې موجود دي او که نه او په سنن اربعه کښې ددې په باره کښې مستقل ترجمة الباب هم قائم کړې شوې دې، خو امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کښې او امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کښې په دې باندې هیڅ مستقل باب نه دې تړلې، مولانا انور شاه کشمیري رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله اګرچه د حدیث مسح علی العمامة تخریج کړې دې، خو هغوی په دې باندې مستقل ترجمة قائم کړې نه د هغه رحمه الله چه دهغې نه معلومیږي چه مسح علی العمامة د هغوی په نزد ضعیف ده، هغوی فرمائي زما تجربه دا ده چه د امام بخاري رحمه الله عادت دې چه کله یو حدیث د هغوی په نزد قوي وي او په هغې کښې داسې یو لفظ وي چه د هغوی پکښې تردد

وی نو په داسې موقعه پاندې امام بخاری ﷫ داسې کوی چه هغه حدیث خو ذکر کړی خو په کوم کښې ئې چه تردد وی په هغې باندې باب نه قائموی، لهٰذا د امام بخاری ﷫ د عمل نه معلومیږی چه د هغوی په مسح علی العمامة په جواز کښې تردد دې

د مسح علی العمامة د روایاتو د جمهورو د طرف نه ډیر جوابونه کړې شوې دی ۱ دا احادیث معلل دی کما قاله مولانا عبدالحی قلت لکن قال ابن العربی صحیحة لا غبار علیها ۲ امام محمد ﷫ موطا، کښې فرمائي ﴿ بلغنا ان المسح علی العمامة کان ثم ترک ﴾ یعنی مسح علی العمامة په شروع کښې وه بیا منسوخ شوه، ۳ په حدیث کښې د راوی د طرف نه اختصار واقع شوې دې په بعض صحیح روایاتو کښې د مسح علی العمامة سره مسح علی الناصیة هم ذکر شوې ده لکه چه د مغیره بن شعبه ﷛ په حدیث کښې دی کوم چه هم په دې کتاب کښې په باب المسح علی الخفین کښې راځی چه دهغې الفاظ دا دی ﴿ کان یمسح علی الخفین وعلی ناصیته وعلی عمامته ﴾ بلکه دا چه په مسلم کښې هم دا الفاظ موجود دی، لهٰذا دا به وئیلې شی چه په ناصیه باندې مسح اوکړه رسول الله ﷺ په طور د فرض او دهغې سره ئې په عمامه باندې اوکړه د سنت استیعاب د حصول دپاره، ۴ د عمامه نه مراد ما تحت العمامة دې، حال وئیلو سره محل مراد اخستلې شوې دې د اطلاق اسم الحال علی المحل د قبیل نه دې، پس هم د دې باب په دویم حدیث کښې د انس ﷛ روایت راروان دې ﴿ فادخل یده من تحت العمامة ﴾ یعنی رسول الله ﷺ بغیر د عمامه د کوزولو نه په عمامه کښې دننه لاس داخل کړو او د سر مبارک مسح ئې اوکړه، ۵ رسول الله ﷺ به د سر د مسح کولو نه پس عمامه برابر کړې وی ﴿ فظن التسویة مسحا ﴾ چه دهغې نه کتونکی د لرې نه دا اوګڼله چه رسول الله ﷺ مسح کوی، ۶ قاضی عیاض مالکی ﷫ وغیره د خپل مسلک مطابق دا جواب ورکړې دې چه کیدې شی رسول الله ﷺ مسح علی العمامة د یو داسې عذر د وجې نه کړې وی کوم چه د کشف راس نه مانع وو، لهٰذا د رسول الله ﷺ په عمامه باندې مسح کول به شان د مسح دې په جبیره باندې، ۷ د مسح راس ثبوت قطعی دې، لهٰذا هغه د اخبار احاد د وجې نه نشی ترک کولې کوم چه محتمل دی، او مسح عمامة په مسح علی الخفین باندې قیاس کول صحیح نه دی ځکه چه د مسح علی الخفین په سلسله کښې روایات حدیثیه شهرت بلکه تواتر ته رسیدلې دی، یو فرق بل هم دې هغه دا چه غسل رجلین بغیر د نزع خفین نه ممکن نه دې په خلاف د عمامه چه بغیر د نقض عمامه نه مسح کیدې شی غرض دا چه هلته حرج دې او دلته حرج نشته، او ا استیعاب د سر په مسح کښې صرف سنت دې فرض نه دې، لهٰذا سنت په دې سره حاصلیدې شی، زمونږ د حضرت شیخ ﷫ په نزد هم دا آخری جواب زیات صحیح دې

[۱۳۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: "بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَأَصَابَهُمُ الْبَرْدُ، فَلَمَّا قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُمْ أَنْ يَمْسَحُوا عَلَى الْعَصَائِبِ وَالتَّسَاخِينِ".

ترجمه: د ثوبان نه روایت دې هغه وائي: ولیږله رسول الله ﷺ یوه سریه، نو هغوی ته یخني ورسیده، هرکله چه دوی واپس شو رسول الله ﷺ ته نو امر ئې اوکړو دوی ته چه مسح اوکړي په پټکو او په موزو باندې

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ الخ قوله بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– سَرِيَّةً ﴾ يعنى رسول الله ﷺ يو ځل يو دسته (وړوکي شان لښکر) د جهاد دپاره اوليږلو، ددې اصحاب سريه په دې سفر کښې يخني اوشوه، چه کله مديني طيبې ته درسول الله ﷺ په خدمت کښې د هغوی واپسي اوشوه ﴿ امرهم ان يمسحوا على العصائب والتساخين ﴾ يعنى رسول الله ﷺ هغوی ته حکم اوفرمائيلو چه د خپو په ځائي مسح على الخفين او په ځائي د مسح راس مسح على العمامة اوکړي

﴿ سرية ﴾ وائی د لښکر يوې حصې ته يعنى د لښکر يوه ټکړه او حصه چه دهغې تعداد کم از کم پنځه او زيات نه زيات درې سوه وی او وئيلې شوې دی چه څلور سوه، پس وئيلې شی ﴿خير السرايا اربعمائة رجل ﴾.... عصائب جمع د عصابة ده چه دهغې نه مراد پټکې دې، او تساخين جمع د تسخان ده يا تسخين ده، هغه څيز چه په هغې باندې خپې ګرمولې شی يعنى موزې

په شروع کښې جوابات کړې شوې دی چه ددې تعلق د مطلق احاديث مسح على العمامه سره دې او خاص ددې حديث دوه جوابونه کړې شوې دی، شيخ ابن الهمام رحمه الله فرمائي چه ﴿مخصوص بهذه السرية ﴾ يعنى دا حکم ددې سريه سره خاص دې، علامه عينى رحمه الله فرمائي ﴿المراد ما تحت العصائب ﴾ يعنى په حديث کښې د عصائب نه مراد ما تحت العصائب مراد دې، حال وئيلو سره محل مراد اخستې شوې دې

[۱۳۲]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي مَعْقِلٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ قِطْرِيَّةٌ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ مِنْ تَحْتِ الْعِمَامَةِ فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ وَلَمْ يَنْقُضِ الْعِمَامَةَ".

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وائي: ما وليده رسول الله ﷺ چه اودس ئې کولو او په هغه باندې قطري پټکى وو، نو داخل ئې کړو خپل لاس لاندې د پټکي نه د سر مخکنى حصه ئې مسح کړه او پټکى ئې کولاو نه کړو

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۷/۵) (صحيح)

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۹ (٥٦٤)، (تحفة الأشراف: ۱۷۲٥) (ضعيف)

بَابُ غَسْلِ الرِّجْلَيْنِ

باب دې په بيان د وينځلو د خپو کې

د باب اسباغ الوضوء د لاندې يو حديث تير شوې دې ﴿ويل للاعقاب من النار﴾ هلته مونږ بيان کړې وو چه ددې حديث نه معلوميږي چه غسل رجلين ضروري دې، او دا چه په دې باندې به مونږ کلام په باب غسل الرجل کښې کوو، پس هغه باب راغلو.

په وظيفه د رجلين کښې مذاهب علماء:

د وظيفه رجلين په باره کښې څلور مذهبونه مشهور دي:

۱: د ائمه اربعه په نزد د رجلين حکم غسل دې،

۲: د فرقه اماميه په نزد وظيفه رجلين مسح ده، بلکه هغوی تر دې پورې وائي چه غسل جائز نه دې،

۳: د حسن بصري، محمد بن جرير طبري، او ابو علي جبائي په نزد تخيير بين الغسل والمسح دې،

۴: د اهل ظواهرو په نزد جمع بين الغسل والمسح ضروري ده.

(د محمد بن جرير طبري نوم والا دوه کسان دي):

خو ځان پوهه کړه چه محمد بن جرير الطبري دوه دي، يو هم هغه د چا تفسير چه مشهور او معروف دې دا خو دې د اهل سنت والجماعت نه، او يو ابن جرير د اهل تشيع نه دې، او دا دواړه صاحب تفسير دي، د حافظ ابن القيم رحمه الله رائې دا ده چه ابن جرير طبري کوم چه د مسح رجلين قائل دې دا ابن جرير سني نه دې بلکه ابن جرير شيعي دې، مولانا يوسف بنوري په معارف السنن کښې دا خبره ليکلو سره د ابن القيم رحمه الله د خيال تائيد نه دې فرمائيلې بلکه ليکلي ئې دي چه د ابن جرير سني کلام هم په دې سلسله کښې موهم دې، بله دا چه قاضي ابوبکر بن العربي په شرح ترمذي کښې هم ددې ابن جرير سني طرف ته د تخير بين الغسل والمسح قول منسوب کړې دې، حافظ ابن کثير رحمه الله دا مسئله نوره هم زيات صفا او واضحه ليکلې ده.

پاتې شوه مسئله د دلائلو پس ځان پوهه کړه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د غسل رجلين په سلسله کښې احاديث مشهوره او متواتر دي او د بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم لکه علي او ابن عباس رضي الله عنهما نه چه کوم جواز د مسح منقول دې دهغې نه رجوع هم ثابت ده، عبد الرحمن بن ابي ليلى فرمائي ﴿اجمع اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم على غسل الرجلين﴾ او د امام طحاوي او ابن حزم ظاهري رحمه الله رائې دا ده چه د کومو احاديثو نه مسح رجلين مستفاد کيږي هغه منسوخ دي، او امام ترمذي رحمه الله په ﴿ويل للاعقاب من النار﴾ حديث نه په وجوب غسل باندې استدلال کړې دې.

د مجوزين مسح استدلال د قراءت جر نه او د هغې جوابات:

د مجوزين مسح استدلال په آيت وضوء کښې د ﴿وارجلكم﴾ د قراءت جر نه هم دې، جمهور علماء کرامو ددې ډير جوابونه کړي دي.

۱: قراءت نصب معارض دې د قراءت جر يعنې که د قراءت جر تقاضا د جواز مسح رجلين ده نو د قراءت نصب تقاضا وجوب غسل الرجلين ده او دوه قراءتونه په حکم کښې د دوه مستقل آيتونو وي، لهذا غوره دا ده چه دواړه قراءتونه دې په دوه حالتونو باندې محمول کړې شي، قراءت جر دې چه دهغې تقاضه مسح ده په حالت تخفيف باندې، او قراءت نصب دې په حالت تجرد قدمين باندې.

۲: ابو علي فارسي وائي چه د مسح اطلاق غسل خفيف باندې هم کيږي پس وئيلې شي ﴿ تمسح للصلوة اى توضا ﴾

۳: علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه په قراءت نصب باندې عمل کولو سره جر هم معمول بها کيدې شي ځکه چه غسل متضمن دې مسح لره، په خلاف د قراءت جر چه په دې باندې عمل کولو سره د قراءت نصب متروک کيدل لازميږي.

۴: په ﴿ وارجلکم الى الکعبين ﴾ جر د جوار دپاره دې يعنې د ګاونډ په رعايت کښې منصوب مجرور اولوستلې شو او په حقيقت کښې دا منصوب دې، په کلام عرب کښې جر جوار يو مشهور څيز دې، وئيلې شي ﴿ عذاب يوم اليم ﴾ اليم مجرور لوستلې شي حال دا چه د عذاب د صفت کيدو د وجې نه مرفوع کيدل پکار دي، هم دغه شان ﴿ جحر ضب خرب ﴾ کښې خرب مجرور دې د جر جوار د وجې نه ګينې فى الواقع مرفوع دې، په ترکيب کښې د جحر صفت واقع شوې دې.

په دې جواب باندې فريق مخالف يو اعتراض کړې دې چه جر جوار د عطف په صورت کښې نه وي، پس تاسو چه څومره مثالونه پيش کړل هغه بغير د عطف نه دي، او دلته په آيت الوضوء کښې حرف عطف موجود دې، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه دا اشکال د قلت تتبع د وجې نه دې ګينې په کلام د عربو کښې جر جوار د حرف عطف سره هم راځي، د معلقه مشهور شعر دې:

فظلّ طُهاةُ اللّحمِ من بَيْنِ مُنضِجٍ صَفيفَ شِواءٍ أوْ قَدِيرٍ مُعَجَّلِ[1]

د قدير عطف په صفيف باندې دې کوم چه منصوب دې، لهذا فى الواقع قدير منصوب دې خو د ګاونډ د رعايت د وجې نه په لفظ قدير باندې جر راوړلې شوې دې، اوګورئ دلته جر جوار د حرف عطف سره موجود دې.

د قدير معنى ده په کټوئ کښې پخه کړې شوې غوښه، اود صفيف شواء مطلب دې د غوښې هغه ټکړې (پوټى) چه هغه په ګرم کانړى (تبخى) باندې وريته کړې شوې وي.

۵: يو جواب دا کړې شوېدې چه ﴿ وارجلکم ﴾ کښې جر والا قراءت د ﴿ علفتها تبنا وماء باردا ﴾ د قبيل نه دې يعنې داسې دوه افعال کوم چه متقارب المعنى وي په هغې کښې د يو په ذکر باندې اکتفاء کولې شي او دويم حذف کولې شي پس په دې جمله کښې اصل

[1] : د ښکار غوښې پخونکي دوه قسمه شوې بعض ئې په کټوئ کښې پخوى او بعض په ګرم کانړى باندې غوښې لره ورېتونکي دى.

عبارت داسې دې ﴿ علفتها تبنا وسقيتها مآء باردا ﴾ ځکه چه اوبه څکلې شي خوړلې نه شي خو چونکه اکل او شرب دا دواړه فعل متقارب المعنى دى په دې وجه د يو فعل په ذکر باندې اکتفاء اوکړې شوه، هم دغه شان په دې آيت کرمه کښې هم ده چه مسح اوکړئ د سرونو او د خپو او مراد دا دې چه مسح اوکړئ د سرونو او غسل اوکړئ د خپو ځکه چه اصل عبارت داسې دې ﴿ وامسحوا برؤسكم واغسلوا ارجلكم ﴾ ځکه چه مسح او غسل متقارب المعنى وو په دې وجه د يو په ذکر باندې اکتفاء اوکړې شوه.

[۳۸]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ".

ترجمه: د مستورد بن شداد نه روايت دې هغه وائي: ما اوليدلو رسول الله ﷺ چه کله ئې اودس کولو نو مرلې ئې ګوتې د خپو په کچه ګوته خپله

تشريح: ﴿حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الخ – قوله يَدْلُكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ ﴾ ددې حديث نه مصنف رحمه الله په غسل رجلين باندې استدلال کړې دې، ځکه چه د اصابع رجلين تخليل او دا مبالغه غسل د رجلين لره متقاضى دې، ځکه چه د مسح بناء خو په تخفيف باندې وى، هلته داسې مبالغه چرته مطلوب وى

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب دې په بيان د مسح کې په موزو باندې

(ترتيب ابواب):

مسائل د اودس او دهغې د احکامو بيان خو ختم شو اوس دغسل نمبر دې، خو مصنف رحمه الله مسح على الخفين په غسل باندې ځکه مقدم کړه چه دا د توابع وضوء نه دې د غسل سره ددې هيڅ تعلق نشته بالاجماع د اودس سره خاص دې، بلکه دا چه مصنف رحمه الله مسح على الخفين په تيمم باندې مقدم کړه ځکه چه تيمم خليفه دې د ټول اودس او مسح على الخفين نائب دې د اودس د جزء او جزء مقدم وى په کل باندې

علماء کرامو ليکلې دى چه مسح على الخفين ددې امت د خصائصو نه ده څنګه چې د رسول الله ﷺ د حديث نه معلوميږي ﴿ صلوا في خفافكم فان اليهود لا يصلون في خفافهم ﴾ په روضة المحتاجين کښې ليکلې دى چه د مسح على الخفين مشروعيت په ۹ هجرى کښې په غزوه تبوک کښې شوې دې، امام نووى رحمه الله فرمائى چه په اجماع کښې چه د کومو خلقو قول معتبر کيدې شى د هغوى ټولو په دې باندې اتفاق دې چه مسح على الخفين مطلقا جائز ده که سفر وى که خضر وى، که د څه ضرورت د وجې نه وى او که بې ضرورته وى، او په دې کښې ښځې او سړى ټول برابر دى، صرف شيعه ګانو او خوارجو ددې انکار کړې دې خو د هغوى اختلاف قابل شمار نه دې، او د امام مالک رحمه الله نه په دې سلسله کښې مختلف

(): سنن الترمذي/الطهارة ۳۰ (۴۰)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۴ (۴۴۶)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۵۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۹/۲) (صحيح)

روايات دی د هغوی هم مشهور مذهب هم هغه دي کوم چه د جمهورو دي، بلکه دا چه هغوی فرمائی چه مسح علی الخفین د بیشمیره صحابه کرامو نه منقول ده امام حسن بصری فرمائی حدثنی سبعون من اصحاب رسول الله ان رسول الله كان يمسح على الخفين.

د امام مالک د مسلک تحقیق :

حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې د ابن عبد البر نه نقل کړی دی چه په فقهاء کرامو کښې د يو فقيه نه هم سوا د امام مالک نه د مسح على الخفين انكار منقول نه دي، او روايات صحيحه د امام مالک نه هم ددې په اثبات کښې دی، امام شافعي هم په کتاب الام کښې د مالکيانو په دې قول باندې نکير فرمائيلې دې بيا حافظ فرمائی چه اوس د مالکیانو دوه اقوال مشهور دی اول مطلقا د جواز، دويم د مسافر دپاره د جواز او د مقيم دپاره د عدم جواز، هغوی فرمائی چه د مدونة د عبارت مقتضی د قول ثانی دی، خو قاضی ابوالوليد باجي مالکي قول اول يعنی مطلقا جواز ته صحيح وئيلې دې، او علامه باجی دا هم فرمائی چه امام مالک به د مسح على الخفين په باره کښې توقف کولو او عام فتوی به هغوی د جواز ورکوله

حضرت شيخ په اوجز کښې ليکلي دی چه د امام مالک موطاء شاهد عدل دې په دې خبره باندې چه هغوی سفرا او حضرا د مسح على الخفين قائل وو، حافظ ابن حجر فرمائی چه د حفاظ حديث يو جماعت ددې خبرې تصريح کړی ده چه د مسح علی الخفين ثبوت متواتر دي، وئيلې شوي دی چه ددې راويان د اتيا صحابه کرامو نه زيات دی چه په هغوی کښې عشره مبشره هم داخل دی، ابن المبارک فرمائی چه د مسح على الخفين په باره کښې د صحابه کرامو هيڅ اختلاف نه دې منقول، او که د بعض صحابه کرامو لکه علی او ابن عباس نه ددې انکار منقول دې نو د هغوی نه ددې اثبات هم منقول دې په اوجز کښې ليکلي دی چه امام مالک او هم دغه شان د امام ابوحنيفه نه د اهل سنت والجماعت د علاماتو په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائيل ﴿ ان تفضل الشيخين وتحب الختنين وتمسح على الخفين ﴾ او د امام ابوحنيفه نه دا هم منقول دی چه ﴿ما قلت بالمسح حتى جاءني فيه مثل ضوء النهار ﴾ يعنی زه تر هغه وخته پورې د مسح علی الخفين قائل نه شوم تر څو چه په دې سلسله کښې دلائل د رڼرا ورځ په شان واضح نه شو

شيعه گان کوم چه ددې منکر دی هغوی وائی چه سيدنا علی د مسح على الخفين قائل نه وو، چه کله د هغوی نه دې باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائيل ﴿ سبق الكتاب الخفين ﴾ يعنی د قرآن کريم حکم په مسح على الخفين باندې غالب دې ددې جواب دا دې چه د علی دا قول په سند متصل سره ثابت نه دې

او خوارج وائی چه مسح على الخفين د کتاب الله خلاف ده ددې جواب ښکاره دې چه اول خو په دې سلسله کښې روايات حد تواتر ته رسيدلی دی، ددې په ذريعه د کتاب الله په حکم کښې ترميم کيدلې شی، دويم دا وئيل هم غلط دی چه د کتاب الله خلاف دې ځکه چه په آيت وضوء کښې د رجلين په باره کښې دوه قراءتونه دی يو د نصب او بل د جر،

او مسح علی الخفين د قرات جر مطابق دي.
اصل کښې بعض صحابه کرامو ﷺ ته هغه وخته پوري تردد وو ترڅو چه ئې په علم کښې نه وه راغلي چه رسول الله ﷺ د نزول مائده «آيت وضوء» نه پس هم مسح علی الخفين کړي ده، چه کله هغوی ته ددي علم اوشو نو بيا ئې تردد هم ختم شو لکه چه په حديث د جرير کښې وراندې راغلي.
دلته يو اختلافي مسئله بله ده چه مسح علی الخفين افضل ده که غسل رجلين؟ ابن قدامه په مغني کښې ليکلي دي چه د امام احمد ﷺ نه روايت دي چه مسح افضل ده د غسل رجلين نه ځکه چه رسول الله ﷺ او دغه شان د هغوی صحابه کرامو ﷺ طالب فضل وو نو هر کله چه هغوی د غسل په ځائي مسح اختيار کړه نو معلومه شوه چه فضيلت هم په دې کښې دي، هغوی ليکي چه هم دا مذهب د امام شافعي او د اسحق بن راهويه دي ځکه چه در سول الله ﷺ نه روايت دي چه هغوی اوفرمائيل ﴿ ان الله يحب ان يوخذ برخصه ﴾ د الله پاک دا خبره خوښه ده چه د هغه رخصتونه قبول کړې شي (كذا فى المغنى) خو زه وايم چه ما په کتب شافعيه کښې اوکتل هغوی ليکلي دی چه الافضل غسل پس امام نووي ﷺ فرمائي غسل افضل دې په دې شرط چه ترک مسح په طريقه د اعراض عن السنة نه وی او د امام مالک ﷺ په نزد هم غسل افضل دې او د احنافو مذهب په مراقی الفلاح کښې دا ليکلي شوي دي چه که يو سړي سره د جواز مسح د اعتقاد نه مشقت برداشت کړی او موزې ويستلو سره خپلې خپې وينځي نو هغه ته به د عزيمت ثواب زياتي ملاويږي، ځکه چه غسل په نسبت د مسح اشق او اصعب دي. او د امام شعبي ﷺ رائي دا ده چه مسح افضل ده. ابن المنذر ﷺ فرمائي چه دا مسئله اګرچه د علماء کرامو په مينځ کښې اختلافي ده خو زما په نزد مسح افضل ده ځکه چه اهل بدع يعني خوارج او روافض د سنيت مسح انکار کوی. لهذا د هغوی په مخالفت کښې به مسح اختيارول اولي وی.

[۳۱]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي عَبَّادُ بْنُ زِيَادٍ، أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ الْمُغِيرَةَ يَقُولُ: "عَدَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ قَبْلَ الْفَجْرِ، فَعَدَلْتُ مَعَهُ، فَأَنَاخَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبَرَّزَ، ثُمَّ جَاءَ فَسَكَبْتُ عَلَى يَدِهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ، ثُمَّ حَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمَّا جُبَّتِهِ فَأَدْخَلَ يَدَيْهِ فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَهُمَا إِلَى الْمِرْفَقِ، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ عَلَى خُفَّيْهِ، ثُمَّ رَكِبَ، فَأَقْبَلْنَا نَسِيرُ حَتَّى نَجِدَ النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ قَدْ قَدَّمُوا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ فَصَلَّى بِهِمْ حِينَ كَانَ وَقْتُ الصَّلَاةِ، وَوَجَدْنَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَفَّ مَعَ الْمُسْلِمِينَ فَصَلَّى وَرَاءَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ الرَّكْعَةَ الثَّانِيَةَ، ثُمَّ سَلَّمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاتِهِ، فَفَزِعَ الْمُسْلِمُونَ

---

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ۳۵(۱۸۲)، ۴۸ (۲۰۳)، ۴۹ (۲۰۶)، المغازي ۸۱ (۴۴۲۱)، اللباس ۱۱ (۵۷۹۹)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۳ (۲۷۴)، سنن النسائي/الطهارة ۶۳ (۷۹)، ۶۶ (۸۲)، ۹۶ (۱۲۴)، ۹۷ (۱۲۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۴ (۵۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۱۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ۸ (۴۱)، مسند احمد (۴/۲۴۹، ۲۵۱، ۲۵۴، ۲۵۵)، سنن الدارمي/الطهارة ۴۱ (۷۴۰) (صحيح)

فَأَكْثَرُوا التَّسْبِيحَ لِأَنَّهُمْ سَبَقُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّلَاةِ، فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُمْ: قَدْ أَصَبْتُمْ، أَوْقَدْ أَحْسَنْتُمْ".

ترجمه: ابو المغيره وئيلي دي : ماتل شو رسول الله ﷺ او زه ورسره ووم په غزا د تبوک کښې مخکښې د سحر (فجر) نو ما هم ورسره ميلان اوکړو، نو چو کړه نبي ﷺ اوښه خپله نو قضاء حاجت ئې اوکړو، بيا راغي نو ما ورته اوبه واچولې د لوښي نه، نو دواړه ورغوي ئې وينځل، بيا ئې مخ وينځلو، بيا ئې دواړه ليچې ښکاره کړې، تنګ وو لستونړې د جبيي د هغه، دواړه لاسونه ئې داخل کړل نو راويستل لاندې د جبې نه، نو دواړه ئې اووينځل تر څنګلو پورې، او مسح ئې اوکړه په سر بيا ئې مسح اوکړه په موزو باندې، بيا سور شو، نو مونږ هم رارون شو تردې چه مونږ خلک بياموندل په مانځه کښې چه مخکښې کړې ئې وو عبد الرحمن بن عوف، نو مونځ ئې اوکړو کله چه د مانځه وقت وو او مونږ بياموندلو عبد الرحمن چه کړې وو هغوی ته يو رکعت د سحر د مونځ نه، نو پاڅيدو رسول الله ﷺ نو په صف کښې ودريدو د مسلمانانو سره ورروسته د عبد الرحمن بن عوف نه په دويم رکعت کښې، بيا ئې سلام وګرځولو عبد الرحمن، نو پاڅيدو رسول الله ﷺ په مانځه کښې نو مسلمان ويريدل نو زياته تسبيح ئې اووئيله خکه دوی د نبي ﷺ نه مخکښې شو په مانځه سره، هر کله چه سلام وګرځولو رسول الله ﷺ نو وئې وئيل دوی ته، يقيناً تاسو ورسيدئ حق ته، او يا تاسو ښه اوکړل.

مضمون حديث :

۱. ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ الخ – عَدَلَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم ﴾ د عدول نه مراد د قطار نه وتل دی، دستور په هغه وخت کښې دا وو چه د مسافرو قافله به په سفر کښې قطار تړلو سره تله، بيا به چه کوم مسافر ته د قضاء حاجت وغيره ضرورت پيښ شو نو هغه به د قطار نه وتلو دلته هم دا خبره مغيره بن شعبه ﷺ بيان فرمائي چه رسول الله ﷺ د استنجاء د ضرورت په وجه د قطار نه بهر راوتلو، هغوی فرمائي چه دا د غزوه تبوک واقعه ده د صبح صادق نه مخکښې دا کار شوې دې ﴿ فعدلت معه ﴾ يعنی چه کله هغوی د قطار نه بيل شو نو زه پوهه شوم چه هغوی د څه ضرورت د وجې نه د قطار نه بيل شوې دی لهذا د خدمت دپاره زه هم د قطار نه بيل شوم او د هغوی ملګرې شوم پس هغوی د استنجاء دپاره لرې تشريف يوړلو او بيا د استنجاء نه فارغ کيدو سره ئې تشريف راوړلو نو ما رسول الله ﷺ له اودس اوکړو او په لوښې سره مې د هغوی په اندامونو مبارکو باندې اوبه واچولې، چه کله د لاس د وينځلو وخت راغلو نو هغوی د خپلې جبې لستونړې پورته خيژول اوغوښتل، خو هغه د تنګوالی د وجې نه پورته او نه ختل په دې وجه هغوی خپل دواړه لاسونه مبارک د جبې د دننه طرف نه بهر راويستل، او چونکه هغوی په دې موقع باندې لابس خفين وو په دې وجه رسول الله ﷺ مسح علی الخفين اوفرمائيله، راوی فرمائي چه ددې نه پس د ضروریاتو د فارغ کيدو نه پس مونږ خلق په سورلۍ باندې سوريدو سره چه کوم طرف ته قافله روانه وه هغه طرف ته روان شو، چه کله د قافلې سره مونږ يو خائې شو نو او مو کتل چه هغه خلقو د

مونږ د وخت کیدو په وجه باندې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د امامت دپاره مخکښې کړې دې او زمونږ د رسیدو پورې يو رکعت شوې وو ، رسول الله ﷺ په جماعت کښې شريک شو ، د امام سره ئې يو رکعت ادا اوفرمائيلو او دويم رکعت ئې د امام د فارغ کيدو نه پس د قاعدې مطابق ادا اوفرمائيلو.

مونږ کونکو په دې ليدو باندې چه مونږ خلقو بل لره په امام جوړولو کښې پيش قدمي اوکړه اوويريدل او بار بار ئې تسبيح وئيل شروع کړل. چه کله رسول الله ﷺ خپل مونځ پوره کولو سره سلام اوګرځولو نو خلقو ته ئې اوفرمائيل ﴿ قد اصبتم ﴾ يا ﴿ قد احسنتم ﴾ يعني تاسو چه څه اوکړل ښه مو اوکړل په دې کښې د خفګان او افسوس څه خبره نشته.

د سنن ابوداؤد او د موطاء د روايت تعارض :

د ابوداؤد ددې روايت نه معلوميږي چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا تسبيح لوستل د مانځه د فراغت نه پس وو او د موطاء د روايت نه معلوميږي چه دا تسبيح لوستل هغه وخت وو چه کله رسول الله ﷺ هلته اورسيدلو ، او ظاهره هم دا معلوميږي چه مونځ کونکو د رسول الله ﷺ په رارسيدلو باندې د خپل امام د متوجه کولو دپاره په مانځه کښې تسبيح لوستلې وی چه هغه شاته شی، پس په روايت کښې راځی چه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د روستو کيدلو اراده فرمائيلې وه، خو د رسول الله ﷺ په اشاره باندې هغوی خپله اراده ملتوی کړه او مونځ ئې ورکړو.

دلته جمع بين الروايتين هم ممکن ده، کيدې شی چه په دواړو وختونو کښې ئې تسبيح لوستلې وی، په شروع کښې خو د امام د خبرولو دپاره، او د مونځ نه چه فارغ شو نو د اظهار افسوس او د خفګان په طور ، والله اعلم بالصواب.

په دې قصه کښې مسح علی الخفين مذکور ده، او دا واقعه د تبوک ۹ هجری ده او سورة المائده چه په هغې کښې د غسل رجلين حکم مذکور دې دهغې نزول ډير مخکښې په غزوة د بنو المصطلق ۵ يا ۴ هجری کښې شوې وو ، لهذا ددې نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ مسح علی الخفين فرمائيل د نزول مائده نه هم روستو دی، په دې سره د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم تردد مرتفع کيږی چه معلومه نه ده چه د رسول الله ﷺ د نزول مائده نه پس مسح علی الخفين کړې ده او که نه؟ لکه چه وړاندې په حديث د جرير کښې هم راځی.

د عبدالرحمن بن عوف او د صديق اکبر رضی الله عنهما د امامت دوه مختلف قصې :

دلته يو علمی سوال دې، چه څنګه دلته د امامت عبدالرحمن رضی الله عنه قصه پيښه شوه، هم دغه شان يو بله واقعه د حديث په کتابونو کښې راځی، پس په ابوداؤد کښې هم وړاندې په (باب التصفيق فی الصلوة) کښې راځی هغه دا چه يو ځل رسول الله ﷺ قبيله بنو عمرو بن عوف کښې د مصالحت دپاره تشريف يوړلو . د هغوی څه معامله پيښه شوې وه، هم په دې وخت کښې د مازيګر د مانځه وخت شو نو سيدنا بلال رضی الله عنه صديق اکبر رضی الله عنه ته عرض اوکړو چه د مانځه وخت شو تاسو مونځ ورکړئ، هغوی مونځ شروع کړو ، د مانځه د شروع کولو نه پس رسول الله ﷺ هم تشريف راوړلو او راتلو سره په صف کښې شامل شو ، په دې باندې

خلقو تصفيق اوكړو، ډير ساعت پس صديق اكبر رضي الله عنه متوجه شو او هغوی ته محسوس شوه چه رسول الله ﷺ تشريف راوړي دي، په دې باندې هغوی د روستو كيدو اراده اوكړه، رسول الله ﷺ په اشارې سره منع كړو، خو هغوی ايسار نه شو روستو شو بيا رسول الله ﷺ رامخكښې شو او امامت ئې اوكړو.

سوال دا دې چه دا څه خبره ده چه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خو مونځ وركول جاري اوساتل او صديق اكبر رضي الله عنه شاته شو، په دوی كښې د چا طرز عمل زيات مناسب دې، بعض شارحينو ليكلي دی چه په طرز عمل كښې د فرق وجه دا ده چه د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په واقعه كښې رسول الله ﷺ مسبوق شوې وو، كه هغه شاته شوې وې او رسول الله ﷺ رامخكښې شوې وې نو په دې صورت كښې به د مانځه په ترتيب كښې خلل پيدا شوې دې ځكه چه د خلقو يو ركعت شوې وو او د رسول الله ﷺ دواړه ركعتونه باقي وو او په دويمه قصه كښې رسول الله ﷺ په شروع كښې تشريف راوړلې وو په دې كښې دا اشكال نه وو په دې وجه صديق اكبر رضي الله عنه روستو شو.

بعض حضراتو په دې كښې دويمه نكته پيدا كړې ده هغه دا چه دلته دوه څيزونه دي، يو امتثال امر او دويم سلوک ادب، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه امتثال امر ته ترجيح وركړه، او صديق اكبر رضي الله عنه سلوک ادب اختيار اوفرمائيلو.

د دې نه معلومه شوه چه دا چه مشهوره ده چه ﴿الامر فوق الادب﴾ دا څه متفق عليه څيز نه دې بلكه دوه بيل بيل اړخونه دی، ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه كوم طرف صديق اكبر رضي الله عنه اختيار اوفرمائيلو يعنی سلوک ادب هغه زيات اوچت دې.

[۱۵۰]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، عَنِ التَّيْمِيِّ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ ابْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ نَاصِيَتَهُ، وَذَكَرَ فَوْقَ الْعِمَامَةِ"، قَالَ: عَنِ الْمُعْتَمِرِ، سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ ابْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ وَعَلَى نَاصِيَتِهِ وَعَلَى عِمَامَتِهِ، قَالَ بَكْرٌ: وَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنِ ابْنِ الْمُغِيرَةِ.

ترجمه: د مغيره بن شعبه رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه رسول الله ﷺ اودس اوكړو او مسح ئې اوكړه په تندې، او ذكر ئې كړه دپاسه د پټكي نه، هغه وائي: روايت دی د معتمر نه ما اوريدلي دي د خپل پلار نه، چه حديث ئې بيانولو د بكر بن عبد الله نه، او هغه د حسن نه، او هغه د مغير بن بن شعبه نه، بيشكه رسول الله ﷺ وو چه مسح ئې كوله په موزو باندې، او په تندې او په پټكي، وئيلی دي بكر: بيشكه ما اوريدلي دي د مغيره نه.

تشريح: ۲: ﴿ح حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ﴾ ددې تحويل زما په نزد څه خاص احتياج نشته، سندونه په حقيقت كښې دوه نه دی يو دې خو صرف د فرق تعبير د وجې نه مصنف رحمه الله دا دوه سندونه منلي دی.

(): صحيح مسلم/الطهارة ۲۳ (۲۷٤)، سنن الترمذي/الطهارة ۷٤ (۱۰۰)، سنن النسائي/الطهارة ۸۷ (۱۰۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱٤۹٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۵۵/٤) (صحيح)

شرح السند :

حاصل دا دې چه په دې حديث کښې د مصنف دوه استاذان په دوارو سندونو کښې مسدد دې او بيا د مسدد دوه استاذان دی يحيى بن سعيد او معتمر بن سليمان، او بيا د يحيى او معتمر استاذ يو دې يعنې سليمان تيمی، خو فرق دا دې چه يحيى چه کله دا حديث د خپل استاذ نه نقل کړو نو ﴿ عن التيمى ﴾ ئې اووئيل د کوم نه چه مراد سليمان التيمى دې، او معتمر چه کله دا روايت نقل کړو نو په ځائې د ﴿ عن التيمى ﴾ ئې ﴿ سمعت ابى ﴾ اووئې، دَ ابى مصداق هم سليمان التيمى دې، سليمان التيمى چونکه د معتمر والد صاحب وو په دې وجه هغوی داسې تعبير اوکړو، بيا تر اخره پورې سند يو دې ﴿ قوله قال عن المعتمر سمعت ابى ﴾ د قال ضمير مسدد ته راجع دې يعنې اووئيل مسدد د معتمر نه نقل کولو سره ﴿ سمعت ابى ﴾ او مسدد چه کله د يحيى بن سعيد نه نقل کړې وو نو ﴿ عن التيمى ﴾ ئې وئيلې وو، لکه چه مخکښې تير شو.

﴿ قوله عَنِ الْحَسَنِ عَنِ ابْنِ الْمُغِيرَةِ ﴾ ددې ابن المغيره مصداق يا خو عروه دې لکه چه په وړاندې سند کښې راځی، او يا د مغيره بل ځوئې دې چه نوم ئې حمزه دې، حسن بصری دلته ﴿ عن المغيرة ﴾ مبهما ذکر فرمائيلې دې او وړاندې روايت د شعبی دې چه په هغې کښې ددې ابن تعين فرمائيلو سره هغوی ﴿ سمعت عروة بن المغيرة ﴾ اووې، او په بعض رواياتو کښې د حمزة بن المغيرة تصريح ده.

قاضی عياض فرمائی چه فی نفسه دا روايت د عروه او حمزه دوارو نه روايت دې خو د بکر بن عبدالله په روايت کښې صحيح يا خو حمزة دې يا بيا مطلق ابن المغيرة بغير د تعين نه، د بکر بن عبدالله په روايت کښې د عروة تعين صحيح نه دې، حضرت سهارنپوری په بذل کښې ددې نه پس د تهذيب التهذيب نه د حافظ ابن حجر عبارتونه نقل فرمائيلو سره ثابت کړې ده چه دحافظ د کلام نه معلوميږی چه د بکر بن عبدالله رواياتو کښې هم عروه او حمزه دوارو طريقو سره راغلې دی، د بکر په روايت کښې د عروه تعين دحافظ په نزد وهم نه دې

﴿ قوله قَالَ بَكْرٌ وَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنَ ابْنِ الْمُغِيرَةِ ﴾ په تير شوی سند کښې د بکر او ابن المغيرة ترمينځه واسطه حسن بصری وو، دلته بکر دا وائی چه ما دا حديث براه راست د ابن المغيره نه هم اوريدلې دې بغير د واسطې د حسن نه

خان پوهه کړه چه د يحيى او معتمر په روايت کښې چه د سند په اعتبار سره کوم فرق دې دهغې بيان پورته راغلو، ددې داوړو په روايت کښې چه د الفاظ متن په اعتبار سره کوم فرق دې هغې باندې هم خان پوهه کول پکار دی، هغه په دوه قسمه دې، يو دا چه د يحيى روايت کښې مسح على الخفين نه ده ذکر شوې او د معتمر په روايت کښې ذکر شوې ده، دويمه دا چه د يحيى په روايت کښې مسح على العمامة په بل انداز کښې بيان کړې شوې ده او هغه انداز هغه دې کوم کښې چه راوی ته د خپل استاذ اصل الفاظ ياد نه وی هغوی دا مضمون په خپلو الفاظو کښې ادا کوی او د معتمر په روايت کښې داسې نه ده

مغوی مسح علی العمامة د استاذ په الفاظو کښې بالجزم بیان کړې ده.

[۱۵۱]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَذْكُرُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَكْبِهِ وَمَعِي إِدَاوَةٌ، فَخَرَجَ لِحَاجَتِهِ، ثُمَّ أَقْبَلَ فَتَلَقَّيْتُهُ بِالْإِدَاوَةِ، فَأَفْرَغْتُ عَلَيْهِ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ وَوَجْهَهُ، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ ذِرَاعَيْهِ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ مِنْ جِبَابِ الرُّومِ ضَيِّقَةُ الْكُمَّيْنِ فَضَاقَتْ فَادَّرَعَهُمَا ادِّرَاعًا، ثُمَّ أَهْوَيْتُ إِلَى الْخُفَّيْنِ لِأَنْزَعَهُمَا، فَقَالَ لِي: دَعِ الْخُفَّيْنِ، فَإِنِّي أَدْخَلْتُ الْقَدَمَيْنِ الْخُفَّيْنِ وَهُمَا طَاهِرَتَانِ، فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا". قَالَ أَبِي: قَالَ الشَّعْبِيُّ: شَهِدَ لِي عُرْوَةُ عَلَى أَبِيهِ، وَشَهِدَ أَبُوهُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د مغيره نه روايت دې هغه وائي: وو مونږ د رسول الله ﷺ سره په يوه قافله کښې و ماسره يو لوښې وو نو هغه لاړو خپل حاجت دپاره، بيا راغلو نو زه ورسره مخامخ شوم په لوښي، نو ما اوبه واړولې په هغه نو دواړه لاسونه او مخ ئې وينځل، بيا ئې اراده اوکړه چه دواړه ليچې راوکاږي او په هغه باندې جبه وه د وړو نه د جبو د روم نه، چه لستونړې ئې تنګ وو، نو دواړه لاسونه ئې راويستل په راويستلو سره، بيا ما قصد اوکړو موزو ته دې لپاره چه وئې کاږم، نو وئې وئيل ماته: پريږده موزې، بيشکه ما داخل کړې وې خپې په موزو کښې او هغه پاکې وې نو مسح ئې اوکړه په هغې دواړو، وئيلې دې زما پلار: چه وئيلې دې شعبي ګواهي اوکړه ماته عروه په خپل پلار، او ګواهي اوکړه پلار د هغه په رسول الله ﷺ باندې

تشريح: ۳ ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ قوله فِي رَكْبِهِ ﴾ يعنى د سورو مسافرو قافله ﴿ قوله دَعِ الْخُفَّيْنِ فَإِنِّي أَدْخَلْتُ الْقَدَمَيْنِ الْخُفَّيْنِ وَهُمَا طَاهِرَتَانِ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د مسح على الخفين د صحت شرط دا دې چه لبس خفين په طهارت باندې وى دا مسئله اجماعى ده.

د لبس خفين په وخت په طهارت کامله کيدو کښې اختلاف:

خو اختلاف په دې کښې دې چه په وخت د لبس خفين طهارت کامله ضرورى دې او که نه؟ يعنى که د غسل قدمين نه پس موزې وينځى او دهغې نه پس د اودس تکميل اوکړى دا صحيح ده او که نه؟ پس د جمهور په نزد د طهارت کامله کيدل په وخت د لبس شرط دې، او د احنافو په نزد د لبس خفين په وخت صرف طهارت القدمين کافى دې په دې شرط چه حدث لاحق کيدو نه مخکښې د اودس تکميل اوکړى

هم دغه شان که يو سړې د ترتيب مسنون مطابق اودس کوى او د يوې خپې د وينځلو نه پس موزه واچوى او د بلې خپې دوينځلو نه پس بله موزه واچوى نو د سفيان ثورى او مزنى او احنافو ﷺ په نزد دا صورت هم جائز دې د جمهور علماء کرامو په نزد جائز نه دې.

﴿ قوله قَالَ أَبِي قَالَ الشَّعْبِيُّ شَهِدَ لِي عُرْوَةُ ﴾ دا د عيسى بن يونس مقوله ده چه ماته زما پلار يونس بيان اوکړو هغوى به فرمائيل چه ماته زما استاذ شعبي بيان اوکړو چه دا حديث ماته زما استاذ عروه په لفظ د شهادت سره بيان کړې وو او وړاندې عروه هم داسې وائي

(): انظر حديث رقم: ۱۴۹، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۱٤) (صحيح)

چه ماته دا حديث زما پلار مغيره بن شعبة په لفظ د شهادت سره بيان کړي وو، پس خان پوهه کړه چه حديث لره په وخت د روايت په لفظ شهادت سره بيانول ډير کرته د تقويت حديث دپاره وي.

[١٥٢]() حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، أَنَّ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ قَالَ: تَخَلَّفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ هَذِهِ الْقِصَّةَ، قَالَ: فَأَتَيْنَا النَّاسَ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ يُصَلِّي بِهِمُ الصُّبْحَ، فَلَمَّا رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَتَأَخَّرَ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ أَنْ يَمْضِيَ، قَالَ: فَصَلَّيْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَهُ رَكْعَةً، فَلَمَّا سَلَّمَ، قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى الرَّكْعَةَ الَّتِي سُبِقَ بِهَا وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهَا، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، وَابْنُ الزُّبَيْرِ، وَابْنُ عُمَرَ يَقُولُونَ: مَنْ أَدْرَكَ الْفَرْدَ مِنَ الصَّلَاةِ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ.

ترجمه: د مغيره بن شعبه نه روايت دې هغه وائي، وروسته شو رسول الله ﷺ نو بيا ئي قصه ذکر کړه، هغه وائي: مونږ راغلو خلکو ته او عبد الرحمن بن عوف مونځ کولو دوی ته د سحر، هرکله چه ئي نبي ﷺ اوليدلو نو اراده ئي اوکړه چه وروسته شي، نو اشاره ئي اوکړه هغه ته چه پوره کړه، هغه وائي: نو مونځ اوکړو ما او نبي ﷺ وروسته دهغي نه يو رکعت، نو هرکله چه ئي سلام اوګرځولو نو پاځيدلو نبي ﷺ نو ونې کړو هغه رکعت چه ترينه تير شوي وو، او زيادت ئي اونه کړو په هغې باندې. وئيلي دي ابوداود: ابو سعيد الخدري او ابن الزبير او ابن عمر وايي: چا چه يو رکعت بيامونډلو د مونځ نه نو په هغه باندې دوه سجدې د سهوې دي.

تشريح: ﴿ قال ابوداؤد.... مَنْ أَدْرَكَ الْفَرْدَ مِنَ الصَّلَاةِ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ ﴾ يعنی ابوسعيدخدری ﷺ، عبدالله بن الزبير او د عبدالله بن عمر ﷺ دا مسلک دې چه کوم سړي ته د امام سره يو يا درې رکعتونه ملاؤ شوي وی نو داسې مسبوق ته د مانځه د فراغت نه پس سجده سهو کول پکار دی په شرح کښې ئي ليکلي دی چه هم دا مذهب د عطاء، اسحق بن راهويه، طاؤس او مجاهد دې.

په ظاهره ددې وجه دا ده چه کوم سړی ته د امام سره يو يا درې رکعتونه ملاويږی نو هغه به په مانځه کښې جلوس في غير محله کوی، پس چه کله هغه ته يو رکعت ملاؤ شی نو هم په هغه يو رکعت کښې به کينی، او په کوم صورت کښې چه ورته درې رکعتونه ملاؤ شي او صرف يو رکعت فوت شی نو هغه به هم د يو رکعت کولو نه پس فورا کينی ځکه چه امام به هغه دويم رکعت وی، والله اعلم بالصواب

د جمهورو په نزد دا نښته ځکه چه په دې کښې رسول الله ﷺ ته يو رکعت ملاؤ شوي وو او هغوی سجده سهوه نه وه کړي، دا د جمهورو دليل دې.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٤٩٢) (صحيح)

[۱۵۳]() حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ حَفْصِ بْنِ عُمَرَ بْنِ سَعْدٍ، سَمِعَ أَبَا عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، أَنَّهُ شَهِدَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ يَسْأَلُ بِلَالًا عَنْ وُضُوءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "كَانَ يَخْرُجُ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَآتِيهِ بِالْمَاءِ فَيَتَوَضَّأُ، وَيَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَمُوقَيْهِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هُوَ أَبُو عَبْدِ اللهِ مَوْلَى بَنِي تَيْمِ بْنِ مُرَّةَ.

ترجمه: د ابو عبد الرحمن سلمي نه روايت دي، هغه حاضر شو عبد الرحمن بن عوف ته چه تپوس ئې کولو د بلال نه، د اودس د رسول الله ﷺ، هغه اووئيل نو هغه به ووتلو چه پوره کولو به ئې حاجت خپل، نو ما به ورته اوبه راوړلي نو اودس به ئې کولو، مسح به ئې کوله په پټکي اوپه دواړو مقينوباندې. وئيلى دي ابوداود: هغه ابوعبدالله دى مولى د بني تيم بن مرة.

تشريح: ۵: ﴿ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ الخ – قوله وَيَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَمُوقَيْهِ ﴾ په دې حديث کښې مسح على الخفين او مسح على العمامة دواړه ذکر شوې دى د موقين نه مراد خفين دي، ددې نه مخکښې په باب صفة الوضوء کښې لفظ ﴿ كان يمسح على الماقين ﴾ تير شوي دي، ددې شرح هلته تيره شوې ده.

[۱۵۴]() حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ الدِّرْهَمِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ دَاوُدَ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، أَنَّ جَرِيرًا بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ، وَقَالَ: "مَا يَمْنَعُنِي أَنْ أَمْسَحَ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ؟ قَالُوا: إِنَّمَا كَانَ ذَلِكَ قَبْلَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ، قَالَ: مَا أَسْلَمْتُ إِلَّا بَعْدَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ".

ترجمه: د ابو زرعه نه روايت دي، بيشکه جرير اودس مات کړو، بيا اودس اوکړو نو مسح ئې اوکړه په موزو باندې، او وئيلى دي هغه: ما څه منع کوي د مسح نه او بيشکه ما ليدلى وو رسول الله ﷺ چه مسح ئې کوله، هغوى وئيلى دى: بيشکه وو دا مخکښې د نزول د سورة المائدې نه، هغه اووئيل: ما اسلام نه دى راوړى مګر وروسته د نزول د مائدې نه.

تشريح: ۲: ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ – قوله مَا يَمْنَعُنِي أَنْ أَمْسَحَ ﴾ جرير بن عبدالله ﷺ چه کله مسح على الخفين اوکړه نو په دې باندې بعض خلقو دا اشکال اوکړو او دا اشکال کونکي به هم هغه حضرات وى چاته چه دا خبره معلومه نه وه چه رسول الله ﷺ نزول مائده يعنى د آيت وضوء د نزول نه پس مسح على الخفين فرمائيلي وه، پس جرير ﷺ اوفرمائيل چه کله ما رسول الله ﷺ په مسح کولو باندې ليدلې وو نو بيا ئې زه ولې نه کوم، د اشکال کونکو په ذهن کښې چه کومه خبره وه هغه هغوى عرض کړه ﴿ إِنَّمَا كَانَ ذَلِكَ قَبْلَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ ﴾ سيدنا جرير بن عبدالله ﷺ جواب ورکړو ﴿ مَا أَسْلَمْتُ إِلاَّ بَعْدَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ ﴾ يعنى ما خو د نزول مائده نه پس اسلام راوړى دى، او ما رسول الله ﷺ په مسح على الخفين باندې ليدلى دي

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۲۰۴۹)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الطهارة ۲۳ (۲۷۵)، سنن الترمذي/الطهارة ۷۵ (۱۰۰)، سنن النسائي/الطهارة ۸۶ (۱۰۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۹ (۵۶۱)، مسند احمد (۱۲/۶، ۱۳، ۱۴، ۱۵) (صحيح)

(): تفرد به ابوداود (تحفة الأشراف: ۳۲۴۰)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ۲۵ (۳۸۷)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۲ (۲۷۲)، سنن الترمذي/الطهارة ۷۰ (۹۴)، سنن النسائي/الطهارة ۹۶ (۱۱۸)، القبلة ۲۳ (۷۷۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۴ (۵۴۳)، مسند احمد (۳۵۸/۴، ۳۶۳، ۳۶۴) (حسن)

کوم چه د نزول مائده نه روستو خبره ده، دلته د مسلم په روایت کښې یو زیادت دې هغه دا چه راوی وائی ﴿ وکان یعجبهم هذا الحدیث ﴾ په اصل کښې د آیت وضوء نزول په غزوة د بنو المصطلق ۴ یا ۵ هجری کښې شوې دې او د یو قول په بناء باندې په شپږمه کښې شوې دې، او د سیدنا جریر ﷺ اسلام د رمضان په میاشت کښې په لسم هجری کښې شوې دې

[۱۵۵]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا دَلْهَمُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ حُجَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ فَلَبِسَهُمَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا"، قَالَ مُسَدَّدٌ، عَنْ دَلْهَمِ بْنِ صَالِحٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْبَصْرَةِ.

ترجمه: د بریده نه روایت دی: بیشکه نجاشي هدايه کړي وي رسول الله ﷺ ته موزي توري ساده، نو هغه ئي واغوستلې، بیا ئي اودس آوکړو او مسح ئي اوکړه په هغې.

تشریح: ۷ ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ – قوله أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى الخ ﴾ نجاشی په تخفیف د جیم سره او یاء مشدد او مخفف دواړو طریقو سره منقول دې د هغوی نوم اصحمه بن بحر دې، او نجاشی لقب دې او د هر شاه حبشه لقب نجاشي وی لکه چه د فارس کسری او د شاه روم قیصر، دې نجاشی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې اسلام راوړې وو خو د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې نه وو، او د اسلام په وخت هغوی د رسول الله ﷺ د رسالت تصدیق کولو سره اوفرمائیل لکه چه په ابوداؤد کتاب الجنائز کښې دی ﴿ ولولا ما انا فیه من الملک لاتیته حتی احمل نعلیه ﴾ که زه د خپلې بادشاهۍ په کارونو کښې مشغول نه اوم نو خامخا به د هغوی په خدمت کښې حاضر شوې اوم او د هغوی نعلین شریفین اوچتولو سره به مې فخر حاصل کړې وې

﴿ قوله خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ ﴾ ساذج معرب دې د ساده یعنی غیر منقوش، یا مراد دا دې چه په هغې باندې ویښته نه وو صرف څرمن وه. یا دا مطلب دې چه هغه خالصې توري وې بل رنګ پکښې شامل نه وو.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْبَصْرَةِ ﴾ یعنی ددې حدیث ټول راویان بصری دی خو دا په اعتبار د اکثر سره صحیح دې ګینې بعض راویان په دې کښې غیر بصری هم دی لکه دلهم بن صالح رحمه الله کوفي وو.

[۱۵۶]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ حَيٍّ هُوَ الْحَسَنُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَامِرٍ الْبَجَلِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي نُعْمٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَسِيتَ؟ قَالَ: بَلْ أَنْتَ نَسِيتَ، بِهَذَا أَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: د مغیره بن شعبه نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ مسح اوکړه په موزو باندې، نو ما اووئیل: نبی علیه السلام اوفرمائیل اې د الله رسوله ایا تا هېر کړه؟ هغه اووئیل بل

(۱): سنن الترمذي للأدب ۵۵ (۲۸۲۰)، سنن ابن ماجه للطهارة ۸۴ (۵۴۹)، مسند احمد (۳۵۲/۵)، (تحفة الأشراف: ۱۹۵۶) (حسن)
(۲): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۱۵۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۴۶/۴، ۲۵۳) (ضعيف)

کښې تا هېر کړه، په دې باندې امر کړی دی ماته رب زما.

تشریح: ۸ ﴿قوله بَلْ أَنْتَ نَسِيتَ بِهَذَا أَمَرَنِي رَبِّي﴾ ددې دوه مطلبونه کیدې شي يو دا چه کله مغیره بن شعبة رضي الله عنه رسول الله ﷺ په مسح کولو باندې اولیدو او په دې ئې اشکال اوکړو چه آیا تاسو په هیره باندې مسح کوئ نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زما نه هیره نه ده واقع شوې بلکه ستا نه هېر دی ځکه چه مسح علی الخفین جائز ده.

دویم مطلب دا کیدې شي چه رسول الله ﷺ هغوی ته تنبیه فرمائي چه د سوال دا طریقه نه ده، مشرانوته داسې خطاب نه دی کول پکارچه د هغوی طرف ته د نسیان نسبت اوکړې شي، یعنی ما نه غسل رجلین نه دی هېر شوې بلکه ستا نه د تیوس کولو طریقه هیره شوې ده.

بَابُ التَّوْقِيتِ فِي الْمَسْحِ

باب دې په بيان د وقت د مسح کې

مسئله مترجم بها مختلف فيه ده، جمهور علماء او ائمه ثلاثه د توقیت فی المسح قائل دی او امام مالک رحمه الله د مشهور قول په بناء د توقیت قائل نه دې، او هم دا مسلک د لیث بن سعد دې، هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې د عمر رضي الله عنه نه هم عدم توقیت مسح نقل کړې دې.

[۱۵۷]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، وَحَمَّادٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ الْجَدَلِيِّ، عَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ لِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، وَلِلْمُقِيمِ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، بِإِسْنَادِهِ، قَالَ فِيهِ: وَلَوِ اسْتَزَدْنَاهُ لَزَادَنَا.

ترجمه: خزیمة بن ثابت روایت کوي د رسول الله ﷺ نه، هغه وئیلي دي: مسح د مسافر لپاره درې ورځې ده، او د مقیم لپاره یوه شپه او یوه ورځ ده. وئیلي دي ابوداود: روایت کړی دی منصور بن المعتمر د ابراهیم التیمي نه په خپل اسناد سره، وئیلي ئې دي په هغې کې: که چیرې مونږ د زیادت طلب کړی وی نو هغه به راته زیادت کړی وی

د توقیت فی المسح روایات:

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د توقیت مسح په سلسله کښې امام بخاری رحمه الله هیڅ روایت نه دې ذکر کړې، خو امام مسلم رحمه الله د سیدنا علی رضي الله عنه حدیث ذکر کړې دې چه دهغې مضمون دا دې شریح بن هانی رحمه الله فرمائي چه ما د سیده عائشه رضي الله عنها نه د مسح علی الخفین په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل د علی رضي الله عنه نه تپوس اوکړه هغه به په سفر کښې د رسول الله ﷺ سره وو، شریح وائي چه بیا مونږ د علی رضي الله عنه نه ددې په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ د مسافر دپاره درې ورځې او درې شپې او د مقیم دپاره یو ورځ او یو شپه متعین فرمائیلې ده، د صفوان بن عسال رضي الله عنه په حدیث مرفوع کښې هم دغه شان توقیت فی المسح ذکر شوې ده، د کوم تخریج چه امام ابن خزیمه رحمه الله کړې دې.

(): سنن الترمذي/الطهارة ۷۱ (۹۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۶ (۵۵٤)، (تحفة الأشراف: ۳۵۲۸)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۲۱۳/۵) (صحیح)

امام ابوداؤد او امام ترمذی رحمه الله د توقیت فی المسح په باره کښې د خزیمه بن ثابت حدیث ذکر فرمائیلې دې چه دهغې مضمون هم دا دې چه د مسافر دپاره درې ورځې او درې شپې او د مقیم دپاره یوه ورځ او یوه شپه ده، امام ترمذی رحمه الله د ﴿ وفي الباب ﴾ د لاندې ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم حواله ورکړې ده، او په حاشیه د ابوداؤد کښې لیکلې شوې دی چه د توقیت فی المسح روایات د اتلسو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت کړې شوې دی

د حدیث خزیمة تصحیح او تضعیف کښې د محدثینو اختلاف:

خان پوهه کړه چه د خزیمه بن ثابت حدیث کوم چه مصنف رحمه الله د باب په شروع کښې ذکر کړې دې دهغې په تصحیح او تضعیف کښې د محدثینو سخت اختلاف دې، یو جماعت چه په هغوی کښې ابن حبان، ابن معین او ابن دقیق العید رحمهم الله هم دی ددې مطلقا تصحیح کړې ده او یو جماعت چه په هغوی کښې امام بخاری، امام بیهقی او امام نووی رحمهم الله دی ددې مطلقا تضعیف کړې دې، امام نووی رحمه الله تردې پورې وئیلې دی چه ﴿اتفقوا علی ضعفه ﴾ خو حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باندې اشکال کړې دې چه دا اتفاق نقل کول صحیح نه دی، او دریمه رائې د امام ترمذی رحمه الله ده، هغوی دا حدیث په دوه طریقو سره ذکر کړې دې، په طریق د نخعی، او په طریق د التیمی. د طریق اول په اعتبار سره ئې تضعیف کړې دې او د طریق ثانی په اعتبار سره ئې تصحیح کړې ده.

د امام ترمذی رحمه الله ددې تفریق مقصد دا دې چه د ابراهیم نخعی په طریق کښې انقطاع ده ځکه چه هغوی براه راست د ابو عبدالله الجدلی نه روایت کوی، حالانکه د هغه د هغوی نه سماع ثابته نه ده، او ابراهیم تیمی دا حدیث د ابوعبدالله الجدلی نه په واسطه د عمرو بن میمون روایت کړې دې په دې وجه هغه د طریق انقطاع نه محفوظ دې، هم په دې وجه امام ترمذی رحمه الله ددې تصحیح فرمائیلې ده.

او امام بخاری رحمه الله وغیره چا چه ددې مطلقا تضعیف کړې دې هغه که په طریق د تیمی وی یا په طریق د نخعی پس ددې وجه دا ده چه په دې دواړو طریقو کښې دې حدیث لره ابوعبدالله الجدلی د خزیمه بن ثابت نه روایت کوی او د امام بخاری رحمه الله رائې دا ده چه د جدلی سماع د خزیمه نه ثابته نه ده، لهذا د امام بخاری رحمه الله په نزد دا حدیث په دواړو طریقو باندې ضعیف شو.

او امام ابوداؤد رحمه الله دا حدیث اگر چه په دوه طریقو سره ذکر کړې دې خو د هغوی د کلام نه معلومیږی چه طریق النخعی والتیمی دواړو کښې هیڅ فرق نشته د دواړو سند یو دې، او حال دا چه د جامع ترمذی نه معلومیږی چه په دواړو کښې فرق دې لکه چه اوس تیر شو.

حدیث خزیمة د چا دلیل دې؟

د دې نه پس خان پوهه کړه چه حدیث خزیمه په طریق د نخعی خو یقینا په توقیت فی المسح کښې د جمهورو د مسلک مطابق دې خو حدیث خزیمة په طریق التیمی کښې یو د اختلاف خبره پیدا شوې ده هغه دا چه په دې یوه جمله کښې د ﴿ وَلَوِ اسْتَزَدْنَاهُ لَزَادَنَا ﴾ اضافه ده، یعنی راوی وائی چه رسول الله ﷺ اگرچه د مسح وخت مقرر کړو خو که مونږ په دې کښې زیادت

طلب کړي وي نو رسول الله ﷺ به ضرور اضافه فرمائیلي وي، ددې جملې د وجې نه دا حدیث فی الجمله د جمهورو د مسلک خلاف دې، ددې درې جوابونه دی! اول: دا چه په طریق تیمی کښې دا زیادت کوم چه د ابوداؤد په روایت کښې دې په سنن ترمذی کښې نشته، هلته د دواړو روایتونو الفاظ یو دی، لهذا ددې په ثبوت کښې تردد شو، دویم: دا چه حرف لو خو د نفی دپاره راځی ﴿ لو جئتنی لاکرمتک ﴾ په دې کښې د مجئ او اکرام سراسر نفی ده، دغه شان دلته هم ده چه که مونږ زیادت طلب کړې وې نو رسول الله ﷺ به زیادت فرمائیلي وې ﴿ واذ لیس فلیس ﴾ ثالث: دا چه دا گمان د راوی دې کوم چه د حسبان او تخمین د قبیلې نه دې، فلا یعتبر.

تنبیه: په بذل کښې د حضرت د کلام نه معلومیږي چه امام ترمذی ﷫ د حدیث خزیمة مطلقا تصحیح کړې ده خو مونږ پورته بیان کړه چه امام ترمذی ﷫ صرف د یو طریق په اعتبار سره ددې تصحیح کړې ده او د دویم طریق په اعتبار سره ئې تضعیف کړې دې

د مسح د مودې شروع د کله نه معتبر ده

خان پوهه کړه چه د جمهور ائمه ثلاثه په نزد په مسح کښې توقیت دې په دې کښې اختلاف دې چه د مسح د مودې شروع به د کله نه وي، اکثر علماء او د احناڧو او شوافعو په نزد د مسح د مودې ابتداء د موزې په خپو کولو نه پس چه کله بې اودسي راشي د هغه وخت نه به وي، او د امام احمد او اوزاعی ﷭ په نزد چه کله موزې واچوی هم د هغه وخت نه به د مسح موده شمارلې کیږی، دلته درې حالتونه دی، وخت لبس، وخت د مسح، وخت د حدث د پورته اختلاف نه معلوم شو چه د مسح د مودې شروع د وخت نه په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم نشته، خو د حسن بصری ﷫ نه روایت دې لکه څنګه چه په شامی کښې لیکلي شوې دی.

[١٥٨]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ الرَّبِيعِ بْنِ طَارِقٍ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَزِينٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ قَطَنٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ عِمَارَةَ، قَالَ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَكَانَ قَدْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْقِبْلَتَيْنِ: أَنَّهُ قَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: يَوْمًا؟ قَالَ: يَوْمًا، قَالَ: وَيَوْمَيْنِ؟ قَالَ: وَيَوْمَيْنِ، قَالَ: وَثَلَاثَةً؟ قَالَ: نَعَمْ، وَمَا شِئْتَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ الْمِصْرِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَزِينٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ عِمَارَةَ، قَالَ فِيهِ حَتَّى بَلَغَ سَبْعًا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ، وَمَا بَدَا لَكَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدِ اخْتُلِفَ فِي إِسْنَادِهِ، وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ، وَرَوَاهُ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، وَيَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحِينِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، وَقَدِ اخْتُلِفَ فِي إِسْنَادِهِ.

ترجمه: د یحیی بن ایوب نه روایت دې، او وو چه مونځ ئې کړی وو د رسول الله ﷺ سره دواړو قبلو ته، هغه اووئیل: اې د الله رسوله زه مسحه اوکړم په موزو باندې؟ هغه اووئیل: او، هغه اووئیل: یوه ورځ؟ نو هغه اووئیل: یوه ورځ، بیا هغه اووئیل: او دوه ورځې؟ هغه

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۷ (۵۵۷)، (تحفة الأشراف: ٦) (ضعيف)

اووئیل او دوه ورځې، هغه اووئیل: درې ورځې؟ هغه وفرمایل: او او هغه چه ستا خوښه وي. وئیلی دي ابوداود: روایت کړی دی ددې ابن ابي مريم المصري د يحيى بن ايوب نه، هغه د عبد الرحمن بن رزين نه، هغه د محمد بن يزيد بن ابي زياد نه، هغه د عبادة بن نسي نه، هغه د أبي بن عمارة نه هغه وئيلي دي: تردې چه اوو ته ورسیدو، اووئیل رسول الله ﷺ او، او هغه چه تا ته ښکاره شي. وئيلي دي ابوداود: او اختلاف شوی دی د دې په اسناد کښې او دا قوي نه دی، او روایت کړی دی ددې ابن ابي مريم، او یحیی بن اسحاق السيلحيني د يحيى بن ايوب نه، يقيناً اختلاف شوی دی په اسناد ددې کښې

تشریح: ﴿ قوله عَنْ أُبَيِّ بْنِ عِمَارَةَ ﴾ دا حدیث د مالکیانو دلیل دې ځکه چه ددې نه عدم توقيت فى المسح ثابتیږی چه تر څو غواړی مسح کولې شی، په مینځ کښې د موزو د ویستلو حاجت نشته.

د ابی بن عماره په حدیث باندې کلام او د هغې جوابات :

خو دا حدیث د ابی بن عماره بالاتفاق ضعیف دې خپله امام ابوداؤد رحمه الله ددې حدیث په سند کښې سخت اختلاف او اضطراب ثابت کړې دې. امام بیهقي او دارقطني او حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي ﴿ اسناده غير قائم ﴾ بلکه امام نووی رحمه الله خو لیکلې دی ﴿ اتفقوا على ضعفه﴾ د امام نووی رحمه الله دا خبره دلته صحیح ده اګرچه د باب د اول حدیث یعنی حدیث خزيمة په باره کښې هم امام نووی رحمه الله هم دا فرمائیلې وو چه ﴿ اتفقوا على ضعفه ﴾ خو هلته د امام نووی رحمه الله خبره د منلو قابله نه ده لکه چه تفصیلًا تیر شو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي ﴿وبالغ الجوزقاني فذكره في الموضوعات ﴾ زه وایم هم دغه شان ابن الجوزی رحمه الله هم دا په موضوعاتو کښې شمار کړې دې، ددې حدیث په سند کښې يو راوی عبدالرحمن بن رزین دې، هغه مجهول دې، هم دغه شان د هغوی شیخ محمد بن یزید او شیخ الشیخ ایوب بن قطن ټول مجاهيل دی

خان پوهه کړه چه هغه حدیث د ابی بن عماره چه په هغې کښې دا دی چه ترڅو پورې مسح کول غواړې هیڅ حد نشته، یو تاویل یې هم کړې شوې دې هغه دا چه مطلب دا دې چه مسح على الخفين د قاعدې او ضابطې مطابق چه کله غواړې کوه او هغه قاعده او ضابطه دا ده چه مقیم د یوې ورځې او یوې شپې او مسافر د درې ورځو او درې شپو نه پس موزې اوباسی او خپې وینځی او بیا ئې واچوی او بیا همیشه داسې کوی چه اوباسی ئې او اچوی ئې. لکه چه په یو بل حدیث کښې دی ﴿ الصعيد الطيب وضوء المسلم ولو الى عشر سنين ﴾ یعنی پاکه خاوره د مسلمان سرې دپاره اودس دې اګرچه د لسو کالو پورې وی یعنی لسو کالو پورې د ضابطې او قاعدې مطابق د حاجت په وخت تیمم کولې شی، دا مطلب نه دې چه یو تیمم دې تر لسو کالو پورې باقي وی دا توجیه خو ډیره لطیف ده خو ددې حاجت نشته ځکه چه دا حدیث د ابی بن عماره بالاتفاق ضعیف دې

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ

باب دې په بيان مسح کې په جورابو باندې

د جوربين تعريف او اقسام کښې تفصيل دې، او مختلف اقوال دى خو دومره خبره واضح او منقح ده چه خفين وئيلې شى د څرمني موزو ته، او جوربين هغه موزې کومې چه د څرمني نه علاوه د ورئ، تار يا کاټن وغيره وى

مسح على الجوربين کښې اختلاف ائمة:

په مسح على الجوربين کښې د ائمه اختلاف دې، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مسح على الجوربين هغه وخت جائز ده ﴿ ان کانا مجلدين او منعلين ﴾ د صاحبينو او امام احمد رحمهم الله په نزد که ثخينين وى نو بيا هم په هغې باندې مسح جائز ده او امام صاحب روستو هم دې قول ته رجوع فرمائيلې وه، لهذا اوس هم دا مسلک د امام ابوحنيفه رحمه الله دې، د امام مالک رحمه الله مسلک دې ﴿ ان کانا مجلدين فقط ﴾ يعنى د هغوى په نزد صرف هغه وخت جائز ده چه کله هغه مجلد وى لاندې باندې دواړو طرفونو ته څرمه لګيدلې وى، او که منعل ده يعنى څرمن صرف لاندې طرف ته لګيدلې وى يا نه مجلد وى او نه منعل بلکه ثخين وى، په دې دواړو صورتونو کښې د هغوى په نزد مسح جائز نه ده، د امام شافعي رحمه الله نه په دې سلسله کښې دير روايتونه دى، يو د مالکيانو په شان، دويم د احنافو په شان، او دريم روايت د هغوى دا دې چه ﴿ ما يمکن متابعة المشي فيه ﴾ يعنى په کومو جورابو اچولو سره چه انسان بغير د پيزار نه يو دوه ميله بغير د تکلف نه تلې شى، او هم دا د هغوى په نزد اصح قول دې، ددې حاصل هم هغه دې کوم چه د امام احمد او صاحبينو رحمهم الله مسلک دې

پس اوس خلاصه دا شوه چه ائمه ثلاثه (امام ابوحنيفه، امام شافعي، امام احمد، او صاحبينو رحمهم الله په نزد مسح على الجوربين جائز ده ان کانا مجلدين او منعلين او ثخينين. او د امام مالک رحمه الله په نزد ان کانا مجلدين فقط.

[۱۵۹] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ الْأَوْدِيِّ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَرْوَانَ، عَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ لَا يُحَدِّثُ بِهَذَا الْحَدِيثِ، لِأَنَّ الْمَعْرُوفَ عَنِ الْمُغِيرَةِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ هَذَا أَيْضًا عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ مَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ، وَلَيْسَ بِالْمُتَّصِلِ وَلَا بِالْقَوِيِّ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ: عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَابْنُ مَسْعُودٍ، وَالْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، وَأَبُو أُمَامَةَ، وَسَهْلُ بْنُ سَعْدٍ، وَعَمْرُو بْنُ حُرَيْثٍ، وَرُوِيَ ذَلِكَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: د مغيره بن شعبه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ اودس اوکړو او مسح ئې اوکړه په جورابو باندې او په پيزرو باندې. وئيلى دي ابوداود: وو عبد الرحمن بن مهدي چه

(۱): سنن الترمذي/الطهارة ۷۴ (۹۹)، سنن النسائي/الطهارة ۹٦ (۱۲۳)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۸ (۵۵۹)،

نه به ئې بيانولو دا حديث ځكه معلوم د مغيره نه داده مغيره نه معروف اور مشهور روايت دادې، چې نبي ﷺ مسح اوكړه په موزو باندې. وئيلى دي ابوداود: دارنګه دا روايت شوى دى د ابو موسى الاشعري نه، او هغه د نبي ﷺ نه روايت كوي چه بيشكه هغه مسح اوكړه په جورابو باندې خو ددې سند نه متصل دى او نه قوى، وئيلى دي ابوداود: او مسح ئې اوكړه په جورابو باندې علي بن ابي طالب او ابن مسعود او براء بن عازب، او انس بن مالک، او ابو امامة، او سهل بن سعد، او عمرو بن حريث، او روايت شوى دى د دغې د عمر بن الخطاب او د ابن عباس نه.

تشريح: ﴿ قوله وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ الخ ﴾ مطلب دا دې چه پيزار سره ئې مسح على الجوربين اوكړه، په نعلين باندې مسح كول مقصود نه دى.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ كَانَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيّ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي چه كله به عبدالرحمن بن مهدى د مغيره بن شعبه رضي الله عنه دا حديث بيانولو هغوى ته ددې په صحت كښې تردد وو، ځكه چه د مغيره بن شعبه رضي الله عنه په مشهور حديث كښې مسح على الجوربين نه دې ذكر شوې بلكه مسح على الخفين منقول دې.

خو حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل كښې دا اشكال كړې دې چه په دواړو احاديثو كښې تعارض څه دې، دا دواړه احاديث بيل بيل كيدې شى، يو وخت كښې رسول الله ﷺ مسح على الخفين اوفرمائيله او په بل وخت كښې ئې مسح على الجوربين اوفرمائيله مغيره بن شعبه رضي الله عنه دا دواړه روايتونه نقل كړى دى! خو كه دا دواړه احاديث په يو واقعه او يو وخت باندې محمول كړې شى نو بيا خو دا خبره صحيح ده چه د مغيره بن شعبه رضي الله عنه مشهور حديث مسح على الخفين دې نه مسح على الجوربين، بيا وراندې سهارنپورى رحمه الله ليكى چه امام ترمذى رحمه الله ددې حديث مغيره كوم چه د مسح على الجوربين په باره كښې دې تصحيح كړې ده، حال دا چه امام ترمذى رحمه الله د مغيره بن شعبه د بل حديث مسح على الخفين هم تخريج كړې دې، معلومه شوه چه د امام ترمذى رحمه الله په نزد هم دا دواړه احاديث بيل بيل دى.

بَابٌ (بلا ترجمة)

باب (بغير د ترجمې نه)

بعض ځل مصنفين لفظ باب بغير د ترجمې نه اوليكى چه دهغې مختلف اسباب وى كله خو د ترجمې مضمون د حديث الباب نه ښكاره كيږى نو د ظاهر كيدو د وجې نه ئې پريږدى، او كله د تشحيذ اذهان دپاره داسې كوى، دلته په دې باب باندې ترجمه المسح على النعلين كيدې شى، ځكه چه په حديث الباب كښې مسح على النعلين ذكر شوې ده، خو د مسح على النعلين په ائمه اربعه كښې څوک هم قائل نه دى، خو امام طحاوى رحمه الله د يو قوم طرف ته دا مذهب منسوب كړې دې.

[۱۶۰]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَعَبَّادُ بْنُ مُوسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ عَبَّادٌ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَوْسُ بْنُ أَبِي أَوْسٍ الثَّقَفِيُّ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى نَعْلَيْهِ وَقَدَمَيْهِ"، وَقَالَ عَبَّادٌ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى كِظَامَةَ قَوْمٍ يَعْنِي الْمِيضَأَةَ، وَلَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ الْمِيضَأَةَ وَالْكِظَامَةَ، ثُمَّ اتَّفَقَا: فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى نَعْلَيْهِ وَقَدَمَيْهِ.

ترجمه: اوس بن ابي اوس وايي: بيشكه رسول الله ﷺ اودس اوكړو، او مسح ئي اوكړه په پڼرو اوپه خپو باندي او وئيلي دي عباد: ما اوليدلو رسول الله ﷺ چه راغي په يو، كظامه د قوم باندي (يعني د اودس ځي ته)، او ذكر كړي نه دي مسدد الميضأة و الكظامة، بيا اتفاق كړى دى دواړو: نو اودس ئي اوكړو او مسح ئي اوكړه په دواړو پڼرو او خپو باندي

شرح السند:

﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ الخ – قَالَ عَبَّادٌ قَالَ أَخْبَرَنِي ﴾ په دي حديث كښي د مصنف ﷫ دوه استاذان دي، مسدد او عباد ﴿ عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ عَنْ أَبِيهِ ﴾ پوري دواړه سندونه مشترک او موافق دي د ﴿ عن ابيه ﴾ نه پس د سند الفاظ څه دي په دي كښي د مسدد او عباد اختلاف شو، د عباد الفاظ خو دا دي ﴿ قَالَ أَخْبَرَنِي أَوْسُ بْنُ أَبِي أَوْسٍ الثَّقَفِيُّ ﴾ د قال ضمير د عطاء طرف ته راجع دي، يعني اووئيل عطاء چه اخبرني اوس بن اوس الثقفي، د عباد مقوله په ﴿ الثقفي ﴾ باندي راتلو سره ختمه شوه، پاتي شوه دا خبره چه د مسدد الفاظ څه دي؟ هغوى د ﴿ عن يعلى بن عطاء عن ابيه ﴾ نه پس سند څنګه بيان كړو؟ ددي سره مصنف﷫ دلته كار نه دي ساتلي، كيدي شي د مسدد په روايت كښ، ﴿ اخبرني اوس ﴾ په ځائي ﴿ حدثني اوس ﴾ وي يا ﴿ عن اوس بن ابي اوس ﴾ وي.

﴿ قوله أَنَّ رَسُولَ اللهِ –صلى الله عليه وسلم– تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى نَعْلَيْهِ وَقَدَمَيْهِ ﴾ دا متن د حديث دي او دا د مسدد الفاظ دي، د عباد الفاظ وړاندي راروان دى (په ظاهر كښي دا شک پيدا كيږي چه دا هم د عباد الفاظ دي، خو داسي نه ده) پس وړاندي تلو سره مصنف﷫ فرمائي ﴿ وَقَالَ عَبَّادٌ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ –صلى الله عليه وسلم ﴾.

﴿ قوله وَلَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ الْمِيضَأَةَ وَالْكِظَامَةَ ﴾ اوس د مسدد د روايت الفاظ دا شو، ﴿ أَنَّ رَسُولَ اللهِ –صلى الله عليه وسلم– تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى نَعْلَيْهِ وَقَدَمَيْهِ ﴾ او د عباد د روايت الفاظ دا شو ﴿ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ –صلى الله عليه وسلم– أَتَى كِظَامَةَ قَوْمٍ فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى نَعْلَيْهِ وَقَدَمَيْهِ ﴾ حاصل دا چه د مسدد په روايت كښي د كظامة او ميضاة ذكر نشته بلكه هغه صرف د عباد په روايت كښي دي، او مسح على النعلين والقدمين د دواړو په روايت كښي مشترک ده.

د حديث الباب تشريح او توجيح

په دي حديث كښي مسح على النعلين والقدمين ذكر شوي دي، دلته دوه احتمالات دى يو دا چه د مسح نه مراد غسل وى، مطلب دا دي چه د پيزار سره ئي خپي وينځلي، او په دي

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸/۴) (صحيح)

کښې هيڅ قسم د اشکال خبره نشته ځکه چه د نعلين نه مراد صرف د دوه تسمو والا چپل دی چه دهغې د اغوستلو سره هم انسان خپې وينځلې شي، دويم احتمال دا دې چه مسح دې په خپله ظاهره معنی باندې محمول کړې شي نو په دې صورت کښې به دا وئيلې شي چه دا منسوخ ده بلکه د مسح علی القدمين ټول روايات منسوخ دي يو توجيه دا ده چه د مسح نه مراد مسح ده او د قدمين نه مراد قدمين مجردين نه دی بلکه مع الجوربين دی په دې صورت کښې به د حديث مطلب دا وی چه رسول الله ﷺ نعلين اغوستلو سره مسح علی الجوربين اوفرمائيله، آخری توجيه د امام طحاوی رحمه الله ده هغوی فرمائی ﴿ الاحاديث يفسر بعضها بعضا ﴾ او د مغيره بن شعبة او ابوموسی اشعری رضی الله عنه په حديث کښې مسح علی جوربيه ونعليه ذکر ده لهذا دا حديث به هم په هغې باندې محمول کولې شي.

بَابُ كَيْفَ الْمَسْحُ

باب دې په بيان د کيفيت د مسح کښې

مصنف رحمه الله د مسح علی الخفين کيفيت بيانول غواړی، او د کيفيت نه مراد دا دی چه مسح علی الخفين به صرف پورته طرف ته وی که نه پورته او لاندې دواړو طرفونو ته؟ مسئله مختلف فيه ده، د احنافو او حنابله په نزد صرف په ظاهر خفين يعنی پورته حصه باندې مسح ده، او د امام شافعی او امام مالک رحمه الله په نزد به په اعلی او اسفل دواړو طرفونو باندې کولې شي، په اعلی باندې په طريق د وجوب او په اسفل باندې په طريق د سنت، د امام مالک رحمه الله په نزد مسح علی الاسفل کافی نه ده او د امام شافعی رحمه الله هم قول اصح دا دی او دريم مذهب د امام زهری رحمه الله دی، د هغوی په نزد به مسح علی الاسفل کافی شي، ځان پوهه کړه چه يو روايت زمونږ په نزد هم د مسح علی اسفل الخفين دې خو هغه روايت مرجوح دی، كما قال الشامی.

بيا دويم اختلاف دلته دا دی چه د مسح علی الخفين مقدار واجبه څه دی؟ د احنافو په نزد مقدار ثلاثه اصابع او د امام شافعی رحمه الله په نزد ادنی ما يطلق عليه اسم المسح، او د امام مالک رحمه الله په نزد اعلی الخف (د پورته حصې) استيعاب او د امام احمد رحمه الله په نزد د مقدم الخف اکثره حصه

[۱٦۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، قَالَ: ذَكَرَهُ أَبِي، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ"، وَقَالَ غَيْرُ مُحَمَّدٍ: عَلَى ظَهْرِ الْخُفَّيْنِ.

ترجمه: د مغيره بن شعبه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وو چه مسح ئې کوله په موزو باندې او وئيلی دي غير د محمد نه: په شا د موزو باندې

(): انظر حديث رقم: ١٤٩، سنن الترمذي/الطهارة ٧٣ (٩٨)، (تحفة الأشراف: ١١٥١٢) (حسن صحيح)

[۱٦۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ يَعْنِي ابْنَ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "لَوْ كَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ".

ترجمه: د علي ﷺ نه روايت دې، هغه وائي، كه چېرې وى دين په راى باندې نو وو به لاندې طرف د موزو اولى په مسح د اعلى طرف نه. او بېشكه ما رسول الله ﷺ ليدلى وو چه مسح ئې كوله په ظاهر د موزو باندې.

تشريح: ۲: ﴿عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه – قَالَ لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ﴾ په دې باب كښې مصنف‌ﷺ درې احاديث ذكر كړې دى، اول د مغيره بن شعبة‌ﷺ حديث چه په هغې كښې مسح على ظاهر الخفين ذكر ده، دويم د على‌ﷺ دا روايت چه كه د دين مدار صرف په رائې او عقل باندې وې نو په ځائې د ظاهر خفين د باطن خفين مسح به مشروع وې. دا دواړه احاديث د احنافو او د حنابله دلائل دى چه مسح صرف د خفين په پورته حصه باندې كول پكار دى.

وراندې تلو سره مصنف‌ﷺ د مغيره بن شعبه‌ﷺ يو بل روايت بيان كړو چه دهغې راوى كاتب مغيره دې په هغې كښې ظاهر الخفين او باطن الخفين دواړه مذكور دى، هغه د شوافعو او مالكيانو دليل دې.

[۱٦۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنِ الْأَعْمَشِ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: مَا كُنْتُ أَرَى بَاطِنَ الْقَدَمَيْنِ إِلَّا أَحَقَّ بِالْغَسْلِ حَتَّى رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَهْرِ خُفَّيْهِ.

ترجمه: د اعمش نه روايت دې دې حديث په اسناد دده سره، على‌ﷺ وئيلى دى. نه يم زه چه وينم باطن د خپو مګر ډير حقدار په وينځلو، تر دې چه اوليدلو رسول الله ﷺ چه مسح ئې كوله په ظاهر د خفينو باندې

تشريح: ۳: ﴿قوله قَالَ مَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ بَاطِنَ الْقَدَمَيْنِ الا أَحَقَّ بِالْغسل﴾ په دې جمله كښې دوه احتمالات دى اول دا چه د باطن القدمين نه مراد باطن الخفين او د غسل نه مراد مسح ده په دې صورت كښې مطلب ظاهر دې، دويم احتمال دا دې چه دا دې په ظاهر باندې كېخودلې شى د قدمين نه دې قدمين او د غسل نه دې غسل مراد واخستلې شى نو په دې صورت كښې به مطلب دا وى چه ما به اودس كښې د قدمين لاندې حصه وينځل زيات ضرورى ګڼرله په نسبت د پورته حصې، خو چه كله ما رسول الله‌ﷺ اوليدو چه هغوى صرف په ظاهر خفين باندې مسح كوى او په باطن خفين باندې نه كوى نو بيا زما دا خيال پاتې نه شو زما رائې بدله شوه.

د سيدنا على‌ﷺ د كلام مطلب

نول شراح حديث د على‌ﷺ په دې كلام كښې باطن الخفين نه اسفل الخفين مراد اخستلې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۵/۱)، سنن الدارمي/الطهارة ٤۳ (۷٤۲) (صحيح)
(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰٤) (صحيح)

دي يعني هغه حصه کومه چه د زمکې سره متصل وی، او د شيخ ابن الهمام رحمه الله رائې دا ده چه د باطن الخفين نه د خفين هغه دننه حصه مراد ده کومه چه د بدن سره متصل وی خو ظاهره دا ده چه بغير د نزع خفين نه د دننه حصې مسح څنګه کيدی شی هم په دې وجه شارحينو دا مطلب نه دې اختيار کړی خو في نفسه د شيخ ابن الهمام رحمه الله رائې په زور نظر باندې بناء ده، او يو لحاظ سره معقول خبره ده څکه چه په اودس او مسح على الخفين سره مقصود ازاله د حدث ده نه ازاله د نجاست او ګردوغبار، او د حدث تعلق د بدن سره دې لهذا د خفين کومه حصه چه د بدن سره متصل وی هم هغه د مسح زيات مستحق ده.

فائده : د سيدنا على رضي الله عنه دا ارشاد ګرامي چه زمونږ د دين او احکام شرع مدار په عقل باندې نه دې دا بالکل صحيح ده خو ددې مطلب دا هم نه دې چه د دين او شريعت احکام د عقل خلاف دی، فقهاء او اصولين ډير احکاماتو لره غير مدرک بالرائي ليکلي دی يعني بعض احکام شرعيه داسې دی چه هغې ته زمونږ عقلونه نه رسيږی خو د خلاف عقل کيدو د قول جراءت چا هم نه دې کړې، په دې وجه الحمد لله زمونږ د شريعت ټول احکامات د عقل سليم او د فطرت عين مطابق دی، د اصحاب عقل اولين مصداق حضرات انبياء عليهم السلام دی ثم الامثل فالامثل.

[۱٦۳](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: لَوْ كَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ بَاطِنُ الْقَدَمَيْنِ أَحَقَّ بِالْمَسْحِ مِنْ ظَاهِرِهِمَا، وَقَدْ مَسَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ظَهْرِ خُفَّيْهِ، وَرَوَاهُ وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: كُنْتُ أَرَى أَنَّ بَاطِنَ الْقَدَمَيْنِ أَحَقُّ بِالْمَسْحِ مِنْ ظَاهِرِهِمَا حَتَّى رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِهِمَا، قَالَ وَكِيعٌ: يَعْنِي الْخُفَّيْنِ، وَرَوَاهُ عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، كَمَا رَوَاهُ وَكِيعٌ، وَرَوَاهُ أَبُو السَّوْدَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ خَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ فَغَسَلَ ظَاهِرَ قَدَمَيْهِ، وَقَالَ: لَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د اعمش نه روايت دې د دې حديث، په دی کښې دې على رضي الله عنه وئيلی دی: که چيرې وی دين په رای باندې، نو وی به باطن د خپو ډير حقدار د ظاهر د دواړو نه، او بيشکه مسح کړې وه نبي ﷺ په ظاهر د موزو باندې، او روايت کړی دی ددې وکيع د اعمش نه په خپل سند سره، هغه وئيلی دی: وم زه چه ما ګمان کولو چه باطن د خپو ډير حقدار دی په مسح باندې د ظاهر د دواړو نه، تردې چه ما اوليدلو رسول الله ﷺ چه مسح ئې کوله په ظاهر د دواړو. وئيلی دي وکيع: قصد کولی ئې موزې، او روايت کړی دی عيسى بن يونس د اعمش نه لکه چه روايت کړی دی وکيع، او روايت کړی دی ابو السوداء د ابن عبد خير نه و هغه د خپل پلار نه، هغه وائي: اودس اوکړو نو وئې وينځل ظاهر د قدمونو، هغه اووئيل: که چيرې ما نه وی ليدلی رسول الله ﷺ چه دايې کول او حديث ئې سوق کړو.

(۱): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰٤) (صحيح)

[۱٦٥]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ، وَمَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ مَحْمُودٌ: أَخْبَرَنَا ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ، عَنْ كَاتِبِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: "وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفَّيْنِ وَأَسْفَلَهُمَا" ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَبَلَغَنِي أَنَّهُ لَمْ يَسْمَعْ ثَوْرٌ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ رَجَاءٍ.

ترجمه: د مغیره بن شعبه نه روایت دې هغه وائي نو ما اودس اوکړو د نبي ﷺ په غزا د تبوک کښې، مسح ئې اوکړه په بره طرف د موزو او په لاندې طرف د موزو. وئیلی دي ابوداود: ماته دا خبره راوسیدلې ده چه بیشکه ثور سماع نه ده کړې د رجاء نه

د احنافو او د حنابله د طرف نه د حدیث جوابونه

(قوله فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفَّيْنِ وَأَسْفَلَهُمَا) دا د باب آخري حدیث دې چه په هغې کښې مسح علی خفین لاندې او باندې دواړه ذکر شوې دی کوم چه د شوافعو او مالکیانو دواړو موافق دې امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې کلام فرمائیلې دې هغه دا چه ثور بن یزید دا حدیث د رجاء بن حیوه نه نهٔ دې اوریدلې دا حدیث منقطع دې، او امام بیهقي رحمه الله ددې حدیث په سند کښې یو بل علت بیان کړې دې هغه دا چه بعض راویانو دا حدیث د کاتب مغیره نه مرسلا نقل کړې دې، پس په ترمذی کښې عبدالله بن المبارک رحمه الله دا حدیث داسې نقل کړې دې (عن ثور عن رجاء قال حدثت عن کاتب المغیرة عن النبي ﷺ) په دې کښې صحابی یعنی مغیره بن شعبة رضي الله عنه نه دې ذکر شوې، او په دې حدیث کښې یو بله جرح ده هغه دا چه کاتب المغیره مجهول دې خو د ابن ماجه په روایت کښې کاتب المغیره په تعین سره ذکر شوې دې او دغه شان (عن وراد کاتب المغیرة) لهذا دا اشکال خو به رفع شي او نور اشکالات په خپل ځائې باندې باقي دی.

د شوافعو د طرف نه دا جوابورکړې شوې دې چه دا حدیث اګرچه ضعیف دې خو په فضائل اعمال کښې په ضعیف حدیث باندې عمل جائز دې، په دې وجه چه شوافع د اسفل خفین مسح صرف سنت او فضیلت مني. لهذا د اشکال هیڅ خبره نشته

په فضائل کښې په ضعیف حدیث باندې د عمل شرطونه

زمونږ د طرف نه حضرت په بذل کښې د ملا علی قاري رحمه الله نه نقل کولو سره دا جواب ورکړې دې چه په ضعیف حدیث[۲] باندې عمل په فضائل اعمال کښې هغه وخت صحیح دې چه کله هغه حدیث ضعیف د یو حدیث صحیح یا حسن خلاف نه وی، بلکه دا چه په ضعیف حدیث باندې عمل په هغه فضائل اعمال کښې کیدې شي کوم چه د نورو دلائلو نه ثابت وی. او کوم حکم چه ابتدائي وی هلته په ضعیف حدیث باندې عمل په فضائل اعمال کښې هم صحیح نه دې. خو دا کیدې شي چه فی نفسه یو څیز ثابت دې او دهغې نور

---

[۱]: سنن الترمذي/الطهارة ۷۲ (۹۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۵ (۵۵۰)، موطا امام مالك/الطهارة ۸ (٤١)، (تحفة الأشراف: ١١٥٣٧)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ٤١ (٧٤٠) (ضعيف)

[۲] په دې مسئله باندې تفصیلی کلام د مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله کتاب الاجوبة الفاضلة عن الاسئلة العشرة المتکاملة کښې زما د نظر نه تیر شوې ده، هم دغه شان په اتهاء السکن مقدمة اعلاء السنن کښې هم په دې باندې بحث کړې شوې دې

فضیلت د يو ضعيف حديث نه ثابتيږی نو بيشکه هلته ضعيف حديث معتبر کيدې شی. او دلته دا د اسفل خف د مسح حکم په يو صحيح حديث کښې هم نه دې ثابت صرف هم په دې ضعيف حديث کښې ذکر شوې دې، که موږ د اسفل خف مسح ددې حديث په وجه باندې اومنو نو په حديث ضعيف باندې د يو حکم شرعی بناء لازميږی، په نورو الفاظو د حکم ابتدائی ثبوت د حديث ضعيف نه لازميږی.

بله دا چه په ضعيف حديث باندې د عمل کولو دپاره يو بل قيد هم ليکلې شوې دې، هغه دا چه حديث ضعيف شديد الضعف يا موضوع نه وی، او د شديد الضعف مطلب دا دې چه دهغې په سند کښې يو راوی مهتم بالکذب يا کثير الغلط او متروک نه وی

بَابٌ فِي الْاِنْتِضَاحِ

باب دې په بيان د اوبو شيندلو کښې

د انتضاح شارحينو ډيرې معنی ليکلې دی، ۱: ابن رسلان فرمائی چه الانتضاح عند الجمهور رش الفرج بالماء بعد الوضوء يعنی د اودس د فراغت نه پس د وسوسو د ختمولو دپاره شرمګاه ته مخامخ په کپړې باندې د اوبه څاڅکی کول. ۲: امام نووی رحمه الله فرمائی (قال المحققون هو الاستنجاء بالماء) ۳: صب الماء علی الاعضاء، ۴: د استنجاء بالماء په وخت په شرمګاه باندې اوبه اچول چه د تقاطر بالکل انقطاع راشی.

په ترجمة الباب کښې د مصنف رحمه الله مراد په ظاهر کښې معنی اول ده او مصنف رحمه الله په دې باب کښې درې احاديث ذکر فرمائيلې دی په حديث اول او حديث ثالث کښې د نضح په هغه معانی مذکوره نه په ظاهر کښې اول معنی مراد ده او په حديث ثانی کښې ظاهره دا ده چه دويمه معنی مراد ده، او د تاويل نه پس هغه هم په اوله معنی باندې محمول کولې شو، او د ترمذی په روايت کښې (من حديث ابی هريرة) مرفوعا داسې دی (جاءنی جبرئيل فقال يا محمد اذا توضأت فانتضح) دلته د انتضاح درې واړه معنې بغير د تکلف نه مراد کيدې شی، ۱: اې محمد ﷺ چه کله تاسو د اودس نه فارغ شئ نو په خپله جامه باندې د اوبو څاڅکی کوئ. ۲: چه کله تاسو د اودس اراده اوفرمايئ نو دهغې نه مخکښې استنجاء بالماء کوئ. ۳: چه کله تاسو اودس کوئ نو په اندامونو باندې ښه طريقې سره اوبه اوبهيوئ او صرف د اندمونو په مسح کولو باندې اکتفاء مه کوئ.

[۱۶۶] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ هُوَ الثَّوْرِيُّ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ الْحَكَمِ الثَّقَفِيِّ أَوِ الْحَكَمِ بْنِ سُفْيَانَ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَالَ يَتَوَضَّأُ وَيَنْتَضِحُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَافَقَ سُفْيَانَ جَمَاعَةٌ عَلَى هَذَا الْإِسْنَادِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: الْحَكَمُ، أَوِ ابْنُ الْحَكَمِ.

ترجمه: د سفيان بن الحکم الثقفي نه روايت دې هغه وئيلې دی: وو رسول الله ﷺ چه کله به ئې اودس ماتی کولو نو اودس به ئې کولو او اوبه به ئې شيندلې خپل فرج باندی. وئيلی

(۱): سنن النسائي/الطهارة ۱۰۲ (۱۳٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۵۸ (٤٦١)، (تحفة الأشراف: ۳٤۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۱۷۹) (صحيح)

دي ابوداود: موافقت کړی دی سفیان سره يوې ډلې په دې اسناد. او بعضو وئیلی دی: الحکم او يا ابن الحکم

تشريح: ۱ قوله عَنْ سُفْيَانَ بْنِ الْحَكَمِ الثَّقَفِيِّ ﴾ [۱]، ددې راوی په نوم کښې اختلاف دې بعض سفیان بن الحکم وائی او بعض حکم بن سفیان. د امام ابوحاتم رازی، علی بن المدینی او امام بخاری رحمه الله رائې دا ده چه صحیح حکم بن سفیان دې.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَافَقَ سُفْيَانَ جَمَاعَةٌ ﴾ ددې حدیث په سند کښې چه د راویانو کوم اختلاف دې مصنف رحمه الله په دې باندې تنبیه فرمائی هغه دا چه د سند په آخر کښې چه کوم راوی دې يعني سفیان بن حکم يا حکم بن سفیان بعض راویانو د هغه نه پس په سند کښې د ﴿ عن ابيه﴾ اضافه کړې ده چه په روستو دوارو سندونو کښې راځي. او بعض ﴿ عن ابيه ﴾ نه دې ذکر کړې. مصنف رحمه الله فرمائی څنګه چې سفیان په دې سند کښې ﴿ عن ابيه ﴾ نه دې ذکر کړې هم دغه شان يو جماعت په دې خبره کښې د سفیان موافقت کړې دې. د جماعت مصداق چه د بیهقی د کلام کتلو نه معلومیږی کوم چه په بذل کښې ذکر شوې دی، ابو عونه روح بن القاسم، اوجریر بن عبدالحمید، کښې دې درې وارو هم چه کله دا روایت د منصور نه ذکر کړو نو د ﴿ عن ابيه ﴾ اضافه ئې نه ده کړې

[۱۶۷] ([۲]) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ هُوَ ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ ثَقِيفٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَالَ ثُمَّ نَضَحَ فَرْجَهُ".

ترجمه: د ثقيف يو سړی روايت کوي د خپل پلار نه هغه وئيلی دی: ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه اودس ئې مات کړو بيا ئې خپل فرج باندې اوبه وشيندلې.

تشريح: ﴿ قوله ثَنَا سُفْيَانُ ﴾ خان پوهه کړه چه په اول سند کښې د سفيان نه مراد سفيان ثوری دې او په دې دويم سند کښې د سفيان نه چه کوم ابن ابی نجيح نه روايت کوی، د هغه نه مراد سفيان بن عيينة دې، امام بيهقی رحمه الله فرمائی چه سفيان بن عيينة په دې سند کښې کله د ﴿ عن ابيه ﴾ اضافه کوی چه زمونږ په دې سند کښې دی. او کله اضافه نه کوی، که په دې سند کښې هم د سفيان نه مراد سفيان ثوری مراد کړې شی لکه چه په اول سند کښې سفيان ثوری مراد دې نو د کلام مضمون به مختل شی كما لا يخفى على الفطن اللبيب.

[۱۶۸] ([۳]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ الْحَكَمِ، أَوِ ابْنِ الْحَكَمِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ".

---

[۱]) روي هذا اللفظ على عشرة اوجه ذكرت في البذل عن الحافظ وغيره وحاصل ما في المقام، انهم اختلفوا في التعبير باسم هذا الراوي، فبعضهم يقولون سفيان بن الحكم بعضهم الحكم بن سفيان، وقال بعضهم على الابهام يعني عن رجل من ثقيف والامر الثاني ان بعض الرواة يقولون بعده عن ابيه وبعضهم لا، وايضا الصحيح الحكم بن سفيان كما قال البخاري وعلي بن المديني وابوحاتم الرازي وهل للحكم صحبة؟ قال البخاري لا، قال ابوزرعة نعم)

[۲]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۴۲۰) (صحيح)

[۳]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۴۲۰) (صحيح)

ترجمه: حکم او يا ابن الحکم روايت کوي د خپل پلار نه، بيشکه رسول الله ﷺ اودس مات کړو بيا ئې اودس اوکړو او خپل عورت ته ئې اوبه وشيندلې

باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا تَوَضَّأَ

باب دې په بيان د هغې کې چې سړې به څه دعا وايي کله چې اودس کوي

﴿ توضاء ﴾ په دريې معنی کښې مستعمل دې ﴿ اراد الوضوء، شرع في الوضوء، فرغ عن الوضوء﴾ دلته آخري معنی مراد ده د مصنف رحمه الله غرض د اودس په اختتام باندې چه کومه دعاء منقول ده د هغې بيانول دی، د اودس په شروع کښې چه کومه دعاء اولوستلې شی د هغې باب په شروع کښې راغلو، اوس چونکه د ابواب وضوء د بيان خاتمه کيږی په دې وجه دلته د اختتام دعاء بيان فرمائي.

خان پوهه کړه چه د اودس دعاء گانې دوه قسمه دی، بعض هغه کومې چه پس د فراغت نه لوستلې شی، او بعض هغه کومې چه د اودس په وخت کښې په هر هر اندام باندې لوستلې کيږی، د کومو نه چه فقهاء کرام په دعاء الاعضاء سره تعبير کوی د بعد الفراغ دعاء يعنی شهادتين په احاديث صحيحه سره ثابت دی، د ابوداؤد ترمذی نه علاوه په مسلم کښې هم موجود ده، او د ترمذی په روايت کښې په دې دعاء کښې ﴿ اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين ﴾ زيادت دې چه د ابوداؤد او مسلم په روايت کښې نشته، خو په دې حديث د ترمذی کښې اضطراب دې

په معارف السنن کښې ليکلې دی چه اذکار او ادعيه د اودس کوم چه د قوی رواياتو نه ثابت دی څلور دی درې مرفوعاً ثابت دی، او يو موقوفاً علی ابی سعيد الخدری رضي الله عنه.

۱: بسم الله والحمد لله : دا د اودس په شروع کښې ده، علامه عينی رحمه الله دا په شرح د هدايه کښې د طبرانی په حوالې سره ذکر کړې ده «بعض فقهاء کرامو داسې ليکلې ده بسم الله العظيم والحمد لله علی دين الاسلام»

۲: هغه دعاء کومه چه په حديث الباب کښې مذکور ده يعنی شهادتين

۳: ﴿ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي ﴾ رواه النسائي وابن السني في عمل اليوم والليلة. ۴: ﴿ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ﴾ رواه النسائي في عمل اليوم والليلة.

زه وائم چه ابن السنی په عمل اليوم والليلة کښې په اذکار وضوء باندې درې ابواب قائم کړی دی، ۱: باب التسمية علی الوضوء ۲: ما يقول بين ظهرانی وضوئه يعنی د اودس په مينځ کښې دعاء، په دې کښې هغوی صرف يو دعاء ﴿ اللهم اغفرلی ذنبی الخ ﴾ ذکر فرمائيلې ده، ۳: باب ما يقول اذا فرغ من وضوئه او په دې کښې هغوی دوه دعاگانې ذکر کړې دی، اول سبحانک اللهم.. الخ او دويم شهادتين حافظ ابن القيم ددې څلورو نه درې ذکر کړی دی او منځنۍ ئې نه ده ذکر کړې

د اودس د اندامونو د دعا ګانو بحث:

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه په بعض کتابونو د احنافو او شوافعو طحطاوی په روضة المحتاجین او انوار ساطعه وغیره کښې د دعاء الاعضاء په نوم باندې د هر اندام بیله بیله دعاء لیکلې ده د روضة المحتاجین محشي لیکی چه دا دعاء ګانې په تاریخ ابن حبان وغیره کښې د رسول اللهﷺ نه په ډیرو طرقو سره منقول دی، دا روایات اګرچه ضعیف دی خو په فضائل اعمال کښې په حدیث ضعیف باندې عمل جائز دې، او علامه طحطاوی رحمه الله فرمائی چه ددې دعاء ګانو په ځائې ددې چه رسول اللهﷺ ته ئې نسبت اوشي سلف صالحین ته ئې نسبت کول زیات اولی دی، بل هغوی دا هم لیکلي دی چه د حافظ ابن حجر رحمه الله نه ددې دعاګانو په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل چه دا مرفوعا ثابت نه دی.

زه وایم چه حافظ ابن القیم، ابن العربی، ابن دقیق العید او امام نووی رحمه الله په کتاب الاذکار کښې لیکلي دی چه د اودس دوران کښې راغلې دعاء ګانې بې اصل دی بلکه ابن دقیق العید رحمه الله لیکلي دی چه ﴿یجب الاقتصار علی الوارد﴾ چه کومې دعاګانې د رسول اللهﷺ نه منقول دی په هغې باندې اکتفاء کول پکار دی زه وایم چه دا د ابن دقید العید خپله رائې ده، ګینې کوم فقهاء کرام چه قائل دی هغوی هم دا منی چه دا دعاء ګانې دې د مسنون کیدو په نیت سره او نه لوستلې شی بلکه مستحب السلف کیدو په نیت باندې، زمونږ شیخ رحمه الله په حاشیه د بذل کښې لیکی چه دې دعاګانو ته بې اصل نه شي وئیلې کیدې دا صحیح ده چه د دې په ثبوت کښې ضعف دې، مولانا عبدالحئ صاحب رحمه الله په سعایه کښې په دې دعاء ګانو باندې بحث فرمائیلي دې او د دې اصل ئې لیکلې دی، احقر عرض کوی چه د علامه طحطاوی رحمه الله خبره ډیره مناسب او معتدل ده چه دې دعاګانو ته دې مسنون او نه وئیلې شی بلکه مستحب العلماء ګڼړلو سره دې هغه اولوستلې شي.

[۱۶۹](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ يَعْنِي ابْنَ صَالِحٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُدَّامَ أَنْفُسِنَا نَتَنَاوَبُ الرِّعَايَةَ رِعَايَةَ إِبِلِنَا، فَكَانَتْ عَلَيَّ رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَرَوَّحْتُهَا بِالْعَشِيِّ، فَأَدْرَكْتُ رَسُولَ اللَّهِ يَخْطُبُ النَّاسَ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ، يُقْبِلُ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا قَدْ أَوْجَبَ" فَقُلْتُ: بَخٍ بَخٍ، مَا أَجْوَدَ هَذِهِ. فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ الَّتِي قَبْلَهَا: يَا عُقْبَةُ أَجْوَدُ مِنْهَا، فَنَظَرْتُ، فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، فَقُلْتُ: مَا هِيَ يَا أَبَا حَفْصٍ؟ قَالَ: إِنَّهُ قَالَ آنِفًا قَبْلَ أَنْ تَجِيءَ: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ حِينَ يَفْرُغُ مِنْ وُضُوئِهِ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ، يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ" قَالَ مُعَاوِيَةُ: وَحَدَّثَنِي رَبِيعَةُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ.

(1): صحيح مسلم/الطهارة ٦ (٢٣٤)، سنن النسائي/الطهارة ١١١ (١٥١)، سنن الترمذي/الطهارة ٤١ (٥٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٠ (٤٧٠)، (تحفة الأشراف: ٩٩١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٦/٤، ١٥١، ١٥٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٤٤ (٧٤٣) (صحيح)

ترجمه: د عقبه بن عامر نه روایت دي، هغه وائي: وو مونږ د رسول الله ﷺ سره خدمت کونکي د خپل ځان، په نمبر به مونږ کوله چوپاني (ساتل د اوښانو) نو یو ورځ وو په ما باندې نمبر د ساتلو د اوښانو، نو ما راوستلي ځانې د شپې تیرولو ته د ماښام په وخت کښې، نو ما بیاموندلو رسول الله ﷺ چه خطبه ئې ورکوله خلکو ته، نو ما واوریدل د رسول الله صلى الله عليه وسلمنه . په تاسو کښې چې څوک اودس کوی اوښه اودس اوکړي، بیا پاسیږي نو دوه رکعاته اوکړي، متوجه وي دي دواړو ته په زړه او په مخ باندې، نو ده جنت واجب کړو په ځان باندې، نو ما اووئیل: وا وا، دا څومره ښه زیرې دی، نو یو سړي اووئیل چه زما نه مخکښې وو هغه چه د دینه مخکښې وو اي عقبه ډیر ښه دی د دینه، نو ما وکتل نو هغه عمر بن الخطاب وو، نو ما اووئیل: هغه څه شی دی اي ابو حفص! نو هغه اووئیل: هغه لګ مخکښې اووئیل ستا د راتلو نه مخکې، نشته یو کس ستاسو نه چه اودس کوي نو ښائسته اوکړي اودس، بیا ووایی چه کله فارغ شي د اودس نه: اشهد .... زه ګواهي کوم چه نشته لائق د عبادت مګر یو الله دی چه یوازې دی او شریک نه لري، او بیشکه محمد د الله بنده دی او رسول دی: مګر کولاو به شي هغه ته د جنت اته دروازې، د کومې نه چه ئې خوښه وي داخل به شي. وئیلي دي معاویه: حدیث بیان کړی دی ماته ربیعه بن یزید، د ادریس نه او هغه د عقبه بن عامر نه

مضمون حدیث :

قوله :﴿ خُدَّامَ أَنْفُسِنَا نَتَنَاوَبُ الرِّعَايَةَ ﴾ مضمون حدیث دا دي چه عقبة بن عامر ﷺ فرمائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د نبوت د شروع په زمانه کښې (د فتوحات نه مخکښې) خپل ځان خادمان وو هغه وخت خادمان وغیره مونږ سره نه وو، خپلې اوښې به مو په نمبر نمبر څپله څرولې د یو ځل خبره ده چه کله زما د څرولو نمبر راغلو نو زه اوښانو لره د ماښام په وخت د چراګاه نه راواپس شوم نو آبادئ ته رارسیدلو سره مي اوکتل چه رسول الله ﷺ خلقو ته وعظ فرمائي، وړاندې د حدیث مضمون ښکاره دي.

قوله :﴿ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ ﴾ ددي نه معلومه شوه چه د جنت اته دروازې دی، حال دا دي چه په نورو احادیثو کښې د جنت د دروازو تعداد ددي نه ډیر زیات راغلي دي، ددي دوه جوابونه دی، یو دا چه دلته ﴿ من ﴾ مقدر دي ﴿ ای من ابواب الجنة الثمانية ﴾ لکه چه ترمذي په روایت کښې دی، دویم جواب هغه دي کوم چه په کوکب کښې لیکلي شوي دي، هغه دا چه دا دروازې دوه قسمه دی یو داخلي او اندروني او دویم بیروني یعنی صدر دروازې او پهاټک، نو دلته صدر دروازې مراد دی کیدي شي چه هغه صرف اتهٔ وی لکه چه د جهنم په باره کښې راغلي چه دهغې اووهٔ دروازې دی.

علماء کرامو ددې اتهٔ دروازو نومونه هم لیکلي دی، باب الایمان، باب الصلوة، باب الصیام، (د دې بل نوم باب الریان هم دې)، باب الصدقة، باب الکاظمین الغیظ، باب الراضین، باب الجهاد، باب التوبة، مطلب دا دي چه په چا کښې ددې اعمالو نه د کوم عمل غلبه وی هغه به هم په هغه دروازه باندې داخلیږی.

[۱۷۰]( ) حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِءُ، عَنْ حَيْوَةَ وَهُوَ ابْنُ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي عَقِيلٍ، عَنِ ابْنِ عَمِّهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. وَلَمْ يَذْكُرْ أَمْرَ الرِّعَايَةِ، قَالَ: عِنْدَ قَوْلِهِ: فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ رَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ، فَقَالَ: وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ.

ترجمه: عقبة بن عامر الجهني د نبي ﷺ نه روايت كوي په مثل دهغې، اوذكرني نه كړه خبره د څرولو، هغه اووئيل په وخت دوينا دهغه كې «فأحسن الوضوء» بيا ئې اوچتې كړې سترګې خپلې اسمان ته. نو وئې وئيل او د دحديث سوق ئې اوكړو په معنى د حديث د معاويه

تشريح: ﴿ قوله ثُمَّ رَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د اودس نه پس د شهادتين لوستلو په وخت نظر د آسمان طرف ته اوچتول پكار دی، ډيرو فقهاء كرامو ددې تصريح كړې ده.

بَابُ الرَّجُلِ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ

باب دې په بيان د سړي کې چې ډېر مونځونه کوي په يو اودس

ددې باب مقابل ﴿ باب الرجل يجدد الوضوء من غيرحدث ﴾ دشروع په بابونوكښې تيرشوي دي

په مسئله مترجم بها كښې اقوال د علماء كرامو :

په مسئله مترجم بها كښې څلور اقوال دي بعض صحابه كرام او تابعين لكه عبدالله بن عمر، ابوموسى اشعري رضي الله عنهم، عبيده سلماني او سعيد بن المسيب رحمهم الله نه منقول دي چه اودس د هر مانځه دپاره مطلقا واجب دې. او ظاهريه او شيعه وائي چه وضوء لكل صلوة صرف د مقيمين په حق كښې واجب دې، او ابراهيم النخعي رحمه الله فرمائي چه په يو اودس باندې صرف پنځه مونځونه لوستلې كيدې شي، ددې نه پس دوباره اودس كول پكار دي. او جمهور علماء ائمه اربعه رحمهم الله فرمائي چه په يو اودس باندې چه څومره غواړې مونځونه كولې شي تر څو چه بې اودسه شوې نه وې.

[۱۷۱]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَامِرٍ الْبَجَلِيِّ، قَالَ مُحَمَّدٌ هُوَ أَبُو أَسَدِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْوُضُوءِ، فَقَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَكُنَّا نُصَلِّي الصَّلَوَاتِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ".

ترجمه: محمد وائي ما تپوس اوكړو د انس بن مالک نه د اودس په باره كښې، هغه اووئيل: وو نبي ﷺ چه اودس به ئې كولو د هر مانځه دپاره، او وو مونږ چه كول به مو ډېر مونځونه په يو اودس باندې

تشريح: قوله :﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَامِرٍ الْبَجَلِيِّ ﴾ خان پوهه كړه چه عمرو بن عامر دوه دي يو البجلى او يو الانصارى، دلته د البجلى تصريح ده، او ددې بالمقابل په ترمذى كښې د الانصارى

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٩٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٠/٤) (ضعيف)

(): صحيح البخاري/الطهارة ٥٤ (٢١٤)، سنن الترمذي/الطهارة ٤٤ (٦٠)، سنن النسائي/الطهارة ١٠١ (١٣١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٢ (٥٠٩)، (تحفة الأشراف: ١١١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٢/٣، ١٩٤، ٢٦٠)، سنن الدارمي/الطهارة ٤٦ (٧٤٧) (صحيح)

تصريح دہ خو دلته په ابوداؤد كښې وړاندې راغې هو ابو اسد بن عمرو «دا د ابو اسد كنيت نه دې بلكه په اضافى معنى كښې مراد دې» مطلب دا دې چه دا عمرو بن عامر هغه دې چه د هغوى د څوى نوم اسد دې، ددې تقاضا هم دا ده چه دا دې بجلى وى، ځكه چه اسد د عمرو بن عامر البجلى ځوئي دې نه د انصارى

د راوى سند عمرو بن عامر تحقيق:

خو حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل كښې دا تحقيق فرمائيلې دې چه دا عمرو بن عامر الانصارى دې كوم چه په ترمذى كښې هم دې بجلى نه دې، ځكه چه په تقريب التهذيب كښې د عمرو بن عامر په نوم باندې د تمير علامت ليكلې شوې دې چه دهغې مطلب دا دې چه دا د صحاح ستة راوى نه دې، او عمرو بن عامر الانصارى باندې د جماعت علامت ليكلې شوې دې چه دهغې مطلب دا دې چه دې د صحاح ستة راوى دې، بله دا چه عمرو بن عامر بجلى د شپږمې طبقې دې او انصارى د پنځمې طبقې، د پنځمې طبقې راويان هغه وى چه يو يا دوه صحابه كرام رضي الله عنهم ئې ليدلې وى، او د طبقه سادسه راويان هغه دى چه د هغوى لقاء د يو صحابى سره هم نه وى ثابته، او دلته عمرو بن عامر داسې وائي چه ما د انس بن مالك رضي الله عنه نه تپوس اوكړو، لهذا دا عمرو بن عامر د طبقه سادسه نه شى كيدې بلكه د طبقه خامسه نه دې، او هغه الانصارى دې نه البجلى

[۱۷۲] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: إِنِّي رَأَيْتُكَ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ، قَالَ: عَمْدًا صَنَعْتُهُ".

ترجمه: د بريده نه روايت دې هغه وائي: چه اوكړل رسول الله ﷺ په ورځ د فتح مكه پنځه مونځونه په يو اودس، او مسح ئې اوكړه په موزو، نو اووئيل هغه ته عمر: بيشكه ما اوليدلې چه ودې كړل نن ورځ داسې شى چه تا مخكښې نه وو كړى، هغه وفرمايل: قصداً مې داسې اوكړل

تشريح: قوله: ﴿صَلَّى رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ الْفَتْحِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ﴾ يعنى رسول الله ﷺ د فتح مكه په ورځ پنځه واړه مونځونه په يو اودس باندې اوفرمائيل او مسح على الخفين ئې هم اوفرمائيله، په دې باندې سيدنا عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوفرمائيلو چه ما تاسو نن په داسې كار باندې اوليدئ په كوم چه مې ددې نه مخكښې نه وئ ليدلې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ما قصداً داسې اوكړل

ظاهره دا ده چه د سيدنا عمر رضي الله عنه مراد په دې كار سره صلوات خمسه لره په يو اودس ادا كول دى، د مسح على الخفين متعلق تپوس نه دې ځكه چه مسح على الخفين

(۱): صحيح مسلم/الطهارة ۲۵ (۲۷۷)، سنن الترمذي/الطهارة ٤٥ (٦١)، سنن النسائي/الطهارة ۱۰۱ (۱۳۳)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۲ (۵۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۳۵۰، ۳۵۱، ۳۵۸)، سنن الدارمي/الطهارة ۳(٦۸۵) (صحيح)

خو به رسول اللهﷺ عام طور په سفرونو کښې کوله، رسول اللهﷺ اوفرمائيل ما قصداً داسې اوکړل چه معلومه شي چه تجديد د اودس ضروري نه دې

دلته يو سوال دې هغه دا چه رسول اللهﷺ ددې نه مخکښې د هر مانځه دپاره چه کوم اودس فرمائيلو هغه وجوبا وو که استحبابا؟ امام طحاوي رحمه الله فرمائي چه په دې کښې دواړه احتمالات دي يو دا چه رسول اللهﷺ هر مانځه ته اودس په طريقه د وجوب فرمائيلو، او بيا دا وجوب د فتح مکه په ورځ باندې منسوخ شوې وی او دويم احتمال دا دې چه رسول اللهﷺ به اودس د هر مانځه دپاره په طريقه د استحباب فرمائيلو او بيا د فتح مکه په ورځ باندې رسول اللهﷺ د بيان جواز دپاره دا ترک کړې وی، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه احتمال ثاني اقرب الی الصواب دې، په دې باندې علامه شوکاني رحمه الله اضافه فرمائيلې ده چه د عبدالله بن حنظله حديث (کوم چه په ابوداؤد باب السواک کښې مخکښې تير شوې دې) په هغې سره د احتمال اول تائيد کيږي، ځکه چه دهغې نه معلوميږي چه په شروع کښې په رسول اللهﷺ باندې اودس د هر مانځه دپاره واجب وو، خو د امام طحاوي رحمه الله دا وينا چه ددې نسخ د فتح مکه په ورځ اوشوه صحيح نه ده، بلکه نسخ به ددې نه مخکښې په غزوه خيبر کښې منل پکار وی لکه چه د سويد بن النعمان د حديث نه معلوميږي، چه دهغې مضمون دا دې چه هغوی فرمائي مونږ د غزوه خيبر په سفر کښې د رسول اللهﷺ سره وو چه کله هغوی مقام صهبا ته اورسيدل کوم چه خيبر ته نزدې دې نو هلته رسول اللهﷺ د مازيګر او بيا د ماښام مونځ په يو اودس باندې ادا اوفرمائيلو، او دا واقعه د فتح مکې نه يو کال مخکښې ده.

بَابُ تَفْرِيقِ الْوُضُوءِ

باب دې په بيان د جداوالي دا اندامونو په اودس کښې

د تفريق نه مراد ترک موالاة دې يعنې د اودس په اندامونو وينځلو کښې تفريق کول

په موالاة في الوضوء کښې مذاهب ائمه

دا خبره په مخکښې ابوابو کښې راغله چه د مالکيانو په نزد موالاة في الوضوء واجب او د اودس د صحت دپاره شرط دې، که يو سړې عمداً تفريق اوکړی نو دهغې اودس باطل دې، خو د نسيان په صورت کښې معاف دې او په کتب مالکيه کښې موالاة نه په فور سره تعبير کړې شوې دې هم دغه شان د حنابله په نزد هم موالاة فرض دې د هغوی په نزد په نسيان سره هم نه ساقط کيږي، او د احنافو په نزد موالاة صرف سنت دې، د امام شافعي رحمه الله دواړه اقوال دی، ابن رسلان رحمه الله فرمائي چه د امام شافعي رحمه الله په قول قديم کښې واجب دې او اصح الروايتين عن احمد هم دغه شان دې، او قول جديد د امام شافعي رحمه الله او روايت ثانيه د امام احمد رحمه الله هم په شان د احنافو دې (کذا في هامش البذل)

[۱۷۳](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، أَنَّهُ سَمِعَ قَتَادَةَ بْنَ دِعَامَةَ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، "أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ تَوَضَّأَ وَتَرَكَ عَلَى قَدَمِهِ مِثْلَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، وَلَمْ يَرْوِهِ إِلَّا ابْنُ وَهْبٍ وَحْدَهُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، قَالَ: ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ.

ترجمه: روایت دی د انس بن مالک نه، بیشکه یو سړی راغی نبي ﷺ ته، او بیشکه اودس ئې کړی وو او پریخودی ئې وو په خپل خپه باندې په اندازې د نوک اوچ ځائې، نو اوونیل هغه ته رسول الله ﷺ لاړ شه ښائسته اودس اوکړه. وئیلی دي ابوداود: دا حدیث معروف نه دی د جریر بن حازم نه، او روایت ئې نه دی کړی مګر ابن وهب ځانله، او روایت شوی دی د معقل بن عبید الله الجزري نه، هغه د ابو الزبیر نه، هغه د جابر نه، هغه د عمر نه، هغه د نبي ﷺ نه په مثل د هغې، هغه وئیلی دی لاړ شه او ښائسته اودس اوکړه.

تشریح: قوله: ﴿ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ الخ – ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ ﴾ د مضمون حاصل دا دي چه یو سړی د رسول الله ﷺ مخکښې اودس اوکړو، او د هغوی د خپو څه حصه اوچه پاتې شوه نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ﴿ ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ ﴾ یعنی لاړ شه خپل اودس صحیح کړه. حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې لیکي چه د احسان وضوء شکل دا دي چه څه اوچ پاتې شوې دی هغه دې تر کړې شي، پس په دې سره په غسل اعضاء کښې د تفریق جواز ثابت شو

امام خطابي شافعي او ابن بطال مالکي رحمه الله د دې حدیث نه په وجوب د موالاة باندې استدلال کړی دی.

د حدیث الباب نه په وجوب د موالاة باندې استدلال صحیح نه دی:

خو امام نووي رحمه الله د هغوی استدلال رد فرمائیلی دی، چه دا استدلال کم از کم ضعیف ګڼې باطل دي ځکه چه رسول الله ﷺ چه د احسان وضوء کوم حکم فرمائیلې دی د هغې دوه صورتونه کیدې شي، یو دا چه استیناف د اودس اوکړې شي، دویم دا چه څومره حصه اوچه پاتې شوې ده هغه لونده کړې شي، اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، خو که هغوی د اودس د اعادې حکم فرمائیلې وې نو بیا خو دا استدلال صحیح وو او اګرچه دې وخت کښې هم دا احتمال دې چه د اعادې حکم په طریق د استحباب وی نه په طریق د وجوب.

[۱۷۴](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، وَحُمَيْدٌ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَى قَتَادَةَ.

ترجمه: حسن د نبي ﷺ نه روایت کړی دی په معنی قتاده سره.

---

(١): سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٩ (٦٦٥)، (تحفة الأشراف: ١١٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٦٧٣)، وحديث عمر أخرجه: صحيح مسلم/الطهارة ١٠ (٢٤٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٩ (٦٦٦) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٥١٢، ١٨٥٦٣) (صحيح)

[۱۷۵]() حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ بَحِيرٍ هُوَ ابْنُ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي وَفِي ظَهْرِ قَدَمِهِ لُمْعَةٌ قَدْرُ الدِّرْهَمِ لَمْ يُصِبْهَا الْمَاءُ، فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ".

ترجمه: د خالد نه روايت دې هغه روايت کوي د بعضو صحابو د نبي ﷺ نه، بيشکه نبي ﷺ وليده يو سړی چه مونځ ئې کولو او په شا د خپې د هغه کښې چمک وو (اوچ ځای) په اندازه د يو درهم چه اوبه ورته نه وې رسيدلې نو امر ورته اوکړو نبي ﷺ چه راواپس کړي اودس او مونځ

د وجوب موالات د قائلينو استدلال اودهغې جواب:

تشريح: قوله :﴿ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صلّى الله عليه وسلم– أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ ﴾ په دې حديث کښې رسول اللهﷺ د اودس د اعادې حکم فرمائيلې دې چه ددې نه په ظاهره کښې د قائلين موالاة تائيد کيږی، خو اول خو دا حديث ضعيف دې ځکه چه ددې په سند کښې بقية بن الوليد راوی دې چه کوم حجت نه دې، ابو مسهر غسانی د هغوی په باره کښې فرمائي ﴿احاديث بقية ليس بنقية فمن منها على تقية ﴾ بلکه دا چه هغه مدلس دې، او دلته په طريقه د عنعنه روايت کوی، ددې نه علاوه دا هم احتمال دې چه د اودس د اعادې حکم رسول اللهﷺ په طريقه د استحباب ورکړې وی

موالات ته واجب نه ويونکو دلائل

کوم حضرات چه د وجوب موالاة قائل نه دی هغوی وائی چه الله پاک په آيت وضوء کښې صرف د غسل اعضاء او مسح حکم فرمائيلې دې، په هغې کښې د موالاة چرته هم ذکر نشته، بلکه دا چه امام بيهقی‌رحمه الله د ابن عمرﷺ يو صحيح اثر نقل کړې دې چه يو ځل هغوی په بازار کښې اودس اوکړو او صرف مخ لاسونه ئې وينځل او په سر ئې مسح اوکړه، او د جنازې د مونځ ورکولو دپاره ئې مسجد ته تشريف يوړلو، هلته رسيدو سره ئې د ټولو حاضرينو مخکښې مسح على الخفين اوکړه سره ددې چه اوبه پرې اوچې شوې وې او په دې باندې په حاضرينو کښې چا هم نکير اونکړو

د احاديث الباب خلاصه

خلاصه دا چه په دې باب کښې مصنف‌رحمه الله درې احاديث ذکر کړی دی، د درې وارو مضمون مشترک دې چه يو سړې د اودس کولو نه پس د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د هغوی د خپو يوه حصه د نوک برابر اوچه پاتې شوې وه، په دې درې احاديثو کښې اول او دويم حديث کښې دا دی چه رسول اللهﷺ دې سړی ته د احسان وضوء حکم اوفرمائيلو، ظاهره دا ده چه ددې دوه احاديثو نه په موالاة باندې استدلال صحيح نه دې، او په دريم حديث کښې رسول اللهﷺ د اودس د دوباره کولو حکم اوفرمائيلو، دهغې جواب مونږ ورکړې دې

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳/۱) (صحيح)

بَابُ إِذَا شَكَّ فِي الْحَدَثِ

باب دی، چې کله شکوي په بې اودسۍ کې

د نواقض وضوء ابتداء :

خان پوهه کړه چه د تیر باب یعنی باب تفریق الوضوء پورې احکام او مسائل د اودس د مصنف رحمه الله د ترتیب مطابق پوره شو، اوس د مصنف رحمه الله مقصود نواقضو د اودس بیانول دی چه دهغې ابتداء په دې وراندې باب ﴿ باب الوضوء من القبلة ﴾ نه کوی ګویا هغه د نواقض وضو اول باب دې، او دا باب په طور د تمهید او توطئه دې ځکه چه په شک فی الحدث کښې دواړه جهتونه دی، د ناقض کیدو هم او د نه کیدو هم، ګویا دا د ادنی درجې ناقض دې په دې وجه مصنف رحمه الله دا باب په شروع کښې راوړلو ترقی د ادنی نه اعلی طرف ته وی، ددې کتاب ابواب ډیر مهذب ومرتبت او قابل تعریف دی فلله در المصنف.

(دحدیث لغوی او اصطلاحی معنی):

خان پوهه کړه چه د حدث لغوی معنی د تجدد یعنی وجود بعد العدم ده، او شرعا حدث نوم دې دهغه حالت کوم چه ناقض دطهارت وی،ددې جمع احداث راځی لکه دسبب جمع اسباب

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة :

مسئلة الباب مختلف فیه دې د جمهور علماء ثلاثه مذهب دا دې چه که یو سړی ته د مخکښې نه بالیقین طهارت حاصل دې او دهغې نه پس ئې په زوال طهارت کښې تردد او شک واقع کیږی نو دا څه ضرر رسونکې نه دې، ﴿ الیقین لا یزول الا بمثله ﴾ یعنی یقینی خبرې لره یقین ختمولې شی،

(د امام مالک مسلک)

د امام مالک رحمه الله نه په دې کښې مختلف روایتونه دی، یو د جمهورو په مثل، په دویم روایت کښې دا دی چه شک فی الحدث مطلقا ناقض دې، دریم روایت دا دې چه که خارج صلوة شک واقع شی نو بیا خو ناقض دې لهذا بغیر د اودس د اعادې نه دې مونځ شروع نه کړی، او که په مانځه کښې دننه شک راشی نو بیا ناقض نه دې او هم دا مذهب دې د حسن بصری رحمه الله

(د امام مالک په نزد داخل صلوة او خارج صلوة په شک راتلو کښې فرق)

داخل صلوة او خارج صلوة کښې د فرق یو وجه خو دا ده چه په حدیث کښې فی الصلوة قید مذکور دې او دویمه وجه ددې دا ده چه که داخل صلوة شک فی الحدث ناقض اومنلې شی نو په دې سره ابطال د عمل لازمیږی، او دا د ﴿ لا تبطلوا اعمالکم ﴾ خلاف دې او په خارج الصلوة کښې دا خرابی نه لازمیږی لهذا هلته به شک فی الحدث لره ناقض منلې شی، خو حافظ ابن حجر رحمه الله د مالکیانو په استدلال باندې اعتراض کړې دې چه ابطال عمل خو به هغه وخت لازمیږی چه کله د شک فی الحدث په حالت کښې صحة د صلوة تسلیم کړې شی او صحة صلوة هغه وخت کیدې شی چه کله شک فی الحدث ناقض وضوء

نه وي، پس که شک في الحدث في الواقع ناقض نه وي نو په خارج کښې هم ورته ناقض نه دی ونیل پکار، او که في الواقع ناقض وضوء وي نو ابطال د عمل څه شو.

[۱۷۶]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي خَلَفٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَعَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، قَالَ: شُكِيَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلَاةِ حَتَّى يُخَيَّلَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: "لَا يَنْفَتِلْ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا، أَوْ يَجِدَ رِيحًا".

ترجمه: عباد بن تمیم د خپل تره نه روایت کوي، هغه وائي: شکایت اوکړی شو پیغمبر ﷺ ته د سړي په باره کښې چه احساس اوکړي د یو شي په مانځه کښې تردي چه څه خیال راشي، نو اوونیل هغه: نه دې خي تردې چه واوري اواز، او یا بوئي محسوس کړي مونځ دې نه ماتوي.

(د عم مصداق)

قوله :﴿ عَنْ عَمِّهِ ﴾ یعنی سعید بن المسیب او عباد بن تمیم دواړه روایت کوي د عم عباد نه د چا نوم چه عبدالله بن زید بن عاصم دي.

قوله :﴿ شُكِيَ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- الرَّجُلُ ﴾ یعنی د رسول الله ﷺ نه د یو سړي په باره کښې تپوس اوکړې شو کوم چه د مانځه په حالت کښې څه محسوس کړي مثلا په طریق د شک او وهم خروج ریح وغیره، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا سړي دې مونځ نه ماتوي تر څو چه ئې په خپلو غوږونو باندې د هوا آواز نه وي اوریدلې او یا ئې په پوزه باندې بدبو نه وي محسوس کړې، په غوږ او پوزه باندې محسوس کیدل چونکه ذریعه ده د حصول یقین دپاره په دې وجه رسول الله ﷺ هغه ذکر اوفرمائیله، ګینې مقصود حصول یقین دي که هغه هر څنګه حاصل شي.

په حدیث کښې د ﴿ في الصلوة ﴾ د قید نه بعض مالکیانو استدلال کړې دي چه دا حکم یعني شک ناقض نه کیدل د داخل الصلوة سره خاص دي که خارج الصلوة دا شک واقع شي نو بیا دا حکم نه دي.

(شکایت کونکې څوک وو؟)

خان پوهه کړه چه دا لفظ ﴿ عن عمه شكى ﴾ دلته هم او دغه شان د مسلم په روایت کښې په صیغه د مجهول وارد دي او ﴿ الرجل ﴾ د نائب فاعل کیدو د وجې نه مرفوع دي، فاعل د شکایت څوک دي؟ ددې روایت نه هیڅ نه معلومیږي خو د بخاري د روایت (۲) نه اشارة او د ابن خزیمة د روایت نه صراحة معلومیږي چه فاعل هم دا عم عباد دي کوم چه په سند کښې

(): صحيح البخاري/الوضوء ٤ (١٣٧)، ٣٤ (١٧٧)، البيوع ٥ (٢٠٥٦)، صحيح مسلم/الطهارة ٢٦ (٣٦١)، سنن النسائي/الطهارة ١١٥ (١٦٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٤ (٥١٣)، (تحفة الأشراف: ٥٢٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩/٤، ٤٠) (صحيح)

۲) څکه چه په بخاری کښې دا لفظ الف سره دغه شان راغلي دي عن عمه انه شكا الي رسول الله ﷺ الرجل ددې فعل معروف کیدل متعین نه دي.

مذکور دي، امام نووي رحمه الله فرمائي چه د فاعل د معلومیدو نه پس هم دا لفظ ﴿ شکی ﴾ په صیغه د معروف نه شي لوستلې کیدې، علامه عیني رحمه الله د امام نووي رحمه الله د کلام تردید کولو سره فرمائيلي دي چه د فاعل معلومیدو نه پس دا معروف لوستلې شو، او ضمیر د فاعل به راجع وی د عم عباد طرف ته ځکه چه د هغه فاعل کیدل معلوم شو. حضرت په بذل کښې ددې ټولو خبرو د نقل کولو نه پس سکوت فرمائيلي دې خو واضحه دې وی چه د امام نووي رحمه الله خبره صحیح ده او د عیني تردید صحیح نه دې، وجه دا ده چه دا لفظ د مسلم او ابوداؤد په روایت کښې په ﴿ شکی ﴾ سره لیکلې شوي دې او په دې صورت کښې ددې مجهول لوستل متعین دی، ځکه چه د ناقص واوی د کیدو د وجې نه ﴿ شکی ﴾ فعل مجهول په یا سره او ﴿ شکا ﴾ فعل معروف الف سره لیکل ضروری دی ځنګه چه ﴿ دعاوعفا ﴾ فعل معروف په الف سره لیکلې شی، او چه کله فعل مجهول وی نو په یاء سره دې اولیکلې شی لکه ﴿ دعی وعفی ﴾ هم دغه شان لفظ ﴿ شکی ﴾ هم دې خو ﴿ رمی ﴾ په فعل معروف کښې م په یا سره لیکلې شی ځکه چه دا ناقص یائی دې، خلاصه دا شوه چه د فاعل متعین کیدو نه پس به لفظ ﴿ شکی ﴾ دلته مجهول لوستلې شی نه معروف، كذا افاده العلامة السندى في حاشية النسائى وهكذا سمعت من شيخى مولانا محمد اسعد الله رحمه الله.

[۱۷۷](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَوَجَدَ حَرَكَةً فِي دُبُرِهِ أَحْدَثَ أَوْ لَمْ يُحْدِثْ فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ، فَلَا يَنْصَرِفْ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا".

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې، بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوونیل: کله چه وې یو ستاسو نه په مانځه کښې نو بیاموندلو حرکت په خپله شرمګاه کښې، چه اودس ئې مات شوی دی او که نه دی، نو اشکال ورته پیښ شو، نه دې خي د مانځه نه تردې چه واوري اواز او یا بیاموخي باد.

ریح القبل ناقض دې یا نه؟

قوله: ﴿ فَوَجَدَ حَرَكَةً فِي دُبُرِهِ ﴾ ددې مقام سره مناسب یوه بله مسئله ده، هغه دا چه ریح القبل ناقض دې یا نه؟ مسئله مختلف فیه ده، د شوافعو او حنابله په نزد ناقض دی او د مالکیانو په نزد ناقض نه دی، او د احنافو په نزد دواړه روایتونه دی امام محمد رحمه الله فرمائي چه ناقض دی او امام کرخي رحمه الله فرمائي چه ناقض نه دی.

قوله: ﴿ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا ﴾ دا خبره مونږ مخکښې هم بیان کړه چه سماع صوت او وجدان ریح کنایه ده د حصول یقین نه تر څو پورې چه د ریح د خروج یقین نه وی شوې تر هغه وخته پورې د شرمګاه په حرکت سره اودس نه باطلیږي، چونکه سماع صوت او وجدان

(١): تفرد به أبو داود، تحفة (١٢٦٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٢٦٢٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الطهارة ٢٦ (٣٦٢)، سنن الترمذي/الطهارة ٥٦ (٧٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٤ (٥١٦)، مسند احمد (٤١٤/٤)، سنن الدارمي/الطهارة ٤٧ (٧٤٨) (صحيح)

ريح د حصول يقين ذريعه او سبب دې په دې حيثيت سره ئې هغه ذكر كړه كښې لازميږي چه كوم سړې اصم او اخشم (۱) وي د هغه اودس خو دې بالكل په خروج ريح سره مات نه شي

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الْقُبْلَةِ

باب دې په بيان د اودس كې د چيپ نه

د دې ځائې نه د نواقض وضوء بيان شروع كيږي، په دې دنيا كښې په يو حالت كښې هم بقاء او دوام نشته، هر كمال لره زوال شته .... قبلة : يعني قبلة المراءة... مراد ترې نه مس كول (لاس لګول) د زنانه دى، مس كول د زنانه ناقض د اودس دې يا نه؟ دا مسئله مختلف فيه ده، د شوافعو په نزد مطلقاً ناقض ده، د احنافو په نزد مطلقاً ناقض نه ده، د مالكيانو او حنابله په نزد تفصيل دې، كه مس مراة په شهوت سره وي نو ناقض د اودس ده ګينې نه ده

په مس المراءة باندې د اودس د ماتيدو مسئله په قران كريم كښې ذكر ده او كه نه؟

اصل كښې دا مسئله په قرآن كريم كښې په آيت د تيمم ﴿ اوجَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ ﴾ كښې ذكر شوې ده، په دې كښې دوه قراءتونه دى، يو ﴿ لامستم النساء ﴾ د باب مجرد نه، دويم ﴿ لامستم النساء ﴾ د باب مفاعلت (مزيد) نه، امام شافعي رحمه الله فرمائي چه لمس په خپله معنى حقيقي يعنى لمس باليد باندې محمول دې او ددې نه ثابتيږي چه مس مراءة ناقض د اودس ده، او احناف فرمائي چه د لمس نه مراد جماع ده ځكه چه رئيس المفسرين سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ددې تفسير په جماع سره كړې دې او علماء كرامو ليكلي دى چه د ابن عباس تفسير په نورو باندې راجح دې، بله دا چه په دې آيت كريمه كښې دويم قراءت ﴿ لامستم ﴾ والا دې چه دهغې نه د احنافو تائيد كيږي لهذا كه ﴿ لمستم ﴾ والا قراءت د لمس باليد معنى ته زيات نزدې دې نو ﴿ لامستم ﴾ والا قراءت اقرب الى الجماع دې لكه چه ابوبكر جصاص رازي رحمه الله ليكلي دي.

بله دا چه احنافو آيت كريمه په كومه معنى باندې محمول كړې دې په دې كښې زياته فائده ده ځكه چه ددې نه معلوميږي چه څنګه په حدث اصغر كښې تيمم مشروع دې هم دغه شان په حدث اكبر كښې هم مشروع دې په خلاف د شوافعو د تفسير چه دهغې نه د جنب دپاره د تيمم حكم نه معلوميږي، بله دا چه د احنافو تائيد د حديث الباب نه هم كيږي.
بله دا چه د احنافو تائيد د حديث الباب نه هم كيږي ځكه ددې احاديثو نه هم دا ثابتيږي چه مس مرأة ناقض وضوء نه ده.. د احنافو په مسلک کښې د حديث او آيت ترمينځه راتلونكى تعارض نه سلامتي ده، او د شوافعو تفسير د حديث الباب معارض راځي ځكه چه شوافع حضرات د حديث الباب د تضعيف يا تاويل پسې شوې دى لكه چه وړاندې به معلومه شي
حضرات مالكيه او حنابله ددې آيت او احاديث د تعارض رفع كولو دپاره يو بل شكل اختيار كړو هغه دا چه كه مسح مراة په شهوت سره وى نو بيا خو ناقض دې ګينې نه

(۱) لمس (كوڼ) او اخشم چه د بوئي احسنلو قوت ئې خراب وى.

دي، لهذا آيت كريمه كښې د لمس نه مس بالشهوت مراد دي، ځكه چه هغه نه ناقض وضوء وئيلې شوې دې او په حديث كښې د مس نه مس بغير د شهوت مراد ده په دې وجه هغه ناقض وضوء نه شوه. (قال ابوداؤد وهو مرسل).

[۱۷۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي رَوْقٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَهَا وَلَمْ يَتَوَضَّأْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا رَوَاهُ الْفِرْيَابِيُّ وَغَيْرُهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ مُرْسَلٌ، إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عَائِشَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: مَاتَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ وَلَمْ يَبْلُغْ أَرْبَعِينَ سَنَةً، وَكَانَ يُكْنَى: أَبَا أَسْمَاءَ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، بېشكه نبي ﷺ ښكل كړه او اودس ئې اونه كړو. وئيلې دي ابوداود: هم داسې روايت كړې فريابي. وئيلې دي ابوداود: او هغه مرسل دې، ابراهيم التيمي د عائشې نه نه دی اوريدلی. وئيلي دي ابوداود: مړ شو ابراهيم التيمي او څلوېښتو كالو ته نه وو رسيدلی، او وو چه مكنی كيده په ابو اسماء سره.

حديث الباب باندې د مصنف رحمه الله كلام :

ځان پوهه كړه چه د تقبيل مراءة په سلسله كښې چه د عائشې رضي الله عنها كوم حديث دې هغه مصنف رحمه الله په دوه طرقو سره ذكر فرمائيلي دي يو په طريق د ابراهيم التيمي عن عائشة، دويم په طريق د حبيب بن ثابت عن عروة. او په هر دوه طرقو باندې مصنف رحمه الله كلام فرمائيلو سره حديث ته ضعيف وئيلې دې.

په طريق اول باندې كلام دا دې چه دا حديث منقطع دې، ځكه چه دا ابراهيم تيمی د عائشې رضي الله عنها نه روايت كوی حال دا چه د تيمی سماع د عائشې رضي الله عنها نه ثابت نه ده، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه انقطاع صرف په دې طريق كښې ده، ددې نه علاوه نور بعض طرق د انقطاع نه سالم دی، پس دا روايت په دارقطنی كښې موجود دې او ددې په سند كښې د ابراهيم التيمي او عائشې رضي الله عنها دا طريق د انقطاع نه سالم دې.

[۱۷۹]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ حَبِيبٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ"، قَالَ عُرْوَةُ: مَنْ هِيَ إِلَّا أَنْتِ فَضَحِكَتْ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَكَذَا رَوَاهُ زَائِدَةُ، وَعَبْدُ الْحَمِيدِ الْحِمَّانِيُّ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه بېشكه نبي ﷺ ښكل كړه يوه ښځه د خپلو بيبيانو نه، بيا ووتلو مانځه ته او اودس ئې اونه كړو. اووئيل عروه: هغه نه ده مگر ته يې؟ نو هغې وخندل. وئيلې دي ابوداود: دارنګه روايت كړی دی زائده او عبد الحميد الحماني د سليمان الاعمش نه.

تشريح: ۲. ﴿قوله حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ عُرْوَةَ﴾

---

[1]: سنن النسائي/الطهارة ۱۲۱ (۱۷۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۱۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٦۳ (۸٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦۹ (۵۰۲)، مسند احمد (۲۱۰/٦) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۷۱) (صحيح)

داد حديث عائشه رضي الله عنها دويم طريق دي، ددې په باره کښې مصنف رحمه الله فرمائي ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هٰكَذَا رَوَاهُ زَائِدَةُ وَعَبْدُ الْحَمِيدِ الْحِمَّانِيُّ عَنْ سُلَيْمَانَ الأَعْمَشِ ﴾ يعني وکيع چه دا روايت څنګه د اعمش نه اخستلې دې هم دغه شان ئې د زائده او عبد الحميد نه نقل کړې دې، مطلب دا دې چه د وکيع په روايت کښې چه څنګه عروه غير منسوب واقع شوې دې هم دغه شان ددې دواړو په روايت کښې هم واقع شوې دې.

د دې نه پس مصنف رحمه الله دا حديث د اعمش نه په يوه بله طريقې سره ذکر کړې دې ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ - يَعْنِي ابْنَ مَغْرَاءَ - حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ ﴾ په دې کښې تصريح ده چه دا عروة عروة بن الزبير نه دې بلکه عروة المزني دې او وړاندې تلو سره هم مصنف رحمه الله د بعض ائمه حديث کلمات نقل کولو سره هم دا ثابتوی چه دا عروة عروة المزني دې او عروة المزني بالاتفاق مجهول دې، لهذا په اول طريق خو دا کلام شو چه دا مرسل يعني منقطع دې او په دې دويم طريق باندې دا کلام شو چه په دې کښې عروة المزني دې کوم چه بالاتفاق مجهول دې، لهذا په حديث الباب کښې چه کوم د احنافو مستدل دې هغه ثابت نه دې.

[۱۸۰]( ) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَخْلَدٍ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ يَعْنِي ابْنَ مَغْرَاءَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، أَخْبَرَنَا أَصْحَابٌ لَنَا، عَنْ عُرْوَةَ الْمُزَنِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، بِهٰذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ، قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ لِرَجُلٍ: احْكِ عَنِّي أَنَّ هٰذَيْنِ يَعْنِي حَدِيثَ الأَعْمَشِ هٰذَا، عَنْ حَبِيبٍ، وَحَدِيثَهُ بِهٰذَا الإِسْنَادِ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ، أَنَّهَا تَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، قَالَ يَحْيَى: احْكِ عَنِّي أَنَّهُمَا شِبْهُ لَا شَيْءَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ، وَرُوِيَ عَنِ الثَّوْرِيِّ، قَالَ: مَا حَدَّثَنَا حَبِيبٌ إِلَّا عَنْ عُرْوَةَ الْمُزَنِيِّ يَعْنِي لَمْ يُحَدِّثْهُمْ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ بِشَيْءٍ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَدْ رَوَى حَمْزَةُ الزَّيَّاتُ، عَنْ حَبِيبٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ حَدِيثًا صَحِيحًا.

ترجمه: حديث بيان کړې دی موږ ته اعمش، خبر راکړې دی موږ ته بعضو ملګرو زموږ، د عروة المزني نه، او هغه د عائشې نه په دې حديث باندې. وئيلی دي ابوداود: اووئيل يحيی بن سعيد القطان يو سړي ته چه بيان کړه زما د طرف نه دا دواړه حديثونه. يعني حديث د اعمش چه دادې په روايت د حبيب، او حديث د هغه په دې سند په باره د مستحاضه کې: چه هغه به اودس کوي د هرمانځه دپاره. وئيلی دي يحيی: حکايت اوکړه زما طرف نه چه دغه دواړه مشابه د لاشئ سره دي. وئيلی دي ابوداود: او روايت شوی دی د ثوري نه، هغه وئيلی دي: حديث نه دی بيان کړی موږ ته حبيب د عروه المزني نه يعني حديث ئې نه دی بيان کړی دوی ته د عروة بن الزبير په هيڅ شي سره. وئيلی دي ابوداود: او په تحقيق سره روايت کړی دی حمزة الزيات د حبيب نه او هغه د عروة بن الزبير نه، او هغه د عائشې نه صحيح حديث.

تشريح: قوله ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ لِرَجُلٍ الخ ﴾ مصنف رحمه الله فرمائي چه يحيی بن سعيد القطان يو سړی ته اووئيل (د دې سړی نه مراد علی بن المديني شيخ بخاری رحمه الله دې) چه زما د طرف نه خلقو ته اووايه چه د اعمش دا حديث (حديث الباب او هغه دويم

( ): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۶۸، ۱۷۳۷۱) (صحيح)

حديث کوم چه د مستحاضه په باره کښې دې چه په هغې کښې دی ﴿ انها تتوضاء لکل صلوة﴾ زما په نزد دا دواړه احاديث غير معتبر او د لاء شئ په درجه کښې دی (دا بل حديث به وړاندې په ابواب الاستحاضه کښې په ﴿باب من قال تغتسل من طهر الی طهر ﴾ کښې راشي،
دا دواړه احاديث ولې غير متعبر اوډ لاشئ محض په درجه کښې دی؟ ددې وجه مصنف رحمه الله وړاندې د سفيان ثوري رحمه الله نه نقل کوی ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرُوِيَ عَنِ الثَّوْرِيِّ الخ ﴾ يعنې سفيان ثوري رحمه الله فرمائي چه حبيب بن ثابت چه کله هم روايت کوی نو د عروة المزني نه روايت کوی يعنې د عروه بن الزبير نه نۀ کوی لهذا په حديث الباب کښې چه کوم عروه دې هغه عروة المزني شو او هغه بالاتفاق ضعيف او مجهول دی.
د مصنف رحمه الله رائې خو هم دا ده چه په حديث الباب کښې د عروة نه عروة المزني مراد دې خو سفيان ثوري رحمه الله چه کومه قاعده کليه بيان کړې دې چه حبيب بن ابی ثابت د عروة بن الزبير نه مطلقا روايت نه کوی دا قاعده کليه مصنف رحمه الله نه منې پس فرمائي ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَدْ رَوَى حَمْزَةُ الزَّيَّاتُ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ حَدِيثًا صَحِيحًا ﴾ ددې سند نه معلوميږي چه حبيب کله د عروة بن الزبير نه هم روايت کوی لهذا بالکليه د هغوی نه د روايت نفي کول صحيح نه دی.
دلته د صاحب معارف السنن نه تسامح واقع شوې ده چه هغوی فرمائي چه د امام ابوداؤد رحمه الله په نزد د حديث الباب په سند کښې د عروة نه مراد عروة بن الزبير دې، په بذل المجهود کښې د حضرت هم هغه رائې ده کومه چه مونږ بيان کړه.

د عروة نه د عروة بن الزبير رحمه الله مراد کيدو قرائن :

د دې نه پس خان پوهه کړه چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل المجهود کښې په دې خبره باندې د نيم درځن نه زيات قرائن ليکلې دی چه دا عروه عروه بن الزبير دې عروة المزني نه دې، لهذا د مصنف رحمه الله خبره مونږ نه منو، هغه قرائن دا دی:
۱: عبدالرحمن بن مغراء دچا په روايت کښې چه د عروة المزني د کيدو تصريح ده، هغه ضعيف دې، ۲: په ابن ماجه او مصنف ابن أبي شيبة کښې وکيع د عبدالرحمن بن مغراء مخالفت کړې دې او هغه ته ئې عروة بن الزبير وئيلې دې. ۳: په دې سند کښې د عروة نه نقل کونکې اصحاب دی کومه چه د جمع صيغه ده او د کوم راوی نه چه يو جماعت نقل کوی هغه به معروف وی نه مجهول، او عروة المزني بالاتفاق مجهول دی لهذا دا عروة عروة المزني نه شی کيدې ۴: عروة بن الزبير معروف راوی دې او عروة المزني مجهول دې، او په اکثر رواياتو کښې عروة مطلقا بغير د نسبت نه راغلې دې، او د محدثينو په نزد د راوی غير منسوب په باره کښې قاعده دا ده چه هغه په معروف باندې محمول وی، لهذا دا عروة عروة بن الزبير شو نه عروة المزني، ۵: په دې روايت کښې دی ﴿ فقلت من هي الا انت ﴾ يعنې چه کله عائشې رضی الله عنها د عروة مخکښې مجملا بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ په خپلو ازواجو کښې د يوې بی بی تقبيل اوکړو نو په دې باندې عروة اووئيل هغه څوک ده هم ته به ئې کنه؟ په دې باندې هغه په خندا شوه، دا سوال او جواب قرينة ده ددې خبرې چه دا عروة

عروة بن الزبير دي ځکه چه د عروة بن الزبير او عائشي ﷞ ترمينځه بې تکلفي او سوال او جواب مشهور او معروف دي، نه د عائشي ﷞ او عروة المزني ترمينځه ۲. د دارقطني او مسند احمد ډير روايتونه په دې باندې دلالت کوي چه دا عروة عروة بن الزبير دې، ۷. په دې سند کښې د عروة المزني نه روايت کونکې د هغوی شاګردان اصحاب دي چه مجهول دي، لهذا دا سند غير معتبر دي، غرض دا چه مسنف ﷫ چه د حديث الباب په هر دوارو طريقو باندې کوم نقد اوکړو هغه رفع شو.

د حديث الباب په تائيد کښې نور روايات:

ددې نه علاوه هم په ډيرو روايات حديثيه بخاري وغيره کښې دی چه دهغې نه معلوميږي چه مس مراة ناقض وضوء نه دې، په يو روايت کښې دی چه عائشه ﷞ فرمائي چه زه د شپې د رسول الله ﷺ مخې ته ملاسته اوم او د هغوی د مونځ کولو دوران کښې به زما خپې د سجدې په ځايونو کښې وی ﴿ فاذا اراد ان يسجد غمزني فقبضت رجلي ﴾ او په يو روايت کښې دی ﴿ فاذا اراد ان يوتر مسني برجله ﴾ يعني کله چه به رسول الله ﷺ سجدې ته د تلو اراده اوفرمائيله نو زما بدن خپه وغيره به ئې مس کړل چه په هغې سره به ما خپې راټولې کړې، دلته په عين د مانځه حالت کښې مس المرءة موندلې شی، حافظ ابن حجر ﷫ ددې تاويل کړې دې چه کيدې شی مس په حائل سره وو يا دا د رسول الله ﷺ خصوصيت وی، دا تولې خبرې هم دغه شان دی د خپل مسلک د حمايت دپاره.

د امام بيهقي ﷫ په زعم کښې د حديث محمل:

او امام بيهقي ﷫ خو يو عجيبه خبره بيان فرمائيله ده چه حديث په اصل کښې د کتاب الصوم دې کوم چه د قبلة الصائم په باره کښې وو چه رسول الله ﷺ به په حالت صوم کښې تقبيل فرمائيلو خو د بيانونکو راويانو نه په دې کښې وهم واقع شوې دې او داسې روايت ئې کړې دې چه رسول الله ﷺ به د تقبيل نه پس د مانځه دپاره تجديد الوضوء نه فرمائيلو، حضرت سهارنپوری ﷫ فرمائي چه د امام بيهقي ﷫ بغير د دليل نه د راويانو تضعيف کول او هغوی لره په وهم اخته کيدل بيانول د ديانت خلاف دی والله الموفق

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَدْ رَوَى حَمْزَةُ الزَّيَّاتُ الخ ﴾ حضرت سهارنپوری ﷫ په بذل کښې ليکلي دی چه غالبا ددې حديث صحيح نه مراد هغه حديث دې کوم چه په ترمذی وغيره کتاب الدعوات کښې هم په دې سند سره ذکر شوې دې، چه دهغې الفاظ دا دی ﴿ اللهم عافني في جسدي وعافني في بصري واجعله الوارث مني لا اله الا الحليم الكريم سبحان رب العرش الكريم والحمد لله رب العالمين ﴾ خو د ترمذی په سند کښې د عروة بن الزبير د کيدو تصريح نشته، کيدې شی چه د امام ابوداؤد ﷫ په نزد هغه عروة بن زبير وی.

....

بَابُ الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ الذَّكَرِ

باب دې په بيان د اودس کې د مس کولو د ذکر نه

مذاهب ائمة :

مسئلة الباب مختلف فيه ده، د ائمه ثلاثه په نزد مس ذکر ناقض وضوء دې د امام احمدؒ په نزد مطلقا او د امام شافعیؒ او امام مالکؒ په نزد ﴿ اذا کان المس بباطن الکف ﴾ او د احنافو په نزد مطلقا ناقض نه دې، مصنفؒ دلته دوه ابواب قائم کړی دی، په اول باب کښې د مس ذکر ناقض کيدل او د بل باب نه ئې ناقض نه کيدل ثابت کړې دی.

[۱۸۱]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عُرْوَةَ يَقُولُ: دَخَلْتُ عَلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ فَذَكَرْنَا مَا يَكُونُ مِنْهُ الْوُضُوءُ، فَقَالَ مَرْوَانُ: وَمِنْ مَسِّ الذَّكَرِ؟ فَقَالَ عُرْوَةُ: مَا عَلِمْتُ ذَلِكَ. فَقَالَ مَرْوَانُ: أَخْبَرَتْنِي بُسْرَةُ بِنْتُ صَفْوَانَ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ".

ترجمه: عبد الله بن ابي بکر نه روايت دې، بيشکه هغه اوريدلي دي د عروه نه، هغه وئيلی دی: زه داخل شوم په مروان باندې نو مونږ ذکر کړل هغه څه چه د هغې نه اودس پکار دی، نو مروان اووئيل: او د مس کولو د ذکر نه؟ نو عروه اووئيل: ماته دا پته نشته، نو مروان اووئيل: خبر راکړی دی ماته بسرة بنت صفوان چه هغې د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دی: چا چه مس کړو خپل ذکر نو اودس دې اوکړي.

تشريح: په دې باب کښې مصنفؒ حديث د بسره بن صفوان پيش کړې دې چه په هغې کښې د مس ذکر ناقض کيدل معلوميږی، زمونږ د طرف نه ددې حديث دوه جوابونه کړې شوې دی، تضعيف او تاويل يا ترجيح

د احنافو د طرف نه د حديث الباب جواب :

د حديث د ضعيف کيدو وجه دا ده چه په دې روايت کښې د عروة او بسرة ترمينځه يا د مروان واسطه ده يا د هغه د شرطی، مروان غير ثقة دې د هغوی روايت قابل استدلال نه دې، د حضرت گنگوهی تقرير په الکوکب الدری کښې دې اما مروان ففسقه اظهر من الشمس وابين من الامس واما الشرطی فمجهول کما لا يخفی

جمهورو ددې دوه جوابونه کړی دی، بعض دا وئيلی دی چه مروان حجت او قابل استدلال دې امام بخاریؒ د هغوی روايات په خپل صحيح کښې اخستلې دی او بعض وائی چه دا صحيح ده چه مروان حجت نه دې خو دا روايت بغير د مروان نه هم ثابت دې، يعنی عروة براه راست د بسره نه روايت کوی پس ابن حبانؒ فرمائی ومعاذ الله ان نحتج بمروان ولکن لم

[۱]: سنن الترمذي/الطهارة ٦١ (٨٢)، سنن النسائي/الطهارة ١١٨ (١٦٣)، الغسل ٣٠ (٤٤٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٣ (٤٧٩)، موطا امام مالك/الطهارة ١٥(٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٠٦، ٤٠٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٥٠(٧٥١) (صحيح)

يقنع عروة بقول مروان... يعنى عروة د مروان په قول باندې قناعت نه دې كړې بلكه هغوى براه راست د بسره نه دا مسئله تپوسلې ده، لهذا مروان ددې سند د مېنځ نه اوتلو.

زمونږ د طرف نه د اولې خبرې جواب دا دې چه دا صحيح ده چه امام بخارى رحمه الله د هغوى روايت اخستلې دې، او دا په رجال بخارى كښې دې خو د بخارى په هغه رجالو كښې دې چه په هغوى باندې نقد او طعن كړې شوې دې، پس حافظ ابن حجر رحمه الله مروان په مقدمه د فتح البارى كښې په هغه فصل كښې ذكر كړې دې چه په هغې كښې د بخارى متكلم فيه راويان ذكر شوې دى، اسماعيلى فرمائى چه محدثينو په امام بخارى رحمه الله باندې د مروان د رواياتو په تخريج باندې نقد كړې دې، ددې نه علاوه دويمه خبره دا ده چه امام بخارى رحمه الله دغه روايات په متابعاتو كښې اخستلې دى كوم چه هغوى د خپل امارة نه مخكښې بيان كړى دى او د امارة نه روستو روايات ئې نه دى اخستلى، او د دويمې خبرې جواب هغه دې كوم چه خپله د امام بيهقى رحمه الله د كلام نه مستنبط دې هغوى فرمائى چه د حديث بسره تخريج شيخينو په دې وجه نه دې كړې چه په دې كښې اختلاف واقع دې چه دا روايت عروة براه راست د بسره نه روايت كوى او كه په واسطه د مروان او د هغه د شرطى، معلومه شوه چه د مروان واسطه كيدل امر محقق نه دې.

امام ابوداؤد رحمه الله د مروان د واسطه كيدو روايت اخستلې دې او امام ترمذى رحمه الله دواړه طريقې ذكر كړې دى او په نسائى كښې يو روايت بغير د واسطې نه دې او يو په واسطه د مروان او يو په واسطه د حرسى (شرطى).

حديث الوضوء من مس الذكر موؤل دې:

مونږ په شروع كښې وئيلې وو چه ددې حديث دوه جوابونه دى، اول تضعيف چه دهغې بيان اوشو، دويم ترجيح يا تاويل، ددې تفصيل داسې دې چه كه دا حديث صحيح تسليم كړې شى نو مونږ وايو چه زمونږ په نزد د دويم باب حديث يعنى حديث طلق راجح دې، ځكه چه هغه د رواية الرجال د قبيل نه دې، دويم په دې وجه چه دهغې په سند كښې هيڅ اختلاف او اضطراب نشته، على بن المدينى رحمه الله فرمائى ﴿هو عندى احسن من حديث بسرة﴾.

او كه تاويل اوكړې شى نو ددې دروازه هم مفتوح ده، دير تاويلونه دى:

۱: حديث د بسره په استحباب باندې محمول دې

۲: په لغوى وضوء باندې محمول دې او دا په دې وجه چه په رواياتو كښې تعارض رانشى.

۳: محمول على ما اذا خرج من الذكر شئ لاجل المس.

۴: د مس ذكر نه مراد مس الذكر بفرج المراة دې كوم ته چه مباشرت فاحشه وائى او دا زمونږ په نزد هم ناقض وضوء دې

۵: د مس نه مراد مس عند الاستنجاء ده، لهذا استنجاء ناقض شوه نه مس.

شوافعو په دې سلسله كښې د ابوهريره رضي الله عنه حديث هم پيش كړې دې كوم چه په دارقطنى كښې دې، چه دهغې الفاظ دا دى ﴿اذا فضى احدكم يده الى فرجه فليتوضا﴾.

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب دي په بيان د رخصت په دغې کې

خان پوهه کړه چه د اول باب حديث يعنى حديث بسرة، او ددې باب حديث يعنى حديث طلق دواړه د سنن اربعه روايتونه دى، په صحيحين کښې د يو نه هم نه دى، خو حديث د بسره په موطاء د امام مالک، صحيح ابن خزيمة او صحيح ابن حبان درې وارو کښې دې، او حديث د طلق د سنن اربعه نه علاوه په صحيح ابن حبان، بيهقى او طحاوى کښې دې.

[۱۸۲](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ بَدْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَدِمْنَا عَلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَجُلٌ كَأَنَّهُ بَدَوِيٌّ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ، "مَا تَرَى فِي مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَ مَا يَتَوَضَّأُ؟ فَقَالَ: هَلْ هُوَ إِلَّا مُضْغَةٌ مِنْهُ؟ أَوْ قَالَ: بَضْعَةٌ مِنْهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وشعبة، وابن عيينة، وجرير الرازي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ.

ترجمه: قيس بن طلق د خپل پلار نه روايت کوي، هغه وائي: چه مونږ راغلو نبي ﷺ ته، نو راغى يو سړى ګويا چه هغه بدوي وو، نو وئې وئيل: اې د الله نبي! ستا څه خيال دى په مسه کولو د ذکر د سړي کښې ذکر خپل لره پس ذهغې نه چه اودس اوکړي؟ نو هغه اووئيل: نه دى هغه مګر يوه ټکړه ده د هغه نه. او يايې اووئيل: «بضعة منه» وئيلى دي ابوداود: ددې روايت کړى دى هشام بن حسان او سفيان الثوري، او شعبه، او ابن عيينة، او جرير الرازي د محمد بن جابر نه، او هغه د قيس بن طلق نه.

[۱۸۳](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَابِرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، عَنْ أَبِيهِ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، وَقَالَ فِي الصَّلَاةِ.

ترجمه: قيس بن طلق د خپل پلار نه روايت کړى دى په خپل اسناد او معنى سره، هغه وئيلى دى: په مانځه کښې.

په حديث الباب باندې د شوافعو نقد او د هغې جواب:

جمهور د حديث طلق دوه جوابونه کړي دى، اول دا چه دا ضعيف دې ځکه چه په دې کښې يو راوى دې قيس بن طلق د هغوى په باره کښې امام شافعي رحمه الله فرمائى ﴿ قد سالنا عن قيس بن طلق فلم نجد من يعرفه ﴾.

زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه امام شافعي رحمه الله خو فرمائى چه مونږ د هغوى په باره کښې معلومات اوکړو خو معلومه راته نه شوه چه دا څوک دې؟ مونږ وايو چه کومو حضراتو محدثين کرامو ددې حديث تصحيح يا تحسين کړې دې ښکاره خبره ده چه هغوى ته به د قيس بن طلق په باره کښې معلومات حاصل وى او ﴿ من عرف ﴾ حجت دې په ﴿ من لم يعرف ﴾ باندې.

دويم جواب جمهورو ددې حديث دا ورکړې دې چه دا حديث د طلق منسوخ دې په

(١): سنن الترمذي/الطهارة ٦٢ (٨٥)، سنن النسائي/الطهارة ١١٩ (١٦٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٤ (٤٨٣)، (تحفة الأشراف: ٥٠٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢/٤، ٢٣) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٠٢٣) (صحيح)

حديث د ابوهريره رضي الله عنه باندې چه دهغې نه مس الذكر ناقض كيدل معلوميږي (چه دهغې الفاظ د اول باب په حديث كښې تير شوي دي، ځكه چه دا حديث طلق مقدم دې په حديث ابو هريره رضي الله عنه باندې، ځكه چه قدوم طلق مديني منورې ته د هجرت په اول كال شوې وو په كوم وخت كښې چه د مسجد نبوي صلى الله عليه وسلم تاسيس كيدلو، او د ابوهريره رضي الله عنه اسلام په اووم كال د هجرت دې امام بغوي صاحب المصابيح هم دا جواب كړي دې.

زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه د دعوى نسخ ثبوت په دوه خبرو باندې موقوف دې، اول دا چه د مسجد نبوي صلى الله عليه وسلم بناء د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې صرف يو ځل په ۱ هجري كښې شوې وه. ددې نه پس دوباره مديني منورې ته نه دې راغلې. او حال دا دې چه دا دواړه خبرې ثابت نه دى ځكه چه د مسجد نبوي صلى الله عليه وسلم تعمير د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې دوه كرته شوې دې لكه چه علامه نور الدين صمهودی په وفاء الوفاء كښې تصريح كړې ده، اول ځل په ۱ هجري كښې او دويم ځل د فتح خيبر ۷ هجري په موقع باندې، او دويمه خبره هم ثابت نه ده ځكه چه واقدي او ابن سعد تصريح كړې ده چه قدوم طلق په وفد بنو حنيفه كښې شوې وو، او ددې وفد قدوم په سنة الوفود ۹ هجري كښې دې ددې نه معلومه شوه چه قدوم طلق دوباره اوشو په ۱ هجري كښې او ۹ هجري كښې نو كيدې شي چه سماع طلق په دويم ځل شوې وى لهذا د نسخ دعوى ثابته نه ده، دا بحث په اماني الاحبار كښې په تفصيل سره ذكر كړې دې.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الإِبِلِ

باب دې په بيان د اودس كې د غوښو د اوښانو نه

مذاهب ائمة :

مسئله مترجم بها مختلف فيه ده د جمهور علماء ثلاثه په نزد لحم ابل ناقض د اودس نه دې، امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحق بن راهويه رحمه الله ددې قائل دى، په شوافعو كښې امام بيهقي رحمه الله دا اختيار كړې دې او ددې وجه هغوى دا ليكلي ده چه د امام شافعي رحمه الله نه منقول دى ﴿ ان صح حديث الوضوء من لحوم الابل قلت به ﴾ يعنى كه د وضوء من لحوم الابل حديث ثابت شى نو بيا زه ددې قائل يم او په دې باندې امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه په دې مسئله كښې دوه احاديث ثابت دى او صحيح دى، يو د سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه حديث كوم چه په ابوداؤد او ترمذى وغيره كښې دى، دويم د جابر بن سمره رضي الله عنه حديث كوم چه په مسلم كښې دې، د ابن العربي او امام نووى رحمه الله ميلان هم دې طرف ته دې هغوى فرمائي ﴿ هذا المذهب اقوى وان كان الجمهور على خلافه ﴾ خو خلفاء اربعه او ائمه ثلاثه ددې قائل نه دى.

[۱۸۳](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الرَّازِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوُضُوءِ مِنْ

(۱) سنن الترمذي/الطهارة ٦٠ (٨١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٧ (٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٨/٤)، ويأتي المؤلف برقم: (٤٩٣) (صحيح)

لُحُومِ الْإِبِلِ، فَقَالَ: تَوَضَّئُوا مِنْهَا، وَسُئِلَ عَنْ لُحُومِ الْغَنَمِ، فَقَالَ: لَا تَوَضَّئُوا مِنْهَا، وَسُئِلَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ، فَقَالَ: لَا تُصَلُّوا فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ فَإِنَّهَا مِنَ الشَّيَاطِينِ، وَسُئِلَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، فَقَالَ: صَلُّوا فِيهَا فَإِنَّهَا بَرَكَةٌ".

ترجمه: د براء بن عازب نه روایت دي هغه وئیلی دي، پوښتنه اوشوه د رسول الله ﷺ نه د اودس په باره کښې د غوښو د اوښانو نه، نو هغه اوونیل: تاسو اودس کوئ دهغې نه او سوال ترېنه اوشو د غوښو د ګډو، نو هغه اوونیل: تاسو اودس مه کوئ دهغې نه، او سوال ترېنه اوشو په ځائې د چو کولو د اوښانو کښې، نو هغه اوونیل: تاسو مونځ مه کوئ په ځائې د چو کولو د اوښانو کښې ځکه دا د شیطانانو نه دي، او سوال ترېنه اوشو په جارو کې د ګډو کښې، نو هغه اوونیل: مونځ اوکړئ په هغې کښې بیشکه په هغې کښې برکت دی

د جمهورو د طرف نه د حدیث جواب:

﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قوله سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الْوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الإِبِلِ فَقَالَ « تَوَضَّئُوا مِنْهَا » ﴾ دا حدیث د حنابله وغیره دلیل دې، او مصنف ﷫ هم حنبلی دی، د هغوی میلان هم دې طرف ته دې جمهور علماء ثلاثه کوم چه د وضوء من لحوم الابل قائل نه دی هغوی ددې حدیث دوه جوابونه کړې دی.

اول دا چه په دې احادیثو کښې د وضوء نه مراد شرعی وضوء نه دی مراد بلکه لغوی وضوء مراد دی ځکه چه په لحوم ابل کښې دسومة زائد وی او د عبدالله بن مسعود ﷜ نه منقول دی چه ﴿ لان أتوضأ من الكلمة المنتنة أحب الي من ان أتوضأ من اللقمة الطيبة ﴾ ددې نه علاوه بعض نور هم آثار صحابه ﷢ دی د کومو تخریج چه امام طحاوی ﷫ کړې دی

دویم جواب دا دې چه که دا حادیث په وضوء شرعی باندې محمول کړې شی نو بیا دا منسوخ دی په هغه حدیث د جابر ﷜ باندې د کوم تخریج چه اصحاب السنن کړې دې، چه دهغې الفاظ دا دی ﴿ كان اخر الامرين عن رسول الله ﷺ ترک الوضوء مما مست النار ﴾

امام نووی ﷫ وغیره په قول نسخ باندې اعتراض کړې دې چه کوم حدیث تاسو ناسخ منئ یعنی ترک الوضوء مما مست النار هغه عام دې او وضوء من لحوم الابل والا حدیث خاص دې، عام د خاص دپاره ناسخ نه شی کیدې، بلکه خاص په عام باندې راجح او مقدم وی، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه مونږ وضوء من لحوم الابل په دې حیثیت سره منسوخ نه منو چه هغه خاص دې او بل حدیث عام دې بلکه په دې حیثیت سره چه دا خاص په هغه عام افرادو کښې یو فرد دې پس کله چه عام منسوخ شو نو د ټولو افرادو سره به منسوخ وی.

خو دلته ابن القیم ﷫ یوه خبره کړې ده چه ډیره قوی ده هغه دا چه تاسو ترک الوضوء مما مست النار والا حدیث لره ناسخ او وضوء من لحوم الابل والا حدیث منسوخ منئ، حال دا چه د وضوء من لحوم الابل والا مسئله د مما مست النار سره بالکل متعلق هم نه ده ځکه چه امام احمد ﷫ کوم چه د وضوء من لحوم الابل قائل دې هغه ددې نه په هر حال کښې د

اودس قائل دي که لحوم الابل اور مس کړي وي او که نه وي، په لحم ابل نضيج او غير نضيج کښې هيڅ فرق نشته، پس په کتب حنابله لکه نيل المارب وغيره کښې ددې تصريح ده.
حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ددې جواب ورکړې دې چه ﴿ ان عممتم فعممنا ﴾ يعنی که تاسو په دې مسئله کښې تعميم کوئ چه په لحم ابل سره اودس په هر حال کښې واجب دې که هغه کچه وی او که پخه وی نو موږ وايو چه څنګه په دې حديث کښې د کچې او پخې قيد نشته، دغه شان په دې کښې د خوارک قيد هم نشته لهذا تاسو له د لحم ابل د مسح کولو نه هم د اودس قائل کيدل پکار دی ﴿ فما هو جوابکم فهو جوابنا ﴾، احقر وائی چه دا بس هسې الزامی جواب دې په دې سره تشفی نه کيږی.
قوله :﴿ لَا تُصَلُّوا فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ ﴾ مبارک جمع د مبرک ده په وزن د جعفر يعنی د اوښانو غوژل د هغوی د تړلو ځائې، په دې باندې خو اتفاق دې چه په مبارک ابل کښې مونځ کول مکروه دی خو وراندې بيا په دې کښې اختلاف دې چه صحيح هم دې او که نه؟ د احنافو او شوافعو په نزد خو صحيح دې، او د ظاهريه او حنابله په نزد په مبارک ابل کښې مونځ صحيح نه دې او د امام مالک رحمه الله نه دوه روايتونه دی، ۱: الاعادة فی الوقت، ۲: الاعادة مطلقا، بله دا چه کوم حضرات د فساد قائل دی د هغوی په نزد فساد په هر حال کښې دې که هغه محل طاهر وی او که نه وی.
قوله :﴿ فَإِنَّهَا مِنَ الشَّيَاطِينِ ﴾ دا ضمير يا خو د مبارک طرف ته راجع دې په دې صورت کښې به مضاف مقدر وی، ﴿ ای فانها ماوی الشياطين ﴾، دويم احتمال دا دې چه ضمير راجع دی د ابل طرف ته، په دې صورت کښې به لازميږی چه ابل د شياطينو د نسل نه وی بعضو وئيلي دی چه دا په حقيقت باندې محمول دې ﴿ لتولدها من مالها ﴾ او بعض وئيلي دی چه په دې کښې مقصود په نفور او شرارت کښې تشبيه ده، او بعض وئيلي دی چه شيطان دوه دی يو خو هم هغه کوم چه د جناتو د نسل نه دې او معروف دې دويم هر سرکش او شرير باندې هم د شيطان اطلاق کيږی ﴿ کل عاد متمرد فهو شيطان ﴾ (کما فی القاموس)
په دې کښې اختلاف دې چه په مبارک ابل کښې د مونځ نه کولو علت نهی څه دې؟
بعضو وئيلی دی چه د ارباب ابل عادت دا وی چه هغوی د اوښانو نه شاته استنجاء کوی وقيل لا يطفها اهلها يعنی مبارک ابل لره د اوښ والا صفا نه ساتی، وقيل لنفار الابل وشرادها يعنی اوښ ډير شرير وی تو پونه وهی په دې کښې مونځ کونکی ته د بدنی ضرر رسيدلو ويره ده، وقيل لاجل ثقل رائحتها الکريهة يعنی د رائحه کريهة د وجې نه ممانعت دې او په کتاب الام کښې د امام شافعی رحمه الله نه منقول دی چه د کراهت وجه قرب شيطان دې څکه چه په حديث کښې ابل ته من جنس الشياطين وئيلې شوې دې
قوله :﴿ وَسُئِلَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ ﴾ مرابض جمع ده د مربض په وزن د مجلس، مرابض غنم کښې بالاتفاق بغير د کراهت نه مونځ جائز دې
قوله :﴿ فَإِنَّهَا بَرَكَةٌ ﴾ بعض وئيلي دی چه غنم ته برکت په مقابله د ابل کښې اووئيلې شو

يعني ابل يو ضررى ځناور دي په خلاف د غنم چه په هغه سره اذيت نه رسيږي، او بعضو وئيلي دي چه دا په حقيقت باندي محمول دي ځكه چه په يو روايت كښي دى ﴿ الغنم بركة﴾ او په يو روايت كښي دى ام هانى ﷺ فرمائي چه ماته رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿اتخذى غنما فان فيها بركة ﴾ بل په يو روايت كښي دى ﴿ الغنم من دواب الجنة ﴾.

د بول ماكول اللحم د طهارت بحث :

د دي نه پس ځان پوهه كړه چه د علماء كرامو يو جماعت د صلوة في مرابض الغنم د حديث نه د ابوال وابعار غنم په طهارت باندي استدلال كړي دي ځكه چه مرابض غنم ددي ځيزونو نه خالى نه وى او ددي باوجود رسول الله ﷺ هلته د مونځ كولو اجازت فرمائيلي دي، بيا دي حضراتو ابوال ابل هم په دي باندي قياس كړى دى بلكه بول ماكول اللحم ځناور ټي په غنم باندي قياس كولو سره دهغي ابوال او ابعار ته طاهر وئيلي دى، پاتې شوه دا خبره چه په مبارك ابل كښي خو د مونځ كولو نه منع كړي شوي ده پس ددي وجه هلته د نجاست كيدل نه دى بلكه نور اسباب دى د اوښ شرارت وغيره كوم چه بيان كړي شو. دا قائلين د طهارت امام اوزاعى، سفيان ثورى، ابراهيم النخعى، په ائمه اربعه كښي امام مالک، امام احمد په شوافعو كښي ابن المنذر، ابن حبان او ابوسعيد اصطخرى او په احنافو كښي امام محمد ﷫ دي.

او احناف او اكثر شوافع او جمهور علماء كرام د نجاست قائل دى، د جمهورو دليل حديث ﴿ استنزهوا من البول ﴾ دي، روه الدارقطنى والحاكم وصححه، بل حديث المرور على القبرين كوم چه متفق عليه دي چه په هغي كښي رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ﴿اما هذا فكان لا يستنزه من البول ﴾.ځان پوهه كړه چه حديث الباب وراندي په كتاب الصلوة كښي په باب النهى عن الصلوة في مبارك الابل كښي راځي، دلته په حديث كښي جزء اول يعنى وضوء من لحوم الابل مقصود ده او په كتاب الصلوة كښي د حديث دويم جزء مقصود دى.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ اللَّحْمِ النِّيءِ وَغَسْلِهِ

باب دي په بيان د اودس كې د مسه كولو د شني غوښې نه او وينځل د هغې

[١٨٥]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَعَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ المعنى، وَأَيُّوبُ بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّقِّيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، أَخْبَرَنَا هِلَالُ بْنُ مَيْمُونٍ الْجُهَنِيُّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، قَالَ هِلَالٌ: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَقَالَ أَيُّوبُ وَعَمْرٌو أُرَاهُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِغُلَامٍ وَهُوَ يَسْلُخُ شَاةً، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَنَحَّ حَتَّى أُرِيَكَ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ بَيْنَ الْجِلْدِ وَاللَّحْمِ فَدَحَسَ بِهَا حَتَّى تَوَارَتْ إِلَى الْإِبْطِ، ثُمَّ مَضَى فَصَلَّى لِلنَّاسِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ عَمْرٌو فِي حَدِيثِهِ يَعْنِي لَمْ يَمَسَّ مَاءً، وَقَالَ: عَنْ هِلَالِ بْنِ مَيْمُونٍ الرَّمْلِيِّ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِلَالٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، لَمْ يَذْكُرْ أَبَا سَعِيدٍ.

---

[1]: سنن ابن ماجه/الذبائح ٦ (٣١٧٩)، (تحفة الأشراف: ٤١٥٨) (صحيح)

ترجمه: د ابو سعيد ﷺ نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ تير شو په يو غلام باندې او هغه څرمن ويستله د يو ګډ نه، نو هغه ته رسول الله ﷺ اووئيل: غاړې ته شه ترڅې چه زه وښايم تاته، نو رسول الله ﷺ خپل لاس داخل كړو په مابين د غوښه او پوستكي كښې، نو هغه ئې ښه دننه كړو ترخونو پورې، بيا لاړلو او مونځ ئې اوكړو خلكو ته او اودس ئې اونه كړو. وئيلي دي ابوداود: زيات كړې دې عمرو په خپل حديث كښې، يعني نه ئې دې مسه كړې اوبه، او وئيلي ئې دي: د هلال بن ميمون الرملي نه. وئيلي دي ابوداود: او روايت كړې دې ددې عبد الواحد بن زياد او ابو معاويه د هلال نه، او هغه د عطاء نه او هغه د نبي ﷺ نه مرسل، ابو سعيد ئې نه دې ذكر كړې.

تشريح: خان پوهه كړه چه د غسله په عطف كښې دوه احتماله دي:

(۱) اول دا چه ددې عطف په الوضوء باندې دې او په الوضوء كښې الف لام د مضاف اليه په عوض كښې دې په دې صورت كښې به تقدير د عبارت داسې وې: باب وضوء الرجل من مس اللحم الى وباب غسل الرجل اى يده من مس اللحم الى....... د ترجمة الباب مطلب دا دې چه د كچه غوښې په مسح كولو باندې اودس واجب دې يا صرف غسل يد كوم ته چه لغوى وضوء هم وائي.

(۲) دويم احتمال دا دې چه د غسله عطف په اللحم باندې اومنلې شي، په دې صورت كښې به تقدير د عبارت داسې وې ﴿باب الوضوء من مس اللحم الى وباب الوضوء من غسل اللحم﴾ د ترجمة الباب مطلب به دا وې چه د كچه غوښې په مس كولو او دهغې د وينځلو په بيان كښې، يعني كه يو سړې كچه غوښه وينځي نو هغه به اودس كوي؟ د عطف په سلسله كښې حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل كښې احتمال اول ليكلې دې، احتمال ثانى استاذ محترم مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله بيان فرمائيلې دې

د ترجمة الباب غرض:

دلته سوال دا دې چه د كچه غوښې په مسح كولو سره د جمهور علماؤ او ائمه اربعه كښې د چا په نزد هم وضوء شرعى يا وضوء لغوى واجب نه دې، بيا مصنف رحمه الله ترجمة الباب ولې قائم كړو؟ جواب دا دې چه بعض تابعين لكه سعيد بن المسيب نه په دې باره كښې وضوء منقول دې پس په مصنف ابن ابى شيبة كښې دي ﴿عن سعيد بن المسيب انه قال من مسه يتوضاء﴾ او د حسن بصرى او عطاء رحمهما الله نه منقول دي انه يغسل يده نو مصنف رحمه الله په دې رواياتو باندې د رد كولو دپاره دا باب قائم كړې دې

مضمون الحديث:

﴿ قوله عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- مَرَّ بِغُلاَمٍ ﴾ مضمون حديث دا دې چه ابوسعيد خدرى ﷺ فرمائى چه يو ځل رسول الله ﷺ د مانځه دپاره مسجد ته تشريف اورلو، په لاره كښې په يو هلك باندې ورتير شو چه د چيلئ د ذبح كولو نه پس ئې دهغې څرمن ويستله (د دې غلام نه مراد معاذ بن جبل ﷺ دې چه د طبرانى په روايت كښې دى) خو چونكه هغه خلق ناتجربه كار وو، څرمن ويستل ورله په ښه طريقه نه ورتلل، په دې

لیدو باندې رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو ﴿ تَنَحَّ حَتَّى أُرِيَكَ ﴾ یعنی ته یو طرف ته شه چه زه درته څرمن ویستل اوښائم چه د چیلۍ څرمن څنګه ویستلې شي، پس رسول اللهﷺ ډیر په تیزۍ او سرعت سره لږ ساعت کښې د څرمنې او غوښې ترمینځه په زور سره خپل لاس ورداخل کړو تردې چه د رسول اللهﷺ لاس مبارک په څرمن کښې غائب شو او په لږ ساعت کښې ئې څرمن د غوښې نه جدا کړه او وراندې ئې تشریف یوړو او په جمات کښې ئې خلقو ته مونځ ورکړو د مانځه نه مخکښې ئې نه لاس وینځلو او نه ئې اودس اوکړو

د ترجمة الباب نه ثابته شوه چه د کچه غوښې د مس کولو نه پس نه د وضوء شرعي ضرورت شته او نه د غسل ید، سبحان الله! د رسول اللهﷺ څه اوچت شان دې! په مزاج مبارک کښې ئې څومره سادګی همت او ترتوب وو، بلکه دا چه د هر وخت د ضروری کارونو نه خبر وو او په هغې پوهه وو. صلى الله تعالى عليه وعلى اله وصحبه وسلم.

بَابُ تَرْكِ الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ الْمَيْتَةِ

باب دې په بيان د نه کولو د اودس کې د مسه کولو مردارې نه

څنګه چه د لحم مذبوح په مس کولو سره اودس واجب نه دې هم دغه شان په مس میتة باندې هم اودس واجب نه دې، په مسئلة الباب کښې د ائمه هیڅ اختلاف نشته

[۱۸۶](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِالسُّوقِ دَاخِلًا مِنْ بَعْضِ الْعَالِيَةِ وَالنَّاسُ كَنَفَتَيْهِ، فَمَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ، فَتَنَاوَلَهُ فَأَخَذَ بِأُذُنِهِ، ثُمَّ قَالَ: أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هَذَا لَهُ؟" وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د جابر نه روایت دې، بیشکه رسول اللهﷺ تیر شو په بازار باندې داخلیدونکی وو د بعضو اوچتو طرفونو نه، او خلک په دواړو طرفونو دهغې وو، نو تیر شو په ګډورکې چه غوږونه ئې جوخت وو، نو هغه ئې راونیولو د غوږونو نه، بیا ئې اووئیل په تاسو کښې کوم خوښوي چه دا د هغه شي؟ او حدیث ئې بیان کړو

تشریح: قوله: ﴿ عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ ﴾ دا جعفر هم هغه دې جعفر صادق سره چه مشهور دې د هغوی نوم محمد دې او لقب ئې باقر دې، او دا خوئې دې د علی بن الحسین د چا لقب چه امام زین العابدین دې کوم چه د سیدنا حسین بن علیؓ خوئې وو.

مضمون حدیث

مضمون د حدیث دا دې چه یو ځل رسول اللهﷺ د مدینې عوالی ته تشریف یوړو، هغوی هلته په یو بازار باندې ورتیر شو صحابه کرامؓ د هغوی ښی او ګس طرف ته روان وو رسول اللهﷺ د چیلۍ په یو مردار بچی باندې ورتیر شو چه د هغه غوږونه وارۀ وارۀ وو او هغه بچي په خزله کښې پروت وو رسول اللهﷺ اودریدلو صحابه کرامؓ هم اودریدل، رسول اللهﷺ د هغه چیلۍ د بچي غوږ نیولو سره اوفرمائیل ﴿ ایکم یحب ان هذا له بدرهم ﴾

(۱): صحیح مسلم/للزهد ۱ (۲۹۵۷)، (تحفة الأشراف: ۲۶۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۶۵)، والبخاري في الأدب المفرد (۹۶۲) من حديث جعفر (صحيح)

دا الفاظ دلته نشته د مسلم په روايت کښې دی يعنې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته اوفرمائيل چه په تاسو کښې به څوک دا په يو درهم واخلی؟ صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو دا خو څوک ويړيا هم نه اخلی پاتې له دا چه قيمت باندې، نو په دې اوريدلو باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ فوالله للدنيا اهون على الله من هذا عليكم ﴾ يعنې د الله پاک په نزد ټوله دنيا ددې نه هم زياته ذليله ده څومره چه دا د چيلئ بچې ستاسو په نزد ذليل دی

قوله :﴿ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ ﴾ د جدی معنی ده د چيلنګې، د اسک اطلاق په فاقد الاذنين باندې کيږی، مقطوع الاذنين او ملتصق الاذنين (چه غوږونه ئې د سر سره بالکل يو ځائې وی) په دې درې واړو باندې راځی خو دلته صغير الاذنين مراد دې کما قال النووی ځکه چه د سياق کلام نه معلوميږی چه د هغه غوږونه وو او رسول الله ﷺ د هغه يو غوږ نيولې وو. خان پوهه کړه چه دا حديث په اصل کښې د کتاب الزهد دې، پس امام مسلم او ترمذی دا مفصلاً په کتاب الزهد کښې ذکر کړې دې، امام ابوداؤد چونکه ددې نه يو فقهی مسئله مستنبط کوله په دې وجه هغوی دلته په کتاب الطهارة کښې ذکر کړو فلله در المصنف ﷺ.

بسم الله الرحمن الرحيم

بَابٌ فِي تَرْكِ الْوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ

باب دې په بيان د اودس نه کولو کښې د هغه شي نه چې هغې ته اور رسيدلی وي

د دې باب په شروع کښې تسميه د ابوداؤد په اکثرو نسخو کښې ده. خو يو شارح هم دې سره کار نه دې لرلې چه دا بسم الله ده ولې ليکلې ده؟ د احقر په فهم کښې دا راغله چه خطيب بغدادی ﷺ د سنن ابوداؤد تجزيه کولو سره ددې دوه ديرش اجزاء جوړ کړې دی چه د بخاری شريف تجزيه مشهور ده دهغې ديرش پارې دی، حضرت سهارنپوری ﷺ په بذل کښې ددې اهتمام فرمائيلې دې چه د هرې پارې په شروع کښې ئې د هر جزء تعين کړې دې، ددې وجې د بذل په حاشيه کښې ليکلې شوی دی اخر الجزء الاول.

نو چونکه ددې ځائې نه دويمه پاره شروع کيږی په دې وجه کيدې شی چه بعضې ناسخينو په دې مناسبت سره دلته بسم الله ليکلې وی، او که د مصنف ﷺ د طرف نه اومنلې شی نو ددې وجه دا کيدې شی چه مصنف ﷺ ته ددې کتاب د تصنيف په وخت دلته رارسيدو سره فترة واقع شوې وی بيا چه کله ددې ځائې نه د تاليف سلسله شروع شوه نو بسم الله ئې اوليکله په بخاری کښې هم دغه شان په مينځ مينځ کښې کله کله بسم الله راشی، ددې هم د بخاری شارحين مختلف توجيهات بيانوی.

مسئلة الباب کښې اختلاف ائمة

مسئله مترجم بها کښې صدر اول کښې اختلاف پاتې شوې دې بعض صحابه کرامو او تابعين لکه ابوهريره، زيد بن ثابت، عبدالله بن عمر ﷺ، عمر بن عبدالعزيز، ابن شهاب زهری او حسن بصری ﷺ وغيره د ما مست النار نه د وجوب قائل وو. امام نووی ﷺ فرمائی چه د صدر اول نه پس اختلاف مرتفع شو او اوس د علماء کرامو په ترک د اودس باندې اجماع شوه.

په وضوء مما مست النار کښې د مصنف رحمه الله مسلک:

د بنده رائې کومه چه د ډیر غور نه پس قائم شوې ده دا ده چه امام ابوداؤد رحمه الله په دې مسئله کښې د جمهورو سره متفق نه دې، هغه د وضوء مما مست النار قائل دې په دې وجه هغوی ددې باب نه پس یو دویم باب قائم کړې دی ﴿ باب التشدید فی ذلک ﴾ په باب اول سره خو مصنف رحمه الله ددې منسوخ کیدل ثابت کړل لکه چه ددې باب د احادیثو نه معلومیږی او د ترجمه ثانیه نه دوباره وجوب د اودس ثابتوی ګویا د نسخ سابق نسخ اوشوه، چه دهغې معنی دا شوه چه په دې مسئله کښې دوه کرته نسخ واقع شوې ده.

هغه احکام چه په هغې کښې ډیر کرته نسخ شوې ده:

پس علماء کرامو داسې بعض احکام شمار کړې دی چه په هغې کښې تعدد د نسخ راغلې دې او یو دهغې نه وضوء مما مست النار هم دې، پس قاضی ابوبکربن العربی په شرح د ترمذی کښې فرمائی چه قبله، نکاح متعة او لحوم حمر اهلیة په دې درې وارو کښې دوه کرته نسخ واقع شوې ده، هغوی فرمائی ﴿ولا احفظ رابعا ﴾ ددې دریو نه علاوه څلورم څیز زما په ذهن کښې نشته، په دې باندې علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه ابو العباس العرفی فرمائی چه څلورم حکم وضوء مما مست النار دې علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه ما دا څلور واړه یو ځائې کښې نظم کړې دی

واربع تکرر النسخ لها ::: جاءت بها النصوص والاثار
بقبلة و متعة و حمر ::: کذا الوضوء لما تمس النار

[۱۸۷]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ".

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې، بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوخوړو ولې د ګډ بیا ئې مونځ اوکړو او اودس ئې اونه کړو

[۱۸۸]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ أَبِي صَخْرَةَ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: "ضِفْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَأَمَرَ بِجَنْبٍ فَشُوِيَ، وَأَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ لِي بِهَا مِنْهُ، قَالَ: فَجَاءَ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ، قَالَ: فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ، وَقَالَ: مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ؟ وَقَامَ يُصَلِّي" زَادَ الْأَنْبَارِيُّ: وَكَانَ شَارِبِي وَفَى فَقَصَّهُ لِي عَلَى سِوَاكٍ، أَوْ قَالَ: أَقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ.

ترجمه: د مغیره بن شعبه نه روایت دې، هغه اوونیل: زه میلمه شوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه نو امرېې اوکړو په یو طرف د ګډ باندې نو هغه وریت کړې شو، او چاړه ئې راواخسته نو

---

[1]: صحیح مسلم/الطهارة ۲٤ (۳٥٤)، (تحفة الأشراف: ٥٩٧٩)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الوضوء ۱٥ (۲۰۷)، سنن النسائي/الطهارة ۱۲۳ (۱۸٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٦ (٤۸۸)، موطا امام مالك/الطهارة ٥(۱۹)، مسند احمد (۱/۲۲٦) (صحیح)

[2]: ● تخریج: تفرد به أبو داود، سنن الترمذي/الشمائل (۱٦۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱٥۳۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۲٥۲) (صحیح)

شروع شو چه کټ کوله ئې په هغې د هغه نه، هغه وائي: راغې بلال نو خبريې ورته ورکړو په مانځه باندې، نو هغه وائي: چاره ئې اوغورځوله، او هغه اووئيل: څه دې هغه لره په خاورو دې ککړ شي دواړه لاسونه د هغه، او پاڅيدلو مونځ ئې کولو. زيات کړي دي انباري: او وو بريتان زما اوږده شوي نو هغه ئې مالـه کټ کړل په يو مسواک. او يائي اووئيل: زه به ئې کټ کړم ستا لپاره په مسواک باندې

تشريح: قوله :﴿ ضِفْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ سيدنا مغيره بن شعبه ﷺ فرمائي چه يو خل زه د رسول الله ﷺ ميلمه شوم، دا روايت په شمائل ترمذی کښې هم دې، او دهغې الفاظ دي ﴿ ضفت مع النبي ﷺ ﴾ چه دهغې نه معلوميږي چه دوی د رسول الله ﷺ ميلمه نه وو بلکه د رسول الله ﷺ سره د بل چا ميلمه وو، حضرت شيخ ﷺ به فرمائيل چه ددې توجيه دا کيدې شي چه اصل کښې خو مغيره ﷺ د رسول الله ﷺ ميلمه وو خو په دغه ورځ باندې رسول الله ﷺ د خپلو ميلمنو سره بل خائي کښې دعوت کړې شوې وو، لهذا په دواړو طريقو باندې وئيل ئې صحيح دې

په دوه احاديثو کښې رفع تعارض :

قوله :﴿ وَأَخَذَ الشَّفْرَةَ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه غوښه په چاقو باندې پرې کول صحيح دې، او د ابوداؤد په کتاب الاطعمة کښې حديث دې ﴿ لا تقطعوا اللحم بالسكين ﴾ په دواړو کښې تعارض دې، جواب دا دې چه د کتاب الاطعمة والا حديث ضعيف دې بلکه ابن الجوزي ﷺ هغه په موضوعاتو کښې شمار کړې دې او که دا صحيح اومنلې شي نو بيا دا توجيه کيدې شي چه ممانعت په دې صورت کښې دې چه کله غوښه په چړې باندې پرې کولو سره هم په هغې سره اوخورلې شي او که په چړې سره پرې کړې شي او بيا ئې په لاس سره خوله کښې ږدی نو جائز ده، يا دې داسې اووئيلې شي چه ددې مدار په حاجت او ضرورت باندې دې منع په هغه صورت کښې ده چه کله بغير د ضرورت نه تکلفا استعمال کړې شي

قوله :﴿ وَقَالَ مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ ﴾ تربت يداه دا جمله د تنبيه په موقع باندې استعمالولې شي ددې اصل معنی د فقر او ذلت د بددعاء ده، خو دا معنی دلته نه ده مراد

مضمون د حديث :

د حديث مضمون دا دې چه مغيره بن شعبه ﷺ فرمائي چه زه د رسول الله ﷺ ميلمه اوم، هغوی ورته شوې غوښه ماته په چاړه باندې پرې کولو سره راکوله، هم په دې وخت کښې سيدنا بلال ﷺ راغلو او هغوی د مانځه خبر ورکړو، د هغوی په اطلاع باندې رسول الله ﷺ فورا د مانځه دپاره پاسيدلو، خو تنبيها رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ﴿ تربت يداه ﴾ ځکه چه د هغوی دپاره اولی دا وه چه رسول الله ﷺ په ميلمستيا کښې مشغول وو نو چه لږ صبر ئې کړې وې

اوس دلته يو سوال واردیږی هغه دا چه په حديث کښې خو دی ﴿ اذا حضر العشاء والعشاء فابدوا بالعشاء ﴾ يعنی کله چه مونځ او خوراک دواړه حاضر شي نو خوراک مقدم کول پکار دی، حافظ ابن حجر ﷺ فرمائي چه امام بخاری ﷺ ددې حديث نه په دې خبره

باندې استدلال کړې دی چه د تقديم طعام حکم د غير امام دپاره دې، د امام راتب دپاره نه دې او ابن رسلان ليکلي دی چه د تقديم طعام والا حديث په حالت صوم يا حالت جوع باندې محمول دې، په دې تقديم طعام والا حديث باندې کلام مونږ سره په ابواب الاستنجاء باب الرجل يصلي وهو حاقن کښې تير شوي دې

﴿ قوله وَكَانَ شَارِبِي وَفَى فَقَصَّهُ لِي عَلَى سِوَاكٍ الخ ﴾ سيدنا مغيره ﷺ فرمائي چه اتفاقاً په دغه ورځ باندې زما بريت غټ شوي وو نو رسول الله ﷺ زما د شونډې لاندې مسواک کيخودلو سره پورته ويختهٔ واړه کړل، يا ئې دا اوفرمائيل چه د مانځه نه پس به ئې پرې کړو.

د دې نه معلومه شوه چه کورېه لره د ميلمه د مصالحو او د هغه د احوالو تفقد کول پکار دی، ګويا هر څنګه دې د هغه خدمت کوی، سبحان الله! څه ښکلي دی اخلاق نبوی ﷺ، او زمونږ د مذهب اسلام تعليمات څومره عمده دی.

[١٨٩]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتِفًا ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِمِسْحٍ كَانَ تَحْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى".

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې، هغه وئيلي دی وخوړه رسول الله ﷺ ولي، بيا ئې مسح کړو لاس په توليه چه لاندې د هغه وه بيا پاځيدلو مونځ ئې اوکړو.

[١٩٠]( ) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتَهَشَ مِنْ كَتِفٍ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ".

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ خوراک ئې اوکړو د ولي د ګځ نه بيا ئې مونځ اوکړو او اودس ئې اونه کړو.

[١٩١]( ) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ الْخَثْعَمِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ: "قَرَّبْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا وَلَحْمًا فَأَكَلَ ثُمَّ دَعَا بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ بِهِ ثُمَّ صَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ طَعَامِهِ فَأَكَلَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ".

ترجمه: محمد بن المنکدر وائي چه ما د جابر بن عبد الله نه اوريدلي دي، چه وئيل يې ما وروړه نبي ﷺ ته ډوډی او غوښه نو وئې خوړه، نو بيا ئې د اودس اوبه وغوښتلي نو اودس ئې اوکړو، بيا ئې د ماسپخين مونځ اوکړو، بيا ئې پاتې شوی طعام وغوښتلو نو هغه ئې وخوړلو، بيا مانځه ته پاځيدو او اودس ئې اونه کړو

[١٩٢]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ سَهْلٍ أَبُو عِمْرَانَ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كَانَ آخِرَ الأَمْرَيْنِ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَرْكُ الْوُضُوءِ مِمَّا غَيَّرَتْ

[١]: سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٦ (٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ٦١١٠) (صحيح)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٧٩، ٣٦١) (صحيح)

[٣]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٠٦٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأطعمة ٥٣ (٥٤٥٧)، سنن الترمذي/الطهارة ٥٩ (٨٠)، سنن النسائي/الطهارة ١٢٣ (١٨٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٦ (٤٨٩)، مسند احمد (٣/٣٢٢) (صحيح)

[٤]: سنن النسائي/ الطهارة ١٢٣ (١٨٥)، (تحفة الأشراف: ٣٠٤٧) (صحيح)

النَّارُ" قَالَ أَبُودَاوُد: هٰذَا اخْتِصَارٌ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ.

ترجمه: د جابر ﷺ نه روایت دي هغه وئيلي دي وو اخير د دوارو امرينو د رسول الله ﷺ نه پريخودل دهغي نه چه تغير ورکړی وي اور وئيلي دي ابوداود دا اختصار دی د اولني حديث نه

تشريح: قوله :﴿ كَانَ آخِرَ الْأَمْرَيْنِ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم - تَرْكُ الْوُضُوءِ مِمَّا غَيَّرَتِ النَّارُ﴾ د جابر ﷺ دا حديث په دې باره کښې صريح دې چه د رسول الله ﷺ آخري فعل ترک الوضوء مما مست النار دي پس جمهورو ددې حديث نه د وضوء مما مست النار په نسخ باندې استدلال کړي دي، امام ترمذي ﷺ په جامع ترمذی کښې ددې تصريح کړې ده

قوله :﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هٰذَا اخْتِصَارٌ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ ﴾ دا قال ابوداؤد لږ مهتم بالشان او وضاحت ته محتاج دې، امام ابوداؤد ﷺ فرمائي چه د جابر ﷺ دا حديث مستقل حديث نه دې بلکه د حديث سابق اختصار دې، د حديث سابق راوی هم سيدنا جابر ﷺ دې، ددې مضمون دا دې هغوی فرمائي چه يو ورځ ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې خبز او لحم پيش کړو رسول الله ﷺ دهغي نه لږ شان خوارک اوکړو او دهغې نه پس ئې اودس کولو سره د ماسپخين مونځ اوکړو، مونځ ئې چونکه په مېنځ کښې کړې وو په دې وجه چه د مانخه نه فارغ شو نو رسول الله ﷺ باقي خوراک راطلب کړو او هغه ئې اوخوړلو. ددې نه پس ئې چه کله بل مونځ اوکړو نو دهغي دپاره رسول الله ﷺ اودس او نه فرمائيلو. امام ابوداؤد ﷺ دا بيانول غواړي چه هر کله اصل حديث دا دې چه دهغي مضمون مونږ اوس بيان کړو نو هم دي له به اعتبار ورکولې شي، اوس که د اصل حديث نه د وضوء مما مست النار په نسخ باندې استدلال صحيح دې نو په دې حديث ﴿ كان اخر الامرين الخ ﴾ باندې هم صحيح دې او که په هغي سره په نسخ باندې استدلال صحيح نه دې نو په دې حديث سره هم صحيح نه دې

لهٰذا دا به کتل غواړي چه په اوړد حديث سره دنسخ استدلال صحيح دې يا نه؟ د غور کولو نه معلوميږي چه د حديث سابق نه په نسخ باندې استدلال صحيح نه دې ځکه چه رسول الله ﷺ د تناول لحم نه پس چه د ماسپخين د مانخه دپاره کوم اودس فرمائيلې وو په هغې کښې دوه احتمالات دی يو دا چه هغه د وضوء مما مست النار د اکل د وجې نه وو، دويم احتمال دا دې چه هغه اودس کول په دې وجه وو چه د مخکښې نه رسول الله ﷺ به اودس کښې نه وو، او د وضوء مما مست النار تر دې وخته پورې حکم نه وو شوې هغه ددې قصې نه روستو شوې دې لهٰذا ددې احتمال ثاني په صورت کښې په نسخ باندې استدلال صحيح نه دې، واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، خو که د سيدنا جابر ﷺ دا حديث ﴿ كان آخر الامرين الخ ﴾ مستقل حديث وي نو بيا بېشکه دهغي نه په نسخ باندې استدلال صحيح وو. دا د امام ابوداؤد ﷺ د کلام تشريح ده، امام بيهقي ﷺ هم د مصنف ﷺ د کلام هم دا مطلب فهم کړې دې او هم دا غرض ئې بيان کړې دې

په نورو الفاظو کښې ددې وضاحت داسې هم کيدې شي چه ددې دوارو احاديثو مدار په محمد بن المنکدر باندې دې، د هغوی دوه شاګردان دی، ابن جريج او شعيب بن

ابی حمزة، ابن جریج خو د محمد بن المنکدر نه اصل حدیث بغیر د اختصار او تغیر نه نقل کړو، او شعیب بن ابی حمزة په خپله ددې حدیث یو مفهوم متعین کولو سره مختصرا روایت کړو، او په مفهوم فهم کولو کښې د هغوی نه غلطي اوشوه او دا ئې اووئیل چه ﴿کان اخر الامرین من رسول الله ﷺ ترک الوضوء مما مست النار﴾.

خو د امام ابوداؤدؒ دا خبره کول چه دا حدیث ثاني د حدیث اول اختصار دې، مونږ نه منو ځکه چه په اختصار منلو کښې راوی ته د وهم نسبت لازمیږي، ځکه چه د حدیث اول نه په نسخ باندې استدلال واقعي صحیح نه دې لکه چه امام ابوداؤدؒ هم اوفرمائیل، حاصل دا چه حدیث د جابر ؓ مستقل حدیث دې او د نسخ په باره کښې صریح دې، کما قال الجمهور.[1]

[۱۹۳]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي كَرِيمَةَ، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: بْنُ أَبِي كَرِيمَةَ مِنْ خِيَارِ الْمُسْلِمِينَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ ثُمَامَةَ الْمُرَادِيُّ، قَالَ: قَدِمَ عَلَيْنَا مِصْرَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ فِي مَسْجِدِ مِصْرَ، قَالَ: "لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ أَوْ سَادِسَ سِتَّةٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَارِ رَجُلٍ، فَمَرَّ بِلَالٌ فَنَادَاهُ بِالصَّلَاةِ، فَخَرَجْنَا فَمَرَرْنَا بِرَجُلٍ وَبُرْمَتُهُ عَلَى النَّارِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَطَابَتْ بُرْمَتُكَ؟ قَالَ: نَعَمْ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، فَتَنَاوَلَ مِنْهَا بَضْعَةً، فَلَمْ يَزَلْ يَعْلُكُهَا حَتَّى أَحْرَمَ بِالصَّلَاةِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ".

ترجمه: عبید بن ثمامة المرادي وئیلی دی: راغی مونږ ته مصر ته عبد الله بن الحارث بن جزء د صحابو د رسول الله ﷺ نه، نو ما واوریدل د هغه نه چه بیان ئې کولو په مسجد د مصر کښې، هغه اووئیل: بیشکه زه وم اوم د اوو نه او یا شپږم د شپږو نه د رسول الله ﷺ سره په کور د یو سړي کښې، نو تیر شو بلال نو اوازیې ورته اوکړو د مانځه دپاره، نو مونږ اووتلو نو مونږ تیر شولو په یو سړي باندې او د هغه په کټوی باندې چه په اور وه، نو اووئیل هغه ته رسول الله ﷺ ایا پاکه ده ستا کټوی، نو هغه اووئیل: زما پلار او مور دې تانه قربان شي نو وائي خسته دهغې نه یوه ټکړه وو هغه چه ځله کښې ئې اړوله راړوله تر هغې چه تکبیر تحریمه ئې اووئیلو د مانځه دپاره، او ما کتل هغه ته

مضمون حدیث

قوله: ﴿لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ الخ﴾ عبید بن ثمامة المراوی فرمائي چه مصر کښې زمونږ خوا ته عبدالله بن الحارث صحابی رسول اللهﷺ تشریف راوړلو ما د هغوی نه د مصر په یو مسجد کښې واوریدل چه د یو ځل خبره ده چه د رسول اللهﷺ سره د یو صحابي په کور کښې مونږ شپږ یا اووه کسان وو، په هغوی کښې یو زه اوم، په دې کښې بلال ؓ راغلو او د مانځه خبر ئې ورکړو، پس مونږ هغه طرف ته روان شو نو مونږ په یو داسې سړي باندې تیر شو چه د هغه کټوئ په اور باندې پخیدله رسول اللهﷺ د هغه صحابي ؓ نه تپوس اوکړو چه ستا کټوئ ښه پخه شوه؟ دې صحابي عرض اوکړو جي! یا رسول اللهﷺ زما مور

---

[1]: خو مصنفؒ ددې فن امام دې هغوی په خپله رائې کښې متفرد هم کیدې شي هغه د نورو د رائې پابند نه دې بلکه د مصنفؒ خبره قیاس ته ډیره نږدې ده (ځکه چه) راویان داسې تصرفات کوي.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٢٣٣) (ضعیف)

بلار دې په تاسو باندې قربان وی، رسول الله ﷺ د هغه کټوئ نه يو بوټئ راويستلو او هغه ئې په خوله مبارکه کښې کېخودله اومسجدته لاړلو، مسجدته تللو سره ئې د مانځه نيت اوکړو.
قوله: ﴿ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ ﴾ ددې جملې دوه مطلبونه کيدې شی يو خو دا چه دا واقعه زما د سترګو ليدلې ده او ليدلې واقعه نقل کوم، دويم مطلب ئې دا هم کيدې شی چه دا تيره شوې واقعه په دې وخت زما په سترګو کښې راغله، او ددې واقعې د بيان په وخت نقشه بالکل زما په سترګو کښې راغله، دا په اصل کښې د تعلق او مينې خبره وی، او د صحابه کرامو ﷺ د محبت خو تپوس مه کوه.د دې حديث نه هم ترک الوضوء مما مست النار ثابتيږی کوم چه په ترجمة الباب کښې ذکر شوې دې

بَابُ التَّشْدِيدِ فِي ذَلِكَ

باب دې په بيان د تشديد کې په هغې کښې

[١٩٤]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ، عَنِ الْأَغَرِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْوُضُوءُ مِمَّا أَنْضَجَتِ النَّارُ".

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې هغه وئيلی دي، چه رسول الله ﷺ وئيلی دی: اودس کول دهغې نه دي چه اور پخ کړی وي

[١٩٥]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْمُغِيرَةِ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ فَسَقَتْهُ قَدَحًا مِنْ سَوِيقٍ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ، فَقَالَتْ: يَا ابْنَ أُخْتِي أَلَا تَوَضَّأُ؟ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تَوَضَّئُوا مِمَّا غَيَّرَتِ النَّارُ"، أَوْ قَالَ: "مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ: يَا ابْنَ أَخِي.

ترجمه: ابو سفيان بن سعيد بن المغيره حديث بيان کړی دی، چه بيشکه هغه داخل شو په ام حبيبه باندې نو وئې څکولو په هغه باندې يو پياله د ستوانو نه، نو راوايې غوښتلې اوبه نو مضمضه ئې اوکړه، نو هغې اووئيل: اې زما د خور خويه! ايا ته اودس نه کوې بيشکه نبي ﷺ وئيلی دی: تاسو اودس کوئ دهغې نه چه تغير ورته اور ورکړی وي، او يائې اووئيل: دهغې نه چه اور مسه کړی وي وئيلی دي ابوداود: د زهري په حديث کښې د يا ابن أخي لفظ راغلی دی

تشريح: په تيرشوی باب کښې چه دهغې ترجمه: ترک الوضوء مما مست النار،، ده دهغې حاصل دا دې چه اول په ما مست النار سره اودس واجب شوې وو روستو متروک شو يعنی ددې نسخ اوشوه، او ددې ترجمة الباب حاصل دا دې چه په دې مسئله کښې دوه کرته تشدد راغلو او بيا په ما مست النار سره اودس واجب شو ګويا د نسخ اول نسخ اوشوه، لکه ما

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٤٧٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الطهارة ٢٣ (٣٥٢)، سنن الترمذي/الطهارة ٥٨ (٧٩)، سنن النسائي/الطهارة ١٢٢ (١٧١، ١٧٢، ١٧٣، ١٧٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٥ (٤٨٥)، مسند احمد (٢/٤٥٨، ٥٠٣، ٥٢٩) (صحيح)
(): سنن النسائي/الطهارة ١٢٢ (١٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٢٦، ٣٢٧) (صحيح)

چه د اول باب په شروع کښې ددې ډير ښه طريقې سره وضاحت کړې دې ددې باب په بنا، باندې دا وښيلو کيدې شي چه مصنف ﷫ د وضوء مما مست النار قائل دې لکه چه د وضوء من لحوم الابل هم قائل وو لکه د تير باب نه په مخکښې باب کښې تير شو.

قوله :﴿ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْمُغِيرَةِ حَدَّثَهُ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ ﴾

يعنى ابوسفيان بن سعيد ام المومنين ام حبيبة بنت ابى سفيان﵄ كره تشريف يوړلو، دا په رشته کښې دهغې ترور (يعنى د مور خور) کيږى.

قوله :﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ يَا ابْنَ أَخِي ﴾ دې سره مصنف﷫ اختلاف د راويانو بيانوى، دې حديث لره د ابوسلمه نه روايت کونکى دوه دى يحيى بن ابى كثير او زهرى، د يحيى بن ابى كثير په روايت کښې وه چه سيده ام حبيبة﵄ ابو سفيان بن سعيد ته ﴿ يا ابن اختى ﴾ وئيلو سره خطاب اوکړو او د زهرى په روايت کښې دى چه ددې په ځائې ئې ﴿ يا ابن اخى ﴾ وئيلو سره خطاب اوکړو، ﴿ يا ابن اختى ﴾ وئيل خو د حقيقت مطابق دى ځکه چه دا دواړه خاله او خورئې دى او ﴿ يا ابن اخى ﴾ وئيل مجازا دى.

خو خان پوهه کړه چه د طحاوى او نسائى د روايت نه معامله برعکس معلوميږى يعنى په هغې کښې د زهرى په روايت کښې ﴿ يا ابن اختى ﴾ دې او د يحيى په روايت کښې ﴿ يا ابن اخى ﴾ صاحب منهل د طحاوى د روايت د وجې نه دا رائې قائم کړې ده چه د ابوداؤد په روايت کښې وهم دې صحيح هغه دې چه د نسائى او طحاوى په روايت کښې دى، خو زه وايم چه د طحاوى په شرح امانى الاحبار کښې مولانا يوسف صاحب﷫ دا ثابته کړې ده چه په دې کښې د راويانو اختلاف دې او د هر دواړو نه په دواړو طريقو سره روايت شوې دې

بَابٌ فِي الْوُضُوءِ مِنَ اللَّبَنِ

باب دې په بيان د اودس کې د شودو نه

په ترجمة الباب کښې که د اودس نه مراد وضوء لغوى وى نو بيا خو د مصنف﷫ غرض دهغې استحباب ثابتول دى، او که د اودس نه وضوء شرعى مراد وى نو دهغې نفى مقصود ده، ځکه چه په حديث الباب کښې دا دى چه يو ځل رسول الله ﷺ پئ اوڅکل او دهغې نه پس ئې مضمضه اوفرمائيله

خان پوهه کړه چه د شرب لبن نه پس د مانځه نه مخکښې وضوء لغوى يعنى مضمضه د ائمه اربعه په نزد مستحب ده خو د امام احمد﷫ يو روايت دې چه په لبن ابل سره اودس شرعى واجب دې، ځکه چه د ابن ماجه په يو روايت کښې دى توضوا من البان الابل.

[١٩٦] ( ) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ لَبَنًا فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ لَهُ دَسَمًا".

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ٥٢ (٢١١)، والأشربة ١٢ (٥٦٠٩)، صحيح مسلم/الطهارة ٢٤ (٣٥٨)، سنن الترمذي/الطهارة ٦٦ (٨٩)، سنن النسائي/الطهارة ١٢٥ (١٨٧)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٨ (٤٩٨)، (تحفة الأشراف: ٥٨٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٣/١، ٢٢٧، ٣٢٩، ٣٣٧، ٣٧٣) (صحيح)

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روایت دي، بیشکه رسول الله ﷺ وڅکل شوده نو راویې غوښتلې اوبه نو مضمضه ئې اوکړه بیا ئې اوونیل بیشکه ددې لپاره غوړوالی دی.

مسئلة الباب کښې اختلاف:

حافظ ابن حجرؒ او علامه عینیؒ په دې باندې اجماع نقل فرمائیلې ده چه په لبن سره وضوء شرعی واجب نه دې، خو د امام ترمذيؒ د کلام نه په دې کښې اختلاف معلومیږی لکه چه حضرت شیخؒ په حاشیه د کوکب کښې لیکلي دی هغه دا چه په دې کښې درې مذاهب کیدې شی، یو د ائمة اربعه کوم چه پورته ذکر شوې دې، دویم مسلک د بعض صحابه کراموؓ لکه ابوهریره، ابوسعید الخدری دا حضرات ددې نه د اودس واجب کیدو قائل وو، پس منصف ابن ابی شیبة کښې ددې دواړو نه روایت دې ﴿ لا وضوء الا من اللبن ﴾ او دریم مسلک په دې کښې د ابوسلمة بن عبدالرحمن دې هغوی د استحباب هم قائل نه وو پس په مصنف ابن ابی شیبة کښې دی چه کله د هغوی نه دې باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل ﴿ امن شراب سائغ للشاربین؟ ﴾ آیا د داسې ښکلې څیز نه اودس کولې شی؟

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب دې په بیان د رخصت کې په دې کې

په دې باب سره مقصود ترک المضمضة من اللبن ثابتول دی یعنی د پیو څکلو نه پس خوله کنګالول څه ضروری نه دی پس په حدیث الباب کښې دی انسؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ یو خل پئ اوڅکل دهغې نه پس ئې نه مضمضه اوفرمائیله نه ئې اودس اوکړو او نه مونځ ابن رسلانؒ فرمائی ﴿ واغرب ابن شاهین ﴾ یعنی ابن شاهینؒ یوه عجیبه خبره کړې ده چه د سیدنا انسؓ دا حدیث د ابن عباسؓ د حدیث کوم چه تیر باب کښې وو ناسخ دې، د عجیب مطلب خو دا دې چه نسخ خو هلته وی چرته چه څوک د وجوب قائل وی، چه کله دواړه خبره بالاتفاق جائز دی نو نسخ د څه خبرې

[۱۹۷] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ الْحُبَابِ، عَنْ مُطِيعِ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ تَوْبَةَ الْعَنْبَرِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ لَبَنًا، فَلَمْ يُمَضْمِضْ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ، وَصَلَّى". قَالَ زَيْدٌ: دَلَّنِي شُعْبَةُ عَلَى هَذَا الشَّيْخِ.

ترجمه: توبة العنبري د انسؓ اوریدلي دي چه هغه به ویل بیشکه رسول الله ﷺ وڅکل شوده، نو مضمضه ئې اونه کړه او اودس ئې هم اونه کړو او مونځ ئې اوکړو. ونیلی دي زید: شعبه ماته دا شیخ راوښودلو.

تشریح: قوله: ﴿ دَلَّنِي شُعْبَةُ عَلَى هَذَا الشَّيْخِ ﴾ ددې حدیث په سند کښې د زید بن الحباب استاذ مطیع بن راشد دي، زید بن الحباب فرمائی چه د سماع حدیث دپاره د مطیع بن راشد

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۵۸) (حسن)

متعين كول او هغه طرف ته رهنمائى زما شعبه كړې وه غالبا د زيد مقصود په دې سره د خپل شيخ توثيق دې، او دا په دوه طريقو سره واقع كيږى يو دا چه د هغوى نه په شيخ سره تعبير كوى او شيخ الفاظ د توثيق نه دى اگرچه ادنى درجه ولې نه وى، دويم دا چه د شعبه په شان لوئې محدث چه كله د هغوى رهنمائى كړې ده نو يقينا هغه به ثقه راوى وى

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الدَّمِ

باب دې په بيان د اودس كې د وينې نه

په مسئلة الباب كښې مذاهب ائمة :

په ترجمة الباب كښې چه كومه مسئله ده هغه اختلافى ده، د احنافو او حنابله په نزد مطلقا د بدن نه د دم سائل خروج ناقض وضوء دې كه په سبيلين سره وى يا غير سبيلين سره (په دې كښې د دم تخصيص نشته بلكه مطلق نجاست دې) د شوافعو په نزد چه كوم دم خارج من السبيلين وى هغه ناقض دې او دهغې نه علاوه ناقض نه دې، امام مالك رحمه الله فرمائى چه د سبلين نه خارج كيدونكې وينه كه بالكل خالصه وى بل څه نجاست وارۀ يا لوئې بول په هغې پورې لګيدلې نه وى نو ناقض نه ده،خو كه دهغې سره بل څه نجاست يو ځائې شوې وى نو بيله خبره ده، امام بخارى رحمه الله په صحيح بخارى كښې باب قائم كړې دې ﴿ باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين ﴾ خان پوهه كړه چه د احنافو او د حنابله په نزد قاعده ده چه د بدن د هر يوې حصې نه وينه وتل ناقض وضوء دى او شوافع وائى چه كه د نجاست خروج د غير سبيلين نه وى نو هغه ناقض نه دې، امام شافعى رحمه الله دا فرمائى چه د بدن نه ددې نجاست خروج ناقض دې كه د نجاست خروج د غير سبلين نه وى نو هغه ناقض نه دې، امام شافعى رحمه الله دا فرمائى چه د بدن نه د هغه نجاست خروج ناقض دې كوم مخرج چه معتاد يعنى د سبيلين نه وى او امام مالك رحمه الله د مخرج معتاد سره يو بل قيد هم لګوى هغه دا دې چه خروج هم معتاد وى لهذا كه د يو عارض يا بيمارئ د وجې نه د سبيلين نه نجاست خارج شى نو هغه به ناقض د طهارت نه وى مثلا د يو سړى د سبيلين نه د وينې خروج اوشو يا يو كانړې يا چينجې وغيره خارج شو نو د هغوى په نزد ناقض وضوء نه دې ځكه چه دهغې خروج معتاد نه دې يعنى د عادت مطابق نه دې بلكه د عادت خلاف دې، هم په دې وجه د مالكيانو په نزد استحاض ناقض د وضوء نه دې اگر كه هغه د احد السبيلين نه خارج كيږى خو چونكه دهغې خروج معتاد نه دې بلكه خلاف عادت د مرض د وجې نه دې په دې وجه هغه د هغوى په نزد ناقض نه دې، او د امام شافعى رحمه الله په نزد د مخرج معتاد نه د يو څيز وتل د طهارت د ماتولو دپاره كافى دى د خروج معتاد كيدل ضرورى نه دى، امام بخارى رحمه الله په دې باب سره هم دغه اختلاف ته اشاره كړې ده.

مصنف رحمه الله چه په دې باب كښې كومه واقعه ذكر كړې ده دهغې نه په ظاهر كښې هم دا معلوميږى چه خروج دم من غير السبيلين ناقض وضوء نه دې

[۹۸] () حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي صَدَقَةُ بْنُ يَسَارٍ، عَنْ عَقِيلِ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي فِي غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ، فَأَصَابَ رَجُلٌ امْرَأَةَ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَحَلَفَ أَنْ لَا أَنْتَهِي حَتَّى أُهَرِيقَ دَمًا فِي أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ، فَخَرَجَ يَتْبَعُ أَثَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا، فَقَالَ: مَنْ رَجُلٌ يَكْلَؤُنَا؟ فَانْتَدَبَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: كُونَا بِفَمِ الشِّعْبِ، قَالَ: فَلَمَّا خَرَجَ الرَّجُلَانِ إِلَى فَمِ الشِّعْبِ، اضْطَجَعَ الْمُهَاجِرِيُّ وَقَامَ الْأَنْصَارِيُّ يُصَلِّي، وَأَتَى الرَّجُلُ، فَلَمَّا رَأَى شَخْصَهُ عَرَفَ أَنَّهُ رَبِيئَةٌ لِلْقَوْمِ، فَرَمَاهُ بِسَهْمٍ فَوَضَعَهُ فِيهِ فَنَزَعَهُ حَتَّى رَمَاهُ بِثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ، ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ، ثُمَّ انْتَبَهَ صَاحِبُهُ، فَلَمَّا عَرَفَ أَنَّهُمْ قَدْ نَذِرُوا بِهِ هَرَبَ، وَلَمَّا رَأَى الْمُهَاجِرِيُّ مَا بِالْأَنْصَارِيِّ مِنَ الدَّمِ، قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، أَلَا أَنْبَهْتَنِي أَوَّلَ مَا رَمَى؟ قَالَ: كُنْتُ فِي سُورَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا".

ترجمه: د جابر ﷛ نه روايت دي هغه وائي: مونږ ووتلو د رسول الله ﷺ سره غزوة ذات الرقاع کښې، نو اورسيدو يو سړی ښځې د يو سړي ته د مشرکانو نه، نو قسم ئي اوکړو چه نه به منع کيږم ترديٍ چه توی کړم وينه په ملګرو د محمد ﷺ کښې، نو اووتلو چه د پيغمبر تالاش ئي کولو، نو رسول الله ﷺ خائي ونيولو په يو خائي کښې، نو وئي وئيل څوک دی هغه سړی چه زمونږ حفاظت او څوکيداري اوکړي؟ نو اجابت اوکړو يو سړي د مهاجرينو نه او بل سړي د انصارو نه، نو هغه وفرمايل چه شئ تاسو په خوله ددې دره کښې، هغه وائي هرکله چه دواړه سړي اووتل خولې دري ته، نو تکيا ولګوله مهاجر، او پاڅيدلو انصاري چه مونځ ئي کولو، او راغی هغه سړی هرکله ئي چه ئي هغه اوليدلو نو پوهه شو چه دا د قوم جاسوس دی، نو وئي ويشتلو په غشي نو هغه پرې اولګيدو نو هغه ئي راويستلو، ترديٍ چه په درېو غشويي ويشتلو، بيا ئي رکوع او سجده اوکړه، بيا رابيدار شو ملګری د هغه، هر کله چه هغه سړي ته پته ولګيده چه دوی ورباندې پوهه شو نو اوتختيدو، هرکله چه مهاجر اوليدل هغه څه چه په انصاري باندې دي د وينو نه، نو اوئې وئيل سبحان الله! ايا تا زه نه بيدارولم په اول ځل ويشتلو سره، هغه اووئيل زه وم په سورت کښې چه لوستله مې دا مې نه وه خوښه چه هغه پرې کړم

مضمون حديث

مضمون د حديث دا دي چه جابر ﷛ فرمائي مونږ د رسول الله ﷺ سره په غزوة ذات الرقاع کښې وو يو مسلمان سړی د يو مشرک ښځه قتل کړه يو مشرک له په دې باندې غصه ورغله او هغه ددې خبرې قسم اوکړو چه ترڅو پورې ما د رسول الله ﷺ په ملګرو کښې د چا وينه نه وی توئې کړې په آرام به نه کينم، پس دا مشرک د مسلمانانو په قافله پسې شو، رسول الله ﷺ په يو منزل باندې کوز شو او د عادت مطابق رسول الله ﷺ په شپه کښې د څوکئ انتظام اوفرمائيلو، او تپوس ئې اوکړو چه د شپې به څوک څوکئ اوکړي؟ په دې باندې دوه صحابه کرام يو د مهاجرينو نه يعنې سيدنا عمار بن ياسر ﷛ او يو د انصارو نه يعنې عباد بن بشير ﷛ د رسول الله ﷺ په آواز باندې لبيک اووئي، رسول الله ﷺ هغوی ته هدايت

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۴۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۴۳، ۳۵۹) (حسن)

اوکړو چه مخامخ غر ته لاړ شي او هلته په ویخه شپه تیره کړي پس دا دواړه صحابه کرام هلته لاړل او خپل مینځ کښې ئې دا فیصله اوکړه چه مونږ دواړه به په نمبر نمبر شپه شوګیره کوو پس د شپې په شروع کښې د عمار بن یاسر اوده کیدل او د عباد بن بشیر رضی الله عنه ویخ پاتې کیدل فیصله شو، عباد بن بشیر د مانځه نیت اوتړلو او اودریدلو. هغه مشرک د اول نه د هغوی په انتظار وو هغه د لرې نه دا صحابي اولیدلو نو پوهه شو چه دې ددې قافلې چوکیدار او څوکئ کونکې دې، پس په هغه باندې ئې غشي ورګزار کړو او هغوی پرې اولګیدل، دا صحابي په مانځه کښې وو په مانځه کښې ئې دا غشي د بدن نه ویستلو او وې غورځولو. دې مشرک پرلپسې په هغوی باندې درې ځل په غشي سره حمله اوکړه آخر دې صحابي رکوع سجده اوکړه او د مانځه نه چه فارغ شو نو خپل ملګرې یعنې عمار بن یاسر رضی الله عنه ئې بیدار کړو، چه کله دې مشرک اولیدل چه دوی دواړو خبرې اترې شروع کړې نو پوهه شو چه په ما باندې پوهه شو پس فورا د هغه ځائې نه په تیښته شو. سیدنا عمار رضی الله عنه چه کله ددې انصاري په بدن باندې وینې اولیدې نو وې فرمائیل سبحان الله! تاسو زه په شروع کښې ولې ویخ نه کړم، چه کله اول هغه په غشي باندې ګزار اوکړو نو دې انصاري صحابي سیدنا عباد بن بشیر رضی الله عنه جواب ورکړو چه ما په مانځه کښې یو سورت شروع کړې وو دهغې د پوره کولو نه بغیر مې مونځ ختمول نه غوښتل. په بعض روایاتو کښې دی چه ددې نه مراد سورة کهف دې

د احنافو د طرف نه د حدیث الباب جوابات:

شوافع په دې حدیث باندې استدلال کوی چه کومه وینه خارج من غیر السبیلین وی هغه ناقض وضوء نه ده او د امام بخاري رحمه الله مسلک هم دا دې پس هغوی په صحیح بخاري کښې ددې سلسلې ډیر آثار ذکر فرمائیلې دی

د دې زمونږ د طرف نه ډیر جوابونه کړې شوې دی، اول دا چه دا حدیث ضعیف دې ددې په سند کښې عقیل بن جابر یو راوی دې چه مجهول دې هم په دې وجه امام بخاري رحمه الله دا قصه تعلیقا په صیغه د تمریض ذکر کړې ده، دویم دا چه دا فعل د صحابي رضی الله عنه دې، کیدې شي چه د هغوی مسلک هم دا وی، دریم جواب دا دې چه دا صحابي د مناجات په حالت کښې وو کیدې شي چه هغه ته د خروج دم پته نه وی لګیدلې، څلورم دا چه مونږ دا اومنله چه خروج دم من غیر السبیلین ناقض وضوء نه دې خو فی نفسه خو دم کثیر بالاتفاق نجس دې ددې کثرت دم باوجود به مونځ څنګه صحیح کیږي. فما هو جوابکم فهو جوابنا.

د شوافعو د طرف نه په استدلال کښې د سیدنا عمر رضی الله عنه واقعه هم پیش کولې شي کومه چه په موطاء د امام مالک رحمه الله کښې ده مسغر وائي چه په کومه شپه په سیدنا عمر رضی الله عنه باندې حمله اوکړې شوه ما اوکتل چه عمر رضی الله عنه مونځ کولو او د هغوی د بدن نه وینه روانه وه، زمونږ د طرف نه جواب دا دې چه د عمر رضی الله عنه قصه د مبحث نه خارج ده ځکه چه د هغه نه خو وینه مسلسل روانه وه هغه د معذور په حکم کښې وو، او د معذور حکم بیل دې

د احنافو دليل:

د احنافو د مسلک ډير دلائل دی، يو دهغې نه د استحاض والا روايت دې کوم چه په صحاح سته کښې موجود دې، اوس که څوک اوائی چه دا استحاض خو خارج من السبلين دې،د دې جواب دا دې چه د استحاض د ناقض کيدو علت دا نه دې بيان کړې شوې چه هغه خارج من السبيلين دې بلکه رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو ﴿ فانها دم عرق ﴾ معلومه شوه چه د نقض وضوء مدار په استحاضه او خارج من السبيلين باندې نه دې بلکه صرف په دم عرق باندې دې او د بدن د هر يوې حصې نه چه وينه راوځي هغه به دم عرق شمارلې کيږي.

بل دا چه احنافو د حديث الرعاف نه استدلال کړې دې او هغه په دارقطنی کښې په ډيرو طرقو سره دې، چه دهغې الفاظ دا دی ﴿ من اصابه قئ او رعاف او قلس فلينصرف وليتوضاء ثم ليبن على صلوته ﴾ حضرت سهارنپوریؒ په بذل کښې د احنافو د مسلک ډير روايتونه په تفصيل سره ذکر فرمائيلي دی.

د دم مقدار معفو کښې مسالک ائمة:

د دې مقام مناسب يوه مسئله بله ده هغه دا چه د دم معفو مقدار څه دې؟ او معاف دې هم او يا نه؟ د احنافو په نزد په اندازه د درهم معاف دې او د امام شافعیؒ په نزد دوه روايتونه دی احدهما لا يعفى مطلقا، ثانيهما يعفى ما دون الکف وهو مذهب احمد، وعند المالکية روايتان ١: قدر الدرهم ٢: مادون الدرهم کذا فی هامش الکوکب والفيض السمائي.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ النَّوْمِ

باب دې په بيان د اودس کې د خوب نه

د نواقض وضوء بيان شروع دې نوم ناقض وضوء دې او که نه په کوم صورت کښې دی او په کوم صورت کښې نه دې په دې کښې د علماء کرامو اتهٔ مشهور اقوال دی چه هغه امام نووی هم ذکر کړی دی

١: مطلقا ناقض دې، دا روايت دې د اسحق بن راهويه، حسن بصری او مزنیؒ نه.

٢: مطلقا غير ناقض دې دا روايت دې د ابو موسى اشعریؓ، سعيد بن المسيب او اوزاعیؒ نه.

٣: نوم کثير ناقض دې مطلقا او قليل ناقض نه دې دا منقول دې د امام مالک او زهری نه او په يو روايت د امام احمدؒ کښې هم داسې دی.

٤: په حالت قيام او قعود کښې نوم کثير او ددې دوارو حالتونو نه علاوه په باقی کښې مطلقا ناقض دې، دا مذهب دې د امام احمدؒ.

٥: کوم خوب چه په هيئة من هيئات الصلاة وی هغه ناقض نه دې گينی ناقض دې، دا مذهب دې د احنافو خو ددې نه مراد د مانځه هيئت مسنونه دې، پس قيام او قعود او رکوع او سجود کښې چه د سنت طريقې مطابق وی په هغې کښې اودهٔ کيدل ناقض وضوء نه دی باقی حالات لکه نوم متکئا يا مضطجعا يا مستقليا هغه به ناقض وی.

٦: کوم خوب چه جالسا د تميکن مقعد على الارض سره وی صرف هغه ناقض نه دې باقی

تولو حالاتو کښې ناقض دي، دا مذهب دې د امام شافعي رحمه الله.

٧: لا ينقض الا نوم راكع والساجد رواية عن احمد.

٨: لا ينقض الا نوم الساجد فقط رواية عن احمد ايضا.

په دې اقوال ثمانيه کښې دريم قول د امام مالک رحمه الله مسلک دې او قول رابع د امام احمد او قول خامس د احنافو او قول سادس د شوافعو دې، لهذا هم دې خلورو ياد ساتل د طالبانو دپاره اهم دي.

[٢٠٠]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شُغِلَ عَنْهَا لَيْلَةً فَأَخَّرَهَا حَتَّى رَقَدْنَا فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ اسْتَيْقَظْنَا ثُمَّ رَقَدْنَا ثُمَّ اسْتَيْقَظْنَا ثُمَّ رَقَدْنَا ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: لَيْسَ أَحَدٌ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ غَيْرُكُمْ".

ترجمه: عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه شپه د لښکر په تيارئ کښې مصروفتيا سره د ماسخوتن مونځ نا دخته کړو چه مونږ اوده شو په جمات کښې، بيا رابيدار شو، بيا اوده شو، بيا رابيدار شو، بيا اوده شو، بيا راووتلو مونږ ته، نو اوونې وئيل: نشته هيڅ کس چه انتظار کوي د مونځ غير د تاسو نه

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت

١: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، قوله حَتَّى رَقَدْنَا فِي الْمَسْجِدِ ﴾ د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت دا دې چه ددې نه معلوميږي چه هر نوم ناقض وضوء نه دې لکه چه د جمهورو مذهب دې، او ظاهره ده چه د هغوی دا خوب قاعدا وو په هيئت د صلوة باندې ځکه چه د مانځه انتظار په ناسته باندې کول مستحب دی، په دې وجه ناقض وضوء نه شو، صاحب منهل ليکی چه ددې حديث نه استدلال کړې شوې دې چه نوم قليل ناقض نه دې ځکه چه خفقان الراس په نوم قليل کښې کيږی

﴿ فَقَالَ « لَيْسَ أَحَدٌ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ غَيْرُكُمْ » ﴾ د رسول الله صلى الله عليه وسلم مقصود په دې ارشاد سره دې منتظرين صلوة، صحابه کرامو رضي الله عنهم ته تسلی ورکول وو چه د انتظار تکليف ترې نه اوچت شی، او مطلب دا دې چه الله پاک تاسو ته توفيق درکړې دې د مانځه د انتظار کولو په خلاف د نورو خلقو چه هغوی د مونځ کولو نه پس اوده دی يعنی زنانه ماشومان او معذورين وغيره، او دا هم احتمال دې چه نور اهل مساجد مراد وی چه نورو مسجدونو والا د مانځه نه پس اوده شوې دی او تاسو ئې چه د مانځه په انتظار کښې ناست يئ، او يو احتمال دا هم دې چه د ﴿ غيركم ﴾ نه مراد نور خلق يعنی اهل کتاب يهود وغيره مراد وی، ځکه چه هغوی به د ماسخوتن مونځ بالکل نه کولو

(): صحيح البخاري/مواقيت الصلاة ٢٤ (٥٧٠)، صحيح مسلم/المساجد ٣٩ (٦٣٩)، (تحفة الأشراف: ٧٧٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٨٨، ١٢٦) (صحيح)

[٢٠٠]() حَدَّثَنَا شَاذُّ بْنُ فَيَّاضٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ حَتَّى تَخْفِقَ رُءُوسُهُمْ ثُمَّ يُصَلُّونَ وَلَا يَتَوَضَّئُونَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: زَادَ فِيهِ شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: كُنَّا نَخْفِقُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، بِلَفْظٍ آخَرَ.

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو ملګري د رسول الله ﷺ چه انتظاريه يې کولو د ورروستني ماسخوتن تردې چه ځکنته به شو سرونه د هغوی بيا به ئې مونځ کولو او اودس به ئې نه کولو. وئيلي دي ابوداود: زيادت کړی دی په دې کښې شعبه د قتاده نه. هغه وائي: وو مونږ چه ځکنته کيدل به سرونه زمونږ په زمانه د رسول الله ﷺ کښې، او روايت کړی دی ابن ابي عروبه د قتاده نه په نورو الفاظو سره.

تشريح: ﴿ قوله حَتَّى تَخْفِقَ رُءُوسُهُمْ ﴾ يعنې د پړکالئ او خوب د راتلو د وجې نه به د هغوی سرونه ښکته شو لکه چه په ناسته ناسته د اوده کيدو په حالت کښې کيږي چه زنه د سينې سره اولګيږي.

[٢٠١]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَدَاوُدُ بْنُ شَبِيبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ: "أُقِيمَتْ صَلَاةُ الْعِشَاءِ، فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ لِي حَاجَةً، فَقَامَ يُنَاجِيهِ حَتَّى نَعَسَ الْقَوْمُ أَوْ بَعْضُ الْقَوْمِ، ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ وَلَمْ يَذْكُرْ وُضُوءًا".

ترجمه: بيشکه انس بن مالک وائي: ودرولی شو مونځ د ماسخوتن، نو پاڅيدلو يو سړی، نو هغه اووئيل: اې د الله رسوله! زما څه حاجت دی، نو هغه اودريدلو چه مناجاة ئې ورسره کولو تردې چه خلک اوده شول، او يا بعضي خلک اوده شول، بيا ئې مونځ اوکړو دوی ته او ذکر ئې نه کړو اودس.

[٢٠٢]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، وَهَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ يَحْيَى، عَنْ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْجُدُ وَيَنَامُ وَيَنْفُخُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ، قَالَ: فَقُلْتُ لَهُ: صَلَّيْتَ وَلَمْ تَتَوَضَّأْ وَقَدْ نِمْتَ، فَقَالَ: إِنَّمَا الْوُضُوءُ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا". زَادَ عُثْمَانُ، وَهَنَّادٌ: فَإِنَّهُ إِذَا اضْطَجَعَ اسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَوْلُهُ الْوُضُوءُ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا هُوَ حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، لَمْ يَرْوِهِ إِلَّا يَزِيدُ أَبُو خَالِدٍ الدَّالَانِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، وَرَوَى أَوَّلَهُ جَمَاعَةٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَلَمْ يَذْكُرُوا شَيْئًا مِنْ هَذَا، وَقَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَحْفُوظًا، وَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي، وَقَالَ شُعْبَةُ: إِنَّمَا سَمِعَ قَتَادَةُ مِنْ أَبِي الْعَالِيَةِ أَرْبَعَةَ أَحَادِيثَ: حَدِيثَ يُونُسَ بْنِ مَتَّى، وَحَدِيثَ ابْنِ عُمَرَ فِي الصَّلَاةِ، وَحَدِيثَ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ، وَحَدِيثَ ابْنِ عَبَّاسٍ، حَدَّثَنِي رِجَالٌ مَرْضِيُّونَ مِنْهُمْ عُمَرُ، وَأَرْضَاهُمْ عِنْدِي عُمَرُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَذَكَرْتُ حَدِيثَ يَزِيدَ الدَّالَانِيِّ لِأَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، فَانْتَهَرَنِي اسْتِعْظَامًا لَهُ، وَقَالَ: مَا لِيَزِيدَ الدَّالَانِيِّ يُدْخِلُ عَلَى أَصْحَابِ قَتَادَةَ؟ وَلَمْ يَعْبَأْ بِالْحَدِيثِ.

[1]: تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ١٣٨٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ٣٢ (٣٧٦)، سنن الترمذي/الطهارة ٥٧ (٧٨) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الطهارة ٣٣ (٣٧٦)، (تحفة الأشراف: ٣٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٠/٣، ٢٦٨) (صحيح)

[3]: سنن الترمذي/الطهارة ٥٧ (٧٧)، (تحفة الأشراف: ٥٤٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٦/١) (ضعيف)

ترجمه: د ابن عباس ﷠ نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ وو چه سجده ئې کوله او اوده کېدلوېه او پوکې به ئې کول. بيا به اودرېدو او مونځ به ئې کولو او اودس به ئې نه کولو، هغه اووئيل: ما ورته اووئيل: تا مونځ اوکړو او اودس دې اونه کړو په تحقيق سره ته خو اوده شوی وې، نو هغه اووئيل: بيشکه اودس په هغه چا باندې دی چه هغه اوده شي په تکيا باندې. زيادت کړی دی عثمان او هناد: بيشکه هغه چه کله تکيا ووهي نو سستيږي اندامونه د هغه. وئيلي دي ابوداود: وينا د هغه چه (الوضوءُ على من نام مضطجعاً) هغه حديث منکر دی نه دی روايت کړی مګر يزيد ابو خالد الدالاني د قتاده نه، او روايت کړی دی اول سر د حديث يو جماعت د ابن عباس نه، او نه ئې دی ذکر کړی څه شی د دېنه، او هغه وئيلي دی: وو نبي ﷺ محفوظ.

تشريح: ٢: ﴿ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ وقوله عَنْ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ ﴾ د هغوی نوم يزيد بن عبدالرحمن دی لکه چه د مصنف ﷫ په کلام کښې وړاندې راځي ډيرو ائمة رجال د هغوی تضعيف کړې دې، ﴿ قوله يَسْجُدُ وَيَنَامُ وَيَنْفُخُ ﴾ د ترمذی په روايت کښې دی ﴿ نام وهو ساجد حتى غط ونفخ ﴾ چه دهغې نه معلوميږي چه د اودهٔ کېدو نه مراد په مانځه کښې د سجدې په حالت کښې اودهٔ کېدل دی لهذا ددې نه معلومه شوه چه خوب د مونځ په هيئة باندې کول ناقض نه دې، صاحب منهل هم دا خبره ليکلې ده باقي د انبياو ﷸ خوب خو په هيڅ حالت کښې هم ناقض نه دې

﴿ قوله ولم تَتَوَضَّأْ وَقَدْ نِمْتَ فَقَالَ « إِنَّمَا الْوُضُوءُ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا » ﴾ يعني سيدنا ابن عباس ﷠ عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ تاسو ته د مانځه دوران کښې خوب درغلې وو تاسو هم په هغه حالت کښې مونځ پوره کړو او په مينځ کښې مو اودس او نه فرمائيلو نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل اودس په هغه سړي باندې واجب دې د چا خوب چه مضطجعاً وی هر قسم خوب ناقض نه دې

په دوه احاديثو کښې رفع تعارض:

خان پوهه کړه چه د ابن عباس ﷠ سوال خو ښکاره دې تشريح ته محتاج نه دی خو د رسول الله ﷺ دا جواب کوم چه دلته مذکور دې!

په دې باندې يو اشکال دې، هغه دا چه ددې نه په طريقه د مفهوم معلوميږي چه د رسول الله ﷺ خوب که مضطجعا وی نو ناقض وضوء به وی حال دا چه د انبياو ﷸ خوب ناقض نه دې مشهوره مسئله ده، هم ددې وجې نه وړاندې په يو حديث کښې چه دهغې ذکر وړاندې راځي چه کله عائشې ﷺ د رسول الله ﷺ نه هم دغه شان تپوس اوکړو نو هغه وخت رسول الله ﷺ په جواب کښې ارشاد اوفرمائيلو ﴿ تنام عيناى ولا ينام قلبي ﴾ چه په هغې سره رسول الله ﷺ هم دې طرف ته اشاره اوفرمائيله چه خوب د نبي ﷺ ناقض نه دې نو اوس په دواړو جوابونو کښې تعارض ظاهر دې هم ددې اشکال او تعارض په بناء باندې امام ابوداؤد ﷫ وړاندې په دې روايت باندې کلام کوی، ﴿ قال ابوداؤد قوله الوضوء على من نام مضطجعا هو حديث منکر الخ ﴾ ددې حديث چه کومه آخري ټکړه ده يعني د ابن عباس ﷠ د رسول الله ﷺ

نه ټپوس کول او بيا په هغې باندې د رسول اللهﷺ جواب كول ﴿ انما الوضوء على من نام مضطجعا﴾ دا حديث ثابت نه دې په دې کښې ابوخالد دالانی منفرد دې کوم چه ضعيف راوی دې د ابوخالد نه علاوه نورو راويانو ددې حديث صرف اول حصه ذكر كړې ده، آخرى حصه ئې نه ده ذكر كړې لهذا يو جواب خو د پورته اشكال دا شو چه حديث بالكل ثابت نه دې

د دعوى نكارة دلائل

وړاندې مصنفﷺ نور هم بعض دلائل د حديث ددې نكرې د عدم ثبوت پيش كوى پس فرمائى ﴿ وقال كان النبيﷺ محفوظا ﴾ يعنى رسول اللهﷺ ددې خبرې نه محفوظ او برى وو چه په حالت نوم كښې دې هغوى ته حدث (خروج ريح) لاحق شى. او هغوى ته دې احساس نه وى، يعنى خوب فى نفسه خو ناقض نه دې بلكه په دې وجه ناقض دې چه هغې كښې قوى گمان د خروج ريح دې او عام خلقو ته په خوب كښې د خروج ريح پته نه لگى په دې وجه د عام خلقو په حق كښې خوب د خروج ريح قائم مقام كړې شو او د رسول اللهﷺ شان دا نه دې چه هغوى ته دې د خروج ريح پته او نه لگى، لهذا د هغوى په حق كښې خوب ناقض هم نه دې كه مضطجعا وى او كه بل شان. دا خو ددې كلام تشريح شوه

خو خان پوهه كړه چه د ﴿ وقال ﴾ ضمير كوم طرف ته راجع دې د ظاهر سياق نه معلوميږى چه د ابن عباسﷺ طرف ته دې خو حضرت په بذل كښې ليكلې دى چه د ابوداؤدﷺ روايت امام بيهقىﷺ هم ذكر فرمائيلې دې په هغې كښې داسې دى ﴿ وقال عكرمة كان النبيﷺ محفوظا ﴾ ددې نه معلوميږى چه زمونږ په نسخه كښې د قال نه روستو عكرمة پاتې شوې دې ﴿ وقالت عائشة قال النبيﷺ تنام عيناى ولا ينام قلبى ﴾ دا د مصنفﷺ د طرف نه په ذكر كړې دعوى باندې دويم دليل دې ددې وضاحت مونږ سره په پورته كلام كښې راغلو

د ليلة التعريس په واقعه باندې يو شبهه

خو په دې حديث باندې يو اشكال دې هغه دا چه هر كله دا خبره ده چه د رسول اللهﷺ خوب د داسې غفلت نه وو نو د ليلة التعريس واقعه ولې پيښه شوه هلته د مانځه په وخت تول اوده پاتې شو، جواب دا دې چه د طلوع شمس تعلق د سترگې سره دې د قلب سره نه دې او سترگه بيداره نه ده، په خلاف د حدث چه ددې تعلق د باطن سره دې او قلب بيدار دې، حضرات علماء كرامو ليكلې دى چه د رسول اللهﷺ قلب مبارك به بيدار وو او په دې كښې د الله پاک يو حكمت دا دې چه د انبياء ﷺ خوبونه وحى وى په دې وجه به د رسول اللهﷺ قلب مبارک بيدار وو چه رسول اللهﷺ دا وحى محفوظ اوساتلې شى او په هر حال كښې به ئې په معارف الهيه كښې ترقى فرمائيله

پس خان پوهه كړه چه دا صرف د رسول اللهﷺ خصوصيت نه دې بلكه نور انبياء ﷺ هم په دې كښې شامل دى پس د ابن سعدﷺ په يو روايت كښې كوم چه د عطاء نه مرسلا مروى دې په هغې كښې داسې دى ﴿ انا معاشر الانبياء تنام اعيننا ولا تنام قلوبنا ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د ټولو انبياء كرامو ﷺ قلوب په حالت نوم كښې بيدار وى. (منهل)

﴿ وقال شعبة انما سمع قتادة الخ ﴾ دا د مصنفﷺ په دعوى مذكور باندې خلورم

دليل دي، هغه دا چه شعبه رحمه الله فرمائي چه قتادة د ابوالعاليه نه صرف څلور احاديث اوريدلي دی (١) وراندي ددي څلورو احاديثو تعين دي مطلب دا دي چه حديث الباب لره قتادة د ابوالعاليه نه روايت کوی او قتاده د ابوالعاليه نه صرف څلور احاديث اوريدلي دی، او دا حديث په دي څلورو کښي نه دی لهذا حديث منقطع شو

بهر حال د مصنف رحمه الله دا وينا ده چه د حديث دا ټکړه ثابته نه ده او معنوی اشکال په دي باندي هم هغه دي کوم چه موږ پورته ذکر کړي دي، خو ددي اشکال يو جواب دا کړي شوي دي کوم چه حضرت رحمه الله هم په بذل کښي ذکر فرمائيلي دی. هغه دا چه د رسول الله ﷺ جواب ﴿ انما الوضوء علی من نام مضطجعا ﴾ د جواب علی اسلوب الحکيم د قبيل نه دي جواب په اسلوب د حکيم دي ته وائي چه په هغي کښي د سوال د مطابقت رعايت نه وی بلکه د سائل د حال او مقام رعايت ملحوظ وی پس په دي جواب کښي رسول الله ﷺ د عام خلقو د احوالو پيش نظر د تعليم امت دپاره دا جواب ارشاد اوفرمائيلو څکه چه د امت حکم هم دا دي چه نوم مضطجعا ناقض دي لهذا ددي اشکال نه د بچ کيدو په غرض خو د حديث د تضعيف حاجت نشته خو تحقيق روايت امر اخر دي

[٢٠٣] (٢) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحِمْصِيُّ، فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنِ الْوَضِينِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ مَحْفُوظِ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَائِذٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ، فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ".

ترجمه: دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت دي، هغه وئيلي دی چه وئيلي دي رسول الله ﷺ وارِی د عورت هغه دواړه سترګي دي، پس هغه څوک چه اوده شو نو اودس دي اوکړي

تشريح: ٣ ﴿ حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحِمْصِيُّ قوله وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ ﴾ يعنی: شرمګاه مزي سترګي دی د سترګو نه مراد يقظة يعني بيداري ده مطلب دا شو چه کله انسان بيدار وی او د هغه سترګي کولاؤ وی نو ګويا په شرمګاه باندي مزي تړلي شوي دي چه دننه څيز بهر نه شی راتلي، د کوم احساس چه هغه نائم ته نه شي کيدي او ظاهره ده چه انسان په خيټه کښي رياح وغيره وی نو کله چه هغه اوده شی نو د شرمګاه د هغه مزی د پرانستلي کيدو په وجه باندي د هوا خارج کيدو قوی امکان دي هم په دي وجه شريعت نوم ته ناقض وضوء وئيلي دی، ددي حديث نه دا خبره بالکل صفا معلوميږی چه نوم في نفسه ناقض وضوء نه دي څکه چه د جمهورو مسلک دي. خان پوهه کړه چه ﴿ السه ﴾ کوم چه په دي حديث کښي مذکور دي دا د حروف ناقصه نه دي يعني د کوم حرف اصلي چه غائب دي څکه چه دا لفظ په اصل کښي ﴿ سته ﴾ وو چه دهغي جمع ﴿ استاه ﴾ راځي لکه د فرس جمع افراس، پس په دي کښي تعليل دا اوشو چه اولاً ددي حرف آخر ها، تخفيفا حذف کړي شو،

---

[1] ، لكن الحصر في الاربعة اما باعتبار علمه او تقريبي اذ ذكر البيهقي حديثين اخرين فالمجموع حديثين فالجموع ستة وفي الترمذي قال شعبة لم يسمع قتادة من ابي العالية الا ثلاثة اشياء)

[2]): سنن ابن ماجه/الطهارة ٦٢ (٤٧٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١١١، ٤/٩٧) (حسن)

او بيا دهغې په عوض کښې په شروع کښې همزه راوړلې شوه نو دا ﴿ است ﴾ شو. او لفظ است په احاديثو کښې وارد شوې دې ځنکه چه د ابوهريره ﷺ په حديث کښې دی ﴿ فخروت لاستی ﴾ بيا دا اوشوه چه هاء. کوم چه دهغې آخرې حرف وو يعنې لام کلمه دوباره راوړلې شوه او عين کلمه يعنې تاء حذف کړې شوه نو هغه همزه کومه چې دهغې په شروع کښې د هاء په عوض کښې راوړلې شوې وه هغه حذف کړې شوه لهذا اوس ﴿ سه ﴾ پاتې شو

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه دا چه په دې حديث کښې راغلی دی ﴿ فمن نام فليتوضا ﴾ ددې نه هغه خلقو استدلال کړې دې کوم چه نوم لره مطلقا ناقض منی. کوم چه د اقوال ثمانيه نه يو قول دې او دا د جمهورو خلاف دې په دې وجه ددې جواب دا کړې شوې دې چه دا ضعيف دې، ددې په سند کښې دوه راويان داسې دی کوم چه ضعيف دی يو بقية بن الوليد دويم وضين، بله دا چه دا حديث منقطع دې ځکه چه د عبدالرحمن بن عائذ سماع د علی ﷺ نه ثابت نه دې. نقله العينی عن ابی زرعة الرزای... دريم تاويل د حديث دا هم کيدې شی چه په دې حديث کښې دا بيانيږی چه نوم په دې وجه ناقض دې چه په دې سره د شرمګاه خولة پرانستلې کيږی نو په کوم خوب کښې چه د خوله پرانستلې کيدل اقرب او اغلب وی هم هغه خوب په دلته مراد وی هر قسم خوب به په دې کښې داخل نه وی. بله دا چه احاديث سابقه هم په دې باندې دلالت کوی چه هر نوم ناقض وضوء نه دې، والله تعالی اعلم بالصواب.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَطَأُ الْأَذَى بِرِجْلِهِ

باب دې په بيان د سړي کې چې پايمال کوي ګنده شې په خپله خپه

[٢٠٤]() حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنِي شَرِيكٌ، وَجَرِيرٌ، وَابْنُ إِدْرِيسَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ "كُنَّا لَا نَتَوَضَّأُ مِنْ مَوْطِئٍ، وَلَا نَكُفُّ شَعْرًا وَلَا ثَوْبًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي مُعَاوِيَةَ فِيهِ: عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، أَوْ حَدَّثَهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ: وَقَالَ هَنَّادٌ: عَنْ شَقِيقٍ، أَوْ حَدَّثَهُ عَنْهُ.

ترجمه: د شقيق نه روايت دې چه عبد الله بن مسعود وئيلی دی وو موږ چه اودس به مو نه کولو چه کوم شې باندې به موږ خپه کيخوده، او موږ به نه بندول خپل ويخته او جامه وئيلی دې ابوداود وئيلی دې ابراهيم بن ابي معاويه په هغې کښې، د اعمش نه او هغه د شقيق نه، او هغه د مسروق نه. او يايې حديث بيان کړی دی د هغه نه. هغه اوونيل وئيلی دې عبد الله او وئيلی دې هناد د شقيق نه. او يايې حديث بيان کړی دی د هغه نه

تشريح: يعنی يو سړې خپې ابله رولن دې او روان هم د مسجد طرف ته دې او د مخکښې نه

():حديث ابراهيم بن ابي معاوية عن أبي معاوية تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٥٦٤)، وحديث هناد عن أبي معاوية وعثمان عن شريك وجرير وعبدالله بن ادريس، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٠٩ (١٤٣) تعليقًا: سنن ابن ماجه/الإقامة ٦٧ (١٠٤١)، (تحفة الأشراف: ٩٢٦٨) (صحيح)

تې اودس کړې دې. اوس د لارې په ګندګۍ او ناپاکه څیزونو باندې تیریږي نو آیا د هغه دپاره ضروري ده چه مسجد ته د رسیدو نه مخکښې اودس اوکړي یا خپې اووینځي؟ مصنف رحمه الله په دې باب کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث بیان فرمائیلي دې ﴿ کنا لا نتوضا من موطئ ﴾

شرح الحدیث : په موطئ کښې دوه احتمالونه دي، یا دا مصدر میمي دې د ﴿ وطی ﴾ په معنی کښې یعنی د خپو لاندې کول، یا اسم مفعول دې په اصل کښې ﴿ موطوء ﴾ وو، یعنی هغه څیز کوم چه د خپو لاندې کړې شوې وي، نجاست وغیره یعنی اودس به نه کولو موږ د خپو د راښکلو د وجې نه، څان پوهه کړه چه په دې حدیث کښې دوه احتمالات دي یو دا چه هغه اودس د کوم چه نفي کولې شي ددې نه وضوء شرعي مراد وي یعنی د راښکلو د وجې نه به باقاعده موږ اودس نه کولو، دویم دا چه د وضوء نه وضوء لغوي مراد وي یعنی غسل رجلین، یعنی موږ به هلته رسیدو سره غسل رجلین نه کولو، که د خپو لاندې کولو نه مراد دلته د لارې ختې یا هغه څیزونه چه طبیعت ئې بد ګڼړي لکه لارې بلغم وغیره، نو بیا خو د وضوء شرعي او لغوي هر دواړو نفي کول صحیح دي هم دغه شان که نجاست یابسه مراد وي نو بیا هم، خو که تر نجاست مراد وي نو په دې صورت کښې متعین ده چه نفي د وضوء شرعي به مراد وي، د وضوء لغوي نفي مراد کول به دې وخت صحیح نه وي، ځکه چه په دې صورت کښې غسل رجلین ضروري دې.

﴿ ولا نکف شعرا ولا ثوبا الخ ﴾ یعنی مانځه کښې به سجدې ته د تلو په وخت موږ د خپل سر ویښته او کپړې په دې خیال چه هسې نه د زمکې ګردوغبار پرې اولګي نه راټولولې، ځکه چه دا څیز د خشوع فی الصلوة خلاف دې، دا کلام خو د متن حدیث سره متعلق وو، ددې حدیث په سند باندې پوهیدل لږ ګران دي کوم چه مصنف رحمه الله وړاندې بیانوي

شرح السند :

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُد قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي مُعَاوِيَةَ فِيهِ ﴾ د مصنف رحمه الله په دې حدیث کښې درې استاذان دي، هناد، ابراهیم، عثمان، مصنف رحمه الله د خپلو استاذانو اختلاف فی السند بیانوي، اصل سند کوم چه په شروع کښې مصنف رحمه الله بیان کړو هغه الفاظ خو د مصنف رحمه الله د استاذ عثمان بن ابی شیبه رحمه الله دي، اوس ددې ځائې نه مصنف رحمه الله د خپلو باقي دوه استاذانو د سند الفاظ نقل کوي، یو ابراهیم، دویم هناد، د عثمان د سند الفاظ کوم چه په شروع کښې مذکور دي ددې نه دا معلومه شوه چه د اعمش او شقیق ترمینځه هیڅ واسطه نشته خو د شقیق او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ترمینځه د مسروق واسطه ده. ﴿ أَوْ حَدَّثَهُ عَنْهُ ﴾ په دې صورت کښې به دوه واسطې شي مسروق او یو ددې نه علاوه مبهم دې په سند کښې نه دې ذکر شوې او دا دویم مبهم واسطه به د شقیق او مسروق ترمینځه وي تقدیر د عبارت داسې دې ﴿ او حدث شقیق عن مسروق ﴾ یعنی یا خو شقیق د مسروق نه روایت کوي یا د یو راوي په واسطې سره او بیا وړاندې مسروق د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت کوي، ﴿ وَقَالَ هَنَّادٌ (ای عن الاعمش) عَنْ شَقِيقٍ أَوْ حَدَّثَهُ عَنْهُ ﴾ ای حدث الاعمش عن شقیق. یعنی د هناد شک دې

په دې خبره کښې چه اعمش براه راست د شقيق نه روايت کوی يا د چا په واسطې سره (کوم چه دلته په سند کښې نه دې ذکر شوې) دا دريم استاذ يعنی د هناد د کلام نه معلوميږی چه د شقيق او ابن مسعود ﷛ ترمينځه هيڅ واسطه نشته خو د اعمش او شقيق ترمينځه په تردد سره واسطه ذکر کوی [١]

دا د سند ټوله تشريح په هغه صورت کښې ده چه کله ﴿ او حدثه عنه ﴾ لره په صيغه د مجهول سره اولوستلې شي او که دا په صيغه معروف سره لوستلې شي په دې صورت کښې به ئې بل مطلب شي، په اول خائې کښې به ئې مطلب دا وی چه شقيق د مسروق نه په طريق د عنعنه روايت کوی يا په طريق د تحديث هم دغه شان په دويم خائې کښې به مطلب دا وی چه د اعمش نه په طريق د عنعنه روايت کوی يا په صيغه د تحديث يعنی د راوی شک دې چه روايت په لفظ د عن سره دې يا په لفظ د ﴿ حدث ﴾ سره، د واسطې او عدم واسطې بحث به په دې صورت کښې نه وی.

بَابٌ مَنْ يُحْدِثُ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د هغه چا کې چې بې اودسه شی په مانځه کې

[٢٠٥]([٢]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ عِيسَى بْنِ حِطَّانَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ سَلَّامٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ، فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ، وَلْيُعِدِ الصَّلَاةَ".

ترجمه: د علي بن طلق نه روايت دې هغه وئيلی دي، چه وئيلی دي رسول الله ﷺ کله چه باد لاړ شي په تاسو کښې د يو کس نه په مانځه کښې، نو لاړ دې شي او اودس دې اوکړي او اعاده د مانځه دې اوکړي

تشريح: يعنی که د مانځه ترمينځه حدث لاحق شي نو څه کول پکار دی، اودس کولو سره هم په هغه مانځه باندې بناء کيدلې شي يا که اعاده به کولې شي، مسئله مختلف فيه ده، پس که حدث عمداً وی نو استيناف بالاتفاق ضروری دې او که بغير د عمد نه وی نو د جمهورو علماو او ائمه ثلاثه په نزد هغه وخت هم استيناف ضروری دې او د احنافو په نزد په دې صورت کښې بناء هم جائز ده خو اولی استيناف دې، په حديث الباب کښې چه کومه اعاده مذکور ده هغه زمونږ په نزد په استحباب باندې محمول ده يا دې داسې اووئيلې شي

[١]: ﴿ قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي مُعَاوِيَةَ ﴾ د ابراهيم په روايت کښې د شقيق او د عبدالله بن مسعود (رض) ترمينځه د مسروق زيادت دې او په يو صورت کښې کوم چه هغه ﴿ او حدثه عنه ﴾ سره بيانوی، د مسروق نه علاوه د يو بل راوی زيادت هم دې کوم چه مبهم دې ﴿ وقال هناد الخ ﴾ د دوی په روايت کښې شک ښکاره کړې شوې دې چه د اعمش روايت د شقيق نه يا خو بغير د واسطې نه دې يا بالواسطه دې، د ابراهيم په روايت کښې واسطه که يو وی يا دوه هغه د شقيق او ابن مسعود ﷛ ترمينځه ده او که د هناد په روايت کښې واسطه ده نو هغه د اعمش او شقيق ترمينځه ده او د عثمان په روايت کښې کوم چه په شروع کښې مذکور دې واسطه دواړو ځايونو کښې نشته نه د اعمش او شقيق ترمينځه او نه د شقيق او عبدالله بن مسعود ﷛ ترمينځه.

[٢]: سنن الترمذي/الرضاع ١٢ (١١٦٤)، سنن النسائي/الكبرى، عشرة النساء (٩٠٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٤٤)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ١١٤ (١١٨١)، مسند احمد (٨٦/١) ويأتي عند المؤلف برقم: ١٠٠٥ (ضعيف)

چه په دې صورت کښې محمول ده. د احنافو استدلال په مسئلة البناء کښې د هغه متعدد رواياتو نه دې کوم چه په سنن ابن ماجه او دارقطنی وغيره کښې مروی دی کوم چه په بذل المجهود کښې د باب الوضوء من الدم لاندې حضرت نقل فرمائيلې دی، د روايت الفاظ دا دی ﴿ من اصابه قئ او رعاف او قلس او مذی فلينصرف فليتوضا وليبن علی صلوته ﴾ حديث تقريبا هم په دې الفاظو باندې د ډيرو صحابه کرامو عائشه، ابوسعيد خدری، علی بن ابی طالب، ابن عباس رضي الله عنهم، وغيرهم نه منقول دې

شرح السند :

﴿ عَنْ مُسْلِمِ بْنِ سَلَّامٍ ﴾ دا سلام په تشديد د لام سره دې بلکه هرځائې کښې سلام مشدد دې سوا د دوه خايونو نه يو عبدالله بن سلام صحابي او دويم محمد بن سلام د امام بخاری رحمه الله استاذ (کذا قال النووی رحمه الله فی مقدمة شرح مسلم) زمونږ د ابوداؤد استاذ محترم مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله چا چه د شعر او ادب ډير ذوق لرلو د هغوی شعر دې!

بهر موضع مشدد هست سلام   مگر شيخ بخاری وصحابي

﴿ عن علی بن طلق ﴾ تاسو ته به ياد وی چه د وضوء من مس الذکر په باب کښې يو راوی طلق بن علی تير شوې دې، او دلته دې علی بن طلق، پس ځان پوهه کړه چه په نوم کښې قلب واقع شوې دې بلکه دا دوه راويان دی بيل بيل پس د بعض علماء رجال د تحقيق مطابق دا علی بن طلق د مخکښې راوی طلق بن علی پلار دې نو گويا طلق د علی د پلار نوم دې او د خوی هم او سلسله د نسب داسې ده، طلق بن علی بن طلق هم دا رائې د حافظ ابن عبد البر رحمه الله ده، پس هغوی د علی بن طلق په باره کښې فرمائی ﴿ اظنه والد طلق بن علی ﴾ په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : هو ظن قوی اذ نسبهما واحد.

بَاب فِي الْمَذْيِ

باب دې په بيان د مذی کښې

د نواقض الوضوء نه يو خروج المذی ده ﴿ مذی ﴾ په سکون د ذال او تخفيف د ياء سره او مذی په تشديد د ياء سره په وزن د غنی دواړو طريقو سره صحيح دې، ﴿ وهو ماء رقيق اصفر يخرج عند الشهوة الضعيفة ﴾ او هم په دې حکم کښې ﴿ ودی ﴾ ده. ﴿ هو ماء ابيض ثخين ﴾ کوم چه د متيازو نه پس يا د څه وزنی څيز د اوچتولو نه پس راوځی

د مذی سره متعلق مسائل اربعه خلافيه :

ځان پوهه کړه چه د مذی متعلق څلور مسائل اختلافی ده، آيا مذی په حکم د متيازو کښې دې، څنګه چه د متيازو نه پس استنجاء بالحجر کافی ده هم دغه شان دلته هم کافی ده يا غسل ضروری دې، د احنافو او شوافعو په نزد راجح قول دا دې چه په دې کښې استجمار کافی دې غسل ضروری نه دې او د مالکيانو او حنابله په نزد دوه روايتونه دی، جواز او عدم جواز، مسئله ثانيه د خروج مذی نه پس صرف محل نجاست لره پاکول ضروری دی يا که دهغې نه علاوه هم، د امام مالک رحمه الله مذهب دې ﴿ يغسل جميع الذکر ﴾ او د حنابله په نزد

د ذکر سره د خصیتین وینځل هم ضروري دی او د احنافو او شوافعو په نزد صرف د موضع نجاست وینځل ضروري دی، مسئله ثالثه چه په کومه جامه باندې مذی اولګی دهغې غسل ضروري دې که نضحه هم کافي ده، د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه په نزد باندې غسل ضروري دې نضح او رش الماء کافي نه دې او د امام احمد رحمه الله نه دواړه روايتونه دی، قول راجح د هغوی دا دې چه نضح کافي ده (کما في هامش الکوکب) علامه شوکاني رحمه الله هم دې ته ترجیح ورکړې ده او د خپل طرف نه ئې ددې وجه د ترجیح هم بیان کړې ده کومه چه حضرت په بذل کښې رد فرمائیلې ده، مسئله رابعه دا ده چه مذی د ائمه اربعه او جماهیر علماء کرامو سلفا او خلفا په نزد نجس ده، په خلاف د فرقه امامیه د روافضو نه چه هغوی دې ته طاهر وائي د لفظ نضح نه استدلال کولو سره، خو مونږ وايو چه لفظ نضح خو د دم حیض او بول صبی په باره کښې هم راغلې دې حال دا چه دم حیض بالاتفاق نجس دې

[۲۰۶](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ الْحَذَّاءُ، عَنِ الرُّكَيْنِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ قَبِيصَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً، فَجَعَلْتُ أَغْتَسِلُ حَتَّى تَشَقَّقَ ظَهْرِي، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ ذُكِرَ لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَفْعَلْ إِذَا رَأَيْتَ الْمَذْيَ، فَاغْسِلْ ذَكَرَكَ وَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ، فَإِذَا فَضَخْتَ الْمَاءَ فَاغْتَسِلْ".

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: وم زه چه ډير مذي به راته تله. نو زه شروع شوم چه غسل به مې کولو تردې چه شا مې وچاودله. نو دا خبره ما ذکر کړه نبي صلی الله عليه وسلم ته، او يا ورته ذکر کړې شوه، نو اووئيل رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې مه کوه کله چه ته مذي اووينې نو خپل ذکر اووينځه، او اودس کوه پشان د اودس ستا د مانځه دپاره، کله چه تا اوبه راوبستلې په توپ وبتلو سره نو بيا غسل اوکړه

تشريح: ﴿ قوله كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً فَجَعَلْتُ أَغْتَسِلُ ﴾ سيدنا علی رضي الله عنه فرمائي چه زما نه به مذي په کثرت سره تله. او د مسئلې د نه معلوميدو د وجې نه به ما ددې نه غسل کولو او په کثرت سره به دې ته ضرورت راتلو تردې چه د يخنۍ په موسم کښې د يخنې شدت او بار بار د غسل کولو د وجې نه زما په ملا کښې شقوق او درد شوې وو.

د روايات مختلفه ترمينځه تطبيق

﴿ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ الخ ﴾ په دې کښې روايات مختلف دی دلته خو د شک سره دی چه ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ددې ذکر اوکړو يا بل چا هغوی ته ذکر اوکړو او وړاندې په ابوداؤد کښې راځي چه مقداد بن اسود رضي الله عنه ته ئې اووئيل چه هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د مسئلې تپوس اوکړي او د نسائي په روايت کښې دی چه ما عمار بن ياسر رضي الله عنه ته اووئيل او د مصنف عبدالرزاق په روايت کښې دی چه يو خل د علي، مقداد بن اسود او عمار بن ياسر رضي الله عنهم ترمينځه په دې

(۱): سنن النسائي/الطهارة ۱۱۱ (۱۵۲)، والغسل ۲۸ (۴۳۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۷۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الغسل ۱۳(۲۶۹)، سنن الترمذي/الطهارة ۸۳ (۱۱۴)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۰ (۵۰۴)، مسند احمد (۱/۱۰۹، ۱۲۵، ۱۴۵) (صحيح)

مسئله باندې مذاکره اوشوه او علي ﷺ دې دوارو ته حکم اوفرمائیلو چه هغه د رسول الله ﷺ نه د مسئلې تپوس اوکړی، او د ترمذی او ابن ماجه په روایت کښې دی علي ﷺ فرمائي ﴿ سالت النبي ﷺ عن المذی ﴾ ابن حبان دا روایات مختلفه داسې جمع کړی چه علي اول عمار ﷺ ته حکم اوکړو او بیا ئې مقداد ﷺ ته، او بیا هغوی خپله سوال اوکړو، حافظ ﷺ فرمائي چه دا جمع جید ده خو د هغوی دا وینا چه بیا علي ﷺ خپله سوال اوکړو دا صحیح نه ده ځکه چه دا د هغوی د قول ﴿ انا استحی ﴾ خلاف دې خو ددې جواب دا کیدې شي چه د علي ﷺ دپاره استحیاء په شروع کښې وه خو چه کله دې دوارو په سوال کښې تاخیر اوکړو نو علي ﷺ د شدت احتیاج د وجې نه خپله سوال اوکړو د امام نووي ﷺ وغیره رائې دا ده چه چرته د سوال نسبت د علي ﷺ طرف ته دې هغه مجاز دې، د آمر کیدو په حیثیت سره ئې خپل طرف ته نسبت کړې دې او بعضو وئیلي دی چه سوال بالواسطه دخپل ځان دپاره وو او په دې کښې د استحیاء کیدل ظاهر دی او براه راست سوال د مطلق مسئلې په حیثیت سره ښکاره دی.

دلته دې دا اشکال اونکړې شي چه په طلب د علم کښې علي ﷺ استحیاء ولې اوکړه، ځکه چه طلب د علم نه هغوی استحیاء نه ده کړې، په طلب د علم کښې خو هغوی همیشه وو خو براه راست د تپوس کولو نه ئې حیاء اوکړه چه دهغې د وجې نه ښکاره ده چه خروج مذی عامةً د خپل اهل سره د ملاعبت نه کیږي او د هغوی په نکاح کښې د رسول الله ﷺ لور وه په دې وجه د استحیاء کیدل قرین قیاس وو دا ټول تفصیل هم دغه شان په اوجز المسالک کښې دی.

﴿ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ تَفْعَلْ إِذَا رَأَيْتَ الْمَذْىَ فَاغْسِلْ ذَكَرَكَ وَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلاَةِ ﴾ رسول الله ﷺ علي ﷺ په خروج مذی باندې د غسل کولو نه منع کړو، مسئله اجماعی ده چه په خروج د مذی سره غسل نه واجب کیږي. ﴿ فَإِذَا فَضَخْتَ الْمَاءَ فَاغْتَسِلْ ﴾ چه کله ته اوبه راوباسې نو بیا غسل کوه یعنی غسل په ماء، دافق (منی) سره واجب کیږي نه په مذی سره. ﴿ قوله لیغسل ذکره وانثیه ﴾ په دې روایت کښې د ذکر سره ﴿ انثیین ﴾ هم مذکور دې دا د امام احمد او اوزاعي ﷺ دلیل دې.

[٢٠٤] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَمَرَهُ أَنْ يَسْأَلَ لَهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ إِذَا دَنَا مِنْ أَهْلِهِ فَخَرَجَ مِنْهُ الْمَذْيُ، مَاذَا عَلَيْهِ؟ فَإِنَّ عِنْدِي ابْنَتَهُ وَأَنَا أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَهُ، قَالَ الْمِقْدَادُ: فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ ذَلِكَ، فَلْيَنْضَحْ فَرْجَهُ وَلْيَتَوَضَّأْ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ".

ترجمه: د مقداد بن الاسود نه روایت دې چه بیشکه علي بن ابي طالب ﷺ ورته امر اوکړو چه تپوس اوکړي د هغه لپاره د رسول الله ﷺ نه. په باره د یو سړي کښې چه کله هغه نزدې

(¹): سنن النسائي/الطهارة ١١٢ (١٥٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٠ (٥٠٥)، (تحفة الأشراف: ١١٥٤٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٨٣ (١٥٦)، موطا امام مالك/الطهارة ١٣ (٥٣)، مسند احمد (٤/٦، ٥) (صحيح)

شي خپل اهل ته، نو مذي ترېنه وځي، نو په هغه به څه وي؟ بيشکه د هغه لور زما سره ده او زه حيا، کوم چه د هغه نه تپوس اوکړم، مقداد اووئيل چه ما تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه د دغي باره کښي، نو هغه اووئيل کله چه يو کس ستاسو نه دا بيامومي نو خپل عورت ته دي اوبه وشيندي او اودس دي اوکړي پشان د اودس د هغه د مانځه دپاره.

[٢٠٨]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ لِلْمِقْدَادِ وَذَكَرَ نَحْوَ هَذَا، قَالَ: فَسَأَلَهُ الْمِقْدَادُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِيَغْسِلْ ذَكَرَهُ وَأُنْثَيَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ الثَّوْرِيُّ وَجَمَاعَةٌ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْمِقْدَادِ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِيهِ: وَالْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه: بيشکه علي بن ابي طالب اووئيل مقداد ته او ذکر ئي کړو پشان د دي، هغه اووئيل تپوس اوکړو د هغه نه مقداد، نو اووئيل رسول الله ﷺ اودي وينځي خپل ذکر او هګۍ. وئيلی دي ابوداود: او روايت کړی دی ددي ثوري او يو جماعت د هشام نه او هغه د خپل پلار نه، او هغه د مقداد نه، او هغه د علي نه، او هغه د نبي ﷺ نه

[٢٠٩]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَدِيثٍ حَدَّثَهُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قُلْتُ لِلْمِقْدَادِ: فَذَكَرَ مَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ الْمُفَضَّلُ بن فضالة وجماعة، والثوري، وابن عيينة، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَرَوَاهُ ابْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْمِقْدَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَذْكُرْ: أُنْثَيَيْهِ.

ترجمه: د علي بن ابي طالب نه روايت دي هغه وائي چه ما اووئيل مقداد ته، نو ذکر ئي کړه معنی د هغې. وئيلی دي ابوداود: او روايت کړی دی دهغې مفضل بن فضاله او يو جماعت او ثوري او ابن عيينة د هشام نه، هغه د خپل پلار نه او هغه د علي بن ابي طالب نه، او روايت کړی دی دهغې ابن اسحاق د هشام بن عروه نه، او هغه د خپل پلار نه، او هغه د مقداد نه او هغه د نبي ﷺ نه، نه ئي دی ذکر کړی أنثيه.

تشريح: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ الخ ﴾ مصنف رحمه الله ددې ځائي نه د هشام د شاګردانو اختلاف بيانوي، پورته د زهير په روايت کښي د انثيين ذکر وو، مصنف رحمه الله هم دې لره بيانوي چه څنګه زهير د هشام نه دا حديث په أنثيين سره ذکر کړو هم دغه شان مفضل او سفيان ثوري او سفيان بن عيينة هم ذکر کړې دی، معلومه شوه چه انثيين لره ذکر کونکي يو جماعت دې، وراندې تلو سره مصنف رحمه الله فرمائي په خلاف د محمد بن اسحاق چه هغوی هم د هشام نه دا حديث روايت کړې دې خو انثيين ئي نه دی ذکر کړی، زمونږ حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه زما په نزد امام ابوداؤد رحمه الله کلک حنبلی دی او دا تاسو ته معلومه شوه چه امام احمد رحمه الله د غسل انثين قائل دې په ظاهر کښي مصنف رحمه الله هم هغې ته ترجيح ورکوی، د جمهور د طرف نه به ددې جواب دا وی چه په ذکر د أنثين کښي د راويانو

(): سنن النسائي/الطهارة ١١٢ (١٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٢٤) (صحيح)
(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٢٤١) (صحيح)

اختلاف او اضطراب دې په دې وجه دده نه به غسل نه ثابتيږي، يا دې داسې اووئيلې شي چه دا هغه وخت ده چه کله انثيين په مذی سره ملوث وی يا کيدې شی چه د غسل انثيين حکم رسول الله ﷺ تبريدا فرمائيلې وی چه سيلان مذی زر منقطع شي.

[٢١٠]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، قَالَ: كُنْتُ أَلْقَى مِنَ الْمَذْيِ شِدَّةً، وَكُنْتُ أُكْثِرُ مِنَ الِاغْتِسَالِ، فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "إِنَّمَا يُجْزِيكَ مِنْ ذَلِكَ الْوُضُوءُ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَكَيْفَ بِمَا يُصِيبُ ثَوْبِي مِنْهُ؟ قَالَ: يَكْفِيكَ بِأَنْ تَأْخُذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَتَنْضَحَ بِهَا مِنْ ثَوْبِكَ حَيْثُ تَرَى أَنَّهُ أَصَابَهُ".

ترجمه: د سهل بن حُنيف نه روايت دې هغه وئيلی دی: ومه زه چه مخامخ کيدم د مذي سره په سختئ، او ومه زه چه ډير مې کول لمبل، نو ما تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه ددې په باره کښې، نو هغه اووئيل بيشکه کافي کيږي ستا لپاره د دينه اودس، نو ما اووئيل: اې د الله رسوله! نو څنګه به وې هغه چه رسيږي زما جامي ته؟ نو هغه اووئيل: کافي دی ستا لپاره چه ته واخلې يو ورغوی د اوبو نه، وئې شيندې په خپله جامه، په هغه ځائي چه ته ئې وينې چه دا ورته رسيدلی دی.

تشريح: ﴿ قوله بِأَنْ تَأْخُذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَتَنْضَحَ بِهَا مِنْ ثَوْبِكَ ﴾ په دې حديث کښې په ظاهره د حنابله تائيد کيږي چه کومې جامې باندې مذی اولګی دهغې د پاکولو دپاره رش الماء کافي دې د غسل حاجت نشته او د مسلم شريف په روايت کښې د ابن عباس ﷺ نه ﴿ وانضح فرجک ﴾ وارد شوي دې، جمهور داسې وائې چه په ډيرو احاديثو کښې لفظ د نضح د غسل په معنی کښې راغلې دې دلته هم هغه مراد دی، امام نووي رحمه الله فرمائي چونکه په نورو روايتونو کښې د ﴿ ليغسل ذکره ﴾ تصريح ده لهذا نضح به په هغې باندې محمول کولې شي.

[٢١١]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ صَالِحٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَرَامِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمَّا يُوجِبُ الْغُسْلَ، وَعَنِ الْمَاءِ يَكُونُ بَعْدَ الْمَاءِ، فَقَالَ: "ذَاكَ الْمَذْيُ، وَكُلُّ فَحْلٍ يَمْذِي، فَتَغْسِلُ مِنْ ذَلِكَ فَرْجَكَ وَأُنْثَيَيْكَ وَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ".

ترجمه: عبد الله بن سعد الانصاري وايې: ما تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه په باره د هغه څه کښې چه واجبوي غسل او په باره د اوبو کښې چه وي وروسته د اوبو نه. نو هغه اووئيل: دا مذي ده، او هر اينده مذي غورځوي، نو ووينځه ته د دغې نه خپل عورت او دواړه هګۍ، او اودس اوکړه پشان د اودس ستا د مانځه دپاره

تشريح:٥ ﴿ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى قوله وَعَنِ الْمَاءِ يَكُونُ بَعْدَ الْمَاءِ ﴾ يعنی هغه اوبه کومې چه

[١]: سنن الترمذي/الطهارة ٨٤ (١١٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٠ (٥٠٦)، (تحفة الأشراف: ٤٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٨٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٤٩ (٧٥٠) (حسن)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣٢٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ١٠٠ (١٣٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٠ (٦٥١)، مسند احمد (٤/٣٤٢، ٥/٢٩٣) (صحيح)

لږې لږې مسلسل راځي کوم ته چه څاڅکي وائي يعنې مذی ددې لفظ صحيح تشريح هم دا ده او علامه شوکاني رحمه الله ته ددې په تشريح کښې وهم شوې دې هغوی د بعد الماء نه مراد بول اخستلې دې يعنې هغه اوبه چه د متيازو نه پس اوځي خو دا صحيح نه ده ځکه چه د متيازو نه پس چه کوم رقيق څيز اوځي هغې ته ودي وائي نه مذی، اودلته ذکر شروع دې د مذی.

تنبيه: خان پوهه کړه چه اوس وړاندې دوه احاديث راروان دی په هغه دواړو کښې د مباشرت حائض ذکر دې دلته نسخې مختلف دی په نسخه د بذل المجهود کښې دا دوه احاديث هم په ترجمة سابقه يعنې په ﴿ باب في المذی ﴾ کښې داخل دی او په بعض نسخو د ابوداؤد کښې په دې باندې مستقل ترجمة قائم کړې شوې ده، ﴿ باب في مباشرة الحائض ﴾ که دا ترجمه دلته اومنلې شی نو بيا خو په دې دواړو احاديثو او ترجمه کښې مطابقت ښکاره دې، او که دلته ترجمه نه منئ ځنګه چې په نسخه د بذل کښې نشته نو د عدم مطابقت اشکال به پيدا کيږي، غالبا هم ددې اشکال نه د بچ کيدو دپاره بعض ناسخينو دلته دا باب قائم کړې دې خو په دې کښې يو بل اشکال دا پيدا کيږي چه د حيض او استحاض روايات به وړاندې راشي بلکه دا چه د مباشرة الحائض مستقل باب هم راروان دې نو ګويا دوه اشکالات به شي، يو تکرار په ترجمه کښې، دويم ددې باب دلته د بې محله کيدو چه دا محل ددې باب نه دې، لهذا غوره دا ده چه دلته دې دا ترجمة نه وی بلکه دا دواړه احاديث دې د ترجمه سابقه سره متعلق اومنلې شی او د ترجمة الباب سره په مطابقت باندې دې لږ سوچ اوکړې شی پس مناسبت دا کيدې شی چه مباشرت د حائض د خروج مذی سبب دې، او ترجمة الباب د مذی سره متعلق دې لهذا في الجملة مناسبت پيدا شو.

[٢١٢](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ بَكَّارٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ حَرَامِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، "أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَحِلُّ لِي مِنَ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ: لَكَ مَا فَوْقَ الْإِزَارِ"، وَذَكَرَ مُؤَاكَلَةَ الْحَائِضِ أَيْضًا، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: حرام بن حکيم د خپل تره نه روايت کوي چه بيشکه هغه تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه، چه کله زما ښځه حائضه وی نو دهغې څه څيز زما دپاره حلال دې؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: ستا دپاره د لنګ (پرتوګ) دپاسه حصه (نه خوند اخستل) جائز دی، او دې سره ئې د خوراک خوړلو هم ذکر اوکړو. بيا راوی (تيرشوې) پوره حديث بيان کړو.

[٢١٣](٢) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْيَزَنِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ سَعْدٍ الْأَغْطَشِ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَائِذٍ الْأَزْدِيِّ، قَالَ هِشَامٌ وَهُوَ ابْنُ قُرْطٍ أَمِيرُ حِمْصَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: "سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمَّا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ مِنِ امْرَأَتِهِ وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ: فَقَالَ: مَا فَوْقَ الْإِزَارِ، وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذَلِكَ أَفْضَلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ هُوَ يَعْنِي الْحَدِيثَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: د معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی: چه ما تپوس اوکړو د رسول الله

(١): سنن الترمذي/الطهارة ١٠٠ (١٣٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٠ (٦٥١)، (تحفة الأشراف: ٥٣٢٦) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٣٣٢) (ضعيف)

ﷺ نه په باره د هغه څه کښې چه روا وي د سړي لپاره د ښځې خپلې نه په حالت د حيض کښې؟ هغه وائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: د لنګ نه دپاسه او ځان ساتل د دېنه افضل دي. وئيلى دي ابوداود: نه دى دا ، يعني: حديث قوي.

تشريح: ﴿ قوله قَالَ هِشَامٌ وَهُوَ ابْنُ قُرْطٍ أَمِيرُ حِمْصَ ﴾ دا ضمير د عائذ طرف ته راجع دي يعنى د عائذ خوئي قرط ورانديې تلو سره په امير حمص کښې دواړه احتمالات کيدې شي چه د عبدالرحمن صفت وي او کيدې شي چه د عائذ وي.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيّ ﴾ ضمير هو د سعد اغطش طرف ته راجع دي کوم چه په سند کښې مذکور دې د مصنف‌ﷺ غرض ددې روايت تضعيف دې، او شارح ابن رسلان دا ضمير د حديث طرف ته واپس کړې دې يعنى دا حديث قوى نه دې او منشاء د نه قوى کيدو هم دا راوى سعد اغطش دې په معنى د اعمش.

بَابٌ فِي الْإِكْسَالِ

باب دې په بيان د اکسال کې (غسل نه کول په مجرد دخول بلا انزال)

د نواقض وضوء بيان ختم شو اوس مصنف‌ﷺ ددې خائې نه د موجبات غسل بيان شروع کوی، د اکسال معنى دا ده چه سړې د خپلې ښځې سره جماع اوکړی او انزال ئې اونشى او د بعض عوارضو په وجه باندې داسې کيږي هم اوس سوال دا دې چه دا جماع بغير د انزال نه سبب د غسل دې يا نه؟ جواب دا دې چه دا د جمهور علماء سلفا وخلفا او د ائمه اربعه په نزد موجب غسل دې، د داؤد ظاهرى‌ﷺ په نزد نه دې، اصل کښې په دې سلسله کښې دوه احاديث روايت شوې دى يو ﴿ إِذَا جَلَسَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغَسْلُ ﴾ دا روايت خو متفق عليه دې، د ابوهريره‌ﷺ او سيده عائشه‌ﷺ نه روايت دې، او دويم حديث دې ﴿ الماء من الماء ﴾ دا حديث په دې الفاظو خو په صحيح مسلم او ابوداؤد وغيره کښې دې خو د مضمون په اعتبار سره دا هم متفق عليه دې، پس په بخارى کښې د عثمان غنى‌ﷺ او ابى بن کعب‌ﷺ نه دا مضمون نقل دې خو په دې مسئله کښې امام بخارى‌ﷺ صرف حديث اول ﴿ اذا التقى الختانان الخ ﴾ سره استدلال کړې دې او دا بل حديث ئې د يوې بلې مسئلې د لاندې راوړې دې، په صحابه کرامو‌ﷺ کښې د انصارو يو جماعت د ﴿ الماء من الماء ﴾ د وجې نه په اکسال کښې د غسل قائل نه وو لکه ابوايوب او ابوسعيد الخدرى، زيد بن خالد ، ابى بن کعب‌ﷺ، خو د ابى بن کعب‌ﷺ نه رجوع ثابت ده او د مهاجرينو يو جماعت د غسل قائل وو د هغوى مخې ته د ﴿ اذا التقى الختانان الخ ﴾ حديث وو، يو ځل د سيدنا عمر‌ﷺ په مجلس کښې په دې مسئله باندې خبره کيدله، دې دواړو جماعتونو خپل مينځ کښې اختلاف کولو، په دې باندې عمر‌ﷺ اوفرمائيل ﴿ انتم اهل بدر الاخيار فكيف بمن بعدكم ﴾ تاسو مشران اهل بدر حضرات چه په دې مسئله کښې اختلاف کوئ نو د روستو خلقو به څه حال وى په دې باندې هغوى عرض اوکړو يا امير المومنين که تاسو ددې مسئلې صحيح تحقيق کول غواړئ نو د ازواج مطهراتو نه معلومه

کړئ، پس هغوی اول حفصه رضي الله عنها ته سړي اوليږلو خو هغې د لا علمئ اظهار اوکړو ددې نه پس ئې د عائشې رضي الله عنها په خدمت کښې قاصد اوليږلو نو هغې اوفرمائيل ﴿ اذا جاوز الختان الختان فقد وجب الغسل ﴾ پس عمر رضي الله عنه هم ددې مطابق فيصله اوفرمائيله ددې واقعې تخريج امام طحاوي رحمه الله په شرح معاني الاثار کښې کړې دې

ابن العربي رحمه الله فرمائي چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم ترمينځه په دې مسئله کښې اختلاف په شروع کښې وو د عمر رضي الله عنه د فيصلې نه پس په وجوب غسل باندې اجماع شوې وه خو په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله اشکال کړې وو چه په دې مسئله کښې اختلاف د صحابه کرامو رضي الله عنهم ترمينځه مشهور دې او ددې نه پس په تابعينو کښې هم وو، خو دا صحيح ده چه د جمهورو مسلک هميشه د ايجاب غسل پاتې شوې دې او هم هغه صحيح دې خو د حافظ په کلام باندې علامه عيني رحمه الله تعاقب کړې دې او د ابن العربي رحمه الله د کلام تائيد ئې کړې دې، بلکه دا چه ابن العربي فرمائي چه دا مسئله په اهم مسائلو کښې ده اګرچه په شروع کښې مختلف فيه وه خو روستو اجماع شوې وه سوا د داؤد ظاهري نه ﴿ ولا يعبا بخلافه ﴾ د هغوی د اختلاف موږ پرواه نه کوو بيا وړاندې هغوی فرمائي چه ګرانه معامله د امام بخاري رحمه الله ده چه هغه په اجل علماء مسلمين کښې دې او بيا هم هغوی په دې کښې صرف د استحباب غسل قائل دې

په دې مسئله کښې د امام بخاري رحمه الله ميلان:

خو خان پوهه کړه چه په دې مسئله کښې د امام بخاري رحمه الله په ميلان کښې شراح بخاري مختلف دې، اصل کښې په بخاري شريف کښې د امام بخاري رحمه الله الفاظ دا دې، قال ابوعبدالله الغسل احوط، په دې باندې د بعضو رائې خو دا ده چه د هغوی مراد په احتياط سره احتياط ايجابي دې يعنې غسل نه کول خلاف احتياط دې او وئيلې شوې دی چه د هغوی مراد د احتياط نه احتياط استحبابي دې د حضرت ګنګوهي رحمه الله او هم دغه شان د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده چه د هغوی مذهب په دې سلسله کښې د جمهورو موافق دې، احقر وائي چه د امام بخاري رحمه الله کلام ته په کتلو سره ښه معلوميږي چه هغه د وجوب غسل قائل دې، د ﴿ الماء من الماء ﴾ قائل نه دې، امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کښې فرمائي چه د امت دې وخت کښې اجماع ده په وجوب غسل باندې که انزال شوې وي او که نه وي شوې.

[٢١٣]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي بَعْضُ مَنْ أَرْضَى، أَنَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّمَا جُعِلَ ذَلِكَ رُخْصَةً لِلنَّاسِ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ لِقِلَّةِ الثِّيَابِ، ثُمَّ أَمَرَ بِالْغُسْلِ وَنَهَى عَنْ ذَلِكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي الْمَاءَ مِنَ الْمَاءِ.

[1]: سنن الترمذي/الطهارة ٨١ (١١٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١١ (٦٠٩)، (تحفة الأشراف: ٢٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الغسل ١٢ (٢٦٧)، صحيح مسلم/الحيض ٦ (٣٠٩)، سنن النسائي/الطهارة ١٧٠ (٢٦٤، ٢٦٥)، مسند احمد (٥/١١٥، ١١٦)، سنن الدارمي/الطهارة ٧٤ (٧٨٦) (صحيح)

ترجمه: ابي بن كعب خبر وركړى دى سهل بن سعد الساعدي ته چه بيشكه رسول الله وسلم وئيلي دى بيشكه كرخولى شوى دى دا رخصت دخلكو لپاره په اول د اسلام كښې د وجې د كموالي د جامو نه، بيا امر اوشو په غسل باندې او نهي اوشوه د دېنه وئيلى دې ابوداود: يعني اوبه د اوبو نه دي.

د حديث الماء من الماء توجيهات :

د جمهورو د طرف نه د ﴿ الماء من الماء ﴾ ډير جوابونه كړې شوي دى،

١: داچه دا حديث منسوخ دې لكه چه د ابى بن كعب رضي الله عنه حديث هم په دې باب كښې راروان دې.

٢: دا حديث محمول دې په مباشرت في غير الفرج باندې او په دې صورت كښې غسل د تولو په نزد په انزال باندې موقوف دې قاله ابن رسلان.

٣: الماء من الماء دې عام اوساتلې شى كه حقيقي وى او كه حكمي وى پس ايلاج ماء حكمى دې يعنى د انزال په حكم كښې دې دا جواب د حضرت گنگوهي رحمه الله د بعض تقاريرو نه ملاويږى.

۴: د ابن عباس رضي الله عنه توجيه كومه چه امام ترمذي رحمه الله هم ذكر كړې ده هغه دا چه دا حديث په احتلام باندې محمول دې، يعنى د جماع دوه قسمونه دى، يو جماع في اليقظة او يو جماع في المنام كوم ته چه احتلام وائى. په اول صورت كښې به په ﴿ اذا التقى الختان الختان ﴾ والا حديث باندې عمل وى او په دويم صورت كښې په ﴿ الماء من الماء ﴾ باندې، پس په احتلام كښې بغير د انزال نه بالاتفاق غسل نه واجب كيږى، دا يو لويه توجيه ده كومه چه امام نسائي رحمه الله هم اختيار كړې ده پس هغوى په دې حديث باندې باب قائم كړې دې باب الذى يحتلم ولا ير الماء.

خو په دې باندې يو قوى اشكال دې هغه دا چه دا توجيه د مسلم د روايت خلاف ده چه دهغې مضمون دا دې سيدنا ابوسعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى چه زه يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم سره قبا ته روان اوم په لاره كښې موثر محلي د بنو سالم ته اورسيدلو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته رسيدلو سره د عتبان بن مالك رضي الله عنه په دروازه باندې اودريدلو او ور ئې اوټكولو هغوى هغه وخت خپلې بيبى سره مشغول وو د رسول الله صلى الله عليه وسلم آواز اوريدلو سره هم په دې حال كښې زر حاضر شو او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ملاقات نه پس هغوى د مسئلې تپوس اوكړو چه كه يو سړى د خپلې بيبى سره صحبت كوى او انزال ئې نه وى شوې نو آيا په هغه باندې غسل واجب دې، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې موقع باندې اوفرمائيل ﴿ الماء من الماء ﴾ ظاهره ده چه هغوى د جماع في اليقظة په باره كښې تپوس كړې وو خو بيا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ﴿ الماء من الماء ﴾ لهذا دې حديث لره په احتلام باندې حمل كول صحيح نه دى. ددې جواب دا وركړې شوې دې چه د ابن عباس رضي الله عنه مراد دا نه دې چه دا حديث د شروع نه په احتلام باندې محمول دې بلكه مطلب دا دې چه په دې مسئلې كښې دوه نسخې واقع كيدو نه پس اوس دا حكم صرف په احتلام كښې باقى پاتې شوې دې

﴿ قوله إِنَّمَا جَعَلَ ذَلِكَ رُخْصَةً لِلنَّاسِ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ لِقِلَّةِ الثِّيَابِ ﴾ يعنى په ابتداء د

اسلام کښې د خلقو د سهولت دپاره د جامو د کمی د وجې نه د ﴿ الماء من الماء ﴾ حکم ورکړې شو ددې جملې په شرح کښې د شارحينو دوه اقوال دی يو دا چه د بار بار غسل کولو په صورت کښې چه کله په يو کپړه کښې د بدن لوند والې بار بار اولګی نو هغه جامه به زر کمزورې او زړه شی، دويم قول کوم چه ابن رسلان ليکلې دې چه د جامو د کمی وجې نه زوجين چه کله شپه په يو بستره او خادر کښې تيره کړی نو په دې کښې به د مقاربت او مصاحبت نوبت زيات راځی چه په هغې کښې به کله انزال وی او کله به نه وی نو ددې مجبورئ د وجې نه بغير د انزال نه د ترک غسل د رخصت او اجازت ورکړې شوې وو

او په يو نسخه کښې په ځائې د ثياب لفظ ثبات دې چه دهغې نه مراد کلک والې دې يعنی د اسلام په شروع کښې د ثبات فی الدين د کمی او کمزورې د وجې نه دا سهولت ورکړې شوې وو، اوګورئ حضرات شراح حديث د حديث د شرح حق ادا کړو. فجزاهم الله احسن الجزاء..

[۲۱۵]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِهْرَانَ الْبَزَّازُ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا مُبَشِّرٌ الْحَلَبِيُّ، عَنْ مُحَمَّدٍ أَبِي غَسَّانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، "أَنَّ الْفُتْيَا الَّتِي كَانُوا يَفْتُونَ أَنَّ الْمَاءَ مِنَ الْمَاءِ كَانَتْ رُخْصَةً رَخَّصَهَا رَسُولُ اللَّهِ فِي بَدْءِ الْإِسْلَامِ، ثُمَّ أَمَرَ بِالِاغْتِسَالِ بَعْدُ".

ترجمه: د سهل بن سعد نه روايت دې چه ماته حديث بيان کړی دی أبي بن کعب بيشکه فتوي هغه چه وو هغوی چه فتوي ئې ورکولې چه اوبه د اوبو نه دې. وو دا رخصت چه رخصت ورکړی وو رسول الله ﷺ په شروع د اسلام کښې، بيا ئې حکم اوکړو په غسل کولو باندې

[۲۱۶]([2]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْفَرَاهِيدِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، وَشُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَعَدَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ وَأَلْزَقَ الْخِتَانَ بِالْخِتَانِ، فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ اووئيل کله چه کينې سړی په څلورو څانګونود ښځې کښې، او يوځائې کړی ختان سره نو په تحقيق سره غسل واجب شو

[۲۱۷]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ"، وَكَانَ أَبُو سَلَمَةَ يَفْعَلُ ذَلِكَ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضی الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ وئيلی دی اوبه د

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۷) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الغسل ۲۸ (۲۹۱)، صحيح مسلم/الطهارة ۲۲ (۳۴۸)، سنن النسائي/الطهارة ۱۲۹ (۱۹۱)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۱۱ (۶۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۴۶۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳۴، ۲۴۷، ۳۹۳، ۴۷۱، ۵۲۰)، سنن الدارمي/الطهارة ۷۵ (۷۸۸) (صحيح)

[3]: صحيح مسلم/الطهارة ۲۱ (۳۴۳)، (تحفة الأشراف: ۴۴۲۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۲۹، ۳۶، ۴۷) (صحيح)

اوبو نه دي. او وو ابو سلمه به هم داسي کول.

تشريح: ﴿ قوله وَأَلْزَقَ الْخِتَانُ بِالْخِتَانِ ﴾ د ختان نه مراد موضع دَختان دي ځکه چه د ختان معنی خو د ختني ده، د ختان استعمال د سړو او د ښځو دواړو په حق کښي وی لکه چه په حديث کښي ذکر دي بالمقابل دويم لفظ خفاض دي ددي استعمال د زنانه سره خاص دي، د زنانه د شرمګاه دپاسه د خرمني يو ټکړه وی ﴿ عرف الديک ﴾ د چرګ د چارخولک په شان هغه قطع کولي شی، په عربو کښي ددي دستور وو اګرچه په هندوستان کښي دا رواج نشته شارحينو ليکلي دی چه ﴿ الزق الختان بالختان ﴾ کنايه ده د ايلاج حشفه نه ځکه چه اول خو د جماع په وخت کښي د ختانين تماس نه وی ځکه چه د زنانه د عورت محل ختان د فرج دپاسه وی دويم دا چه صرف د التقاء ختانين نه د جماع او دخول تحقق نه وی. پس د ابن ماجه په روايت کښي دی ﴿ اذا التقى الختانان وتوارت الحشفة فقد وجب الغسل ﴾ بهر حال بغير د غيبوبة حشفه نه نه د جماع تحقق کيږي او نه غسل واجب کيږي بالاتفاق.[1]

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يَعُودُ

باب دي په بيان د جنب کي چي واپس کيږي جماع ته

يعنی که د يو ځل جماع کولو نه پس عود الى الجماع کوی نو په مينځ کښي غسل کول ضروری دی يا نه؟ جواب دا دي چه بالاتفاق ضروری نه دی، زيات نه زيات اولی دی، خو په مينځ کښي اودس کول لکه چه په بل باب کښي راځي دا مختلف فيه مسئله ده، د جمهور علماء ائمه اربعه په نزد اودس په متعدد يعنی اودس بين الجماعين مستحب دي، د داؤد ظاهري رحمه الله او ابن حبيب مالکي رحمه الله په نزد واجب دي او د امام ابويوسف رحمه الله نه عدم استحباب منقول دي، هغوی نه په دي سلسله کښي چه کوم امر وارد شوي دي هغه ئي په اباحت باندي محمول کړي دي ځکه چه اودس د عبادت دپاره مشروع دي نه د قضاء شهوت دپاره خو د هغوی دا تعليل د حديث خلاف دي.

[٢١٨]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ فِي غُسْلٍ وَاحِدٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهَكَذَا رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَمَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، وَصَالِحُ بْنُ أَبِي الْأَخْضَرِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، كُلُّهُمْ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دي، بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم طواف اوکړو يوه ورځ په ټولو بيبيانو په يو غسل سره. وئيلی دي ابوداود: او همداسي روايت کړی دی هشام بن زيد د انس نه، او معمر د قتاده نه او هغه د انس نه، او صالح بن ابي الاَخضر د زهري نه، ټولو د

---

[1] قال النووي في شرح مسلم قال اصحابنا لو غيب الحشفة في دبر امرأة او دبر رجل او فرج بهيمة او دبرها وجب الغسل الي آخر ما ذكر.

[2]: سنن النسائي/الطهارة ١٧٠ (١٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٠٣، ٥٦٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الغسل ١٢ (٢٦٨)، ١٧ (٢٧٥)، والنكاح ٤ (٥٠٦٨)، ١٠٢ (٥٢١٥)، صحيح مسلم/الطهارة ٦ (٣٠٩)، سنن الترمذي/الطهارة ١٠٦ (١٤٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠١ (١٤٠)، مسند احمد (٢٢٥/٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٧١ (٧٨٠) (صحيح)

انس نه، او هغه د نبي ﷺ نه

تشریح: ﴿قوله عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم- طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ فِي غُسْلٍ وَاحِدٍ﴾ يعنې يو ځل رسول الله ﷺ ټولو ازواج مطهرات سره ملاؤ شو او هرې يوې سره ئې مقاربت اوفرمائيلو او په آخر کښې ئې صرف په يو غسل باندې اکتفاء اوفرمائيله او په بعض رواياتو کښې دی ﴿وهن تسع﴾ چه هغه نهه وې، هسې خو ازواج مطهرات د يو قول په بناء باندې يولس او د بل قول په بناء باندې دولس وې، خو د مشهور قول په بناء باندې د نهو نه د زياتو اجتماع ثابت نه ده

د ازواج مطهرات اسماء گرامي:

د ازواج مطهرات اسماء گرامي په اعتبار د ترتيب نكاح دا دي

١: خديجه، ٢: سودة بنت زمعه، ٣: عائشة،
٤: حفصه، ٥: زينب بنت خزيمة، ٦: ام سلمة،
٧: زينب بنت جحش، ٨: جويريه بنت الحارث، ٩: ام حبيبة بنت ابى سفيان،
١٠: ميمونة بنت زمعة، ١١: صفيه بنت حيي بن اخطب ﷺ

دا ټولې يولس شوې چه د هغوی نه د رسول الله ﷺ استمتاع ثابت ده. او بعض علماء کرامو ريحانة بنت عمرو يا بنت زيد هم په ازواج کښې شمار کړې ده، او دويم قول دا دی چه دا په ازواج کښې نه ده بلکه د رسول الله ﷺ وينځه وه، پس دوه وينځې د رسول الله ﷺ مشهورې دی يو ماريه قبطيه او دويمه ريحانة، په دې يولسو بيبيانو کښې دوه يعنې خديجة او زينب بنت خزيمة د رسول الله ﷺ په ژوند کښې وفات شوې وې او باقي نهه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت موجود وې، د دوی نه علاوه هم بعض نورې زنانه دی چه د هغوی سره ئې عقد شوی دې خو د دخول نوبت نه وو راغلې بلکه د بعض وجوه نه مخکښې د رخصت کيدو نه بيلتون راغلو چه په هغوی کښې د بعضو واقعه او ذکر د صحاح په بعض کتابونو کښې راخې

فائده: د صحيح بخاری په روايت کښې دی چه سيدنا انس ﷺ نه دهغوی شاگرد تپوس اوکړو چه ﴿او کان يطيق ذلک﴾ يعنې آيا رسول الله ﷺ دومره طاقت لرلو چه په يوه شپه کښې ئې ټولو سره مقاربت اوفرمائيلو نو هغوی جواب ورکړو ﴿کنا نتحدث انه اعطی قوة ثلاثين رجلا﴾ يعنې رسول الله ﷺ نه د ديرشو سړو برابر طاقت ورکړې شوې وو، او په معارف السنن کښې د علامه عيني نه نقل کړی دی چه په صحيح اسماعيلي کښې دی سيدنا معاذ بن جبل ﷺ فرمائي ﴿اعطی قوة اربعين رجلا﴾ او په کتاب الحلية لابی نعيم کښې دی مجاهد ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ نه د جنتي سړو نه د څلوېښتو سړو زور ورکړې شوې وو، او په مسند احمد او ترمذی کښې د زيد بن ارقم او انس ﷺ نه مرفوعا نقل دی چه په رجال جنت کښې به هر سړی ته د سلو سړو زور ورکولې شي، او څاليس ته په سلو کښې ضرب ورکولو سره څلور زره جوړيږي گويا رسول الله ﷺ ته د څلورو زرو کسانو طاقت ورکړې شوې وو

په حديث الباب باندې دا اشکال چه اقل قسمة يو شپه ده او د هغې جوابات:

خان پوهه کړه چه دلته يو فقهي اشکال دې چه اقل قسمة يو شپه ده نو بيا په يو شپه کښې رسول اللهﷺ هرې يوې بيبۍ ته څنګه اورسيدل، جواب دا دې چه اول خو دا مسئله مختلف فيه ده چه په رسول اللهﷺ باندې قسم يعنې عدل بين الزوجات واجب وو يا نه که واجب نه وو نو بيا خو هيڅ اشکال نشته او که واجب وو نو بيا مختلف جوابونه کړې شوې دي، ١: ملا علي قاريؒ فرمائي ﴿ کان ذلک برضاهن ﴾ يعنې د صاحبة النوبة (د چا نمبر چه وو) دهغې په رضا باندې به رسول اللهﷺ دا کار کولو. ٢: حافظ ابن عبد البرؒ فرمائي چه ﴿کان ذلک عند قدومه من سفر ﴾ يعنې د يو سفر نه په واپسئ باندې د نمبر شروع کولو نه مخکښې رسول اللهﷺ داسې اوکړل، د يوې زوجې محترمې په نمبر کښې رسول اللهﷺ ټولو سره نه دي ملاؤ شوي ٣: ابن العربي فرمائي چه الله پاک رسول اللهﷺ ته په شپه او ورځ کښې يو ساعت داسې ورکړې وو چه په هغې کښې د يوې بيبۍ حق هم نه وو بلکه په هغې کښې رسول اللهﷺ ته اختيار وو چه چاته غواړي تلې شي او د مسلم شريف د روايت نه معلوميږي چه دا وخت د مازيګر نه پس وو او که په دې کښې به موقع نه ملاويده نو پس د ماښام نه، ٤: وئيلې شوې دي چه دا واقعه د سفر حجة الوداع ده په پس ټول ازواج مطهرات په دې سفر کښې هغوي سره شريکې وې، رسول اللهﷺ د ماسپخين د مونځ کولو نه پس د مدينې منورې نه روان شو او د مازيګر مونځ ئې په ذوالحليفه کښې تلو سره ادا اوفرمائيلو کوم چه د اهل مدينه ميقات دې او هلته ئې يو شپه قيام اوفرمائيلو په بله ورځ باندې د احرام تړلو نه پس د هغه ځائې نه روان شو نو په دې شپه باندې رسول اللهﷺ د ټولو ازواج مطهراتو سره مجامعت اوفرمائيلو او د سحر د مانځه نه مخکښې ئې غسل جنابت اوفرمائيلو لکه چه په جزء حجة الوداع کښې په حواله د کتابونو حضرت شيخ ليکلي دي، د جواب حاصل دا شو چه دا واقعه د سفر ده په دې کښې قسم بين الزوجات واجب نه دې، مولانا انور شاه صاحبؒ هم دا رائې لري لکه چه په عرف الشذی کښې دي.

د دې حديث نه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ غسل بين الجماعين نه دې فرمائيلې اوس پاتې شوه دا خبره چه په مينځ کښې ئې اودس هم فرمائيلې يا نه دواړه احتمالات کيدې شي چه اودس ئې فرمائيلې وی او دا هم ممکن ده چه ترک کړې ئې وی د بيان جواز دپاره.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَهَكَذَا رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ زَيْدٍ الخ ﴾ مصنفؒ د مذکوره حديث د تقويت دپاره ددې څو طرق نور هم ذکر فرمائيلې دی، په متن کښې چه کوم روايت ذکر شوې دې هغې لره روايت کونکې د انسؓ نه حميد طويلؒ دې چونکه دا ټول طرق مصنفؒ په پوره سند سره نه دی بيان کړې په دې وجه دې ته به تعليقات وئيلې شی، اوس دا چه دا روايات موصولا په کوم کتاب کښې دی، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه د هشام روايت په مسلم کښې او د قتادة او د زهری روايت په ابن ماجه کښې موجود دې.

....

بَابُ الْوُضُوءِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ

باب دې په بيان د اودس کې د هغه چا لپاره چې اراده د واپسی لري

په دې مسئله باندې کلام تېر شوی باب کښې راغلو

[۲۱۹] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَمَّتِهِ سَلْمَى، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ يَغْتَسِلُ عِنْدَ هَذِهِ وَعِنْدَ هَذِهِ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَلَا تَجْعَلُهُ غُسْلًا وَاحِدًا؟ قَالَ: هَذَا أَزْكَى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ أَنَسٍ أَصَحُّ مِنْ هَذَا.

ترجمه: د ابو رافع نه روايت دې چه بيشکه نبي ﷺ طواف اوکړو يوه ورځ په خپلو بيبيانو باندې، چه غسل به ئې کولو ددې سره او ددې سره. هغه وائي چه ما اووئيل هغه ته اې د الله رسوله! يوځل غسل ولې نه کوئې، هغه اووئيل دا ډير پاکونکې او اطيب او اطهر دې وئيلې دې ابوداود او حديث انس ډير اصح دې ددې نه

د بابين په دوه مختلفو احاديثو کښې د مصنف رحمه الله رائې

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَحَدِيثُ أَنَسٍ أَصَحُّ مِنْ هَذَا ﴾ ددې نه مخکښې باب کښې مصنف رحمه الله د سيدنا انس رضي الله عنه حديث ذکر فرمائيلې وو چه په هغې کښې صرف يو ځل غسل فرمائيل مذکور وو او په دې باب کښې ئې د ابورافع رضي الله عنه حديث ذکر اوفرمائيلو چه په دی کښې تعدد غسل مذکور دې چه د هرې يوې زوجې سره رسول الله ﷺ غسل اوفرمائيلو ﴿ هَذَا أَزْكَى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ ﴾ يعنې دا تعدد غسل زيات ثواب والا دې او په دې کښې د ظاهر او باطن طهارت هم زيات دې.

دلته يو اشکال دا کيږي چه ابورافع رضي الله عنه ته ددې خاص واقعې او هرې يوې زوجې سره د غسل کولو خبر څنګه اوشو؟ جواب ښکاره دې چه ابورافع رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خادمانو او غلامانو کښې دې، څوک پردې سړې نه دې کيدې شی چه هم هغوی ورته د غسل اوبه برابرولې. اوس دا د رسول الله ﷺ دوه مختلف طرزونه دی کوم چه ددې دوه بابونو په دوه مختلف احاديثو کښې ذکر شوې دی د اکثر حضرات شارحينو رائې خو دا ده چه د دی خپل مينځ کښې هيڅ تعارض نشته په يو وخت کښې رسول الله ﷺ داسې اوکړل، او په بل وخت کښې داسې، که د يوې واقعې سره دا احاديث متعلق وې نو بيا خو بيشکه تعارض وو، بهر حال صحيح خبره خو دا ده خو مصنف علام رحمه الله په دې دواړو احاديثو کښې په ظاهره تعارض ګڼړې او د دفع تعارض دپاره فرمائې چه ﴿ وحديث انس اصح من هذا ﴾ يعنې په اول باب کښې چه کوم د انس رضي الله عنه حديث تير شوې دې هغه ددې حديث ثانی په مقابله کښې ډير صحيح دې، لهذا دا دويم حديث مرجوح او اول حديث راجح شو باقی دې دويم حديث ته مصنف رحمه الله ضعيف نه وائي بلکه صرف د اصحيت نفی فرمائې لهذا دا سوال پيدا کيدل نه دی پکار چه ولې ضعيف دې او هم ددې خبرې د وجې نه مصنف رحمه الله د اول باب د حديث د

(۱): سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۰۲ (۵۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۳۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸/۶، ۹، ۳۹۱) (حسن)

متعدد طرق طرف ته اشاره فرمائيلو سره هغه موکد کړې دي

[۲۲۰]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ، ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يُعَاوِدَ، فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوءًا".

ترجمه: د ابو سعيد الخدري نه روايت دی چې نبي ﷺ فرمائيلي دی کله چه راشي يو کس ستاسو نه خپل اهل ته، بيا ورته ښکاره شوه چه بيا واپس شي، نو اودس دې اوکړي په مينځ د دواړو کښې په اودس کولو سره

تشريح: ﴿ قوله فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوءًا ﴾ په دې حديث کښې د وضوء بين الجماعين امر دې کوم چه د ظاهريه او ابن حبيب مالکیؒ په نزد د وجوب دپاره دې او د جمهورو په نزد د استحباب دپاره دې چه دهغې قرينه دا ده چه د حاکم په روايت کښې دی ﴿ فانه انشط للعود ﴾ چه دهغې نه معلوميږی چه په دې کښې هيڅ شرعی مصلحت نشته بلکه د سړی د خپل ذاتی او طبعی مصلحت دپاره دې گويا دا امر امر ارشادی شو

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يَنَامُ

باب دې په بيان د جنب کې چې اوده کيږي

د جنبی دپاره اودس کول د خوب نه مخکښې د جمهور علماء ائمه اربعه په نزد مستحب دي د داؤد ظاهري او ابن حبيب مالکیؒ په نزد واجب دي

[۲۲۱]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ، ثُمَّ نَمْ".

ترجمه: د عبد الله بن عمر نه روايت دې بيشکه هغه وئيلی دی ذکر کړو عمر بن الخطاب رسول الله ﷺ ته چه هغه ته رسيږي جنابت دشپې، نو اووئيل هغه ته رسول الله ﷺ اودس اوکړه او خپل ذکر اووينځه، بيا اوده شه

تشريح: ﴿ قوله أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ ﴾ د شارحينو ترمينځه په دې کښې اختلاف دې چه د ﴿ انه ﴾ ضمير چاته راجع دي، مقصود ددې دا دې چه د نسائي په سنن کبری کښې دا روايت لږ په تفصيل سره راغلې دې چه په هغې کښې داسې دی چه يو ځل ابن عمرؓ ته د شپې جنابت پيښ شو نو هغوی خپل پلار عمرؓ ته راغلل او هغوی ته ئې ددې ذکر اوکړو او په دې باندې عمرؓ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضريدلو سره د مسئلې تپوس اوکړو

[1]: صحيح مسلم/الطهارة ٦ (٣٠٨)، سنن الترمذي/الطهارة ١٠٧ (١٤١)، سنن النسائي/الطهارة ١٦٩ (٢٦٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠٠ (٥٨٧)، (تحفة الأشراف: ٤٢٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧/٣، ٢١، ٢٨) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الغسل ٢٧ (٢٩٠)، صحيح مسلم/الطهارة ٦ (٣٠٦)، سنن النسائي/الطهارة ١٦٧، (٢٦١)، (تحفة الأشراف: ٧٢٢٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ٩٩ (٥٨٥)، موطا امام مالك/الطهارة ١٩(٧٦)، مسند احمد (٦٤/٢)، سنن الدارمي/الطهارة ٧٣ (٧٨٣) (صحيح)

ددې روايت تقاضا دا ده چه ضمير د ابن عمر رضی الله عنه طرف ته راجع کيدل پکار دی اګرچه د ابوداؤد د روايت د ظاهر تقاضه دا ده چه ضمير دې د عمر رضی الله عنه طرف ته راجع وی، پس حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په شروع کښې د بذل په مسوده کښې ضمير عمر رضی الله عنه ته راجع کړې وو پس هم دهغې مطابق کتابت هم شوې وو. او حضرت شيخ د کتابت کړې شوې کاپيانو د طباعت دپاره روان وو، د زرقانی شرح د موطا د حضرت شيخ سره وه په ريل کښې ناست حضرت دهغې مطالعه کوله اتفاق سره هم دا حديث ئې د نظر نه تير شو په هغې کښې علامه زرقانی رحمه الله ضمير د ابن عمر رضی الله عنه طرف ته راجع کړې وو نو حضرت شيخ فورا هم هغه وخت د حضرت سهارنپوری رحمه الله په نوم باندې يو خط اوليکلو او دا خبره ئې ترې نه اوتپوسله چه که د حضرت رائې وی نو د ضمير مرجع بدله کړې شي، د عمر په ځائې ابن عمر کړې شی، د حضرت جواب راورسيدلو مناسب ده چه د عمر په ځائې ابن عمر کړې شی، حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل چه د حضرت سهارنپوری رحمه الله جواب هغه وخت راورسيدلو چه کله کاپی په پليټ باندې پرته وه د حضرت جواب ليکلو سره ما په پليټ باندې اصلاح کولو سره په ځائې د عمر ابن عمر اوليکلو

بهر حال احقر وائی چه د ابوداؤد ددې حديث د وجې نه که ضمير د عمر طرف ته راجع کړې شی نو په دې کښې هم څه باک نشته ځکه چه ددې روايت ظاهر الفاظ هم دغه تقاضا کوی او که د نسائی روايت مخې ته کيخودلې شی او ضمير د ابن عمر رضی الله عنه طرف ته راجع کړې شی نو بيا هم صحيح ده ځکه چه مشهوره ده چه روايت مفصله قاضی وی په روايت مجمله باندې يعنی فيصله د روايت مفصله مطابق وی او د صاحب منهل ميلان د تعدد واقعه طرف ته دې او دا چه د ابوداؤد په روايت کښې د ضمير مرجع عمر اومنلې شی کيدې شی چه عمر رضی الله عنه يو ځل د ځان دپاره او يو ځل د خپل ځوئی دپاره تپوس کړې وی، خو زه وايم چه تعدد خلاف اصل دې او نه د يوې مسئلې دوباره د تپوسلو حاجت شته، او په روايت کښې چه کوم لفظ ﴿ تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ﴾ په صيغه د خطاب سره مذکور دی ددې مخاطب هم ابن عمر رضی الله عنه کيدې شی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رضی الله عنه ته داسې وئيلې وی چه لاړ شه او خپل ځوئی ته داسې اوايه.

په دې حديث کښې چه د وضوء قبل النوم کوم امر کړې شوې دې هغه د جمهورو په نزد د استحباب دپاره دې، په دويم روايت سره کوم حضرت په بذل کښې ذکر کړې دې عدم وجوب ثابتيږی.

باب الْجُنُبِ يَأْكُلُ

باب دې په بيان د جنب کښ چې خوراک کوي

د جنبی دپاره د اکل او شرب نه مخکښې اودس کول بالاجماع واجب نه دی بلکه صرف اولی دی د بعض رواياتو نه معلوميږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خوراک ځکاک نه مخکښې اودس فرمائيلو لکه چه د راروان باب په حديث کښې راځی او د بعض نه معلوميږی چه په حديث الباب کښې دی چه صرف غسل يدين به ئې فرمائيلو، ملا علی

قاري رحمه الله فرمائي چه کوم ځائې کښې وضوء لفظ راغلې دې هلته هم د وضوء نه مراد وضوء لغوي يعني غسل يدين دې، حضرت سهارنپوري رحمه الله فرمائي چه د صحيحين په يو روايت کښې دی ﴿ توضاء وضوءه للصلوة ﴾ چه دهغې نه معلوميږي چه وضوء شرعي مراد دی بيا وراندې حضرت ليکلي دی چه کيدې شی دا اختلاف په اختلاف د اوقاتو باندې محمول وی چه کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم غسل يدين فرمائيلو او کله شرعي اودس.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت :

خان پوهه کړه چه ددې باب د رومبی حديث د ترجمة الباب سره مناسبت نشته ځکه چه په دې کښې وضوء عند الاکل ذکر نه ده نه نفيا او نه اثباتا. جواب دا دې چه ددې باب اول او دويم حديث يو دې دا دواړه مستقل احاديث نه دی او په حديث ثاني کښې راځي ﴿ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ وَهُوَ جُنُبٌ غَسَلَ يَدَيْهِ ﴾ لهذا په حديث ثاني کښې چه کوم زيادت راغلي دې دهغې په وجه باندې حديث د ترجمة الباب سره مطابق شو.

[۲۲۲]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَهُوَ جُنُبٌ، تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه بيشکه نبي صلى الله عليه وسلم وو چه کله به ئې اراده وه چه اوده شي او هغه به جنب وو نو اودس به ئې اوکړو پشان د اودس د مانځه.

[۲۲۳]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، زَادَ: وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ وَهُوَ جُنُبٌ، غَسَلَ يَدَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، فَجَعَلَ قِصَّةَ الْأَكْلِ قَوْلَ عَائِشَةَ مَقْصُورًا، وَرَوَاهُ صَالِحُ بْنُ أَبِي الْأَخْضَرِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، كَمَا قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ، إِلَّا أَنَّهُ، قَالَ: عَنْ عُرْوَةَ، أَوْ أَبِي سَلَمَةَ، وَرَوَاهُ الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَمَا قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ.

ترجمه: د زهري نه روايت په مخکښې اسناد او معنى سره، هغه دا زياته کړې ده. او چه کله به ئې اراده اوکړه چه خوراک اوکړي او هغه به جنب وو نو لاسونه به ئې وينځل. وئيلى دي ابوداود: او روايت کړې دی ابن وهب د يونس نه نو هغه به ګرځوله قصه د اکل قول د عائشې ، او روايت کړې دهغې صالح بن ابي الاخضر د زهري نه لکه څرنګه چه وئيلى دي ابن المبارک، مګر داچه هغه وئيلى دي: دعروه نه اويا د ابي سلمة نه، او روايت کړې دی اوزاعي ديونس نه اوهغه د زهري نه، اوهغه دنبي صلى الله عليه وسلم نه لکه څرنګه چه وئيلى دي ابن المبارک.

تشريح: ۲: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ الخ ﴾ د زاد ضمير د يونس طرف ته راجع دې په اول سند کښې د زهری شاګرد سفيان وو او په دې کښې يونس دې، مطلب دا دې چه دا حديث چه کله زهری د سفيان نه نقل کړو نو هغوی صرف وضوء عند النوم ذکر

---

[1]: صحيح مسلم/الطهارة ٦ (۳۰۵)، سنن النسائي/الطهارة ١٦٤ (۲٥٦)، ١٦٥ (۲٥۷)، ١٦٦ (۲٥۸)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۹۹ (٥٨٤)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷٦۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الغسل ٢٥ (٢٨٦)، مسند احمد (٨٥/٦)، سنن الدارمي/الطهارة ٧٣ (٧٨٤) (صحيح)

[2]: انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۷٦۹) (صحيح)

کړو او یونس چه کله دا د هغوی نه نقل کړو نو هغوی اکل هم ذکر کړو چه رسول الله ﷺ به د خوراک نه مخکښې صرف غسل یدین فرمائیلو.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ فَجَعَلَ قِصَّةَ الأَكْلِ قَوْلَ عَائِشَةَ مَقْصُورًا ﴾ ددې خائې نه مصنف رحمه الله د یونس د شاګردانو اختلاف بیانوی، د یونس شاګرد په اول سند کښې ابن المبارک وو او په دویم سند کښې ابن وهب دې ددې دواړو په روایت کښې فرق دا دې چه ابن المبارک د یونس نه مسئله د اکل او نوم دواړه مرفوعا روایت کړه او ابن وهب مسئله د نوم خو مرفوعا ذکر کړه او مسئله د اکل ئې موقوفا په عائشې رضی الله عنها باندې ذکر کړه او ددې کلام شرح حضرت په بذل کښې او صاحب منهل هم دغه شان کړې ده او صاحب د عون المعبود ددې مطلب دا لیکلې دې چه ابن وهب صرف قصه د اکل ذکر کړې ده او قصه د نوم ئې بالکل ذکر کړې نه ده په ظاهر کښې اول مطلب صحیح دې.

﴿ وَرَوَاهُ صَالِحُ بْنُ أَبِي الأَخْضَرِ ﴾ په دې سره د ابن المبارک د روایت تائید مقصود دې لکه چه دا خبره ښکاره ده ﴿ وَرَوَاهُ الأَوْزَاعِيُّ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم﴾ ددې مطلب دا مه ګنړئ چه زهری براه راست د رسول الله ﷺ نه روایت کوی، بلکه مطلب دا دې چه دا روایت په خپل سند سره د رسول الله ﷺ نه روایت کوی، د مصنف رحمه الله غرض په دې سره هم د ابن المبارک رحمه الله تائید دې.

بَابُ مَنْ قَالَ يَتَوَضَّأُ الْجُنُبُ

باب دې په بیان د هغه چا کښې چې وائې اودس به کوی جنب

د ترجمة الباب غرض

خان پوهه کړه چه دا د یوې سلسلې درې ابواب دی چه په هغې کښې دا دریم دې، مصنف رحمه الله د باب اول او دی په حدیث سره وضوء الجنب عند النوم ثابت کړې دی، ددې نه پس ئې دوه بابونه د وضوء عند الاکل سره متعلق دی، چه په هغې کښې اول سره مصنف رحمه الله دا ثابت کړې ده چه رسول الله ﷺ عند الاکل په غسل یدین باندې اکتفاء اوفرمائیله او ددې دویم باب نه ثابتوی چه د رسول الله ﷺ نه د جنابت په حالت کښې د خوراک په وخت اودس کول هم ثابت دی چه ددې باب د حدیث نه معلومیږی د بذل د عبارت نه مستفاد کیږی چه مصنف رحمه الله په دې دریم باب سره وضوء الجنب عند النوم والاکل دواړه ثابت کړی دی، ددې باب په حدیث کښې خو دواړه اجزاء ذکر شوې دی خو زما په نزد د مصنف رحمه الله غرض صرف د اکل سره متعلق دې ځکه چه وضوء عند النوم خو مصنف رحمه الله مخکښې ثابت کړې دې، زما د خبرې تائید ددې نه هم کیږی چه په دې باب کښې مصنف رحمه الله د حدیث ذکر کولو نه پس چه د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم کوم اقوال بیان کړی دی هغه هم د وضوء عند الاکل سره متعلق دی.

[٢٢٤](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ، تَوَضَّأَ تَعْنِي وَهُوَ جُنُبٌ".

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ وو چه كله به ئې اراده اوكړه چه خوراک اوكړي او يا اوده شي نو اودس به ئې اوكړي چه هغه به جنب وو.

[٢٢٥](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِلْجُنُبِ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ نَامَ أَنْ يَتَوَضَّأَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: بَيْنَ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ وَعَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ رَجُلٌ، وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَابْنُ عُمَرَ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو: الْجُنُبُ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ، تَوَضَّأَ.

ترجمه: د عمار بن ياسر نه روايت دي بيشكه نبي ﷺ رخصت وركړى دى جنب ته چه كله خوراک كوي او يا څكل كوي او يا اوده كېږي چه آودس اوكړي. وئيلى دي ابوداود: په مابين د يحيى بن يعمر او عمار بن ياسر كښې يو سړى دى. او وئيلى دي علي بن ابي طالب او ابن عمر او عبد الله بن عمرو: جنب چه كله اراده اوكړي چه خوراک اوكړي نو اودس دي كوي.

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يُؤَخِّرُ الْغُسْلَ

باب دې په بيان د جنب كې چې وروسته كوي غسل

يعنى دا ضروري نه ده چه كه يو سړي ته د شپې په شروع كښې جنابت اورسى نو هغه دي هم په دې حالت كښې غسل اوكړي بلكه كه د شپې په آخره كښې غسل اوكړي نو هم څه باک نشته.

[٢٢٦](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا بُرْدُ بْنُ سِنَانٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: "أَرَأَيْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ، أَوْ فِي آخِرِهِ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي آخِرِهِ، قُلْتُ: اللهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، قُلْتُ: أَرَأَيْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ، أَمْ فِي آخِرِهِ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا أَوْتَرَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَرُبَّمَا أَوْتَرَ فِي آخِرِهِ، قُلْتُ: اللهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، قُلْتُ: أَرَأَيْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْهَرُ بِالْقُرْآنِ، أَمْ يَخْفُتُ بِهِ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا جَهَرَ بِهِ، وَرُبَّمَا خَفَتَ، قُلْتُ: اللهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً".

ترجمه: غضيف بن الحارث نه روايت دي. هغه وائي ما اووئيل عائشې ته. خبر راكړه ماته چه رسول الله ﷺ به غسل د جنابت په اول د شپه كښې كوه او كه په اخير كښې؟ هغې اووئيل: كله به ئې غسل كولو په اول د شپه كښې، او كله به ئې غسل كولو په اخير كښې، ما اووئيل: الله لوى دى، تعريفونه دي هغه ذات لره (شكردي) چه په كار كښې ئې وسعت

(١): صحيح مسلم/الطهارة ٦(٣٠٥)، سنن النسائي/الطهارة ١٦٣ (٢٥٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠٣ (٥٩١)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٦/٦، ١٩١، ١٩٢) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الجمعة ٧٨(٦١٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٠/٤) (ضعيف)

(٣): سنن النسائي/الطهارة ١٤١ (٢٢٣)، والغسل ٦ (٤٠٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٧٩ (١٣٥٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٢٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ٦ (٣٠٧) (صحيح)

پیدا کړي دي، ما اووئیل: چه خبر راکړه ماته د رسول الله ﷺ په باره کښې چه هغه به وتر په اول د شپه کښې کول او که په اخیر کښې؟ هغې اووئیل: کله به ئې وتر کول په اول د شپه کښې او کله به ئې وتر کول په اخیر کښې. ما اووئیل: الله لوی دی، شکر دی دهغه الله چه په کار کښې ئې وسعت پیدا کړی دی. ما اووئیل چه خبر راکړه ماته د رسول الله ﷺ په باره کښې چه قرآن به ئې په جهر لوستلو او که په پټه؟ نو هغې اووئیل: کله به ئې په جهر لوستلو او کله به ئې په پټه لوستلو. نو ما اووئیل: الله لوی دی، شکر دی دهغه الله چه په کار کښې ئې وسعت پیدا کړی دی.

د حدیث مضمون او د هغې وضاحت:

لکه څنګه په حدیث الباب کښې عائشې رضي الله عنها د سائل د سوال په جواب کښې اوفرمائیل ﴿رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي آخِرِهِ﴾ یعنې رسول الله ﷺ خو به کله د جنب کیدو نه پس د شپې په شروع کښې هم هغه وخت غسل فرمائیلو او کله به ئې داسې کول چه هغه وخت به اودس کولو سره اودهٔ شو او د شپې په آخره کښې به پاسیدو او غسل به ئې اوفرمائیلو خو دلته یو احتمال عقلاً دا هم ممکن دې چه د عائشې رضي الله عنها مراد دا وی چه بعض وخت به د جنابت حالت د شپې په شروع کښې پیښیدو نو هم هغه وخت به ئې غسل اوفرمائیلو او که د شپې په آخر کښې به ورته پیښ شو نو د شپې په آخرې حصه کښې به غسل ئې فرمائیلو په دې صورت کښې تاخیر د غسل کوم چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې هغه به نه ثابتیږی خو دا معنې په دې وجه نه شی مراد کیدې چه سائل د عائشې رضي الله عنها په جواب اوریدلو باندې اووئیل ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً﴾ په دې وجه د ګنجائش کیدل خو به هغه ثابت وی چه کله اول معنې مراد وی.

وړاندې بیا په حدیث کښې دی چه سائل د عائشې رضي الله عنها نه دوه تپوسونه نور اوکړل یو د وترو په باره کښې چه د رسول الله ﷺ معمول د وترو په باره کښې څه وو، د شپې په شروع کښې به ئې ادا فرمائیل او که د شپې په اخر کښې، چه دهغې جواب هغوی دا ورکړو چه کله به رسول الله ﷺ داسې فرمائیلو او کله داسې، دویم سوال ئې دا اوکړو چه رسول الله ﷺ به په قیام لیل کښې د قرآن کریم تلاوت جهراً فرمائیلو یا سراً، ددې جواب هغوی هم دا ورکړو چه دواړو طریقو سره.

[٢٢٤] (١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُجَيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ، وَلَا كَلْبٌ، وَلَا جُنُبٌ".

ترجمه: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روایت دې، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه، هغه وئیلی دي: نه داخلیږي ملائک هغه کورته چه په هغې کښې تصویر وي او یا سپی او یا جنب.

(١) سنن النسائي/الطهارة ١٦٨ (٢٦٢)، والصيد ١١ (٤٢٨٦)، سنن ابن ماجه/اللباس ٤٤ (٣٦٥٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٨٣، ١٠٤)، سنن الدارمي/ الاستئذان ٣٤ (٢٧٠٥)، ويأتي عند المؤلف في اللباس برقم (٤١٥٢) (ضعيف)

يو اشكال او د هغې جواب :

قوله ﴿ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ - قوله لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلاَ كَلْبٌ وَلاَ جُنُبٌ ﴾ دا حديث په ظاهره كښې د باب د اول حديث خلاف دې څكه چه د رومبى حديث نه د تاخير غسل جواز ثابتيږى، او په دې كښې دا دى چه په كوم كور كښې جنب وى په هغې كښې د رحمت ملائك نه داخليږى، بلكه دا چه حديث په ظاهر كښې د ترجمة الباب هم خلاف دې، د مصنف رحمه الله عادت دا دې چه هغوى بعض وخت د ترجمة الباب مطابق حديث راوړلو نه پس كله كله داسې حديث هم راوړى كوم چه په ظاهر كښې د ترجمة الباب خلاف وى، زما په نزد د مصنف رحمه الله غرض طالبانو لره متوجه كول دى چه هغوى ددې په جواب باندې سوچ اوكړى او د هر دوه احاديثو محمل متعين كړى، پس ددې جواب حضرت په بذل كښې د امام خطابى رحمه الله نه دا نقل فرمائيلې دې چه په دې حديث كښې د جنبى نه مراد هغه جنبى نه دې كوم چه غسل لره موخر كړى د مانځه د وخته پورې، او د مونځ وخت راتلو سره غسل اوكړى بلكه ددې نه مراد هغه جنبى دې چه د غسل په باره كښې هميشه تهاون او تكاسل كوى ګينې د رسول الله ﷺ نه تاخير غسل ثابت دې په نفس تاخير كښې څه اشكال دې

زه وائم چه امام نسائى رحمه الله ددې حديث يو بله نفيس توجيه فرمائيلې ده او هغوى ددې توجيه طرف ته د اشارې كولو دپاره يو مستقل ترجمة الباب قائم كړې دې هغه دا چه ددې نه مراد هغه جنبى دې كوم چه د شپې د جنابت نه پس بغير د اودس كولو نه اودۀ شى، دا توجيه هغوى ډيره غوره ده او د احاديث نه هم عموما دا مفهوم كيږى چه رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت كښې پس د اودس نه آرام فرمائيلو اوبيا ددې نه پس احقر ته دا خبره د ابوداؤد په يو روايت كښې په صراحت سره ملاؤ شوه، پس مصنف رحمه الله په كتاب الترجل كښې په باب الخلوق للرجال كښې د سيدنا عمار بن ياسر رضى الله عنه دا حديث مرفوع ذكر فرمائيلې دې چه ﴿ ثَلاَثَةٌ لاَ تَقْرَبُهُمُ الْمَلاَئِكَةُ جِيفَةُ الْكَافِرِ وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ وَالْجُنُبُ إِلاَّ أَنْ يَتَوَضَّأَ ﴾ چه دهغې نه معلوميږى چه د اودس كولو نه پس حالت جنابت د قرب ملائكه نه مانع نه وى، فالحمد لله.

بيا خان پوهه كړه چه عند الجمهور په حديث كښې دتصوير نه مراد صورت ذى روح دې كه د سورى والا وى (مجسم) يا غير د سورى والا، بلكه دا چه هغه تصوير داسې وى چه هغه ويزاند كړې شوې وى د زينت دپاره مثلا، او كوم تصوير چه ممتهن وى متبذل وى د خپو لاندې كيږى مثلا په فرش كښې يا په تكيه كښې يا په پيزار كښې يا په پائيدان كښې ددې جواز د حديث نه ثابت دې، څو جوړول ددې قسم تصوير هم جائز نه دى، نو ګويا دوه څيزونه شو يو عمل تصوير (تصويران ويستل) او دويم استعمال تصوير، عمل تصوير يعنى د ذى روح مطلقا ناجائز دې، او د استعمال د تصوير په بعض صورتونو كښې حرام او په بعض صورتونو كښې مباح دې، دريم څيز كوم چه په حديث كښې مذكور دې هغه كلب دې، د كلب دوه قسمونه دى، ماذون الاتخاذ لكه ښكارى سپى وغيره، غير ماذون الاتخاذ، په دې كښې د شارحينو اختلاف دې چه د دخول ملائكه نه مانع مطلق كلاب دى يا صرف هغه كوم چه غير ماذون الاتخاذ وى، پس امام نووى رحمه الله د امام خطابى رحمه الله او قاضى

عياض رحمه الله نه نقل کړي دي چه د دخول ملائکه نه مانع صرف هغه کلاب دي کوم چه ممنوع الاقتناء دي او هم دغه شان تصوير هم خو خيله د امام نووي رحمه الله رائې دا نه ده د هغوي په نزد دا حکم عام دي دواړو قسمونو ته شامل دې او په حاشيه د ترمذی کښې د علامه طيبي رحمه الله قول د قاضي عياض موافق او د امام محي السنة رائې د امام نووي رحمه الله موافق ليکلې شوې ده، او زمونږ د حضرت سهارنپوري رحمه الله رائې کومه چه په بذل کښې ددې نه علاوه وړاندې په کتاب اللباس کښې مذکور ده، هغه دا دی چه امتناع ملائکه مخصوص دي ممنوع الاقتناء سره خو دا خبره حضرت په انشاء الله سره ليکلې ده بالجزم نه.

[۲۲۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنَامُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَمَسَّ مَاءً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْوَاسِطِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ هَارُونَ، يَقُولُ هَذَا الْحَدِيثُ وَهْمٌ يَعْنِي حَدِيثَ أَبِي إِسْحَاقَ

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چه اوده کيده به او هغه به جنب وو بغير د مس کولو د اوبو نه. وئيلي دي ابوداود: حديث بيان کړي دی مونږ ته حسن بن علي الواسطي، هغه وئيلي دی: ما اوريدلي دي د يزيد بن هارون نه چه هغه ويل دا حديث وهم دی مطلب ئې حديث د ابو اسحاق دی.

تشريح: ۳: ﴿قوله يَنَامُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَمَسَّ مَاءً﴾ ددې حديث نه هم ښکاره ده چه تاخير غسل ثابتيږي د کوم دپاره چه ترجمة قائم کړې شوې ده، خو ﴿من غير ان يمس ماء﴾ کښې دواړه احتمالونه دي چه غسل او اودس د دواړو نفي وي، دويم دا چه صرف د غسل نفي مراد وي، اوس نزدې د عائشې رضي الله عنها په حديث کښې تير شو چه رسول الله ﷺ چه به کله په حالت د جنابت کښې د نوم اراده فرمائيله نو ﴿توضا وضوءه للصلوة﴾ ددې مقتضى دا ده چه دلته صرف د غسل نفي مراد کړې شي او که د دواړو نفي مراد کړې شي نو دا به په بيان جواز باندې محمول وي، د امام نووي رحمه الله ميلان دې دويم احتمال طرف ته دي او امام بيهقي رحمه الله احتمال اول اختيار کړې دی.

د مصنف رحمه الله د وهم د دعوې توضيح او ددې مقام تحقيق:

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا الْحَدِيثُ وَهْمٌ﴾ ځان پوهه کړه چه ددې حديث په باره کښې چه کومه رائې د مصنف رحمه الله ده هغه د امام ترمذي رحمه الله هم ده، هغوی د ډيرو علماء کرامو نه ددې حديث وهم کيدل نقل کړې دی او هم دا رائې د امام احمد بن حنبل رحمه الله ده بلکه بعض علماء کرامو لکه ابن المفوز رحمه الله خو ددې حديث په خطاء کيدو باندې د محدثينو اجماع نقل کړې ده خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه اجماع نقل کول صحيح نه دي ځکه چه ددې حديث امام بيهقي رحمه الله تصحيح کړې ده بلکه هغوی د تغليط کونکو ترديد کړې دی.

ځان پوهه کړه چه دا قول حضرات دافرمائي چه په دې حديث کښې د ابواسحاق-

(): سنن الترمذي/الطهارة ۸۷ (۱۱۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۹۸ (۵۸۳)، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۳) (صحيح)

راوی نه غلطي شوي ده، هغه غلطي ترې نه څه شوي ده؟ دا خبره ابن العربي په شرح د ترمذي کښې واضح کړې ده چه دهغې خلاصه دا ده چه دا حديث په اصل کښې اوږد وو چه دهغې په صحيح مفهوم باندې پوهيدلو کښې غلطي شوي ده او بيا ددې نه پس ئې د خپل فهم په اعتبار سره ددې اختصار کړې دې، صورت حال دا دې چه په اصل روايت کښې داسې وو، سيده عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په باره کښې فرمائي ﴿ كان ينام اول الليل ويحيى اخره ثم ان كانت له حاجة قضى حاجته لم ينام قبل ان يمس ماء ﴾ چه دهغې مطلب دا دې چه د رسول الله ﷺ معمول وو چه د شپې په شروع کښې به ئې آرام فرمائيلو او په آخر کښې به بيدار وو بيا به ئې که څه حاجت وو نو دا به ئې پوره فرمائيلو او بيا به اوده شو ﴿ قبل ان يمس ماء ﴾ ابن العربي رحمه الله فرمائي چه دلته د قضاء حاجت نه مراد د بول وبراز حاجت دې او مطلب دا دې چه د حاجت انسانيه نه فارغ کيدو سره به رسول الله ﷺ آرام فرمائيلو بغير د اوبو د مسح کولو نه، د ابو اسحاق نه دلته دا غلطي اوشوه چه هغوی حاجت لره په ځائې د حاجت انسانيه حاجت الى الاهل يعني وطي باندې محمول کړه حال دا چه دا غلطه ده ځکه چه هم ددې حديث په اخر کښې ﴿ وان نام جنبا توضا ﴾ چه دهغې نه صفا معلوميږي چه په حالت د جنابت کښې بغيرد اودس کولو نه نۀ اوده کيدلو. نو اوس که په شروع کښې حاجت په حاجت وطي باندې محمول کړې شي او ﴿ ولا يمس ماء ﴾ په مطلق ماء باندې محمول کړې شي يعنې ماء وضوء او ماء اغتسال د دواړو نفي مراد کړې شي نو په دې صورت کښې به اول حديث د آخر حديث معارض شي هغوی فرمائي چه صحيح محمل خو ددې حديث دا وو چه که په حاجت وطي باندې محمول کړې شي نو ﴿ ولا يمس ماء ﴾ مطلق نه دې بلکه صرف د ماء اغتسال نفي دې مراد کړې شي او که حاجت په حاجت انسانيه باندې محمول کړې شي نو بيا بيشکه ﴿ ولا يمس ماء ﴾ لره په خپل عموم باندې کيخودلې شي، خو ابواسحاق داسې اوکړل چه حاجت ئې په حاجت وطي باندې محمول کړو او ﴿ ولا يمس ماء ﴾ ئې په خپل عموم باندې اوساتلو د غسل او اودس نفي ئې اوکړه او دا خبره د خلاف واقع کيدو نه علاوه د آخر حديث هم معارض ده ځکه چه د رسول الله ﷺ معمول په حالت د جنابت کښې بغير د اودس نه د اوده کيدو نه وو، دا خو تشريح شوه د هغه خلقو د مراد کوم چه دې حديث ته غلط وائي.

خو ددې تنقيد جواب دا دې چه د حديث د اول به د آخر سره معارضه هله لازميږي چه کله موږ حديث د ابو اسحاق کښې ﴿ لا يمس ماء ﴾ لره په عموم باندې محمول نه کړو چه د اودس او غسل دواړو نفي کولې شي خو که په حديث کښې د ماء نه خاص ماء اغتسال مراد کړې شي نو بيا دا اشکال دې، او ابواسحاق دا کله ونيلې دی چه د ماء نه مطلق ماء مراد دی، تعارض خو په دې حديث کښې دې ناقدينو خپله پيدا کړې دې چه هغوی د ماء نه مطلق مراد اخستلو سره بيا اول حديث وآخر حديث کښې تعارض بيانوی. لهذا حديث د ابو اسحاق وهم نه شو، پس د امام بيهقي رحمه الله او ابوالعباس بن سريج هم دا رائې ده چه په دې حديث کښې څه وهم نشته او ﴿ لا يمس ماء ﴾ کښې صرف د ماء الاغتسال نفي ده، د

وضوء نفي نه ده او امام نوويؒ فرمائي چه يو شكل دا هم دي چه دلته د مطلق ماء نفي مراد كړي شي او دا دي په بيان جواز باندې محمول كړي شي چه كله كله رسول اللهﷺ داسې هم كړي دي عادت نه دي مراد. احقر ته په دې باندې دا اشكال دي چه په دې توجيه سره خو به د ناقدينو اصل اشكال بيا راواپس شي يعني د حديث اوله او آخره حصه كښې تعارض، ځكه چه دلته خبره په يو خاص حديث باندې شروع ده، مطلقا د مسئلې په حيثيت سره نه، حضرت سهانپوريؒ په بذل كښې د امام بيهقيؒ وغيره دا رائې اختيار فرمائيلې دې او په دې كښې د حضرت ناقدين حديث ملګري نه دي

تنبيه: خان پوهه كړه چه د ابواسحاق دا روايت مطوله په مسلم شريف كښې هم دې چه دهغې الفاظ دا دي ﴿ ثم ان كانت له حاجة الى اهله قضى حاجته ﴾ په دې روايت كښې ﴿ الى اهله ﴾ موجود دې اوس ددې معنى د وطي متعين شوه، خو د مسلم شريف په روايت كښې ددې نه پس ﴿ ولا يمس ماء ﴾ جمله نه ده چه دهغې د وجې نه ټول اشكال اودريدلې وو

د امام طحاويؒ رائې

او په دې باندې هم خان پوهه كړئ چه د امام طحاويؒ رائې هم دا ده چه په دې روايت كښې د ابواسحاق نه غلطي شوې ده، خو د هغوى په نزد غلطي دا نه ده چه ابواسحاق د حاجت مطلب غلط فهم كړې دې، د حاجت مفهوم خو د امام طحاويؒ په نزد هم جماع ده خو هغوى دا وائي چه د ابو اسحاق د ﴿ ولا يمس ماء ﴾ په ذريعه د اودس او غسل هر دواړو نفي كول دا صحيح نه دي ځكه چه دا د نورو رواياتو خلاف ده، د نورو رواياتو نه معلوميږي چه رسول اللهﷺ به په حالت جنابت كښې د اودس نه پس آرام فرمائيلو نه قبل الوضوء. خو بيا امام طحاويؒ وړاندې ليكلي دي چه كيدې شي چه د ابو اسحق مراد په ﴿ ولا يمس ماء ﴾ سره صرف د غسل نفي وي لهذا بيا به هيڅ اشكال باقي نه پاتې كيږي، دا هم هغه خبره شوه كوم چه مونږ په شروع كښې كړې وه چه تعارض خو ناقدينو خپله پيدا كړې دې، حضرت سهارنپوريؒ په بذل كښې د امام طحاويؒ رائې نه ده نقل فرمائيلې بلكه صرف د قاضي ابوبكر ابن العربي رائې ئې د شوكاني د كلام نه او د بيهقي رائې ئې خپله د هغوى د كتاب نه نقل فرمائيلې ده، خو صاحب د معارف السنن د امام طحاوي كلام او د هغوى رائې نقل كړې ده، هغوى په دې موضوع باندې كافي اوږد بحث كړې دې

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ

باب دې په بيان د جنب كښې چې قرآن لولي

[٢٢٩]([1]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلِمَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَا وَرَجُلَانِ، رَجُلٌ مِنَّا وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ أَحْسِبُ، فَبَعَثَهُمَا عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَجْهًا، وَقَالَ: إِنَّكُمَا عِلْجَانِ، فَعَالِجَا عَنْ دِينِكُمَا، ثُمَّ قَامَ فَدَخَلَ الْمَخْرَجَ، ثُمَّ خَرَجَ فَدَعَا بِمَاءٍ، فَأَخَذَ مِنْهُ حَفْنَةً فَتَمَسَّحَ بِهَا، ثُمَّ جَعَلَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ،

[1]: سنن الترمذي/الطهارة ١١١ (١٤٦)، سنن النسائي/الطهارة ١٧١ (٢٦٦، ٢٦٧)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠٥ (٥٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٠١٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٨٤، ١٢٤) (ضعيف)

فَأَنْكَرُوا ذٰلِكَ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ، وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ، أَوْقَالَ: يَحْجُزُهُ عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ.

ترجمه: د عبد الله بن مسلمة نه روايت دې هغه وائي: چه زه داخل شوم په علي رضي الله عنه باندې او دوه سړي، يو سړي زمونږ نه وو او بل د بنو اسد نه وو زما ګمان دی، نو دواړه ولېږل علي رضي الله عنه يو خائې ته، او وئې وئيل: بيشکه تاسو دواړه مضبوط يئ، نو خپل قوي والی ښکاره کړئ په دفاع د دين ستاسو دواړو کښې، بيا پاځيدلو نو داخل شو تشناب ته بيا راووتلو، نو راوبې غوښتلې اوبه نو راواپې خستې يو چونګ نو مسح ئې اوکړه په هغې، بيا ئې شروع اوکړه په لوستلو د قرآن، نو خلکو بد وګڼړلو د هغه دغه کار، نو وئې وئيل بيشکه رسول الله ﷺ وو چه راوتلو به د بيت الخلاء نه نو مونږ ته به ئې قرآن لوستلو، او خوړله به ئې زمونږ سره غوښه او نه وو چه منع کولو به څه شي، او يايې اووئيل: يحجزه، د قرآن نه چه د جنابت نه علاوه.

تشريح: په حالت د جنابت کښې اذکار او دعاء ګاني لوستل بالاجماع جائز دي خو تلاوت د قرآن کريم مختلف فيه دې، مذاهب په دې کښې دا دی چه د داؤد ظاهري رحمه الله په نزد مطلقا جائز دې او هم دا مذهب مروی دی د ابن عباس، سعيد بن المسيب او عکرمه رحمهم الله نه، او د امام شافعي رحمه الله په نزد مطلقا حرام دې اګر که حرف ولې نه وی، د امام احمد رحمه الله نه دوه روايتونه دي يو د شوافعو په شان دويم د مادون الاية د جواز دې، هم دغه شان زمونږ په نزد هم دوه روايتونه دی، پس امام طحاوی رحمه الله د مادون الاية اباحت نقل کړي دي او امام کرخي رحمه الله د عدم جواز، او د امام مالک رحمه الله په نزد د آيت يا آيتين لوستلو ګنجائش شته (کذا في الميزان الکبری للشعراني)

خان پوهه کړه چه د امام بخاري رحمه الله ميلان په دې مسئله کښې د مطلق جواز طرف ته دې پس هغوی په دې سلسله کښې ډير روايات او آثار ذکر کړي دی او دغه شان ئې د ﴿ کان النبی ﷺ يذکر الله علی کل احيانه ﴾ نه هم استدلال کړي دې هم دغه شان د ابن المنذر او ابن جرير طبری رحمه الله هم دا رائې ده. بلکه دا چه طبری د منع روايات په اولويت باندې محمول کړي دی.

خان پوهه کړه چه مصنف رحمه الله په دې مسئله کښې د حائضې حکم بيان نه کړو، امام ترمذي رحمه الله په يوه ترجمة کښې دواړه ذکر کړي دی، باب الجنب والحائض لا يقران القران... د حائضې حکم د جمهورو په نزد هم هغه دې کوم چه د جنبي دی خو په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې د هغوی په نزد د حائض دپاره مطلقا جائز دې ځکه چه د حيض موده اوږده وی که په دې موده کښې ئې مطلقا نه لولي نو د هيريدلو ويره ده چه په هغې باندې وعيد راغلې دې په خلاف د جنابت چه هغه د لږ وخت ځيز دې دهغې ازاله د انسان په اختيار کښې ده (کذا في المنهل)

مضمون الحديث

﴿ قوله عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلِمَةَ ﴾ دا سلمه په کسرې د لام سره دې په کتب رجال کښې ددې تصريح ده، او امام نووي رحمه الله د شرح مسلم په مقدمه کښې په هغه فصل کښې چه په هغې کښې

هغوی د اسماء مشتبه اوصول لیکلي دي چه سلمه هر خائي کښې په فتحې د لام سره دې خو هغوی د عبدالله بن سلمة استثنا، نه ده کړې ځکه چه کومه قاعده، هغه لیکلې ده هغه صرف د رجال صحیحین سره متعلق ده او دا عبدالله بن سلمة د کتب سنن راوی دې (الفیض السمائی)

﴿قوله رَجُلٌ مِنَّا وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ أَحْسِبُ الخ﴾ عبدالله بن سلمة وائی چه یو خل دوه سړی یو زمونږ د قبیلې یعنی د قبیله مراد او دویم سړي د قبیله بنو اسد ورو، علی ﷛ د هغوی دوارو چرته د لیږلو اراده اوفرمائیله، او وې فرمائیل چه تاسو قوی او مضبوط کسان یئ لهذا د دین خدمت کوئ (دا خبره اوشوه ددې نه پس راوی وائی) بیا علی ﷛ پاسیدو او مخرج یعنی بیت الخلاء ته ئې تشریف یوړلو د فراغت نه پس بهر راغلو او اوبه ئې طلب کړې چه اوبه حاضرې شوې دهغې نه ئې یو لپه واخستلې او (د لاسونو او مخ) مسح ئې اوکړه او بیا ئې قرآن کریم لوستل شروع کړل، په دې (یعنی بې اودسه تلاوت باندې) خلقو اعتراض اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ به دیر کرته د بیت الخلاء نه د راتلو نه پس مونږ ته قرآن کریم لوستلو او خوراک څکاک به ئې هم کولو او هیڅ خیز به د هغوی دپاره د تلاوت نه مانع نه وو ﴿لَيْسَ الْجَنَابَةَ﴾ سوا د جنابت نه

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يُصَافِحُ

باب دې په بیان د جنب کې چې مصافحه کوي

[٢٣٠]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَهُ فَأَهْوَى إِلَيْهِ، فَقَالَ: إِنِّي جُنُبٌ، فَقَالَ: "إِنَّ الْمُسْلِمَ لَا يَنْجُسُ".

ترجمه: د حذیفه ﷛ نه روایت دې چه بیشکه نبي ﷺ مخامخ شو د هغه سره نو قصدېې اوکړو هغه ته، نو هغه اووئیل زه جنب یم، نو هغه اووئیل بیشکه مسلمان نه نجس کیږي

[٢٣١]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، وَبِشْرٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ بَكْرٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَرِيقٍ مِنْ طُرُقِ الْمَدِينَةِ وَأَنَا جُنُبٌ، فَاخْتَنَسْتُ، فَذَهَبْتُ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ، فَقَالَ: أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ قَالَ: قُلْتُ: إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا، فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ. فَقَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، إِنَّ الْمُسْلِمَ لَا يَنْجُسُ"، وَقَالَ فِي حَدِيثِ بِشْرٍ: حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، حَدَّثَنِي بَكْرٌ.

ترجمه: د ابو هریره ﷛ نه روایت دې هغه وائی مخامخ شو ماسره رسول الله ﷺ په یوه لار کښې د لارو د مدینې نه او زه جنب وم، نو زه وروسته شوم لاړم غسل مې اوکړو بیا راغلم. هغه اووئیل چیرته وې اې ابو هریره؟ هغه وائی ما اووئیل زه جنب وم دا مې بده وګڼله چه تاسره ناسته اوکړم بغیر د طهارت نه، نو هغه اووئیل سبحان الله بیشکه مومن نه نجس کیږي

[1]: صحيح مسلم/الطهارة ٢٩ (٣٧٢)، سنن النسائي/الطهارة ١٧٢ (٢٦٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨٠ (٥٣٥)، (تحفة الأشراف: ٣٣٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٨٤، ٤٠٢) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الغسل ٢٣ (٢٨٣)، صحيح مسلم/الحيض ٢٩ (٣٧١)، سنن الترمذي/الطهارة ٨٩ (١٢١)، سنن النسائي/الطهارة ١٧٢ (٢٧٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨٠ (٥٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٣٥، ٢٨٢، ٤٧١) (صحيح)

د جنبي ظاهر بدن پاک دي جنابت يو معنوي نجاست دي لهذا د جنبي سره کيناستل پاسيدل او مصافحه کول ټول جائز دي لکه چه د حديث الباب نه معلوميږي.

﴿ قوله أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– لَقِيَهُ الخ ﴾ سيدنا حذيفهﷺ فرمائي چه د رسول اللهﷺ ماسره ملاقات اوشو په دې باندې رسول اللهﷺ د حذيفهﷺ طرف ته د مصافحې دپاره مائل شو هغوی عرض اوکړو زه جنب يم

دلته يو اشکال راځي چه حذيفهﷺ د لقاء نسبت د رسول اللهﷺ طرف ته اوکړو دا د ادب خلاف ده ملاقات ماشومان کوی د مشرانو سره نه برعکس، جواب دا دې چه هغوی قصدا اووئيل څکه چه هغوی د خپل ځان په نزد هغه حال کښې نه وو چه د رسول اللهﷺ سره ملاقات اوکړی څکه چه په حالت د جنابت کښې وو ﴿ فَقَالَ إِنَّ الْمُسْلِمَ لاَ يَنْجُسُ ﴾ رسول اللهﷺ اوفرمائيل مسلمان نه ناپاکه کيږي يعني د جنابت د وجې نه د هغه د بدن ظاهر نه ناپاکه کيږي چه د مصافحې وغيره نه مانع وی، حافظ فرمائي چه ددې حديث «بطريق المفهوم» بعض ظاهريه د کافرو په نجاست باندې استدلال کړې دې چه هغه نجس العين دې بله دا چه هغوی د الله پاک ددې قول ﴿ انما المشركون نجس الاية ﴾ نه هم استدلال کړې دې جواب دا دې چه په حديث کښې د رسول اللهﷺ مراد د ﴿ ليس بنجس ﴾ نه تحامي عن النجاسة دې يعني د مومن شان دا دې چه هغه د نجاست نه ځان بچ کوی په خلاف د کافر چه د نجاست نه بچ کيدل د هغه شعار نه دې، يا دې داسې اووئيلې شي چه په حديث کښې د مومن تخصيص د کافر په مقابله کښې نه دې بلکه صرف په دې حيثيت سره دې چه چونکه خطاب هم هغه ته دې، او د آيت کريمه جواب دا کړې شوې دې چه په دې کښې د نجاست سره د اعتقاد او باطن نجاست مراد دې

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ

باب دې په بيان د جنب کښې چې داخليږي مسجد ته

[٢٣٢]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْأَفْلَتُ بْنُ خَلِيفَةَ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي جَسْرَةُ بِنْتُ دِجَاجَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، تَقُولُ: "جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُجُوهُ بُيُوتِ أَصْحَابِهِ شَارِعَةٌ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: وَجِّهُوا هَذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ، ثُمَّ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَصْنَعِ الْقَوْمُ شَيْئًا رَجَاءَ أَنْ تَنْزِلَ فِيهِمْ رُخْصَةٌ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ بَعْدُ، فَقَالَ: وَجِّهُوا هَذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ، فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ فُلَيْتٌ الْعَامِرِيُّ.

ترجمه: ام المؤمنين حضرت عائشه رضی الله عنها وائي چه رسول اللهﷺ تشريف راوړو او حال دا وو چه د بعضو صحابو د کورونو دروازې جمات طرف ته کهلاويدې نو نبی کريمﷺ اوفرمائيل واړوئ مخونه ددې کورونو د جمات نه بيا داخل شو نبيﷺ او قوم هيڅ تبديلي هم اونه کړه په دې اميد چه د دوی په باره کښې به څه رخصت نازل شي، نو ووتلو دوی ته وروسته وئې وئيل: واړوئ دا کوټې د جمات نه، بيشکه زه نه حلالوم مسجد د

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٢٨) (ضعيف)

حائضې لپاره او نه د جنب دپاره. ونيلى دي ابوداود: هغه فليت العامري دى.

تشريح: د جنابت احكام شروع دى دهغې نه يو دا دې چه په حالت د جنابت كښې انسان مسجد ته داخليدلې شي يا نه؟ مسئله مختلف فيه ده، پس په دې كښې د علماء كرامو درې مذاهب دى.

مذاهب ائمه او د هر يو دليل:

خان پوهه كره چه دلته دوه څيزونه دى، يو تلل، دويم ايساريدل، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد د جنب او حائض دپاره مطلقا كه څه خاص ضرورت وى او كه نه وى كه اودس ئې وى او كه نه وى دخول او مسجد كښې تلل جائز دى خو د حائض دپاره شرط دا دې چه د تلويث مسجد ويره نه وى، دويم مذهب د احنافو او مالكيانو دې د هغوى په نزد د جنب او حائض دپاره مسجد كښې تيريدل جائز نه دى خو د څه مجبورئ يا ضرورت په وجه باندې جائز دى، دويم څيز دې مكث فى المسجد يعنى د جنبى په مسجد كښې ايساريدل، كيناستل پاسيدل، پس دا د جمهور علماو او ائمه ثلاثه احناف، مالكيان او شوافعو په نزد ناجائز دى د حنابله او اسحاق بن راهويه په نزد جائز دى خو پس د اودس نه. د مزنى وغيره په نزد د جنب او حائض دوارو دپاره مرور او مكث دواړه مطلقا جائز دى په منهل كښې مذاهب ائمه دغه شان ليكلې شوې دى، اوس دلته دوه اختلافات دى، يو د احنافو او شوافعو تقابل او يو د جمهور ائمه ثلاثه او د حنابله تقابل، د دوارو دليل واورئ، مصنف رحمه الله په دې باب كښې د عائشې رضي الله عنها مرفوع حديث ذكر كرې دې، چه دهغې په اخر كښې دى ﴿ فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ ﴾ دا حديث په دې مسئله كښې د جمهورو دليل دې او د حنابله او ظاهريه خلاف دې، په بذل كښې ليكلې شوې دى چه ددې حديث ابن خزيمه تصحيح او ابن القطان او ابن سيد الناس رحمهم الله تحسين كرې دې خو ابن حزم ظاهري رحمه الله ددې حديث تضعيف كرې دې هغوى وائى چه په دې كښې يو راوى دې افلت بن خليفه او هغه مجهول دې قابل استدلال نه دى، خطابى شارح د ابوداؤد وائى چه د تضعيف كونكو دا خبره صحيح نه ده څكه چه د افلت ابن حبان او احمد بن حنبل رحمهما الله وغيره محدثينو توثيق كرې دې، هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله هم د تضعيف كونكو ترديد كرې دې، پس صحيح دا ده چه دا راوى مجهول نه دى بلكه ثقه او مشهور دې

اوس د احنافو او د شوافعو تقابل واخلئ، شوافع كوم چه د جواز مرور قائل دى د هغوى استدلال د آيت كريمه ﴿ لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ ﴾ نه دې هغوى وائى چه د صلوة نه مراد موضع الصلوة يعنى مسجد دې او عابرى سبيل نه هم دا عبور او مرور مراد دې، لهذا ددې آيت كريمه نه معلومه شوه چه د جنب دپاره مرور فى المسجد جائز دې، زمونږ علماء كرامو ددې جواب دا وركړې دې چه ستاسو استدلال په حذف مضاف باندې بناء دې او زمونږ په نزد دا آيت كريمه په خپل ظاهر باندې دې د صلوة نه مراد صلوة دې موضع صلوة مراد نه دې او د عابرى سبيل نه مراد مسافر دى، او د آيت كريمه مطلب دا دې چه په حالت د جنابت كښې مانځه ته تلل نه دى

پکار مگر دا که انسان مسافر وي او اوبه ملاؤ نه شي نو بيا هغه له تيمم کول پکار دي، په تيمم کښي د مسافر قيد په دې وجه اولګولې شو چه عام طور سره په سفر کښې د عدم وجدان ماء حالت راپيښيږي لهذا د آيت کريمه مفهوم بغير د حذف مضاف نه بالکل صفا او واضح دې، په دې باندې هغوى اشکال کړې دې چه د عابرى سبيل نه مراد که مسافر واخستلې شي نو بيا به په آيت کريمه کښې د مسافر په اعتبار سره تکرار پيدا شي ځکه چه وړاندې بيا د مسافر ذکر دې ﴿ وان کنتم مرضى او على سفر ﴾ جواب دا دې چه تکرار څه داسې قبيح څيز نه دې چه دهغې نه بچ کيدل دې ضروري وى لهذا دهغې دپاره څه نکته کيدل پکار دى پس دلته دا نکته کيدې شي چه چونکه د مريض حکم بيانول وو او مريض د واجد الماء کيدو باوجود تيمم کوى نو هغه سره مسافر دوباره په دې وجه ذکر کړې شو چه معلومه شي چه واجد الماء يعنى مريض او عادم الماء يعنى مسافر دواړه په اعتبار د حکم سره يو شان دى، لهذا مريض ته دې په جواز د تيمم کښې د وجدان ماء د وجې نه څه تردد نه دى کيدل پکار مطمئن کيدو سره دې تيمم اوکړى

د حديث الباب مضمون دا دې چه په ابتداء کښې چه د کومو صحابه کرامو حجرې د مسجد نبوى نه ګير چاپيره وې دهغې دروازې د مسجد د انګئ طرف ته پرانستلې شوې وې، يوه ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ وجهوا هذه البيوت عن المسجد ﴾ چه ددې کورنو دروازې د مسجد د طرف نه ختمولو سره بل طرف ته اوباسئ. ځکه چه ددې په صورت کښې بعض وخت د جنب او حائض مرور فى المسجد لازميږى خو صحابه کرامو د رسول الله ﷺ په حکم باندې په دې طمع عمل اونکړو چه کيدې شى په دې سلسله کښې څه رخصت نازل شى، بيا ددې نه پس په دويم ځل رسول الله ﷺ په دې طرف باندې ورتير شو نو رسول الله ﷺ دوباره هم هغه خبره ارشاد اوفرمائيله چه د دروازو مخونه واړوئ، پس صحابه کرامو ﷺ ددې حکم تعميل اوکړو؟

خان پوهه کړئ چه دا چه په دې باب کښې مسئله روانه ده يعنى د جنبى دپاره د دخول مسجد ممانعت، ددې حکم نه رسول الله ﷺ او سيدنا على ﷺ مستثنى دى، پس په ترمذى کښې په مناقب على کښې يو روايت راغلې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ يا على لا يحل لاحد ان يجنب فى المسجد غيرى وغيرک ﴾ معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ او على ﷺ دا خصوصيت دې چه هغوى په حالت د جنابت کښې مسجد ته تلې راتلې شى، حضرت شيخ ﷺ په حاشيه د لامع کښې ليکى چه ددې خصوصيت تصريح زمونږ په علماء کرامو کښې علامه شامى هم کړې ده، بلکه دا چه علامه شامى ليکى چه د روافضو دا وئيل چه دا حکم د ټولو اهل بيت دپاره عام دې او دا چه لبس حرير هم د هغوى دپاره جائز دې غلط دى او د شيعه ګانو د مخترعاتو نه دى

فائده : خان پوهه کړه چه په حديث الباب کښې د تحويل ابواب حکم مطلقا راغلې دې، د باب على يا باب ابوبکر استثناء په دې کښې مذکور نه ده کومه چه په ترمذى کښې په مناقب على کښې په روايت د ابن عباس ﷺ موجود ده ﴿ ان رسول الله ﷺ امر بسد الابواب

الا باب علی ﴾ اګر که ابن الجوزی په دې باندې د وضع حکم لګولې دې چه دا د روافضو اختراع ده کومه چه هغوی د باب ابی بکر د استثناء په مقابله کښې کړې ده، خو حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې ددې تردید کړې دې هغوی د باب علی د استثناء په سلسله کښې ډیر روایات ذکر کړې دی او ددې ټولو د ذکر کولو نه پس ئې وئیلې دی چه ددې ټولو احادیثو طرق قابل استدلال دی او د یو په بل باندې تقویت معلومیږي، او د باب ابی بکر د استثناء روایت خو په بخاری شریف کښې دې، د بخاری په یو روایت کښې کوم چه په کتاب المناقب کښې دې په لفظ د باب سره استثناء راغلې ده او په یو روایت کښې په لفظ د خوخه سره ﴿ لا تبقین فی المسجد خوخة الا خوخة ابی بکر﴾ او هم دغه شان په ترمذی کښې هم دی، اوس په دې دواړو احادیثو کښې په ظاهره تعارض معلومیږي چه په یو ځائې کښې صرف د باب علی استثناء فرمائیلې شوې ده او په دویم روایت کښې صرف د باب ابی بکر یا خوخة ابی بکر رضی الله عنه، حافظ وغیره شارحینو جمع بین الروایتین داسې کړې ده چه په شروع کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د چا ابواب چه د مسجد طرف ته مفتوح وو د تحویل ابواب حکم ورکړو سوا د علی رضی الله عنه نه، پس په هغې باندې عمل اوکړې شو. خو دې ټولو حضراتو داسې اوکړل چه په خپلو کورونو کښې ئې د مسجد طرف ته خوخات یعنی کهړکئ پرانستلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې د بندولو هم حکم ورکړو، خو دې ځل ئې د خوخة ابی بکر د پریخودلو استثناء اوفرمائیله چه که د دوی کهړکئ د مسجد طرف ته پرانستلې وی نو هیڅ باک نشته دا د ابوبکرصدیق رضی الله عنه خصوصیت وو او د علی رضی الله عنه خصوصیت خو په شروع کښې اوفرمائیلې شو چه د هغوی اصل دروازه دې د مسجد طرف ته باقی پریخودلې شی او هم دغه شان دا هم چه د هغوی دپاره په حالت د جنابت کښې مسجد ته راتلل مباح دی. دا ډیره ښه توجیه ده کومه چه شراح حدیث فرمائیلې ده.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَهُوَ فُلَيْتٌ الْعَامِرِيُّ ﴾ مصنف رحمه الله فرمائی چه په سند کښې چه کوم افلت بن خلیفه راوی راغلې دې دا هم هغه دې کوم چه په فلیت العامری سره مشهور دې، زه وایم کیدې شی چه په دې سره اشاره وی د هغه خلقو د رد طرف ته کوم چه دوی ته مجهول او غیر معروف وائی.

بَابٌ فِي الْجُنُبِ يُصَلِّي بِالْقَوْمِ وَهُوَ نَاسٍ

باب دې په بیان د جنب کښې چې قوم ته مونځ کوي په هېره سره

یعنی د یوسړی نه خپل جنبی کیدل هیر شی او بغیر د غسل نه د مونځ کولو دپاره اودریږی. خان پوهه کړه چه دا باب او ددې احادیث فقهی لحاظ سره اهمیت لری مسئله هم مختلف فیه ده او د باب په روایاتو کښې هم اختلاف دې، د مسئلة الباب د وضاحت نه مخکښې د باب د حدیث اول مفهوم باندې خان پوهه کړئ.

[۲۳۳]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ زِيَادٍ الْأَعْلَمِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ أَنْ مَكَانَكُمْ، ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ، فَصَلَّى بِهِمْ".

ترجمه: د ابو بكره نه روايت دي چه بيشكه رسول الله ﷺ داخل شو د سحر په مونځ كښې، نو اشاره ئې اوكړه په خپل لاس چه په خپل ځائې پاتې شئ. بيا راغلو او د سر نه ئې اوبه روانې وې نو مونځ ئې اوكړو دوى ته.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قوله أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– دَخَلَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ أَنْ مَكَانَكُمْ ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ فَصَلَّى بِهِمْ ﴾ يعني يو ځل داسې اوشوه چه رسول الله ﷺ د سحر مونځ شروع كړو او بيا ورته فورا راياد شو چه هغوى په حالت د جنابت كښې دى هم په دې وخت كښې رسول الله ﷺ د لاس په اشارې سره صحابه كرام پوهه كړل چه هغوى دې په خپل خپل ځائې باندې ولاړ وى او بيا ئې فورى غسل فرمائيلو سره تشريف راوړلو د سر مبارك نه ئې د اوبو قطرې ښيدلې او خلقو ته ئې مونځ وركړو.

د امام د مونځ فساد د مقتدى د مانځه فساد لره مستلزم دې او كه نه؟:

د دې حديث د ظاهر نه معلوميږى چه رسول الله ﷺ په حالت د جنابت كښې مونځ شروع كړې وو او بيا روستو د ياد راتلو نه پس ئې غسل فرمائيلو سره شروع كړې شوې مونځ پوره كړو يعنى په هغې باندې ئې بناء اوفرمائيله ددې نه معلومه شوه چه د امام د مانځه فساد د مقتدى د مانځه فساد لره مستلزم نه دې، پس د شوافعو وغيره جمهورو مسلك هم دا دې لهذا دا حديث د احنافو خلاف او د جمهورو موافق شو اوس احنافو له د جواب فكر كول پكار دى، جواب دا دې چه غالبا معترض ته ددې مسئلې تحقيق حاصل نه دې د جمهورو مسلك دا دې چه د مونځ نه د فارغ كيدو نه پس كه معلومه شى چه د امام مونځ په څه وجه باندې فاسد شوې دې نو په دې صورت كښې جمهور دا وائى چه د مقتديانو مونځ صحيح دې فاسد شوې نه دې او د احنافو په نزد د امام سره د مقتديانو مونځ هم لاړو، اصل مسئله خو دا ده او په دې حديث كښې چه كوم صورت پيښ شوې دې هغه دا نه دې دلته خو د مونځ د شروع كولو نه پس د مانځه په دوران كښې امام ته راياد شو او بيا د طهارت د حاصلولو دپاره لاړو فاين هذا من ذاك..... اوس پاتې شوه دا خبره چه كوم صورت په دې حديث كښې مذكور دې په دې كښې د ائمه كرامو څه رائې ده، پس ځان پوهه كړه چه د احنافو او حنابله مذهب دا دې چه د مونځ د شروع كولو نه پس كه امام ته حدث سابق په اثناء صلوة كښې راياد شى نو ددې دواړو په نزد مونځ باطل شو او د تحصيل طهارت نه پس استيناف واجب دې بناء جائز نه ده، د شوافعو هم صحيح مسلك دا دې چه مونځ باطل شو او استيناف به واجب وى، پس ابن رسلان خپله د امام شافعى رحمه الله نه د هغوى مسلك هم دا نقل كړې دې خو ابن قدامة په مغنى كښې د شوافعو مسلك دا ليكلې دې چه د هغوى په نزد د مقتديانو مونځ نه باطليږى بلكه په داسې مونځ باندې بناء كيدلې شى،

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٦٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤١، ٤٥) (صحيح)

ممکنه ده چه دا د هغوی روایت وی. اوس پاتې شو مسلک د امام مالک رحمه الله هغوی فرمائی چه په داسې صورت پېښېدلو باندې دوه طریقې دی چه یا خو دې مقتدی خپل مونځ بېل بېل ادا کړی یا دې په هغوی کښې څوک خپل نائب کړی او خپل مونځ دې پوره کړی. حاصل دا چه د هغوی په نزد به مونځ باطل نه وی هم به دې باندې بناء کیدلې شی، خو که مقتدیان د امام انتظار کوی نو د هغوی په نزد به هم د مقتدیانو مونځ باطل شی او په حدیث الباب کښې هم دغه شان ده چه هغوی د امام انتظار اوکړو، نو اوس خلاصه دا شوه چه په صورت مذکوره فی الحدیث کښې د مقتدیانو مونځ په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم صحیح نه شو. لهذا دا حدیث د ټولو خلاف شو ددې دوه جوابونه کړې شوې دی. ۱ دا چه روایات صحیحه کوم چه په صحیحین وغیره کښې دی دهغې نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ له تر اوسه پورې په مانځه کښې نه وو داخل شوې بلکه صرف مصلې ته داخل شوې وو هم هغه وخت ورته رایاد شو لهذا ټول اشکال رفع شو. پس وراندې په دې باب کښې ډیر روایتونه داسې راروان دی چه په هغې کښې ددې خبرې تصریح ده چه رسول الله ﷺ مصلې او مقام صلوٰة ته رارسیدلې وو چه هغوی ته خپل جنابت رایاد شو لهذا دا حدیث د چا خلاف هم نه دې. ۲ دا چه که دا تسلیم کړې شی چه رسول الله ﷺ مانځه ته داخل شوې وو نو بیا مونږ دا نه تسلیموو چه رسول الله ﷺ په خپل مانځه باندې بناء اوکړه بلکه د مانځه استیناف ئې اوفرمائیلو، پس د ابن حبان په روایت کښې د استیناف صلوٰة تصریح ده دا چه څه د مسئلې تحقیق او تفصیل مونږ بیان کړې دې هم دغه شان په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ رحمه الله او ددې نه علاوه په لامع الدراری او اوجز المسالک کښې تحریر فرمائیلې دې

د امام محمد رحمه الله استنباط :

خان پوهه کړه چه امام محمد رحمه الله دا حدیث په موطاء محمد کښې حدیث الباب په حدث فی الصلوٰة باندې محمول کړې دې او بیا ئې دهغې نه د جواز البناء فی الصلوٰة مسئله مستنبط کړې ده چه دهغې احناف قائل دی او جمهور نه نه دی چه دهغې تفصیل په باب الحدث فی الصلوٰة کښې مونږ سره تیر شوې دې، مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله په حاشیه د موطاء کښې دا استنباط رد فرمائیلې دې، او دا ټول بحث حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې نقل فرمائیلې دې او حضرت په دې کښې د امام محمد رحمه الله د طرف نه مدافعت فرمائیلې دې او دا ئې لیکلې دی چه د مولانا عبدالحی رحمه الله چه څومره اشکالات دی هغه ټول په دې خبره باندې مبنی دی چې هغه د موطاء امام محمد روایت لره او دهغې نه علاوه باقی کتب صحاح کښې چه ددې سلسلې کوم روایتونه راغلی دی هغه ټول هغوی په وحدت واقعه باندې محمول کوی خو که هغه روایات په تعدد واقعه باندې محمول کړې شی نو بیا به د امام محمد رحمه الله په رائې کښې هیڅ اشکال نه وی او امام محمد رحمه الله چه د روایت کوم الفاظ په موطاء کښې ذکر فرمائیلې دی هغه په حدث فی الصلوٰة باندې بغیر د څه تردد نه محمول کیدلې شی، او دا کوم چه دهغې نه علاوه دا نور روایات دی نو بیشکه دا په حدث فی الصلوٰة باندې نه شی محمول کیدې، ځکه چه دهغې نه په بعضو کښې د جنابت او غسل تصریح ده

[۲۳۴]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، وَقَالَ فِي أَوَّلِهِ: فَكَبَّرَ، وَقَالَ فِي آخِرِهِ: فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، وَإِنِّي كُنْتُ جُنُبًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: فَلَمَّا قَامَ فِي مُصَلَّاهُ وَانْتَظَرْنَا أَنْ يُكَبِّرَ، انْصَرَفَ، ثُمَّ قَالَ: كَمَا أَنْتُمْ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ أَيُّوبُ، وَابْنُ عَوْنٍ، وَهِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ مُرْسَلًا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَكَبَّرَ، ثُمَّ أَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْقَوْمِ أَنِ اجْلِسُوا، فَذَهَبَ فَاغْتَسَلَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ مَالِكٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي حَكِيمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي صَلَاةٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ حَدَّثَنَاهُ مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَبَّرَ.

ترجمه: حماد بن سلمة بيان كړى دى په هم هغه سند او په معنى دهغې سره، او وئې وئيل په اول د هغې كښې: تكبيرې اووئيلو، او وئيلي ئې دي په اخير دهغې كې: هركله ئې چه مونځ خلاص كړو نو وئې وئيل: بيشكه زه بشر يم او زه جنب وم. وئيلي دي ابوداود: روايت كړى دى ددې زهري د ابو سلمة بن عبد الرحمن نه او هغه د ابوهريره نه هغه وئيلي دي: هركله چه هغه اودريدلو په ځائې د مونځ، مونږ انتظار كولو چه تكبير به وائي نو لاړو، بيا ئې اووئيل: همدغه شان اوسئ په خپلو ځايونو. وئيلي دي ابوداود: او روايت كړى دى دهغې ايوب او ابن عون او هشام د محمد نه مرسل، او هغه د پيغمبر ﷺ نه، هغه اووئيل تكبيرې اووئيلو بيا ئې اشاره اوكړه په لاس قوم ته چه كينئ، نو لاړلو غسل ئې اوكړو همدارنګه روايت كړى دى ددې مالک د اسماعيل بن ابي حكيم نه، او هغه د عطاء بن يسار نه، بيشكه رسول الله ﷺ تكبير اووئيلو په مونځ كښې. وئيلي دي ابوداود: او همدارنګه بيان كړى دى مونږ ته دهغې مسلم بن ابراهيم، بيان كړى دى مونږ ته ابان د يحيى نه، او هغه د ربيع بن محمد نه، او هغه د نبي ﷺ نه: بيشكه هغه تكبير اووئيلو

[۲۳۵]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا الزُّبَيْدِيُّ. ح وحَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْأَزْرَقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ. ح وحَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ إِمَامُ مَسْجِدِ صَنْعَاءَ، حَدَّثَنَا رَبَاحٌ، عَنْ مَعْمَرٍ. ح وحَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، كُلُّهُمْ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ وَصَفَّ النَّاسُ صُفُوفَهُمْ، فَخَرَجَ: "أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا قَامَ فِي مَقَامِهِ، ذَكَرَ أَنَّهُ لَمْ يَغْتَسِلْ، فَقَالَ لِلنَّاسِ: مَكَانَكُمْ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ، فَخَرَجَ عَلَيْنَا يَنْطُفُ رَأْسُهُ وَقَدِ اغْتَسَلَ، وَنَحْنُ صُفُوفٌ"، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ حَرْبٍ، وَقَالَ عَيَّاشٌ فِي حَدِيثِهِ: فَلَمْ نَزَلْ قِيَامًا نَنْتَظِرُهُ حَتَّى خَرَجَ عَلَيْنَا وَقَدِ اغْتَسَلَ؛

ترجمه: د ابوهريرة نه روايت دې هغه وئيلي دى يوځل ودرولى شو مونځ، او جوړ كړل خلكو صفونه خپل، نو راووتلو رسول الله ﷺ تر دې چه اودريدلو په خپل ځائې كښې، هغه ذكر كړل چه هغه غسل اونه كړو وئې وئيل خلكو ته. ثابت شئ په خپل ځاى بيا واپس شو خپل

¹: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٦٣٤، ١١٦٦٥) (صحيح)

²: صحيح البخاري/الغسل ١٧ (٢٧٥)، والأذان ٢٥ (٦٣٩)، صحيح مسلم/المساجد ٢٩ (٦٠٥)، سنن النسائي/الإمامة ١٤ (٧٩٣)، ٢٤ (٨١٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٠٠، ١٥٢٦٤، ١٥١٩٣، ١٥٢٧٥، ١٥٣٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٣٧، ٢٥٩، ٢٨٣، ٣٣٨، ٣٣٩)، ويأتي مختصراً برقم: (٥٤١) (صحيح)

کور ته، راووتلو چه څخیدلي اوبه سر د هغه نه په تحقیق سره غسل کړي وو هغه او مونږ صفونه کښي ولاړ وو، او دا لفظ د ابن حرب دي، او وئیلي دي ابن عیاش په خپل حدیث کي: نو مونږ همیشه ولاړ وو مونږ انتظار کولو د هغه تردي چه راووتلو مونږ ته او په تحقیق سره غسل ئي کړي وو

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَجِدُ الْبِلَّةَ فِي مَنَامِهِ

باب دي په بیان د سړي چي بیاموخي لوندوالي په خوب خپل کښ

بلة په کسري د باء سره دی او بلل بفتح الباء دي يعني لوندوالي. يعني انسان د خوب نه پاسي او په خپله جامه باندي لوندوالي بیا مومي نو په هغه باندي غسل واجب دي یا نه، د احتلام په کومو کومو صورتونو کښي غسل واجب کیږي او په کومو کښي نه دا مسئله تفصیل غواړي خصوصا د احنافو په نزد به دي کښي ډیر تفصیل دي

[٢٣٦]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ الْعُمَرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا، قَالَ: يَغْتَسِلُ، وَعَنِ الرَّجُلِ يَرَى أَنَّهُ قَدِ احْتَلَمَ وَلَا يَجِدُ الْبَلَلَ، قَالَ: لَا غُسْلَ عَلَيْهِ، فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: الْمَرْأَةُ تَرَى ذَلِكَ، أَعَلَيْهَا غُسْلٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ".

ترجمه: د عائشي رضي الله عنها نه روایت دي هغي وئیلي دی: تپوس اوشو د رسول الله ﷺ نه په باره د سړي کښي چه بیاموخي لوندوالی او یاد نه وي ورته احتلام، هغه اووئیل: غسل به کوي، او په باره د سړي کښي چه ویني د هغه خو احتلام شوی دی او لوندوالی نه وي، نو هغه اووئیل: نشته غسل په هغه، نو آووئیل ام سلیم ښځه چه دغه ویني نو په هغي غسل شته؟ هغه وفرمایل آو. بیشکه ښځي په اصل خلقت او طبیعت کښي په مثل د سړو دي

تشریح: ﴿ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ الخ ﴾ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړي شو چه کوم سړي د پاسیدو نه پس په جامه باندي لوندوالي بیا مومي او احتلام هغه ته یاد نه وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په داسي سړی باندي غسل واجب دي، او د هغه سړی په باره کښي چه هغه ته د احتلام کیدل یاد وی خو لوندوالي بیا نه مومي نو د هغه په باره کښي رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په داسي سړی باندي غسل واجب نه دي. د بعض علماء کرامو لکه شعبی رحمه الله او ابراهیم نخعي رحمه الله مسلک دا دي چه په دي حدیث کښي د بلل نه مراد مطلق لوندوالي دی که دهغي مني کیدل محقق وی او که نه وی، او د اکثرو علماء کرامو رائي دا ده چه ددي نه مراد د مني لوندوالي دي

خان پوهه کړه چه علامه شامی رحمه الله ددي مسئلي څوارلس شکلونه ذکر فرمائیلي دی چه دهغي تفصیل دا دي، ١: تیقن د مني، ٢: تیقن مذی، ٣: تیقن ودی، دري شکلونه د تیقن شو او څلور صورتونه د عدم تیقین او شک دی ١: الشک بین الاولین (مني ومذی)

(): سنن الترمذي/الطهارة ٨٢ (١١٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٢ (٦١٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٥٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٥٦)، سنن الدارمي/الطهارة (٧٩٠/٧٦) (حسن) إلا قول أم سليم: المرأة ترى...

۲ الشک بین الاخرین (مذی و ودی) ۳ الشک بین الاول والثالث (منی و ودی) ۴ الشک فی الثلاث یعنی د لوندوالی په باره کښې درې واړه خیالات وی کیدې شی چه منی وی، کیدې شی چه مذی وی، کیدې شی چه ودی وی. دا ټول اووه صورتونه شو په دې کښې د هر یو دوه صورتونه دی تذکر د احتلام او عدم تذکر د احتلام. لهذا ټول څوارلس صورتونه شو اوس ددې حکم واورئ د تذکر احتلام په اووه صورتونو کښې د یو نه علاوه په باقی ټولو صورتونو کښې غسل واجب دې او یو صورة د تیقین ودی دې په دې کښې امام صاحب او صاحبین متفق دی، او په عدم تذکر احتلام کښې دا تفصیل دې چه په یو صورت یعنی د تیقن منی په صورت کښې بالاتفاق غسل واجب دې او د تیقن غیر منی په صورتونو کښې بالاتفاق غسل واجب نه دې او هغه درې صورتونه دی، ۱. تیقن مذی، ۲ تیقن ودی، ۳. شک بین المذی والودی، او احتمال منی (چه دهغې درې صورتونه دی) کښې د طرفین په نزد غسل واجب دې، د امام ابویوسف رحمه الله په نزد واجب نه دې او هغه درې صورتونه دا دی، شک بین الاولین، شک بین الاول والثالث، شک فی الثلاث، حاصل دا چه د عدم تذکر په اووه صورتونو کښې د امام ابویوسف رحمه الله په نزد صرف یو صورت یعنی تیقن منی کښې غسل دې په باقی شپږو کښې نه دې، او عند الطرفین تیقن منی او احتمال منی چه دهغې درې صورتونه دی په دې څلورو کښې هم غسل واجب دې دا تفصیل خو د احنافو په مذهب کښې دې

د شوافعو په نزد ټول درې صورتونه دی تیقن منی، تیقن غیر منی، او احتمال منی، د اول دواړو حکم ظاهر دې[۱] او په دریم صورت کښې د هغوی په نزد اختیار دې په غسل او عدم غسل کښې، او هم دغه شان د حنابله په نزد دی خو هغوی د شک او احتمال په صورت کښې داسې وائی چه که قبل النوم د خروج مذی په اسبابو کښې څه سبب موندلې شوې وی نو بیا غسل واجب نه دې او که سبب خروج مذی نه وی نو غسل واجب دې او د مالکیانو په نزد د احتمال منی په سلسله کښې دا دی چه که شک وی په منی او باقی دواړو (یعنی مذی او ودی) نه په یو کښې نو بیا غسل واجب دې او که شک یوځائې په درې واړو کښې وی نو اوس چونکه احتمال منی ضعیف شو په دې وجه به غسل واجب نه وی، ددې ائمه ثلاثه مذهب صاحب منهل داسې لیکلې دې، او د ټولو نه دا ظاهریږی چه د هغوی په نزد د تذکر احتلام او عدم تذکر احتلام ترمینځه هیڅ فرق نشته

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تَرَى مَا يَرَى الرَّجُلُ

باب دې په بیان د ښځې کښې چې اووینی هغه چې وینې ئې سړی

مخکښې باب د احتلام رجل سره متعلق وو او دا د احتلام مراة سره متعلق دې، خو احتلام فی النساء نادر دې لکه چه په رجال کښې عدم احتلام نادر دې. کذا قالوا.

[۱] لکن لا یذهب علیك ای ابن رسلان شارح ابی داؤد نقل مذهب الشافعی انه لو تیقن انه منی ولکن لم یذکر الاحتلام لایجب الغسل عنده، لهذا د شوافعو د مذهب دې مزید تحقیق اوکړې شی

[۲۳۰]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: قَالَ عُرْوَةُ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ الْأَنْصَارِيَّةَ هِيَ أُمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ، أَرَأَيْتَ الْمَرْأَةَ إِذَا رَأَتْ فِي النَّوْمِ مَا يَرَى الرَّجُلُ، أَتَغْتَسِلُ أَمْ لَا؟ قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ، فَلْتَغْتَسِلْ إِذَا وَجَدَتِ الْمَاءَ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهَا، فَقُلْتُ: أُفٍّ لَكِ، وَهَلْ تَرَى ذَلِكَ الْمَرْأَةُ؟ فَأَقْبَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: تَرِبَتْ يَمِينُكِ يَا عَائِشَةُ، وَمِنْ أَيْنَ يَكُونُ الشَّبَهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَى عُقَيْلٌ، وَالزُّبَيْدِيُّ، وَيُونُسُ، وَابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَوَافَقَ الزُّهْرِيَّ مُسَافِعٌ الْحَجَبِيُّ، قَالَ: عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَمَّا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، فَقَالَ: عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دي، بيشکه ام سليم الانصاريه چه دا مور د انس بن مالک ده، هغې اووئيل اې د الله رسوله! بيشکه الله تعالى حيا نه کوي د حق نه، خبر راکړه ماته که چرته ښځه اووينی خوب کښې هغه څه چه سړی ئې وينی ايا هغه به غسل کوي؟ عائشې اووئيل وئيلی دي پيغمبر ﷺ، آو، غسل دې اوکړي کله چه اوبه بيامومي اووئيل عائشې: ما ورته مخ کړو او مې ويل تباهي دې وي تا لره ايا ويني ښځه دغه؟ نو مخامخ شو ماته رسول الله ﷺ او وني وئيل په خاورو دې ککړ شي ښي لاس ستا اې عائشې (مور پلار او دهغوی په اولاد کښې) مشابهت د کوم ځائې نه وي

تشريح: ﴿ قوله إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ ﴾

ام سليم رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه داسې مسئله اوتپوسله کومه چه عرفا او طبعا قابل استحياء وه، خو چونکه په شريعت کښې په تحصيل علم کښې استحياء نشته په دې وجه هغوی په طور د تمهيد د خپل کلام په شروع کښې دا خبره اوکړه.

ځان پوهه کړه چه حياء د انفعال او د تاثر د قبيل نه دې چه دهغې نه باری تعالى پاک دی په دې وجه علماء کرامو ددې جواب دا کړی دی چه دلته د استحياء لازمی معنی مراد ده يعنی ترک ا امتناع، ځکه چه د کوم څيز نه انسان شرميږی هغه ترک کوی، لهذا دلته لازمی معنی مراد شوه يعنی الله پاک د حق خبرې د ښکاره کولو يا د حق خبرې د تپوسلو نه منع نه کوی، بعضو په دې باندې داسې وئيلی دی چه ددې سوال او جواب هيڅ حاجت نشته ځکه چه دلته په حديث کښې د الله پاک نه د استحياء نفی کولې شی نه اثبات، جواب دا دې چه دلته دا ذکر دی چه الله پاک د حق نه استحياء نه فرمائی نو ددې نه به طور د مفهوم مخالف دا مستفاد کيږی چه د غير حق نه استحياء فرمائی. لهذا سوال او جواب صحيح دی فضول نه دی.

﴿ قَالَتْ عَائِشَةُ _ وَهَلْ تَرَى ذَلِكَ الْمَرْأَةُ ﴾ ام سليم رضي الله عنها چه کله د رسول الله ﷺ نه د احتلام مراة تپوس اوکړو نو په دې باندې عائشې رضي الله عنها کومه چه هلته موجود وه ډيره حياء

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٦٠٧(الف)، ١٦٧٣٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ٧ (٣١١، ٣١٣، ٣١٤)، سنن الترمذي/الطهارة ٩٠ (١٢٢)، سنن النسائي/الطهارة ١٣١ (١٩٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة (٦٠١)، موطا امام مالك/الطهارة ٢١ (٨٥)، مسند احمد (٦/٩٢)، سنن الدارمي/الطهارة ٧٥ (٧٩٠) (صحيح)

ورغله او ام سليم رضي الله عنها ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائيل آيا زنانه هم دا څيز ليدلې شي.

علماء کرامو ليکلي دی چه اول خو په زنانو کښې احتلام نادر دې دويم دا چه عائشه رضي الله عنها په دې وخت کښې کم عمره وه په دې وجه هغې تعجب اوکړو په دې باندې علامه سيوطي رحمه الله ليکلي او دا هم ممکنه ده چه دا اووئيلې شي چه څنګه انبياء عليهم السلام د احتلام نه محفوظ وی هم دغه شان ازواج مطهرات هم د احتلام نه محفوظ وې او دا د هغوی د خصائصو نه ده، دا خبره علامه زرقاني او حافظ عراقي په دې وينا رد کړې ده چه (الخصائص لا تثبت الا باحتمال)، مولانا عبد الحي رحمه الله په سعايه کښې په دې مسئلې باندې بحث کړې دې او هغوی ډېر تحقيق دا ليکلې دې (انهن لا يحتلمن بالجماع بشخص اجنبي) نيز د احتلام اثر شيطاني کيدل هم متعين نه دی بلکه هغه کله د کثرت شبع، يا مرض، يا امتلاء اوعيه منی د وجې نه هم کيږی.

(قوله تَرِبَتْ يَمِينُكِ يَا عَائِشَة) ددې لفظي معنى خو دا ده چه ستا لاسونه دې په خاورو باندې ککړ شي کومه چه کناية وی د فقر او احتياج نه خو د عربو خلقو عادت دې چه هغوی دا لفظ په غير د معنى اصلى نه استعمالوی، او په دې سره صرف نکير مقصود وی نه بد دعا هسی ابن العربي په شرح د ترمذی کښې ددې لفظ د معنى تحقيق او تشريح کښې د علماء کرامو لس اقوال ليکلي دی کوم چه حضرت شيخ په اوجز کښې نقل کړي دی

مور او پلار کښې د يو سره د بچې دمشابهت وجه

قوله: (وَمِنْ أَيْنَ يَكُونُ الشَّبَهُ) الشَّبَهُ بفتحتين او بکسر الشين وسکون الباء دواړو طريقو سره منقول دې يعني مشابهت او اشتراک د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ارشاد حاصل دا دې چه ماشوم چه کله د پلار او کله د مور مشابه وی ددې څه وجه ده؟ هم دا ده چه کله د سړی نطفه غالبه شي نو ماشوم د سړي مشابه وی او چه کله د زنانه نطفه غالبه شي نو ماشوم د مور مشابه وی نو هر کله چه د زنانه دپاره د منئ ثبوت پيدا شو نو بيا په احتلام کښې څه استبعاد دې، د صحيح مسلم په يو روايت کښې دی [1] چه کله ماء الرجل غالب وی په ماء المراة باندې نو ماشوم د خپلو تروڼو مشابه وی، او چه کله ماء المراة غالب وی په ماء الرجل باندې نو هغه وخت مولود د خپلو ماماګانو مشابه وی، د مسلم په يو روايت کښې دی چه کله د سړی منی غالب شي نو ماشوم مذکر وی د الله پاک په حکم باندې او چه کله برعکس وی نو ماشوم مونث وی د الله پاک په حکم.

ثبوت المني والاختلاف فيه :

خان پوهه ګړه چه په دې حديث کښې د زنانه دپاره اثبات د منی دې او د جمهور علماء کرامو په دې خبره باندې اتفاق دې، صرف د بعض فلاسفه په دې کښې اختلاف دې، پس ارسطاطاليس وائی چه د زنانه منی نه وی بلکه د زنانه په دم حيض کښې طاقت د

---

[1] ولفظه في رواية إذَا عَلَا مَاؤُهَا مَاءَ الرَّجُلِ أَشْبَهَ الْوَلَدُ أَخْوَالَهُ وَإِذَا عَلَا مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَهَا أَشْبَهَ أَعْمَامَهُ وفي رواية مَاءُ الرَّجُلِ أَبْيَضُ وَمَاءُ الْمَرْأَةِ أَصْفَرُ فَإِذَا اجْتَمَعَا فَعَلَا مَنِيُّ الرَّجُلِ مَنِيَّ الْمَرْأَةِ أَذْكَرَا بِإِذْنِ اللهِ وَإِذَا عَلَا مَنِيُّ الْمَرْأَةِ مَنِيَّ الرَّجُلِ آنَثَا بِإِذْنِ اللهِ وفي نسخة آنثا)

توليد وي او ابو علي سينا وائي چه د زنانه رطوبت وي كوم چه د منى مشابه وي او في الواقع هغه منى نه وي حضرت شيخ رحمه الله د سعايه نه نقل كولو سره ليكي چه د محققينو فلاسفه تحقيق هم دا دي چه د زنانه منى وي، بيا حضرت شيخ رحمه الله ليكي خو حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري كښې د بعض علماء كرامو لكه ابراهيم النخعي نه د زنانو دپاره د منى د كيدو انكار نقل كړې دې اګرچه امام نووي رحمه الله په شرح د مهذب كښې ابراهيم نخعي رحمه الله طرف ته ددې قول نسبت كولو ته مستبعد وئيلې دى خو حافظ وائي چه ابن ابي شيبة دا قول د ابراهيم النخعي نه په جيد سند سره نقل كړې دې

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَكَذَلِكَ رَوَى عُقَيْلٌ وَالزُّبَيْدِيُّ الخ ﴾ پورته په روايت كښې د ابن شهاب شاګرد يونس وو، دلته مصنف رحمه الله د يونس نه علاوه د ابن شهاب نور شاګردان ذكر كوى چه څنګه د ابن شهاب نه يونس روايت كوى هم دغه شان نور هم ډير راويان دا حديث د هغوى نه روايت كوى چه په هغې سره د يونس روايت ته تقويت حاصل شو او هغه راويان دا دي زبيدي، عقيل، يونس (خو د يونس ذكر مكرر دې په دې وجه د هغوى روايت خو پورته راغلو) ابن اخي الزهري او ابن ابي الوزير كوم چه ددې زهري نه په واسطه د مالك سره روايت كوى، واضحه دې وى چه په عبارت كښې د عن مالك تعلق صرف د ابن ابي الوزير سره دې ددې نه مخكښې چه كوم راويان ذكر شوې دى د هغوى سره نه دې هغوى بغير د واسطې د مالك نه براه راست د زهري نه روايت كوى

په روايتين كښې تعارض او دى په دفع كولو كښې د محدثينو رائې

﴿ وَوَافَقَ الزُّهْرِيُّ مُسَافِعٌ الْحَجَبِيُّ ﴾ خان پوهه كړه چه دلته په روايات حديثيه كښې اختلاف دې چه د ام سليم رضي الله عنها په سوال باندې رد كونكې عائشه رضي الله عنها ده يا سيده ام سلمه رضي الله عنها ... د زهري په روايت كښې دا دى چه رد كونكې عائشه ده او ددې بالمقابل د هشام بن عروه په روايت كښې دا دى چه هغه ام سلمه رضي الله عنها ده، مصنف رحمه الله د زهري روايت ته د هشام په روايت باندې ترجيح وركوى څكه چه مسافع حجبي د زهري موافقت كړې دې لهذا د زهري روايت مويد او موكد شو، په دې دواړو روايتونو كښې چه كوم تعارض دې د هغې په جواب كښې د محدثينو رائې مختلف دى امام ابوداؤد رحمه الله د زهري روايت ته ترجيح وركړې ده چه په هغې كښې رد كونكې عائشه رضي الله عنها ده او قاضي عياض رحمه الله د هشام روايت ته ترجيح وركړې ده چه په هغې كښې رد كونكې ام سلمه رضي الله عنها ده او امام نووي رحمه الله په خپل د مسلك ترجيح جمع بين الروايتين اختيار فرمائيله ده د هغوى رائې دا ده چه دواړه روايتونه صحيح دى ګويا د ام سليم رضي الله عنها د سوال په وخت ام سلمه او عائشه رضي الله عنها دواړه موجود وې دواړو په ام سليم رضي الله عنها باندې نكير كړې دې اوس دا د راويانو اختصار دې چه بعضو هغه ذكر كړې ده او بعضو دا، حافظ ابن حجر رحمه الله د امام نووي رحمه الله رائې غوره كړې ده، او علامه سندهي په حاشيه د نسائي كښې يو بله توجيه ليكلې ده يعنى احتمال د تعدد واقعه، ممكنه ده چه ام سليم رضي الله عنها چه كله په اول ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو نو په هغه دواړو كښې يو نكير اوكړو بيا څو ورځې پس د ام سليم رضي الله عنها د نسيان واقع كيدو نه پس دوباره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه

تپوس اوكړو نو هغه وخت په مجلس كښي بله زوجه وه نو هغي هم په دې سوال باندي نكير اوفرمائيلو لهذا دواړه روايتونه په خپل خپل ځائي باندي صحيح دي.

بَابٌ فِي مِقْدَارِ الْمَاءِ الَّذِي يُجْزِءُ فِي الْغُسْلِ

باب دې په بيان داوبو كې هغه اندازه چې غسل پرې روا كيږي

(ما قبل سره ربط او مناسبت)

د موجبات غسل بيان پوره شو اوس ددې ځائي نه مصنف رحمه الله د غسل بيان شروع كوي، مصنف رحمه الله په طهارت صغرى يعني اودس كښي هم داسې كړي وو چه د اودس نه مخكښي ئې موجبات وضوء يعني استنجاء او آداب استنجاء بيان فرمائيلي وو دهغې نه پس اودس، مصنف رحمه الله د غسل د كيفيت د بيان نه مخكښي مقدار دماء غسل بيانوي هم ددې قسم باب د ابواب الوضوء په شروع كښي راغلي دي، چه په هغې كښي د ماء وضوء مقدار بيان كړي شوي وو، موټرهلته مقدار دماء غسل هم بيان كړي وو ،لهذا ددوباره كلام كولو حاجت نشته

[٢٢٨] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ هُوَ الْفَرَقُ مِنَ الْجَنَابَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مَعْمَرٌ: عَنِ الزُّهْرِيِّ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَتْ: كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، فِيهِ قَدْرُ الْفَرَقِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْت أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: الْفَرَقُ: سِتَّةَ عَشَرَ رِطْلًا، وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: صَاعُ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَثُلُثٌ، قَالَ: فَمَنْ قَالَ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ؟ قَالَ: لَيْسَ ذَلِكَ بِمَحْفُوظٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ يَقُولُ: مَنْ أَعْطَى فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ بِرِطْلِنَا هَذَا خَمْسَةَ أَرْطَالٍ وَثُلُثًا، فَقَدْ أَوْفَى، قِيلَ: الصَّيْحَانِيُّ ثَقِيلٌ، قَالَ: الصَّيْحَانِيُّ أَطْيَبُ، قَالَ: لَا أَدْرِي.

ترجمه: د عائشي رضي الله عنها نه روايت دي بيشكه رسول الله صلى الله عليه وسلم وو چه غسل به ئې كولو د يو لوښي نه. چه هغه فرق دى. د جنابت نه وئيلي دي ابوداود: او روايت كړي دى ابن عيينة پشان د حديث د مالك وئيلي دي ابوداود: وئيلي دي معمر د زهري نه په دې حديث كې: هغې اووئيل وم چه غسل كولو ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو لوښي نه چه په هغې كښې اوبه په اندازه د يو فرق وې. وئيلي دي ابوداود: ما اوريدلي دي د احمد بن حنبل نه چه وئيل يې: فرق شپاړس رطله وی، او ما اوريدلي دي د هغه نه چه وئيل يې: صاع د ابن ابي ذئب چه پنځه رطله او دريمه حصه وی، هغه اووئيل: چا چه اووئيل اته رطل وی؟ نو هغه اووئيل نه دی هغه محفوظ. هغه اووئيل: ما اوريدلي دي د احمد نه چا چه ورکړو په صدقة الفطر کښې زمونږ په دې رطل پنځه رطله او ثلث نو هغه پوره ورکړو. وئيلي شوي دي چه صيحاني دروند دی، ابوداود اووئيل: صيحاني عمده كهجوري دی. هغه اووئيل: ماته نه ده معلومه

تشريح: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُد قَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ ﴾ ددې حديث راوی ابن شهاب

---

(١): صحيح البخاري/الغسل ٢ (٢٥٠)، ١٥ (٢٧٢)، صحيح مسلم/الحيض ١٠ (٣٢١)، سنن النسائي/الطهارة ٥٨ (٧٢)، والغسل ٩ (٤٠٩)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٣٥ (٣٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٧، ١٧٣، ٢٣٠، ٢٦٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٨ (٧٧٧) (صحيح)

زهري دي هغوى نه روايت کونکي په اول سند کښې مالک او په دويم کښې کوم چه ددې خاني نه بيانوى معمر دې، د زهري او د هغه د شاګردانو د روايت ترمينځه فرق دې چه د مالک په روايت کښې دا دى چه عائشې رضي الله عنها او رسول الله ﷺ دواړو به په يو فرق اوبو باندې غسل فرمائيلو، اوس يا خو دې داسې اووئيلې شى چه په اول روايت کښې غسل عائشه نه دې مذکور نو دهغې نفي هم نشته او په دويم روايت کښې د دواړو غسل صراحة ذکر دې، لهذا په اول روايت کښې به هم په دې باندې محمول کولې شي. يا دې داسې اووئيلې شى چه دا په اختلاف د اوقاتو او احوالو باندې محمول دې کله کله به رسول الله ﷺ په يو فرق اوبو باندې غسل فرمائيلو او کله به رسول الله ﷺ او عائشې رضي الله عنها دواړو

وراندې مصنف رحمه الله د فرق او صاع مقدار بيان فرمائيلې دې ددې تفصيلي بحث مونږ سره په ابواب الوضوء کښې تير شوې دې او په دې باندې تفصيلي کلام حضرت په بذل کښې فرمائيلې دې

﴿ وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ يَقُولُ مَنْ أَعْطَى فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ الخ ﴾ د امام احمد رحمه الله ددې کلام حاصل دا دې چه په حديث شريف کښې د صدقة الفطر مقدار يو صاع تمر بيان کړې شوې دې او صاع د يو مشهورې پيمانې نوم دې اوس که يو سړې ددې پيمانې په ذريعه صدقة الفطر ادا کوى نو بيا خو هيڅ د شک خبره نشته خو که څوک صدقة الفطر په ځائې د پيمانې د وزن په ذريعه پينځه رطل او ثلث رطله ادا کړى کوم چه د صاع وزن دې نو د هغه نه به هم صدقة الفطر ادا شي.

﴿ قِيلَ الصَّيْحَانِيُّ ثَقِيلٌ قَالَ الصَّيْحَانِيُّ أَطْيَبُ. قَالَ لاَ أَدْرِي ﴾ صيحاني [1] د يو خاص قسم کهجورې نوم دې کومه چه په عربو کښې مشهوره ده، چه کله زه په ۱۳۹۳هجرى کښې اول ځل حج له تلې اوم نو هلته رسيدلو سره مې معلوم کړې وو چه آيا د کهجورې يو قسم صيحاني هم دې؟ نو خلقو اووئيل چه او يو خاص قسم دې، پس ما هغه اخستلې وې کومې چه د عام کهجورو نه لږې ګرانې وې، او عمده قسم شمار کيدلې

تشريح حديث

د امام احمد رحمه الله نه چا تپوس اوکړو چه تاسو اوس اوفرمائيل چه که د وزن په اعتبار سره پينځه رطل او ثلث رطل کهجورې ادا کړې شي نو کافي دى، حال دا چه صيحاني کهجورې درنې وى او دهغې په پينځو رطلو او ثلث رطل سره پيمانه يعنې صاع نه ډکيږى اوس بيان

---

[1] د صيحاني وجه تسميه صاحب قاموس دا ليکلې ده چه په اصل کښې صيحاني د يو ګډ نوم دې کوم چه به د کهجورې ددې قسم اوني سره ترلې شو، په دې مناسبت سره هم دې اوني ته صيحاني وئيل شروع شو، او حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې د لسان العرب په حوالې سره ليکلې دى چه په يو غير صحيح حديث کښې راغلي دي چه صيحاني کهجورې ته صيحاني په دې وجه وائي چه دا د صياح نه دې چه دهغې معنى د وينا او چغو وهلو ده، شوې داسې وه چه يو ځل رسول الله ﷺ او علي رضي الله عنه د يوې کهجورې د اوني په خوا کښې ناست وو نو دې اونې بلې اونې ته آواز کولو سره اووئيل ﴿ هذا النبي المصطفى وعلي المرتضى ﴾ ګويا اصل ماده ددې صياح ده د نسبت په وخت تغير کولو سره صيحاني وئيلې شى

کړئ چه په دې سره به هم واجب ادا کیږی یا نه؟ څکه چه په حدیث کښې خو د یو صاع ورکولو حکم دې او دلته د وزن په اعتبار سره یو صاع دې خو صورة وکیلا هغه د یو صاع نه کم دی په دې باندې امام صاحبﷺ اوفرمائیل ﴿ الصیحانی اطیب ﴾ یعنی آیا صیحانی غوره کهجورې دی؟ دا سوال هغوی په ظاهر کښې په دې وجه اوکړو که صیحانی کهجوره غوره وی نو بیا به په دې سره صدقة الفطر یقینا ادا شی، خو دا خبره کومه چه د هغوی په ذهن کښې راغله د سوال مطابق نه وه پس امام صاحب چه کله په سوال کښې دوباره غور اوکړو نو بیا پوهه شو چه د سائل سوال خو څۀ بل څه دې په دې کښې په عمده او غیر عمده سره هیڅ فرق نه پریوځی په دې وجه د خپلې خبرې نه رجوع کولو سره امام صاحب اوفرمائیل ﴿ لا ادری ﴾ یعنی ددې سوال جواب ماته مستحضر نه دې، ددې کلام په شرح کښې یو بل احتمال هم دې هغه دا چه امام احمدﷺ چه کله سوال اوفرمائیلو چه ﴿ الصیحانی اطیب ﴾ نو په دې باندې مجیب اوفرمائیل ﴿ لا ادری ﴾ چه دا خو ماته پته نشته چه هغه عمده دی یا غیر عمده، او بیا هم په دې باندې خبره ختم شوه، وراندې معلومه نه ده چه بیا به امام صاحب څه فیصله فرمائیلې وی ګویا د ﴿ لا ادری ﴾ په قائل کښې دوه احتمالات شو یو دا چه ددې قائل خپله امام احمدﷺ دې، دویم دا چه ددې قائل مخاطب یعنی سائل دې حضرت په بذل کښې اول معنی اختیار کړې ده او ابن رسلان دویمه معنی ذکر کړې ده.

فقهی مسئله دا ده چه حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه د احنافو په نزد په دې صورت کښې صدقة الفطر نه ادا کیږی، او په منهل کښې د بقیه ائمه ثلاث مذهب هم دا لیکلې شوې دې. فقهی مسئله دا ده چه حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه د احنافو په نزد به په دې صورت کښې صدقة الفطر نه ادا کیږی او په منهل کښې ئې د باقی درې امامانو مذهب هم دا لیکلې دې.

بَابُ الْغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ

باب دې په بیان د غسل کې د جنابت نه

دا باب د کیفیت غسل په باره کښې دې او ډیر اوږد دې، او د کیفیت وضوء خو ددې نه هم زیات اوږد وو په دې باب کښې مصنفﷺ یولس احادیث ذکر کړې دی. امام نسائیﷺ په دې سلسله کښې ډیر ابواب قائم کړې دی، مکرر سه مکرر ابواب قائمولو سره ئې کیفیت د غسل ښه واضح فرمائیلې دې، زه خو وایم چه د تراجم دا تکثیر او هر هر جزء باندې بیل بیل باب قائم کول، شغف بالحدیث، د حدیث پاک عظمت او د حب رسولﷺ په بناء باندې دې

اعد ذکر نعمان لنا ان ذکره :: هو المسک ما کررته یتضوع

[۲۳۹] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ صُرَدٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، أَنَّهُمْ ذَكَرُوا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1]: صحيح البخاري/الغسل ٤ (٢٥٤)، صحيح مسلم/الحيض ١١ (٣٢٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٥٨ (٢٥١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٩٥ (٥٧٥)، (تحفة الأشراف: ٣١٨٦) (صحيح)

وَسَلَّمَ: "أَمَّا أَنَا، فَأُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا، وَأَشَارَ بِيَدَيْهِ كِلْتَيْهِمَا".

ترجمه: د جبیر بن مطعم نه روایت دي چه هلکو ذکر کړو د رسول الله ﷺ په نزد غسل د جنابت، نو اووئیل رسول الله ﷺ: هر چه زه یم نو اړوم په سر باندې درې لپې. او اشاره ئې اوکړه په خپلو دواړو لاسونو لپه جوړولو سره.

تشریح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ- قوله أمّا أنا فَأُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا ﴾ یعنی یو خل بعض صحابه کرامو ﷺ دنبی علیه السلام په مجلس کښې د غسل جنابت مذاکره فرمائیله، هر یو د خپل غسل طریقه بیانوله. رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه زما طریقه خو دا ده چه زه په غسل کښې په خپل سر باندې صرف درې کرته اوبه بیوم. ابن رسلان لیکی چه د ظاهر الفاظو نه معلومیږی چه صحابه کرامو ﷺ به د دریو نه زیات عدد ذکر کړې وی یعنی چا به وئیلې وی چه زه ئې پنځه کرته بیوم او چا به وئیلې وی زه اووه کرته. په دې باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ﴿ اما انا فافیض علی راسی ثلثا ﴾ انا په اصل کښې د تفصیل دپاره راځی کوم چه تعدد غواړی دلته په روایت کښې د مدخول اما صرف یو شق ذکر شوې دې ددې شق ثانی د مقام نه په پوهه کښې راځی یعنی ﴿ اما انتم فتفعلون کذا وکذا ﴾

خان پوهه کړئ چه ددې حدیث نه په غسل کښې تثلیث غسل راس مستحب کیدل معلومیږی، امام نووی ﷫ فرمائی چه په غسل راس کښې د تثلیث استحباب متفق علیه دې زمونږ علماء کرامو باقی بدن هم په دې باندې قیاس کولو سره په دې کښې هم تثلیث نه مستحب وئیلې دې او هم دغه شان په اودس باندې د قیاس کولو تقاضا هم دا ده بلکه غسل په نسبت د اودس د تثلیث زیات مستحق دې ځکه چه د اودس بناء په تخفیف باندې ده خو په دې کښې د قاضی ماوردی شافعی اختلاف دې هغوی د باقی بدن تثلیث مستحب نه منی، صاحب منهل لیکی چه امام نووی ﷫ چه کوم مسلک د شوافعو لیکلې دې هم هغه د احنافو او حنابله هم دې، او د مالکیانو په نزد صرف په غسل راس کښې تثلیث مستحب دې په باقی بدن کښې نه هم دغه شان د غسل په شروع کښې چه کوم اودس کولې شی د هغوی په نزد په دې کښې هم تثلیث مستحب نه دې بلکه د اودس د اندامونو غسل صرف مرة مرة دې. (کما في الشرح الکبیر)

[٢٤٠] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، دَعَا بِشَيْءٍ مِنْ نَحْوِ الْحِلَابِ، فَأَخَذَ بِكَفَّيْهِ، فَبَدَأَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ الْأَيْسَرِ، ثُمَّ أَخَذَ بِكَفَّيْهِ، فَقَالَ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ".

ترجمه: د عائشې ﷻ نه روایت دې هغې وئیلی دی. وو رسول الله ﷺ چه کله به نې غسل

(١): صحيح البخاري/الغسل ٦ (٢٥٨)، صحيح مسلم/الحيض ٩ (٣١٨)، ١٠ (٣٢٠)، سنن النسائي/الطهارة ١٥٣ (٢٤٥)، ١٥٦ (٢٤٨)، ١٥٧ (٢٤٩)، والغسل ١٦ (٤٢٠)، ١٩ (٤٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٤٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٧٦ (١٠٤)، موطا امام مالك/الطهارة ١٧ (٦٧)، مسند احمد (٦/٩٤، ١١٥، ١٤٣، ١٦١، ١٧٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٦ (٧٧٥) (صحيح)

کولو د جنابت نه نو راوبه ئې غوښتلو يو لوښى په اندازه د لښولو د لوښې د اوښې، نو راوبه ئې خستې اوبه په دوارو ورغوو نو شروع به ئې اوکړه په طرف د سر ښې باندې، بيا په ګس باندې، بيابه ئې راوخستې اوبه په دوارو ورغوو، نو هغه اووئيل دواړه به ئې واچولې په خپل سر باندې

تشريح: ۲ ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى – إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ دَعَا بِشَيْءٍ نَحْوِ الْجِلَابِ الخ ﴾ يعنى چه کله به رسول الله ﷺ د غسل اراده فرمائيله نو په داسې لوښى کښې به ئې اوبه راغوښتلې چه د حلاب په شان به وو، حلاب وائې هغه لوښى ته چه په هغې کښې د اوښې د يو وخت پئ خائې شى چه دهغې مقدار ښکاره دې چه د هغوى په نزد به معروف او متعين وى، ﴿ قوله فقال بهما على راسه ﴾ يعنى په دوارو لاسونو کښې اوبه اخستلو سره ئې په سر باندې بهيولې، لفظ قال په ډيرو معنو باندې استعماليږي کومه معنى چه د مقام او محل مناسب وى هغه اخستلې شى، پس ﴿ قال بيده وقال برجله ﴾ معنى دا کيدې شى چه په لاس ئې اونيولو او په خپلو خپو لاړو.

په حديث الباب باندې د امام بخارى رحمه الله يو خاص ترجمه:

خان پوهه کړه چه امام بخارى رحمه الله د لفظ جلاب د وجې نه په دې حديث باندې په صحيح بخارى کښې ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب من بداء بالحلاب او الطيب ﴾ او د هغوى دا ترجمه د بخارى شريف په هغه مشهور تراجمو کښې ده کوم چه معرکة الاراء او ګران ګڼلې کيږى، د ترجمة الباب الفاظ په ظاهر کښې ددې خبرې مشعر دى چه د غسل ابتداء په حلاب او طيب سره کيدل پکار دى ګويا حلاب يو داسې خيز دې کوم چه د طيب د قبيلې نه دې امام خطابى رحمه الله فرمائى غالبا امام بخارى رحمه الله ته وهم راغلې دې او د هغوى ذهن دحلاب نه د محلب طرف ته لاړو او محلب واقعي يو داسې خيز وى کوم چه په لاس او بدن وينځلو کښې استعمالولې شى، خو په حديث کښې د محلب ذکر نشته بلکه د حلاب دې کوم چه د يو ظرف نوم دې، حضرت په بذل کښې د خطابى رحمه الله نه هم دومره نقل فرمائيلې دې هسې خو شارحينو د بخارى په دې باندې تفصيلى کلام فرمائيلې دې حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې ليکلې دى چه حافظ رحمه الله فرمائى د يو جماعت رائې ده چه د امام بخارى رحمه الله نه په دې کښې وهم واقع شوې دې، او هيڅ انسان داسې نشته چه د غلطى نه محفوظ وى راو غلطى هم هغه ده د کومې ذکر چه پورته د خطابى په کلام کښې راغلې دې او د بعض شارحينو رائې دا ده چه په حديث کښې تصحيف واقع شوې دې، صحيح حلاب نه دې بلکه جلاب په ضمې د جيم او د لام په تشديد سره دې يعنى ماء الورد کوم چه يقينا د طيب د قبيل نه دې او د بعض شراح بخارى رائې دا ده چه د امام بخارى رحمه الله مقصود په دې ترجمة الباب سره استعمال د طيب قبل الغسل لره ثابتول نه دى بلکه دهغې نفى مقصود ده چه د غسل نه مخکښې استعمال طيب ثابت نه دې

[۲۴۲] (۱) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ مَهْدِيٍّ، عَنْ زَائِدَةَ بْنِ قُدَامَةَ، عَنْ صَدَقَةَ، حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَيْرٍ أَحَدُ بَنِي تَيْمِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أُمِّي وَخَالَتِي عَلَى عَائِشَةَ فَسَأَلَتْهَا إِحْدَاهُمَا: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ عِنْدَ الْغُسْلِ؟ فَقَالَتْ عَائِشَةُ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، وَنَحْنُ نُفِيضُ عَلَى رُءُوسِنَا خَمْسًا مِنْ أَجْلِ الضَّفْرِ".

ترجمه: بیان کړی دی جمیع بن عمیر یو د بني تیم الله بن ثعلبه نه دی، هغه اوونیل زه داخل شوم سره د خپلې مور او خالي نه په عائشې باندې، نو یوې تربنه تپوس اوکړو تاسو به د غسل په وخت کښې څنګه کول؟ نو عائشې اوونیل وو رسول الله ﷺ چه اودس به ئې کولو پشان د اودس د مانځه، بیابه ئې اړولې په خپل سر باندې اوبه درې ځله. او موږ به اړولې په خپلو سرونو باندې پنځه ځل د وجې د کمڅو نه

تشریح: ۳ ﴿ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ - وَنَحْنُ نُفِيضُ عَلَى رُءُوسِنَا خَمْسًا مِنْ أَجْلِ الضَّفْرِ ﴾
سیده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ به په خپل سر مبارک باندې درې کرته اوبه بهیولې او موږ یعنی د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات به د ویښتو د کمسو د وجې نه پنځه کرته اوبه بهیولې

په دې حدیث باندې حضرت په بذل کښې څو هیڅ اشکال نه دې فرمائیلې بلکه دا ئې لیکلې دی چه په ظاهر کښې به هغوی احتیاطا داسې کول چه اوبه ئې په ښه طریقې سره د ویښتو ویخونو ته اورسیږی او حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه د عائشې رضي الله عنها مراد دا دې چه کله کله به موږ داسې کول کیني دا حدیث به د هغه حدیث خلاف شی کوم چه ددې نه په وړاندې باب کښې راروان دې چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ ام سلمه رضي الله عنها ته اوفرمائیل ﴿ انما يكفيك ان تحثي عليك ثلاث حثيات ﴾ یعنی د زنانه دپاره دا کافي ده چه د غسل په وخت کمسئ نه پرانیزی او په خپل سر باندې دې درې لپې اوبه واچوی. لهذا اصل خو تثلیث دې او دې حدیث متعلق به دا ونیلې شی چه دا د هغوی خپل فعل وو ، د رسول الله ﷺ د طرف نه ددې حکم نه وو او یا به دا اوونیلې شی چه دا حدیث ضعیف دې ځکه چه په دې کښې یو راوی جمیع بن عمیر دې کوم چې متکلم فیه دې، والله تعالى اعلم.

[۲۴۳] (۲) حدثنا سليمان بن حرب الواشحي. ح حَدَّثَنَا وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، قَالَ سُلَيْمَانُ: يَبْدَأُ فَيُفْرِغُ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: غَسَلَ يَدَيْهِ يَصُبُّ الْإِنَاءَ عَلَى يَدِهِ الْيُمْنَى، ثُمَّ اتَّفَقَا: فَيَغْسِلُ فَرْجَهُ، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: يُفْرِغُ عَلَى شِمَالِهِ، وَرُبَّمَا كَنَتْ عَنِ الْفَرْجِ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْإِنَاءِ فَيُخَلِّلُ شَعْرَهُ، حَتَّى إِذَا رَأَى أَنَّهُ قَدْ أَصَابَ الْبَشَرَةَ أَوْ أَنْقَى الْبَشَرَةَ أَفْرَغَ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثًا، فَإِذَا فَضَلَ فَضْلَةٌ صَبَّهَا عَلَيْهِ".

(۱): سنن ابن ماجه/الطهارة ۹۴ (۵۷۴)، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۵۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ۱۷ (۶۷)، مسند احمد (۶/۱۸۸)، سنن الدارمي/الطهارة ۶۶ (۷۷۵) (ضعيف جدا)
(۲): صحيح البخاري/الغسل ۹ (۲۶۲)، صحيح مسلم/الحيض ۹ (۳۱۶)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۷۳، ۱۶۸۶۰) (صحيح)

ترجمه: د عائشي ﷜ نه روايت دي هغې وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چه کله به ئې غسل کولو د جنابت نه (وئيلي دي سليمان) شروع به ئې کوله نو اړولي به ئې په ښي لاس په ګس لاس باندې او وئيلي دي مسدد: وئي وينځل دواړه لاسونه چه اړولي به ئې اوبه په خپل ښي لاس، بيا دواړه متفق شوي دي: نو وينځلو به ئې خپل عورت. او وئيلي دي مسدد: اړولي به ئې په ګس لاس، او کله به ئې کنايه کوله د فرج نه، بيا به ئې اودس کولو پشان د اودس د مانځه، بيا به ئې دواړه لاسونه ننوېستل په لوښي کښې، نو خلال د ويختو به ئې اوکړو، تردې چه هغه ته به معلومه شوه چه بيشکه اوبه هغه پوستکي ته ورسيدې، او يائې صفا کړو پوستکې، راوابه ئې رولي په خپل سر باندې درې ځل اوبه، بيابه چې کومې اوبه باقي پاتې شوې نو هغه په خپل ځان واړولې.

تشريح حديث :

﴿ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ - قَالَ سُلَيْمَانُ يَبْدَأُ فَيُفْرِغُ مِنْ يَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ. وَقَالَ مُسَدَّدٌ غَسَلَ يَدَيْهِ الخ ﴾ په دې حديث کښې عائشه ﷞ د غسل جنابت په سلسله کښې د رسول الله ﷺ معمول بيان فرمائي د غسل کيفيت مسنونه کوم چه په احاديثو کښې راغلي دي. ددې حاصل دا دې چه کله به رسول الله ﷺ د غسل جنابت اراده فرمائيله نو اول به ئې دواړه لاسونه وينځل ددې نه پس به ئې استنجاء بالماء فرمائيله، او په بعض رواياتو کښې دي ﴿ فيغسل مذاکيره ﴾ يعنې د محل استنجاء نه چاپيره فخذين او اصول فخذين وغيره باندې به چه کوم نجاست وو هغه به رسول الله ﷺ زائل کولو بيا به ئې لاس وينځلو سره اودس فرمائيلو ددې نه پس به ئې اول په سر باندې درې کرته اوبه اچولې او بيا به ئې په باقي بدن باندې اوبه بهيولې

د دې نه پس تاسو ځان پوهه کړئ چه د مصنف ﷫ په دې حديث کښې دوه استاذان دي سليمان او مسدد ددې دواړو استاذانو الفاظو کښې چه کوم فرق دې مصنف ﷫ هغه بيانوي د سليمان په روايت کښې دي ﴿ يبداء فيفرغ بيمينه ﴾ يعنې رسول الله ﷺ به غسل يدين داسې فرمائيلو چه اول به ئې په لوښي کښې په ښي لاس باندې اوبه اخستلو سره به ګس اچولې او بيا به ئې دواړه لاسونه وينځل، او مسدد اولا خو غسل يدين مجملا ذکر کړو او وې وئيل ﴿ غسل يديه ﴾ ددې نه پس ئې چه د غسل يدين کوم کيفيت بيان کړو هغه د سليمان د بيان کړې شوي کيفيت نه لږ مختلف دي، د سليمان د روايت نه خو په ظاهر کښې معلوميږي چه رسول الله ﷺ د اوبو اخستلو دپاره ادخال يد في الاناء اوفرمائيلو، او د مسدد د روايت نه معلوميږي چه په ځائې د ادخال يد ئې اضغاء اناء اوفرمائيلو يعنې لوښي ښکته کولو سره ئې په لاس باندې اوبه واچولې

﴿ قوله ثُمَّ اتَّفَقَا فَيَغْسِلُ فَرْجَهُ ﴾ يعنې سليمان او مسدد دواړو د غسل يدين د ذکر کولو نه پس اووئيل ﴿ فيغسل فرجه ﴾ چه دهغې نه استنجاء بالماء مراد ده بيا ورانديې مصنف ﷫ فرمائي چه مسدد کيفيت د استنجاء هم بيان کړو ﴿ يفرغ على شماله ﴾ يعنې د استنجاء په وخت به رسول الله ﷺ په ښي لاس سره په ګس لاس باندې اوبه اچولې.

﴿ قوله وَرُبَّمَا كَنَّتْ عَنِ الْفَرْجِ ﴾ مسدد وائي چه عائشي ﷞ به لفظ فرج خو کله صراحة

ذکر فرمائیلو او کله کنایة، پس د مسلم په روایت کښې دی ﴿ ثم صب الماء علی الاذی الذی به ﴾ دا د الفاظ متن تشریح شوه کومه چه یقینا قابل اعتناء ده.

﴿ قوله ثم یتوضاء وضوءه للصلوة ﴾ یعنی د استنجاء وغیره د فراغت نه پس به رسول الله ﷺ په شروع کښې اودس فرمائیلو د مانځه والا اودس

په ابتداء د غسل کښې د اودس متعلق اختلافات:

ځان پوهه کړه چه په وضوء قبل الغسل کښې درې مسئلې اختلافی دی، اول ددې حکم، دویم دا چه دا اودس به کامل وی او که په دې کښې به غسل رجلین موخر کولې شی، ثالث دا چه په دې اودس کښې به مسح د سر هم وی یا نه

اختلاف اول:

د جمهورو علماء کرامو په نزد دا اودس سنت دې او د داؤد ظاهری په نزد واجب دې، او د امام احمد رحمه الله هم یو روایت د وجوب دې چه دهغې تحقیق به ددې نه په وړاندې باب باب الوضوء قبل الغسل کښې راځی

اختلاف ثانی:

په دې سلسله کښې روایات هم مختلف دی او د علماء کرامو اقوال هم، د عائشې رضی الله عنها ددې روایت نه تکمیل وضوء په فهم کښې راځی او د میمونې رضی الله عنها روایت کوم چه ددې نه وړاندې راروان دې په هغې کښې تاخیر رجلین ذکر شوې دې، امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې فرمائی چه د عائشې رضی الله عنها روایات کوم چه په صحیحین کښې دی دهغې د ظاهر نه تکمیل وضو مستفاد کیږی او د اکثر روایات میمونه نه تاخیر غسل قدمین معلومیږی او هغوی دا هم لیکلې دی چه د امام شافعی رحمه الله قول اصح او اشهر اولویت د تکمیل وضوء دې هم دغه شان علامه زرقانی مالکی رحمه الله فرمائی، د امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله مذهب تکمیل وضوء دې یعنی عدم تاخیر د غسل قدمین او د حنابله په نزد په دې کښې دوه روایتونه دی، کما فی المغنی. او د احنافو په نزد په دې مسئله کښې درې اقوال دی، ١: قول مختار د اکثرو په نزد کوم چه په متون احناف کښې ذکر دې هغه اولویت تاخیر دې مطلقا، ٢: عدم تاخیر مطلقا، ٣: که د غسل ځائې مستنقع الماء وی نو بیا خو تاخیر دې کښې تقدیم دې

اختلاف ثالث:

په دې وضوء کښې مسح راس شته او که نه؟ د جمهور علماء کرامو او ائمه اربعه په نزد شته خو د حسن بن زیاد او امام صاحب رحمه الله نه یو روایت دې چه په دې اودس کښې مسح راس نشته. امام نسائی رحمه الله په دې مسئله باندې مستقل ترجمه قائم کړې ده، ﴿ باب ترک مسح الراس فی الوضوء من الجنابة ﴾ او په دې باب کښې هغوی د عائشې رضی الله عنها او د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما هغه روایت ذکر فرمائیلې دې ـــــ ﴿ حتی اذا بلغ راسه لم یمسح وافرغ علیه الماء ﴾ خو چونکه په ډیرو روایاتونو کښې ﴿ یتوضاء وضوءه للصلوة ﴾ وارد دې په دې وجه جمهور علماء کرامو هم هغه اختیار کړې دې، او د نسائی ددې روایت په باره کښې دا وئیلې کیدې شی چه ممکن ده

دا د بیان جواز دپاره وی کله کله رسول اللهﷺ داسې هم کړي دی (کذا قال السندی فی الحاشیة)

﴿ قوله فَيُخَلِّلُ شَعْرَهُ ﴾ علامه زرقانی لیکلي دی چه په غسل کښې تخلیل شعر راس بالاتفاق غیر واجب دې مګر دا چه د سر ویښته د یو څیز سره ملبد وی یعنی یو غوړ څیز وریپوري لګی چه په هغې سره بغیر د تخلیل د اوبو نه خلال ویښتو ته او نه رسی خو تخلیل لحیه فی الغسل مختلف فیه دی چه دهغې بیان په ابواب الوضوء کښې تیر شوی دې

﴿ قوله قد اصاب البشرة ﴾ دا لفظ بفتحین دي ددې معنی د انسان د ظاهری څرمني ده صاحب د عون المعبود ته دلته وهم پیدا شوي دې هغوی دا بکسر الموحدة وسکون الشین ضبط کړي دي دا صحیح نه دی، د بِشر بالکسر معنی د طلاقة الوجه یعنی د رونړ تندی ده هم دغه شان وراندې لفظ د فضلة صاحب د عون په ضمې د فاء سره ضبط کړي دي دا هم صحیح نه دی دا لفظ بفتح الفاء دي، کما ضبطه فی البذل، البته فضالة بضم الفاء دی

[٢٣٣] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا، مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَدِيٍّ، حَدَّثَنِي سَعِيدٌ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنِ النَّخَعِيِّ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَغْتَسِلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، بَدَأَ بِكَفَّيْهِ فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ غَسَلَ مَرَافِغَهُ وَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ، فَإِذَا أَنْقَاهُمَا أَهْوَى بِهِمَا إِلَى حَائِطٍ، ثُمَّ يَسْتَقْبِلُ الْوُضُوءَ وَيُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى رَأْسِهِ".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی وو رسول اللهﷺ چه کله به ئې اراده د غسل اوکړه د جنابت نه شروع به ئې په دوارو ورغوو نو دواړه به ئې اووینځل، بیابه ئې وینځل هغه ځایونه چه اوبه ورته په اسانۍ نه رسیږي، او اوبه به ئې پرې وارولې، چه کله به ئې ښه پاک کړل نو قصد به ئې اوکړو په دوارو سره دیوال ته، بیابه ئې اودس کولو، او اوبه به ئې اړولې په خپل سر

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْبَاهِلِيُّ – ثُمَّ غَسَلَ مَرَافِغَهُ ﴾ یعنی رسول اللهﷺ به په غسل کښې د غسل کفین نه شروع کوله ددې نه پس به ئې غسل مرافغ فرمائیلو، اصل کښې ددی نه مراد استنجاء بالماء ده لکه چه په روایاتو کښې مشهوره ده دا د رفغ جمع ده، مرافغ وائی مغابن ومطاوی بدن ته یعنی مواضع عرق او د وسخ بدن هغه حصه چرته چه خوله او خیرې جمع کیږی لکه ابطین او اصول فخذین او دلته تري نه مراد فرج او أوصول فخذین دی په یو روایت کښې دی ﴿ اذا التقی الرفغان وجب الغسل ﴾ ای الفرجان والختانان.

﴿ قوله وَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ ﴾ ددې روایت په الفاظو کښې دلته لږ وراني معلومیږی حضرت په بذل کښې لیکلي دی چه په ظاهره د روایت په الفاظو کښې تقدیم او تاخیر دی، د بنده رائي دا ده کومه چه حضرت هم احتمالاً بیان فرمائیلي ده، د علیه ضمیر په تاویل د مذکور د مرافغ طرف ته راجع دي او تردي خائي پوري د استنجاء بیان پوره شو وراندې په ﴿ فاذا انقاهما ﴾ د غسل یدین ذکر دي حاصل دا دي چه اول رسول اللهﷺ غسل مرافغ یعنی استنجاء بالماء اوفرمائیله او ددې نه پس ئې بیا غسل یدین اوکړو او د غایة تنظیف دپاره

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧١/٦) (صحیح)

ئې خپل لاسونه په ديوال يعني خاورو پورې راښكل په دې صورت كښې په عبارت كښې د تقديم او تاخير منلو ضرورت نشته

[٢٣٤]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ شَوْكَرٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ عُرْوَةَ الْهَمْدَانِيِّ، حَدَّثَنَا الشَّعْبِيُّ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: "لَئِنْ شِئْتُمْ لَأُرِيَنَّكُمْ أَثَرَ يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَائِطِ حَيْثُ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ".

ترجمه: عائشې ﷞ وئيلي دي كه چېرې ستاسو خوښه وي نو زه به خامخا وښايم تاسو ته اثر د لاس د رسول الله ﷺ په ديوال كښې په هغه وخت كښې چه هغه به غسل كولو د جنابت نه

[٢٣٥]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ، عَنْ خَالَتِهِ مَيْمُونَةَ، قَالَتْ: "وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا يَغْتَسِلُ بِهِ مِنَ الْجَنَابَةِ، فَأَكْفَأَ الْإِنَاءَ عَلَى يَدِهِ الْيُمْنَى فَغَسَلَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، ثُمَّ صَبَّ عَلَى فَرْجِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ بِشِمَالِهِ، ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَغَسَلَهَا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ وَجَسَدِهِ، ثُمَّ تَنَحَّى نَاحِيَةً فَغَسَلَ رِجْلَيْهِ، فَنَاوَلْتُهُ الْمِنْدِيلَ فَلَمْ يَأْخُذْهُ وَجَعَلَ يَنْفُضُ الْمَاءَ عَنْ جَسَدِهِ"، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِإِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ: كَانُوا لَا يَرَوْنَ بِالْمِنْدِيلِ بَأْسًا، وَلَكِنْ كَانُوا يَكْرَهُونَ الْعَادَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ مُسَدَّدٌ: قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ دَاوُدَ: كَانُوا يَكْرَهُونَهُ لِلْعَادَةِ، فَقَالَ: هَكَذَا هُوَ، وَلَكِنْ وَجَدْتُهُ فِي كِتَابِي هَكَذَا.

ترجمه: حديث بيان كړی دی ابن عباس د خپلې خالې ميمونې نه، هغې وئيلي دي: ما كېښودلي نبي ﷺ ته اوبه د اودس، چه غسل كولو د جنابت نه نو راښكوريې كړو لوښې په خپل ښي لاس، نو دواره ئې وينځل دوه ځل او يا درې ځل، بيا ئې اوبه راواړولې په خپل عورت نو خپل عورت ئې په ګس لاس وينځلو، بيا ئې ووهلو خپل لاس په ځمكه نو هغه ئې وينځلو، بيا ئې مضمضه اوكړه او استنشاق ئې اوكړو، او وئې وينځلو مخ او خپل دواړه لاسونه، بيا ئې اوبه واړولې په خپل سر او بدن، بيا يوې غاړې ته شو نو دواړه خپې ئې وينځلې، نو ما ورته دسمال وركړو نو هغه ئې وانخستلو، او شروع شو چه اوبه ئې څنډلې د خپل بدن نه، نو ما دا خبره ذكر كړه ابراهيم ته نو هغه اووئيل هغوی به په دسمال باندې څه باک نه ليدلو، ليكن عادت جوړول ئې بد ګڼړلو وئيلي دي ابوداود وئيلي دي مسدد: ما اووئيل عبد الله بن داود: هغوی وو چه بدېې ګڼړلو د وجې د عادت نه؟ نو هغه اووئيل همداسې هغه وو، ليكن ما بياموندلو هغه په خپل كتاب كښې همداسې

تشريح: ٧: ﴿حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ – ثُمَّ تَنَحَّى نَاحِيَةً الخ﴾ دا دې د ميمونې ﷞ هغه روايت چه په هغې كښې د تاخير غسل قدمين تصريح ده

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦١٦٨) (ضعيف)

[2]: ● تخريج: صحيح البخاري/الغسل ١ (٢٤٩)، ٥ (٢٥٧)، ٧ (٢٥٩)، ٨ (٢٦٠)، ١٠ (٢٦٥)، ١١ (٢٦٦)، ١٦ (٢٧٤)، ١٨ (٢٧٦)، ٢١ (٢٨١)، صحيح مسلم/الحيض ٩ (٣١٧)، سنن الترمذي/الطهارة ٧٦ (١٠٣)، سنن النسائي/الطهارة ١٦١ (٢٥٤)، الغسل ٧ (٤٠٨)، ١٤ (٤١٨)، ١٥ (٤١٩)، ٢٢ (٤٢٨)، سنن ابن ماجه/ الطهارة ٩٤ (٥٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٠، ٣٣٥، ٣٣٦)، سنن الدارمي/الطهارة ٣٩ (٧٣٨)، ٦٦ (٧٧٤) (صحيح)

د تمسح بالمنديل بحث او مذاهب ائمة :

﴿ قوله فناولته المنديل فلم يأخذه ﴾ ميمونې ﷺ د بدن د اوچولو دپاره رسول الله ﷺ ته رومال پيش كړو خو رسول الله ﷺ هغه قبول نه كړو، د تمسح بالمنديل په باره كښې امام ترمذي رحمه الله مستقل باب قائم كړې دې [1] او بيا ئې دهغې نه لاندې دوه احاديث ذكر فرمائيلې دى يو د عائشې ﷺ حديث چه دهغې الفاظ دى ﴿ كانت لرسول الله ﷺ خرقة ينشف بها بعد الوضوء ﴾ او دويم د معاذ ﷺ حديث چه په هغې كښې دى ﴿ رايت رسول الله ﷺ اذا توضاء مسح وجهه بطرف ثوبه ﴾ او په يو روايت كښې دى كوم چه علامه جزري رحمه الله په نهايه كښې ذكر كړې دې ﴿ كان لرسول الله ﷺ نشافة ينشف بها غسالة وجهه ﴾ او امام ترمذي رحمه الله ددې دواړو احاديثو تضعيف كړې دې او دا ئې فرمائيلې دى چه په دې سلسله كښې د رسول الله ﷺ نه هيڅ حديث ثابت نه دې، بنده وائي چه په صحيحين كښې د رسول الله ﷺ نه صرف ترک تنشيف روايت كړې شوې دې او هم دغه شان امام بخاري رحمه الله په بخاري كښې په خائې د تمسح بالمنديل باب نفض اليدين من الغسل قائم كړې دې يعنې اندامونه په خائې ددې چه په كپړې سره اوچ كړې شي دهغې نه هم داسې اوبه څنډل، او امام نسائي رحمه الله د ترک المنديل بعد الغسل ترجمه قائم كړې ده.

د علماء كرامو ترمينځه هم دا مسئله مختلف فيه ده پس علامه كرماني رحمه الله د امام نووي رحمه الله نه د شوافعو په نزد په دې كښې پنځه اقوال ذكر كړې دى، ١. اصح دا ده چه ترک تنشيف اولى دې ٢. تنشيف مكروه دې ٣. مباح دې ٤. مستحب دې ٥. مكروه في الصيف دون الشتاء، او د باقي ائمه ثلاث امام ابوحنيفه و امام مالک و احمد ﷺ په نزد تنشيف مباح دې، زمونږ په نزد راجح قول هم دا دې لكه چه قاضي خان فرمائيلې دى، خو صاحب د منية نشف لره مستحب ليكلې دې، په معارف السنن كښې د صاحب بحر نه نقل كړې دى چه د احنافو په نزد استحباب بغير د صاحب منية نه بل چا نه دې نقل كړې، زه وائم چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل كښې د احنافو مسلک استحباب تنشيف ليكلې دې او ليكلې ئې دى چه په دې كښې اګرچه احاديث ضعيف دى، خو په فضائلو كښې عمل بالضعيف جائز دې او حضرت شيخ په حاشيه د كوكب كښې ليكى چه صاحب د در مختار تمسح بالمنديل په ادابو كښې شمار كړې دې او ابن عابدين په دې باندې تفصيلي كلام كړې دې. د حضرت ګنګوهي رحمه الله رائې په كوكب كښې دا ده چه د رسول الله ﷺ تمسح بالمنديل فرمائيل د بيان جواز دپاره وو او هم دغه شان علامه طحطاوي د امام محمد د كتاب الاثار نه نقل كړې دى چه تمسح بالمنديل د لا باس به د قبيل نه دې، امام محمد رحمه الله فرمائي وهو قول ابى حنيفة علامه سندهي حنفي په حاشيه د ابن ماجه كښې ليكى ﴿ والظاهر انه مباح ان يفض الى الكبر ﴾ او بعض فقهاء كرامو ليكلې دى چه بهر كيف تنشيف د مبالغې

---

[1] د تمسح بالمنديل په سلسله كښې په مثبت اړخ كښې صرف امام ترمذي او امام ابن ماجه ﷺ باب قائم كړې دې.

سره نه دی کول پکار دا خو تحقیق دې د مذاهب ائمه چه دهغې خلاصه دا ده چه د شوافعو په نزد په اصح قول باندې ترک تنشیف اولی دې، او د مالکیانو او حنابله په نزد تنشیف مباح دې او د احنافو په نزد د راجح قول په بناء باندې مباح او په دویم قول باندې مستحب دې د دې نه علاوه د بعض نورو علماء کرامو نه ددې کراهت منقول دې، پس امام ترمذی رحمه الله د سعید بن المسیب او امام زهری رحمه الله نه کراهت تنشیف نقل کړې دې او دهغې وجه ئې دا نقل کړې ده ﴿ الوضوء یوزن ﴾ یعنی د اودس د اوبو به د قیامت په ورځ باندې د نورو اعمالو سره وزن کولې شی لهذا دا د ځان نه نه دی لرې کول پکار او ابن العربی رحمه الله فرمائی چه په دې مسئله کښې د علماء کرامو درې اقوال دی یو دا چه جائز دی په اودس او غسل دواړو کښې، قول ثانی دا چه مکروه دی په دواړو کښې دا هغوی منسوب کړې دې ابن عمر رضی الله عنه او ابن ابی لیلی ته، قول ثالث دا چه مکروه دې په اودس کښې مباح دې په غسل کښې، دا هغوی منسوب کړې دې ابن عباس رضی الله عنه ته او ابن العربی ته دا هم فرمائی چه هغه چه د بعض علماء کرامو نه چه امام ترمذی رحمه الله نقل کړې دې ﴿ الوضوء یوزن ﴾ نو په دې سره ددې په کراهت باندې استدلال صحیح نه دې ځکه چه ددې وزن کیدل ددې د مسح نه مانع نه دی زه وایم ځکه چه که مسح اونکړې شی نو بیا هم لږ ساعت پس به د بدن په حرارت او هوا سره خو اوچیږی او بعضو د کراهت وجه دا بیان کړې ده چه اودس یو عبادت دې او دا لوندوالې د عبادت د اثر نه دې لهذا ددې ازاله په خپل اختیار سره مناسب نه ده.

﴿ قوله وجعل ینفض الماء عن جسده ﴾ یعنی په کپړې باندې د بدن اوچولو په ځائې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدن نه هم داسې په اوبو څنډلو باندې اکتفاء اوکړه، صاحب منهل لیکی چه په کوم روایت کښې د نفض ممانعت راغلې دې یعنی ﴿ لا تنفضوا ایدیکم فی الوضوء فانها مراوح الشیطان ﴾ هغه ضعیف دې

د اودس نه پس د نفض الیدین بحث

ځان پوهه کړه چه دلته دوه څیزونه دی، یو ترک تنشیف چه دهغې بحث پورته تیر شوې دې، دویم د نفض الیدین. نفض الیدین ته چا هم مستحب نه دی وئیلې امام نووی رحمه الله فرمائی زمونږ مشهور قول دا دې چه ترک د نفض مستحب او اولی دې او دویم قول دا دې چه مکروه دې او دریم دا دې چه مباح دې، امام نووی رحمه الله هم دا قول غوره کړې دې ځکه چه دا د صحیح حدیث نه ثابت دې، علامه قسطلانی د بخاری د ترجمې باب نفض الیدین د لاندې لیکی چه ددې ترک اولی دې ځکه چه په نفض کښې د تبری من العبادة شبه ده، او په احنافو کښې صاحب د درمختار عدم نفض الیدین د اودس په مندوباتو کښې شمار کړې دې دا ټول بحث په تفصیل سره په الحل المفهم کښې مذکور دې، بلکه دا چه په هغې کښې د حضرت گنگوهی د بعض تقاریرو نه نقل کړې شوې دی چه په حدیث کښې چه کوم د اودس یا غسل نه پس نفض یدین راغلې ددې نه مراد دې ﴿ انه جعل یمشی مسترسلا یدیه فیقطرا لماء من یدیه بنفسه ﴾ یعنی لاسونه هم داسې سست پریخودل چه دهغې نه هغه اوبه خپله اوسسیږی، نفض الیدین مراد نه دې

﴿ قوله فذكرت ذلک لابراهيم الخ ﴾ د ابوداؤد ددې روايت نه دا خبره معلوميدل ګران دی چه ددې جملې قائل څوک دې د مسند احمد د روايت نه معلوميږی چه ددې قائل راوی حديث اعمش دې کوم چه دلته په سند کښې ذکر دې، اعمش وائی چه د سالم نه چه کوم حديث ما اوريدلې وو دهغې ما ابراهيم نخعي ته ذکر اوکړو نو هغه ددې حديث د اوريدلو نه پس اوفرمائيل ﴿ کانوا لا يرون بالمنديل باسا الخ ﴾ يعنې علماء کرام په مطلق استعمال منديل کښې باک نه ګڼړلو خو دا مکروه ګڼړی چه ددې عادت جوړ کړی شی.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَالَ مُسَدَّدٌ الخ ﴾ ددې جملې په شرح کښې شارحينو دوه احتمالات ليکلې دی يو دا چه مسدد وائی چه ما د خپل استاذ عبدالله بن داؤد نه تپوس اوکړو چه دا چه په دې روايت کښې د اعمش او ابراهيم ترمينځه سوال او جواب واقع شو آيا دا تاسو ته ښه ياد دې؟ هغوی جواب ورکړو چه ترڅو چه د حفظ تعلق دې په هغې کښې خو دا زيادت نشته بلکه د ميمونې ﷺ روايت ماته ياد دې بغير ددې سوال او جواب نه خو ما سره چه کوم کتاب دې په هغې کښې دا زيادت مذکور دې، او دويم احتمال په دې شرح کښې دا دې چه پورته په روايت کښې راغلې وو ﴿ کانوا يکرهون العادة ﴾ ربغير د لام جاره نه، نو په دې باندې مسدد د خپل استاذ نه تپوس اوکړو چه ستاسو مراد د ﴿ يکرهون العادة ﴾ نه ﴿ يکرهون للعادة ﴾ دې نو په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه مراد خو هم دا دې خو زما په کتاب کښې بغير د لام جار نه دې حضرت په بذل کښې په احتمال ثانی باندې اکتفاء کړې ده او صاحب منهل دواړه احتمالات ليکلې دی.

[٢٤٦] (¹) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى الْخُرَاسَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: "إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى سَبْعَ مِرَارٍ، ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهُ، فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ، فَسَأَلَنِي: كَمْ أَفْرَغْتُ؟ فَقُلْتُ: لَا أَدْرِي، فَقَالَ: لَا أُمَّ لَكَ، وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيَ؟ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى جِلْدِهِ الْمَاءَ، ثُمَّ يَقُولُ: هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَطَهَّرُ".

ترجمه: د شعبه نه روايت دې هغه وئيلې دی بيشکه ابن عباس وو چه کله به ئې غسل کولو د جنابت نه نو اړولې به ئې په خپل ښی لاس سره په خپل ګس لاس باندې اوبه اوه ځل، بيا به ئې وينځلو خپل عورت، نو ۤ هغه نه هير شو چه څومره ئې اوبه ژاړزولې، نو ماته ئې تپوس اوکړو چه څو ځل مې واړولې؟ نو ما اووئيل زه نه پوهيږم، هغه اووئيل مور دې ورکه شه ته څه شې منع کړې چه پوهه شې؟ بيا به ئې اودس کولو پشان د اودس د مونځ، بيا به ئې اړولې په خپلې څرمن باندې اوبه بيا به ئې ويل دارنګه وو رسول الله ﷺ چه صفايې ئې کوله.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى الْخُرَاسَانِيُّ – قوله يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى سَبْعَ مِرَارٍ ﴾ سيدنا ابن عباس ﷺ به د غسل په ابتداء کښې اووۀ کرته لاس وينځل په دې کښې دوه احتمالات دی يا خو دې داسې اووئيلې شی چه داسې په شروع کښې وه بيا په احاديث

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٦٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٠٧) (ضعيف)

تثلیث سره دا حکم منسوخ شو کیدې شي چه ابن عباس ﷺ ددې نسخ قائل نه وي یا دې داسې اوونیلې شي چه دا حدیث ضعیف دې ځکه چه ددې په سند کښې شعبة بن دینار راوی دې چه ضعیف دې.

[٢٤٧] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ جَابِرٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُصْمٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ، وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سَبْعَ مِرَارٍ، وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ سَبْعَ مِرَارٍ، فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ، حَتَّى جُعِلَتِ الصَّلَاةُ خَمْسًا، وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ مَرَّةً، وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ مَرَّةً".

ترجمه: د عبد الله بن عمر نه روایت دې هغه وئیلي دي: وو مونځونه پنځوس، او غسل د جنابت نه اووه ځل، او وینځل د بولو د جامې نه اووه ځل، نو همیشه وو نبي ﷺ چه سوال ئې کولو تردې چه مونځونه وګرځولی شو پنځه، او غسل د جنابت نه یو ځل، او وینځل د بولو د جامې نه یو ځل.

تشریح: ٩: ﴿ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ – قوله كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ الخ ﴾ یعنی په شروع کښې مونځونه پنځوس او غسل جنابت اووۀ کرته او ثوب نجس اووۀ کرته وینځل واجب وو رسول الله ﷺ د الله پاک نه د تخفیف سوال کولو تردې چه مونځونه د پنځوسو نه پنځه او غسل جنابت یو ځل او د متیازو نه کپړه وینځل یو ځل پاتې شو، په مانځه کښې د تخفیف واقعه خو مشهوره ده چه په لیلة الاسراء کښې پیښه شوې وه دهغې نه علاوه چه کوم دوه څیزونه په دې حدیث کښې مذکور دی په دې کښې دواړه احتمالات شته کیدې شي چه ددې نسخ هم په دغه شپه کښې شوې وي یا بل څه وخت.

د ثوب نجس په تطهیر کښې مذاهب ائمة

په دې حدیث کښې چه د ثوب نجس د تطهیر کومه مسئله ذکر شوې ده هغه مختلف فیه ده د امام شافعي او د امام مالک ﷫ په نزد ددې حدیث مطابق صرف یو ځل وینځل کافي دي، او د امام احمد﷫ نه په دې کښې دوه روایتونه دي یو دا چه اووۀ کرته وینځل ضروري دي دویم دا چه یو ځل کافي دي، په مغنی کښې د هغوی مذهب په شان د شوافعو لیکلې شوې دې او ابن العربی فرمائي چه د امام احمد﷫ په نزد د ټولو نجاستونو اووۀ کرته وینځل ضروري دي او د احنافو په نزد درې کرته وینځل ضروري دي ځکه چه په حدیث کښې د ولوغ کلب په سلسله کښې په یو روایت کښې تطهیر د لوخي درې کرته راغلي دې، بل په استیقاظ من النوم کښې درې کرته د لاسونو وینځلو حکم په حدیث کښې راغلي دې حال دا چه هلته صرف احتمال نجاست دې، ظاهره ده چه د تحقق نجاست په شکل کښې دا حکم په طریق اولی دې، او حدیث الباب د مالکیانو او د شوافعو موافق دې، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې ددې په سند کښې ایوب بن جابر او عبدالله بن عصم دواړه ضعیف دي.

خان پوهه کړه چه زمونږ په نزد تقدیر بالثلاث لازم نه دې بلکه په اصل کښې د

(١): تفرد أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٢٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٠٩) (ضعيف)

مبتلی د راتې اعتبار دې چه کله ئې د طهارت ظن غالب شي نو بيا به کپړه پاکه وي خو چونکه عام طور په درې کرتو باندې ظن غالب پيدا کيږي په دې وجه د دريو قيد دې، بلکه دا چه دا حکم د نجاست غير مرئيه دې او نجاست مرئيه کښې د طهارت مدار د عين نجاست په زوال باندې دې ترڅو چه هغه نه وي زائل شوې طهارت به نه حاصليږي.

[٢٤٨](١) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنِي الْحَارِثُ بْنُ وَجِيهٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ دِينَارٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةً، فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ، وَأَنْقُوا الْبَشَرَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: الْحَارِثُ بْنُ وَجِيهٍ حَدِيثُهُ مُنْكَرٌ، وَهُوَ ضَعِيفٌ.

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي، وئيلي دي رسول الله ﷺ: بيشکه لاندې د هر ويخته نه جنابت دې وينځئ ويخته او پاک کړئ پوستکې. وئيلي دي ابوداود: حارث بن وجيه حديث ئې منکر دې او هغه ضعيف دې.

تشريح: ١٠: ﴿ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ – إِنَّ تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةً الخ ﴾ امام خطابي رحمه الله فرمائي چه بعض علماء کرامو ددې نه استدلال کړې دې چه په غسل جنابت کښې استنشاق واجب دې ځکه چه په داخل د انف کښې ويښته وي او ﴿ انقوا البشر ﴾ کوم چه مخکښې راغې دهغې نه ئې په ايجاب د مضمضه باندې استدلال کړې دې ځکه چه داخل فم په بشر باندې صادق راځي خو خطابي دا په دې وينا باندې رد کړې دې چه د بشره اطلاق په ما ظهر من البدن باندې کيږي او د داخل فم نه په ادمة سره تعبير کولې شي خو علامه عيني رحمه الله فرما چه په دې حديث سره په وجوب مضمضه باندې هم استدلال صحيح دې ځکه چه داخل فم د ظاهر بدن نه دې هم دا وجه ده چه په خوله کښې دننه د خوراک څکاک څه څيز اخستل په روژې کښې ضرر نه لري، زه وايم امام خطابي رحمه الله چه دا کومه خبره کړې ده چه داخل فم ته ادمة وائي په دې باندې حضرت په بذل کښې او صاحب منهل هم د اهل لغت کلام لره اخستلو سره په دې باندې تعقب کړې دې خو دا هم ياد ساتئ چه دا حديث ضعيف دې او منکر دې لکه چه مصنف رحمه الله فرمائي ځکه چه ددې په سند کښې حارث بن وجيه دې (وقيل وجبه) هغه ضعيف دې.

[٢٤٩](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ زَاذَانَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعْرَةٍ مِنْ جَنَابَةٍ لَمْ يَغْسِلْهَا، فُعِلَ بِهِ كَذَا وَكَذَا مِنَ النَّارِ"، قَالَ عَلِيٌّ: فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي ثَلَاثًا، وَكَانَ يَجُزُّ شَعْرَهُ.

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وئيلي دي: چا چه پريخودلو څه ځائې په اندازه د ويخته د جنابت نه چه وئې نه وينځي کيږي به په هغه باندې داسې او داسې د اور نه. وئيلي دي علي: د دغې وخت نه مې دشمنې شروع کړه د خپل دسر ويختو

(١): سنن الترمذي/الطهارة ٧٨ (١٠٦) سنن ابن ماجه/للطهارة ١٠٦ (٥٩٧)، (تحفة الأشراف: ١٤٥٠٢) (ضعيف)

(٢): سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠٦ (٥٩٩) مسند احمد (١/١٠١)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٩ (٧٧٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٠٩٠) (ضعيف)

سره دا جمله هغوی دري خل اووئيله، او چه په بيخ کښې به ئي ويخته اخستل

تشريح: ١١: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ – قوله قَالَ عَلِيٌّ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي الخ ﴾ د علی رضي الله عنه په حديث کښې دا دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه کوم انسان په غسل جنابت کښې د يو ويښته برابر ځائي هم اوچ پريږدی نو هغه سره به داسې داسې معامله کولې شي يعنې عذاب به ورکولې شي، په دې باندې علی رضي الله عنه فرمائی هم ددې خطرې د وجې نه زه د خپل سر د ويښتو سره د دشمنۍ معامله لرم، پس راوی د هغوی عمل نقل کوی ﴿ وَكَانَ يجز شعره رضي الله عنه ﴾؟

التفصيل بين خلق الراس واتخاذ الشعر:

علامه طيبي رحمه الله ددې حديث نه په سنيت د حلق راس باندې استدلال کړې دې خو ملا علي قاری او شيخ ابن حجر مکی دا رد کړې دې چه د رسول الله ﷺ او د باقي خلفاء راشدينو عادت شريفه د ويښتو د ساتلو وو نه د خرئيلو، نو دې ته به رخصت وئيلې شی نه سنت، لهذا دا خو سنت علوی شو نه سنت نبوی، حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې د ابن قدامة حنبلی نه نقل کړې دی چه اتخاذ شعر افضل دې د ازاله شعر نه او حلق راس د امام احمد رحمه الله په يو روايت کښې مکروه دې ځکه چه رسول الله ﷺ حلق ته د خوارجو علامت وئيلې دې، په حديث کښې دی ﴿ سيماهم التحليق ﴾

د کيفيت غسل باب پوره شو چه په هغې کښې مصنف رحمه الله يولس روايتونه بيان کړې دی.

بَابٌ فِي الْوُضُوءِ بَعْدَ الْغُسْلِ

باب دې په بيان د اودس کې وروسته د غسل نه

[٢٥٠]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ وَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ وَصَلَاةَ الْغَدَاةِ، وَلَا أُرَاهُ يُحْدِثُ وُضُوءًا بَعْدَ الْغُسْلِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې وئيلې دی: وو رسول الله ﷺ چه غسل به ئي کولو او مونځ به ئي کولو دوه رکعته او مونځ به ئي کولو د صباح، ما به هغه نه ليدلو چه نوی کولو به ئي اودس وروسته د غسل نه

تشريح: په بذل کښې ليکلې دی چه دا مسئله اجماعي ده چه د غسل نه د فارغ کيدو نه پس اودس کول مستحب نه دې په دې باندې حضرت شيخ رحمه الله ليکلې دی چه د امام احمد رحمه الله په دې کښې اختلاف دی ځکه چه د هغوی مسلک دا دې چه کوم انسان ته حدث اصغر او اکبر دواړه لاحق وی نو په هغه باندې اودس او غسل دواړه واجب دې که اودس قبل الغسل ئي اونکړو نو بعد الغسل دې اوکړی، دويم روايت د هغوی دا دې چه که په غسل کښې د جنابت او د حدث دواړو د طهارت نيت اوکړی نو د غسل په ضمن کښې به اودس هم ادا

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٦٠٢١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٧٩ (١٠٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٦٠ (٢٥٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٩٦ (٥٧٩)، مسند احمد (٦/٦٨، ١١٩، ١٥٤، ١٩٢، ٢٥٣، ٢٥٨) (صحيح)

شي او كه نه ئي مستقلا اودس اوكړواو نه ئي په غسل كښې د طهارت عن الحدث نيت اوكړو نو بيا د هغوى مذهب دا دې چه د داسې سړى په ذمه باندې اودس واجب دې

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ هَلْ تَنْقُضُ شَعَرَهَا عِنْدَ الْغُسْلِ

باب دې په بيان د ښځه كښې، ايا هغه به سيرې خپل ويختان په وخت د غسل كې

د زنانه ويښته كه كمسئ وى نو آيا په غسل كښې دهغې پرانستل ضرورى دى؟ د ابراهيم نخعي رحمه الله په نزد نقض ضفائر مطلقا ضرورى دې، امام نووى رحمه الله خپل او د جمهورو مسلك دا ليكلې دې چه كه اوبه بغير د نقض نه د ويښتو ظاهر او باطن تولو ته اورسيږى نو بيا خو نقض واجب نه دې كينې نقض ضفائر واجب دې او هم دا مسلك د مالكيانو دې، صاحب منهل د هغوى په مسلك كښې لږ شان تفصيل ليكلې دې او د حنابله په نزد په غسل د حيض او نفاس كښې نقض ضرورى دې او په غسل جنابت كښې نه دې په دې شرط چه اوبه اصول شعر ته اورسيږى. (كما في نيل المارب والمنهل وغيرهما) او هم دا مذهب دې د حسن بصرى او د طاؤس، زمونږ په نزد ظاهر الرواية هم دا دې چه صرف اصول شعر تر كول كافى دى، په در مختار كښې ليكلې دى چه كه ويښته مضفور وى نو صرف اصول شعر لره تر كول كافى دى او كه منقوض وى نو بيا د پوره ويښتو تر كول ضرورى دى، حضرت سهارنپورى په بذل كښې دا مسئله دلته نه ده ذكر فرمائيلې بلكه ددې نه په مخكښې باب كښې ئې د ﴿ ان تحت كل شعرة جنابة ﴾ د لاندې ذكر كړې دې

د امام احمد رحمه الله دليل د انس رضي الله عنه هغه حديث مرفوع دې كوم چه په دارقطنى او بيهقى كښې دې چه په غسل حيض او جنابت كښې ددې فرق تصريح دې، ددې جواب دا وركړې شوې دې چه ددې په سند كښې مسلم بن صبيح اليحمدى دې چه ضعيف دې

خان پوهه كړه چه د احنافو په نزد په دې مسئله كښې د سړو او ښځو ترمينځه فرق دې، د سړى دپاره كه ضفائر وى نو دهغې پرانستل او اثناء شعر ته اوبه رسول ضرورى دى صرف د اصول شعر لوندول كافى نه دى، په خلاف د جمهورو چه د هغوى په نزد په دې مسئله كښې د سړى او ښځې ترمينځه هيڅ فرق نشته (كذا نقل في البذل عن الخطابي وهكذا في هامش الكوكب عن كتب الفروع) ددې فرق دليل هم ددې باب په آخرى حديث كښې حديث ثوبان دې چه دهغې الفاظ دا دى ﴿ اما الرجل فلينثر راسه فليغسله ﴾.

[٢٥١] (١) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَقَالَ زُهَيْرٌ: أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي، أَفَأَنْقُضُهُ لِلْجَنَابَةِ؟ قَالَ: "إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْفِنِي عَلَيْهِ ثَلَاثًا" وَقَالَ زُهَيْرٌ: تَحْثِي عَلَيْهِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ مِنْ مَاءٍ، ثُمَّ تُفِيضِي عَلَى سَائِرِ جَسَدِكِ، فَإِذَا أَنْتِ قَدْ طَهُرْتِ.

---

(١): صحيح مسلم/الحيض ١٢ (٣٣٠)، سنن الترمذي/الطهارة ٧٧ (١٠٥)، سنن النسائي/الطهارة ١٥٠ (٢٤٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٠٨ (٦٠٣)، (تحفة الأشراف: ١٨١٧٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٩/٦، ٣١٤)، سنن الدارمي/الطهارة ١١٥ (١١٩٦) (صحيح)

ترجمه: د ام سلمة نه روايت دي، بيشكه يوه ښځه د مسلمانانو نه (او وئيلي دي زهير: هغې اووئيل: اې د الله رسوله!) زه يوه ښځه يم، چه مضبوطي جوړوم كمڅۍ د سر خپل آيا زه ئې وسپړم لپاره د جنابت؟ هغه وفرمايل: بيشكه كافي كيږي ستا لپاره چه ته واچوي په هغې باندې درې لپې (او وئيلي دي زهير: چه واچوه په هغې باندې درې لپې د اوبو نه) بيا واړوه په ټول بدن ستا باندې، او به تو داسې به ته پاكي حاصل كړې.

تشريح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ – وَقَالَ زُهَيْرٌ إِنَّهَا – قَالَتْ الخ ﴾ ددې حديث په سند كښې د مصنف ﷫ دوه استاذان دي زهير او ابن السرح چه د هغوى نوم احمد بن عمرو بن السرح دې ددې دواړو په روايت كښې فرق دا دې چه د ابن السرح د روايت نه معلوميږي چه سوال كونكې امراة من المسلمين ده او د زهير د روايت نه معلوميږي چه سوال كونكې خپله ام سلمه﵂ ده او جمع بين الروايتين دا ده -------- چه ددې نه د روستو روايت نه معلوميږي چه د ام سلمه﵂ په خدمت كښې يو زنانه راغله او هغې خپل حال عرض كړو په دې باندې ام سلمه﵂ د رسول الله ﷺ نه دهغې دپاره د مسئلې تپوس اوكړو ددې روايت نه معلومه شوه چه سوال كونكې خو ام سلمه﵂ ده خو دهغې سوال د خپل ځان دپاره نه وو بلكه ددې زنانه دپاره وو لهذا په كوم روايت كښې چه د سوال نسبت د ام سلمه﵂ طرف ته كړې شوې دې هغه حقيقت دې او په كوم كښې چه د امراة طرف ته كړې شوې دې هغه مجاز دې خو بنده ته په دې كښې دا اشكال دې چه د ﴿ انى امراة اشد ضفر راسى ﴾ مصداق څوک دې؟ كمسې كلكه تړونكې څوک ده؟ كه امراة من المسلمين ده نو د ام سلمة﵂ په وخت د سوال دا وئيل چه ﴿ انى امراة اشد ضفر راسى ﴾ به څنګه صحيح شي؟ او كه ددې مصداق خپله ام سلمه﵂ وي نو بيا دا وئيل څنګه صحيح شو چه هغوى د امراة من المسلمين دپاره تپوس اوكړو، لهذا ظاهره دا ده چه سوال كونكې خپله امراة من المسلمين ده، روستو سوچ كولو سره مې ددې اشكال دفيعه هم په ذهن كښې راغله چه ددې مصداق خو امراة من المسلمين ده خو سوال كونكې ام سلمه﵂ ده او دهغې دا كلام په طريقه د حكايت عن الغير دې يعنى هغې د رسول الله ﷺ نه په دې طريقه تپوس اوكړو چه يو زنانه ماته راغله چا چه د خپل ځان په باره كښې دا اووئيل خو راوى په روايت كښې د اجمال نه كار واخستلو.

﴿ قوله إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي ﴾ دا لفظ يا خو په فتحې د ضاد او سكون الفاء سره دې په دې صورت كښې به مصدر وي او يا به په ضمتين سره دې په دې صورت كښې به دا د ضفيرة جمع وي يعنى زما عادت دې چه د خپل سر ويښته كلک تړم. آيا د غسل جنابت په وخت هغه پرانيزم؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو درې لپې اوبه په هغې باندې بهيول كافي دي او دهغې نه په وړاندې روايت كښې دي ﴿ وَاغْمِزِي قُرُونَكِ عِنْدَ كُلِّ حَفْنَةٍ ﴾ يعنى هرځل ويښتو لره نچوړول او زوړل هم ضروري دي چه اوبه دننه اورسيږي.

[٢٥٢] ( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ نَافِعٍ يَعْنِي الصَّائِغَ، عَنْ أُسَامَةَ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَتْ: فَسَأَلْتُ لَهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ فِيهِ: وَاغْمِزِي قُرُونَكِ عِنْدَ كُلِّ حَفْنَةٍ.

ترجمه: د ام سلمة ﷞ نه روايت دي چه بيشکه يوه ښځه راغله رسول الله ﷺ ته بيا هم دا حديث مخکښې بيان شوی هغې اووئيل نو تپوس اوکړو دهغې لپاره د رسول الله ﷺ نه په معنی دهغې سره وئيلی ئې دي په هغې کې وسوله خپلې کمڅې په وخت د هرې لپې کښې.

تشريح: ٢: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ – قوله عَنْ أُسَامَةَ عَنِ الْمَقْبُرِيِّ الخ ﴾ دا د اول حديث دويم طريق دي په اول سند کښې د مقبری نه روايت کونکې ايوب وو او دلته اسامه دي، د مقبری نه مراد سعيد بن ابی سعيد دي په اول سند او دې کښې فرق دا دې چه په اول سند کښې د مقبری او ام سلمه ﷞ ترمينځه د عبد الله بن رافع واسطه وه او دا روايت بغير د واسطې نه دې مصنف ﷫ دواړه طريق ذکر کړې دی د يو ترجيح ئې هم نه ده بيان کړې، او امام بيهقی ﷫ د واسطې والا روايت ته ترجيح ورکړې ده، امام بيهقی ﷫ د ايوب په باره کښې فرمائی ﴿ وقد حفظ في اسناده ما لم يحفظه اسامة بن زيد ﷜ ﴾

[٢٥٣] ( ) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ نَافِعٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَتْ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَتْهَا جَنَابَةٌ، أَخَذَتْ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ هَكَذَا تَعْنِي بِكَفَّيْهَا جَمِيعًا، فَتَصُبُّ عَلَى رَأْسِهَا، وَأَخَذَتْ بِيَدٍ وَاحِدَةٍ فَصَبَّتْهَا عَلَى هَذَا الشِّقِّ وَالْأُخْرَى عَلَى الشِّقِّ الْآخَرِ".

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روايت دي هغې وئيلی دي، وه يوه زمونږ نه چه کله به ورسيدلو هغې ته جنابت وابه ئې خستلې درې لپې اوبه (داسې مطلب ئې دادی چه په دواړو ورغوو) نو هغه به ئې واړولې په خپل سر، او په يو لاس کښې به ئې راواخستې نو په دې طرف به ئې واړولې، او بله به هغه بل طرف باندې.

تشريح: ٣: ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ – قوله أَخَذَتْ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ الخ ﴾ عائشه ﷞ فرمائی چه زمونږ معمول په غسل د جنابت کښې دا وو چه پرلپسې به مو درې لپې اوبه په سر باندې بهيولې او ددې نه پس به مو يو لپه اوبه د سر په ښې طرف او يو لپه اوبه د سر په کس طرف باندې اچولې، لهذا کل مجموعه ثلث حفنات او غرفتين شوه

[٢٥٤] ( ) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كُنَّا نَغْتَسِلُ وَعَلَيْنَا الضِّمَادُ وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُحِلَّاتٍ وَمُحْرِمَاتٍ".

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روايت دي هغې وئيلی دي: وو مونږ چه غسل به کولو مونږ او په مونږ به پټې وې، او وو مونږ د رسول الله ﷺ سره په حالت د حل او احرام کښې

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٥١) (حسن)

(٢): صحيح البخاري/الغسل ١٩ (٢٧٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٥٠) (صحيح)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٧٩، ١٣٨) (صحيح)

تشریح: ۴: ﴿ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ – قوله قَالَتْ كُنَّا نَغْتَسِلُ وَعَلَيْنَا الضِّمَادُ الخ ﴾ ضماد په کسرې د ضاد سره ددې مشهوره معنی خو د لیو کولو ده یو ځیز په بل ځیز باندې لګول او مرل، او دلته ددې نه د ګوند وغیره اوبه مراد دی کومې چه زنانه د سر په ویښتو باندې مږی خصوصا چرت په سفر باندې د تلو په وخت چه ویښته ئې ګډوډ او خوارۀ نه شي.

په دې حدیث کښې عائشه رضي الله عنها فرمائی چه مونږ به غسل کولو او زمونږ د سر په ویښتو باندې به ضماد هم دغه شان باقي وو حال دا چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره وې په حالت احرام او حالت غیر احرام دواړو کښې یعنی که سفر د حج به وو یا یو عام سفر. مصنف رحمه الله ددې نه په عدم نقض ضفائر باندې استدلال کړې دې ځکه چه ضماد په ویښتو باندې هغه وخت باقی پاتې کیدې شی ترڅو چه هغه پرانستلې شوې نه وی.

شرح حدیث

د دې حدیث چه مونږ کومه شرح کړې ده دا دهغې موافق ده کومه چه حافظ ابن الاثیر رحمه الله په جامع الاصول کښې بیان کړې ده او د ترجمة الباب مناسب هم دا معنی ده خو حضرت په بذل کښې ددې حدیث شرح د مجمع البحار نه بله نقل کړې ده او د بذل والا معنی ددې حدیث هم معنی ده کومه چه په وړاندې باب ﴿ باب الرجل یغسل راسه بالخطمی ﴾ کښې راروان ده.

[٢٥٥](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، قَالَ: قَرَأْتُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَيَّاشٍ، قَالَ ابْنُ عَوْفٍ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَبِيهِ، حَدَّثَنِي ضَمْضَمُ بْنُ زُرْعَةَ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: أَفْتَانِي جُبَيْرُ بْنُ نُفَيْرٍ، عَنِ الْغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ، أَنَّ ثَوْبَانَ حَدَّثَهُمْ: أَنَّهُمُ اسْتَفْتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "أَمَّا الرَّجُلُ فَلْيَنْشُرْ رَأْسَهُ فَلْيَغْسِلْهُ حَتَّى يَبْلُغَ أُصُولَ الشَّعْرِ، وَأَمَّا الْمَرْأَةُ فَلَا عَلَيْهَا أَنْ لَا تَنْقُضَهُ لِتَغْرِفْ عَلَى رَأْسِهَا ثَلَاثَ غَرَفَاتٍ بِكَفَّيْهَا".

ترجمه: شریح بن عبید وائي چه فتوی راکړه ماته جبیر بن نفیر د غسل باره کښې د جنابت نه. بیشکه ثوبان دوی ته حدیث بیان کړی دی چه بیشکه دوی تپوس اوکړو د نبي ﷺ نه د دغې په باره کښې، نو هغه وفرمایل: هر چه سړی دی نو هغه دې خپل ویخته خوارۀ کړي او ودې وینځي تردې چه ورسیږي اوبه بیخونو د ویختانو ته. او هر چه ښځه ده نشته په هغې باندې چه اونه سپړي هغې لره، وادې چوي په خپل سرباندې اوبه درې لپې په دواړو ورغوو

تشریح: ۵: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ – قوله قَالَ قَرَأْتُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ الخ ﴾ د اصل اسماعیل نه مراد هغه لیکل او صحیفه ده چه په هغې کښې د اسماعیل خپل مسموعات او مرویات لیکلي شوي وو. محمد بن عوف فرمائي چه دا حدیث کوم چه زه اوس بیانوم دا ما براه راست د اسماعیل بن عیاش په کتاب کښې لیدلو سره لوستلې دې او دا حدیث ماته د هغه خوئي محمد بن اسماعیل هم بیان کړی دي. اول شکل د وجاده شو او دویم د تحدیث او سماع شو، خو سماع براه راست د اسماعیل نه نه بلکه د هغوی د خوی محمد بن اسماعیل نه ده دا هم هغه حدیث ثوبان دې چه په هغې کښې دی چه د سړی دپاره په غسل د جنابت

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٧٨) (صحیح)

کښې نقض شعر ضروري دې چه دهغې حواله مونږ سره مخکښې تیره شوې ده.

باب فِي الْجُنُبِ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ أَيُجْزِئُهُ ذَلِكَ

باب: آیا جُنبی سړي چه خپل سر خطمی (ګیا، وابنه) سره اووینځی نو کافی ده؟

خطمی مشهور بکسر الخاء دې او په فتحې د خاء هم راځی، د یو خوشبوداره ګیا وی کومه چه په دوایانو کښې هم استعمالیږی ددې خاصه دا ده چه ددې په اوبو کښې اچولو سره اوبو کښې ځګ پیدا شی بیا په هغې سره ګیره اود سر ویښته وینځلې شی چه په هغې سره ویښته نرم او زر صفا کیږی، ددې تخم هم په دې کار کښې استعمالیږی کوم چه د تخم خطمی په نوم سره مشهور دې. فقهاء کرامو هم د مړی په غسل کښې خاص طور د سر او د ګیرې د ویښتو په باره کښې لیکلې دی چه هغه دې په ماء خطمی سره اووینځلې شی او باقی بدن دې د بیرې په اوبو سره، حضرت شیخ ﷺ به فرمائیل چه زمونږ په هندوستان کښې خلقو عملا ماء خطمی د مړی سره خاص کړې دې، حال دا چه په دې کښې د مړی خصوصیت نشته، په ژوند هم ددې استعمال کول پکار دی، پس د څه مودې پورې حضرت په غسل کښې ددې د استعمال معمول اوساتلو چه په حدیث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ به د خپل سر ویښته په خطمی سره وینځل، لهذا ددې استعمال سنت شو.

[٢٥٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ قَيْسِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُوَاءَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ كَانَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ وَهُوَ جُنُبٌ يَجْتَزِءُ بِذَلِكَ، وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ".

ترجمه: عائشه ﷺ د پیغمبر ﷺ نه روایت کوي: بیشکه هغه وو چه خپل سر به ئې په خطمي باندي وینځلو او هغه به جنب وو اکتفاء به ئې کوله په هغې، او نورې اوبه ئې نه اړولې په هغې.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ زِيَادٍ — قوله يَجْتَزِئُ بِذَلِكَ وَلاَ يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ به په غسل د جنابت کښې د سر مبارک په خطمی سره وینځلو باندي اکتفاء فرمائیله او خالص اوبه به ئې نه بهیولې.

ماء مخلوط بشئ طاهر سره اودس او غسل کښې اختلاف:

ځان پوهه کړه چه د جمهورو په نزد په ماء مخلوط بشئ طاهر سره اودس یا غسل جائز نه دې، د احنافو په نزد جائز دې. دا حدیث د احنافو دلیل دې او هم دغه شان ثابت دی چه رسول الله ﷺ غسل اوفرمائیلو ﴿ بماء فيه اثر العجين ﴾ لکه چه د نسائی په روایت کښې دی او امام نسائی په دې باندې مستقل ترجمة قائم کړې ده، او هم دغه شان په غسل میت کښې د ماء سدر استعمال دا ټول خیزونه د مسلک حنفیه مؤید دی خو د غسل میت والا روایت حافظ د شوافعو د طرف نه دا جواب نقل کړې دې چه غسل میت د تنظیف دپاره دې نه د تطهیر دپاره، حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه د حافظ دا وینا چه غسل میت د

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٧٨١١) (ضعيف)

تنظیف دپاره دي. دا د امام شافعي رحمه الله وغیره قول دی او د احنافو په نزد دا غسل د تطهیر دپاره دي ځکه چه د حلول موت د وجې نه انسان ناپاکه کیږي ځنګه چه په نورو حیواناتو کښې دم سائل دې، په مرګ سره ناپاک کیږي، خو د سړي خصوصیت دا دې اکراما له، چه هغه په غسل ورکولو سره پاکیږي، د حدیث الباب جواب دا حضرات دا ورکوي چه دا حدیث ضعیف دې ددې په سند کښې یو رجل مجهول دې. ددې نه علاوه ابن رسلان ددې حدیث یو تاویل هم کړې دې هغه دا چه کیدې شي مراد دا وي چه رسول الله ﷺ به سر باندې خطمي کیخودلو سره به هغې باندې اوبه بهیولې خو دا خلاف ظاهر ده ځکه چه به ماء خطمي سره د وینځلو د وینځلو فائده هغه وخت کیدې شي چه د مخکښې نه هغه د لږ ساعت دپاره په اوبو کښې لوند کړې شي چه په اوبو کښې ځګ پیدا شي، اصل کښې د هغه لعاب مطلوب وي.

باب فِيمَا يَفِيضُ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ مِنَ الْمَاءِ

باب دې په بیان د هغې چې توییږي په مابین د سړي او د ښځې کې د اوبو نه

[٢٥٤] () حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ قَيْسِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُوَاءَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ عَائِشَةَ، فِيمَا يَفِيضُ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ مِنَ الْمَاءِ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُ كَفًّا مِنْ مَاءٍ يَصُبُّ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَأْخُذُ كَفًّا مِنْ مَاءٍ ثُمَّ يَصُبُّهُ عَلَيْهِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې په هغه څه کښې چه توییږي مابین د سړي او ښځه کښې د اوبو نه. هغې اوونیل. وو رسول الله ﷺ چه راخستلو به ئې یو ورغوی د اوبو نه چه اړولې به ئې په اوبو (منې) بیابه ئې راواخستلو یو ورغوی داوبونه بیابه ئې واړولې په هغې.

تشریح: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ فِيمَا يَفِيضُ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ مِنَ الْمَاءِ ﴾ سیده عائشه رضي الله عنها د هغه اوبو په باره کښې کومې چه د سړي او ښځې ترمینځه په اختلاط سره بهیږي فرمائي چه که هغه په جامه باندې اولګی نو رسول الله ﷺ به ځو کرته په هغې باندې اوبه بهیولې او هغه به ئې وینځلو . ددې اوبو مصداق که مذي وی نو بیا خو د کېږي وینځل بالاتفاق د تطهیر دپاره وو او که مني وی نو بیا د جامې وینځل د احنافو او مالکیانو په نزد د تطهیر دپاره وو او د شوافعو او د حنابله په نزد د تنظیف دپاره، ځکه چه مني د هغوی په نزد طاهره ده.

بَابٌ فِي مُؤَاكَلَةِ الْحَائِضِ وَمُجَامَعَتِهَا

باب دې په بیان د خوراک کې د حائضې سره او کوروالي کې

یعنی د حائضې سره خوراک او څکاک کول او د هغه سره ناسته ولاړه، د مجامعت نه مراد مساکنت فی البیوت دې نه جماع.

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٣/٦) (ضعیف)

[۲۵۸]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ الْيَهُودَ كَانَتْ إِذَا حَاضَتْ مِنْهُمُ امْرَأَةٌ، أَخْرَجُوهَا مِنَ الْبَيْتِ وَلَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُشَارِبُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهَا فِي الْبَيْتِ، فَسُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ: وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ سورة البقرة آية ۲۲۲ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: جَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ وَاصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ غَيْرَ النِّكَاحِ، فَقَالَتِ الْيَهُودُ: مَا يُرِيدُ هَذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِنَا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ، فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْيَهُودَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا، أَفَلَا نَنْكِحُهُنَّ فِي الْمَحِيضِ؟ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا. فَخَرَجَا، فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا، فَظَنَنَّا أَنَّهُ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا".

ترجمه: د انس بن مالک نه روایت دې، بیشکه یهود وو کله چه به حائضه شوه د دوی نه زنانه هغوی به اوویستله د کور نه، خوراک به ئې ورسره نه کولو او څکاک به ئې ورسره نه کولو، او یو ځائې به ورسره نه اوسیدل په کور کښې، نو تپوس اوشو د رسول الله ﷺ نه ددې په باره کښې، نو نازل کړو الله تعالی (و یسألونک عن المحیض قل هو أذی فاعتزلوا النساء في المحیض) ترجمه: تپوس کوي ستاسو نه په باره د حیض کښې نو ورته ووایه چه دا خو ضرر دی ځان ساتئ د زنانو نه د حیض په حالت کښې. د ایت تر اخیر پورې، پس اوونیل رسول الله ﷺ یو ځائې ورسره اوسیږئ په کورونو کښې، کوئ هرڅه بغیر د نکاح نه، نو یهودیانو اوونیل: دا سړی نه غواړي چه څه شي پریږدي زمونږ د کار نه مګر مخالفت کوي زمونږ په هغې کښې، نو راغی أسید بن حضیر او عباد بن بشر نبي ﷺ ته نو دواړو اوونیل اې د الله رسوله! بیشکه یهود داسې داسې وائي ایا مونږ ورسره جماع نه کوو د حیض په حالت کښې؟ نو سور شو مخ د رسول الله ﷺ تردې چه مونږ ګمان اوکړو د غوسې په هغوی دواړو، نو دواړه ووتل نو دواړو ته مخامخ راغله تحفه د شودو رسول الله صلی الله ﷺ ته

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ – قوله أَنَّ الْيَهُودَ كَانَتْ إِذَا حَاضَتْ مِنْهُمُ الْمَرْأَةُ ﴾ یعنی د یهودو طرز عمل دا وو چه د زنانه سره به ئې په حالت د حیض کښې خوراک څکاک او ناسته ولاړه ټول بندول دهغې د اوسیدو ځائې به ئې هم بیلولو صحابه کرامو ﷺ په دې سلسله کښې د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿یسئلونک عن المحیض الخ ﴾

﴿ قوله اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ الا النِّكَاحِ ﴾ یعنې په حالت د حیض کښې د زنانه سره صرف د وطی نه ځان بچ کول ضروری دی ددې نه علاوه باقی انواع د مباشرت جائز دی

په شرح د حدیث کښې د شارحینو اختلاف:

﴿ قوله افلا ننکحهن في المحیض ﴾ اسید بن حضیر او عباد بن بشر ﷺ د رسول الله ﷺ په

( ): صحيح مسلم/الحيض ۳ (۳۰۲)، سنن الترمذي/تفسير البقرة ۳ (۲۹۷۷)، سنن النسائي/الطهارة ۱۸۱ (۲۸۹)، والحيض ۸ (۳۶۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۲۵ (۶۴۴)، (تحفة الأشراف: ۳۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۴۶/۳)، دي/الطهارة ۱۰۶ (۱۰۹۳)، ويأتي برقم (۲۱۶۵) (صحيح)

خدمت کښي حاضر شو او عرض ئې اوکړو يا رسول اللهﷺ! د حائضي په باره کښي چه تاسو کوم حکم فرمائيلي دي يهود دهغي په سلسله کښي خبري کوی او خفه کيږی چه په هره خبره کښي زمونږ مخالفت کولي شی که ستاسو اجازت وی نو مونږ به په حالت د حيض کښي د زنانو سره صحبت هم کوو چه ددي يهودو ذليلانو پوره پوره مخالفت اوشي.

خان پوهه کړه چه د مسلم په روايت کښي په ځائي د ﴿ افلا ننکحهن ﴾، ﴿ افلا نجامعهن ﴾ وارد دي او ددي شرح ملا علی قاریؒ په مرقاة کښي شيخ عبدالحق په لمعات کښي په مجامعت فی البيوت سره کړي ده او مطلب ئې دا ليکلي دي چه که ستاسو رائې وی نو مونږ به د زنانو سره په حالت د حيض کښي مجامعت يعنی مساکنت (هغوی سره ناسته پاسته) ترک کړو ددي دپاره چه في الجملة د يهود سره موافقت پيدا شي او د هغوی د طعن او تشنيع نه بچ شو، حضرت په بذل کښي ليکي چه د ابوداؤد ددي روايت نه معلومه شوه چه د مسلم په روايت کښي د مجامعت نه مجامعت في البيوت مراد نه دي بلکه نکاح يعنی وطی مراد ده، او د صحابي مراد هغه دي کوم چه په شروع کښي مونږ بيان کړي دي، زه وائم د ترمذی شريف په کتاب التفسير کښي هم هغه لفظ دي کوم چه دلته په ابوداؤد کښي دی خو ددي باوجود په الکوکب الدری کښي ددي لفظ په معنی کښي دوه احتمالات ليکلي شوي دی ګويا د حضرت ګنګوهیؒ په نزد لفظ نکاح د وطی په معنی کښي نص نه دي ځنګه چه لفظ مجامعت عند الشراح معنيين لره محتمل دي دغه شان لفظ د نکاح کښي هم د دواړه معنو احتمال دي خو ظاهره دا ده حضرت سهارنپوریؒ ليکلي دی چه ﴿ افلا ننکحهن ﴾ د وطی په معنی کښي متعين دي په خلاف د لفظ ﴿ افلا نجامعهن ﴾ چه هغه بيشکه معنيين لره محتمل دي، خو په يقين سره نه شی وئيلي کيدي چه ددي صحابي اصل لفظ څه وو ځکه چه روايتونه دواړه د صحاح دی او په واقعه کښي تعدد نشته، اوس ښکاره خبره ده چه صحابي به په دي دواړو الفاظو کښي يو داسي لفظ په خپل کلام کښي اختيار کړي وی اوس هغه څه دي والله تعالی اعلم

﴿ قوله فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم ﴾ يعنی په دي سوال باندي د رسول اللهﷺ مخ مبارک د غصي د وجي نه متغير شو ځکه چه مخالفت د يهودو اګرچه مطلوب دي خو داسي مخالفت کوم چه د حکم منصوص خلاف وی کله جائز کيدي شی، ددي دواړو صحابه کرامو‌ؓ سوال ظاهره دا ده چه په اخلاص باندي بناء وو خو خلاف اصول وو په دي وجه رسول اللهﷺ ناراض شو خو د رسول اللهﷺ خفګان هغه وخت سره د خبرداری دپاره وو، هم په دي وجه وړاندي په روايت کښي راځي چه هغوی دواړه رسول اللهﷺ په هديه د لبن کښي د شريکيدو دپاره راوغوښتل چه په هغي سره حاضرينو ته اطمينان حاصل شو چه رسول اللهﷺ د هغوی نه خفه نه دي

﴿ قوله لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا ﴾ دا د موجدة او د وجد نه دي چه دهغي معنی د غضب ده او د وجد يجد مصدر وجود هم راځي چه دهغي معنی د موندلو ده په دواړو کښي صرف د مصدر فرق دي

[٢٥٩](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أَتَعَرَّقُ الْعَظْمَ وَأَنَا حَائِضٌ، فَأُعْطِيهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَمَهُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي فِيهِ وَضَعْتُهُ، وَأَشْرَبُ الشَّرَابَ فَأُنَاوِلُهُ فَيَضَعُ فَمَهُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي كُنْتُ أَشْرَبُ مِنْهُ".

ترجمه: د عائشې ﷽ نه روايت دې هغې وئيلي دي: ومرزه چه غوښه مې شكوله د هډوكي نه او زه حائضه وم، بيا به مې وركړه نبي ﷺ ته نو كېخودله به ئې خوله خپله په هغه ځائي باندې چه ما به هغې ايخودې وه، او څكل به مشروبات نو هغه ته مې وركړل نو كېخودله ئې خوله خپله په هغه ځائې چه وم څكل مې كول د هغه ځائې نه

تشريح: ٢: ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ – قوله كُنْتُ أَتَعَرَّقُ الْعَظْمَ وَأَنَا حَائِضٌ ﴾ سيده عائشه ﷽ فرمائي چه ما به اكثر د هډوكي نه غوښه خوړه او زه به حائضه اوم او بيا به مې هغه رسول الله ﷺ ته وركولو نو رسول الله ﷺ به خاص د هم هغه ځائي نه خوراک كولو د كوم ځائي نه به چه ما كړي وو، په دې طرز كښې چه يو طرف ته د كمال الفيت بين الزوجين تعليم دې هم دغه شان د يهودو مخالفت هم مقصود دې لكه چه مخكښې تير شوي دي چه هغوى به د زنانه نه په زمانه د حيض كښې د نفرت اظهار كولو.

د تعرق معنى د هډوكي نه د غوښې خوراک ده او په بعض رواياتو كښې راځي ﴿كنت اتعرق العرق ﴾ عرق او عراق هغه هډوكي ته وائي د كوم غوښه چه خوړلې شوې وي، دويم قول دا دې چه عرق هغه عظم دې چه په هغه باندې غوښه باقي وي او د كوم نه چه غوښه كوزه كړې شوې وي هغه عراق دې

[٢٦٠](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ صَفِيَّةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ رَأْسَهُ فِي حِجْرِي فَيَقْرَأُ وَأَنَا حَائِضٌ".

ترجمه: د عائشې ﷽ نه روايت دې هغې وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چه كېخودلو به ئې سر خپل زما په غيږ كښې نو لوستلو به ئې قرآن او زه به حائضه وم.

بَابٌ فِي الْحَائِضِ تُنَاوِلُ مِنَ الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د حائضې كښې چې څه شي وركوي د مسجد نه

كه دا لفظ د باب تفاعل نه وي نو په اصل كښې وو تتناول، د تناول معنى د اخستلو راځي او كه د باب مفاعلت نه دې نو بيا به تناول په ضمې د تاء سره وي چه دهغې معنى د عطاء كولو ده.

(١): صحيح مسلم/الحيض ٣ (٣٠٠)، سنن النسائي/الطهارة ٥٦ (٧٠)، ١٧٧ (٢٨٠)، ١٨٧ (٢٨١)، والمياه ٩ (٣٤٢)، والحيض ١٤ (٣٧٧)، ١٥ (٣٨٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٥ (٦٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٦١٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٦٢، ٦٤، ١٢٧، ١٩٢، ٢١٠، ٢١٤) دي/الطهارة ١٠٨(١١٠١) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الحيض ٣ (٢٩٧)، والتوحيد ٥٢ (٧٥٤٩)، صحيح مسلم/الحيض ٣ (٣٠١)، سنن النسائي/الطهارة ١٧٥ (٢٧٥)، والحيض ١٦ (٣٨١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٠ (٦٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١١٧، ١٣٥، ١٩٠) (صحيح)

[۲۰]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ، فَقُلْتُ: إِنِّي حَائِضٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ".

ترجمه: د عائشي ﷞ نه روايت دې هغې وئيلى دي، اووئيل ماته رسول الله ﷺ: راكړه ماته جانماز د مسجد نه، نو ما اووئيل: زه حائضه يم، نو اووئيل رسول الله ﷺ: بيشكه ستا حيض ستا په لاس كښې نه دې.

تشريح: ﴿قوله نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ﴾ ددې حديث په شرح كښې دوه اقوال دى يو دا چه ﴿من المسجد﴾ حال واقع دې د رسول الله ﷺ نه، او معنى دا ده چه عائشه ﷞ فرمائي چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل په داسې حال كښې چه هغوى په مسجد كښې وو چه ماته بوريا راكړه، په دې صورت كښې رسول الله ﷺ خو به په مسجد كښې دننه او حصير به خارج د مسجد نه او دويم احتمال دا ليكلې شوې دې چه من المسجد حال واقع دې د ﴿الخمرة﴾ نه يعني رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه خمره كوم چه په مسجد كښې ده هغه اوچته كړه او ماته ئې راكړه، په دې صورت كښې به رسول الله ﷺ د مسجد نه بهر وې او حصير به مسجد كښې دننه وې، صاحب د مجمع البحار ليكى چه من المسجد يا خو متعلق دې په ﴿ناولينى﴾ پورې يا په ﴿قال﴾ پورې، په اول صورت كښې به ترجمه داسې وى "دا بوريا د مسجد نه اوچتولو سره ماته راكړه" او په دويم صورت كښې به ترجمه دا وى چه رسول الله ﷺ مسجد نه اوفرمائيل چه دا بوريا ماته راكړه، او بهر حال په دواړو صورتونو كښې به د حائض په مسجد كښې لاس داخلول بيا موندلې شى.

د دې نه معلومه شوه چه حائض په مسجد كښې لاس ور اوړدولو سره څه څيز د بل نه اخستلې او وركولې شى ځكه چه ممانعت د دخول نه دې نه د ادخال د يد نه او ادخال يد په عرف كښې دخول نه ګڼړلې كيږى، مسئله اتفاقى ده هيڅ اختلاف پكښې نشته، او دا هم ضرورى نه ده چه كه په مسئله كښې اختلاف وى نو بيا به دا بيانولې شى، مختلف فيه او متفق عليه ټول مسائل بيانولې شى.

د لفظ حيضة تحقيق او په هغې كښې د شارحينو اختلاف:

﴿قوله ان حيضتک ليست فى يدک﴾ د رسول الله ﷺ په طلب حصير باندې عائشي ﷞ عرض اوكړو چه زه خو په حالت د حيض كښې يم (مسجد ته لاس څنګه داخلولې شم) نو په دې باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه د حيض وينه ستا په لاس كښې نه لګيږى.

دلته د شارحينو په دې خبره كښې اختلاف دې چه دا لفظ حيضة په كسرې د حاء سره دې يا كه په فتحې د حاء سره، د خطابى رائې دا ده چه دا په كسرې د حاء سره دې ددې

(): صحيح مسلم/الحيض ۲ (۲۹۸)، سنن الترمذي/الطهارة ۱۰۱ (۱۳٤)، سنن النسائي/الطهارة ۱۷۳ (۲۷۲)، والحيض ۱۸ (۳۸٤)، (تحفة الأشراف: ۱۷٤٤٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۲۰ (٦۳۲)، مسند احمد (٦/٤٥، ۱۰۱، ۱۱۲، ۱۱٤، ۱۷۳، ۲۱٤، ۲۲۹، ۲٤٥) سنن الدارمي/الطهارة ۸۱ (۷۹۸) (صحيح)

معنی ده هغه حالت کوم چه حائضې ته د حیض د وجې نه عارض وی، لکه جنابت کوم چه سړی ته د خروج منی د وجې نه عارض وی، او حیضه په فتحې د حاء سره په معنی د دم حیض دې. خطابی په هغه محدثینو باندې رد کړې دې کوم چه دا بالفتح لولی ددې بالمقابل قاضی عیاض رحمه الله د خطابی رد کړې دې او وئیلې ئې دی چه صحیح هم هغه ده چه محدثین وائی یعنې بالفتح او د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا دې چه دم حیض د کوم نه چه مسجد بچ کول ضروری دی هغه په لاس باندې چرته دې. امام نووی رحمه الله د قاضی عیاض رحمه الله رائې ته ترجیح ورکړې ده او دا ئې هم فرمائیلې دې چه خطابی چه څه وائی دهغې هم یو معقوله وجه ده او زمونږ حضرت په بذل کښې د خطآبی رائې ته ترجیح ورکړې ده او دا ئې هم فرمائیلې دی ځکه چه دا خبره خو عائشې رضی الله عنها ته هم معلومه وه چه دم حیض په لاسونو باندې نه دې لګیدلې هغه د ادخال ید فی المسجد نه ځکه منع شوه چه د خروج حیض د وجې نه چه زنانه ته کوم حالت عارض وی دهغې حلول په لاس کښې هم دې خو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه دهغې حاصل دا دې چه د حیض د وجې نه چه زنانه ته کوم حالت عارض وی دهغې تعلق د ټول بدن سره دې د بیلو بیلو اندامونو سره نه دې، لهذا صرف لاس ته حائض نه شی وئیلې کیدې، علی هذا القیاس د جنبی سړی لاس یا بل اندام ته به جنبی نه شی وئیلې کیدې بلکه ددې اطلاق به په مجموعه بدن باندې وی

بَاب فِي الْحَائِضِ لَا تَقْضِي الصَّلَاةَ

باب دې په بیان د حائضې کې چې د مونځ قضائي به نه راوړي

مسئله د اهل سنت ترمینځه اجماعی ده چه د زمانه حیض د مونځونو قضاء واجب نه ده په خلاف د صوم چه دهغې قضاء واجب ده د خوارجو په دې کښې اختلاف دې هغوی د وجوب قضاء صلوة قائل دی، په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د سمرة بن جندب رضی الله عنه په باره کښې راځی چه هغوی په شروع کښې د مونځ قائل وو په دې باندې ام سلمه رضی الله عنها په هغوی باندې نکیر اوفرمائیلو نو بیا هغوی اودریدل. لکه چه په ابوداؤد کښې وراندې په باب فی وقت النفساء کښې دا روایت راروان دې او په دوارو کښې د فرق وجه مشهوره ده چه که د مونځونو قضاء واجب وی نو فرض به مکرر او دوچند شی چه په هغې کښې حرج دې او حرج په شریعت کښې مدفوع دې او په قضاء د صوم کښې دا خبره نه لازمیږی.

[۲۶۲] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ مُعَاذَةَ، أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ: أَتَقْضِي الْحَائِضُ الصَّلَاةَ؟ فَقَالَتْ: "أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ؟ لَقَدْ كُنَّا نَحِيضُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا نَقْضِي وَلَا نُؤْمَرُ بِالْقَضَاءِ".

ترجمه: د معاذه نه روایت دې، بیشکه یوې ښځې تپوس اوکړو د عائشې نه. ایا نه قضائې راوړي د مانځه؟ نو هغې اووئیل ایا ته حروریه یې؟ بیشکه مونږ باندې به حیض راتلو په زمانه درسول الله ﷺ کښې نو مونږبه قضائې نه راوړه او مونږته به حکم دقضائې هم نه کیدو.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ — قوله فَقَالَتْ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ ﴾ د عائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړې شو چه آیا د حیض د مونځونو قضاء شته؟ نو په دې باندې هغوی دا اوفرمائیل.

د لفظ حرورية او ددې نسبت تشريح:

حرورية نسبت دې د حروراء طرف ته كومه چه كوفې ته نژدې يو قرية ده د علي رضي الله عنه خلاف هلته د خوارجو اجتماع شوې وه په دې وجه خوارج هغه قرية ته منسوب كولو سره هغې ته حرورية وائي.

د خوارجو د سيدنا علي رضي الله عنه خلاف د بغاوت قصه، په كتب حديث وتاريخ كښې مشهوره ده، اول هغوى د علي رضي الله عنه سره وو د جنګ صفين په موقع باندې په مسئله د تحكيم كښې د علي رضي الله عنه نه خفه كيدو سره بيل شو، او د مقابلې دپاره وسلې اخستلو سره تيار شو دا د اتو زرو كسانو لښكر وو ددې لښكر امير عبدالله بن الكوى وو، سيدنا علي رضي الله عنه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ددې خلقو د پوهه كولو او د مناظرې دپاره اوليږلو، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما سره د هغوى مناظره اوشوه او په هغه لښكر كښې دوه زره كسانو رجوع اوكړه شپږ زره باقي پاتې شو، سيدنا علي رضي الله عنه په مقام نهروان كښې د هغوى مقابله اوكړه، جنګ نهروان هم ددې نوم دې چه په هغې كښې علي رضي الله عنه ته شانداره فتح ملاؤ شوه، ددې جنګ او فتح متعلق روايات په ابوداؤد كښې په ابواب شرح السنة كښې موجود دي.

دلته دا سوال وارديږي چه عائشې رضي الله عنها دا سوال كونكې په دې سوال باندې سمدستې فرقه خوارج ته څنګه منسوب كړه؟ كومه چه يقينا يو بد دينه فرقه ده، جواب دا دې چه عائشې رضي الله عنها ته په ظاهر كښې دا شبهه پيدا شوه چه سائلې ته ددې حكم شرعي په ثبوت كښې تردد دې لكه چه د مسلم د روايت د الفاظو نه مستفاد كيږي، د مسلم په روايت كښې داسې دى چه هغې زنانه اووئيل - ﴿ما بال الحائض تقضي الصوم ولا تقضي الصلوة﴾ په دې وجه باندې عائشې رضي الله عنها په جواب كښې دا طرز احتيار كړو، او يو جواب دا هم كيدې شي چه د عائشې رضي الله عنها دا وينا په طور د ظرافت او خوش طبعئ وه حقيقت د كلام نه دې مراد.

[۲۶۳]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَمْرٍو، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ، عَنْ عَائِشَةَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَزَادَ فِيهِ: فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ، وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ.

ترجمه: معاذة روايت كوي د عائشې نه په دې حديث سره ونيلې دې ابوداود او زيادت ئې كړې دې په هغې كې: پس امر به كيدې شو موږ ته په قضاء د روژې، او امر به نه شو كيدې موږ ته په قضاء د مونځ.

بَابٌ فِي إِتْيَانِ الْحَائِضِ

باب دې په بيان د اتيان كې حائضې ته

يعنې په حالت د حيض كښې وطى كول، دلته دوه مسئلې دى يو د وطى في حالة الحيض حكم، دويم په حديث كښې چه كومه كفاره ذكر ده د هغې شرعي حيثيت، پس ځان پوهه كړه چه وطى في حالة الحيض بالاجماع حرام ده، نص قطعي سره د هغې حرمت ثابت دې، خو په دې كښې اختلاف دې چه ددې د مستحل به تكفير كولې شي يا نه، د قياس تقاضا خو هم

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۶٤) (صحيح)

دا ده چه د هغه تکفير اوکړې شي او د ډيرو علماء کرامو رائې هم دا ده خو په درمختار کښې ليکلې دي چه د محققينو په نزد به د هغه تکفير نه شي کولې، ځکه چه وطي في حالة الحيض قبيح لعينه نه ده بلکه لغيره ده.

د دويم مسئلې جواب دا دې چه کومه کفاره په حديث کښې مذکور ده هغه د جمهور ائمه اربعه په نزد په طريق د استحباب ده او په دا سې سړي باندې اصل واجب توبه او استغفار دي، خو د امام احمد رحمه الله په يو روايت او د امام شافعي رحمه الله قول قديم دا دې چه په دې کښې کفاره واجب ده او هم دا مذهب دې د حسن بصري، اسحق بن راهويه او سعيد بن جبير رحمه الله، بيا کوم خلق چه د وجوب تکفير قائل دی په هغوی کښې اختلاف دې چه په کفاره کښې څه واجب دی؟ د حسن بصري او د سعيد بن جبير په نزد عتق رقبة ده او د باقي په نزد دينار يا نصف دينار دې.

او په دې هم ځان پوهه کړه چه په حديث کښې چه کوم لفظ د او راغلې دې چه دينار به ورکوی يا نصف دينار دا د امام احمد رحمه الله په نزد د تخيير دپاره دې (كما في الروض المربع) او د امام شافعي رحمه الله په نزد د تنويع دپاره دې كما قال ابن رسلان يعني كه د حيض په ابتدائي زمانه کښې ئې وطی اوکړه نو بيا خو به د يو دينار تصدق کولې شی او که په اخرى وخت کښې ئې وطی اوکړه نو نصف دينار، هم دغه شان په ترمذی کښې د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه که دم احمر وې نو يو دينار او که اصفر وی نو نصف دينار، ددې وجه هم دا ده چه حيض په اول وخت کښې احمر او په آخرې وخت کښې اصفر شي. او په ظاهره د اول او آخرې په حکم فرق په دې وجه دې چه په اول صورت کښې جرم شديد دې او په دويم صورت کښې صحبت لره څه موده د جدا کيدو د وجې نه في الجملة معذور ګڼړلې شوې دې. په دې وجه په کفاره کښې تخفيف اوکړې شو

[٢٦٣]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي الْحَكَمُ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فِي الَّذِي يَأْتِي امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ: يَتَصَدَّقُ بِدِينَارٍ أَوْ نِصْفِ دِينَارٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَكَذَا الرِّوَايَةُ الصَّحِيحَةُ: قَالَ: دِينَارٌ أَوْ نِصْفُ دِينَارٍ، وَرُبَّمَا لَمْ يَرْفَعْهُ شُعْبَةُ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې هغه د نبي صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي په باره د هغه چا کښې چه راتلل کوي خپلې ښځې ته او هغه حائضه وي، هغه اوونيل صدقه به ورکوي د يو دينار او نيم دينار. وئيلی دي ابوداود دارنګ دی روايت صحيحه، هغه وئيلی دی دينار او يا نيم دينار. او کېدی شي شعبه نه وي مرفوع کړی

تشريح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ — قوله قَالَ أَبُو دَاوُد هَكَذَا الرِّوَايَةُ الصَّحِيحَةُ ﴾ دې روايت ته صحيح د هغه بل روايت په مقابله کښې وائی کوم چه ددې نه وړاندې راغلې چه په هغې کښې نصف دينار ذکر دې او دهغې نه هم وړاندې په دريم روايت کښې ﴿ بخمسى دينار ﴾ راغلې

(): سنن النسائي/الطهارة ١٨٢ (٢٩٠)، والحيض ٩ (٣٧٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٣ (٦٤٠)، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٠)، ويأتي هذا الحديث في النكاح (٢١٦٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ١٠٣ (١٣٦ و ١٣٧)، مسند احمد (١/٢٣٧، ٢٧٢، ٢٨٦، ٣١٢، ٣٢٥، ٣٦٣، ٣٦٧) سنن الدارمي/الطهارة ١١١ (١١٤٥) (صحيح)

[٢٦٥]() حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَبِي الْحَسَنِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِذَا أَصَابَهَا فِي أَوَّلِ الدَّمِ، فَدِينَارٌ، وَإِذَا أَصَابَهَا فِي انْقِطَاعِ الدَّمِ، فَنِصْفُ دِينَارٍ" قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ، عَنْ مِقْسَمٍ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: كله چه ورسره هغي ښځې ته په اول د وينې كښې نو دينار دى، او چه كله ورته ورسره په انقطاع د دم كښې نو نيم دينار دى. وئيلي دي ابوداود: او همدارنګه وئيلي دي ابن جريج د عبد الكريم نه او هغه د مقسم نه.

[٢٦٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهِ وَهِيَ حَائِضٌ، فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِينَارٍ" قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا قَالَ عَلِيُّ بْنُ بَذِيمَةَ: عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَرَوَى الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: آمُرُهُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِخُمُسَيْ دِينَارٍ، وَهَذَا مُعْضَلٌ.

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنه روايت كوي د نبي ﷺ نه هغه وئيلي دي: كله چه واقع شي يو سړى په خپل اهل او هغه حائضه وي نو صدقه دې وركړي په نيم دينار سره. وئيلي دي ابوداود: او همدارنګه وئيلي دي علي بن بذيمة د مقسم نه او هغه د نبي ﷺ نه په طريقې د ارسال سره، او روايت كړى دى اوزاعي د يزيد بن ابي مالک نه، او هغه د عبد الحميد بن عبد الرحمن نه، او هغه د نبي ﷺ نه، هغه فرمايلي دي: زه ورته امر كوم چه صدقه وركړي په دوه خمسونو د دينار. او دا معضل دى.

تشريح: ٢: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ – قوله وَهَذَا مُعْضَلٌ ﴾

د باب ددې آخرى حديث په باره كښې مصنف رحمه الله د معضل حكم لګوى، معضل هغه حديث دې چه دهغې د سند دوه راويان مسلسل ساقط وي، دلته چه كوم دوه راويان ساقط دى هغه د عبد الحميد نه روستو دى، هغه دوه راويان څوک دى؟ مصنف رحمه الله دهغې سره تعرض نه دې كړې، خو د بيهقي روايت كوم چه وړاندې راروان دې دهغې نه معلوميږى چه په هغوى كښې يو عمر رضي الله عنه، خو خان پوهه كړه چه د ابوداؤد دا روايت امام بيهقي رحمه الله د ابن داسه د نسخې نه نقل كړې دې، چه دهغې سند داسې دې ﴿ عن عبد الحميد بن عبدالرحمن اظنه عن عمر ﴾، او امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه دا حديث منقطع دې د عبدالحميد او عمر ترمينځه انقطاع ده. لهذا دا روايت د نسخه ابن داسه په اعتبار سره صرف منقطع دې زمونږ نسخه كومه چه ابوعلي لولوى طرف ته منسوب ده دهغې په لحاظ سره معضل دې.

بله دا چه د بيهقي د روايت نه هم معلوميږى چه دلته په متن كښې امره ان يتصدق كښې د ضمير مرجع عمر رضي الله عنه دې، رسول الله ﷺ عمر رضي الله عنه ته د دينار يا نصف دينار په ځائې د دوه خمس دينار د تصدق حكم اوفرمائيلو ددې وجه په ظاهر كښې دا ده لكه چه په بيهقي

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٨)، ويأتي هذا الحديث في النكاح (٢١٦٩) (صحيح)
(): سنن الترمذي/الطهارة ١٠٣ (١٣٦)، (تحفة الأشراف: ٦٤٨٦) (ضعيف)

كښي ددي زنانه په باره كښي دى ﴿ انها كانت تكره الرجل ﴾ چه دې زنانه د سرى خواهش نه لرلو ددې روايت نه دا معلومه شوه چه عمر رضي الله عنه دهغې سره وطى په دې حالت كښې په دې خيال كړې وه چه دا هسې بهانې كوى. قصدا ئې نه وه كړې په دې وجه په كفاره كښې تخفيف اوكړې شو.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُصِيبُ مِنْهَا مَا دُونَ الْجِمَاعِ

باب دې په بيان د سړي كې چې رسېږي هغه ته كم د جماع نه

[٢٦٧]() حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ حَبِيبٍ مَوْلَى عُرْوَةَ، عَنْ نُدْبَةَ مَوْلَاةِ مَيْمُونَةَ، عَنْ مَيْمُونَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُبَاشِرُ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَائِهِ وَهِيَ حَائِضٌ، إِذَا كَانَ عَلَيْهَا إِزَارٌ إِلَى أَنْصَافِ الْفَخِذَيْنِ أَوِ الرُّكْبَتَيْنِ تَحْتَجِزُ بِهِ".

ترجمه: د ميمونې نه روايت دې بيشكه رسول الله ﷺ وو چه مباشرت به ئې كولو د بي بي سره د خپلو بيبيانو نه او هغه به حائضه وه، كله چه به وو په هغې باندې لنګ نيم د ورنونو پورې او يا د زنګنونو پورې، چه ځان به ئې ساتلو په هغې.

د مباشرت حائض انواع او د هغې په باره كښې د ائمة كرامو اختلاف:

ځان پوهه كړه چه د مباشرت حائض درې قسمونه دى يو بالاجماع حرام، او يو بالاجماع جائز او يو مختلف فيه.

١: مباشرت فى الفرج بالاجماع حرام دى،

٢: او مباشرت فيما فوق السرة وتحت الركبة په اتفاق د ائمة اربعه جائز دې خو د ابن عباس او عبيده سلمانى په نزد دا هم ناجائز دې،

٣: او مباشرت بين السرة والركبة سوى القبل والدبر مختلف فيه دې د ائمه ثلاث او امام ابويوسف په نزد ناجائز او د امام احمد او محمد په نزد جائز دى ([٢]).

قسم ثالث كوم چه مختلف فيه دې دهغې په باره كښې امام نووى رحمه الله ليكلى دى چه قول اصح و اشهر د جمهور شوافعو په نزد هم دا دې چه حرام دى او دويم قول دا دې چه حرام نه دې بلكه مكروه تنزيهى دې، دريم قول دا دې چه كه مباشر ته په خپل نفس باندې اعتماد وى نو بيا خو جائز دې ګڼلې نه دې، امام نووى رحمه الله د جواز قول ته خپل قول مختار او من حيث الدليل اقوى ليكلى دې هم دغه شان زمونږ په علماء كرامو كښې علامه عينى رحمه الله هم دې قول ته اقوى ليكلې دې، د مجوزين يعنى امام احمد او محمد رحمهما الله دليل د انس رضي الله عنه حديث مرفوع ﴿ اصنعوا كل شئ الا النكاح ﴾ دې كوم چه په صحيح مسلم او سنن

---

[١]: سنن النسائي/الطهارة ١٨٠ (٢٨٨)، والحيض ١٣ (٣٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٨٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ٥ (٢٩٨)، صحيح مسلم/الحيض ١ (٢٩٤)، مسند احمد (٦/٣٣٥)، سنن الدارمي/الطهارة ١٠٧ (١٠٩٧) (صحيح)

[٢]: حضرت شيخ به دا اختلاف داسې بيانولو چه په دې مسئله كښې بوډاګان يو طرف ته او ځوانان بل طرف ته دى، د بوډاګانو په نزد ناجائز او د ځوانانو په نزد جائز، امام محمد رحمه الله چونكه د امام ابويوسف رحمه الله نه وړوكې وو او امام احمد رحمه الله په ائمه اربعه كښې د زمانې په لحاظ سره زمانا د ټولو نه موخر دې، غالبا په دې وجه ئې دې دواړو ته ځوانان اوويل

ابوداؤد وغيره كښې روايت دي، د مانعينو دليل احاديث الباب دی، پس حديث اول كوم چه د ميمونې رضي الله عنها نه روايت دي په هغې كښې دا دی ﴿ كَانَ يُبَاشِرُ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَائِهِ وَهِيَ حَائِضٌ إِذَا كَانَ عَلَيْهَا إِزَارٌ ﴾ او حديث ثانی كوم چه د عائشې رضي الله عنها نه روايت دي په هغې كښې دی ﴿ يَأْمُرُ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا أَنْ تَتَّزِرَ ثُمَّ يُضَاجِعُهَا ﴾ او مجوزين دا د اتزار روايتونه په استحباب او تورع باندې محمول كوي

تنبيه: خان پوهه كړه چه حافظ په فتح الباري كښې د امام طحاوي رحمه الله طرف ته منسوب كړې دی چه هغوی د امام احمد رحمه الله قول ته ترجيح وركړې ده، حضرت شيخ په حاشيه د اوجز كښې ليكلې دی چه د حافظ نه علاوه ابن رسلان او صاحب د تعليق الممجد هم د امام طحاوي رحمه الله هم ددې قول طرف ته ترجيح نقل كړې ده حال دا چه دا صحيح نه ده، امام طحاوي رحمه الله په معاني الآثار كښې د خپل كلام په شروع كښې هم دې ته ترجيح وركړې وه خو بيا ئې وړاندې تلو سره دهغې نه رجوع كولو سره د امام صاحب قول ته ترجيح وركړې ده، دې حضراتو ته د طحاوي د شروع د كلام نه وهم پيدا شوې دې او هغوی د كلام اخره نه ده كتلې

[٢٦٨]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا، أَنْ تَتَّزِرَ، ثُمَّ يُضَاجِعُهَا زَوْجُهَا"، وَقَالَ مَرَّةً: يُبَاشِرُهَا.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې وئيلې دی: وو رسول الله صلی الله علیه وسلم چه امر به ئې كولو يوې زمونږ ته چه كله به حائضه وه چه لنګ واچوي، بيا به ورسره پريوتلو خاوند د هغې او وئيلې ئې دې يو ځل: چه مباشرت به ئې ورسره كولو

په لفظ حديث باندې د قاعده صرفيه د مخالفت اشكال او د هغې جواب

٢: ﴿ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ – قوله يَأْمُرُ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا أَنْ تَتَّزِرَ ﴾ د لفظ تتزر په سلسله كښې په شروح حديث كښې ډير تفصيلي كلام كړې شوې دې چه دهغې خلاصه دا ده په دې لفظ باندې د قواعد صرفيه په لحاظ سره اشكال دې، د قاعدې په اعتبار سره ﴿ ان تأتزر ﴾ كيدل پكار دی په دې وجه ددې مصدر ائتزار دې او فاء د افتعال په تاء باندې بدلولو سره په تاء كښې مدغم كول د قاعدې خلاف دی او په اتخاذ كښې ګويا هم دغه شان شوی دی خو اهل صرفو دې ته شاذ وئيلې دی په روايت حديثيه كښې كله خو د قاعدې مطابق راځي او كله د ادغام سره خلاف قياس وارد شوې دې اوس ډيرو شارحينو چه په هغوی كښې ابن هشام، زمخشري او صاحب قاموس وغيره دی دې ته خطاء او تحريف وئيلې دې، خو ابن مالك وئيلې دی چه ددې مدار په سماع باندې دې، د باب افتعال په مصادرو كښې دا تغير شوې دې دهغې نظائر موجود دی لكه اتكل او اتمن كما في قراءة فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اتُّمِنَ لهذا دا لفظ هم ددې قبيل نه كيدې شي، او كه دا خطاء اومنلې شي نو به

() صحيح البخاري/الحيض ٥ (٢٩٩)، صحيح مسلم/الحيض ١ (٢٩٣)، سنن الترمذي/الطهارة ٩٩ (١٣٢)، سنن النسائي/الطهارة ١٨٠ (٢٨٧)، والحيض ١٢ (٣٧٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢١ (٦٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٨٢) (صحيح)

دې صورت کښې کيدې شي چه دا د راويانو تصرف وي، د عائشې رضي الله عنها لفظ نه دې خو که د عائشې رضي الله عنها نه ثابت شي نو بيا کلام عائشه رضي الله عنها پخپله حجت دې لانها من فصحاء العرب، علامه کرماني رحمه الله هم داسې وئيلې دي چه کلام عائشه حجت دې، او حافظ فرمائي چه بعض علماء کرامو د ادغام جواز د کوفيانو مذهب ليکلې دې په دې صورت کښې خو بيا هيڅ اشکال نشته، زمونږ استاذ محترم مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله چه ډير لوئې اديب وو هغوی به فرمائيل چه اهل لسان د صرف او نحو د قواعدو پابند نه دی بلکه خپله دا قواعد د فصحاء عرب د کلام او د هغوی د استعمالات نه ماخوذ دي.

[٢٦٩]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ جَابِرِ بْنِ صُبْحٍ، سَمِعْتُ خِلَاسًا الْهَجَرِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ: "كُنْتُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيتُ فِي الشِّعَارِ الْوَاحِدِ وَأَنَا حَائِضٌ طَامِثٌ، فَإِنْ أَصَابَهُ مِنِّي شَيْءٌ غَسَلَ مَكَانَهُ وَلَمْ يَعْدُهُ، ثُمَّ صَلَّى فِيهِ، وَإِنْ أَصَابَ تَعْنِي ثَوْبَهُ مِنْهُ شَيْءٌ، غَسَلَ مَكَانَهُ وَلَمْ يَعْدُهُ، ثُمَّ صَلَّى فِيهِ".

ترجمه: خلاس الهجري وئيلى دي ما اوريدلي دي د عائشې نه هغې به ويل: وم زه او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه شپه به مو تيروله په يوه شړۍ کښې او زه به حائضه وم، که چېرې به ورسيدلو زما نه هغه ته څه شي نو وبه ئې وينځلو هغه ځائې او دهغې نه به ئې تجاوز نه کولو، بيا به ئې مونځ کولو په هغې کښې، او که چېرې به ورسيدلو (مطلب جامه د هغه ته) هغه ته څه شي نو هغه ځائې به ئې وينځلو او دهغې نه به ئې تجاوز نه کولو، بيا به ئې مونځ اوکړو په هغې کښې.

د لفظ حديث په ظاهر باندې يو اشکال او د هغې توجيه :

٣: ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ – قوله نَبِيتُ فِي الشِّعَارِ الْوَاحِدِ وَأَنَا حَائِضٌ طَامِثٌ فَإِنْ أَصَابَهُ مِنِّي شَيْءٌ غَسَلَ مَكَانَهُ وَلَمْ يَعْدُهُ ثُمَّ صَلَّى فِيهِ ﴾ سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي زه او رسول الله صلی الله علیه وسلم دواړو به په يو کپړه کښې شپه تيروله او زه به حائضه اوم، بيا که به زما نه په هغوی باندې څه اولګيدل يعني دم حيض نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به صرف هم هغه ځائې وينځلو چرته چه به نجاست لګيدلې وو دهغې نه به ئې زيادت نه کولو، وړاندې په روايت کښې دی ﴿ ثم صلى فيه ﴾ ددې لفظ د ماقبل سره ربط نه معلوميږي ځکه چه په ما قبل کښې په ظاهره د بدن ذکر دې که په هغې باندې به څۀ اولګيدل نو هغه به ئې وينځل، په بدن کښې د مونځ لوستلو څۀ مطلب؟ او ددې نه په وړاندې جمله کښې دا هم راځي هلته هم دا لفظ دې خو هلته صحيح دې ځکه چه په هغې کښې د ثوب ذکر دې چه که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جامه باندې به څۀ اولګيدل نو هغه به ئې وينځلو او مونځ به ئې پکښې اوکړو هم په دې وجه حضرت په بذل کښې ليکي چه په ظاهر کښې دا لفظ دلته غلط دې چه دهغې دوه قريني دی يو دا چه د ماقبل سره معنوی ربط نشته، دويم دا چه امام بيهقي رحمه الله هم دا روايت د ابن داسه د نسخې نه نقل کړې دې هلته دا لفظ ﴿ثم صلى فيه﴾ نه دې مذکور زه وايم هم دغه شان دا روايت وړاندې د ابوداؤد

[1]: سنن النسائي/الطهارة ١٧٩ (٢٨٥)، والحيض ١١ (٣٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٦٧)، مسند احمد (٤٤/٦)، سنن الدارمي/الطهارة ١٠٤ (١٠٥٣)، ويأتي عند المؤلف في النكاح برقم (٢١٦٦) (صحيح)

په کتاب النکاح کښې راروان دي هلته هم دا لفظ نشته
زمونږ استاذ محترم مولانا اسعد الله رحمه الله د خپل بذل په حاشیه کښې یو توجیه فرمائیلي ده هغه دا چه د حدیث د دواړو جملو تعلق دې د کپړې سره اومنلې شي د بدن سره نه او د تکرار نه د بچ کیدو دپاره دې دا اووئیلې شي چه په اول جمله کښې شعار مذکور دې او په جمله ثانیه کښې ثوب، او د ثوب نه مراد غیر شعار دې، او یو بله توجیه هم کیدې شي هغه دا چه مراد دواړو خایونو کښې یو کپړه ده خو مقصود دا دې چه یو خل به ئې کپړه وینځله او په هغې کښې به ئې مونځ اوکړو دهغې نه پس به که دوباره بیا په هغې باندې څه څیز اولګیدلو نو بیا به ئې هغه هم دغه شان وینځلو او په هغې کښې به ئې مونځ کولو لکه چه هم دغه شان دا مضمون د نسائي په روایت کښې هم دې کوم چه حضرت په بذل کښې نقل فرمائیلي دې. لهذا دا تکرار په تعدد د واقعې باندې محمول دې غرض دا چه ددې توجیهاتو په صورت کښې به ﴿ ثم صلی فیه ﴾ په دواړو خایونو کښې صحیح شي
﴿ قوله وَلَمْ يَعْدُهُ ﴾ دا د ﴿ لم یدع ﴾ په وزن باندې دې د عدا یعدو نه ماخوذ دې چه دهغې معنی د تجاوز کولو ده او مطلب دا دې چه صرف هم هغه خائې به ئې وینځلو چرته چه به څه لګیدلي وو دهغې نه به ئې زیادت نه کولو یعنی هغه به ئې نه وینځلو

[٢٧٠]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ بْنِ غَانِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ زِيَادٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غُرَابٍ، قَالَ: إِنَّ عَمَّةً لَهُ حَدَّثَتْهُ، أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: إِحْدَانَا تَحِيضُ وَلَيْسَ لَهَا وَلِزَوْجِهَا إِلَّا فِرَاشٌ وَاحِدٌ، قَالَتْ: "أُخْبِرُكِ بِمَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، دَخَلَ لَيْلًا وَأَنَا حَائِضٌ، فَمَضَى إِلَى مَسْجِدِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: تَعْنِي مَسْجِدَ بَيْتِهِ، فَلَمْ يَنْصَرِفْ حَتَّى غَلَبَتْنِي عَيْنِي وَأَوْجَعَهُ الْبَرْدُ، فَقَالَ: ادْنِي مِنِّي، فَقُلْتُ: إِنِّي حَائِضٌ، فَقَالَ: وَإِنْ، اكْشِفِي عَنْ فَخِذَيْكِ، فَكَشَفْتُ فَخِذَيَّ فَوَضَعَ خَدَّهُ وَصَدْرَهُ عَلَى فَخِذِي وَحَنَيْتُ عَلَيْهِ حَتَّى دَفِئَ وَنَامَ".

ترجمه: عمارة بن غراب نه روایت دې هغه وئیلي دي بیشکه د هغه عمې هغه ته بیان کړې دې چه هغې د عائشې نه تپوس اوکړو هغې اووئیل یوه زمونږ نه حائضه کیږي او نشته دهغې او د خاوند لپاره ئې مګر بستره یوه؟ هغې وفرمایل زه خبر درکوم تاته په هغه څه چه کړي وو رسول الله ﷺ، داخل شو او د کور مسجد ته لاړلو وئیلي دي ابوداود مطلب ئې د کور مسجد دې نو رانغلو تردې چه غالبې شوې په ما باندې سترګې زما او دردمند کړې وو هغې لره یخنې، نو هغه اووئیل رانزدې شه ماته، نو ما اووئیل چه حائضه یم، نو هغه وفرمایل چه ښکاره کړه خپل ورنونه. نو ما ښکاره کړل خپل ورنونه نو کیخوده هغه خپل مخ او سینه زما په ورنونو، او زه ورکږه شوم په هغه تردې چه ګرم شو او اوده شو
تشریح: ۴ ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ – قوله أَنَّهَا سَأَلَتْ الخ ﴾ د حدیث مضمون دا دې عمارة بن غراب وائي چه یو خل زما ترور ماته بیان اوکړو چه ما د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوکړو چه کله کله به داسې کیدله چه په مونږ کښې به د چا حیض وو او حال دا دې چه دهغې او دهغې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٩٩٣) (ضعیف)

د زنانه به يو بستره وه نو آيا به حالت د حيض کښې يو ځائې سملاستې شی، يعنی د مضاجعة مع الحائض تپوس ئې اوکړو نو په دې باندې عائشې ﷺ اوفرمائيل چه زه تا ته يو واقعه واوروم هغه دا چه يو ځل داسې اوشو چه رسول اللهﷺ کور ته داخل شو او مصلی يعنی د مونځ کولو کوم ځائې چه وو هلته ئې تشريف يوړلو او په مانځه کښې مشغول شو، بل طرف ته زه په خپله بستره باندې ملاسته اوم ترڅو چه رسول اللهﷺ د مانځه نه فارغ کيدو سره بتسرې ته راتلو زه اودۀ شوې اوم، رسول اللهﷺ هغه وخت يخنئ تنگ کړې وو په دې وجه هغوی ماته اوفرمائيل چه ماته رانزدې شه ما عرض اوکړو زه حائضه يم په دې باندې رسول اللهﷺ (زما د شک او تردد د زائل کولو دپاره) دا اوفرمائيل چه د خپل فخذينو نه کپړه هم لرې کړه، پس ما لرې کړه او رسول اللهﷺ خپل رخسار مبارک او خپله سينه زما په فخذ باندې کيخودله او زه هم په رسول اللهﷺ باندې ښه راښکته شوم، تردې چه رسول اللهﷺ راگرم شو او اودۀ شو.

د دې حديث نه د مباشرت حائض دا نوع يعنی مضاجعت ثابتيږی چه دهغې دپاره مصنف ترجمه قائم کړې ده، اګرچه في نفسه دا حديث ضعيف دې ځکه چه ددې په سند کښې عبدالرحمن بن زياد بن انعم الافريقي دې چه د هغه جرح او تعديل مختلف فيه دې او هم دغه شان عماره او ام عماره دواړه مجهول دی خو مضاجعة مع الحائض د احاديث صحيحه نه ثابت دی بلکه علماء کرامو ليکلي دی چه که د اتباع نيت اوکړې شی نو ماجور به وی. هسې خو په انواع مباشرت کښې اختلافات د علماء کرامو په شروع کښې ذکر شو.

[۲۷۱](١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي الْيَمَانِ، عَنْ أُمِّ ذَرَّةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيرِ، فَلَمْ نَقْرُبْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ نَدْنُ مِنْهُ حَتَّى نَطْهُرَ".

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روايت دې هغې وئيلی دی: وم زه کله چه به زه حائضه شوم زه به راښکته شوم د بسترې نه پورته، موږ به نه نزدې کيدلو رسول الله ﷺ، تر دې چه پاکې به شو.

حديث محتاج تاويل دې:

۵ ﴿ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ – قوله كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيرِ الخ ﴾ سيده عائشه ﷺ فرمائی چه کله به ماته حيض راتلو نو زه به د فراش نه (کوم چه دهغې او د رسول اللهﷺ مشترک وو) حصير ته راکوزه شوم، او ترڅو چه به د حيض نه پاکه شوې نه اوم موږ به رسول اللهﷺ ته نه نزدې کيدو. دا حديث د احاديث صحيحه او هم د دې باب د ذکر شوو احاديثو خلاف دې، لهذا دا خو دې يا منسوخ اومنلې شی يا موول او تاويل دې دا اوکړې شی چه دلته د قرب نه د مخصوص قرب نفی مراد ده يعنی قربان بالجماع هسې خو ددې حديث په سند کښې يو راوی دې ابو اليمان د هغوی په باره کښې وئيلې شوې دی

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٩٨٠) (ضعيف)

چه دا مستور دي

او کوم انواع د مباشرت چه مونږ بيان کړي وو په هغې کښې يو قول د ابن عباس رضی الله عنهما تير شوي دي چه د هغوی په نزد مباشرت مطلقا ممنوع دي ددې روايت نه دهغې تائيد کيدې شي.

[٢٧٢]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ مِنَ الْحَائِضِ شَيْئًا، أَلْقَى عَلَى فَرْجِهَا ثَوْبًا".

ترجمه: عکرمه د بعضو بيبيانو د نبي ﷺ نه روايت کوي: بيشکه نبي ﷺ وو چه کله به ئي اراده اوکړه د حائضې نه د څه شي وأبه ئي چولو دهغې په فرج باندې جامه

[٢٧٣]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا فِي فَوْحِ حَيْضَتِنَا أَنْ نَتَّزِرَ ثُمَّ يُبَاشِرُنَا، وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْلِكُ إِرْبَهُ".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روايت دې هغې وئيلي دی: وو رسول الله ﷺ چه امر به ئي کولو مونږ ته په شروع د حيض زمونږ کښې چه لنګ ووهي، بيا به ئي مباشرت کولو مونږ سره، او کوم يو مالک دی په تاسو کښې د خپل حاجت لګه څنګه چه وو رسول الله ﷺ مالک د خپل خواهش

تشريح: ٧ : ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ — قوله يَأْمُرُنَا فِي فَوْحِ حَيْضَتِنَا الخ ﴾ سيده عائشه رضی الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ به زمونږ د حيض په شروع کښې کوم چه دهغې د شدت او کثرت وخت دي حکم فرمائيلو چه خپل لنګ برابر کړی ددې نه پس به مونږ رسول الله ﷺ سره مباشرت يعنی مضاجعت فرمائيلو په بعض رواياتو کښې د لفظ فوح په ځائي لفظ فور راغلي دي او معنی د دواړو يو ده، د حيض د شروع په زمانه کښې د حيض کثرت او شدت وی او بيا چه څومره څومره ورځې تيريږی په هغې کښې کمې راځی غالبا عائشه رضی الله عنها په دې سره دا بيانول غواړی چه رسول الله ﷺ د حائض سره مباشرت صرف په آخری زمانه د حيض کښې نه بلکه په اول زمانه د حيض کښې به هم فرمائيلو

﴿ قوله وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ ﴾ ارب په کسرې د الف او ارب په فتحين دواړو طريقو سره دي ددې معنی د حاجت ده او بعض ليکلي دی چه د اَرَب معنی خو حاجت ده او د ارب بالکسر معنی حاجت او د عضو مخصوص دواړو راځی

عائشه رضی الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ به مونږ سره په زمانه د حيض کښې مضاجعت فرمائيلو او په تاسو کښې څوک داسې دي چه په خپل حاجت او خواهش باندې داسې قابو لری څومره چه د رسول الله ﷺ وه، شارحينو د عائشې رضی الله عنها د بيان په مراد کښې دوه

[١]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٧٩) (صحيح)

[٢]: صحيح البخاري/الحيض ٦ (٣٠٢)، صحيح مسلم/الحيض ١ (٢٩٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢١ (٦٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣، ١٤٣، ٢٣٥) (صحيح)

احتمالات ليکلي دی، يو دا چه د هغوی غرض دا دې چه نور خلق دی خان په رسول اللهﷺ باندې نه قياس کوی هغوی له احتياط کول پکار دی، او دويم احتمال دا دې چه رسول اللهﷺ چه کله د قابو يافته کيدو باوجود مباشرت د حائض فرمائيلو او ددې نه ئے منع کيدو نو بيا به د نورو دپاره ولې جائز نه وی په طريق اولی به جائز وی.

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تُسْتَحَاضُ وَمَنْ قَالَ تَدَعُ الصَّلَاةَ فِي عِدَّةِ الْأَيَّامِ الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ

باب دې په بيان د ښځه کې چې مستحاضه شي، او هغه چا چې ويلي دي پريږدي به مونځ په عدت د هغه ورځو کې چې هغې کې به حائضه کيده

د استحاضه د رواياتو په باره کښې د مصنفؒ اهتمام او د هغوی د روايات تعدد انواع

د دې خائې نه د استحاضې د ابواب ابتداء کيږی. امام بخاریؒ اول د حيض متعلق څو ابواب ذکر کړې دی دهغې نه پس ئې د استحاضه صرف يو باب ذکر اوفرمائيلو خو امام ابوداؤد او هم دغه شان امام مسلمؒ ابتداء د استحاضه د رواياتو نه کړې ده ددې نه پس خان پوهه کړه چه د استحاضه روايات چه په کوم کثرت او اهتمام سره امام ابوداؤدؒ بيان فرمائيلې دی زمونږ د علم مطابق دومره په صحاح سته کښې په يو کتاب کښې هم نه دی بيان شوې. مصنفؒ د هر نوع روايات بيل بيل ذکر کولو سره په هر يو باندې مستقل ترجمه قائم کړې ده او د هرې ترجمې د لاندې ئې ډير روايات او تعليقات راوړې دی

د استحاضه په باره کښې د رواياتو اختلاف په مختلف اعتبار او حيثيت سره دې پس د بعض رواياتو په اعتبار (يعني د الوان دم اعتبار يو مخصوص رنګ (اسود و احمر وينه د حيض او بل قسم (مثلاً اصفر) استحاضه اومنلې شی) سره تميز مذکور دې، او د بعض نه معلوميږی چه د ايام عدت اعتبار دې، او په بعض کښې توحيد غسل دې، او په بعض کښې تعدد د غسل او په بعض کښې جمع بين الصلوتين بغسل او په بعض کښې غسل لکل صلوة او په بعض کښې ظهر الی ظهر دې او په بعض کښې من طهر الی طهر دی بله دا چه په دې رواياتو کښې يو د اشکال او خلجان خبره دا موندلې کيږی چه د يوې زنانه په باره کښې بعض وخت په رواياتو کښې د رد الی العادة حکم لګولې شوې دې او په بعض کښې د اعتبار تميز. حضرت شيخؒ به فرمائيل چه زمونږ حضرت سهارنپوریؒ به فرمائيل چه د استحاضه په روايات مختلفه کښې هميشه (د فهم په اعتبار سره) اشکال پاتې شوې دې، د دوی دا خيال وو چه د ابوداؤد په شرح ليکلو سره به کيدې شی چه دا اشکالات ختم شی، خو په شرح باندې د عبور نه پس هم انشراح او تسلی اونشوه زه وايم چه خاص طور سره په دې کتاب کښې د رواياتو د راوړلو په وخت په بعض ابوابو کښې د مصنفؒ بعض عبارتونه داسې دی چه دهغې حل کول ګران معلوميږی پس هم ددې باب په اتم حديث ﴿حدثنا يوسف بن موسى﴾ کښې يو مقام خاص طور سره قابل اشکال دې چه کله مونږ انشاء الله هلته اورسيږو نو معلومه به شی.

د استحاضه تعريف او د مستحاضه انواع

د استحاضه تعريف كړي شوي دي ﴿ وهي دم يخرج من المراة في غير اوقاتها المعتادة والمعينة﴾ يعني استحاضه هغه وينه ده كومه چه د زنانه د فرج نه جاري كيږي د اوقات معينه نه علاوه رحم ته نزدې يو رګ وی چه دهغې نوم عاذل دې دهغې نه دا وينا بهيږي په خلاف د حيض نه چه هغه د رحم د ژورې نه راوځي استحاضه د حيض نه ماخوذ دې چه دهغې معنی لغة د سيلان ده، پس وئيلې شي ﴿ حاض الوادی ﴾ چه کله په هغې کښې اوبه بهيدل شروع شي، دا ئې باب استفعال ته بوتلو، چه په انقلاب او تغير باندې دلالت کوی کومه چه خاصه ده د باب استفعال لکه چه وئيلې شي استحجر الطين دلته هم په حيض کښې تغير واقع شوي دي چه هغه استحاضه شو يا استفعال ته بوتلل ددې دپاره وو چه په مبالغه او کثرت باندې دلالت اوکړي، علماء کرامو ليکلي دی چه حيض هميشه په صيغه معروف استعماليږي، وئيلې شي ﴿ حاضت المراة ﴾ او استحاضه په صيغه د مجهول ﴿ أستحيضت المراة ﴾ په دې کښې نکته دا ده چه اشاره ده ددې خبرې طرف ته چه دم استحاضه خلاف عادت او غير معروف څيز دي ﴿ فکانه امر جهل سببه ﴾ په خلاف د حيض چه هغه معروف او پيژندګلو څيز دې په ټولو زنانو باندې راځي.

د استحاضه رواياتو باندې من حيث الفقه والمسائل پوهيدلو دپاره ضروري ده چه اول د مستحاضه اقسام او په هغې کښې اقوال ائمه معلوم کړې شي چه بيا دهغې په رڼا کښې په رواياتو باندې پوهه او دهغې انطباق اسان شي څکه چه حضرات فقهاء کرام احاديثو او د الفاظو مغز ته د رسيدلو کوشش کوی او د هغه رواياتو خلاصه راوباسی لهذا هم ددې حضراتو د اقوالو او مذاهبو په رهنمائۍ کښې په دې رواياتو باندې ښه طريقې سره انسان پوهيدلې شي، اول يو خبره واورئ هغه دا چه حضرت شيخ په اوجز کښې د مغنی نه نقل کړې دې چه امام احمد بن حنبل‌رحمه الله اوفرمائيل د حيض او استحاض بنياد صرف په درې احاديثو باندې دې، حديث د فاطمې، حديث د ام حبيبة او حديث د حمنة، ام حبيبة، حمنه او زينب بنت جحش درې واړه خپل مينځ کښې خويندې وې ټولې بنات جحش دی ګويا داسې معلوميږي چه بنات جحش د استحاضه تهيکه اخستلي وه رضي الله تعالى عنهن اجمعين

(د مستحاضه اقسام)

د مستحاضه انواع د احنافو په نزد خو درې دی، المبتدئه، المعتادة، المتحيرة، خو د مجموع مذاهب ائمه په حيثيت سره ټول پنځه انواع دی، حضرت شيخ‌رحمه الله په اوجز المسالک کښې دا ټول انواع ډير په تهذيب او ترتيب سره، سره د اختلاف ائمه بيان فرمائيلې دی، هم دهغې مطابق ئې زه هم په دې سبقونو کښې بيانوم

د انواع مستحاضه د بيان نه مخکښې يو بنيادی خبره د فهم قابله ده هغه دا چه دلته دوه څيزونه دی يو العبرة بالعادة او يو العبرة بالتميز يا داسې اوايئ چه اعتبار الايام او اعتبار الالوان يعنی د زنانو د حيض په باره کښې خاص عادت هم وی په چا باندې اووه ورځې راځي او په چا باندې لس ورځې او داسې زنانه ته فقهاء کرام معتادة وائي او ډيرو

زنانو ته د حيض د رنګ پيژندګلو حاصله وی او هغوی د رنګ په ذريعه پيژنی چه دا حيض دی يا غير حيض داسې زنانه ته مميزه وائی، د ډيرو احاديثو نه د حيض مدار په ايام عادت باندې کيدل معلوميږی او د بعض رواياتو نه په الوان دم باندې، هم په دې وجه د حضرات فقهاء کرامو ترمينځه په دې مسئله کښې اختلاف پيدا شو او حضرات محدثين هم خانله خانله د دواړو ابواب قائموی په هر باب کښې دهغې موافق روايات ذکر کوی، جمهور علماء کرام عادت او تميز دواړه تسليموی، او د احنافو په نزد تمييز باللون څه معياری څيز نه دې اصل څيز ايام عادت دې او په دې کښې هم اختلاف دې چه د عادت ثبوت په څو کرته راتلو سره کيږی دهغې تفصيل په اوجز کښې ذکر دې هلته کتلې کيدې شی،(۱) اوس ددې تمهيد نه پس تاسو مستحاضه عند الائمة باندې ځان پوهه کړئ.

اول مميزه غير معتادة:

يعنی هغه زنانه چه حيض او غير حيض پيژنی او عادت ئې هيڅ نه وی په دې کښې به د ائمة ثلاث په نزد د تمييز اعتبار وی.

ثانی معتادة غير مميزة:

يعنی صرف عادت ئې دې تميز نه شی کولې، په دې کښې بالاتفاق د عادت اعتبار وی، خو امام مالک رحمه الله د اعتبار عادت سره دريو ورځې د استظهار هم قائل دې په دې شرط چه د ايام عادت او استظهار مجموعه د پنځلسو ورځو نه زياته نه وی ګينې استظهار به هم په دې حساب سره وی لهذا که د يوې زنانه دولس ورځې عادت وی نو دريو ورځې د استظهار به ئې کولو سره به پنځلس ورځې شی، او که د چا د ديارلسو ورځو عادت وی نو دهغې دپاره به استظهار صرف دوه ورځې وی، د استظهار معنی د انتظار ده مراد تری نه احتياط دې.

ثالث غير مميزة معتادة:

يعنی عادت او تمييز دواړه شته، پس که عادت او تمييز دواړه متفق وی خو صحيح ده ګينې د احنافو او د امام احمد رحمه الله په راجح قول کښې به د عادت اعتبار وی او په ايام عادت کښې چه هر څنګه وينه راځی هغې ته به حيض ونيلې شی او د ورځو تيريدلو نه پس چه هر څنګه وينه راځی هغې ته به استحاضه ونيلې شی او د امام شافعی او امام مالک رحمهما الله په نزد به د تمييز اعتبار وی يعنی کومه وينه چه دهغې د رنګ د وجې نه حيض ګڼړی هغې ته دې حيض اوائی او کوم چه دهغې په پهچان کښې استحاضه وی هغې ته دې استحاضه اوائی، په ايام او زمان حيض باندې به ئې مدار نه وی.

---

(۱) حضرت شيخ رحمه الله ليکلې دی علامه زرقانی رحمه الله فرمائی چه اصح عند المالکية والشافعية دا ده چه د عادت ثبوت به يو ځل سره راځی او ابن قدامة په مغنی کښې د حنابله مسلک دا ليکلې دې چه د هغوی په نزد به يو ځل عادت بالاتفاق نه ثابتيږی، او دوه کرته په ثبوت کښې اختلاف دې او په دريم ځل بغير د اختلاف نه ثابتيږی، او په احنافو کښې د طرفين په نزد د عادت ثبوت مرتين دی ځکه چه عادة د عود نه مشتق دې او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد په يو ځل سره عادت ثابتيږی.

رابع غير معتادة و غير مميزة :

يعني نه ورته عادت معلوم دي او نه تميز كولي شي، ددې نوع رابع دوه قسمونه دي مبتدئة او متحيرة، د متحيرة مطلب دا دي چه دهغې عادت وو خو هير شو تري، د مبتدئة په باره كښې د جمهورو درې اقوال دى، ۱: د غالب حيض په اعتبار وى، ۲: د اقل حيض په اعتبار وى، ۳: اكثر مودې د حيض له به اعتبار وى. د غالب حيض مطلب دا دي چه ددې زنانه مشابه چه د خاندان كومې نورې زنانه دى هغوى ته چه عام طور سره څومره حيض راځي دهغې اعتبار دې اوكړې شى دا خو مسلک د ائمه ثلاث، او د احنافو په نزد د حيض اكثرې مودې لره اعتبار دې او قسم ثانى متحيرة په باره كښې د جمهورو په نزد تفصيل دې كوم چه د هغوى په كتابونو كښې مذكور دې، او د احنافو په نزد د متحيره حكم دا دې چه هغه دې تحرى اوكړى، پس كه دهغې تحرى په څه څيز باندې واقع شوه خو صحيح ده، او كه په تحرى كښې ئې يو رائې متعين نه شوه بلكه تردد ئې باقي وى **(فمتى ترددت بين حيض وطهر ودخول في الحيض توضا لكل صلوة ومتى ترددت بين حيض وطهر ودخول في الطهر تغتسل لكل صلوة)** يعني كله چه زنانه ته په حيض او استحاض كښې تردد كيدو سره خيال پيدا شى چه په دې وخت په زمانه د حيض كښې داخليږم نو دهغې حكم وضوء لكل صلوة دې او كله چه هغې ته د حيض او استحاض ترمينځه د تردد كيدو سره سره دا خيال وى چه اوس په زمانه د طهر كښې داخليږم او دا د انقطاع حيض وخت دې نو بيا دې هغه غسل لكل صلوة كوى

د مستحاضه چه كوم اقسام او احكام ذكر شوې دى دهغې نه به تاسو ته معلومه شوې وى چه د احنافو په نزد په هيڅ قسم كښې د تميز اعتبار نشته او كومه زنانه چه صرف معتادة ده په هغې كښې بالاتفاق د عادت اعتبار دې، او كومه چه مميزة او معتادة دواړه وى په هغې كښې امام احمد رحمه الله مونږ سره دې او امام شافعى او امام مالک رحمهما الله يو طرف ته دى ګويا حنابله په دې مسئله كښې اقرب الى الحنفية دى او د امام مالک رحمه الله په نزد يو څيز بل هم دې استظهار، دهغې هم د هغوى په نزد اعتبار دې او دا هم معلومه شوه چه په بعض انواع متحيره كښې د احنافو په نزد هم غسل لكل صلوة دې

حكم د استحاضه او د حيض په اقل او اكثر موده كښې اختلاف ائمة :

خان پوهه كړه چه د مستحاضه حكم د ائمة اربعه په نزد دا دې چه هغه دې په پوره مياشت كښې صرف يو ځل غسل كوى په وخت د منقطع كيدلو د حيض دا بيله خبره ده چه د انقطاع حيض معلومات د شوافعو په نزد په الوان او ايام دواړو سره كيدې شى او زمونږ په نزد صرف په ايام سره، او دهغې نه پس پرې بيا په پوره مياشت كښې غسل نشته بلكه اودس دې د امام شافعى رحمه الله په نزد لكل مكتوبة او د احنافو او د حنابله په نزد لوقت كل صلوة (حضرت شيخ په اوجز كښې ليكى بعض شارحينو ته وهم پيدا شوې دې هغوى په دې مسئله كښې امام احمد د امام شافعى رحمه الله سره كړې دې دا صحيح نه ده) او د امام مالک رحمه الله په نزد اودس مطلقا واجب نه دې بلكه مستحب دې ځكه چه استحاضه د هغوى په نزد ناقض نه ده لكه چه د نواقض وضو په بيان كښې تير شوې دى

خان پوهه کړه چه د حيض اقله او اکثره موده کښې اختلاف دې د احنافو په نزد اقله موده درې ورځې او درې شپې ده او اکثر موده لس ورځې، د امام شافعي او احمد رحمهما الله په نزد اقل موده يو ورځ او يو شپه ده او اکثر موده پنځلس يا اولس ورځې دی، او د امام مالک رحمه الله په نزد لا حد لاقله او اکثر موده ئې اولس يا اتلس ورځې ده، خو امام ترمذي رحمه الله د ائمه ثلاث درې وارو مسلک يو ليکلې دې اقله يوم وليلة واكثره خمسة عشر يوما.

د احنافو په نزد د عدم اعتبار تميز وجه

ددې نه پس خان پوهه کړه چه احنافو الوان دم معيار نه دې ګنړلې چه دهغې ډير وجوه دی چه مشهور دی او په بذل کښې هم مذکور دی، اصل وجه دا ده چه د تميز په باره کښې چه کوم روايات صريح دی هغه صحيح نه دی بلکه متکلم فيه دی او کوم چه صحيح دی هغه صريح نه دی، پس د لون په باره کښې چه کوم روايت صريح دې هغه ددې نه په وړاندې باب کښې د عائشې رضي الله عنها په روايت باندې راروان دې چه دهغې الفاظ دا دې ﴿ اذا كان دم الحيضة فانه دم اسود يعرف ﴾ دا حديث په ابوداؤد او نسائي کښې په يو سند سره مروى دې او دوارو په دې باندې کلام کړې دې کوم چه به هغه ځائ ته رسيدلو سره راشي دا تاسو به الفيض السمائى کښې هم کتلې شئ، او دا چه موثر اووئيل چه کوم روايات صحيح دی هغه صريح نه دی دهغې تشريح دا ده چه په ډيرو روايات صحيحه کښې دا راغلی دی چه ﴿ فاذا اقبلت الحيضة فدعى الصلوة واذا ادبرت فاغتسلي ﴾ د جمهورو رائې دا ده چه دا د اقبال او ادبار روايات په تميز باندې محمول دی او هغوی مطلب ددې رواياتو دا اخلی چه کله د مخصوص رنګ وينه راشی نو مونځ دې پريږدی او کله چه د هغه خاص رنګ وينه ختمه شی او د بل رنګ راشی نو مونځ دې شروع کړی ګويا دا تلل راتلل د هغوی په نزد د لون په اعتبار سره دی موثر وايو چه دا احاديث په دې معنی کښې صريح نه دی آيا دا تلل راتلل د ورځو په اعتبار سره نه شی کيدې او حال دا دی چه د ايام ذکر په روايات صحيحه شهيره کښې موجود دې لهذا د احنافو رائې دا ده چه د ايام روايات خو په خپله معنى کښې هسې هم صريح دی د اقبال او ادبار روايات هم په دې باندې محمول دی لهذا د ﴿ اقبلت او ادبرت ﴾ معنى به دا وی چه کله راشی حيض يعنی دهغې ورځې او تاريخ او تيرې شي دهغې ورځې او تاريخ، زموږ علماء کرامو دا هم ليکلې دی چه اول خو د لون ثبوت رواية ضعيف دې دويم دراية او عقلاً هم ځکه په لون کښې اختلاف ډير کرته د اختلاف اغذية او اختلاف امزجة د وجې نه هم وی چه د يوې زنانه مزاج ګرم او د چا يخ او د چا معتدل وی لهذا دې ته معيار وئيل څه مضبوط خبره نه ده.

د دې ابتدائی مباحثو د پيژندګلو نه پس تاسو خان پوهه کړئ چه مصنف رحمه الله د استحاضه په سلسله کښې چه دا کوم اول باب قائم کړې دې دا عادت او عبرة بالايام باندې دې او د تميز په باره کښې ترجمة الباب ددې نه پس راروان دې د کوم نه چه مصنف رحمه الله په اقبال حيض او ادبار سره تعبير کړې دې.

[۲۷۴]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدِّمَاءَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لِتَنْتَظِرْ عِدَّةَ اللَّيَالِي وَالْأَيَّامِ الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيبَهَا الَّذِي أَصَابَهَا، فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذَلِكَ مِنَ الشَّهْرِ، فَإِذَا خَلَّفَتْ ذَلِكَ فَلْتَغْتَسِلْ، ثُمَّ لِتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ، ثُمَّ لِتُصَلِّ فِيهِ".

ترجمه: د ام سلمه نه چه د پیغمبر ﷺ بي بي ده روایت دی. بیشکه یوه ښځه وه چه تویوله به ئي وینه په زمانه د رسول الله ﷺ کښې، نو فتوی وغوښتله دهغې لپاره ام سلمه د رسول الله ﷺ نه، نو هغه اوونیل انتظار دې اوکړي په عدت د هغه شپو او ورځو چه په هغې کښې به حائضه کیده د میاشتې نه مخکښې دهغې نه چه ورته ورسیږي هغه څه چه ورته رسیدلی دی، نو پریږدي دې مونځ په اندازه د دغې د میاشت نه. کله چه تیري شوې نو غسل دې اوکړي، بیا دې ځان صفا کړي په یوه جامه بیا دې مونځ کوي

[۲۷۵]([2]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَجُلًا أَخْبَرَهُ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ: فَإِذَا خَلَّفَتْ ذَلِكَ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ، فَلْتَغْتَسِلْ، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: سلیمان بن یسار ته یو سړي خبر ورکړی دی د ام سلمه نه: بیشکه یوه ښځه وه چه تویوله ئي وینه، نو ذکر ئي کړه معنی د هغې، هغه وفرمایل: چه تیري شوې دغه ورځې او شپې او مونځ حاضر شو نو غسل دې اوکړي. په معنی دهغې باندې

[۲۷۶]([3]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا أَنَسٌ يَعْنِي ابْنَ عِيَاضٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدِّمَاءَ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ، قَالَ: فَإِذَا خَلَّفَتْهُنَّ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْتَغْتَسِلْ، وساق الحديث بمعناه.

ترجمه: بیشکه یوه ښځه وه چه اړوله ئي وینه، نو ذکر ئي کړه د حدیث د لیث، هغه وفرمایل کله چه ئي هغه تیري کړي او مونځ حاضر شو نو غسل دې اوکړي او حدیث ئي سوق کړو په معنی د هغې

[۲۷۷]([4]) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا صَخْرُ بْنُ جُوَيْرِيَةَ، عَنْ نَافِعٍ، بِإِسْنَادِ اللَّيْثِ وَبِمَعْنَاهُ، قَالَ: فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذَلِكَ، ثُمَّ إِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْتَغْتَسِلْ وَلْتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ ثُمَّ تُصَلِّي.

ترجمه: روایت دی د نافع په اسناد د لیث او په معنی دهغې سره. هغه وفرمایل پریږدي دې مونځ په اندازه د دې، بیا کله چه مونځ حاضر شو نو غسل دې اوکړي او ځائي د وینې دې وتړي په یوه جامه. بیا دې مونځ کوي

---

[1]: سنن النسائي/الطهارة ۱۳۴ (۲۰۹)، والحيض ۳ (۳۵۴، ۳۵۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۱۵ (۶۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۵۸)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ۲۹ (۱۰۵)، سنن الدارمي/الطهارة ۸۳ (۸۰۷) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۵۸) (صحيح)

[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۵۸) (صحيح)

[4]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۵۸) (صحيح)

[٢٨٤]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فِيهِ تَدَعُ الصَّلَاةَ، وَتَغْتَسِلُ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ وَتَسْتَثْفِرُ بِثَوْبٍ وَتُصَلِّي. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمَّى الْمَرْأَةَ الَّتِي كَانَتِ اسْتُحِيضَتْ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ.

ترجمه: د ام سلمة نه روايت دي ددې قصې، وئيلى دي هغه په دې کې: پرېږدي به مونځ او غسل به کوي په نورو کښې او ځانې د وينې دې وتړي په يوه جامه او مونځ دې کوي وئيلي دي ابوداود: مسمى کړه هغه ښځه چه وه مستحاضه شوې حماد بن زيد د ايوب نه په دې حديث کښې، هغه اووئيل فاطمة بنت ابي حبيش.

تشريح: دا باب ډير اوږد دې په دې کښې مصنف رحمه الله تقريبا اتۀ احاديث او متعدد تعليقات ذکر فرمائيلي دی، د باب په شروع کښې مصنف رحمه الله د ام سلمة حديث په ډيرو طرقو سره بيان کړې دې، د اکثرو طرق مدار په نافع باندې دې، او بيا د نافع نه روايت کونکي د هغوی مختلف تلامذه دی، پس د ټولو مخکښې په سند کښې د هغوی نه روايت کونکي مالک دی او په دويم کښې ليث او دريم کښې عبيدالله او په څلورم کښې صخر بن جويرية، ددې نه پس مصنف رحمه الله يو بل طريق ذکر کړې دې چه په هغې کښې د نافع په ځائې ايوب مذکور دې ګويا ايوب د نافع عديل شو چه څنګه نافع دا حديث د سليمان بن يسار نه روايت کوی هم دغه شان ايوب هم د هغوی نه راوی دې، ددې حديث ام سلمه رضي الله عنها مضمون دا دې چه هغه فرمائي چه يوې زنانه ته به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې کثرت حيض راتلو دهغې په باره کښې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مسئله اوتپوسله په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چه دې زنانه له پکار دی چه د خپل حيض ورځې او دهغې تاريخونه شمار کړی، استحاضه کښې د مبتلا کيدو نه مخکښې چه څومره موده دهغې د حيض عادت وو هغه ورځې دې خپل حيض حساب کړی او مونځ دې پريږدی، او کله چه هغه ورځې تيرې شی نو غسل کولو سره دې مونځ شروع کړی، ددې مراة تعين د نافع په طريق سره په يو روايت کښې هم نشته خو د ايوب په طريق کښې بعض راويانو ددې زنانه تعين په فاطمة بنت ابی حبيش رضي الله عنها سره کړې دې پس مصنف رحمه الله فرمائي ﴿ قال ابوداؤد وسمى المراة التي كانت استحيضت حماد بن زيد عن ايوب الخ ﴾

فائده: ځان پوهه کړه چه د امام ترمذي رحمه الله او امام بيهقي رحمه الله رائې دا ده چه فاطمة مميزة وه او د ام سلمة رضي الله عنها په دې روايت کښې کوم چه په طريق د ايوب دې ددې زنانه تعين په فاطمه بنت ابي حبيش رضي الله عنها سره اوکړې شو چه دهغې مطلب دا شو چه فاطمة معتادة وه هم په دې وجه هغوی ته د رد الى العادة حکم کړې شوې دې او دا خبره د امام بيهقي رحمه الله د رائې خلاف ده هم په دې وجه هغوی د ام سلمة رضي الله عنها حديث ته مرجوح وئيلي دې او دا ئې وئيلي دی چه د فاطمې رضي الله عنها په سلسله کښې د عائشې رضي الله عنها حديث په طريق د هشام بن عروة عن ابيه زيات صحيح دې چه دهغې نه معلوميږی چه فاطمه مميزه وه، او ام سلمة رضي الله عنها چه د کومې زنانه په

(): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١٨١٥٨) (صحيح)

باره کښې سوال کړې وو هغه به د فاطمې نه علاوه بله وی، او بيا وراندې ليکی چه که حديث د ام سلمه رضي الله عنها د فاطمې رضي الله عنها په سلسله کښې صحيح او ثابت اومنلې شی نو بيا به دا اووئيلې شی چه کيدې شی د فاطمې رضي الله عنها په مختلفو زمانو کښې دوه حالتونه وی يو د تميز او دويم د عدم تميز، د تميز په زمانه کښې هغې ته دهغې مطابق حکم ورکړې شو، او د عدم تميز په زمانه کښې ورته د رد الى العادة (كذا فى البذل) زه وائم امام بيهقی رحمه الله چه د عائشې رضي الله عنها نه اصح وئيلې دې چه دهغې نه د فاطمې رضي الله عنها مميزه کيدل معلوميږی هغه د راروان باب اول حديث دې هغه دې اوکتلې شی. (1)

[۲۷۹]( ) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ عِرَاكٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: إِنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّمِ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَرَأَيْتُ مِرْكَنَهَا مَلْآنَ دَمًا، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "امْكُثِي قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحْبِسُكِ حَيْضَتُكِ، ثُمَّ اغْتَسِلِي" ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ قُتَيْبَةُ بَيْنَ أَضْعَافِ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ فِي آخِرِهَا، وَرَوَاهُ عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ، وَيُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ اللَّيْثِ، فَقَالَا: جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، بيشکه هغې وئيلې دی: بيشکه ام حبيبې سوال اوکړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په باره د وينه کښې، نو هغې اووئيل: ما وليدلو لگن دهغې ډک د وينې نه، نو اووئيل هغې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وخت تير کړه په اندازه دهغې چه بندولې ته حيض ستا، بيا غسل اوکړه وئيلې دې ابوداود: او روايت کړې دې دهغې قتيبه په مينځ د حديث د جعفر بن ربيعه په اخير کښې، او روايت کړې دی علي بن عياش او يونس بن محمد د ليث نه، هغه اووئيل جعفر بن ربيعة.

تشريح: ﴿ قوله عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ سَأَلَتِ الخ ﴾ ددې نه مخکښې روايت کوم چه مصنف رحمه الله په متعدد طرق سره ذکر کړو هغه د ام سلمة رضي الله عنها وو، د فاطمې بنت ابی حبيش رضي الله عنها په باره کښې، او دا حديث د عائشې رضي الله عنها دې، د ام حبيبة بنت جحش رضي الله عنها په باره کښې کومه چه د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه زوجه ده لکه چه په صحيح مسلم او د نسائی په روايت کښې مصرح دې.

د موطاء په يو روايت کښې يو وهم او د هغې تحقيق

او دا چه د ابوداؤد او مسلم په روايت کښې دی هم دا صحيح ده، په خلاف د موطاء امام مالک رحمه الله کښې چه په دې روايت کښې په ځائې د ام حبيبة رضي الله عنها زينب بنت جحش مذکور ده هغه صحيح نه ده، د نورو ټولو کتابونو د رواياتو خلاف دې، بلکه دا چه تحت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خيله د موطاء په روايت کښې هم موجود دې هغه په زينب باندې صادق نه راځی

(1) تاسو ته به ياد وی چه موږ په شروع کښې په تمهيدی مضمون کښې بيان کړې وو چه د استحاضه په بعض رواياتو کښې يو اشکال دا هم کيږی چه د يوې زنانه په باره کښې دوه مختلف رواياتونه راځی په څه کښې د رد الى العادة حکم کيږی او په څه کښې د تميز دا هم دهغې يو مثال شو.

(2): صحيح مسلم/الحيض ١٤ (٣٣٤)، سنن النسائي/الطهارة ١٣٤ (٢٠٧)، والحيض ٣ (٣٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٧٠)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٦ (٦٢٦)، مسند أحمد (٦/٨٣، ١٤١، ١٨٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٣ (٨٠٥) (صحيح)

بلکه هغه ام حبیبة ﷝ ده، پس شراح د موطاء د موطاء دي روایت ته وهم ونیلي دي او دلته د یوي لطیفي خبره ده چه بعض شراح د موطاء د موطاء روایت لره د وهم نه د بچ کولو دپاره دا تاویل اوکړو چه ټول بنات جحش ته زینب وائي نو ګویا د هغوی مطلب دا شو چه د موطاء په روایت کښي د زینب بنت جحش مصداق پخپله ام حبیبه ﷝ ده

دا دي هم واضحه وی چه زینب بنت جحش خو ام المومنین ده کومه چه د رسول اللهﷺ په نکاح کښي د راتلو نه مخکښي د زید بن حارثه ﷛ په نکاح کښي وه لکه چه مشهوره ده.

او هغه ام حبیبة کوم چه ام المومنین ده هغه بنت جحش نه ده بلکه بنت ابی سفیان ده

﴿ قوله فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَرَأَيْتُ مِرْكَنَهَا مَلآنَ دَمًا ﴾ یعنی ام حبیبة به لوټي لوښی کښي اوبه اچولو سره په هغي کښي د علاج دپاره کیناستله چونکه مستحاضه وه په دي وجه د وینې د رنګ د وجي نه به هغه لوښي داسي معلومیدو چه د وینې نه ډک دي، وړاندي په دي روایت کښي دی چه رسول اللهﷺ هغي ته د عبرة بالایام حکم اوفرمائیلو یعنی صرف د عادت په ورځو کښي دي خپل ځان حائضه ګڼړي ددي نه پس طاهره، ددي حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت بالکل ښکاره دي ځکه چه ترجمة الباب هم د عبرة بالایام په باره کښي دي

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ قُتَيْبَةُ بَيْنَ أَضْعَافِ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ فِي آخِرِهَا ﴾ ددي جملي صحیح معنی دا ده چه مصنف ﷫ فرمائی چه په دي حدیث کښي زما استاذ قتیبة د جعفر بن ربیعة د حدیث په سلسله کښي او دهغي په دوران کښي ذکر کړي دي اګرچه د اضعاف او تضاعیف استعمال د مینځ او دوران په معنی کښي کیږي، مصنف ﷫ په اصل کښي دا وئیل غواړي چه پورته په سند کښي چه کوم جعفر ذکر دي د هغه نه مراد جعفر بن ربیعة دي او قرینه ئي ددي دا بیان کړه چه زما استاذ قتیبة دا حدیث د جعفر بن ربیعة د احادیثو ترمینځه ذکر کړي دي چه دهغي نه معلومه شوه چه دا جعفر جعفر بن ربیعه دي د یو نوم ډیر راویان دی، په نسب سره تعین کیږي

دویمه معنی ددي چه غلطه ده هغه دا چه بعض شارحینو دا اوګڼړله چه ﴿ بین ﴾ د تبیین نه د ماضی صیغه ده او ددي نه پس چه کوم لفظ د اضعاف دي دا هغوی د باب افعال مصدر په معنی د تضعیف منلي دي او حاصل معنی ئي دا بیان کړي ده چه مصنف ﷫ فرمائی چه زما استاذ قتیبة د جعفر بن ربیعة د حدیث ضعیف کیدل بیان کړي دی، د غلط فهمي وجه دا اوشوه چه لفظ اضعاف ددي بعض شارحینو په پوهه کښي نه راځی چه څه دي؟ حال دا چه اضعاف بفتح الالف او تضاعیف د دواړو استعمال د مصنفینو په نزد رائج دي کوم چه هغوی د اثناء او د ترمینځه په معنی باندي استعمالوی

[٢٨٠] (١) حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ، حَدَّثَتْهُ، أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَكَتْ إِلَيْهِ الدَّمَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ، فَانْظُرِي إِذَا أَتَى قُرْؤُكِ، فَلَا تُصَلِّي، فَإِذَا مَرَّ قُرْؤُكِ فَتَطَهَّرِي، ثُمَّ صَلِّي مَا بَيْنَ الْقُرْءِ إِلَى الْقُرْءِ".

ترجمه: د عروة بن الزبير نه روايت دې بيشکه فاطمة بنت ابي حُبيش حديث بيان کړې دی هغه ته، بيشکه هغې تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه، نو شکايت ئې اوکړو هغه ته د وينې، نو اووئيل هغې ته رسول الله ﷺ: بيشکه دغه رګ دی، اوګوره کله چه ستا حيض راشي نو مونځ مه کوه، چه کله ستا حيض تېر شي نو بيا خان پاک کړه، بيا مونځ کوه په مينځ د يو حيض او د بل حيض کښې.

[٢٨١] (٢) حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ سُهَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي صَالِحٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، حَدَّثَتْنِي فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ، أَنَّهَا أَمَرَتْ أَسْمَاءَ، أَوْ أَسْمَاءُ حَدَّثَتْنِي أَنَّهَا أَمَرَتْهَا فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ، أَنْ تَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَأَمَرَهَا أَنْ تَقْعُدَ الْأَيَّامَ الَّتِي كَانَتْ تَقْعُدُ ثُمَّ تَغْتَسِلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَاهُ قَتَادَةُ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ اسْتُحِيضَتْ، فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَدَعَ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلَ وَتُصَلِّيَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَمْ يَسْمَعْ قَتَادَةُ مِنْ عُرْوَةَ شَيْئًا، وَزَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهَا أَنْ تَدَعَ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهَذَا وَهْمٌ مِنَ ابْنِ عُيَيْنَةَ، لَيْسَ هَذَا فِي حَدِيثِ الْحُفَّاظِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، إِلَّا مَا ذَكَرَ سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، وَقَدْ رَوَى الْحُمَيْدِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ: تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، وَرَوَتْ قَمِيرُ بِنْتُ عَمْرٍو زَوْجُ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، الْمُسْتَحَاضَةُ تَتْرُكُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ، وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ: عَنْ أَبِيهِ، إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَمَرَهَا أَنْ تَتْرُكَ الصَّلَاةَ قَدْرَ أَقْرَائِهَا، وَرَوَى أَبُو بِشْرٍ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ اسْتُحِيضَتْ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ، وَرَوَى شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُسْتَحَاضَةُ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتُصَلِّي، وَرَوَى الْعَلَاءُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، أَنَّ سَوْدَةَ اسْتُحِيضَتْ، فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَضَتْ أَيَّامُهَا، اغْتَسَلَتْ وَصَلَّتْ، وَرَوَى سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، الْمُسْتَحَاضَةُ تَجْلِسُ أَيَّامَ قُرْئِهَا، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ عَمَّارٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ وَطَلْقُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ مَعْقِلٌ الْخَثْعَمِيُّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وَكَذَلِكَ رَوَى الشَّعْبِيُّ، عَنْ قَمِيرَ امْرَأَةِ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهُوَ قَوْلُ الْحَسَنِ، وَسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَعَطَاءٍ، وَمَكْحُولٍ، وَإِبْرَاهِيمَ، وَسَالِمٍ، وَالْقَاسِمِ، أَنَّ الْمُسْتَحَاضَةَ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَمْ يَسْمَعْ قَتَادَةُ مِنْ عُرْوَةَ شَيْئًا.

ترجمه: عروة بن الزبير وائي ماته حديث بيان کړې دی فاطمي بنت ابي حبيش، بيشکه هغې امر اوکړو اسماء ته، او يا اسماء ماته حديث بيان کړې دی چه هغه امر اوکړو فاطمي بنت

---

(١): سنن النسائي/الطهارة ١٣٤ (٢٠١)، والحيض ٢ (٣٥٠)، ٤ (٣٥٨)، ٦ (٣٦٢)، والطلاق ٧٤ (٣٥٨٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٥ (٦٢٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٠١٩)، موطا امام مالك/الطهارة ٢٩ (١٠٤)، مسند احمد (٦/٤٢٠، ٤٦٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٣ (٨٠١) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٠١٩) (صحيح)

أبي حبيش ، چه تپوس اوکړي د رسول الله ﷺ نه، نو امر ورته اوکړو هغه چه کيني به هغه ورځي چه وه کيناستله به، بيا به غسل اوکړي. وئيلى دي ابوداود: او روايت کړى دهغې قتاده د عروة بن الزبير نه، او هغه د زينب بنت ام سلمه نه، بيشکه ام حبيبة مستحاضه شوه، نو امر ورته اوکړو نبي ﷺ چه پريږده مونځ په اندازه د ورځو د حيض د هغې، بيا دې غسل اوکړي او مونځ دې کوي. وئيلى دي ابوداود: نه دى اوريدلى قتادة د عروه نه هيڅ شى، او زيادت کړى دى ابن عيينه په حديث د زهري کښې د عمر نه او هغه د عائشې نه، بيشکه ام حبيبه مستحاضه کيده، نو تپوس ئې اوکړو د نبي ﷺ نه: نو امر ئې ورته اوکړو چه پريږده مونځ په مقدار د ورځو د حيض د هغې. وئيلى دي ابوداود: دا وهم دى د ابن عيينه نه نشته دى دا په حديث د حفاظو کښې د زهري نه، مگر چه ذکر کړى دى سهيل بن صالح، او په تحقيق سره روايت کړى دى حميدي دا حديث د ابن عيينه نه ذکر کړى ئې نه دي په هغې: چه پريږدي به مونځ په مقدار د ورځو د حيض د هغې. او روايت کړى دى قمير بنت عمرو چه زوجه د مسروق ده د عائشې نه: مستحاضه به پريږدي مونځ په مقدار د ورځو د حيض د هغې. او وئيلى دي عبد الرحمن القاسم د خپل پلار نه: بيشکه نبي ﷺ امر کړى وو هغې ته چه پريږدي به مونځ په اندازه د ورځو د حيض د هغې. او روايت کړى دى بشر جعفر بن ابي وحشية د عکرمه نه او هغه د نبي ﷺ نه، بيشکه ام حبيبه بنت جحش مستحاضه، نو ذکر ئې کړو په مثل د هغې. او روايت کړى دى شريک د ابي اليقظان نه ا و هغه د عدي بن ثابت نه، او هغه د خپل پلار نه، او هغه د خپل پلار نه او هغه د نبي عليه السلام نه: مستحاضه به پريږدي مونځ په مقدار د ورځو د حيض دهغې بيا به غسل کوي او مونځ به کوي. او روايت کړى دى علاء بن المسيب د حکم نه او هغه د ابي جعفر نه، بيشکه سودة مستحاضه شوه، نو امر ورته اوکړو رسول الله ﷺ کله چه تيرې شي ورځې دهغې غسل به اوکړي او مونځ به اوکړي. او روايت کړى دى سعيد بن جبير د علي او ابن عباس نه: کيني به په اندازه د ورځو د حيض د هغې. او همدارنگه روايت کړى دى عمار مولى بني هاشم، او طلق بن حبيب د ابن عباس نه. او همدارنگه روايت کړى دى معقل الخثعمي، د علي رضي الله عنه نه، او همدارنگه روايت کړى دى شعبي د قمير نه چه ښځه د مسروق ده، او د عائشې نه. وئيلى دي ابوداود: او دا قول د حسن او سعيد بن المسيب او عطاء او مکحول او ابراهيم او سالم او د القاسم دى: بيشکه مستحاضه به پريږدي مونځ په مقدار د ورځو د حيض د هغې. وئيلى دي ابواود: نه دى اوريدلى قتادة د عروه نه هيڅ شى.

تشريح: ۸: (حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى – قوله حَدَّثَتْنِي فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ أَنَّهَا أَمَرَتْ أَسْمَاءَ الخ)
عروه رحمه الله وائى چه ماته فاطمې بيان اوکړو چه هغې اسماء رضي الله عنها ته عرض اوکړو چه زما دپاره د رسول الله ﷺ نه مسئله اوتپوسي، وراندې شک د راوى دې هغه دا چه عروة وائى چه يا اسماء ماته بيان اوکړو چه هغې ته فاطمې وئيلي وو چه د رسول الله ﷺ نه زما دپاره مسئله اوتپوسه، خان پوهه کړه چه ددې حديث راوى زهري دې او د هغوى دا روايت د فاطمې رضي الله عنها په قصه کښې دې او وراندې تلو سره په دې کښې هم دا مضمون دې چه رسول الله ﷺ

هغوی ته د عبرة بالایام حکم اوفرمائیلو

د مصنف رحمه الله غرض او ددې مقام صحیح تحقیق:

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ قَتَادَةُ عَنْ عُرْوَةَ الخ﴾ د رواه ضمیر منصوب مرجع دلته په عبارت کښې صراحةً چرته هم نه ده ذکر شوې پس دا به وئیلې شی چه دا ضمیر راجع دې د ما یدل علی الترجمة طرف ته، په اصل کښې هر مصنف د هر باب د لاندې هم هغه حدیث راوړی چه په ترجمة الباب باندې دال وی، لهذا دلته ددې ضمیر مرجع به هغه حدیث د مستحاضې وی کوم چه په ترجمة الباب یعنی په ایام عادت باندې دلالت اوکړی په دې تعلیق کښې مصنف رحمه الله د قتادة روایت ذکر کړې دې کوم چه د ام حبیبة په سلسله کښې دې، په اصل کښې دا قتادة مقابل دې د زهری د زهری یو روایت پورته راغلې دې کوم چه د فاطمې رضي الله عنها په سلسله کښې وو، د زهری یو بل روایت هم دې کوم چه د هم دې ام حبیبة رضي الله عنها په قصه کښې دې په هغې کښې هم ایام عادت ذکر شوې دې چه دهغې بیان وراندې راروان دې نو اوس د زهری دوه روایتونه شو یو هغه کوم چه پورته تیر شو د فاطمې رضي الله عنها په قصه کښې دویم هغه کوم چه د ام حبیبة په قصه کښې راغلې دې د قتادة په شان.

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ كَانَتْ تُسْتَحَاضُ الخ﴾ [۱] دا مقام گران او من مزال الاقدام دې، په غور سره واورئ! اول په دې باندې خان پوهه کړئ چه قتادة او زهری دواړه د یوې طبقې دی ددې دواړو د روایتونو تقابل راغلې دې د مصنف رحمه الله رائې دا ده چه د قتادة روایت کوم چه د ام حبیبة رضي الله عنها په سلسله کښې دې کوم چه اوس پورته تیر شو، په دې کښې خو ذکر د ایام صحیح دې او د زهری په روایت کښې کوم چه د ام حبیبة په سلسله کښې دې په هغې کښې ذکر د ایام صحیح نشته، خو د زهری په شاگردانو کښې ابن عیینة دا غلطی اوکړه چه هغوی د زهری نه د ام حبیبة په سلسله کښې ایام عادت ذکر کړل حال دا چه دا صحیح نه ده پس د ابن عیینة نه علاوه د زهری چه څومره شاگردان دی په هغوی کښې چا هم په دې روایت کښې ایام عادت نه دې ذکر کړې.

خان پوهه کړه چه د زهری روایت کوم چه د ام حبیبة په باره کښې دې په دې کښې د مصنف رحمه الله په نزد د زهری د دوه شاگردانو نه غلطی شوې ده، یو د ابن عیینة نه کوم چه مصنف رحمه الله دلته ذکر کړې دې

او دویم د اوزاعی نه کوم چه به مصنف رحمه الله په راروان باب کښې ذکر کوی، پس

---

[۱] غرض المصنف رحمه الله ان الرواية الصحيحة من روايات الزهري التي في قصة ام حبيبة ليس فيها ذكر الايام ومن ذكرها فيه فقد وهم، نعم ذكر الايام في حديث الزهري الذي هو في قصة فاطمة صحيح كما تقدم في رواية سهيل عن الزهري، والصحيح من رواية الزهري في قصة ام حبيبة ما سياتي عند المصنف رحمه الله في الباب الاتي واما رواية قتادة (مقابل الزهري) في قصة ام حبيبة فقد وقع فيها ذكر الايام فليس الغرض نفي ذكر الايام في قصة ام حبيبة راسا بل في رواية الزهري في قصتها، والله سبحانه وتعالى اعلم وعلى هذا الغرض لا يرد شئ من الايراد المذكور في البذل وغيره من الشروح، فكلام المصنف رحمه الله محفوظ من الوهم او الخبط ان شاء الله تعالى)

مصنف‌ﷺ په دې باب کښې فرمائی ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ زَادَ الأَوْزَاعِيُّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ وَعَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ اسْتُحِيضَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ جَحْشٍ – وَهِيَ تَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ – سَبْعَ سِنِينَ فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « إِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلاَةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي »﴾ د مصنف‌ﷺ د بیان مطابق اوزاعی دا غلطی کړې ده چه په دې روایت کښې ئې اقبال او ادبار ذکر کړې دې، او دا مخکښې معلومه شوه چه اقبال او ادبار د محدثینو په نزد په تمیز باندې محمول دې نو اوس د زهری روایت کوم چه د ام حبیبة په سلسله کښې دې په دې کښې دوه غلطئ شوې دی یو د ابن عیینة د طرف نه چه هغوی په دې روایت کښې ایام عادت ذکر کړل، دویم غلطی د اوزاعی نه چه هغوی په دې روایة کښې اقبال او ادبار ذکر کړو ګویا د ابن عیینة د بیان کړې شوی روایت مطابق ام حبیبة معتاده شوه چاته چه د عبرت بالایام حکم ورکړې شو، او د اوزاعی د روایت مطابق د محدثینو په اصطلاح باندې هغې ته ممیزه او وئیلې شوه.

الصحیح من روایة الزهری فی قصة ام حبیبة عند المصنف‌ﷺ:

اوس سوال دا دې چه بیا په دې روایت کښې صحیح عند المصنف‌ﷺ څه دی؟ جواب دا دې چه د مصنف‌ﷺ په نزد په دې روایت کښې صرف دومره ثابت دی چه رسول اللهﷺ د ام حبیبةؓ په باره کښې اوفرمائیل ﴿ ان هذه لیست بالحیضة ولکن هذا عرق فاغتسلی وصلی ﴾ نه په دې کښې ذکر د ایام دې نه ذکر د اقبال او ادبار لکه چه په وړاندې باب کښې د ﴿ حدثنا ابن ابی عقیل ﴾ په روایت کښې راځی هم د هغه ځائې نه معلومیږی چه د مصنف‌ﷺ په نزد صحیح څه دی په دې مقام باندې خان ښه پوهه کړئ ددې تشریح ځنګه چه ما کړې ده داسې ماته بل یو ځائې کښې هم نه ده ملاؤ شوې

او په دې باندې هم خان پوهه کړه چه په صحیح مسلم کښې هم د ام حبیبةؓ متعلق دا حدیث په ډیرو طرقو سره مروی دې په هغې کښې په بعض کښې خو صرف دومره الفاظ مذکور دی کوم چه اوس مونږ بیان کړی دی، او په بعض طرق کښې ﴿ امکثی قدر ما کانت تحبسک حیضتک ﴾ هم راغلې دې ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَهَذَا وَهَمٌ مِنَ ابْنِ عُيَيْنَةَ لَيْسَ هَذَا فِي حَدِيثِ الْحُفَّاظِ عَنِ الزُّهْرِيِّ ﴾ ددې وهم تشریح مونږ سره پورته ذکر شوه.

﴿ قوله إِلاَّ مَا ذَكَرَ سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ ﴾ مصنف‌ﷺ دا فرمائی چه د زهری په روایت کښې صحیح هغه دې کوم چه سهیل بن ابی صالح ذکر کړې دې، د سهیل بن ابی صالح روایت هم هغه دې کوم چه پورته په متن کښې مذکور دی، شارحینو ته چه په هغې کښې حضرت ګنګوهی‌ﷺ او صاحب منهل هم دی دلته دا اشکال پیدا کیږی چه د سهیل بن ابی صالح روایت خو د فاطمه بنت ابی حبیشؓ په قصه کښې دې، او خبره دلته د هغه روایت په باره کښې کیږی کوم چه د ام حبیبةؓ په قصه کښې دې نو بیا دهغې حواله ورکول ځنګه صحیح دې، او دویم اشکال شارحینو ته د مصنف‌ﷺ په کلام باندې دا کیږی چه ابن عیینة چه کوم زیادت ذکر کړې دې ددې مضمون او د سهیل بن ابی صالح د روایت مضمون دواړه یو دی، په دواړو کښې د عادت او د ایام ذکر دې بیا یو ته صحیح وئیل او یو ته وهم

ونيل ددي څه مطلب؟[1] موئږ چه د مصنف رحمه الله د كلام كومه تشريح كړې ده په هغې باندې د پوهيدو نه پس په دې كښې يو اشكال هم نه واردېږي. مصنف رحمه الله خو هم دا وائي چه د زهري روايت كوم چه د أم حبيبة رضي الله عنها په باره كښې دې په دې كښې ذكر د ايام غلط دې. او د زهري كوم روايت چه سهيل بن ابی صالح[2] ذكر كړې دې كوم چه د فاطمې رضي الله عنها قصه كښې دی په هغې كښې ذكر ايام صحيح دې. د مصنف رحمه الله خبره بالكل واضحه ده. بحمد الله په دې كښې هيڅ تردد نشته. صاحب منهل چه ددې اشكال ثانی كوم جواب وركړې دې او د مصنف رحمه الله نې چه كوم غرض بيان كړې دی د احقر هغې سره اتفاق نشته

او حضرت په بذل كښې د مصنف رحمه الله په كلام باندې يو اشكال بل هم فرمائيلې دې هغه دا چه مصنف رحمه الله په حصر سره فرمائي چه دا زيادت صرف ابن عيينة ذكر كړې دې. د مصنف رحمه الله دا دعوی د تفرد صحيح نه ده بلكه دا زيادت اوزاعی هم ذكر كړې دې كوم چه خپله مصنف رحمه الله هم وړاندې تلو سره بيان كړې دې خو موئږ دا خبره بيان كړه چه په دواړو زيادتونو كښې فرق دې او په دې فرق بين المعنيين اعتراف خپله حضرت هم وړاندې تلو سره چرته چه دا مضمون راځي فرمائيلې دې لهذا هيڅ د اشكال خبره پاتې نه شوه.

﴿قوله وَقَدْ رَوَى الْحُمَيْدِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ « تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا »﴾[3]

د مصنف رحمه الله په نزد چونكه د ابن عيينة روايت وهم دې په دې سره ددې وهم كيدو تائيد فرمائي هغه داسې چه خپله د ابن عيينة حال دا دې چه كله هغوی دا زيادت ذكر كوی او كله نه، پس د حميدی كوم روايت چه د ابن عيينة نه دې په هغې كښې دا زيادت نه موندلې كيږي.

---

[1] حضرت خو په بذل كښې دا اشكال كولو سره پريخودلې دې خو صاحب منهل ددې د جواب كوشش كړې دې هغوی ليكلې دی چه اگرچه د دواړو الفاظو مفهوم يو دې خو بهر حال په الفاظو كښې فرق دې او حضرات محدثين د الفاظو فرق هم ډير په اهتمام سره بيانوی خو زه وايم دا خبره اگر كه صحيح ده چه حضرات محدثين لفظي فرق هم بيانوی خو صرف د لفظي فرق نه په وهم سره تعبير نه كوی، بله دا چه مصنف رحمه الله دلته ونيلې دی ﴿زاد ابن عيينة﴾ چه دهغې نه معلوميږی چه هغوی په مضمون د حديث كښې اضافه كړې ده، زموئږ د خيال مطابق دلته شارحين د مصنف رحمه الله په غرض باندې نه دی پوهه شوې، وكم ترك الأول للاخر، والله اعلم بالصواب؛

[2] تاسو ته به ياد وی چه د باب په اول حديث يعنی حديث د ام سلمه رضي الله عنها د لاندې موئږ ونيلې دی چه د امام بيهقی رحمه الله رائې دا ده چه فاطمة بنت ابی حبيش رضي الله عنها مميزه ده نه معتاده (خو ام حبيبة معتاده ده) هم په دې وجه د كوم حديث نه چه د فاطمې رضي الله عنها معتاده كيدل معلوميږی، امام بيهقی رحمه الله يا خو هغې ته ضعيف وائی يا نې تاويل كوی پس د سهيل بن ابی صالح روايت د كوم چه امام ابوداؤد رحمه الله حواله وركړې ده او صحيح نې ورته ونيلې دې، په دې سره چونكه د فاطمې معتاده كيدل ظاهريږی په دې وجه امام بيهقی رحمه الله دې ته هم وهم ونيلې دې خو دا څه ضروری خو نه ده چه كوم تحقيق د بيهقی وی هغه دې د مصنف رحمه الله هم وی؛

[3] د مصنف رحمه الله د كلام نه معلوميږی چه د حميدی روايت د ابن عيينة نه د ام حبيبة بنت جحش په قصه كښې دې خو د سنن بيهقی په كتلو باندې معلوميږی چه په بذل كښې دی چه د حميدی روايت د فاطمه بنت ابی حبيش په قصه كښې دې خو منصف علام رحمه الله پخپل خاني امام او حجت دې په دې وجه كيدې شی چه د حميدی روايت د ام حبيبه رضي الله عنها په سلسله كښې هم وی، والله اعلم؛

﴿ قوله وَرَوَتْ قَمِيرُ بِنْتُ عَمْرٍو الخ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ الخ وَرَوَى أَبُو بِشْرٍ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ الخ وَرَوَى شَرِيكٌ عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- « الْمُسْتَحَاضَةُ تَدَعُ الصَّلاَةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الخ وَرَوَى الْعَلاَءُ بْنُ الْمُسَيَّبِ الخ ﴾

دا پنځه تعليقات دي او په ټولو کښې د مستحاضې دپاره د ايام عادت د اعتبار حکم کړې شوې دې ددې ټولو په ذکر کولو سره د مصنف رحمه الله غرض دا دې چه د مصنف رحمه الله د ابن عيينة په روايت کښې ذکر ايام لره وهم منلو سره دې چاته دا شبه نه پريوځي چه مصنف رحمه الله د مستحاضې دپاره د ايام عادت د اعتبار کولو قائل نه دې ځکه چه دا حکم فی نفسه د ډيرو روايتونو نه ثابت دې او د ابن عيينة په روايت کښې ذکر ايام ته وهم وئيل د يو مخصوص روايت په اعتبار سره دې.

﴿ قوله وروى سعيد بن جبير الخ ﴾ ددې ځائې نه مصنف رحمه الله د څو صحابه کرامو علي، ابن عباس او عائشې رضي الله عنهم او د ډير تابعينو حسن بصرى، سعيد بن المسيب، عطاء، مکحول، ابراهيم النخعي، سالم او قاسم رحمهم الله متعلق نقل کړې دې چه دا ټول حضرات هم د عبرة بالايام قائل وو.

ايا په امهات المومنين کښې څوک مستحاضه وه؟

مصنف رحمه الله چه پورته کوم تعليقات ذکر کړل په هغې کښې په يو روايت کښې راغلي دى چه ﴿ ان سودة استحيضت ﴾ دا سودة بنت زمعة ام المومنين رضي الله عنها ده ددې روايت نه معلوميږى چه بعض ازواج مطهرات مستحاضه شوې دى او هم دا صحيح ده خو ابن الجوزى رحمه الله د امهات المومنين د استحاضه کيدو انکار کړې دې، حضرت شيخ په اوجز کښې ليکى چه ابن الجوزى چه د ازواج مطهرات د استحاضه مطلقا نفى کړې ده دا د هغوى د روايات صحيحه نه غفلت دې، چه دهغې حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى تصريح کړې ده، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په بيبيانو کښې د زينب بنت جحش مستحاضه کيدل هم په بعض رواياتو کښې راځى، خپله مصنف رحمه الله هم په وراندې باب کښې په روايت د عائشې رضي الله عنها ذکر کړې دې، خو د زينب رضي الله عنها د استحاضه والا روايت ثبوت د محدثينو په نزد متنازع فيه دې، بعض محدثين دا ثابت منى او بعض نه، اصل کښې د زينب بنت جحش رضي الله عنها د استحاضه والا روايت په موطاء د امام مالک کښې هم دې، او حضرت شيخ په اوجز کښې په هغې باندې تفصيلى کلام فرمائيلې دې، ابن العربى، علامه سيوطى او ابن رسلان شارح ابوداؤد ددې روايت د ثبوت نه منکر دې او حافظ ابن عبدالبر ددې د ثبوت قائل دې، د حافظ ابن حجر رحمه الله ميلان هم دې طرف ته دې هغوى فرمائى چه په دې سلسله کښې د رواياتو کتلو نه معلوميږى چه ام حبيبه بنت جحش رضي الله عنها مستقل په مرض استحاضه کښې اخته وه او د هغوى خور ام المومنين زينب بنت جحش رضي الله عنها باندې به هم کله کله راتلو.

فائده : ځان پوهه کړه چه په بنات جحش نه د دريو استحاض په روايات حديثيه کښې ذکر راځى، ام حبيبة، حمنة، زينب رضي الله عنهن، علامه سيوطى رحمه الله فرمائى چه د بعض علماء کرامو رائې دا ده چه ﴿ بنات جحش کلهن يستحضن ﴾ او بعض وائى چه د زينب نه علاوه د باقى دوارو

مستحاضه کېدل ثابت دی او یو قول دا دې چه صرف د ام حبيبة رضي الله عنها مستحاضه کېدل ثابت دی ددې نه معلومه شوه چه د ام حبيبه رضي الله عنها مستحاضه کېدل متفق علیه دی، پس په وړاندې روایت کښې راځی چه ﴿ انها استحیضت سبع سنین ﴾.

بَابُ مَنْ قَالَ إِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ تَدَعُ الصَّلَاةَ

باب دې په بیان د هغه چا کښې چې قول کوي په دې چې کله حیض راشي نو مونځ به پرېږدي

دلته اختلاف نسخ دې، د بذل المجهود په نسخه کښې دا ترجمه دلته نه ده بلکه د دوه احادیثو نه پس راروانه ده، ددې باب د دوه احادیثو ﴿ حدثنا احمد بن یونس ﴾ او ﴿ حدثنا القعنبي الخ ﴾ د تیر ترجمې د لاندې دی خو دا نسخه کومه چه مونږ اختیار کړې ده زیاته صحیح ده، د بذل د نسخې په اعتبار سره به اشکال راشي ځکه چه په دې دواړو احادیثو کښې د ایام ذکر نشته بلکه اقبال او ادبار ذکر دې ددې نه پس ځان پوهه کړئ!

اوس خو تاسو ښه خبر شوی یئ چه عادت او تمیز دواړه مختلف څیزونه دی ترجمه سابق د عادت متعلق وه او دا ترجمة د تمیز متعلق ده، ځکه چه حضرات محدثین د اقبال او ادبار والا روایات په تمیز یعنی معرفت لون باندې محمول کوی، خو دلته به دا وایو چه د مصنف رحمه الله مراد دلته په ترجمه ثانیه سره صرف تمیز نه دې بلکه مطلق د حیض راتلل مراد دی که هغه د ایام عادت په اعتبار سره وی یا د الوان په اعتبار سره ځکه چه مصنف رحمه الله په دې باره کښی دواړه قسم روایات ذکر فرمائیلي دی، لهذا ترجمې لره به عام ساتل مناسب وی.

[٢٨٢]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ جَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ، أَفَأَدَعُ الصَّلَاةَ؟ قَالَ: "إِنَّمَا ذَلِكَ عِرْقٌ وَلَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ، فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ، ثُمَّ صَلِّي".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې، بیشکه فاطمة بنت ابي حبیش راغله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته، هغې اووئیل: زه یوه ښځه یم چه مستحاضه کېږم نه پاکېږم آیا مونځ پرېږدم؟ نو هغه ورته وفرمایل: بیشکه دغه رګ دی او حیض نه دی، کله چه حیض راشي نو مونځ پرېږده، او کله چه ختم شي نو ووینځه ځان نه وینه او بیا مونځ کوه.

تشریح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ قوله هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ الخ ﴾ د عائشې رضي الله عنها دا حدیث د فاطمې رضي الله عنها په قصه کښې هم په دې طریق باندې په بخاری او مسلم کښې هم دې چه په هغې کښې اقبال او ادبار ذکر دې کوم چه د محدثینو

(): صحيح البخاري/الوضوء ٦٣ (٢٢٨)، والحيض ٨ (٣٠٦)، ١٩ (٣٢٠)، ٢٤ (٣٢٥)، ٢٦ (٣٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٨٩٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ١٤ (٣٣٣)، سنن الترمذي/الطهارة ٩٣ (١٢٥)، سنن النسائي/الطهارة ١٣٤ (٢٠١)، ١٣٥ (٢١٢)، والحيض ٤ (٣٥٨)، ٦ (٣٦٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٥ (٦٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٨٣، ١٤١، ١٨٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٣ (٨٠١) (صحيح)

په نزد په تمييز باندې محمول دي، لهذا دې متفق عليه روايت نه معلومه شوه چه فاطمه رضي الله عنها مميزه وه، د فاطمې رضي الله عنها په باره کښې هم دا راتلې د امام بيهقي وترمذي رحمهما الله هم ده چه دهغې ذکر موږ سره مخکښې راغلې دې.

[۲۸۳](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامٍ، بِإِسْنَادِ زُهَيْرٍ وَمَعْنَاهُ، وَقَالَ: فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَاتْرُكِي الصَّلَاةَ، فَإِذَا ذَهَبَ قَدْرُهَا فَاغْسِلِي الدَّمَ عَنْكِ وَصَلِّي.

ترجمه: د هشام نه روايت دې په اسناد او معنى د زهير سره، او هغه وفرمايل: کله چه راشي حيض، نو پريږده مونځ، کله چه لاړه شي اندازه د هغې، نو ووينځه ځان نه وينه او مونځ کوه.

تشريح: ۲: ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ – قوله فَإِذَا ذَهَبَ قَدْرُهَا الخ ﴾ په دې حديث کښې دا دی چه کله اقبال حيض وی نو زنانه دې مونځ پريږدی او کله چه دهغې مقدار تير شي نو غسل کولو سره دې مونځ شروع کړي، په يوه خبره ځان پوهه کړئ تاسو ته مخکښې معلومه شوې ده چه د اقبال روايات محدثين په لون دم باندې محمول کوی او احناف په ايام عادت باندې، په دې حديث کښې د ذکر اقبال نه پس فرمائيلې شوې دی چه ﴿ فاذا ذهب قدرها ﴾ دا قرينة ده ددې خبرې چه اقبال حيض په اعتبار د ايام عادت مراد دې نه په اعتبار د الوان ځکه چه لون د مقدار د قبيل نه نهٔ دې بلکه د کيف د قبيل نه دې، سبحان الله څه ښه دليل دې، افاده الشيخ في الاوجز.

[۲۸۴](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ، عَنْ بُهَيَّةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ امْرَأَةً تَسْأَلُ عَائِشَةَ عَنِ امْرَأَةٍ فَسَدَ حَيْضُهَا وَأُهْرِيقَتْ دَمًا، "فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ آمُرَهَا فَلْتَنْظُرْ قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحِيضُ فِي كُلِّ شَهْرٍ وَحَيْضُهَا مُسْتَقِيمٌ، فَلْتَعْتَدَّ بِقَدْرِ ذَلِكَ مِنَ الْأَيَّامِ، ثُمَّ لِتَدَعِ الصَّلَاةَ فِيهِنَّ أَوْ بِقَدْرِهِنَّ، ثُمَّ لِتَغْتَسِلْ، ثُمَّ لِتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ ثُمَّ لِتُصَلِّي".

ترجمه: عائشه روايت کوي د يوې ښځې نه چه حيض ئې خراب شوی وو او اروَلې ئې وينې، نو امر اوکړو ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم چه زه ورته امر اوکړم: انتظار دې اوکړي په اندازه دهغې چه دا به حائضه کيده په هره مياشت کښې او حيض ئې برابر وو، نو اودې شماري په اندازه دهغې ورځو، بيا دې پريږدې مونځ په هغې کښې او يا په اندازه د هغې، بيا دې غسل اوکړي، بيا دې وتړي ځائې د وينې په يوه جامه، او بيا دې مونځ کوي.

[۲۸۵](٣) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمِصْرِيَّانِ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ خَتَنَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ اسْتُحِيضَتْ سَبْعَ سِنِينَ، فَاسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ

١): صحيح البخاري/الحيض ٨(٣٠٦)، سنن النسائي/الطهارة ١٣٨ (٢١٩)، (تحفة الأشراف: ١٧١٤٩) (صحيح)
٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٢٦) (ضعيف)
٣): صحيح البخاري/الحيض ٢٧ (٣٢٧)، صحيح مسلم/الحيض ١٤(٣٣٤)، سنن النسائي/الطهارة ١٣٥ (٢١١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٥ (٦٢٦) (تحفة الأشراف: ١٧٩٢٢، ١٦٥٧٢) (صحيح)

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ هَذِهِ لَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ، وَلَكِنْ هَذَا عِرْقٌ، فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ الْأَوْزَاعِيُّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: اسْتُحِيضَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ جَحْشٍ وَهِيَ تَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ سَبْعَ سِنِينَ، فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَذْكُرْ هَذَا الْكَلَامَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ غَيْرَ الْأَوْزَاعِيِّ، وَرَوَاهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، وَاللَّيْثُ، وَيُونُسُ، وَابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، وَمَعْمَرٌ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، وَابْنُ إِسْحَاقَ، وَسُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا هَذَا الْكَلَامَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَإِنَّمَا هَذَا لَفْظُ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَزَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِيهِ أَيْضًا: أَمَرَهَا أَنْ تَدَعَ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، وَهُوَ وَهْمٌ مِنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ الزُّهْرِيِّ، فِيهِ شَيْءٌ يَقْرُبُ مِنَ الَّذِي زَادَ الْأَوْزَاعِيُّ فِي حَدِيثِهِ.

ترجمه: د عائشې نه روايت دې، بيشکه ام حبيبة بنت جحش د رسول الله ﷺ خينې په نکاح د عبد الرحمن بن عوف کښې، مستحاضه شوه اوه کاله، نو فتوی ئې طلب کړه د رسول الله ﷺ نه، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: بيشکه دا خو حيض نه دې لکن دا رګ دې غسل اوکړه او مونځ کوه. وئيلې دي ابوداود: زيادت کړی دی اوزاعي د زهري نه او هغه د عروة او عمره نه او هغوی د عائشې نه هغې وئيلې دی: مستحاضه شوه ام حبيبة بنت جحش او هغه په نکاح د عبد الرحمن بن عوف کښې وه اوه کاله، نو امر ورته اوکړو رسول الله ﷺ، هغه اووئيل: کله چه حيض راشي نو پريږده مونځ او چه کله لاړ شي نو غسل اوکړه او مونځ کوه. وئيلې دي ابوداود: او نه دی ذکر کړی دا کلام يو کس هم د ملګرو د زهري نه په غير د اوزاعي نه، او روايت کړی دی د زهري نه عمرو بن الحارث او ليث او يونس او ابن ابي ذئب او معمر او ابراهيم بن سعد او سليمان بن کثير، او ابن اسحاق او سفيان بن عيينة او نه يې دی ذکر کړی دا کلام. وئيلې دي ابوداود: بيشکه دا لفظ د حديث د هشام دی بن عروة دی د خپل پلار نه، او هغه د عائشې نه وئيلې دي ابوداود: او زيادت کړی دی ابن عيينة په دې کې: امرېې اوکړو هغې ته چه پريږدې مونځ په ورځو د حيضونو دهغې کښې او هغه وهم دی د ابن عيينه نه، او حديث د محمد بن عمرو د زهري نه په دې کښې څه شي چه نږدې دی هغې ته اوزاعي زيات کړی دی په خپل حديث کښې

تشريح: ۴: ﴿ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمِصْرِيَّانِ ﴾ د زهری هغه روايت کوم چه د ام حبيبه ﷞ په سلسله کښې کوم چه عند المصنف ﷫ صحيح دې او د کوم حواله چه مونږ سره مخکښې راغلي ده هغه دا حديث دې کوم چه مصنف ﷫ دلته ذکر کوی دهغې الفاظ تاسو خپله اوګورئ هغه دا دی ﴿ إِنَّ هَذِهِ لَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ وَلَكِنْ هَذَا عِرْقٌ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي ﴾ په دې کښې نه ذکر د ايام دې نه ذکر د اقبال او ادبار پـه ځان پوهه کړئ

د ابن ابی عقيل راوی تحقيق

د دې نه پس تاسو د سند په باره کښې واورئ! هغه دا چه په دې حديث کښې ابن ابی عقيل مذکور دې چه د هغه په باره کښې حضرت په بذل کښې دلته ليکلي دی ﴿ لم اجد ذكره في شئ من كتب الرجال ﴾ ددې نه پس دا راوی د ﴿ باب غسل الجمعة ﴾ هم د يو حديث په سند کښې راغلي دي، هلته رسيدلو سره حضرت ددې راوی نوم د تهذيب التهذيب نه احمد بن ابی

عقيل المصري نقل کړي دي او هم دا صاحب منهل هم ليکلي دی خو د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی چه ابن رسلان شارح د ابوداؤد د هغوی نوم عبدالغني بن رفاعه ليکلي دي او ليکلي ئې دی روی عن الطحاوی رحمه الله زه وايم چه ابن رسلان چه کوم تعين کړي دي هغه هم محتمل دي ځکه چه عبدالغني هم د امام ابوداؤد په استاذانو کښې دي او هغوی نه هم ابن ابی عقيل وئيلي شي، دديې وجې نه حافظ په تقريب کښې د عبدالغني بن رفاعه په نوم باندې د ابوداؤد رمز جوړ کړي دي، او په دې کتاب کښې په کتاب الحدود باب الرجم کښې د عبدالغني بن رفاعه نه يو روايت راوړان دي چه څوک کتل غواړي او دې ګوري.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ زَادَ الْأَوْزَاعِيُّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الخ ﴾ په دې باندې کلام مونږ سره نژدې شه په تفصيل سره تير شو. ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَإِنَّمَا هَذَا لَفْظُ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ ﴾ يعنې د اقبال او ادبار زيادت د زهری په دې حديث کښې صحيح نه دی کوم چه د ام حبيبه رضي الله عنها په سلسله کښې دي، خو دا زيادت د هشام بن عروة عن ابيه عن عائشة په حديث کښې صحيح دی کوم چه د فاطمة بنت ابی حبيش رضي الله عنها په قصه کښې دي، او دا حديث د عائشې رضي الله عنها په قصه د فاطمې رضي الله عنها هم دديې باب رومبي حديث دي چه دهغې ابتداء په ﴿ حدثنا احمد بن يونس ﴾ سره ده، ښه ځان پوهه کړئ.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِيهِ أَيْضًا ﴾ د ايضا مطلب دا دی چه څنګه اوزاعی په دې حديث کښې وهما يو زيادت ذکر کړو هم دغه شان ابن عيينة رحمه الله هم، لکه چه پوره په تفصيل سره په مخکښې باب کښې ذکر شو.

﴿ قوله وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ الزُّهْرِيِّ فِيهِ شَيْءٌ يَقْرُبُ مِنَ الَّذِي زَادَ الْأَوْزَاعِيُّ فِي حَدِيثِهِ ﴾ د محمد بن عمرو حديث هم هغه دي کوم چه دديې نه روستو متصلا راوړان دي، مصنف رحمه الله فرمائي چه اوزاعی چه کوم زيادت د ام حبيبة رضي الله عنها په قصه کښې ذکر کړي دي هم دديې هم معنی د محمد بن عمرو په حديث کښې مذکور دي، د محمد بن عمرو په حديث کښې دی ﴿ اذا کان دم الحيضة فانه دم اسود يعرف ﴾ دا د اوزاعی زيادت قريب المعنی په دې وجه دی چه اوزاعی اقبال او ادبار ذکر کړي دي او د محدثينو په نزد اقبال او ادبار په تميز او لون باندې محمول دي او دديې محمد بن عمرو په روايت کښې د لون ذکر صراحة دي.

[۲۸۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ، أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضَةِ، فَإِنَّهُ أَسْوَدُ يُعْرَفُ، فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ، فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي، فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: حَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، مِنْ كِتَابِهِ هَكَذَا، ثُمَّ حَدَّثَنَا بِهِ بَعْدُ حِفْظًا، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَدْ رَوَى أَنَسُ بْنُ سِيرِينَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي الْمُسْتَحَاضَةِ، قَالَ: إِذَا رَأَتِ الدَّمَ الْبَحْرَانِيَّ فَلَا تُصَلِّي، وَإِذَا رَأَتِ الطُّهْرَ وَلَوْ سَاعَةً فَلْتَغْتَسِلْ وَتُصَلِّي، وَقَالَ مَكْحُولٌ: إِنَّ النِّسَاءَ لَا تَخْفَى عَلَيْهِنَّ الْحَيْضَةُ، إِنَّ دَمَهَا أَسْوَدُ غَلِيظٌ، فَإِذَا ذَهَبَ

(): سنن النسائي/الطهارة ۱۳۵ (۲۱۱) (تحفة الأشراف: ۱۶۶۲۶،۱۸۰۱۹) (حسن)

ذَلِكَ وَصَارَتْ صُفْرَةً رَقِيقَةً، فَإِنَّهَا مُسْتَحَاضَةٌ فَلْتَغْتَسِلْ وَلْتُصَلِّ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، فِي الْمُسْتَحَاضَةِ، إِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ تَرَكَتِ الصَّلَاةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتِ اغْتَسَلَتْ وَصَلَّتْ، وَرَوَى سُمَيٌّ وَغَيْرُهُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، تَجْلِسُ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَى يُونُسُ، عَنِ الْحَسَنِ، الْحَائِضُ إِذَا مَدَّ بِهَا الدَّمُ تُمْسِكُ بَعْدَ حَيْضَتِهَا يَوْمًا أَوْ يَوْمَيْنِ، فَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ، وَقَالَ التَّيْمِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، إِذَا زَادَ عَلَى أَيَّامِ حَيْضِهَا خَمْسَةُ أَيَّامٍ، فَلْتُصَلِّ، وَقَالَ التَّيْمِيُّ: فَجَعَلْتُ أَنْقُصُ حَتَّى بَلَغَتْ يَوْمَيْنِ، فَقَالَ: إِذَا كَانَ يَوْمَيْنِ فَهُوَ مِنْ حَيْضِهَا، وَسُئِلَ ابْنُ سِيرِينَ عَنْهُ، فَقَالَ: النِّسَاءُ أَعْلَمُ بِذَلِكَ.

ترجمه: د فاطمي بنت ابي حبيش نه روايت دي، بيشكه هغه به مستحاضه كېده نو هغې ته نبي ﷺ وفرمايل: كله چه د حيض وينه وي نو هغه توره وي پېژندل كېږي، كله چه وي دغه نو بنده شه د مانځه نه، كله چه وي بله نو اودس كوه او مونځ كوه بيشكه هغه رګ دی. وئيلی دي ابوداود: او وئيلی دي ابن المثنى، بيان كړی دی په دي سره مونږ ته ابن ابي عدي د خپل كتاب نه داسي، بيا ئې وروسته بيان اوكړو مونږ ته د حفظ نه هغه اووئيل حديث بيان كړی دی مونږ ته محمد بن عمرو د زهري نه او هغه د عروه نه او هغه د عائشي نه، بيشكه فاطمة وه چه مستحاضه كېده نو ذكر ئې كړه معنی د هغه حديث. وئيلی دي ابواود: او په تحقيق سره روايت كړی دی انس بن سيرين د ابن عباس نه په مستحاضه كښې هغه اووئيل: كله چه وويني وينه دريابي مونځ دې نه كوي او كله چه وويني پاكوالي اګر كه يو ساعت وي نو غسل دي اوكړي او مونځ دي كوي. او وئيلی دي مكحول: بيشكه په ښځو باندې نه پټېږي د حيض وينه دهغې توره او سخته ده، كله چه لاړه شي دغه او ګرځي زيړ نرم نو دغه بيا مستحاضه ده غسل دي اوكړي او مونځ دي كوي. وئيلی دي ابوداود: او روايت كړی دی حماد بن زيد د يحيى بن سعيد نه او هغه د قعقاع بن حكيم نه او هغه د سعيد بن المسيب نه په مستحاضه كې: كله چه راشي حيض نو مونځ به پرېږدي، او كله چه لاړ شي نو غسل به اوكړي او مونځ به كوي. او روايت كړی دی سمي او غير د هغه نه د سعيد بن المسيب نه: كښېني به په شمار د ورځو د حيض د هغې. او همدارنګه روايت كړی دی حماد بن سلمة د يحيى بن سعيد او هغه د سعيد بن المسيب نه. وئيلی دي ابوداود: او روايت كړی دی يونس د حسن نه: حائضه نه بندېږي به وروسته د حيض دهغې نه يوه ورځ او يا دوه ورځي نو دا مستحاضه ده. او وئيلی دي تيمي د قتادة نه: كله چه زيات شي په ورځو د حيض دهغې پنځه ورځې نو مونځ دي كوي. او وئيلی دي تيمي: زه شروع شوم چه كمولې مې تر دې چه ورسېده دوه ورځو ته، نو هغه اووئيل: كله چه دوه ورځې وي نو هغه د حيض نه دي. او تپوس اوشو د ابن سيرين نه د هغې په باره كښې نو هغه اووئيل ښځي ښه پوهه دي په دي

تشريح: ۵: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ مِنْ كِتَابِهِ هَكَذَا ثُمَّ حَدَّثَنَا بِهِ بَعْدُ حِفْظًا الخ ﴾ پورته په سند كښې د ابن المثنى استاد ابن ابی عدی دی، ابن المثنى دا وائی چه زما استاد ابن ابی عدی چه ماته دا حديث كله د خپل كتاب نه واورولو نو هم په دي

سند سره کوم چه پورته مذکور دي خو بيا ددي نه خو ورخي پس هغوي چه کله مانه دا حديث په خپل حفظ باندي واورلو نو په سند کښي ئي فرق اوکړو، په دي دواړو کښي فرق دا دي چه په اول سند کښي عروة ابن الزبير روايت کوي د فاطمي نه او په دويم کښي د عائشي رضي الله عنها نه، دا کلام بعينه هم دغه شان د نسائي په روايت کښي هم دي.

الكلام على قوله ﴿ فانه دم اسود يعرف ﴾

خان پوهه کړه چه دا هم هغه حديث دي کوم چه د اعتبار لون په باره کښي صريح دي او د کوم حوالي چه مخکښي ذکر شوي ده، ددي په سند کښي اختلاف او اضطراب مصنف رحمه الله خپله بيان کړي دي، پس شوکاني وائي ﴿ وقد ضعف الحديث ابوداؤد ﴾ او امام نسائي رحمه الله هم په دي باندي کلام کړي دي هغه دا چه ﴿ فانه دم اسود ﴾ د ابن ابي عدي نه علاوه بل چا نه دي ذکر کړي ﴿ لم يذكر احد ما ذكره ابن ابي عدي ﴾ او امام طحاوي رحمه الله په مشکل الاثار کښي فرمائي ﴿ انه مدرج ﴾ هم دغه شان حضرت شيخ په اوجز کښي ليکي دا حديث ثابت نه دي لکه چه علامه ابو الوليد باجي ددي اقرار کړي دي او شوکاني وائي چه امام ابوحاتم رازي دي ته منکر وئيلي دي او صاحب د الجوهر النقي وائي چه د ابن ابي حاتم په کتاب العلل کښي دی چه ما د خپل پلار ابوحاتم نه ددي حديث په باره کښي تپوس اوکړو فقال منكر او ابن القطان فرمائي، عندي منقطع

د دي نه پس مصنف رحمه الله ډير روايات تعليقا ذکر کړي دی، د بعض نه عبرة بالايام معلوميږي او د بعض نه تميز او د بعضو نه استظهار.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَى يُونُسُ عَنِ الْحَسَنِ الخ ﴾ په دي تعليق کښي استظهار ذکر دي، حسن بصري رحمه الله د انقطاع حيض نه پس د يو يا دوه ورځو د استظهار قائل دي، دا موزيه سره بالتفصيل وړاندي تير شوي دی چه امام مالک رحمه الله هم د استظهار قائل دي

﴿ وَقَالَ التَّيْمِيُّ عَنْ قَتَادَةَ – قَالَ التَّيْمِيُّ فَجَعَلْتُ أَنْقُصُ حَتَّى بَلَغَتْ يَوْمَيْنِ الخ ﴾ قتادة چونکه د تيمي استاد دي او هغه تر پنځو پوري د استظهار قائل وو، تيمي وائي چه ما هغوي ته د استظهار په ورځو کښي د کمي سوال اوکړو تر دي چه هغه د پنځو نه راکوزيدلو سره په دوو باندي اودريدلو او وي وئيل چه دوه ورځي خو د استظهار دپاره ضروري دی

[۲۸۷](1) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ وَغَيْرُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَمِّهِ عِمْرَانَ بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أُمِّهِ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ، قَالَتْ: كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَفْتِيهِ وَأُخْبِرُهُ، فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِ أُخْتِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، فَقُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً، فَمَا تَرَى فِيهَا قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَالصَّوْمَ؟ فَقَالَ: أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ، فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ، قَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: فَاتَّخِذِي ثَوْبًا، فَقَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ، إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ، أَيَّهُمَا فَعَلْتِ أَجْزَأَ

(1): سنن الترمذي/الطهارة ۹۵ (۱۲۸)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۱۵ (۶۲۲، ۶۲۷) (تحفة الأشراف: ۱۵۸۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۳۹)، سنن الدارمي/الطهارة ۸۳ (۸۱۲) (حسن)

عَنْكِ مِنَ الْآخَرِ، وَإِنْ قَوِيتِ عَلَيْهِمَا فَأَنْتِ أَعْلَمُ، قَالَ لَهَا: إِنَّمَا هَذِهِ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ، فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ فِي عِلْمِ اللهِ، ثُمَّ اغْتَسِلِي حَتَّى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّي ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً أَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَأَيَّامَهَا وَصُومِي، فَإِنَّ ذَلِكِ يُجْزِيكِ، وَكَذَلِكِ فَافْعَلِي فِي كُلِّ شَهْرٍ كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ وَكَمَا يَطْهُرْنَ مِيقَاتَ حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ، وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِي الظُّهْرَ وَتُعَجِّلِي الْعَصْرَ فَتَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَتُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ ثُمَّ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ، فَافْعَلِي، وَتَغْتَسِلِينَ مَعَ الْفَجْرِ، فَافْعَلِي وَصُومِي إِنْ قَدَرْتِ عَلَى ذَلِكَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَهَذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَمْرُو بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ ابْنِ عَقِيلٍ، قَالَ: فَقَالَتْ حَمْنَةُ: فَقُلْتُ: هَذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ، لَمْ يَجْعَلْهُ مِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، جَعَلَهُ كَلَامَ حَمْنَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَعَمْرُو بْنُ ثَابِتٍ رَافِضِيٌّ رَجُلُ سُوءٍ، وَلَكِنَّهُ كَانَ صَدُوقًا فِي الْحَدِيثِ، وَثَابِتُ بْنُ الْمِقْدَامِ رَجُلٌ ثِقَةٌ، وَذَكَرَهُ عَنْ يَحْيَى بْنِ مَعِينٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ، يَقُولُ: حَدِيثُ ابْنِ عَقِيلٍ فِي نَفْسِي مِنْهُ شَيْءٌ.

ترجمه: د حمنة بنت جحش نه روايت دي هغې وئيلي دي: زه به مستحاضه کېدم ډيره زياته، نو راغلم رسول الله ﷺ ته فتوى مې ترېنه غوښتله او خبر مې کړو هغه، نو ما هغه بيامونډلو په کور د خور زما کښې چه زينب بنت جحش ده، نو ما اووئيل: اې د الله رسوله! زه يوه ښځه يم چه مستحاضه کېږم په سخت حيض سره، ستا څه فيصله ده په هغې کښې، بيشکه زه ئې د مونځ او روژې نه منع کړې يم، نو هغه وفرمايل: زه تاته ښايم کرسف هغه ختموي وينه، هغې اووئيل هغه وينه د دېنه زياته ده، هغه وفرمايل: نو کېده يوه جامه هغې اووئيل دا دهغې نه هم زياته ده، بيشکه زه بهيرم په بهيدلو سره، اووئيل رسول الله ﷺ: زه تاته امر کوم په دوه امرونو باندې کوم چه دې اوکړو جائز کېږي ستانه د هغې بل نه، او که ته قوي ئې په دواړو باندې نو تاته ښه پته ده، هغه وفرمايل هغې ته: دا يوه ټونګه ده د ټونګو د شيطان نه نو حيض تيروه شپږ ورځې او يا اوه ورځې د الله په علم کښې، بيا غسل کوه تردې چه ته ووينې چه ښه پاکه شوې ئې مونځ کوه درويشت شپې او څلېرويشت شپې او ورځې، او روژه نيسه، بيشکه دا کار ستانه جائز کېږي، او همدارنګه کوه په هره مياشت کښې لکه څرنګه چه ښځې حائضې کېږي، او لکه څرنګه چه پاکېږي چه وقت د حيض او د طهر د هغوى دې، او که ته چېرته قوي شې په دې چه وروسته کړې ماسپخين او رامخکې کړې مازيګر او غسل اوکړې او جمع کړې په مابين د دواړو مونځونو د ماسپخين او مازيګر کښې، او وروسته کړې ماښام او رامخکې کړې ماخوستن، بيا غسل اوکړې او جمع کړې په مابين د دواړو مونځونو کښې نو اوکړه، او غسل اوکړې د صبا سره نو اوکړه، او روژه نيسه که چېرې تا قدرت وموندلو په دې باندې، اووئيل رسول الله ﷺ او دا ډير خوښ دې ماته په دواړو کارونو کښې. وئيلي دي ابوداود: او روايت کړى دى ددې عمرو بن ثابت د ابن عقيل نه هغه وئيلي دي: اووئيل حمنې چه ما اووئيل دا خوښ د دواړو کارونو دې ماته دايې نه دې ګرځولې قول د نبي ﷺ ګرځولې ئې دې کلام د حمنې وئيلي دي ابوداود: عمرو بن ثابت رافضي دې ناکاره سړى دى ليکن هغه رشتني دې په حديث کښې، او ثابت بن المقدام سړى دى ثقه، او ذکر کړې ئې دې د يحيى بن معين وئيلي دي ابوداود: ما اوريدلي دي د احمد نه چه هغه وئيل حديث د ابن عقيل نه زما په نفس کښې څه شى دې.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ – قوله حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ قَالَتْ كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً الخ ﴾ په دې كښې اختلاف دې [١] چه حمنة بنت جحش او ام حبيبة دواړه يو دى يا بيل بيل صحيح دا ده چه بيل بيل دى.

﴿ قوله أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ ﴾ كرسف مالوچو ته وائى چه هغه لوندوالي جذب كوى او خصوصا كله چې زاړه وى كوم ته چه زاړه مالوچ وائى، ﴿ قال فتلجمى ﴾ يعنى رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د وضع كرسف نه پس دا مقام په يو بله پټئ سره داسې اوتړه څنګه چه د ځاروى خوله په واړو سره تړلې شى. لجام معرب دې د لګام. په دې باندې حمنه ﷺ اووئيل ﴿ هو اكثر من ذلك ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل بيا د يوې بلې كپړې اضافه اوكړه، هغې اوفرمائيل ﴿ انما اثج ثجا ﴾ يقينا زه بهيږم په بهيدلو سره. مبالغة وائى چه زما ټول بدن وينې شو او ګويا زه خپله بهيږم. په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ ﴾ يعنى زه تاته د دوه خبرو حكم كوم په دې كښې چه كوم هم اختياروې هغه به كافي وى.

﴿ قوله إِنَّمَا هَذِهِ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ ﴾ رَكْضَةٌ په معنى د لتې وهل، په دې كښې دواړه احتمالات دى، په حقيقت باندې هم محمول كيدې شى لكه چه په حديث كښې راځى چه د ماشوم د پيدائش نه پس شيطان هغه مسه كوى يعنى نوكاره پرې لګوى چه په هغې سره هغه چغه وهى، په دې صورت كښې مطلب دا شو چه د وينې كثرت د شيطان د لتې وهلو د وجې نه دې،دويم احتمال دادې چه د لتې وهلو نه مرادوسوسه اچول دى چه هغه مستحاضه په شك كښې اخته كولو سره پريشانه كوى او دهغې په ذهن كښې دا خبره اچوى چه هغه حائضه ده د مونځ قابله نه ده حال دا چه استحاضه د صوم او صلوة نه مانع نه ده.

﴿ قوله فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ ﴾ يعنى خپل خان حائضه منه په مياشت كښې شپږ يا اووۀ ورځې، په اصل كښې دا معتادة وه او خپل عادت ترې نه هير شوې وو چه شپږ ورځې دې يا اووۀ ورځې، ګويا دا متحيره شوه لهذا رسول الله ﷺ هغې ته د تحرى حكم اوفرمائيلو چه په كوم عدد باندې تحرى واقع شى هغه دې اختيار كړى، او د خطابى ﷫ رائې دا ده چه دا مبتدئه وه او د مبتدئه حكم دا دې چه هغه به د غالب حيض اعتبار كوى او هغه شپږ يا اووۀ ورځې دې په دې وجه رسول الله ﷺ د شپږو يا اووۀ ورځو حكم اوفرمائيلو (قاله ابن رسلان) او حضرت شيخ په هامش بذل كښې ليكى چه د بيهقى رائې هم دا ده كومه چه د خطابى ده، او دا هم وئيلې شوې دى چه دا ﴿او ﴾ شك د راوى دې.

﴿ فِي عِلْمِ اللَّهِ ﴾ يعنى زه تاته حكم شرعى بيانوم، اوس وړاندې ته پوهه شه او ستا رب چه ته په دې باندې ښه طريقې سره عمل كوې يا نه. يا علم الله په معنى د حكم الله يعنى كومه خبره چه زه تاته كوم د استحاضې په سلسله كښې پس هغه د الله پاك حكم دې يعنى حكم شرعى دې (كذا فى العون عن ابن رسلان) د بنده رائې دا ده چه په ماقبل كښې چه كوم د شپږو

---

[١] د: هذا الاختلاف في البذل تحت حديث قرايت مركنها ملآن دما)

يا اووه ورځو د تحرى حكم وركړې شوې دې دا هم دهغې سره متعلق دې او علم الله كناية ده د ما هو الصواب الموافق للواقع نه ځكه چه كومه خبره د الله پاک په حكم كښې وى هغه به يقينا صحيح او حقيقت وى لهذا معنى دا شوه چه ته تحرى اوكړه د ما هو الصواب يعنى صحيح صحيح اندازه اولګوه شپږ يا اووه چه هر يو وى.

﴿ قوله وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِى الخ ﴾ ددې ځائې نه د امر ثانى بيان كيږى، رسول اللهﷺ فرمائيلي وو چه زه به تاته د دوه خبرو حكم كوم چه په هغې كښې يو خبره خو تيره شوه هغه دا چه د شپږ يا اووه ورځو د تحرى كولو نه پس په مياشت كښې يو ځل غسل كولو سره مونځونه شروع كړه او امر ثانى كوم چه دلته بيان فرمائى هغه دا دې چه شپږ يا اووه ورځې د حيض مستثنى كولو سره بيا روزانه جمع بين الصلوتين په يو غسل كوه، او د فجر د مانځهٔ دپاره مستقل غسل، په دې صورت كښې به روزانه «ديرويش يا ځليريشت ورځو پورې» درې كرته غسل وى.

د أَعْجَبُ الأَمْرَيْنِ إِلَيَّ مطالب :

﴿ قوله أَعْجَبُ الأَمْرَيْنِ إِلَيَّ ﴾ امر ثانى يعنى جمع بين الصلوتين بغسل ددې حكم فرمائيلو نه پس رسول اللهﷺ فرمائى چه دا امر ثانى زما په نزد په دواړو كښې زيات خوښ دې، اعجب د اسم تفضيل صيغه ده جمع بين الصلوتين بغسل خو دې مفضل كوم چه غوره كړې شوې دې ددې مفضل عليه څهٔ دې؟ په دې كښې دوه اقوال مشهور دى، بعض شارحينو چه په هغوى كښې ملا على قارى، حضرت سهارنپورى او هم دغه شان په كوكب كښې د حضرت ګنګوهي رحمه الله رائې دا ده چه ددې مفضل عليه غسل لكل صلوة دې چه دهغې ذكر اګرچه په دې روايت كښې نشته خو د مستحاضې په نورو رواياتو كښې موجود دې نو مطلب دا شو چه دا امر ثانى يعنى جمع بين الصلوتين بغسل زما په نزد زيات غوره دې په نسبت د غسل لكل صلوة. ځكه چه هغه شاق زائد دې او په دې كښې مشقت كم دې او فائده د دواړو تقريبا يو ده چه هر مونځ په غسل سره شو، په دې صورت كښې به اعجب په معنى د اسهل وى، او دويم قول دا دې چه د اعجب مفضل عليه غسل لكل صلوة نه دې ځكه چه هغه خو دلته مذكور نه دې بلكه ددې مفضل عليه هغه امر اول دې كوم چه هم ددې حديث په شروع كښې ذكر دې يعنى د تحرى نه پس په پوره مياشت كښې صرف يو ځل غسل كول، او په دې صورت كښې به د رسول اللهﷺ دارشاد مطلب دا وى چه په پوره مياشت كښې د يو ځل غسل كولو په مقابله كښې هره ورځ جمع بين الصلوتين بغسل زيات غوره دې ځكه چه په دې كښې احتياط زيات دې، دا مطلب حضرت شيخ په حاشيه د كوكب كښې اختيار كړې دې كوم چه شيخ الاسلام حضرت مدنى رحمه الله هم غوره كړې وو، او ددې مطلب د تحسين دپاره ئې د ديوبند نه سهارنپور ته تشريف راوړلو او حضرت شيخ ته ئې اوفرمائيل چه تاسو چه د اعجب الامرين كوم مطلب په حاشيه د كوكب كښې ليكلې دې زمونږ ډير زيات خوښ شو او وې فرمائيل چه خومره غټه خبره ده چه په مشرانو كښې دا خبره چا هم نه ده ليكلې په دې باندې شيخ اوفرمائيل ؛ زه ددې ذمه دار يم چه چا ولې نه ده ليكلې.

خان پوهه کړه چه دا مطلب صاحب د عون المعبود هم اختیار کړې دې، خو هغوی د اعجب کیدو وجه بله لیکلې ده چه په دې کښې مشقت زیات دې والاجر علی قدر المشقة والنبی ﷺ یجب ما فیه اجر عظیم، دا علت حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې رد فرمائیلې دې چه دا صحیح نه دی ځکه چه رسول الله ﷺ دامت په حق کښې امر اسهل غوره کولو نه امر اصعب.

خان پوهه کړه چه ددې حدیث چه کوم اول مطلب لیکلې شوې دې یعنی دا چه د جمع بین الصلوتین بغسل مقابل غسل لکل صلوة دې هم دا رائې د امام ابوداؤد رحمه الله هم معلومیږی په دې وجه هغوی وړاندې باب کوم چه په ﴿ غسل لکل صلوة ﴾ باندې دې دهغې په اخر کښې فرمائیلې دی ﴿ قال ابوداؤد فی حدیث ابن عقیل الامران جمیعا ﴾ د ابن عقیل د حدیث نه په ظاهره هم حدیث د حمنة رضی الله عنها مراد دې کوم چه دلته روان دې په دې وجه چه ددې په سند کښې هم یو راوی ابن عقیل دې.

د ﴿ أعجب الامرین الی ﴾ یو مطلب بل هم واورئ هغه دا چه رسول الله ﷺ فرمائی چه جمع بین الصلوتین بغسل د استحاضه د وجې نه زما په نزد زیات اولی دې په نسبت د جمع بین الصلوتین لاجل السفر، د مشکوة مشهور شارح ابن الملک هم دا معنی لیکلې ده خو ملا علی قاری رحمه الله دې معنی ته خلاف ظاهر وئیلې ده.

بَابُ مَنْ رَوَى أَنَّ الْمُسْتَحَاضَةَ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ

باب دې په بیان دهغه چا کښې چې وائی چې مستحاضه به غسل کوې د هر مانځه دپاره

په مرقاة کښې لیکلې دی چه د غسل لکل صلوة د وجوب قائل بعض صحابه کرام رضی الله عنهم لکه سیدنا علی، ابن مسعود، ابن الزبیر وغیرهم دی. او مصنف رحمه الله په آخر د باب کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نوم هم لیکلې دې.

[۲۸۸] (1) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَعَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ خَتَنَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ اسْتُحِيضَتْ سَبْعَ سِنِينَ، فَاسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ هَذِهِ لَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ، وَلَكِنْ هَذَا عِرْقٌ، فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي". قَالَتْ عَائِشَةُ: فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ فِي مِرْكَنٍ فِي حُجْرَةِ أُخْتِهَا زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ حَتَّى تَعْلُوَ حُمْرَةُ الدَّمِ الْمَاءَ.

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه چه د رسول الله ﷺ بی بی ده روایت دې، بیشکه ام حبیبه بنت جحش خښنی د رسول الله ﷺ په نکاح د عبد الرحمن بن عوف کښې، مستحاضه شوه اوه کاله، فتوی ئې طلب کړه د رسول الله ﷺ نه په دغې کښې، نو وفرمایل رسول الله ﷺ دا حیض نه دې، لکن دا رګ دې غسل اوکړه او مونځ کوه. اووئیل عائشې وه چه غسل به ئې کولو په لګن کښې په کوټه د خور خپله کښې چه زینب بنت جحش ده، تردې چه را اوچت به شو سوروالی د وینې په اوبو کښې.

(1) انظر حدیث رقم: ۲۸۵، (تحفة الأشراف: ۱۶۵۷۲، ۱۷۹۲۲) (صحیح)

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ – قوله قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ فِي مِرْكَنٍ ﴾ يعنى ام حبيبة ﷞ به په يو لوئي لوښى كښې اوبه واچولې او په هغې كښې ناسته كولو سره به ئې غسل كولو او چونكه استحاضه ئې جارى وه په دې وجه د وينې رنګ به ئې په وينه باندې غالب شو خو ظاهره دا ده چه چونكه دا اوبه ناپاكې وې ددې نه پس به ئې پاكې اوبه په بدن باندې ضرور بهيولې، او دا په دې طريقه وو چه د اوبو په لوښي كښې كيناستل د علاج دپاره وو.

[٢٨٩]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَتْنِي عَمْرَةُ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه: روايت دى د ام حبيبه نه ددې حديث، وئيلى دي عائشې ﷞ وه چه غسل به ئې كولو د هر مانځه دپاره.

[٢٩٠]() حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنِي اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْقَاسِمُ بْنُ مَبْرُورٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ بِنْتِ جَحْشٍ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَرُبَّمَا قَالَ مَعْمَرٌ عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، بِمَعْنَاهُ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِي حَدِيثِهِ: وَلَمْ يَقُلْ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهَا أَنْ تَغْتَسِلَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ الْأَوْزَاعِيُّ أَيْضًا، قَالَ فِيهِ: قَالَتْ عَائِشَةُ: فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه: د عائشې نه روايت دې په دې حديث سره، هغه وفرمايل په دې كې: وه هغه چه غسل ئې كولو د هرمانځه دپاره. وئيلى دي ابوداود: روايت كړى دى قاسم بن مبرور د يو نس نه او هغه د ابن شهاب نه او هغه د عمرې نه او هغې د عائشې نه او هغې د ام حبيبة بنت جحش نه په هغې سره. او همدارنګه نقل كړى دى هغې لره معمر د زهري نه، او هغه د عمرې نه، او هغې د عائشې نه او كله به وئيل معمر روايت دى عمرې نه عن ام حبيبة په معنى د هغه حديث سره. او همدارنګه روايت كړى دى اوزاعي هم هغه اووئيل دي كې: وئيلى دي عائشې: وه هغه چه غسل به ئې كولو د هر مانځه لپاره.

[٢٩١]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْمُسَيَّبِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ اسْتُحِيضَتْ سَبْعَ سِنِينَ، "فَأَمَرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ"، فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روايت دي بيشكه ام حبيبه مستحاضه شوه اوه كاله نو امر ورته اوكړو رسول الله ﷺ چه غسل دې اوكړي، نو وه چه غسل به ئې كولو د هر مانځه دپاره

[٢٩٢]() حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أُمَّ

():[1] انظر حديث رقم (٢٨٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٣٤) (صحيح)
():[2] صحيح مسلم/الحيض ١٤ (٣٣٤)، سنن الترمذي/الطهارة ٩٦ (١٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٨٣) (صحيح)
():[3] صحيح البخاري/الحيض ٢٧ (٣٢٧) (تحفة الأشراف: ١٦٦١٩، ١٧٩١٠) (صحيح)
():[4] تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٦٦١٠، ١٦٤٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٣٧) (صحيح)

حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ اسْتُحِيضَتْ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهَا بِالْغُسْلِ لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْهُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ كَثِيرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: اسْتُحِيضَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اغْتَسِلِي لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الصَّمَدِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ كَثِيرٍ، قَالَ: تَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلَاةٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا وَهْمٌ مِنْ عَبْدِ الصَّمَدِ، وَالْقَوْلُ فِيهِ قَوْلُ أَبِي الْوَلِيدِ.

ترجمه: د عائشي رضي الله عنها نه روايت دې بېشکه ام حبيبة بنت جحش حائضه شوه په زمانه د رسول الله ﷺ کې: نو امر ئې اوکړو هغې ته په غسل باندې د هر مانځه دپاره. او سوق د حديث ئې اوکړو. وئيلى دي ابوداود: او نقل کړې دى ابو الوليد الطيالسي او ما نه دى اوريدلى د هغه نه، د سليمان بن کثير نه او هغه د زهري نه او هغه د عروة نه او هغه د عائشي نه هغې وئيلى دي: مستحاضه شوه زينب بنت جحش، نو اووئيل ورته نبي ﷺ غسل اوکره د هر مانځه دپاره. او سوق د حديث ئې اوکړو. وئيلى دي ابوداود: او نقل کړې دى عبدالصمد د سليمان بن کثير نه هغه وئيلى دي: اودس اوکره د هر مانځه دپاره. وئيلى دي ابوداود: اودا وهم دى د عبد الصمد نه، او صحيح قول په دې کښې قول د ابو الوليد دى

تشريح: ۵: ﴿ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ – قوله فَأَمَرَهَا بِالْغُسْلِ لِكُلِّ صَلَاةٍ ﴾ خان پوهه کړه چه دا ترجمة الباب په غسل لکل صلوة باندې دې، په دې باب کښې مصنف رحمه الله ډير روايتونه ذکر کړي دى په بعضو کښې خو غسل لکل صلوة مطلقا نه دې ذکر شوې، او په بعض کښې دى ﴿ فكانت تغتسل لكل صلوة ﴾ يعنى هغې به خپله غسل لکل صلوة کولو ګويا رسول الله ﷺ هغې ته ددې حکم نه وو فرمائيلې، د باب د اکثرو رواياتو مدار په زهرى باندې دې، او د زهرى نه روايت کونکى د هغوى ډير شاګردان دى پس د ټولو نه اول حديث کښې د هغوى شاګرد عمرو بن الحارث وو، په دويم حديث کښې يونس وو، په دريم کښې ليث بن سعد دې او په يو روايت کښې ابن ابى ذئب دې دا ټول روايات هم په دې باب کښې ذکر شوى دى په دې کښې په يو کښې هم غسل لکل صلوة مرفوعا مذکور نه دې او جمهور علماء کرام هم د مستحاضه دپاره د غسل لکل صلوة قائل نه دى

د جمهورو د طرف نه د حديث الغسل لکل صلوة جوابات او په هغې کښې د مصنف رحمه الله رائې

خو يو روايت په دې باب کښې په طريق د ابن اسحق عن الزهرى دې په هغې کښې غسل لکل صلوة مرفوعا ذکر شوې دې، لهذا دې روايت ته د جمهورو د مسلک خلاف وئيلې کيدې شى، جواب دا دې چه په اصل کښې دا حديث يو دې چه دهغې طرق مختلف دى اکثر راويانو غسل لکل صلوة مرفوعا نه دې ذکر کړې صرف د ابن اسحاق په طريق کښې دى او هغه متکلم فيه دې او که دا روايت صحيح هم اومنلې شى نو دا په استحباب او علاج باندې محمول دې، او د امام طحاوى رحمه الله رائې د نسخ ده، دا څه چه مونږ اووئيل دا د جمهورو د طرف نه دى، خو د مصنف رحمه الله رائې دا ده چه حديث الغسل لکل صلوة مرفوعا ثابت دې لکه چه د ابن اسحق په روايت کښې دى، او بيا وړاندې تلو سره مصنف رحمه الله ددې تائيد هم پيش کوى.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْهُ ﴾ دا د ابن اسحق د روايت تائيد دې خو په دې کښې اشکال دا دې (١) چه د ابن اسحق روايت بلکه د باب ټول روايات کوم چه د ام حبيبة رضي الله عنها په قصه کښې دي او دا روايت کوم چه تاسو په تائيد کښې پيش کوئ، د زينب بنت جحش رضي الله عنها په قصه کښې دی، او دويمه خبره دا ده چه ددې روايت په باره کښې مصنف رحمه الله خپله فرمائي چه ما دا روايت د ابو الوليد طيالسي نه نۀ دې اوريدلې. لهٰذا دا روايت خو منقطع شو، په حديث منقطع سره به څۀ تائيد راشي.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ عَبْدُ الصَّمَدِ........ وَهَذَا وَهَمٌ مِنْ عَبْدِ الصَّمَدِ ﴾ ددې حاصل دا دې چه مصنف رحمه الله چه کوم روايت اوس په تائيد کښې پيش کړې وو هغې لره د سليمان نه روايت کونکې ابو الوليد وو، په دې کښې خو بيشکه غسل لکل صلوة مذکور دې خو هم هغه روايت د سليمان نه عبد الصمد هم روايت کوی او هغوی په ځائې د غسل لکل صلوة، وضوء لکل صلوة ذکر کړې دې په دې سره د مصنف رحمه الله تائيد ختم شو، په دې وجه مصنف رحمه الله ددې جواب دا ورکوی چه د عبد الصمد روايت وهم دې او د ابو الوليد روايت صحيح دې، خو بيهقي وائي لکه چه په بذل کښې دی چه د ابو الوليد روايت هم غير محفوظ دې.

[٢٩٣] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنِ الْحُسَيْنِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: أَخْبَرَتْنِي زَيْنَبُ بِنْتُ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدَّمَ وَكَانَتْ تَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهَا أَنْ تَغْتَسِلَ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَتُصَلِّي"، وَأَخْبَرَنِي أَنَّ أُمَّ بَكْرٍ، أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَائِشَةَ، قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِي الْمَرْأَةِ تَرَى مَا يُرِيبُهَا بَعْدَ الطُّهْرِ: إِنَّمَا هِيَ، أَوْ قَالَ: إِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ، أَوْ قَالَ: عُرُوقٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عَقِيلٍ الْأَمْرَانِ جَمِيعًا، وَقَالَ: إِنْ قَوِيتِ فَاغْتَسِلِي لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَإِلَّا فَاجْمَعِي، كَمَا قَالَ الْقَاسِمُ فِي حَدِيثِهِ: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْقَوْلُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا.

ترجمه: د ابو سلمة نه روايت دې هغه وائي چه خبر راکړې دی ماته زينب بنت ابي سلمة، بيشکه يوه زنانه وه چه وينه ئې تويوله، او وه په نکاح د عبد الرحمن بن عوف کښې، بيشکه رسول الله ﷺ هغې ته امر اوکړو چه غسل اوکړي په وخت د هر مانځه کښې او مونځ اوکړي. او خبر راکړې دی ماته ام بکر بيشکه عائشې وئيلي دی: يقيناً رسول الله ﷺ اووئيل په باره د زنانه کښې چه ويني هغه څه چه هغه په شک کښې اچوي وروسته د ماسپخين نه: بيشکه هغه رګ دی. او يا هغه اووئيل: رګونه دي. وئيلې دي ابوداود: او په حديث ابن عقيل کښې دواړه کارونه دي، او هغه وفرمايل: که ستا طاقت وي نو غسل اوکړه د هر مانځه دپاره، او که داسې نه وي نو جمع کوه لکه څنګه چه وئيلي دي قاسم په

---

(١) د مصنف رحمه الله د طرف نه ددې توجيه دا کيدې شي چه د مصنف رحمه الله غرض د طريق ابن اسحق تقويت مقصود نه دې، بلکه د نفس مسئلې په حيثيت سره د غسل لکل صلوة دپاره يو بل حديث په طور د شاهد پيش کوي. هذا ما عندي)

(٢): تفرد به أبو داود: (تحفة الأشراف: ١٧٩٧٦، ١٥٨٨٦) (صحيح)

خپل حدیث کښې، او په تحقیق سره روایت شوی دی ددې قول د سعید بن جبیر نه او هغه د علي نه او هغه ابن عباس رضي الله عنهما نه.

تشریح: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عَقِيلٍ الْأَمْرَانِ جَمِيعًا ﴾ مصنف رحمه الله دا خبره کوی چه ددې باب په روایاتو کښې صرف غسل لکل صلوة مذکور دې خو د ابن عقیل په حدیث کښې دوه څیزونه مذکور دی غسل لکل صلوة او جمع بین الصلوتین بغسل دا مخکښې مونږ سره تیر شوي دی چه د اکثرو شارحینو رائې دا ده چه د مصنف رحمه الله مراد په حدیث د ابن عقیل سره هم هغه حدیث د حمنة دې چه په هغې کښې ﴿ سامرک بامرین ﴾ مذکور دې خو په دې کښې اشکال دا دې چه په حدیث د حمنة کښې خو صرف جمع بین الصلوتین بغسل مذکور دې غسل لکل صلوة مصرح نه دې حضرت شیخ رحمه الله فرمائی ممکنه ده د مصنف رحمه الله مراد په دې سره چرته بل حدیث وی چه په هغې کښې دواړه حکمونه صراحة ذکر وی. والله تعالی اعلم.

بَابُ مَنْ قَالَ تَجْمَعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ وَتَغْتَسِلُ لَهُمَا غُسْلًا

باب دې په بیان د هغه چا کښې چه جمع کوي به دوه مونځونه او غسل به کوي دواړو لپاره یو غسل

[٢٩٣]([1]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: اسْتُحِيضَتِ امْرَأَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَأُمِرَتْ أَنْ تُعَجِّلَ الْعَصْرَ وَتُؤَخِّرَ الظُّهْرَ وَتَغْتَسِلَ لَهُمَا غُسْلًا، وَأَنْ تُؤَخِّرَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلَ الْعِشَاءَ وَتَغْتَسِلَ لَهُمَا غُسْلًا، وَتَغْتَسِلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ غُسْلًا"، فَقُلْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ: أَعَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې هغې وئیلی دی: حائضه شوه یوه ښځه په زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې نو امر ورته اوشو چه رامخکې کړي مازیګر او وروسته کړي ماسپخین او غسل اوکړي دواړو لپاره یو غسل، او وروسته کړي ماښام او رامخکې کړي ماسخوتن او غسل اوکړي دواړو لپاره یو غسل، او غسل اوکړي د صباح مونځ لپاره یو غسل نو ما تپوس اوکړو د عبد الرحمن نه چې دا نبي صلی الله علیه وسلم نه مروی دی، هغه اووئیل: زه حدیث نه بیانوم تاته مګر د نبي صلی الله علیه وسلم نه

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ – قوله قَالَتِ اسْتُحِيضَتِ امْرَأَةٌ ﴾ دا سهله بنت سهیل رضي الله عنها هم کیدې شي چه دهغې ذکر په وړاندې روایت کښې راروان دې او حمنة بنت جحش هم، بهر حال رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته د جمع بین الصلوتین بغسل حکم اوفرمائیلو.

جمع بین الصلوتین بغسل والا روایات باندې د عمل دپاره د مسلک احناف پیش نظر توجیه

خان پوهه کړه چه په جمع بین الصلوتین والا روایات باندې د عمل کولو دپاره د جمهورو د مسلک پیش نظر خو هیڅ اشکال نشته ځکه چه د هغوی په نزد جمع حقیقی جائز ده لکه چه د احنافو په نزد په سفر کښې نه جمع حقیقی نه هلته جائز ده او نه دلته، اوس که

[1]: سنن النسائي/الطهارة ١٣٦ (٢١٤)، والحيض ٥ (٣٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٩٥)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ٨٢ (٧٩٨) (صحيح)

مونځ دا په جمع صوري باندې محمول کوو [1] نو د مستحاضه د معذور کيدو د وجې نه به د نقض وضوء بخروج الوقت اشکال وارديږي ځکه چه په خروج د وخت سره د معذور طهارت زائل شی ددې جواب شيخ عبدالحق محدث دهلوی په لمعات کښې دا ورکړې دې چه ممکنه دا چه داسې اووئيلې شی چه د عام معذورينو حکم خو هم دا دې چه د وخت خروج د هغوی په حق کښې ناقض دې خو ددې حديث په رڼا کښې د مستحاضې حکم ددې نه مستثنی دې (يعني اګر که زمونږ فقهاء کرامو ددې تصريح نه وی کړې) دويم جواب ددې دا کيدې شی چه هم ددې باب په آخری حديث کښې د يو لفظ زيادت راروان دې چه په هغې سره به انشاء الله د مسلک احناف نه اعتراض لرې شی هغه دا چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ وتوضاء فيما بين ذلک ﴾. اوس به په دې حديث باندې د عمل کولو شکل دا وی چه د ماسپخين په آخری وخت کښې به غسل کولو سره د ماسپخين مونځ اوکړی بيا چه کله د عصر وخت داخل شی نو اودس کولو سره دې د مازيګر مونځ اوکړی هم دغه شان دې په آخری وخت د مغرب کښې غسل اوکړی، بيا دې د دخول عشاء نه پس اودس کولو سره د ماسخوتن مونځ اوکړی ددې لفظ ﴿ توضاء فيما بين ذلک ﴾ شرح حضرت په بذل کښې هم دغه شان فرمائيلې ده او دا ئې هم ليکلې دی چه د معذور اودس د خروج وقت نه پس باقی نه پاتې کيږی.

خو واضحه دې وی چه ددې جملې دويمه معنی هم کيدې شی [2] چه ﴿ وتوضاء فيما بين ذلک ﴾ ای لاحداث اخری غير الاستحاضة يعني د استحاضه د وجې نه د ظهر او عصر د مانځه دپاره يو غسل کافی شو، په دې سره به هغه دواړه مونځونه أدا کوی خو که د وختونو ترمينځه د استحاضه نه علاوه بل څه حدث بيا اوموندلې شو نو دهغې دپاره به اودس کوی. پس د مالکيانو په نزد ددې جملې هم دا معنی متعين ده ځکه چه استحاضه د هغوی په نزد مطلقا ناقض نه ده، نه په وخت کښې دننه نه روستو، او شوافع چونکه په جمع بين الصلوتين کښې د جمع حقيقي قائل دی په دې وجه د هغوی په نزد خو به د خروج وخت اشکال بالکل نه وی پس هغوی به د خپل مسلک د وجې نه د ﴿ وتوضاء فيما بين ذلک ﴾ دا معنی اخلی ای للفرض اخر يعني يو غسل خو د ظهر او عصر دپاره کافی شو اوس که مستحاضه په دې دوران کښې د يو بل فرض مونځ قضاء کول غواړی نو دهغې دپاره دې اودس اوکړی ځکه چه د شوافعو په نزد د معذور په حق کښې وضوء لکل صلوة واجب دی

د مثل اول او د مثل ثانی سره متعلق د مولانا انور شاه صاحب رحمه الله مخصوص رائې

[1] په داسې طريقه چه په آخر وخت د ظهر کښې مونځ اوکړی او بيا د مازيګر د وخت شروع کيدو په اول وخت کښې د مازيګر مونځ هم په دې غسل سره اوکړی، اوس ښکاره ده چه څنګه په خروج د وخت سره د معذور اودس مات شی هم دغه شان به دا غسل هم ماتيږی، لهذا د مازيګر مونځ به بغير د طهارت نه وی.

[2] خو ظاهره دا ده چه ددې دويمې معنی د مراد کولو په صورت کښې به په احنافو باندې د راتلونکی اشکال دپاره دا حديث رافع نه وی فتامل.

د مولانا انور شاه صاحبﷺ يو بيله رائې ده هغوی فرمائي چه مختلف روايات حديثيه لره کتلو سره زما رائې دا قائم شوې ده چه د زوال نه واخله تر مثل اول پورې خالص د ظهر وخت دې او د مثل ثاني نه تر غروب پورې خالص وخت د عصر دې، او د مثل اول او ثاني ترمينځه په معذورينو کښې لکه چه د مستحاضې او مسافر په حق کښې دواړه پکار راتلې شي ګويا دا درميانه وخت د معذورينو په حق کښې دې دا وخت مشترک بين الظهر والعصر اومنلې شي. او هم دغه شان د مغرب آخري وخت او د عشاء اول وخت يعني شفق ابيض کوم چه د جمهورو په نزد خو د عشاء وخت دې او د امام صاحبﷺ په نزد د مغرب. هغه دې هم مشترک اومنلې شي.

﴿ قوله فَقُلْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– فَقَالَ لاَ أُحَدِّثُكَ الا عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم ﴾ دلته په دې عبارت کښې د کتاب نسخې مختلف دی، د بذل په نسخه کښې بل شان دی، په هغې کښې بغير د استثناء نه داسې دی ﴿ لاَ أُحَدِّثُكَ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– بِشَيْءٍ ﴾ او د بذل په نسخه کښې اقرب الى القياس دا معلوميږي ځکه چه دلته په وراندې عبارت کښې ﴿ بشئ ﴾ راروان دې، ﴿ الا ﴾ په دې صورت کښې ددې جوړ نه معلوميږي، بهر حال تشريح ددې مقام دا ده چه پورته په روايت کښې راغلې دی ﴿ فامرت ﴾ په دې کښې ددې خبرې تصريح نشته چه دې زنانه ته دا حکم د چا د طرف نه ورکړې شوې وو نو په دې باره کښې شعبه د خپل استاذ عبدالرحمن نه تپوس کوی چه آيا دا امر د رسول اللهﷺ د طرف نه وو؟ په دې باندې هغوی دا جواب ورکړو، د ﴿ الا ﴾ په صورت کښې مطلب ښکاره دې يعني زه تاته حديث نه بيانوم مګر د رسول اللهﷺ، دا امر هم د هغوی د طرف نه وو، او بغير د الا نه لکه چه په بله نسخه کښې دی، د عبارت دوه مطلبونه کيدې شي، يو دا چه زه ددې امر نسبت صراحةً د رسول اللهﷺ طرف ته نه شم کولې ځکه چه دا روايت هم دغه شان بغير د تصريح نسبت نه ماته رارسيدلې دې، نو اوس که رسول اللهﷺ مراد وی نو هم زه د خپل طرف نه نسبت کول خلاف احتياط دی، دويم مطلب ددې هغه کيدې شی کوم چه حضرت په بذل کښې اختيار فرمائيلې دې چه دلته استفهام انکاری مقدر دې او مطلب دا دې چه آيا زه تاسو ته د رسول اللهﷺ څه حديث نه بيانوم يعنی دا هم د رسول اللهﷺ نه مروی دې، چه کله استفهام انکاری مقدر اومنلې شو نو نفی د نفی سره يوځائې کيدو باندې اثبات شو.

[۲۹۵]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ سَهْلَةَ بِنْتَ سُهَيْلٍ اسْتُحِيضَتْ، فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَأَمَرَهَا أَنْ تَغْتَسِلَ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، فَلَمَّا جَهَدَهَا ذَلِكَ، أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِغُسْلٍ، وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِغُسْلٍ، وَتَغْتَسِلَ لِلصُّبْحِ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ امْرَأَةً اسْتُحِيضَتْ، فَسَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهَا بِمَعْنَاهُ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٥٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٩/٦، ١٣٩) (ضعيف)

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روايت دې، بيشکه سهلة بنت سُهيل مستحاضه شوه نو راغله نبي ﷺ ته نو هغه ورته امر اوکړو چه غسل اوکړه د هر مانځه په وخت کښې. هرکله چه ورته دا ګرانه پريوته، نو امريې ورته اوکړو چه جمع کړي په مابين د ماسپخين او مازيګر کښې په يو غسل سره، ماښام او ماسخوتن په يو غسل سره، او غسل اوکړي د صباح د مانځه دپاره. وئيلی دي ابوداود: او نقل کړي دی ابن عيينة د عبد الرحمن بن مقسم نه او هغه د خپل پلار نه، بيشکه يوه ښځه مستحاضه شوه نو تپوس ئي اوکړو د رسول الله ﷺ نه نو امريې ورته اوکړو په معنی د هغې سره.

[۲۹۶]() حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ سُهَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي صَالِحٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ اسْتُحِيضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ تُصَلِّ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سُبْحَانَ اللهِ، إِنَّ هَذَا مِنَ الشَّيْطَانِ، لِتَجْلِسْ فِي مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفْرَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْفَجْرِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَتَوَضَّأُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مُجَاهِدٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ، أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ إِبْرَاهِيمُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهُوَ قَوْلُ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ شَدَّادٍ.

ترجمه: د اسماء بنت عميس نه روايت دې هغې وئيلی دي: ما اووئيل: اې د الله رسوله! بيشکه فاطمة بنت ابي حبيش مستحاضه شوه (د فلاني فلاني وخت نه)، هغې مونځ نه دی کړي، نو اووئيل رسول الله ﷺ: سبحان الله، بيشکه دا د شيطان نه دی، هغه دې کېني په يو لګن کښې کله چه هغې اوليدلو زيړوالی د اوبو دپاسه نو غسل دې اوکړي د ماسپخين او مازيګر لپاره يو غسل، او غسل دې اوکړي د ماښام او د ماسخوتن لپاره يو غسل، او غسل دې اوکړي د سحر لپاره يو غسل، او اودس به کوي په مابين د دې کښې. وئيلی دي ابوداود: نقل کړي دی مجاهد د ابن عباس نه: هرکله چه ګران شو په هغې باندې غسل نو امر ئې ورته اوکړو چه جمع کړي په مابين د دوه مونځونو کښې. وئيلی دي ابو داود: او نقل کړي دی ابراهيم د ابن عباس نه او دا قول د ابراهيم نخعي او د عبد الله بن شداد دی.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ – قوله إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ اسْتُحِيضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا ﴾ په بذل کښې د کذا وکذا تعين په سبع سنين سره کړې شوې دې، او هم دغه شان صاحب منهل هم ليکلې دی او هغوی پرې زياتی دا هم ليکلې دی کما تقدم خو په دې باندې اشکال دا دې چه ددې نه مخکښې چه په کتاب کښې سبع سنين راغلي دي هغه د فاطمې ﷞ په باره کښې نه دي بلکه د ام حبيبة ﷞ په سلسله کښې دي او ملا علی قاري ﷫ په شرح د مشکوة کښې ددې تفسير په شهر سره کړې دې او هم دا صحيح هم معلوميږی ځکه چه د طحاوي په يو روايت کښې دی فاطمه ﷞ فرمائي ﴿ احيض الشهر والشهرين ﴾ چه ماته به تر دوه دوه مياشتو پورې استحاضه راتله

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٦٠) (صحيح)

د حديث په تشريح کښې متعدد اقوال :

﴿ قوله لِتَجْلِسْ فِي مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفْرَةً فَوْقَ الْمَاءِ ﴾ ددې جملې شارحينو مختلف شرحې کړې دی، په بذل کښې ددې معنی دا ليکلې ده چه په اصل کښې هغې ته د اوبو په لوښي کښې د ناستې حکم علاجا وو چه د اوبو په يخوالی سره د دننه په حرارت کښې کمې واقع شی چه په هغې سره به وينه کښې کمې واقع شی چه کله دهغې په ناسته ناسته هغې کښې زيات وخت اوشی، تردې چه د اوبو رنګ بدل شی نو اوس چونکه د طبيعت په هغې کښې په ناسته باندې کراهت محسوسيږی او هسې هم هغه اوبه ناپاکې شوې دی لهذا هغې له پکار دی چه ددې لوښي نه جدا کيدلو سره د نجاست دم د زائله کولو دپاره په پاکو اوبو باندې غسل کولو سره د ظهر او عصر مونځ اوکړی او صاحب منهل او صاحب عون المعبود دا په معرفة لون باندې محمول کړې دې چه دا زنانه مميزه وه او مطلب ئې دا ليکلې دې چه په لوښي کښې کيناستلو چه ترڅو پورې په اوبو باندې د حيضه وينه ښکاره کيږی د هغه وخته پورې خو دې مونځونه نهٔ شروع کوی ځکه چه دا د حيض زمانه ده او کله چه په دې لون کښې تغير راشی او په ځائې د حمرة صفرة پيدا شی کوم چه د استحاضه رنګ دې نو ددې ورځې نه دې غسل کولو سره مونځ شروع کړی، او ددې جملې دريمه معنی هغه ده کومه چه په مرقاة کښې ملا علی قاری رحمه الله ليکلې ده چه په دې سره مقصود د وخت معرفت دې او د صفرة نه مراد صفرة شمس دې نه صفرة دم ځکه چه په دې زنانه باندې د ظهر په آخری وخت کښې غسل کول دی يعنی په داسې وخت کښې چه څنګه هم د ماسپخين مونځ اوکړی نو د عصر وخت شروع شی دا د هغه غسل وخت وتيلې شوې دې چه په داسې وخت کښې دې غسل اوکړی، فيا للعجب د يوې جملې څومره معانی دی، الله پاک دې دې شراح حديث ته جزاء خير ورکړی چه دې حضراتو د خدمت حديث او شرح حديث حق ادا کړو بلکه دا چه په دې سره د رسول الله ﷺ د خولې مبارکې نه د وتلو الفاظو او کلماتو جامعيت هم ښکاره دې.

بَابُ مَنْ قَالَ تَغْتَسِلُ مِنْ طُهْرٍ إِلَى طُهْرٍ

باب دې په بيان د هغه چا کې چې قول کوي په غسل باندې د يو ماسپخين نه تر بل ماسپخين پورې

يعنی يو غسل کوم چه په ابتداء دغسل کښې کړې شوې وو هغه د طهر د انتهاء پورې کافی دې لکه چه د جمهورو مسلک دې ددې نه مخکښې چه څومره ابواب قائم کړې شوې وو هغه د تعدد د غسل وو.

د مصنف رحمه الله د قائم کړې شوې ابوابو ترتيب :

مصنف رحمه الله اول د غسل لکل صلوة باب اوتړلو د کوم چه مصنف رحمه الله خپله قائل دې دهغې نه پس ئې د جمع بين الصلوتين بغسل باب اوتړلو چه دهغې بعض علماء کرام قائل دی او دا باب د غسل واحد دې چه دهغې ائمه اربعه قائل دی دا وړاندې ذکر شوه چه د ائمه اربعه په نزد صرف يو ځل غسل کول دی بيا ددې نه پس د احنافو او حنابلة په نزد لوقت کل صلوة اودس واجب دې او د شوافعو په نزد لکل صلوة.

خان پوهه کړه چه مصنف رحمه الله ددې باب په ټولو رواياتو باندې کلام کړې دې داسې معلومیږی چه مصنف رحمه الله د غسل مرة ثم الوضوء لكل صلوة د رواياتو په تضعيف پسې دې حال دا چه دا د جمهورو مسلک دې، خو مصنف رحمه الله خو د فن امام دې د هغوی مخې ته خو صرف د روايت تحقيق کول دی.

د غسل مستحاضه په باره کښې ائمة اربعة د موقف تائيد د صحيحينو د روايت نه :

خان پوهه کړه چه غسل لكل صلوة يا جمع بين الصلوتين بغسل مرفوعا د صحيحينو نه په يو روايت کښې هم ثابت نه دې امام بخاری رحمه الله د استحاضه په سلسله کښې په بخاری شریف کښې صرف يو روايت ذكر كړې دې کوم چه د فاطمة بنت ابی حبیش رضی الله عنها په باره کښې دې او اتفاق سره په هغې کښې يو خل هم غسل نه دې خو ظاهره دا ده چه يو خل غسل کول خو مجمع عليه دې او امام مسلم رحمه الله په دې سلسله کښې دوه احاديث ذكر كړې دی، يو هغه کوم چه د فاطمې رضی الله عنها په قصه کښې دې کوم چه هغوی په دوه طرقو سره ذكر كړې دې، دويم هغه کوم چه د أم حبيبة په قصه کښې دې دا هغوی په متعدد طرقو سره ذكر كړې دې چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ هغوی ته يو خل د غسل حکم ورکړې وو خو راوی وائی ﴿ فكانت تغتسل عند كل صلوة ﴾ دا د هغوی خپل فعل وو د رسول الله ﷺ د طرف نه نه وو، حاصل دا چه په صحيحين کښې د مستحاضه په حق کښې د تعدد غسل هيڅ روايت هم مرفوعا نه دې، په دې سره د ائمة اربعه د مذهب مضبوطی معلومیږی. امام نووی رحمه الله هم په شرح د مسلم کښې هم دا خبره ليکلې ده کومه چه مونږ کړې ده، بلکه دا چه هغوی فرمائی ﴿وَأَمَّا الْأَحَادِيثُ الْوَارِدَةُ فِي سُنَنِ أَبِي دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيِّ وَغَيْرِهِمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهَا بِالْغُسْلِ، فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ ثَابِتٌ، وَقَدْ بَيَّنَ الْبَيْهَقِيُّ وَمَنْ قَبْلَهُ ضَعْفَهَا ﴾ او امام نووی رحمه الله ليکي جمهور علماء سلفا وخلفا او د ائمه اربعه په نزد په مستحاضه باندې صرف يو خل غسل واجب دې، او ابن عمر او ابن الزبير اوعطاء بن ابی رباح رحمه الله نه روايت دې چه غسل لكل صلوة واجب دې، او د عائشې رضی الله عنها نه روايت دې چه هره ورځ يو خل غسل واجب دې، او د ابن المسيب او حسن بصری رحمه الله په نزد روزانه يو خل د ماسپخين په وخت، او علی او ابن عباس رضی الله عنهما نه دواړه روايتونه دی غسل د مرة واحدة او غسل لكل صلوة دی

[٢٩٧]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتُصَلِّي، وَالْوُضُوءُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: زَادَ عُثْمَانُ: وَتَصُومُ وَتُصَلِّي.

ترجمه: عدي بن ثابت د خپل پلار نه روايت کوي او پلار ئې د خپل پلار نه کوي، او هغه د نبي ﷺ نه، په باره د مستحاضه کښې پريږدي به مونځ په ورځو د حيضونو خپلو کښې بيا به غسل کوي او مونځ به کوي، او اودس به کوي د هر مانځه په وخت کښې. ونیلی دي

( ): سنن الترمذي/الطهارة ٩٤ (١٢٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٥ (٦٢٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٣ (٨٢٠)، (تحفة الأشراف: ٣٥٤٢) (صحيح)

ابوداود: زیادت کړی دی عثمان چه روژه به نیسي او مونځ به کوي.

تشریح: ۱: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ – قوله عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ﴾ د عدی د نیکه نوم عبدالله بن یزید الخطمی دې یعنی د مور پلار ئې دې هسې خو د هغوی په نوم کښې اختلاف دې د حافظ په نزد راجح قول هم دا دی، په دې حدیث کښې غسل مرة مذکور دې خو دا حدیث ضعیف دی ځکه چه ابو الیقظان راوی متکلم فیه دې دا روایت تعلیقا هم په دې سند سره په ابواب استحاضه کښې د تولو نه مخکښې باب کښې د تعلیقاتو د لاندې تیر شوې دې.

[۲۹۸]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ خَبَرَهَا، وَقَالَ: "ثُمَّ اغْتَسِلِي، ثُمَّ تَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلَاةٍ وَصَلِّي".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې هغې وئیلی دی: راغله فاطمة بنت ابي حبیش نبي ﷺ ته نو ذکرې کړو خپل حال، او هغه وفرمایل: بیا غسل اوکړه، بیا اودس اوکړه د هر مانځه لپاره او مونځ اوکړه.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ – قوله عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ عَنْ عُرْوَةَ ﴾ دا هم هغه روایت دې چه دهغې حواله مصنف رحمه الله په باب الوضوء من القبلة کښې ورکړې وه، هلته مصنف رحمه الله د یحیی بن سعید دا مقوله نقل کړې ده چه دا حدیث شبه لاشئ دې ددې وجه هلته دا تیره شوې ده چه دا عروة عروة بن الزبیر نه دې بلکه عروة المزنی دې کوم چه بالاتفاق مجهول دې ددې عروه تفصیلی بحث هلته تیر شوې دې، خو دلته حضرت په بذل کښې هغوی ته عروة بن الزبیر وئیلی دې او صاحب منهل په دې کښې اختلاف او دواړه اقوال لیکلی دی.

[۲۹۹]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ الْقَطَّانُ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ أَبِي مِسْكِينٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ، عَنْ عَائِشَةَ، "فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَغْتَسِلُ تَعْنِي مَرَّةً وَاحِدَةً، ثُمَّ تَوَضَّأُ إِلَى أَيَّامِ أَقْرَائِهَا".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی: په مستحاضه کښې چه غسل به کوي، مطلب ئې دی یو ځل، بیا به اودس کوي تر زمانې د حیض پورې.

[۳۰۰]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ الْقَطَّانُ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ، عَنْ أَيُّوبَ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنِ ابْنِ شُبْرُمَةَ، عَنِ امْرَأَةِ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، وَالْأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبٍ، وَأَيُّوبَ أَبِي الْعَلَاءِ، كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ لَا تَصِحُّ، وَدَلَّ عَلَى ضُعْفِ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبٍ، هَذَا الْحَدِيثُ أَوْقَفَهُ حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، وَأَنْكَرَ حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ أَنْ يَكُونَ حَدِيثُ حَبِيبٍ مَرْفُوعًا، وَأَوْقَفَهُ أَيْضًا أَسْبَاطٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، مَوْقُوفٌ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ ابْنُ دَاوُدَ عَنِ الْأَعْمَشِ مَرْفُوعًا أَوَّلُهُ، وَأَنْكَرَ أَنْ يَكُونَ فِيهِ الْوُضُوءُ

[۱]: سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۱۵ (۶۲۵)، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۷۲) (صحیح)
[۲]: تفرد به أبو داود، سنن الدارمي/الطهارة ۸۴ (۸۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۵۸ و ۱۷۹۸۹) (صحیح)
[۳]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۵۸، و۱۷۹۸۹) (صحیح)

عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، وَدَلَّ عَلَى ضُعْفِ حَدِيثِ حَبِيبٍ هَذَا، أَنَّ رِوَايَةَ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، فِي حَدِيثِ الْمُسْتَحَاضَةِ، وَرَوَى أَبُو الْيَقْظَانِ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ رضی الله عنه وَعَمَّارٍ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَرَوَى عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ، وَالْمُغِيرَةُ، وَفِرَاسٌ، وَمُجَالِدٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ حَدِيثِ قَمِيرَ، عَنْ عَائِشَةَ، تَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَرِوَايَةُ دَاوُدَ وَعَاصِمٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ قَمِيرَ عَنْ عَائِشَةَ، تَغْتَسِلُ كُلَّ يَوْمٍ مَرَّةً، وَرَوَى هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، الْمُسْتَحَاضَةُ تَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَهَذِهِ الْأَحَادِيثُ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ، إِلَّا حَدِيثَ قَمِيرَ، وَحَدِيثَ عَمَّارٍ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، وَحَدِيثَ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ رحمه الله عَنْ أَبِيهِ، وَالْمَعْرُوفُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: الْغُسْلُ.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها روايت کوي د نبي ﷺ نه په مثل د هغې. ونيلى دي ابوداود. او حديث د عدي بن ثابت او اعمش د حبيب نه او د ايوب نه چه ابو العلاء دى ټول ضعيف دي صحيح نه دي. او دليل دى په ضعف د حديث د اعمش باندې دا حديث موقوف کړى دى حفص بن غياث د اعمش نه. او منکر کړى دى حفص بن غياث چه شي دي حديث د حبيب مرفوع، دارنګه موقوف کړى دى اسباط د اعمش نه موقوف د عائشې نه، ونيلى دي ابوداود. او نقل کړى دى ابن داود د اعمش نه مرفوع اوله حصه، او منکر ئي ګنړلى دى په دې کښې اودس کول په وخت د هر مانځه کښې، او دليل دى په ضعف د حديث د حبيب باندې چه دا دى، بيشکه روايت د زهري د عروه نه او هغه د عائشې نه هغې ونيلى دى. وه چه غسل به ئي کولو د هر مانځه دپاره، په حديث د مستحاضه کښې، او روايت کړى دى ابو اليقظان د عدي بن ثابت نه او هغه د خپل پلار نه او هغه د علي رضی الله عنه او عمار نه چه مولى د بنو هاشم دى، او هغه د ابن عباس نه. او روايت کړى دى عبد الملک بن ميسرة او بيان او مغيره او فراس او مجالد د شعبي نه د حديث د قمير عن عائشة نه: چه اودس کوه د هر مانځه دپاره. او روايت داود او عاصم د شعبي نه عن قمير عن عائشة. چه غسل به کوي هره ورځ او روايت نقل کړى دى هشام بن عروة د خپل پلار نه. چه مستحاضه به اودس کوي د هر مانځه دپاره. او دا احاديث ټول ضعيف دي مګر حديث د قمير او حديث د عمار چه مولى د بنو هاشم دى، او حديث د هشام بن عروة د خپل پلار نه، او معروف د ابن عباس نه هغه غسل دى

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ – قوله عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ عَنْ عَائِشَةَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَغْتَسِلُ مَرَّةً وَاحِدَةً ﴾ د عائشې رضی الله عنها دا روايت موقوفا دى دى خبرې لره د هغوى نه روايت کونکې ام کلثوم رحمها الله ده ددې نه وړاندې حديث هم د عائشې رضی الله عنها دې هغې لره نقل کونکې د مسروق امراة ده چه دهغې نوم قمير دې خو هغه حديث مرفوع دې، مضمون د دواړو يو دې غسل مرة واحدة ثم الوضوء لکل صلوة، ددې ځائې پورې د باب ټول څلور روايتونه شو،

١: حديث جد عدى، ٢: حديث عروة عن عائشة مرفوعا، ٣: حديث ام کلثوم عن عائشة موقوفا،

٤: حديث قمير عن عائشة مرفوعا.

د مصنف رحمه الله دطرف نه د احاديث الباب تضعيف:

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَحَدِيثُ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ وَالْأَعْمَشِ عَنْ حَبِيبٍ وَأَيُّوبَ أَبِي الْعَلَاءِ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ لَا تَصِحُّ ﴾ د آخرى دواړو احاديثو په سند کښې ايوب ذکر شوى دې لهذا د حديث ايوب نه آخرى دواړه احاديث مراد دى ګويا مصنف رحمه الله په څلورو واړو احاديثو باندې د ضعف حکم نافذ کړو.

﴿ وَدَلَّ عَلَى ضَعْفِ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ عَنْ حَبِيبٍ ﴾ ددې ځائي نه مصنف ﷫ د خپل تضعيف دعوى ښکاره کول غواړي، خو اول د رومبى حديث په ځائي د حديث ثانى ضعف بيانوى په ظاهره کښې ددې وجه دا ده چه د حديث اول ضعيف کيدل دليل ته زيات محتاج نه وو په خلاف ددې دويم حديث، مصنف ﷫ ددې د ضعف دوه دليلونه پيش کړى دى اول دليل دا چه ددې حديث مدار په اعمش باندې دې او د اعمش په شاګردانو کښې اختلاف دې، وکيع دا د هغوى نه مرفوعا نقل کوى او حفص بن غياث او اسباط دا دواړه موقوفا ګويا په حديث کښې رفعا و وقفا اضطراب پيدا شوې دې او حديث مضطرب ضعيف دې.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَاهُ ابْنُ دَاوُدَ عَنِ الْأَعْمَشِ مَرْفُوعًا أَوَّلَهُ ﴾ دا دفع د دخل مقدر ده هغه دا چه چا اووئيل چه تاسو وئيلې وو چه دا روايت مرفوعا صرف وکيع روايت کوى او موقوفا روايت کونکى دوه سړى دى ګويا موقوفا نقل کونکو کښې تعدد دې. معترض وائي مرفوعا نقل کونکى هم دوه دى يو وکيع دويم ابن داؤد [1]

مصنف ﷫ ددې جواب ورکوى هغه دا چه ابن داؤد بيشکه دا د اعمش نه مرفوعا نقل کړې دې خو ددې حديث صرف اول جزء يعنى غسل مرة او د حديث جزء ثانى يعنى وضوء لکل صلوة چه په اصل کښې زمونږ مطمطع نظر ده دا هغوى مطلقا نه ده ذکر کړې نه مرفوعا او نه موقوفا، لهذا د ابوداؤد روايت کان لم يکن شو.

د حديث ثانى د ضعف دويم دليل :

﴿ وَدَلَّ عَلَى ضَعْفِ حَدِيثِ حَبِيبٍ هَذَا أَنَّ رِوَايَةَ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ الخ ﴾ د حديث حبيب نه مراد هم هغه حديث الاعمش عن حبيب دې په کوم باندې چه بحث شروع دې، ددې ځائي نه مصنف ﷫ د هغه د تضعيف دويم دليل بيان فرمائى، ددې حاصل دا دې چه په دى حديث کښې حبيب د امام زهرى ﷫ مخالفت کړې دې ځکه چه حبيب او زهرى دواړه دا حديث د عروة نه روايت کوى، حبيب خو د هغوى نه غسل مرة ثم الوضوء لکل صلوة روايت کړې دې او زهرى د هغوى نه غسل لکل صلوة نقل کړې دې، او زهرى د حبيب نه زيات اوچت راوى دې، لهذا اوس د اودس لکل صلوة والا روايت د ضعف دوه دليلونه شو خو دليل ثانى حضرت په بذل کښې د خطابى د کلام نه رد کړې دې چه وضوء لکل صلوة اول خو د جمهورو فقهاء کرامو مسلک دې دويم دا چه دا د زهرى په روايت سره د حبيب د روايت ترديد نه کيږى او نه په هغه دواړه روايتونو کښې څه تخالف دې ځکه چه د زهرى په روايت کښې د وضوء لکل صلوة په ځائي غسل لکل صلوة چه کوم مذکور دې هغه مرفوعا نه دې بلکه هغه منسوب دې د زنانه د فعل طرف ته پس په هغې کښې دى ﴿ فكانت تغتسل لكل صلوة ﴾ دا نشته چه رسول الله ﷺ هغوى ته د غسل لکل صلوة امر فرمائيلې وو.

فائده : ځان پوهه کړه چه حضرت په بذل کښې دا حديث عروة عن عائشة کښې د وضوء لکل صلوة مرفوعا روايت کيدل د حديث بخارى نه ثابت کړې دى اګرچه دهغې

[1] حضرت ليکلي دى د ابن داؤد روايت په دارقطنى کښې دې.

مرفوع كيدل په بخاري كښې د لفظ روايت په اعتبار سره منصوص او صريح نه دى خو د حافظ رائې هم دا ده چه دا مرفوع دې، په دې باندې تفصيلي كلام مونږ په الفيض السمائي كښې كړې دې هغه دې اوكتلې شي.

﴿ وَرَوَى أَبُو الْيَقْظَانِ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ الخ ﴾ اوسه پورې خبره شروع وه د باب د حديث ثاني د تضعيف چه دهغې مصنف رحمه الله دوه دلائل بيان كړل اوس ددې ځائې نه مصنف رحمه الله په ظاهر كښې د حديث اول د ضعف د دليل طرف ته اشاره كوي هغه داسې چه د ابوالیقظان په روايت كښې اضطراب موندلې كيږي، پس هغوى اول سند داسې بيان كړې وو ﴿عن عدى بن ثابت عن ابيه عن جده ﴾ او دلته وائي ﴿عن عدى بن ثابت عن ابيه عن علي ﴾ او دا اضطراب في السند د ضعف علامت دې.

﴿ وَرَوَى عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ الخ ﴾ په ظاهر كښې ددې ځائې نه مصنف رحمه الله د څلورم حديث د ضعف دليل بيانوى هغه داسې چه په شروع كښې د امراة مسروق يعني قمير عن عائشة چه كوم روايت مرفوعا ذكر شوې دې او دلته د هغوى دا روايت كوم چه د قمير نه شعبي روايت كوي موقوفا دې او هم په دې سره د دريم حديث ام كلثوم عن عائشة هم تضعيف راوخي څكه چه په دې سند كښې لاندې راوى ايوب ابوالعلاء دې كوم چه د دريم او څلورم حديث دواړو په سندونو كښې مشترك دې، ددې نه معلومه شوه چه ايوب كله يو شان روايت كوي او كله بل شان، لهذا په دې اضطراب سره دواړه روايتونه متاثر شو.

﴿ وَرِوَايَةُ دَاوُدَ وَعَاصِمٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ ﴾ په دې سره مصنف رحمه الله مزيد اختلاف ثابتوى هغه داسې چه حديث قمير كوم چه په طريق د شعبي دې په هغې كښې اكثر راويانو وضوء لكل صلوة ذكر كړې دې او داؤد او عاصم د شعبي نه په دې حديث كښې په ځائې د وضوء لكل صلوة غسل كل يوم ذكر كړې دې.

﴿ قوله وَرَوَى هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ ﴾ مصنف رحمه الله چونكه د وضوء لكل صلوة د رواياتو په تضعيف پسې دې په دې سلسله كښې هغه فرمائي چه دا وضوء لكل صلوة په بعض طرقو سره خو د هغوى د عائشې رضي الله عنها نه مرفوعا كيدل ثابتيږي او په بعضو سره موقوفا په عائشې رضي الله عنها باندې، او د بعض نه موقوفا په عروة باندې.

﴿ وَهَذِهِ الأَحَادِيثُ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ ﴾ ځان پوهه كړه چه مصنف رحمه الله په دې باب كښې ټول نهه روايات ذكر كړې دى چه په هغې كښې درې مرفوع دى، ١: حديث جد عدى، ٢: حديث عروة عن عائشه، ٣: حديث قمير عن عائشه او شپږ روايات موقوفه ___ ١: اثر ام كلثوم عن عائشه، ٢: اثر علي، ٣: اثر عمار عن ابن عباس، ٤: اثر قمير عن عائشة (اول): چه په هغې كښې وضوء لكل صلوة دې، ٥: اثر قمير عن عائشة (ثاني): چه په هغې كښې غسل كل يوم مرة دې، ٦: اثر عروة رحمه الله، مصنف علام په شورع كښې احاديث مرفوعه ثلاثه او اثر ام كلثوم د څلورو واړو د ذكر كولو نه پس په هغې باندې د ضعف حكم لګولې دې دهغې نه پس ئې پنځه آثار نور ذكر كړې دى، اوس په آخر كښې بيا

فرمائی ﴿ وَهَذِهِ الْأَحَادِيثُ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ ﴾ په دې كښې تاسو ته اختيار دې كه غواړې نو د هذه الاحاديث نه ټول روايات تسعة مراد كړه او كه غواړې نو آخرى پنځه روايات، ځكه چه د څلورو رومبو روايتونو تضعيف خو ئې په شروع كښې كړې هم دې، خو وړاندې تلو سره مصنف رحمه الله په دې نهو روايتونو كښې د دريو استثناء كړې ده چه هغه ضعيف نه دى، ١. اثر د قمير عن عائشة اول، ٢. اثر عمار عن ابن عباس، ٣. اثر عروة، بيا مصنف رحمه الله فرمائى وَالْمَعْرُوفُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الْغُسْلُ، لهذا په دې دريو كښې يو بيا ساقط شو، اوس د ضعف د حكم نه صرف د دوه روايتونو ضعف باقى پاتې شو، باقى ټول ضعيف دى، الحمد لله په دې باب باندې كلام پوره شو.

هذا الباب عندى من اصعب الابواب:

دا باب په اعتبار د حل عبارات كتاب و بيان غرض مصنف زما په نزد مشكل ترين دې، حضرت رحمه الله په بذل كښې ددې باب په حل كولو كښې هيڅ كمې نه دې پريخودلې، فجزاه الله تعالى احسن الجزاء، بحمد الله احقر ته د صحيح بخارى نه علاوه د صحاح د ټولو كتابونو د تدريس موقع ملاؤ شوه، زما په خيال كښې مجموعى حيثيت سره سنن ابوداؤد په هغه ټولو كتابونو كښې د ټولو نه زيات اهم او دقيق دې.

بَابُ مَنْ قَالَ الْمُسْتَحَاضَةُ تَغْتَسِلُ مَنْ طُهْرٍ إِلَى طُهْرٍ

باب دې په بيان د هغه چا كې چې قول كوي چې مستحاضه په غسل كوي د ماسپخين نه تر بل ماسپخين پورې

[٣٠١] حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ، أَنَّ الْقَعْقَاعَ، وَزَيْدَ بْنَ أَسْلَمَ أَرْسَلَاهُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ يَسْأَلُهُ كَيْفَ تَغْتَسِلُ الْمُسْتَحَاضَةُ؟ فَقَالَ "تَغْتَسِلُ مِنْ ظُهْرٍ إِلَى ظُهْرٍ، وَتَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، فَإِنْ غَلَبَهَا الدَّمُ اسْتَثْفَرَتْ بِثَوْبٍ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، تَغْتَسِلُ مِنْ ظُهْرٍ إِلَى ظُهْرٍ، وَكَذَلِكَ رَوَى دَاوُدُ، وَعَاصِمٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ امْرَأَتِهِ، عَنْ قَمِيرَ، عَنْ عَائِشَةَ، إِلَّا أَنَّ دَاوُدَ، قَالَ: كُلَّ يَوْمٍ، وَفِي حَدِيثِ عَاصِمٍ، عِنْدَ الظُّهْرِ، وَهُوَ قَوْلُ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَالْحَسَنِ، وَعَطَاءٍ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ مَالِكٌ: إِنِّي لَأَظُنُّ حَدِيثَ ابْنِ الْمُسَيِّبِ مِنْ طُهْرٍ إِلَى طُهْرٍ، فَقَلَبَهَا النَّاسُ مِنْ ظُهْرٍ إِلَى ظُهْرٍ، وَلَكِنَّ الْوَهْمَ دَخَلَ فِيهِ، وَرَوَاهُ الْمِسْوَرُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، قَالَ فِيهِ: مِنْ طُهْرٍ إِلَى طُهْرٍ، فَقَلَبَهَا النَّاسُ مِنْ ظُهْرٍ إِلَى ظُهْرٍ.[1]

ترجمه: د سعيد بن المسيب نه تپوس اوشو چه مستحاضه به څنګه غسل كوي؟ نو هغه اووئيل: غسل به كوي د يو ماسپخين نه تر بل ماسپخينه پورې، او اودس به كوي د هر مانځه دپاره، كه چېرته پرې وينه غالب وه نو د وينې په ځاى كښې به څه كپړه كېدي. وئيلى دي ابوداود: او روايت نقل شوى دى د ابن عمر او انس بن مالك نه: چه غسل به كوي د ماسپخين نه تر ماسپخين پورې، او همدارنګه روايت نقل كړې دى داود او عاصم د شعبي نه او هغه د خپلې ښځې نه، او هغې د قمير نه او هغه د عائشې نه: مګر داود وئيلى

[1] موطا امام مالك بالطهارة ٢٩ (١٠٧)، أخرجه: سنن الدارمي بالطهارة ٨٤ (٨٣٧) (صحيح)

دي. وئيلی دي مالک: بيشکه زه گمان کوم حديث د ابن المسيب د يو ماسپخين نه تر بل ماسپخين پورې. بيشکه دا (طهر الی طهر) دی. ليکن وهم داخل شوی دی په دې کښې، نو خلکو مقلوب کړو نو وئي وئيل (من ظهر الی ظهر) او روايت کړی دی مسور بن عبد الملک بن سعيد بن عبد الرحمن بن يربوع، هغه وئيلی دي په دې کې (من طهر الی طهر) خلقو مقلوب کړو (من ظهر الی ظهر) ته.

تشريح: دا دواړه ظهر په ظاء معجمه سره دی يعنی روزانه يو ځل د ماسپخين غسل کول په دې باب کښې مصنفﷺ هيڅ حديث مرفوع نه دې ذکر کړی بلکه په شروع کښې د سعيد بن المسيب يو روايت دې او دهغې نه پس د بعض صحابه کرامﷺ آثار تعليقا دی. د مستحاضې دپاره روزانه په وخت د ظهر غسل کول موثر سره د تير باب په شروع کښې د امام نووی نه تير شوی دی چه دا د حسن بصری او سعيد بن المسيبﷺ نه منقول دی.

﴿ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ امْرَأَةٍ عَنْ قَمِيرَ ﴾ او په بعض نسخو کښې دی ﴿ عَنِ امْرَأَتِهِ عَنْ قَمِيرَ ﴾ دا دويمه نسخه خو بالکل غلطه ده ځکه چه ددې مطلب به دا وی چه شعبی روايت کوی د خپلې ښځې نه او د خپلې ښځې قمير نه حال دا چه شعبی خو براه راست د قمير نه روايت کوی لکه چه اوس نزدې ددې نه مخکښې باب کښې تير شو. او اول نسخه هم صحيح نه ده ځکه چه ددې مطلب دا دې چه شعبی د يوې زنانه نه روايت کوی او هغه قمير ده. او ددې نسخې د صحت يو شکل ممکن دې هغه دا چه ﴿ عن قمير ﴾ د ﴿ عن امراة ﴾ نه بدل اومنلې شی. أصل خبره دا ده چه دا لفظ دلته کيدل نه وو پکار. صحيح ﴿ عن الشعبی عن قمير ﴾ دی يا دې بيا داسې وی چه ﴿ عن الشعبی عن امراة مسروق ﴾ او دا امرة مسروق قمير ده لکه چه د باب په شروع کښې تير شو.

په دې رواياتو کښې د ظهر د وخت تخصيص په ظاهره کښې په دې وجه دې چه په اصل کښې دا د غسل حکم علاجا دې. د برودت د پيدا کولو دپاره او د ظهر وخت چونکه د حرارت وی په دې وجه هم دا زيات مناسب دې.

﴿ قوله قَالَ مَالِكٌ إِنِّي لَأَظُنُّ الخ ﴾ د امام مالکﷺ رائې دا ده چه د سعيد بن المسيب روايت چه په هغې کښې ﴿ من ظهر الی ظهر ﴾ دې وهم دې صحيح ﴿ من طهر الی طهر ﴾ دې. د يوې نقطې د زيادت د وجې نه د څه نه څه جوړ شو ځکه چه د نقطې والا روايت حاصل دا دې چه روزانه يو ځل غسل کوی او د حذف نقطه والا روايت مقتضی دا ده چه په پوره مياشت کښې صرف يو ځل غسل اوکړی. د امام مالکﷺ په دې رائې باندې امام خطابیﷺ د خوشحالئ نه تو پونه جوړ کړل او وې وئيل ﴿ ما احسن ما قال مالک وما اشبهه بما ظنه من ذلک ﴾ يعنی امام مالکﷺ څه خبره کړې ده او څه صحيح گمان دې د هغوی. خو د حضرت ددې رائې سره اتفاق نشته ځکه حضرت فرمائی چه سعيد بن المسيب دا اثر په سنن دارمی کښې په متعددو طرقو او مختلفو الفاظو سره مروی دې د هغې نه هم دا معلوميږی چه طهر نه دې بلکه ظهر دې (په ظاء منقوطه سره) ځکه چه په دې يو روايت کښې داسې دی ﴿تغتسل کل يوم عند الصلوة الاولی ﴾ او صلوة اولی ظهر ته وائی والله تعالی اعلم بالصواب

بَابُ مَنْ قَالَ تَغْتَسِلُ كُلَّ يَوْمٍ مَرَّةً وَلَمْ يَقُلْ عِنْدَ الظُّهْرِ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې وايي غسل به کوي هره ورځ يو ځل او نه يې دي ويلي په وخت د ماسپخين کښې

دمستحاضه يوځل غسل کول دا دعلي او ابن عباس رضي الله عنهما نه په يو روايت کښې دي کما تقدم.

[۳۰۲]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي إِسْمَاعِيلَ وَهُوَ مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ عَنْ مَعْقِلٍ الْخَثْعَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: "الْمُسْتَحَاضَةُ إِذَا انْقَضَى حَيْضُهَا، اغْتَسَلَتْ كُلَّ يَوْمٍ وَاتَّخَذَتْ صُوفَةً فِيهَا سَمْنٌ أَوْزَيْتٌ".

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي مستحاضه چه کله پوره شي حيض دهغې غسل به کوي هره ورځ او ږدې به ورې، چه په هغې کښې به غوړي وي او يا تيل

تشريح: ﴿ قوله وَاتَّخَذَتْ صُوفَةً فِيهَا سَمْنٌ أَوْ زَيْتٌ ﴾ دا د تدبير او علاج په طور ښودلې شي چه يو کپړه د زيتونو تيل وغيره کښې لوندولو سره په مخصوص مقام باندې کيږدی څکه چه دا په صلابة عروق کوم چه د سيلان دم سبب دې هغې لره لرې کولو سره په عروق کښې نرمي پيدا کوي.

بَابُ مَنْ قَالَ تَغْتَسِلُ بَيْنَ الْأَيَّامِ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې وئيلي يې دي غسل به کوي په مابين د ورځو کښې

[۳۰۳]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُثْمَانَ، أَنَّهُ سَأَلَ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ عَنِ الْمُسْتَحَاضَةِ، فَقَالَ: "تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلُ فَتُصَلِّي، ثُمَّ تَغْتَسِلُ فِي الْأَيَّامِ".

ترجمه: د محمد بن عثمان نه روايت دې، بيشکه هغه سوال اوکړو د قاسم بن محمد نه، په باره د مستحاضه کښې نو هغه اووئيل: پريږدې به مونځ په ورځو د حيض دهغې کښې، بيا به غسل کوي او مونځ به کوي، بيا به غسل کوي په ورځو کښې.

تشريح: يعني مستحاضه يو ځل غسل خو دې عند انقطاع الحيض اوکړی او بيا يو ځل دوباره وجوبا د طهر په زمانه کښې اوکړی دا د قاسم بن محمد قول دې چه په هغې کښې هغوی متفرد دی د جمهورو په نزد صرف يو ځل غسل واجب دې ددې نه زائد مستحب دې

بَابُ مَنْ قَالَ تَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې وايي اودس به کوي د هر مانځه دپاره

[۳۰۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ، أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَإِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ، فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ، فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي"، قَالَ أَبُو

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۸۲) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۰۵) (صحيح)
[3]: انظر حديث رقم: ۲۸۱، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۱۹) (حسن)

داؤد: قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: وَحَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ حِفْظًا، فَقَالَ: عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ فَاطِمَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَشُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، قَالَ الْعَلَاءُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْقَفَهُ شُعْبَةُ عَلَى أَبِي جَعْفَرٍ: تَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه: د فاطمة بنت ابي جبيش نه روايت دې، بيشكه هغه مستحاضه كېده نو اوونيل هغې ته نبي ﷺ كله چه وي وينه د حيض نو دا وينه ده توره پيژندل كيږي، كله چه وي دا نو بنده شه د مانځه نه، كله چه هغه بله وي نو اودس كوه او مونځ كوه. وئيلي دي ابوداود: وئيلي دي ابن المثنى، او حديث بيان كړى دى موږ ته په دې سره ابن ابي عدي د حفظ نه، هغه اوونيل د عروه نه او هغه د عائشې نه بيشكه فاطمة. وئيلي دي ابوداود: او روايت نقل دى دعلاء بن المسيب او شعبه نه دوى د حكم نه، اوهغه د ابي جعفر نه، وئيلي دي علاء د نبي ﷺ نه، او موقوف كړى دى شعبه په ابي جعفر باندې، اودس اوكړه د هر مانځه دپاره

تشريح: د مستحاضه دپاره وضوء لكل صلوة يعني هر فرض مونځ دپاره د غسل كول مستقل اودس كول اگر كه په وخت كښې دننه وى دا د شوافعو مسلک دې د مصنف ﷺ غرض هم دغه مذهب لره بيانول دى، ددې باب په حديث باندې كلام او دهغې شرح په باب اذا اقبلت الحيضة كښې تير شوي دي

بَابُ مَنْ لَمْ يَذْكُرِ الْوُضُوءَ إِلَّا عِنْدَ الْحَدَثِ

باب دې په بيان دهغه چا كې چې د اودس قائل نه دى مگر په وخت دې اودسۍ كې

په ظاهره په دې ترجمه كښې د مالكيانو مسلک مذكور دې كوم چه وائي چه استحاضه اودس واجب كونكي نه دى مگر دا چه د استحاضه نه علاوه بل څه حدث بيا موندلې شي

[۳۰۸] (¹) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ اسْتُحِيضَتْ، "فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَنْتَظِرَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلَ وَتُصَلِّيَ، فَإِنْ رَأَتْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ تَوَضَّأَتْ وَصَلَّتْ".

ترجمه: د عكرمه نه روايت دې بيشكه ام حبيبة بنت جحش مستحاضه شوه، نو امر ورته اوكړو نبي ﷺ چه انتظار اوكړي ورځې د حيضونو د هغې، بيا بيا به غسل كوي او مونځ به كوي، كه چېرې ئې اوليدلو څه شى د دغې نه اودس به كوي او مونځ به كوي

[۳۰۹] (²) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ رَبِيعَةَ، "أَنَّهُ كَانَ لَا يَرَى عَلَى الْمُسْتَحَاضَةِ وُضُوءًا عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، إِلَّا أَنْ يُصِيبَهَا حَدَثٌ غَيْرُ الدَّمِ، فَتَوَضَّأُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا قَوْلُ مَالِكٍ يَعْنِي ابْنَ أَنَسٍ.

ترجمه: د ربيعه نه روايت دې، بې شكه هغه وو چه نه ئې ليدو په مستحاضه باندې اودس د هر مانځه لپاره مگر كه ورسيږي ورته بې اودسي بغير د وينې نه، نو اودس به كوي وئيلي دي ابوداود: دا قول د مالک دى مطلب ئې خوى د انس دى

(¹): انظر حديث رقم: ۲۸۷، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۲۱) (صحيح)
(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۶۳۶) (صحيح)

تشريح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ – قوله فَإِنْ رَأَتْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ ﴾ ای نواقض الوضوء غير الاستحاضة يعنى ذلك نه مراد د استحاضه نه علاوه نور نواقض وضوء دى، مطلب دا دې چه مستحاضه عند انقطاع الحيض يو ځل غسل كولو سره هم په دې غسل سره دې مونځونه كوى څومره چه غواړى د خروج وخت نه پس هم ترڅو چه د استحاضه نه علاوه بل څه حدث اومونډلې شى او هم دا مذهب بعينه د مالكيانو دې، دې مطلب لره اختلو سره دا حديث د جمهورو خلاف كيږى لهذا دا به اووئيلې شى چه په ذلک سره اشاره د استحاضې طرف ته ده او مطلب دا دې چه ترڅو پورې د استحاضه سلسله قائم وى مستحاضه دې اودس كولو سره مونځونه كوى د يو ځل نه زيات غسل ته حاجت نشته. اوس دا اودس كول عام دى كه د هر مانځه دپاره وى لكه د شوافعو په نزد، او كه لوقت كل صلوة وى كما عند الحنفية.

﴿ قوله عَنْ رَبِيعَةَ أَنَّهُ كَانَ لاَ يَرَى عَلَى الْمُسْتَحَاضَةِ وُضُوءًا ﴾ ربيعه شيخ مالک او خپله امام مالکﷺ د دواړو مسلک يو دې چه مستحاضې ته د استحاض د وجې نه د اودس حاجت نشته نه په وخت كښې دننه او نه پس د خروج وخت نه، او د احنافو په نزد د وخت د دخول په وخت اګرچه د اودس حاجت نشته خو د خروج وخت نه پس اودس ضرورى دې، د ربيعه او د احنافو د مسلک ترمينځه هم دا فرق دې، په بذل كښې حضرت قول ربيعه په دې باندې محمول كړې دې چه په داخل د وخت كښې حاجت نشته بيا هم په دې وجه حضرت په دې باندې ليكلې دى چه هم دا مذهب د احنافو هم دې، نبه عليه شيخنا ايضا فى هامش البذل.

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تَرَى الْكُدْرَةَ وَالصُّفْرَةَ بَعْدَ الطُّهْرِ

باب دې په بيان د ښځه كې چې ويني خړوالى او زيړوالى وروسته د پاكوالى نه

يعنى كومه زنانه چې صفرة او كدرة دا دواړه رنګونه اووينى د حصول طهر يعنى د حيض د مودې د تيريدلو نه پس، كدرة نه مراد هغه رنګ دې چه مشابه وى د ماء مكدر يعنى خړ اوبو سره چه په هغې كښې ګردوغباروغيره ګډ شى، د مصنفﷺ دا ترجمه بلفظ الحديث ده.

[٣٠٧](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أُمِّ الْهُذَيْلِ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ وَكَانَتْ بَايَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "كُنَّا لاَ نَعُدُّ الْكُدْرَةَ وَالصُّفْرَةَ بَعْدَ الطُّهْرِ شَيْئًا".

ترجمه: د ام عطية نه روايت دې او دا وه چه بيعت كړى وو د رسول اللهﷺ سره، هغه وائى: وومونږ چه مونږ نه شمارلو خړوالى او زيړوالى وروسته د طهر نه هيڅ شى.

[٣٠٨](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، بِمِثْلِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أُمُّ الْهُذَيْلِ هِيَ حَفْصَةُ بِنْتُ سِيرِينَ، كَانَ ابْنُهَا اسْمُهُ هُذَيْلٌ وَاسْمُ زَوْجِهَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٣٢) وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ٢٥ (٣٢٥)، سنن النسائي/الحيض ٧ (٣٦٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٧ (٦٤٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٩٣ (٩٠٠) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الحيض ٢٦ (٣٢٦)، سنن النسائي/الحيض ٧ (٣٦٨)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٧ (٦٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٩٣) (صحيح)

ترجمه: د ام عطیة نه روایت دې په مثل د هغه حدیث. وئیلی دي ابوداود: ام الهذیل هغه حفصة بنت سیرین ده وو خوی دهغې چه نوم ئې هذیل وو، او نوم د خاوند دهغې عبد الرحمن وو.

مسئلة الباب کښې مذاهب علماء او د هغوی دلائل:

دا مسئله مختلف فیه ده، په دې کښې د علماء کرامو درې اقوال دی، د جمهورو علماء کرامو چه په هغوی کښې احنافو هم دی، مسلک دا دې چه زنانه که صفرة او کدرة که په موده د حیض کښې اوینې نو هغه حیض دې کینې استحاضه. او هم دا مصنف رحمه الله په ترجمة الباب کښې هم وائی لهذا دا ترجمة د مسلک جمهور موافق شوه، دویم قول د ابن حزم ظاهری رحمه الله دې چه دا دواړه رنګونه مطلقا استحاضه ده اګر که په موده د حیض کښې دننه اووینې، دریم قول دا دې کوم چه د امام مالک رحمه الله یو روایت دې چه صفرة او کدرة مطلقا حیض دې که په عادت کښې ئې دننه وینې یا دهغې د پوره کیدو نه پس، او دویم روایت د امام مالک رحمه الله د جمهورو په مثل دې، دلته یو څلورم قول هغه دې کوم چه په احنافو کښې د امام ابویوسف رحمه الله نه مروی دې چه کدرة حیض دې په دې شرط چه په شروع کښې اثر دم (اسود یا احمر) اووینې کینې صرف یو رطوبت دې چه دهغې څه اعتبار نشته.

د جمهورو دلیل د ابوداؤد حدیث الباب دې، د ابن حزم دلیل هم دا حدیث الباب یعنی حدیث د ام عطیه رضی الله عنها دې خو په روایت د بخاری او نسائی، څکه چه په هغوی دواړو کښې ددې روایت الفاظو کښې ﴿ بعد الطهر ﴾ مذکور نه دې بس داسې دی ﴿ کنا لا نعد الکدرة والصفرة شیئا ﴾ په دې وجه امام نسائی رحمه الله په دې باندې ترجمه هم مطلق قائم کړې ده، د جمهورو د طرف نه ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه د ابوداؤد په روایت کښې د بعد الطهر زیادت موجود دې هم په دې وجه امام ابوداؤد رحمه الله په ترجمه الباب کښې دا قید ذکر فرمائیلې دې او هم دغه شان امام بخاری رحمه الله هم په بخاری کښې ترجمة الباب د ابوداؤد د روایت مطابق د بعد الطهر د قید سره قائم کړې دې، لهذا ابن حزم دپاره اوس دهغې نه د استدلال ګنجائش پاتې نه شو، او د دریم قول دلیل د بخاری هغه مشهور حدیث دې چه په هغې کښې عائشه رضی الله عنها فرمائی ﴿ لا تعجلن حتی ترین القصة البیضا ﴾ چونکه په ظاهره کښې ددې حدیث عائشه رضی الله عنها نه د صفرة او کدرة مطلقا حیض کیدل ثابتیږی د حیض د مودې قید نشته، ددې جواب هم د ام عطیه رضی الله عنها د حدیث نه پخپله راوتلو چه حدیث د عائشې رضی الله عنها حدیث به محمول کولې شی په زمانه د حیض باندې، لهذا اوس د حدیث عائشه، او حدیث ام عطیه دواړو په یو ځائې کولو سره حاصل دا شو چه صفرة او کدرة حیض دی مخکښې د طهر یعنی په زمانې د حیض کښې او استحاضه ده پس د طهر یعنی غیر ایام حیض کښ.

خان پوهه کړه چه دا د اختلاف مذاهب بیان خو کلی طور باندې وو، بیا وراندې په دې کښې نور هم تفصیل دې هغه دا چه د زنانه دپاره د صفرة او کدرة په حیض کښې د لیدو دوه صورتونه دی یو دا چه دا لیدل د عادت نه متجاوز کیدو سره اکثر به حیض باندې راتلو سره منقطع شی دویم دا چه په اکثره موده باندې منقطع نه شی بلکه دهغې نه هم

متجاوز شي، د احنافو په نزد په اول صورت کښې ټول حيض دي او په صورت ثانيه کښې ما زاد على العادة استحاضه ده او هم دا قول د شوافعو هم دي خو فرق دا دي چه زمونږ په نزد اکثر موده د حيض لس ورځې ده او د هغوی په نزد پنځلس ورځې دي، او دويم قول د شوافعو دا دي چه صفرة او کدرة په ايامو د عادت کښې خو حيض دي او ما زاد على العادة مطلقا استحاضه ده.

بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ يَغْشَاهَا زَوْجُهَا

باب دی چې مستحاضې سره کوروالی کوي خاوند د هغې

[۳۰۹]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُسْهِرٍ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: "كَانَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ تُسْتَحَاضُ فَكَانَ زَوْجُهَا يَغْشَاهَا". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: مُعَلًّى ثِقَةٌ، وَكَانَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لَا يَرْوِي عَنْهُ، لِأَنَّهُ كَانَ يَنْظُرُ فِي الرَّأْيِ.

ترجمه: د عکرمه نه روايت دي هغه اووئيل: وه ام حبيبة چه مستحاضه کېده وو خاوند دهغې چه کوروالی ئې ورسره کولو. وئيلی دي ابوداود: او وئيلی دي يحيى بن معين: معلى ثقه دی، او وو احمد بن حنبل چه روايت ئې نه کولو د هغه نه ځکه هغه وو چه نظر به ئې رای ته کوو.

[۳۱۰]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَهْمِ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ، "أَنَّهَا كَانَتْ مُسْتَحَاضَةً وَكَانَ زَوْجُهَا يُجَامِعُهَا".

ترجمه: د حمنة بنت جحش نه روايت دی: بيشکه هغه وه چه مستحاضه کېده او وو خاوند دهغې چه کوروالی به ئې کولو دهغې سره.

تشريح: وطی د مستحاضې د جمهورو په نزد جائز ده او د يو جماعت په نزد ناجائز ده چه په هغې کښې ابراهيم نخعی هم دي او هم دا يو روايت د امام احمدرحمه الله دي، او د ابن سيرين نه کراهت منقول دي.

مصنفرحمه الله په دې باب کښې هيڅ حديث مرفوع نه دي ذکر کړې بلکه اثر عکرمهرحمه الله ئې ذکر کړو هغه دا چه ام حبيبةرضي الله عنها سره به دهغې خاوند او حمنةرضي الله عنها سره به دهغې خاوند په حالت د استحاضه کښې وطی کوله، د ام حبيبةرضي الله عنها خاوند عبدالرحمن بن عوف دیرضي الله عنه او د حمنة بنت جحش خاوند طلحة بن عبيداللهرضي الله عنه دي، په دې مسئله کښې د فعل صحابی نه استدلال په دې طريقه دي چه دا دواړه جليل القدر صحابه کرامو کوم چه د عشره مبشره نه دی په دې فعل باندې د رسول اللهﷺ د اجازت نه بغير جرات نه شي کولې، خصوصا هر کله چه د حائض د نزديکت نه ممانعت هم راغلې دي، دويم خبره دا ده چه د منع دپاره د دليل حاجت دي او په دې سلسله کښې د رسول اللهﷺ نه هيڅ نهی نه ده ثابت خو حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې ليکلې دی چه په دې سلسله کښې بعض روايات په جمع الفوائد

(): أنظر حديث رقم (۳۰۵)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۲۱) (صحيح)
(): أنظر حديث رقم (۳۰۵)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۲۱) (حسن)

کښې موجود دی. ( )

بَابُ مَا جَاءَ فِي وَقْتِ النُّفَسَاءِ

باب دې په بیان د هغې کښې چې راغلی دی په وقت د نفاس کښې

په اقل موده د نفاس کښې د ائمه اربعه په نزد هیڅ تحدید نشته. په اکثره موده کښې اختلاف دې، د احنافو او حنابله په نزد څلویښت ورځې ده او د امام شافعي رحمه الله او مالک رحمه الله په نزد شپیته ورځې ده، او په یو روایت کښې د امام شافعي رحمه الله نه سبعون یوما مروی دې او امام ترمذي رحمه الله د امام شافعي رحمه الله مسلک هم دا لیکلې دې کوم چه د احنافو او حنابله دې خو په کتب شافعیه کښې ستون یوما مذکور دې

[۳۱]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، أَخْبَرَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ أَبِي سَهْلٍ، عَنْ مُسَّةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَتِ النُّفَسَاءُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقْعُدُ بَعْدَ نِفَاسِهَا أَرْبَعِينَ يَوْمًا، أَوْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً، وَكُنَّا نَطْلِي عَلَى وُجُوهِنَا الْوَرْسَ تَعْنِي مِنَ الْكَلَفِ".

ترجمه: د ام سلمة نه روایت دې هغې وئیلی دی: وه نفاسه په زمانه د رسول الله ﷺ کښې چه کېناستله وروسته د نفاس نه څلوېښت ورځې (او یا څلوېښت شپې) او وو مونږ چه مونږ به لړل به مو مخونه خپل په ورس باندې. مطلب ئې دادی چه د ورو دانو د وجې نه

[۳۲]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ يَحْيَى، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ يَعْنِي حِبِّي، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زِيَادٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي الْأَزْدِيَّةُ يَعْنِي مُسَّةَ، قَالَتْ: حَجَجْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ، فَقُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، إِنَّ سَمُرَةَ بْنَ جُنْدُبٍ يَأْمُرُ النِّسَاءَ يَقْضِينَ صَلَاةَ الْمَحِيضِ، فَقَالَتْ: "لَا يَقْضِينَ، كَانَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقْعُدُ فِي النِّفَاسِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً، لَا يَأْمُرُهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَضَاءِ صَلَاةِ النِّفَاسِ". قَالَ مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ حَاتِمٍ: وَاسْمُهَا مُسَّةُ تُكْنَى أُمَّ بُسَّةَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: كَثِيرُ بْنُ زِيَادٍ كُنْيَتُهُ أَبُو سَهْلٍ.

ترجمه: کثیر بن زیاد نه روایت دی هغه وائی حدیث بیان کړی دی ماته ازدیه یعني مسه، هغې وئیلی دی: حج اوکړو ما نو زه داخله شوم په ام سلمة نو ما اووئیل: اې ام المؤمنین! بیشکه سمرة بن جندب امر کوي ښځو ته چه قضائې به راوړي د مونځ د حیض، نو هغې اووئیل: قضایې به نه راوړي، وه به زنانه د بیبیانو د نبي ﷺ نه چه کېناستله به په نفاس کښې څلویښت شپې امر به ورته نبي ﷺ نه کولو په قضایې د مونځ د نفاس. وئیلی دي محمد یعني ابن حاتم، نوم دهغې مسة وو چه کنیه ئې ام بسة وه، وئیلی دي ابوداود: د

---

[1] په جمع الفوائد کښې ددې سلسله دواړه قسم روایات دی د جواز هم او د عدم جواز هم مونږ د هغوی عبارت بعینه نقل کوو. (عائشه) قالت المستحاضة لا یاتیها زوجها، للدارمي (وله) بلین عن ابراهیم قال کان یقال المستحاضة لا تجامع ولا تصوم ولا تمس المصحف انما رخص لها في الصلوة، وقال یزید یجامعه زوجها ویحل لها ما یحل للطاهرة (وله) عن ابن جبیر وقد سئل اتجامع مع المستحاضة فقال الصلوة اعظم من الجماع ددې نه پس ئې په دې کښې د ابوداود په حوالې سره اثر د عکرمه ذکر کړې دی، د ام حبیبة او حمنة رضي الله عنهما په باره کښې.

[2]: سنن الترمذي/الطهارة ۱۰۵ (۱۳۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۲۸ (۶۴۸) (تحفة الأشراف: ۱۸۲۸۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۳۰۰، ۳۰۳، ۳۰۴، ۳۱۰) (حسن صحیح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۸۸) (حسن)

كثير بن زياد كنيه ابو سهل وه

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ – قوله كَانَتِ النُّفَسَاءُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– تَقْعُدُ بَعْدَ نِفَاسِهَا أَرْبَعِينَ يَوْمًا ﴾ ددې نه معلومه شوه چه اكثره موده د نفاس څلويښت ورځې ده لكه چه د احنافو او حنابله مذهب دې او د صحابي قول ﴿ كنا نفعل كذا في زمن رسول الله ﷺ ﴾ بالاتفاق د حديث مرفوع په حكم كښې دې[1] كما في كتب الاصول او دلته خو داحديث يو بل لحاظ سره هم مرفوع دې هغه په دې وجه چه د صحابيه مراد دا دې چه نفساء د رسول الله ﷺ د طرف نه په دې خبره باندې مامور وې چه څلويښت ورځې د ناستې مطلب دا نه دې چه كيناستلې به او مراد په دې وجه دې چه حديث كه په ظاهر باندې كيخودلې شي نو د حديث مضمون به خلاف واقع وې ځكه چه دا مستبعد ده چه د يوې زمانې ټولې زنانه دې په نفاس كښې متحد شي يقينا دې په ټولو باندې څلويښت ورځې نفاس راشي يقينا په دې كښې د عادت په اعتبار سره زنانه مختلف وې، كذا في البذل عن الشوكاني، او هم دا خبره شيخ ابن الهمام په فتح القدير كښې هم ليكلې ده خو زه وائم چه دا لوئې لوئې حضرات خو هم دا ليكي خو د مضمون د خلاف واقع كيدو خبره ددې احقر په فهم كښې نه راځي ځكه چه په دې حديث كښې مراد دا دې چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې به نفساء زيات نه زيات څلويښت ورځې كيناستلې په دې كښې خو هيڅ هم اشكال نشته. او كه دلته امر مقدر اومنلې شي نو بيا به هم دا مطلب اخستلې كيږي چه نفساء د رسول الله ﷺ د طرف نه مامور وې ددې خبرې چه زيات نه زيات به څلويښت ورځې كينې، او كه دا مطلب واخستلې شي چه څلويښت ورځې به كيناستلې يا هر نفساء د څلويښتو ورځو دناستې مامور وې نو بيا به په دواړو صورتونو كښې اشكال وى

فائده: مصنف ﷫ د نفاس د مودې په باره كښې خو ترجمة قائم كړې ده خو د حيض د مودې په باره كښې ئې هيڅ ترجمه نه ده قائم كړې او نه ئې دهغې څه حديث ذكر كړې دې په ظاهره ددې وجې نه چه په دې كښې يو حديث هم ثابت نه دې لكه چه د ابن العربي د كلام نه معلوميږي. (كذا في حاشية البذل)

﴿ قوله وَكُنَّا نَطْلِي[2] عَلَى وُجُوهِنَا الْوَرْسَ يَعْنِي مِنَ الْكَلَفِ ﴾ كلف يعني داغ او نخښې د زنانه په مخ باندې د ولادت د سختئ او تكليف وغيره د وجې نه څه نخښې پريوځى، ام سلمه ﵂ دې باره كښې وائي چه مونږ به ددې دپاره څه تدبير كولو چه ورس يو مشهوره گيا ده هغه به ميده كولو سره زنانو په مخ باندې مرله، چه په هغې سره به هغه نخښې پاكې شوې.

---

[1] او په دې سلسله كښې يو حديث په سنن ابن ماجه كښې مرفوع صريح هم دې ﴿ عن انس ان رسول الله ﷺ وقت للنفساء اربعين يوما الا ان ترى الطهر قبل ذلك ﴾

[2] دا د طلا يطلي مجرد نه هم كيدې شي او نطلي بتشديد الطاء د باب افتعال نه هم كيدې شي او دا دوه احتمالات علامه سندى (رح) په حاشيه د نسائي كښې د قول ابن عمر: لان اصبح مطليًا بقطران، لاندې ذكر كړې دى

۲: ﴿ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ يَحْيَى - قوله إِنَّ سَمُرَةَ بْنَ جُنْدُبٍ يَأْمُرُ النِّسَاءَ الخ ﴾ سیدنا سمره بن جندب ﷺ به غالبا په خپل قیاس او اجتهاد سره زنانو ته د حیض د زمانې د قضاء مونځونو حکم کولو. ام سلمه ﷺ ته چه کله دا معلومه شوه نو هغوی ددې تردید اوفرمائیلو او وې فرمائیل چه رسول الله ﷺ به د نفاس د زمانې د مونځونو د قضاء حکم نه فرمائیلو مطلب دا دې چه کله د نفاس د مونځونو د قضاء حکم نشته نو په زمانه د حیض کښې به د مونځونو د قضاء حکم په طریق اولی نه وی ځکه چه په دې کښې حرج زائد دې، ځکه چه حیض د نفاس په مقابله کښې ډیر زیات کثیر الوقوع دې، نو چه کله د دفع حرج دپاره هلته قضاء نشته نو دلته به په طریق اولی نه وی

بَابُ الاِغْتِسَالِ مِنَ الْحَيْضِ

باب دې په بیان د غسل کې د حیض نه

په دې باب سره مقصود د غسل حیض کیفیت لره بیانول دی لکه چه ددې نه مخکښې په شروع کښې د غسل جنابت کیفیت بیانول وو غسل که د جنابت دپاره وی یا د حیض دپاره د دواړو طریقه یوه ده خو د غسل حیض په باره کښې په روایاتو کښې بعض داسې څیزونه راځی چه دهغې تعلق خاص د حیض سره وی، مثلاً د فرصه ممسکه وغیره ذکر کوم چه په وراندې روایت کښې راځی په دې وجه دا بیل بیانولې شي

[۳۱۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ سُحَيْمٍ، عَنْ أُمَيَّةَ بِنْتِ أَبِي الصَّلْتِ، عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي غِفَارٍ قَدْ سَمَّاهَا لِي، قَالَتْ: أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حَقِيبَةِ رَحْلِهِ، قَالَتْ: فَوَاللَّهِ لَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصُّبْحِ فَأَنَاخَ وَنَزَلْتُ عَنْ حَقِيبَةِ رَحْلِهِ، فَإِذَا بِهَا دَمٌ مِنِّي، فَكَانَتْ أَوَّلَ حَيْضَةٍ حِضْتُهَا، قَالَتْ: فَتَقَبَّضْتُ إِلَى النَّاقَةِ وَاسْتَحْيَيْتُ، فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بِي وَرَأَى الدَّمَ، قَالَ: "مَا لَكِ؟ لَعَلَّكِ نَفِسْتِ"، قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: "فَأَصْلِحِي مِنْ نَفْسِكِ، ثُمَّ خُذِي إِنَاءً مِنْ مَاءٍ فَاطْرَحِي فِيهِ مِلْحًا ثُمَّ اغْسِلِي مَا أَصَابَ الْحَقِيبَةَ مِنَ الدَّمِ ثُمَّ عُودِي لِمَرْكَبِكِ"، قَالَتْ: فَلَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ رَضَخَ لَنَا مِنَ الْفَيْءِ، قَالَتْ: وَكَانَتْ لَا تَطَّهَّرُ مِنْ حَيْضَةٍ إِلَّا جَعَلَتْ فِي طَهُورِهَا مِلْحًا، وَأَوْصَتْ بِهِ أَنْ يُجْعَلَ فِي غُسْلِهَا حِينَ مَاتَتْ.

ترجمه: د امیة بنت ابي الصلت نه روایت دې، هغه روایت کوي د یوې ښځې د بني غفار نه چه هغه ماته مسمی کړه، هغې وئیلی دی: وروسته سوره کړم زه رسول الله ﷺ په هغه وروستني سر د پالان د سورلې د هغه، هغې اووئیل قسم په الله همېشه وو رسول الله ﷺ تر صباح پورې، نو هغه چو کړه او زه ځکته شوم د وروستي سر د سورلې نه، په هغې باندې وینه وه نو وو هغه اولنی حیض چه په هغې باندې حائضه شوم، هغې اووئیل نو ما ځان جوخت کړو اوښې ته او حیاء مې اوکړه، هر کله چه اولیدلو رسول الله ﷺ هغه څه چه په ما باندې وو نو وې وئیل څه دې تالره شاید ته حائضه شوې یې؟ ما اووئیل آو، هغه اووئیل اصلاح د خپل ځان اوکړه او بیا واخله یو لوښی د اوبو، واچوې په هغې کښې مالګه، بیا

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٠/٦) (ضعيف)

وړښخه هغه چه رسیدلی وی د پالان وروستني سرته د وینې نه.بیا واپس شه خپلې سورلی ته هغې اووئیل هر کله چه فتح کړو رسول الله ﷺ خیبر رایې کړو مونږ ته د مال فئ نه. هغې اووئیل او وه هغه چه نه به پاکیده د حیض نه مګر هغې به اچوله په اوبو کښې مالګه. او وصیت ئې اوکړو په دې باندې چه واچولی شې دهغې په غسل کښې کله چه مړه شي

مضمون حدیث

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ – قوله عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي غِفَارٍ الخ ﴾ وئیلې شوې دی چه دهغې نوم لیلې دې او دا د ابوذر غفاری رضی الله عنه ښځه ده. مضمون حدیث دا دې چه هغه د خپل څه سفر حال بیانوی غالبا دا سفر د غزوه خیبر دپاره وو. لکه چه د حدیث د آخرې نه معلومیږی هغه وائی چه په سفر کښې رسول الله ﷺ زه د خپل حقیبه رحل یعنی د پالان نه په شاته لړګی باندې ردیف جوړ کړم (دا قافله په کوم کښې چه رسول الله ﷺ هم وو توله شپه روانه وه. تردې چه) سحر یو منزل ته رسیدلو سره رسول الله ﷺ نزول اوفرمائیلو او زه د خپل خاڼې نه راکوزه شوم. نو ما اولیدل چه هلته د وینې داغ ښکاره کیږی او دا ماته په اول ځل حیض راغلې وو. هغه وائی چه زه دهغې په لیدو باندې د هغه خاڼې نه لرې شوم او اوشرمیدم، چه کله رسول الله ﷺ زما دا کیفیت اولیدو او په دې وینه باندې هم د هغوی نظر پریوتلو نو رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه پا تاباندې جوړې حیض راغلو ما عرض اوکړو او جی! نو هغوی اوفرمائیل خپله جامه برابر کړه چه د حیض وینه منتشر نه شی او بیا ئې اوفرمائیل چه لږې شان اوبه واخله په هغې کښې مالګه واچوه او حقیبه رحل په کومې چه وینه پرته ده هغه وینځه بیا خپلې سورلئ ته واپس شه، وړاندې راوی وائی چه ددې واقعې نه پس دهغې دا معمول وو چه کله به ئې هم د حیض نه غسل کولو نو په اوبو کښې به ئې مالګه اچوله. بلکه ددې ئې دومره اهتمام اوکړو چه وصیت ئې اوکړو چه د مرګ نه پس چه ماته غسل راکولې شی نو په هغه اوبو کښې دې هم مالګه واچولې شی

په دې حدیث کښې د غسل حیض څه خاص کیفیت نه دې مذکور معلومه نه ده چه مصنف رحمه الله هم دا روایت ولې ذکر کړو، [1] خو ددې حدیث نه یو مسئله معلومیږی یعنی د ماء مخلوط بشئ طاهر سره د غسل جواز، کوم چه په باب فی الجنب یغسل راسه بالخطمی کښې په تفصیل سره تیر شوې دی

﴿ قوله فَلَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– خَيْبَرَ الخ ﴾ رسول الله ﷺ به په غزواتو کښې کله کله زنانه هم ځان سره بوتلې خو دا بوتلل به د قتال دپاره نه وو بلکه د نورو خدماتو دپاره د مجروحینو د مرهم پټئ کولو او د خیال ساتلو دپاره، او داسې قسم زنانو ته به باقاعده د غنیمت حصه خو نه ورکړې کیده خو د انعام په طور باندې به څه معمولی څیز د مال غنیمت

---

[1] ممکنه ده چه مصنف رحمه الله ته ددې صحابیه رضی الله عنها دا کار ډیر خوښ شوې وی چه په حدیث باندې د عمل کولو ئې دومره اهتمام اوفرمائیلو رضي الله تعالى عنها ددې حدیث چه کومه مرفوع حصه ده په هغې کښې خو اغتسال د حائضې مذکور نه دې بلکه غسل دم حیض مذکور دې خو فعل د صحابیه رضی الله عنها د غسل حیض سره متعلق دې ۱۲)

نه ورکولي شو کوم ته چه رضخ وائي. د فئ نه مراد دلته مال غنيمت دي. هسې خو مشهوره دا ده چه فئ هغه مال دي کوم چه د کفارو نه حاصل شي بغير د قتال نه او کوم چه حاصل شي په قتال سره هغې ته غنيمت وائي. دا څيزونه به په کتاب الجهاد کښې راشي

[۳۳]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، أَخْبَرَنَا سَلَّامُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: دَخَلَتْ أَسْمَاءُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ تَغْتَسِلُ إِحْدَانَا إِذَا طَهُرَتْ مِنَ الْمَحِيضِ؟ قَالَ: "تَأْخُذُ سِدْرَهَا وَمَاءَهَا فَتَوَضَّأُ، ثُمَّ تَغْسِلُ رَأْسَهَا وَتَدْلُكُهُ حَتَّى يَبْلُغَ الْمَاءُ أُصُولَ شَعْرِهَا، ثُمَّ تُفِيضُ عَلَى جَسَدِهَا، ثُمَّ تَأْخُذُ فِرْصَتَهَا فَتَطَهَّرُ بِهَا"، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا؟ قَالَتْ عَائِشَةُ: فَعَرَفْتُ الَّذِي يُكَنِّي عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ لَهَا: تَتَبَّعِينَ بِهَا آثَارَ الدَّمِ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دي هغې وئيلي دي چه داخل شوه اسماء په رسول الله ﷺ باندې، هغې اووئيل اې د الله رسوله! څنګه به غسل کوي يوه زمونږ نه کله چه پاکه شي د حيض نه؟ هغه وفرمايل وابه خلي بيره خپله او اوبه خپلې نو اودس به اوکړي. بيا به خپل سر اووينځي، او وبه ئې موږي تردې چه ورسيږي اوبه بيخونو د ويختو دهغې ته. بيا به واړوي په ټول بدن باندې. بيا به واخلي د مالوچو موټې، نو پاک کړي به هغې. هغې اووئيل اې د الله رسوله! څنګه خان صفا کړم په هغې. اووئيل عائشې: ماته پته ولګيده چه رسول الله ﷺ په دې سره کنايه کوي دهغې نه. نو ما اووئيل هغې ته دا به وريسې کړي آثارو د وينې پسې

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ — قوله عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَتْ أَسْمَاءُ الخ ﴾

دا اسماء بنت شکل رضي الله عنها چه د صحيح مسلم په روايت کښې دی. په صحيح بخاری کښې هم دا حديث دې په هغې کښې ﴿ دخلت امراة ﴾ بغير د تعين نه دې حافظ رحمه الله فرمائي چه خطيب په مبهمات کښې دا روايت ذکر کړې دې او په هغې کښې په ځائې د بنت شکل اسماء بنت يزيد بن السکن دې دمياطي وغيره بعض محدثينو د مسلم روايت ته تصحيف وئيلې دی ځکه چه په انصارو کښې څوک هم داسې نشته چه د هغه نوم شکل وی. حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ترديد کړې دې چه کيدې شی شکل د هغه لقب وی او نوم ئې يزيد وی بلکه حافظ وائي زيات تر مشهورو کتابونو کښې اسماء بنت شکل دې يا اسماء بغير د نسب نه لکه چه په ابوداؤد کښې دی

﴿ قوله ثُمَّ تَأْخُذُ فِرْصَتَهَا فَتَطَهَّرُ بِهَا ﴾ يعنی رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه حائضې له پکار دی چه د غسل نه د فراغت نه پس دې نور نظافت او طهارت حاصل کړی. د ﴿ فرصته ﴾ په فاء کښې درې واړه حرکات لوستلې شوي دی ددې معنی ده مالوچ يا د مالوچو ټکړه يعنی شوره (يا پټې) دلته ددې نه مراد مشکو باندې لړلې شوې شوره (کپړه) ده لکه چه په وړاندې روايت

---

[1]: صحيح مسلم/الحيض ١٣ (٣٣٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٤ (٦٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٤٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ١٣ (٣١٤)، سنن النسائي/الطهارة ١٥٩ (٢٥٢)، مسند احمد (٦/١٤٧)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٣ (٨٠٠) (حسن صحيح)

کښې دی ﴿ فرصة ممسكة ﴾ او په بعض رواياتو کښې دی ﴿ من مسک ﴾ مطلب دا دې چه په يو پهايه باندې مشک لګولو سره د رائحه کريهه د زوال دپاره دې هغه په خپل فرج کښې کيږدی او دا هم مراد کيدې شی چه د فرج نه علاوه په کوم کوم ځائې کښې چه د وينې اثر وی هغه لګولو سره دې بيا په فرج کښې کيږدی، پس دهغې نه هم په وړاندې روايت کښې ﴿تتبعين بها آثار الدم ﴾ راروان دې په بعض رواياتو کښې د فرصة په ځائې قرصة په قاف سره دې او بعضو دا قرصة په قاف او ضاد سره ضبط کړې ده نو ګويا په دې کښې درې روايتونه شو، فِرصة، قرصة، قرضة، مراد د ټولو نه يو دی

[٣١٥] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا ذَكَرَتْ نِسَاءَ الْأَنْصَارِ فَأَثْنَتْ عَلَيْهِنَّ، وَقَالَتْ لَهُنَّ مَعْرُوفًا، وَقَالَتْ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: فِرْصَةً مُمَسَّكَةً، قَالَ مُسَدَّدٌ: كَانَ أَبُو عَوَانَةَ يَقُولُ: فِرْصَةً، وَكَانَ أَبُو الْأَحْوَصِ يَقُولُ: قَرْصَةً.

ترجمه: د عائشې نه روايت دې بېشکه هغې ذکر کړې ښځې د انصارو، د هغوی صفت ئې اوکړو او وئې وئيل د هغوی په حق کښې معروف، او وئې وئيل داخله شوه يوه ښځه د دوی نه په رسول الله ﷺ باندې، نو ذکر ئې کړه معنی دهغې مګر دا چه هغه اووئيل (فرصة ممسکة) ګلکه کېږه اووئيل مسدد: وو ابو عوانه چه وئيل به يې (فرصة) او وو ابو الاحوص وئيل به يې قرصة.

تشريح: مونږ اوس وئيلې وو چه په بعض رواياتو کښې ﴿من مسک ﴾ دې مشهور خو دا دی چه دا مسک په کسرې د ميم سره دې کوم چه معروف خوشبوئی ده، او بعض دا مسک په فتحې د ميم سره لوستلې دې او مسک څمړې ته وائی او دهغې وجه ئې دا ليکلې ده چه مشک خو ډير ګران څيز دې او صحابه کرامو ﷺ به په عام حالاتو کښې د غريبئ ژوند تيرولو لهذا مطلب دا دې چه د څرمنې ټکړه اخستلو سره د بدن په کومه کومه حصه چه د وينې اثر وی په هغې سره دې اومږی او کومو خلقو چه دا مشک لوستلې دې د هغوی تائيد د هغه روايت نه کيږی چه په هغې کښې راځی ﴿ فرصة ممسكة ﴾ (هغه شوړه (کيږه) چه په هغې کښې د مشکو خوشبوئې اچولې شوې وی) دويمې ډلې ددې جواب دا ورکړی دی چې کيدې شی دا لفظ ﴿ ممسكة ﴾ وی د امساک باليد نه په دې صورت کښې به دا معنی وی هغه شوړه (کيږه) چه په لاس کښې نيولې شوې وی، خو دا معنی غلطه او خلاف ظاهر ده، د امام نووی ﷫ رائې دا ده چه مسک په کسرې د ميم سره زيات صحيح دې، او د عسرت او حاجت والا خبره بس هم داسې ده، عرب خلق ډير فراخه زړونو والا وو خصوصا د استعمال طيب په معامله کښې.

(١): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١٧٨٤٧) (حسن صحيح)

او په دې کښې هم اختلاف دې چه د مشک په استعمال کښې حکمت څه دې په دې کښې دوه اقوال دی بعضو وئیلې دی چه د رائحه کریهه د ازالې دپاره او بعضو وئیلې دی په دې وجه چه د مشک استعمال په فرج کښې اسرع الی الحبل دې په دې سره استقراء د حمل زر کیږی خو امام نووی رحمه الله ددې قول تردید فرمائیلې دې، حضرت شیخ رحمه الله به فرمائیل چه امام نووی رحمه الله فرمائی لا حول ولا قوة الا بالله چرته اورسیدل

﴿ قوله فَأَثْنَتْ عَلَيْهِنَّ الخ ﴾ عائشې رضي الله عنها د انصاری زنانو ذکر اوکړو او د هغوی تعریف او مدح ئې اوکړه، د مدح الفاظ په بل روایت کښې راروان دی ﴿ نعم النساء نساء الانصار لم يكن يمنعهن الحياء ﴾ یعنې انصاری زنانه ډیرې غوره دی هغوی د دین د زده کړې او د مسائلو د معلومولو نه حیاء نه منع کوی.

[۳۸]() حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ الْعَنْبَرِيُّ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ يَعْنِي ابْنَ مُهَاجِرٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أَسْمَاءَ سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ: فِرْصَةً مُمَسَّكَةً، قَالَتْ: كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا؟ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ، تَطَهَّرِي بِهَا وَاسْتَتِرِي بِثَوْبٍ، وَزَادَ: وَسَأَلَتْهُ عَنِ الْغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ، فَقَالَ: تَأْخُذِينَ مَاءَكِ فَتَطَّهَّرِينَ أَحْسَنَ الطُّهُورِ وَأَبْلَغَهُ، ثُمَّ تَصُبِّينَ عَلَى رَأْسِكِ الْمَاءَ، ثُمَّ تَدْلُكِينَهُ حَتَّى يَبْلُغَ شُؤُونَ رَأْسِكِ، ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ، قَالَ: وَقَالَتْ عَائِشَةُ: نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الْأَنْصَارِ، لَمْ يَكُنْ يَمْنَعُهُنَّ الْحَيَاءُ أَنْ يَسْأَلْنَ عَنِ الدِّينِ وَأَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِيهِ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې، یقیناً اسماء تپوس اوکړو د نبي ﷺ نه په معنی د هغې سره، هغه اووئیل: (فرصة ممسكة) کلکه کړه، هغې اووئیل: څنګه پاک کړم په هغې، نو هغه وفرمایل: سبحان الله خان صفا کړه په هغې او خان پټ کړه په یوې جامه. او هغه زیادت اوکړو، او تپوس ئې اوکړو د غسل د جنابت باره کښې نو هغه اووئیل: وابه خلې خپلې اوبه نو صفایې به اوکړې ښائسته صفایې او مبالغه به اوکړې، بیا به واړوې په سر باندې اوبه، بیابه ئې ومږې تردې چه ورسیږې بیخونو د سر ستاته، بیابه واړوې په خان باندې اوبه هغه اووئیل او اووئیل عائشې: ډیرې ښې ښځې ښځې د انصارو دی نه وو چه منع کولې دوی لره حیاء چه سوال اوکړې د دین باره کښې، او دا چه پوهه شي په دین کښې.

تشریح: طهارة مائیه کوم چه اصل دې د هغې بیان پوره شو. الحمدلله الذی بنعمته تتم الصالحات.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۴۷) (حسن)

باب التيمم

باب دي په بيان د تيمم کښي

په دې باب سره د مصنف رحمه الله مقصود مشروعيت د تيمم او صفت دواړه بيانول دي پس د باب د حديث اول نه مشروعيت او دهغې نه په روستو رواياتو کښې ئې صفت د تيمم بيان کړې دې

د تيمم سره متعلق مباحث عشرة

دلته به مونږ دا امور بيانوو:

١: المناسبة بما قبله،
٢: معنى التيمم لغة و شرعا،
٣: متى شرع التيمم،
٤: طهارة مطلقة او ضرورية،
٥: رخصة او عزيمة،
٦: هل التيمم من خصائص هذه الامة،
٧: ما يجوز به التيمم،
٨: اختلاف الائمة في كيفية التيمم،
٩: دلائل الفريقين او حديث د عمار بن ياسر رضي الله عنه کوم چه په دې باب کښې اصل دې په هغې باندې کلام،
١٠: هل يجوز التيمم للجنابة.

بحث اول : المناسبة بما قبله

مصنف رحمه الله د طهارة مائيه صغرى او کبرى يعنى اودس او غسل او دهغې د متعلقاتو د بيان نه چه کله فارغ شو نو اوس ددې ځائې نه طهارة ترابيه شروع کوى کوم چه د طهارة مائيه نائب او دهغې بدل دې او نائب موخر وى د اصل نه

بحث ثانى : معنى التيمم لغة و شرعا

د تيمم لغوى معنى د قصد ده او د حج معنى هم د قصد ده خو په دې کښې د معظم او محترم قيد دې يعنى د يو معظم او محترم څيز قصد کول او د تيمم معنى شرعى ده پاکه خاورې لره د قاعده شرعيه مطابق استعمالول د طهارت په نيت باندې (١) ابن رسلان رحمه الله فرمائى چونکه د تيمم لغوى معنى د قصد ده په دې وجه د فقهاء امصار په دې باندې اتفاق دې چه په تيمم کښې نيت واجب دې خو په اودس کښې اختلاف دې ځکه چه په هر اصطلاحى معنى کښې لغوى معنى ملحوظ وى، خو د امام اوزاعى رحمه الله نه په دې کښې اختلاف منقول دې چه د هغوى په نزد په تيمم کښې نيت ضرورى نه دې، او هم دغه شان

---

(١) في نفسه تيمم خو مطلق د طهارة په نيت باندې صحيح کيږى سره د دې نه چه ادا کول امر اخر دې په دې کښې تفصيل او اختلاف دې د طرفين په نزد د تيمم په ذريعه صحة د صلوة په دې باندې موقوف دې چه هغه تيمم د داسې عبادة مقصوده دپاره کړې شوې وى کوم چه بغير د طهارت نه نه صحيح کيږى، مثلاً صلوة جنازه او سجده تلاوت. او که داسې عبادت مقصوده وى کوم چه بغير د طهارة نه صحيح کيږى لکه اسلام راوړل نو په دې تيمم سره به مونځ نه صحيح کيږى او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد چه کوم تيمم د عبادت مقصوده دپاره کړې شوې وى، عام ددې نه چه هغه بغير د طهارت نه صحيح کيږى او که نه په هغې سره د مانځه ادا کول جائز دى او کوم تيمم چه د قربت غير مقصوده دپاره کړې شوې وى لکه دخول مسجد او مس مصحف په دې تيمم سره بالاتفاق د مونځ ادا کول جائز نه دى، او دا خبره دې هم واضحه وى چه په دې بحث کښې د مقصود او غير مقصود هم يو خاص فهم دې کوم چه په کتب فقه کښې مذکور دې، د شرح وقاية په حاشيه کښې هم ليکلې شوې دې

صاحب هداية په دې کښې د امام زفر رحمه الله او ابن رشد په بداية المجتهد کښې د حسن بن حی هم اختلاف ليکلې دې

بحث ثالث : متى شرع التيمم

خان پوهه کړه چه څنګه د افک عائشه رضي الله عنها د قصې بناء په فقد عقد (د اميل ورکيدل) دی هم دغه شان د مشروعيت تيمم سبب هم دغه اميل ورکيدل دی، د افک واقعه بالاتفاق په غزوه مريسيع کښې راپيښه شوې ده کوم ته چه غزوه بنو المصطلق هم وائي او يو لوئې جماعت چه په هغې کښې ابن عبدالبر، ابن سعد، ابن حبان هم دی ددې حضراتو رائې دا ده چه د تيمم د آيت نزول هم په دې غزوه کښې اوشو، او د يو جماعت رائې دا ده چه د قصه افک د پيښيدو نه پس په يو بل سفر کښې دوباره اميل ورک شو او په هغې باندې د آيت تيمم نزول اوشو، پس د طبرانی د يو روايت نه معلوميږي سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه د واقعه افک د پيښيدو نه پس زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په يوه بله غزوه کښې شريکه شوم په هغې کښې د تيمم نزول اوشو، خو په دې روايت کښې د هغه سفر نوم ذکر نه دې، حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد کښې فرمائي وهذا هو الظاهر او هم دغه شان د حافظ ابن حجر رحمه الله ميلان هم دې طرف ته معلوميږي، حافظ رحمه الله د بعض علماء کرامو نه د آيت تيمم نزول په غزوه ذات الرقاع کښې کيدل نقل کړی دی، کيدې شي چه هغه دويمه غزوه هم دا وی کومه چه عائشې رضي الله عنها فرمائيلې ده خو دا مسئله مختلف فيه ده چه ذات الرقاع مقدم ده يا بنو مصطلق، قسطلانی فرمائي چه د آيت تيمم نزول په ۵ يا ۶ هجری کښې شوی دی، او په تاريخ خميس کښې ئې ۵ هجری ليکلې دې او ابن الجوزی په التلقيح کښې ۴ هجری ليکلې دې، والله تعالى اعلم

بحث رابع : طهارة مطلقة او ضرورية

تيمم د احنافو په نزد طهارة مطلقا (کامله) دې او د ائمه ثلاثه په نزد طهارة ضرورية دې، هم په دې وجه زمونږ په نزد د وخت د داخليدلو نه مخکښې ئې هم کولې شی او د ائمة ثلاثه په نزد د وخت د دخول نه مخکښې تيمم جائز نه دې ځکه چه د ضرورت تحقق د وخت نه پس وی، بله دا چه د هغوی په نزد د وخت د تيريدلو نه پس تيمم ماتيږی او بله دا چه د امام احمد رحمه الله په نزد په وخت کښې دننه دننه په يو تيمم سره مونځونه قضاء او ادا لوستلې شی، او د شوافعو او مالکيانو په نزد د هر فرض مونځ دپاره مستقل تيمم ضروری دې اګر که په يو وخت کښې وی خو نوافل د هغوی ټولو په نزد د فرائضو تابع دی، د شوافعو په نزد نوافل قبليه او بعديه دواړه او د مالکيانو په نزد صرف بعديه

بحث خامس : رخصة او عزيمة

په دې کښې درې اقوال دی:

۱: عزيمت، ۲: رخصت دې مطلقا، دريم قول دا دې چه په وخت د عدم الماء کښې عزيمت دې، او د اوبو د کيدو سره سره د مرض وغيره د وجې نه رخصت دې

بحث سادس : هل التيمم من خصائص هذه الامة؛

تيمم ددې امت د خصائصو نه دې لکه چه د صحيحينو په حديث کښې ددې تصريح ده (اعطيت خمسا لم يعطهن احد قبلي) او ددې په آخير کښې دی (جعلت لي الارض مسجدا وطهورا)

بحث سابع : ما يجوز به التيمم

په قرآن کريم کښې حکم دې چه په صعيد طيب سره دې تيمم اوکړې شي لهذا په صعيد طيب سره بالاجماع جائز دې خو د صعيد طيب په تفسير کښې اختلاف دې امام شافعي او امام احمد ﷫ ددې تفسير په تراب سره کړې دې لهذا د هغوی په نزد تيمم صرف په تراب سره کيدلې شي، او د دوی دواړو په نزد تراب هم د غبار والا کيدل پکار دی تعلق الغبار باليد ضروري دې په کتب شافعيه او حنابله کښې ددې تصريح ده او په احنافو کښې د امام ابويوسف﷫ په نزد هم علی القول الاصح تيمم په تراب سره خاص دې، او د امام ابوحنيفه او امام مالک ﷫ په نزد د صعيد مصداق وجه الارض ده (د زمکې مخ) لهذا تيمم په تراب سره خاص نه دې بلکه (کل ما کان من جنس الارض) سره جائز دی، او د جنس الارض نه مراد دا دې چه کوم څيز په اور باندې ګرمولو سره نه ويلې کيږي او په سوزولو سره نه ايره کيږي لکه جص نوره زرنيخ حجر وغيره، او د بعض مالکيانو په نزد په دې کښې نور هم عموم دې هغه دا چه ما اتصل بالارض سره هم جائز دې لکه نبات په دې شرط چه مقلوع نه وی په وخت کښې تنګ والې وی او بل څه څيز مخې ته نه وی (ذکره صاحب المنهل)

بحث ثامن : اختلاف الائمة فی کيفية التيمم

په کيفيت د تيمم کښې اختلاف د ائمه کرامو، خان پوهه کړه چه دلته اختلاف په دوه ځايونو کښې دې يو عدد د ضرباتو، دويم مقدار د يدين، د امام احمد، اسحق بن راهويه او امام بخاري ﷫ وغيره محدثينو په نزد د تيمم دپاره ضربه واحده ده، او د احنافو او د شوافعو په نزد ضربتين دی او د مالکيانو په نزد دواړه روايتونه دی مثل المذهبين او دريم روايت د امام مالک﷫ نه دا دې چه ضربه واحده فرض او ثانيه سنت او هم دا د هغوی قول راجح دې هم دا په مختصر خليل وغيره کتب مالکيه کښې اختيار کړې شوې دې او په مقدار د يدين کښې اختلاف دا دې چه د امام احمد﷫ په نزد مسح صرف الی الکوعين (کفين) ده، او د احنافو او شوافعو په نزد الی المرفقين ده، او د امام مالک﷫ نه دواړه روايتونه دی، او دريم روايت د هغوی نه دا دې چه مسح الی الکفين فرض ده او الی المرفقين سنت ده، خو په کتب د مالکيانو کښې الی المرفقين ليکلې شوې دی او د امام مالک﷫ د موطا او د مدونه د ظاهر نه هم دا معلوميږي لهذا د راجح قول په بناء باندې مالکيان هم په دې مسئله کښې د احنافو او شوافعو سره شو او د عدد ضربات په راجح قول په وجه باندې هغوی د امام احمد﷫ سره شو.

بحث تاسع : دلائل الفريقين :

خان پوهه کړه چه امام بخاري﷫ په دې دوه مسئلو کښې د حنابله او د جمهور اهل حديث د مسلک مطابق باب قائم کړې دې (باب التيمم للوجه والکفين) او (باب التيمم ضربة) او

بيا ئې هم ددې مطابق روايات راوړلي دي او امام مسلمﷺ هم دغه شان کړې دي او هغه روايات کوم چه په تعدد ضربه او مسح الى المرفقين باندې دال دي هغه د غير صحيحين او د سنن روايات دي، حضرت سهارنپوري په بذل کښې هغه په تفصيل سره، سره د سند او حوالې نه په کتابونو کښې درج فرمائيلي دي کوم چه د ډيرو صحابه کرامو نه مروي دي، حضرت فرمائي دا روايات اګرچه په قوة او صحت کښې د صحيحين د رواياتو مثل نه دي خو د هغوی د ضعف انجبار د تعدد طرق او د موافقت قياس نه کيږي يعني قياس الفرع بالاصل هغه داسې چه اودس کوم چه د تيمم اصل دې په هغې کښې يو اوبه په دوه اندامونو کښې استعمالول جائز نه دي لهذا تيمم کښې هم يو خاوره په دوه اندامونو کښې استعمالول جائز نه دي کيدل پکار او هم دغه شان په اودس کښې غسل د يدين دې الى المرفقين لهذا په تيمم کښې هم مسح يدين الى المرفقين کيدل پکار دي، او حضرت دا هم ليکلي دي چه په کومو روايتونو کښې چه صرف ضربه واحده مذکور دي يا مطلق ضرب دې هغه د ماقوق په نفي باندې دلالت نه کوی مګر په طريق د مفهوم مخالف او د استدلال بالمفهوم احناف قائل نه دي لهذا روايات دالة على وحدة الضربة ته د روايات مثبة للضربتين معارض نه شي وئيلي کيدې.

د دې نه پس خان پوهه کړه چه امام ابوداؤد باب التيمم مطلقا قائم کړې دې چه په هغې کښې نه د ضربه واحده قيد دې نه د ضربتين، هم دغه شان نه د کفين او نه د الى المرفقين، هم په دې وجه مصنف په دې باب کښې د ضربه واحده، ضربتين الى الکفين، الى المرفقين الى الذراعين حتى چه الى المنکبين ټول روايات ذکر کړي دي.

د حديث عمار اضطراب:

او دا ټول اختلافات د حديث عمار په مختلفو طرقو کښې موجود دی هم په دې وجه امام طحاوي وغيره بعض علماء کرامو ليکلي دی چه په دې سلسله کښې حديث عمار قابل استدلال نه دې، امام ترمذي هم ليکلي دی چه هم ددې اختلاف په بنياد باندې بعض اهل علم د حديث عمار تضعيف کړې دې.

حديث عمار سره د اضطراب نه په صحيحين کښې:

امام بخاري او امام مسلم حديث د عمار صرف په هغه طرق سره اخستلي دې چه په هغې کښې ضربه واحده او کفين مذکور دی بنده ته په دې سلسله کښې يو اشکال وو هغه دا چه په حديث د عمار کښې چه هر کله دومره سخت اضطراب دې نو بيا امام بخاري او امام مسلم هغه ته په صحيحين کښې څنګه ځائې ورکړو؟ دا خو بيله خبره ده چه دې حضراتو صرف هغه طرق اختيار کړې دی چه په هغې کښې ضربه واحده او کفين مذکور دی خو صرف په دغه طرق اختيار کولو سره نور طرق خو کالعدم کيدې نه شي ددې صحيح جواب خو به لوئي حضرات ورکوی زما د غور کولو نه يو خبره په فهم کښې راغله هغه دا چه په اصل کښې حديث د عمار دوه دی، يو هغه دې چه په هغې کښې د تيمم ابتداء او دهغې د مشروعيت ذکر دې چه په هغې کښې هغوی فرمائي مونږ د نزول تيمم نه پس د

رسول الله ﷺ سره تيمم اوكړو، او دويم حديث عمار ؓ هغه دې كوم چه هغوى د عمر ؓ مخكښې پيش كړو كوم تيمم چه د جنب په سلسله كښې دې زيات تر اختلاف او اضطراب د كوم چه پورته ذكر راغلو د عمار په حديث اول كښې دې په دې وجه حضرات شيخينو هغه نه دې اخستلي او د عمار ؓ هغه حديث كوم چه حضرات شيخينو اخستلي دې په هغې كښې دا ټول اختلافات نشته بلكه دهغې ټول طرقو كښې ضربه واحده مذكور دې دهغې خلاف نه دې خو د مقدار يدين په باره كښې په هغې كښې هم فى الجملة اختلاف دې په بعض كښې الى الكفين دې او هم دا شيخينو اختيار كړې دې او په بعض كښې ددې هم خلاف دې الى المرفقين وغيره الى المناكب والاباط په دې كښې نشته هذا ماعندى والله تعالى أعلم. روسته چه كله ترمذى شريف اوكتلې شو نو دهغې نه معلومه شوه امام ترمذى د اسحاق بن راهويه نه همدا خبره نقل كړې ده يعنى دا چه حديث دعمار دوه دى او دا اختلاف او اضطراب په هغوى كښې صرف په يو كښې دې فلله الحمد والمنة.

حضرات شيخينو د حديث عمار ؓ نه علاوه د ابوالجهيم حديث هم ذكر كړې دې كوم چه امام ابوداؤد په راروان باب كښې ذكر كړې دې، د ابوالجهيم حديث كښې ضربه واحده مذكور ده او د يدين په باره كښې هغه مجمل دې راوى صرف الى اليدين وئيلي دې دهغې مقدار ئې نه دې بيان كړې

بحث عاشر : هل يجوز التيمم للجنابة

دا ټول نهه بحثونه شو، د تكميل عشره دپاره يو مسئله بله واورئ هغه هم اهم ده هغه دا چه تيمم په حدث اصغر او اكبر دواړو كښې مشروع دې يا صرف په حدث اصغر كښې؟ په نورو الفاظو كښې تيمم صرف د اودس قائم مقام دې يا كه د اودس او غسل دواړو؟ د جمهورو علماو سلفا وخلفا ومنهم الائمة الاربعة په نزد عموم دې، خو د ابراهيم نخعى ؒ په دې كښې اختلاف منقول دې د هغوى په نزد صرف په حدث اصغر كښې مشروع دې او په صحابه كرامو كښې د عمر ؓ او ابن مسعود ؓ نه هم داسې منقول دى، خو د اخيرين نه رجوع مروى ده.

د تيمم جنب ثبوت د كتاب الله نه :

بلكه د احنافو په نزد خو تيمم د كتاب الله نه ثابت دې ځكه چه آيت تيمم كښې چه كوم ﴿ او لمستم النساء ﴾ دې دا احناف په جماع باندې حمل كوى لكه چه ددې تفصيل په خپل محل كښې تير شو، د تيمم د مباحثو نه پس اوس حديث اول واخلئ

[٣١٤]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ الْمَعْنَى وَاحِدٌ،عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ،عَنْ أَبِيهِ،عَنْ عَائِشَةَ،قَالَتْ: "بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1]): صحيح البخاري/اللباس ٥٨ (٥٨٨٢)، التفسير ٣ (٤٥٨٣)،(تحفة الأشراف: ١٧٢٠٥،١٧٦٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التيمم ٢ (٣٣٤)، صحيح مسلم/التيمم ٢٨ (٣٦٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٩٤ (٣١١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٩٠ (٦٥٨)، موطا امام مالك/الطهارة ٢٣(٨٩)، مسند احمد (٥٧/٦، ١٧٩)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٥ (٧٧٣) (صحيح)

وَسَلَّمَ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ وَأُنَاسًا مَعَهُ فِي طَلَبِ قِلَادَةٍ أَضَلَّتْهَا عَائِشَةُ، فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّوْا بِغَيْرِ وُضُوءٍ، فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لَهُ، فَأُنْزِلَتْ آيَةُ التَّيَمُّمِ "زَادَ ابْنُ نُفَيْلٍ، فَقَالَ لَهَا أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ: يَرْحَمُكِ اللهُ، مَا نَزَلَ بِكِ أَمْرٌ تَكْرَهِينَهُ إِلَّا جَعَلَ اللهُ لِلْمُسْلِمِينَ وَلَكِ فِيهِ فَرَجًا.

ترجمه: عثمان بن ابي شيبة حديث بيانوي، واثي چه خبر راکړى دى ماته عبدة معنى يوه ده، د هشام بن عروة نه او هغه د خپل پلار نه، او هغه د عائشې نه هغې اووئيل: ولېږلو رسول الله ﷺ أسيد بن حضير او نور خلک د هغه سره په طلب د هار کښې چه عائشې ورک کړى وو، نو حاضر شو مونځ نو هغوى اودس اوکړو بغير د اودس نه، نو هغوى راغلل پيغمبر ﷺ ته نو هغوى ذکر کړو هغه ته هغه، نو نازل شو آيت د تيمم. زيادت کړى دى ابن نفيل: پس اووئيل هغه ته اسيد بن حضير، الله دې په تا باندې رحم اوکړي نه دى نازل شوى څه حکم چه ته ئې بد ګنړې مګر ګرځولى دى الله د مسلمانانو لپاره او ستا لپاره په هغې کښې پراخي.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ – قوله فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّوْا بِغَيْرِ وُضُوءٍ الخ ﴾ د صلوة نه مراد د سحر مونځ دې، صحابه کرامو ﷺ د اوبو د نه کيدو د وجې نه بغير د اودس نه مونځونه ادا کړل او تيمم تر دغه وخته پورې مشروع شوې نه وو ددې نه د فاقد الطهورين مسئله معلوميږى چه په هغې کښې اختلاف مشهور دې، زمونږ په نزد دا مسئله په باب فرض الوضوء کښې تيره شوې ده.

﴿ قوله فَنَزَلَتْ آيَةُ التَّيَمُّمِ ﴾ د آيت کريمه په مصداق کښې د شارحينو اختلاف دې، ابن العربى فرمائى هذه معضلة ما وجدت لدائها دواء يعنى دا يو داسې ګرانه مسئله ده چه ما ددې مرض هيڅ علاج نه دې موندلې چه د عائشې ﷺ مراد کوم آيت دې ابن بطال ﷺ وئيلې دى چه ددې نه مراد آية النساء دې څکه چه آيت المائدة د آيت وضوء په نوم سره مشهور دې اګرچه په هغې کښې د تيمم ذکر هم دې، او په آيت النساء کښې صرف د تيمم ذکر دې د اودس نشته، علامه عينى ﷺ د يو روايت په بناء باندې کوم چه د حميدى په جمع بين الصحيحين کښې دې چه په هغې کښې داسې دى ﴿ فنزلت يايها الذين امنوا اذا قمتم الى الصلوة الاية ﴾ د آيت مائده متعين کيدل ليکلې دى.

﴿ قوله مَا نَزَلَ بِكِ أَمْرٌ تَكْرَهِينَهُ إِلَّا جَعَلَ اللهُ لِلْمُسْلِمِينَ وَلَكِ فِيهِ فَرَجًا ﴾ سيدنا اسيد بن حضير ﷺ عائشې ﷺ ته دعا کوى چه کله هم هغوى ته څه ناخوښه خبره پيښه شوې ده نو په هغې کښې الله پاک د ابوبکر ﷺ د کورنۍ په وجه باندې (كما فى رواية ما هى باول بركتكم يا الى ابى بكر) خپله د هغوى دپاره او د ټولو مسلمانانو دپاره د آرام او سهولت سامان برابر کړې دې، شارحينو ليکلې دى چه په دې سره د واقعه افک طرف ته اشاره کيدې شى څکه چه د هغې هم امر مکروه کيدل ظاهر دى ددې نه مستفاد کيږى چه واقعه افک مقدم ده په واقعه د نزول تيمم باندې لکه چه مونږ په شروع کښې بيان کړې ده.

[۳۱۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ، حَدَّثَهُ عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، "أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّهُمْ تَمَسَّحُوا وَهُمْ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّعِيدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ، فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ ثُمَّ مَسَحُوا وُجُوهَهُمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً، ثُمَّ عَادُوا فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ مَرَّةً أُخْرَى فَمَسَحُوا بِأَيْدِيهِمْ كُلِّهَا إِلَى الْمَنَاكِبِ وَالْآبَاطِ مِنْ بُطُونِ أَيْدِيهِمْ".

ترجمه: د عمار بن یاسر ﷺ نه روایت دي بیشکه هغه وو چه حدیث ئي بیانولو. بیشکه دوی، مسح ئي اوکړه او دوی د رسول الله ﷺ سره وو په پاکه خاوره د مانځه د صباح دپاره، دوی ووهل خپل ورغوي په پاکه خاوره، بیائي مسح کړل خپل مخونه یو ځل. بیا واپس شول وئي وهل خپل ورغوي په پاکه خاوره بل ځل نو مسح ئي کړل خپل لاسونه ټول تر اوږو او تخرګونو پورې په خېټو د لاسو باندې.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ – قوله عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ ﴾ د باب د حدیث اول نه مشروعیت تیمم بیانولو نه پس اوس مصنف رحمه الله په دي حدیث سره کیفیت د تیمم بیانوي، دا حدیث د عمار ﷺ دي کوم چه مصنف رحمه الله په مختلفو او متعددو طرقو سره بیان کړي دي ددې حدیث د ټولو طرقو مدار په ابن شهاب باندې دې. بیا د ابن شهاب نه روایت کونکی متعدد دي په اول سند کښې د هغوی شاګرد یونس بن یزید الایلی دې او په دویم سند کښې هم هغه دې خو لاندې راویان یعنی د مصنف رحمه الله استاذان بدل شو په دواړو روایتونو کښې ضربتین مذکور دې خو په مقداریدین کښې څه فرق دې په یو کښې الی المناکب والاباط دې او په دویم کښې نشته.

[۳۱۹]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، وَعَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ، عَنِ ابْنِ وَهْبٍ، نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: قَامَ الْمُسْلِمُونَ فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ التُّرَابَ وَلَمْ يَقْبِضُوا مِنَ التُّرَابِ شَيْئًا، فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرِ الْمَنَاكِبَ وَالْآبَاطَ، قَالَ ابْنُ اللَّيْثِ: إِلَى مَا فَوْقَ الْمِرْفَقَيْنِ.

ترجمه: د ابن وهب نه روایت دي پشان ددې حدیث، هغه اووئیل پاڅېدل مسلمانان نو وئي وهل خپل ورغوي په خاوره، او راوایي نه څستله د خاورې نه هیڅ شی. نو ذکر ئي کړو پشان دهغې، او ذکر د مناکبو او تخرګونو ئي اونه کړو، وئیلی دي ابن اللیث: بره د څنګلو نه.

[۳۲۰]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي خَلَفٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، أَخْبَرَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَّسَ بِأُولَاتِ الْجَيْشِ وَمَعَهُ عَائِشَةُ، فَانْقَطَعَ عِقْدٌ لَهَا مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ، فَحُبِسَ النَّاسُ ابْتِغَاءَ عِقْدِهَا ذَلِكَ حَتَّى أَضَاءَ الْفَجْرُ وَلَيْسَ مَعَ النَّاسِ مَاءٌ، فَتَغَيَّظَ عَلَيْهَا أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ: حَبَسْتِ النَّاسَ وَلَيْسَ

[1]: سنن ابن ماجه/الطهارة ۹۰ (۵۶۵)، ۹۲ (۵۷۱)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۶۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ۱۱۰ (۱۴۴)، سنن النسائي/الطهارة ۱۹۶ (۳۱۳)، ۱۹۹ (۳۱۷)، ۲۰۰ (۳۱۸)، ۲۰۱ (۳۱۹)، ۲۰۲ (۳۲۰)، مسند أحمد (۲۶۳/۴، ۲۶۴) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۱۰۳۶۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الطهارة ۱۹۷ (۳۱۴)، مسند احمد (۲۶۳/۴، ۲۶۴) (صحيح)

[3]: سنن النسائي/الطهارة ۱۹۷ (۳۱۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶۳/۴) (صحيح)

مَعَهُمْ مَاءٌ، فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُخْصَةَ التَّطَهُّرِ بِالصَّعِيدِ الطَّيِّبِ، فَقَامَ الْمُسْلِمُونَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبُوا بِأَيْدِيهِمْ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ رَفَعُوا أَيْدِيَهُمْ وَلَمْ يَقْبِضُوا مِنَ التُّرَابِ شَيْئًا فَمَسَحُوا بِهَا وُجُوهَهُمْ وَأَيْدِيَهُمْ إِلَى الْمَنَاكِبِ، وَمِنْ بُطُونِ أَيْدِيهِمْ إِلَى الْآبَاطِ". زَادَ ابْنُ يَحْيَى فِي حَدِيثِهِ: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فِي حَدِيثِهِ: وَلَا يَعْتَبِرُ بِهَذَا النَّاسُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ ابْنُ إِسْحَاقَ، قَالَ فِيهِ: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَذَكَرَ ضَرْبَتَيْنِ، كَمَا ذَكَرَ يُونُسُ، وَرَوَاهُ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، ضَرْبَتَيْنِ، وَقَالَ مَالِكٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمَّارٍ، وَكَذَلِكَ قَالَ أَبُو أُوَيْسٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَشَكَّ فِيهِ ابْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ مَرَّةً: عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، أَوْ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمَرَّةً قَالَ: عَنْ أَبِيهِ، وَمَرَّةً قَالَ: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، اضْطَرَبَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فِيهِ وَفِي سَمَاعِهِ مِنَ الزُّهْرِيِّ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَحَدٌ مِنْهُمْ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الضَّرْبَتَيْنِ، إِلَّا مَنْ سَمَّيْتُ.

ترجمه: د عمار بن یاسر ﷛ نه روایت دي، بېشکه رسول الله ﷺ شپه ئي تېره کړه په اولات الجیش کښې او د هغه سره عائشه وه، نو وشلېدلو هار د هغې د مشکترو د ظفار نه، نو خلک حصار شو د وجې د لټولو د امیل دهغې نه، تردې چه رڼا شو صبا، او نه وې د خلکو سره اوبه نو غصه شو په هغې باندې ابوبکر او وئي وئیل: خلک دې ایسار کړل او د دوی سره اوبه نشته، نو نازل کړو الله تعالی په رسول الله ﷺ باندې رخصت د پاکوالي په پاکه خاوره، پاځېدل مسلمانان د رسول الله ﷺ سره نو وئي وهل لاسونه خپل په ځمکه باندې، زیادت کړی دی یحیی په خپل حدیث کې: وئیلی دي ابن شهاب په خپل حدیث کې: او اعتبار نه کوي په دې باندې خلک. وئیلی دي ابوداود: او همدارنګه روایت کړی دی ابن اسحاق هغه په هغې کښې وئیلی دی: روایت دی د ابن عباس نه او هغه ذکر کړي دي دوه ضربه. لکه څرنګه چه روایت کړی دی یونس. او روایت کړی دی معمر د زهري نه دوه ضربه او وئیلی دي مالک د زهري نه او هغه د عبید الله بن عبد الله نه او هغه د خپل پلار نه، او هغه د عمار نه، او همدارنګه وئیلی دي ابو اویس: د زهري نه، او شک کړی دی په دې کښې ابن عیینة هغه وئیلی دي یو ځل د عبید الله عن ابیه او یا د عبید الله عن ابن عباس نه، او بل ځل ئي وئیلی دی: د خپل پلار، او یو ځل ئي وئیلی دی: د ابن عباس. مضطرب شوی دی ابن عیینة په هغې کښې، او په سماع دهغې کښې د زهري نه او نه دی ذکر کړي هیڅ د دوی نه په دې حدیث کښې (الضربتین) مګر هغه چا چه ماېي نومونه واخستل

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ خَلَفٍ ﴾ دا د حدیث عمار دویم طریق دې په دې کښې د ابن شهاب نه روایت کونکي صالح بن کیسان دي په دواړو طریقو کښې فرق دا دې چه د یونس په روایت کښې د عبيد الله بن عبدالله او عمار بن یاسر ﷛ ترمینځه هیڅ واسطه نه وه او په دې دویم سند کښې د ابن عباس ﷛ واسطه ده، په دې خلورم روایت کښې هم د امیل د ورکیدلو ذکر دې لکه چه د باب په حدیث اول حدیث عائشه ﷞ کښې وو

د ذات الجیش تحقیق

﴿ قوله عَرَّسَ بِأُولَاتِ الْجَيْشِ ﴾ تعریس وائی د مسافر په آخره شپه کښې د استراحت دپاره په یو منزل باندې کوزیدل اولات الجیش کوم ته چه ذات الجیش هم وئیلې شوې دې دا مدینې منورې ته نزدې تقریباً د یو برید (منزل) په فاصله باندې یو وادی ده د بخاری په یو روایت

کښې ﴿ بالبيداء ﴾ او ﴿ بذات الجيش ﴾ دې د مشهور قول په بناء باندې دا دواړه ځايونه ذوالحليفه ته نژدې د مکې او مدينې ترمينځه دی او يو قول دا دې چه بيداء په نسبت د ذوالحليفه مکې ته زيات نژدې دې او دريم قول په دې کښې دا دې چه بيداء او ذات الجيش د مدينې او خيبر ترمينځه دې د مکې په لاره کښې نه دې، حافظ رحمه الله قول اول ته ترجيح ورکړې ده او قول ثالث ئې مرجوح کړې دې، او په قول ثالث کښې به دا هم مثل راځي چه نزول تيمم په قصه د غزوة المريسيع کښې نه ده پېښه شوې ځکه چه مريسيع د مدينې منورې نه د مکې په طرف واقع دې. ﴿ قوله مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ ﴾ ظفار بفتح الظاء مبنی علی الکسره دې لکه قطام، په يمن کښې د يو ښار نوم دې، لفظ جزع جمع ده د جزعة ددې معنی ده خرزيمانې يعنی ملغلرې او قيمتی کاڼړی او غمی چه په هغې سره أميل جوړولې شی.

د ظفار او اظفار تحقيق :

په بعض رواياتو کښې په ځائې د ظفار اظفار راغلې دې لکه چه په نسائی کښې دی اظفار جمع د ظفر ده د يو معروف خوشبوئې نوم دې کوم ته چه قسط او قسط اظفار هم وائی ـــــ چه دهغې نه بخور يعنی خوشبويه لوږې ورکولې شی، چونکه هغه د ظفر الانسان سره مشابه وی په دې وجه ورته اظفار وائی، خو ځان پوهه کړه چه ددې لفظ ذکر په دوه ځايونو کښې راځي يو دلته په باب د تيمم کښې دويم د حيض په غسل کښې [1] په باب تيمم کښې صحيح ظفار دې،اوپه غسل کښې هم روايات دواړه قسمه راغلې دی خو هلته اظفار صحيح دې ظفار د يو ښار نوم دې او اظفار کوم ته چه قسط اظفار هم وائی د خوشبوئې نوم دې.

﴿ قوله حُبِسَ النَّاسُ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ ﴾ دلته دا اشکال راځي چه دې قافلې تعريس او نزول په داسې ځائې کښې ولې اوکړو چه هلته اوبه نه وې جواب دا دې چه دلته دا تعريس او نزول بالقصد نه وو بلکه د التماس عقد دپاره مجبوراً شوې وو کذا يستفاد من امانی الاحبار غفر الله لمولفه، او د حضرت شيخ په تقرير د بخاری کښې ددې يو بله توجيه ليکلې ده.

﴿ قوله فَضَرَبُوا بِأَيْدِيهِمْ إِلَى الأَرْضِ ﴾ د حديث عمار په دې طريق کښې ضربه واحده ذکر ده او ددې نه په مخکښې طريق کښې د ضربتين ذکر وو، بله دا چه په دې طريق کښې د مسح اليدين الی المناکب والاباط ذکر دې چه دهغې په باره کښې ابن شهاب رحمه الله فرمائی ﴿ ولايعتبر بهذا الناس ﴾ يعنی دير فقهاء ددې اعتبار نه کوی يا اشاره د ضربه واحدة طرف ته ده يعنی دير علماء کرام د اکتفاء بضربة واحدة قائل نه دی يا دې د دواړو طرف ته اشاره اومنلې شی.

خان پوهه کړه چه داسې عبارت خو وی خو د رد او تضعيف دپاره خو چونکه د تيمم د کيفيت په باره کښې شارحينو د ابن شهاب مسلک دا نقل کړې دې چه هغه د مسح الی المناکب والاباط قائل وو ځکه چه دا مطلب اخستل کيدې شی چه صحيح نه وی لهذا دا

---

[1] پس په حديث د ام عطيه رضی الله عنها کښې راغلې دی وقد رخص لنا عند الطهر اذا اغتسلت احدانا من محيضها في نبذة من کست اظفار او په يو روايت کښې په ځائې د کست قسط دې او امام بخاری رحمه الله په دې باندې باب ترلې دې، باب الطيب للمراة عند غسلها من المحيض دا تول تفصيل

دې اووئیلې شی چه په طور د ګیلې وائی چه اوګورئ مسح الی المناکب والاباط د روایت نه ثابت دې خو بیا هم ډیر علماء کرام ددې قائل نه دی او یا دې داسې اووئیلې شی چه هغوی خپل مسلک بدل کړې وی کوم چه مخکښې قائل وی روستو نه وی پاتې شوې یا ددې برعکس، والله تعالی اعلم.

د مصنف رحمه الله د مسلسل کلام تشریح:

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَكَذَلِكَ رَوَاهُ ابْنُ إِسْحَاقَ قَالَ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَذَكَرَ ضَرْبَتَيْنِ كَمَا ذَكَرَ يُونُسُ﴾ په دې جمله کښې مصنف رحمه الله دوه مطلبونه بیان کړی دی، یو د سند سره متعلق دې او دویم د متن سره، ابن اسحق د زهری د شاګردانو نه دې په ذکر د واسطې او عدم واسطه کښې د زهری د شاګردانو اختلاف روان دی، مصنف رحمه الله فرمائی چه څنګه صالح بن کیسان په سند کښې د ابن عباس رضی الله عنه واسطه ذکر کړې ده هم دغه شان ابن اسحاق هم کړې ده خو د دواړو په متن کښې فرق دې هغه دا چه د صالح په روایت کښې ضربه واحده مذکور وه او د ابن اسحق په روایت کښې ضربتین دې لکه چه د یونس په روایت کښې هم ضربتین تیر شوې دې.

﴿وَقَالَ مَالِكٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ الخ﴾ امام مالک رحمه الله د زهری څلورم شاګرد دې، هغوی د عبیدالله او د عمار ترمینځه واسطه خو ذکر کړه خو په خائې د ابن عباس رضی الله عنه ئې عن ابیه اووئیل. بیا وراندې مصنف رحمه الله فرمائی ﴿وَشَكَّ فِيهِ ابْنُ عُيَيْنَةَ﴾ دا هم د زهری د شاګردانو نه دې هغوی په خپل سند کښې واسطه خو ذکر کړې ده خو ددې واسطې تعیین ئې نه دې کړې شک ئې ظاهر کړو چه هغه عن ابیه دې یا عن ابن عباس رضی الله عنه او کله کله ئې بغیر د شک نه عن ابیه او کله عن ابن عباس رضی الله عنه وائی.

﴿قوله وَلَمْ يَذْكُرْ أَحَدٌ مِنْهُمْ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الضَّرْبَتَيْنِ إِلاَّ مَنْ سَمَّيْتُ﴾ د ﴿من سمیت﴾ مصداق د مصنف رحمه الله د بیان کړې روایاتو مطابق په اصحاب زهری رحمه الله کښې صرف درې دی، یونس، ابن اسحاق او معمر خو په بذل کښې لیکی چه د مصنف رحمه الله دعوی د حصر منقوض ده، څکه چه امام بیهقی رحمه الله په دې کښې د ابن ابی ذئب او امام طحاوی رحمه الله پکښې د صالح بن کیسان (۱) اضافه کړې ده چه دا هر دواړه هم د ضربتین د ذکر کونکو نه دی

[۳۲۱](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ الضَّرِيرُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا بَيْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَبِي مُوسَى، فَقَالَ أَبُو مُوسَى: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلاً أَجْنَبَ فَلَمْ يَجِدِ الْمَاءَ شَهْرًا، أَمَا كَانَ يَتَيَمَّمُ؟ فَقَالَ: لاَ، وَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ شَهْرًا! فَقَالَ أَبُو مُوسَى: فَكَيْفَ تَصْنَعُونَ بِهَذِهِ الآيَةِ الَّتِي فِي سُورَةِ الْمَائِدَةِ: فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا سورة المائدة آية ٦؟ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَوْ رُخِّصَ لَهُمْ فِي هَذَا لأَوْشَكُوا إِذَا بَرَدَ عَلَيْهِمُ الْمَاءُ أَنْ يَتَيَمَّمُوا بِالصَّعِيدِ. فَقَالَ لَهُ أَبُو مُوسَى: وَإِنَّمَا كَرِهْتُمْ هَذَا لِهَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ. فَقَالَ لَهُ أَبُو مُوسَى:

---

(۱) زه وایم د صالح بن کیسان روایت کوم چه په ابوداؤد کښې دې په هغې کښې ضربه واحده مذکور ده امام طحاوی رحمه الله ته چه د هغوی کوم روایت رسیدلې وی هغه به د ضربتین وی او دا دواړه روایتونه به د دوه مختلفو وختونو وی.

(۲) صحیح البخاري/التیمم ۷ (۳۴۵، ۳۴۶)، ۸ (۳۴۷)، صحیح مسلم/الحیض ۲۸ (۳۶۸)، سنن الترمذي/الطهارة ۱۱۰ (۱۴۴) مختصراً)، سنن النسائي/الطهارة ۲۰۳ (۳۲۱)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۶۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۲۶۴) (صحیح)

أَلَمْ تَسْمَعْ قَوْلَ عَمَّارٍ لِعُمَرَ: "بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ، فَأَجْنَبْتُ فَلَمْ أَجِدِ الْمَاءَ فَتَمَرَّغْتُ فِي الصَّعِيدِ كَمَا تَمَرَّغُ الدَّابَّةُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَصْنَعَ هَكَذَا: "فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى الْأَرْضِ فَنَفَضَهَا، ثُمَّ ضَرَبَ بِشِمَالِهِ عَلَى يَمِينِهِ وَبِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ عَلَى الْكَفَّيْنِ، ثُمَّ مَسَحَ وَجْهَهُ"، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ: أَفَلَمْ تَرَ عُمَرَ لَمْ يَقْنَعْ بِقَوْلِ عَمَّارٍ

ترجمه: د شقيق نه روايت دې هغه وائي: ومِ زه ناست په مينځ د عبد الله او ابو موسى كښې، اووئيل ابو موسى: اې ابا عبد الرحمن خبر راكړه ماته كه چېرې يو سړى نه بيامومي اوبه يو مياشت، ايا نه دى چه تيمم به كوي؟ نو هغه اووئيل: نه، اګر كه اوبه پيدا نه كړي تر يوې مياشتې پورې. اووئيل ابو موسى: تاسو څنګ كوئ ددې ايت سره هغه چه په سورة المائدة كښې دى (فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا) نو اووئيل عبد الله: كه چېرې رخصت وركړې شي دوى ته په دې كښې نو قريبه ده چه كله يخې شي په دوى باندې اوبه نو تيمم به اوكړي په پاكه خاوره، نو اووئيل هغه ته ابو موسى: بيشكه تاسو دا بد وګڼړلو د وجې ددې نه. هغه اووئيل: آو، نو اووئيل هغه ته ابو موسى: ايا تا نه دى اورېدلى قول د عمار عمر ته، ولېږلم زه رسول الله ﷺ په يو حاجت كښې نو زه جنب شوم نو بيا نه موندلې ما اوبه، نو زه ورغښتلم په پاكه خاوره كښې لكه څرنګه چه رغړي دابه، بيا راغلم نبي ﷺ ته نو ما ورته ذكر كړو هغه نو هغه وفرمايل: بيشكه كافي وه ستا لپاره چه ته اوكړې داسې: نو وئې وهله په خپل لاس باندې ځمكه بيائې څنډوهله، بيا ئې ووهلو ګس لاس په ښي لاس او ښي لاس په ګس لاس تر ورغوو پورې، بيا ئې مسح كړو مخ خپل. نو اووئيل هغه ته عبد الله: ايا ته نه وينې عمر چه قانع نه شو په قول د عمار

تيمم د جنب په باره كښې د ابن مسعود او ابوموسى اشعري رضي الله عنهما مباحثه

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ – قوله فَقَالَ أَبُو مُوسَى يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الخ ﴾ په دې حديث كښې د تيمم جنب مسئله مذكور ده، ابوعبدالرحمن د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه كنيت دې ابوموسى اشعري رضي الله عنه كوم چه د تيمم جنب د جواز قائل وو د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مسئله اوتپوسله چه كه يو جنبي ته اوبه ملاؤ نه شي نو آيا هغه تيمم كولې شي، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي نه شي كولې، په دې باندې ابوموسى اشعري رضي الله عنه د سورة مائده آيت كريمه ﴿ او لامستم النساء ﴾ پيش كړو (۱) د كوم نه چه د جنب تيمم ثابتيږي. په دې باندې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل چه خبره خو صحيح ده خو كه مونږ خلقو ته د تيمم جنب اجازت وركړو نو ويره ده ددې خبرې چه هغوى به په دې كښې بې احتياطى اوكړى چرته چه وينى چه اوبه يخې دى او يخنى ده بس تيمم به كوى ﴿فقال له ابو موسى انما كرهتم لهذا ﴾ يعنې ابوموسى اشعري رضي الله عنه اوفرمائيل ښه ! تاسو ددې وجې نه فتوى نه وركوئ آيا رسول

---

(۱) ددې نه معلومه شوه چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې آيت كريمه په تفسير كښې د ابن عباس رضي الله عنهما د رائې سره متفق دې چه په دې آيت كريمه كښې د لمس نه مراد لمس باليد نه دې بلكه جماع مراد ده لكه چه احناف وائي)

الله ﷺ د جواز فتوی نه وه ورکړې، د رسول الله ﷺ نه به څوک زيات مصلحت پيژندلو والا وې، او د عمار ﷺ يو حديث ئې بيان کړو کوم چه هغوی د عمر ﷺ مخکښې بيان کړې وو دا پوره حديث وړاندې په متن کښې راروان دې چه دهغې نه د جنب د تيمم جواز ثابتيږې هغه دا چه عمار ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ زه چرته په سفر باندې يو کار پسې ليږلې اوم، ماته هلته جنابت اورسيدلو اتفاق سره اوبه نه وې هغوی وائي چه ما د جنابت په نيت باندې تيمم اوکړو (او ماته دا معلومه نه وه چه د حدث اصغر او اکبر دواړو نه د تيمم طريقه يوه ده) پس زه په زمکه اولوغړيدم څنګه چه خاروې اس وغيره لوغړيږې بيا چه کله زه د سفر نه واپس شوم او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او ما رسول الله ﷺ ته ددې تذکره اوکړه نو په دې باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو د جنابت د تيمم دپاره د تمرغ ضرورت نشته، ددې نه پس رسول الله ﷺ د تيمم چه کومه معروفه طريقه ده هغه بيان کړه، عبدالله بن مسعود ﷺ د ابوموسی اشعري ﷺ په دې خبره اوريدلو باندې اوفرمائيل ﴿أَفَلَمْ تَرَ عُمَرَ لَمْ يَقْنَعْ بِقَوْلِ عَمَّارٍ﴾ آيا ته نه ګورې چه کله عمر ﷺ ته عمار ﷺ دا حديث بيان کړې وو نو عمر ﷺ په دې باندې قناعت او اظهار د اطمينان نه وو کړې، په دې باندې ابو موسی اشعري ﷺ خاموش شو، د قناعت نه کولو تشريح په وړاندې روايت کښې راځي

په ترتيب استدلال باندې اشکال او د هغې توجيه :

ځان پوهه کړه چه ابوموسی اشعري ﷺ د عبدالله بن مسعود ﷺ مخې ته د تيمم جنب په جواز باندې په استدلال کښې دوه څيزونه پيش کړل، يو آيت مائده او دويم حديث د عمار ﷺ، د ابوداؤد په روايت کښې ترتيب دا دې چه هغوی اول استدلال په آيت کريمه باندې اوکړو دهغې نه پس استدلال بالحديث، اول چه کله هغوی د آيت کريمه نه استدلال اوکړو نو په هغې باندې عبدالله بن مسعود ﷺ د هغوی خبره تسليم کړه، خو دا ئې اوفرمائيل چه په يو مصلحت سره مونږ د جواز فتوی نه ورکوو، په دې ترتيب باندې دا اشکال واردیږي چه عبدالله بن مسعود ﷺ چه کله د ابوموسی اشعري ﷺ مخکښې د تيمم جنب اعتراف اوکړو نو بيا ابوموسی اشعري ﷺ ددې نه پس دوباره استدلال بالحديث ولې اوکړو ددې څه حاجت پاتې شوې وو، دويم اشکال دا واردیږي چه کله عبدالله بن مسعود ﷺ د جواز تيمم اعتراف کړې وو نو روستو چه ابو موسی اشعري ﷺ د هغوی مخکښې حديث عمار ﷺ پيش کړو نو عبدالله بن مسعود ﷺ د هغوی په استدلال باندې نقد ولې اوکړو دا حديث په صحيح بخاري کښې هم دې په يو ځائې کښې هلته هم ترتيب د استدلال هم دغه شان دې څنګه چه دلته په ابوداؤد کښې دې خو د صحيح بخاري په دويم روايت کښې ترتيب ددې برعکس دې اولا استدلال بالحديث بيا چه کله عبدالله بن مسعود ﷺ په دې باندې نقد اوفرمائيلو نو ثانيا ابوموسی اشعري ﷺ استدلال بالاية اوفرمائيلو، د بخاري د رواية په دې ترتيب باندې هيڅ اشکال نه واقع کيږي هم دغه شان د ابوداؤد د روايت تشريح پورته په کومه طريقه چه مونږ کړې ده په هغې باندې هم اشکال رفع کيږي ځکه چه عبدالله به مسعود ﷺ په شروع کښې د جواز تيمم اګر که اعتراف کړې

ور خو ورسره ئې دا خبره هم بيان اوفرمائيله چه د جواز فتوئ د مصلحت خلاف ده، د خلاف مصلحت کېدو ترديد چه کله ابوموسي اشعري رضي الله عنه په حديث د عمار رضي الله عنه سره اوکړو نو په دې باندې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د هغوئ په دليل باندې نقد اوفرمائيلو، پس د هغوئ نقد په اصل جواز باندې نه شو بلکه په انکار د مصلحت باندې شو

[٣٢٢]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ عُمَرَ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنَّا نَكُونُ بِالْمَكَانِ الشَّهْرَ وَالشَّهْرَيْنِ، فَقَالَ عُمَرُ: أَمَّا أَنَا فَلَمْ أَكُنْ أُصَلِّي حَتَّى أَجِدَ الْمَاءَ، قَالَ: فَقَالَ عَمَّارٌ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، أَمَا تَذْكُرُ إِذْ كُنْتُ أَنَا وَأَنْتَ فِي الْإِبِلِ فَأَصَابَتْنَا جَنَابَةٌ، فَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ، فَأَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: "إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَقُولَ هَكَذَا، وَضَرَبَ بِيَدَيْهِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ نَفَخَهُمَا ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ إِلَى نِصْفِ الذِّرَاعِ"، فَقَالَ عُمَرُ: يَا عَمَّارُ، اتَّقِ اللَّهَ، فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنْ شِئْتَ وَاللَّهِ لَمْ أَذْكُرْهُ أَبَدًا. فَقَالَ عُمَرُ: كَلَّا وَاللَّهِ لَنُوَلِّيَنَّكَ مِنْ ذَلِكَ مَا تَوَلَّيْتَ.

ترجمه: د عبد الرحمن بن ابزئ نه روايت دې هغه وئيلي دي وم زه د عمر په خوا کښې نو راغئ هغه ته يو سړې هغه اووئيل مونږ يو په خائي کښې يو مياشت او دوه مياشتې نو اووئيل عمر: هر چه زه يم نو نه يم چه مونځ اوکړم ترڅو چه اوبه پيدا کړم، هغه وائي: اووئيل عمار: اې امير المؤمنين ايا تاته ياد نه دي کله چه وم زه او ته په اوښانو کښې، ورسېدلو مونږ ته جنابت ، هر چه زه يم زه ورغښتلم نو راغلو نبي ﷺ ته نو هغه مې ورته ذکر کړو، هغه وفرمايل: بيشکه کافي وو ستا لپاره چه ته اوکړې داسې: او وئې وهل دواړه لاسونه په خمکه، بيا ئې دواړو وپوکل، بيا ئې مسح کړو په هغې باندې مخ او دواړه لاسونه تر نيم د څنګلو پورې نو اووئيل عمر: اې عماره د الله نه ويرېږه، هغه اووئيل: اې امير المؤمنين! که ستا خوښه وي قسم په الله د دېنه وروسته به ئې هيڅ کله ذکر نه کړم، نو اووئيل ورته عمر داسې نه ده قسم په الله مونږ به پرېږدو تا هغه څه ته چه ته ئې وايې

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ – قوله كُنْتُ عِنْدَ عُمَرَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ الخ ﴾ دا هم هغه حديث د عمار رضي الله عنه دې چه دهغې حواله ابو موسي اشعري رضي الله عنه په خپل استدلال کښې ورکړې وه، مضمون ددې دا دې

د تيمم جنب په باره کښې حديث عمار رضي الله عنه :

يو ځل يو سړې د عمر رضي الله عنه په خدمت کښې راغلو او هغه د جنب د تيمم په باره کښې سوال اوکړو چه که چاته جنابت پېښ شي او اوبه نه وي نو آيا هغه تيمم کولې شي؟ په دې باندې عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه که خپله ماته داسې ضرورت راشي نو زه به د جنابت نه تيمم کولو سره مونځ نه کوم (ګويا هغوئ د جنب د تيمم قائل نه وو) ددې سوال او جواب په وخت په مجلس کښې عمار بن ياسر رضي الله عنه هم موجود وو هغه اووئيل يا امير المومنين! آيا تاسو ته هغه واقعه ياد نه ده چه يو ځل ما او تاسو ته په حالت د سفر کښې جنابت پېښ شوې وو او ما يو قسم تيمم کولو سره مونځ کړې وو بيا د سفر نه په واپسئ باندې ما رسول الله ﷺ ته دهغې تذکره

(). انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٦٢) (صحيح)

کړي وه نو په دې باندې رسول الله ﷺ ماته تيمم ښودلې وو چه داسې کول پکار وو په زمکه باندې د لوغړيدو ضرورت نه وو، خو عمر ﷺ ته دا واقعه د هغوی په رايادولو باندې هم رایاده نه شوه او وې فرمائيل ﴿ يا عمار ! اتق الله ﴾ په دې باندې عمار ﷺ عرض اوکړو چه ښه دا که تاسو غواړئ نو زه به دا حديث خلقو ته نه ذکر کوم، په دې باندې عمر ﷺ اوفرمائيل دا خو زه نه غواړم ﴿ لَنُوَلِّيَنَّكَ مِنْ ذٰلِكَ مَا تَوَلَّيْتَ ﴾ ته په خپله ذمه داري باندې دا حديث بيانوه، واضحه دې وی چه دا هم هغه دويم حديث عمار ﷺ دې کوم چه شيخينو په صحيحين کښې اخستلې دې د کوم وضاحت چه مونږ مخکښې بيان کړې دې

[۳۲۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنِ ابْنِ أَبْزَى، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: يَا عَمَّارُ، إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا، ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ الْأَرْضَ ثُمَّ ضَرَبَ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى ثُمَّ مَسَحَ وَجْهَهُ وَالذِّرَاعَيْنِ إِلَى نِصْفِ السَّاعِدَيْنِ وَلَمْ يَبْلُغِ الْمِرْفَقَيْنِ ضَرْبَةً وَاحِدَةً، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، وَرَوَاهُ جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى يَعْنِي عَنْ أَبِيهِ.

ترجمه: د عمار بن ياسر نه روايت دې په هم دې حديث کښې هغه اووئيل اې عمار! بيشکه کافي وو ستا لپاره داسې بيائي ووهل خپل دواړه لاسونه په ځمکه باندې، بيا ووهلو يو په بل باندې، بيا ئې مسح کړو خپل مخ او دواړه څنګلې تر نيم د بازوګانو پورې، او ونې نه رسولو څنګلو ته يوه ضربه وئيلې دي ابوداود او نقل کړې دی وکيع د اعمش نه او هغه د سلمة بن کهيل نه او هغه د عبد الرحمن نه بن ابزی نه، او نقل کړی دی جرير د اعمش نه او هغه د سلمة بن کهيل نه او هغه د سعيد بن عبد الرحمن بن ابزی نه، يعني د خپل پلار نه

[۳۲۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ، عَنْ ذَرٍّ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمَّارٍ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، فَقَالَ: إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ، وَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ نَفَخَ فِيهَا وَمَسَحَ بِهَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ، شَكَّ سَلَمَةُ، وَقَالَ: لَا أَدْرِي فِيهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ يَعْنِي أَوْ إِلَى الْكَفَّيْنِ.

ترجمه: روايت دی د عبد الرحمن بن ابزی نه او هغه د خپل پلار نه، او هغه د عمار بن يسار نه په دې قصه سره، هغه اووئيل بيشکه کافي وو ستا لپاره او ووهلو نبي ﷺ خپل لاس په ځمکه، بيا ئې پوکی اوکړو په هغې کښې، او مسح ئې کړو په هغې باندې مخ او دواړه ورغوی شک کړی دی سملة او وئيلی ئې دی زه نه پوهيږم په هغې کښې الی المرفقين دی يعنی که الی الکفين دی

[۳۲۵]() حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ يَعْنِي الْأَعْوَرَ، حَدَّثَنِي شُعْبَةُ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: ثُمَّ نَفَخَ فِيهَا وَمَسَحَ بِهَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، أَوْ إِلَى الذِّرَاعَيْنِ، قَالَ شُعْبَةُ: كَانَ سَلَمَةُ، يَقُولُ: الْكَفَّيْنِ وَالْوَجْهَ وَالذِّرَاعَيْنِ، فَقَالَ لَهُ مَنْصُورٌ: ذَاتَ يَوْمٍ انْظُرْ مَا تَقُولُ، فَإِنَّهُ لَا يَذْكُرُ الذِّرَاعَيْنِ غَيْرُكَ.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۶۲) (صحيح)
[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۱۳۸، ۱۰۳۶۲) (صحيح)
[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۶۲) (صحيح)

ترجمه: اعور وائي حديث بيان کړی دی ماته شعبه په خپل اسناد سره ددې حديث، هغه وئيلی دی: بيا ئې پوکی اوکړو په هغې کښې او مسح ئې کړو په هغې باندې خپل مخ او دواړه ورغوي ترخنګلو پورې. او يا تر بازوګانو پورې. وئيلی دي شعبه: وو سلمة چه وئيل بې: ورغوي او مخ او څنګلې، نو اووئيل هغه ته منصور يوه ورځ: اوګوره ته څه وائې بېشکه نه ذکر کوي ذراعين بغير ستانه

[٣٢٦](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْحَكَمُ، عَنْ ذَرٍّ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمَّارٍ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَقَالَ: يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَضْرِبَ بِيَدَيْكَ إِلَى الْأَرْضِ فَتَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَكَ وَكَفَّيْكَ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمَّارًا يَخْطُبُ بِمِثْلِهِ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: لَمْ يَنْفُخْ، وَذَكَرَ حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: ضَرَبَ بِكَفَّيْهِ إِلَى الْأَرْضِ وَنَفَخَ.

ترجمه: د عمار ﷛ نه روايت دې په دې حديث کښې، هغه وئيلی دی: اووئيل يعني نبي ﷺ بېشکه کافي وو ستا لپاره چه ته ووهې خپل دواړه لاسونه په خمکه، پس مسح کړې په دواړو باندې خپل مخ او دواړه ورغوي. او سوق د حديث ئې اوکړو. وئيلی دي ابوداود: او نقل کړی دی شعبة د حُصين نه هغه د ابو مالک نه هغه وئيلی دی: ما اورېدلي دي د عمار نه چه خطبه ئې ويله په مثل دهغې مګر هغه اووئيل: هغه پوکی اونه کړو. او ذکر کړو حسين بن محمد د شعبه او هغه د حکم نه په په دې حديث کښې، هغه اووئيل: وئې وهل خپل دواړه ورغوي په خمکه او پوکی ئې اوکړو

[٣٢٧](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَزْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّيَمُّمِ، "فَأَمَرَنِي ضَرْبَةً وَاحِدَةً لِلْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ".

ترجمه: د عمار بن ياسر نه روايت دې هغه وئيلی دی: تپوس اوکړو ما د نبي ﷺ نه په باره د تيمم کې، نو امر ئې اوکړو ماته د يوې ضربې د مخ او د ورغوو دپاره.

[٣٢٨](٣) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، قَالَ: سُئِلَ قَتَادَةُ عَنِ التَّيَمُّمِ فِي السَّفَرِ، فَقَالَ: حَدَّثَنِي مُحَدِّثٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ".

ترجمه: د عمار بن ياسر نه روايت دې بېشکه رسول الله ﷺ وئيلی دی: ترخنګلو پورې.

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٦٢) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٦٢) (صحيح)

(٣): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٦٢) (منكر)

بَابُ التَّيَمُّمِ فِي الْحَضَرِ

باب دې په بيان د تيمم کولو په حضر کې

د کيفيت تيمم د بيان نه چه کله فارغ شو نو اوس مصنف رحمه الله د تيمم متعلق بعض نور احکام بيانوي يو دهغې نه دا دې چه آيا د اوبو په موجودګۍ کښې په حالت د حضر کښې هم د يو عبادت دپاره تيمم کيدلې شي؟ د حديث الباب نه معلومه شوه چه اوا د رد السلام دپاره تيمم کولې شي ځکه چه رد السلام يو فورى څيز دې چه په هغې کښې د تراخي ګنجائش نشته لهذا که څوک دا غواړي چه د سلام جواب په طهارت سره ورکړي نو اوس ظاهره ده چه که اودس کوى نو د رد وخت به اوځي، لهذا تيمم کولو سره دې جواب ورکړي

د حديث الباب نه د امام طحاوي رحمه الله يو استنباط :

امام طحاوي رحمه الله د حديث الباب نه [1] په يو بله مسئله بلکه قاعده کليه باندې استدلال کړې دې چه دهغې صرف احناف قائل دى جمهور نه. هغه دا چه هر هغه عبادت کوم چه فائت لا الى خلف وى يعني د کوم چه قضاء نه وى، مثلا صلوة الجنازة، صلوة العيدين که د اودس کولو په وجه باندې د ناوخته کيدو د وجې نه د فوت کيدو ويره وى نو د هغې دپاره تيمم جائز دې، د شوافعو وغيره په نزد چونکه دا مسئله نه ده په دې وجه امام نووي رحمه الله په حديث الباب کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تيمم توجيه دا کړې ده چه دا تيمم د عدم وجدان ماء د وجې نه وو ځو ظاهره دا ده چې دا واقعه په مدينې منوره کښې يعني د حضر او آبادۍ ده، هلته د اوبو نه کيدو څه مطلب فلعل النووى لم يحمله على ذلک الا نصرة مذهبه، په دې سلسله کښې نور هم بعض آثار د صحابه کرامو رضي الله عنهم دى چه دهغې نه زمونږ د مسلک تائيد کيږى

د تيمم في الحضر اسباب او صورتونه سره د اختلاف ائمة :

د دې نه پس دا پيژندل پکار دى چه په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله مذکور ده يعني تيمم فى الحضر دا طويل الذيل او تفصيل طلب ده پس دهغې مختلف اسباب او وجوه کيدې شى، او هغه زمونږ د تتبع په اعتبار سره څلور دى

الوجه الاول : لعدم وجدان الماء، د احنافو په نزد د عدم وجدان الماء د وجې نه په ښار کښې تيمم کولې شى يا نه؟ د بعض متون احناف نه معلوميږى چه عدم وجدان الماء معتبر نه دې، ځکه چه دا ډيره نادره ده، د صاحب هداية ميلان هم دې طرف ته دې او بعض فقهاء کرامو ليکلي دى چه دا صحيح ده چه نادره ده خو که اتفاقا داسې اوشي نو د راجح قول په بناء باندې زمونږ په نزد داسې جائز دى، در مختار کښې هم دا اختيار کړې شوې ده او په لامع کښې د حضرت ګنګوهي رحمه الله د کلام نه هم دا معلوميږى، او هم دا د ائمة ثلاثه مذهب

---

[1] او احنافو سره په دې سلسله کښې د عمر او ابن عباس رضي الله عنهم اثر هم موجود دې ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : اذا فجاءتك جنازة وانت على غير طهارة فتيمم طحاوي او ابن ابي شيبة او هم دغه شان امام نسائي په کتاب الکنى کښې دا روايت کړې دې، په اثر د ابن عمر رضي الله عنهما کښې دا دى چه يو خل هغوى د جنازې مونځ کولو او دهغې نه مخکښې ئې اودس نه وو نو هغوى تيمم کولو سره مونځ اوکړو امام بيهقي رحمه الله دا په معرفة السنن کښې په ډيرو طرقو سره ذکر کړې دې، (کذا فى المنهل)

دي خو د هغوی په نزد په وجوب اعادة کښې اختلاف دې يعني چه کله اوبه ملاؤ شي نو اعادة د صلوة واجب ده يا نه؟ د امام احمدﷺ په دې کښې دواړه اقوال دی کما فی المغنی خو په الروض المربع کښې د عدم وجوب اعادة تصريح ده او د امام مالکﷺ راجح قول د عدم اعاده دې او هم دا د احنافو مذهب دې خو امام شافعيﷺ د وجوب اعادة قائل دې، فالائمة الثلاثة في جانب والامام الشافعي في جانب.

الوجه الثاني : تيمم في الحضر لوجه المرض : يو سړې مريض دې د هغه د اوبو په استعمال يا حرکت وغيره باندې د مرض د زياتيدلو ويره ده پس داسې مريض د جمهور علماء کرامو ومنهم الائمة الثلاثة احناف، مالکيان او حنابله په نزد تيمم کولې شي خو د امام شافعيﷺ په نزد صرف د اشتداد مرض د وجې نه نۀ شي کولې ترڅو چه د تلف نفس يا تلف عضو ويره نه وی (کما في الهداية) خو د کتب شافعيه د کتلو نه معلوميږي چه د خوف تلف قيد د هغوی په نزد هم نشته. لهذا هغوی هم په دې مسئله کښې د جمهورو سره شو. د داؤد ظاهريﷺ په نزد تيمم لاجل المرض مطلقا جائز دې که د اوبو استعمال ضرر لرې يا نه، او هم دا د امام مالکﷺ نه يو روايت دې، کما في العيني.

الوجه الثالث : تيمم الجنب لاجل البرد : يعني د اوبو کيدو سره سره د يخنۍ د وجې نه د غسل په ځائې تيمم کول، په دې مسئله باندې وړاندې تلو سره مصنفﷺ مستقل باب ترلې دې، باب اذا خاف الجنب البرد ايتيمم..... په دې مسئله کښې اختلاف دا دې چه د ائمة اربعه په نزد خو د داسې سړی دپاره تيمم ضروری دې خو په احنافو کښې صاحبينﷺ فرمائي چه د يخنۍ د وجې نه د جنبي تيمم کول په مصر کښې جائز نه دی د مصر نه بهر جائز دی.(١) ځکه چه په ښار کښې د ګرمو اوبو انتظام کيدلې شي په خلاف د صحراء، بيا په دې کښې اختلاف دې چه که يو سړی د يخنۍ د وجې نه په ځائې د غسل تيمم کولو سره مونځ اوکړو نو بيا د زوال عذر نه پس به د مونځ اعاده واجب وی يا نه؟ د امام ابوحنيفه او امام مالک په نزد واجب نه ده، د امام شافعي په نزد واجب ده، او د امام احمد ﷺ نه دوه روايتونه دی، خو په الروض المربع کښې صرف عدم وجوب اعادة مذکور ده، لهذا په دې مسئله کښې ائمه ثلاثه يو طرف ته شو او امام شافعيﷺ بل طرف ته دا خو مذاهب شو د ائمة اربعه، او د عطاء بن ابي رباح او حسن بصری ﷺ په نزد په اصل مسئله کښې اختلاف دې د هغوی په نزد تيمم الجنب لاجل البرد مطلقا جائز نه دې، بل يجب الغسل وان مات.

تنبيه : حضرت شيخﷺ په حاشيه د بذل کښې په حواله د عيني او مغني په دې مسئله کښې د شوافعو سره صاحبينو هم ذکر فرمائيلې دې چه د هغوی په نزد هم اعادة

(١) محشی هداية ليکې ظاهره دا ده چه د صاحبينو په نزد تسخين الماء في المصر واجب دې او يا دا چه اجرت ورکولو سره په حمام کښې غسل اوکړی او د اصحاب المغتسل عادت دا وی چه هغوی اجرة بعد الفراغ عن الغسل اخلی لهذا که هغه سره دغه وخت کښې اجرت نه وی نو عذر دې اوکړی هم په دې وجه وئيلې شوی دی چه په دې مسئله کښې د امام صاحب او د صاحبينو اختلاف اختلاف زمان دې نه اختلاف برهان، خو په داسې مسئلو کښې د عمل کولو دپاره د فتوی خاوندانو ته رجوع کول پکار دی.

واجب ده، خو د صاحبینو مذهب باوجود د کافي تتبع نه چرته ملاؤ نه شو، په شرح وقایه او دهغې په حاشیه کښې دا قاعده کلیه لیکلې شوې ده چه هغه عذر کوم چه د تیمم دپاره مبیح وی هغه کله د الله پاک د طرف نه وی لکه مرض، برد او خوف عطش وغیره په دې صورت کښې تیمم جائز دې او روستو اعادة واجب نه ده او کوم عذر چه د بندګانو د طرف نه وی لکه هغه سړې کوم چه د کفارو په قبضه کښې وی کوم چه هغه د اودس نه منع کوی یا محبوس فی السجن وغیره په دې صورتونو کښې تیمم کولو سره مونځ کول جائز دی خو د زوال مانع نه پس اعادة واجب ده، دا د تیمم ټول مسائل او اختلاف ائمة د کتابونو د مراجعت نه پس په احتیاط سره ذکر کړې شوې دی انشاء الله تعالی تحقیق هم دا دې

الوجه الرابع : هغه صورت کوم چه په حدیث الباب کښې مذکور دې یعنی هغه تیمم کوم چه د هغه عبادت دپاره اوکړې شی کوم چه فائت لا الی خلف وی چه دهغې تشریح د باب په شروع کښې تیره شوه.

[۳۲۹] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، أَخْبَرَنَا أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ، يَقُولُ: أَقْبَلْتُ أَنَا وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَسَارٍ مَوْلَى مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ الْأَنْصَارِيِّ، فَقَالَ أَبُو الْجُهَيْمِ: "أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ، فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ السَّلَامَ حَتَّى أَتَى عَلَى جِدَارٍ فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ".

ترجمه: د عمیر نه روایت دې چه د ابن عباس غلام دی بیشکه هغه اوریدلې دې د هغه نه چه وئیل یې: زه راغلم او عبد الله بن یسار چه مولی د میمونې دی بی بی د پیغمبر ﷺ ده، په ابو الجهیم بن الحارث بن الصمة الانصاري ته، اووئیل دې ابو الجهیم: راغی رسول الله ﷺ طرف د کوهې د جمل ته نو مخامخ شو ورسره یو سړی نو سلام یې پرې واچولو، نو رد نه کړو رسول الله ﷺ سلام تر دې چې راغی یو دیوال ته نو مسح ئې اوکړه په خپل مخ او دواړه لاسونو باندې بیا ئې جواب ورکړو هغه ته

تشریح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ - قوله دَخَلْنَا عَلَى أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ الْأَنْصَارِيِّ فَقَالَ أَبُو الْجُهَيْمِ الانصاری ﴾ ابو الجهیم کنیت دې د دوی په نوم کښې اختلاف دې بعضو وئیلې دی چه د دوی نوم حارث بن الصمة دې لهذا لفظ د ابن کوم چه د ابوالجهیم او حارث ترمینځه په متن کښې دې هغه غلط دې او وئیلې شوې دی چه د هغوی نوم عبدالله دې ددې نه پس خان پوهه کړه چه دا نوم هم دغه شان مصغرا د بخاری په روایت کښې هم دې او په مسلم کښې په خائې د مصغر مکبر یعنی ابوالجهم واقع دې حافظ رحمه الله فرمائي چه دا تحریف دې او صحیح بالتصغیر دې د دوی روایت په صحاح ستة کښې دوه ځایونو کښې راغلې یو دلته په رد السلام کښې او دویم په مرور بین یدی المصلی یعنی په ابواب

¹): صحیح البخاري/التیمم ۳ (۳۳۷)، صحیح مسلم/الحیض ۲۸ (تعلیقاً) (۳۶۹)، سنن النسائي/الطهارة ۱۹۵ (۳۱۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۶۹/۴) (صحیح)

الستره کښې، علامه عینيؒ ليکي چه په صحابه کرامو﷢ کښې يو سړي بل دې چه د هغه نوم ابوالجهم (مکبرا) دې او د هغوی نوم عامر بن حذيفه دې دا ابوالجهم﷜ هم هغه سړي دې چه د هغه په باره کښې په حديث کښې راځي ﴿ائتوني بانبجانية ابي جهم﴾
د ابوالجهيم په دې حديث کښې ضربه واحده مذکور ده، حضرات شيخين چونکه د ضربه واحدة قائل دی په دې وجه هغوی هم دا روايت په خپل خپل صحيح کښې اخستلې دې

[۳۳۰] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَوْصِلِيُّ أَبُو عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا نَافِعٌ، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي حَاجَةٍ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقَضَى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ فَكَانَ مِنْ حَدِيثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ، قَالَ: "مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِكَّةٍ مِنَ السِّكَكِ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى إِذَا كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَتَوَارَى فِي السِّكَّةِ، ضَرَبَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرَى فَمَسَحَ ذِرَاعَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ، وَقَالَ: إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلَامَ إِلَّا أَنِّي لَمْ أَكُنْ عَلَى طُهْرٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ حَدِيثًا مُنْكَرًا فِي التَّيَمُّمِ، قَالَ ابْنُ دَاسَةَ: قَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَمْ يُتَابَعْ مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ عَلَى ضَرْبَتَيْنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَوْهُ فِعْلَ ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: خبر راکړی دی مونږ ته نافع هغه اووئيل: زه لاړم د ابن عمر سره د يو حاجت لپاره ابن عباس ته نو ابن عمر خپل حاجت پوره کړو نو وی بعضي خبرې دهغې په دغه ورځ دا چه هغه اووئيل: تېر شو يو سړی په رسول الله ﷺ باندې په يوه کوڅه کښې د کوڅو نه، او په تحقيق سره هغه راووتلو د غائط نه او يا د بولو نه نو سلام ئې واچولو په هغه باندې نو جواب د سلام ئې ورنه کړو تردی چه نژدې شو سړی چه پټ شي په کوڅه کښې، وئې وهل دواړه لاسونه په ديوال او مسح ئې کړل په دواړو باندې مخ خپل، بيا ئې ووهله بله ضربه نو مسح ئې کړې متې خپلې، بيا د سلام جواب ئې ورکړو سړي ته. او وئې وئيل: بيشکه منع کوي مالره چه واپس کړم په تا باندې سلام مګر زه نه وم په پاکۍ. وئيلی دي ابوداود: ما اوريدلي دي د احمد بن حنبل نه چه هغه ويل: روايت کړی دی محمد بن ثابت منکر حديث په تيمم کښې. وئيلی دي ابن داسة وئيلی دي ابوداود: او متابعت نه دی شوی د محمد بن ثابت په دې قصه کښې په ضربتينو د نبي ﷺ نه، او هغوی رايت کوی فعل د ابن عمر ﷠

تشريح: ﴿حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَوْصِلِيُّ – قوله فَكَانَ مِنْ حَدِيثِهِ يَوْمَئِذٍ الخ﴾ د حديثه ضمير ابن عمر﷠ طرف ته راجع دې نه د ابن عباس﷠ طرف ته، اګرچه سياق د کلام کښې د دواړو احتمال شته، خو د نورو رواياتو د وجې نه دا متعين ده چه دا ضمير صرف ابن عمر﷠ ته راجع دې

په کيفيت د تيمم کښې د احنافو دليل او د مصنفؒ په هغې باندې نقد :

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ الخ﴾ په دې حديث د ابن عمر﷠ کښې ضربتين مذکور دي هم دغه شان په ځائې د کفين ذراعين دي چه د احنافو مسلک دې خو په دې باندې مصنفؒ کلام کوی چه امام احمدؒ فرمائي چه د محمد بن ثابت دا حديث منکر دې، او

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٤٢٠) (ضعيف)

بیا وراندې مصنف رحمه الله فرمائی چه محمد بن ثابت د نافع نه ددې په مرفوعا نقل کولو کښې متفرد دې، په دې کښې چا هم د هغوی متابعت نه دې کړې، د محمد بن ثابت نه علاوه د نافع نورو شاګردانو دا موقوفا په ابن عمر رضي الله عنه باندې روایت کړې دې یعنی د ابن عمر رضي الله عنه فعل ئې ورته وئیلې دې، حضرت په بذل کښې په دې باندې تفصیلی کلام فرمائیلې دې چه دهغې خلاصه دا ده چه محمد بن ثابت ثقة دې او زیادة د ثقه مقبول دې.

[٣٣١]() حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَحْيَى الْبُرُلُّسِيُّ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، أَنَّ نَافِعًا حَدَّثَهُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "أَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَائِطِ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ عِنْدَ بِئْرِ جَمَلٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْحَائِطِ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْحَائِطِ ثُمَّ مَسَحَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ".

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې هغه وئیلې دی: راغې رسول الله صلی الله علیه وسلم د غائطو نه نو مخامخ شو ورسره یو سړې د بئر جمل په خوا کښې نو سلام ئې واچولو په هغه باندې، نو جواب ورنکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم تردې چه مخامخ شو دیوال سره نو کېخودو لاس خپل په دیوال، بیا ئې مسح اوکړه په مخ خپل باندې او په لاسونو خپلو، بیا ئې رد کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم په سړي باندې سلام.

تشریح: ٣ ﴿ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ الخ ﴾ دا د پورته ذکر شوی حدیث ابن عمر رضي الله عنه دویم طریق دې په دې کښې د نافع نه روایت کونکې ابن الهاد دې او په مخکښې روایت کښې محمد بن ثابت وو، په دې دواړو کښې د متن په اعتبار سره فرق دې هغه دا چه په اول روایت کښې ضربتین مذکور وو او په دې کښې ضربه واحده مذکور ده، په ظاهر کښې مصنف رحمه الله دا بیانول غواړی چه حدیث ابن عمر رضي الله عنه کوم چه مرفوعا دې په هغې کښې ضربه واحده ده او حدیث ابن عمر رضي الله عنه کوم چه موقوفا دې په هغې کښې ضربتین مذکور دې، محمد بن ثابت د ابن عمر رضي الله عنه د ضربتین والا روایت مرفوعا نقل کړې دې

بَابُ الْجُنُبِ يَتَيَمَّمُ

باب دې په بیان د جنب کښې چې تیمم کوي

د جنابت دپاره تیمم په اتفاق د ائمه اربعه جائز دې په دې کښې د بعض علماء کرامو اختلاف منقول دې. کوم چه دتیمم په ابحاث عشرة کښې په بحث عاشر کښې تیر شوی دې

[٣٣٢]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ. ح حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللهِ الْوَاسِطِيَّ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ بُجْدَانَ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: اجْتَمَعَتْ غُنَيْمَةٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ، ابْدُ فِيهَا، فَبَدَوْتُ إِلَى الرَّبَذَةِ فَكَانَتْ تُصِيبُنِي الْجَنَابَةُ فَأَمْكُثُ الْخَمْسَ وَالسِّتَّ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَبُو ذَرٍّ، فَسَكَتُّ، فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٥٣٣) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الطهارة ٩٢ (١٢٤)، سنن النسائي/الطهارة ٢٠٥ (٣٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/١٥٥، ١٨٠) (صحيح)

أُمُّكَ أَبَاذَرٍّ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ، فَدَعَالِي بِجَارِيَةٍ سَوْدَاءَ فَجَاءَتْ بِعُسٍّ فِيهِ مَاءٌ فَسَتَرَتْنِي بِثَوْبٍ وَاسْتَتَرْتُ بِالرَّاحِلَةِ وَاغْتَسَلْتُ فَكَأَنِّي أَلْقَيْتُ عَنِّي جَبَلًا، فَقَالَ: "الصَّعِيدُ الطَّيِّبُ وَضُوءُ الْمُسْلِمِ وَلَوْ إِلَى عَشْرِ سِنِينَ، فَإِذَا وَجَدْتَ الْمَاءَ فَأَمِسَّهُ جِلْدَكَ فَإِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: غُنَيْمَةٌ مِنَ الصَّدَقَةِ، قَالَ أَبُودَاوُد: وَحَدِيثُ عَمْرٍو أَتَمُّ.

ترجمه: د ابو ذر ﷺ نه روايت دي هغه وئيلي دي: راجمع شوي څه ګډي د رسول الله ﷺ سره نو هغه اووئيل: اي ابو ذرا دا باديي ته بوزه، نو زه لاړم ربذي ته نو وو چه رسېدو به ماته جنابت نو مابه وخت تېرولو پنځه او شپږ، نو زه راغلم نبي ﷺ ته نو هغه اووئيل: اي ابو ذرا نو زه چپ شوم هغه اووئيل: بوره دي شي مور ستا اي ابا ذر ستا د مور لپاره دي وئيل وي. نو راوبي غوښتله زما لپاره يوه وينزه توره نو راپي ورلو يو لوښي چه هغي کښي اوبه وي، زه هغي پټ کړم په يوه جامه او بل طرف ته زمانه اوښ وو، او غسل مي اوکړو ګويا چه ما وغورځولو د خپل ځان نه غر، نو هغه وفرمايل: پاکه خاوره د مسلمان اودس دی اګر که وي د لسو کلونو پورې، کله چه تا اوبه پيدا کړې نو بيا ئي ولګوه په خپله څرمن نو دغه افضل دی او وئيلی دي مسدد: ګډې د صدقې وئيلی دي ابوداود: او حديث د عمرو اتم دی

تشريح حديث:

قوله ﴿ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ – قوله اجْتَمَعَتْ غُنَيْمَةٌ الخ ﴾ غنيمة د غنم تصغير دي کوم چه دلته د تقليل دپاره راوړلي شوي دي، په مضمون حديث کښي دا دی چه ابوذر غفاري ﷺ فرمائي چه يو ځل څه بيزې د رسول الله ﷺ سره جمع شوې (ممکنه ده چه دا بيزې هم د هغوی ملک وی يا د بيت المال او د صدقې وی خو وړاندې په متن کښي راځي چه د مسدد په روايت کښي ﴿ غنيمة من الصدقة ﴾ دي) په دې باندې رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائيل چه دا بيزې يو کلي ته بوزې (چه د بيزو د اوسيدو او د ګيا او اوبو سهولت وی، دا وجه خو صرف احتمال عقلي دي وړاندې په روايت کښي ددې دويم علت مذکور دې، يعنې ابوذر ﷺ ته د مديني منورې دهوا موافق نه راتلل) ابوذر ﷺ فرمائي زه د هغه ګډو بيزو او خپل اهل و عيال سره قرية ربذة ته لاړم او د ګډو بيزو د خدمت او نګرانۍ دپاره مې هم هلته قيام اختيار کړو، نو هلته د قيام دوران کښي ماته جنابت راپيښ شو او څو څو ورځې به تيرې شوې چه د غسل دپاره به اوبه نه ملاويدې (او دوی به تيمم کولو سره مونځ کولو چه د مسند احمد په روايت کښي دی) خو هغوی ته د مسئلې د تحقيق د نه کيدو په وجه باندې په تيمم د جنابت باندې انشراح نه وو شوې چه دهغې د وجې نه ئې په طبيعت باندې بوجه محسوس کولو، هغوی فرمائي چه هم ددې پريشانۍ په حالت کښي مديني منورې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کښي حاضر شوم، چونکه دوی بغير د اطلاع او بغير د رسول الله ﷺ د طلب کولو نه راغلي وو، په دې وجه خاموش اودريدلو او د رسول الله ﷺ په تپوسلو باندې هم خاموش وو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ أَبَا ذَرٍّ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ ﴾ په دې سره مقصود بد دعاء کول نه دی بلکه صرف د خفګان اظهار دې، په ظاهره خو په دې وجه چه اول خو د تيمم د مسئلې تپوسلو نه بغير لاړو، چه دهغې په وجه باندې هلته د پريشانۍ په حالت کښي وو دويم دا چه په کوم کار باندې ئې مامور فرمائيلي

وو، د هغه ځائې نه بغير د طلب او اجازت نه راغلو ﴿ فدعا لي بجارية سوداء ﴾ رسول اللهﷺ د هغوی دپاره په يو منګی کښې اوبه راطلب کړې او چونکه هلته څه باقاعده د غسل ځائې نه وو، وقتی طور ئې د پردې نه شاته غسل اوکړو، په داسې طريقه چه يو سورلئ ئې کينوله او بل طرف ته هغه وينځه کيږه نيولو سره اودريدله ﴿ فکأني ألقيت عني جبلا ﴾ يعنی د غسل نه پس ما په خپل طبيعت کښې داسې سپک والې محسوس کړو لکه چه ما د ځان نه غر کوز کړې وی.

د تيمم دپاره د طهارة مطلقه کيدو دليل :

﴿ الصَّعِيدُ الطَّيِّبُ وَضُوءُ الْمُسْلِمِ وَلَوْ إِلَى عَشْرِ سِنِينَ ﴾ رسول اللهﷺ هغه ته د هميشه دپاره يو مسئله بيان کړه چه د اوبو نه کيدو په وخت باندې صعيد طيب هم کار کوی کوم چه اودس او غسل کوی لهذا په تيمم باندې غسل حاصلولو کښې دې د انسان څه قسم شک نه وی.

امام خطابیؒ فرمائی ددې حديث[1] نه احنافو په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه تيمم د اودس په حکم کښې دې چه څنګه په يو اودس باندې ډير مونځونه کولې شي، هم دغه شان په تيمم سره هم او حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه په دې مسئله کښې امام بخاریؒ د کوفيينو او جمهورو سره دې

شرح السند :

ځان پوهه کړه چه د حديث الباب په سند کښې زمونږ په نسخه کښې داسې دی ﴿ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ نَا خَالِدٌ الْوَاسِطِيُّ ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ نَا خَالِدٌ ﴾ او په بعض نسخو کښې حاء د تحويل نشته، بلکه داسې دی، ﴿ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ وَمُسَدَّدٌ نَا خَالِدٌ ﴾ او کيدل هم داسې پکار دی، په ظاهر کښې د حاء تحويل څه وجه نشته ځکه چه دا دوه مختلف سندونه نه دی کوم چه بيل بيل بيان کړې شی بلکه د مصنفؒ استاذان دوه دی، عمرو بن عون او مسدد دا دواړه روايت کوی د يو استاد يعنی خالد واسطی نه، او زمونږ د نسخې په اعتبار سره د مصنفؒ په دواړو استاذانو کښې د تعبير هم څه فرق نشته، خو په حاشيه باندې د يوې نسخې حواله ورکړې شوې ده، په هغې کښې د عمرو بن عون نه په ځائې د نا اخبرنا دې، په دې صورت کښې به د فرق تعبير د وجې نه حاء د تحويل راوړل صحيح شی ځکه چه د عمرو بن عون او د مسدد دواړو استاذ اګرچه يو دې خو په هغوی کښې يو د خپل استاذ نه په طريق د تحديث نقل کوی او دويم په طريق د اخبار، او د اخبار او د تحديث د فرق د وجې

---

[1] ځان پوهه کړه چه دا حديث په مسند احمد صحيح ابن حبان، او مستدرک د حاکم کښې هم دې او په ترمذی کښې مختصرا او حاکم فرمائی چه شيخينو ددې تخريج په دې وجه اونکړو چه دا حديث د عمرو بن بجدان نه د ابوقلابة نه علاوه بل چا نه دې روايت کړې، صاحب منهل فرمائی چه حافظ منذریؒ په تهذيب السنن کښې د امام ترمذیؒ نه ددې حديث تصحيح نقل کړې ده خو مونږ سره په موجوده نسخه د ترمذی کښې ددې تصحيح نشته بلکه تحسين دې، ممکنه ده چه هغوی سره کومه نسخه ده په هغې کښې به تصحيح وی.

نه مصنف رحمه الله بعض وخت حاء د تحويل راوړي

[٣٣٢]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عَامِرٍ، قَالَ: دَخَلْتُ فِي الْإِسْلَامِ فَأَهَمَّنِي دِينِي، فَأَتَيْتُ أَبَا ذَرٍّ، فَقَالَ أَبُو ذَرٍّ: "إِنِّي اجْتَوَيْتُ الْمَدِينَةَ، فَأَمَرَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَوْدٍ وَبِغَنَمٍ، فَقَالَ لِي: اشْرَبْ مِنْ أَلْبَانِهَا، قَالَ حَمَّادٌ: وَأَشُكُّ فِي أَبْوَالِهَا، هَذَا قَوْلُ حَمَّادٍ، فَقَالَ أَبُو ذَرٍّ: فَكُنْتُ أَعْزُبُ عَنِ الْمَاءِ، وَمَعِي أَهْلِي فَتُصِيبُنِي الْجَنَابَةُ فَأُصَلِّي بِغَيْرِ طُهُورٍ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنِصْفِ النَّهَارِ وَهُوَ فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ وَهُوَ فِي ظِلِّ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ أَبُو ذَرٍّ: فَقُلْتُ: نَعَمْ هَلَكْتُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: وَمَا أَهْلَكَكَ؟ قُلْتُ: إِنِّي كُنْتُ أَعْزُبُ عَنِ الْمَاءِ وَمَعِي أَهْلِي فَتُصِيبُنِي الْجَنَابَةُ فَأُصَلِّي بِغَيْرِ طُهُورٍ، فَأَمَرَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَاءٍ فَجَاءَتْ بِهِ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ بِعُسٍّ يَتَخَضْخَضُ مَا هُوَ بِمَلْآنَ فَتَسَتَّرْتُ إِلَى بَعِيرِي فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّ الصَّعِيدَ الطَّيِّبَ طَهُورٌ، وَإِنْ لَمْ تَجِدِ الْمَاءَ إِلَى عَشْرِ سِنِينَ، فَإِذَا وَجَدْتَ الْمَاءَ فَأَمِسَّهُ جِلْدَكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، لَمْ يَذْكُرْ أَبْوَالَهَا. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا لَيْسَ بِصَحِيحٍ، وَلَيْسَ فِي أَبْوَالِهَا إِلَّا حَدِيثُ أَنَسٍ، تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْبَصْرَةِ.

ترجمه: د يو سړي د بنو عامر نه روايت دي هغه وائي: زه داخل شوم په اسلام کښې نو زه په خفګان کښې واچولم خپل دين، نو زه راغلم ابو ذر ته، اووئيل ابوذر بيشکه د مديني هوا راباندې بده راغله، امر اوکړو زما لپاره رسول الله ﷺ په اوښانو او په ګډو، نو هغه وفرمايل ماته: وڅکه د شودو دهغې نه. وئيلي دي حماد: زه شک کوم په متيازو دهغې کښې، دا قول د حماد دی، اووئيل ابو ذر: وم زه چه لرې کيدم د اوبو نه، او زماسره به اهل زما وو نو رسيدو به ماته جنابت نو مابه مونځ کولو بغير د اودس نه، نو زه راغلم رسول الله ﷺ ته په نيمايې د ورځې کښې، او وو هغه د يو جماعت سره د ملګرو خپلو نه. او هغه په سورې د مسجد کښې وو، اووئيل ابو ذر: ما اووئيل: او زه هلاک شوم اې د الله رسوله! هغه اووئيل: څه شي هلاک کړې؟ ما اووئيل: بيشکه زه ووم چه لرې کيدم د اوبو نه، او زما سره زما اهل وونو رسيدو به ماته جنابت نو مابه مونځ کولو بغير دپاکئ طهور نه، نو امر اوکړو ماته رسول الله ﷺ په اوبو، نو راوړلې په هغې سره يوې وينزې تورې په يو لوښي کښې چه خوزيدلې هغه چه هغه ډک وو، نو پټ شوم خپل اوښ ته، نو غسل مې اوکړو بيا راغلم، نو اووئيل رسول الله ﷺ: اې ابو ذر! بيشکه پاکه خاوره پاکونکې ده، اګر که ته پيدا نه کړې اوبه تر لسو کلونو پورې، کله چه تا اوبه پيدا کړې نو بيا مسه کړه په هغې باندې خپله څرمن. وئيلي دي ابوداود: نقل کړې دی حماد بن زيد د ايوب نه، نه دی ذکر کړی هغه (ابوالها). وئيلي دي ابوداود: دا صحيح نه دی، او نشته (في ابوالها) مګر حديث د انس دی چه تفرد کړې دی په هغې باندې اهل د بصرې

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ – قوله فَقَالَ لِي « اشْرَبْ مِنْ أَلْبَانِهَا ». قَالَ حَمَّادٌ وَأَشُكُّ فِي « أَبْوَالِهَا »﴾ سيدنا ابوذر غفاري رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ ماته د هغه غنمو د پيو څکلو حکم اوفرمائيلو، او راوی وائي چه په ذکر د بول کښې زما شک دې، په ظاهره دا شک د

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٢٠٠٨) (صحيح)

حماد د طرف نه دي خکه چه وراندي تلو سره مصنف رحمه الله فرمائي ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ لَمْ يَذْكُرْ « أَبْوَالَهَا » ﴾ يعني دا حديث د ايوب نه حماد بن زيد روايت كړي دي نو هغوى ابوالها نه دي ذكر كړي، او د مصنف رحمه الله ددي كلام نه معلومه شوه چه د سند په شروع كښي چه كوم حماد ذكر دي هغه حماد بن سلمة دي

﴿ قوله هَذَا لَيْسَ بِصَحِيحٍ الخ ﴾ يعني په دي حديث كښي د ابوال ذكر صحيح نه دي رسول الله ﷺ ابوذرغفارى رضي الله عنه ته صرف د شرب البان حكم وركړي وو ﴿ وَلَيْسَ فِي أَبْوَالِهَا إِلاَّ حَدِيثُ أَنَسٍ ﴾ يعني په كوم حديث كښي چه د البان سره د شرب ابوال هم ذكر دي هغه بل حديث دي چه دهغي راوى انس رضي الله عنه دي، د مصنف رحمه الله اشاره په دي سره حديث العرنيين طرف ته ده كوم چه مشهور دي او په صحيحينو او نورو اكثر كتب صحاح كښي موجود دي.

﴿ قوله تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْبَصْرَةِ ﴾ ددي تعلق د حديث انس رضي الله عنه سره نشته بلكه د حديث الباب حديث ابوذر رضي الله عنه سره دي، د بول ماكول اللحم په طهارت او نجاست كښي اختلاف په باب الاستبراء من البول كښي تير شوي دي.

بَابٌ إِذَا خَافَ الْجُنُبُ الْبَرْدَ أَيَتَيَمَّمُ

باب دي په بيان ددي كښ چې پريږي جنب د يخنى نه ايا تيمم به كوي

د دي ترجمة الباب حواله او كومه مسئله چه په دي كښي مذكور ده هغه سره د اختلاف ائمة په تفصيل سره په باب التيمم في الحضر كښي ذكر شوي ده.

[٣٣٣]() حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، أَخْبَرَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، أَخْبَرَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ أَيُّوبَ يُحَدِّثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ الْمِصْرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: "احْتَلَمْتُ فِي لَيْلَةٍ بَارِدَةٍ فِي غَزْوَةِ ذَاتِ السُّلاَسِلِ فَأَشْفَقْتُ إِنِ اغْتَسَلْتُ أَنْ أَهْلِكَ، فَتَيَمَّمْتُ ثُمَّ صَلَّيْتُ بِأَصْحَابِي الصُّبْحَ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا عَمْرُو، صَلَّيْتَ بِأَصْحَابِكَ وَأَنْتَ جُنُبٌ؟ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي مَنَعَنِي مِنَ الاِغْتِسَالِ، وَقُلْتُ: إِنِّي سَمِعْتُ اللَّهَ يَقُولُ: وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا سورة النساء آية ٢٩ فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جُبَيْرٍ مِصْرِيٌّ مَوْلَى خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ، وَلَيْسَ هُوَ ابْنُ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ.

ترجمه: د عمروي بن العاص رضي الله عنه نه روايت دي، هغه وئيلى دى: چه زه محتلم شوم په يخه شپه كښي په غزوه د ذات السلاسل كښي، نو زه ويريدم كه چيري غسل اوكړم نو هلاک به شم نو ما تيمم اوكړو، بيا مي مونځ اوكړو خپلو ملګرو ته د صباح، نو هغوى دغه ذكر كړو رسول الله ﷺ ته، هغه وفرمايل: اې عمرو ايا تا مونځ اوكړو خپلو ملګرو ته او ته جنب وي؟ نو ما ورته خبر وركړو په هغه څه باندې چه زه ئې منع كړى وم د غسل كولو نه، او ما اووئيل ما اوريدلي د الله تعالى نه چه هغه وائي: (و لا تقتلوا انفسكم ان الله كان بكم رحيمًا) نو اوخندل رسول الله ﷺ او هيڅ ئې اونه ويل. وئيلي دي ابوداود: عبد الرحمن بن جبير

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٠٧٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٠٣) (صحيح)

مصري دی مولی د خارجة بن حذافة دی، او هغه ابن جبير بن نفير نه دی.

تشريح: ١: ﴿ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى قوله عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ احْتَلَمْتُ فِي لَيْلَةٍ بَارِدَةٍ فِي غَزْوَةِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ ﴾ دې ته غزوه وئيل خو توسعا دی ځکه چه د مشهور قول په بناء باندې غزوة هغه وی چه په هغې کښې رسول اللهﷺ شريک وی او په کوم کښې چه د هغوی شرکت نه وی هغې ته سرية وائی، او په دې کښې رسول اللهﷺ شريک نه وو، خو دا دواړه الفاظ د يو بل په ځائې استعماليږی، دا سرية د سرية ابن العاصؓ په نوم باندې معروف ده، کومه چه په جمادی الاولی ٨ هجری کښې ليږلې شوې وه، امير د سرية عمرو بن العاصؓ وو رسول اللهﷺ هغه د دری سوو مهاجرين و انصار امير جوړولو سره د مشرکينو قبائل لخم او جذام وغيره په مقابله کښې ليږلې وو.

﴿د ذات السلاسل وجه تسميه﴾:

دا مقابله په موضع سلاسل کښې اوشوه، سلاسل د يوی چينې (کوهی) نوم دې او دهغې او د مدينې منورې ترمينځه د لسو ورځو لاره ده، هم په دې وجه دې ته غزوة ذات السلاسل وائی، بعضو ددې وجه تسميه دا ليکلې ده چه په دې جنګ کښې مشرکينو خپل ځانونه يو بل سره تړلې وو چه په دوی کښې څوک او نه تختې، او بعض وائی چه په دې ميدان کښې د شرپې د تويکترو سلسله تر د لرې پورې تلې ده کومه چه د يو بل سره مربوط ده او کوم د خپو زنځير چه د مخکښې ور وړاندې کيدو نه مانع وی په دې وجه دې تويکترو ته ذات السلاسل وائی.

شرح حديث:

مضمون حديث دا دې عمرو بن العاصؓ فرمائی چه ماته په دې غزوه کښې په يو يخه شپه کښې احتلام اوشو (ظاهره ده چه د ګرمو اوبو انتظام هلته چرته وو) پس زما ويره پيدا شوه چه که ما په ګرمو اوبو سره غسل اونکړو نو هلاک به شم په دې وجه مې تيمم اوکړو او هم په دغه تيمم سره مې خپلو اصحابو ته د سحر مونځ اولوستلو، د سفر نه په واپسئ باندې رسول اللهﷺ ته ددې تذکره اوکړې شوه په دې باندې رسول اللهﷺ هغوی ته اوفرمائيل چه تا په حالت د جنابت کښې مونځ ورکړو؟ وړاندې د حديث مضمون واضح دې.

﴿ قوله وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ﴾ د رسول اللهﷺ د سکوت او تقرير نه جواز د تيمم للجنب لاجل البرد معلوم شو، خو دلته اشکال دا دې چه ددې نه مخکښې رسول اللهﷺ ﴿ صليت باصحابک وانت جنب ﴾ ولې اوفرمائيلو، ددې جواب دا کيدې شی چه کيدې شی د رسول اللهﷺ هغوی ته دا فرمائيل امتحانا وی چه اوګوری څه جواب ورکوی پس د هغوی په جواب باندې رسول اللهﷺ مسکې شو.

د دې حديث نه يو مسئله بله معلومه شوه يعنی امامة المتيمم للمتوضئين کوم چه د ائمة اربعه په نزد جائز دې خو د امام مالکؒ په نزد په دې کښې کراهت دې، خو د امام محمدؒ په نزد جائز نه دې.

[۳۳۵]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ وَعَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ كَانَ عَلَى سَرِيَّةٍ، وَذَكَرَ الْحَدِيثَ نَحْوَهُ، قَالَ: فَغَسَلَ مَغَابِنَهُ وَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرِ التَّيَمُّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى هَذِهِ الْقِصَّةَ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، قَالَ فِيهِ: فَتَيَمَّمَ.

ترجمه: د ابو قیس نه روایت دې چه عمرو بن العاص مشر وو په یوې سریه باندې، ذکربې کړو حدیث په مثل د هغې، هغه اووئیل: وئې وینځل خپل مغابن (یعني هغه ځایونه چه رسیدل ورته په اسانۍ نه کیګي) او اودس ئې اوکړو پشان د اودس د مانځه، بیا ئې مونځ اوکړو دوی ته نو ذکربې کړو پشان دهغې او ذکر ئې نه کړو تیمم. وئیلي دي ابوداود: او نقل کړې ده دا قصه د اوزاعي نه او هغه د حسان بن عطیة نه هغه وئیلي دي په هغې کې: (فتیمم) تیمم ئې اوکړو.

تشریح: ۲: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ الخ ﴾ دا د حدیث سابق دویم طریق دې، په تیر سند کښې د یزید بن ابی حبیب نه روایت کونکې یحیی بن ایوب دې او په دې کښې عمرو بن الحارث.

﴿ قوله فَغَسَلَ مَغَابِنَهُ وَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ﴾ په دې دواړو روایتونو کښې ډیر فرق دې، په اول روایت کښې دا وو چه هغوی تیمم کولو سره مونځ ورکړو او په دې دویم کښې د تیمم ذکر نشته چه هغوی غسل مغابن (یعنی استنجاء بالماء) او اودس اوکړو، دا ډیره د اشکال خبره ده ځکه چه تیمم خو د جنابت دپاره کافي کیدې شي خو اودس د غسل قائم مقام نه شي کیدې دا د چا مذهب هم نه دې، بهر حال په دې دواړو روایتونو کښې اختلاف پیدا شو، امام بخاری رحمه الله د ذکر تیمم والا روایت ته ترجیح ورکړې ده او هم هغه ئې په بخاری کښې تعلیقا اخستلې دې، امام بیهقی رحمه الله فرمائي ﴿ یحتمل انه جمعهما ﴾ یعنی احتمال دې چه د غسل مغابن سره به ئې اودس او تیمم دواړه کړې وی او امام نووی رحمه الله فرمائي چه هم دا توجیه صحیح او متعین ده او د امام ابوداود رحمه الله میلان د امام بخاری رحمه الله د رائي طرف ته معلومیږي ځکه چه هغوی وړاندې تلو سره ذکر د تیمم لره د حسان بن عطیه په طریق سره موئد کړې دې، مغابن وائي مواضع وسخ وعرق ته یعنی د بدن هغه حصې چرته چه د ږور والي او جوړ کیدو د وجې نه خیرې جمع شوې وی لکه ابطین او اصول فخذین، دلته تري نه اصول فخذین مراد دی او دهغې نه ګیر چاپیره هم په دې وجه مونږ ددې ترجمه په استنجاء سره کړې ده.

بَابٌ فِي الْمَجْرُوحِ يَتَيَمَّمُ

باب دې په بیان د زخمي کښې چه تیمم کوي

دلته درې نسخې دی زمونږ په نسخه کښې مجروح دې په یو نسخه کښې المعذور دې او په یوه کښې المجدور دې، یعنی هغه سړي چه په هغه باندې جدرې وی، جدرې وائي چیچک

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۵۰) (صحیح)

نه په ټول بدن باندې ورې ورې دانې راوخيژي. قيل اول من عذب به قوم فرعون.

[۳۳۶](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ خُرَيْقٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: خَرَجْنَا فِي سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلاً مِنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِي رَأْسِهِ ثُمَّ احْتَلَمَ، فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ، فَقَالَ: هَلْ تَجِدُونَ لِي رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ؟ فَقَالُوا: مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ، فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ. فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُخْبِرَ بِذَلِكَ، فَقَالَ: "قَتَلُوهُ قَتَلَهُمُ اللَّهُ، أَلاَ سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا، فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ، إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيَعْصِرَ أَوْ يَعْصِبَ شَكَّ مُوسَى عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا وَيَغْسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ".

ترجمه: د جابر نه روايت دې هغه وائي: چه مونږ ووتلو په يو سفر کښې، پس ورسيده يو سړي ته زمونږ نه تيږه نو هغه ئې زخمي کړو په سر کښې، بيا ورته احتلام اوشو نو تپوس ئې اوکړو د خپلو ملګرو نه وئې وئيل: آيا تاسو بيامومئ زما لپاره اجازت په تيمم کښې؟ هغوی اووئيل: نه بيامومو مونږ ستا لپاره رخصت او ته قدرت لرې په اوبو باندې نو غسل ئې اوکړو نو مړ شو، هرکله چه مونږ راغلو نبي ﷺ ته خبر ورکړې شو په دغې باندې، هغه وفرمايل: دوی وژلې دی الله دې دوی مړه کړي ولې نه وه چه دوی تپوس کړی وی کله چه دوی نه پوهيدل، بيشکه علاج د جهل تپوس کول دي، بيشکه کافي وو د هغه لپاره چه تيمم اوکړي، او نچوړ کړي ئې وی، (او يايې ترلې وی، شک کړی دی موسی) په خپل زخم باندې کپړه، بيا ئې مسح کړي وه په هغې او وينځلی ئې وی ټول بدن.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَنْطَاكِيُّ الخ (كذا في نسخة مكتبة الشاملة) ﴾ مضمون حديث دا دې چه جابر ﷺ فرمائي مونږ په يو سفر کښې وو زمونږ د يو ملګرې په سر باندې کاڼړې راغلو او هغه زخمي شو، بيا اتفاقا هغه ته احتلام هم راغلو، دې صحابي د خپلو ملګرو نه معلومه کړه چه آيا زما دپاره د تيمم ګنجائش شته؟ هغوی اووئيل اوبه موجود دی او دهغې په استعمال باندې ئې قدرت هم شته لهذا هيڅ ګنجائش نشته پس دې صحابي غسل اوکړو چه په هغې سره ئې دماغو ته دننه اوبه لاړې او وفات شو، په واپسۍ کښې رسول الله ﷺ ته د هغوی خبر ورکړې شو په دې باندې رسول الله ﷺ هغه خلقو باندې د سختې ناراضتيا اظهار اوفرمائيلو او وې فرمائيل ﴿ قَتَلُوهُ قَتَلَهُمُ اللَّهُ ﴾ هم دوی هغه سړې او وژلو دوی دې تباه شی، په دې کښې د هلاکت نسبت خلقو ته شوې دې ځکه چه په ظاهره هم دا خلق ددې صحابي د مرګ سبب جوړ شوې وو.

﴿ قوله فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ ﴾ بيشکه د عاجز او ناخبره شفاء د اهل علم نه معلومول دی، د عي معنی د عدم قدرت على الكلام ده، دلته ترې نه مراد عدم علم دې ځکه چه وينا هغه له پکار ده چاته چه څه معلوم وی.

په بذل کښې ليکلې شوې دی ددې حديث نه معلومه شوه چه که د مفتي خطاء او غلطې فتوې ورکولو د وجې نه څوک سړې هلاک شی نو په هغې کښې قصاص يا ديت نشته، حضرت شيخ په حاشية د بذل کښې ابن الصلاح محدث نه نقل کړی دی چه که

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤١٣) (حسن)

مستفتي د يو سړي په فتوی باندې يو څيز هلاک کړي او بيا ورته روستو د فتوی خطاء ګيدل معلوم شي نو په دې صورت کښې به مفتی ضامن وی [1] په دې شرط چه هغه مفتی د فتوی اهل وی، ګينې ضمان پرې نشته ځکه چه په دې دويم صورت کښې تقصير د مستفتي د طرف نه دې ابن رسلان وائی چه کوم سړې په منصب د افتاء باندې قائم وی او په هغې کښې شهرت يافته وی نو په دې صورت کښې د مستفتي تقصير نشته

﴿ قوله إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيَعْصِرَ أَوْ يَعْصِبَ ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل دې سړی له داسې کول پکار وو چه تيمم ئې کړې وې او په زخمی سر باندې ئې پټئ ترلو سره ئې په هغې مسح کړې وې او په باقی بدن باندې ئې غسل کړې وې

په مسئله ثابته بالحديث کښې اختلاف د علماء کرامو:

د دې حديث نه معلوميږي چه که يو سړی ته د غسل حاجت وی او د هغه د بدن بعض حصه زخمی وی نو هغه زخمی حصه دې نه وينځي بلکه په دې نيت دې تيمم کوی او د بدن صحيح حصه دې په اوبو سره وينځي هم دا مذهب دې د امام شافعي او امام احمد ﷫ لکه چه په مغني وغيره کتب فقهيه کښې دې، او احناف او مالکيان فرمائي چه د بدن د اکثرې حصې به اعتبار وی، که هغه جريح وی نو صرف تيمم دې اوکړی او که د بدن اکثره حصه صحيح ده نو د هغه حصې دې غسل اوکړی او د باقی مسح، غسل او تيمم به نه شی جمع کولې او که هغه جريح او صحيح دواړه حصې برابر وی نو ددې تساوی په صورت کښې زمونږ په نزد دواړه روايتونه دی، يو دا چه صرف تيمم دې اوکړی دويم دا چه د صحيح غسل او د جريح مسح، او په کتب مالکيه دسوقی وغيره کښې په دې مسئله کښې ډير تفصيل ليکلې شوې دې، او دا ئې هم ليکلې دی چه په کومو صورتونو کښې چه د تيمم حکم دې په هغې کښې که د ټول بدن غسل اوکړی نو کافی به شی، خو که د صحيح غسل او د جريح مسح اوکړی نو دا به دتيمم په ځائې نه کافی کيږی او بهر حال جمع بين الغسل والتيمم د هغوی په نزد نشته

د احنافو د طرف نه د حديث جواب:

په دې حديث کښې چونکه جمع بين الغسل والتيمم مذکور ده په دې وجه دا د احنافو او مالکيانو خلاف شو، جواب دا دې چه ددې حديث اګرچه ابن السکن تصحيح کړې ده خو

---

[1] په صحيح بخاری کتاب الاحکام کښې د ابن عمر ﷠ يو حديث دې چه دهغې خلاصه دا ده چه خالد بن وليد ﷛ بعض قيديان اجتهاداً په غلطئ سره قتل کړي وو، چه کله رسول الله ﷺ ته ددې علم اوشو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ اللهم اني ابراء اليك مما صنع خالد بن الوليد ﴾ په دې باندې شارحين ليکی ﴿ وانما لم يعاقبه لانه كان مجتهدا واتفقوا علي ان القاضي اذا قضي بجور او بخلاف ما عليه اهل العلم فحكمه مردود، فان كان علي وجه الاجتهاد واخطاء كما صنع خالد فالاثم ساقط والضمان لازم فان كان الحكم في قتل فالدية في بيت المال عند ابي حنيفة واحمد وعلي عاقلته عند الشافعي ولبي يوسف ومحمد ﴾ خو په دې دواړو قصو کښې د مباشر او متسبب فرق دې، د ابوداؤد په روايت کښې بيانونکي متسبب وو، او خالد ﷛ مباشر ګويا په بعض ځايونو کښې اګر که د دواړو حکم يو کيګی، کما في الأشباه والنظائر كما في مسئلة قطاع الطريق ففي الکنز وغير المباشر كالمباشر، والله تعالي اعلم)

دارقطني او بيهقي ئې تضعيف کړې دې بيهقي په متعدد طرقو سره د تخريج باوجود ددې تضعيف کړې دې او امام نووي رحمه الله خو ليکلي دی اتفقوا على ضعفه، اصل کښې ددې حديث په متن کښې د راويانو اختلاف او اضطراب دې بعض راويانو په دې کښې جمع بين الغسل والتيمم ذکر کړې دې، خو اول خو زبير بن خريق ضعيف دې، دويم د اُجه د عطاء نورو شاګردانو د هغوی مخالفت کړې دې پس اوزاعي دا حديث د عطاء نه بلاغا روايت کړې دې او په دې کښې صرف د غسل ذکر دې د تيمم نه دې لکه چه د باب په وړاندې روايت کښې راځي، ددې جواب يو بل هم کيدې شي کوم چه حضرت په بذل کښې ذکر فرمائيلي دې هغه دا چه ددې حديث تاويل دې اوکړې شي چه په ﴿ انه يتيمم ويعصر ﴾ کښې دې واؤ په معنی د او واخستلې شي، او په دې صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه رسول الله ﷺ د شخص مذکور دپاره د حصول طهارت دوه طريقې ذکر فرمائيلي دی يو دا چه صرف تيمم اوکړې او دويم دا چه په سر باندې پټئ ترلو نه پس دې په هغې باندې مسح اوکړې او باقي بدن دې اووينځي يعنی د رسول الله ﷺ مراد دا نه وو چه دواړه دې جمع کړې شی بلکه مراد دا دې چه کله دا قسم صورت پيښ شی نو يا خو دې صرف تيمم اوکړې شی يا صرف غسل او مسح، چه د احنافو او مالکيانو په نزد ده چه په يو صورت کښې تيمم او په يو صورت کښې غسل

ايا حديث الباب باندې مصنف رحمه الله سکوت فرمائيلي دې؟

واضحه دې وی چه دا حديث کوم چه د شوافعو موافق راځي امام نووي رحمه الله ددې ضعف تسليم کړې دې خو شيخ ابن حجر مکي شافعي رحمه الله ددې حديث په باره کښې فرمائي چه امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې سکوت فرمائيلي دې لهذا دا حجت دې، ملا علي قاري رحمه الله فرمائي چه د امام ابوداؤد رحمه الله سکوت د نورو محدثينو د تضعيف صريح مقابله نه شی کولې، احقر وائي چه مونږ دا نه تسليمو چه امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې سکوت کړې دې ځکه چه مصنف رحمه الله په دې کښې اختلاف د روايت ذکر کړې دې، اول ئې په دې سند سره روايت کړې دې ﴿ عن الزبير بن خريق عن عطاء عن جابر ﴾ او په دې کښې جمع بين الغسل والتيمم مذکور ده، بيا مصنف رحمه الله دا ذکر کړې دې ﴿ عن الاوزاعي انه بلغه عن عطاء بن ابي رباح عن ابن عباس رضي الله عنهما ﴾ په دې کښې جمع بين الغسل والتيمم نه دې بلکه صرف غسل دې لهذا په دې حديث کښې په ظاهره سندا او متنا دواړو طريقو سره اضطراب شو، نو اوس دا وينا څنګه صحيح شوه چه مصنف رحمه الله په دې باندې سکوت فرمائيلي دې، د امام ابوداؤد رحمه الله عموما هغه طرز نه دې کوم چه د امام ترمذي رحمه الله دې چه صراحة په روايت باندې نقد اوکړې بلکه د مصنف رحمه الله صنيع دا بيانوی چه هغوی په روايت باندې نقد کوی يا سکوت! ښه خان پوهه کړئ.

......

[۳۳٤]( ) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ الْأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، أَخْبَرَنِي الْأَوْزَاعِيُّ، أَنَّهُ بَلَغَهُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَصَابَ رَجُلًا جُرْحٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ احْتَلَمَ، فَأُمِرَ بِالِاغْتِسَالِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: قَتَلُوهُ قَتَلَهُمُ اللهُ، أَلَمْ يَكُنْ شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالَ".

ترجمه: د عطاء بن ابي رباح نه روايت دي، بيشكه هغه اوريدلي دي د عبد الله بن عباس نه هغه وئيلي دي: ورسېدو يو سړي ته زخم په زمانه د رسول الله ﷺ كښې. بيا ورته احتلام اوشو نو امر ورته اوشو په غسل كولو، نو غسل ئي اوكړو مړ شو، نو ورسېده دغه خبره رسول الله ﷺ ته. هغه وفرمايل: دوی وژلی دی هغه الله دې دوی مړه كړي ايا نه وو علاج د جهل تپوس كول

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ – قوله فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ –صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ په دې طريق كښې صرف د واقعې ذكر دې او دا نه دی وئيلې شوې چه رسول الله ﷺ هغوی ته د څه حكم اوفرمائيلو د غسل يا د تيمم يا د هر دواړو، خو په بذل كښې ليكلي شوي دي چه هم دا حديث په ابن ماجه كښې هم دې او په هغې كښې يو زيادة دې كوم چه په ابوداؤد كښې نشته ﴿ قال عطاء بلغنا ان رسول الله ﷺ قال لو غسل جسده وترک راسه وحيث اصابه الجراحة ﴾ اوګورئ په دې حديث كښې صرف د غسل ذكر دې، جمع بين الغسل والتيمم نه دې او هسې هم جمع بين الغسل والتيمم خلاف قياس كيدل ظاهر دی ځكه چه په دې كښې د نائب او اصل دواړو اجتماع ده.

بَابٌ فِي الْمُتَيَمِّمِ يَجِدُ الْمَاءَ بَعْدَ مَا يُصَلِّي فِي الْوَقْتِ

باب دې په بيان د تيمم كونكي كې چې اوبه پيدا كړي وروسته د هغې نه چې مونځ يې كړی دی په وقت كې

يعني يو سړی د عدم وجدان ماء په وجه باندې تيمم كولو سره مونځ اوكړو ددې نه پس د مانځه په وخت كښې اوبه ملاؤ شوې نو آيا په دې صورت كښې د مانځه اعادة شته؟ په اتفاق د ائمهٔ اربعه اعادة نشته خو بعض تابعين لكه د عطاء، طاؤس او زهری ﷭ وغيرهم په نزد اعادة واجب ده، او كه اوبه ورته حاصلې شي د خروج وخت نه پس نو بيا بغير د خلاف نه اعادة واجب نه ده

د مسئلة الباب ډير صورتونه او د هر يو حكم

دلته دوه صورتونه نور دی، يو دا چه د تيمم نه پس د مونځ شروع كولو نه مخكښې اوبه ملاؤ شی او دويم دا چه د مانځه په وخت كښې اوبه ملاؤ شی. په اول صورت كښې په اتفاق د ائمهٔ اربعه او جمهور علماء تيمم باطليږی. په اودس سره مونځ كول ضروری دی خو د داؤد ظاهری او ابو سلمة بن عبدالرحمن ﷺ په دې كښې اختلاف دې هغوی وائي چه د

( ): أخرجه ابن ماجه موصولاً برقم (٥٧٢)، (تحفة الأشراف: ٥٩٧٢)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ٦٩ (٧٧٩) (حسن)

اودس حاجت نشته هم په دې تيمم سره دې مونځ اوکړي ځکه چه تيمم د هغې دصحيح کيدو د شرطونو موندلې کيدو نه پس کړې شوې وو کوم چه يو عمل دې او ابطال د عمل جائز نه دې، قال تعالى ﴿ لا تبطلوا اعمالكم الاية ﴾ او دويم صورت يعني چه کله د مانځه په وخت کښې اوبه ملاؤ شي نو دا مسئله مختلف فيه ده، د امام ابوحنيفه او احمد په نزد به په دې وخت کښې تيمم باطل شي. (1) د امام شافعي او امام مالک په نزد به نه باطليږي، د پورته ذکر شوي تفصيل نه معلومه شوه چه ددې مسئلې ټول څلور صورتونه دي بعض اجماعي او بعض مختلف فيه

[٣٣٨](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْمُسَيَّبِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "خَرَجَ رَجُلَانِ فِي سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيدًا طَيِّبًا فَصَلَّيَا، ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ وَالْوُضُوءَ وَلَمْ يُعِدِ الْآخَرُ، ثُمَّ أَتَيَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ لِلَّذِي لَمْ يُعِدْ: أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ، وَقَالَ لِلَّذِي تَوَضَّأَ وَأَعَادَ: لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَغَيْرُ ابْنِ نَافِعٍ: يَرْوِيهِ عَنِ اللَّيْثِ، عَنْ عُمَيْرَةَ بْنِ أَبِي نَاجِيَةَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَذِكْرُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: لَيْسَ بِمَحْفُوظٍ وَهُوَ مُرْسَلٌ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دې، هغه وئيلى دى: ووتل دوه سړي په يو سفر کښې، نو مونځ حاضر شو او نه وې د دواړو سره اوبه، نو دواړو تيمم اوکړو په پاکه خاوره باندې او مونځ ئې اوکړو، بيا ئې اوبه پيدا کړې په وقت کښې، نو واپس کړو يو د دواړو نه مونځ او اودس، او اعاده اونه کړه بل، بيا دواړه راغلل رسول الله ﷺ ته نو دواړو ذکر کړه دغه هغه ته، وئې وئيل هغه کس ته چه اعاده ئې نه وه کړې: ته ورسيدې سنت ته، او جائز دى ستا لپاره ستا مونځ، او وئې وئيل هغه کس ته چه اودس او اعاده ئې کړې وه: ستا لپاره اجر دى دوه ځل. وئيلى دي ابوداود: او غير د ابن نافع نه روايت کوي دهغې د ليث نه او هغه د عميره بن ابي ناجيه نه، او هغه د بکر بن سوادة نه او هغه د عطاء بن يسار نه، او هغه د نبي ﷺ نه. وئيلى دي ابوداود: او ذکر د ابو سعيد الخدري په دې حديث کښې محفوظ نه دى او هغه مرسل دى.

تشريح: ﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَجُلَانِ الخ ﴾ په دې حديث کښې هم هغه صورت مذکور دې کوم چه په ترجمة الباب کښې دې چه دوه سړو په يو سفر کښې د اوبو د

---

(1) په دې صورت کښې د صحة صلوة او عدم صحة په اعتبار سره د صاحبينو او امام صاحب ترمينځه اختلاف دې، امام صاحب فرمائي چه د سلام اړولو نه مخکښې که داسې سړي ته اوبه ملاؤ شي نو د هغه مونځ به باطل شي، او د صاحبينو په نزد به د قعود قدر التشهد نه پس د اوبو ملاويدو نه پس به مونځ نه باطليږي او دا مسئله د هغه مسائل اثناء عشريه نه ده په کوم کښې چه د امام صاحب او صاحبينو اختلاف مشهور دې.

(2): سنن النسائي/الغسل والتيمم ٢٧ (٤٣٣) (تحفة الأشراف: ٤١٧٦، ١٩٠٨٩، ١٦٥٩٩)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ٦٤ (٧٧١) (صحيح)

نه ملاویدو د وجې نه تیمم کولو سره مونځ ادا کړو، بیا په وخت کښې دننه هغوی ته اوبه ملاؤ شو، یو په هغوی کښې اودس کولو سره د مانځه اعاده اوکړه او دویم اونکړه، بیا د سفر نه په واپسئ باندې هغوی رسول الله ﷺ ته ددې تذکره اوکړه. ﴿ فَقَالَ لِلَّذِي لَمْ يُعِدْ أَصَبْتَ السُّنَّةَ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ هغه سړی ته چا چه د مانځه اعادة نه وه کړې اوفرمائیل چه تا د طریقه مشروعه مطابق کار اوکړو، او دویم سړی ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل ستا دپاره دوچند ثواب دې، د تیمم په ذریعه دې فرض ادا شو، او دویم مونځ کوم چه دې په اودس سره اوکړو هغه نفل شو، دا حدیث د ائمة اربعه موافق او د عطاء وغیره خلاف دې

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَغَيْرُ ابْنِ نَافِعٍ يَرْوِيهِ الخ ﴾ مصنف رحمه الله اختلاف فی السند بیانوی هغه دا چه د لیث بعضو شاګردانو دا حدیث د لیث نه مرسلا او بعضو مسندا ذکر کړې دې دویم اختلاف دا چه ابن نافع د لیث او بکر بن سواده ترمینځه واسطه نه ده ذکر کړې او بعض راویانو په مینځ کښې د عمیرة بن ناجیة واسطه ذکر کړې ده، ددې بعض تعیین په بذل کښې په یحیی بن بکیر او عبدالله بن مبارک رحمه الله سره کړې شوې ده، د مصنف رحمه الله رائې دا ده چه ددې حدیث مسندا کیدل صحیح نه دی بلکه مرسلا صحیح دې.

[۳۳۹]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ مَوْلَى إِسْمَاعِيلَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: د عطاء بن یسار نه روایت دې، بیشکه دوه سړې د اصحابو د رسول الله ﷺ نه په معنی د هغې سره.

تشریح: د ابواب التیمم نه دا آخری باب وو، د تیمم باب پوره شو. فالحمد لله.

بَابٌ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب دې په بیان د غسل کې په ورځ د جمعه کې

د باب سره متعلق ابحاث ستة:

دلته څو خبرو باندې خان پوهه کړئ!

۱: المناسبة بما قبله، ۲: التسمية ووجهه،

۳: حكم الغسل، ۴: هل الغسل لليوم او للصلوة،

۵: هل الغسل للجنابة يكفي غسل الجمعة، ۶: هل الغسل يختص بمن يحضر الجمعة ام يعم.

بحث اول: المناسبة بما قبله

مصنف رحمه الله د طهارة صغری او کبری اودس او غسل او د فرض غسل او د هغه د نائب یعنی تیمم نه فارغ شو نو اوس طهارت مسنونه بیانوی ځکه چه د سنت درجه خو د فرض نه پس راځی، امام بخاری رحمه الله د جمعې غسل په کتاب الطهارة کښې نه بلکه د کتاب الصلوة لاندې په کتاب الجمعه کښې دننه بیان فرمائیلې دې، په سنن ابوداؤد کښې کتاب الجمعة

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۴۱۷۶، ۱۹۰۸۹) (صحيح)

اګر که مستقلا راخي، خو مصنف رحمه الله غسل جمعة هلته نه دی بیان فرمائیلي هلته ئې د جمعې نور احکام مسائل او فضائل بیان کړي دی، د طهارت د مناسبت د وجې نه غسل جمعة مصنف رحمه الله په کتاب الطهارة کښې بیانوی او په دې کښې هغوی د غسل مسنونه صرف دوه قسمونه بیان کړی دی یو غسل جمعة او دویم غسل عند الاسلام، ددې نه علاوه ئې د غسل مسنون بل څۀ قسم دلته نه دې ذکر کړې. فقهاء کرامو غسل عیدین ته هم مستحب وئیلي دې، خو د غسل عیدین روایات ټول ضعیف دی، په صحاح کښې صرف په ابن ماجة کښې موجود دی، او په موطاء کښې حدیث د ابن عمر رضي الله عنهما موقوفا ﴿ انه كان يغتسل يوم الفطر ﴾ مروی دې.

بحث ثاني : التسمية ووجهه،

په لفظ جمعة کښې دوه لغتونه مشهور دی اول په ضمې د میم سره وهو الافصح كما في التنزيل العزيز، دویم بسکون الميم ځکه چه قاعده دا ده چه هر ذی ضمتین کښې ثانی ساکن لوستلې شې او دریم قول جمعه په فتحې د میم سره دې، په دې صورت کښې به دا په معنی د الجامع وی او په رومبو دوارو صورتونو کښې د المجموع فيه په معنی کښې دې، په دې کښې اختلاف دې چه دا اسلامی نوم دې یا جاهلی، په دې کښې دواړه اقوال دی بعض وائی هم دا نوم د مخکښې نه راروان دې، پس د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې ﴿ انمى سمى به لان الله تعالى جمع فيه خلق ادم عليه السلام ﴾ یعنی د ادم عليه السلام د تخلیق دپاره الله پاک هم په دې ورځ باندې ماده راجمع کړې وه هم په دې وجه ورته جمعه وائی، او وئیلي شی چه دا اسلامی نوم دې په جاهلیت کښې به ئې دې ته عروبه وئیله، او په اسلام کښې ورته جمعه په دې وجه وائی چه خلق په دې ورځ کښې د مانځه دپاره زیات جمع کیږی، بعض وائی چه ددې ورځې دا نوم د انصارو د طرف نه دې ځکه چه د جمعې مونځ د ټولو نه مخکښې نزول جمعة او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت نه مخکښې هم انصارو په مدینه طیبه کښې لوستلې وو لکه چه په کتاب کښې په باب الجمعة فى القرى کښې په یو روایت کښې ددې تصریح ده چه اسعد بن زراره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت نه مخکښې په مدینه منوره کښې ددې ابتداء اوکړه، بیا باقاعده د الله پاک د طرف نه مشروع شو، او ددې د وجه تسمیه په باره کښې دا هم وئیلي شوې دی چه د جاهلیت په زمانه کښې به دې ورځ قریش قبیله د قصيّ د طرف نه دار الندوة کښې راجمع کیدل، او وئیلي شوی دی چه کعب بن لوئی به دې ورځ باندې خپل قوم لره جمع کولو سره وعظ او تذکیر او تعظیم حرم ته ترغیب ورکولو، او دا هم چه د هغه د نسل نه به یو نبی مبعوث کیږی.

بحث ثالث : حكم الغسل

غسل د جمعې د اهل ظواهرو په نزد واجب دې او هم دا د امام مالک او امام احمد نه هم یو روایت دې خو قول راجح د دوی دواړو په نزد هم عدم وجوب دې، ابن القيم رحمه الله په دې کښې د حنابله درې روایتونه ذکر کړې دی، وجوب هم دې ته هغوی ترجیح ورکړې ده، عدم وجوب او دریم روایت دا چه که بدن یا جامه کښې رائحة کريهة ده نو واجب دې ګیڼې

سنت، او د احنافو او شوافعو په نزد سنت دي

بحث رابع : هل الغسل لليوم او للصلوة

دا غسل د جمهور علماء كرامو په نزد چه په كښې ائمة اربعة هم دي د مانځه دپاره دي، او د امام محمد، حسن بن زياد او د داؤد ظاهري ﷫ په نزد د ورځې دپاره دي، لشرافة هذا اليوم، بعض علماء كرامو په دې باندې اجماع نقل كړې ده چه غسل پس د صلوة جمعې نه معتبر نه دې خو نقل اجماع صحيح نه ده ځكه چه د داؤد ظاهري په نزد غسل قبيل مغرب هم معتبر دې، علامه شامي ﷫ ليكي صحيح دا ده چه دا غسل د مانځه دپاره دې او هم دا ظاهر الرواية او د امام ابويوسف ﷫ قول دې په خلاف د حسن بن زياد او امام محمد، بيا وراندې تلو سره هغوى ليكي چه ثمرة د اختلاف به د هغه سړي په حق كښې ظاهريږي چه په هغه باندې د جمعې مونځ نشته او هم دغه شان د هغه سړي په باره كښې ځاته چه د غسل نه پس حدث رسيدلې وي او هغه اودس كولو سره مونځ كړې وي د حسن بن زياد په نزد به ده ته فضيلت حاصل شي او د امام ابويوسف ﷫ په نزد نه

بحث خامس : هل الغسل للجنابة يكفي غسل الجمعة،

علامه شعراني ﷫ په الميزان الكبرى كښې د ائمة ثلاثه مسلک دا نقل كړې دې چه غسل جنابت د غسل جمعة دپاره كافي كيږي، او هغوى په دې كښې د امام مالک ﷫ خلاف نقل كړې دې خو حضرت شيخ ﷫ ليكلي دى چه د امام مالک ﷫ په نزد هم كافي دې، په دې شرط چه دواړه نيتونه اوكړي لكه چه په مدونة كښې ددې تصريح ده، علامه عيني ﷫ د احنافو مذهب مطلقا كفايت نقل كړې دې كه د غسل نيت كوي او كه نه كوي او د باقي ائمة ثلاث په نزد د كفايت نيت ضروري دې

بحث سادس : هل الغسل يختص بمن يحضر الجمعة ام يعم

د جمهور علماء كرامو او ائمة اربعه په نزد دا غسل خاص دې د هغه سړي دپاره كوم چه د جمعې د مانځه دپاره راشي ځكه چه دا غسل دې د مانځه دپاره، لا لليوم، علامه شعراني ﷫ د ائمة اربعه مذهب هم دا ليكلي دې او كوم علماء كرام چه دا وائي چه دا غسل لليوم دې د هغوى په نزد به دا حكم عام وي، امام بخاري ﷫ په دې مسئله كښې مستقل باب قائم كړې دې، ﴿ باب على من لا يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان ﴾ حافظ ابن حجر ﷫ ليكي چه په كوم حديث كښې دادى ﴿ حق على كل مسلم ان يغتسل ﴾ ددې تقاضا عموم ده، او په كوم روايت كښې چه دى ﴿ اذا اتى احدكم الجمعة فليغتسل ﴾ ددې تقاضا د خصوصيت ده.

د حضرت شيخ په رائې كښې اغتسالات ثلاثه (يعني تطبيق بين الروايتين):

دا مخكښې راغلي دى چه په دې غسل كښې دا اختلاف واقع كيږي چه دا د يوم دپاره دې يا د صلوة دپاره او ددې اختلاف علماء منشاء اختلاف الفاظ روايات دې د بعض رواياتو نه معلوميږي چه دا غسل د يوم جمعة دپاره دى او د بعض روايات نه صلوة جمعة دپاره كيدل معلوميږي او په بعض رواياتو كښې نه د جمعې قيد دې نه د مانځه بلكه في كل سبعة

ایام دي پس په صحیحین کښې په روایت د ابوهریره ﷛ کښې راغلی دی ﴿حق الله علی کل مسلم ان یغتسل في کل سبعة ایام﴾ زمونږ د حضرت شیخ ﷫ دلته یو بیله رائې ده هغه دا چه د ټولو روایاتو مخې ته ږدلو نه معلومیږی چه دا دري غسلونه دی یو هغه چه سنت دي او د بعض علماء کرامو په نزد واجب او دوه ددې نه علاوه کوم چه مندوب او مستحب دی، پس حضرت فرمائی دري غسلونه په داسې طریقه دی، اول غسل اسبوع یعنی په هفته کښې په څهٔ ورځ باندې یو ځل غسل کول دا غسل د نظافة مطلقة د قبیل نه دې، او دا د هر مسلمان په حق کښې دې که سړې وی که ښځه که د جمعې مونځ په هغه باندې واجب وی او که نه وی او ددې غسل ماخذ حضرت فرمائی د صحیحین په حدیث کښې مذکور دې کوم چه په لفظ د سبعة ایام مروی دې د جمعې د ورځې قید په هغې کښې نشته هم دغه شان د بعض فقهاء کرامو په کلام کښې هم ددې تصریح ملاویږی، پس علامه طحاوی او صاحب د در مختار تقلیم اظفار، حلق عانة او غسل فی کل اسبوع په ذریعه نظافت حاصلول مستحباتو کښې لیکلې دی، دویم غسل د یوم الجمعة ددې تعلق خاص یوم الجمعة سره دې، که د صلوة جمعة نه مخکښې وی یا روستو بهر صورت به ددې تحقق اوشی د بعض روایاتو نه هم دا معلومیږی چه د جمعې د ورځې دپاره دې غسل اوکړې شی پس په صحیح ابن خزیمة کښې د ابوقتادة نه مرفوعا مروی دی ﴿اغتسل یوم الجمعة کان فی طهارة الی الجمعة الاخری﴾ او د یوم جمعة د فضیلت تقاضا هم دا ده چه دهغې دپاره مستقل غسل کیدل پکار دی ځکه چه دې ورځې ته په حدیث کښې سید الایام ونیلې شی خو په دې دوارو قسمونو کښې تداخل کیدې شی کوم سړې چه د جمعې په ورځې غسل اوکړی هغه ته به د غسل جمعې سره سره د غسل اسبوع فضیلت هم حاصل شی، ثالث غسل صلوة الجمعة ددې تعلق صرف د هغه سړې سره دې کوم چه د جمعې دپاره حاضر شی، پس په ډیرو روایتونو کښې د حضور فی الصلوة قید موجود دې، خو ددې قسم ثالث هم په قسمین اولین کښې تداخل کیدې شی، پس کوم سړې چه د ایام اسبوع نه یوم جمعة کښې صلوة الجمعة نه مخکښې غسل اوکړی هغه ته به ددې اغتسالات ثلاثه ثواب ملاویږی، دا مضمون حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې ډیر په توضیح او تفصیل سره په څو صفحاتو کښې لیکلې دی

[۳۳۰] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ، عَنْ يَحْيَى، أَخْبَرَنَا أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ بَيْنَا هُوَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ، فَقَالَ عُمَرُ: أَتَحْتَبِسُونَ عَنِ الصَّلَاةِ؟ فَقَالَ الرَّجُلُ: مَا هُوَ إِلَّا أَنْ سَمِعْتُ النِّدَاءَ فَتَوَضَّأْتُ، فَقَالَ عُمَرُ: وَالْوُضُوءُ أَيْضًا، أَوَلَمْ تَسْمَعُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ".

ترجمه: ابو سلمة ته ابو هریره خبر ورکړی دی، چه بیشکه عمر بن الخطاب خطبه ورکوله په ورځ د جمعه کښې، ناڅاپه راداخل شو یو سړی نو اووئیل عمر: او تاسو بندیږی د مانځه

(۱): صحیح البخاري/الجمعة ۲ (۸۷۸)، ۵ (۸۸۲)، صحیح مسلم/الجمعة ۱ (۸۴۵)، موطا امام مالك/النداء للصلاة ۱(۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۶۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجمعة ۳ (۴۹۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۹۰ (۱۵۸۰) (صحیح)

نه؟ نو اووئيل سړي نه دی هغه مګر دا چه ما اوريدلي ده نداء (اذان) نو ما اودس اوکړو، نو اووئيل عمر اودس هم، ايا تاسو نه دي اوريدلي د رسول الله ﷺ نه چه هغه ويل کله چه راځي يو کس ستاسو نه جمعې ته نو غسل دې اوکړي

تشريح: قوله:﴿ حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ – قوله أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ بَيْنَا هُوَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ الخ ﴾

(د رجل مصداق): راتلونکي سړي سيدنا عثمان ﷺ وو لکه چه د مسلم په روايت کښې دی نو عمر ﷺ د خطبې په وخت کښې اودرولو سره په هغوی باندې نکير اوفرمائيلو چه د جمعې د مانځه نه هم ايساريږې او ناوخته هم راځې، عثمان ﷺ د معذرت په طور عرض اوکړو چه ما د آذان آواز اوريدلو سره اودس اوکړو او د مانځه دپاره حاضر شوم، (يعنی د آذان د آواز اوريدلو نه پس مې تاخير اونکړو) نو په دې باندې عمر ﷺ اوفرمائيل ﴿ والوضوء ايضا ﴾ ښه ! يو کمې تا دا هم اوکړو چه د غسل په ځائې دې صرف په اودس باندې اکتفاء اوکړه (يک نه شد دو شد) او د مسلم د روايت نه دا هم معلوميږی چه عمر ﷺ نکير په طريقه د تعريض فرمائيلي وو ﴿ ما بال رجال يتاخرون بعد النداء ﴾ په دې باندې عثمان ﷺ په يا امير المومنين خطاب کولو سره ځيل عذر ظاهر اوفرمائيلو ﴿ انی شغلت اليوم فلم انقلب الی اهلی حتی سمعت النداء ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د عثمان ﷺ نه ترک غسل او تاخير د څه مصروفيت د وجې نه اتفاقا شوي وو

د واقعه عثمان ﷺ نه د علماء کرامو استنباط :

په دې واقعه باندې امام نووی رحمه الله ليکی چه ددې نه معلومه شوه چه غسل جمعة واجب نه دی ځکه چه عثمان ﷺ د سماع نداء نه پس په غسل باندې د مصروف کيدو په ځائې اودس کولو نه پس د مانځه طرف ته متوجه شو ګينې ظاهره ده چه غسل واجب وې نو د غسل فرمائيلو نه پس به د مانځه دپاره تلې او کوم علماء کرام چه د وجوب قائل دی هغوی هم ددې واقعې نه استدلال کوی چه د عمر ﷺ علی رؤس الاشهاد په يو جليل القدر صحابی باندې د خطبې په وخت کښې نکير کول دا صرف د ترک مستحب دپاره نه ده د استحباب په صورت کښې نه د عمر ﷺ نکير کول مناسب وو نه د عثمان ﷺ د عذر پيش کولو حاجت وو

[٣٣] () حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ بْنِ قَعْنَبٍ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وئيلی دی غسل د جمعې ورځې واجب دی په هر محتلم

(١): صحيح البخاري للأذان ١٦١ (٨٥٨)، والجمعة ٢ (٨٧٩)، ١٢ (٨٩٥)، والشهادات ١٨ (٢٦٦٥)، صحيح مسلم للجمعة ١ (٨٤٦)، سنن النسائي للجمعة ٨ (١٣٧٨)، سنن ابن ماجه للإقامة ٨٠ (١٠٨٩)، (تحفة الأشراف: ٤١٦١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك للجمعة ١(٤)، مسند احمد (٣/٦)، سنن الدارمي للصلاة ١٩٠ (١٥٧٨) (صحيح)

تشريح: ﴿ قوله: غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ ﴾ د وجوب نه مراد ثبوت او تاکد دې، د محتلم نه لازمی معنی د بالغ مراد ده.

[۳۴۲] (¹) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ، أَخْبَرَنَا الْمُفَضَّلُ يَعْنِي ابْنَ فَضَالَةَ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ رَوَاحُ الْجُمُعَةِ، وَعَلَى كُلِّ مَنْ رَاحَ إِلَى الْجُمُعَةِ الْغُسْلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا اغْتَسَلَ الرَّجُلُ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ أَجْزَأَهُ مِنْ غُسْلِ الْجُمُعَةِ، وَإِنْ أَجْنَبَ.

ترجمه: د حفصي رضي الله عنها نه روايت دې، هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه، هغه وئيلی دی: په هر محتلم (بالغ) باندې تلل دي جمعي ته، او په هر تلونکي باندې جمعي ته غسل دی. وئيلی دي ابوداود: کله چه غسل اوکړي سړی وروسته د ختلو د نمر نه نو روا دی کافي کيږي د هغه لپاره د غسل د جمعي د ورځي نه، اګر که جنب شي.

تشريح: قوله: قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا اغْتَسَلَ الرَّجُلُ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ: يعنی که څوک د جمعي په ورځ د سحر نه پس غسل اوکړي نو دا غسل به د جمعي دپاره کافي وي اګرچه دا د جنابت غسل وي، دا مسئله به شروع کښي تيره شوي ده پنځم بحث هم دغه دي.

[۳۴۳] (²) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ الْهَمْدَانِيُّ. ح حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ. ح حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، وَهَذَا حَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ يَزِيدُ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ، فِي حَدِيثِهِمَا عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَأَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ، ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ، ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ، كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِي قَبْلَهَا"، قَالَ: وَيَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ: وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَيَقُولُ: إِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَمَةَ أَتَمُّ، وَلَمْ يَذْكُرْ حَمَّادٌ كَلَامَ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: د ابو سلمة بن عبد الرحمن نه روايت دی: وئيلی دي ابوداود: وئيلی دي يزيد او عبد العزيز په خپل حديث کښي، د ابو سلمة بن عبد الرحمن او د ابو امامة بن سهل نه هغوی دواړو د ابو سعيد الخدري او د ابو هريره نه، دواړو وئيلی دی: وئيلی دي رسول الله ﷺ: چا چه غسل اوکړو په ورځ د جمعي او واغي غوسټلي ښائسته جامي، او استعمال ئې کړه خوشبو که چېري وي د هغه دپاره، بيا راشي جمعي ته خپې نه ږدي په څټونو د خلقو، بيا مونځ اوکړي هغه څه چه ليکلي دي الله، بيا چپ شي کله چه راوځي امام د هغه تردې چه فارغ شي د مانځه نه کيږي کفاره په مابين ددې کښي او په مابين د جمعي هغې کښي چه د دېته م مخکښي ده. هغه اووئيل: او وائي ابوهريره: او اضافه درې ورځې. او وايي: بيشکه حسنه په لس چنده ده. وئيلی دي ابوداود: او حديث د محمد بن سلمة اتم دی، او حماد کلام

(¹): سنن النسائي/الجمعة ٢ (١٣٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٠٦) (صحيح)

(²): وقد تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٤٤٣٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجمعة ٨ (٨٥٨) من حديث أبي هريرة مختصراً ومن غير هذا السند، وأدرج قوله: "وثلاثة أيام" في قوله صلى الله عليه وسلم (حسن)

د ابو هریره نه دی ذکر کړی.

تشریح: ﴿ قوله :وَيَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ « وَزِيَادَةُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ » ﴾ ددې حدیث راوی ابوسعید خدری او ابوهریره رضی الله عنه دواړه دی اوس پوری چه د حدیث کوم الفاظ راغلل هغه د دواړو مشترک وو او زیادة ثلاثة ایام صرف د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دې، څکه چه د جمعې مونځ د تیرې جمعې د مانځه نه واخله د موجوده جمعې د مونځ د وخته پورې د ګناهونو کفاره ده په دې صورت کښې دا درې ورځې شوې، او د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې د درې ورځو زیادت مذکوردی، څکه ټولې لس ورځې شوې، یعنی یو د جمعې دورځې مونځ دلسو ورځو دګناهونو کفاره ده، او که د دواړو طرفونو نه د جمعې ورځ ساقط کړې شی نو صرف شپږ ورځې به پاتې شی او که د دواړو جمعو پوره ورځې مراد کړې شی نو اته ورځې به شی، په اول صورت کښې به د دریو زیادت یو ځائې کولو سره ټولې نهه شی، او په دویم صورت کښې به یولس ورځې شی، لهذا صحیح دا ده چه د هر دواړو جمعو نیمه نیمه ورځ مراد کړې شی.

دلته دې دا اشکال اونکړې شی چه ابوهریره رضی الله عنه د خپل طرف نه دا زیادت څنګه کوی او حال دا چه په حدیث کښې صرف یو هفته ذکر ده څکه چه دا د دریو ورځو زیادت د هغوی د خپل طرف نه نهٔ دې بلکه دا هم مرفوعا ثابت دې، لکه چه د مسلم د روایت نه معلومیږی، خو الحسنة بعشر امثالها د ابوهریره رضی الله عنه د طرف نه مدرج دې.

[۳۴۴] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ أَبِي هِلَالٍ، وَبُكَيْرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْأَشَجِّ حَدَّثَاهُ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ، وَالسِّوَاكُ، وَيَمَسُّ مِنَ الطِّيبِ مَا قُدِّرَ لَهُ"، إِلَّا أَنَّ بُكَيْرًا لَمْ يَذْكُرْ عَبْدَ الرَّحْمَنِ، وَقَالَ فِي الطِّيبِ: وَلَوْ مِنْ طِيبِ الْمَرْأَةِ.

ترجمه: د عبد الرحمن بن ابي سعيد الخدري نه روايت دې هغه د خپل پلار نه روايت کوي، بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: غسل په ورځ د جمعه کښې په هر محتلم واجب دی، او مسواک او مسه کوي به خوشبو هغه چه اندازه شوی وي هغه دپاره. مګر بکير نه دی ذکر کړی عبد الرحمن، او وئیلی ئې دي په طیب کښې: اګر که د خوشبویې د ښځې نه وي.

تشریح:۵ ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ – قوله وَيَمَسُّ مِنَ الطِّيبِ مَا قُدِّرَ لَهُ ﴾ او د مسلم په روایت کښې دی ﴿ ما قدر عليه ﴾ په دې کښې دوه احتمالات دی یا په دې سره مقصود تکثیر دې چه څومره لګولې شی او دې لګوی یا تاکید دې چه څنګه هم ممکن وی لګول پکار دی پس په بعض روایاتو کښې دی ﴿ ولو من طيب المرأة ﴾ خو د ابوداؤد د روایت الفاظ ﴿ ما قدر له ﴾ احتمال ثانی ته زیات نژدې دی یعنی څنګه خوشبوئی هم چه په مقدر کښې ده (معمولی یا غوره) هغه دې اولګوی. وئیلې شوې دی چه د ابوهریره رضی الله عنه په نزد دا امر د وجوب دپاره دې د هغوی په نزد د جمعې په ورځ استعمال طیب واجب دې

[1]: صحيح البخاري الجمعة ۳ (۸۸۰) (نحوه)، صحيح مسلم الجمعة ۲ (۸٤٦)، سنن النسائي الجمعة ٦ (۱۳۷٦)، (تحفة الأشراف: ٤١١٦، ٤٢٦٧)، وقد أخرجه: (۳/۳۰، ٦٥، ٦٦، ٦٩) (صحيح)

[۳۴۵]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْجَرْجَرَائِيُّ حِبِّي، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، حَدَّثَنِي حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، حَدَّثَنِي أَبُو الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنِي أَوْسُ بْنُ أَوْسٍ الثَّقَفِيُّ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ، كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا".

ترجمه: د اوس بن أوس الثقفي نه روايت دي چه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه، هغه به فرمائيل: چا چه غسل ئې پرې اوكړو په ورځ د جمعې اوپه خپله ئې هم غسل اوكړو، بيا سحر وختي په اول وخت كښې جمات ته لاړشي، په شروع كښې خطبې ته اورسيږي، او پيدل لاړشي او سور نه شو، او نزدې شو امام ته بنه غوږيې كيخودو او لغو كار ئې اونه كړه، نو وى به د هغه لپاره ثواب په هر قدم باندې د يو كال روژې دهغې او قيام د هغې.

شرح حديث:

قوله﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ – قوله مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ ﴾ ﴿ غسل ﴾ په تحقيف او تشديد دواړو سره لوستلې شوې دې او په دواړو صورتونو كښې (²)د دوه معنو احتمال دې يا ددې نه مراد غسل راس بالخطمي وغيره دې يا مراد جماع ده او په دې صورت كښې به ددې مفعول محذوف وى ﴿ اى من غسل امراته ﴾ محاوره په عربو كښې غسل امراته د جماع په معنى كښې استعماليږى ځكه چه كوم سړې د خپلې ښځې سره جماع كوى هغه خپله ښځه غسل ته تياروى او دريم قول دا دې چه ددې نه مراد د اودس د اندامونو وينځل دى په دې صورت كښې به اشاره وى د غسل مسنون طرف ته ځكه چه د غسل په ابتداء كښې اودس سنت دې، د معنى ثانى د وجې نه بعض علماء كرامو د جمعې په ورځ د خپل اهل سره د مجامعت استحباب بيان كړې دې چه د خواهش د پوره كيدو د وجې نه جمعې ته د تلو په وخت د بدنظرئ وغيره نه په حفاظت وى په دې باندې نور كلام د حديث نمبر ۱۱ د لاندې راروان دې.

﴿ قوله ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ ﴾ دا دواړه بعض علماء كرامو په تاكيد باندې محمول كړې دې او يوه معنى ئې مراد كړې ده يعنى د ماښځه دپاره وختې تلل، او وئيلې شوې دى چه د اول تعلق د ماښځه سره دې او د دويم د خطبې سره دې، يعنى لاړو د ماښځه دپاره وختې او اول خطبه ئې بيا موندله ﴿ ابتكر ﴾ د باكورة نه اخستلې شوې دى، د هر څيز اول ته باكوره وائى باكورة كل شئ اوله.

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۲۳۹ (۴۹٦)، سنن النسائي/الجمعة ۱۰ (۱۳۸۲)، سنن ابن ماجه/الإقامة ۸۰ (۱۰۸۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۵) وقد أخرجه: مسند احمد (۸/۴، ۹، ۱۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۹۴ (۱۵۸۸) (صحيح)

[2]: كما في المنهل خو په مرقاة كښې د ملا على قارى رحمه الله د كلام نه معلوميږي چه د جماع په معنى كښې صرف غسل بالتشديد دې او د غسل بالتخفيف په صورت كښې ددې نه مراد غسل راس بالخطمى وغيره دې.

د مشی الی الجمعة ثبوت او د هغې فضیلت :

﴿ قوله وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د جمعې د مانځه دپاره سعی ماشیا افضل ده نه راکبا ، پس امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل ترجمة قائم کړې ده باب المشی الی الجمعة او دا د احادیث صحیحه نه ثابته ده [1] په خلاف د صلوة عید چه دهغې دپاره مشی په روایت صحیحه کښې ثابت نه ده اګرچه هغه هم د جمهور علماء کرامو په نزد اولی او مستحب ده خو دهغې ثبوت روایة ضعیف دې دهغې څو روایات په سنن ابن ماجه کښې دی او یو روایت په ترمذی کښې هم دې هم په دې وجه امام بخاری رحمه الله د عید دپاره په خپل صحیح کښې ترجمة قائم کړې باب المشی والرکوب الی العید ګویا ددې خبرې طرف ته اشاره ده چه د اختر د مانځۀ دپاره مشی او رکوب دواړه برابر دی، حافظ فرمائی چه کیدې شی د امام بخاری رحمه الله اشاره د ترمذی د روایت د تضعیف طرف ته وی کوم چه د علی رضی الله عنه نه مروی دې ﴿ من السنة ان يخرج الى العيد ماشيا ﴾

﴿ قوله وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د خطبې په وخت د امام قرب مطلوب دې، مصنف رحمه الله په کتاب الجمعة کښې په دې باندې مستقل باب ترلې دې باب الدنو من الامام عند الموعظة، حضرت شیخ رحمه الله به په مدینه منوره کښې د قیام په آخری زمانه کښې د خپلې معذورئ د وجې نه حرم شریف ته په ګاډی کښې تشریف اوړلو د مسجد نبوی په شاته حصه کښې ئې په یو کټ کښې د مونځ ادا کولو معمول وو، ما اوریدلی دی چه کله حضرت زیات معذور شوې نه وو د جمعې په ورځ باندې به ئې خادمینو ته هدایت فرمائیلو چه د مسجد دننه حصې کښې داسې نزدې ځائې ته بوتلو سره کینوی د کوم ځائې نه چه خطیب هم په نظر راتلې شی.

حکم الکلام عند الخطبة :

﴿ قوله وَلَمْ يَلْغُ ﴾ ددې نه مراد عدم تکلم دې ځکه چه کلام عند الخطبة لغو دې [2]، علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د جمهور علماء ثلاث په نزد مکروه تحریمی بلکه حرام دی، او د امام شافعی رحمه الله قول قدیم هم دا دې او قول جدید د هغوی دا دې چه مکروه تنزیهی دې او هم دا مذهب دې د سفیان ثوری او د داؤد ظاهری د احادیث صحیحه نه د جمهورو د مسلک تائید کیږی.

---

[1] لکه چه د ابوداؤد په دې روایت کښې دی او هم دا روایت په نسائی کښې هم دې، امام بخاری رحمه الله اګرچه د مشی الی الجمعة مستقل باب قائم کړې دې خو دهغې نې څه صریح روایت په باب کښې ذکر نه دې فرمائیلې بلکه په ﴿ من اغبرت قدماه في سبيل الله حرمه الله على النار ﴾ باندې ئې استدلال کړې دې ځکه چه ښکاره خبره ده چه اغبرار قدم خو په پیدل تلو کښې دی.

[2] شارحینو لیکلی دی حدیث شریف کښې لفظ ﴿ وَلَمْ يَلْغُ ﴾ کیدې شی چه مقتبس وی، ددې آیت کریمه نه ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ الاية ﴾ ددې نه د کلام عند الخطبة ډیره بدی معلومیږی.

اکثر الاعمال ثوابا :

﴿ قوله كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا ﴾ يعنی د داسې سړی دپاره به د جمعې د مانځه دپاره په تلو باندې په هر هر قدم باندې د يو کال د صيام او قيام يعنی د قيام ليل څه نه چه تهجد وائی ثواب ملاويږی. که په هر قدم باندې د يوې روژې او د يوې شپې د تهجد ثواب ملاويږی نو بيا خو ښکاره ده چه ډير وو پاتې له دا چه د يو کال. زه اکثر په سبق کښې وايم چه په فضائل اعمال کښې هيڅ صحيح حديث ددې نه د زيات فضيلت والا زما په علم کښې نشته ضعيف احاديث خو د ډيرو اعمالو په باره کښې په کثرت سره راغلي دی، خو د صحيح په قيد سره په بل څه عمل باندې دومره زيات فضيلت نشته. روستو دا خبره ماته د مرقاة شرح مشکوة نه هم معلومه شوه. [1]

[٣٣٦](2) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: مَنْ غَسَلَ رَأْسَهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ، ثُمَّ سَاقَ نَحْوَهُ.

ترجمه: اوس الثقفي روايت کوي د رسول الله ﷺ نه بېشکه هغه وئيلی دی: چا چه وينځلو سر خپل په ورځ د جمعه او غسل ئې اوکړو بيا ئې حديث سوق کړی دی پشان د هغې

[٣٣٧](3) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمِصْرِيَّانِ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ ابْنُ أَبِي عَقِيلٍ: أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَمَسَّ مِنْ طِيبِ امْرَأَتِهِ إِنْ كَانَ لَهَا وَلَبِسَ مِنْ صَالِحِ ثِيَابِهِ ثُمَّ لَمْ يَتَخَطَّ رِقَابَ النَّاسِ وَلَمْ يَلْغُ عِنْدَ الْمَوْعِظَةِ، كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهُمَا، وَمَنْ لَغَا وَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ، كَانَتْ لَهُ ظُهْرًا".

ترجمه: عبد الله بن عمرو بن العاص روايت کوي د نبي ﷺ نه بېشکه هغه وئيلی دی: چا چه غسل اوکړو په ورځ د جمعه او استعمال ئې کړه خوشبويې د ښځې خپلې که چېرې وي ورله، او واغوندې روغې ښائسته جامې، بيا خپې نه ږدې په څټونو د خلقو، او لغوه اونه کړې د نصيحت په وخت کښې، وي به کفاره په مابين د دواړو کښې، او چا چه لغوه اوکړه او د خلقو په څټونو باندې خپې کېدې نو شي به د هغه لپاره ماسپخين.

[٣٣٨](4) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ شَيْبَةَ، عَنْ طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا حَدَّثَتْهُ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنَ الْجَنَابَةِ، وَيَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَمِنَ الْحِجَامَةِ، وَمِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ".

---

[1]: دا حديث صاحب مشکوة د سنن اربعه طرف ته منسوب کړي دي، په مرقاة کښې دی قال الترمذي حديث حسن وقال النووي اسناده جيد، قال ميرك ورواه الحاكم وقال صحيح وقال ابن حجر ورواه احمد وصححه ابن حبان والحاكم وقال انه علي شرط الشيخين قال بعض الائمة لم نسمع في الشريعة حديثا صحيحا مشتملا علي مثل هذا الثواب ﴾

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٣٥) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٥٩) (حسن)

[4]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦١٩٣)، ويأتي عند المؤلف في الجنازة برقم (٣١٦٠) (ضعيف)

ترجمه: عبد الله بن زبير روايت كوي د عائشې نه، بېشكه هغې ورته حديث بيان كړى دى، بېشكه نبي ﷺ وو چه غسل به ئي كولو د څلورو نه: د جنابت نه، او په ورځ د جمعې، او د ښكر لګولو نه، او د غسل د مړي نه.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ – قوله أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ الخ ﴾ په دې حديث كښې د څلورو څيزونو په باره كښې ونيلې شوي دي چه رسول الله ﷺ به دهغې نه غسل فرمائيلو، جنابت، يوم الجمعة، حجامة يعنى ښكر لګولو د وجې نه، او د غسل ميت د وجې نه، په بذل كښې په حواله د علامه سندهي ليكلې شوي دي چه د غسل نه مراد امر بالغسل دې، يعنى رسول الله ﷺ به د څلورو څيزونو نه د غسل حكم كولو او دا په دې وجه چه په دې كښې د غسل ميت هم ذكر دې، او د رسول الله ﷺ يو مړى ته غسل وركول ثابت نه دى، او په منهل كښې ليكلې شوي دى چه د ﴿ يغتسل ﴾ نه مراد عام دې غسل كول او امر بالغسل ځكه چه ددې څلورو نه صرف په دريو كښې د رسول الله ﷺ غسل ثابت دې په څلورم كښې نه دې.

خان پوهه كړه چه په دې حديث كښې غسل من الحجامة مذكور دې، جمهور علماء كرام ددې د استحباب قائل نه دى، ځكه چه ددې حيثيت د رعاف نه زيات نه دې نو چه كله د رعاف نه حكم نشته نو ددې نه به په طريقه اولى نه وى، او د دارقطنى په يو روايت كښې دى ﴿ انه عليه الصلوة والسلام احتجم ولم يزد على غسل محاجمه ﴾ يعنى رسول الله ﷺ صرف محل احتجام وينځلو غسل ئي نه دې كړې او ددې حديث جواب دا دې چه دا ضعيف دې په دې كښې يو راوى دې مصعب بن شيبة چه ضعيف دې په بعض نسخو د ابوداؤد كښې د امام ابوداؤد نه د هغوى تضعيف نقل دې، اصل كښې د مصعب بن شيبة په جرح او تعديل كښې د علماء كرامو اختلاف دې بعض د هغوى تعديل كوى او بعض تجريح.

غسل ميت سره په وجوب غسل كښې اختلاف

څلورم څيز په دې حديث كښې د غسل ميت د وجې نه غسل كول دى دا هم مختلف فيه دى، د ائمة ثلاثه په نزد مستحب دى بلكه د امام مالك او امام شافعى ﷫ په نزد يو روايت د وجوب هم دې او د احنافو په نزد خو اصالة مستحب هم نه دې، خو ! د خروج عن الخلاف په طور مستحب دې، او د بعض صحابه كرامو لكه ابوهريرة ﷺ نه ددې وجوب نقل دې هم دغه شان په روافضو كښې فرقه اماميه هم د وجوب قائل دى، دا مسئله اصالة د كتاب الجنائز ده هلته به راشى، حافظ ابن القيم﷫ په دې كښې درې مذاهب ليكلي دى، يجب عند ابن المسيب وابن سيرين، عند الائمة الاربعة لا يجب، يجب من غسل الميت الكافر رواية لاحمد.

[۳۴۹] () حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، أَخْبَرَنَا مَرْوَانُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَوْشَبٍ، قَالَ: سَأَلْتُ مَكْحُولًا عَنْ هَذَا الْقَوْلِ: غَسَّلَ وَاغْتَسَلَ، فَقَالَ: "غَسَلَ رَأْسَهُ وَغَسَلَ جَسَدَهُ".

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٩٤٧١) (صحيح)

ترجمه: علی بن حوشب وائي ما تپوس اوکړو د مکحول نه ددې قول باره کښې «غَسَّلَ وَاغْتَسَلَ» نو هغه اوونیل چه ووینځي خپل سر او وینځي خپل ټول بدن

[۳۵۰]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ: "فِي غَسَّلَ وَاغْتَسَلَ، قَالَ: قَالَ سَعِيدٌ: غَسَّلَ رَأْسَهُ وَغَسَلَ جَسَدَهُ".

ترجمه: ابو مسهر وائي سعيد بن عبد العزيز وئيلي دي. «غَسَّلَ وَاغْتَسَلَ» هغه وئيلي دي. اوونیل سعید: چه وینځي خپل سر او وینځي خپل ټول بدن

[۳۵۱]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وئیلي دي: چا چه غسل اوکړو په ورځ د جمعه غسل د جنابت، بیا لاړلو ګویا کښې ده اوښ قرباني کړو، او څوک چه لاړلو په دویم ساعت کښې ګویا کښې ده غوا قرباني کړه، او څوک چه لاړلو په دریم ساعت کښې ګویا کښې ده ګډ قرباني کړو، او څوک چه لاړلو په څلورم ساعت کښې ګویا کښې ده چرګه قرباني کړه، او څوک چه لاړلو په پنځم ساعت کښې ګویا کښې ده هګۍ قرباني کړه، چه کله امام راوځي ملائکې حاضرې شي ذکر اوري

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ — قوله مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ الخ ﴾ په دې کښې دوه احتمالات دی یو د تشبیه یعنی کوم انسان چه د جمعې په ورځ هم په داسې اهتمام سره غسل اوکړی څنګه چه د جنابت غسل کولې شی، دویم احتمال دا دې چه په حقیقت باندې محمول وی او اشاره وی د جمعې په ورځ د جماع طرف ته لکه چه په ﴿ من اغتسل وغسل ﴾ کښې تیر شو، امام نووی رحمه الله ددې دویمې معنی په باره کښې لیکی ﴿ضعیف وباطل ﴾ خو حافظ ابن حجر او علامه قرطبی رحمه الله د امام نووی رحمه الله د کلام تعقب کړې دې چه دا معنی ډیرو حضراتو لیکلې ده چه په هغوی کښې امام احمد رحمه الله هم دې خو امام قرطبی د امام نووی رحمه الله د کلام دا توجیه لیکلې ده چه کیدې شی د هغوی مراد د هغه معنی تغلیط من حیث المذهب دې څکه چه هغوی ددې نه مخکښې لیکلې دې چه زمونږ بعض فقهاء کرامو دا حدیث په خپل ظاهر باندې کیخودلو سره لیکلې دی چه د جمعې په ورځ باندې د خپلې ښځې سره مجامعت مستحب دې نو د امام نووی رحمه الله انکار په نقل استحباب باندې دې نه په شرح حدیث باندې

﴿ قوله ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً ﴾ دلته دوه بحثونه دی، اول دا چه په حدیث کښې چه کوم ساعات ذکر دی د هغې ابتداء د کله نه ده

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۸۶۹۱) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الجمعة ٤ (۸۸۱)، وبدء الخلق ٦ (۳۲۱۱)، صحيح مسلم/الجمعة ٧ (۸۵۰)، سنن الترمذي/الجمعة ٦ (٤٩٩)، سنن النسائي/۱۷۰۸، من الكبرى، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۶۹)، وقد أخرجه : سنن النسائي/الإمامة ٥٩ (۸٦٥)، والجمعة ۱۳ (۱۳۸٦)، سنن ابن ماجه/الإقامة ۸۲ (۱۰۹۲)، موطا امام مالك/الجمعة ۱ (۱)، مسند احمد (۲/۲۳۹، ۲۵۹، ۲۸۰، ۵۰۵، ۵۱۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۹۳ (۱۵۸۵) (صحيح)

په حديث الباب کښې دوه بحثونه :

پس دا مسئله مختلف فيه ده. امام مالک، قاضي حسين او امام الحرمين ددې خبرې قائل دى چه د ساعات نه مراد لحظات لطيفه دي چه دهغې ابتداء د زوال نه پس شروع کيږي ځکه چه په حديث کښې لفظ راح دې، ددې حضراتو وينا ده چه رواح په لغة کښې ذهاب بعد الزوال ته وائي په دې وجه به ددې ساعاتو ابتداء د زوال نه پس منلې شي، شاه ولي الله صاحب رحمه الله فرمائي چه امام احمد رحمه الله وغيره د امام مالک رحمه الله ددې قول په سختئ سره نکير فرمائيلې دي چه دا د حديث خلاف ده او د جمهور علماء کرامو په نزد ددې ساعاتو ابتداء د اول النهار نه ده ددې نه لحظات لطيفه نه بلکه ساعات زمانيه مراد دي کومه چه د ساعت مشهوره معنى ده، او د رواح معنى په لغت کښې د مطلب ذهاب هم راځي که قبل الزوال وي يا بعد الزوال لکه چه بعض ائمة لغت ددې تصريح کړې ده او په نورو رواياتو کښې چونکه تکبير الى الجمعة ته ترغيب راغلى دې په دې وجه به دا هم په دې باندې محمول کولې شي، ددې نه پس د جمهورو ترمينځه بيا په دې کښې اختلاف راځي چه ددې ساعاتو ابتداء به د طلوع فجر نه پس وي يا که په طلوع شمس سره، د اکثرو رائې دا ده چه د طلوع فجر نه حافظ ابن حجر رحمه الله دلته يو بله خبره فرمائيلې ده هغه دا چه په دې حديث کښې لفظ ﴿راح﴾ صرف د امام مالک رحمه الله په طريق کښې دي او په غير د طريق مالک نه په ځائې د لفظ راح ﴿غدا﴾ راغلې دې چه دهغې معنى على الصباح د تلو ده [1] او په بعض رواياتو کښې بلفظ ﴿المتعجل الى الجمعة کالمهدي بدنة﴾ راغلې دي ددې نه علاوه ددې سلسلې په نورو بعض روايتونو کښې هم لفظ د ﴿غدو﴾ راغلې دې لکه ﴿اذا کان يوم الجمعة غدت الشياطين براياتها الى الاسواق وتغدوا الملائکة الى ابواب المساجد يکتبون الاول فالاول﴾ چه په هغې سره د جمهورو د مسلک تائيد کيږي.

بحث ثاني :

دلته دا دې چه ورځ د دولس ګهنټو وي لکه چه د نسائي په روايت کښې دى ﴿يوم الجمعة ثنتا عشرة ساعة﴾ لهذا د اول النهار نه به تر زوال پورې شپږ ساعتونه وي حال دا چه دلته په حديث کښې پنځه ساعتونه ذکر دي ددې جواب دا دې چه د نسائي په روايت کښې ساعت سادسه هم ذکر دې، پس دهغې په يو روايت کښې بطة او په يو کښې عصفور مذکور دي، [2] فزال الاشکال بحمد الله.

﴿قوله وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً﴾ د حديث مضمون دا دې چه کوم سړې د جمعې د مانځه دپاره په ساعت اولى کښې حاضر شى هغه ته به د تصدق ابل ثواب ملاويږي او څوک چه په ساعت ثانيه کښې حاضر شو هغه ته به د تصدق بقرة ثواب ملاويږي او څوک چه په ساعت ثالثه کښې حاضر شي د هغه دپاره د کبش اقرن، او څوک چه په ساعة رابع کښې حاضر شي د هغه دپاره د تصدق دجاجة او بيا په ساعت خامسه

---

[1] حضرت شيخ رحمه الله په اوجز کښې ليکي په رواياتو کښې په دې سلسله کښې ځلور قسمه الفاظ ملاويږي، الرواح الغدو التبکير التهجير کوم چه د هاجرة نه ماخوذ دې قرطبي رحمه الله فرمائي د تهجير معنى سير وقت الحر ده او د شدة الحر ابتداء عام طور د ربع نهار نه کيږي.

[2] پس په دې کښې ذکر د شاة دې کالمهدي بطة ثم کالمهدي دجاجة ثم کالمهدي بيضة او په يو روايت کښې په ځائې د بطة عصفور دي.

کښې ديو بيضه اوبيا په ساعت سادسه کښې لکه چه دنسائي په روايت کښې دي ديو عصفور
فائده اولی : د نسائي په يو روايت کښې داسې راغلي دي ﴿ فالناس فيه کرجل قدم بدنة وکرجل قدم بدنة وکرجل قدم بقرة وکرجل قدم بقرة ﴾ په دې روايت کښې د ټولو ساعاتو اجر په تکرار سره ذکر کړې شوې دې په ظاهره دديې نه دې خبرې طرف ته اشاره ده چه دا ټول ساعتونه متجزی او ذو اجزاء دي، لهذا د ساعت اولي په اجزاء کښې چه په کوم جزء کښې هم څوک حاضر شي د ثواب موعود مستحق به وي هم دغه شان د ساعت ثانيه په اجزاء کښې چه په کوم جز کښې راشي هغه به د هغه ساعت د ثواب مستحق وي، زه وائم ددې نه هم د جمهورو تائيد کيږي چه دا ساعات لحظات لطيفه نه دي بلکه ساعات زمانيه (نجوميه) دي
فائده ثانيه : سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به هميشه ددې خبرې کوشش کولو چه د جمعې د ماتخه دپاره مسجد ته په اول ساعت کښې اورسيږي، يو ځل ترې نه د څه وجې نه تاخير واقع شو مسجد ته ناوخته راغلو، هغه وخت مسجد کښې د مخکښې نه درې کسان موجود وو کوم چه د هغوی نه مخکښې رسيدلي وو، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته په خپل روستو کيدلو باندې ډير تاثر اوشو او وې فرمائيل لکه چه د ابن ماجه په روايت کښې دي ﴿ رابع اربعة ﴾ چه اف هوا دې جمعې له زه څلورم نمبر رارسيدونکې يم او بيا ئې اوفرمائيل ﴿ وما رابع اربعة ببعيد ﴾ ددې دوه مطلبونه کيدې شي يو هغه د تاثر والا خبره چه څلورم نمبر باندې راتلونکې څومره بعيد دې، او دويم مطلب دا کيدې شي چه په طور د تسلئ ئې اوفرمائيل چه خير زه څلورم راتلونکې يم زيات بعيد نه يم
﴿ قوله فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د خروج امام نه پس دانصات وخت شروع شي، دلته دوه څيزونه دي يو قطع صلوة او دويم قطع کلام ددې دواړو وخت يو دې يا بيل بيل دامسئله اختلافي ده، يجئ في محله انشاء الله وهو کتاب الجمعة.

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي تَرْكِ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب دې په بيان د رخصت کې په ترک د غسل کې په ورځ د جمعه کې

د غسل جمعة په سلسله کښې چونکه روايات دوه قسمه دي د بعضو نه وجوب مستفاد کيږي او د بعضو نه عدم وجوب، مصنف رحمه الله په باب سابق کښې د اول قسم روايات ذکر کړي وو او په دې دويم باب کښې بل قسم روايات ذکر کول مقصود دي، د جمهورو په نزد د وجوب روايات يا خو په تاکد او اهتمام باندې محمول دي يا بيا په نسخ باندې

[۳۵۲] () حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّاسُ مُهَّانَ أَنْفُسِهِمْ، فَيَرُوحُونَ إِلَى الْجُمُعَةِ بِهَيْئَتِهِمْ، فَقِيلَ لَهُمْ: لَوِ اغْتَسَلْتُمْ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې وئيلي دي: وو خلق خدمت کونکې د خپلو ځانونو، نو دوی به تلل جمعې ته په خپل حال باندې، نو دوی ته اووئيل شول که چرې غسل مو کړې وی نو ښه به وه.

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ — قوله كَانَ النَّاسُ مُهَّانَ أَنْفُسِهِمْ الخ ﴾ مهان جمع د ماهن ده په معنی د خادم، يعنی په ابتداء د اسلام کښې د فتوحاتو د زمانې نه مخکښې خلق د خپل ځان خادمان پخپله وو د هغوی نوکران وغيره نه وو، د خپل محنت او مشقت ټول کارونه به ئې

(): صحيح البخاري/الجمعة ۱۶ (۹۰۳)، والبيوع ۱۵ (۲۰۷۱)، صحيح مسلم/الجمعة ۱ (۸۴۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۳۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الجمعة ۹ (۱۳۸۰)، مسند احمد (۶۲/۶) (صحيح)

خپله کول، چه په هغې سره به په بدن کښې بدبوئې پيدا کيدله او چونکه تردې وخته پورې د رسول اللهﷺ د طرف نه د غسل حکم نه وو شوې په دې وجه صحابه کرامو هم په دې حال کښې د جمعې د مانځه دپاره رسيدل په دې وجه رسول اللهﷺ هدايت اوفرمائيلو ﴿لو اغتسلتم﴾ که غسل مو کولو نه غوره ده چونکه ددې صيغې نه په ظاهره د غسل استحباب او عدم وجوب معلوميږي هم په دې وجه مصنف رحمه الله د ا حديث په دې باب کښې راوړې دې

[٣٥٣](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ أُنَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوا، فَقَالُوا: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا؟ قَالَ: لَا، وَلَكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِمَنِ اغْتَسَلَ، وَمَنْ لَمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ، "وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ، كَانَ النَّاسُ مَجْهُودِينَ يَلْبَسُونَ الصُّوفَ وَيَعْمَلُونَ عَلَى ظُهُورِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ إِنَّمَا هُوَ عَرِيشٌ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ حَارٍّ وَعَرِقَ النَّاسُ فِي ذَلِكَ الصُّوفِ حَتَّى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ آذَى بِذَلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، فَلَمَّا وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيحَ، قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِذَا كَانَ هَذَا الْيَوْمَ فَاغْتَسِلُوا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيبِهِ"، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: ثُمَّ جَاءَ اللهُ بِالْخَيْرِ، وَلَبِسُوا غَيْرَ الصُّوفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِي كَانَ يُؤْذِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ.

ترجمه: د عکرمة نه روايت دې، بېشکه څه خلق د عراق والو نه راغلل هغوی اووئيل اې ابن عباس! ايا ته وينې غسل په ورځ د جمعه کښې واجب؟ هغه اووئيل نه. لکن دا ښه پاکونکې دې، او غوره دې د هغه چا لپاره چه غسل اوکړي، او چا چه غسل اونه کړو نو دا پرې واجب نه دې، او زر دې چه به تاسو خبر کړم چه غسل څنګه شروع شوی دې، وو خلق مشقت کونکي اغوستلې به ئې ورې او کار به کولو دوی په شاګانو خپلو باندې، او وو جماعت د دوی تنګ چه چت ئې نزدې وو (بېشکه هغه چوتره وه) نو راووتلو رسول اللهﷺ په ګرمه ورځ کښې او خلق خوله شوې وو په دغه ورو کښې تردې چه والوتل د دوی نه بادونه چه ضرر ورکړو په دې باندې بعضو بعضو ته، هر کله چه محسوس کړو رسول اللهﷺ دغه باد وئې وئيل: اې خلقو کله چه وي دغه ورځ نو غسل اوکړئ، او استعمال دې کړي يو ستاسو نه افضل هغه چه دايې بيامومي د تيلو د خوشبويې نه وئيلې دي ابن عباس بيا پراخې راوسته الله پاک په خير، او واغوستلې دوی غير د ورو نه، او منع شول دوی د کار نه، او پراخه کړی شو جمات د دوی، او ختم شو بعضې هغه چه وو ضرر به ورکولو بعضو بعضو ته د خولې نه

[٣٥٤](٢) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ، وَمَنِ اغْتَسَلَ فَهُوَ أَفْضَلُ".

ترجمه: د سمرة نه روايت دې وايې، وئيلې دي رسول اللهﷺ چا چه اودس اوکړو په ورځ د جمعه کښې نو ډير ښه ئې اوکړل، او چا چه غسل اوکړو نو دا افضل دی.

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٧٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ٦ (٨٨٣)، مسند احمد (٢٧٦٦) (حسن)

(٢): سنن الترمذي/الجمعة ٥ (٤٩٧)، سنن النسائي/الجمعة ٩ (١٣٨١)، مسند احمد (٥/١٥، ١٦، ٢٢)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٧) (حسن)

مضمون حديث:

تشريح: قوله ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ – قوله أَنَّ أُنَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوا فَقَالُوا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ الخ ﴾ بعض اهل عراق د ابن عباسؓ په خدمت کښې راغلل ممکنه ده دا د هغه وخت واقعه وي، چه کوم وخت کښې ابن عباسؓ د بصرې والي وو، بصره او کوفه دواړه د عراق ښهرونه دي، دې خلقو دا سوال اوکړو چه آيا غسل جمعة ستاسو په نزد واجب دې؟ سيدنا ابن عباسؓ په صفايئ سره اوفرمائيل چه واجب نه دې صرف غوره دې او بيا ئې اوفرمائيل چه زه تاسو ته ښائم چه د غسل ابتداء څنګه شوې ده ﴿ كَانَ النَّاسُ مَجْهُودِينَ يَلْبَسُونَ الصُّوفَ ﴾ اصل خبره دا ده چه په شروع کښې به خلقو د غريبئ ژوند تيرولو او پيرې پيرې جامې به ئې اغوستلې د مزدورئ او مشقت کارونه به ئې کول چه په هغې سره به ئې کېږې خيرتې او خرابيدلې د خولې د وجې نه به پکښې بوئې پيدا شو، او مسجد هم تنګ او دهغې چهت ښکته وو، د دالان په شان وو، د يوې ورځې خبره ده چه د ګرمئ ورځ وه په دې ځل د ورئ کېږه کښې په خلقو باندې خوله راتله رسول اللهﷺ راغلو او هغوی بدبوئې محسوس کړه چه دهغې د وجې نه تولو ته تکليف رسيدلو نو په دې موقع باندې رسول اللهﷺ د غسل حکم اوفرمائيلو، خو بيا الله پاک حالت بدل کړو د فتوحاتود وجې نه مال او دولت حاصل شو جامه هم د مخکښې نه غوره شوه خادمان او کار کونکي هم ملاؤ شو، او په مسجد کښې توسيع هم اوشوه او د رائحة کريهة والا خبره ختمه شوه، په کومې سره به چه يو بل ته تکليف رسيدلو.

د ابن عباسؓ د بيان په مراد کښې د شارحينو درې اقوال:

د ابن عباسؓ د کلام حاصل دا دې چه د ايجاب غسل حکم بعلة دې په شروع کښې علت موندلې شوې وو په دې وجه وجه واجب وه اوس نه موندلې کېږي څکه واجب نه دې لهذا دې ته به منسوخ نه وئيلې کېږي بلکه اوس هم که هغه علت بيا موندلې شي نو د ايجاب غسل حکم به راواپس شي، ابن رسلان ددې تشريح داسې کړې ده، کما في هامش الشيخ، ددې نه د امام احمدؒ د يو روايت تائيد کېږي چه د رائحة کريهة په صورت کښې غسل واجب دې ګڼلې نه دې، او صاحب منهل ليکي چه د ابن عباسؓ مراد دا دې چه غسل په شروع کښې واجب وو روستو منسوخ شو او حضرت په بذل کښې ليکلي دي چه د ابن عباسؓ د کلام حاصل دا دې چه د رسول اللهﷺ د طرف نه د غسل حکم په طريقه د ايجاب نه وو بلکه ددې دپاره وو چه چاته تکليف او نه رسيږي.

قوله ﴿ حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ – قوله مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ اى فبالسنة اخذ ونعمت السنة هي ﴾ په دې کښې اشکال دادې چه سنت خو غسل دې نه اودس تقدير د عبارت اولى دې، ﴿ فبالرخصة اخذ ونعمت الرخصة ﴾ نعمت په دوه طريقو باندې لوستلې کيدې شي نعمت په کسرې د نون او سکون عين سره، نعمت په فتح د نون سره او کسرې د عين سره او اصل هم دا دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُسْلِمُ فَيُؤْمَرُ بِالْغُسْلِ

باب دې په بيان د سړي کښې چې اسلام راوړي نو امر به ورته په غسل کولو شي

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة :

د غسل مسنون دا دويم باب دې يعنې د اسلام راوړلو نه پس يا د اسلام د ارادې په وخت باندې غسل کول، په دې کښې څه اندازه اختلاف دې د امام احمدﷺ په نزد مطلقًا واجب دې، د ائمة ثلاثه په نزد چه په هغې کښې احناف هم دی وائي چه که د اسلام په وخت څوک جنبي وی نو په هغه باندې غسل واجب دې ګيني صرف مستحب دې خو په دې کښې اختلاف دې چه که د اسلام د قبلولو نه مخکښې د جنابت حالت وو او هغه غسل کړې وو او دهغې نه روستو ئې اسلام قبول کړو نو دا غسل کوم چه ئې په حالت د کفر کښې کړې وو دا به معتبر وی او که نه؟ د احنافو په نزد د کافر غسل معتبر دې د جمهورو په نزد معتبر نه دې ځکه چه د هغوی په نزد د صحت غسل دپاره نيت شرط دې او د کافر نيت معتبر نه دې.

[۳۵۵]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الْأَغَرُّ، عَنْ خَلِيفَةَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ جَدِّهِ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيدُ الْإِسْلَامَ، "فَأَمَرَنِي أَنْ أَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ".

ترجمه: د قيس بن عاصم نه روايت دې هغه وئيلي دی: زه راغلم نبی ﷺ ته اراده مې وه د اسلام نو ماته ئې امر اوکړو چه غسل اوکړم په اوبو او په بېرو.

تشريح: ﴿ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ – قوله أَتَيْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– أُرِيدُ الإِسْلَامَ فَأَمَرَنِي أَنْ أَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ ﴾ حضرت ددې حديث په شرح کښې دوه احتمالات ليکلي دی يو دا چه قيس بن عاصم فرمائي زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د اسلام قبلولو په غرض سره حاضر شوم، پس اسلام مې قبول کړو او ددې نه پس رسول اللهﷺ ماته د غسل کولو حکم اوفرمائيلو، دويم احتمال دا دې چه زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د اسلام په ارادې سره حاضر شوې اوم نو هغوی ماته اوفرمائيل چه اول غسل کولو سره راشه، حضرت چه کوم احتمال اول ليکلي دې په هغې باندې خو اشکال نشته خو ظاهری الفاظ ددی مساعد نه دی

د کافر د غسل د تقديم بحث :

او دويم احتمال کوم چه ظاهر د الفاظو ته زيات نزدې دې په هغې باندې فقهي طور سره اشکال دې هغه دا چه امام نوویﷺ په شرح د مسلم کښې تصريح کړې ده چه کافر کله د اسلام قبلولو اراده اوکړی نو د اسلام قبلولو نه مخکښې هغه ته د غسل حکم ورکول جائز نه دی په دې سره به تاخير لازم شی او په اسلام قبلولو کښې : هيڅ قسم تاخير قطعًا ګنجائش نشته، ابن رسلانﷺ اختيار کړې خو معنی ثانی ده خو د الفاظ حديث ئې يو بل تاويل کړې دې هغه دا چه د ﴿ اريد الاسلام ﴾ سره د قيس بن عاصمﷺ مراد اصل اسلام نه وو بلکه تجديد اسلام علی يد رسول اللهﷺ دې اسلام خو هغوی د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د حاضريدلو نه مخکښې قبول کړې وو او وجه ددې تاويل ئې دا ليکلې ده چه په اسلام کښې د تاخير ګنجائش نشته، حال دا چه رسول اللهﷺ هغه ته دا فرمائی چه اول غسل کولو سره راشه، او دويم په دې وجه هم چه د کافر غسل صحيح نه دې.

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۳۰۳(۶۰۵)، سنن النسائي/الطهارة ۱۲۶ (۱۸۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۰۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶۱/۵) (صحيح)

قیس بن عاصم صحابی رضی الله عنه :

خان پوهه کړه چه قیس بن عاصم رضی الله عنه ده چا د اسلام قبلولو قصه چه په دې حدیث کښې ده، حضرت په بدل کښې د دوی په حالاتو کښې لیکلي دی چه ده په ۹ هجری کښې د بنو تمیم د وفد سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هم هغه وخت ئې اسلام قبول کړو دې د خپل قوم سردار وو. رسول الله ﷺ د دوی په لیدلو باندې اوفرمائیل ﴿ هذا سید اهل الوبر ﴾ دا ډیر فهیم او حلیم الطبع وو، چا د دوی د شاګرد احنف بن قیس نه تپوس اوکړو ﴿ممن تعلمت الحلم قال من قیس﴾، د دوی په وفات چا په مرثیه کښې دا اشعار وئیلې وو!

علیک سلام الله قیس بن عاصم :: ورحمته ماشاء ان یترحما

وماکان قیس هلکه هلک واحد :: ولکنه بنیان قوم تهدما

[۳۰۵٦]([1]) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ عَنْ عُثَيْمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: قَدْ أَسْلَمْتُ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلْقِ عَنْكَ شَعْرَ الْكُفْرِ يَقُولُ: احْلِقْ، قَالَ: وَأَخْبَرَنِي آخَرُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِآخَرَ مَعَهُ: أَلْقِ عَنْكَ شَعْرَ الْكُفْرِ وَاخْتَتِنْ".

ترجمه: عثیم بن کلیب د خپل پلار نه روایت کوي او هغه ئې د خپل پلار نه کوي، بېشکه هغه راغلی نبي ﷺ ته نو هغه اووئیل: په تحقیق سره ما اسلام راوړی دی نو نبي ﷺ ورته اووئیل: وغورځوه د خپل ځان نه وېښته د کفر. هغه وائي: ونې خروه، هغه وائي: او خبر راکړی دی ماته بل بېشکه نبي ﷺ اووئیل هغه بل کس ته چه د ده سره وو: وغورځوه ستانه وېښته د کفر او ختنه اوکړه.

تشریح: ﴿ حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ – قوله عَنْ عُثَيْمِ بْنِ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ﴾ دا عثیم، عثیم بن کثیر بن کلیب دې، دلته په سند کښې نسبت الی الجد مذکور دې، لهذا د عن ابیه مصداق کثیر شو او د عن جده مصداق کلیب، دا خبره د تنبیه قابله وه په دې وجه تنبیه اوکړې شوه.

﴿ قوله أَلْقِ عَنْكَ شَعْرَ الْكُفْرِ ﴾ کلیب رضی الله عنه فرمائي چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او رسول الله ﷺ ته مې عرض اوکړو چه ما اسلام قبول کړې دې نو هغوی اوفرمائیل، چه د کفر د زمانې د وېښتو حلق اوکړه یا د شعر الکفر نه مراد هغه وېښتهٔ دی کوم چه د کفر علامت او د هغوی شعار دی مثلا شارب طویل یا د سر داسې وېښته لکه چه دلته هندوان په سر باندې غوټه ورکوی.

د دې نه په وړاندې روایت کښې دا دی چه رسول الله ﷺ ورته د اختتان حکم هم اوفرمائیلو. د ختان حکم او په دې کښې اختلاف علماء په عشر من الفطرة والا حدیث کښې تیر شوي دې خو د باب په دې حدیث کښې د غسل ذکر نشته چه په هغې باندې مصنف رحمه الله ترجمة تړلې ده، ممکنه ده مصنف رحمه الله دا په طریقه د قیاس ثابتوي چه کله د کفر د زمانې د وېښتو حکم ورکړې شو نو دغه شان د بدن د نورو خیرو هم د غسل په ذریعه باندې لرې کول پکار دی.

(جلد اول ختم شده)

[1]: تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ۱۱۱٦٨، ۱٥٦٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤١٥) (حسن)